د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه
مولوي سلطان عزیز عزیز عفی الله عنه

ناشر
دار الکنوز العلمیة

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



Scanned by CamScanner

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَـٰبٌ عَزِيزٌ ۝٤١ ﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

د "الأعراف" [۱۴۱] ایت څخه، "الأنفال، التوبة" او د "یونس" تر [٥٦] ایت پورې

پنځم ټوک

مولوي سلطان عزیز (عزیز) أبو حذیفه عفی‌الله‌عنه

حسن خیل مومند، د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الکنوز العلمیة

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱۴۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نېټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱۴۲۶/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نېټه پای ته ورسیده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ هـ ش نېټه بې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه وربانديې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تیرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني، تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ، ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

# څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش

د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي

.................................................................................................

د اړیکو پتې:

۱) برېښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)

د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه ، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه ، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵۶۵۵۳۸)

Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِى فِى قَوْمِى وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ ﴾

[۱۴۲] او مونږ موسی ﷺ ته (د کتاب د ورکړې دپاره) دېرش شپې وعده ورکړه او دېرش شپې مو (بیا) په (نورو) لسو شپو باندې تمامې کړې نو د ده د رب ﷻ میعاد څلویښت شپې تمام شو (پوره شو). او موسی ﷺ خپل ورور هارون ﷺ ته (د حرکت په وخت کښې) وویلې چې زما په قوم کښې (زما د راتګ پورې) زما خلیفه شه او اصلاح کوه او د مفسدانو د لارې پېروي مه کوه (چې تا به هم بې لارې کړي).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د هغه وړاندېز رد بیان کړ کوم چې بني اسرائیلو موسی ﷺ ته کړی وه، چې مونږ ته یو بوت د عبادت دپاره ودروه.

نو څه لرې نه ده چې موسی ﷺ به په رد کښې هغوی ته دا هم ویلي وي چې زما څخه ولې اسماني کتاب نه غواړئ چې د بوت درول را څخه غواړئ؛ نو هغوی به کتاب غوښتی وي چې الله ﷻ یې مونږ ته په ذکر شوي آیت شریف کښې کیفیت بیان کړی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۱] چې موسی ﷺ لا په مصر کښې خپلو قومیانو ته وعده ورکړې وه چې که مونږ ته الله ﷻ نجات را کړ نو زه به اسماني کتاب راوړم؛ نو په دغه آیت کښې د همدغه کتاب د ورکړې کیفیت ته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه

یعنې: د هغه څخه وروسته چې مونږ بني اسرائیلو ته د فرعونیانو څخه نجات ورکړ او استقلال مو وروبانښه د موسی ﷺ سره مو وعده وکړه چې د دېرشو شپو څخه نیولې ترڅلویښتو شپو پورې به ستا د امتیانو د هدایت دپاره کتاب درکړم.

نو په عملي صورت کښې مو دېرش شپې په لسو شپو باندې پوره کړې نو د میعاد ټولې شپې څلویښت جوړې شوې، یا په بل عبارت: په څلویښتو شپو کښې مو موسی ﷺ ته کتاب ورکړ؛ په کوم وخت کښې چې موسی ﷺ د کتاب د راوړلو دپاره روانېده نو خپل ورور (هارون ﷺ) یې په لاندې ډول مخاطب کړ:

۱ـ زما د راتګ پورې زما په قوم کښې خلیفه شه، منازعات یې حل کړه، بې دینۍ ته یې مه پرېږده او بالآخره د غیر شرعي کارونو او غیر شرعي خبرو څخه یې منعه کوه، لکه څنګه چې ما دوی د بوتانو د غیر شرعي خبرې څخه منعه کړه او قناعت مې ورکړ.

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ څه لرې نه ده چې ځينې مفسدان خلک څه د فساد حرکت وکړي نو د دغه حرکت مخه ونيسه او ډير احتياط وکړه چې زما د راتګه پورې د دوی د نظم ساتنه وکړې.

## توضيحات

۱_ مونږ د [البقرة: ۵۱] آيت لاندې د الله ﷻ په توفيق د موسى ﷺ د څلوېښتو شپو ورځو موضوع پوره څېړلې ده چې بيا څېړلو ته يې اړتيا نه ګورو خو دلته ورباندې لاندې سوال جواب وراضافه کوو.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ په دې سورت کښې ﴿أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ نازل نه کړ لکه څنګه يې چې هلته ﴿أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ نازل کړی دی؟

مونږ وايو چې:

الف: هلته د بني اسرائيلو واقعاتو ته په اجمالي توګه اشاره مطلب وه نو په اجمالي توګه يې د ميعاد شپې په ﴿أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ سره ذکرې کړې، او په دې مقام کښې يې څلوېښتو شپو ته لږ څه تفصيل ورکړ چې وروستنۍ لس شپې د لومړنيو ديرشو شپو څخه په کيفيت کښې څه بېلتون درلود هغه دا چې د ميعاد شپې خو ديرش ټاکلې شوې وې چې موسى ﷺ به په دغو شپو کښې دوامداره روژه نيسي، اما کله چې ديرش شپې پوره شوې نو موسى ﷺ مسواک وواهه نو الله ﷻ ورته امر وکړ چې لس شپې نورې هم روژه ونيسه ترڅو ستا په خوله کښې هغه ورېم بيا را پيدا شي کوم چې د روژه دار په خوله کښې موجود وي چې الله ﷻ ته ډېر محترم دی[۱].

ب: ځينو مفسرينو کرامو ورته نور جوابونه کړي دي[۲] مګر مونږ ته هغه جواب ښه ښکاري کوم چې ﴿وَأَتْمَمْنَاهَا﴾ د کلمې څخه اشارتاً معلوميږي، هغه دا چې ديرش شپې به د مقدمې په توګه ټاکل شوې وي او لس شپې به په اصلي مطلب (په مناجات او د کتاب په ورکړه) باندې لګيدلې وي چې ټولې څلوېښت شپې جوړې شوې.

مونږ څکه دا جواب خوښ کړ چې ځينو مفسرينو کرامو د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روايت ليکلي دي چې موسى ﷺ په يو لک او څلوېښت زره کلماتو باندې مناجات وکړ: «فِيْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ»[۳] په دريوو ورځو کښې. والله أعلم بحقيقة الحال، و إليه المرجع والمآل.

## دا هم ياده ولرئ!

۳_ کله چې د تبوک غزا ته نبي کريم ﷺ روانېده نو د خپل عادت په مطابق يې دا ځل په مدينه منوره کښې د عامه کارونو دپاره علي ﷺ خليفه وټاکه او د امامت دپاره يې ابن ام مکتوم ﷺ (په

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۱۹۵
(۲) التفسير الكبير ج۱۴ ص۲۲۶
(۳) روح المعاني ج۹ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سترګو ورڼد صحابي) مقرر کړ، خو څرنګه چې د تبوک غزا په ډېرو مشکلو شرائطو کښې رامنځ ته شوه چې هم سفر ډېر لرې وه او هم زیاته ګرمي وه نو منافقانو پروپاګند پیل کړ چې نبي کریم ﷺ د خلافت په بهانه خپل زوم (علي ﷜) د مشکل څخه بچ کړ کله چې همدغه جلیل القدر صحابي ﷜ د ذکر شوي پروپاګند څخه خبر شو نو خپله توره یې په غاړه کښې واچوله او د غازیانو په تعقیب پسې روان شو تردې چې د "الجرف" مقام ته وررسېد نو هلته یې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې عرض وکړ چې یا رسول الله! منافقان داسې-داسې خبرې کوي نو زما په ځای بل څوک خلیفه وټاکه او ماته اجازه راکړه چې غزا ته لاړ شم. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې بېرته مدینې ته ... منورې ته زمونږ د بېرته راستنېدلو پورې د خلیفه په حیث ستون شه، او د ده د تسکین دپاره یې وفرمایل چې: «أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى»[1] یعني: ایا ته نه خوښېږې چې زما د پلوه ته داسې (خلیفه) شې لکه چې هارون ﷺ د موسی ﷺ څخه (خلیفه) شوی وه، البته کله چې هغه د مناجات دپاره د طور د غره په لور روان وه؟

پوره واضحه ده چې د علي ﷜ ذکر شوی خلافت صرف د نبي کریم ﷺ د بېرته راستنېدلو پورې وه مګر اهل التشیع او روافض په همدغه حدیث شریف باندې خپل خانونه کفر ته وباسي[2] هغه دا چې دوی صحابه وو کرامو ﷜ ته د کفر نسبت کوي چې د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته یې علي ﷜ ته خلافت ورنه کړ او ابو بکر الصدیق یې خلیفه وټاکه، او ځینې لا دومره افراط کوي چې پخپله علي ﷜ ته هم د کافر نسبت کوي او وایي چې خپل حق یې ونه غوښت او چپ پاتې شو.

مونږ په الله ﷻ باندې پنا غواړو چې د دغسې چټیاتو څخه مو په امان کښې وساتي.

﴿ وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ ﴾

[۱۴۳] او کله چې موسی ﷺ زمونږ ټاکلی میقات (ځای) ته ورغی او خپل رب ﷻ ورسره خبرې (مناجات) وکړې (نو) وې ویلې: ای زما ربه! ماته (خپل اقدس ځان) راولید کړه چې تا ته (په غړولو سترګو) وګورم.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۲۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ (ورته) وويلې: هېڅکله به ته ما (په دنيا کښې په فاني سترګو باندې) ونه شې لېدلی، مګر (د خپل قناعت دپاره) غره ته وګوره که په خپل ځای باندې قرار پاتې شو (او ټوټې ټوټې نه شو) نو بیا ژر دی چې ما به وګورې، نو کله چې د ده د رب ﷻ (څه انوار) غره ته ورڅرګند شوه نو غر يې هوار کړ. او موسی ﷺ (په ځمکه باندې) بې هوشه (بې خوده) پرېووت.

نو کله چې راپه خود شو (نو) ويې ويلې: (ای ربه!) تا ته پاکي ده زه تاته رجوع کوم او زه د ټولو مؤمنانو لومړنی (عقیده کوونکی) یم (چې په دنيا کښې ستا دیدار نه واقع کېږي).

[۱۴۴] الله ﷻ وويلې چې: ای موسی! يقيناً ته ما د خپلې زمانې په خلکو باندې د خپلو پيغامو (په رسونه) او د خپل کلام (په محاوره کولو) باندې غوره کړی يې (په همدې بهترئ باندې قانع شه) نو هغه څه واخله چې تا ته مې درکړي دي او د شکر ګزارانو څخه جوړ شه.

## د مطلب خلاصه

يعنې: کله چې موسی ﷺ زمونږ ټاکلي ځای ته په ټاکلي وخت ورغی او د خپل رب ﷻ سره يې بلاکيفه خبرې وکړې نو د ډېر شوق او ذوق د کبله يې په زړه کښې د الله ﷻ د ديدار (ليدلو) ولوله پيدا شوه. او همدې ولولې د دومره تاثير لاندې راووست چې بې د اجازې غوښتلو څخه يې خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای زما ربه! ماته خپل اقدس ځان راوليد کړه چې په ربو سترګو درته وګورم، او خپل ارمان پوره کړم.

الله ﷻ جواب ورکړ چې په دنيا کښې په دغو فاني سترګو باندې ته هېڅکله ما نه شې ليدلی او دومره توان او طاقت نه لرې چې ماته وګورې، نو د دې دپاره چې ستا ښه قناعت حاصل شي او په دنيا کښې دې د دېدار تمه قطعه شي نو زه به دغه لوی غره ته (چې ستا څخه ډېر قوي کلک دی) د خپلو انوارو څه پرق ورڅرګندکړم، نو که دغه لوی غر په خپل ځای باندې درېدلی پاتې شو او دوړې دوړې ونه ګرځېد نو تا ته به هم خپل دېدار درکړم او سوال ته به دې د عملي قبول ښه ورکړم.

نو کله چې د موسی ﷺ رب ﷻ د خپلو انوارو څه پرق (ځرک) په غره باندې وغورزاوه نو سمدستي غر ټوټې ټوټې او هوار وګرځېد، تا به وويل چې دلته يې هېڅ موجوديت نه درلود، او په عين حال کښې موسی ﷺ د دومره تاثير لاندې راغی چې په ځمکه باندې بې هوشه پرېووت، نو کله چې د بې هوشۍ څخه را په خود شو نو لاندې کلمات يې وويلې:

۱_ ای ربه! تا ته پاکي ده چې د مخلوقاتو سره مشابهت ولرې او هم د دې څخه پاک يې چې د چا په خيال او ګومان کښې راشې.

۲_ ای ربه! زه په دې باندې پښېمان يم چې بې اجازې مې ستا د ديدار غوښتنه وکړه او په همدې باندې توبه تائب يم.

۳_ برسېره پر دې، زه اول يقين کوونکی يم چې په دنيا کښې ستا ديدار نه کېدونکی کار دی، که نور مؤمنان په همدې خبره باندې د وحې په سلسله يقين کوي نو زه هغه اولنی بنده يم چې په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشاهدې سره همدغه یقین ته ورسېدم. په دې باندې علاوه، زه په همدې زمانه کښې اولنی سړی یم چې ستا په وحدانیت باندې عقیده لرم او پوهېږم چې پیغمبر ته بدون د اجازې سوال کول چندان مناسب کار نه دی.

نو الله ﷻ د تسکین او خوشالۍ دپاره موسی ﷺ په لاندې فرمانونو باندې سر لوړی کړ:

الف: ای موسی! ستا ذکر شوی سوال خکه قبول نه کړی شو چې په تا کښې د دیدار توان نشته، تاته مو په دنیا کښې داسې بدن درکړی دی چې د دنیا سره مناسب او فاني کیدونکی دی، په فاني کیدونکو سترګو باندې د الله ﷻ دیدار امکان نه لري کله مو چې په جنت کښې دائمي سترګې درکړې نو هلته به خپل دیدار هم درکړم.

ب: ای پیغمبره! پام کوه چې د دیدار په نه ورکولو باندې غمژن نه شې ته خو ماته ډېر غوره بنده یې او د خپل وخت په ټولو خلکو باندې مو تاته بهتري درکړې ده، هم د الله ﷻ پېغامونه خلکو ته رسوي او هم مو په خبرو کولو باندې سرلوړی کړی یې او د کلیم الله لقب مو دروبانښه، دا هم ټول لوی-لوی امتیازات او لوړې درجې دي.

ج: برسیره پر دې، تا ته مو تورات درکړ چې د دنیا او آخرت دواړو مشکلات ورباندې حل کېږي په همدغه کتاب باندې منګولې خښې کړه.

د: په هدغو امتیازاتو باندې شکریه وکړه او په شکر ګذارانو کښې خپل ځان شمېر کړه ترڅو په نتیجه کښې د نبوت په درجاتو باندې علاوه نور مراتب هم ترلاسه کړې.

## توضیحات

۱_ الله ﷻ د موسی ﷺ سره د ټولو څخه وړاندې په هغه وخت کښې خبرې کړې دي کله چې د مدین د ښار څخه د مصر په طرف باندې روان وه نو په دغه وخت کښې یې نبوت ورتبریک کړ او په پېغمبرۍ سره یې سرلوړی کړ.

په دغو ایتونو کښې هغه خبرې مطلب دي کومې چې الله ﷻ ورسره د مناجات په وخت کښې د فرعون څخه د نجات څخه وروسته وکړې او په بلاکیفه توګه بلاجهته تر سره شوې.

## په دنیا کښې د الله ﷻ دیدار محال دی

۲_ مونږ د [الأنعام:۱۰۳] آیت لاندې لیکلي دي چې معتزله او اهل التشیع په جنت کښې د الله ﷻ د دیدار څخه منکر دي او اهل السنة و الجماعة ورباندې قائل دي، هلته مو څه دلائل هم لیکلي دي او د بحث مراجع مو هم ښودلي دي نو دلته د آیت شریف د ارتباط د کبله فقط د لاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: که څوک ښه اورډ بیان غواړي نو د موسی ﷺ د مناجات په اړه دې ځینو اوږدو کتابونو[۱]

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۹۶؛ تفسیر الطبري ج۶ ص۵۰؛ الدر المنثور ج۳ ص۵۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته مراجعه وکړي، او هم دې د الله ﷻ د دیدار په هکله ځینې اوږده کتابونه(۱) مطالعه کړي.

ب: لکه څنګه چې د الله ﷻ علم د مخلوق د علومو په شان نه دی او هم د الله ﷻ وجود د مخلوق د وجودونو په شان نه دی همدارنګه د الله ﷻ کلام د مخلوقاتو د کلامونو په شان نه دی، د مخلوق کلام جهت او کیفیت لري او د الله ﷻ کلام بلاجهته او بلاکیف دی(۲).

زمونږ د ایمان دپاره دا ضرور نه ده او نه احتیاج لرو چې وړاندې ورتېر شو او داسې بحث په کښې وکړو لکه څنګه یې چې د مخلوق په کلام کښې کوو.

ج: ځوک چې د الله ﷻ په دیدار باندې په جنت کښې قائل نه دي هغوی په ذکر شوي آیت شریف باندې استدلال کوي او وايي چې د "لن" توری په عربي لغت کښې د تابید (همېشوالي) دپاره دی نو د ﴿ لَن تَرَىٰنِي ﴾ د معنی حاصل داسې راوځي چې "ای موسی! په ابدي توګه ته ما نه شې لیدلی" نو څرنګه چې په ابدیت کښې جنت هم داخل دی نو معلومه شوه چې په جنت کښې هم د الله ﷻ دیدار نشته.

مونږ (اهل السنة و الجماعة) وایو چې:

اول: چې د "لَنْ" توری دتابید دپاره دی مګر آخرت ته نه شي شاملېدلی. نو معنی یې داسې کېږي چې: ای موسی! ته ما په دنیا کښې هېڅکله نه شې لېدلی.

د همدې نظیر دا دی چې الله ﷻ د یهودانو د حال څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا ﴾ [البقرة: ۹۵] یعنې: او هېڅکله به په ابدي توګه یهودان د مرګ آرزو ونه کړي. حال دا چې د ټولو کافرانو دوزخیانو څخه (د یهودانو په شمول) حکایت کوي چې: ﴿ وَنَادَوْا يَـٰمَـٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ﴾ [الزخرف:۷۷] یعني: او دوزخیان به غږ وکړي چې ای مالکه (د دوزخ خازنه)! ستا رب ﷻ دې په مونږ باندې (د مرګ) فیصله وکړي. یعنې کاشکې مونږ مړه کړي!

دوهم: که بالفرض د الله ﷻ دیدار په دنیا کښې ذاتي ممکن نه وی نو موسی ﷺ به نه وی غوښتی. موسی ﷺ پوهېده چې ذاتي امکان شته خو په دې نه پوهېده چې واقع کېدونکی دی او که نه (وقوعي امکان لري او که نه)، نو الله ﷻ جواب ورکړ چې وقوعي امکان نه لري.

یا په بل عبارت: د موسی ﷺ د دیدار غوښتنه د همدې خبرې دلیل دی چې د الله ﷻ دیدار په جنت کښې لا څه چې په دنیا کښې هم ذاتي ممکن دی اما یوازې په دنیا کښې د دې کبله وقوعي امکان نه لري چې په دنیا کښې مؤمنان کمزوري دي د دیدار توان نه لري او په جنت کښې الله ﷻ دنیاوي کمزوري په قوت باندې بدلوي او د کمزورۍ مانع د منځه وړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: الله ﷻ قادر دی چې په دنیا کښې هم چا ته د خپل دیدار د کولو توان ورکړي، نو پوښتنه دا ده چې دغه عنایت په موسی ﷺ باندې د څه حکمت په بنا ونه کړی شو؟

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۴۷: التفسیر الکبیر ج۱۴ ص۲۲۹: تفسیر المنار ج۹ ص۱۲۸

(۲) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: که بالفرض په موسی ﷺ باندې الله ﷻ ذکر شوی عنايت کړی وی نو د ده بدن به دومره قوي شوی وی چې د مرګ څخه به داسې بچ شوی وی لکه څنګه چې جنتيان د مرګ څخه بچ دي، حال دا چې الله ﷻ په دنيا کښې ټولو ساکښانو ته اعلان کړی دی چې: ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ [آل عمران: ۱۸۵] هر ساکښ (مخلوق) د مرګ څکونکی دی.

## سوال جواب

۴_ که معتزله او نور ووايي چې موسی ﷺ ته دا نه وه معلومه چې د الله ﷻ ديدار به محال وي، ده پرې د ذاتي ممکن ګومان کړی دی نو ځکه يې غوښتنه کړې ده، د همدې کبله يې د الله ﷻ په حضور کښې خپل ندامت ښکاره کړ چې: ﴿ تُبْتُ إِلَيْكَ ﴾ يعنې: زما دې تاته توبه وي چې بيا به د محال شي سوال ونه کړم. يا په بل عبارت: د موسی ﷺ توبه تائب ګرځېدل د محاليت دليل دی.

مونږ وايو چې: موسی ﷺ د لاندې وجوهو د کبله توبه تائب شو:

الف: چې موسی ﷺ د اجازې څخه په غير سوال کړی وه او د پيغمبر سره مناسبه ده چې د الله ﷻ څخه اجازه واخلي او بيا د سوال لاسونه پورته کړي[۱].

ب: موسی ﷺ توبه ووېستله چې بيا به په دنيا کښې د ديدار سوال نه کوم[۲].

ج: مونږ ته په جواب کښې دا بهتره ښکاري چې دا د جنايت توبه نه وه بلکې د خپلې بندګۍ د څرګندولو توبه وه.

په دې باندې علاوه د ذکر شوي سوال څخه دا بوی پورته کېږي چې _العياذ بالله_ د معتزله وو او د دوی د متحدينو علم د موسی ﷺ په علم باندې د پاسه دی چې هغه ته د ديدار ذاتي محاليت معلوم نه وه او دوی ته معلوم دی.

او دا هم په جواب کښې وايو چې که دغسې وي نو الله ﷻ به موسی ﷺ ته دغره په عدم استقرار باندې جواب نه وی ورکړی بلکې توصيه به يې ورته کړې وی چې دغسې غوښتنې مه کوه؛ لکه څنګه يې چې نوح ﷺ ته توصيه وکړه (کله چې هغه ترې غوښتنه وکړه چې ای ربه! زما دغه زوی ته هم نجات ورکړه) چې: ﴿ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۖ إِنِّىٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ [هود: ۴۶] يعنې: ای نوحه! ستاسو زوی.ناصالح او د نجات وړ نه دی، نو د هغه شي سوال زما څخه مه کوه کوم چې تالره پرې علم نه وي، زه درته نصيحت کوم چې ته به د ناپوهانو د ډلې څخه جوړ شې.

## د جلاء معنی

۵_ د ﴿ تَجَلَّىٰ ﴾ کلمه د جلاء څخه اخستله شوې ده، جلاء کشف او لوڅوالي ته وايي[۳]، د همدې

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۴۶
(۲) زاد المسير ج۳ ص۱۷۴
(۳) مفردات الراغب ص۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كبله قرآن كريم د جلي وحي په نوم يادېږي چې وحي توب يې بالكل واضحه او ېرېښنه دي.

نو په همدې بنا د ﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ ﴾ جمله په صراحت سره دلالت كوي چې الله ﷻ د خپل اقدس ذات د بلا كيفه ديدار څه مقدماتي انوار غره ته ورعنايت كړه مګر غر د مقدماتي انوارو په سبب دړې وړې شو او د تحمل توان يې ونه شو درلودلی[1].

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه د ذكرې شوې جملې په تفسير كښې روايت دی چې: «ظَهَرَ نُورُ رَبِّهِ لِلْجَبَلِ»[2] يعنې: كله چې غره ته د موسى ؑ د رب ﷻ نُور څرګند شو. البته هغه نور چې نبي كريم ﷺ ورته په يوه اوږده حديث كښې اشاره كړې ده چې: «حِجَابُهُ النُّورُ»[3] يعنې: د الله ﷻ د ديدار حاجب نُور دی نو څكه يې په دنيا كښې د مخلوق سره د ليدلو توان نشته.

## سوال جواب

۶_ كه څوك وايې چې: الله ﷻ خو د غرونو څخه انسان قوي ښودلی دی چې فرمايي: ﴿ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ﴾ [الحشر: ۲۱] يعنې: كه مونږ دا قرآن په غره باندې نازل كړی وی نو ضرور به تا د الله ﷻ د ډاره غر عاجزي كوونكی ټوټې ټوټې كېدونكی ليدلی وي؛ نو پوښتنه دا ده چې د غره ناتواني بايد د موسى ؑ د ناتوانۍ دليل نه وی نيولی شوی؟

مونږ وايو چې: د معنوياتو او روحياتو په اعتبار سره انسان په غرونو باندې لوړ دی د همدې كبله د ټولې دنيا (د غرونو په شمول) خليفه ګرځولی شوی دی او ټول شيان د ده د تصرف لاندې دي.

اما د مادياتو په اعتبار سره انسان د غرونو څخه كمزوری دی، غرونه به د قيامت د ورځې پورې باقي وي خو انسان ژر ژر فنا كيدونكی دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ ﴾ [غافر: ۵۷] يقينًا د اسمانونو او ځمكو پيدايښت د خلكو (انسانانو) د پيدايښت څخه لوی دی.

او پوره واضحه ده چې ليدل او كتل په مادي آلاتو (سـ[illegible] پورې اړه لري، د همدې كبله چې موسى ؑ خپله مادي كمزوري په خپلو سترګو وليده نو قناعت يې هم وكړ، كه نه موسى ؑ به د خپل قوت دعوه كړې وی چې زه د غره څخه قوي يم.

## "صَعِقًا" څه معنی؟

۷_ ځينو علماوو كرامو د ﴿ صَعِقًا ﴾ كلمه په دې مقام كښې په "مرګ" سره تفسيره كړې ده[4] چې د معنى حاصل يې داسې كيږي چې [illegible] غره د انفلاق سره موسى ؑ مړ شو. مګر دا معنى د ﴿ أَفَاقَ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۴۵

(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۱۹۷

(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۹۹

(۴) زاد المسير ج۳ ص۱۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کلمې سره سمون نه خوري، ځکه چې دغه کلمه د "إفاقة" څخه استقاقه شوې ده او "إفاقة" دې ته وايي چې چا ته هغه پوهه بېرته ورتاوه شي کومه چې ترې د بې هوشی یا لېونتوب سره جدا شوې وي[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: موسی ﷺ بې هوشه شو او بیا د بې هوشۍ څخه بېرته را په هوش شو. نه دا چې مړ شو او بیا بېرته راپه خود شو.

مفسرین کرام وايي چې د قیامت په ورځ به هم ټول خلک بې هوشه شي البته په هغه وخت کښې چې الله ﷻ د فیصلو دپاره په بلاکیف توګه (څنګه چې ورسره مناسب وي) د محشر میدان ته راشي[۲].

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې د ټولو خلکو د جملې څخه به زه لومړنی سړی یم چې را په هوش به شم، خو سمدستي به موسی ﷺ د عرش العظیم په شاوخوا کښې وګورم: «فلا أدري أكانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأفَاقَ قَبْلِي أوْ كَانَ مِمَّنْ اسْتَثْنَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ»[۳]

یعني: نو زه نه پوهېږم چې موسی ﷺ به د هغو کسانو په ډله کښې شامل وي چې بې هوشه شوي وي او زما څخه وړاندې راپه هوش شوی وی او یا به د هغو کسانو څخه وي چې الله ﷻ د بې خودۍ (بې هوشۍ) څخه استثناء کړي دي.

﴿وَكَتَبْنَا لَهُۥ فِى ٱلْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا۟ بِأَحْسَنِهَا ۚ سَأُو۟رِيكُمْ دَارَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ سَأَصْرِفُ عَنْ ءَايَٰتِىَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَإِن يَرَوْا۟ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا۟ بِهَا وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلْغَىِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٤٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلْـَٔاخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤٧﴾﴾

**[۱۴۵]** او مونږ موسی ﷺ ته هر ضروري شی (یعني) موعظه (ترغیب او ترهیب) او د هر شي (شرعي حکم) دپاره تفصیل (بیان) په تختو کښې لیکلی وه.

(او دا مو هم ورته پکښې لیکلي وه چې:) نو دا (تختې) په قوت سره (کلکې) رنیسه او خپل قوم ته دې (هم) امر وکړه چې دا ښائسته (نیکې تختې) واخلي (او په کلکه پرې عمل وکړي) ژر به تاسو ته د فاسقانو کور (مصر او فسلطین) در وښایم (درکړم او بیا به تاسو د ځارنې لاندې ونیسم).

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۰۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۴۶

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴۶] ژر دی چې زه به د خپلو ایتونو (د غوره کولو) څخه هغه کسان تاو کړم (په زړونو باندې به یې مهر ولګوم ) کوم چې په ځمکه کښې ناحقه تکبر کوي (او بلا دلیله په کفر باندې کلک دي نو حالت به یې داسې شي چې) که چرته دوی هره یوه معجزه وګوري نو ایمان به پرې نه راوړي او که چرته د هدایت لاره وګوري نو هغه به د لارې په حیث نه نیسي (په هغې به نه درومي) او که چرته د ضلالت لاره وګوري نو هغه به د لارې په حیث نیسي (په هغې به درومي او ورته به ښه ښکاریږي).

دا (مهر به وربانديې) ځکه (ولګوم) چې یقینًا دوی زمونږ ایتونو ته (په دوامداره توګه) د درغو نسبت کوي او دوی ترې (په دوامداره توګه) غافل (ناخبره) دي.

[۱۴۷] او هغه کسان چې زمونږ ایتونو او د وروستنۍ ورځې ملاقات ته د دروغو نسبت کوي عملونه یې ضائع شوه. آیا دوی ته جزا ورکوله کیږي (نه ورکوله کیږي) مګر د هغو عملونو (جزا) چې وه دوی چې کول به یې.

## د مطلب خلاصه

په دغو ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د مناجات څه برخه نوره هم واضحه شوې ده چې تفصیل یې دا دی:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې دې د موسی ﷺ د مناجات څه نوره برخه هم ولوله چې عبرت ترې واخلي هغه دا چې:

۱ـ مونږ موسی ﷺ ته د مناجات په وخت کښې د هدایتونو ځو لوحې (تختې) ورکړې چې په دغو تختو کښې مو ورته د هر خطرناک شي څخه موعظې او د هر ګټور شي دپاره نصیحتونه لیکلي وه. او په دې باندې علاوه، په دغو تختو کښې مو ورته د ټولو منازعاتو (شخړو) فیصلې او د ټولو ضروري مسائلو احکام بیان کړي وه. او د ټولو عقائدو او احکامو اصول مو ورته پکښې واضحه کړي وه.

۲ـ مونږ موسی ﷺ ته امر وکړ چې دغه د هدایتونو تختې ښې په قوت سره واخله او منګولې وربانديې خښې کړه او عقیدةً او عملا یې په عملي میدان کښې پیاده کړه.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه خپل امت او خپل قوم ته هم امر وکړه چې د دغو احسنو تختو په هدایتونو باندې منګولې خښې کړي او په جدیت سره پرې عقیده او عمل وکړي. که بالفرض دوی یې په عملي میدان کښې پیاده نه کړي او ځپل ځانونه پرې فاسقان جوړ کړي نو د فاسقانو د انجام سره به دوی هم مخامخ شي.

په نژدې وخت کښې به په تاسو باندې د فاسقانو وطن وګورم، شام به هم ستاسو د تسلط لاندې راولم چې د عمالقه وو په نوم فاسقانو څخه به یې تاسو ته خالي کړم، او هم به په مصر باندې هم ستاسو تسلط جاري شي چې د قبطیانو فاسقانو تسلط ته به پرې ستاسو دپاره خاتمه ورکړم نو وبه ګورم چې تاسو پکښې فاسقان جوړیږئ او که صالحان.

۳ـ موسی ﷺ ته مو وحې وکړه چې د ذکرو شوو تختو د هدایتونو په نسبت باندې به ستا په امت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې یو ټولګی خلک تکبر وکړي او په ناحقه (بې دلیله) به یې د ښتو لاندې کړي او همدغه لوی جنایت ته به ادامه ورکړي چې په نتیجه کښې به زه د دوی په زړونو باندې مهر ولګوم او د خپلو ایتونو د استفادې څخه به یې واړوم.

نو دغه کسان به لاندې حالات ولري:

الف: د دوی بغاوت به دومره قوي شي چې هره یوه معجزه وګوري دوی به ورباندې ایمان نه راوړي او د یوې معجزې د تاثیر لاندې به هم نه راځي.

ب: دوی چې چرته د هدایت او د خیر لاره وګوري په هغې به نه ځي، د هغې څخه به یې کرکه کوي که څه هم حقانیت یې ورته واضحه وي.

ج: بالمقابل که چرته د ګمراهۍ او شر لاره وګوري په هغې باندې به درومي او هغه به ورته ښه ښکاره يږي.

مونږ ورته ویلي وه چې: د متکبرانو په زړونو باندې مونږ ځکه مهر لګوو چې دوی زمونږ ایتونو ته په دوامداره توګه د دروغو نسبت کوي او په دوامداره توګه ترې غفلت کوي، نو په نتیجه کښې د تکذیب او غفلت سره عادت شي، دغه دواړه ورته ښه ښکاريږي او په هیڅ دلیل او برهان سره ترې مخ اړونکي نه وي چې همدغه د مهر د لګولو معنی ده.

۴ـ ای پیغمبره! خپل امت ته زمونږ د پلوه اعلان وکړه چې زمونږ ایتونو ته چې هرڅوک د دروغو نسبت کوي او هم د قیامت په ورځ باندې عقیده نه لري د هغوی ټول اعمال زمونږ په نزد باندې ضائع دي، نه یې چاته د خیر رسونه په درد خوري او نه ورته خیرات ورکول څه ګټه رسولی شي، ځکه چې دوی همدا کرلي دي او همدا به ریبي، د اعمالو د قبول دپاره سمه عقیده ضرور ده او سمه عقیده د دوی سره نشته.

## توضیحات

۱ـ په دې کښې علماء کرام اختلاف لري چې موسی ﷺ ته ذکرې شوې لیکلې شوې تختې د تورات څخه وړاندې ورکړې شوې وې او بیا وروسته ورباندې تورات نازل کړی شو، او که همدغه تختې د تورات درلودونکې وې؛ مګر راجحه خبره دا ده چې ذکرې شوې تختې د تورات په اصولو باندې مشتملې وې او اجمالاً پکښې ټول تورات پروت وه[۱] چې بیا وروسته د ضروریاتو او وقائعو په اعتبار سره تفصیلوار نازل شو.

مونږ وایو چې که همدغه راجحه خبره واقعیت ولرې نو ذکرو شوو تختو به تورات ته داسې نسبت در لود لکه څنګه چې د "الفاتحة" سورت ټول قرآن کریم ته نسبت لري، چې اجمالاً په قرآن کریم باندې مشتمل دی خو تکمیل یې په درویشتو کلونو کښې شوی دی.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۴۶؛ تفسیر المنار ج۹ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د موسی ﷺ د الواحو شمېره او جوړښت

۲_ علماوو کرامو د تختو په جنسیت کښې اوه قوله کړي دي چې د لرګي یا د نورو شیانو څخه جوړې وې، او همدارنګه یې په عدد کښې هم څلور قوله کړي دي چې دوه یا زیاتې وې[۱].
مګر مونږ ته په دې باره سکوت بهتر ښکاري چې په اسرائیلیاتو کښې واقع نه شو. فقط همدومره عقیده کفایت کوي چې ذکرې شوې تختې غیبي تختې وې او موسی ﷺ ته په یقیني توګه ورکړی شوې وې او مونږ پرې عقیده لرو او د کیفیاتو علم یې الله ﷻ ته سپارو.
په دې باندې علاوه، ذکرې شوې تختې هغه وخت موسی ﷺ ته ورکړی شوې کله چې د همدې غرض دپاره د طور غره ته بللی شوی وه او څلوېښت ورځې یې روژه نیولې وه، نو د روژې د تکمیل څخه وروسته جبرائیل ﷺ د خپله څانه سره په آس باندې سور کړ او د طور د غره څخه یې اسمان ته وخېژاوه، هلته ورته ذکرې شوې تختې (لیکلې شوې) ورکړی شوې او لاندې یې څمکې ته راښکته کړې[۲]، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال.

## د عربیت یو تحلیل

۳_ مونږ په ترجمه کښې د ﴿ مِن كُلِّ شَيْءٍ ﴾ کلمې د ﴿ وَكَتَبْنَا ﴾ دپاره مفعول وګڼلې او د ﴿ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلاً ﴾ دواړه کلمې مو د مفعول څخه بدل واقع کړې او د ﴿ لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ کلمات مو د ضروري احکامو څخه عبارت کړه، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: مونږ موسی ﷺ ته په تختو کښې ټول ضروري شیان لیکلي وه لکه د دعوت په باره کښې موعظه (ترغیب او ترهیب) او د حوادثو په باره کښې هر تفصیلي حکم، څکه هغوی ته د اجتهاد اجازه نه وه ورکړه شوې. په احکامو کښې اجتهاد د محمدي ﷺ امت خاصه ده[۳]، د زیاتې شرحې دپاره دې اوږدو تفاسیرو ته مراجعه وکړی شي[۴].

## احسن د کومو احکامو نوم وه؟

۴_ علماوو کرامو د ﴿ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُواْ بِأَحْسَنِهَا ﴾ جملې دپاره لاندې تفسیرونه کړي دي:
الف: أحسن هغه احکام وه چې ثواب پکښې زیات وي، لکه عفوه په نسبت سره قصاص ته، او صبر په نسبت سره انتقام ته او بالآخره فرض په نسبت سره مستحباتو ته[۵] او داسې نور.
نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای موسی! خپل قوم ته امر وکړه چې په احسنو احکامو باندې عمل وکړي ترڅو ډېر ثوابونه وګټي که نه نو د حسنو احکامو په تعمیل کښې هم اجرونه شته دي.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۷۵؛ روح المعاني ج۹ ص۵۷
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۶۳
(۳) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۸۱
(۴) روح المعاني ج۹ ص۵۷
(۵) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې مقام کښې په اسم تفضیل "أحْسَن" کښې تفضیلي معنی نشته، نو احسن او حسن دواړه یوه معنی ورکوي[۱]، لکه چې عرب وایي چې: "فُلانٌ أسْمَعَ مِنَ الْجِدَارِ" فلانی د دیوال څخه ښه اوریدونکی دی. یعنې دیوان اورېدل نه کوي او فلانی اورېدل کوي.

نو معنی به یې داسې شي چې: خپل قوم ته امر وکړه چې په ټولو نېکو (حسنو) احکامو باندې یې عمل وکړي.

ج: په دې مقام کښې د "أحْسَن" کلمه د مقایسې په توګه نه ده استعماله شوې، لکه څنګه چې په "اللهُ أكْبَرُ" کښې د "أكْبَر" په کلمه کښې مقایسه ملحوظه نه ده[۲].

نو معنی حاصل یې داسې کېږي چې: خپل قوم ته امر وکړه چې د تختو احکام عملي کړي چې په مجموعي توګه احسن او ډېر ښائسته دي.

ځینو مفسرینو کرامو نور جوابونه کړي دي[۳] خو مونږ ته همدغه درېم جواب غوره برېښي.

## "دار الفاسقین" د کوم ځای څخه عبارت دی؟

۵ـ د ﴿ دَارَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده:

الف: دا د مصر د ځمکې څخه عبارت ده چې د فراعنه وو (فاسقانو) د تسلط لاندې وه[۴] او د داوُد ﷺ او د سلیمان ﷺ په زمانو کښې الله ﷻ بني اسرائیلو ته ورکړه، نو په دې تقدیر د ورښودلو څخه ورکړه مطلب ده.

ب: د عادیانو او ثمودیانو د ځمکو معنی ورکوي[۵] چې د هغوی د هلاکت وروسته د ټولو خلکو دپاره د عبرت درس جوړ شو، نو حاصل یې داسې کېږي چې: احکام په جدیت سره عملي کړئ که نه نو د هغوی په سرنوشت به اخته شئ چې ښارونه یې کنډوالې پراته دي.

ج: ﴿ دَارَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ د دوزخ سره مرادف دی[۶] چې احکام قبول کړئ که نه نو دوزخ به دروښایم یعنې دوزخ ته به مو ورداخل کړم.

د: ذکره شوې کلمه کومې مشخصې ځمکې ته اشاره نه ده بلکې د کنائې په توګه د تهدید څخه عبارت ده[۷] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په احکامو باندې عمل وکړئ که نه نو ستاسو به هم د فاسقانو په مېنه باندې شپه شي او د هغوی غوندې معامله به درسره وشي.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۷٦
(۲) المحرر الوجیز ج۷ ص۱٦۰
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۱۵۸
(۴) روح المعاني ج۹ ص ٦۰
(۵) المحرر الوجیز ج۷ ص۱٦۱
(۶) زاد المسیر ج۳ ص۱۷٦
(۷) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۴٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

زمونږ په نزد ﴿ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ به ـ والله ﷻ اعلم ـ د هغې ځمکې څخه عبارت وي د کومې چې الله ﷻ د بني اسرائيلو سره د ورکولو وعده کړې وه او په [الأعراف:۱۲۹] آيت کښې ورته اشاره شوې ده او هم الله ﷻ د خپلې وعدې پوره کول په [الأعراف:۱۳۷] آيت کښې حکايت کړي دي، يعنې د مصر او فلسطين ځمکه.

مګر په دې مقام کښې يې د ذکرې شوې ځمکې څخه د پخوانيو تعبيراتو په عوض د ﴿ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ په کلمې باندې تعبير وکړ ترڅو بني اسرائيل لاڅه بلکې ټول انسانان په غوږ باندې ووهل شي چې صلاح د خلافت سبب دی او فسق د هلاکت سبب دی، لکه چې فرمايي: ﴿ أَنَّ ٱلۡأَرۡضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ [الأنبياء:۱۰۵] يعني: يقينًا مونږ په زبور کښې ليکلي وه چې بې شکه ځمکه چې ده د دې وراثت به زما صالح بندګان کوي (همدوی ته به وړيا ورکوله کېږي).

نو په دې تقدير يې د معنى حاصل داسې راوځي چې: اى بني اسرائيلو! په الواحو باندې ښه پوره عمل وکړئ چې د صلاح خاوندان جوړ شئ او الله ﷻ د مصر او فلسطين دواړو ځمکې تاسو ته درکړي، او فسق مه کوئ چې د فراعنه وو او عمالقه وو غوندې د خلافت څخه محروم نه شئ:

﴿ وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِنۡ حُلِيِّهِمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٌۚ أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿١٤٨﴾ وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ ضَلُّواْ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ ﴾

[۱۴۸] او د موسى ﷺ قوم د ده (د تللو) څخه وروسته د خپلو ګاڼو څخه داسې مجسم خوسکی جوړ کړ چې هغه لره (د غوا غوندې) رمباړه (اواز) وه.

آيا دوی نه کتل چې يقينًا دا (خوسکی) د دوی سره خبرې هم نه شي کولی او څه لاره هم ورته نه شي ښودلی. دوی دا (خوسکی په معبوديت سره) ونيوه او دوی (په دې کار سره) ظلم کوونکي وه.

[۱۴۹] او هرکله چې دوی (د موسى ﷺ د بېرته راستنېدلو په وخت کښې) سخت پښېمانه شوه. او دوی وليده (پوه شوه) چې بې شکه دوی بې لارې شوي دي نو ويې ويلې: يقينًا که په مونږ باندې خپل رب ﷻ مهرباني ونه کړي او مغفرت را ته ونه کړي نو ضرور هرو مرو به مونږ د خساره کوونکو څخه وګرځو.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د بني اسرائيلو هغه حالت بيان شوی دی کوم چې دوی ته د موسى ﷺ د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مناجات په وخت کښې وربښل شوې وه، ترڅو ترې خلک عبرت واخلي چې په څه ډول باندې بې ديني رواج پيدا کوي او په دين کښې د سستۍ انجام څه شی کېږي، نو لنډ مطلب يې په لاندې ډول دی.

۱ـ کله چې موسی ﷺ د الله ﷻ مناجات ته تشريف وېوړ چې خپل قوم ته د هدايت دپاره تورات راوړي او خپل ورور (هارون ﷺ) يې په دوی کښې د خليفه په توګه وټاکه چې خلک بې دينۍ ته پرې نه ږدي، نو د هارون ﷺ د زيار او کوښښ سره-سره بني اسرائيلو خپلې ګانې راغونډې کړې او د ويلې (ذوب) کولو څخه وروسته يې ترې د سامري په نوم سړي په ذريعه د يوه خوسکي مجسمه جوړه کړه چې دغوا اواز (رمباړه) يې ووهله.

سامري دوی ته وويلې چې دغه خوسکی ستاسو معبود دی چې دا موسی ﷺ هېر کړی دی او د مناجات دپاره يې د طور غره ته تللی دی.

۲ـ ذکر شوی خوسکی يوازې بې معنی رمباړه وهلی شوه چې نه يې د بني اسرائيلو سره خبرې کولی شوې او نه يې ورته څه د ره ښودلی شوه، مګر څرنګه چې دوی لا ترهغه وخته پورې په دين کښې نه وو قوي شوي او د مصريانو د بوت پرستۍ خيال يې لا د دماغونو څخه نه وه وتلی او هم يې د بوتانو د محبت څخه زړونه نه وه صاف شوي نو د هارون ﷺ نصائح يې ونه منل او بالآخره په يوه رمباړه باندې يې خوسکی په الوهيت (معبوديت) سره ونيوه.

دوی دا کار وکړ څکه چې دوی په خپلو خانونو باندې ظلم کوونکی قوم وه.

۳ـ هو! کله چې موسی ﷺ د مناجات څخه بېرته راستون شو او بني اسرائيل يې د هغوی په غلطۍ باندې پوه کړه چې تاسو ګمراه شوي ياست او په خپلو خانونو باندې مو ظلم کړی دی، نو دوی د خوسکي په عبادت باندې ډېر سخت پښيمانه شوه او خپل ندامت يې داسې څرګند کړ چې:

که په مونږ باندې خپل رب ﷻ رحم ونه کړي او د ذکرې شوې ګناه څخه راتېر نه شي نو هرو مرو او ضرور به مونږ د زيانکارانو څخه وشمېرل شو او په غټه خساره کښې کښې به واقع شو.

## توضيحات

۱ـ د بني اسرائيلو د خوسکي په باره کښې د "طه" په سورت کښې ښه مفصل بحث ـان شاء اللهـ را روان دی مګر مونږ دلته د ايتونو د اړوند په اعتبار سره لاندې معلومات ليکو:

الف: که څه هم خوسکی د سامري په نوم يوه سړي جوړ کړی وه چې زرګر وه مګر په ﴿ وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ ﴾ کښې يې ټولو بني اسرائيلو ته نسبت وکړی شو، څکه چې د يو پلوه د دوی اکثريت د خوسکي په جوړولو باندې راضي وه نو داسې وګڼل شو لکه چې دوی ټولو په شريکه جوړ کړی وي او د بله پلوه ـلکه چې مونږ د [البقرة: ۷۲] آيت لاندې ليکلي دي‌ـ په قوم کښې د يوه سړي د کار نسبت کله-کله ټول قوم ته هم کېږي.

ب: د ﴿ مِنۡ حُلِيِّهِمۡ ﴾ د کلمې څخه په ډاګه څرګندېږي چې هغه د سرو زرو ګانې کومې چې سامري

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تري خوسکی جوړ کړ په خپله د بني اسرائیلو ملکیت وي، مګر مفسرین کرام وایي چې ذکرې شوې ګاڼې اصلاً د قبطیانو (فرعونیانو) ملکیت وې[1] دوی ته د ملکیت د کبله نه دي اضافت شوي بلکې د عاریت او یا نورو اسبابو د کبله یې ورته اضافت موندلی دی، والله ﷻ اعلم.

ج: "عِجْل" په عربي ژبه کښې خوسکي یا د غوا بچي ته وایي، او "خوار" د همدغه جنس اواز یا رمباړې ته ویل کېږي. په پښتو ژبه کښې هم د ځینو حیواناتو بچیو ته ځانګړې نومونه اخستل کېږي، لکه چې د مېږې بچي ته "وری" او د اوښ بچي ته "جونګی" ویل کېږي.

همدارنګه د حیواناتو اوازونه هم په مختلفو نومونو باندې یادېږي، چې د غوا اواز ته "رمباړه" وایي او د خره اواز ته "هنګا" ویل کېږي.

که څوک د حیواناتو د اوازونو او هم د هغوی د بچیو نومونه په عربي ژبه کښې د نظره تېروي نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[2].

د: "جَسَد" خو هغه بدن ته ویل کېږي چې د غوښې او وینې څخه جوړ وي[3] او رنګ ولري[4] یعنې: بني اسرائیلو ته سامري نامې سړي د خوسکي مجسمه جوړه کړه. هسې نه چې خوسکی یې ورته رسم کړی وه او جسمیت یې نه درلود.

نو غالبه دا ده چې ذکر شوي خوسکي خو به زیړ طلائي رنګ درلود ځکه چې د سرو زرو څخه جوړ شوی وه، اما په دې کښې اختلاف دی چې دغه به حقیقتاً غوښه او وینه ګرځېدلې وه، لکه څنګه چې د همسا څخه حقیقي ښامار جوړ شو، او که حقیقت ته به یې تغییر نه وه ورکړی شوی او محض د یوه بوت په څېر به د خوسکي په شکل وه.

ځینې علماء کرامو دوهم شق ته ترجیح ورکړې ده چې حقیقت یې نه وه بدل شوی[5] او رمباړه به یې یا د جادو په سبب کوله[6] او یا به یې د دې زمانې د ګاډو پشان په صنعتي توګه هارن (زنګ) واهه.

مګر ځینې علماء وایي چې: چې د خوسکي حقیقت د ذهبیت (سرو زرو) څخه اړولی شوی وه او د غوښې او وینې مجموعه جوړه شوې وه[7].

مونږ ته همدغه دوهم شق راجح ښکاري ځکه چې:

اول: موسی ﷺ سامری مخاطب کړ، لکه چې الله ﷻ یې د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ﴾ [طه:۹۷] یعنې: مونږ به ستا مصنوعي خوسکی هرومرو وسوزو. حال دا چې زَر خو ذوب (ویلې) کېږي مګر سوزي نه.

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۶۳؛ تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۸۴
(۲) روح المعاني ج۹ ص۶۳
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۱۵۹
(۴) مفردات الراغب ص۹۱
(۵) البحر المحیط ج۵ ص۱۷۷
(۶) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۶۴
(۷) تفسر البغوي ج۲ ص۲۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: الله ﷻ موسی ﷺ ته د راګرځېدلو څخه وړاندې خبر ورکړ چې: ﴿ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِن بَعْدِكَ ﴾ [طه:۸۵] یعنې: نو یقینًا مونږ ستا د تللو څخه وروسته ستا قوم (بني اسرائیل) په امتحان کښې واچول. او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ د امتحان سره دوهم شق د ټبر بنه پیوند نیسي.

## سوال جواب

ه : که څوک وایې چې سامري (زرګر) په ټولو څاروېو کښې په څه غرض د خوسکې مجسمې ته ترجیح ورکړه چې د بل حیوان مجسمه یې د سرو زرو څخه جوړه نه کړه؟

مونږ وایو چې دا څکه:

اول: ځینې علماء کرام وایې چې: فرعون پخپله دغوا په شکل بوت په غاړه کړی وه او د هغه عبادت به یې کاوه[۱].

نو د بني اسرائیلو په زړونو کښې د غوا او خوسکې محبت آن د مصر د وخته خای نیولی وه او په اسانۍ سره یې پرې د الوهیت عقیده وکړه؛ نو دا یې د تېر ویستلو اسانه لاره وه.

دوهم: بني اسرائیلو چې د کوم بوت پرست قوم سره د سیالۍ دپاره د موسی ﷺ څخه د بوت درولو غوښتنه کړې وه د هغوی بوت د غوا یا خوسکې په شکل وه[۲] او د دوی په زړونو کښې یې خای نیولی وه، چې قیصې ته یې په [الأعراف:۱۳۸] آیت کښې اشاره شوې ده، نو څکه پرې دوی په اسانۍ سره وغولولی شوه.

## د عربیت یو تحلیل

۲ـ مفسرینو کرامو د ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ ﴾ په جمله کښې متعدد تحلیلونه کړي دي[۳] ترڅو ترې د ندامت او پښېمانۍ معنی راوباسي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ سُقِطَ ﴾ کلمه د "سُقُوط" څخه اشتقاقه شوې ده او نائب فاعل یې مستتر ضمیر دی چې هغه خسران او ندامت ته راجع دی کوم چې د ذکرې شوې کلمې د استعمال په وخت کښې د خلکو په اذهانو کښې استقرار لري[۴]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د دوی په زړونو کښې دومره لوی ندامت واقع کړی شو تا به ویل چې د دوی مخه یې بنده کړې ده او وړاندې یو قدم هم نه شي پورته کولی چې د خوسکې عبادت ته ادامه ورکړي.

ب: د ﴿ سُقِطَ ﴾ کلمه د هغه "سَقِیط" څخه اخستله شوې ده کوم ته چې مستتر ضمیر هم راجع دی. "سَقِیط" پرښې ته وایي[۵]. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: او هرکله چې ددوی په وړاندې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۶۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۸۵
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۸
(۴) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۶۶
(۵) البحر المحیط ج۵ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرېنه ووروله شوه او د خوسکي عبادت ورته د پرېښې پشان بې ګټې او بې معنی څرګند شو.

ج: په ذکره شوې جمله کښې د مفرداتو معناوې د نظره غورزولې شوې دي او مجموعه کلام په ندامت او پښېمانئ باندې د کنائي په توګه دلالت کوي(۱)، لکه څنګه چې په [الأعراف:۵۴] آیت لاندې ورته اشاره شوې ده. مونږ ته همدغه تفسیر غوره ښکاري چې بې تکلفه دی.

## یادونه

۲ـ په دې ایتونو کښې فقط د قیصې پیل او پای بیان شوی دی چې بني اسرائیلو د عبادت دپاره خوسکی جوړ کړ او بیا پرې د موسی ﷺ د راتګ څخه وروسته پښېمانه شوه، اما دا خبره چې الله ﷻ د دوی پښېماني (توبه) په څه ډول سره قبوله کړه نو د دې بیان د [البقرة:۵۴] آیت لاندې تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ بَعْدِىٓ ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ٱبْنَ أُمَّ إِنَّ ٱلْقَوْمَ ٱسْتَضْعَفُونِى وَكَادُوا۟ يَقْتُلُونَنِى فَلَا تُشْمِتْ بِىَ ٱلْأَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِى مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِأَخِى وَأَدْخِلْنَا فِى رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ ﴾

[۱۵۰] او هر کله چې موسی ﷺ خپل قوم ته په داسې حال کښې ورستون شو چې په غُصه او غمژن وه نو ویې ویلې (دوی ته:) ډېر بد دی هغه شی چې تاسو زما (د تللو) څخه وروسته په هغه شي سره زما خلافت کړی دی (چې خوسکی معبود ګرځولی شوی دی). ایا تاسو د خپل رب ﷻ د امر جلتي غوښتله (چې د څلوېښتو ورځو څخه وړاندې درته کتاب راوړم)؟

او (په تلوار سره یې) تختې وغورزولې (کېښودلې) او د خپل ورور (هارون ﷺ) سر یې په داسې حال کښې ونیوه چې خپل خان ته یې راښکود.

ده (هارون ﷺ) وویلې: ای د خپلې مور زویه! (په ما کښې قصور نشته) یقیناً زه دغه قوم کمزوری وګڼلم (ضعیف ورته ښکاره شوم) او دوی نژدې وه چې ما ووژني، نو دښمنان را باندې مه خوشاله وه (خوشې مې کړه) او د ظالم قوم سره مې مه ګرځوه (مه شمېره).

[۱۵۱] ده (موسی ﷺ) وویلې: ای زما ربه! ماته هم بښنه وکړې او زما ورور ته هم او مونږ (دواړه) په خپل رحمت کښې شامل کړې او ته د ټولو رحم کوونکو څخه زیات رحم کوونکې یې.

## ارتباط

په وړاندینیو ایتونو کښې د بني اسرائیلو حال بیان شوی وه چې دوی د موسی ﷺ د تللو څخه

(۱) روح المعاني ج۹ ص۶۴؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۲۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروسته بوت پرستي وکړه او په نتيجه کښې پرې پښېمانه شوه، په دې ايتونو کښې د موسی ﷺ هغه حال بيان شوی دی چې د مناجات ځخه د بېرته راستنېدلو په وخت کښې ورسره مخامخ شو.

## د مطلب خلاصه

يعني: کله چې موسی ﷺ د مناجات ځخه د ځلوېښتو ورځو او شپو ځخه وروسته خپل قوم ته راستون شو نو په داسې حال کښې چې د يو پلوه د خپل قوم په بوت پرستۍ باندې په غُصه وه او د بل پلوه د دوی په سادګۍ (بې عقلۍ) باندې خپه او غمژن وه نو د هرځه ځخه وړاندې يې دوی مخاطب کړه چې:

۱ـ کوم شی چې تاسو زما ځخه وروسته کړی دی هغه ډېر ناکاره کار دی، ايا تاسو دومره بې عقله ياست چې د ايمان راوړلو ځخه وروسته بېرته کفر ته اووښتي ياست؟

ستاسو دې ته فکر نه وه چې په تاسو باندې الله ﷻ څومره لوی انعام وکړ چې د فرعونيانو د کفري تسلط ځخه يې په معجزانه توګه نجات درکړ، ايا دغه لوی نعمت مو سمدستي بېرته هېر کړ؟

زه خو ستاسو ځخه ډېر وخت نه وم جدا شوی، صرف ځلوېښت شپې مې د طور په غره کښې تېرې کړې،. دا هم ستاسو د هدايت دپاره چې د الله ﷻ د پلوه درته اسماني کتاب راوړم، ايا ځلوېښت شپې ډېر وخت دی؟

زه به ترځو په تاسو کښې ژوندی يم، که بله ورځ زه وفات شم نو ايا تاسو به بېرته کفر ته اوړئ؟ سادګي او بې عقلي خو هم يوه اندازه لري تاسو د اندازې ځخه وتلي بې عقلان ياست.

۲ـ موسی ﷺ ذکره شوې خطابه خپل قوم ته په داسې حال کښې ورکړه چې هغه غيبي تختې يې په لاس کښې وې کومې چې ده د طور د غره ځخه د بني اسرائيلو د هدايت دپاره راوړې وې او په راوړلو يې ځلوېښت ورځې وخت لګېدلی وه.

نو کله چې د ذکرې شوې خطابې سره موسی ﷺ د جذبې لاندې راغی او په عين حال کښې يې په خپل ورور هارون ﷺ باندې سترګې ولګېدلې نو تختې يې يوې خوا ته کېښودې او خپل ورور يې د سر او ږيرې ځخه ونيوه او خپل خان ته يې راکش کړ چې خپله غُصه ورباندې سړه کړي، او د مجلس حاضرين په غوږ باندې ووهل شي چې ستاسو د هر يوه سره دغسې معامله مناسبه وه. مګر ما درسره ځکه عين معامله ونه کړه چې تاسو ډېر ياست زه به ستاسو کوم يو د مرۍ ځخه نيسم؟

۳ـ د ذکرې شوې حملې سره سم هارون ﷺ خپل په غُصه شوی او غمژن شوی ورور (موسی ﷺ) په لاندې کلماتو باندې مخاطب کړ چې:

الف: ای زما د مور زويه! لږ ځه حوصله وکړه او په ارامۍ سره زما اعتذار واوره: ما خو د خلافت په دوره کښې ځه قصور نه دی کړی، ما دوی ته نصائح وکړه او په نهائي جديت سره د دوی د بوت پرستۍ په وړاندې ودرېدم او دومره زيات مقاومت مې ورسره وکړ چې زما وژلو ته دوی نژدې شوي وه. که بالفرض ما د دوی په مقابل کښې نور مقاومت هم کړی وی نو دوی به زما د وژلو تلاش پيل

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وي او په مقابل کښې به هغه سم مسلمانان راپاڅېدلي وي کومو چې بوت پرستي نه ده کړې نو د هر غټ قتل او قتول به جوړ شوی وی او اوس به همدا ته راته په غُصه وی چې بني اسرائیل دې ولې په جنګ اچولي دي ماته خو به دې لږ انتظار کړی وی؟!.

ب: ای د مور زویه! د بوت پرستانو کینه او عداوت لا تر اوسه پورې زما سره نه دی ختم شوی، هغوی زما په توهین او بې وقارۍ باندې سخت خوشالېږي نو دښمنان راباندې مه خوشالوه او ږيره او سر مې پرېږده.

ج: ای وروره! دغه بوت پرستان ظالم قوم دی، ما ستا په غیاب کښې هم ورته ويلي وه چې تاسو ظالمان یاست، او دا دی ستا په حضور کښې یې هم په همدې نامه باندې یادوم.

په دې باندې علاوه، کومې خبرې چې ما وکړې دا ټول حقیقت دی او دروغ پکښې نشته، که بالفرض ما دروغ ویلي وی دوی به دستي رد کړې وی، دوی خو دغه دي په مجلس کښې حاضر دي او ټولې خبرې یې واورېدې.

د: د هارون ﷺ په بلیغه وینا باندې د موسی ﷺ قناعت حاصل شو او د استنطاق څخه په وړاندې نیولو باندې یې پښېمانه شو نو سوال یې وکړ چې: ای ربه! ماته هم ببښنه وکړې چې په عجله سره مې خپل ورور د ږيرې او سر څخه ونیوه او زما ورور ته هم ببښنه وکړې که بالفرض د ده څخه د بوت پرستانو په مقابله کښې څه قصور واقع شوی وي، او ای ربه! مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړې او همدا ته د هر بهتر رحم کوونکی یې.

## توضیحات

۱_ که څوک وایې چې په [الأعراف:۱۴۹] آیت کښې الله ﷻ مهرباني کړې ده چې د خوسکي عبادت کوونکي په خپلو کړو باندې سخت پښېمانه شوه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا د موسی ﷺ غُصه د دوی په پښیمانۍ باندې سړه نه شوه؟

مونږ وایو چې: د [البقرة:۵۴] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي چې د قیصو په بیانولو کښې د قرآن کریم اسلوب د قیصه ویونکو په څېر نه دی چې د ترتیب مراعات پکښې ضرور ګڼي، قرآن کریم د یوې قیصې هره یوه کړۍ د مقام سره د ارتباط په اعتبار سره ذکر کوي نو د بني اسرائیلو پښېماني که څه هم په ذکر کښې وړاندې ده مګر د موسی ﷺ د ذکرې شوې خطابې څخه وروسته پېښه شوې ده، که بالفرض دوی د موسی ﷺ د ورتګ څخه وړاندې پښېمانه شوي وی نو موسی ﷺ به هومره نه وی غمژن شوی لکه څومره چې غمژن شو.

## غضب او اسف څه فرق لري؟

۲_ د ﴿ غَضْبَٰنَ ﴾ کلمه صفت مشبه ده چې د "غَضَبَ" څخه اخستله شوې ده او د ﴿ أَسِفًا ﴾ کلمه هم صفت مشبه ده چې د "أَسَفَ" _لکه "شَرَفَ"_ څخه جوړه شوې ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"غَضَب" او "أسَف" دواړه ذاتًا يوې معنى ته وضعه شوي دي[۱] مګر بالاعتبار يو تربله سره جدا دي، هغه دا چې کله د سړي په زړه کښې غُصه راپورته شي نو همدغې غُصې ته د انتقام په اعتبار سره غضب وايي او د زغملو په اعتبار سره ورته "أسَف" ويل کېږي.

نو دلته يې د معنى حاصل داسې راوځي چې: موسى ﷺ د مناجات څخه د بېرته راګرځېدلو په وخت کښې په خپل قوم باندې سخت په غُصه وه چې هم ورسره د انتقام خيال موجود وه او هم غمژن وه، چې په نتيجه کښې يې د انتقام څنډه په خپل ورور (هارون ﷺ) باندې سړه کړه او کيدلى شي چې د غمژن کېدلو څنډه يې د قوم د توبې په قبول باندې د منځه تللې وي، والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې موسى ﷺ خو د تللو په وخت کښې يوازې خپل ورور (هارون ﷺ) خليفه ګرځولى وه، لکه چې د [الأعراف:۱۴۲] آيت شريف ترې حکايت کوي، نو په کار وه چې دلته يې هم يوازې خپل ورور مخاطب کړى وى حال دا چې دلته يې ټول قوم مخاطب کړ چې ﴿ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ بَعْدِىٓ ﴾ هغه شى ډېر ناکاره دى چې تاسو پرې زما څخه وروسته زما خلافت کړى دى؟

مونږ وايو چې: که څه هم هلته يې يوازې هارون ﷺ د خليفه په توګه ټاکلى وه مګر د قوم مشران يې په غوږ باندې وهلي وه چې تاسو به ورسره کومک کوئ، او څه لرې نه ده چې دوى ته يې د کومک او نصرت کولو توصيه کړې وي، نو د قوم مشران چې د ټول قوم نمايندګي يې کوله اګر که په قصدي ډول باندې خليفګان نه وه ټاکلي شوي مګر په ضمني او تبعي ډول خو ټاکلى شوي وه، د همدې کبله دوى د موسى ﷺ خبره رد نه کړه چې تا خو يوازې خپل ورور خليفه ټاکلى وه او بس.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ خَلَفْتُمُونِى ﴾ کلمه د "خلافة" څخه اشتقاقه شوې ده او خلافة دې ته وايي چې يو د بل په ځاى باندې د هغه په غياب کښې ودرېږي؛ نو پوښتنه دا ده چې په څه منظور موسى ﷺ د ﴿ خَلَفْتُمُونِى ﴾ د کلمې سره د ﴿ مِنۢ بَعْدِىٓ ﴾ ټکى هم اضافه کړ، حال دا چې دا ټکى د هغې په مفهوم کښې شامل وه؟!

مونږ وايو چې: لکه څنګه چې د [البقرة:۳۰] آيت لاندې واضحه شوې ده چې خلافت کله-کله د اعزاز دپاره هم صورت نيسي چې د منوب عنه غوښتنه نه کوي. نو د ذکر شوي ټکي په اضافه کولو سره د خلافت معنى تشخيص شوه چې دا د اعزاز خلافت نه، بلکې د غياب خلافت وه.

## "عَجَلَة" څه معنى؟

۵_ د ﴿ أَعَجِلْتُمْ ﴾ کلمه د "عَجَلَة" څخه اشتقاقه شوې ده. که څه هم "عجلة" او "مسارعة" يو د بل په

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځای باندې استعمالېږي مګر اصلاً "عجلة" د هغه تلوار نوم دی کوم چې بې وخته صورت ولیسي[۱]، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الأَنَاةُ مِنَ اللهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ»[۲] ارامي کول د الله ﷻ د پلوه دي (نېک کار دی) او عجله (بې وخته تلوار کول) د شیطان د خوا دي (بد کار دی).

او "مسارعة" هغه تلوار ته ویل کېږي چې په وخت سره وي؛ د همدې کبله مونږ په عبادتونو کښې په "مسارعة" باندې مامور یاستو چې: ﴿ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ [آل عمران:۱۳۳] یعني: او تاسو د خپل رب ﷻ مغفرت ته تلوار وکړئ (چې وخت یې فوت نه شي).

په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د ﴿ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ﴾ د جملې دېر تفسیرونه کړي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ایا تاسو د خپل رب ﷻ د امر څخه تلوار وکړ او د خوسکي په عبادت باندې مشغول شوئ؟، که بالفرض دا نیک کار وی هم نو باید تاسو د الله ﷻ امر ته انتظار ویستلی وی[۳].

ب: ایا تاسو د خپل رب ﷻ د امر څخه تلوار وکړ او زما د وفات خیال درسره بې وخته پیدا شو؟[۴]، که بالفرض تاسو سره دغه خیال پیدا کېدلی نو باید چې د څلوېښتو ورځو څخه وروسته پیدا شوی وی.

که څه هم مونږ دغه تفسیرونه نه ردوو مګر د ذکرې شوې جملې د معنی حاصل راته داسې بهتر برېښي چې: ایا تاسو د الله ﷻ په امر (د تورات په ورکړه) باندې بې وخته تلوار وکړ او څلوېښتو ورځو څخه درته څلوېښت کاله جوړ شوه، ایا تاسو غوښتل چې د دغې لنډې وعدې څخه وړاندې په تلوار سره تاسو ته کتاب راوړم؟

همدې مضمون ته دا آیت شریف اشاره کوي چې: ﴿ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴾ [طه:۸۶] یعني موسی ﷺ خپل قوم ته وویلې چې ایا دغه څلوېښت شپې ورځې په تاسو باندې اوږدې شوې؟ او یا تاسو غوښتل چې د خپل رب ﷻ د پلوه درباندې غضب درښکته شي نو زما د ټاکلي شوې موعد مخالفت مو وکړ؟

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې الله ﷻ د موسی ﷺ څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ ﴾ یعني د تورات تختې یې وغورزولې او خپل ورور ته یې لاس ورواچاوه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا د غورزولو څخه د تختو توهین نه معلومېږي؟

مونږ وایو چې:

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۲۷۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱
(۳) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۵۷
(۴) روح المعاني ج۹ ص۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: موسی ﷺ په ډېره زغرده تختې کېښودلې او د خپل ورور د رانیولو دپاره یې لاسونه وزګار کړه نو د ده جلتي الله ﷻ په القاء (وراچولو) سره تعبیر کړه[1].

ب: مګر ډېر ښه جواب دا دی چې د القاء (وراچولو) سره په هر ځای کښې توهین ملګری نه(يې) لکه چې الله فرمایي: ﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً﴾ [المزمل: ۵] یعنې: مونږ یقیناً په تا باندې درونډ قول (قرآن کریم) دراچوو؛ نو دلته پکښې توهین نشته.

## د ایتونو ارشادات

۷_ ذکر شوي ایتونه مونږ ته لاندې ارشادات کوي چې په خپل وخت سره پرې عمل وکړو:

الف: باید هرڅوک د خپلې وسې په اندازه د بې دینۍ په محوه کولو کښې زیار وباسني که څه هم په نصیحت او وعظ سره وي، لکه څنګه چې موسی ﷺ خپل قوم ته نصیحت وکړ او هارون ﷺ لا ورته پخوا کړی وه.

ب: په کوم ځای کښې چې د غټ فساد خطره وي نو باید چې هلته د لاس اچولو څخه ځان بچ وساتل شي، لکه څنګه چې هارون ﷺ ترې خپل ځان بچ ساتلی وه.

ج: باید هر مؤمن د الله ﷻ د دین دپاره څه غُصه ولري او د خلکو په بې دینۍ باندې خپه شي، لکه څنګه چې د بني اسرائیلو په بې دینۍ باندې موسی ﷺ هم په غُصه وه او هم پرې غمژن وه.

د: باید چې د الله ﷻ د دین څخه هیڅوک محترم ونه ګڼل شي که څه هم ډېر نژدې حقدار وي لکه استاذ یا مشر ورور، لکه څنګه چې موسی ﷺ د هارون ﷺ مراعات ونه کړ او لاس یې وروراچاوه سره د دې چې هارون ﷺ یې سکنی ورور وه[2] او درې کاله ترې مشر وه[3].

ه: کله چې سړی معقول اعتذار مونده کړي نو باید قبول یې کړي، لکه څنګه چې موسی ﷺ د خپل ورور اعتذار په جلتۍ سره ومانه.

ز: باید مسلمانان داسې کارونه ونه کړي چې دښمنان وربانديې خوشاله شي او که بالفرض وربانديې مبتلا شي نو باید چې د وریادېدلو سره سم ترې لاس واخلي، لکه څنګه چې موسی ﷺ د ذکرې شوې کلمې په اورېدلو سره سمدستي د خپل ورور ډېره خوشي کړه.

افسوس چې په افغانستان کښې تقریباً د دریوو کالو څخه را په دېخوا د مجاهدینو یوه ډله د بلې سره لاس او ګرېوان ده او یوه د بلې ډېره وباسي، عزت او عفت یې اخلي او بالآخره دښمنان ورته په تماشه دي او ورپورې خاندي، مګر دوی خپله کړنلاره نه بدلوي، فانا لله و انا الیه راجعون.

(الله ﷻ دې نه کړي) که دغه وضعه ادامه وکړي نو د دې خبرې خطره شته چې اسلامي حکومت په افغانستان کښې بالکل تحقق ونه مومي او یا پېسوچه کفري دولت او یا لږ تر لږه مختلط حکومت

(۱) روح المعاني ج۹ ص۶۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۴۸
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړ شي، لکه چې نن ورځ[۱] دښمنان همدې ته ډېر لېوال او سترګې په لار دي.

## يادونه

د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحې ته متوجه شئ:

اول: "شماتة" دې ته وايي چې سړی په هغه مصيبت باندې خوشاله شي چې بل چا ته په دين يا دنيا کښې ورسېږي، دا کار په مسلمانانو کښې حرام او ممنوع دی[۲].

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ»[۳] يعنې: ای مؤمنانو! په الله ﷻ باندې د دښمنانو د خوشالېدلو څخه پنا وغواړئ چې داسې حالت درباندې درنه شي چې د هغوی د خوشالۍ سبب جوړ شي.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ۝١٥٢ وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝١٥٣ وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ أَخَذَ ٱلۡأَلۡوَاحَۖ وَفِي نُسۡخَتِهَا هُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ هُمۡ لِرَبِّهِمۡ يَرۡهَبُونَ ۝١٥٤﴾

[۱۵۲] يقيناً هغه کسان چې دي چې خوسکی يې (په معبوديت سره) نيولی دی، ژر به دوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه (په آخرت کښې) غضب ورسېږي او په نژدې (حقير) ژوند کښې به ورته ذلت (ورسېږي) او همدارنګه مونږ دروغو تړونکو ته جزا (سزا) ورکوو.

[۱۵۳] او هغه کسان چې ګناهونه وکړي (هر ډول ګناه چې وي) بيا د ګناهونو څخه وروسته توبه وباسي (پښېمانه شي) او خپل ايمان ته ادامه ورکړي، (نو) يقيناً ستا رب ﷻ چې دی (ای موسی!) د دې (با ايمانه توبې) څخه وروسته هرومرو بښونکی (او) مهربان دی.

[۱۵۴] او هرکله چې د موسی ﷺ څخه غُصه غلې (سړه) شوه (نو يوې خواته ايښودلې شوې) تختې يې را واخستې (راپورته کړې)، حال دا چې د هغو په ليکلي شوو (مضامينو) کښې د هغو کسانو دپاره هدايت او رحمت وه (کوم) چې د خپل رب ﷻ څخهډارېږي.

## ارتباط

په وړاندې ايتونو کښې واضحه شوې وه چې موسی ﷺ د مناجات څخه د بېرته راستنېدلو په وخت کښې ډېر په غُصه او غمژن وه، په دې ايتونو کښې واضحه کېږي چې الله ﷻ هغه ته ډاډ ورکړ او غُصه يې سړه شوه. نو حاصل يې داسې راوځي:

---

(۱) ۱۳۷۴/۸/۱۵ هـ ش

(۲) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۹۱

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! بیا مونږ موسی ﷺ ته د دې او اطمنان دپاره وحي وکړه چې:

۱ـ هر چا چې د خوسکي عبادت کړی دی او د معبودیت په صفت باندې يې نيولی دی نو هغه به د قیامت په ورځ د خپل رب ﷻ د پلوه د غضب سره مخامخ شي او په دوزخ کښې به واچولی شي او د بلې خوا به په دنیا کښې ذلیل او مهان کړی شي. نو ته دې هرغمژن کيږه مه، دې هر ژر به په دوی باندې ستا زړه يخ کړو.

دوی خو زمونږ د قدرت څخه نه وتلي دي او نه وتلی شي او همدا دول جزا مونږ مفتريانو ته ورکوو چې په الله ﷻ باندې افتراء کوي او دروغ ورباندې تړي.

۲ـ هو! بالمقابل که څوک د خوسکي د عبادت څخه توبه تائب شي نو د هغوی سره به په لاندې قاعده باندې چال چلند وکړو:

هرڅوک چې ګناهونه وکړي، برابره خبره ده چې د کفر ګناه وي او یا نور ګناهونه، او بیا ترې توبه وباسي او ورباندې پښېمانه شي او د توبې څخه وروسته خپل کامل ایمان ته ادامه ورکړي چې نېک عمل هم ورسره ملګری کړي، نو د ده توبه به قبوله کړو او په پخوانیو ګناهونو باندې به يې ونه نیسو.

نو ای موسی! دا ځکه چې ستا رب ﷻ ببنونکی او مهربان دی، نو ستا د قوم څخه چې هرڅوک د ذکر شوي جنایت څخه توبه وباسي باید ته هم په هغوی باندې د ببښنې او مهربانۍ څخه کار واخلې، هم ورباندې په غُصه نه شې او هم ورسره په راتلونکې کښې په تروه تندې ګذاره ونه کړې.

۳ـ نو ای پیغمبره! په ذکره شوې وحې سره او د هارون ﷺ په اعتذار سره د موسی ﷺ د غُصې تېزوالی مات شو او څه ارامي ورباندې ورغله، د همدې کبله يې یوې خواته ایښودلې شوې تختې بېرته راپورته کړي او په تشریح او د دعوت باندې يې پیل وکړ.

ځکه چې ذکرې شوې تختې د الله ﷻ په هدایتونو او رحمتونو باندې ډکې وې او هرچا کولی شو چې استفاده ترې وکړي، مګر بالفعل استفاده ترې یوازې هغو خلکو وکړی شوه چې هغوی د خپل رب ﷻ څخه دارېدل او د هدایت او رحمت په لټه کښې وه.

## توضیحات

۱ـ په ذکر شوو ایتونو کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشل شوي دي:

الف: یو ګروپ وایي چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ ﴾ څخه د موسی ﷺ د زمانې هغه یهودان مراد دي کومو چې د دغه لوی جنایت څخه توبه وېستلې وه، دوی د ﴿ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمۡ ﴾ څخه هغه قتل اخلي په کوم باندې چې د دوی توبه قبوله شوه او په [البقرة: ۵۴] آیت کښې ورته اشاره شوې ده، او د ﴿ ذِلَّةٌ ﴾ څخه هغه ذلت مراد دی کوم چې په یهودانو باندې د مسکنت ترڅنګ په دائمي توګه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښه وهلې وه[۱] او شرحه يې د [البقرة: ۶۱] آيت د دوهمې برخې لاندې تېره شوې ده.

مونږ ته ذکرشوی تفسير بالکل سرچپه ښکاري او دا ځکه چې:

اول: د توبې قبول (هغوی ته په ځان وژنه باندې تمام شو) د الله ﷻ رحمت وه، نه د الله ﷻ غضب، چې شرحه يې د [البقرة: ۵۴] لاندې تېره شوې ده.

دوهم: دغه تفسير د ﴿ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ﴾ د تعقيب سره څه سمون نه خوري ځکه چې د توبې د قبول څخه وروسته دوی ته د دروغو تړونکو لقب ورکول مناسب نه برېښي.

ب: يل ګروپ وايي چې: د ذکر شوي موصول ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ ﴾ څخه د خوسکي پرستانو هغه اولادونه مطلب دي کوم چې د نبي کريم ﷺ په دعوتي امت کښې شامل وه. نو حاصل يې داسې راوځي چې: ای پيغمبره! مونږ به ستا د دعوتي امت يهودان په آخرت کښې په خپل غضب باندې ککړ کړو او په دنيا کښې به يې د ذلت سره مخامخ کړو ځکه چې دوی مفتريان دي او مونږ مفتريانو ته دغسې سزا ورکوو.

دغه تفسير مو هم د لاندې وجو د کبله نه خوښېږي:

اول: دا تفسير د "أولاد" د کلمې په تقدير باندې ولاړ دی چې: "إِنَّ أولاد الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ"؛ او بې ضرورته د تقدير منل چندان ښه کار نه دی.

دوهم: دا تفسير د سياق او سباق (وړاندې او ورسته) بحث سره پيوند نه اخلي. وړاندې او ورسته بحث خو د موسی ﷺ د زمانې په يهودو پورې ارتباط لري نو که دلته د هغوی اولادونه مراد شي نو ـ په اصطلاح ـ اميل به پرې شي او ملغلرې به دانه دانه شي.

## تبصره

۲ـ کوم تفسير چې مونږ ته د الله ﷻ په توفيق ښه ښکاره شوی دی هغه دا دی چې آيت شريف د موسی ﷺ د زمانې د يهودانو حال بيانوي او هم د ﴿ غَضَبٌ ﴾ څخه اخروي عذاب او د ﴿ ذِلَّةٌ ﴾ څخه دنياوي عذاب مطلب دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې:

ای موسی! خوسکي پرستان به د لاندې دوه وو حالتونو څخه خالي نه وي:

اول: يا به په خپله کړنلاره باندې کلک پاتې شي، نو دوی ته به اخروي او دنياوي عذابونه ورکړو.

دوهم: يا به د خپلو جنايتونو څخه توبه تائب شي، نو د دوی به توبه قبوله کړو؛ په هر تقدير، ته ډېر مه غمژن کېږه او حوصله د لاسه مه ورکوه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې ايا د خوسکي پرستانو څخه څوک په خپله کړنلاره باندې کلک شو چې توبه تائب نه شو؟

---

(۱) تفسير الخازن ج۲ ص۶۴۰؛ تفسير المنار ج۹ ص۲۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: ځینې مفسرین کرام وایي چې سامري زرګر توبه ونه ویستله[1] چې الله ﷻ به یې په آخرت کښې په خپل غضب باندې ککړ کړي او په دنیا کښې د لوی توهین او ذلت سره مخامخ شو چې د ده د وړاندې موسی ﷺ د ده معبود (خوسکی) وسوزاوه او ایره یې په دریاب کښې وشندله مګر دغه مخلص عبادت کوونکي ونه شو کړی چې د موسی ﷺ لاس ونیسي او خپل ځان د توهین او تحقیر څخه وژغوري.

په دې باندې علاوه نوموړي (سامري) تول عمر د خلکو څخه په انزوا (یوازېتوب) کښې تېر کړ او هرڅوک به چې ورنژدې کېده هغه به سمدستي کلکې تبې نیوه او په خپله سامری به هم په تبه باندې اخته کېده، د همدې کبله به یې په لوړ اواز سره چیغې وهلې چې "لاَ مِسَاسَ" یعنې زما سره دې هېڅوک تماس نه نیسي او نه دې ماته څوک رانژدې کېږي[2].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې د توبې د قبول دپاره خو د ایمان موجودیت شرط دی نو د څه حکمت په بنا په ﴿ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓا﴾ کښې ایمان وروسته ذکر کړی شو، ته به وایې چې د توبې د قبول دپاره ایمان شرط نه دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿وَءَامَنُوٓا﴾ څخه د ایمان ادامه مطلب ده، لکه چې د [النساء:۱۳۶] آیت لاندې یې شرحه تېره شوې ده، لله الحمد.

## د موسی ﷺ غُصه ډېره تېزه وه

۵_ د ﴿وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ﴾ په جمله کښې الله ﷻ د سکوت نسبت غضب (غُصې) ته وکړ ته به وایې چې د موسی ﷺ غُصه یو انسان وه او ده ته یې توصیه کوله چې خپل ورور (هارون ﷺ) په 'صطلاح د ګرېوان څخه ونیسه او داسې-داسې خبرې ورته وکړه، خو کله چې د ده غُصه د وصایاوو څخه چپه (سړه) شوه نو تختو ته یې لاس کړ.

د ذکر شوي نسبت څخه معلومېږي چې موسی ﷺ ډېره تېزه غُصه درلوده، په همدې مطلب باندې لاندې احادیث هم دلالت کوي:

الف: یوه ورځې موسی ﷺ غسل کاوه او په ډېره باندې یې خپلې جامې ایښې وې نو ډېرې ترې په معجزانه توګه جامې وتښتولې او د بني اسرائیلو د یوې ټولنې منځ ته یې ورسولې ترڅو هغوی پوه شي چې موسی ﷺ په غلیظه عورت کښې څه عیب نه لري او د خلکو پشان ځکه خپل ځان نه بربنډوي چې حیاناک دی، هسې نه چې عیبجن دی لکه چې هغوی پرې ګومان کاوه.

لنډه دا چې موسی ﷺ په غُصه شو او ډېره یې په خپله همسا باندې شپږ-اوه ګوزاره ووهله او

(۱) روح المعاني ج۹ ص۶۹

(۲) روح المعاني ج۱۶ ۲۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تغمي يې پکښې جوړې کړي[۱].

ب: موسی ﷺ ته ملک الموت د انسان په څېره کښې ورغی او د روح اخیستلو غوښتنه يې ترې وکړه، موسی ﷺ ورته په غُصه شو او په څپېړه باندې يې وواهه حتی سترګه يې ورته ړنده کړه. الله ﷻ ورته سترګه جوړه کړه او ملک الموت ته يې هدايت وکړ چې موسی ﷺ ته ووايه چې د يوه غوايه په شا باندې لاس کېږده څومره ويښتان چې ستا د لاس لاندې شي د هماغه عدد په اندازه دې ستا عمر اوږد وي (ترڅو ته خوشاله شې).

نو موسی ﷺ وويلې چې: «أيْ رَبِّ ثُمَّ مَاذَا» يعني: ای ربه بيا به څه کېږي؟ الله ﷻ وفرمايل چې «ثُمَّ الْمَوْتُ» بيا به مرګ وي. موسی ﷺ وويلې چې «فَالآنَ»[۲] نو همدا اوس (مرګ ته تيار يم).

هو! که څه هم د موسی ﷺ غُصه ډېره تېزه او ژر راتلونکې وه مګر په عين حال کښې ډېره ژر سړېدونکې وه، د همدې کبله د هارون ﷺ په لنډ اعتذار باندې په چالاکۍ سره سړه شوه.

نو موسی ﷺ د هغو انسانانو څخه وه د کومو په باره چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمِنْهُمْ سَرِيعُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ فَتِلْكَ بِتِلْكَ»[۳] څينې خلک ژر په غُصه کېږي خو ژر د غُصې څخه رجوع کوي (غُصه يې سړېږي) نو دا په دې شو. يعني هغه سرعت د دې سرعت په عوض کښې يو برابر شو، نه زيات نه کم.

## د عربيت يو تحليل

۶_ په ﴿ فِي نُسْخَتِهَا ﴾ کښې اضافت بياني دی او د "نُسْخَة" کلمه په معنی د "مَنسوخ" سره ده چې د "مکتوب" معنی ورکوي[۴].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د تختو په هغو ليکلو شوو کښې کومې چې پخپله تختې دي هدايت او رحمت وه. يعني د دغو تختو محتويات د هدايت رحمت څخه ډک وه.

﴿ وَٱخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُۥ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَٰتِنَا ۖ فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّٰىَ ۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآ ۖ إِنْ هِىَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهْدِى مَن تَشَآءُ ۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا ۖ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْغَٰفِرِينَ ﴿١٥٥﴾ وَٱكْتُبْ لَنَا فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ إِنَّا هُدْنَآ إِلَيْكَ ۚ قَالَ عَذَابِىٓ أُصِيبُ

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۶۶
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۸
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۳
(۴) روح المعاني ج۹ ص۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾

[۱۵۵] او موسی ﷺ زمونږ د مقرره وخت دپاره د خپل قوم څخه اویا سړي خوښ کړه، نو کله چې دوی (اویا کسانو) لره زلزلې ونیوه موسی ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! که ستا (زمونږ د هلاک) اراده شوې وې نو د (نن څخه) وړاندې به دوی او زه (ټول) تا هلاک کړي وی (د ډېرو مهلکو ځایونو څخه دې را تېر کړي یاستو).

(ای ربه!) ایا ته مونږ د هغه څه په سبب باندې هلاکوې چې زمونږ د جملې څخه بې عقلانو (سادګانو) کړي دي (په سوال کښې یې د حده تجاوز کړی دی)؟

دا هلاکت نه دی مګر ستا ازمېښت دی چې ته په همدې (ازمېښت) سره هغه څوک ګمراه کوې چې ستا اراده وشي او هغه چاته (پرې) هدایت کوې چې ستا اراده وشي. (ای ربه) ته زمونږ کار ساز یې، نو مونږ ته مغفرت وکړې او په مونږ باندې رحم وکړې، او ته د ښښونکو د جملې څخه بهتر ښښونکی یې.

[۱۵۶] او زمونږ دپاره په دغه نړۍ ژوند کښې نیکي (خوشالي) وټاکې او په آخرت کښې هم (راته نیکي وټاکې). یقینًا مونږ تاته رجوع کړې ده (په خپلو کړو باندې پښېمانه یاستو).

الله ﷻ وویلې چې: زما عذاب چې دی زه یې هغه چا ته رسوم چې زما خوښه شي، او زما رحمت چې دی هر شی یې ځای کړی دی، نو ژر دی چې زه به خپل رحمت هغو کسانو ته وټاکم چې پرهېزګاري کوي او زکاتونه ورکوي، او هغو کسانو ته هم چې دوی زمونږ په ایتونو باندې (په دوامداره توګه) عقیده کوي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ په خپلو جلیله صفاتو کښې د غفور رحیم صفات هم ذکر کړي وه چې د بندګانو توبې قبلوي او ښښنه ورته کوي، په دې ایتونو کښې د مغفرت او توبې قبلونې یو مثال ښودلی شوی دی. دا د یو پلوه، او بله پلوه د بني اسرائیلو یوې بلې واقعې ته هم اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راووځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د بني اسرائیلو یوه بله قیصه هم قرائت کړه چې الله ﷻ څومره لوی مهربان او توبه قبلوونکی دی، هغه دا چې یو ځلې موسی ﷺ د خپل قوم څخه اویا کسان خوښ کړه ترڅو یې د خپله ځانه سره د طورغره ته بوزي او د ټول قوم په نمایندګی هلته افتخار حاصل کړي. کله چې موسی ﷺ د خپلې غوره کړی شوي ډلې په شمول زمونږ په مقرره (ټاکلي) وخت کښې مقرره ځای ته ورسیده نو هلته د موسی ﷺ څخه په غیر نور ټول زلزلې وجړقول چې په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نتیجه کښې ټول مړه شوه او د ده څخه په غیر هېڅوک هلته ژوندي پاتې نشو، نو موسی ﷺ الله ﷻ ته په لاندې کلماتو سره سوالونه وکړه چې:

۱ـ ای زما ربه! که ستا اراده شوې وی زما په شمول به دې لا د وخته ټول هلاک کړي وی، د فرعونیانو څخه دې نجات راکړ او د مهلک دریاب څخه دې روغ رمټ راپوربېوستلو او داسې د نورو مهلکو ځایونو څخه دې ژوندي پاتې کړي یاستو نو اوس هم په مونږ باندې لطف وکړې او دا مړه ملګري راته را ژوندي کړې.

۲ـ ای زمونږ ربه! زمونږ ساده ګانو د دې څخه وړاندې هم ګناهونه کړي وه خو مونږ دې پرې نه یو هلاک کړي او عفوه دې راته کړې ده، د مثال په توګه زمونږ د قوم یوې ساده ډلې غوښتنه وکړه چې د دوی په وړاندې زه د عبادت دپاره یو بوت ودرم او داسې نور، خو تا پرې مونږ نه یاستو هلاک کړي او ژوندي دې پرېښې یاستو، نو اوس هم د سادګانو د ګناه څخه راتېر شې.

۳ـ ای ربه! دا چې دلته زما د قوم یوه منتخبه ډله پوپنا شوه دا بل شی نه دی مګر ستا د پلوه یو لوی امتحان دی چې زما قوم به ورسره مخامخ شي، نو دا معلومه نه ده چې د دې امتحان څخه به کامیاب ووزي او که نه.

ای ربه! ته په دغسې امتحاناتو باندې هغه څوک ګمراه کوې چې ستا ورته اراده وشي او هغه چا ته پرې هدایت کوې چې ستا خوښه شي.

۴ـ ای ربه! زما قوم تازه په تازه د فرعونیانو د تسلط څخه نجات موندلی دی او په دین کښې دومره قوي شوي نه دي چې د دغسې لوی امتحان په مقابل کښې ودرېږي او پښې یې ښویه نه شي.

زه پوهېږم چې دوی به د دغو اویا نفرو په مړینه کښې ما تومتي کړي او راته به ووایې چې دوی ټول تا وژلي دي، د دې ځای څخه دې د مناجات په بهانه بوتلل او هلته دې ټول ووژل، که نه نو ته څنګه ژوندی پاتې شوې.

۵ـ ای زمونږ ربه! ته زمونږ د ټولو دوست او کار ساز یې. نو دغه مړي راته راژوندي کړې چې زما سره یو ځای بېرته ستانه شي او زما نوی مسلمان قوم د دغه لوی امتحان څخه بچ پاتې شي.

۶ـ نو ای زمونږ ربه! مونږ ټولو ته د ګناه څخه مغفرت وکړې او په دې باندې علاوه په مونږ باندې مهرباني هم وکړې او د نېکیو توفیق راکړې. بې شکه همدا ته بهتر بښونکی او بهتر مهرباني کوونکی یې ستا غوندې بښنه او مهرباني هېڅوک نه شي کولی، چې بښنه او مهرباني دې بې غرضه او بې عوضه ده.

۷ـ ای زمونږ ربه! په مونږ باندې ستا د مهربانۍ یو صورت دا دی چې مونږ ته په دې دنیا کښې هم خوښي او خوشالي را کړې او په آخرت کښې مو هم د خوښیو او خو شالیو څخه بې برخې نه کړې.

۸ـ ای زمونږ ربه! مونږ ټولو تا ته رجوع کړې ده او همدا ستا څخه خپل احتیاجات غواړو، نه بل څوک د احتیاج د پوره کولو توان لري او نه مونږ بل چا ته د احتیاج لاس ورغزوو، زمونږ ټوله هیله او اسره یوازې همدا تا ته ده او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۹ـ الله ﷻ موسی ؏ ته د ذکرې شوې بلیغې وینا په مقابل کښې په لاندې شرحې سره اجابت وکړ چې:

الف: ای موسی! زه خپل عذاب هر هغه چاته رسوم چې زما ورته اراده وشي، رښتیا چې تاسو مې د ډېرو مهلکو ځایونو څخه را خلاص کړي یاست چې هلته مې تاسو ته د عذاب رسونې اراده نه وه شوې، او په دې مقام کښې مې د عذاب رسونې اراده وشوه نو دوی مې ټول مړه کړه.

ب: مګر زما رحمت په دنیا کښې هر شي ته رسېدلی دی حتی چې په عذاب باندې مبتلا خلک هم پکښې شامل دي چې د مسلط عذاب څخه په بل سخت عذاب باندې مې نه دي مبتلا کړي.

نو په همدې بنا زما په رحمت کښې دا هم شامله ده چې دغه مړه شوي کسان ستا د سوال د اجابت دپاره بېرته را ژوندي کړم چې ستا سره په اجتماعي توګه بېرته قوم ته ورستانه شي.

ج: اما زما رحمت په آخرت کښې په متقیانو مؤمنانو پورې خاص دی چې کافران پکښې برخه نه لري. نو زه به هلته هرو مرو خپل رحمت هغو خلکو ته وټاکم چې د کفر څخه ځانونه ساتي او په جدیت سره زکاتونه ورکوي او په بدني عباداتو باندې علاوه مالي عبادتونه هم نه پرېږدي او بالآخره خپلو عقائدو ته زمونږ په ایتونو باندې په سمه سیده توګه ادامه ورکوي.

د: نو ای موسی! لنډه دا چې زما رحمت ډېر پراخه دی او د لوړو مرتبو د ورکړې معیار مې بل هېڅ شی نه دی (نه نسب او نه وخت او نه زمان) بلکې معیار یې فقط عقیدوي او عملي تقوی ده او بس.

په کومه جرګه باندې چې ما ځمکه زلزله کړه د هغوی ګناه دا وه چې د یو پلوه یې د لوړې رتبې په غوښتلو کښې تقوی هېره کړه د دوی خیال وه چې د نسب په ذریعه به لوړې رتبې ته ورپورته شو او د بله پلوه دوی خپلو ځانونو ته په امتیاز قائل شوه چې د دوی څخه بهتر خلک نه وړاندې تېر شوي دي او نه به وروسته را شي. حال دا چې محمدي ﷺ امت وروسته را روان دی چې هغه د دوی څخه بهتر دی.

## توضیحات

۱ـ د پلټنې څخه څرګندېږي چې موسی ؏ د طور غره ته وخت په وخت درې ځلې د بني اسرائیلو د مخورو جرګې او نمایندګان بېولې وه(۱). هغه دا چې:

الف: یوه هغه جرګه وه چې د اول ځل دپاره د تورات د راوړلو دپاره بېولې شوې وه چې په [البقرة: ۵۵] آیت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: دوهمه هغه جرګه وه چې دوی د الله ﷻ په حضور کښې د خوسکې د عبادت څخه لا زیات اعتذار وړاندې کړی.

ج: درېمه هغه جرګه وه چې معلومه کړي چې ایا هارون ؏ وژلی شوی دی او که په خپل مرګ مړ شوی دی.

(۱) روح المعاني ج۹ ص۷۳؛ تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۶۱؛ البحر المحیط ج۵ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا قیصه داسې وه چې موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه د عبادت دپاره د طور غره ته تللي وه چې هارون ﷺ هملته وفات او هملته د فن شو نو موسی ﷺ چې خپل قوم ته بېرته ورستون شو او هارون ﷺ ورسره نه وه نو دوی پرې اتهام ولګاوه چې تا وژلی دی.

موسی ﷺ د اتهام د لرې کولو دپاره هلته جرګه بوتله او د هارون ﷺ په قبر باندې يې ودروله چې ای هارونه! ایا ته وژل شوی يې او که وفات شوی يې؟

نو هغه د قبر څخه اواز وکړ چې بلکې زه وفات شوی یم (وژل شوی نه یم)، نو ذکره شوې جرګه زلزلې ونېوله[۱].

## دلته کومه جرګه مطلب ده؟

۲ـ پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې کومه جرګه مطلب ده او جنایت يې څه وه چې زلزلې ونیوله، نو په همدې ارتباط علماوو کرامو ډېر څه لیکلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: څوک چې د جرګې د تکوین سبب د خوسکي د عبادت څخه اعتذار ګني نو دوی وايي چې دغه جرګه د هغه خلکو څخه جوړه شوې وه چې هغوی د خوسکې عبادت نه وه کړی مګر د عبادت کوونکو سره يې علاقه هم نه وه قطعه کړې، او یا په بل عبارت: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وظیفه يې نه وه اجراء کړې، نو الله ﷻ په دوی باندې زلزله مسلطه کړه[۲].

ب: څوک چې په جرګه باندې د هارون ﷺ د قبره د جرګې نوم ږدي، لکه چې لږ وړاندې تېر شو، هغوی وايي چې د دوی جنایت په موسی ﷺ باندې د هارون ﷺ د قتل اتهام لګول وه[۳].

او ځینو نورو يې نور جنایات ښودلي دي[۴].

## تبصره

۳ـ مونږ ته داسې برېښې چې اوله جرګه خو په دې مقام کښې مراده نه ده ځکه چې د هغې په هکله د ﴿ فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ ﴾ [البقرة:۵۵] یعنې: تاسو لره تندر ونیوه، جمله نازله شوې ده، او د دې جرګې په باره کښې د ﴿ فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ ﴾ کلمات نازل شوي دي، یعنې: نو چې کله دوی لره زلزلې ونیوه. او پوره واضحه ده چې "صَاعِقَة" او "رَجْفَة" بیلې‌بیلې کلمې دي نو په کار دي چې بې ضرورته یوه په بلې باندې حمل نه کړې شي.

همدارنګه زمونږ په نزد دوهمه او دریمه هره یوه جرګه صحت لري چې په دې مقام کښې مراده کړې شي مګر په دغو دواړو صورتونو کښې د جرګې جنایت مونږ ته هغه نه برېښې کوم چې علماوو کرامو په ګوته کړی دی او وړاندې ذکر شو بلکې مونږ ته يې په دواړو صورتونو کښې په زلزله باندې

---

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۱۷۲
(۲) التفسير الكبير ج۱۵ ص۱۷
(۳) زاد المسير ج۳ ص۱۸۲
(۴) التفسير الكبير ج۱۵ ص۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جړقولو وجه هغه په نظر راځي کومه چې د ایتونو د وروستني برخې څخه په ډاګه معلومېږي هغه دا چې جرګې په سوال کولو کښې د شرعي معیار څخه تجاوز وکړ، داسې چې: ای ربه! مونږ ته هغه څه راکړې چې نه دې پخوا چاته ورکړي دي او نه به یې وروسته چاته ورکړې[1] د الله ﷻ دغه ډول سوال خوښ نه شو او په زلزله باندې یې ونیوه او بیا یې وفرمایل چې: ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ یعنې زما رحمت هر شي ته رسېدلی دی نو جرګې ته په کار نه وه چې د دغسې پراخه رحمت راټنګول یې وغوښتل. په اصطلاح په یوه کوزه کښې یې د دریاب د بندولو غوښتنه وکړه، زما په بندګانو کښې محمدي ﷺ امت راروان دی چې په هغوی باندې به د بل هرچا څخه زیات رحمت وکړم.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: ایا ذکره شوې جرګه (هره یوه چې وي) په زلزلې سره مړه شوه او که محض د بې خودۍ (بې هوشۍ) ... مخامخه شوه؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو کرامو په نظر دغه جرګه مړه شوې وه او وژل شوې نه وه خو وژلو ته ورنږدې شوې وه[2] مګر اکثره علماء وایي چې دوی وژل شوي وه او په سختې زلزلې سره یې ارواګانې الوتې وې[3].

مونږ همدغه دوهم نظر ته ترجیح ورکوو چې د یو پلوه پرې د ﴿ أَتُهْلِكُنَا ﴾ کلمه دلالت کوي او د بلې خوا که ـبالفرض ـ دوی مړه شوي نه وی نو موسی ؑ به دومره نه وی وارخطا شوی لکه څومره چې د بېرته پاتې خلکو د جواب د غمه وارخطا شوی وه.

مګر غالبه دا ده چې دوی به را ژوندي شوي وي او الله ﷻ به موسی ؑ د قوم د تشویش څخه بې غمه کړی وي، او د ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ جمله هم ژوندي کېدلو ته شامله ښکاري.

## د عربیت یو قانون

۵_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ هِيَ ﴾ ضمیر په ﴿ فِتْنَتُكَ ﴾ کښې د "فِتْنَة" کلمې ته راجع کړی دی چې په ما بعد سره تفسیر شوی دی[4].

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکر شوی ضمیر به هغه هلاکت ته راجع وي په کوم باندې چې د ﴿ أَتُهْلِكُنَا ﴾ جمله دلالت کوي.

## یادونه

۶_ څرنګه چې دا مقام د سوال او غوښتنې وه نو خپل رب ﷻ ته د زاریو او تواضع د کبله موسی ؑ

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۱۸۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۶۲
(۳) روح المعاني ج۹ ص۷۴
(۴) البحر المحیط ج۵ ص۱۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل ځان هم په هلاک کړي شوو کښې شمېر کړ چې: ﴿ أَتُهْلِكُنَا ﴾ ایا ته مونږ هلاکوي؟ او هم یې د خپل ځان دپاره په ﴿ فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَا ﴾ کښې مغفرت او رحم وغوښت.

﴿ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ ﴾

[۱۵۷] (متقیان او مؤمنان) هغه کسان (دي) چې د هغه لېږلي شوي احکام رسوونکي امي (پیغمبر) پېروي کوي چې په خپل نزد باندې یې په تورات او انجیل کښې لیکلی شوی مونده کوي. چې په نېکو کارونو باندې ورته امر کوي او د منکرو (په شریعت کښې د نا اشنا کارونو) څخه یې منعه کوي، او هم دوی (خلکو) ته پاکېزه شیان حلالوي او پلیت شیان ورباندې حراموي او هم د دوی څخه درونډ بار او هغه مشقتونه غورزوي کوم چې (د) دوی (په غاړو) باندې (په پخوانیو ادیانو کښې) پراته وه.

نو هغه کسان چې په ده (ذکر شوي پېغمبر) باندې ایمان راوړي او تعظیم یې وکړي (د توهین څخه یې ځانونه وساتي) او (بالآخره د دین په رسونه کښې یې) کومک وکړي او هم د هغې نور (رڼا) پېروي وکړي چې د ده سره به نازله کړی شوي وي (چې د قرآن کریم څخه عبارت ده)، دغه کسان همدوی فلاح موندونکي دي (د همدوی نجات په برخه دی او تاسو ته په کار دي ـ ای د موسی ﷺ امته!ـ چې ځانونه په همدغه ټولګي کښې شامل کړئ).

## د مطلب خلاصه

په دې آیت شریف کښې د وړاندېنیو ایتونو هغه مضمون تعقیب شوی دی کوم چې الله ﷻ په مناجات کښې موسی ﷺ ته وحې کړی وه چې حاصل یې لاندې لوستلی شئ:

یعنې: ای موسی! ماته د نژدې کېدلو وجه صرف عقیدوي او عملي تقوی ده او د تقوی دارانو یوه بارزه ډله هغه ده کومه چې په لاندې صفاتو باندې د موصوف پیغمبر په عقیده او عمل کښې پېروي کوي:

۱ـ دوی معتقد دي چې دا پیغمبر د الله ﷻ د پلوه راستولی شوی دی او ـالعیاذ باللهـ په الله ﷻ باندې یې دروغ نه دي تړلي چې زه یې راستولی یم.

۲ـ دوی وایي چې دا پیغمبر د الله ﷻ د پلوه مکلف دی چې خلکو ته د ده ﷺ پیغامونه ورسوي که بالفرض په پیغام رسونه کښې سستي وکړي نو د الله ﷻ په نزد به مسؤل وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ دا پیغمبر اُمي دی چې نه يې ليک لوست کړی دی او نه د چا شاګرد شوی دی، مګر په عين حال کښې په غيبي او لدني توګه دومره علوم ورکړی شوي دي چې هېڅوک ورسره په يوه برخه کښې هم سيالي نه شي کولی او ټول پوهان ورته حيران دي.

۴ـ دوی عقيده لري چې د دغه پيغمبر ذکر هم په تورات کښې شته او هم په انجيل کښې، که توراتيان او انجيليان په خپلو کتابونو کښې په انصاف سره نظر وکړي نو د هغه ذکر به پکښې بې تکلفه وګوري او ډېر دقت ته به يې اړتيا پاتې نه شي.

۵ـ دوی وايي چې دا پيغمبر خلکو ته په نېکيو باندې امر کوي او د منکراتو څخه يې منعه کوي او د بدو رواجونو مخه يې نيسي، نه د چا څخه اجرت او شاباسی غواړي او نه په چا باندې احسان باروي.

۶ـ د دې پيغمبر خاصيت دا دی چې پاکيزه شيان خلکو ته حلالوي او دوی ته توصيه کوي چې خپل پاکيزه څاروي په خانونو باندې د بحيرې او سائبې او په نورو نومونو سره مه حراموئ او د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړئ او شکريه يې ادا کړئ.

۷ـ او هم په خلکو باندې ناپاکه او پليت شيان حراموي او توصيه ورته کوي چې مردارې مه خورئ او خپل رزق د ناپاکيزه شيانو څخه مه جوړوئ.

۸ـ د خلکو څخه به په خپل شريعت کښې هغه درانه بارونه (احکام) لرې کړي او په اسانو احکامو باندې به يې ورته بدل کړي کوم چې د هغو اجراء کول خلکو ته لوی بار (پېټی) وي.

او هم به د خلکو څخه هغه اتکړې او غوراب وباسي کومې چې د دوی لاسونه يې د غاړو سره يو ځای کړي وي او د احکامو په اجراء کښې پرې د قيدونو په شکل لګولي شوي وي.

نو هغه کسان چې په ذکرو شوو صفاتوسره په موصوف پيغمبر باندې ايمان راوړي او تعظيم يې وکړي (د توهين څخه يې خانونه وساتي) او بالآخره هم يې نصرت وکړي (د ده پېروی ته دعوت وکړي) او هم د ده د کتاب پېروي وکړي چې د نُور غوندې روښانه دی او په ده باندې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، نو دغه کسان همدوی کامياب او د لوړو رتبو خاوندان دي، چې هېڅوک ورسره سيالي نه شي کولی.

## توضيحات

۱ـ مونږ د [البقرة:۸۹] آيت لاندې په پخوانيو کتابو کښې د نبي کريم ﷺ د ذکر په هکله څه معلومات ليکلي دي چې بيا ليکلو ته اړتيا نه ګورو، خو فقط لاندې معلومات وربادې اضافه کوو:

الف: په پخوانيو کتابونو کښې آخر الزمان پيغمبر ﷺ په عمومي صفاتو سره ذکر شوی وه چې د همدغو صفاتو د جملې څخه د غه اته (۸) صفات هم دي چې په آيت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: په يو لک څليرشت زره ـ زيات يا کموـ پيغمبرانو عليهم‌السلام کښې د محمد ﷺ څخه په غير په يوه پيغمبر باندې هم ذکر شوي اته واړه صفات په مجموعي توګه نه دي صادق شوي او د ده ﷺ څخه په غير يې بل مصداق نه دی موجود شوی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د آخرې زمانې اهل الکتابو ته پکار دي چې په همدغه څرګند دلیل باندې اعتماد وکړي او ایمان ورباندې راوړي، ځکه چې د دوی پیغمبرانو (موسی ﷺ، عیسی ﷺ) په خپلو خپلو وختونو کښې په ده ﷺ باندې ایمان راوړلو ته دعوت چلولی دی.

ج: دغه آیت شریف -چې اوس د بحث لاندې دی- ټول اهل الکتاب په غوږ باندې وهي چې آن د موسی ﷺ په زمانه کښې لا د لوړو مراتبو د موندلو دپاره د آخر الزمان په پیغمبر ﷺ پیروي شرط وه چې په مناجات کښې ورته پرې توصیه شوې وه، نو نن ورځ به ولې شرط نه وي چې دنیا یې په موجودیت باندې مشرفه شوې ده او نه بل پیغمبر شته او نه یې د راتللو احتمال شته.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د پیروۍ دپاره خو د شریعت موجودیت لومړنی شرط دی، نو پوښتنه دا ده چې په پخوانیو امتونو باندې د آخر الزمان پیغمبر پیروي څه معنی لري حال دا چې په هغو وختونو کښې د ده شریعت نه وه نازل شوی؟

مونږ وایو چې: پیروي (یا اتباع) په دوه ډوله ده: یوه عقیدوي ده او بله عملي ده، د عملي پیروۍ دپاره د شریعت موجودیت ضرور دی چې عمل د تفصیلي حکم څخه په غیر صورت نه شي درلودلی، اما د عقیدوي پیروۍ دپاره دا شرط نشته نو لکه څنګه چې مونږ د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام په عقیدوي پیروۍ باندې مکلف یاستو همدارنګه پخواني خلک هم د آخر الزمان پیغمبر ﷺ په عقیدوي پیروۍ باندې مکلف وه.

## د محمد ﷺ په هکله بشارتونه

۳_ که څه هم پخواني کتابونه تحریف شوي دي خو د تحریف سره-سره اوس هم پکښې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ بنه پرېمانه بشارتونه پاتې دي چې ځینو مفسرینو کرامو یې څو مثالونه رانقل کړي دي[1]، که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

## رسول او نبي څه فرق لري؟

۴_ که څه هم د عقائدو کتابونه "رسول" د هغه پیغمبر لقب ګڼي چې اسماني کتاب ولري، او "نبي" عام بولي چې کتاب ولري او که نه[2]، مګر د تفاسیرو کتابونه وایي چې دغه دواړه کلمې صرف په اضافت سره مفهومي فرق پیدا کوي او په مصداق کښې دواړه متحدې دي[3].

نو په دې اعتبار سره چې الله ﷻ ته یې اضافت واخستل شي د رسول په نامه یادېږي ځکه چې الله ﷻ راستولی دی، او په دې اعتبار سره چې خلکو ته یې د اضافت خیال وساتلی شي نو د نبي لقب ورکول کېږي ځکه چې خلکو ته د الله ﷻ د احکامو النباء (خبر) ورکوي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۶۸_۲۷۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۵۱؛ الدر المنثور ج۳ ص۵۷۵_۵۸۲
(۲) شرح العقائد ص
(۳) روح المعاني ج۹ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د دوارو کلمو حاصل داسې کېږي چې: هغو مؤمنانو ته الله ﷻ خپل رحمت ټاکلی دی چې په پیغمبر باندې په دوه حیثه عقیده کوي: یو په دې حیث چې الله ﷻ رالیږلی دی کوم حقائق چې بیانوي هغه د رسالت رڼا ده نه د یو فیلسوف او هوښیار سړي، او بل په دې حیث چې د احکامو رسول د ده فریضه ده او په همدې باندې مکلف دی.

## یادونه

۵_ د ﴿وَٱلۡإِنجِيلِ﴾ او د ﴿ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ﴾ په کلماتو سره موسی ﷺ ته بشارت ورکړی شوی دی چې د عیسی ﷺ انجیل او د محمد ﷺ قرآن کریم هم نازلېدونکی دی، په کار دي چې امت دې ورباندې خبر کړې چې په وخت سره دواړه خپله کړنلاره وګرځوي، هسې نه چې په تورات باندې د نه منسوخ کېدونکي کتاب ګومان وکړي.

## "إِصْر" او "أَغْلَال" څه معنی؟

۶_ "إِصْر" د یو شي غوټه کولو او په غُصه سره بندولو ته وایي[1] او "أَغْلَال" د "غُل" جمعه ده، "غُل" هغه شي ته ویل کېږي چې لاسونه ورباندې د غاړې پورې تړل کېږي[2] چې په پښتو ژبه کښې ورته غوراب وایي.

په دې مقام کښې دواړه کلمې د هغو درنو احکامو څخه کنایه دي چې اجراء کول یې -په اصطلاح- د سړي ملا ماتوي، ته به وایې چې کلکه غوټه ده او نه پرانستله کېږي، او یا د اجراء کولو په غرض د چا لاس نه ورغزېږي او د غاړې پورې نښتی دی. د دغو ثقیلو احکامو څو مثالونه مونږ د [البقرة:۲۸۶] آیت لاندې لیکلي دي بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو د مقام په ارتباط لاندې وضاحت وراضافه کوو:

الف: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ حضور ته یو اعرابي ورغی نو هلته یې خپل اوښ خی کړ او پښه یې ورته وتړله، بیا یې نبي کریم ﷺ پسې د جمعې لمونځ وکړ، بیا نو خپلې اوښې ته ورغی د هغې پښه یې پرانستله او پرې سور شو، بیا یې په لوړ اواز سره غږ وکړ چې: "اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تُشْرِكْ فِي رَحْمَتِنَا أَحَدًا" ای الله! په ما او په محمد ﷺ باندې رحم وکړې او زمونږ په رحمت کښې هیڅوا ته ګډون مه ورکوې. نو نبي کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: «أَتَقُولُونَ هَذَا أَضَلُّ أَمْ بَعِيرُهُ أَلَمْ تَسْمَعُوا مَا قَالَ»[3] ایا تاسو وایاست (وو ایاست) چې دغه (اعرابي) ډېر بې لارې دی او که د ده اوښ، ایا تاسو هغه وانه ورېدل چې ده وویلې؟ یعنې د الله ﷻ پراخه رحمت یې په دوه کسانو پورې حصر کړ ته به وایې چې دریاب په کوزه کښې بندوي.

ب: رښتیا چې نبي کریم ﷺ داسې دین راوړی دی چې د پخوانیو مشکل الاجراء احکامو څخه یې

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۴
(۲) مفردات الراغب ص۳۷۵
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خلکو اوږې سپکې کړې دي، یو ډېر ځرګند مثال یې په وړاندې حدیث کښې ذکر شو، هغه دا چې په کوم سوال باندې چې د موسی ﷺ د امتیانو د مخورو جرګه په زلزلې سره جړقولې شوې وه، چې په [الأعراف:۱۵۵] آیت کښې ورته اشاره شوې ده، عین همغه ډول سوال د نبي کریم ﷺ د امت یوه اعرابي هم وکړ خو نه د زلزلې لاندې واقع شو او نه ورباندې بله بلا نازله شوه. ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ وَلا بِالنَّصْرَانِيَّةِ وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ»[۱] یعني: یقینًا زه نه د یهودیت د لارې سره استولی شوی یم او نه د نصرانیت د لارې سره، مګر زه په سمې (سیده) اسانې لارې سره مبعوث شوی یم.

او بل ډېر بارز او ځرګند مثال یې د [الأعراف:۱۶۶] آیت لاندې ـان شاء اللهـ راروان دي.

ج: که څوک د پخوانیو د مشکلو احکامو څه نور مثالونه د نظره تېروي نو ځینو اوږدو تفاسیرو[۲] ته دې مراجعه وکړي.

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾﴾

[۱۵۸] (ای پیغمبره!) ووایه (اعلان کړه چې:) ای خلکو! یقینًا زه تاسو ټولو ته د هغه الله ﷻ استولی شوی یم چې خاص همده ﷻ لره د اسمانونو او (هم) د ځمکو واکداري ده (په حقه) بل هېڅ معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، همدی ﷻ ژوندي کول کوي او همدی ﷻ مړه کول کوي (هرڅه د همده ﷻ په اختیار کښې دي).

نو (ای خلکو!) په الله ﷻ باندې ایمان راوړئ او د ده ﷻ په هغه استولي شوي (او) احکام رسوونکي (او) امي پیغمبر باندې ایمان راوړئ، چې (پخپله یې هم) په الله ﷻ او د ده ﷻ په کلماتو (کتابونو) باندې ایمان راوړی دی، او د همده ﷺ متابعت (پیروي) وکړئ شاید چې تاسو لاره مونده کړئ (او د ګمراهۍ څخه بچ شئ).

## ارتباط

د وړاندې ایتونو مضمون دا وه چې الله ﷻ موسی ﷺ ته راتلونکی یو معزز پیغمبر په عمومي صفاتو سره ښودلی وه چې دا-دا صفات به ولري، په دې آیت کښې نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ امر کوي چې ټولو خلکو ته اعلان وکړه چې هغه موعود پیغمبر همدا زه یم او ذکر شوي صفات زما څخه په غیر په بل چا نه صادقېږي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۰۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! ټولو خلکو ته اعلان وکړه او ورته ووایه چې زه تاسو ټولو ته (آن د قیامت تر ورځې پورې) په یقیني توګه هغه الله ﷻ را استولی یم چې لاندې صفات لري:

۱_ د ټولو اسمانونو او ځمکو ملکیت همده ﷻ پورې مختص دی، هر حکم چې جاري کوي څوک یې مخنیوی نه شي کولی نو دا د همده ﷻ اختیار دی چې زه یې آخرالزمان پیغمبر وګرځولم او ټولو خلکو ته یې مبعوث کړم او بالآخره ذکر شوی افتخار یې زما په برخه کړ.

۲_ د ده ﷻ څخه په غیر په ځمکو او اسمانونو کښې هیڅوک او هیڅ شی د معبودیت (الوهیت) استحقاق نه لرې او نه د یوشي په خلقت او ملکیت کښې برخه لري.

۳_ ژوندي کول او مړه کول د همده ﷻ په واک کښې دي، نو ځکه زه په ډاګه او واضحه توګه خپله پېغمبري اعلانوم، د هیچا څخه نه ډارېږم، چا چې ما ته ژوند راکړی دی زما مرګ هم د همغه ﷻ په اختیار کښې دی او بس.

ای پیغمبره! زما د پلوه خلکو ته ورسوه چې په الله ﷻ باندې (کما حقه) عقیده وکړئ او په الوهیت کښې ورسره څوک یا شی مه شریکوئ او هم د ده ﷻ په دراستولي شوي پیغمبر باندې ایمان راوړئ چې د احکامو رسونه د هغه په غاړه اچول شوې ده.

او په دې باندې علاوه، هغه نبي پکښې د ورایه ښکاري کومې چې په تورات او انجیل کښې ورته ټاکلی شوي دي، هغه دا چې علمیت یې د ټولو انسانانو څخه زیات دی مګر په عین حال کښې لیک او لوست نه شي کولی او نه یې د چا شاګردي کړې ده.

ذکر شوی پیغمبر تاسو هغه شي ته دعوت کوي په کوم باندې چې پخپله هم معتقد دی، د مثال په ډول:

الف: دغه پیغمبر عقیده لري چې الله ﷻ واحد او لاشریک دی او تاسو ته هم په همدې عقیدې باندې امر کوي.

ب: دغه په خپل ځان باندې باور لري چې په حقه پیغمبر دی او هیڅ شک شبهه ورسره نشته نو تاسو ته هم توصیه کوي چې باور ورباندې وکړئ او په ذهن کښې شک شبهې ته ځای مه ورکوئ.

ج: دغه پیغمبر په پخوانیو ټولو کتابونو او ټولو پیغمبرانو باندې ایمان راوړی دی او تاسو هم همدغې عقیدې ته وربلي.

که بالفرض په خپله یې یو څه کولی او تاسو ته یې په بل څه باندې امر کولی نو تاسو به حق درلودی چې د ده په هدایتونو کښې مو څه شک شبهه کړې وی، اما کله چې تاسو همغه شي ته دعوت کوي چې پخپله پرې معتقد دی نو تاسو د هیڅ شک او شبهې کولو حق نه لرئ.

نو ای خلکو! ښه په اخلاص او جدیت سره یې پېروي وکړئ شاید چې تاسو لاره مونده کړئ. او د ګمراهۍ څخه نجات ترلاسه کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ذکر شوي آیت شریف کښې د اهل الکتابو هغه بهانه رده شوې ده چې ویل به یې که محمد ﷺ پیغمبر وي هم زمونږ دپاره نه دی را استولی شوی بلکې د عربو دپاره دی.

۲ـ مونږ د [الأنعام:۱۹] آیت لاندې د نبي کریم ﷺ د رسالت د عموم په باره کښې د ضرورت په اندازه بحث کړی دی ـ والحمد لله ـ چې بیا بحث کولو ته یې ارتیا نه ګورو.

﴿ وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٢﴾ ﴾

[۱۵۹] او د موسی ﷺ د قوم (بني اسرائیلو) څخه یو ټولګی شته چې (خلکو ته) په حقه لارښوونه کوي (چې محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی) او په همدې (حق) باندې عدل (انصافي حکم) کوي (لکه عبدالله بن سلام او نور).

[۱۶۰] او مونږ دوی (د موسی ﷺ قوم) په دولسو (فرقو سره) جدا-جدا کړه چې (تولې فرقې یې دولس) قومونه (او دولس) امتونه جوړ شوه (او هرې فرقې ته مو د نظم په خاطر یو-یو څارونکی وټاکه).

او مونږ موسی ﷺ ته په هغه وخت کښې وحې وکړه چې د ده څخه خپل قوم (د سینا په بیدیا کښې) د اوبو غوښتنه وکړه (داسې وحې چې) په خپلې همسا باندې ډبره ووهه (ده ډبره ووهله) نو د هغې څخه (د فرقو په تعداد) دولس چینې وبهېدلې. (چې) یقیناً هرې ډلې خلکو خپل اوبه څښل ځای (ګودر) پېژاند (نو ټېل او بې نظمي نه واقع کېدله).

او وربخ مو په دوی (د موسی ﷺ په قوم) باندې سوری جوړ کړ (چې د لمر مخه یې ترې ونیوله) او په دوی باندې مو مَن او سَلوی ورنازل کړه.

Scanned by CamScanner

(او دوی ته مو وویلې چې) دهغو پاکیزه شیانو څخه خورئ (او څښئ) چې الله ﷻ در روزي کړي دي (خو دوی ظلم وکړ) او په مونږ باندې یې ظلم ونه کړ (او نه یې په مونږ ظلم کولی شو) مګر دوی وه چې په خپلو ځانونو باندې یې ظلم وکړ (او دا د دوی عادت وه چې په ځانونو باندې به یې ظلم کاوه).

[۱۶۱] او هغه وخت (هم وریاد کړه) چې دوی (د موسیٰ علیه السلام قوم) ته وویلی شوه چې په دغه کلي (ښار) کښې اوسېږئ او هغه ځه ترې خورئ چې ستاسو خوښ وي (پیاز میاز هم پکښې شته، البته د فتحه کولو څخه وروسته).

او (دا هم ورته وویلی شو چې ښار ته د ننوتلو په وخت کښې) وواياست چې د ګناهونو څخه خلاصون (غواړو)، او د ښار په دروازه باندې سجده کوونکي (عاجزي کوونکي) ورداخل شئ نو مونږ به درته ستاسو خطاګاني در وبښو، ژر دی چې نیکو کارانو ته نور زیادت هم وکړو (نور توفیق هم درکړو او هم نور ښارونه درته فتحه کړو).

[۱۶۲] نو د دوی څخه هغو کسانو چې ظلم یې کړی وه (غوښتل شوي شیان) په داسې وینا تبدیل کړه چې د هغې وینا څخه مغایر وه چې دوی ته ویلی شوي وه (دوی ته پرې توصیه شوې وه).

نو په دوی باندې مو د اسمانه ځکه عذاب ور واستاوه چې دوی وه چې ظلمونه یې کول.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو د ﴿أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ﴾ په مصداق کښې لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: ځینې وايي چې دلته د موسی علیه السلام د زمانې د بني اسرائیلو یوه ډله مراده ده[۱]. یعنې که څه هم په دوی کښې ځینو د خوسکي عبادت وکړ او ځینو په سادګۍ سره په سوال کولو کښې د شرعي چوکاټ څخه تجاوز وکړ چې زلزلې ونیوه، مګر په دوی کښې یوه داسې ډله هم وه چې نه یې د خوسکي عبادت کړی وه او نه د حد څخه په تجاوز باندې مبتلا شوي وه، بلکې دوی د حق پیروي کوله او په هیڅ خبره او هیڅ شي کښې د انصاف څخه نه تېرېده.

ب: ځینې وايي چې کله بني اسرائیلو د خوسکي په عبادت باندې پیل وکړ په دوی کښې یوه ډله د دې کار څخه ډېره خپه او زره بدې شوه، نو الله ﷻ دوی ته یوه سمڅه پیدا کړه، دوی په دغې سمڅه کښې یو نیم کال مزل وکړ آن تر دې چې الله ﷻ د چین څخه هغې خوا یوه ځای ته ورسول چې دوی او د خلکو په منځکښې لوی دریاب دی چې څوک ورسره ملاقات نه شي کولی، دوی د معراج په شپه په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړی دی او څه احکام او څه سورتونه یې ترې زده کړي دي[۲]، والله اعلم بصحته.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د موسی علیه السلام د قوم څخه یو ټولګی شته چې تر اوسه پورې په حق دین باندې روان دي او په دوامداره توګه د انصاف څخه کار اخلي.

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۸۳

(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ج: ځينې وايي چې دلته د نبي کريم ﷺ د زمانې بني اسرائيل مراد دي[1] يعنې: د موسى ﷺ د قوم څخه يو ټولګی شته چې په حقه يې هدايت موندلی دی او د آخر الزمان پيغمبر په هکله يې چې څه معلومات په خپلو کتابونو کښې موندلي دي په هغو باندې په انصاف سره حکم کوي چې محمد ﷺ په حقه موعود پيغمبر دی. د دې ډلې څرګند مثال عبدالله بن سلام او د ده نور امثال دي.

## تبصره

۲_ که څه هم ذکر شوي درېواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري کيدی شي چې درېواړه يې مصداقات وګڼل شي ځکه چې د مصداقاتو تعدد ډېر واقع کېږي، مګر مونږ ته درېم تفسير غوره ښکاري چې د وړاندې آيت شريف سره په ډېره ښه وجه اتصال مونده کوي. يعنې: ای پيغمبره! ټولو خلکو ته د خپل رسالت اعلان وکړه خو د موسى ﷺ د قوم څخه به درباندې خاص يوه منصفه ډله ايمان راوړي او نور به په خپل عناد باندې کلک شي. لکه چې همداسې وشوه.

## يادونه

۳_ څرنګه چې د ذکر شوو ايتونو پوره شرحه او وضاحت د [البقرة:۵۷_۶۰] ايتونو لاندې تېر شوی دی _ولله الحمد_ نو هيله ده چې محترم لوستونکي د زياتو معلوماتو دپاره هملته مراجعه وکړي. هو! که څوک غواړي چې د دې ايتونو او د هغو ايتونو د ځينو کلماتو د بدلون رابدلون نکات ولولي نو ځينې اوږده تفاسير دې وګوري[2]، مونږ فقط لاندې څو معلومات ليکو او بس.

## اسباط څه معنی؟

۴_ د "أَسْبَاط" د کلمې ښه پوره شرحه د [البقرة:۱۳۶] آيت لاندې د الله ﷻ په توفيق تيره شوې ده، خو دلته درباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: موسى ﷺ د الله ﷻ په هدايت د ښه انتظام دپاره خپل قوم د يو پلوه په دولسو فرقو باندې وېشلی وه چې د يعقوب ﷺ دولس زامن وه او د هر زوی اولاده يوه فرقه جوړه شوې وه، او د بلې خوا يې د هرې يوې فرقې دپاره يو مشر ټاکلی وه چې په [المائدة:۱۲] آيت شريف کښې د نقيب (څارونکي) په نامه ياد شوی دی.

ب: لکه څنګه چې په عربو کښې هر يو قوم (د يوه پلار اولاده) د قبيلې په نامه يادېږي، چې جمعه يې قبائل راځي، همدارنګه په بني اسرائيلو کښې د دولسو پلرونو څخه د يوه پلار اولاده د "سِبط" لقب لري چې په اسباط سره جمعه کېږي.

ج: د ﴿ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ﴾ تميز مقدر دی چې مونږ ترې په "فرقة" سره تعبير کوو. او د ﴿أَسۡبَاطًا﴾ کلمه يې د لاندې وجوهو د کبله تميز نه شي واقع کيدلی:

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۲ ص۲۵۶

(۲) التفسير الكبير ج۱۵ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دا عدد ﴿ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ ﴾ مؤنث دی نو په کار دی چې تمیز يې هم مؤنث وي (لکه فرقةً) او ﴿ أَسۡبَاطًا ﴾ خو د سبط جمعه ده او سبط خو مذکر دی.

دوهم: دا عدد خو اوسط عدد دی او د اوسط عدد تمیز خو مفرد منصوب وي، لکه "أحدَ عَشَرَ رَجُلًا"، او ﴿ أَسۡبَاطًا ﴾ خو مجموع منصوب دی.

د: د ﴿ أَسۡبَاطًا ، أُمَمًا ﴾ دواړه کلمې د ذکر شوي عدد څخه هره یوه د بدلیت په اعتبار سره منصوبه ده، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې مونږ د موسی ﷺ قوم په دولسو فرقو سره بلکې په دولسو سبطونو (امتونو) سره جدا-جدا کړ ترڅو چې د بې نظمۍ او ګډوډۍ مخنیوی وکړی شي.

## "بَجَس" څه معنی؟

۴- د ﴿ فَٱنۢبَجَسَتۡ ﴾ کلمه اصلاً د "بَجَس" -لکه "حَجَرَ"- څخه اشتقاقه شوې ده چې مصدر يې "انْبِجَاس" دی. "انْبِجَاس" د هغو اوبو بهېدلو ته وايي کومې چې د یوې تنګې مجری څخه تېرېږي، او "انْفِجَار" د اوبو د بهېدلو نوم دی برابره خبره ده چې مجری يې تنګه وي او که پراخه[1].

نو دلته د مجری تنګوالی په نظر کښې نیولی شوی دی او ﴿ فَٱنۢبَجَسَتۡ ﴾ کلمه نازله شوې ده او د "الْبَقَرَة" په سورت کښې تنګوالي ته التفات نه دی شوی نو د ﴿ فَٱنفَجَرَتۡ ﴾ کلمه نازله شوی دی.

﴿ وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ
حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ شُرَّعًا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم بِمَا
كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا
شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا
ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ
يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾ ﴾

[۱۶۳] او (ای پیغمبره!) د دوی (یهودو) څخه د هغه ښار په باره کښې پوښتنه وکړه چې د دریاب (قلزم) په غاړه پروت وه.

(هغه وخت) چې دوی به د خالي په ورځ کښې (د الله ﷻ د حکم څخه) تېرېدنه کوله. کله به چې دوی ته د دوی (د ازمېښت) ماهیان (کبان) د دوی د خالي په ورځ د پرېمانۍ په حال کښې ورتلل.

(۱) مفردات الراغب ص۳۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په داسې ورځ کښې چې دوی به د خپلې ورځې په تعظیم کښې مشغول نه وه (بله ورځ به وه) نو (د پرېمانې په حال کښې به) نه ورتلل.

همدارنګه مونږ دوی په هغه شي باندې ازمایو چې دوی پرې فسق (نا فرماني) کوي.

[۱۶۴] او هغه وخت هم (وریاد کړه) چې (د واعظانو) یوې ډلې بلې ته وویلې چې: تاسو (په دوامداره توګه) داسې قوم ته ولې وعظ کوئ چې الله ﷻ (ضرور) د دوی هلاکوونکی دی او یا یې په شدید عذاب باندې عذابوونکی دی.

بلې ډلې (ورته په جواب کښې) وویلې چې (د دې کبله وعظ ته ادامه ورکوو چې) خپل رب ﷻ ته اعتذار وړاندې کړو او (بل د دې دپاره چې) شاید دوی پرهیزګاري وکړي.

[۱۶۵] نو هرکله چې دوی (جنایتکارانو) هغه څه هېر کړه (په هغه څه باندې یې عمل ونه کړ) چې دوی ته پرې پند ورکول کېده، (نو) مونږ هغو ټولو کسانو ته نجات ورکړ چې دوی به د بدۍ څخه (هغوی) منعه کول (که څه هم تر آخره خینو منعه نه کړه). او هغه کسان مو په سخت عذاب سره ونیوه چې ظلم یې کاوه (او دا ځکه چې) وه دوی چې (په دوامداره توګه یې) فسق کاوه.

[۱۶۶] (یا په بل عبارت) نو هرکله چې دوی د هغه شی (د پرهېښودلو) څخه سرکشي وکړه چې دوی ترې منعه کړی شوي وه (نو) دوی ته مونږ (په تکویني توګه) وویلې چې ذلیله بېزوګان جوړ شئ (نو سمدستي ټول د بیزوګانو په شکل واوښتل).

## شان نزول

ځرنګه چې یهودانو خپل ځانونه ډېر دینداره او متقیان معرفي کول چې مونږ هیڅکله د الله ﷻ څخه نافرماني او عصیان نه دی کړی (غالبه دا ده چې د دوی به د خپلو ځانونو د تزکیې څخه مطلب دا وه چې زمونږ خبره باید د اعتماد وړ وي او ځانته چې مونږ د پیغمبر په حیث قائل نه یاستو نو باید هیڅوک یې قبول نه کړي او ایمان پرې رانه وړي) نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

## سوال جواب

که څوک وایي چې: تاسو د دې سورت (الأعراف) په سریزه کښې لیکلي دي چې د خینو علماء کرامو په نظر په دې سورت کښې اته ایتونه مدني هم شته چې د ذکرو شوو ایتونو څخه پیل شوي دي؛ نو په دې تقدیر خو د شان نزول په واقعیت کښې څه خفا نشته چې د مدینې منورې یهودانو به ذکره شوې ادعاء نبي کریم ﷺ ته اوړولې وي.

اما که ټول سورت مکي وي لکه چې جمهور علماء کرام پرې قائل دي نو بیا خو ذکر شوی شان نزول زړه ته نه لوېږي ځکه چې په مکه معظمه کښې خو یهودانو موجودیت نه درلوده؟

مونږ وایو چې: که ذکر شوي ایتونه مکي شي هم په شان نزول باندې څه خاص اثر نه شي اچولی او دا ځکه چې په دې تقدیر به یهودانو خپله ادعاء (د ځانونو تزکیه) د یوه وفد په ذریعه او یا د

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۲۰۲؛ المحرر الوجیز ج۷ ص۱۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشرکانو په خوله نبي کريم ﷺ ته رسولې وي او په نتيجه کښې به ذکر شوي ايتونو نازل شوي وي، او نبي کريم ﷺ به هم يا ورغلي وفد (جرګه) د استنطاق لاندې نېولې وي او يا به يې د مشرکانو په خوله يهودانو ته سوال متوجه کړی وي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## د مطلب خلاصه

يعنې: اې پيغمبره! د خپلې زمانې د يهودانو څخه د هغه ښار په باره کښې پوښتنې وکړه کوم چې د درياب په غاړه باندې پروت وه او د اوسېدونکو کاروبار يې په اکثره وختونو کښې د کبانو (ماهيانو) ښکارکول او رانيول وه؛ پوښتنې دا دي:

۱ـ ايا د ذکر شوي ښار اوسيدونکي بني اسرائيل (يهودان) نه وه؟

۲ـ ايا په دوی باندې د خالي په ورځ د ماهيانو (کبانو) رانيول نه وه حرام کړی شوي؟

۳ـ ايا د امتحان او ازمېښت دپاره داسې نه وه واقع شوي چې د خالي په ورځ به په درياب (سيند) کښې ښه پرېمانه ماهيان (کبان) راتله چې د اوبو په سر باندې به ګرځېده او ښکارکولو به يې ډېر په اسانۍ سره صورت نيولی شو، اما د دغې ورځې (خالي) څخه په غير به په عادي حالت باندې وه، ترڅو د ښار د اوسېدونکو ديندارې د ښه کلک امتحان لاندې واقع کړی شي؛ ايا دا خبره رښتيا نه ده؟.

اې پيغمبره! مونږ په ذکر شوي صورت سره هغوی په هغو احکامو باندې د امتحان لاندې ونيوه چې دوي پرې فاسقان جوړ شوه او په امتحان کښې ناکام شوه.

۴ـ دوی ته هغه وخت هم ورپه زړه کړه چې د دوی فاسقان په خپل فسق کښې دومره وړاندې تللي وه حتی چې د دوی ځينې واعظان او ناصحان د وعظ او نصيحت څخه ستومانه شوي وه او داسې يې ګڼلې وه چې په دغو فاسقانو باندې نه وعظ څه اثر کوي او نه د نصيحت د اثر لاندې واقع کېږي؛ رښتيا وواياست چې ايا په تاسو کښې همدغسې فاسقان نه دي تير شوي؟

۵ـ ايا دا خبره رښتيا نه ده چې همدغو (د وعظ څخه ستومانه شوو کسانو) هغو کسانو ته وويلې کوم چې لا د وعظ کولو څخه نه وه ستومانه شوي چې: ايا تاسو لا اوس هم خپل وعظ ته ادامه ورکوئ او ذکرو شوو فاسقانو ته په تمه ياست چې د فسق څخه به لاس واخلي؟ حال دا چې د دوی فسق انتهاء ته رسېدلی دی او نژدې ده چې يا به يې الله ﷻ بالکل پوپنا کړي او يا به ورباندې سخت عذاب ورښکته کړي.

۶ـ بالمقابل، په وعظ باندې بوختو کسانو جواب ورکړ چې: که څه هم زمونږ هم دغو فاسقانو ته تمه نشته چې د فسق څخه به لاس واخلي مګر د يو پلوه خپل رب ﷻ ته اعتذار وړاندې کوو چې مونږ د دوی سره په تعذيب کښې ضميمه نه کړي او مونږ ته د وعظ کولو اجرونه راکړي، او د بله پلوه الله ﷻ ته تمه لرو چې دوی ته هدايت وکړي او پرهېزګاري ورته په نصيب کړي، الله ﷻ په هرڅه باندې قدرت لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ ای پیغمبره! د ذکرو شوو پوښتنو په جواب کښې به ستا د زمانې یهودان د هو څخه په غیر بل څه ونه ویلی شي مګر د خجالت د کبله به ساکت پاتې شي، نو ته زمونږ د پلوه څه نور تفصیل هم ورکړه، هغه دا چې:

الف: نو هرکله چې ذکرو شوو فاسقانو یهودانو هغه احکام د پښو لاندې کړه په کومو باندې چې دوی ته پند او نصیحت ورکول کېده او داسې یې ورته شا کړه تا به ویل چې بالکل یې هېر کړي دي، نو مونږ ټولو واعظانو ته نجات ورکړ اګر که څینو خپل وعظ ته تر آخره پورې ادامه ورنه کړه، مګر په فسق کښې یې ورسره اشتراک نه وه کړی او تر یو وخته پورې یې د فسق څخه منعه کړې وه.

ب: او بالمقابل مو فاسقان او ظالمان د فسق د کبله په سخت عذاب باندې ونیوه، هغه دا چې کله د دوی فسق اوج ته ورسېد او د منهیاتو د پرېښودلو څخه یې تېری او تجاوز وکړ نو دوی ته مو خپل تکویني امر متوجه کړ چې ذلیله بیزوګان جوړ شئ. نو دوی ټول د بېزوګانو په شکل (څېرو) باندې واووښتل او د زړونو خبث (پلیتي یې) په څېرو کښې څرګنده شوه.

۸_ ای پیغمبره! کله چې ته د خپل وخت یهودانو ته ذکره شوې قیصه ټکي په ټکي قرائت کړې نو دوی به بیا ستا په وړاندې د خپل فرمانداری، او تقوی لاپې شاپې ونه کړی شي او دوی به قلبًا قانع شي چې بې شکه ته په حقه پیغمبر یې، که نه نو د دوی پټ اسرار به تا څنګه افشاء کړي وی، دوی خو دغه اسرار د هرچا څخه پټ ساتلي وه مګر د دې سره-سره دوی به ایمان را نه وړي.

## توضیحات

۱_ دا ایتونو هغه قیصه پوره شرحه کوي کومې ته چې په [البقرة:۶۵] آیت کښې په اجمالي توګه اشاره شوې ده.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: دا عجیبه خبره ده چې د یو پلوه الله ﷻ په ﴿ وَسۡـَٔلۡهُمۡ ﴾ کښې نبي کریم ﷺ ته امر کوي چې د یهودانو څخه د "اصحاب السبت" د قیصې پوښتنه وکړه چې درته بیانه یې کړي، او د بل پلوه الله ﷻ په خپله د دغې قیصې ټکو ته اشاره کوي چې هغه داسې-داسې وه؟

مونږ وایو چې: د یوه شي څخه پوښتنه کول د لاندې دوه وو مطالبو دپاره صورت نیسي:

الف: چې سوال کوونکی په نوموړې شي باندې خپل ځان پوه او خپل معلومات پرې حاصل کړي.

ب: چې سوال کوونکی مخاطب پوه کړي چې: زه په دغه شي باندې پوه یم او ته پوه شه چې ماته معلومات شته دي.

په دې مقام کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته په دوهم ډول سوال کولو باندې امر کړی دی ترڅو یهود توبیخ او د خجالت سره مخامخ شي چې د دروغینو ادعاګانو څخه لاس واخلي.

## قریه څه معنی؟

۲_ د "قَرۡيَة" کلمه د "قَرَيۡتُ الۡمَاءَ" څخه اخستله شوې ده، یعنې اوبه مې په حوض کښې راغونډې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي دي، خو په استعمال کښې لاندې دوه معناوې لري[۱]:

الف: هغه ځای چې هلته خلک راجمعه کېږي، لکه کلي او ښارونه.

ب: د خلکو اجتماع، په هر ځای کښې چې صورت ونیسي.

په دې مقام کښې د دواړو معناوو مراعات شوی دی چې د ﴿ كَانَتْ ﴾ په ضمیر کښې لومړنی معنی ته کتلی شوې دي او د ﴿ إِذْ يَعْدُونَ ﴾ په ضمیر او په نورو ضمائرو کښې دوهمه معنی ملحوظه شوې ده.

پاتې شوه دا خبره چې ذکره شوې قیصه په کوم ښار کښې پېښه شوې ده؟. نو د دې جواب دا دی چې که څه هم د ښار په تعین کښې څه خاصه ګټه نشته، د همدې کبله الله ﷻ په آیت شریف کښې نه دی تعین کړی، مګر مفسرینو کرامو پکښې تقریبًا پنځه قوله کړې دي[۲]. خو ظاهره دا ده چې ذکر شوی ښار د شام په شاوخوا کښې د قلزم د بحیرې په غاړه باندې پروت وه[۳].

## "سَبت" څه معنی؟

۳_ د "سَبْت" کلمه اصلاً د قطعي (پرېکولو) په معنی ده، د خالي ورځې ته ځکه دغه نوم "يَوْمُ السَّبْت" اېښودلی شوی دی چې الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو پیدا کول د یکشنبې (اتوار) په ورځ پیل کړي وه او په شپږو ورځو کښې یې د جمعې په ورځ تکمیل کړه او د خالي په ورځ یې ذکر شوی کار (خلقت) قطعه کړ[۴].

۴_ لکه څنګه چې په مونږ (محمدي امت) باندې الله ﷻ فرض کړې ده چې د جمعې په ورځ د لږ وخت دپاره خپل دنیاوي معاملات او راکړه ورکړه پرېږدو او صرف په عبادت باندې مشغول شو، لکه چې فرمایي: ﴿ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ﴾ [الجمعة: ۹] یعنې: کله چې د لمانځه دپاره د جمعې په ورځ اواز (اذان) وکړی شي نو د الله ﷻ ذکرته هځه وکړئ او بیه (معاملات) پرېږدئ.

همدارنګه په یهودو باندې هم الله ﷻ د جُمعې د ټولې ورځې فراغت فرض کړی وه چې دنیاوي معاملات به په کلي توګه پرېږدي.

عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما وایي: دوی د الله ﷻ د شرعي حکم التزام ونه کړ او د بدعت په توګه یې د خالي ورځ د عبادت دپاره فارغه وګڼله او د دغې ورځ التزام یې وکړ[۵] نو ځکه الله ﷻ په ﴿ يَوْمَ سَبْتِهِمْ ﴾ کښې همدوی ته مضافه کړه، ته به وایې چې خالي ورځ یوازې د همدوی ده چې یوازې

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۷
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۱۸۷
(۳) البحر المحیط ج۵ ص۲۰۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۵۷
(۴) مفردات الراغب ص۲۲۶
(۵) الدر المنثور ج۳ ص۵۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدوی یې د بدعت په توګه د تعظیم التزام کړی وه.

د همدې کبله ځینو مفسرینوکرامو[1] د "سَبْت" کلمه په دې مقام کښې په "تعظیم" سره معنی کړې ده، یعنې یهودو ته به د دوی د تعظیم په ورځ کبان دهر ورتله او په کومه ورځ به چې دوی ﴿ لَا يَسْبِتُونَ ﴾ (تعظیم نه کاوه) کبان به نه ورتله.

لنډه دا چې الله ﷻ د دوی د التزام په مطابق په دوی باندې د جمعې د ورځې په عوض د خالي د ورځې تعظیم او د عبادت دپاره فارغول واجب وګرځول[2] او د ماهیانو (کبانو) په ذریعه یې د امتحان لاندې واقع کړه خو په نتیجه کښې د ناکامۍ سره مخامخ شوه او بیزوګان ترې جوړ شوه.

## "حِيتَان" څه صیغه ده؟

۵ـ د "حِيتَان" کلمه د حوت جمعه ده چې په اصل کښې "حِوْتَان" وه، د "و" توری په "ی" باندې بدل شو او "حِيتَان" ترې جوړ شو، لکه څنګه چې "نِينَان" کلمه د "نُون" جمعه ده چې په اصل کښې "نِوْنَان" وه او د بدلون څخه وروسته ترې نینات جوړ شو.

د "حُوت" او "نُون" دواړه کلمې د ترادف په توګه د ماهي (کب) نومونه دي، د همدې کبله یونس ﷺ ته (چې څه وخت یې د ماهي په ګېډه کښې تېر کړی وه) په قرآن کریم کښې "صَاحِبُ الْحُوت" [القلم:۴۸] او هم د "ذَا النُّون" [الأنبياء: ۸۷] دواړه لقبونه ورکړی شوی دي.

## "شَرْع" څه معنی؟

۶ـ د ﴿ شُرَّعًا ﴾ کلمه (چې د "شَارِع" جمعه ده) د "شَرْع" څخه اخستله شوې ده. په همدې هکله د [المائدة:۴۹] آیت لاندې څه تحقیق تېر شوی دی خو په دې مقام کښېورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: ﴿ شُرَّعًا ﴾ یعنې ماهیان (کبان) به دوی ته په قطارونو سره مخامخ ورتلل[3]، تا به ویل چې زانې دي او صفونه یې تړلي دي او یا د لندې غشي دي چې یو بل تعقیبوي.

ب: ﴿ شُرَّعًا ﴾ یعنې ماهیان به دوی ته نږدې ورتلل چې هرچا به په ساحل کښې په اسانۍ سره رانیولی شوه[4]، او په دریاب کښې غټو وهلو ته به څه اړتیا نه وه.

مونږ وایو چې: ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې د خالي په ورځ به ماهیانو هم قطارونه جوړ کړي وه او هم به د دریاب غاړې (ساحل) ته ورنږدې کېده چې هرچا به په اسانۍ سره ښکار کولی شو.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۳۷
(۲) الدر المنثور ج۳ ص۵۸۸؛ تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۸۶
(۳) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۸۶
(۴) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "لا تَأْتِيهِمْ" دوه معناوې

۷_ علماوو کرامو د ﴿لَا تَأْتِيهِمْ﴾ د جملې دپاره په دې مقام کښې لاندې دوه تفسیرونه کړي دي[۱]:
الف: په نورو ورځو کښې به ماهیان بالکل لا درکه شوه او هېڅچا به نه شوه ښکار کولی.
ب: د خالي ورځې څخه په غیر په نورو ورځو کښې به د ماهیانو عادي وضعه وه او فوق العاده حالت به یې نه درلود.
مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره ښکاري چې د ذکرې شوې جملې د اشارې څخه معلومیږي، یعنې په نورو ورځو کښې به په دریاب کښې ماهیانو موجودیت درلود مګر دوی ته به په فوق العاده توګه نه ورتلل.

## ماهیان (کبان) هم د الله ﷻ اطاعت کوي

۸_ ځینو علماوو ګرا ... ر لیکلي دي[۲] چې دا به د ماهیانو عادت ګرځېدلی وه چې د خالي په ورځ به په دریاب کښې په کثرت سره ګرځیدل راګرځېدل او یا به د هغې زمانې د پیغمبر دپاره د معجزې په توګه ذکر شوي کثرت صورت نیوه (د هغې زمانې پیغمبر داود ؑ وه)[۳]. او یا به ماهیانو (کبانو) دا شعور درلوده چې د خالي په ورځ نه ښکار کېږي لکه څنګه چې د مکې معظمې کوترې د حاجیانو څخه نه تښتې چې د ښکار کېدلو څخه بې غمه هلته ګرځي راګرځي[۴].
مګر مونږ ته د ماهیانو د کثرت دپاره لاندې وجوه خیال ته راځي:
الف: ماهیان هم د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی چې هم د الله ﷻ حمد او ثنا وایي او هم د ده ﷻ امر په سر او سترګو عملي کوي، نو څه لرې نه ده چې ماهیان به په ذکرې شوې کړنلارې باندې مکلف کړی شوي وه.
ب: یا به ماهیانو د الله ﷻ په تکویني امر سره په ذکرې شوې کړنلاره باندې عمل کاوه لکه چې وریځې ته تکویني امر کېږي چې په فلانۍ منطقه باندې باران ووروي.
ج: یا به ماهیانو ته د ذکرې شوې کړنلارې الهام کېده، لکه څنګه چې د شاتو مچیو ته د شاتو په جوړولو او په اتفاق باندې الهام کېږي، چې په [النحل:۶۸] آیت کښې ورته اشاره شوې ده.
د: بالآخره دا هم لرې نه ده چې ماهیانو ته به الله ﷻ شعور ورکاوه چې په دغې ورځ کښې ستاسو ښکارکول او رانیول په خلکو باندې حرام کړی شوي دي، لکه چې ټول ساکښان په دې شعور لري چې قیامت به د جمعې په ورځ قائمېږي. نبي کریم ﷺ په یوه اورده حدیث کښې فرمایي چې: «مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ دَابَّةٍ إِلاَّ وَهِيَ تُصْبِحُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مُصِيخَةً حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ»[۵] یعنې: د انسانانو او پېریانو

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۲۰۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۸۶
(۳) روح المعاني ج۹ ص۹۳
(۴) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۸۷
(۵) سنن النسائي ج۱ ص۲۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښځه پرته بل هيڅ ساکښ په ځمکه باندې د جمعې په ورځ په سهار کښې نه داخليږي مګر په داسې حال کښې چې د قيامت قيام ته غوږ نيوونکې وي ترڅو چې لمر راوخيږي.

## نسيان څه معنى؟

۹_ د ﴿ نَسُوا ﴾ کلمه د "نسيان" څخه اخيستله شوې ده، "نسيان" هېرېدلو ته ويل کېږي چې په مقابل کښې يې ذکر استعمالېږي، خو کله-کله د يوه کار نه کول (ترک) هم د کنايې په توګه په "نسيان" سره تعبيرېږي چې په مقابل کښې يې تعميل استعمال مومي. په دې مقام کښې په همدغې دوهمې معنى باندې استعماله شوې ده.

اصحاب السبتو په حيلو او چلونو سره د الله ﷻ حکم ته شا کړې وه چې مفسرينو کرامو يې لاندې چلونه په ګوته کړي دي:

الف: دوى به د خالي په ورځ يو ماهى په حلقه کښې راښند کړ او د اوږده مزي په ذريعه به يې د درياب په غاړه کښې په موړې پورې وتاړه او د يکشنبې (اتوار) په ورځ به يې راونيوه[۱]، داسې به يې ګڼله چې دوى خو د خالي د ورځې احترام کړى دى چې د ماهي رانيول يې نن ورځې ته ټال کړي وه.

ب: دوى به د خالي په ورځ په درياب کښې جالونه واچول او ماهيان به يې پکښې ونښلول خو د يکشنبې په ورځ به يې اچولي شوي جالونه راغونډول او نښتي کبان به يې ښکارکول[۲].

ج: دوى د درياب تر غاړې حوضونه جوړ کړي وه چې کله به د خالي په ورځ د ماهيانو څخه ډک شوه نو د بېرته وتلو لارې به يې وربندې کړې او په نورو ورځو کښې به يې د خپلو خوښې مطابق رانيوه[۳].

د: دوى به د خالي په ورځ ماهيان ښکارکول خو فقط خوړل به يې نه. او ويل به يې چې په مونږ باندې په دغې ورځ کښې د ماهيانو ښکارکول حرام نه دي بلکې خوراک يې راباندې حرام دى[۴]، نو مونږ د خپلې ديندارۍ مراعات کوو او خوراک يې نورو ورځو ته ټالوو.

مونږ ته داسې ښکاري چې مفسرينو کرامو د اصحاب السبت د چلونو او حيلو فقط يو-يو مثال ذکر کړى دى او حصر يې مطلب نه دى، څه لرې نه ده چې هغوى به د هرې ممکنې حيلې څخه کار اخستى وي.

## د حيلې ډولونه

۱۰_ حيله په شريعت کښې لاندې دوه ډولونه لري[۵]:

الف: يوه هغه حيله ده چې نه د واجبې حکم د اسقاط دپاره استعماله شي او نه پرې د ممنوع حکم ممنوعيت د پښو لاندې کړى شي بلکې د مشروعو کارونو د کولو په هکله ترې د ذريعې کار

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۰۶
(۲) تفسير القاسمي ج۷ ص۲۸۶
(۳) المحرر الوجيز ج۷ ص۱۸۷
(۴) تفسير الخازن ج۲ ص۶۵۴
(۵) تفسير القاسمي ج۷ ص۲۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واخستلی شي، لکه چې مظلوم ته پرې د ظالم د لاس څخه نجات ورکړی شي او یا داسې نور.
دا ډول حیله برسېره په دې چې جائزه ده، محموده هم ده او ثواب (اجر) هم پکښې شته.
ب: بله هغه حیله ده چې سړی واجبي حکم ته اسقاط ورکړي او یا د ممنوع حکم ممنوعیت پرې د پښو لاندې کړي، لکه چې اصحاب السبت په ذکرو شوو حیلو سره واجبي حکم ته اسقاط ورکړ او د خالي ورځ یې د عبادت دپاره فارغه ونه ګرځوله چې په دوی باندې واجب وه، او د ماهیانو د ښکار کولو تحریم یې د پښو لاندې کړ چې دوی ته یې جواز نه درلود.

## ایا اصحاب السبت مرتد شوي وه؟

۱۱ـ اصحاب السبت مرتد شوي نه وه، په تورات باندې یې عقیده درلوده او د موسی ﷺ او نورو پیغمبرانو علیهم السلام د نبوت څخه یې هم انکار نه وه کړی، بلکې دوی د الله ﷻ احکامو ته په چل ول سره تاویل ورکړ او په ناجائزه طریقه باندې یې د پښو لاندې کړه[۱].
نو الله ﷻ دوی ته داسې دنیاوي جزا ورکړه چې د دوی عمل سره ډېره ښه مناسبه وه. چې د دوی څېرې یې د بیزوګانو په شکل واړولې حال دا چې حقیقت یې نه وه بدل شوی او په خپل انسانیت باندې باقي پاتې وه، لکه څنګه چې دوی حرامو ته د حلالو جامه وراغوستله خو د حرامو حقیقت یې بدل نه شو کړی او په خپل حرمت سره باقي پاتې وه.

## د محمدي شریعت د اسانۍ یو مثال

۱۲ـ نن ورځ[۲] په افغانستان کښې روزمره بې شماره مسلمانان وژل کېږي او هره یوه ډله خپل مقابل طرف مباح الدم ګڼي او لا وژل یې ثواب بولي او هره یوه ډله خپلې کړنلارې ته په تاویل سره د شرعي کړنلارې لقب ورکوي.
لنډه دا چې د اصحاب السبت څخه د ماهیانو په وژلو سره بیزوګان جوړ شوي وه مګر د دې امت د قاتلانو څخه د انسانانو په ناجائزه وژنه باندې بیزوګان جوړ نه شوه.
که بالفرض هغوی د ماهیانو په عوض انسانان (مسلمانان) وژلي وی نو الله ﷻ پوهېږي چې د کومو څارویو په شکلونو باندې به اړولی شوي وی. خو د دې زمانې د ناجائزه قاتلې ډلې څخه یو کس هم د بیزو په څېره واړولی نه شو. دا د دې امت بهتري ده.

## خلک درې ډلې شوه

۱۳ـ اکثره علماء کرام وایي چې د ماهیانو (کبانو) د ښکارکولو په نسبت د ذکر شوي ښار خلک په لاندې دریوو ګروپونو باندې ووېشلي شوه[۳]:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۸۷
(۲) ۱۳۷۴/۹/۱۵ هـ ش
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: يوې ډلې په جنايت کارۍ باندې پيل وکړ او په حيلو او پلمو سره يې د ماهيانو رانيول ځانونو ته جائز وبلل، د دوی څخه الله ﷻ په ﴿ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ سره تعبير کړی دی، چې په نتيجه کښې په عذاب باندې اخته شوه.

ب: بلې ډلې ذکرې شوې ډلې ته په وعظ او نصيحت باندې پيل وکړ چې د الله ﷻ احکام په حيلو او پلمو سره مه د پښو لاندې کوئ او د جنايت څخه لاس واخلئ، همدې ډلې ته الله ﷻ د ﴿ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ﴾ لقب ورکړی دی چې د نجات خاوندان جوړ شوه.

ج: دريمه ډله هغه خلک وه چې نه د جنايت کارانو سره يو ځای شوه او نه يې د واعظانو سره په وعظ کښې اشتراک وکړ.

## سوال جواب

۱۴ـ که څوک وايې چې د دريمې ډلې حال به څنګه شوی وي؟

مونږ وايو چې:

اول: غالبه دا ده چې دغې ډلې به نجات موندلی وي خو د سکوت د کبله يې د ذکر کولو لياقت هم نه درلود، نو لکه څنګه چې دوی د وعظ څخه ساکت پاتې شوي وه قرآن کريم هم د دوی د نجات څخه سکوت وکړ او په صراحت سره يې د دوی نجات ذکر نه کړ.

دوهم: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) د همدغې ډلې په حال کښې د څه وخته پورې په دې عقيده وه چې دوی هم معذب کړی شوي دي، د همدې کبله زيات غمژن وه چې هغوی په سکوت سره معذب شوه نو مونږ سره به الله ﷻ څه کوي؟ او ويې ويل: «نَحْنُ نَرى أشْيَاءَ نُنْكِرُهَا وَ لَا نَقُوْلُ فِيْهَا»[1] مونږ (نن ورځ) ډېر شيان ګورو (بد يې ګڼو مګر) څه پکښې نه وايو (سکوت کوو). خو بله ورځ عکرمه ﷺ (د ده خدمتګار) قناعت ورکړ چې: تشويش مه کوه دغې ډلې هم نجات موندلی دی ته نه ګورې چې دوی د جنايتکارانو جنايت ته په کرکه کتلي دي او د هلاکو شوو او معذبو شوو کسانو خيال يې ورباندې کړی دی.

دريم: مونږ ته د ايتونو د قرائت څخه د اکثرو علماوو د نظر په خلاف بل نظر ذهن ته راځي. هغه دا چې د ذکر شوي ښار خلک ـ والله ﷻ اعلم ـ په دريو ګروپونو نه وه وېشل شوي چې ترڅو ذکر شوی سوال وارد شي، بلکې هغوی فقط په اولنيو دوارو ګروپونو باندې وېشلی شوي وه مګر په واعظانو کښې ځينو تر آخره پورې وعظ ته دوام ورکړ اوځينې د جنايتکارانو څخه مايوس شوه چې دوی نه اصلاح کېږي، نو زمونږ په نزد په ﴿ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ﴾ کښې هغه ډله هم شامله ده او نجات يې موندلی دی کومه چې اکثره مفسرين کرام ورته د ساکتې ډلې لقب ورکوي او په آيت شريف کښې يې حالت ښه څرګند نه دی.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۵_ که څوک وایي چې: ایا عذاب بئیس (سخت عذاب) او خنزیر جوړېدنه یو عذاب دی؟ مونږ وایو چې ځینې مفسرین کرام[1] وایي چې په اصحاب السبت باندې الله ﷻ یو ځل سخت عذاب ورنازل کړ ترڅو دوی د جنایت څخه لاس واخلي، مګر هغوی ترې لاس وانخست او جنایت ته یې ادامه ورکړه، بیا نو الله ﷻ دوی بیزوګان جوړ کړه.

مګر مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ اعلمـ چې د ﴿ كُونُواْ قِرَدَةً ﴾ جمله د ﴿ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ ﴾ دپاره بیان واقع شوی دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: دوی مونږ په سخت عذاب سره ونیول هغه دا چې په دوی باندې مو په تکویني توګه امر وکړ چې ذلیله بیزوګان جوړ شئ؛ نو سمدستي یې شکلونه بدل شوه او د بیزوګانو په شکلونو سره واوښتل.

## یادونه

۱۵_د ذکرې شوې قیصې په هکله د [البقرة:۶۵] آیت لاندې ځو ګڼېور معلومات لیکلی شوي دي نو هیله ده په هغه مقام باندې یو ځل نظر واچولی شي.

﴿ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ ٱلصَّـٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَـٰهُم بِٱلْحَسَنَـٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُواْ ٱلْكِتَـٰبَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَـٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَـٰقُ ٱلْكِتَـٰبِ أَن لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَـٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ ۞ وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَـٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾ ﴾

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶۷] او هغه وخت هم (وریاد کړه!) چې ستا رب ﷻ (دوی ته) خبر ورکړ چې خامخا هرومرو به په دوی باندې د قیامت د ورځې پورې هغه څوک مسلطوم چې دوی ته به سخت عذاب رسوي. یقیناً ستا رب ﷻ چالاک عذابي دی او یقیناً همدی ﷻ خامخا بښونکی (او) مهربان دی. (د تاریخ په اوږدو کښې).

[۱۶۸] او دوی (یهود) مونږ په ځمکه کښې ډلې-ډلې خواره (واره) کړه، چې د دوی ځینې صالحان دي او ځینې یې د دغو څخه غیر دي (چې بالکل کافران دي او یا مسلمانان دي خو صالحان نه دي). او مونږ دوی په خوشالیو او مشقتونو سره امتحان کړه شاید چې دوی (الله ﷻ ته) رجوع وکړي.

[۱۶۹] نو د دوی څخه وروسته بدو خلیفګانو (اولادونو) خلافت وکړ (او د دوی په ځای ودرېده) چې د کتاب (تورات) وارثان (هم) شوه. (همدوی ته د پلرونو څخه پاتې شو خو) دوی (د همدغه کتاب په تحریف او عدم تطبیق باندې) دغه آدنی (حقیر یا نژدې) سامان اخلي او وایي: ژر دی چې مونږ ته به (د رشوت اخستل) وبښلی شي (پرې وبه نه نیولی شو).

او (دوی رشوت خوري ته ادامه ورکوي نو) که دوی ته د اخستلي شوي سامان مثل ورسي (لاس بې پرې بر شي) نو هغه هم اخلي (او دریغ ترې نه کوي). ایا په دوی باندې (د دوی څخه) د کتاب (تورات) کلک عهد نه وه اخستی شوی چې په الله ﷻ باندې به نه وایي مګر حق (او دروغ به ورپورې نه تړي) او (ایا) دوی هغه څه نه لولي چې په دې کتاب کښې ثبت دي؟

او وروستنی کور د هغو کسانو دپاره (د دنیاوي کور څخه) بهتر دی چې دوی پرهېزګاري کوي، ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟

[۱۷۰] او هغه کسان چې خپل کتاب کلک نیسي او لمونځونه ودروي (نو دوی ته به مونږ پوره اجرونه ورکړو ځکه چې) یقیناً مونږ د مصلحانو (نېکانو) اجرونه نه ضائع کوو.

[۱۷۱] او هغه وخت هم (وریاد کړه) چې مونږ د دوی (یهودانو) د پاسه غر داسې اوچت (پورته) کړ لکه چې هغه سیوری (چترۍ) وي، او دوی ګومان وکړ چې یقیناً دا (غر) وربانديې ور پرېوتونکی دی. (مونږ دوی په همدغه حال کښې مخاطب کړه چې) هغه (کتاب) په قوت سره واخلئ چې مونږ تاسو ته درکړی دی (درنازل کړی دی) او هغه احکام (په عمل سره) یاد کړئ چې پکښې (ثبت) دي شاید چې تاسو پرهېزګاران جوړ شئ.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د یهودانو د خپلو ځانونو تزکیه رد کړی شوې ده. دوی به ویلې چې: "نَحْنُ شَعْبُ اللهِ الْمُخْتَار" مونږ د الله ﷻ غوره او مختار خلک یاستو چې نه مو ترې چندان نافرماني کړې ده او نه الله ﷻ په ګناه باندې مونږ ته مجازات راکوي بلکې مونږ چې هره ګناه وکړو هغه راته سمدستي ببښي مغفرت راته کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! د خپل وخت یهودان لاندې موادو ته متوجه کړه ترڅو د عوامو د غولونې دپاره خپل ځانونه تزکیه نه کړي چې مونږ ډېر غوره خلک یاستو او جنت مونږ ته جوړ کړی شوی دی. مواد دا دي:

۱_ دوی ته هغه وخت وریه زړه کړه چې ستا رب ﷻ دوی ته خپله فیصله اعلانه کړه چې د قیامت د ورځې پورې به دوی ښه ورځ ونه ګوري او وخت په وخت به پرې داسې خلک مسلطېږي چې دوی ته به سخت‑سخت عذابونه رسوي او حکومت به ورباندې کوي.

دا فیصله ورته ځکه ستا رب ﷻ اعلانه کړې وه چې دوی جنایتکاران وه او ستا رب ﷻ ورته په دنیا کښې د جنایتونو سزا ورکړه، د ده ﷻ سزا ورکول خو په تېزۍ سره عملي کېږي او هېڅوک ورته نه ټال ورکولی شي او نه یې مخنیوی کولی شي.

ای پیغمبره! ستا رب ﷻ لکه څنګه چې د ګناه ښښونکی دی همدارنګه مهربان هم دی. که ستا د زمانې یهودان د خپلو پخوانیو کړنلاره تعقیب نه کړي او په تا باندې په درستو معناوو کښې ایمان راوړي نو د ذکر شوي ذلت څخه به نجات مونده کړي، او که نه نو په دوی باندې به همدا ته مسلط شي چې څوک به ووژنې او څوک به د مدینې منورې څخه وشړي.

۲_ دا هم وریاد کړه چې د جنایتونو په سبب باندې مو دوی په ټوله ځمکه کښې خواره واره او ټوټې‑ټوټې جوړ کړي دي چې په دنیا کښې تیت پرک پراته دي او په هر ځای کښې د کمزورۍ او ذلت په حالت کښې وخت تېروي، آن تر دې چې د دوی درې ډلې (بني قینقاع، بني قریظه، او بني نضیر) په مدینه منوره کښې استوګن شوي دي.

هو! د الله ﷻ په نزد د هیڅا نیکۍ او ښېګڼې نه ضائع کېږي نو د تاریخ په اوږدو کښې چې د دوی څه نېکان خلک تېر شوي دي، چې یا یې د موسی ﷺ په دین باندې د شریعت سره موافقه عقیده درلوده او نېک عملونه یې کړي دي او یا نن ورځ په تا باندې د پیغمبر په صفت عقیده کوي او نیک عمل ورسره ملګری کوي، دوی د الله ﷻ په نزد مهان او سپک نه دي.

په اجتماعي توهیناتو کښې چې دوی ته څه ذلت رسېدلی دی هغه به هم الله ﷻ بې اجره پرېنږدي، همدارنګه د صالحانو څخه په غیر نورو یهودانو ته به الله ﷻ د خپلو کړو وړو سزا ورکړي، برابره خبره ده چې بالکل ایمان نه لري او ناصالح وي او یا ایمان لري خو د نېک عمل پانګه یې نه وي برابره کړې.

۳_ هسې نه چې په یهودانو باندې مونږ د جنایتونو د کولو سره سم یا ذلت ورنازل کړی دی او یا مو سمدلاسه د نورو د تسلط لاندې واقع کړي دي.

نو لکه څنګه چې مونږ دوی په سختیو او مشکلاتو سره د امتحان لاندې واقع کړي دي همدارنګه مو د امتحان دپاره په دوی باندې خوشالي او د نعمتونو پراخي هم ورروستولي دي چې ترڅو دوی یا د خوبنې او یا د نا خوبنۍ د اغېز لاندې راشي او خپل رب ﷻ ته راجع شي. مګر په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اکثرو باندې یوه حالت هم اثر نه دی کړی.

۴ـ په یهودانو کښې داسې پېښه نه شوه چې یوه طبقه خلک یې تېر شوي وي او د هغوی په ځای باندې صالح اولادونو خلافت کړی وي، بلکې د دوی هر یو راتلونکی نسل به د تېر شوي نسل څخه په بد اخلاقۍ او بې دینۍ کښې بدتر وه، حال دا چې همغه مقدس کتاب (تورات) چې د دوی د هدایت دپاره موسی ﷺ ته ورکړی شوی وه، هرې یوې طبقې ته په وراثت پسې پاتې کېده ترڅو د هغه په رڼا کښې دوی خپل دنیا او آخرت برابر کړي.

مګر د یهودانو په پرله پسې نسلونو کښې د یو وخته را په دېخوا لاندې بې دینیو هم رواج موندلی دی:

الف: د حاکمانو څخه پیسې اخلي او خپل کتاب ته تحریف ورکوي، لکه چې د آخر الزمان پیغمبر نبي او علامات یې د حقیرې دنیا په مقابل کښې تحریفې کړې دي.

ب: همدارنګه دنیاوي حقیره متاع اخلي او د فیصلې په وخت کښې عدل د پښو لاندې کوي د همغه چا په ګټه حکم کوي چې دوی ته رشوت ورکړي، دې ته نه ګوري چې هغه په حقه دی او که په باطله باندې روان دی.

ج: که بالفرض دوی ته وویلی شي چې کتاب ته تحریف مه ورکوئ او د عدل مراعات وکړئ، د الله ﷻ څخه وډار شئ او د دنیاوي او اخروي عذاب څخه ځانونه بچ کړئ، نو د دوی جواب دا دی چې مونږ په ګناه باندې نه نیولي کېږو او د هر ژر به مونږ ته مغفرت وکړی شي، زمونږ دپاره جنت جوړ کړی شوی دی او دوزخ د نورو خلکو دپاره دی او بس. د همدې کبله دوی په خپلو ګناهونو باندې نه پښیمانه کېږي او د حرص د کبله نه په دنیاوي متاع باندې مړېږي او نه د رشوت اخستلو څخه ستومانه کېږي نو که دوی په متکرر ډول سره په رشوت باندې بریالي شي هم صرفه ورباندې نه کوي او خپلې ګېډې پرې ډکوي، نو د رشوت اخستل یوه ګناه ده او همدغه کار ته ادامه ورکول بله ګناه ده.

۵ـ نو ای پیغمبره! دلته دوه پوښتنې پیدا کېږي: یوه دا چې ایا د یهودانو څخه په تورات کښې کلک عهد نه وه اخستی شوی چې په الله ﷻ باندې به دروغ نه تړي؟ بله دا چې ایا دوی خپل کتاب نه لوسته چې احکام یې ورته معلوم وی او خپل عهد وخت په وخت ورپه یادېدلی.

د دغو دواړو پوښتنو جواب منفي دی چې هم ترې ذکر شوی عهد اخستی شوی وه خو دوی په الله ﷻ باندې دروغ وتړل چې مونږ ته د ګناهونو مغفرت کوي، او هم ورته د خپل کتاب احکام معلوم وه خو د رشوت په خاطر یې د پښو لاندې کول، دوی خو خپل کتاب وخت په وخت لوست.

۶ـ ای پیغمبره! یهودان مخاطب کړه چې د آخرت کور خو ډېر غوره کور دی، تاسو ته په کار دي چې د دنیاوي کور د جوړولو دپاره د آخرت کور رنګ نه کړئ، افسوس چې هغه د متقیانو دپاره دی او تاسو تقوی نه لرئ، ایا تاسو دومره بې عقلان یاست چې د دواړو کورونو مقایسه نشئ کولی؟

۷ـ د تقوی معیار دا دی چې څوک په خپل کتاب باندې منګولې خښې کړي او عمل پرې وکړي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بالآخره د لمانځه زيات اهتمام وکړي چې د منکراتو مخه نيسي نو هغه کسان چې ذکره شوې کړنلاره غوره کړي هغوی ته به مونږ پوره اجرونه ورکړو. او دا ځکه چې مونږ د مصلحانو (اصلاح کوونکو) مزدوري نه ضائع کوو.

۸ـ بالآخره، ای پیغمبره! يهودانو ته هغه وخت هم ور په ياد کړه چې مونږ د دوی په سرونو باندې د عهد ماتونې د کبله يو غر وريوته کړ چې د چترۍ (سائبان) په شکل يې ورباندې سيوری جوړ کړ او دوی ګومان وکړ که خپل عهد بيا تازه نه کړي نو دا غر ورباندې ورپرېوتونکی دی.

په عين حال کښې مونږ دوی ته امر وکړ چې زمونږ ورکړی شوي احکام په قوت سره واخلئ او په عملي توګه يې ياد کړئ (په عمل کښې يې پياده کړئ)، شايد چې تاسو پرهېزګاران جوړ شئ او د آخرت د کور (جنت) د ورکړې جوګه شئ.

نو بالفرض که يهودان د خپلو ځانونو په تزکيه کښې رښتيني وي نو نه به دوی خپل عهدونه مات کړی وی، نه به په دوی باندې غر د چترۍ په شکل ودرولی شوی وی او نه به يې د عهدونو بيا تازه کولو ته اړتيا وی.

مګر د عهد د تجديد (تازه کولو) سره-سره دوی هم خپل عهدونه مات کړه او هم يې په الله ﷻ باندې دروغ وتړل چې مونږ ته الله ﷻ ضرور مغفرت کوي.

## توضيحات

۱ـ په يهودانو باندې د ذلت د اېښودلو بحث د [البقرة:۶۱] آيت د او د [آل عمران:۱۱۲] آيت لاندې تېر شوی دی، خو په دې مقام کښې د ذلت د اېښودلو اصلي بنسټ ته هم اشاره شوې ده چې په څمکه کښې دوی تيت پرک کړی شوي دي او په ټوله دنيا کښې د استقلال په توګه سياسي موجوديت نه لري، لکه چې په دې زمانه کښې يې د امريکايانو (عيسويانو) په اوږو لاس اېښی دی.

## خَلف او خَلَف څه فرق لري؟

۲ـ دواړه کلمې (خَلْف او خَلَف) ـلکه "ضَرْب" او "طَلَب"ـ يوه د بلې په ځای کښې استعمالېږي، مګر مشهوره دا ده چې اوله د بد خليفه په معنی ده او دوهمه د نېک خليفه معنی ورکوي[۱].

همدارنګه يوه کس ته هم خَلف يا خَلَف ويلی شي او په قرن (کوم يو قوم چې په يوه زمانه کښې ژوند کوي) باندې يې هم اطلاق کېږي[۲].

په دې مقام کښې همدغه د جمعي معنی مراده ده، د همدې کبله ورته په ﴿ وَرِثُوا ، يَأْخُذُونَ ﴾ او نورو کلماتو کښې د جمعي ضمائر راجع کړی شوي دي.

نو څرنګه چې د يهودو خليفه ګان (اولاده) ناکاره او شريره اولاده وه چې په بدۍ کښې د خپلو

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۱۱

(۲) لسان العرب ج۹ ص۸۴؛ تفسير البغوي ج۲ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلرونو څخه وراندې وه او د کفن کش متلورباندې صادق وه نو ځکه الله ﷻ په دې مقام کښې د دوی د زوزات څخه په "خَلْف" ـ لکه "ضَرْب" ـ سره تعبير وکړ.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: مونږ (محمدي ﷺ امت أهل السنة و الجماعة) هم کله چې په ګناه کښې واقع شو د الله ﷻ څخه د مغفرت تمه لرو او په ذکر شوي آيت شريف کښې عين عقيده الله ﷻ د يهودو څخه حکايت کړه چې ﴿ سَيُغْفَرُ لَنَا ﴾؛ نو پوښتنه دا ده چې مونږ او د هغوی په دغې خاصه عقيده کښې څه فرق دی چې عين عقيده زمونږ د محاسنو څخه شمېرله کېږي او د هغوی په قبائحو کښې وشمېرله شوه؟

مونږ وايو چې: د همدغې پوښتنې جواب مونږ د الله ﷻ په توفيق د [آل عمران:۲۴] آيت لاندې ليکلی دی هيله ده چې هلته وکتلی شي، اما په دې مقام کښې پرې لاندې وضاحت وراضافه کوو چې هوښيار سړی او ساده سړی پکښې ښه شرحه شوي دي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا ثُمَّ تَمَنَّى عَلَى اللهِ»[۱] هوښيار سړی هغه څوک دی چې د خپل ځان سره محاسبه وکړي او د مرګ څخه د وروسته وخت دپاره عمل وکړي، او ساده (د عقل څخه کمزوری) سړی هغه څوک دی چې خپل ځان د نفسي خواهشاتو پېرو جوړ کړي او بيا په الله ﷻ باندې هيله کوي. يعنې دا سړی ځکه ساده دی چې د الله ﷻ مغفرت خو يقيني دی مګر د ده مغفوريت په شک کښې دی، بايد چې څوک پرې ونه غولېږي او د ګناه کولو د جرئت سبب يې جوړ نه کړي.

ب: عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويلي دي چې: «إِنَّمَا يَخِفُّ الْحِسَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى مَنْ حَاسَبَ نَفْسَهُ فِي الدُّنْيَا»[۲] يعنې: يقينًا د قيامت په ورځ به حساب په هغه چا باندې اسان (خفيف) وي چې د خپل ځان سره يې په دنيا کښې محاسبه کړې وي.

ج: ميمون بن مهران رحمه الله وايي چې: «لَا يَكُونُ الْعَبْدُ تَقِيًّا حَتَّى يُحَاسِبَ نَفْسَهُ كَمَا يُحَاسِبُ شَرِيكَهُ مِنْ أَيْنَ مَطْعَمُهُ وَمَلْبَسُهُ»[۳] يعنې: ترهغه پورې به بنيادم متقي جوړ نه شي ترڅو چې د خپله ځانه سره داسې محاسبه وکړي لکه د خپل شريک سره چې محاسبه کوي چې خوراک دې د کومه کړی دی او پوښاک دې د کومه کړی دی (د حرامو څخه دی او که د حلالو څخه). او داسې نور.

## يادونه

۴ـ په دې مقام کښې چې د غره د پورته کولو کومې قيصې ته اشاره شوې ده همدغه قيصه په

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



[البقرة:٦٣] آيت کښې تېره شوې ده او ضروري توضيحات يې هملته ذکر شوي دي ـ والحمدلله ـ
مګر د دواړو ايتونو د مقايسې څخه لاندې وضاحتونه نور هم څرګندېږي:
الف: هلته د ﴿ نَتَقْنَا ﴾ په عوض د ﴿ رَفَعْنَا ﴾ کلمه نازله شوې ده نو معلومه شوه چې د ﴿ نَتَقْنَا ﴾
معنی هم د "رَفَعْنَا" د کلمې غوندې ده. يعنې: هغه وخت ورپه ياد کړه چې غر مو د هغوی په سرونو
باندې ورپورته کړ.
ب: دلته د ﴿ ٱلْجَبَلَ ﴾ کلمه نازله شوې ده چې په هر يوه غره باندې يې اطلاق کېږي مګر هلته
پورته کړی شوی غر د "الطُّور" په نامه ياد شوی وه.
ج: هلته واضحه کړی شوې وه چې د "الطُّور" کلمه دلته د فلسطين د غرونو څخه د يوه غره څخه
عبارت ده.

﴿ وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ
بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ ۛ شَهِدْنَآ ۛ أَن تَقُولُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَـٰذَا غَـٰفِلِينَ ﴿١٧٢﴾
أَوْ تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أَشْرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنۢ بَعْدِهِمْ ۖ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ
ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿١٧٣﴾ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٧٤﴾ ﴾

[۱۷۲] او (ای پيغمبره!) هغه وخت هم (خلکو ته ورپه ياد کړه) چې ستا رب ﷻ د ادم ﷺ د
اولادې، د دوی د شاګانو څخه د دوی زوزات واخيست او په خپلو ځانونو باندې يې شاهدان کړه
(داسې چې:) ايا زه ستاسو رب (پالونکی) نه يم؟ (ټولو په يوه خوله) وبې ويلې: ولې نه (ته زمونږ رب
يې) مونږ (په همدې) شهادت ورکوو (اقرار کوو. ستا رب ﷻ ځکه دا کار وکړ) چې تاسو به (ای
بنيادمانو!) د قيامت په ورځ ووايئ چې يقيناً مونږ د دغه (توحيد) څخه نا خبره وو.
[۱۷۳] او يا به ووايئ چې يقيناً زمونږ څخه وړاندې زمونږ پلرونو شرک کړی وه او مونږ د دوی
څخه وروسته د همدوی اولاده (پېروان) وو (او د دوی تقليد مو وکړ).
(ای زمونږ ربه!) آيا نو ته مونږ په هغه کار باندې هلاکوې (دوزخ ته مو اچوې) چې (زمونږ څخه لا
وړاندې) مبطلانو (بدکارانو او بې لارې) خلکو کړی وه (او ډېره يې ابېنې وه؟ ای زمونږ ربه! مونږ په
غفلت او تقليد باندې مه نيسه)
[۱۷۴] (ای پيغمبره!) او مونږ (د خپل توحيد) دلائل په دغه ډول سره واضحه بيانوو شايد چې
دوی (فطري عقيدې ته) رجوع وکړي.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د يهودانو د هغه عهد ماتونې ته اشاره کړې وه کوم چې ترې د

Scanned by CamScanner

تورات په قبول باندې اخستل شوی وه او بیا د غره د سورې لاندې تجدید شو. په دې ایتونو کښې یوه عام عهد ته اشاره شوې ده چې یوازې د یهودو څخه نه بلکې د ټولو بنیادمانو څخه په عالم الذر کښې اخستله شوې ده. چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! یوازې یهودو ته نه بلکې ټولو انسانانو ته هغه وخت ورپه یاد کړه چې ستا رب ﷻ د ادم ﷺ څخه د ده اولاده او بیا د ده د اولادې د شاګانو څخه په تدریج سره د دوی اولاده (نسل) رابهر (بېرون) کړ او د فهم او ادراک څه دومره برخه یې ورکړه چې دوی وکولی شو چې د الله ﷻ پوښتنې ته مناسب جواب ورکړي او په خپل جواب باندې یې شاهدان جوړ کړه.

پوښتنه دا ده: ایا زه ستاسو رب (پالونکی) نه یم؟

په جواب کښې ټولو بنیادمانو وویلې چې ولې نه (ته زمونږ رب او پالونکی یې) اومونږ په همدې خبره باندې شهادت ورکوو.

الله ﷻ په دغه وخت کښې د ذکر شوي شهادت څخه وروسته ټول بنیادمان مخاطب کړه چې دا کار مو ځکه وکړ که بالفرض دا کار مو نه وی کړی نو:

الف: د قیامت په ورځ به تاسو د اعتذار په توګه ویلی چې مونږ د توحید د عقیدې څخه ناخبره وو، مونږ پوه نه وو چې ته زمونږ رب او پالونکی یې، که مونږ خبر وی نو مونږ به بالکل کفر نه وی اختیار کړی.

ب: او یا به وایئ چې: کفر او شرک خو زمونږ پلرونو کړی وه او مونږ د هغوی د زوزات او اولادې په توګه د هغوی پیروي وکړه او د هغوی په کفري لاره باندې لاړو، ای زمونږ ربه! ایا ته مونږ په هلاکت کښې اچوې او دوزخ ته مو د مبطلانو د کړنلارې د کبله داخله وې؟

۲ـ ای بنیادمانو! کله چې مونږ ستاسو د هر یوه څخه د استقلال په توګه په خپل ربوبیت باندې عهد واخست نو تاسو د قیامت په ورځ د ذکرو شوو دواړو اعتذارونو څخه یو اعتذار هم نه شئ وړاندې کولی. او دا ځکه کله چې تاسو نن ورځ اقرار او شهادت ورکړ نو معلومه شوه چې د توحید څخه غافل نه یاست بلکې توحید ستاسو فطري عقیده ده.

همدارنګه ستاسو څخه مو په داسې وخت کښې اقرار واخست چې ستاسو پلرونو هم ستاسو د وړاندې همدا ستاسو غوندې اقرار وکړ چې: یوازې الله ﷻ زمونږ رب او پالونکی دی.

نو که تاسو د خپلو پلرونو رښتیانی پیروي کوئ نو د همدغه اقرار پیروي یې وکړئ چې همدا یې حقیقي او واقعي اقرار دی، د انحرافي او شیطاني اقرار پیروي یې مه کوئ.

۳ـ ای پیغمبره! وګوره مونږ خپل د توحید دلائل څومره په تفصیل او مستنده توګه خلکو ته بیانوو ترڅو دوی الله ﷻ ته رجوع وکړي او د کفري لارو څخه لاس واخلي. خو د دې سره سره کافرانو په کفري عقائدو منګولې خښې کړي او کلک ورپورې نښتې دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ ټول معتزله او ځینې علماء کرام د ذکرو شوو ایتونو حاصل داسې اخلي[۱] چې: الله ﷻ انسانان پیدا کړي او حواس او عقلونه یې ورکړي دي، په دې باندې علاوه پیغمبران علیهم السلام یې وخت په وخت وراستولي او کتابونه یې ورنازل کړي دي، او بالآخره په خپل وحدانیت باندې یې ټول مخلوقات د دلائلو په حیث ورته درولي دي چې که هرڅوک په انصاف سره نظر او فکر وکړي نو ضرور به د الله ﷻ په ربوبیت اقرار وکړي او د شرک څخه به اجتناب وکړي.

په ذکر شوو آیتونو کښې همدغه حال داسې ګڼلی شوی دی لکه چې الله ﷻ هرچا ته سوال متوجه کړی وی چې ایا زه ستا رب نه یم. او د حال په ژبه سره هر یوه جواب ورکړی وی چې: ولې نه، ته زما رب یې او زه دې بنده یم.

د ذکر شوي تفسیر خوښوونکو د خپل تفسیر د تائید دپاره زښت ډېر دلائل لیکلي دي چې اکثره په عقل باندې اتکاء لري، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲] مونږ ځکه دلته رانقل نه کړه چې د اوږدوالي څخه په غیر پکښې راته څه ګټه ښکاره نه شوه.

لنډه دا چې ذکر شوي مفسرین دا ایتونه د یوې قیصې بیان نه ګڼي بلکې محض یو تمثیل یې بولي، یعنې الله ﷻ خپل وحدانیت په دلائلو سره دومره واضحه کړی دی چې هرڅوک ورباندې د حال په ژبه ناطق دي. او دغه ډول کامل وضاحت ته کله-کله د قول او وینا لقب ورکول کېږي، لکه عرب وایي چې: "قَالَ الْجِدَارُ لِلْوَتَدِ لِمَ تَشُقُّنِي قَالَ سَلْ مَنْ يَدُقُّنِي"[۳] دیوال موږې مخاطب کړ چې ته مې ولې څیروې (سوری کوې) موږي ورته وویلې چې دا پوښتنه د هغه چا څخه وکړه چې ما ټکوهي.

دوی وایي چې په ﴿ وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ ﴾ کښې د ﴿ أَخَذَ ﴾ کلمه (چې ماضي ده) په معنی "يَأْخُذُ" سره ده (چې مضارع ده)، ځکه چې په قرآن کریم کښې کله-کله د هغه شي څخه چې واقع کیدل یې یقیني وي په ماضي باندې تعبیر کېږي، ځکه چې دا متحقق الوقوع ده نو داسې وګڼل شو لکه چې ذکر شوي عهدونه واقع شوي وي.

### تبصره

۲_ مونږ ته د ایتونو د معنی حاصل په ذکر شوي ډول سره د تفسیر په حیث د قبول وړ نه ښکاري او زړه ته مو نه لوېږي، که نه نو دا معنی خو په خپل ذات کښې ډېره احسنه معنی ده او په قبول کښې یې هېڅ اشکال نه ګورو. هو! که د ایتونو د اشاراتو څخه وګڼله شي نو بیا یې هم په رد باندې رضائیت نه لرو.

مګر جمهور علماء کرام او مفسرین کرام وایي[۴] چې په ذکرو شوو ایتونو کښې هغې قیصې ته

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۱۷۷؛ تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۹۳

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۵۰؛ تفسیر المنار ج۹ ص۴۰۲

(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۸۲

(۴) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۴۶؛ روح المعاني ج۹ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشاره ده کومه چې پخوا تېره شوې ده، هغه دا چې الله ﷻ د ادم ﷺ ټوله اولاده آن د قیامت د ورځې پورې د ده د شا څخه د سرو مېږتنو په ډول رابهر کړه او ټولو ته یې دومره عقلونه ورکړه چې هغوی ورباندې د سوال جواب صلاحیت درلودلی شو، او بیا یې ورته ذکره شوې پوښتنه راجع کړه چې ایا زه ستاسو رب یم؟ ټولو جواب ورکړ چې ولې نه، ته زمونږ رب یې او مونږ هر یو هم په خپل خان او هم یو په بل باندې شهادت ورکوو او په همدغې خبرې باندې اقرار کوونکي یاستو.

## همدا غوره تفسیر دی

۳_ همدغه تفسیر چې الله ﷻ ذکره شوې پوښتنه د ادم ﷺ اولادې ته په مجموعه توګه راجع کړې وه او هغوی په لسان قال (د قال په ژبه) سره نه په لسان حال (د حال په ژبه) سره جواب ورکړی دی د لاندې وجوهو د کبله غوره تفسیر دی[۱]:

الف: په همدې مضمون باندې د نبي کریم ﷺ څخه زښت ډېر احادیث او د صحابه وو کرامو ﷺ څخه زښت ډېر روایات راپاتې دي، چې یوه مجموعه یې ځینو مفسرینو کرامو[۲] را غونډه کړې ده چې تقریباً شلو احادیثو او روایتو ته رسېږي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ یوازې په لاندې یوه حدیث شریف باندې اکتفاء کوو:

د ابو هریره ﷺ په روایت د نبي کریم ﷺ د یوه اوږده حدیث لنډ مضمون دی چې الله ﷻ د ادم ﷺ ټوله اولاده آن د قیامت د ورځې پورې په اجتماعي توګه ادم ﷺ ته وروښودله او هر یوه د سترګو په منځکښې (په تندي باندې) رڼا هم درلوده او ورته یې وفرمایل چې دا ټوله ستا اولاده ده. نو د ادم ﷺ د یوه کس د تندي رڼا ډېره خوښه شوه نو د الله ﷻ سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

آدم ﷺ: ای ربه! دا څوک دی؟

الله ﷻ: دا ستا د وروستنی اولادې څخه یو سړی دی چې داوُد نومېږي.

آدم ﷺ: ای ربه! ده ته دې څومره عمر ورکړی دی؟

الله ﷻ: شپېته کاله.

آدم ﷺ: ای ربه! همدغه سړي ته زما د عمر څخه څلوېښت کاله نور هم ورکړه.

بیا چې کله ادم ﷺ ته ملک الموت د روح د قبض دپاره ورغی نو ده پرې اعتراض وکړ چې ایا زما د عمر څخه څلوېښت کاله پاتې نه دي؟

ملک الموت جواب ورکړ چې ایا تا خپل یوه زوی (داود ﷺ) ته څلوېښت کاله نه وه بښلي؟!

«فَجَحَدَ آدَمُ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنُسِّيَ آدَمُ فَنُسِّيَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَخَطِئَ آدَمُ فَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ»[۳] نو ادم ﷺ انکار وکړ نو د ده اولاده هم انکار کوي، او ادم ﷺ (خپله ورکړه) هېره کړه نو د ده اولاده هم هېرول کوي.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۲ ص۶۶۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۲۶۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ادم ﷺ (د ممنوعه ونې څخه په خوراک کښې) خطا شو نو د ده اولاده هم خطا کېږي (په خطاکارانو کښې هغه څوک بهتر دی چې د ادم ﷺ غوندې توبه کوونکی وي).

ب: د ادم ﷺ څخه د ده اولاده په یوه ځل باندې راویستل او بیا بېرته ځای په ځای کول (ترڅو چې په تدریج سره د قیامت د ورځې پورې هر څوک په خپل ټاکلي وخت کښې تولد شي) ممکن کار دی (محال نه دی) او هم د الله ﷻ قدرت د هر حیثه کامل دی او نقصان او کمزوري نه لري. نو څه مجبوریت نشته چې څوک آیت شریف او بلکې ټولو احادیثو ته تاویل ورکړي او د "أخذ المیثاق" څخه حالي آخذ واخلي او د قولي آخذ څخه انکار وکړي، لکه چې همدا کار معتزله او نور کوي.

ج: په دې باندې علاوه د آیت شریف څخه ذکر شوی تفسیر سړي ته (د احادیثو په رڼا کښې) په تبادر سره ذهن ته ورځي او بهتره دا ده چې تر وسې-وسې پورې قرآن کریم په متبادره معنی باندې تفسیر کړی شي او بس.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د آیت شریف د دې ټکړي ﴿ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ ﴾ څخه داسې معلومېږي چې الله ﷻ د ادم ﷺ د اولادې څخه د دوی زوزات یو ځل راویستلی وه، نو پوښتنه دا ده چې په دې کښې څه حکمت دی چې پخپله د ادم ﷺ په حال باندې صراحت ونه کړی شو؟.

مونږ وایو چې: د ادم ﷺ د اولادې د ذکر څخه پخپله د ادم ﷺ حالت په تبادر سره معلومېږي او مستقل ذکر ته یې اړتیا نه وه ځکه چې د ده د اولادې زوزات بالواسطه د ادم ﷺ زوزات ګڼل کېږي. په دې باندې علاوه، پخپله ادم ﷺ په ذکر شوي حکم کښې په بهترې طریقې سره شامل ښکاري.

د دې نظیر دا دی چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ﴾ [غافر: ۴۶] یعنې کله چې د قیامت ورځ قائمه شي نو د الله ﷻ دپلوه به پرښتو ته فرمان صادر شي چې د فرعون ټبر سخت عذاب ته ورداخل کړئ چې فرعون یې په اول سر کښې قرار ولري.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! هغه وخت ور په یاد کړه چې ستا رب ﷻ د ادم د اولادې څخه د دوی د شاګانو څخه د دوی اولاده واخستله او د ټولو څخه وړاندې یې د ادم ﷺ د شا څخه د ده مستقیمه اولاده اخستې وه.

## د ادم مستقیمه اولاده څومره ده؟

۵_ مفسرین کرام وایي چې د ادم ﷺ مستقیمه اولاده یو سلو شل (۱۲۰) کسان وه چې په هر کال کښې به بي بي حواء رضي الله عنها دوه غبرګوني بچي ( یو زوی او یوه لور) زېږول[۱]، والله ﷻ اعلم.

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ذکر شوی عهد د اخیستلو ځای

۶_ د ذکر شوي عهد د اخستلو په ځای کښې مفسرینو کرامو لاندې قولونه کړي دي[۱]:

الف: ذکر شوی عهد په اول اسمان کښې اخستل شوی دی کله چې ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها د جنت څخه رابښکته کړی شوي وه مګر ځمکې ته لا نه وه را رسولی شوي.

ب: دغه عهد په وادي نعمان کښې اخستل شوی دی چې د عرفات د غونډۍ سره نژدې واقعیت لري.

ج: دغه عهد د هند په ځمکه کښې اخستلی شوی دی چرته چې ادم ﷺ اول ځل رابښکته شوی وه.

د: د عهد اخستلو ځای د طائف او مکې معظمې ترمنځ پروت دی.

مونږ وایو چې ځرنګه د ځای په تعین کښې چندان ګټه نه وه نو ځکه الله ﷻ نه دی ذکر کړی مګر دومره وایو چې په ذکره شوې ټوله ماجرې باندې باید مونږ داسې بلاکیفه عقیده وکړو لکه ځنګه چې په نورو عقیدوي اخروي امورو باندې بلا کیفه عقیده کوو، که نه نو مونږ به هم دې ته مجبور شو چې اولنی اعتزالي تفسیر غوره وګڼو او آیت شریف ته بې ضرورته تاویل وکړو.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د آیت شریف د ذکرې شوې ټکړې مضمون داسې را اوځي چې الله ﷻ د بنیادمانو څخه د دوی اولاده واخیستله، حال دا چې بنیادمان خو بل شی نه دی مګر د دوی اولاده ده، ته به وایې چې داسې مضمون نازل شوی دی چې بنیادمان د بنیادمانو څخه واخستل شوه؛ ایا یو شی د خپل ځان څخه اخستل کېږي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ بَنِيٓ ءَادَمَ ، ذُرِّيَّتَهُمۡ ﴾ دواړه کلمې که څه هم ذاتًا متحدې دي مګر بالاعتبار فرق لري. هغه دا چې هرڅوک اولادې ته په نظر سره اصل ګڼل کېږي چې په ﴿ بَنِيٓ ءَادَمَ ﴾ سره ترې تعبیر شوی دی، او پلرونو ته په نظر سره د فرع لقب اخلي چې په ﴿ ذُرِّيَّتَهُمۡ ﴾ سره ترې تعبیر کېږي.

نو د معنی د حاصل یې داسې کېږي چې: هغه وخت وریاد کړه چې ستا رب ﷻ ټول فروع د اصولو څخه واخستل او په داسې ترتیب سره یې رابهر کړه لکه ځنګه چې په توالد او تناسل کښې په ترتیب سره پیدا کېږي او بیا یې په معکوس ترتیب سره د ادم ﷺ شاته ټول بېرته ورغونډ کړه[۲].

## ذکر شوي عهد ته د عالم الذر عهد ویل کېږي

۸_ د ادم ﷺ ټوله اولاده چې الله ﷻ د ده په وړاندې په اجتماعي توګه ځرګنده کړه. دوی ته د همدغه حال په لحاظ د عالم الذر لقب ورکړی شوی دی او کوم عهد چې د دوی څخه په عین حال کښې اخستل شوی دی هغه ته د عالم الذر عهد ویل کېږي ځکه چې په ځینو احادیثو کښې د ذکرې

[۱] تفسیر البغوي ج۲ ص۲۱۲؛ تفسیر القرطبي ج۷ ص۴۰۶
[۲] تفسیر البغوي ج۲ ص۲۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني الله ﷻ د ادم علیه السلام تولهٔ «كَهَيْئَةِ الذَّرِّ» کلمات روایت شوی دی[۱] شوي اولادې په بیان کښې د
اولاده د سرو مېږتنو په څېر د ده په وړاندې خوره کړه او د استنطاق لاندې يې ونيوله.

د "ذَرّ" کلمه ـلکه "شَدّ"ـ د "ذَرَّةٌ" جمعه ده. "ذَرَّةٌ" هغه یوه سره مېږۍ ته ویل کېږي چې د یوې
وربشې سلمه (۱۰۰) برخه وزن لري. يا په بل عبارت: سل تنه مېږيان په وزن کښې د يوې
وربشې سره مساوي دي.

او يا د هغه یوه شي نوم دی چې هېڅ وزن نه لري او د سړي سترګو ته ښکاري، البته کله چې
تياره کوټې ته په یوه سوري (درويځه) کښې د لمر شعاع (رڼا) وربښکته شي[۲].

زمونږ په خيال چې د ادم علیه السلام اولاده به په ازدحام (ګڼه ګوڼه) کښې د "ذَرّ" سره تشبيه کړی شوي
وي، یعني دوی په دغه وخت کښې دومره ګڼ او مزدحم وه تا به ويل چې سرو وړوکو مېږتنو په خپله
جاله (سوړه) باندې ډېرو بار جوړ کړی دی، او يا د لمر په شعاع (رڼا) کښې (چې تياره کوټې ته
ښکته شوي وي) کوچني-کوچني شيان د سترګو لاندې ښکته پورته کېږي.

## سوال جواب

۹ــ که څوک وايي چې: ذکر شوی عهد خو هيچاته وريه ياد نه دی نو ايا د قيامت په ورځ کافران
دا اعتذار نه شي وړاندې کولی چې مونږ د عالم الذر د عهد څخه غافل (ناخبره) وو که نه نو مونږ
به کفر نه وی اختيار کړی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی عهد خو ځينو خلکو ته وريه ياد دی لکه چې د ذوالنون علیه الرحمة څخه چا
پوښتنه وکړه چې ايا ذکر شوی عهد ستا په ياد دی؟ هغه جواب ورکړ چې: "كَأَنَّهُ الآنَ فِي أُذُنِي"[۳]
لکه چې همدا اوس مې په غوږ کښې دی. او چا ته چې وريه ياد نه دی هغوی ته پيغمبرانو علیهم السلام
وريه ياد کړی دی. د همدې کبله مونږ وايو چې د ﴿ أَن تَقُولُوا ﴾ کلمه تر آخره پورې په هغه مقدر
"اذْكُرْ" پورې تعلق نيسي په کوم پورې چې په ﴿ وَإِذْ أَخَذَ ﴾ کښې د "إِذْ" توري تعلق نيولی دی[۴]. نو
د معنی حاصل يې داسې راوځي چې:

ای پيغمبره! خلکو ته ذکر شوی عهد په ياد کړه چې په داسې وخت کښې يې صورت نيولی وه
چې نه ورسره نفساني خواهشات وه او نه ورته د شيطان لمسون متوجه وه. نو ټولو د "الف" څخه تر
"ی" پورې په یوه خوله د ربوبيت په توحيد باندې اقرار وکړ. خو کله چې په دنيا کښې د توالد په
سلسله موجود شوه او د ذکرو شوو عوارضو سره مخامخ شوه نو چا مقاومت وکړ او فطري عقيده
يې وساتله او د چا پښې ښويه شوې او کفر يې اختيار کړ.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۶۲
(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۰۴
(۳) روح المعاني ج۹ ص۱۰۶
(۴) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو معلومه شوه چې د کفر اصلي وجه نه غفلت دی او نه د پلرونو تقلید او نه د قیامت په ورځ څوک دا بهانه وړاندې کولی شي، بلکې اصلي وجه يې نفساني خواهشات او شیطاني لمسون دی.

## یوه مسئله

۱۰_ که څه هم د مشرکانو په ماشومانو کښې اختلاف دی چې جنت ته به داخل شي او که نه، مګر د ځینو مفسرینو کرامو[۱] په نزد دا خبره صحیحه ګڼله شوې ده چې دوی جنتیان دي او وجه يې دا ده چې دوی د عالم الذر په عهد باندې باقي پاتې دي او تغیر يې نه دی ورکړی.

## یادونه

۱۱_ که څوک د دې څخه اوږد بحث غواړي نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۲] دا کتاب د ډېرو اوږدو بحثونو حوصله نه لري.

﴿ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ سَآءَ مَثَلًا ٱلۡقَوۡمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمۡ كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ﴿١٧٧﴾ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِيۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٧٨﴾ ﴾

[۱۷۵] او په دوی (خلکو) باندې د هغه چا مهم خبر ولوله چې مونږ ورته خپل ایتونه (علوم) ورکړي وه نو هغه ترې ښويه ووت. نو (بیا) شیطان ورپسې شو نو د ګمراهانو څخه (جوړ) شو.

[۱۷۶] او که زمونږ اراده شوې وی (چې پورته یې کړو) نو په هغو (ایتونو) باندې به مو پورته کړی وی، مګر هغه ځمکې (دنیاوي متاع) ته میلان وکړ او د خپلې هوی (خواهشاتو) پیروي یې وکړه (نو مونږ پورته نه کړ او توفیق مو ترې سلب کړ).

نو د ده مثال (حالت) داسې دی لکه د سپي مثال (حالت)، که ته پرې مشقت واچوې (او کوري يې کړې) هم ژبه را وباسي (او په زغرده سره تنفس اخلي) او یا یې (په خپل حال باندې) پرېږدې هم ژبه راوباسي (خپل عادت نه پرېږدي).

دا (مثال) د هغه قوم مثال دی چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي (هرڅوک چې وي).

---

[۱] تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۱۷

[۲] روح المعاني ج۹ ص۱۰۳؛ تفسیر المنار ج۹ ص۳۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (ای پیغمبره! خلکو ته) بیان وکړه دا (ذکر شوی ډول) بیان، شاید چې دوی فکر وکړي.

[۱۷۷] د مثال د حیثه یو شی ډېر بد دی (چې هغه) د داسې قوم څخه عبارت دی کوم چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي.

[۱۷۸] هغه څوک چې الله ﷻ (ورته) هدایت وکړي نو همدی لاره موندونکی دی (څوک یې د لارې څخه نه شي اړولی) او هغه څوک چې الله ﷻ یې ګمراه کړي (او د نېکیو توفیق ورنه کړي) نو دغه کسان همدوی زیان کاران دي (او هیڅوک به ورته هدایت ونه شي کړی او نه به یې سمې لارې ته برابر کړي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې یو ځل د یهودو هغه عهد ته اشاره شوې وه چې په تورات کښې د دوی څخه اخستل شوی وه او د غره په پورته کولو سره تازه (تجدید) شو بیا د هغه عمومي عهد ذکر شوی وه کوم چې په عالم ذر کښې د ټولو انسانانو څخه اخیستل شوی وه، په دې ایتونو کښې د یوه ناقض العهد (عهد ماتوونکي) قیصې ته اشاره کېږي چې که څوک په عهد باندې وفا ونه کړي نو هغه به د همدغه عهد ماتونکي په څېر د الله ﷻ په غضب باندې اخته شي.

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه یهودان په غوږ باندې وهلی شوي دي چې خپل علم ته مه غره کېږئ. علم خو په هغه وخت کښې ګټور واقع کېږي چې عمل پرې وکړی شي که نه نو بې عمله علم خو د نجات سبب نه شي جوړېدلی بلکې د الله ﷻ د غضب سبب جوړېږي.

## شان نزول

د ثقیف د قبیلې یو سړی وه چې "أمية بن أبي الصلت" نومېده او الله ﷻ ښه پوره علم ورکړی وه او پوهېده چې په نن سبا کښې د آخرنی زمانې پیغمبر مبعوث کیدونکی دی مګر په تمه وه چې دا مرتبه به د همده په نصیب شي او وحي به ورباندې نازله شي. خو کله چې دغه مرتبه د محمد ﷺ په برخه شوه نوموړی ډېر خپه شو او د حسد د کبله یې په آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان را نه وړ[1].

د نوموړي په باره کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَادَ ابْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ»[2] نژدې وه چې ابن ابي الصلت مسلمان شي.

## د مطلب خلاصه

۱ــ یعني: ای پیغمبره! په خپل امت باندې د هغه سړي مهم حکایت هم ولوله چې هغه ته مونږ په خپل توحید او ستا په نبوت باندې پوره دلائل ورکړي وه، ده کولی شو چې د همدغو دلائلو په رڼا کښې په سمه سیده لاره باندې تللی وی، د ګمراهی څخه یې خپل ځان بچ کړی وی او بالآخره د هغه

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۱۵
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عهد ساتنه يې کړې وي کوم چې د ده څخه په عالم الذر کښې اخستلی شوی او د ده په خټه کښې په فطرې توګه اغړلی شوی وه، مګر نوموړی د ټولو دلائلو څخه بنويه ووت، ته به وايې چې مار د خپل پوستکې څخه وتلی دی، او هيڅ ګټه يې پرې وانخستله بلکې لا ضرر يې ورته وکړ هغه دا چې د وتلو څخه وروسته يې د شيطان په اوږه باندې لاس کېښود او کوم طرف ته چې هغه سوق کاوه هغه طرف يې تعقيب کړ آن تر دې چې د پخو بې لارو څخه وشمېرل شو.

۲ـ ای پيغمبره! که زمونږ اراده شوې وی چې توفيق ورکړو نو توفيق به مو ورکړی وی او په ذکرو شوو دلائلو باندې به مو لوړو درجو ته پورته کړی وی مګر مونږ توفيق وزنه کړ، ځکه چې نوموړی ځمکې ته مائل شو، د پورته کېدلو په عوض يې ښکته کېدل خوښ کړه، د خپلو دنياوي خواهشاتو پيرو جوړ شو او د آخرت په عوض يې دنيا خوښه کړه.

۳ـ د نوموړي سړي حالت د يوه داسې سپي د حالت غوندي وګرځيد چې د ستومانۍ او تندې د کبله يې ژبه ويستلې وي او غپېږي بلکې همدغه حالت يې عادت جوړ شوی وي، نو که ته يې د زجر لاندې ونيسې او د چيغې (کورې) غږ پرې وکړې او که په خپل حال باندې يې پرېږدې (غږ پرې ونه کړې) په دواړو حالتونو کښې يې خوله وازه کړې وي او غپېږي او لاړې يې بادېږي.

همدارنګه کله چې هغه خپل استعداد د ښنو لاندې کړ او په زړه باندې يې مهر ولګېده او بالآخره دنياوي حرص پرې غلبه وکړه نو د دلائلو اورول او نه اورول ورته يو برابر جوړ شوه، په دواړو حالونو کښې په خپل کفر باندې کلک شو.

۴ـ ای پيغمبره! ذکر شوی مثال يوازې د ذکر شوي سړي پورې ځانګړی نه دی بلکې دا د هغو ټولو خلکو مثال دی چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت کوي او زړونه يې د ختم (مهر) اندازې ته رسيدلي وي. نو خپل ټول امت ته شرعي مطالب په ښو ځرګندو کلماتو کښې بيان کړه شايد چې دوی فکر وکړي او خپله باطله تګلاره پرېږدي، د شرعي مطالبو د جملې څخه دغه قيصه هم ده چې ورلاندې تېره شوه.

او ډېر بد او ناکاره مثال د همدغو خلکو دی چې زمونږ د ايتونو تکذيب کوي او په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي. که دوی د خپل مثال په بدۍ او ناکاروالي باندې پوه شي او تدبر (سوچ) پکښې وکړي شايد چې په خپلو کړو وړو باندې بيا نظر وکړي او د حق طرف ته را تاو شي.

۵ـ ای پيغمبره! اصلي خبره دا ده چې لاره موندونکي همغه څوک دي چې الله ﷻ ورته لاره وښايي، او الله ﷻ چې هرڅوک ګمراه کړي نو همدوی زيانکاران دي ځکه چې دوی په بل هيڅ يوه ځای کښې د خپل ځان دپاره ژغورن ځای نه شي موندلی.

## توضيحات

۱ـ د ذکرو شوو ايتونو د مصداق په باره کښې مفسرينو کرامو[1] تقريباً شپږ قوله کړي دي او

[1] زاد المسير ج۳ ص۱۹۴؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يوه هم داسې دليل نه دی ذکر کړی چې د آيت شريف حصر ترې څرګند شي.

لکه څنګه چې په نصوصو کښې قاعده دا ده چې د مفهوم عموم ته يې کتل کېږي او د مورد خصوص ته يې اعتبار نه وي، نو مونږ وايو چې مفسرينو کرامو به د ايتونو دپاره د مثال په توګه ځينې مصداقات په ګوته کړي وي او حصر به يې مطلب نه وي.

په دې باندې علاوه، د هغوی هغه قول د ايتونو مصداق جوړېدلی شي کوم چې په صحيحو روايتونو باندې ثابت شي. په دغسې قيصو کښې د روايتونو تصحيح ډېر مشکل کار دی[1] او په يقين سره يې د اسرائيلياتو څخه جدا کول د چا په وسه کښې نشته.

لنډه دا چې ايتونه د مفهوم د عموم په اعتبار سره د قيامت د ورځې پورې په هغو ټولو خلکو باندې صادقېږي چې په ايتونو کښې ذکر شوي صفات ورباندې صدق پيدا کړي، همدغه عموم ته دغه ټکره ﴿ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا﴾ اشاره کوي چې په ټولو پخو کافرانو باندې صادقېږي.

## د بلعم بن باعوراء قيصه

۲_ هو! په تفاسيرو کښې چې کومه قيصه ډېره مشهوره ده هغه د بلعم بن باعوراء قيصه ده، که څوک غواړي چې دغه قيصه ښه په تفصيل سره ولولي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[2] مونږ دلته د همدې قيصې دلاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: که څه هم د نوموړي سړي نوم بلعم بن باعوراء روايت شوی دی مګر په ځينو روايتونو کښې يې د "بلعم" په عوض "بلعام" حکايت شوی دی[3].

ب: دغه سړی د بني اسرائيلو څخه وه او د موسى ﷺ په زمانه کښې تېر شوی دی. نوموړي ته الله ﷻ دومره لوی علم ورکړی وه چې دولس زره او لا ډېر شاګردان يې درلوده چې ده به ورته زده کړه ورکوله او هغوی به يې تعليمات ليکل او ثبتول. نوموړی سړی موسى ﷺ د مدين پاچا ته د دعوت دپاره واستاوه خو هلته يې رشوت وخوړ او د دې په ځای چې پاچا په اسلام باندې مشرف کړي پخپله يې د رشوت په مقابل کښې د موسى ﷺ دين پرېښود او مرتد شو او خپل ټول علمي قوت يې د کفر او دهريت په خدمت کښې مصرف کړ، حتى چې د اولني تصنيف نوم يې دا وه چې: "لَيْسَ لِلْعَالَمِ صَانِعٌ" عالم پيدا کوونکی نه لري. يعنې ابدي او ازلي الله ﷻ موجوديت نه لري[4]، العياذ بالله.

ج: کوم علوم چې نوموړي ته ورکړی شوي وه د هغو څخه الله ﷻ په ﴿ءَايَـٰتِنَا﴾ سره تعبير کړی دی چې د علومو په عظمت او کثرت باندې دلالت کوي، نور نو الله ﷻ پوهېږي چې د هغه سره به

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۲۰۵؛ زاد المسير ج۳ ص۲۹۵

(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۲۱۴

(۳) روح المعاني ج۹ ص۱۱۱

(۴) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۱۹؛ المحرر الوجيز ج۷ ص۲۰۳

Scanned by CamScanner

کوم-کوم علوم وه او څه-څه کیفیات به یې درلوده خو د دغې کلمې څخه سړي ته د توحید دلائل په تبادر سره ذهن ته ورځي.

د: د علومو څخه د ده بې ګټې وتل الله ﷻ په ﴿ فَٱنسَلَخَ ﴾ سره تعبیر کړه. دا ځکه چې دغه کلمه اصلاً د "سَلْخ" -لکه "ضَرْب"- څخه اخستله شوې ده. "سَلْخ" د یوه ساکښ څخه د پوستکي ویستلو ته ویل کېږي[1]، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي: نوموړی د علومو او دلائلو څخه داسې ښویه راووت لکه چې مار د خپل پوستکي څخه ښویه ووزي او د پوستکي هېڅ شی ورپورې پاتې نه شي.

ه: د نوموړي سړي دنیا ته میلان الله ﷻ ﴿ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ ﴾ په کلماتو کښې نازل کړ ترڅو مونږ اشارهٔ پوه کړي چې هغه د رشوت په مقابل کښې ځکه مرتد شو چې دنیا ورته د همېشوالي (خلود) کور ښکاره شو او د اخروي دائمي کور څخه غافل شو.

و: نوموړي ته د لاندې وجوهو د کبله د سپي سره تشبیه ورکړې شوې ده:

اول: په ساکښانو کښې ډېر خسیس او حقیر ساکښ سپی دی. د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ»[2] یعنې: مونږ ته بد مثال نشته، هغه څوک چې په خپل ببښلي شوي شي کښې بېرته وګرځي داسې دی لکه چې سپی په خپلو کانګو کښې بیرته تاوېږي (نو په کار دي چې زما امتیان دغه مثال په خانونو باندې صادق نه کړي او په هبه کښې بېرته ونه ګرځي).

دوهم: د سپي په ټولو حالاتو کښې دا حالت ډېر د ذلت او حقارت حالت دی چې خوله یې وازه نیولې وي او د تندې د کبله یې ژبه اوږده راویستلې وي او په زرغرده سره تنفس اخلي. همدغه ته په عربي کښې لهث وایي[3].

## د شباهت وجوهات

۳- ذکر شوی حارص سړی د لاندې وجوهاتو د کبله د لاهث (وازخولي) سپي سره شباهت درلود:

الف: نور ساکښان د ضرورت په وخت کښې (چې ستومانه شي) په زرغرده باندې سا اخلي مګر د سپي همدغه مستمري حالت دی چې ستومانه وي او که نه، ژبه یې راویستلې وي او په جلتی سره هوا کشوي.

همدارنګه ذکر شوی سړي بې ضرورته حرامو ته خوله وازه نیولې وه او بې ضرورته یې رشوت واخست او خپل ځان یې ورباندې ګمراه کړ.

ب: د هغه دپاره حرام خوري لازم صفت جوړ شو او په دوامداره توګه یې حرام خوری، ته ملا وتړله، لکه څنګه چې لاهث سپي په دوامداره توګه ژبه راویستلې وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۴۴
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص ۳۵۷
(۳) مفردات الراغب ص ۴۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هغه ته د ایتونو اورېدل او نه اورېدل یو برابر شو چې په هېڅ صورت کښې د تاثیر لاندې نه واقع کېده بلکې هغه د دې آیت شریف مصداق جوړ شو چې: ﴿ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾ [البقرة: ۶] یعنې: په دوی باندې برابره ده چې ته یې ووېروې او که یې ونه وېروې، ډوی ایمان نه راوړي.

یعنې نوموړی سړی داسې وه لکه لاهث (ژبه ویستونکی) سپی چې لهث (ژبه ویستلو) ته ادامه ورکوي، برابره خبره ده چې توبیخ لاندې یې واقع کړې او چغې (کورې) یې کړې او که په خپل حال باندې یې پرېږدې، په دواړو صورتونو کښې په خپل عادت باندې روان وی.

د: ځینې مفسرین کرام وایي چې نوموړې د لاهث سپي غوندې حقیقتاً خپله ژبه راویستلې وه او د سپي په شان یې خوله وازه نیولې وه[۱].

په دې تقدیر باندې یې د شباهت وجه پوره واضحه ده چې په صورت او معنی دواړو کښې د لاهث (ژبه ویستونکي) سپي غوندې جوړ شو.

ه: بالآخره نوموړی د سپي غوندې په رشوت اخستلو سره ایل (تابع) شو[۲].

د سپي عادت دی چې بې موجبه خپل ځان دښمن معرفي کوي خو په عین حال کښې یې دښمني په دوستۍ باندې بدلېږي او د لکۍ په ښورولو سره یې څرګندونه کوي، البته کله چې د مقابل طرف څخه په څه خوراکي شي باندې برلاسی شي.

## "قَصَص" څه معنی؟

۴_ د ﴿ ٱلۡقَصَصَ﴾ کلمه په اصل کښې د مصدر کلمه ده مګر د مفعول معنی ورکوي لکه څنګه چې د سلب کلمه د مصدر کلمه ده مګر په استعمال کښې د مسلوب په معنی هم راځي[۳]. په دې مقام کښې د ﴿ ٱلۡقَصَصَ﴾ څخه ذکر شوې قیصه او یا ټول پخواني اخبارونه او قیصې مرادې دي.

## د ایتونو ارشادات

۵_ ذکر شوي ایتونه مونږ ته لاندې ارشادات کوي:

الف: باید هېڅ عالم او عامل په خپل علم او په خپل عمل باندې مغرور نه شي او د همېشه دپاره د الله ﷻ څخه نصرت او توفیق وغواړي ترڅو د نېکې خاتمې خاوند شي ځکه چې د هرچا مقبولیت او عدم مقبولیت په خاتمې پورې تړلی دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ»[۴] یعنې: په یقین سره عملونو ته د خاتمو په اعتبار سره کتل کېږي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه اورېده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلا تَكِلْنِي

---

(۱) المحرر الوجیز ج۷ ص۲۰۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۲۳

(۳) روح المعاني ج۹ ص۱۱۶؛ مفردات الراغب ص۴۱۹

(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۹۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ»[۱] يعني: اى الله زه ستا د رحمت اميد لرم نو (ما د بنوييدلو څخه وساتې او) زما ځان ته مې د سترګې د رپ په اندازه وخت هم ونه سپارې (چې خپل توفيق راڅخه سلب کړې).

ب: په ټولو حقوقو کښې د رشوت اخستل بدکار دی او د هر مسلمان سره رشوت اخستل بد برېښي مګر د اسلام په دعوت کښې رشوت اخستل ډېر بد دي او هم د اسلام داعيانو او علماوو سره دا کار بې اندازې بد او ناکاره ښکاري، نو بايد چې ديني علماء کرام ترې په ډېره جدي توګه ځانونه وساتي.

﴿وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴿۱۷۹﴾ وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ أَسْمَٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿۱۸۰﴾﴾

[۱۷۹] او بې شکه مونږ د جهنم دپاره دپېريانو او انسانانو څخه ډېر پيدا کړي دي (چې دوی خپل فطري استعدادونه خاورې کړي دي)، دوی لره زړونه شته خو پوهه وربانديې نه شي حاصلولی او دوی لره سترګې شته خو (د حق) ليدنه پرې نه شي کولی او دوی لره غوږونه شته خو (د حق) اورېدل پرې نه شي کولی.

دغه خلک د څارويو غوندې دي بلکې دوی (د هغو څخه) ډېر بې لارې دي، دغه خلک همدوی غافل خلک دي (د دوی غوندې بل څوک غافل نشته).

[۱۸۰] او خاص الله ﷻ لره سپېڅلي نومونه دي (چې تاسو ته يې دربښودلي دي) نو په همدې نومونو باندې يې بلنه وکړئ (او په همدې نومونو باندې يې ياد کړئ).

او هغه خلک (الله ﷻ ته) پرېږدئ چې د ده ﷻ په نومونو کښې (باطل خوا ته) ميلان کوي. ډېر ژر به دوی ته د (هغو) کړو وړو جزا ورکړی شي، چې دوی دي چې (هغه په مستمره توګه) کوي (لکه الحاد او نور).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ايتونو کښې يو خاص مرتد شوي کافر ته او بيا نورو کافرانو ته د سپي سره شباهت ورکړی شو او دلته ټولو کافرانو ته د څارويو سره شباهت ورکړی شوی دی.

۲ـ دا ايتونه د نژدې آيت شريف تفسير واقع شوی دی چې د هر چا څخه چې الله ﷻ خپل توفيق او نصرت واخلي نو هغه بيا د خپلو روغو رمټو حواسو څخه کار نه شي اخستی.

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۳۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ بالآخره دلته د یو پلوه د ګمراه کېدلو سبب ښودلی شوی دی (چې د الله ﷻ په نومونو کښې په یو ډول سره الحاد دی) او د بله پلوه د هدایت طریقه را زده کړی شوې ده چې د الحاد څخه خپل ځان ساتل دي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! د کومو خلکو څخه چې مونږ خپل توفیق او نصرت واخلو نو د هغوی ټول کړه وړه داسې جوړ شي چې دوزخ ته یې کشوي او د هدایت د اسبابو څخه په یوه باندې هم ګټه نه شي اخستی، نو د همدې کبله مونږ تا ته خبر درکوو چې یقینًا مونږ ډېر پېریان او ډېر انسانان د دوزخ دپاره پیدا کړي دي چې همدا به یې وروستنی کور وي. د دوی علامات او نښې دا دي:

الف: دوی ته مو د تفکر او د خپل رب ﷻ د پېژاندلو دپاره زړونه ورکړي دي خو دوی پرې نه تفکر کولی شي او نه پرې خپل رب ﷻ پېژاندلی شي، د دوی ټول فکر او ذکر په دنیاوي خواهشاتو کښې دی او ټول وخت یې په همدې کښې ضائع کېږي.

ب: دوی ته مو سترګې هم ورکړي دي چې په مخلوقاتو کښې د الله ﷻ د وحدانیت دلائل وګوري مګر دوی دا کار هم نه شي کولی.

ج: دوی ته مو غوږونه ورکړي دي چې د اسلام د داعیانو څخه څه نصیحت او وعظ واوري او خپل خیر او شر پېژاندلو ته متوجه شي مګر د دوی غوږونه هم په دې باره کښې کاڼه دي.

د: بالآخره ذکر شوي خلک د خپلو حواسو څخه داسې استفاده کوي لکه څنګه چې څاروی د خپلو حواسو څخه ګټه اخلي چې صرف خوراک او څښاک او نور مادیات ورباندې پېژني او بس، بلکې دوی لا د څارویو څخه بدتر دي ځکه چې دوی فطري استعداد د پښنو لاندې کړی دی او ښکته رالوېدلی دی او څاروي خو ښکته نه دي لوېدلي او د مادیاتو استعداد یې ساتلی دی چې صرف همدا استعداد ورکړی شوی وه او بس.

۲ـ نو ای مؤمنانو! تاسو د ذکرو شوو خلکو غوندې مه کېږئ او د الله ﷻ په نومونو کښې الحاد او کوږوالی مه کوئ. ځوک چې پکښې الحاد کوي هغوی به ډېر ژر د خپل عمل جزا وګوري.

الله ﷻ په همغو ښایسته نومونو باندې یاد کړئ په کومو باندې یې چې تاسو ته خپل ځان درپېژاندلی دی، مه ورباندې د خپله ځانه نومونه ږدئ او مه د ده ﷻ په نومونو باندې نور ځوک بلئ.

## توضیحات

۱ـ ځینې مفسرین کرام[۱] ذکرو شوو ایتونو ته تاویل نه ورکوي او وایي چې الله ﷻ مونږ ته خبر را کړ چې د پېریانو او انسانانو څخه یې ډېر خلک د دوزخ دپاره پیدا کړي دي چې دوزخ ورباندې ډک کړي او هملته یې معذب کړي، البته چې دا هغه خلک دي کوم چې په آیت شریف کښې ښه

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۲۰۹؛ تفسير البغوي ج۲ ص۲۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شرحه شوي دي چې نه ويښ زړونه لري، نه اورېدونکي غوږونه او بالآخره نه ليدونکې سترګې.

مګر په دې تفسير باندې يوه مهمه پوښتنه را ولاړيږي کېږي هغه دا چې په بل ځاى کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ [الذاريات:۵۶] يعنې: او ما پېريان او انسانان د بل هيڅ شي دپاره نه دي پيدا کړي مګر د دې دپاره چې زما عبادت وکړي (او جنت ته داخل شي)؛ نو د دواړو ايتونو مضمونونه يو د بل سره مناقض برېښي.

د همدې کبله اکثره اهل السنة والجماعة[1] همدغه آيت شريف ـ ته چې سمدستي پکښې بحث روان دى ـ تقريبًا اوه ډوله تاويل ورکوي[2] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته په ﴿ لِجَهَنَّمَ ﴾ کښې د "ل" توري د غائي دپاره نه دى لکه چې په [الذاريات:۵۶] آيت کښې د غائي دپاره دى، بلکې دلته د عاقبت دپاره دى[3] لکه چې الله ﷻ د فرعونيانو څخه حکايت کوي چې: ﴿ فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ﴾ [القصص: ۸] يعنې فرعونيانو موسى ﷺ مونده کړ او د درياب څخه يې را ونيوه ترڅو چې په عاقبت کښې د همدوى دپاره دښمن او د غم سبب جوړ شو.

نو دلته به يې د معنى حاصل داسې شي چې: که څه هم مونږ د خپل عبادت دپاره ټول پېريان او ټول انسانان پيدا کړي دي مګر د اکثرو عاقبت دوزخ ته کېږي، نو داسې ګڼل کيږي چې مونږ د دوزخ دپاره پيدا کړي دي.

مونږ ته ذکر شوى جواب څکه خوندور نه ښکاري چې د عاقبت په "ل" کښې د فعل کوونکى نه پوهېږي چې د مدخول څخه به يې څه شى جوړيږي، لکه چې فرعونيان د موسى ﷺ د رانيولو په وخت کښې نه پوهېده چې موسى ﷺ به د دوى دپاره دښمن او د غم سبب جوړ شي حال دا چې الله ﷻ ته خو د خلقت په وخت هرڅوک معلوم دى چې دا دوزخيان دي او دا جنتيان.

ب: ځينې علماء وايي[4] چې: دلته د "ل" توري د تکويني غائي او مطلوب دپاره دى، يعنې مونږ اکثره پېريان او اکثره انسانان د تکوين (خلقت) په اعتبار سره دوزخ ته پيدا کړي دي.

او هلته ترې تشريعي غايه او مطلوب مراد دى، يعنې مونږ نه پېريان د بل شي دپاره پيدا کړي دي او نه انسانان مګر د دې دپاره چې زما عبادت وکړي او همدا مې په ټولو باندې فرض کړى دى.

مونږ ته دا جواب هم خوندور نه ښکاري څکه چې د ﴿ ذَرَأْنَا ﴾ کلمه خو د ﴿ خَلَقْنَآ ﴾ سره مرادفه ده چې په دواړو ايتونو کښې ترې تکويني غايه او مطلوب سرې ته په تبادر سره ذهن ته ورځي، نو دلته تکويني غايه او هلته تشريعي غايه مرادول بې دليله خبره ده.

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۱۸
(۲) التفسير الكبير ج۱۵ ص۶۰
(۳) تفسير الخازن ج۲ ص۶۷۲
(۴) تفسير الشيخ محمود الحسن، الشيخ شبيراحمد عثماني ج۱ ص۹۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۲ـ زمونږ په فکر په دواړو ایتونو کښې د "ل" توری د فطري استعداد په نظر کښې نیولو سره د تکویني غائي دپاره دی چې تفصیل یې دا دی:

اول: هلته د استعداد ثبوتي خوا په نظر کښې نیولې شوې ده. یعنې ما پیریان او انسانان د بل شي دپاره نه دي پیدا کړي مګر د خپل عبادت دپاره (چې دوی پرې کمال ته ورسیږي او بس) او د همدې عبادت بنه پوره استعداد مو ورکړی دی، که بالفرض ما د بل شي (لکه روزي ورکول او نورو) دپاره پیدا کړي وی نو د همغه شي استعداد به مې ورکړی وی.

دوهم: دلته د استعداد سلبي خوا ته کتلی شوي دي. یعنې مونږ هغه ډېر پېریان او هغه ډېر انسانان د دوزخ دپاره پیدا کړي دي کومو چې خپل ورکړی شوی فطري استعداد د پښنو لاندې کړی دی او د څارویو سره یې ځانونه برابر کړي دي، لکه چې دوی ته مو د اختیاري عبادت استعداد هېڅ نه دی ورکړی لکه څنګه مو چې څارویو ته نه دی ورکړی، نو دوی د څارویو څخه ډېر بد حالې دي ځکه چې دوی مو دوزخ ته پیدا کړي دي او څارویو ته نه دوزخ شته او نه جنت.

## د کافرانو ګمراهي زیاته ده

۳ـ په دې مقام کښې الله ﷻ کافرانو ته د څارویو په نسبت د ﴿ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ﴾ جمله استعماله کړه، چې دوی د څارویو څخه په ګمراهۍ کښې زیات دي. د زیادت لاندې څو وجې یې ولولی[۱]:

الف: څاروي د خپلو ګټو او ضررونو شیان پېژني خو کافران په لوی لاس ځانونه د الله ﷻ د عذاب لاندې واقع کوي او د جنت څخه تښتي.

ب: څاروي د خپل خاوند اطاعت کوي مګر دوی د الله ﷻ اطاعت ته شا کړې ده.

ج: څارویو ته نه د خیر د کارونو قدرت ورکړی شوی دی او نه یې ضائع کړی دی، خو دوی ته فطري استعداد ورکړی شوی وه او د خاورو سره یې برابر کړ نو خاص همدوی به د حسرت سره مخامخ شي.

د: څارویو ته که جنت نشته نو دوزخ هم ورته نشته او کافران هم د جنت څخه محروم دي او هم په دوزخ کښې دائمي اوسېدونکي دي.

ه: څاروي چې د کوم شي دپاره پیدا کړی شوي دي په همغه شي کښې مشغول دي، اما کافران د الله ﷻ د عبادت دپاره پیدا کړی شوي دي خو دوی د شیطان عبادت کوي.

## اسماء الحسنى څو دي؟

۴ـ دغه کلمه ﴿ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ په قرآن کریم کښې په لاندې څلورو ایتونو کښې نازله شوې ده:

الف: همدغه مقام چې اوس د بحث لاندې دی.

(۱) روح المعاني ج۹ ص ۱۲۰؛ تفسیر القاسمي ج۷ ص۳۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ﴿ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ [الإسراء: ۱۱۰].

ج: ﴿ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ [طه: ۸].

د: ﴿ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ [الحشر: ۲۴].

د الله ﷻ ټول نومونه حسن او ښائسته دي، د حسن او ښایست معنی يې دا ده چې په داسې اقدس ذات ﷻ باندې دلالت کوي چې هيڅ شي ته احتياج نه دی او ده ﷻ ته هرشی محتاج دی.

د الله ﷻ د نومونو د تعدد وجه دا ده چې د دغو نومونو په ضمن کښې يې مونږ ته خپل اقدس ذات ﷻ راپېژندلی دی او مونږ ته يې امر کړی دی چې: ﴿ فَٱدْعُوهُ بِهَا ﴾ په همدغو نومونو باندې يې ياد کړو او د همدغو نومونو سره مناسب سوال ترې وکړو چې: ای رحمن! په مونږ باندې رحم وکړې، او ای رازق! مونږ ته حلال رزق راکړې، او داسې نور.

نو د همدې کبله ټول علماء کرام متفق دي چې د الله ﷻ نومونه محصور نه دي[۱] بلکې هر يو نوم چې په آيت يا حديث او بالآخره يا په اجماع باندې ثابت وي (لکه الصَّانِع، الْمَوْجُود، الْوَاجِب، الْقَدِيم[۲]) د هغه اطلاق په الله ﷻ باندې جائز دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ په يوه اورېده حديث کښې د الله ﷻ نومونه په نهه نوي (۹۹) وو کښې حصر کړي دي او فرمايلي يې دي چې: «إِنَّ لِلَّهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً غَيْرَ وَاحِدَةٍ مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ»[۳] يعني: يقيناً خاص الله ﷻ لره نهه نوي نومونه دي (يا په بل عبارت) يو کم سل، څوک چې دا (نومونه) وشماري (او د حفظ لاندې يې راولي او په مقتضی يې عمل وکړي) نو جنت ته به داخل شي.

مونږ وايو چې: په دغه حديث شريف کښې د الله ﷻ د ټولو نومونو حصر مطلب نه دی بلکې د هغې مجموعې حصر مراد دی کومې ته چې د احصاء په اعتبار سره جنت ته د داخلېدلو خاصيت ورکړی شوی دی[۴].

## "الحاد" څه معنی؟

۶ـ د ﴿ يُلْحِدُونَ ﴾ کلمه د "الحاد" څخه اخستله شوې ده. الحاد يوې خواته ميلان ته ويل کېږي[۵].

د همدې کبله د مړي هغه مدفن ته لحد وايي چې د قبره په داخل کښې د قبلې خوا ته مائل وکنودل

---

(۱) تفسير الآلوسي ج۷ ص۳۰۷
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۲۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۸
(۴) روح المعاني ج۹ ص۱۲۳
(۵) مفردات الراغب ص۴۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي چې په پښتو ژبه کښې ورته کنجلات وايي، او په مقابل کښې يې ضريع استعمالېږي[۱] يعنې هغه مدفن چې د قبر په منځکښې وکنودل شي، چې په پښتو ژبه کښې ورته سملات وايي.

## د الله ﷻ په نومونو کښې الحاد

۷_ د "الله" او "الرحمن" د دواړو کلمو اطلاق په خالق ﷻ پورې اختصاص لري حتی چې مشرکانو د خپلو بوتانو څخه په يوه بوت باندې هم نه د "الله" اطلاق کړی دی او نه د "الرحمن".

اما د "رحمن" د کلمې اطلاق _بدون د "ال" څخه_ په مخلوق هم کېږي، لکه "رحمن بابا" او په خالق ﷻ باندې هم، چې د "الطارق" سورت په توضيحاتو کښې به ورته _إن شاء الله ﷻ_ اشاره وشي.

په دې باندې علاوه بايد د الله ﷻ په مبارکو نومونو کښې لاندې مراعاتونه په جدي توګه په نظر کښې ونېولی شي:

الف: چې په آيت يا حديث او بالآخره يا په اجماع باندې ثابت وي.

ب: چې ادب او تعظيم دواړه د نظر لاندې نيولي شوي وي.

ج: چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسب وي او د بې ادبی او بې تعظيمی توهم پکښې نه وي.

د: په دې ټولو باندې دپاسه، چې معنی يې هم په لغاتو کښې معلومه وي.

نو که بالفرض د ذکرو شوو مراعاتونو څخه کوم يو خلل وموميي نو هغه ته د الله ﷻ په نومونو کښې د الحاد لقب ورکول کېږي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

اول: هر يو نوم چې په آيت يا حديث او بالآخره يا په اجماع باندې ثابت نه وي د هغه اطلاق په الله ﷻ باندې الحاد ګڼل کېږي، نو د همدې قاعدې په بنا الله ﷻ ته د سخي نوم استعمالول جواز نه لري ځکه چې په يوه دليل باندې هم ثابت نه دی، همدارنګه د عاقل کلمه درواخلئ؛

دوهم: په دې باره کښې قياس د اعتبار وړ نه دی[۲]، نو که څوک د فقيه کلمه الله ﷻ ته استعماله کړي نو په الحاد کښې به واقع شي که څه هم دغه کلمه د عالم د کلمې سره (چې د الله ﷻ د نومونو څخه يو نوم دی) مرادفه ښکاري.

دريم: الله ﷻ ته د يوه فعل په نسبت کولو سره جواز نه لري چې د همغه څخه د مشتق کړی شوي اسم اطلاق پرې وکړی شي، مثلاً الله ﷻ خپل اقدس ذات ته په ﴿ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ﴾ [الرحمن:۴] کښې د تعليم نسبت کړی دی مګر مونږ ته روا نه ده چې الله ﷻ د معلم په نوم ياد کړو.

څلورم: د کومو کلماتو څخه چې د بې ادبی توهم کېږي او د بې تعظيمی بوی ترې خېژي د هغو اطلاق هم په الله ﷻ باندې الحاد ګڼل کېږي که څه هم واقعيت ولري، لکه چې څوک ووايي چې: "يَا خَالِقَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ"[۳] ای د بيزوګانو او خنزيرانو پيدا کوونکيه!

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۲۱
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۲۲؛ المحرر الوجيز ج۷ ص۲۱۳
(۳) شرح المقاصد في العقائد ج۲ ص۱۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځم: همدارنګه د داسې کلماتو استعمال چې معنی یې مجهوله وي هم د الحاد څخه په غیر بل شی نه دی[۱]، لکه د تعویذاتو والا چې د "یا بدوح" کلمه په خپلو تعویذونو کښې لیکي.

شپږم: په داسې شیانو کښې (چې د الله ﷻ د شان سره لیاقت ونه لري) هم د الله ﷻ نومونه استخدامول ښه کار نه دی، لکه چې په جادو او یا نورو شیانو کښې استعمال کړی شي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: د عربي ژبې څخه په غیر په نورو ژبو کښې خو د الله ﷻ نومونه یو هم شرعًا ثابت نه دی، نو پوښتنه دا ده چې ایا دا د الحاد څخه نه شمېرل کېږي، لکه په پښتو او دري کښې "خدای، خدا"؟

مونږ وایو چې: د عجمي لغاتو په جواز کښې د هیڅا اختلاف نشته[۲]، که نه نو د تعلیم او تعلم دروازه به وتړله شي، نه به څوک آیت ترجمه کړی شي او نه به د حدیث معنی وکړی شي.

۹ـ باید د اسماء الله الحسنی په هکله د اوږد بحث دپاره اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی وشي[۳].

﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾ وَأُمْلِى لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ ۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ وَأَنْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٥﴾ مَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِىَ لَهُۥ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِى طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾ ﴾

[۱۸۱] او د هغو خلکو (د جملې) څخه چې مونږ پیدا کړي دي داسې یوه ډله شته (او وي به) چې نورو ته د حق لارښوونه کوي او په همدغه (حق) باندې انصافي فیصلې کوي.

[۱۸۲] او هغه کسان چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي ژر دی چې درجه په درجه (ورو-ورو) به یې د داسې خوا څخه (په عذاب باندې ونیسو چې) دوی به نه پوهېږي (او فکر به یې ورته نه وي).

[۱۸۳] او (هم) دوی ته به مهلت (ټال) ورکړو، یقینًا زما پټ نیول ډېر قوي دي (څوک ترې خلاصونه شي موندلی).

---

[۱] التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۷۱

[۲] روح المعاني ج۹ ص۱۲۱؛ شرح المقاصد ج۲ ص۱۶۹

[۳] التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۸۴] ایا (دوی د لیوني نسبت کوي) او دومره فکر نه کړي چې د دوی د ملګري (نبي کریم ﷺ) پوري په هیڅ ډول لیونتوب نشته. دا نه دی مګر (د الله ﷻ د عذابه) په ښکاره توګه ډاروونکی دی.

[۱۸۵] ایا (دوی شرک کوي) او د اسمانونو او ځمکو په کامله واکداری کښې نظر نه کوي، او (نه په) هغه شي کښې (نظر کوي) چې الله ﷻ پیدا کړی دی هر شی چې وي (وړوکی وي او که غټ)، او (په دې کښې هم نظر نه کوي) چې شاید د دوی (د هلاکت) نېټه ورنژدې شوې وي. (باید چې نظر کول یې نه وی ټال کړی).

نو (چې په دغه بلیغ کلام قرآن کریم باندې ایمان نه راوړي) د ده څخه وروسته به په کومه خبره (کوم کلام) باندې دوی ایمان راوړي (د ده څخه بهتر کلام خو نشته).

[۱۸۶] (نو اصل حقیقت دا دی چې) هرڅوک چې الله ﷻ یې ګمراه کړي نو هغه ته (بیا) هېڅ لاره ښودونکی نشته.

الله ﷻ دوی (دغسې خلک) په سرکشیو کښې پرېږدي چې سرګردانه پکښې ګرځي راګرځي (او د حق خوا ته ترې نه شي وتلی).

## ارتباطونه

۱_ مونږ د [الأعراف:۵۹] آیت په ارتباطونو کښې لیکلي وه چې الله ﷻ تر [۱۸۰] آیت پوري د څو پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی د امتونو څه حال بیان کړی دی.

کله چې ذکر شوې سلسله ختمه شوه نو په دې ایتونو کښې د "آخر الزمان پیغمبر ﷺ" او د ده د امت په باره کښې ارشادات نازل شوه ترڅو مونږ د پخواني تاریخ څخه عبرت واخلو او په ارشاداتو منګولې ښخې کړو.

۲_ په وړاندینیو ایتونو کښې واضحه شوې وه چې ډېر خلک دوزخ ته پیدا کړی شوي دي، او په دې ایتونو کښې واضحه کېږي چې همدارنګه ډېر خلک جنت ته پیدا کړی شوي دي چې دا-دا صفات ولري.

۳_ هلته د هغو خلکو بیان وه چې د الله ﷻ په نومونو کښې الحاد (افراط یا تفریط) کوي او دلته یې شبهاتو ته جواب ورکول شوی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د دې څخه وروسته چې په خپل امت باندې دې د پخوانیو امتونو څه قیصې د عبرت دپاره ولوستلې او هم دې دوی ته په ډاګه کړه چې ځینې خلک د دوزخ دپاره پیدا کړی شوي دي او هم دې دوی ته د الله ﷻ په نومونو کښې ملحدین شرحه کړه، نو اوس یې لاندې نکاتو ته متوجه کړه:

۱_ مونږ ځینې خلک جنت ته پیدا کړي دي چې د فطري استعداد په مطابق په مخلوقاتو کښې د هدایت دپاره تفکر کوي او هم د سترګو او غوږونو څخه د شریعت په لاړښونه کښې کار اخلي. دوی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همیشه د حق موندلو پلو ته ځغلي، په حقه لار باندې روان دي او بالآخره د الله ﷻ په نومونو کښې اعتدال خوښوي او د الحاد څخه ځانونه ساتي، او همدغه کیفیت ته د نورو خلکو دعوت هم کوي. که څه هم د جنتیانو د ډلې څخه ځینې کسان په پخوانیو امتونو کښې هم تېر شوي دي مګر ستا د اجابت امت یې په سر کښې واقع دی او اکثریت یې د همدوی څخه تشکیل مومي.

۲_ هو! د ذکر شوي ټولګي په مقابل کښې په دې زمانه کښې هم رانده-کاږه خلک شته دي چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او د الله ﷻ په نومونو کښې د الحاد مرتکب کېږي. دغه د ځارویو ورونه باید لاندې ټکو ته متوجه شي:

الف: مونږ چې دغه کسان سمدستي نه نیسو وجه یې دا نه ده چې دوی ته کفر او الحاد عفوه کړی شوی دی بلکې وجه یې دا ده چې ترڅو د دوی جنایت ښه غټ شي او قدم په قدم د الله ﷻ عذاب ته ورورانديږ شي او بالآخره چې دوی ناڅاپه او ناخبره په عذاب باندې اخته شي، چې بیا د خلاصون هېڅ چاره مونده نه کړي.

ب: زه دوی ته مهلت ورکوم او سمدستي یې په جنایتونو باندې نه نیسم او دا ځکه چې زما پټ تدبیر او زما نیول ډېر قوي دي او زما څخه مجرمان په هېڅ وجه نجات نه شي موندلی، که بالفرض ماسره د دوی د خلاصون خطر وی نو د دوی په تعذیب به مې جلتي کړې وی.

ج: ای پیغمبره! ستا د زمانې ملحدان لکه چې د الله ﷻ په نومونو کښې الحاد کوي ستا په نومونو کښې هم د الحاد او بې انصافۍ څخه کار اخلي او د لیوني نوم درباندې ږدي. ایا دوی فکر نه کوي چې د دوی څلوېښت کلن ملګري پوري هېڅ ډول لیونتوب نشته، که بالفرض څه د لیونتوب نښې پکښې وی په دغه څلوېښت کاله عمر کښې به یې ضرور ښکاره شوې وی او دوی به پېژاندلی وی، دغه عمر خو د دوی د سترګو لاندې تېر شو، خو حقیقت دا دی چې دوی داسې زړونه نه لري چې د حقائقو درک وکړی شي. که نه نو دوی به پوه شوي وی چې دا خو بل هېڅوک نه دی مګر د الله ﷻ د عذاب څخه په څرګنده توګه ډاروونکی او نېکو کارونو ته بلونکی دی، چې دا یو کار هم د لیونیانو نه دی.

د: همدارنګه ستا د زمانې ملحدان داسې سترګې نه لري چې حقائق پرې وګوري که نه نو د الله ﷻ په توحید باندې ټول مخلوقات شاهدي وایي.

نو ایا دوی د اسمانو او ځمکو په معظمه واکدارۍ کښې نظر نه اچوي، که بالفرض پیدا کوونکي او چلوونکی یې واحد لا شریک ذات نه وی نو ایا دا نظام به دغسې چلېدلی وی لکه چې اوس روان دی او چلېږي؟ ایا دوی اقلاً په یوه وړوکي شي کښې هم فکر نه کوي چې الله ﷻ پیدا کړی دی، که بالفرض پیدا کوونکی یې واحد او لا شریک نه وی نو آیا د همدغه وړوکي څیز په پیدا کولو کښې به لانجه نه وی جوړه شوې او په نتیجه کښې به همدغه وړوکی څیز د عدم په تیاره کښې نه وی پاتې شوی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: همدارنگه دوی د غوږونو څخه هم د حقائقو په اورېدلو کښې کار نه اخلي او غوږ ورته نه ږدي، که بالفرض دوی غوږ اېښودلی نو تا خو دوی ته په وار-وار سره واضحه کړې ده چې د قیامت ورځ نژدې راروانه ده خانونه ورته چمتو کړئ، چا چې دا دنیا ودانه کړې ده همغه څوک به یې یوه ورځ د منځه وړي او قیامت به قائموي او شاید چې دا نېټه نژدې وي تیاری ورته په کار دی.

نو دا حقائق څکه واقعیت لري چې قرآن کریم بیان کړي دي، کوم چې د هغه اقدس ذات ﷻ کتاب دی چې وړاندې او بېرته ورته ټول معلوم او څرګند دي او هره خبره یې په دلائلو ثابته ده.

کله چې دوی په دې کتاب (قرآن کریم) باندې هم ایمان نه راوړي او عقیده پرې نه کوي نو دوی دې هغه کلام را وښایي کوم چې د قرآن کریم څخه بهتر په حقائقو ولاړ وي او د قوي استدلال درلودونکی وي، ترڅو دوی د قرآن کریم په عوض په همغه کلام باندې ایمان راوړي.

۳ـ ای پیغمبره! ستا د زمانې کافران څکه اوتې بوتې وايي چې الله ﷻ د جنایتونو په سبب د دوی څخه خپل نصرت او توفیق اخستی دی او ګمراه کړي یې دي، او څوک چې د الله ﷻ دپلوه ګمراه کړی شي نو هغه ته هیڅوک لاره ښوونکې نشي جوړېدلی او هیڅوک یې د ګمراهۍ څخه نشي راویستلی، نو الله ﷻ همدغسې خلک په ګمراهیو او سرکشیو کښې پرېږدي چې د مرګ د ورځې پورې پکښې سرګردانه او لا لهانده ګرځي.

## توضیحات

۱ـ دغه ډول آیت شریف د موسی ﷺ د قوم په باره کښې هم نازل شوی وه چې: ﴿ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴾ [الأعراف:۱۵۹]، او په دې مقام کښې فقط د ﴿ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ ﴾ د کلماتو په عوض ﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ ﴾ کلمات نازل شوي دي.

مفسرین کرام[۱] وايي چې دلته د همدغه امت څخه ـ چې په حقه لاره باندې روان دی ـ محمدي ﷺ امت مراد دی چې د قیامت د ورځې پورې به د همدوی څخه یوه ډله په سمه لاره باندې روانه وي او سمې لارې ته به د خلکو دعوت کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې موادو ته توجه وکړئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ»[۲] یعنې: زما د امت څخه به د همېشه دپاره یوه ډله څرګنده وي (او په حق باندې کلکه ولاړه وي) آن تر دې چې د الله ﷻ امر (قیامت) ورته ورسېږي حال دا چې دوی به څرګند (او غالب) وي.

ب: په ځینو روایتونو کښې داسې هم شته چې نبي کریم ﷺ ذکر شوی آیت شریف ولوست او بیا یې وفرمایل چې: «هذهِ لَكُمْ»[۳] دا آیت شریف ستاسو دپاره دی. یعنې دلته تاسو مراد یاست.

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۷۲؛ روح المعاني ج۹ ص۱۲۶
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۸۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۶۹؛ الدر المنثور ج۳ ص۶۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "صاحب" څه معنی؟

۲_ د "صَاحِبْ" کلمه د "صحب" څخه اشتقاقه شوې ده. صحب د ملازمت (پیوستون) معنی ورکوي، نوموړې کلمه د بل چا دپاره نه استعمالېږي مګر د هغه چا دپاره چې ملازمت او پیوستون یې ډېر وي[1].

په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ څخه په ﴿ بِصَاحِبِهِم ﴾ سره تعبیر وکړی شو ترڅو مشرکان په غوږ باندې ووهل شي چې نبي کریم ﷺ خو ستاسو سره په مکه معظمه کښې ډېر اوږد ملازمت (پیوستون) تیر کړ، حتی چې عمر یې څلوېښتو کالو ته همدا ستاسو په منځکښې ورسېد چې عقل (هوښیاري)، عفت او زړه سوی یې درته ښه معلوم دي، نو ایا دغه مبارک شخصیت ته د مجنون (لیوني) لقب ورکول څه مناسبت لري؟

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾﴾

[۱۸۷] (ای پیغمبره!) ستا څخه د قیامت د ورځې په هکله (مشرکان) پوښتنه کوي چې قیام به یې څه وخت وي؟ ورته ووایه چې یقیناً د دې ورځې (د قیام) علم زما د رب ﷻ په نزد (د قیام د وخته پورې محفوظ) دی، (حتی چې) په خپل وخت کښې یې هم نه څرګندوي (تحقق نه ورکوي) مګر همدی ﷻ (او بس).

د قیامت ورځ په اسمانونو او ځمکو کښې (د هره حیثه) درنه ده، تاسو ته به رانه شي مګر ناڅاپه (چې ستاسو په خیال کښې به هم نه وي).

دوی ستا څخه د همدې ورځې په هکله داسې پوښتنه کوي لکه چې ته په هغې کښې د تفحص والا یې (او د ورانديې څخه دې وربانديې خپل علم حاصل کړی وي).

(یو ځل بیا ورته) ووایه چې د دې علم د الله ﷻ په نزد (محفوظ) دی مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او په تا باندې یې د تفحص کوونکي ګومان کوي).

[۱۸۸] (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې زه د خپل خان دپاره (لا هم) نه د ګټې رسولو توان لرم او نه

---

[1] مفردات الراغب ص۲۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ضرر (د مخنوي وسه را سره شته)، مګر د هغه شي چې د الله ﷻ اراده وشي (او په فوق العاده توګه يې را عنايت کړي ځکه چې دا په غيبي علم پورې اړه لري) او که زه وی چې په غيبو باندې پوهېدلی نو ما به ډېرې ګټې راغونډې کړې وی او سختي (غمونه) به نه وی رارسېدلي.

زه نه یم مګر د داسې قوم دپاره ډاروونکی او زیری ورکوونکی یم چې (زما په نبوت باندې) عقیده کوي.

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې الله ﷻ فرمايلي وه چې کافران د خپلو عقلونو څخه کار نه اخلي او په خپلو معنويانو کښې سوچ او فکر نه کوي بلکې ټول فکر او ذکر يې په مادياتو پورې منحصر دی، په دې ايتونو کښې يې د يوه مثال په ضمن کښې ذکر شوی مضمون واضحه کړی دی چې د قيامت ورځې ته د تياري غم نه کوي او د قيام د وخت په پوښتنه باندې مشغول دي.

۲ـ دا ايتونه د هغې پوښتنې جواب دی چې دوی ته د ﴿ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡ ﴾ څخه راپيدا شوې وه، هغه دا چې کله زمونږ د عمر نېټه نژدې ده نو د دنيا به څومره عمر پاتې وي او د قيامت ورځ به کله قائمه شي؟

۳ـ وړاندې ايتونه په ﴿ يَعۡمَهُونَ ﴾ باندې ختم شوي وه او په دې ايتونو کښې د کفارو د عَمَهْ (سرګرداني) يو مثال ښودلی شوی دی چې په بې فائدې پوښتنو کښې اخته دي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ايتونو د شان نزول په باره کښې مفسرينو کرامو لاندې روايات ليکلي دي:

۱ـ د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې يوه ورځې يهودانو نبي کريم ﷺ مخاطب کړ چې: "مَتَى السَّاعَةُ إِنْ كُنْتَ نَبِيًّا وَنَحْنُ نَعْلَمُ مَتَى هِيَ"[۱] د قيامت ورځ به کله وي که ته په رښتيا پيغمبر يې نو (مونږ ته خبر را کړه حال دا چې) مونږ پوهېږو چې کله به وي (خو ستا څخه امتحانًا پوښتنه کوو). يهودانو د "وَنَحْنُ نَعْلَمُ مَتَى هِيَ" جمله د دروغو او لاپو شاپو دپاره زياته کړه که نه نو دوی هم پوهېده چې د قيامت په ورځ باندې د الله ﷻ څخه په غير هېڅوک علم نه لري.

۲ـ ځينې علماء کرام وايي چې ذکره شوې پوښتنه قريشو وکړه چې: "يَا مُحَمَّدُ أَسِرَّ إِلَيْنَا مَتَى السَّاعَةَ لِمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مِنَ الْقَرَابَةِ"[۲] ای محمده! مونږ ته پټ ووايه چې د قيامت ورځ به کله وي، ځکه چې زمونږ او ستا ترمنځ د نسبي قرابت اړيکه قائمه ده.

مونږ ته داسې ښکاري چې پوښتنه به د مکې خلکو کړې وي ځکه چې دا ايتونه مکي ايتونه دي. هوا څه لري نه ده چې همدغې پوښتنې ته يهودانو ورهڅولي وي او يا عين پوښتنه په خپل وخت کښې يهودو هم کړې وي، والله ﷻ اعلم.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۵۳؛ تفسير القرطبي ج۷ ص۳۳۵
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ د عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه دا هم روایت دی چې یوه ورځې مکیانو نبي کریم ﷺ ته ورانديز وکړ چې ایا ستا رب ﷻ به د نرخونو په ښکته پورته کېدلو او هم په وچکالی او پراخکالی باندې خبر درنه کړي چې ته ترې ګټه واخلې؟[۱] (د دوی مطلب د خپلو خانونو ګټه وه).

لنډه دا چې د لومړنی پوښتنې په جواب کښې لومړنی آیت نازل شو او دوهمه پوښتنه په دوهم آیت کښې جوابه شوه چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ستا د امت کوم کسان چې ستا څخه پوښتنه کوي چې قیامت به کله قائم شي، او د مقصودي پوښتنو څخه ساکت دي هغوی لاندې ټکو ته متوجه کړه:

۱ـ په یقین سره د قیامت د ورځې د راتللو نېټه یوازې زما رب ﷻ ته معلومه ده او بس، ماته بې ورباندې علم نه دی راکړی چې کله به قائمه شي، زما رب ﷻ ماته فقط همغه علوم را ښودلي دي چې انسانان ورته ضرورت لري. یا په بل عبارت: زما سر او کار د تشریعاتو سره دی او په تکویناتو کښې زه کار نه لرم او د قیامت د ورځې قیام د تکویناتو څخه دی.

۲ـ د قیامت نېټه د ټولو مخلوقاتو څخه پټه (په پرده کښې) ده، د دې ورځې څخه په خپل وخت کښې څوک حجاب نه پورته کوي مګر زما رب ﷻ او بس، نو څرنګه چې د قیامت قیام زما په رب ﷻ پورې منحصر دی همدارنګه د قیام د نېټې علم یې هم په همده ﷻ پورې اختصاص لري.

۳ـ دغه ورځ په اسمانو او ځمکو کښې ډېره درنه ورځ ده چې ټول به درې ورې شي او یو بې ساری انقلاب به پکښې صورت ونیسي، نو تاسو ته په کار دي د هغې د تاریخ د پوښتنې څخه صرف نظر شئ او د تیاري دپاره یې تاند ووهئ او د نېکو عقائدو او نېکو اعمالو په لټه کښې شئ. همدارنګه د ذکرې شوې ورځ په تاریخ باندې پوهېدل هم په اسمانونو او ځمکو کښې ډېر درونه او ګران کار دی، هېڅوک نه پوهېږي چې کله به راشي، تاسو ته په کار دي چې د دغسې درانه علم سوال ونه کړئ.

۴ـ دغه ورځ به تاسو ته نه راځي مګر ناڅاپه، نو تاسو ته لازمه ده چې په هر وخت کښې هغې ته د تیاري په تکل کښې اوسئ، نه د پوښتنو او ګوېږنو کولو په تکل کښې.

ای پیغمبره! ذکر شوي کسان ستا څخه ځکه د قیامت د قیام پوښتنه کوي چې د دوی ګومان دی چې تا به په دې باره کښې ښه تحقیق کړی وی او خپل ځان به دې ورباندې ښه پوه کړی وي، حال دا چې په دې باره کښې تا تر اوسه پورې نه پوښتنه کړې ده او نه به یې وروسته وکړې او دا ځکه چې ته پوهېږې چې دا د الله ﷻ خاصه ده، نو یو ځل بیا د خپل وخت کافرانو ته ووایه چې یقیناً د قیامت د قیام علم د الله ﷻ په نزد ساتلی شوی دی او د همده ﷻ پورې خاص دی مګر اکثره خلک نه پوهېږي او بې هوده پوښتنې کوي.

---

(۱) البحر المحیط ج ۴۰ ص ۲۴: اسباب النزول للواحدي ص ۱۵۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ ای پیغمبره! د خپلې زمانې کافرانو ته د دوهمې بې هوده پوښتنې په جواب کښې لاندې نکات وړاندې کړه:

الف: چې زه خو د دې توان نه لرم چې خپل ځان ته یا ګټه ورسوم او یا یې د ضرر څخه بېځ کړم، مګر په هغې اندازې سره چې د الله ﷻ اراده شوې وي.

د الله ﷻ اراده شوې ده چې د ده ﷻ رضا حاصله کړم او د ده د غضب څخه خپل ځان بېځ کړم نو په همدې باره کښې یې را باندې علوم هم را نازل کړي دي او د شریعت خاوند یې جوړ کړی یم چې ستاسو په شمول د قیامت د ورځې پورې ټول خلک همدغو علومو ته د عوتوم.

اما کومه ګټه او تاوان چې تاسو یې زما څخه پوښتنه کوئ ماته نه د هغوی علم راکړی شوی دی او نه زه د دغسې کارونو د تبلیغ دپاره را استولی شوی یم. یا په بل عبارت: ذکر شوي علوم غیبي علوم دي چې یوازې الله ﷻ ورباندې پوهېږي او څومره یې چې اراده وشي په همغې اندازې باندې یې خلکو ته ښودانه کوي، نه یې څوک په زور حاصلولی شي او نه د چا وسه کېږي.

ب: که بالفرض زه په عادي توګه په غیبو باندې پوهېدلی نو ما به خپل ځان ته ډېرې خوشالي حاصلې کړې وی او سختي او غمونه خو به راته هېڅکله نه وی رارسیدلې، حال دا چې ډېرې ښېګڼې زما د لاسه ووځي او غمونه هم رارسېږي.

نو تاسو ته په کار دي چې زما څخه د هغه شي غوښتنې او پوښتنې ونه کړئ چې زما په وسه کښې نه وي، بلکې د هغو شیانو معلومات راڅخه واخلئ چې د هغو د ښودانې وسه ماته راکړه شوې ده.

زه بل څوک نه یم مګر د الله ﷻ د عذابه ډارونکی او د ده ﷻ د رضا په حاصلولو باندې زېری ورکوونکی یم، نو د دغو دواړو شیانو (ډارول او بشارت) په باره کښې زما څخه معلومات واخلئ او بس. مګر دا هغه قوم کولی شي چې ایمان ولري او د روغې عقیدې خاوندان وي.

## توضیحات

۱_ مونږ د [الأنعام:۳۱] آیت لاندې د ﴿ ٱلسَّاعَةِ ﴾ د کلمې په شاوخوا کښې څه معلومات لیکلي دي _والحمدلله_ چې بیا لیکنې ته یې څه اړتیا نه ګورو، مګر دلته ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: په ﴿ مُرۡسَىٰهَا ﴾ کښې د "مُرۡسی" کلمه د میمي مصدر کلمه ده چې په معنی د "رَسَا" سره ده، "رَسَا" د ثبوت معنی ورکوي[۱] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ستا څخه پوښتنه کوي چې د قیامت د ورځې ثبوت (قیام) به کله وي؟

ب: د ﴿ لَا یُجَلِّیهَا ﴾ کلمه اصلاً د "جَلاء" څخه اخستله شوې ده او "جَلاء" کشف او لوڅولو ته ویل کېږي لکه چې د [الأعراف:۱۴۳] آیت لاندې یې شرحه تېره شوې ده. او په ﴿ لِوَقۡتِهَآ ﴾ کښې د "ل" توری

(۱) مفردات الراغب ص۲۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "في" په معنی سره دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د قیامت د ورځې د قیام تاریخ به د قیامت د ورځې پورې پټ وي او هیچا ته به ونه ښودلی شي، خو چې کله یې د قیام وخت را ورسېږي نو په خپل وخت کښې به ترې هم هېڅوک پرده پورته نه کړي مګر الله ﷻ، نو نه یې څوک په قیام علم لري او نه دې ورته څوک تمه کوي او بالآخره نه یې څوک په قیام کښې مداخله کولی شي.

ج: د ﴿ ثَقُلَتْ ﴾ کلمه د "ثِقْل" څخه اخستله شوې ده چې په مقابل کښې یې "خِفة" استعمالېږي او په معنی د سپکوالي سره دی[۱].

خو په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو لاندې تفسیرونه کړي دي[۲]:

اول: د قیامت ورځ د علم په اعتبار سره په اسمانونو او ځمکو کښې درنه ده او د قیام په تاریخ باندې یې خان پوه کول درون کار دی (د هیچا د لاسه پوره نه دی).

دوهم: د قیامت ورځ د قیام په اعتبار سره ډېره درنه ده چې اسمانونه به دړې وړې شي او غرونه به د ګرد غوندې والوزي، د همدې کبله دهمدغې ورځې د قیام څخه د اسمانونو او ځمکو اوسېدونکي مخلوقات ټول په ډار کښې دي خو افسوس یوازې په پېریانو او انسانانو کښې چې څوک د غفلت په خوب باندې ویده دي هغوی ترې نه ډارېږي.

## سوال جواب

د: که څوک وایي چې: الله ﷻ د قیامت په قیام کښې د ﴿ بَغْتَةً ﴾ کلمه نازله کړې ده او بغت خو دې ته وایي چې ناڅاپه سړی د داسې شي سره مخامخ شي چې په خیال کښې یې هم نه ګرځي[۳].

حال دا چې د قیامت د قیام دپاره خو نبي کریم ﷺ زښت ډېر علامات بیان کړي دي، په دې هکله لاندې یو حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ. يَعْنِي إِصْبَعَيْنِ»[۴] زه د قیامت د ورځې سره داسې جوړه مبعوث کړی شوی یم لکه دغه داوړه. یعنې دوه ګوتې، چې یوه منځنۍ ګوته ده او بله سبابه ده (زه د قیامت د علاماتو څخه یم قیامت ماپسې نژدې راروان دی، لکه د ګوتې د سر په اندازه ترې زه رامخکې شوی یم).

همدارنګه نور احادیث هم زښت ډېر دي چې ځینو علماوو کرامو[۵] راغونډ کړي دي او ښه په زړه پوری تحقیق یې پکښې کړی دی چې لوستل یې پوره ګټور دي.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د علاماتو د ښودلو سره-سره د قیامت د ورځې قیام ته د ناڅاپه لقب ورکول صحت لري؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۷۶
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۳۳؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۰۲
(۳) مفردات الراغب ص۵۲
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۵
(۵) تفسیر المنار ج۹ ص۴۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د قیامت ورځ په دې معنی سره ناڅاپه راتلونکې ده چې هیچاته یې په یقین سره نېټه معلومه نه ده، او علامات خو یې په قرب (نژدېوالي) باندې دلالت کوي مګر وخت خو یې نه شي ټاکلی. د ښه وضاحت دپاره د نبي کریم ﷺ یو اورېد حدیث ولولئ چې مضمون یې دا دی[1]:

اول: د قیامت ورځ به په داسې حال کښې قائمه شي چې دوه کسانو به یوه کپړه په منځکښې اچولې وي، چې یو یې خرڅه کړي او بل یې خریداري کړي، دوی دواړو به لا تاوه کړې نه وي چې قیامت به قائم شي او بیه به په خای پاتې شي.

دوهم: یو سړی به خپله اوښه ولوشي او په همدې خیال کښې به وي چې شوده وخوري نو ده به لا شوده نه وي خوړلي چې د قیام شپېلۍ به ورباندې پو کړله شي.

درېم: یو سړی به د خپلو اوبو دپاره حوض (ډنډ) جوړوي ترڅو پکښې اوبه راغونډې کړي او خپل څاروي ورباندې خړوب کړي، ده به لا دغه کار نه وي کړي چې قیامت به قائم شي.

څلورمه: یوه سړي به خپلې خولې ته لمړی پورته کړې وي خو هغه به یې لا خوړلې نه وي چې قیامت به قائم شي او لمړی به یې په خوله او یا په ګوتو کښې پاتې شي.

لنډه دا چې د قیام په وخت کښې به ترې خلک غافل وي او هرڅوک به په خپل دنیاوي کارو بار او راکړه ورکړه باندې مشغول وي، د هیچا په خیال کښې به نه ګرځي چې سات ګړی ته به دنیا ورانه شي او مخلوقات به پوپنا شي.

## "حفاوة" څه معنی؟

۲ـ د "حَفِي" کلمه د "حفاوة" څخه اخستله شوې ده، "حُفَاوَة" په ډېرو معناوو کښې استعمالېږي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: په یوه کار باندې زیات زور اچول او په الحاح (کوښښ) سره غوښتل. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُواْ ﴾ [محمد:۳۷] یعني: که الله ﷻ ستاسو څخه ستاسو مالونه وغواړي او په دې باندې زیات زور واچوي چې ضرور به یې د الله ﷻ په لاره کښې نفقه کوئ نو تاسو به بخل وکړئ او دا حکم به عملي نه کړئ، خو دا د الله ﷻ لطف دی چې د ټولو مالونو په انفاق باندې مو نه مکلف کوي.

ب: د زیاتې مهربانۍ په معنی. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴾ [مریم:۴۷] یعني: ابراهیم ؑ خپل پلار مخاطب کړ چې ډېر ژر به تاته د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړم ځکه چې یقینًا زما رب ﷻ په ما باندې په زیاته درجه کښې مهربان دی.

ج: د ښخه پرېکولو په معنی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ»[2] یعني: تاسو ږېرې پرېږدئ او برېتونه په زیاته درجه کښې پرې کړئ.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۳
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۸۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د پښو لوڅېدل (پښې ابل کېدل). نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ»[1] يعني: د قيامت د علامو څخه دا هم ده چې ته به وګورې پښې لوڅې، بربنډ، فقيران، د ګډو پوونکي خلک، چې په بنګلو کښې به يو تربله افتخار کوي. هر يو به غواړي چې په بل باندې خپلې ماڼۍ دنګې او ښائسته جوړې کړي، يا په بل عبارت: په زياته درجه کښې فقيران به په زياته درجه کښې غنيان جوړ شي.

## تبصره

۳ـ څرنګه چې د ذکرو شوو څلورو واړو کلماتو: ﴿ فَيُحْفِكُمْ ﴾، ﴿ حَفِيٌّ ﴾، «وَأَحْفُوا، الْحُفَاةَ» په معناګانو کښې (چې اصلي مصدر يې "حَفَاوَة" دی) نهائي درجه پرته ده نو داسې معلومېږي چې همدغه به د "حفاوَة" اصلي معنی وي. نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې: اى پيغمبره! ستا څخه مشرکان په دومره جديت سره د قيامت د قيام په باره کښې سوال کوي فقط لکه چې تا پکښې زيات کوښښ کړی وي او د دې نهائي وخت دې خان ته معلوم کړی وي، حال دا چې تا نه په دې هکله کوښښ کړی دی او نه تاته معلومات شته چې کله به قائم شي، او نه به په آينده کښې کوښښ وکړې.

## د دنيا ټول عمر چاته معلوم نه دی

۴ـ د همدغه آيت شريف څخه ـچې بحث پکښې روان دیـ دا خبره واضحه شوه چې د الله ﷻ څخه په غير بل هيڅوک نه پوهېږي چې د دنيا ټول عمر به څومره وي (څومره به تېر شوی وی او څومره به پاتې وي).

نو چا چې ليکلي دي چې: "د دنيا ټول عمر اوه زره کاله دی او د محمدي ﷺ امت عمر به يو نيم زرکالو ته ونه رسېږي" د دوی خبره د آيت شريف د مقتضی څخه مخالفه ده او په کوم صحيح حديث باندې هم ثابته نه ده او بالآخره د اسرائيلياتو څخه يې سرچينه نيولې ده[2].

## درې حقيقتونه

۵ـ په دې مقام کښې د ښې تشريح دپاره لاندې درې حقيقتونه محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: يو حقيقت دا دی چې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته په تشريعي امورو کښې د غيبو علم ورکړی وه چې د همدې غټه مجموعه قرآن کريم دی، د قرآن کريم د نزول څخه وړاندې نبي کريم ﷺ د قرآني غيبي علومو څخه ناخبره وه.

مشرکانو دا عقيده نه درلوده چې نبي کريم ﷺ د الله ﷻ پيغمبر دی او په تشريعي علومو کښې ورباندې وحي نازلېږي د همدې کبله دوی په دې باره کښې ترې پوښتنه هم نه کوله. مګر نبي کريم ﷺ

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۸
(۲) تفسير المراغي ج۹ ص۱۳۱؛ تفسير المنار ج۹ ص۴۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به دعوت ورکاوه او په همدې باندې مامور شوي وه. الله ﷻ فرمايي: ﴿ قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ﴾ [الأنعام: ۱۵۱] يعنې: ای پيغمبره! خلکو ته ووايه چې راشئ ترڅو په تاسو باندې هغه (غيبي شيان) ولولم چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې حرام کړي دي. او داسې نور.

ب: بل حقيقيت دا دی چې د تشريعي امورو څخه په غير په نورو دنياوي کارونو کښې (چې په عادي اسبابو باندې الله ﷻ جاري کړي دي) نبي کريم ﷺ ته هم د نورو انسانانو په څېر وسه او طاقت ورکړی شوی وه او د وخت مشرکانورباندې ښه پوهېده.

نو په دې هکله يې هم د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه نه کوله چې ته خپل ځان ته د ګټې رسولو او د ضرر څخه د بچ کولو وسه او توان لرې او که نه؟

ج: دريم حقيقت دا دی چې په همدغو غير تشريعي امورو کښې نبي کريم ﷺ ته په فوق العاده توګه د اجراء کولو توان نه وه ورکړی شوی، مګر کله-کله به دغه فوق العاده توب د ده ﷺ په برخه کيده.

مشرکانو داسې عقيده درلوده چې هر پيغمبر بايد د دنيا غير تشريعي کارونه هم په غير عادي توګه وکړي، د همدې کبله به يې نبي کريم ﷺ ته غوښتنې وړاندې کولې چې راتلونکی کال به څنګه وي، پراخي به پکښې وي او بارانونه به وشي او که نه؟.

د فلاني شي په تجارت کښې به ګټه وي او که تاوان؟

ايا ته کولی شې چې د مکې معظمې وچه بيديا په باغونو او ويالو باندې تبديله کړې؟

او يا ستا د اقتصاد دپاره دا ښه نه وه چې د صفا غونډۍ درته سره زر جوړ شوي وی؟

عجيبه ده چې خپل ځان ته د پيغمبر لقب هم ورکوې حال دا چې زمونږ غوندې په بازارونو کښې په راکړه ورکړه پسې ګرځې راګرځې.

نو د دغه ډول غوښتنو د جوابولو دپاره الله ﷻ خپل پيغمبر ته په آيت شريف کښې ذکر شوی جواب وروښود چې ﴿ قُل لَّآ أَمْلِكُ ...﴾ تر آخره پورې.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: زه خپل ځان ته د ګټې او تاوان په باره کښې غير عادي توان نه لرم چې د راتلونکي کال په هکله معلومات ولرم او يا په تجارتونو کښې ګټې وټې په ګوته کړم چې په دې کښې ګټه ده او په هغه کښې تاوان. ځکه چې دا کار زما وظيفه نه ده او زه د دغسې کارونو کولو او د دغسې علومو د ښودلو دپاره نه يم استولی شوی، دغه بې ځايه غوښتنې راڅخه مه کوئ.

هو! دا بېله خبره ده چې د الله ﷻ اراده وشي او په ما باندې کوم خاص عنايت وکړي او په غير عادي توګه راته کوم کار اجراء کړي نو دا خاص عنايت د دې معنی نه ورکوي چې هر کار به زه په فوق العاده توګه اجراء کوم او که نه نو زه به پيغمبر نه يم، العياذ بالله.

او بيا الله ﷻ خپل پيغمبر ته د ذکر شوي جواب د تائيد دپاره دا جمله وروښودله چې: ﴿ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ ...﴾ تر آخره پورې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې: ای مشرکانو! که بالفرض ما په غیر تشریعي کارونو کښې ستاسو څخه څه فوق العاده نوب درلودی، لکه چې تاسو را باندې خیال کوئ، نو زما څخه به هېڅ ګټه نه وي فوته شوې او ډېرې ګټې او خوشالۍ به مې ځان ته راغونډې کړې وی او غمونه خو به راته بالکل نه رسېدلی، حال دا چې زما څخه هم د ګټو کارونه فوت شوي دي او هم راته غمونه رارسیدلي دي.

## د وضاحت په خاطر څو مثالونه

۶_ د ښه وضاحت دپاره د نبي کریم ﷺ د حالاتو لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: د مؤمنانو د مور (بي بي عایشې رضي الله عنها) پورې منافقانو بهتان وتاړه (چې د افک د پېښې په نامه یادېږي) او نبي کریم ﷺ ډېرې ورځې په غم کښې تېرې کړې او پخپله باندې یې نه شو کولی چې هغې ته برائت ورکړي او خپل ځان د غمه خلاص کړي. ترڅو چې الله ﷻ ورباندې غیبي علم عنایت کړ او برائت یې په قرآن کریم کښې نازل شو. مفصله قیصه یې د احادیثو په کتابونو کښې ذکره ده[۱].

ب: که نبي کریم ﷺ پوهېدلی چې منافقانو ته اجازه ورکول د الله ﷻ خوښ نه دي نو د تبوک په غزا کښې به یې منافقانو ته د نه تللو اجازه نه وی ورکړې، چې پوره بیان یې په [التوبة:۴۳] آیت کښې راروان دی.

ج: که نبي کریم ﷺ پوهېدلی چې د عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه ړانده صحابي په باره کښې به الله ﷻ څو ایتونه په عتاب امېزه لهجه باندې نازلوي نو د هغه د ملاقات د کبله به یې مبارکه تنده نه وی تروه شوې، چې بیان یې د "عَبَسَ" په سورت کښې راتلونکی دی.

د: نبي کریم ﷺ چې کله حجت الوداع ته حرکت وکړ نو هدیه یې هم د ځانه سره بوتله خو وروسته د هدې په بیولو باندې پښېمانه شو او ویې فرمایل چې: «لَوْ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا أَهدَيْتُ»[۲] که ما د خپل کار څخه هغه څه وړاندې درک کړي وی چې وروسته مې درک کړه نو هدیه به مې د ځانه سره نه وی راوستلې.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې هغه څه شی وه کوم چې نبي کریم ﷺ ورباندې په حجت الوداع کښې وروسته پوه شو؟

مونږ وایو چې: هغه دا وه چې په صحابه وو کرامو رضي الله عنهم باندې ډېره درنه تمامه شوه چې د عمرې په انمام سره خپل ځانونه حلال کړي حال دا چې نبي کریم ﷺ خپل ځان نه دی حلال کړی او په احرام کښې پاتې دی. یا په بل عبارت: په هغوی باندې د نبي کریم ﷺ څخه مخالفت ډېر درونډ تمام شو او

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۲۴، ۲۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کریم ﷺ څکه خپل مبارک څان د احرام څخه نه شو خلاصولی چې هدیه یې بېولې وه، او هرڅوک چې د خپله څانه سره هدیه بوزي نو د هدیي د ذبحه کولو څخه وړاندې خپل احرام نه شي ختمولی که څه هم د تمتع د حج نیت یې کړی وي.

﴿ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِۦ ۖ فَلَمَّآ أَثْقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾ أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ ﴾

[۱۸۹] (ای انسانانو!) الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د یوه نفس (ادم ﷺ) څخه پیدا کړي یاست او د همدې یوه نفس څخه یې د هغه جوړه (بي بي حواء رضي الله عنها) هم د دې دپاره ګرځولې (پیدا کړې) ده چې دې ته میلان وکړي (او ورسره ارام شي او د جنسي ارتباط دپاره زمینه برابره شي).

نو (ای انسانانو!) کله چې (ستاسو) یوه کس (نارینه) خپله جوړه پټه کړه (جنسي ارتباط یې ورسره ونیوه) نو هغه په خفیف بار سره بارداره (امیدواره) شوه نو په همدغه بار سره یې تلل وکړه (په لاشعوري توګه یې د څانه سره وېووړ). نو کله چې درنه شوه (په بار باندې پوه شوه او خاوند یې هم ورباندې خبر شو نو) دواړو خپل رب الله ﷻ ته سوال وکړ چې: (ای زمونږ ربه!) که ته مونږ ته صالح بچوړی راکړې (چې ظاهراً او باطنًا صالح وي) نو ضرور هرومرو به مونږ د شکر کوونکو څخه جوړ شو (او ستا شکر به وکړو).

[۱۹۰] نو کله چې الله ﷻ دوی دواړو ته صالح بچوړی ورکړ (لکه څنګه یې چې غوښتی وه) نو دواړو الله ﷻ لره په هغه شي (بچوړي) کښې شریکان وګرځول (ودرول) کوم چې دوی دواړو ته الله ﷻ ورکړی وه (او خپل عهد یې په ناشکرۍ سره مات کړ). نو الله ﷻ د هغه شي څخه پورته دی چې دوی (مشرکان) یې ورسره شریکوي.

[۱۹۱] ایا دوی (د الله ﷻ سره) هغه شیان شریکوي چې هغوی هیڅ شی نه شي پیدا کولی حال دا چې هغوی په خپله پیدا کول کېږي (خلق ته اړ دي).

[۱۹۲] او (هم) هغوی د دوی (مشرکانو) دپاره د مدد (نصرت) وسه نه لري او نه د خپلو څانو سره څه کومک کولی شي.

## ارتباط

په وړاندینیو ایتونو کښې الله ﷻ د مشرکانو د سادګۍ او بې عقلۍ یوه مثال ته اشاره کړې وه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


هوده (بې کټې) پوښتنې او غوښتنې کوي، په دې ایتونو کښې د هغوی د بې عقلۍ یوه بل بې هم اشاره شوې ده چې دوی ته نعمتونه الله ﷻ ورکوي خو دوی یې غیرالله (بوتانو) ته نسبتوي او د الله ﷻ ناشکري کوي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! مشرکانو ته د دوی د بې عقلۍ یو بل مثال هم قرائت کړه ترڅو دوی د عقل څخه کار واخلي او د څارویو د قطاره څانونه راوباسي، هغه دا چې:

۱ـ د مشرکانو په شمول په ټولو انسانانو باندې الله ﷻ احسان کړی د چې د دوی پلار (ادم ؑ) یې د خاورو څخه خلک کړ، که نه نو په دنیا کښې به یو انسان هم د موجودیت خاوند شوی نه وی؛ ایا پلار ته وجود ورکول اولاد ته وجود ورکول نه دي؟

۲ـ بیا همدغه اقدس ذات ﷻ ادم ؑ ته د همده د بدن څخه د ده جوړه (بي بي حوآء رضي الله عنها) پیدا کړه ترڅو د ده زړه ورسره ارام ونیسي او د انفرادي وحشتناکه ژوندڅخه بچ شي، که بالفرض د ده جوړه د ده د جنس څخه نه وی نو نه به یې زړه ارام نیولی وی، نه به یې د خوشالۍ ژوند په نصیب شوی وی او بالآخره نه به جنسي ارتباط صورت نیولی وی.

نو د همدې کبله (چې د ادم ؑ مبارک زړه د بي بي حوآء رضي الله عنها سره ارام ونیوه او محبت یې یو تربله په برخه شو) دوی دواړه د ټولو انسانانو د پیدا کېدلو اسباب جوړ شوه. که نه نو د همدوی دواړو څخه په غیر به هیڅوک نه وی پیدا شوي او د توالد او تناسل سلسله به نه وی جاري شوې.

۳ـ بیا الله ﷻ د ادم ؑ او د بي بي حواء رضي الله عنها مینه او محبت د دوی په اولاده کښې هم په وراثت سره باقي پرېښود او د قیامت د ورځې پورې د همدغه محبتي ارتباط د امله د ټولو انسانانو خوږ ژوند په نصیب شو او د توالد او تناسل سلسله جاري پاتې شوه او پاتې به وي.

مګر د ذکرو شوو ټولو نعمتونو د ورکړې سره-سره ناشکره انسان د خپل رب ﷻ په توحید باندې معتقد نه شو او د بوت پرستۍ څخه یې لاس وانخست.

۴ـ نو کله چې د ذکر شوې بنیادي محبت په بنا دوه انسانان (مېړه او ماندینه) یو تربله جنسي ارتباط ونیسي نو ماندینه خفیف حمل واخلي او بارداره وګرځي، خو د خپل دغه خفیف حمل (بار) سره ګرځي راګرځي او په خیال کښې یې هم نه وي چې دا به لا بارداره شوې وي او هغه شی به دې نه ورکړی شوی وي کوم چې دوی دواړو د قال په ژبه نه بلکې د حال په ژبه باندې غوښتی وه او د الله ﷻ په نزد قبول شوی دی.

۵ـ هو کله چې ذکره شوې بارداره ماندینه درنه شي او خپل ځان باندې پوه شي چې امیدواره شوې ده نو په دغه وخت کښې دواړه (مېړه او ماندینه) الله ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کوي او د قال په ژبه غواړي چې: ای ربه! مونږ ته صالح او روغ رمټ بچی راپه نصیب کړې، ای زمونږ مهربانه ربه! که دا کار دې وکړ نو مونږ به ضرور د شکر کوونکو څخه جوړ شو، زمونږ عهد دی چې یوازې همدا

ستا شکریه به کوو او هیڅکله به درسره شریک نه دروو.

٦ـ خو کله چې الله ﷻ د دوی دواړو قولي سوال هم قبول کړي لکه څنګه یې چې د دواړو حالي سوال قبول کړی وه او صالح (روغ رمټ) بچوړی وروبښي، سمدستي دواړه خپل عهد ماتوي او د الله ﷻ سره شریک دروي، همدغه صالح بچوړي ته د کفر تربیه ورکوي او په کوم ډول کفر باندې چې دوی دواړه په خپله باندې اخته وي همغه ډول کفر ته یې وربلي، نو په نتیجه کښې یهودي یا نصراني او بالآخره مجوسي او یا بل ډول کافر ترې جوړ کړي او خپل ورکړی شوی عهد د پښو لاندې کړي.

٧ـ دا خو د بې عقله انسانانو دپاره یو مثال وه چې تاسو ته ولوستلی شو ترڅو پکښې سوچ وکړئ او پوه شئ چې د الله ﷻ سره شریک درول څومره لویه بې عقلي او څومره لویه سادګي ده.

٨ـ نو الله ﷻ (اقدس ذات) د هر ډول شرک څخه پاک او منزه دی او د ده ﷻ ربوبیت د هغو ټولو شرکیاتو څخه اوچت دی چې مشرکان ورپورې دروغ تړي.

٩ـ د الله ﷻ سره شریک درول به ولې سادګي او بې عقلي نه وي چې د ده ﷻ څخه په غیر نور ټول شیان د الله ﷻ مخلوقات دي او د خپل ځان دپاره خلقت ته احتیاج دي.

ایا دوی د الله ﷻ سره په عبادت کښې هغه شیان شریکوي کوم چې هیڅ څیز نه شي پیدا کولی حال دا چې په خپله دوی ته د الله ﷻ د پلوه خلقت ورکړی شوی دی.

١٠ـ همدارنګه دغه باطل معبودان نه خپلو عبادت کوونکو ته د نصرت او کومک وسه لري چې یا چا ته اولاد ورکړي او یا د مصیبت څخه نجات وروبښي او نه د خپلو ځانونو سره څه کومک کولی شي چې ځانونه د الله ﷻ د عذاب او نېونې څخه بچ وساتي.

## توضیحات

١ـ مونږ د ذکرو شوو ایتونو په تفسیر کښې لاندې نکات مراعات کړي دي:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ﴾ [النساء: ١] یعنې: ای خلکو! د خپل هغه رب ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو یې د یو نفس (ادم ﷺ) څخه پیدا کړي یاست او د همدغه یوه نفس څخه یې د ده جوړه (بي بي حواء رضي الله عنها) هم پیدا کړې ده او بیا یې د دغو دواړو څخه ډېر نارینه او ډېرې زنانه په ځمکه کښې خواره کړي دي. نو تاسو همدغه احسان په نظر کښې ونیسئ؛ مه په کونډو رنډو باندې ظلم کوئ او مه د یتیمانو مالونه خورئ.

مونږ ته داسې برېښي چې همدغه مضمون په دې مقام کښې یو ځل بیا په بل اسلوب سره منعکس شوی دی چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ﴾ یعنې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې (ای خلکو!) د یوه نفس (ادم ﷺ) څخه پیدا کړي یاست او د همدغه یوه نفس څخه یې د ده جوړه (بي بي حواء رضي الله عنها) هم جوړه کړې ده ترڅو یې د همدغې خپلې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړې سره زړه ارام مونده کړي او جنسي ارتباط متحقق شي. چې په نتيجه کښې توله دنيا په نارينه ود او زنانه وو باندې ډکه شي او په هره خوا کښې خواره واره شي (لکه چې همداسې وشوه).
نو اې خلکو! تاسو همدغه احسان په نظر کښې ونيسئ او د الله ﷻ سره شريکان مه دروئ او واحد لاشريک يې وګڼئ، مګر افسوس چې تاسو په دغه لوی احسان باندې هم سترګې پټوئ او ناشکريه يې نه کوئ او بالآخره خپل اولادونه هم د خپلو خانونو غوندې کفر ته وباسئ.
ب: د ﴿ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا ﴾ دواړه ضمائر مونږ ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها ته نه دي راجع کړي، بلکې مستتر ضمير مو يوه نارينه او بارز ضمير مو يوې زنانه ته راجع کړی دی چې په دواړو باندې په ﴿ خَلَقَكُم ﴾ کښې د "كُم" ضمير مشتمل دی.
ج: همدارنګه مو د مثنى ضمائر هم يوه نارينه او يوې زنانه ته راجع کړي دي چې د "كُم" ضمير پرې اشتمال لري. نو بناً په دې، په ﴿ جَعَلَا لَهُ ﴾ کښې د مثنى ضمير هم همدغو دواړو ته راجع دی او ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها ته راجع نه دی لکه ځينو مفسرينو کرامو چې راجع کړی دی.
د: د ﴿ صَٰلِحًا ﴾ د کلمې دپاره مو هغه معنى خوښه کړې ده کومه چې شيخ المفسرين خوښه کړې ده، هغه دا چې دلته د صلاح څخه عامه صلاح مراده ده[1]. يعنې څوک چې روغ رمټ وي، برابره خبره ده چې د بدني اندامونو د حيثه وي يا د عقل او تدبير د حيثه وي او هم يا د دين او استعداد د حيثه.
ه: بالآخره د شرک في الاولاد دپاره مو هغه تفسير غوره کړی دی کوم چې د لاندې حديث شريف څخه څرګند يږي:
نبي کريم ﷺ فرمائلي دي چې: «مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلاَّ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ»[2] يعنې: هيڅ يو مولود (زيږولی شوی) نه دی مګر هغه په فطرت (اسلامي عقيدې) باندې زيږيږي، نو پلار او مور يې (بيا) يهودي جوړ کړي يا نصراني او (بالآخره) يا مجوسي (او يا يې په بله کفري عقيده باندې روږدی کړي)، لکه چې يو څاروی زيږولی کيږي چې جوړ څاروی وي، ايا تاسو په هغه کښې څه پوزغوڅي ګورئ (مګر خاوندان يې هم پوزې غوڅې کړي او هم يې بوچې کړي او يا يې غوږ سوری).
مونږ په دې مقام کښې په ذکر شوي تفسير باندې د لاندې وجوهو د کبله کلک ياستو:
اول: دا تفسير د سياق او سباق (وړاندې ورسته) ايتونو سره ښه سمون خوري چې په کافرانو (مشرکانو) باندې د شرک په رد کولو کښې نازل شوی دی.
دوهم: په دې کښې غير متبادر تکې نشته او د عربيت د قواعدو سره موافق دی.

---

(۱) تفسير الطبري ج۶ ص۱۴۵
(۲) صحيح البخاري ج۱ص۱۸۱

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



درېم: ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها پکښې د هرډول شريک د نسبت څخه ساتلي شوي دي، د بهترۍ وجهې نورې هم لري.

## په لوی لاس خپل ځان په اشکال کښې اچول

۲_ په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په لوی لاس خپل ځانونه په اشکال کښې اچولي دي ځکه چې:

الف: په ﴿ تَغَشَّىٰهَا ﴾ کښې يې مستتر ضمير ادم ﷺ ته راجع کړی دی او په بارز ضمير سره يې بي بي حواء رضي الله عنها مراده کړې ده.

ب: همدارنګه دوی د مثنى ټول ضميرونه د ﴿ جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ ﴾ په شمول همدغو دواړو (زمونږ پلار او مور) ته راجع کړي دي، چې د معنى حاصل يې بايد داسې راووزي چې: زمونږ بابا او زمونږ ابې دواړه د الله ﷻ سره په شريکَ باندې قائل شوه، العياذ بالله.

نو ځکه دوی دغه آيت ته د مشکل المعنى آيت لقب ورکړی دی[۱]. بيا ذکرو شوو مفسرينو کرامو د ذکر شوي اشکال څخه د وتلو په خاطر زښت ډېر جوابونه کړي دي، لاندې ځومثالونه يې ولولئ:

اول: دلته عبارت د مضاف په حذف سره دی[۲] يعني: "جَعَلَ أولادُهُمَا شُرَكَاءَ" د دوی دواړو اولادونو د الله ﷻ دپاره شريکان ونيوه. دا جواب غير متبادر دی.

دوهم: دلته د شرک څخه په تسميه (نامه اېښودلو) کښې شرک مطلب دی[۳]، دا ډول شرک خو کفر نه دی، که خلاف الاولى (غير بهتر) وی نو څه باک يې نشته ځکه چې په عقيده باندې څه اثر نه غورزوي ځوک پرې د اسلام څخه کفر ته نه اوځي بلکې اثر يې په شکر باندې پرېوزي او د شکر د کمبود معنى ورکوي.

د دې ډول شرک نظير رياکاري ده چې د خفي شرک (پټ شرک) لقب ورکړی شوی دی مګر ځوک پرې کفر ته نه اوځي[۴].

دوی وايي چې د بابا او ابې شرک دا وه چې په خپل يو زوی باندې يې د "عبدالحارث" نوم کېښود چې حارث د شيطان نوم دی، ته به وايې چې "عبدالجان" يې ورباندې اېښی دی.

دا جواب هم زړه ته نه لوېږي ځکه چې يوه معصوم (پيغمبر) ته د شرک نسبت کول که څه هم په نوم اېښودلو کښې شرک وي غير مناسب کار دی[۵].

## سوال جواب

۳_ که ځوک وايي چې همدغه مضمون د نبي کريم ﷺ څخه روايت شوی دی چې: «لَمَّا حَمَلَتْ حَوَّاءُ

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۳۹

(۲) تفسير ابي السعود ج۳ ص۳۰۴

(۳) تفسير الطبري ج۶ ص۱۴۸

(۴) تفسير المنار ج۹ ص۵۱۹

(۵) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طاف بها إبليس وكان لا يعيش لها ولد فقال سميه عبد الحارث فسمته عبد الحارث فعاش» (۱) كله چې حواء رضي الله عنها اميدواره شوه نو ابليس ورباندې دوره ووهله ورغی (حال دا چې د هغې اولادونه مړه كېده)، نو ابليس هغې ته امر وكړ چې د عبدالحارث نوم ورباندې كېږده (نو اولاد به دې ژوندی پاتې شي) نو هغې ورباندې همدغه (د عبد الحارث) نوم كېښود نو اولاد يې ژوندی پاتې شو (ژر وفات نه شو).

مونږ وايو چې ذكر شوی حديث د لاندې وجوهو د كبله د آيت شريف تفسير نه شي واقع كيدلی:

الف: دا حديث معلول دی او د اعتبار وړ نه دی، بلكې دا د اسرائيلياتو څخه دی او مونږ ته نبي كريم ﷺ هدايت كړی دی چې د اهل الكتابو په دغسې اخباراتو باندې څه باور ونه كړو، يا يې لا بالكل رد كړو او يا پكښې اقلاً سكوت وكړو(۲).

ب: په دې باندې علاوه، نبي كريم ﷺ فرمائلي دي چې: «لا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ»(۳) يعنې مؤمن د يوه سوري څخه دوه ځله نه چيچلی كېږي، بلكې د اول ځل څخه عبرت اخلي او دوهم ځل ورباندې اعتماد نه كوي. نو ايا ادم ﷺ او حواء رضي الله عنها د يوه سوري څخه دوه ځلې وچيچلي شوه او د ابليس په خبره باندې يې دوهم ځل بيا اعتماد وكړ؟

كه څوك غواړي چې د ذكر شوي مصنوعي اشكال د پورته كولو اوږده جوابونه او په دې باره كښې اوږد بحث ولولي نو ځينو اوږدو كتابونو ته دې مراجعه وكړي(۴).

## حَمل او حِمل څه فرق لري؟

«حَمْل» ـ لكه «صَبْر» ـ هغه بار ته ويل كېږي چې په ستر گو نه ښكاريږي، لكه بچی په گېډه كښې او د باران اوبه په وريځ كښې.

او «حِمْل» ـ لكه «ثِقْل» ـ د هغه بار نوم دی كوم چې په ستر گو ښكاريږي لكه شا او يا په سر باندې چې چا بار اينښی وی.

نو د ونې مېوې ته مجازاً د «حَمْل» لقب وركول كېږي، ته به وايې چې ونه مور ده او مېوه يې بچی دی(۵).

﴿ وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ۚ سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ
صَامِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ ۖ فَادْعُوهُمْ
فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا ۖ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۸
(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۲۷۵
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۰۵
(۴) روح المعاني ج۹ ص۱۳۹؛ التفسير الكبير ج۱۵ ص۸۶
(۵) مفردات الراغب ص۱۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ ءَاذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ٱدْعُوا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ
كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِـِّۧىَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْكِتَـٰبَ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾
وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾
وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَسْمَعُوا وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿١٩٨﴾

[۱۹۳] او که تاسو دوی (بوتان) هدایت ته دعوت کړئ (وبلئ نو) ستاسو پېروي به ونه کړي. په دوی باندې یو برابر ده چې تاسو یې رابلئ او که تاسو چپ پاتې کېدونکي یاست.

[۱۹۴] یقیناً هغه کسان چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (عبادت) کوئ (هغوی) ستاسو غوندې بندګان (مخلوقات) دي. نو تاسو یې راوبلئ نو دوی دې ستاسو اجابت وکړي که تاسو رښتني یاست.

[۱۹۵] ایا دوی (بوتانو) لره پښې دي چې تلل پرې کولی شي؟ او یا دوی لره لاسونه دي چې نیول پرې کولی شي؟ او (بالآخره) ایا دوی لره سترګې دي چې لیدل پرې کولی شي؟ او یا دوی لره غوږونه دي چې اورېدل پرې کولی شي؟

(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې خپل شریکان (معبودان) مو راوبلئ بیا زما دپاره پټ تدبیر جوړ کړئ نو انتظار راته مه کوئ (هلئ ژر شئ).

[۱۹۶] یقیناً زما کارساز هغه الله ﷻ دی چې کتاب یې (په ما باندې) نازل کړی دی او همدی ﷻ د (ټولو) صالحانو متولي (د کارونو جوړونکی) دی.

[۱۹۷] او هغه کسان چې تاسو یې د ده ﷻ څخه په غیر بلنه (عبادت) کوئ (هغوی) ستاسو د کومک وسه نه لري او نه د خپلو ځانونو سره کومک کولی شي.

[۱۹۸] او که تاسو دوی هدایت ته دعوت کړئ نو (ستاسو دعوت) به وانه وري. او (زه ستاسو هر یوه ته وایم چې) ته خپل بوتان ګورې چې تاته (په مصنوعي سترګو) نظر کوي خو لیدل (پرې) نه شي کولی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او وروستنی نژدې آیت پکښې په ډېره ښه وجه تفسیر شوی دی.

یعنې: ای مشرکانو! تاسو خو د خپلو معبودانو څخه بهتر یاست نو تاسو ته څه مناسب دي چې هغوته مو د عبادت سرونه ټیټ کړي دي تاسو خو لاندې نکاتو ته متوجه شئ:

۱ـ په تاسو کښې د دعوت صلاحیت شته او په هغوی کښې نشته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ که بالفرض تاسو هغوی هدایت ته دعوت کړئ او سمې لارې ته یې راوبلئ؛ نو هغوی به ستاسو دعوت قبول نه کړي او چپ به پاتې شي، نه به درته هو ووايي او نه نه او نه پکښې د "هو" يا "نه" ویلو توان شته.

مګر تاسو ته هغوی د هېڅ شي دعوت نه دی درکړی او نه يې درکوي خو تاسو يې د خپلو ځانونو دپاره هدایت کوونکي ګڼئ او د هادیانو لقب ورکوئ.

۳_ نو یقیني خبره همدا ده د چا چې تاسو د الله ﷻ څخه پرته بلنه کوئ هغوی په غیر اختیاري توګه ستاسو غوندې د الله ﷻ بندګان دي او د اوامرو اطاعت يې کوي. اما په اختیاري امورو کښې تاسو د هغوی څخه بهتر یاست چې د "هو" او د "نه" ویلو اختیار درلودونکي یاست، خو دوی هېڅ اختیار نه لري، که نه تاسو ورباندې غږ وکړئ چې آیا د "هو" یا "نه" جواب ورکولی شي؟.

۴_ ای مشرکانو! که څه هم تاسو خپلو معبودانو (بوتانو) ته پښې او لاسونه او هم سترګې او غوږونه جوړ کړي دي مګر ستاسو څخه پوښتنه کوو چې:

الف: ایا هغوی داسې پښې لري چې مزل ورباندې وکړي؟

ب: ایا داسې لاسونه لري چې څه شی ورباندې ونیسي؟

ج: ایا داسې سترګې لري چې څه شی ورباندې وګوري؟

د: ایا داسې غوږونه لري چې څه شی ورباندې واوري؟

پوره واضحه ده چې په ذکرو شوو ټولو پوښتنو کښې جواب منفي دی، نو تاسو د خپلو بوتانو څخه بهتر یاست چې په پښو مزل کولی شئ او په غوږونو اورېدل کولی شئ.

ستاسو بوتان تاسو ته احتیاج دي چې اندامونه ورجوړ کړئ، نو ایا دا سادګي نه ده چې خپلو محتاجانو ته مو په عبادت باندې سرونه ټیټ کړي دي.

نو ای مشرکانو! د بوتانو څخه مه ډارېږئ بلکې د الله ﷻ څخه وډار شئ چې د هر شي واک او اختیار ورسره دی.

۵_ نو ای پیغمبره! مشرکان لاندې حقائقو ته متوجه کړه او ورته ووايه چې:

الف: ما حقیقت بیان کړ چې تاسو د خپلو معبودانو څخه بهتر یاست نو که دا حقیقت تاسو ته توهین ښکاري او ما ډاروئ چې بوتان به درته څه ضرر ورسوي، نو هلئ ژرشئ خپل معبودان مو ماته د ضرر رسولو دپاره دعوت کړئ او بیا تاسو ټول په همدې هکله ښه پوخ تدبیر ونیسئ او ماته ضرر راورسوئ، انتظار مه کوئ.

ب: یقیناً زما کار ساز او د ټولو امورو متولي هغه الله ﷻ دی چې په ما باندې يې د دې دپاره قرآن کریم را نازل کړی دی چې ټولې دنیا ته يې ورسوم. زما په همدغه اقدس ذات ﷻ توکل او اعتماد دی، او همدی ﷻ زما په شمول د ټولو صالحانو کار ساز او متولي دی؛ نو تاسو نه ماته ضرر رسولی شئ او نه زما پیروانو ته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: او برسېره په دې، څوک چې تاسو ته متصرفين ښکاري او د الله ﷻ څخه په غير يې عبادت کوئ هغوی نه تاسو ته د نصرت وسه لري او نه خپلو خانونو ته کومک ورکولی شي، نو زه به د هغوی څخه څنګه وډار شم.

د: ستاسو باطل معبودان خو جمادات دي، که بالفرض تاسو يې هدايت ته راوبلئ نو ستاسو خبره به وانه وري، نو که ماته د ضرر رسولو دپاره يې دعوت کړئ هغه به څه واوري؟

هـ: بالآخره زه ستاسو هر يو نفر ته په انفرادي توګه خطاب کوم چې ته خو خپل بوتان په سترګو ګورې چې تاته يې رنې (مصنوعي) سترګې نيولي دي حال دا چې څه شی ليدلی نه شي، نو که زه ونه وايم ايا تاسو همدا حقيقت په خپله نشئ درک کولی؟

نو که بالفرض زه د حقيقت د بيانولو څخه ساکت شم ايا ذکر شوی حقيقت بدلون مومي؟

## توضيحات

۱ـ لکه څنګه چې مشرکانو نبي کريم ﷺ په بوتانو باندې ډاراوه چې د بوتانو توهين مه کوه که نه نو په کوم مرض به دې اخته کړي او يا به درڅخه ليونی جوړ کړي، همدې خبرې ته ورته خبره هود ﷺ ته هم خپل مشرک قوم کړې وه، الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍ ﴾ [هود:۵۴] يعنې: مونږ بله خبره نه کوو (مونږ ته بل څه حقيقت نه ښکاري) مګر دا چې زمونږ ځينو معبودانو تاته څه ضرر دررسولی دی (ځکه په خپله خبره باندې کلک يې او اوتې بوتې وايې)، العياذ بالله.

## يوه عجيبه قيصه

۲ـ الله ﷻ په دې مقام کښې مشرکانو ته د دوی د بوتانو ناتواني په مختلفو اساليبو سره بيانه کړه ترڅو دوی پوه شي چې بوتان د جماداتو څخه په غير نور څه نه دي، نه خپلو پيروانو ته څه ګټه رسولی شي او نه ترې څه ضرر په څنګ کولی شي، شايد چې همدا پوهه يې د ايمان د راوړلو سبب جوړه شي، لکه څنګه چې د عمرو بن الجموح ﷺ پوهه د ده د مسلمانېدلو سبب شوه، د نوموړي د قيصې مهم ټکي[۱] لاندې ولولئ:

الف: نبي کريم هجرت نه وه کړی خو د مديني منورې د خلکو د اسلام سره د بيعتونو په وسيله ارتباط پيدا شوی وه. دغو بيعتونو يو په بل پسې د منی په "عقبه" نومي ځای کښې صورت نيولی وه چې د سيرت په کتابونو کښې مفصل ذکر دي او د عقبې د بيعتونو په نامه يادېږي.

ب: د همدې کبله هلته (په مدينه منوره کښې) ډېر ځوانان په اسلام باندې مشرف شوي وه چې د همدې جملې څخه د عمرو بن الجموح ﷺ زوی هم وه، چې معاذ بن عمرو ﷺ نومېده، او په عقبه کښې يې د نبي کريم ﷺ سره بيعت کړی وه.

---

(۱) سيرت ابن هشام ج۲ ص۶۱

Scanned by CamScanner

ج: عمرو بن الجموح ﷺ په خپل کور کښې خاص د خپل ځان دپاره د لرګي څخه يو بوت جوړ کړی وه او د "منات" نوم يې ورباندې ايښی وه، چې همده ته به يې سجده کوله او په عبادت باندې به يې بوخت وه.

د: ذکر شوی معاذ ﷺ ــ د خپلو مسلمانانو ملګرو سره ــ يوه شپه منات ته ورغی او د خپل پلار معبود يې د خپله ځايه يوه مردار ناولې ځای (ډېران) ته نقل کړ او هلته يې په پليتی کښې سرښکته ولږوزاوه.

ه: سباته چې عمرو خپل معبود په بې عزته ځای کښې سرچپه وليد نو ډېر خپه شو او د دغه کار په کوونکو باندې زيات په غُصه شو خو د کس معلومات ورته نه وه چې خپله غُصه يې ورباندې سړه کړې وی. نو خپل بوت (معبود) يې د مردارېو او پليتيو څخه پاک ووينځه او په خپل ځای باندې يې بېرته نصب کړ.

و: ذکر شوی عمل څو کرته تکرار شو او بوت ته د مسلمانانو د پلوه څو کرته په سپک نظر وکتل شوه او په ډېران کښې واچولی شو، يا په بل عبارت: ذکر شوي بوت څو شپې په ډېران کښې تېرې کړې او څو ورځې غسل ورکړی شو او عطر ورباندې وپاشل شوه.

ز: بله ورځ ذکر شوي عمرو بن الجموح خپل معبود ته (د وينځلو څخه وروسته) توره په غاړه کښې واچوله او مخاطب يې کړ چې: په دې باندې د خپله ځانه دفاع وکړه او که ستا څه د لاسه پوره وي نو د سپک نظرو خلکو سرونه پرې کړه.

ح: دا ځل ذکر شوي معاذ ﷺ او د ده ملګرو د بوت د غاړې څخه توره واخستله او بوت يې د مردار سپي سره په پړي باندې کلک وتاړه او دواړه (بت او سپی) يې په يوه پليت کوهي (ځا) کښې سرچپه زوړند کړه.

ط: سبا ته چې عمرو خپل معبود په ذکر شوي کيفيت باندې مونده کړ نو د بوت څخه يې زړه وګرځېد او په اسلام باندې مشرف شو او خپل پخوانی معبود يې په څو اشعارو باندې مخاطب کړ چې حاصل يې دا دی:

په الله ﷻ باندې قسم دی که ته ربښتيانی معبود وی نو ته او مردار سپی به په يوه پړي کښې نړلي شوي په ځا کښې نه وی زوړند کړی شوي (او د خپله ځانه به دې ضرور دفاع کړې وی، نو ته چې د خپله ځانه دفاع نه شې کولی نو زما څخه به څه دفاع وکړې).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په وړاندېنيو ايتونو کښې په يوه مضمون باندې دوه ايتونه نازل شوي دي، چې: ﴿ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴾ او ﴿ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴾ نو په دې کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو: ربښتيا چې مضمون يو دی خو حيثيتونه يې جدا جدا دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په اول آیت کښې حقیقت بیان شوی دی چې بوتان ناتوانه دي او په دوهم آیت کښې په همدغه حقیقت باندې مشرکان مخاطب کړی شوي دي.

## یادونه

۴ـ علاوه په هغه تفسیر باندې چې مونږ ورته په ترجمه کښې اشاره کړې ده دا هم کېدلی شي چې د مشرکانو سره مخاطبه په ﴿ لَا يَسْمَعُوا ﴾ باندې ختمه شي او دا جمله ﴿ وَتَرَىٰهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴾ مستانفه جمله شي.

نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: ای پیغمبره! تا خو مشرکانو ته زښت ډېر دلائل واورول خو ته دوی ګورې چې تاته د سر په رڼو سترګو نظر کوي خو د زړه په سترګو درته نه ګوري چې د پیغمبری په صفت دې وپېژني. او یا دا چې: تا ته ګوري خو کوم حقائق چې تا ورته پوره شرحه کړه هغو ته نه ګوري او سرونه یې پرې نه خلاصېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایې چې ایا د ﴿ يَنظُرُونَ ﴾ او د ﴿ لَا يُبْصِرُونَ ﴾ دواړه جملې سره متناقضې نه دي؟ ایا دا کیدلی شي چې نظر وکړي خو لیدل ونه شي کړی؟

مونږ وایو چې: که د ﴿ لَا يُبْصِرُونَ ﴾ جمله د بصیرت څخه شي نو هېڅ إشکال نشته، او که د بصر څخه اشتقاقه وګڼله شي نو وایو چې کوم نظر چې ﴿ يَنظُرُونَ ﴾ ترې اشتقاقه شوې ده هغه په معنی د مقابلې سره دی، نه په معنی د کتلو. عرب وايي چې: "مَنْزَلُ فُلَانٍ يَنْظُرُ إِلَى مَنْزِلِي"[۱] د فلاني کور زما کورته ګوري، یعني ورسره مخامخ دی.

ذکرې شوې جملې ته څه نور تفسیرونه هم په کتابو کښې لیکلي شوي دي[۲]، شائقین دې هملته مراجعه وکړي.

## د دښمنانو څخه په امن کېدلو دعاء

۶ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ماته په تجربه ثابته ده چې څوک د دې آیت شریف: ﴿ إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ په لوستلو باندې مداومت کوي نو الله ﷻ به یې د دښمنانو څخه په امن کښې وساتي. دوی وایې چې د همدې آیت شریف لوستل د سهار په وخت کښې زما د پلار علیه الرحمة د اورادو څخه وه چې په خوب کښې ورته ځینو لویانو ښودلي وه[۳].

﴿ خُذِ ٱلْعَفْوَ وَأْمُرْ بِٱلْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ

(۱) تفسیر الطبري ج۶ ص۱۵۳
(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۳۰۸
(۳) روح المعاني ج۹ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ
تَذَكَّرُوا۟ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَٰنُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِى ٱلْغَىِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ﴿٢٠٢﴾

[۱۹۹] (ای پیغمبره!) عفوه (کلکه) ونیسه او په معروفو (نیکو کارو) باندې امر کوه او د جاهلانو (ناپوهانو) څخه مخ واړه وه (او ناندرۍ ورسره مه وهه).

[۲۰۰] او که تا ته د شیطان د پلوه (بالفرض) وسوسه (د فساد په غرض) درننوزي نو په الله ﷻ باندې پنا وغواړه، یقیناً الله ﷻ اوریدونکی (او) پوه دی.

[۲۰۱] یقیناً هغه کسان چې دوی (د الله ﷻ څخه) ډاریږي کله چې په دوی باندې د شیطان د پلوه وسوسه تاوه را تاوه شي، (نو) دوی (الله ﷻ) یاد کړي نو ناڅاپه (سمدستي سمه لاره) لیدونکي جوړ شي (او د وسوسې څخه ځانونه خلاص کړي).

[۲۰۲] او د دوی (شیطانانو) ورونه (الله ﷻ نه یادوي او) شیطانان یې په ګمراهۍ کښې اوږدوي (راکاږي) چې بیا دوی (په ګمراهۍ کښې) هېڅ قصور نه کوي (او نه یې شیطانان په ګمراه کولو کښې قصور کوي).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د بوتانو په هکله څه حقائق واضحه کړه نو څه لرې نه ده چې د حقائقو واضحه کولو په مشرکانو باندې بد اثر کړی وي او نبي کریم ﷺ ته یې د بې ادبه او غیر مناسبو کلماتو په ویلو باندې خولې پرانستې وي او د ده حوصله یې تنګه کړې وي، نو په دې ایتونو کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ته په همدې باره کښې څو هدایات نازل کړه او د حوصله تنګۍ چاره یې وروښودله.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! د ذکرو شوو حقائقو د بیانولو څخه وروسته لاندې هدایتونو ته متوجه شه او د مشرکانو دسیسې شنډې کړه:

۱ـ د عفوې او تېرېدنې عادت په ځان کښې مستحکم کړه او په جلتۍ سره انتقام ته لاس مه اچوه. چې مهم مطلب (دعوت) در څخه فوت نه شي، په مناسب وخت کښې به درته د جهاد امر درکړو.

۲ـ د سپکو سپورو خبرو جواب په مثل سره مه ورکوه او د متعارفو ویناوو څخه وړاندې مه تېرېږه بلکې د همېشه دپاره نورو خلکو ته هم په همدغسې متعارفو ویناوو امر کوه.

۳ـ د جاهلانو د جهالت څخه اعراض کاوه او خپل ځان د هغوی په قطار کښې مه ودروه او ناندرۍ ورسره مه وهه، مګر په عین حال کښې یې د دعوت څخه لاس مه اخله.

۴ـ هو! که د بشریت په اعتبار سره کله د جاهلانو او مشرکانو د ستغو خبرو څخه زیات متاثر شوې او بالفرض د شیطان د پلوه درته وسوسه پېښه شوه نو په الله ﷻ باندې پنا وغواړه، د همدې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مرض همدا دوا ده او بس، ځکه چې الله ﷻ هغه ټولې ویناوې اورې چې تاته ویلی کېږي او ستا په زړه باندې هم پوه دی.

۵ـ ای پیغمبره! د ذکرې شوې مجربې دوا څخه باید ستا ټول پیروان استفاده وکړي او په الله ﷻ سره د شیطان څخه پنا وغواړي، ترڅو په لاندې قانون کښې شامل شي:

یقینًا کله چې متقیانو ته څه شیطاني وسواس ورسېږي او په زړونو کښې یې د غُصې اور بل شي نو دوی سمدستې الله ﷻ یادوي او د همده ﷻ په نامه باندې پنا غواړي نو په عین حال کښې یې غُصه سړېږي او په زړونو باندې یې چې شیطان کوم جال خور کړی وي د هغه څخه خلاصېږي او بصیرت یې په زړونو کښې تقرر نیسي.

۶ـ بالمقابل څوک چې تقوی نه لري او بې دیني (کفر) یې عادت جوړ شوی وي نو هغوی د شیطاني وسوسو څخه ځانونه نه شي بچ کولی، بلکې هغوی د شیطانانو وروڼه دي او په ضلالت کښې یې چې څومره کشوي هغومره ورسره اوړدېږي او په پیروۍ کښې یې په هېڅ ډول سره قصور او سستي نه کوي او نه یې شیطانان په ګمراه کولو کښې قصور او سستي کوي.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ ته په درې شیانو باندې امر کړی دی: چې عفوه ده او په نېکو باندې امر کول دي او بالآخره د جاهلانو سره ناندرۍ نه وهل دي، نو د اسلام ټولو داعیانو ته په کار دي چې ذکر شوي درېواړه اوامر د ځانو سره په یاد وساتي او په وخت سره پرې عمل وکړي.

## نَزغ څه معنی؟

۲ـ د ﴿ يَنزَغَنَّكَ ﴾ کلمه د "نَزغ" ـ لکه "ضَرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، نزغ دې ته وایي چې د فساد اچولو په غرض څوک یو ځای ته ورننوزي[1]، خو دلته ترې وسوسه مطلب ده ځکه چې شیطان یې د فساد په غرض د سړي په زړه کښې اچوي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي: که بالفرض ستا په زړه کښې د شیطان د پلوه وسوسه درولوېږي او د انتقام حس دې را وپارېږي نو په الله ﷻ سره پنا ترې وغواړه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا شیطان کولی شو چې نبي کریم ﷺ ته وسوسه ورواچوي؟

مونږ وایو چې:

الف: دلته د شیطاني وسوسې څخه د کنائې په توګه غضب (غُصه) مراده ده[2] یعني: که ستا په زړه کښې د ستغو خبرو د کبله غُصه راپورته شوه نو "أَعُوذُ بِاللّٰهِ" ووایه.

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۹

(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مطلب باندې لاندې حديث شريف دلالت کوي:

يوه ورځې د نبي کريم ﷺ په حضور کښې يوه کس بل ته کنځلې وکړې او ورته په غُصه شو حال دا چې مخ بې د غُصې د کبله تک سور اوښتی وه، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنِّي لأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ لَوْ قَالَ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»[1] يعنې: ماته داسې خبره معلومه ده که په غُصه باندې مبتلا سړی يې ولولي نو هغه غُصه به ترې لاړه شي کومه چې نوموړی په خپل زړه کښې مومي، خبره دا ده چې که «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ» ووايي نو غُصه به يې سړه شي.

په غُصه شوي سړي ته صحابه کرامو ﷺ وويلې: ايا ته هغه خبره نه اورې کومه چې نبي کريم ﷺ وکړه؟ هغه وويلې: زه خو لېونی نه يم (څه لرې نه ده چې دا سړی به منافق وه او يا به يې غُصه ډېره شديده وه او د صحابه کرامو ﷺ د وينا په مقابل کښې به يې خپل ځان نه وي اداره کړی)، والله اعلم.

ب: مګر مونږ ته په زړه پورې جواب دا برېښي چې دلته د شيطان فرضي وسوسه مطلب ده، چې که بالفرض ستا په زړه کښې شيطاني وسوسه ولوېده نو اعوذ بالله ووايه.

د دې نظير دا آيت شريف دی چې: ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ [الزمر:۶۵] يعنې: که بالفرض ته (ای پيغمبره!) شرک اختيار کړې نو ضرور به ستا عمل هم ضائع شي.

## طائف څه معنی؟

۴ـ د ﴿ طَٰٓئِفٌ ﴾ معنی خو معلومه ده چې تاويدونکي او طواف کوونکي ته ويل کېږي، په دې مقام کښې د شيطان وسوسې (نزغ) څخه د لاندې وجوهو د کبله په ﴿ طَٰٓئِفٌ ﴾ سره تعبير وکړی شو:

الف: ترڅو مونږ اشارتاً پوه شو چې شيطاني وسوسې نظر زمونږ زړونو ته د طواف کوونکي حيثيت لري، که مونږ ورته په زړه کښې ځای ورنه کړو نو ډېر ژر د منځه ځي او تقرر نه شي موندلی.

ب: ترڅو مونږ پوه شو چې شيطان زمونږ په شاوخوا کښې ګرځي راګرځي او د کمزورۍ نقطه لټوي، نو په هره خوا کښې چې د ننوتلو دپاره نرۍ وت مونده کړي په همغه باندې زمونږ غولونه پيل کوي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په وړاندې آيت شريف کښې ﴿ ٱلشَّيۡطَٰنِ ﴾ مفرد ذکر دی او په ﴿ يَمُدُّونَهُمْ ﴾ کښې ورته مستتر ضمير جمعه راجع شوی دی؟

مونږ وايو چې: د ﴿ ٱلشَّيۡطَٰنِ ﴾ څخه جنس مطلب دی چې جمعې ته هم شامل دی[2].

## د آيت شريف ارشاد

۶ـ دا آيت شريف ټولو اسلامي داعيانو ته ارشاد کوي چې د دعوت په وخت کښې خپله غُصه

---

(۱) صحيح البخاري ج ۲ ص۹۰۳

(۲) تفسير الكشاف ج۲ ص۱۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وزغمي، ځکه کله چې شیطان په داعي باندې د بلې لارې څخه زور دپاسه نه شي چې د دعوت مخه یې ونیسي نو هغه په غُصه کوي، او کله چې په غُصه شي نو د انتقام په دریاب کښې لاهو شي او د دعوت مزه (او لذت) یې د زړه څخه لاړ او اخلاص یې ختم شي.

یوه ورځ امیر المؤمنین (عمر ﷺ) په چا باندې په غُصه شو او نژدې وه چې لاس ورواچوي، خو په عین وخت کښې ورباندې چا ذکر شوی آیت شریف ولوست چې: ﴿ خُذِ ٱلْعَفْوَ وَأْمُرْ بِٱلْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ او بیا یې مخاطب کړ چې: ای خلیفه! دا سړی جاهل دی د جاهل څخه اعراض وکړه. نو سمدستي د غُصې څخه صرف نظر شو: «وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ»[1] یعني: عمر ﷺ د کتاب الله په نزد په کلکه ودریدونکی وه.

﴿ وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِـَٔايَةٍ قَالُوا۟ لَوْلَا ٱجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ مِن رَّبِّى ۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥ وَأَنصِتُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ ﴾

[۲۰۳] او په هغه وخت کښې چې ته (ای محمده!) دوی (مشرکانو) ته آیت را نه وړې (نو دوی (درته) وایي چې ولې دې د خپله ځانه جوړ نه کړ (چې ساکت یې).

ورته ووایه: یقیناً زه د هغه شي پیروي کوم چې ماته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې کیږي (زه یې د خپله ځانه نشم جوړولی).

دا (قرآن کریم) ستاسو د رب ﷻ د پلوه بصیرتونه دي او هدایت دی او (هم) د داسې قوم دپاره رحمت دی چې هغوی ایمان راوړي.

[۲۰۴] او کله چې قرآن کریم لوستلی کیږي نو تاسو ورته غوږ کیږدئ او (ورته) چپ شئ، شاید چې په تاسو باندې (دالله ﷻ د پلوه) رحم وکړی شي.

## ارتباط او شان نزول

په وړاندېنې وروستني آیت شریف کښې الله ﷻ د اخوان الشیاطین (مشرکانو) په باره کښې فرمایلي وه چې دوی په ګمراهۍ کښې هېڅ قصور او لنډون نه کوي، په دې ایتونو کښې د دوی د عدم قصور یو مثال ښودلی شوی دی چې کله به د وحې نزول څه وخت وروسته شو نو مشرکانو به د مسخرو او خندنیو په توګه نبي کریم ﷺ ته خطاب کاوه چې تا ولې د ایتونو د جوړولو څخه لاس ونیو لکه چې پخوا به دې جوړول؟ نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه[2].

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۹
(۲) المحرر الوجیز ج۷ ص۲۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پیغمبره! کله چې د څه حکمتونو په اساس الله ﷻ په تا باندې د وحې نزول ټال کړي او یا مشرکانو ته د دوی فرمایشي معجزې را نه وړې نو د شیطانانو وروڼه (مشرکان) په تا باندې مسخرې کوي او درته وايي چې اوس ولې ایتونه نه جوړوې؟ لکه پخواني تول ایتونه چې تا د خپله خانه جوړ کړي وه او د الله ﷻ د پلوه دربانديې نه وه نازل شوي.

نو دوی ته په جواب کښې ووایه چې زه خو نه د خپله ځانه ایتونه جوړولی شم او نه مې جوړ کړي دي، څومره ایتونه چې زه په تاسو باندې لولوم هغه ټول ماته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې کړی شوي دي، او زه د همدغې وحې پیروي کوم.

یا په بل عبارت: که ماته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې وکړی شي نو زه یې تبلیغ کوم او که نه نو ساکت پاتې کېږم.

۲ـ ورته ووایه چې: ای خلکو! دا قران کریم خو داسې کتاب نه دی چې څوک یې یو آیت قدرې د خانه جوړ کړی شي، دا کتاب خو لاندې صفات لري:

الف: دا کتاب خو ستاسو د زړونو سترګې خلاصوي او ستاسو رب ﷻ په تاسو عنایت کړی دی چې د غفلت څخه وربانديې راویښ شئ او خپلو ګمراهیو ته خاتمه ورکړئ.

ب: دا کتاب خو سراسري هدایت او لارښونه ده، د مسخرو او خندنیو ځای پکښې نشته.

ج: دا کتاب په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه رحمت او مهرباني ده او د دنیا او آخرت ښېګڼې پکښې نغښتې دي.

هو! دا د چا دپاره؟ دا د هغه قوم دپاره چې په دې کتاب باندې معتقد وي او باور لري چې دا د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی.

۳ـ ای مشرکانو! کله چې قرآن کریم لوستلی کېږي نو تاسو شور ماشور مه کوئ او غوږ ورته کېږدئ او بالآخره چپ ورته کښېنئ او دقت پکښې وکړئ.

تاسو خو اهل اللسان یاست نو ډېر ژر به تاسو ته څرګنده شي چې دا کتاب د مخلوق کتاب نه دی او د الله ﷻ د پلوه هدایت او رحمت او بصیرت دی.

نو که تاسو ذکره شوې توصیه عملي کړه نو ډېر ژر به د ګمراهیو څخه لاس واخلئ او د شیطان د پیروېو څخه به ځانونه خلاص کړئ او هم به په خپلو خطاکاریو باندې اعتراف وکړئ او د مسخرو او ملنډو څخه به لاس په سر شئ.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ٱجۡتَبَيۡتَهَا﴾ کلمه اصلاً د "جَبَيْتُ الْمَاءَ" څخه اخستله شوې ده، يعني "اوبه مې په حوض کښې راغونډې کړې دي". د همدې کبله حوض ته "جَابِيَة" ویل کېږي چې جمعه یې "جَوَابِي" راځي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما "اجْتِبَاء" ـ لکه "افْتِعَال" ـ هغو راغونډولو ته وايي چې د ډېرو څخه لږ خوښ (غوره) او راجدا کړی شي.

په دې مقام کښې الله ﷻ د مشرکانو هغه خبره د همدوی په الفاظو کښې را حکايت کړې ده کومه به چې دوی نبي کريم ﷺ ته د مسخرو او تعريض په توګه کوله چې: تا خو ټول قرآن کريم د خپله خانه جوړ کړی دی او ستا سره جوړ کړی شوي ايتونه زښت ډېر دي، نو د همدغو د جملې څخه ولې څو ايتونه د نزول دپاره نه را جدا کوې؟

## استماع او انصات څه فرق لري؟

۲ـ د مشرکانو عادت وه چې کله به قرآن کريم لوستل کېده نو دوی به شور ماشور کاوه او غوږ به يې ورته نه اېښوده، حتی ښځې لودګان يې د همدې کار دپاره ګمارلي وه. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسْمَعُواْ لِهَـٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَٱلْغَوْاْ فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴾ [فصلت:۲۶] او هغه کسان چې کفر يې اختيار کړی دی، وايي چې دغه قرآن کريم ته غوږ مه ږدئ او شور ماشور پکښې کوئ شايد چې تاسو غالب شئ (او څوک پرې ايمان را نه وړي).

نو الله ﷻ د هغوی خبره رد کړه او د ﴿ لَا تَسْمَعُواْ ﴾ په مقابل کښې يې ﴿ فَٱسْتَمِعُواْ ﴾ او د ﴿ وَٱلْغَوْاْ ﴾ په مقابل کښې يې ﴿ وَأَنصِتُواْ ﴾ نازل کړ.

نو حاصل يې داسې راوځي: قرآن کريم ته غوږ ونيسئ (د زړه په غوږونو باندې يې واورئ) او چپ شئ (شور ماشور) مه کوئ.

نو "استماع" غوږ اېښودلو ته وايي او "انصات" د چپ کېدلو معنی ورکوي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: تاسو خو اشاره وکړه چې ذکر شوی آيت شريف د مشرکانو د جواب په باره کښې نازل شوی دی، حال دا چې مفسرينو کرامو ورته نور شان نزولونه هم ښودلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: صحابه وو کرامو ﷺ په لمانځه کښې خبرې کولې چې څو رکعته پاتې دي او څو رکعتونه مو کړي دي، نو الله ﷻ ذکر شوی آيت شريف نازل کړ[۱].

ب: دا آيت د جمعې د ورځې د خطبې او هم د دواړو اخترونو د خطبو په هکله نازل شوی دی[۲].

ج: د دې آيت شريف د نزول سبب دا دی چې مقتدي بايد د ا مام پسې قرائت ونه لولي او چپ ودرېږي[۳]، او داسې نور.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۲۳۸
(۲) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۵۳
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۲۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباشین لخوا سکین شو


مونږ وایو چې: سلفو صالحینو د ایتونو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۱]، نو د ذکر شوي آیت د شان نزول تعدد په حقیقت کښې د مصداقاتو تعدد ته راجع دي، او پوره واضحه ده چې آیت شریف د مفهوم په اعتبار سره عام دی، څه لرې نه ده چې هغه ټول خایونه پکښې شامل شي په کومو کښې چې قرآن کریم لوستل کېږي که څه هم د وعظ او نصیحت په توګه وي.

## د قرائت خلف الامام څه حکم دی؟

۴_ که څه هم دا ډېره پراخه او لمن داره موضوع ده چې خلف الامام په مقتدي باندې د قرآن کریم لوستل څه حکم لري، که څوک غواړي چې په همدې باره کښې ټول مذاهب او د ټولو مذاهبو دلائل د نظره تېر کړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲]. مګر مونږ فقط د لاندې معلوماتو په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

الف: د جمهورو صحابه وو کرامو ﷺ د نظر په مطابق[۳] او د آیت شریف د عام مفهوم په هدایت او بالآخره د احادیثو او آثارو په استناد د ابو حنیفه علیه الرحمة اجتهاد دا دی چې په مقتدي باندې په جهري لمانځه کښې دوه شیان واجب دي: یو قرآن کریم ته غوږ اېښودل او بل چپ درېدل، او په خفیه لمانځه کښې وربانده‌ې یوازې چپ درېدل واجب دي او بس.

که بالفرض په خفیه لمانځه کښې کوم یو مقتدي قرآن کریم ولولي نو د ﴿ وَأَنصِتُوا ﴾ د عام مفهوم څخه به مخالفت وکړي. امکان لري چې په هغه صورت کښې به هم مقتدي یوازې په چپ درېدلو باندې مکلف وي چې د مقتدیانو د ډېروالي د کبله د امام څخه په لرې ساحه کښې ولاړ وي او د قرائت اواز نه ورسېږي او یا په غوږو باندې کوڼ (درونډ) وي.

ب: عام علماء کرام وایي چې د لمانځه څخه په غیر د قرآن کریم د قرائت په وخت کښې غوږ نیول او چپ کېدل مستحب دي[۴] خو په دې شرط چې د قرآن کریم بې عزتي او د ده سره بې ادبي پکښې صورت ونه نیسي او هم داسې حرکتونه ونه کړي چې د توهین بوی ترې پورته کېږي[۵].

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د لمانځه څخه په غیر خو د جمعې او اخترونو خطبې هم دي خو هلته غوږ نیول او چپ کښېناستل واجب دي، حال دا چې تاسو د لمانځه څخه په غیر نورو ټولو صورتونو ته د مستحب لقب ورکړ؟

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۲) شرح معاني الآثار للطحاوي ج۱ ص۱۵۷؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۹
(۳) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۳۱۰
(۴) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۳۱۰؛ المحرر الوجیز ج۷ ص۲۳۹
(۵) تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۵۴؛ المحرر الوجیز ج۷ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو: مطلب مو دا دی چې چوپ کېدل نظر آیت شریف ته مستحب دی او په ذکرو شوو ځایونو کښې د احادیثو په استناد استماع او چوپ کېدل واجب دي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَيْتَ»(۱) یعنې: که ته خپل د څنګ ملګري ته ووایې چې چوپ شه، په داسې حال کښې چې امام د جمعې په ورځ خطبه لولي، نو یقیناً تا باطله (چټي) خبره وکړه.

نو کله چې د خطبې په وخت کښې نهې عن المنکر ته د چټي لقب ورکړی شوی دی نو معلومه شوه چې چوپ کېناستل واجب دي.

﴿وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِى نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢٠٦﴾﴾

[۲۰۵] او (ای پیغمبره!) خپل رب ﷻ په خپل زړه کښې په زاریو او ډار سره یادوه، او (هم یې په داسې اواز سره یادونه کوه) چې د ډېر لوړ اواز څخه راټیټ وي (یعنې په متوسط اواز سره) د سبائي په وختونو کښې او د بېګائي په وختونو کښې، او ته د غافلانو څخه مه کېږه.

[۲۰۶] یقیناً هغه کسان چې ستا د رب ﷻ په نزد دي (چې پرښتې دي) هغوی د ده ﷻ د عبادت (او یادونې) څخه تکبر (لويي) نه کوي، (په دوامداره توګه پکښې مشغول دي) او د همده ﷻ پاکي بیانوي او خاص همده ﷻ ته سجدې کوي (نو تاسو هم باید غفلت ونه کړئ).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ اشاره کړې وه چې متقیان د الله ﷻ په ذکر سره خپل زړونه د شیطاني وسوسو څخه بچ ساتي او اخوان الشیاطین د الله ﷻ د ذکر څخه غافل دي.

په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی او مونږ په غوږ باندې وهلي شوي یو چې الله ﷻ په دغو کیفیتونو سره یاد کړئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د الله ﷻ د یادولو په باره کښې لاندې وصایا په نظر کښې ونېسه ترڅو په تا پسې خپل امت اقتداء وکړي او هغوی هم دغه وصایا په عمل کښې پیاده کړي:

۱ـ الله ﷻ په خپل زړه کښې یادوه چې دا ډول یادول د ریاکارۍ څخه لرې او اجابت ته نژدې دی او بالآخره اخلاص پکښې ډېر دی.

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


۲_ د الله ﷻ په یادونه کښې عاجزي او زارۍ زیاتې کوه او د خپلو تقصیراتو (نیمګړتیاوو) یادښت مه هېروه.

۳_ د خپل رب ﷻ د یادونې په وخت کښې دارېدل په زړه کښې وساته ترڅو د تمې سره دار هم ملګری شي او سوال د خوف او رجا په منځکښې واقع شي.

۴_ د خپل رب ﷻ په یادونه کښې چیغې او سورې مه وهه ځکه چې دا دول یادونه د تفکر په کمبود باندې اثر کوي او د آدب مراعات پکښې کمېږي.

۵_ بلکې په متوسط اواز سره د خپل رب ﷻ یادونه کوه البته چې کله ته وغواړې چې علاوه په زړه باندې ژبه هم په ذکر مشرفه کړې.

۶_ د وختونو په اعتبار سره د خپل رب ﷻ یادونه هم په سباوون کښې کوه چې د شپې آخر او د ورځې اول وخت دی ترڅو د ارامې شپې د تېرېدلو شکریه وکړې او د راتلونکې رڼا ورځې دپاره توفیق وغواړې، همدارنګه د بېګاه په وختونو کښې هم خپل رب ﷻ ډېر یادوه چې ورځ یې درباندې په خیر تېره کړه او شاید چې د شپې د عبادت توفیق هم درکړي او د دښمنانو او آفتونو څخه دې بچ وساتي.

۷_ د ذکرو شوو کیفیاتو څخه په هر یوه کیفیت چې خپل رب ﷻ یادوې یاد یې کړه مګر د غافلانو څخه مه کېږه چې په یوه کیفیت باندې هم خپل رب ﷻ نه یادوي.

۸_ ای پیغمبره! الله ﷻ په تاسو باندې احسان وکړ چې د خپلې یادونې طریقې یې دروښودلې ترڅو تاسو د لوی اجر خاوندان شئ او لوړو درجو ته پورته شئ، که نه نو الله ﷻ خو ستاسو عبادت ته هېڅ اړتیا نه لري چې د هر حیثه کامل دی، بلکې د الله ﷻ یادونه ستاسو دپاره ګټه ده او ستاسو د بندګۍ سره مناسب کار دی، تاسو ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ د عبادت څخه لويي ونه کړئ او په خپلو ځانونو باندې یې درته بوج جوړ نه کړئ، ځکه چې یقیناً هغه مخلوق چې (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ په نزد دی (چې قوت او عظمت یې همده ﷻ ته معلوم دي او بس) هغوی د خپل رب ﷻ د عبادت څخه تکبر نه کوي او په دوامداره توګه ورته عبادت کوي او تسبیحات یې وایي او هم خاص همده ﷻ ته د عاجزۍ او تواضع سجدې ږدي؛ نو تاسو به یې ولې د عبادت څخه تکبر کوئ؟

## توضیحات

۱_ که څه هم صحت لري چې په ﴿ وَٱذْكُر رَّبَّكَ ﴾ کښې خطاب عام وي او معنی یې داسې شي چې: ای انسانه! خپل رب ﷻ یادوه. مګر بهتره دا ده چې دا خطاب نبي کریم ﷺ ته وي ترڅو تول درپسې اقتداء وکړي، او راتلونکي ارشادات په نظر کښې ونیسي[1].

۲_ د ﴿ فِى نَفْسِكَ ﴾ کلمه لاندې معناوې درلودلی شي:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۳۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


الف: یوه معنی یې دا ده چې په دومره ټیټ اواز سره سړی خپل رب ﷻ یاد کړي چې پخپله باندې یې هم وانه وري خو خپله ژبه ورباندې وښوروي او حرکت ورکړي.
ب: بله دا چې پخپله باندې یې واوري خو د څنګ ملګري ورباندې پوه نه شي.
ج: بله دا چې بالکل د خپل رب ﷻ په ذکر باندې خپلې ژبې ته حرکت ورنه کړي او صرف په تفکر سره یې یادونه وکړي.
۳ـ د ﴿ وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ کلمات په لاندې نصوصو کښې ډېر ښه تفسیر شوي دي:
الف: الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته خطاب کوي چې: ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَٱبْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴾ [الإسراء: ۱۱۰] یعنې: ته خپل لمونځ (چې یو مهم ذکر دی) مه په ډېر جهر سره کوه (چې مشرکان دې په لرو خایونو کښې قرائت واوري) او مه پرې ډېر پټوالی کوه (چې صحابه کرام ﷺ یې هم وانه وري) بلکې د همدغه (دواړو) په منځکښې (متوسطه) لاره ولټوه.
ب: د یوه اوږده حدیث شریف مضمون دی چې یوه شپه نبي کریم ﷺ د خپلو صحابه وو کرامو پلټنه وکړه چې لاندې کیفیت یې د نظره تېر شو:
ابو بکر الصدیق ﷺ د تهجد په لمانځه باندې مشغول وه مګر قرائت یې ډېر په ورو ورولوست، او عمر ﷺ هم پرې مشغول وه خو قرائت یې ډېر په لوړ اواز سره لوست.
سبا چې دواړه د نبي کریم ﷺ په حضور کښې سره کېناسته نو نبي کریم ﷺ ورسره لاندې خبرې وکړې:
- اول: ای ابو بکره! زه بېګاه شپه په تا باندې تېر شوم چې تا لمونځ کاوه خو قرائت دې په ډېر ټیټ اواز سره لوست. هغه وویلې چې: ای د الله ﷻ پیغمبره! د چا سره چې ما مناجات کاوه هغه ته مې ور اوراوه. یعنې الله ﷻ اورېده.
دوهم: ای عمره! بېګاه شپه مې ته هم په لمانځه باندې مونده کړې خو قرآن کریم دې په ډېر لوړ اواز سره لوست. هغه وویلې چې: ای رسول الله! ما خو د خوب الودو خلکو څخه خوب تښتاوه او شیطانان مې شړل.
بیا نبي کریم ﷺ هر یوه ته داسې توصیه وکړه چې: ای ابو بکره! «ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا» خپل اواز څخه دې لږ څه پورته کړه. او ای عمره! «اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا»[۱] یعنې: د خپل اواز څخه دې لږ څه ټیټ کړه.
ج: نبي کریم ﷺ په جوماټ کښې معتکف وه او د صحابه وو کرامو ﷺ څخه یې واورېده چې قرائتونه یې ډېر په زوره لوسته نو پرده یې پورته کړه او ویې فرمایل چې: «أَلَا إِنَّ كُلَّكُمْ مُنَاجٍ رَبَّهُ فَلا يُؤْذِيَنَّ بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَلا يَرْفَعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الْقِرَاءَةِ»[۲] خبردار! هر یو ستاسو د خپل رب ﷻ سره

(۱) سنن ابي داود ج۱ ص۱۸۸
(۲) ابو داود ج۱ ص۱۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس ابراهیم اخوا سکین شو


مناجات کوي نو ستاسو ځینې ذي ځینو نورو ته ضرر نه رسوي او ستاسو ځینې دې په ځینو نورو باندې په قراءت کښې خپل اواز نه پورته کوي.

## الغدو، الآصال څه معنی؟

۴_ که څه هم د "الْغُدُوّ" کلمه د مصدر په توګه هم استعماله شوې ده مګر په دې مقام کښې د "غَدْوَة" جمعه ده، "غَدْوَة" هغه وخت ته ویل کېږي کوم چې د سبا د لمانځه څخه پیل کېږي او د لمر په څرک باندې ختمېږي[١].

او د "الآصَال" کلمه د "اصیل" جمعه ده، "اصیل" هغه وخت ته وایې چې د مازیګر د لمانځه څخه پیل کېږي او د لمر په پرېوتلو باندې اختتام پیدا کوي[٢].

په دې مقام کښې د ذکرو شوو دوارو وختونو د تخصیص دپاره لاندې وجهې کېدلی شي:

الف: په دغو دوارو وختونو کښې هرڅوک د یوې مرحلې څخه بلې تازه مرحلې ته ورتېرېږي نو د الله ﷻ څخه کومک غوښتل په کار دي ترڅو یې پښې ونه ښویېږي او د خطر څخه بچ شي.

ب: په دغو دوارو وختونو کښې د پرښتو پهره بدلېږي نو د هر ذکر په کار دی ترڅو تېر شوی دفتر د الله ﷻ په ذکر سره ختم شي او راتلونکی دفتر د الله ﷻ په ذکر سره پیل شي چې د دوارو دفترونو ملکې په دغو وختونو کښې سره جمعه کېږي.

ج: په دې باندې علاوه، په دغو دوارو وختونو کښې د زړه فراغت زیات وي او د کارونو په ازدحام کښې لا سړی نه وي مستغرق شوی.

د: دا هم څه لرې نه ده چې دغه دواړه وختونه د ټولو وختونو (شپې اوورځې) څخه کنایه وي او ټول اوقات پکښې مطلب وي[٣]، لکه چې الله ﷻ دغه دواړه وختونه د دوام څخه کنایه اخستي چې: ﴿ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ﴾ [غافر:۴۶] یعني: فرعونیان په عالم برزخ کښې په اور باندې سبا او بېګاه وروړاندې کېږي (د دوام په توګه معذبېږي).

نو په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې شي چې په ټولو وختونو کښې الله ﷻ یادوه.

مګر مونږ ته داسې ښکارې ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دلته به کنایي معنی مراده نه وي ځکه چې دواړه کلمې جمعې ذکرې شوي دي، د کنایي معنی د اراده کولو دپاره خو مفرداتو کفایت کاوه، لکه چې د [غافر:۴۶] آیت شریف کښې مفردات نازل شوي دي.

بلکې مونږ ته داسې برېښي چې دلته د هرې شپې سبا او د هرې ورځې بېګاه مطلب دی نو په دې صورت کښې د شپو د تعدد سره سبا هم متعدد کېږي او د ورځې په تعدد سره بېګاه هم متعدد ګرځي.

---

(١) روح المعاني ج۹ ص۱۵۴
(٢) روح المعاني ج۹ ص۱۵۵
(٣) البحر المحیط ج۵ ص۲۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۵ـ مونږ د [الأعراف:۵۵] آیت لاندې د الله ﷻ د ذکر او د دعا د شخه د سوال په باره کښې څه معلومات لیکلي دي ـوالحمد اللهـ چې د دې مقام د ارتباط د کبله یې یو ځل کتل بې ګټې نه دي.

## د تلاوت د سجدې فضیلت

۶ـ د تلاوت د سجدې د فضیلت په باره کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي يَقُولُ يَا وَيْلَهُ أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِي النَّارُ»[1] یعنې: کله چې بنیادم د سجدې آیت ولولي نو سجده وکړي، نو شیطان خواشینی په داسې حال کښې کښېني چې ژاړي او وایي چې: ای افسوسه! د ادم ﷺ زوی ته په سجده باندې امر وکړی شو نو ده سجده وکړه نو ده ته جنت دی، او ما ته په سجده باندې امر وکړی شو نو ما ترې اباء وکړه (ومې نه کړه) نو ما ته اور (دوزخ) دی.

## د تلاوت د سجدې په باره کښې څو معلومات او مسائل

۷ـ څرنګه چې په قرآن کریم کښې د تلاوت د سجدو لومړنی آیت همدغه آیت دی چې د الاعراف سورت وروباندې تمام شوی دی، نو مونږ غواړو چې محترمو لوستونکو ته لاندې اجمالي معلومات وړاندې کړو، که څوک یې د تفصیل شوق لري نو د فقهي کتابونو ته دې مراجعه وکړي[2]، معلومات د حنفي مذهب په بنیاد وړاندې کوو:

الف: د ابو حنیفه علیه الرحمة په نزد د تلاوت سجدې ټولې واجبې دي او جمهور علماء کرام ورته سنتې وایي.

ب: د تلاوت د سجدې سمدستي ادا کول (چې د لمانځه څخه دباندې واجبه شوې وي) واجب نه دي، تاخیر پکښې جواز لري، اما که په لمانځه کښې واجبه شي نو تر دریو ایتونو پورې پکښې تاخیر جائز دی او بس، او د دریوو ایتونو د لوستلو څخه وروسته (د لمانځه د آخره پورې) د قضائي په توګه هم ادا کېدلی شي. اما د لمانځه د اختتام څخه وروسته یې د قضائي راوړلو وخت هم ترهغه امتداد پیدا کوي ترڅو یې چې خبرې نه وي کړې، نو چې خبرې یې وکړې د قضائي راوړلو وخت یې هم فوتېږي[3].

ج: د تلاوت سجده په هر اورېدونکي باندې واجبېږي خو په دې شرط چې مسموع منه (په اصطلاح قاري) لاندې صفات ولري:

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۷۳

(۲) الفقه الاسلامي و ادلته ج۲ ص۱۰۹

(۳) کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج۱ ص۴۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: چې بنیادم وي، نو د طوطي او یا د ټیپ ریکارډر په قرائت باندې پرې نه واجبېږي.

دوهم: چې عاقل وي، نو د بې هوشه او یا لیوني او ماشوم غیر عاقل په قرائت سره په اورېدونکي باندې سجده نشته.

دریم: باید قرائت کوونکی بیدار (ویښ) وي، نو د ویده په قرائت باندې وجوب نشته.

څلورم: په قرائت کوونکې کښې پاکې او مسلماني شرط نه ده، نو د جنب او حایضې او بالآخره د نفاسې او کافر د قرائت په سبب باندې هم په اورېدونکي سجده واجبېږي.

د: که څوک په لمانځه کښې د بل چا څخه د سجدې آیت واوري نو د لمانځه د فراغت په وخت کښې دې سجده وکړي، او که د لمانځه په داخل کښې یې وکړه نو جواز نه لري.

هـ: د تلاوت سجده په لاندې شرطونو سره واجبېږي:

څوک چې د لمانځه اهل وي، لکه اسلام، عقل، بلوغ، د حیض او نفاس څخه طهارت.

نو په کافر، ماشوم، لیوني، حائضې او نفاسې باندې نه واجبېږي.

و: کوم شی چې د لمانځه د صحت او جواز دپاره ضرور دی هغه د تلاوت د سجدې دپاره هم ضرور دی، لکه د بدن پاکوالی، د جامو پاکوالی، د ځای پاکوالی، د عورت پټوالی، قبلې ته مخ کول او نیت.

ز: په کوم شي چې لمونځ فاسدېږي په همغه شي باندې د تلاوت سجده هم فساد ته رسېږي. نو که څوک پکښې خبرې وکړي او یا د عمل کثیر مرتکب شي نو سجده بېرته راګرځول پرې واجب دي.

ح: د تلاوت سجده په لاندې درې اسبابو باندې واجبېږي:

اول: قرائت یې د وجوب سبب دی، که څه هم اورېدل پکښې صورت ونه نیسي چې قاري (لوستونکی) کوڼ (په غوږو درونډ) وي.

دوهم: بل د وجوب سبب یې اورېدل دي، برابره خبره ده چې په قصدي توګه وي او که په غیر قصدي توګه، چې په عربي ژبه کښې اول ته استماع وایي او دوهم ته د سماع لقب ورکول کېږي.

دریم: په قاري پسې اقتداء هم د تلاوت د سجدې سبب دی که څه هم سماع یا استماع پکښې صورت نه وي نیولی، چې د صف د اوږدوالې د کبله قرائت وانه وري.

ط: د تلاوت په سجده کښې نه تکبیر تحریمه شته، نه تشهد او سلام ګرځول او نه قیام، بلکې دا د لمانځه د سجدې پشان فقط یوه سجده ده چې په اول او آخر کښې یې دوه تکبیرونه سنت دي. په یو تکبیر سره سر په ځمکه کېږدي او په بل تکبیر سره یې ترې راپورته کړي.

ي: په سجده کښې درې کرته «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى» ویل سنت دي.

یا: د تلاوت ټولې سجدې څلوارلس (۱۴) دي چې په قرآن کریم کښې یې ځایونه په نښه شوي دي او په حاشیه کښې یې لیکل شوي دي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې جدول وګورئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



| ګڼه | سپاره | سورت | د ایت نمبر | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | نهمه | الأعراف | [۲۰۶] | |
| ۲ | دریارلسمه | الرعد | [۱۵] | |
| ۳ | څلوارلسمه | النحل | [۵۰] | |
| ۴ | پنځلسمه | الإسراء | [۱۰۹] | |
| ۵ | شپاړسمه | مریم | [۵۸] | |
| ۶ | اولسمه | الحج | [۱۸] | د امام الشافعي علیه الرحمة په نزد د "الحج" په سورت کښې دوه سجدې دي چې بله په [۷۷] آیت کښې ده. |
| ۷ | نولسمه | الفرقان | [۶۰] | |
| ۸ | نولسمه | النمل | [۲۶] | |
| ۹ | یو ویشتمه | الم السجدة | [۱۵] | |
| ۱۰ | درویشتمه | ص | [۲۴] | د امام الشافعي علیه الرحمة په نزد د "ص" په سورت کښې سجده نشته. |
| ۱۱ | څلیریشتمه | فصلت | [۳۸] | |
| ۱۲ | اوه ویشتمه | النجم | [۶۲] | |
| ۱۳ | دېرشمه | الإنشقاق | [۲۱] | |
| ۱۴ | دېرشمه | العلق | [۱۹] | |

یب: که یو آیت شریف په یوه مجلس کښې څو کرته ولوستل شي نو فقط یوه سجده واجبه ده او بس. هو! د آیتونو د تعدد په صورت کښې متعددې سجدې واجبېږي او د مجلس یووالی ورباندې څه اثر نه اچوي.

یج: که د سامع مجلس تعدد ومومي (بدل شي) نو متعددې سجدې ورباندې واجبې دي، که څه هم د قاري مجلس تعدد نه وي موندلی:

ید: په لاندې کارونو باندې مجلس بدلېږي.

اول: چې درې قدمه مزل وکړي.

دوهم: چې درې لمړی خوراک وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: چې په ونه کښې د یوه ښاخ څخه بل ښاخ ته لاړ شي.
څلورم: چې تلاوت قطعه کړي او په نورو خبرو مبرو باندې مشغول شي.
یه: په لاندې کارونو باندې مجلس نه بدلېږي:
اول: چې د جومات د یوه کونج څخه بل کونج ته لاړ شي.
دوهم: چې په لمانځه کښې د یوه رکعت څخه بل رکعت ته ورسېږي.
دریم: چې یا ځای په کښېني، یا ودرېږي، یا تکیه وکړي.
څلورم: چې په موټر یا بېړۍ او الوتکه کښې سور وي او ځای په ځای ناست وي.

یو: دا مکروه ده چې سړی وړاندې او بېرته ایتونه قرائت کړي او د سجدې آیت پرېږدي، ته به وایې چې د سجدې د وجوب څخه خپل ځان بچ کوي. هو! که یوازې د سجدې آیت ولولي او بس نو باک یې نشته، مګر ثواب په دې کښې دی چې وړاندې یا وروسته یو یا دوه ایتونه ورسره پیوسته کړي.

یز: په قاري کښې یووالی شرط دی، نو که متعدد قاریان د سجدې د آیت شریف په تلاوت کښې څو څو کلمات ولولي او آیت پوره شي نو په اورېدونکو باندې سجده نه واجبېږي.

یح: که سجده کوونکی د ولاړې څخه په سجده شي نو دا کار مستحب دی.

یط: که څوک په لمانځه کښې د سجدې آیت شریف ولولي او سمدستي یا د یوه آیت یا دوه وو ایتونو د قرائت څخه وروسته رکوع ته ښکته شي او د سجدې د اداء کولو نیت هم وکړي نو همدغه رکوع د سجدې قائم مقامه جوړېدلی شي[1].

د الاعراف سورت د الله ﷻ په توفیق د سهار تقریبًا په پنځو بجو باندې پای ته ورسېد.

والحمد لله ﷻ

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا لَكَ سَاجِدِينَ وَفِي جَنَّتِكَ دَاخِلِينَ، آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۳۷۴/۱۰/۸ هـ ش.

[1] کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج۱ ص۴۶۴

Scanned by CamScanner

# الأنفال (٨)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

مونږ غواړو چې د "الأنفال" د سورت په هکله محترمو لوستونکو ته لاندې معلومات وړاندې کړو ترڅو د ایتونو د مطالبو په پوهېدلو کښې ورسره لاس وکړي.

۱_ دا سورت د "الأنفال" په نوم باندې نومول شوی دی، چې دا نوم ورته د همدې سورت د لومړني آیت څخه اخستلی شوی دی.

۲_ دا ټول سورت مدني دی چې د هجرت څخه وروسته تقریبًا د بدر د غزا په تعقیب نازل شوی دی، که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د دې سورت اوه ایتونه مکي دي چې د ﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ [الأنفال: ۳۰] څخه پیل شوي دي او د مکې معظمې د مشرکانو حالات بیانوي، مګر واضحه خبره دا ده چې ټول ایتونه یې مدني دي[۱].

هو! په دغو اوو ایتونو کښې د مکې واقعات بیان شوي دي خو په مدینه منوره کښې نازل شوي دي او مسلمانانو ته یې د هغه وخت احسانات ورپه یاد کړي دي.

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ایتونه یې پنځه اویا (۷۵) دي[۲] او د مدنې سورتونو غوندې عملي احکام پکښې نازل شوي دي.

ب: د کلماتو شمېره یې یو زرو پنځه نوي (۱۰۹۵) ده، او د حرفونو شمیره یې پنځه زره اتیا (۵۰۸۰) ده[۳].

## د دې سورت محتویات

۴_ د قرآن کریم د سورتونو محتویات هیڅوک د حصر په توګه نه شي په ګوته کولی، نو که څوک وغواړي چې دا کار وکړي نو داسې مثال به ولري لکه چې دریاب په کوزه کښې بندول غواړي، د همدې کبله مونږ محض د تمثیل په توګه د دې سورت لاندې محتویاتو ته اشاره کوو او بس:

الف: په دې سورت کښې جهاد پورې مربوط احکام بیان شوي دي، چې د جنګ په میدان کښې مقاومت ضرور دی.

ب: د غنیمت د مالونو د ویشلو تشریع پکښې نازله شوې ده.

ج: ځیني جنګي قواعد پکښې بنودلي شوي دي، چې بې اتفاقي د شکست لوی عامل دی.

د: او هم پکښې د مهاجرو سره د کومک طریقې بیانې شوې دي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۲۷؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۲
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۵۸
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۹ ص۴۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: د ښو مؤمنانو صفاتو ته پکښې اشاره شوې ده او دوی ته پکښې د اجر وعده هم ورکړه شوې ده او هم مؤمنان د دینې خیانت څخه پکښې دارولی شوي دي او په تقوی او دینداری باندې ورته امر شوی دی، او داسې نور.

## د دواړو سورتونو ارتباطونه

۵_ د "الأعراف" او "الأنفال" دواړو سورتونو ارتباط سره ډېر نژدې دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هلته د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام قیصې بیانې شوې دي چې د دین په هکله د څومره مشکلاتو سره مخامخ شوي وه او دلته د آخر الزمان پیغمبر ﷺ یوې جهادي قیصې ته اشاره شوې ده چې د ده ﷺ د غزاګانو څخه لومړنۍ غزا ده.

ب: هلته واضحه شوې وه چې الله ﷻ د فرعون غوندې متکبران هلاک کړه او د موسی ﷺ غوندې کمزوري مسلمانان یې ورباندې غالب کړه او دلته عین حالت د مکې د متکبرانو او د صحابه وو کرامو ﷺ ترمنځ متحقق شوی دی.

ج: هلته په اثبات رسولې شوې وه چې الله ﷻ د بني اسرائیلو څخه د دې کبله د قدرت واګې پرې کړې چې هغوی د شرعي لارې څخه منحرف شوه، او دلته محمدې امت په غوږ وهلی شوی دی چې تاسو ته هم د هغوی غوندې د پاخه ایمان د کبله الله ﷻ قوي دښمن په ګونډو کړ نو که بالفرض تاسو د هغوی غوندې منحرف شئ نو ستاسو څخه به هم درکړی شوی لوی نعمت واخلي او د نورو د لاس لاندې به ژوند کوئ، او داسې نور.

## د نژدې ایتونو ارتباط

۶_ د هغه سورت وروستني ایتونه او د دې سورت لومړني ایتونه یو تربله لاندې ارتباط لري:

الف: هلته د مشرکانو سره ژبنۍ او دعوتي جګړه ذکره وه چې: ﴿خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ﴾ الآیة، او دلته د وسلوالې جګړې بیان دی، ترڅو مونږ پوه شو چې که د دعوت مخه مو بنده شوه نو باید چې په توره باندې یې خلاصه کړو.

ب: هلته د ښو مؤمنانو حال بیان شوی وه چې د تشویش (وسواس) په وخت کښې الله ﷻ یادوي او د خپل تشویش مخه پرې نیسي، او دلته همدغه مضمون په ښه تفصیل سره بیان شوی چې: ﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ﴾ الآیة.

ج: بالآخره دلته د تشویش د پورته کولو یوه ډېره مؤثره طریقه هم ښودلې شوې ده چې د اختلاف او خپلمنځي شخړو په وخت کښې باید د الله ﷻ کتاب او د پیغمبر احادیثو ته مراجعه وکړو او بیا یې اطاعت وکړو، لکه څنګه چې صحابه وو کرامو ﷺ د انفال جنجال په همدې ډول مراجعې او د هدایت په منلو باندې حل او فصل کړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَنفَالِ ۖ قُلِ ٱلْأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَصْلِحُوا۟ ذَاتَ
بَيْنِكُمْ ۖ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١﴾﴾

د بې اندازې مهربان (او) بې اندازې بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱] ستا څخه (ای پیغمبره!) دوی (د بدر غازیان) د غنیمتي مالونو (د حکم) په هکله پوښتنه کوي (چې د چا حق کېږي او د چا نه کېږي).

ته ورته ووایه چې دا غنیمتونه (د هیچا حق نه دی دا صرف) الله ﷻ او پیغمبر ﷺ لره دی.

(د حکم اختیار یې د الله ﷻ دی چې پیغمبر به یې درته ابلاغ کړي).

نو تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ (د ملکیت دعوی یې مه کوئ) او د خپلو منځو حالت مو اصلاح کړئ (ګیلې ګذارې پرېږدئ) او (بالآخره) د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ که تاسو (کامل) مؤمنان یاست.

## شان نزول

د دې سورت د لومړنیو ایتونو د شان نزول په باره کښې مفسرینو کرامو ځو متعدد روایتونه لیکلي دي[۱]، لاندې یو مثال یې ولولئ:

کله چې د بدر غزا د مشرکانو په فاحشه ماتې سره پای ته ورسېده، چې اویا (۷۰) کسان یې بندیان او اویا (۷۰) کسان یې وژلی شوي د جنګ په میدان کښې پرېښوده، نو غازیانو (صحابه وو کرامو ﷺ) ته د پاتې شوي غنیمت په هکله لږ څه شکر رنجي ورپېښه شوه، چې په لاندې ډول سره په درې ډلو باندې ووېشلي شوه[۲]:

۱- یوې ډلې شکست خوړلي مشرکان نور هم وڅارل (تعقیب کړه)، په اصطلاح د مکې معظمې په لور یې بنه وزغلول چې بېرته راتاو نه شي.

۲- بلې ډلې د غنیمت پاتې شوي مالونه راغونډ کړه چې خواره واره پراته وه.

۳- دریمه ډله د نبي کریم ﷺ په حفاظت کښې بوخته وه، هسې نه چې د کوم طرف څخه پرې کوم دښمن ناڅاپي حمله وکړي.

نو کله چې ټول مجاهدین (غازیان) د هرې خوا څخه را ټول شوه نو د دوی په منځکښې د غنیمت مالونو د یوې لانجې صورت غوره کړ چې هرې یوې ډلې لاندې نظرونه درلودل:

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۲۷
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۵۵ ؛ سیرت ابن هشام ج۲ ص۲۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اولې ډلې وويلې چې: دا خو زمونږ حق دی ځکه چې د ښمن خو مونږ تښتېدلو ته مجبور کړ او د کور په طرف باندې مو وزغلاوه.

دوهمې ډلې وويلې چې: دا يوازې زمونږ حق دی ځکه چې مونږ راغونډ کړی دی (په اصطلاح تارو يو مرغه دی چې چا ونيو د هغه دی).

دريمې ډلې وويلې چې: مونږ هم پکښې حق لرو ځکه مونږ د نبي کريم ﷺ حفاظت کړی دی چې د ټولو مجاهدينو دپاره د زړه مثال لري، ايا د نبي کريم ﷺ ساتنه تاسو ته جهاد نه ښکاري؟

نو څه لرې نه ده چې ذکره شوې لانجه د نبي کريم ﷺ حضور ته وړاندې کړی شوې وي او هغه به مخاطب کړی شوی وی چې يا رسول الله! زمونږ لانجه تاسو غوڅه کړئ، يا په بل عبارت: تاسو وواياست چې غنيمت د کومې ډلې حق دی، ترڅو متباقي ډلې ترې لاس په سر او لانجه هواره شي؛ نو الله ﷻ ذکر شوی آيت او نور ايتونه نازل کړه او د قيامت د ورځې پورې يې د غازيانو لانجې فيصله کړې، چې حاصل يې داسې راځيږي:

## د مطلب خلاصه

يعني: ای پيغمبره! صحابه کرام ﷺ ستا څخه د خپلې را پورته شوې لانجې د حل کولو په هکله پوښتنه کوي چې د غنيمت مالونه د کومې ډلې حق دی ترڅو همغې ته ورکړ شي او نورې ډلې صبر وکړي.

نو ته ورته په جواب کښې ووايه چې دغه مالونه د يوې ډلې هم حق نه دی، دا صرف د الله ﷻ حق دی، نو په هر ډول تصرف چې د الله ﷻ اراده وي همغه به خپل پېغمبر ﷺ ته ورنازل کړي او په تاسو باندې به يې تطبيق کړي. يا په بل عبارت: د غنيمتونو په باره کښې ستاسو يوه ډله هم حق نه لري، هو دا ښله خبره ده چې الله ﷻ په خپل فضل سره تاسو ته حلال ګرځولي دي او تاسو ته جائزه ده چې د ورکړې څخه وروسته ترې استفاده وکړئ.

نو تاسو ټولې ډلې د الله ﷻ څخه وډار شئ او په غنيمتونو کښې د استحقاق دعوه مه کوئ او هم پرې خپله خوږه انډيوالي مه خرابوئ او کومه شکر رنجي او اختلاف مو چې سره پيدا شوی دی هغه اصلاح کړئ او د منځه يې يوسئ.

ستاسو وظيفه صرف همدا ده چې د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ اطاعت وکړئ او پرهېکړې ته يې غاړې کېږدئ او همدې ته منتظر اوسئ، همدغه (اطاعت) د مؤمنانو کار دی، نو که تاسو مؤمنان ياست نو د اطاعت څخه په غير بل شي ته لاس مه اچوئ او په ګيلو او دعوو دنګلو باندې غته ډېره کېږدئ.

## توضيحات

۱ـ د ﴿يَسْـَٔلُونَكَ﴾ کلمه د سوال څخه اشتقاقه شوې ده خو په سوال کښې په لاندې ډول اختلاف دی:

د میرویس اماسین لخوا سکین شو


الف: ځینې وايي چې دلته سوال د استعطاء په معنی سره دی[۱]، یعنې: ای پیغمبره! ستا څخه د غنیمت د مالونو څخه د څه مال د ورکړې غوښتنه کوي چې ماته دا راکړه او ماته هغه راکړه.

سعد بن ابي وقاص ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وايي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه د غنیمت یوه توره وغوښتله، نو هغه ﷺ جواب راکړ چې: "إِنَّ هَذَا السَّيْفَ لَيْسَ لِي وَلَا لَكَ"[۲] یعنې: یقینًا دغه توره نه زما ده او نه ستا ده. خو کله چې ذکر شوی سورت نازل شو نو زه یې راوغوښتلم او غوښتله شوې توره یې راکړه.

ب: ځینې علماء کرام وايي چې دلته د حکم او فیصلې سوال مطلب دی چې یو مثال یې د شان نزول په شرحه کښې وړاندې لیکلی شوی دی او بل مثال یې په لاندې ډول دی:

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په یوه اوږده حدیث کښې وايي چې نبي کریم ﷺ د جګړې د پیل څخه وړاندې غازیانو ته اعلان کړې وه چې: هرچا چې دا-دا کار وکړ نو د هغه دپاره دا-دا شی دی. نو ځوانان وړاندې لاړه او سپین ږیري د بیرغونو سره پاتې شوه، نو کله چې جنګ پای ته ورسید نو سپین ږیرو وویلې چې مونږ ستاسو کومکیان وو، که بالفرض تاسو بیرته مخ په شا شوي وی نو همدا مونږ ته به راغلي وی، نو ایا دا ښه خبره ده چې تاسو مالونه یوسئ او مونږ تش لاس پاتې شو؟ مګر ځوانانو دا خبره نه منله او دلیل یې دا وه چې دا خو مونږ ته د الله ﷻ پیغمبر ﷺ راکړی، "فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى ﴿ وَيَسْأَلُونَكَ ﴾ الآيَةَ[۳] نو الله ﷻ دغه آیت نازل کړ.

ج: ځینې نور وايي چې دلته د تقسیم پوښتنه مطرحه شوې ده چې صحابه کرام ﷺ (غازیان) نه پوهېده چې دا مالونه به یوازې انصارو ته ورکړی شي، چې د مهاجرو مسلمانانو یې زښت ډېر خدمتونه کړي دي او په دې باره کښې یې ډېر مشکلات ګاللي دي، او که یوازې مهاجرو ته به ورعنایت کړی شي چې دِوی ورته نسبت هغوی ته ډېر اړ دي، او یا به وړاندې دواړه مبارکې ډلې سرلوړې شي[۴].

د: ځینې نور وايي چې نبي کریم ﷺ اته کسان په غنیمت کښې شامل وګڼل حال دا چې هغوی په جګړه کښې شامل نه وه[۵]، په ځینو وظائفو باندې ټاکلي شوي وه چې درې کسان (عثمان ﷺ، طلحه ﷺ، سعید بن زید ﷺ) د مهاجرینو څخه وه او پنځه کسان (ابو لبابه ﷺ، عاصم ﷺ، الحارث بن حاطب ﷺ، الحارث بن الصمه ﷺ، خوات بن جبیر ﷺ) د انصارو څخه.

نو د همدغو اتو کسانو په باره کښې صحابه کرامو ﷺ (غازیانو) ته پوښتنه پیدا شوه چې دوی په غنیمت کښې څه حق لري؟

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۱۴
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۰
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۱۹
(۴) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۲_ که څه هم ځینو مفسرینو د ﴿يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِ﴾ جمله ذکرو شوو درېواړو پوښتنواو غوښتنو ته شامله ګڼلې ده يعني (سوال الاعطاء، سوال الحكم، سوال التقسيم) درېواړه يې پکښې شامل کړي دي[۱]، خو مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ اعلم_ چې په ذکره شوې جمله کښې به په عبارة النص سره صرف د حکم سوال مراد وي چې د يو پلوه يې خطرات زيات وه چې په جګړه بدل نه شي او د بله پلوه همدغه ډول عبارت د حکم د طلب دپاره وضعه شوی دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ﴾ [البقرة:۲۱۹] يعني: ستا څخه د شرابو او قمار په هکله (د حکم) پوښتنه کوي. اما په اشارة النص سره به پکښې د نورو سوالونو جوابونه هم نغښتې وي.

## انفال څه معنی؟

۳_ "أَنْفَال" د "نَفَل" _لکه "شَرَف"_ جمعه ده. "نَفَل" زيادت ته ويل کېږي. د همدې کبله مستحبو لمونځونو ته نوافل وايي[۲].

په دې مقام کښې د انفال څخه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د تفسير په بنا هغه غنائم (د غنيمت مالونه) مراد دي کوم چې د بدر په غزا کښې مجاهدينو نيولي وه. چې دا سورت په همدې باره کښې نازل شوی دی[۳].

امکان لري چې د لاندې وجوهو د کبله د ولجې (غنيمت) مالونه په همدغه (انفال) نوم باندې ياد شوي وي:

الف: محمدي (ﷺ) امت ته د ولجې د مالونو تحليل په نورو امتونو باندې زيادت دی، چې هغوی ته نه وو حلال کړی شوي او دوی ته حلال کړی شوي دي.

ب: مجاهدينو ته خو الله ﷻ د جهاد اجر او ثوابونه په دنيا او آخرت کښې ورکوي مګر د ولجې د مالونو ورکړه په اجرونو او ثوابونو باندې زيادت دی، د هغو کمبود ورباندې صورت نه نيسي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د دې آيت شريف _چې بحث پکښې روان دی_ مضمون دا دی چې د ولجې ټول مالونه د الله ﷻ دي نو د ده ﷻ چې څنګه اراده وي په همغه ډول باندې به خپل پيغمبر ته هدايت وکړي، حال دا چې په همدې سورت کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ﴾ [الأنفال:۴۱] يعني: او پوه شئ يقيناً هغه شی چې تاسو ولجه کړئ هر شی

---

(۱) تفسير الطبري ج۶ ص۱۷۵

(۲) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۲۹۴؛ التفسير الكبير ج۱۵ ص۱۱۴

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې دي، نو خاص الله ﷻ لره (په هغه کښې) پنځمه برخه ده (چې نبي کريم ﷺ به يې توزيع کوي او متباقي څلور برخې د غازيانو دي)؛ نو پوښتنه دا ده چې دغه دواړه ايتونه څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې د همدې آيت په اساس د بدر د ولجې (غنيمت) د مالونو څخه نبي کريم ﷺ پنځمه برخه جدا نه کړه او ټول يې په غازيانو باندې توزيع کړه، بيا وروسته دا حکم په هغه آيت باندې منسوخ شوی دی[1].

خو دا جواب څکه د قبول وړ نه دی چې علي ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي: "كَانَتْ لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنْ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ أَعْطَانِي شَارِفًا مِنَ الْخُمُسِ"[2] يعنې: يوه زړه اوښه د بدر د ولجې په برخه کښې زما ورسېده او يوه زړه اوښه نبي کريم ﷺ د خمس څخه راکړه (په دواړو باندې مې سرګړي راوړه او په بازار کښې مې خرڅ کړه چې د فاطمه الزهرآء د واده مصارف مې پرې وکړه).

ب: د ځينو علماوو کرامو په نظر آيت شريف دلته مجمل نازل شوی دی چې: ای غازيانو! تاسو د ولجې په مال کښې جګړې مه کوئ! دا خبره به الله ﷻ پخپله فيصله کړي او هدايت به ورکړي. نو د تفصيل دپاره راتلونکی يو څلوېښتم ﴿ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ﴾ آيت نازل شوی دی[3].

زمونږ همدغه نظر خوښ دی، که څوک زيات تفصيل غواړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[4].

﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ۝٢ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ۝٣ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ۝٤ ﴾

[۲] يقينًا (کامل) مؤمنان (خاص) هغه کسان دي چې کله (دوی ته) الله ﷻ ياد کړی شي (نو) زړونه يې ډارېږي او چې کله په دوی باندې د ده ﷻ آيتونه ولوستلی شي (نو) دا (ايتونه) دوی ته ايمان زياتوي (قوي کوي) او خاص په خپل رب ﷻ باندې توکل کوي.

[۳] (او کامل مؤمنان) هغه کسان (دي) چې لمونځونه دروي او د هغو (مالونو) څخه (د الله ﷻ په لاره کښې) خرڅه (انفاق) کوي چې مونږ ور روزي کړې دي.

[۴] دغه کسان (چې ذکر شوي پنځه صفات مجموعًا ولري) همدوی په حقه (ربښتيا) مؤمنان دي (د مؤمنانو نوم د همدوی سره ښه ښکاري).

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۲۲۸
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۳۴
(۳) تفسير الطبري ج۶ ص۱۶۱
(۴) روح المعاني ج۹ ص۱۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خاص دوی لره د دوی د رب ﷻ په نزد (لوړې) درجې دي او (هم دوی ته) مغفرت او باعزته (کرامت والا) روزي (تیاکلې شوې ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندې آیت کښې الله ﷻ د بدر غازیان مخاطب کړي وه چې که تاسو کامل مؤمنان یاست نو د الله ﷻ اوامرو ته به منقاد شئ او د اختلافاتو څخه به صرف نظر شئ، په دې ایتونو کښې د کاملو مؤمنانو پنځه صفات ښودلي شوي دي چې حاصل یې داسې راوځي:

ای مؤمنانو! تاسو ته د مؤمنانو لاندې پنځه صفات درنازلوو چې د قیامت د ورځې پورې یې د کامل ایمان د چوکاټ په حیث وپېژنئ:

۱ـ د کاملو مؤمنانو یو صفت دا دی چې کله دوی ته د شیطان د پلوه کومه وسوسه او تشویش پېښ شي او بیا ورته الله ﷻ وریاد کړی شي او یا یې په خپله یاد کړي نو سمدستي یې په زړونو کښې د الله ﷻ ډار ننوزي او شیطاني وسوسه د پښو لاندې کوي.

۲ـ بل صفت یې دا دی چې کله په هغوی باندې د الله ﷻ ایتونه ولوستلی شي او د ده ﷻ حکم ورته بیان کړی شي نو سمدستي د خپلو خواهشاتو څخه تېرېږي او عقیده یې لا پخېږي او قوت مومي، په خپلو غوښتنو باندې قدم ږدي او د الله ﷻ د احکامو اطاعت او مننه کوي.

۳ـ بل صفت یې دا دی چې دوی په خپل رب ﷻ باندې قوي توکل لري، د دوی یقین او اعتماد وي چې روزي همدی ﷻ راکوي او احتیاجات مو همدی ﷻ پوره کوي.

۴ـ په دې باندې علاوه، خپل رب ﷻ ته تواضع کوي او سرونه ورته په سجده ږدي او هم د ټولو حقوقو سره لمونځونه کوي.

۵ـ بل صفت یې دا دی چې د همغو مالونو څخه چې مونږ ور روزي کړي دي په شرعي توګه مصارف کوي فرضي او واجبي نفقات خو بالکل نه پرېږدي مګر په عین حال کښې په استحبابي نفقاتو باندې هم دریغ نه کوي او ورباندې ډیل نه وي.

ای پیغمبره! څوک چې ذکر شوي پنځه صفات ولري نو هغوی په حقه او رښتیا مؤمنان دي، همدوی ته الله ﷻ لاندې اجرونه او ثوابونه ټاکلي دي:

الف: دوی ته د خپل رب ﷻ په نزد لوړې درجې دي چې په لوړوالي باندې یې د همده ﷻ څخه په غیر بل څوک نه پوهېږي.

ب: دوی ته مغفرت دی، چې د ګناهونو څخه به الله ﷻ ورتېر شي او په محاسبه کښې به ورسره سختي ونه کړي.

ج: بالآخره دوی ته با کرامته او با عزته روزي ده، چې په دنیا او آخرت کښې به دوی د خوندور ژوند خاوندان شي او توهیني اعاشې څخه به وژغورلی شي او څه شیان چې ورکول کېږي په همغو کښې به یې عزت او وقار نغښتی وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای پیغمبره! څرنګه چې ستا په ملګرو کښې عمومًا او د همدغې غزا (بدر) په ملګرو کښې خصوصًا ذکر شوي پنځه صفات په ښه کامله توګه موجودیت لري نو ډېر ژر دی چې خپلمنځي اختلافات به یوې خوا ته کړي او په ابلاغ شوي حکم به منګولې خښې کړي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې په ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ کښې د ﴿ إِنَّمَا ﴾ توری د حصر دپاره دی، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې مؤمنان په همغو کسانو کښې محصور دي چې ذکر شوي پنځه صفات ولري.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا هغه څوک مؤمن نه دي چې د دغو صفاتو څخه کوم یو صفت پکښې ناقص وي، چې یا لمونځ نه کوي ـمثلاًـ او یا زکات نه ورکوي؟

مونږ وایو چې: دلته د ﴿ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ د کلمې څخه کامل ایمانې مؤمنان مراد دي[۱]، او څوک چې ذکر شوي پنځه صفات ونه لري مؤمنان دي مګر ناقص الایمان مؤمنان دي، په همدې مطلب باندې د ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗا ﴾ جمله دلالت کوي.

یعنې همدغه کسان همدوی په حقه مؤمنان دي چې د کامل ایمان درلودونکي دي. ته به وایې چې نور مؤمنان نشته (د مؤمنانو نوم د همدوی سره ښه ښکاري).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ ﴾ کښې د ﴿ وَجِلَتۡ ﴾ کلمه د "وَجَل" ـلکه "شَرَف"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خوف او ډار معنی ورکوي[۲] حال دا چې په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴾ [الرعد: ۲۸] یعنې: خبردارا د الله ﷻ په یادولو باندې زړونه مطمئن کېږي او ډاډ پیدا کوي؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا خوف او اطمنان (ډار او ډاډ) سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ ذکر (یادونه) دوه حیثته (کیفیته) لري: یو د یقین او باور حیث او بل د عقوبت او تعذیب حیث، نو د الله ﷻ ذکر د عقیدې په لحاظ سره د سړي اضطراب ختموي او اطمنان یې پیدا کوي او د تعذیب او عقوبت په لحاظ سره د ذکر کوونکي ډار او خوف پیدا کېږي، نو په یوه آیت شریف کښې یو حیث په نظر کښې نېولی شوی دی او په بل آیت شریف کښې بل حیث ته کتلی شوي دي[۳].

او په څینو ایتونو کښې د دواړو حیثیتونو (کیفیتونو) لحاظ ساتلی شوی دی، لکه ﴿ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۶۵
(۲) مفردات الراغب ص۵۵۰
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ﴾ [الزمر:۲۳] يعني الله ﷻ داسې کتاب نازل کړی دی چې د ده څخه د هغو کسانو پوستکې زېږېږي (او ويښتان شخ درېږي) کوم چې دوی د خپل رب ﷻ څخه داربږي، بيا يې پوستکي او زړونه د الله ﷻ ذکر ته نرمېږي او اطمنان يې پيدا کېږي.

## يادونه

۳ـ د الله ﷻ څخه دارېدل په دوه ډوله دي(۱):

الف: يو هغه ډار دی چې د الله ﷻ د عذاب د يادښت د کبله تحقق مومي، عوام خلک اکثره په همدې ډول ډار باندې دارېږي.

ب: بل د خواصو ډار دی چې د الله ﷻ د عظمت او هيبت د کبله صورت نيسي، ملائک (پرښتې) او پيغمبران عليهم السلام په همدې ډول ډار سره د الله ﷻ څخه ډارېږي.

## يو تذکر

۴ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی چې ايمان زيادت او نقصان قبلوي او که څنګه(۲)، مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړ که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## د کمونستانو عقيده

۵ـ ملحدان (کمونستان) په دې معتقد دي چې دين (اسلام) څوک په ګېډه نه شي مړولی او کور، کالي، ډوډی، چاته نه شي رسولی، که څوک غواړي چې په ګېډه موړ، په جامه پټ، او هم د استوګنځای درلودنکي شي نو کمونستي مسلک دې قبول کړي چې په دې مسلک کښې درې شيان: ښځه، مال، ځمکه (زن، زر، زمين) د ټولو خلکو شريک دي او هرڅوک ترې استفاده کولی شي او شخصي ملکيت پکښې د هيڅا نشته.

مګر اسلام وايي چې د دنيا او آخرت خوشالي او ښه ژوند په تقوی او دينداری پورې تړلی دی. په دې باره کښې لاندې څو نصوص ولولئ:

الف: همدغه آيت شريف ـ چې بحث پکښې روان دی ـ مونږ ته ارشاد کوي چې د ذکرو شوو پنځو صفاتو خاوندانو ته به الله ﷻ (کريم رزق) د کرامت څخه ډکه روزي ورکړي.

ب: الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ [الطلاق: ۲ـ۳] يعني: او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي (تقوی وکړي) نو ده لره به الله ﷻ (د غمونو او مشکلاتو څخه) د وتلو ځای وګرځوي (برابر کړي) او د داسې پلوه به روزي ورکړي چې دوی به يې ګومان هم نه کوي.

---

(۱) تفسير خازن ج۳ ص۵

(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: او هم فرمایي چې: ﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ ﴾ [العنكبوت:۶۹] یعني: او هغه کسان چې زمونږ (په دین کښې) زیار باسي (تقوی کوي) نو ژر دی چې دوی ته مونږ خپلې لارې وروښایو (هغه لارې چې د دنیا او آخرت دښېګڼو دپاره مو مقررې کړې دي).

## په دې باره کښې طنطاوي څه وایي؟

۶ـ علامه طنطاوي علیه الرحمة وایي که هرڅوک د شریعت احکام او هدایات تجربه کړي نو په خپله تجربه به ورته ثابته شي چې ربښتیا د الله ﷻ څخه ډار او دینداري د ټولو ښېګڼو کفالت کوي او د سړي روزي وربانده پراخېږي او هم پرې سړی د غمونو څخه بچ کېږي[1].

نو زه (د کتاب مصنف) غواړم چې محترمو لوستونکو ته په دې باره کښې لاندې معلومات ورکړم:

الف: ما په خپل ځان باندې لاندې حدیث شریف تجربه کړی دی او کومې وعدې چې پکښې شوې دي د هغو ربښتیاوالی راته په تجربه باندې ثابت شوی دی، په دې بیان کښې زما دا مطلب نه دی ـ العیاذ بالله ـ چې خپل ځان خلکو ته وښایم بلکې یو غرض مې پکښې دا دی چې د ﴿ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ﴾ په مطابق دالله ﷻ د نعمتونو اظهار وکړم او بل غرض مې دا دی چې محترم لوستونکي د شریعت تعمیل ته وهڅوم، هغه حدیث دا دی:

نبي کریم فرمائلي دي چې: «وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ»[2] یعني: او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه عفت وغواړي (په خپل ځان باندې زور وکړي چې په محارمو کښې واقع نه شي او چاته سوال ونه کړي) نو الله ﷻ به یې عفیف وګرځوي (دا به ورته اسان کړی شي او په اسانۍ سره به ترې بچ پاتې شي).

او هرڅوک چې خپل ځان غني (بې پروا) ښکاره کړي نو الله ﷻ به یې (حقیقتاً) غني (بې پروا) کړي، او هر څوک چې په تکلف سر صبر وکړي (خپل ځان په زور سره صبر ته منقاد کړي) نو الله ﷻ به یې (واقعاً) صابر وګرځوي (او ربښتیانی صابر به جوړ شي)، او هیچا ته داسې ورکړه نه ده ورکړه شوې چې د صبر څخه بهتره او پراخه (ګټوره) وي.

داسې وخت په ما باندې تېر شوی دی چې دنیاوي مال ته مې ښه ډېره اړتیا درلوده حال دا چې حرام خوري مې کولی شوه چې خپل احتیاجات مې وربانده پوره کړي وی، خو ـ د الله ﷻ په توفیق ـ نه مې حرام وخواړه او نه مې کوم دنیادار ته د سوال لاس وغزاوه. داسې وخت هم راباندې تېر شوی دی چې فقیر وم (لومړني ضروریات مې نه درلوده) خو د الله ﷻ په فضل سره ما خپل ځان غني ښکاره کاوه چې نه مې د مړو اسقاط قبلاوه، نه مې زکات او سرسائې ته لاس اوږداوه او بالآخره نه مې د قرآن کریم د ختم هغه پیسې اخستې کومې به چې د روژې په میاشت کښې د ختم څخه وروسته

---

[1] الجواهر للطنطاوي ج۵ ص۷

[2] صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قاریانو ته ورکول کېدلې؛ خو په نتیجه کښې الله ﷻ حقیقتاً غني کړم چې د خیراتونو اخستلو ته مې څه اړتیا نشته، بلکې پخپله فقیرانو ته هم زکاتونه ورکوم او هم پرې سرسایې وېشم.

څکه چې الله ﷻ راته د خپلو غیبي خزانو څخه د بني اسرائیلو د من او سلوی غوندې پاک او حلال رزق وټاکه، البته د داسې طرف څخه چې زما هیڅ په خیال کښې نه ګرځېده چې د دې طرفه به ماته روزي راکړی شي، دا حلال رزق راته تر اوسه جاري دی، والحمد لله ﷻ والمنة والشکر.

همدارنګه مې یو وخت په تکلف سره خپلې سترګې صابرې جوړې کړې خو په نتیجه کښې د الله ﷻ په فضل سره رښتیانی صابرې شوې.

ب: په عوامو خلکو کښې بلکې په اولسونو کښې راته ډېرې تجربې شته چې په بې دینی باندې یې رزقونه (روزی) تنګې شوې دي او ډېرې ورځې پېښې د د ډېرو غټو جنجالونو او مشکلاتو باعث جوړ شوې دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ او بیا په خپل ماحول کښې فکر وکړئ:

اول: داسې یوه پېښه هم راته معلومه ده چې د یوه سړي یو خاروی د بل سړي کروندې ته څه خوړلې وه، بیا د همدې څخه جنګ جوړ شو او د غیر شرعي تعصب د کبله څلور سړي ووژل شوه او د ډېرو کورنیو روزی تنګې شوې حتی چې لانجه لا تر اوسه نه ده حل شوې.

دوهم: همدارنګه داسې شخړې ډېرې پېښې شوې دي چې یوې کونډې ښځې او یا یوې انجلۍ د خپل شرعي حق څخه استفاده کړې وي او په خپله خوښه یې خان ته مېړه اختیار کړی وي خو په نتیجه کښې د غیر شرعي واکداریو د کبله ډېر جنګونه او جګړې منځ ته راغلي دي او د ډېرو کورنیو ژوندونه ترخه شوي دي، او داسې نور.

﴿ كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ۝٦ ﴾

[۵] (ای پیغمبره! د غنیمتونو د مالونو فیصله) څکه (الله ﷻ ستا رب ﷻ پورې مختصه ده چې فقط) ستا رب ﷻ ته د خپله کوره (یا د مدینې منورې) څخه (د بدر د غزا په لور) په حقه بېرون کړی یې (چې په دې کښې د هیڅ شک شبهه نشته) حال دا چې یقیناً د مؤمنانو څخه (چې په غنیمت کښې په جګړه دي) یوه ډله (د قریشي لښکر په مقابله باندې) نا راضي وه (ناخوښه وه).

[۶] (د همدې کبله) ستا سره په یقیني خبره (د لښکر په مقابله کښې) بحث کوي (او دا هم) د هغه څخه وروسته چې خبره واضحه شوه (هغه دا چې جنګ او فتحه دواړه یقیني دي).

(د دوی په نظر د لښکر مقابلې ته سوق کول داسې ښکارېده) لکه چې یقیناً دوی مرګ ته سوق کېږي، حال دا چې دوی (ورته په رڼو سترګو) ګوري.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ مسلمانانو (غازیانو) ته توصیه کړې وه چې د غنیمت مالونه

Scanned by CamScanner

صرف د الله ﷻ حق دی، تاسو پکښې حق نه لرئ. هو دا ښه خبره ده چې الله ﷻ مهرباني وکړي او خپل پیغمبر ته امر وکړي چې په تاسو باندې یې ووېشي.

د دې ایتونو څخه نېولې آن ترڅوارلسم آیت پورې الله ﷻ د مجاهدینو د ښه قناعت دپاره نهه دلایل نازل کړي دي ترڅو دوی په اخلاص سره د خپلمنځي اختلاف څخه ډډه وکړي چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو مجاهدینو دپاره د قناعت اساس کېښودل شي او د بې اتفاقۍ جرړې وویستلې شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د غنیمت مالونه څکه د الله ﷻ حق دی او د غازیانو یوه ډله هم وربانديې منګولې نه شي خښولی چې:

۱ـ تاته خو د غازیانو یوې ډلې هم ور نه دی ټکولی چې هله راووزه چې د قریشو جنګ ته لاړ شو. که بالفرض هرې یوې ډلې دا کار کړی وی نو اوس به یې څه دلیل درلودی چې غنیمت څکه زمونږ حق دی چې ته خو مونږ دغې غزا ته راروان کړی وې او د کوره مو راویستلی وې.

ای پیغمبره! دغه کار خو ستا رب ﷻ په حقه سره کړی دی او هېڅوک پکښې شک نه لري نو د غنیمت مالونه هم د الله ﷻ حق دی، څنګه یې چې اراده وشي همغسې به یې توزیع کړي.

۲ـ ای پیغمبره! دغزا دپاره خو تاته هیچا دعوت نه دی درکړی چې هله ژر شه غزا ته لاړ شه، بلکې لا یوه ډله د همدې غازیانو مؤمنانو څخه ستا په وتلو باندې ناخوښه هم وه، د همدې کبله یې ستا سره په دغې واقع کېدونکې غزا کښې جګړه کوله، البته کله چې ورته څرګنده شوه چې د ابو سفیان قافله د مؤمنانو د لاسه ووتله او د قریشو سره نښته او جنګ یقیني خبره ده.

د جګړې مضمون یې دا وه: ای پیغمبره! مونږ خو د جنګ په نیت نه وو راوتلي که نه نو څه تجهیزات به مو کړي وی او جنګ ته به مو ځانونه تیار کړي وی.

دغې ډلې ته خو جنګ ته بیول داسې ښکارېده لکه چې دوی مرګ ته بیول کېږي او په سترګو ګوري چې هغه دی مرګ راروان دی.

نو ایا دوی ته همدا نعمت بس نه دی چې د مرګ څخه بچ شوه او بالمقابل د دوی په دښمن باندې مرګ مسلط شو؟ ایا دا کار د الله ﷻ څخه په غیر بل چا کړی دی؟ نو هرچا چې (د دوی په خیال) یقیني مرګ په ژوند باندې بدل کړی دی غنیمتي مالونه د همغه حق دی او بس، چې هغه الله ﷻ دی.

## توضیحات

۱ـ د بدر غزا د هجرت په دوهم کال د روژې د میاشتې په اولسمه نېټه د جمعې د ورځې په سهار کښې واقع شوې ده[۱]. د دې غزا څخه وړاندې هم څه جهادي ټولګي استولی شوي وه، لکه د عبدالله بن جحش ﷺ ټولګی ـ چې لنډه قیصه یې د [البقرة:۲۱۷] آیت لاندې تېره شوې ده ـ مګر دا لومړۍ غزا ده چې نبي کریم ﷺ پکښې پخپله ګډون کړی دی.

[۱] سیرت ابن هشام ج۲ ص۲۶۶؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ ﴾ کښې د "ک" توری د څه شي پورې تعلق لري ترڅو ورته همغه مشبه به واقع شي؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د همدې متعلق د تعین په باره کښې تقریبًا پنځلس (۱۵) قوله کړي دي، که څوک د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي[۱].

مګر مونږ ته چې کومه وجهه ښه ښکاره شوې ده هغه دا ده چې: دلته د "ك" توری د تشبیه دپاره نه دی بلکې د تعلیل دپاره دی چې د دې جملې ﴿ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ ﴾ سره ارتباط لري، او د فاصلې د اوږدوالی څه باک نشته ځکه چې د هغه خایه تر دې ځایه ټولې جملې د ذکرې شوې جملې دپاره متمماتي ګڼلې کېږي (اجنبیاتي نه دي).

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! ذکر شوی حکم صحابه کرامو ﷺ ته ابلاغ کړه چې دوی ورباندې د ایمان په رڼا کښې عمل وکړي ځکه چې دوی کامل مؤمنان دي، او په دې باندې علاوه د ښه قناعت دپاره یې ورته دلایل هم وړاندې کړه، هغه دا چې: ته خو د غزا دپاره بل هیڅ‌چا نه یې هڅولی بلکې د خپل رب ﷻ په هدایت باندې د کوره راوتلی وې که بالفرض بل چا ورهڅولی وی نو اوس به یې خوله جوړه شوې وی چې دا زمونږ حق دی، همدارنګه که د خپله کوره نه بلکې د کوم خاص مجلس (شوری) څخه وروسته د بدر په لور روان شوی وی هم اوس به ځینو دا خبره کولی شوی چې: نبي کریم ﷺ غزا ته د فلاني او فلاني په خوله راروان شو او د غنیمت په ورکړه کښې یې اوس د هیڅ‌چا خبرې ته اهمیت نه ورکوي.

د "ك" توری د تعلیل دپاره هم استعمالېږي، لاندې څو مثالونه یې ولولی:

الف: د احادیثو شارحینو دا هم لیکلي دي چې په "اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ" کښې د "ك" توری د تعلیل دپاره دی[۲]. نو معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: ای الله! په محمد ﷺ او د ده ﷺ په ټبر باندې درود نازل کړه، ځکه چې تا د ده په نیکه ابراهیم ﷺ باندې درود نازل کړی دی او د درود په نزول کښې خو محمد ﷺ لومړنی مستحق دی چې خیر البشر دی.

ب: ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې په: ﴿ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ ﴾ [البقرة:۱۹۸] کښې د "ك" توری د تعلیل دپاره دی[۳]. یعنې: کله چې د عرفات څخه راښکته شوئ نو الله ﷻ یاد کړئ ځکه چې تاسو ته یې هدایت کړی دی، د جهالت د تورو تیارو څخه یې را بهر کړي یاست.

همدارنګه ځینې نور علماء کرام وایي چې په ﴿ رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴾ [الإسراء:۲۴]

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۲۷۲؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۹؛ روح المعاني ج۹ ص۱۶۹
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۱۱۰ حواشي؛ صحیح البخاري ج۲ ص۹۴۰ حواشي.
(۳) روح المعاني ج۲ ص۸۸

Scanned by CamScanner

کښې هم د "ک" توری د تعلیل دپاره دی[1]. یعنې ای زما ربه! زما په مور او پلار باندې رحم وکړې څکه چې دوی دواړو زه په داسې حال کښې تربیه کړی (روزلی) یم چې زه ماشوم وم (او هر شي ته اړ وم).

ج: عرب وایي چې: "لا تشتم النّاس کما لا تُشتم"[2] یعنې خلکو ته سپکې سپورې خبرې مه کوه څکه چې ته ترې ساتلی شوی یې او څوک درته ستغې خبرې نه کوي.

## د کوره د وتلو نېټه او سبب

۳ـ که څه هم ـلکه چې وړاندې تېر شوـ د بدر غزا د روژې د میاشتې په اولسمه نېټه صورت نیولی دی مګر نبي کریم ﷺ د خپله کوره یا د مدینې منورې څخه د بدر په لور د روژې د میاشتې په اتمه باندې وتلی وه، نو د کوره د وتلو او د غزا د پیل کېدلو ترمنځ نهه ورځې فاصله وه[3]، چې د ایتونو د وضاحت دپاره پکښې محترمو لوستونکو ته لاندې څه لنډ معلومات وړاندې کوو.

الف: نبي کریم ﷺ اطلاع حاصله کړه (کېدی شي چې وحې ورته شوي وي) چې د قریشو یوه غټه تجارتي قافله د شام څخه بېرته مکې معظمې ته روانه ده چې ښه ډېر او درانه تجارتي مالونه یې بار کړي دي او د څلوېښتو تنو په شاوخوا کښې کاروانیان ورسره دي، که دا قافله قریشو ته ورستنه شي نو د هغوی اقتصاد به ډېر پیاوړی شي او د اسلام د مخنیوي دپاره به ترې کار واخلي.

ب: د مسلمانانو او د کفارو وسلوال جنګ خو د هغه وخت څخه پیل شوی وه کوم وخت چې هغوی مسلمانان هجرت کولو ته مجبور کړي وه او د مکې معظمې څخه یې حبشې او مدینې منورې ته شړلي وه.

ج: نو نبي کریم ﷺ د الله ﷻ په هدایت صحابه کرام ﷺ د ذکر شوي قافلې د ولجه کولو دپاره د خانه سره روان کړه او د هغې د لارې د بندولو په غرض وښوربېد[4] ترڅو ذکر شوي تجارتي مالونه ترلاسه او د اسلام د وړاندې تګ په لاره کښې یې مصرف کړي.

د: په عین حال کښې د قافلې مشر (ابو سفیان) ـچې لا ترهغه پورې یې د "رضي الله عنه" لیاقت نه درلودـ د خپلې قافلې د امنیت دپاره مکې معظمې ته اطلاع ورکړه چې زما د قافلې د مخنیوي دپاره مسلمانان راوتلي دي ترڅو تجارتي مالونه تالا والا کړي، نو تاسو د نجات په غرض او د لارې د خلاصون په نیت مخې ته راشئ.

نوموړي ته یوه منافق خط ورلېږلی وه چې په [الأنفال:۲۷] آیت کښې ورته اشاره شوې ده.

ه: د مکې معظمې څخه تقریباً د نهه نیم سوه (۹۵۰) کسانو یو لښکر په ډېر ساز او سامان سره د قافلې مخې ته راووت.

---

(۱) البحر المحیط ج۷ ص۳۹
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۲۷۶
(۳) سیرت ابن هشام ج۲ ص۱۴۳؛ تفسیر ابي السعود ج۴ ص۵
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۵۶۴

Scanned by CamScanner

و: خو د څه وخت څخه وروسته معلومه شوه چې قافله د خطر د ځای څخه تېره شوې ده، نو په قريشي لښکر کښې دا خبره وښورېده چې مونږ خو د قافلې د نجات دپاره راوتلي وو اوس چې قافلې نجات موندلى دى نو بايد بېرته لاړ شو او خپل سفر ته خاتمه ورکړو.

ز: مګر ابو جهل د جهل څخه کار واخست او ذکر شوی وړانديز يې ونه مانه او داسې يې وويل: تر هغه به بېرته ستانه نه شو ترڅو چې د بدر مقام ته بښه په تېره کښې لاړ شو او هلته درې ورځې ترڅو په ټول عربستان کښې زمونږ په قوت باندې خلک خبر شي او هم د دوهم ځل دپاره مسلمانان زمونږ د قافلو لارې نيولو ته زړه ښه نه کړي.

د بدر مقام يې ځکه د ځان ښودانې دپاره په ګوته کړ چې هغه تجارتي مرکز وه او هلته به سيار بازار جوړېده چې د هرې خوا څخه به خلک په ټاکلي وخت کښې ورغونډېده.

ح: کله چې نبي کريم ﷺ ته ذکرې شوې دواړه خبرې ورسېدې چې قافله د لاسه ووتله او قريش د جنګ نيت لري، نو د صحابه وو کرامو ﷺ سره يې مشوره وکړه چې څنګه وکړو، ايا مونږ هم د بدر مقام ته لاړ شو او د قريشي لښکر سره مقاومت وکړو او که قافله تعقيب کړو؟ حال دا چې زمونږ سره الله ﷻ وعده کړې ده چې د ذکرو شوو دواړو څخه به يو شی را په نصيب کړي، يا به په قافله باندې قبضه وکړو او يا به قريشي لښکر ته ماتې ورکړو او د غنيمت مالونه به تر لاسه کړو[١].

ط: په همدې وخت کښې هم د ځينو صحابه کرامو ﷺ نظر داوه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! عَلَيْكَ بِالْعِيرِ وَدَعِ الْعَدُوِّ»[٢] يعنې: ای د الله ﷻ پيغمبره! قافله تعقيب کړه او دښمن پرېږده.

ي: نو د نبي کريم ﷺ مبارک مخ تغير شو او د دوی د وړانديز د رد په باره کښې يې وويلې چې: «إِنَّ الْعِيرَ قَدْ مَضَتْ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ وَهَذَا أَبُو جَهْلٍ قَدْ أَقْبَلَ»[٣] يعنې: قافله خو لاړه د درياب په غاړه تېره شوه (لاره يې بدله کړې ده) او دغه دی ابو جهل د لښکر سره زمونږ مقابلې ته راروان دی. اوس خو د جنګ خبره بالکل يقيني ده، که بالفرض مونږ قافله تعقيب کړو نو قريشي لښکر به مونږ تعقيب کړي او په محاصره کښې به واقع شو.

په هر تقدير، جنګ هم يقيني دی او فتحه هم يقيني ده ځکه چې قافله خو د لاسه ووتله او د الله ﷻ وعده د قريشي لښکر په شکست کښې منحصره شوه.

يا: څرنګه چې صحابه کرام ﷺ د مدينې منورې څخه د غټ جنګ په نيت نه وه راوتلي او نه مجهز وه نو ځينو ته د لښکر مقابله داسې ښکارېده لکه چې د مرګ سره مخامخ کېږي. او يا په بل عبارت: د لښکر مقابله ورته په سترګو لېدلی مرګ ښکارېده. خو د دې سره-سره فيصله وشوه چې مقابله کوو، نه بېرته مدينې منورې ته تښتو او نه قافله تعقيبوو.

---

(١) تفسير البغوي ج٢ ص٢٣٢
(٢) روح المعاني ج٩ ص١٧٠
(٣) تفسير ابي السعود ج٣ ص٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ﴾ جمله خو د ﴿ أَخْرَجَكَ ﴾ د "ك" څخه حال واقع شوې ده چې عامل يې همدغه فعل (اخرج) دی، او قاعده دا ده چې د حال زمانه او د عامل د ذوالحال زمانه متحده وي. نو د معنى حاصل يې داسې راوځي چې يوه ډله د مدينې منورې څخه د وتلو په وخت کښې ناخوښه او نارضا وه. او ستاسو د ذکر شوې تشريح سره څرګنده شوه چې دغه يوه ډله په هغه وخت کښې ناخوښه شوه کله چې دوی د قريشي لښکر مقابلې ته دعوت کړی شوه؟

مونږ وايو چې: دلته حال مقدر مراد دی[1] يعنې: دوی د وتلو په وخت کښې داسې وګڼل شوه لکه چې همدا اوس ناخوښه وي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَٱدْخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴾ [الزمر:۷۳] يعني ملائک به جنتيانو ته ووايي چې جنت ته په داسې حال کښې داخل شئ چې ستاسو داخلېدل همېشه ګڼل شوي دي. که څه هم هميشوالی خو وروسته راتلونکی دی او د دخول په وخت کښې محقق نه دی بلکې مقدر دی.

﴿ وَإِذْ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحْدَى ٱلطَّآئِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقْطَعَ دَابِرَ ٱلْكَٰفِرِينَ ۝٧ لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ۝٨ ﴾

[۷] او (اى پيغمبره! مجاهدينو ته ووايه چې:) هغه وخت درپه ياد کړئ چې الله ﷻ ستاسو سره د دوه وو ډلو څخه د يوې (ډلې) وعده وکړه چې يقينًا دا ستاسو ده (تاسو به پرې مسلط کړی شئ) او حال دا چې تاسو دا خوښوله چې د يقيني نيش دارې (ډلې) څخه په غير (بله ډله) ستاسو شي، او الله ﷻ اراده کړې وه چې په خپلو اوامرو (او هدايتونو) سره حق ثابت کړي (ثبوت يې څرګند کړي) او د کافرانو بنياد پرې کړي.

[۸] (ترڅو د قيامت د ورځې پورې خلک پوه شي چې) الله ﷻ حق ثابتوی (ثبوت يې څرګندوي) او باطل د منځه وړي (خلک پرې پوه کوي) اګر که مجرمان (کافران دا کار) نه خوښوي (او بد يې ګڼي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې دريم دليل ته اشاره شوې ده چې بايد د غنيمت په مالونو کښې مجاهدين اختلاف ونه کړي او هرڅوک يې خپل ځان ته کش نه کړي چې حاصل يې داسې راوځي:

۱_ اى پيغمبره! دبدر غازيانو ته يو بل دليل هم ورواوروه او دوی مخاطب کړه چې تاسو خو هغه

[1] روح المعاني ج۹ ص ۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت درپه زړه کړئ چې الله ﷻ تاسو ته وعده درکړه چې د دوه وو نعمتونو څخه به یو نعمت تاسو ته درکړم او هغه به یقیناً ستاسو شي، هغه دا چې یا به په قریشي لښکر باندې غلبه درپېرزو کړم او یا به په قریشي کاروان باندې غلبه درکړم، مګر ستاسو زړونو غوښتل چې اسانه او پسته فتحه مو په برخه شي او تجارتي کاروان لوټ کړئ.

څکه چې تاسو خپله ناتواني او د قریشي لښکر قوت په سترګو باندې لیده او تاسو پوهېدئ چې نظر بشري اسبابو ته په هغوی باندې غلبه نه شئ موندلی. ستاسو یقین وه که په لښکر باندې مونږ غلبه موندلې کوو نو دا به صرف یوه معجزه وي او دا به صرف د الله ﷻ اراده وي او بس.

۲_ ستاسو دغه فکر بالکل واقعیت درلود، ستاسو د وسې پوره نه وه چې په هغوی باندې غالب شئ او فاحشه ماتې ورکړئ، خو الله ﷻ اراده وکړه چې په خپلو فرامینو سره حق داسې حق او ثابت کړي چې هیڅوک پکښې شک شبهه ونه کړي او د کافرانو بیخ وباسې اوبنیاد یې پرې کړي.

ترڅو د قیامت د ورځې پورې خلک پوه کړي چې د اسلام د مخنیوي وسه په هیڅ کښې نشته او هیڅوک نه شي کولی چې د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ واقع شي. یا په بل عبارت: ترڅو خلکو ته د حق د احقاق (اثبات) او د باطل د ابطال (د منځه تللو) یوه نمونه ورڅرګنده کړي. که څه هم دا کار د مجرمانو نه خوښېږي او غواړي چې په حق باندې خاورې ور واړوي او باطل ته د حقانیت لباس ور واغوندي، مګر د الله ﷻ د ارادې په وړاندې یې څه وسه نه کېږي.

اوس نو تاسو ته دا پوښتنه متوجه کېږي چې: تاسو خو هلته په خپله کمزورۍ باندې معترف وئ او یقین مو درلوده چې که قریشي لښکر مات شي نو دا به صرف د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ معجزه وي او بس، نو نن څنګه د غنیمت په مالونو کښې جګړې کوئ، څوک وایي چې زما دی او څوک وایي چې زما؟

## توضیحات

۱_ الله ﷻ مجاهدینو ته د دوه وو طائفو څخه په یوې طائفې باندې د برلاسي وعده ورکړه مګر صراحت یې ونه کړ چې دوه طائفې کومې کومې دي، څکه چې دواړه ډلې هغو نبې پېژاندلې چې یوه د کاروانیانو ډله وه چې تجارتي مالونو ورسره وه او بله د جنګیالانو ډله وه چې وسلې ورسره وې.

مګر عجیبه دا ده چې الله ﷻ داسې وعده ورنه کړه چې تاسو به وریاندې غالب شئ بلکې داسې وعده یې ورکړه چې: ﴿أَنَّهَا لَكُمْ﴾ دغه یوه ډله به ستاسو وګرځي. تاسو به کولی شئ چې هغوی ووژنئ او هغوی وتړئ او بالآخره په هر ډول تصرف چې تاسو غواړئ په هغوی باندې به یې اجراء کولی شئ.

دا هم عجیبه ده چې الله ﷻ ته د قریشي لښکر شکست ښه معلوم وه خو صحابه وو کرامو ﷺ ته یې مشخصه وعده ورنه کړه ترڅو دوی ته خپله کمزوري ښه ورڅرګنده شي او د غنیمت په لانجه کښې پرې قناعت وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "شوکة" څه معنی؟

۲_ د "شوکة" کلمه د "شوك" _لکه "قول"_ سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده. "شوك" هغه شي ته وايي چې نرۍ، تېره څوکه ولري لکه د لرم نيش (ليشه)، مګر ذکره شوې کلمه په وسله کښې هم استعمالېږي[1] په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: تاسو غوښتل چې د وسلوال قوت سره مخامخ نه شئ او بې وسلې خلک ستاسو د تسلط لاندې راشي، مګر الله ﷻ غوښتل چې نيش داره ډله ماته کړئ او په ټول عربستان باندې خپل رعب کښېنوئ او د دعوت لاره هواره کړئ.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په غازيانو باندې څه باعث وه چې په کاروان باندې تسلط ورته ښه ښکارېده او بس؟

مونږ وايو چې: د دې په يوه وجه باندې خو ﴿ غَيْرَ ذَاتِ ٱلشَّوْكَةِ ﴾ او هم د ﴿ يُسَاقُونَ إِلَى ٱلْمَوْتِ ﴾ کلمات دلالت کوي، يعنې د ځينو صحابه وو کرامو ﷺ په غير ارادي توګه وسلوالې ډلې ته ميلان نه کېده او په طبعي ډول باندې يې نه خوښېده چې د وسلوالې ډلې سره مخامخ شي.

امکان لري چې بله وجه به يې دا وي چې په قافله کښې تجارتي مالونه ډېر او د جنګ احتمال پکښې ډېر کم وه چې هغوی غير مسلح وه.

## د الله ﷻ کلمات يعنې څه؟

۴_ دلته د ﴿ بِكَلِمَٰتِهِۦ ﴾ څخه د الله ﷻ هغه اوامر او احکام مطلب دي _والله ﷻ اعلم_ چې د مشرکانو توهين او د مسلمانانو او اسلام توقير پکښې نغښتی وه، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ ملائکو ته امر وکړ چې د جنګ ميدان ته ورښکته شئ او د مجاهدينو سره کومک وکړئ او مشرکان په ککريو باندې ووهئ.

ب: الله ﷻ چې د بدر د غزا په هکله هرڅومره ايتونه نازل کړي دي هغه ټول په ﴿ بِكَلِمَٰتِهِۦ ﴾ کښې شامل دي.

ج: همدارنګه د نبي کريم ﷺ کوم هدايات او ارشادات چې صحابه وو کرامو ﷺ ته يې ورکړي وه هغه ترې يو هم نه دی وتلی، چې د وحې څخه په غير بل شی نه وه.

د: بالآخره د غازيانو الهامي کارونه هم پکښې شامل ښکاري، لکه بنديانول، وژل، په ځا کښې اچول او داسې نور، ځکه چې الهام خو د الله ﷻ د پلوه وي.

﴿ إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّى مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ۝٩ ﴾

[1] مفردات الراغب ص۲۷۷؛ لسان العرب ج۱۰ ص۴۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

[۹] (ای پیغمبره! غازیانو ته ووایه چې) هغه وخت درپه یاد کړئ چې تاسو (په ډېرو زاریو سره) د خپل رب ﷻ څخه د نصرت غوښتنه کوله نو ستاسو رب (ستاسو غوښتنه) قبوله کړه چې یقیناً زه تاسو ته د ملائکو څخه په زرو تنو سره مدد کوونکی یم، په داسې حال کښې چې دا ټولګی نورو ټولګیو لره په خان پسې کوونکی دی (نور وروسته ور روان دي).

[۱۰] او الله ﷻ دا کار (په ملائکو سره مدد) نه دی ګرځولی مګر (ستاسو دپاره د نصرت) زېری او (بل د دې دپاره) چې ستاسو زړونه پرې ډاډه (او مطمئن) شي او (که نه نو) نصرت خو نه دی مګر د الله ﷻ په نزد دی (د ملائکو په امداد پورې اړه نه لري).

یقیناً الله ﷻ د (مطلقې) غلبې څښتن (او) د حکمت خاوند دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د بدر په غازیانو باندې (چې په ولجه کښې په لانجه وه) څلورم استدلال قائم کړی شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

۱ـ ای پیغمبره! صحابه وو کرامو ﷺ ته په استدلال کښې دا هم ووایه چې تاسو هغه وخت درپه زړه کړئ چې د خپلې کمزورۍ د کبله مو خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړي وه چې ای ربه! زمونږ سره کومک وکړه او ای ربه! مونږ ته د زړونو اطمنان راکړه او وارخطایي راڅخه لرې کړه. نو ستاسو رب ﷻ ستاسو سوال قبول کړ چې یقیناً زه په تاسو باندې د یو زر ملائکو د ټولګي درنازلوونکی یم په داسې حال کښې چې نورې ډلې به هم وروسته وي، یا په بل عبارت: دا د ملائکو لومړنی ګروپ دی چې نور ګروپونه هم وروسته در روان دي.

۲ـ ای پیغمبره! دوی ته دا هم ووایه چې ملائک خو الله ﷻ صرف د دې دپاره درنازل کړه ترڅو د یو پلوه ستاسو دپاره د نصرت زېری شي چې الله ﷻ ستاسو سوال قبول کړ او د بله پلوه ستاسو زړونه ډاډه او اضطراب او وارخطایي مو د منځه لاړه شي. که نه نو نصرت خو صرف د الله ﷻ سره دی او صرف د همده ﷻ په واک او قدرت کښې دی، نو څرګنده شوه چې د غنیمتي مالونو وېش او ورکړه هم یوازې او یوازې په همده پورې اختصاص لري او بس.

او دا ځکه چې فقط الله ﷻ د مطلقې غلبې خاوند دی، هو دا د حکمت غوښتنه ده چې نصرت یې په اسبابو باندې بنا کړی دی که نه نو اسباب هیڅ اثر نه لري.

## توضیحات

۱ـ د ﴿تَسْتَغِيثُونَ﴾ کلمه اصلاً د "غَوْث" ـ لکه "قَوْل" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، غوث نصرت او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د شدت څخه نجات ته ویل کېږي[۱]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: هغه وخت دریه زړه کړئ چې تاسو د الله ﷻ څخه د نصرت غوښتنه کوله.

که څه هم تولو صحابه وو کرامو ﷺ به د بدر د جنګ په میدان کښې الله ﷻ ته سوالونه کړي وي خو په روایتونو سره نه دي رانقل شوي[۲]، اما کوم سوالونه چې نبي کریم ﷺ د خپل خان څخه إصالتاً او د خپلو ملګرو څخه د نیابت په توګه کړي وه د هغو روایتونو څخه دیو روایت مضمون دا دی[۳]:

الف: کله چې نبي کریم ﷺ د مجاهدینو کمزوري او د قریشي لښکر قوت ولید نو الله ﷻ ته یې د سوال لاسونه پورته کړه چې: «اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي» یعنې: ای الله! مونږ ته هغه څه را کړې چې ما سره دې وعده کړې وه، ای الله! که ته دغه د مسلمانانو ټولګی هلاک کړې نو: "لا تُعْبَدْ فِي الأَرْضِ" بیا به په ځمکه کښې ستا عبادت ونه شي کړی.

ب: نبي کریم ﷺ خپلو سوالونو ته ادامه ورکړه چې مخ په قبله ولاړ او لاسونه یې غزولي وه آن تر دې چې د اوږې څخه یې څادر ولوېد.

ج: ابو بکر الصدیق ﷺ ورغی او څادر یې په اوږو باندې بېرته ورواچاوه او عرض یې وکړ چې یا رسول الله! بس دی، ډېر ژر دی چې الله ﷻ به هغه څه درکړي چې ژعده یې درسره کړې ده.

د: د سوالونو څخه وروسته نبي کریم ﷺ عملاً په جنګ کښې شرکت وکړ او د هر چا څخه زیات په مېړانه وجنګېده.

د علي ﷺ څخه روایت دی چې: مونږ د بدر په غزا کښې ځانونه همده ﷺ ته ورپټول «وَهُوَ أَقْرَبُنَا إِلَى الْعَدُوِّ وَكَانَ مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ بَأْسًا»[۴] یعنې: او نبي کریم ﷺ د هرچا څخه دښمن ته ډېر ورنژدې وه او په دغې ورځ کښې د جنګ د حیثه د ټولو خلکو څخه کلک وه.

## یادونه

د [آل عمران:۱۹۴] آیت لاندې مونږ دا پوښتنه جوابه کړې ده چې د ضرور واقع کیدونکي شي سوال کول څه معنی لري. لکه چې په دې مقام کښې د مشرکانو شکست یقیني وه خو نبي کریم ﷺ په خپلو سوالونو کښې په ډېرې تواضع سره وغوښت.

هیله ده چې هغه سوال جواب په دې مقام کښې د ښه پوهېدلو په غرض یو ځل وکتلی شي.

## د بدر غزا او ملائک

۲ـ د بدر په غزا کښې د ملائکو د نزول په هکله مونږ د [آل عمران:۱۲۴] آیت لاندې ښه ډېر معلومات لیکلي دي هیله ده چې محترم لوستونکي یو ځل هلته مراجعه وکړي چې د ایتونو د ښه

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۹
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۳۰
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۹۳
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۱۸۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وضاحت په باره کښې ورسره لاس وکړي. خو دلته وروباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: یوه ورځې جبرائیل ﷷ نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې د بدر غازیان تاسو څنګه شمېرئ (څنګه یې ګڼئ)؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې مونږ یې د بهترو خلکو څخه شمېرو. نو جبرائیل ﷷ وویلې چې: «وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلائِكَةِ»[1] یعني: همدارنګه په ملائکو کښې هغه ملائک د بهترو ملائکو څخه دي کوم چې د بدر غزا ته حاضر شوي دي.

ب: نبي کریم ﷺ د بدر غزا په ورځ وفرمایل چې: «هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ»[2] یعني: دغه جبرائیل ﷷ دی چې د خپل آس سر (قیضه) یې نیولې ده په داسې حال کښې چې د جنګ سامان وروباندې دی.

## مردفین څه معنی؟

۳ـ د ﴿مُرۡدِفِينَ﴾ کلمه د "مُرْدِف" ـ لکه "مُکْرِم" ـ جمعه ده، "مُرْدِف" هغه چا ته وایي چې بل څوک یې خان پسې کړی وي چې راپسې راځه او یا راپسې راسور شه.

نو دلته یې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: زه په یو زرکسیز ټولګي باندې ستاسو امداد کوونکی یم په داسې حال کښې چې دغه زرکسیز ټولګی د نورو ټولګیو په سر کښې دی او نور ټولګي یې خان پسې کړي دي، چې یو درې زریز ټولګی دی او په [آل عمران: ۱۲۴] آیت کښې ورته اشاره شوې ده، او بل پنځه زریز ټولګی دی چې په [آل عمران: ۱۲۵] آیت کښې وروباندې صراحت شوی دی.

﴿إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةٗ مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ۝١١﴾

[۱۱] هغه وخت (درپه یاد کړئ) چې الله ﷻ تاسو د خپله طرفه د ډاډ درکولو دپاره په پرکالي (نري خوب) باندې پټ کړئ، او (هغه وخت هم درپه زړه کړئ چې) الله ﷻ په تاسو باندې د اسمان دپلوه اوبه (باران) د دې دپاره درنازلې کړې چې تاسو پرې (د بې اودسیو څخه) پاک کړي او ستاسو څخه (پرې) د شیطان د وارخطا کولو (وسوسه) یوسي.

او (هم) د دې دپاره چې ستاسو زړونه وتړي (مورال مو قوي کړي) او (هم د دې دپاره چې) ستاسو قدمونه پرې کلک کړي (چې په ښکاره او پټه توګه ثابت قدمه پاتې شئ).

## د مطلب خلاصه

په دغه ایت کښې د مجاهدینو د قناعت دپاره دوه نور دلایل (پنځم او شپږم) نازل کړی شوي دي

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۶۹
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۵۷۰

Scanned by CamScanner

فتحه الله ﷻ تاسو ته درپه نصیب کړې ده او د غنیمت مالونه د همده ﷻ حق دی او بس. نو
چې حاصل یې داسې راوځي:
ای پیغمبره! صحابه وو کرامو ؓ ته ووایه چې تاسو خو هغه وخت درپه زړه کړئ ـ او بیا په ولجه شوي مالونو کښې لانجې کوئ ـ چې:
۱ ـ تاسو د جنګ په میدان کښې سخت وارخطا وئ او اضطراب مو ډېر زیات وه نو الله ﷻ په تاسو باندې پرمابښې نازله کړه او په نازک (نري) خوب باندې یې ویده کړئ، خو څنګه مو چې د دغې پرمابښې څخه سترګې ومو‌بښلې او راویښ شوئ نو ذکره شوې وارخطایي او اضطراب مو ټول د منځه تللی وه او مورال مو ډېر زیات قوي شو چې همدغه د مورال قوت مو د فتحې دپاره یو سبب جوړ شو.
۲ ـ تاسو لا د اوبو څاګانو ته نه وئ رسېدلي او په داسې موقع کښې مو موجودیت درلود چې هلته اوبه نه وې او شګې پکښې ښې پرېمانه وې چې نه پکښې تاسو او نه ستاسو څارویو ګرندی مزل کولی شو چې د اوبو څاګانو ته ځانونه ورسوئ، خو په عین حال کښې دا خطر هم درسره وه چې قریشي لښکر به حساسې نقطې ونیسي او د اوبو په څاګانو باندې به قبضه وکړي.
نو د همدې کبله تاسو د لاندې شیطاني وسوسو سره مخامخ شوئ:
الف: سبا به د اوبو ټولې څاګانې د دښمن په لاس کښې وي او مونږ به نه د څښکلو اوبه لرو او نه د اوداسه او ځان وینځلو.
ب: سمدستي هم مونږ په شګلنه ځمکه کښې موقعیت لرو چې ګرندی مزل نه شو کولی، او زمونږ د دښمن په مخه کښې شګلنه ځمکه نشته هغوی وړاندې تګ کولی شي او د اوبو په څاګانو باندې هم قبضه کولی شي.
نو د همدې کبله ستاسو زړونه په سخت اضطراب او وارخطایي کښې واقع وه خو الله ﷻ په تاسو باندې باران درنازل کړ چې هم مو د څښکلو اوبه مونده کړې، هم مو غسلونه او اودسونه وکړه او بالآخره هم مو په باران سره شګلنه ځمکه کلکه شوه چې هم تاسو ته او هم ستاسو څارویو ته پکښې وړاندې تګ اسان شو چې د اوبو څاګانو ته مو ځانونه ورسول.
بالمقابل د قریشي لښکر د وړاندې تګ مخه شدید باران ونیوه، هغوی ونه شوه کړی چې د اوبو په څاګانو باندې قبضه وکړي او په خپل کنترول کښې یې راولي، په دی باندې علاوه، باران ورته ځمکه ښویه وګرځوله چې زغاستل یې ورته مشکل کړه.
نو د همدې کبله ستاسو وارخطایي د منځه لاړه او بالمقابل ستاسو دښمن د اضطراب سره مخامخ او مورال یې کمزوری شو او په نتیجه کښې ورباندې تاسو بریالي شوئ.
ای مجاهدینو! ایا ذکر شوي د فتحې اسباب ټول الله ﷻ نه دي برابر کړي؟ ایا تاسو په خپلو ځانونو باندې د اطمنان خوب دروستلی شو؟ ایا تاسو کوم څاڅکی د اسمانه رابښکته کولی شو؟ نو باید قناعت وکړئ او د غنیمت په مالونو کښې لانجې ونه کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ مونږ د [آل عمران: ۱۵۴] آیت لاندې د "نعاس" په باره کښې څه معلومات لیکلي دي چې په دې مقام کښې هم په درد باندې خوري، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## تطهیر څه معنی؟

۲_ د ﴿ لِّيُطَهِّرَكُم ﴾ کلمه د تطهیر څخه اشتقاقه شوې ده، تطهیر (چې پاکولو ته وایي) په دوه ډوله دی: یو بدني (جسمي) تطهیر دی او بل نفسي او معنوي تطهیر[1].
په دې مقام کښې د عام تطهیر اراده کول هم صحت لري چې دواړو ډولونو ته شامل شي، خو څرنګه چې په عین آیت شریف کښې د ﴿ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ کلمه نازله شوې ده او رجز خو اضطراب او نفسي وارخطايي ته ویل کېږي[2] نو بهتره دا ده چې د تطهیر څخه یوازې بدني تطهیر مراد کړی شي.
نو د ایت شریف د معنی حاصل به داسې راووزي چې: الله ﷻ د بدر په موقع کښې په تاسو باندې باران درنازل کړ چې د یوه پلوه یې پرې ستاسو بدنونه پاک کړه ـ چې واړه او لوی اودسونه مو پرې وکړه او د جامو او نورو شیانو د نظافت کار مو ترې واخیست ـ او د بله پلوه الله ﷻ په همدغه باران سره ستاسو معنویات قوي کړه او کومه وارخطايي او اضطراب چې ستاسو په زړونو کښې د شیطان د خوا څخه در اچولی شوی وه د هغه څخه یې پاک کړئ. نور تفصیل ته یې د ایتونو په خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د ذکرې شوې شرحې په بنیاد داسې معلومېږي چې د جنګ په میدان کښې د باران څخه مخکښې مجاهدینو هیڅ اوبه نه درلودې خو کله چې الله ﷻ باران نازل کړ نو مجاهدینو په همدغو باراني اوبو باندې خپل بدنونه پاک کړه او هم یې پرې معنوي پاکوالی حاصل کړ او وارخطايي او اضطراب یې ورک شو (مورال یې قوي شو)، حال دا چې د ځینو روایتونو څخه څرګندېږي چې نبي کریم ﷺ د الحباب بن المنذر ﷺ په مشوره جهادي مرکز د اوبو موقعیت ته وراندې انتقال کړ او په اوبو باندې یې قبضه وکړه[3].
یا په بل عبارت: د باراني اوبو څخه په غیر هم مجاهدینو اوبه درلودې نو ایا دغه دواړه مضمونونه متناقض نه دي؟
مونږ وایو چې: ذکر شوي دواړه مضمونونه به په هغه وخت کښې یو تربله متناقض وی چې د

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۷
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۹۲

Scanned by CamScanner

باران د ورېدلو موقعيت د جنګ ميدان وی، خو خبره داسې نه ده بلکې داسې ده چې باران الله ﷻ په داسې وخت کښې وورواوه چې نه مجاهدين د ځاګانو اوبو ته رسېدلي وه او نه قريشي لښکر ورباندې قبضه کړې وه او دوارو ډلو غوښتل چې په ځاګانو باندې قبضه وکړي[1].

نو د شديد باران د کبله قريشي لښکر ونه شوه کړی چې وړاندې لاړ شي او په ځاګانو باندې قبضه وکړي بلکې ځاى په ځاى ودرولی شو[2].

اما په مجاهدينو باندې دومره شديد باران ونه ورېده چې د دوی د وړاندې تګ مخه ونيسي[3]، نو ځرنګه چې دوی لا ترهغه وخته پورې اوبو ته نه وه رسېدلي حال دا چې ځينې مجاهدين د احتلام د کبله په جنابت باندې هم اخته شوي وه، نو دوی د يو پلوه په بارانې اوبو باندې ځانونه پاک کړه او غسلونه يې وکړه او د بله پلوه په باران سره شګلنه ځمکه لږ څه کلکه شوه او د مزل دپاره مساعده جوړه شوه چې دوی وړاندې لاړه او د اوبو په هغې ځا باندې يې قبضه وکړه کومه چې په اول ځل د دوی مخې ته ورغله او همدلته يې مرکز ونيوه.

بيا د الحباب بن المنذر ﷺ په مشوره ښه وړاندې ورتېر شو او د اوبو په ټولو ځاګانو باندې يې قبضه وکړه نو ځينې ځاګانې يې د خپل ضرورت دپاره په خپل حال باندې پرېښودلې او نورې يې په خاورو او ډبرو باندې بندې کړې چې دښمن ورباندې قبضه ونه کړي[4].

## يادونه

۴ـ که څه هم په آيت شريف کښې د باران د ذکر څخه د نعاس ذکر وړاندې دی مګر ځرنګه چې ذکر شوی ترتيب په وقوعي ترتيب باندې دلالت نه کوي نو ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې د باران نزول د نعاس (پرمالښې) د نزول څخه مخکې واقع شوی دی[5] لکه چې وړاندې ښه شرحه شو.

﴿إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلرُّعْبَ فَٱضْرِبُوا۟ فَوْقَ ٱلْأَعْنَاقِ وَٱضْرِبُوا۟ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿١٣﴾
ذَٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٤﴾﴾

[۱۲] (ای پېغمبره!) هغه وخت ورياد کړه چې ستا رب ﷻ پرښتو ته وحې وکړه چې يقيناً زه ستاسو

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۷۳
(۲) تفسير الطبري ج۶ ص۱۹۷
(۳) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۷۴
(۴) سيرت ابن هشام ج۲ ص۱۶۰
(۵) روح المعاني ج۹ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


سره (په نصرت سره ملګري) يم نو د هغو کسانو (قدمونه) محکم کړئ چې دوی ايمان راوړی دی. ژر دی چې زه به د هغو کسانو په زړونو کښې رعب (ډار) وروا چوم چې دوی کفر اختيار کړی دی. نو دوی د څټونو دپاسه ووهئ (ککرې يې ورماتې کړئ) او هم د دوی څخه د ګوتو ټولې څوکې (سرونه) ووهئ (مه يې په سر باندې دريغ کوئ او مه په ګوتو او پښو باندې).

[۱۳] (او دا څکه چې) يقيناً دوی د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ سره مخالفت کوي (او په مقابل طرف کښې يې ودريږي) او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر سره خلاف کوي نو (هغوی د سخت عذاب سره مخامخ کيږي څکه چې) يقيناً الله ﷻ سخت عذابي دی.

[۱۴] (ای کافرانو!) دغه (ستاسو دنياوي عذاب دی) نو (په دنيا کښې يې مزه) وڅکئ، او يقيناً ټولو کافرانو لره (ستاسو په شمول په آخرت کښې) د دوزخ عذاب (ټاکلی شوی) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د بدر د غازيانو د قناعت دپاره څو نورو (اوم، اتم، نهم) دلايلو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راوځي:

۱ــ ای پيغمبره! مجاهدينو ته د ښه قناعت دپاره هغه وخت هم ورپه زړه کړه چې ستا رب ﷻ ملائکو ته وحې وکړه چې ای ملائکو! زه ستاسو سره په نصرت او کومک سره ملګری يم نو تاسو مجاهدينو (مؤمنانو) ته ډاډ ورکړئ ترڅو د دوی زړونه ارام ونيسي او اضطراب (وارخطايي) ترې لرې او مورال يې قوي شي.

۲ــ بالمقابل زه به ډېر ژر د کافرانو په زړونو کښې رعب واچوم او د اضطراب (وارخطايي) سره به يې مخامخ کړم نو مورال به د لاسه ورکړي او د شکست دپاره به اماده شي.

۳ــ نو ای ملائکو! تاسو صرف د مجاهدينو په ډاډينه باندې اکتفاء مه کوئ بلکې د قريشي مرعوب لښکر په وژلو کښې هم اشتراک وکړئ، نو مه يې د سرونو په وهلو باندې صرفه کوئ او مه يې د اندامونو په پرېکولو باندې ايله کوئ.

څکه چې قريشي لښکر د مؤمنانو په مقابل کښې نه دی راپورته شوی بلکې دوی اصلاً د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ سره مقابله کوي او غواړي چې د اسماني دين (اسلام) د پرمختګ مخه ونيسي او دنيا په توره تياره کښې پرېږدي، او هرڅوک چې دغه اراده لري او د اسلام د ښمنۍ ته يې ملاوې تړلې وي نو الله ﷻ هغوی په دغسې شديد عذاب باندې اخته کوي او دا څکه چې الله ﷻ خو د شديد عذاب خاوند دی.

۴ــ ای پيغمبره! په پای کښې قريشي لښکر مخاطب کړه چې دا خو ستاسو دنياوي عذاب و چې الله ﷻ درباندې درنازل کړ ترڅو په دنيا کښې يې مزه وڅکئ، اما په آخرت کښې خو ستاسو په شمول ټولو کافرانو ته د دوزخ اور ټاکلی شوی دی چې نه پکښې سوروالی صورت نيسي او نه به انقطاع ومومي، بلکې تاسو به پکښې د هميشه دپاره کړېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس ابا سین لخوا سکین شو



۱ـ مفسرینو کرامو د ﴿ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ د تفسیر دپاره لاندې صورتونه ذکر کړي دي[۱]:

الف: کوم شر چې سړي ته شیطان په زړه کښې اچوي هغه ته وسوسه ویل کېږي او کوم خیر چې په زړه کښې وراچوي هغه ته الهام وايي، نو الله ﷻ ملائکو ته امر ورکړ چې تاسو پرښتې به د مجاهدینو ته د خیر الهام وکړئ او هغه څه په زړونو کښې ورواچوئ چې د جنګ په میدان کښې د دوی په ګټه تمامېږي او د نیتونو د تصحیح دپاره ګټور وي.

ب: ای ملائکو! تاسو د جنګ په میدان کښې د مجاهدینو اجتماع غټه کړئ او د دوی سره په جنګ او وژلو کښې عملي ګډون وکړئ چې په میدان کښې ثابت قدمه پاتې شي.

ج: ای ملائکو! تاسو دوی ته د فتحې او نصرت زېرې ورکړئ چې جرئت یې زیات شي.

مونږ ته داسې ښکاري چې دلته به د ﴿ فَثَبِّتُواْ ﴾ څخه مطلق تثبیت مراد وي چې هر ډول تثبیت ته شاملېږي، نو د جنګ په میدان کښې به ملائکو په الهام او بشارت باندې علاوه په جنګ کښې هم عملي اشتراک کړی وي.

## اعناق څه معنی؟

۲ـ د "أعْنَاق" خو د "عُنُق" جمعه ده او "عُنُق" غاړې ته ویل کېږي، نو مفسرینو کرامو ﴿ فَٱضْرِبُواْ فَوْقَ ٱلْأَعْنَاقِ ﴾ دپاره متعدد تفسیرونه کړي دي[۲] خو لاندې دوه تفسیرونه مونږ ته غوره ښکاري:

الف: څرنګه چې سرونه په غاړو باندې دپاسه دي نو دلته د ﴿ فَوْقَ ﴾ د کلمې څخه همدغه سرونه مراد دي، نو معنی یې داسې کېږي چې ای ملائکو! قریشي لښکر په سرونو باندې ووهئ او ککرې یې ورماتې کړئ[۳].

ب: د ﴿ فَوْقَ ﴾ توری د "علی" په معنی سره دی، یعنې مشرکان په غاړو (څټونو) باندې ووهئ او سرونه ترې کټ کړئ[۴].

او د ﴿ بَنَانٍ ﴾ کلمه خو د "بنانة" جمعه ده، "بنانة" پخپله ګوتې یا د ګوتې سر ته ویل کېږي[۵].

نو د معنی حاصل یې په لاندې دوه وو ډولونو سره راځېږي:

اول: ای ملائکو! د مشرکانو د یوه ځای په وهلو باندې هم دریغ مه کوئ نو د سرونو څخه نیولې آن د ګوتو د څوکو پورې یې د وهلو لاندې ونیسئ[۶].

دوهم: ای ملائکو! مشرکان په ککریو باندې ووهئ او مړه یې کړئ او هم یې په پښو او لاسونو

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۱۸؛ زاد المسیر ج۳ ص۳۲۲
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۲۸۶
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۰۴
(۴) روح المعاني ج۹ ص۱۷۸
(۵) تفسیر المظهري ج۴ ص۳۳
(۶) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې ووهئ؛ چې معیوبان شي او د جنګیالانو د صفونو (کرښو) څخه ووېستلی شي[۱].

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ ملائکو ته ارشاد وکړ چې مشرکان هم ووژنئ او هم یې اندامونه معیوب کړئ حال دا چې په جنګ کښې خو بل شی نه وي یا وژل او یا د اندامونو زخمي کول وي چې معیوبیت او د جنګ د اولنیو خطونو څخه وتل ورسره تړلي دي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ملائک د جنګ په طریقه باندې نه پوهیدل چې انساني جنګونه په څه شکل صورت نیسي نو الله ﷻ دوی ته د بنیادمانو د جنګونو طریقه ورزده کړه چې مقابل طرف د وهلو لاندې ونیسئ؛ د سر څخه نیولې آن د ګوتو دڅوکو پورې[۲]. ترڅو یا ووژلی شي او یا زخمي شي او د جنګ څخه کښېني.

## د بدر غزا او ملائک

۴_ ځینې علماء کرام وایي چې د بدر په غزا کښې هم ملائکو په جنګ کښې عملي اشتراک نه دی کړی او په ﴿ فَٱضۡرِبُواْ ﴾ کلمه باندې انسانان غازیان مخاطب کړی شوي دي[۳].

دوی وایي چې یوه ملکه د یوه لوي ښار د ورانولو دپاره کفایت کوي نو که د بدر په غزا کښې ملائک د جنګ دپاره رالېږلی کړی شوي وی نو عدد به یې زرونو ته نه وی رسولی شوی.

خو ډېره صحیح خبره (چې د ایتونو د سوق سره هم مناسبه ده) دا ده چې په ذکر شوي مقام کښې ملائکو په جنګ کښې عملي اشتراک کړی دی[۴]. رښتیا چې د یو لوی ښار د پوپنا کولو دپاره په ملکي کیفیت سره یوه ملکه هم کفایت کوي، مګر ذکره شوي معرکه (د جنګ میدان) په ملکي کیفیت باندې مکیف نه وه بلکې انساني بڼه یې درلوده. د همدې کبله الله ﷻ دوی ته د انساني جنګ کیفیت ورزده کړ چې: ﴿ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٍ ﴾ لکه چې شرحه یې وړاندې تېره شوه ـ والحمد لله ﷻ ـ. په همدې مضمون باندې زښت ډېر احادیث دلالت کوي چې څو مثالونه یې د [آل عمران:۱۲۳] آیت لاندې واضحه شوي دي او څو مثالونه یې په لاندې ډول دي:

الف: سهل بن حنیف ﷺ وایي چې د بدر د غزا په میدان کښې به کله داسې هم واقع کېدل چې مونږ به د یوه کافر سرته د توري اشاره وکړه نو زمونږ توره به هغه ته نه وه وررسېدلې چې د هغه سر به د تنې څخه جدا شو[۵].

ب: د بدر د غازیانو څخه ابو داود الخازني ﷺ وایي چې زه د یو کافر په تعقیب کښې زغلېدم

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۷۹؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۱۸
(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۳۵
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۰۵؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۱۳
(۴) روح المعاني ج۹ ص۱۷۸؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۲۴
(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې توره مې پرې ورښکته کړه نو د هغه سر د تنې څخه په داسې حال کښې جدا شو چې زما توره لا هغه ته نه وه رسېدلې "فعرفت أن قد قتله غيري"[۱] نو زه پوه شوم چې (دا کافر) زما څخه په غير بل چا وواژه (يعنې ملائکو وواژه).

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ د ملائکو نزول په دوه وو شيانو کښې حصر کړی دی چې يو بشارت دی او بل اطمنان، لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمْ ﴾ [الأنفال: ۱۰] يعنې: مونږ په ملائکو باندې امداد د بل شي دپاره نه دی ګرځولی مګر د دې دپاره چې تاسو ته بشارت شي او بل د دې دپاره چې ستاسو زړونه پرې ډاډه شي.

نو معلومه شوه چې هغوی په جنګ کښې عملي اشتراک نه دی کړي چې د حصر سره منافات لري؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی حصر په جنګ کښې د عملي اشتراک سره منافات نه لري ځکه چې عملي اشترک د بشارت او اطمنان تائيدونکی دی نو د حصر مطلب دا دی چې نصرت د ملائکو په لاس کښې هم نه دی لکه څنګه چې د انسانانو (مجاهدينو) په لاس کښې نه دی، د همدې کبله د ذکر شوي حصر سره متصل دا حصر هم نازل شوی دی چې: ﴿ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ [الأنفال: ۱۰] يعنې: نصرت د بل هيچا په واک او اختيار کښې نه دی مګر يوازې د الله ﷻ په اختيار کښې دی ځکه چې الله ﷻ هم د کلکې ارادې خاوند دی څوک يې د ارادې مخه نه شي نيولی او هم د حکمت څښتن دی چې ټول کارونه يې په حکمت باندې څرخېږي. دا د حکمت غوښتنه ده چې په زړونو ملائک يې نازل کړه، که نه نو يوه ملائکه د عالمونو د هلاکولو دپاره کفايت کوي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۵] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! کله چې تاسو د هغو کسانو سره چې کفر يې اختيار کړی دی (د کافرانو سره) په داسې حال کښې مخامخ شئ چې هغوی (د جنګ په ميدان کښې) غټ لښکر وي نو تاسو دوی ته شاګانې مه وراړوئ (ترې مه تښتئ).

[۱۶] او هرڅوک چې دوی ته په دغې ورځ کښې خپله شا ورواړوي (وتښتي نو د راتلونکي سزا مستحق دی) مګر (هغه څوک) چې بېرته د جنګ دپاره راتاوېدونکی وي (او د جنګ تکتيک په

[۱] الدر المنثور ج۴ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غرض وتبنتي) او یا یوې بلې جنګې ډلې ته ور یوځای کېدونکی وي (هغوی ته پنا وروړي؛ سزا یې دا ده چې) نو یقیناً د الله ﷻ د پلوه یې په غضب سره رجوع وکړه (غضب یې وګاته) او استوګنځای یې دوزخ دی او د ورتاوېدلو ډېر بدځای دی (دوزخ).

## ارتباط

وراندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې الله ﷻ ټولو کافرانو ته په آخرت کښې دوزخ ټاکلی دی، په دې ایتونو کښې مؤمنانو ته توصیه شوې ده چې تاسو د هغه شي څخه ځانونه وساتئ کوم چې ستاسو دپاره د دوزخ د داخلېدلو سبب جوړېږي نو حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! مونږ د دوزخ اور د کافرانو دپاره ټاکلی دی چې د همیشه دپاره به پکښې کړېږي، تاسو پام کوئ چې د داسې عمل مرتکب نشئ؛ چې تاسو هم په عارضي توګه ورداخل شئ؛ او په موقته توګه د خپلو دښمنانو سره هلته ملګري شئ؛

نو کله چې تاسو د کافرانو (خپلو دښمنانو) سره د جنګ په میدان کښې مخامخ شوئ نو تاسو دوی ته شاګانې مه وراړوئ او تښتېته ترې مه کوئ ځکه چې الله ﷻ ستاسو کومکي او ستاسو ملګری دی، او هرڅوک چې دا کار وکړي او د جنګ په میدان کښې کافرانو ته شا ورواړوي نو یقیناً هغه خپل ځان ته د الله ﷻ غضب وګاټه او استوګنځای یې دوزخ جوړ کړ، دوزخ ډېر بد ځای دی باید تاسو ترې ځانونه وساتئ؛ که څه هم په موقته توګه وي.

۲ـ هو! د ذکر شوي حکم څخه لاندې دوه په شا کېدونکي کسان وتلي دي او د الله ﷻ غضب ورته نه متوجه کېږي:

الف: هغه څوک چې د جنګ څخه په دې غرض په شا شي چې د بله طرفه په دښمن باندې برید وکړي، په اصطلاح د جنګ د تکتیک د کبله دغه کار وکړي.

ب: هغه څوک چې بلې جنګېدونکې مسلماني ډلې ته وروتښتي ترڅو د هغوی د سورې لاندې په دښمن باندې حملې ته ځان چمتو کړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿زَحْفًا﴾ کلمه خو اصلاً په کوناټیو باندې ښوېېدلو ته وضعه شوې ده لکه چې یو کوچنی ماشوم په ځمکه باندې ښوېږي[۱] البته په هغه وخت کښې چې په پښو باندې نه شي تللی، مګر لوی لښکر ته ځکه د زحف لقب ورکول کېږي چې د لرې څخه لیدونکي ته داسې ښکاریږي چې په ځمکه باندې ښوېږي[۲] او په دې باندې علاوه د مقابلې په وخت کښې هر لښکر د دښمن خوا ته په ورو-ورو حرکت کوي، ته به وایې چې په کوناټیو باندې ورځښېږي.

(۱) مفردات الراغب ص۲۱۶
(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په غزا کښې تښتېدل کبیره ګناه ده

٢ـ نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: "وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ"(١) يعنې: ای مؤمنانو! د اوو مهلکو ګناهونو څخه ځانونه وساتئ؛ چې يوه ګناه يې د کافرانو سره د جنګ په وخت کښې تښتېدل او شا کول دي. دا ګناه هم ځکه د مهلکې په لقب سره ياده شوې ده چې خپل مرتکب ته د الله ﷻ د غضب جلبوونکې ده.

په دې مقام کښې الله ﷻ د جنګ د ميدان څخه تښتېدل په مطلقه توګه د خپل غضب جالب ويلل، برابره خبره ده چې په مقابل کښې کافران د مجاهدينو څخه لږ، يا ورسره مساوي او بالآخره يا ترې څو چنده زيات وي، مګر په راتلونکي [الأنفال:٦٦] آيت کښې الله ﷻ دغه ثقيل حکم تخفيف کړی دی چې ـان شاء اللهـ هملته به شرحه شي.

هوا خينو علماء کرامو ليکلي دي چې دا ثقيل حکم په هغه وخت کښې په مجاهدينو باندې فرض وه چې نبي کريم ﷺ به پخپله د جنګ په ميدان کښې حاضر وه لکه چې د بدر په غزا کښې يې د مجاهدينو په منځکښې تشريف درلود(٢).

د همدې کبله د احد په غزا کښې هغه مجاهدين د ملامتې لاندې راغله او بيا ورته عفوه وکړی شوه کوم چې د نبي کريم ﷺ د شاوخوا څخه تښتېدلي وه، حال دا چې په دغې غزا کښې مجاهدين د اوو سوو (٧٠٠) تنو په شاوخوا کښې وه او قريشي لښکر آن تر درې زرو تنو پورې رسېده.

نو که بالفرض نبي کريم ﷺ په دغې غزا کښې تشريف نه درلودلی نو تښتېدونکو مجاهدينو ته به هم د ملامتيا اشاره نه وی شوې لکه چې په [آل عمران:١٥٥] آيت کښې ورته اشاره شوې ده.

﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ ﴿١٨﴾﴾

[١٧] نو (ای مؤمنانو!) تاسو (د بدر په مقام کښې) دوی (کافران په عادي توګه) نه دي وژلي مګر الله ﷻ (په غير عادي توګه) وژلي دي.

او (ای پيغمبره!) تا (هم د لښکر مخونو ته خاورې) نه دي ورويشتلې (چې د ټولو جنګيالانو سترګو ته ورسېدلې) کله چې تا ورويشتلې مګر الله ﷻ ورويشتلې (د ټولو سترګو ته يې ورداخلې کړې).

(دا کار د ډېرو حکمتونو دپاره وکړی شو) او د دې دپاره ترسره شو چې الله ﷻ مؤمنانو ته د خپله جانبه ډېره سپېڅلې پېرزوينه (نصرت او برلاسي) ورکړي.

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٣٨٨
(٢) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص٤٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یقینًا الله ﷻ (د مجاهدینو د زاریو) اورېدونکی دی (اوهم د دوی په زړو باندې) پوه دی.

[۱۸] (ای مؤمنانو!) دغه (ذکر شوی مضمون په اذهانو کښې وساتئ) او (هم دا خبره پکښې وساتئ چې) یقینًا الله ﷻ د کافرانو د تدبیرونو (چلونو) سستوونکی (او د ببخه ویستونکی) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په هغه مطلب باندې صراحت کړی شوی دی د کوم دپاره چې د سورت د سر څخه د ایتونو لړۍ را پیل شوې ده او د مجاهدینو د قناعت دپاره پکښې نهو دلایلو ته اشاره شوې ده، نو حاصل یې داسې کېږي چې:

۱ـ ای مؤمنانو! د ذکر شوو دلایلو په نظر کښې نیولو سره تاسو په دې باندې پوه شئ چې کافران په حقیقت کښې تاسو نه دي وژلي او تاسو شکست نه دی ورکړی بلکې دا کار الله ﷻ کړی دی نو د غنیمت د مالونو وېشل هم د الله ﷻ حق دی، په تاسو لازمه ده چې جګړې پکښې ونه کړئ او خپلمنځي اختلاف ته لمن ونه وهئ.

۲ـ همدارنګه ای پیغمبره! کومې خاورې چې د جنګ د شدت په وخت کښې تا د کافرانو خوا ته ور وویشتلې او د دوی د شکست باعث شوې، دا کار هم په حقیقیت کښې تا نه دی کړی بلکې دا د الله ﷻ کار وه چې د هر یوه جنګیالي کافر سترګو ته یې ور ورسولې او ټول یې د جنګ څخه غافل کړه او په سترګو موښلو باندې بوخت شوه چې تاسو وریاندې مرګونی برید وکړ او په نتیجه کښې مو ډېر ووژل او ډېر مو بندیان کړه.

۳ـ د کافرانو په ذکر شوي فاحش شکست کښې ډېر حکمتونه پټ دي یو حکمت پکښې دا دی چې الله ﷻ د خپله جانبه مؤمنانو ته ښه نېک نعمت ورکړ او قوي دښمن یې ورته په ګونډو کړو. او دا څکه چې الله ﷻ د مؤمنانو د سوالونو او زاریو اورېدونکی او په ټولو حالاتو باندې یې پوه دی چې د همدغه وخت سره همدغسې کار مناسب وه.

۴ـ نو ای مؤمنانو! ذکر شوي نهه دلایل په خپلو مغزو کښې محفوظ وساتئ او ښه په څیر سره پکښې فکر وکړئ نو ډېر ژر دی چې د یو پلوه به ستاسو قناعت حاصل شي چې غنیمت د الله ﷻ حق دی (ستاسو حق نه دی) او د بله پلوه به پوه شئ چې الله ﷻ په مؤمنانو باندې زښت ډېر مهربان دی او د کافرانو قوي تدبیرونه ورته د خاورو سره برابروي او د منځه یې وړي دا کار به د قیامت د ورځې پورې ادامه ولري خو په دې شرط چې مؤمنان د تقوی او دینداری درلودونکي وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ﴾ کښې د "ف" توری د تفریع دپاره دی نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! کله چې تاسو وړاندېني دلایل په نظر کښې ونیسئ او ښه په دقت سره وریاندې غور وکړئ نو پوه به شئ چې قریشي لښکر ته تاسو په عادي توګه ماتې نه ده ورکړې، نه مو د دوی وژل شوي په عادي توګه وژلي دي او نه مو اسیران په عادي ډول باندې اسیران کړي دي، بلکې دغو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کارونو د الله ﷻ دپلوه په معجزانه توګه صورت نیولی دی د همدې کبله ورته تول ناظرين او د دنيا تول تماشاچيان حيران او هک پک دي او لا د قيامت د ورځې پورې به ورته هک پک وي.
حتی (ای پیغمبره!) کوم د خاورو موټی چې تا د قریشي لښکر خوا ته ورباد کړ او د ټولو جنګیالانو سترګو ته یې بخرکي وررسېده هغه هم عادي کار نه وه بلکې د الله ﷻ یوه معجزه وه.

## يو موټی خاورې او د کافرو جنګیالانو سترګې

۲ـ کله چې د بدر د غزا د جنګ په میدان کښې مجاهدين او کافر جنګیالان يو تربله نژدې شوه او جنګ زور واخست) نو نبي کريم ﷺ يو موټی خاورې واخستلې او د قريشي لښکر په مخونو باندې يې په داسې حال کښې ورووېشتلې چې د "شَاهَتِ الْوُجُوهُ" کلمات يې په مبارکه ژبه جاري وه، يعنې "ناکاره (بد) دې شي مخونه".
نو ذکرې شوې خاورې د ټولو جنګیالانو په سترګو کښې ورداخلې شوې چې تول د سترګو په مونبلو باندې بوخت شوه او په عين حال کښې ورباندې مجاهدينو مرګونی برید وکړ چې څوک يې ووژل او څوک يې اسيران کړه.
نو که څه هم د يو موټي خاورو ورشندل د نبي کريم ﷺ کارو وه مګر د هر يوه کافر سترګو ته د خاورو بخرکي صرف د معجزې په توګه ورسېده او بس[١].

## سوال جواب

۳ـ کـه څوک وايـي چې: ځينو عـلـماوو کرامـو خو د ﴿ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ﴾ جمله د احد د غزا سره او ځينو د خيبر غزا او حتى ځينو لا د حنين د غزا سره اړونده ګڼلې ده[٢]، حال دا چې تاسو صرف د بدر د غزا سره مربوطه وبلله او بس؟
مونږ وايو چې: د کلام سياق او سباق (وړاندې او ببرته) په واضحه توګه دلالت کوي چې ذکره شوې جمله په دې مقام کښې د بدر د غزا سره اړونده ده، مګر څه منافات نه لري چې عين عمل نبي کريم ﷺ په ذکرو شوو دريوو غزاګانو کښې هم تکرار کړی وي او د "شَاهَتِ الْوُجُوهُ" کلمه يې ورسره ضميمه کړې وي.

## بَلاء څه معنی؟

۴ـ د ﴿ وَلِيُبْلِيَ ﴾ کلمه اصلاً د "بَلاء" څخه اخستله شوې ده، بلاء د اختبار (امتحان) معنی ورکوي، لکه چې وايي: "بَلَوْتُ زيدًا جَرَّبْتُهُ"[٣] يعنې زيد مې امتحان کړی او تجربه کړی وه.
خو الله ﷻ خپل بندګان کله-کله د نعمتونو په ورکړه باندې امتحانوي ترڅو شکر وکړي او د اجر

(١) تفسير الطبري ج۶ ص۲۰۵؛ سيرت ابن هشام ج۲ ص۲۶۸
(٢) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۸۵؛ زاد المسير ج۳ ص۲۲۶
(٣) لسان العرب ج۱۴ ص۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مستحق شي او کله-کله پرې مصيبتونه ورنازلوي ترڅو صبر وکړي او اجرونه وګټي.

مفسرين کرام وايي چې په دې مقام کښې اوله معنى مراده ده[۱]، نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: الله ﷻ د ډېرو حکمتونو په بنياد مجاهدينو ته په خارق العاده توګه فتحه ورکړه، يو حکمت پکښې دا وه ترڅو په دوى باندې د نصرت او فتحې ورکولو نعمت ورعنايت کړي.

## د عربيت يو تحليل

۵_ مفسرينو کرامو په ﴿ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ کښې متعدد تحليلونه کړي دي[۲] کوم تحليل چې زمونږ ذهن ته راځي او د ايتونو د مطالبو سره ښه سمون خوري هغه دا دى چې ﴿ذَٰلِكُمْ﴾ د مقدر "احْفَظُوا" دپاره مفعول دى او ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ وربانديې عطف دى، نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: اى مؤمنانو! ذکر شوي بيانات په خپلو اذهانو کښې په کلکه وساتئ ترڅو ستاسو قناعت حاصل شي چې يقينًا غنيمتي مالونه د الله ﷻ حق دى څوک پکښې د جګړې حق نه لري او ترڅو تاسو پوه شئ چې الله ﷻ په راتلونکي کښې هم د قيامت د ورځې پورې د کافرانو د تدبيرونو د ببخه ويستونکى او مؤمنانو ته د برلاسي ورکوونکى دى.

﴿إِن تَسْتَفْتِحُوا۟ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ ۖ وَإِن تَنتَهُوا۟ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَعُودُوا۟ نَعُدْ وَلَن تُغْنِىَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾﴾

[۱۹] (اى مشرکانو!) که تاسو چرته (حقدار ته) فتحه وغواړئ (او بيا جنګ وکړئ) نو تاسو ته خو فتحه درغله (چې د مؤمنانو په برخه شوه نو بيا به هم د همدوى په برخه شي).

او که تاسو (د جنګ څخه) منعه شئ نو دا (کار) درته بهتر (او په ګټه) دى.

او که تاسو بېرته (جنګ ته) ورتاو شئ نو مونږ به هم (د مؤمنانو نصرت ته) ورتاو شو (تاسو به بيا د ماتې سره مخامخ شئ) او ستاسو څخه به ستاسو ډله د هيڅ شي مخه ونه شي نيولى اګر که ډېره(غټه ډله) وي، او (دا ځکه چې) يقينًا د الله ﷻ (نصرت) د مؤمنانو سره دى.

## د مطلب خلاصه

دا آيت شريف د وړاندېنيو ايتونو د وروستني آيت د مضمون وضاحت کوي چې الله ﷻ د کافرانو د تدبيرونو د منځه وړونکى دى او د قيامت د ورځې پورې به همدا کار دوام لري نو حاصل يې داسې راوځي چې:

۱_ اى پيغمبره! قريشي لښکر (چې ستا په مقابل کښې د جګړې دپاره راپورته شوى دى) مخاطب کړه او زمونږ دپلوه دوى ته ووايه چې:

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۸۷
(۲) البحر المحيط ج۵ ص۲۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای کافرانو! که تاسو د الله ﷻ څخه فیصله غواړئ او یا ترې د جنګ په میدان کښې فتحه غواړئ نو دغه فیصله خو د بدر په میدان کښې الله ﷻ تاسو ته درولیدله کړه چې اسلام غالب شو او کفر مغلوب شو او د قیامت د ورځې پورې به همدغه طریقه جاري وي.

همدارنګه الله ﷻ په ذکرې شوې جګړه کښې ستاسو غوښتنه درپوره کړه او هغې ډلې ته یې بری ورکړ کومه چې د الله ﷻ په نزد معززه او محترمه وه، او تاسو همداسې غوښتي وه چې ای الله! معززې ډلې ته بری ورکړه.

لنډه دا چې ذکرې شوې جګړې تاسو ته د عبرت درس درکړ او ستاسو د مسلک بطلان او د مؤمنانو د مسلک حقانیت یې درته ښه پوره واضحه کړ، نو تاسو ته په کار دی چې د باطل مسلک څخه لاس واخلئ او په ایمان باندې مشرف شئ، دا کار ستاسو دپاره په دنیا او آخرت کښې ګټور دی.

او که تاسو په خپل باطل مسلک باندې کلک شئ او بیا په جګړه لاس پورې کړئ او بیا معزز ټولګي ته فتحه او نصرت وغواړئ نو مونږ به بیا هم مسلمانانو ته فتحه او بری ورکړو او تاسو به د شکست سره مخامخ کړو.

۲ـ نو لکه څنګه چې په ذکره شوې جګړه (د بدر غزا) کښې تاسو ته د جنګیالانو ډېروالي او د وسایلو پرېماني. څه ګټه ونه رسولی شوه همدارنګه به تاسو ته بیا هم هیڅ شی ګټه ونه شي رسولی او د شکست مخه به درڅخه وانه ړوي که څه هم تاسو د هرحیثه پوره یاست او پرېمانه جنګي وسائل ولرئ، او دا ځکه چې الله ﷻ په نصرت او کومک سره خاص د مؤمنانو ملګری دی او بس.

## توضیحات

۱ـ علماء کرام په لاندې ډول اختلاف لري چې په ﴿إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ﴾ کښې څوک مخاطب دي:

الف: ځینې وایي چې ذکر شوی خطاب مؤمنانو ته متوجه دی[۱] لکه څنګه چې په وړاندې او ېرته ایتونو کښې همدوی مخاطب دي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! که تاسو د الله ﷻ څخه فتحه غواړئ هغه خو درته الله ﷻ په نصیب کړه نو تاسو ته په کار دي چې د فتحې شکریه وکړئ او په غنیمتي مالونو کښې جګړې ونه کړئ ځکه چې دا کار درته بهتر دی او که تاسو بیا هم جګړه وکړئ نو مونږ به درڅخه خپل نصرت واخلو نو په دغه وخت کښې به درته د جنګي وسائلو کثرت څه ګټه ونه رسوي ځکه چې الله ﷻ د کاملو مؤمنانو سره ملګری دی.

ب: اکثریت علماء وایي چې ذکر شوی خطاب کافرانو ته متوجه دی[۲] چې مضمون ته یې په خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده.

ج: ځینې لا وایي چې په ذکر شوې جملې باندې مؤمنان مخاطب دي مګر د ﴿وَإِن تَنتَهُواْ﴾ او نورو جملو خطاب کافرانو ته متوجه دی[۳].

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۴۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۳۸۷
(۳) البحر المحیط ج۵ ص۲۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ ته د اکثرو علماوو نظر د تائید وړ دی اونور دواړه نظرونه راته د منلو وړ نه دي چې دواړه غیر متبادر دي او بې تکلفه صحت نه شي موندلی او په درېم نظر کښې لا بالکل د قرآن کریم د نظم تفکیک (شکول) منځ ته راځي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې کافرانو په کوم ځای کښې د فتحې غوښتنه کړې وه چې په ﴿ إِن تَسْتَفْتِحُواْ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې:

الف: عبدالله بن ثعلبه ﷺ وايي چې د بدر د غزا په موقع کښې ابو جهل الله ﷻ ته سوال وکړ چې: "اللَّهُمَّ أَقْطَعَنَا الرَّحِمَ وَآتَانَا بِمَا لَا نَعْرِفُهُ فَأَحْنِهِ الْغَدَاةَ"[۱] یعنې: ای الله! هر څوک چې په مونږ (مجاهدین، قریشي لښکر) کښې د خپلولۍ پرې کوونکي او د داسې دین راوړونکي وي چې مونږ یې نه پېژنو نو سبا (د جنګ په میدان کښې) هغوی هلاک کړه.

ب: کله چې مشرکان د مکې معظمې څخه د بدر په طرف د جنګ دپاره راوخوزېده نو د کعبې شریفې په پوښ پورې ونښتل او د نصرت غوښتنه یې وکړه چې: "اللّٰهُمَّ انْصُرْ اَعَزَّ الْجُنْدَیْنِ وَاَکْرَمَ الْفِئَتَیْنِ وَخَیْرَ الْقَبِیْلَتَیْنِ"[۲] یعنې: ای الله! په دواړو لښکرو (قریش، مؤمنانو) کښې د معزز لښکر سره او په دواړو ډلو کښې د مکرمې ډلې سره او په دواړو قبیلو کښې د بهترې قبیلې سره نصرت وکړه.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾ ۞ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَوْ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ﴾

[۲۰] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ او تاسو ترې مخونه مه اړوئ، حال دا چې تاسو (خو مسلمانان یاست او) غوږونه (ورته) ږدئ.

[۲۱] او تاسو د هغو کسانو په شان مه جوړېږئ چې دوی (په خولو باندې) وايي چې واموورېده حال دا چې دوی نه وي اورېدلي (غوږونه یې ورته نه وي نیولي).

[۲۲] یقینًا د الله ﷻ په نزد په ځارویو (او خوزېدونکو) کښې د بد (خوزېدونکي) هغه کاڼه او ګونګان دي چې د عقلونو څخه (هم) کار نه اخلي (چې همدغه عنادي کافران دي).

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۱۶۷

(۲) تفسیر الطبري ج۶ ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۳] او که الله ﷻ په دوی کښې په څه خیر باندې پوه وی (په دوی کښې څه د خیر استعداد موجود وي) نو الله ﷻ به دوی ته (دا قرآن کریم د تحقیق او فهم په توګه) وراوروِلی وی (خو دوی استعداد خراب کړی دی).

او که الله ﷻ دوی ته (په همدغه حالت کښې) وراوروِلی وی نو دوی به (ترې بیا) مخونه اړولي وی (او مرتد شوي به وی) حال دا چې دوی اعراض کوونکي خلک دي (دا کار د دوی مستمر عادت دی).

## ارتباط

وړاندې آیت په دې باندې تمام شوی وه چې الله ﷻ د مؤمنانو سره د همیشه دپاره په نصرت او کومک سره ملګری دی. نو د دې ایتونو څخه نیولې آن تر [۲۹] آیت پورې لس ایتونه په دې باره کښې نازل شوي دي چې مؤمنانو ته د الله ﷻ د دوامداره نصرت شرطونه توصیه کړي او په دې باندې یې پوه کړي چې الهي نصرت د دوی ذاتي صفت نه دی چې په هیڅ حال کښې به ترې نه جدا کېږي نو دوی ته په کار دي چې د شرطونو مراعات یې په کلکه وکړي او بس.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! الله ﷻ په دوامداره توګه ستاسو په نصرت کښې دی او د همیشه دپاره به تاسو ته په کافرانو باندې فتحه درکوي خو د لاندې شرطونو حفاظت وکړئ:

۱_ د الله ﷻ او د ده د پیغمبر دوامداره اطاعت وکړئ او په هیڅ صورت سره ترې غاړې مه غړوئ، حال دا چې تاسو خو روغ رمټ حواس لرئ او کما حقه اورېدل کولی شئ، نو د خپلو اورېدلو څخه ګټه پورته کړئ او په عمل کښې یې پیاده کړئ.

۲_ د کافرانو او منافقانو غوندې مه جوړېږئ چې هغوی په خولو باندې وایي چې مونږ د الله ﷻ احکام او قرآن کریم اورېدلی دی او قبول کړی مو دی حال دا چې په عمل کښې یې نه قبلوي او عمل پرې نه کوي. او دا ځکه چې دوی فطري استعداد د لاسه ورکړی دی، نه په ژبه حقه خبره کولی شي، نه په غوږونو باندې واقعي اورېدل کولی شي او بالآخره نه د عقلونو څخه مناسب کار اخستلی شي.

نو یقینًا ذکر شوي کافران او منافقان د الله ﷻ په نزد په ځمکه باندې حرکت کوونکي ساکښان دي چې انساني فضائل یې ټول د پښو لاندې کړي دي بلکې د ځارویو څخه لا ډېر بدتر دي ځکه چې ځارویو ته ذکر شوي فضائل نه دي ورکړی شوي او دوی ته ورکړئ شوي وه خو د پښو څخه یې لاندې کړه او په لوی لاس یې ځانونه د ځارویو رتبې ته ورټیټ کړه، نو ځکه دوی ته د الله ﷻ دپلوه عذاب متوجه دی او ځارویو ته متوجه نه دی.

۳_ ای مؤمنانو! الله ﷻ دنیاوي کارونه او عملونه په استعدادونو پورې مربوط کړي دي نو بې اطاعتي مه کوئ چې استعدادونه مو د منځه لاړ نه شي، که نه نو بیا به په تاسو کښې د کافرانو او منافقانو غوندې هیڅ خیر نه وي او نصیحت به درباندې څه اثر نه کوي.

هغوی چې د ځارویو رتبې ته ورټیټ کړی شوي دي اصلي وجهه یې دا ده چې په هغوی کښې د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قبول استعداد پاتې نه دی او په زړونو باندې یې مهر لګولی شوی دی د همدې کبله دوی د قرآن کریم فهم نه شي کولی.

نو که بالفرض په دوی کښې څه خیر وی او د فهم او پوهې استعداد پکښې پاتې وی نو الله ﷻ به همدغه استعداد بې برخې نه وی پرېښی او خپل ایتونه به یې ور اورولي وی او د دوي په زړونو کښې به یې ځای نیولی وی، خو خبره دغسې نه ده بلکې په دوی کښې د قبول دپاره هیڅ استعداد پاتې نه دی نو دوی ته په همدغه د بې استعدادئ په حال کښې د ایتونو وراورول د حکمت څخه خالي دي، ځکه چې که الله ﷻ په همدغه حال کښې دوی ته خپل ایتونه وراورولي وی نو ضرور به دوی بېرته مرتد شوي وی او مخونه به یې ترې اړولي وی او خپل خبث به یې یو ځل بیا څرګند کړی وی ځکه چې د دوی دائمي حال همدا مخ اړول دي او دا کار د دوی عادت ګرځېدلی دی.

## توضیحات

۱_ مونږ د [الأعراف:۱۷۹] آیت لاندې هغه وجوه لیکلي دي په کومو باندې چې کافر انسان د ځارویو څخه بدتر او زیات ګمراه دی، نو بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## څلور ډوله معلومات

۲_ د الله ﷻ معلومات په لاندې څلورو ډولونو باندې ویشلې کېږي[1]:

الف: ټول موجودات الله ﷻ ته په کامله توګه معلوم دي او هیڅ ډول کیفیت یې ترې پټ نه دی.

ب: الله ﷻ ته هغه کیفیتونه هم ښه پوره معلوم دي چې په موجوداتو باندې د عدم په حال کښې ورتلونکي وي، مثلاً چې کله دغه موجود معدوم شي نو د ده به دا-دا ډول کیفیت وي.

ج: ټول معدومات هم الله ﷻ ته ښه په دقت سره معلوم دي.

د: دا هم ورته پوره څرګنده ده چې که بالفرض دغه یا هغه معدوم موجود شي نو هغه به د کومو-کومو کیفیتونو درلودونکی وي.

په دې مقام کښې الله ﷻ په کنایي توګه د کافرانو څخه د ایمان د راوړلو استعداد سلب کړ چې که بالفرض په دوی کښې څه خیر وی او استعداد یې درلودی نو الله ﷻ به ورباندې پوه وی ځکه چې الله ﷻ په ټولو موجوداتو باندې ښه پوره او کامل علم لري، نو د همدې کبله الله ﷻ دوی ته خپل ایتونه د تدبر او تفقه په توګه نه وراوروي.

نو که بالفرض الله ﷻ دوی ته د عدم استعداد سره-سره خپل ایتونه وراورولي وی نو دا به د لاندې دوه حالونو څخه خالي نه وی:

اول: یا به د دوی څخه اختیار سلب کړی شوی وي، نو په دې صورت کښې به دوی ته ایمان راوړلو هیڅ ګټه نه وي رسولې ځکه چې جبري ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

دوهم: يا به يې اختيار باقي پرېښودلی شوی وي، نو په دې صورت کښې به دوی دستي ببرته کافر شوي وی او ارتداد به يې غوره کړی وی[1].

نو دواړه صورتونه به د دوی په ګټه نه وي تمام شوي او علاوه په دې په جبر باندې وراوړول د حکمت څخه هم مخالف دي او د الله ﷻ عادت يې هم مقتضی نه دی.

## د قران کريم په نسبت د اورېدونکو ډولونه

۳_ غير مسلمان اورېدونکي د قرآن کريم په نسبت په لاندې څلورو ګروپونو باندې ويشل کېږي:

الف: هغه ګروپ خلک چې د قرآن کريم د اورېدلو څخه ځانونه ساتي او ډارېږي چې په زړونو کښې مو بې اختياره ځای ونه نيسي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴾ [فصلت:۲۶] يعنې: او هغه کسان چې کفر يې اختيار کړی دی وايي چې دغه قرآن کريم ته غوږ مه نيسئ (مه يې اورئ) او (د قرائت په وخت) کښې يې شور کوئ شايد چې تاسو وربانډې غالب شئ (او په زړونو کښې مو ځای ونه نيسي).

ب: هغه غير مسلمان ټولګی چې د اورېدولو په وخت کښې ورته توجه نه کوي چې دا څه وايي، لکه چې الله ﷻ د منافقانو څخه حکايت کوي چې: ﴿ وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنۡ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ﴾ [محمد:۱۶] يعنې: د کافرانو څخه ځيني هغه منافقان دي چې ستا خبرو ته په ظاهري ډول غوږونه ږدي (خو توجه ورته نه کوي) آن تردې چې کله ستا د حضور څخه بهر لاړ شي نو هغو کسانو ته چې الله ﷻ علم ورکړی دی وايي چې: هغه څه خبره وه چې محمد ﷺ دستي وکړه (زمونږ ورته فکر نه وه او نه يې مونږ د توجه لايقه بولو).

ج: هغه ګروپ چې قرآن کريم او احاديث صرف د دې دپاره لولي او هم يې لوستلو ته غوږونه ږدي چې څه د اعتراض ځای پکښې مونده کړي او په اسلام باندې د عيب ګوته کېږدي.

دا ډول خلک په کفري دنيا کښې زښت ډېر دي او په اسلامياتو کښې دومره معلومات لري چې هغومره پکښې اکثره مسلمانان نه لري، حتی چې ځينو کافرانو خپل ټول عمرونه صرف د اسلامياتو زده کړې ته وقف کړي دي خو د دې سره-سره عقيدې پرې نه لري او ايمان پرې نه راوړي.

د: هغه ګروپ چې قرآن کريم او نورو اسلامياتو ته هم غوږونه ږدي او هم يې پخپله په دقت سره لولي او په حقائقو يې غور کوي، دوی د انصاف او عدالت څخه کار اخلي او بې طرفه قضاوت پکښې کوي.

په همدغه څلورم ګروپ کښې داسې خلک موندل کېږي چې د اسلام په حقانيت يې سرونه خلاصېږي او بالآخره په ايمان باندې مشرف ګرځي، لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

اول: يوه فرانسوي ډاکټر د قرآن کريم فرانسوي ترجمه په انصاف سره ولوستله او ويې ليده چې قرآن کريم د صحت ډېر زيات مراعت کړی دی چې نظافت ته يې اهميت ورکړی دی، د خوراک او

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښځناک په اعتدال باندې يې زور اچولی دی او بالآخره هغه نظريات يې خو قرنه وړاندې دنيا ته وړاندې کړي دي کوم چې نن سبا پرې ډاکټرانو اتفاق کړی دی، نو د همدې کبله هغه په ايمان باندې مشرف شو[۱].

دوهم: يوه انګرېز په دقت سره د قرآن کريم انګرېزي ترجمه لوستې وه او هغو مضامينو ته يې په انصاف سره کتلي وه کوم چې په دريابونو او بادونو پورې ارتباط لري نو ګومان يې کړی وه چې نبي کريم ﷺ په دريابونو کښې ډېر ګرځېدلی وه او په اصطلاح ډېر لوی بحري سياح وه، نو کله يې چې معلومات واخست او پوه شو چې نبي کريم ﷺ هيڅکله بحري سياحت نه وه کړی او د دې سره‌سره د هيچا شاګردي يې هم نه وه کړې نو دستي په ايمان باندې مشرف شو چې يقيناً نوموړی په حقه پيغمبر وه او ذکر شوي ټول معلومات ورته د وحې په توګه ورکړی شوي وه، که نه نو دومره معلومات هيڅوک د سياحت ځخه په غير نه شي راغونډولی[۲].

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَٱعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَٱعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَٱذْكُرُوٓا إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۴] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله ﷻ دپاره او د پيغمبر ﷺ دپاره په هغه وخت کښې اجابت وکړئ چې تاسو هغه شي ته وبلي کوم چې تاسو ته ژوند دربښي (چې ټول تشريعات دي). او (سستي پکښې مه کوئ ځکه) تاسو پوه شئ چې يقيناً الله ﷻ هم د سړي او د ده د زړه په مابين کښې (کله-کله) حائل کېږي (چې بيا په سړي کښې د اجابت استعداد ختمېږي).

او (هم پوه شئ چې) بې شکه الله ﷻ چې دی خاص همده ﷻ ته به تاسو (ټول) ورغونډ کړی شئ.

[۲۵] او (ای مؤمنانو!) د داسې ګناه ځخه (خانونه) وساتئ چې هرومرو ستاسو د جملې ځخه (عذاب يې) خاص هغو کسانو ته نه رسېږي چې هغوی ظلم کړی دی (او د ذکرې شوې ګناه مرتکب شوي وي، بلکې اثر يې بې ګناه خلکو ته هم رسېږي).

او پوه شئ چې يقيناً الله ﷻ سخت عذابی دی (د سخت عذاب خاوند دی).

[۲۶] او (ای مؤمنانو!) تاسو هغه وخت درپه ياد کړئ چې تاسو (په عدد کښې) لږ وئ (او) په

(۱) تفسير المنار ج۹ ص۶۲۹

(۲) تفسير المراغي ج۹ ص۱۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځکه کښې کمزوري وئ (او) ډاربدلئ چې خلک به مو وتښتوي (او تالا ترغه به شئ)، نو الله ﷻ تاسو ته پنا ځای درکړ او په خپل نصرت سره یې تاسو تائید کړئ (قوت یې دروبانښه) او تاسو ته یې د پاکېزه شیانو څخه روزي درکړه (او د غنیمت مالونه یې درته حلال کړه)، شاید چې تاسو (په ذکرو شوو نعمتونو باندې) شکر وکړئ (او د شریعت په منلو کښې سستي ونه کړئ).

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د یو پلوه مونږ ته توصیه شوې ده چې په څه ډول باندې خپل فطري استعدادونه وساتلی شو او د بله پلوه د الله ﷻ د نصرت څه نور شرطونه (څلورم، پنځم، شپږم، اوم) هم ښودلی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! د دې دپاره چې خپل زړونه د مهر لګېدلو څخه بچ وساتلی شئ او د کافرانو پشان خپل فطري استعداد د لاسه ورنه کړئ نو په لاندې وصایاوو باندې کلک شئ:

۴ـ کوم هدایات چې الله ﷻ تاسو ته درنازل کړي او نبي کریم ﷺ دروړي دي هغه ستاسو د معنوي ژوند ساتونکي دي، نو کله چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ تاسو هغو ته وروبلي او یا وروبلل شئ نو په جلتۍ سره یې اجابت وکړئ او په عمل کښې یې پیاده کړئ.

۵ـ ای مؤمنانو! لاندې دوه وصیتونه هم په یاد ولرئ او پرې پوه شئ:

الف: دا خبره یقیني ده چې کله-کله الله ﷻ د سړي او د ده د زړه ترمنځ حائل کېږي او اراده یې په خپل حال نه پاتې کېږي، د سړي زړه د الله ﷻ په ا ختیار کښې دی هر طرف ته یې چې اړوي هغه طرف ته یې اړوي، نو د وخت څخه استفاده وکړئ او د نن کار سبا ته مه پرېږدئ.

ب: دا هم یقیني ده چې تاسو ټول به د الله ﷻ حضور ته ورغونډول کېږئ او هېڅوک به ترې خلاصون ونشئ موندلی نو ځانونه ورته اماده کړئ او د دې ژوند څخه د هغه ژوند دپاره ګټه واخلئ.

۶ـ ای مؤمنانو! په تاسو باندې لکه څنګه چې د مصیبتونو څخه د خپلو ځانونو ساتل لازم دي همدارنګه درباندې دا هم لازمه ده چې نور خلک هم د مصیبتونو څخه بچ وساتئ، نو په همدې بنیاد دهغو فتنو او ګناهونو څخه هم پرهیز وکړئ چې ستاسو د جملې څخه صرف ظالمانو ته مصیبت نه جوړېږي بلکې غیر ظالمان (بې ګناه خلک هم) پکښې سوزول کېږي.

نو ای مؤمنانو! که د دغسې ګناهونو مرتکب شئ نو پوره واضحه ده چې عذاب به مو لا سخت او درونډ شي، او یقینًا د الله ﷻ د عذابونو څخه شدید عذاب هم یو عذاب دی چې په ذکر شوي صورت کښې به یې تاسو لایق جوړ شئ.

۷ـ ای مؤمنانو! په تاسو باندې لازمه ده چې هم د الله ﷻ د عذاب د ډاره د شریعت اجابت وکړئ او هم د نعمتونو د شکرانې د کبله د شریعت په تعمیل کښې کړندې ګامونه واخلئ. نو د همدې مطلب دپاره د الله ﷻ لاندې نعمتونه درپه زړه کړئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: تاسو هغه وخت درپه ياد کړئ چې تاسو هم د کم د حيثه او هم د کيف د حيثه ډېر کمزوري وئ، شمېره مو ډېره لږه وه او په ټوله ځمکه کښې مو کومکيان او لاس نيوونکي نه درلوده، حتى تاسو ډارېدلئ چې خلک به مو د مرغانو په څېر په منښوکو کښې وتښتوي او د نجات دپاره به هيڅ ځای او هيڅوک مونده نه کړئ.

مګر الله ﷻ فضل وکړ هم يې د نجات دپاره يو ځل حبشه او بل ځل مدينه منوره درته پناځای جوړ کړ. ستاسو دښمنانو ډېر زيار وويست چې د نجات ځايونه درباندې تنګ کړي او هلته هم ترې په خوشاله زړه ژوند ونه کړئ، خو الله ﷻ درسره نصرت وکړ او د دښمنانو دسيسې مو شنډې او بې نتيجې وګرځېدې، حتى چې تاسو هم د کم د حيثه قوي جوړ شوئ چې عدد مو زيات شو او ډېر خلک په ايمان باندې مشرف شوه، او هم د کيف د حيثه قوي شوئ او کمزوري مو ختمه شوه چې خپل قوي دښمن مو په ګونډو کړ.

يا په بل عبارت: الله ﷻ ستاسو کومک هم په انسانانو سره وکړ لکه د مدينې منورې انصار او هم يې په پرښتو سره قوي کړئ لکه د بدر د غزا په ميدان کښې.

ب: په دې باندې علاوه، تاسو د هجرت په حالاتو کښې پوره خوراک او څښاک نه درلود او لومړني ضروريات مو کم وه خو الله ﷻ درباندې فضل وکړ ستاسو ذکر شوي اړتياوې يې پوره کړې او د غنيمت د مالونو خوراک يې درته حلال وګرځاوه کوم چې ستاسو څخه وړاندې هيڅ امت ته نه وه حلال کړی شوي.

نو ای مؤمنانو! تاسو ته څکه وړاندې حالات درپه ياد کړی شوه ترڅو تاسو د الله ﷻ احسانات او نعمتونه په نظر کښې ونيسئ او د شريعت په تعميل کښې سستي ونه کړئ ترڅو تاسو په نتيجه کښې د شکر ګذارانو څخه وشمېرل شئ او د شاکرانو اجرونه په دنيا او آخرت کښې مونده کړئ.

## توضيحات

١ـ ابو سعيد بن المعلى ﷺ وايي چې زه په لمانځه باندې ولاړ وم چې نبي کريم ﷺ راباندې تېر شو او غږ يې راته وکړ چې راشه، زه ترهغه ورنغلم ترڅو مې چې لمونځ ختم کړ، چې بيا ورغلم نو نبي کريم ﷺ راته وويلې چې: «مَا مَنَعَكَ أَنْ تَأْتِيَ أَلَمْ يَقُلِ اللهُ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ»[١] يعنې: ته څه شي منعه کړې چې ماته راشې؟ ايا الله ﷻ نه دي ويلي چې کله تاسو د الله ﷻ پيغمبر وبلي نو اجابت يې وکړئ.

## "حَوْل" څه معنى؟

٢ـ د ﴿يَحُولُ﴾ کلمه د "حَوْل" څخه اشتقاقه شوې ده او "حَوْل" دوه معناوې لري چې يوه تغير ده او بله انفصال (جدا کول) دي[٢].

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٦٩
(٢) مفردات الراغب ص١٣٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده مګر مفسرينو پکښې زښت ډېر تفسيرونه کړي دي چې تقريباً لسو ته رسېږي[۱] او دا آيت شريف د ټولو تفسيرونو تحمل کولی شي[۲] مګر کوم تفسير چې مونږ ته غوره ښرګندېږي هغه دا دی:

کله چې د الله ﷻ اراده وشي او حکمت يې غوښتنه وکړي نو الله ﷻ د سړي او د ده د زړه ترمنځ حائل شي، څه يې چې پخوا کولی شو هغه نه شي کولی او څه يې چې پخوا ويلی شوه په هغو باندې بيا ژبه نه ګرځي، او يا په بل عبارت: استعداد يې ختم شي او په زړه باندې يې مهر ولګېږي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانوا د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ په اجابت کښې سستي مه کوئ او په جلتئ سره يې منئه وکړئ ځکه چې په يوه حکم کښې سستي کول په بل حکم کښې دسستی طريقه جوړېږي او په همدې تسلسل کښې دا خطر شته چې په مهر لګېدلو باندې تمامه او استعداد مو بالکل ختم شي، لکه د ځينو کافرانو چې ختم شوی دی.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په ډېرو احاديثو کښې اشاره کړې ده چې ځينو مفسرينو کرامو[۳] راغونډ کړي دي او مونږ د [البقرة:۶] آيت او د [الأنعام: ۱۱۰] آيت لاندې د الله ﷻ په فضل ښه شرحه کړې دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، هيله ده چې محققين هلته يو ځل مراجعه وکړي چې موضوع ډېره مهمه ده.

## دلته "فِتۡنَة" د ګناه معنی ورکوی

۳ــ مونږ د [البقرة:۱۹۳] آيت لاندې ليکلي دي چې د ﴿ فِتۡنَةً ﴾ کلمه د ګناه (ذنب) په معنی باندې هم استعمالېږي، زمونږ په فکر په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه همدغه معنی ورکوي نو د معنی حاصل به يې داسې راووځي:

ای مؤمنانو! د شرعي احکامو استجابت او منئه د لاندې دوه وو وجوهو د کبله وکړئ:

الف: هسې نه چې عدم استجابت او عدم منئه مو په زړه باندې د مهر د لګېدلو سبب جوړ شي او د استجابت صلاحيت بالکل د لاسه ورکړئ.

ب: هسې نه چې د خپلو ګناهونو په سبب سره ځينې بې ګناه بندګان په دنياوي عقوباتو باندې هم لتاړ کړئ، ځکه چې په ګناهونو کښې ځينې داسې ګناهونه هم شته چې په دنيا کښې د لوی مصيبت سبب ګرځي او يوازې ظالمان نه بلکې غير ظالمان او بې ګناه مخلوقات پکښې هم بچ نه شي پاتې کېدلی.

په همدې تفسير باندې لاندې نصوص هم دلالت کوي، د ښه وضاحت دپاره يې ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ ﴾ [الروم: ۴۱]

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۲۳۱؛ المحرر الوجيز ج۸ ص۳۹

(۲) تفسير الطبري ج۶ ص۲۱۷

(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۹۸؛ تفسير القاسمي ج۸ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني: په وچه او لمده (ښارونو او دريابونو) کښې د هغو ګناهونو د کبله فساد واقع کېږي (او وچکالي راځي) چې دخلکو لاسونو کړي وي (او بيا پکښې د ماهيانو غونډې بې ګناه مخلوقات هم تباه کېږي).

دوهم: د نبي کريم ﷺ د يوه اوږده حديث مضمون دی[۱] چې:

الف: په هيڅ قوم کښې فاحشه (زنا) نه عامېږي مګر په هغوی کښې به الله ﷻ طاعون (وبا مرض) او نور دردونه زيات کړي (لکه ايدز مرض).

ب: او هيڅ قوم په تله او پيمانه کښې کمبود نه واقع کوي مګر هغوی به په وچکالۍ او د پاچاهانو په ظلم باندې ونيولی شي.

ج: او هيڅ قوم د خپلو مالونو زکاتونه نه ايساروي مګر په هغوی باندې به باران بند کړی شي.

د: هيڅ قوم عهدونه نه ماتوي مګر الله ﷻ به وربانديې خارجي دښمن مسلط کړي.

هـ: هيڅ قوم د الله ﷻ په کتاب (قرآن) باندې په انتخابي توګه عمل نه کوي چې ځيني ايتونه يې عملي کوي او ځيني يې د پښو لاندې کوي مګر الله ﷻ به دوی په خپلو منځو کښې په جنګ کړي. سبحان الله نن ورځ[۲] همدغه پنځم حکم په مونږ (افغانانو) باندې صادق دی چې د اتفاق او اتحاد ايتونه مو په څوارلس کلن جهاد کښې د پښو لاندې کړي وه او تر آخره پورې متحد او متفق نه شوو، نو اوس سره په کلکه جګړه بوخت ياستو. اللّهم النجاة، اللّهم النجاة، برحمتك يا أرحم الراحمين.

دريم: زينب رضي الله عنها (د مؤمنانو مور) په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: ما نبي کريم ﷺ ته ووېلي چې ايا مونږ به په داسې حال کښې هم هلاکېږو (عذاب به راباندې نازلېږي) چې په مونږ کښې به صالحان هم موجوديت لري؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمائل چې: «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ»[۳] هو کله چې (په تاسو کښې) پليتي (ګناهونه) ډېر شي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: هغه کومه ګناه ده چې د هغې په سبب په ګناهګارانو او بې ګناهو باندې عام عذاب نازلېږي؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو[۴] ذکر شوې ګناه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ترک کول ګڼلي ده او د لاندې حديث شريف غونډې احاديث يې د ذکر شوي آيت شريف په تفسير کښې ليکلي دي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الْمُنْكَرَ وَلَا يُغَيِّرُوهُ أَوْشَكَ اللهُ أَنْ يَعُمَّهُمْ بِعِقَابِهِ»[۵] يعني: يقيناً چې کله خلک بدکار وګوري او تغير ورنه کړي نو نږدې ده چې

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۹۰
(۲) ۱۳۷۴/۱۱/۸ هـ ش
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۸۸
(۴) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۹۸؛ تفسير القاسمي ج۸ ص۳٦؛ تفسير القرطبي ج۷ ص۳۹۱
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ خپل عذاب ټولو ته شامل کړي (برابره خبره ده چې ګناه یې کړې وي او که نه).

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې هغوی به د همدغې ګناه نوم د مثال په توګه اخستی وي او حصر به یې مطلب نه وي، نو په کار دي چې په دې مقام کښې د ﴿ فِتْنَةً ﴾ کلمه په خپل عموم سره پرېښودلی شي ترڅو ټولو ګناهونو ته شامله شي، لکه په دین کښې بدعتونه کول، بې اتفاقي، جهاد پرېښودل او د جنګ د میدان څخه تېښتېدل او داسې نور.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ فرمایي ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ [فاطر:۱۸] یعنې: او هېڅ په شاکوونکی نفس د بل نفس پېټی نه په شا کوي (د هر چا ګناه په خپله غاړه ده)؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا د یوه کس په ګناه بل څوک نیول کېږي؟

مونږ وایو چې: یقیناً د هرچا ګناه په خپله غاړه ده او هیڅوک د بل چا ګناه په غاړه نه شي اخستی مګر د دنیا مصائب عام راځي ځکه چې دا په حقیقت کښې زواجر دي اصلي جزاګانې نه دي، لکه چې په همدې مضمون باندې ذکر شوی [الروم: ۴۱] آیت دلالت کوي، لاندې وضاحتونه هم ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا أَنْزَلَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ»[1] یعنې: کله چې الله ﷻ په کوم قوم باندې (په دنیا کښې) عذاب نازل کړي نو عذاب هغو ټولو خلکو ته رسېږي چې په دوی کښې موجودیت لري بیا به (د قیامت په ورځ) د خپلو اعمالو په معیار راپورته کړی شي (او بې ګناه خلکو دپاره به د ګناه د ښنلو سبب جوړ شي).

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د یوه فاجر لښکر ذکر وکړ چې ټول به په ځمکه کښې خسف کړی شي، نو ام سلمی (أم المؤمنین) رضي الله عنها ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! د هغه چا به څه حال وي کوم چې په زور باندې په لښکر کښې بیولی شوی وي؟

نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: "يُخْسَفُ بِهِ مَعَهُمْ وَلَكِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى نِيَّتِهِ"[2] هغه به ورسره خسف کړی شي مګر د قیامت په ورځ به په خپل نیت باندې راپورته کړی شي.

ج: یوه ورځې یوه سړي وویلې چې ظالم فقط خپل ځان ته ضرر رسوي او بس. نو ابو هریره ﷺ ورو‌کتل او ورته یې وویلې چې دغسې نه ده، سوګند په الله ﷻ چې: «حَتَّى الْحُبَارَى لَتَمُوتُ فِي وَكْرِهَا هَزْلًا لِظُلْمِ الظَّالِمِ»[3] یعنې: آن تردې چې هرومرو د حباری په نوم مرغۍ د ډنګروالي د کبله د ظالم د ظلم د وجې په خپله جاله کښې مړه کېږي.

دغه مرغۍ ډېره اوږده مسافه طی کوي ترڅو د خوراک دپاره دانې موندې کړي، نو کله چې دغه مرغۍ د وچکالۍ د کبله مړه کېږي نو نورې مرغۍ خو به لاپخوا د لوږې مړې شوې وي.

---

[1] صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۳
[2] صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۸
[3] شعب الایمان للبیهقي ج۷ ص۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

**٥_ که څوک وايي چې: د ﴿ لَّا تُصِيبَنَّ ﴾ کلمه به د لاندې دوه وو احتمالونو څخه خالي نه وي:**

الف: یا به د منفي مضارع صیغه وي او د ﴿ فِتْنَةً ﴾ دپاره به صفت واقع شوی وي چې محلاً به منصوبه وي، په دې تقدیر اعتراض دا دی چې د تاکید نون په منفي مضارع پورې اتصال نه شي موندلی او دلته خو د تاکید نون ورپورې اتصال لري.

ب: یا به د نهې معلومه صیغه وي، په دې تقدیر سوال دا دی چې انشائیه جمله خو صفت نه شي واقع کېدلی ترڅو د ﴿ فِتْنَةً ﴾ دپاره صفت شي او محلاً منصوبه شي؟

مونږ وایو چې: په همدې هکله که څوک اوږد بحث غواړي نو څینو اوږدو تفاسیرو[1] ته دې مراجعه وکړي، زمونږ په نزد لومړنی صورت غوره ښکاري او د تاکید نون اگر چې د جمهورو نحویانو په نظر په منفي مضارع پورې اتصال نه شي موندلی مگر څینې نحویان یې جائز بولي[2].

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓا۟ أَمَـٰنَـٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَـٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ ﴾

[٢٧] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ سره خیانت مه کوئ (شریعت عملي کړئ) او په خپلو امانتونو کښې هم خیانت مه کوئ (یو د بل امانت مه خیانتوئ) حال دا چې تاسو پوهېږئ (نېک او بد پېژنئ).

[٢٨] او پوه شئ چې یقیناً ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه (ستاسو دپاره) امتحان دی (نو پام کوئ چې پکښې ناکام نه شئ) او (هم پوه شئ چې) بې شکه الله ﷻ چې دی د ده ﷻ په نزد لوی اجر دی (تاسو ته یې گټل په کار دي).

[٢٩] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که چرته تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ (او تقوی وکړئ) نو الله ﷻ به تاسو ته حقیقي ذکاوت درکړي (چې گټه او تاوان به پرې جدا کولی شئ) او هم به ستاسو څخه گناهونه ورژوي او مغفرت (ښښنه) به درته وکړي، او الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی.

## ارتباط او شان نزول

په دې ایتونو کښې د الله ﷻ د نصرت څو نور شرطونه (اتم، نهم، لسم) هم ښودلي شوي دي.

(١) روح المعاني ج٩ ص١٩٣؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٢ ص٣٠٣
(٢) البحر المحیط ج٥ ص٣٠٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما د شان نزول په باره کښې یې څو متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] لاندې یوه واقعه د مثال په توګه ولولئ چې:

۱_ د ابو سفیان په مشرۍ د قریشو یوه قافله د شام په لور د تجارت دپاره روانه شوه مګر د بېرته رانګ په وخت کښې جبرائیل ﷺ نبي کریم ﷺ ته وحې وکړه چې ذکره شوې قافله په فلاني فلاني خاى کښې ده نو تاسو مخې ته ورووځئ خو خبره پټه وساتئ. مګر یوه (منافق) سړي همدغه خبره ولیکله چې: "إِنَّ مُحَمَّدًا يُرِيدُكُمْ فَخُذُوْا حِذْرَكُمْ"[۲] یعنې نبي کریم ﷺ تاسو ته نیت کړی دی (چې حمله درباندې وکړي) نو د خپل ډار سامان درسره واخلئ (او پام وکړئ). نو د ذکر شوې قافلې مشر (ابو سفیان) ته یې ورواستوله، نوموړی تردغه وخته پورې لا د "رضي الله عنه" لائق نه وه ګرځیدلی.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو خو د ذکرو شوو ایتونو شان نزول د ابو لبابه ﷺ قیصه ښودلې ده[۳] چې د بني قریظه وو په غزا کښې واقع شوې ده، حال دا چې هغه خو د بدر د غزا څخه تقریبًا دوه کاله وروسته پېښه شوې ده. نو پوښتنه دا ده چې ایا وروستنۍ واقعه د وړاندې نازل شوو ایتونو دپاره شان نزول جوړېدلی شي؟

مونږ وایو چې: سلفو صالحینو د شان نزول اطلاق په مصداق باندې هم کاوه[۴] او د مصداق دپاره خو د زمانې یووالی ضرور نه دی بلکې د ټولو ایتونو مصداقاتو په مختلفو زمانو کښې تحقق موندلی دی او لا د قیامت د ورځې پورې به تحقق ومومي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای مؤمنانو! د الله ﷻ د نصرت لاندې څه نور شرطونه هم درسره په یاد ولرئ:

۸_ تاسو مه د الله ﷻ سره خیانت کوئ چې فرائض یې پرېږدئ او حدود یې د پښو لاندې کړئ او مه د پیغمبر ﷺ سره چې سنتو ته یې شا کړئ او اسرار یې مشرکانو او کافرانو ته افشاء کړئ، او بالآخره مه د مؤمنانو سره خیانت کوئ چې سپارل شوي امانتونه بېرته ورنه کړئ او په مالونو کښې یې په غلا او نورو ناجائزو طریقو باندې تصرف وکړئ.

ای مؤمنانو! ذکر شوي خیانتونه چې د هرچا د پلوه واقع شي بد کارونه دي مګر که ستاسو د پلوه واقع شي نو ډېر بد دي ځکه چې تاسو خو پوه یاست او په تحریم باندې یې عقیدې لرئ.

۹_ ای مؤمنانو! تاسو پوه شئ چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه تاسو ته د امتحان دپاره درکړی شوي دي نو ډېر پام وکړئ چې په امتحان کښې ناکام نه شئ چې د الله ﷻ د نصرت انډیوالي

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۲۳۴
(۲) الدر المنثور ج۴ ص۴۸
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۱۵۷
(۴) تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲؛ تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به درڅخه وشکېږي او د لوی اجر څخه به محروم شئ؛ حال دا چې لوی اجر خو د الله ﷻ په نزد دی او بس، نه په مالونو کښې شته او نه په اولادونو کښې.

١٠_ ای مؤمنانو! د ټولو په آخر کښې د الله ﷻ د نصرت يو مهم شرط کلک ونيسئ چې ټولو شرطونو ته د بنياد او محور حيثيت لري چې هغه تقوی (د الله ﷻ څخه ډار) دی او بس.

که تاسو د الله ﷻ څخه ډار د هميشه دپاره د خپلو ځانونو سره وساتئ نو برسېره په دې چې د الله ﷻ نصرت به ستاسو سره ملګری وي لاندې نور انعامونه به هم الله ﷻ تاسو ته درپېرزو کړي:

الف: تاسو ته به الله ﷻ په زړه کښې داسې رڼا درواچوي چې په هغې باندې به د حق او باطل په منځکښې د هر ښه تميز کولی شئ او د ښه قوي فراست خاوندان به جوړ شئ.

ب: ورې ګناهونه به درڅخه ورژوي.

ج: لوی ګناهونه به درته وبښي او دا ځکه چې الله ﷻ د لوی فضل خاوند دی، انعامات او فضائل د ده ﷻ په نزد باندې څه کمبود نه لري.

## توضيحات

١_ د ﴿تَخُونُوا﴾ کلمه د "خِيَانَة" څخه اشتقاقه شوې ده، "خِيَانَة" او "نِفَاق" دواړه په پټه کښې د نقصان د واقع کولو څخه عبارت دي خو "خِيَانَة" د عهد او امانت په نقصان کښې استعمالېږي او "نِفَاق" د دين په نقصان کښې استعمال مومي[1].

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ او د ده د پيغمبر ﷺ سره خيانت مه کوئ او په پټه او ښکاره (دواړو) حالاتو کښې پرې ښه په جديت سره عمل وکړئ ځکه چې الهي شريعت خو د الله ﷻ امانات دي او تاسو پرې عهد کړی دی. همدارنګه په خپلو منځو کښې هم د عهدونو او امانتونو مراعات وکړئ او نواقص پکښې مه واقع کوئ چې د الله ﷻ د نصرت مخه ونيسي.

## فُرقَان څه معنی؟

٢_ د "فُرْقَان" کلمه د هغه شي دپاره نوم دی چې حق او باطل سره جدا کوي[2] مګر په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په ډېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده[3] خو کوم تفسير چې مونږ ته غوره ښکاري هغه دا دی چې "فُرْقَان" د هغه ذکاوت څخه عبارت دی په کوم سره چې سړی په دنيا او آخرت کښې خپله ګټه او تاوان سنجولی شي او حق پرې د باطل څخه جدا کولی شي، همدغه ذکاوت ته په لاندې نصوصو کښې اشاره شوې ده:

(١) مفردات الراغب ص١٦٢
(٢) مفردات الراغب ص٣٩٢
(٣) روح المعاني ج٩ ص١٩٦؛ زاد المسير ج٣ ص٢٣٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴾ [الحجر:۷۵] يعنې: يقيناً په دغه (ذکر شوي بيان) کښې هرومرو د مهارت (ذکاوت) درلودنکو دپاره (د عبرت) دلايل شته دي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ»[۱] يعني: د مؤمن د فراست (ذکاوت) څخه ځانونه وساتئ چې يقيناً نوموړی د الله ﷻ په (ورکړې شوي) رڼا باندې کتل کوي.

ج: النواس بن سمعان ﷺ (چې يو متقي صحابي وه) وايي چې ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! بِر او اثم (نېکي، او ګناه) څه شی دي؟ نو نبي کريم ﷺ راته وفرمائل چې: «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ»[۲] بر د نېک خوی څخه عبارت دی او ګناه هغه شی دی چې په سينه (زړه) کښې دې ښوريږي (ته پرې مطمئن نه يې) او ته نه خوښوې چې خلک وربانديې اطلاع حاصله کړي (او وربانديې خبر شي).

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [الطلاق:۲_۳] يعنې: او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه تقوی وکړي نو الله ﷻ به ده لره (د غمونو او مشکلاتو څخه) د وتلو ځای ورپيدا کړي او د داسې خوا څخه به (حلاله) روزي ورکړي چې د ده به ګومان هم نه وي (او په خيال کښې به يې هم نه ګرځي).

نو پوښتنه دا ده چې تاسو په څه منظور د "فرقان" کلمه په دې مقام کښې په مخرج سره تفسيره نه کړه؟

مونږ وايو چې: تقوی (د متقي دپاره) د ميوه دارې ونې مثال لري چې هلته يې يوه مېوه ښودلې شوې ده او دلته يې بلې مېوې ته اشاره شوې ده، نو څه ضرورت نشته چې دواړه ايتونه په يوه مضمون باندې حمل کړو، حال دا چې تاسيس د تاکيد څخه بهتر دی.

﴿ وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ۝۳۰ ﴾

[۳۰] او (ای پيغمبره!) هغه وخت (مؤمنانو ته) وریاد کړه چې ستا په باره کښې هغو کسانو پټ تدبير کاوه (کومو) چې کفر اختيار کړی وه، ترڅو تا د حرکته وغورزوي (بندي دې کړي او) يا دې ووژني (او بالآخره) يا دې (د وطنه) وباسي.

او دوی (دغسې) تدبير کاوه او الله ﷻ (د دوی په ضد) تدبير کاوه، او الله ﷻ د ټولو تدبير کوونکو بهتر تدبيرکوونکي دی (د ده ﷻ تدبير هميشه بريالی وی).

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۵
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته هغه نعمتونه وریاد کړئ وه کومو چې د همدوی پورې اړوند درلود، لکه قوت او ډېروالی او داسې نور، دلته د هغه لوی نعمت په زړه کولو ته متوجه کړی شوي دي چې مستقیمًا په نبي کریم ﷺ باندې نازل کړی شوی وه او په حقیقت کښې په ټولو مؤمنانو باندې نعمت دی چې نبي کریم ﷺ ته یې د قریشو د قوي دسیسې څخه نجات ورکړ.

۲_ هلته د نصرت شرطونو ته اشاره شوې وه او دلته د الهي نصرت یو مهم مثال ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! ته پخپله هغه وخت درپه زړه کړه چې مشرکانو ستا دپاره یو مهلک پلان سنجولی وه چې یا دې بندي کړي، یا دې ووژني او بالآخره یا دې د وطنه وشړي ترڅو نوموړي وخت ته د مؤمنانو هم توجه ورواړي چې په څومره خارق العاده توګه الله ﷻ د هغوی دسیسه شنډه کړه او په څومره معجزانه توګه یې تاته نجات درکړ.

۲_ ای پیغمبره! د ذکرې شوې قیصې نور تفصیل ته څه اړتیا نشته، مؤمنانو (صحابه وو کرامو ﷺ) ته ښه پوره معلومه ده، ټول پوهېږي چې په دغه وخت کښې د ټولو مؤمنانو سره عمومًا او ستا سره خصوصًا الله ﷻ ډېر ښه نصرت وکړ چې کافرانو ستا د وژلو تدبیر کاوه او الله ﷻ ستا د نجات تدبیر کاوه خو په نتیجه کښې د الله ﷻ تدبیر کامیاب شو او د هغوی تدبیر د خاورو سره برابر شو او دا ځکه چې الله ﷻ د ټولو تدبیر کوونکو څخه بهتر تدبیر کوونکی دی او هیڅوک یې مقابله نه شي کولی.

## توضیحات

۱_ د ﴿یَمْکُرُ﴾ کلمه د "مَکْر" څخه اشتقاقه شوې ده او د "مَکْر" معنی مونږ د [آل عمران:۵۴] آیت لاندې لیکلې ده _والحمدلله_ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## "دار الندوه" د کوم ځای نوم دی؟

۲_ په عربي لغت کښې مشورې ته او یا مشوره کوونکو ته "نَدْوَة" ویل کېږي، نو "دَارُالنَّدْوَة" د هغه کور نوم وه چې قصي بن کلاب (د قریشو غور نیکه) د دې دپاره جوړ کړی وه چې د قریشو مهم مسائل پکښې په مشوره سره فیصله کړي[۱]. دا کور د ده په اولاده کښې د هغه د مرګ څخه وروسته هم باقي پاتې شو حتی چې یوه ورځې په ذکر شوي کور کښې د نبي کریم ﷺ په باره کښې هم د وخت مشران او غټان سره مشورې ته کښېناسته او ډېر خطرناک پلان یې وسنجاوه خو الله ﷻ په خپل فضل سره شنډ کړ او نبي کریم ﷺ ته یې نجات ورکړ.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د نبي كريم ﷺ د نجات قيصه

۳_ كه څه هم ذكره شوې قيصه د سيرت كتابونو(۱) او مفسرينو كرامو(۲) ډېره ښه مفصله ليكلې ده مګر مونږ يې د لاندې ټكو په ذكر باندې اكتفاء كوو چې د آيت شريف تفسير ورپورې تعلق لري، د زيات تفصيل دپاره دې محترم لوستونكي هملته مراجعه وكړي، ټكي دا دي:

الف: كله چې د نبي كريم ﷺ سره د مدينې منورې دوه وو قومونو (اوس، خزرج) معاهده وكړه او د مهاجرينو ورتګ هلته پيل شو نو قريش په ډېر خطر كښې پرېوتل او تشويش ورسره پيدا شو چې هسې نه چې نبي كريم ﷺ هم هلته هجرت وكړي او زمونږ په مقابل كښې يوه قوي جبهه تشكيله كړي او بالآخره په مكه معظمه باندې خپل تسلط قائم كړي.

ب: نو د ذكر شوي خطر د مخنيوي دپاره ټول مشران او سپين روبي په دارالندوه كښې سره راټول شوه ترڅو په دې باره كښې يوه قاطع دريځ ته ورسېږي.

ج: په اصطلاح د اهل الحل والعقد په شورى او يا په اولسي جرګه كښې لاندې وړانديزونه مطرح كړى شوه:

اول: د ځينو وړانديز دا وه چې بايد نبي كريم ﷺ په يوه توره تياره خونه كښې بندي كړى شي او دومره اذوقه (خوراك، څښاك) په يوه درويځه كښې ورواچولى شي چې خپل روزمره ژوند ته پرې ادامه وركړى شي، او بايد دا كار د ده د مرګه پورې جاري پرېښودل شي. يا په بل عبارت: اول ځل وړانديز وكړى شو چې بايد په نبي كريم ﷺ باندې عمري قيد وخېژولى شي.

مګر دا نظر تائيد نه شو د د ى په خاطر چې دا اساسي علاج نه دى، ممكنه ده چې كوم وخت د بند څخه نجات مونده كړي او د ډېرو پيروانو په درلودلو سره زمونږ مقاومت مات كړي.

دوهم: دوهم وړانديز دا وه چې بايد د وطنه وشړل شي چې دغمه يې خلاص شو په بل وطن كښې چې څه كوي هغه به كوي، هغوى پوهيږي او كار يې.

دا نظر هم د بحث په جريان كښې رد شو او وړاندې كوونكي يې مخاطب شوه چې تاسو خو په لوى لاس ځا كنئ او ځانونه پكښې وراچوئ، مونږ د همدې څخه په ډېر خطر كښې ياستو چې نوموړى به په بل وطن كښې پيداوړى شي او زمونږ ملاوې به ماتې كړي، د همدې كبله مو اضطراري غونډه تشكيله كړې ده.

دريم: وروستنى وړانديز د ابو جهل وه چې بايد د هر قوم څخه يو-يو تن پياوړى زلمى خوښ كړى شي ترڅو د زلميانو يو غښتلى ټولګى تشكيل شي، بيا دغه ټولګى په يوه ځل په نبي كريم ﷺ باندې د تورو ګذارونه وكړي او په قتل به يې ورسوي، نو په نتيجه كښې به بنو عبد مناف (د نبي كريم ﷺ نژدې ټبر) ونه شي كړى چې د خپل ټول قوم سره په جنګ شي او قصاص واخلي نو د مجبورى

(۱) سيرت ابن هشام ج ۲ ص ۹۳
(۲) تفسير الطبري ج ۶ ص ۲۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کبله به د دیت په اخستلو باندې راضي شي، نو ټول قومونه به په شریکه توګه دیت ورکړو چې د یو پلوه به د دیت ورکول دروند تمام نه شي او د بله پلوه به په اساسي توګه د خطر څخه بچ شو.

د: ذکر شوی وړاندیز د ټولې شورې خوښ شو او د رایو په اتفاق باندې یې تصویب کړ حتی چې هیڅوک یې مخالف نه وه.

هـ: نو په همدې منظور یې د نبي کریم ﷺ کور د محاصرې لاندې ونیوه او د هغه ځای ځارنه یې هم کوله په کوم ځای باندې به چې نبي کریم ﷺ استراحت کاوه، ترڅو د کور څخه د بهر راوتلو په وخت کښې ورباندې په اجتماعي توګه یوه مرګوني حمله وکړي.

و: په عین وخت کښې جبرائیل ؑ د اسمانه راښکته شو او نبي کریم ﷺ ته یې د کافرانو ټوله نقشه ټکي په ټکي شرحه کړه او هم یې ورته د الله ﷻ د پلوه د هجرت کولو د اجازې وحې وکړه.

ز: نبي کریم ﷺ د خپل استراحت په ځای باندې علي ؓ ته د استراحت کولو امر وکړ او پخپله په توره شپه کښې د خپل کور په دروازه باندې په داسې حال کښې بهر شو چې ﴿ يسٓ ۝ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ آن تر ﴿ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ﴾ پورې ایتونه یې لوستل.

ح: الله ﷻ ټول محاصره کوونکي په نبي کریم ﷺ باندې ړانده کړه چې د یوه کس نظر هم پرې واقع نه شو او په پټه سره یې د یوه غره په سمڅه (غار) کښې ځای ونیوه، چې په [التوبة: ۴۰] آیت کښې ورته اشاره راروانه ده.

﴿ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ هَٰذَآ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ
أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝٣١ وَإِذۡ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا
حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ۝٣٢ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ
وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ۝٣٣ وَمَا لَهُمۡ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمۡ يَصُدُّونَ
عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوۡلِيَآءَهُۥٓۚ إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ
لَا يَعۡلَمُونَ ۝٣٤ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءٗ وَتَصۡدِيَةٗۚ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ
بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ۝٣٥ ﴾

[۳۱] او کله چې په دوی (مشرکانو) باندې زمونږ ایتونه ولوستلی شي نو دوی وایي چې: مونږ (هم قیصې) اورېدلي دي که زمونږ اراده وشي (وغواړو) نو هرومرو به د دغه (قرآن) په مثل وینا وکړو. (ځکه چې) دغه (قرآن) نه دی مګر د پخوانیو قیصې دي (او دا زمونږ هم زده دي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


[۳۲] او (ای پیغمبره!) هغه وخت وریاد کړه چې دوی (مشرکانو) وویلې چې ای الله! که چېرې دغه (قرآن کریم) ستا د نزد څخه همدا حق وي نو په مونږ باندې د اسمان د پلوه کاڼي راووروه او یا مونږ ته دردناک عذاب راوله (رانازله کړه).

[۳۳] او الله ﷻ نه دی چې دوی (مشرکان) معذب کړي حال دا چې ته (ای پیغمبره!) په دوی کښې موجودیت لري او هم الله ﷻ د دوی په داسې حال کښې معذب کوونکی نه دی چې دوی (د الله ﷻ څخه د خپل کفر) بښنه وغواړي (او په ایمان باندې مشرف شي).

[۳۴] (نو سمدستي فقط ستاسو موجودیت د دوی د تعذیب مانع دی) او (که دا هم نه وی نو) دوی لره څه دي چې الله ﷻ به دوی معذب نه کړي (هیڅ مانع نشته) حال دا چې دوی د المسجد الحرام څخه (مؤمنان) منعه کوي (او هجرت ته یې مجبوروي) او (د دې سره-سره) دوی خو د المسجد الحرام دوستان (واکداران) نه دي.

د المسجد الحرام دوستان (واکداران) نه دي مګر متقیان دي خو د دوی اکثره نه پوهېږي (متولیان نه پېژني).

[۳۵] او (دوی به څنګه د المسجد الحرام او کعبې شریفې دوستان جوړ شي) حال دا دی چې د کعبې شریفې په نزد (شاوخوا کښې) د دوی لمونځ (عبادت) نه دی مګر شپېلی وهل او لاسونه پړقول دي (دوی په لوبو باندې د عبادت نوم ږدي).

(کله چې ته هم د دوی د منځه ووځي) نو (دوی ته به وویلی شي چې) په دې سبب عذاب وڅکئ چې تاسو یاست چې کفر کوئ (او په ایمان باندې نه مشرف کېږئ).

## ارتباط

د بدر په غزا کښې الله ﷻ لاندې دوه شیان په اثبات ورسول:

۱_ د اسلام د حقانیت څرګندونه او د مؤمنانو نصرت، چې موجبات یې په وړاندېنیو ایتونو کښې په مفصله توګه بیان شوه.

۲_ د کفر د بطلان څرګندونه او د کافرانو شکست، چې عوامل یې په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلی کېږي چې دواړه ګروپونه د دوی د عقائدو څخه نمایندګي کوي:

الف: قولي عوامل، چې په همدې ایتونو کښې ورته اشارې شوې دي چې اوس د بحث لاندې دي.

ب: مالي عوامل، چې په وروستنیو ایتونو کښې یې بحث راروان دی.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! څکه الله ﷻ کافرانو ته د مؤمنانو په مقابل کښې شکست ورکړ او په آینده کښې یې هم ورکوي چې دوی په کفر باندې علاوه روزمره په خپلو اقوالو باندې هم خپل کفر لا قوي کوي چې څینې مثالونه یې دا دي:

۱_ کله چې په دوی باندې زمونږ ایتونه ولوستلی شي نو د دې په ځای چې تفکر پکښې وکړي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


او د هدایت استفاده ترې وکړي د عناد د کبله وایي چې مونږ خو قرآن کریم واورېده د دې ور نه دی چې ایمان ورباندې راوړو او عقیده پرې وکړو بلکې مونږ هم کولی شو چې د هغه په مثل کلام جوړ کړو، ځکه چې هغه خو بل شی نه دی مګر د پخوانیو خلکو قیصې دي حال دا چې زمونږ ډېرې قیصې زده او په خپلو تجارتي سفرونو کښې مو اورېدلې دي.

۲_ ای پیغمبره! مشرکانو ته هغه وخت هم په یاد کړه کله به چې دوی ویل: ای الله! که دا قرآن کریم ستا د پلوه په حقه نازل شوی وي نو په مونږ باندې د اسمان څخه د ډبرو باران وکړه او یا راباندې بل کوم دردناک عذاب رانازل کړه.

نو چې د حکمت په غوښتنه په دوی باندې نه کاڼي راووریږي او نه ورباندې دردناک عذاب ورنازل شي نو بیا وایي چې دا د دې دلیل دی چې قرآن کریم الهي کتاب نه دی.

دوی ته په کار وه چې د ذکرې شوې جملې په عوض یې الله ﷻ ته سوال کړی وی چې: ای الله! که دا کتاب رښتیا ستا کتاب وي نو مونږ ته هدایت وکړه، نه دا چې په مونږ باندې عذاب نازل کړه.

ای پیغمبره! مونږ به په دوی باندې عذاب هم ورنازل کړی وی او د دوی غوښتنه به مو ښه پوره ورکړې وی لکه څنګه مو چې د دوی غوښتنه د فتحې په هکله قبوله کړه (چې ای الله! هرڅوک چې په حقه وي هغوی ته فتحه او بری ورکړه) نو د بدر په غزا کښې مو مؤمنانو ته بری وکړ، مګر د عذاب نزول موانع فقط دوه دي:

الف: یو دا چې ته (ای پیغمبره!) په دوی کښې موجودیت لرې او الله ﷻ په دوی باندې خپل عذاب ترهغه نه نازلوي ترڅو چې ته د دوی څخه بهرون شې.

ب: بل دا چې دوی د خپل کفر څخه توبه تائب شي او د الله ﷻ څخه استغفار وغواړي.

نو څرنګه چې د عذاب د نزول دوهم مانع موجودیت نه لري نو صرف یو مانع موجود دی نو کله چې ته د دوی څخه جدا شوې او مدینې منورې ته دې هجرت وکړ نو په دوی باندې به الله ﷻ عذاب ورنازل کړي.

۳_ ای پیغمبره! که د دوی ترمنځ تا موجودیت نه درلودی نو دوی خو سمدستي د عذاب د نزول لیاقت لري او دا ځکه چې:

الف: دوی د المسجد الحرام څخه مؤمنان منعه کوي چې الله ﷻ یاد کړي او لمونځونه پکښې وکړي بلکې هجرت ته یې مجبوروي، حال دا چې دوی د المسجد الحرام متولیان او واکداران نه دي او نه ورسره لیاقت لري. بلکې متولیان او واکداران خو یې متقیان دي چې په عبادتونو سره یې المسجد الحرام آباد دی او آباد به وي.

که څه هم د دوی اکثریت نه پوهېږي چې د کعبې شریفې متولیان څوک دي خو اقلیت یې پوهېږي چې متولیان یې فقط مؤمنان دي مګر خپل ځانونه یې په دې خبره باندې ګول اچولي دي ته به وایې چې هیڅ نه پوهېږي.

ب: دوی د کعبې شریفې ترڅنګ هغه مشروع عبادت نه کوي کوم چې د الله ﷻ د پلوه د

Scanned by CamScanner

پیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه ښودلی شوی دی او نه دا د ول عبادت د دوی زده دی، بلکې د دوی لمونځونه او عبادتونه د کعبې شریفې په شاوخوا کښې د شپېلي وهلو او لاسونو پړقولو څخه پرته بل شی نه دي. نو ایا هغه څوک چې ذکر شوي صفات ولري د دې استحقاق لري چې د کعبې شریفې او المسجد الحرام متولیان جوړ شي؟

نو هغه وخت لرې نه دی چې په دوی باندې به په دنیا او آخرت کښې عذاب ورنازل کړی شي او د حال یا د قال په ژبه به دوی ته وویلی شي چې د خپل کفر مزه وڅکئ؛ او عذاب (جزا) یې نوش جان کړئ.

## توضیحات

۱_ دغه خبره چې: "که مونږ وغواړو د قرآن کریم غوندې کلام جوړ کړو نو دا کار کولی شو" یوه کافر کړې وه چې النضر بن الحارث نومېده[۱] خو الله ﷻ یې ټولو کافرانو ته څکه نسبت وکړ چې ټول پرې راضي وه او د ټولو دا خیال وه چې النضر بن الحارث که وغواړي نو دا کار کولی شي.

۲_ د ﴿قَدْ سَمِعْنَا﴾ کلمه لاندې دوه معناوې درلودلی شي او څه لرې نه ده چې دواړه مرادې وي:

الف: یقینًا مونږ قرآن کریم واورېد او حقیقت یې راته معلوم شو، چندان شی نه دی مونږ کولی شو چې د مثل په جوړلو باندې یې اقدام وکړو.

ب: یقینًا مونږ په خپلو تجارتي سفرونو کښې د قرآن کریم د قیصو غوندې ډېرې قیصې اورېدلي دي نو که وغواړو چې د قرآن کریم مثل جوړ کړو نو دا کار کولی شو څکه چې قرآن کریم خو د پخوانیو د قیصو څخه په غیر بل شی نه دی.

۳_ همدارنګه دا خبره چې: "ای الله! که دا قرآن حق وي نو په مونږ باندې کاڼي ووروه" هم یوازې نوموړي النضر بن الحارث کړې وه[۲] خو ټول کافران پرې خوشاله وه او د خبرې لکۍ به یې ورسره تاووله نو څکه الله ﷻ دوی ټولو ته نسبته کړه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې امام البخاري علیه الرحمة لیکلي دي چې دغه خبره ابو جهل کړې وه[۳]؟

مونږ وایو چې: دا د هغه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې دواړو کړې وي نو ځینو علماوو کرامو ته به یو روایت رسېدلی وي او ځینو به بل روایت اورېدلی وي. حال دا چې د النضر بن الحارث دروغینو ویناګانو ته تقریبًا په دیارلس ایتونو کښې اشارې شوې دي[۴].

په هر تقدیر، دوی ذکره شوې خبره محض د لاپو شاپو په غرض کوله، که نه نو د قرآن کریم د معارضې توان یې نه درلود، که توان یې درلودی نو هیڅکله به یې پرې دریغ نه وی کړی.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۴۵
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۰۴
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۹
(۴) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## النضر بن الحارث ووژل شو

۵ـ نبي کريم ﷺ د بدر د غزا د بنديانو څخه صرف درې کسان ووژل او فديه يې ترې قبوله نه کړه[1] چې د النضر بن الحارث، المطعم بن عدي او عقبه بن ابي معيط څخه عبارت دي.

د النضر د وژلو قيصه داسې وه:

کله چې د بدر څخه مجاهدين د مدينې منورې په لور د خپلو-خپلو بنديانو سره روان شوه او يوه ځای ته ورسېده چې أُثَيل نومېده نو نبي کريم ﷺ د نوموړي په وژلو باندې امر وکړ.

کله چې دغه امر المقداد ؓ واورېده نو غږ يې وکړ چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! أَسِيرِي» ای د الله ﷻ پيغمبره! دا خو زما بندي دی. نو نبي کريم ﷺ وويلې چې النضر خو په قرآن کريم کښې هغه خبرې کړې دي کومې چې تاسو ته معلومې دي، او بيا يې وفرمايل چې: «اللَّهُمَّ اغْنِ الْمِقْدَادَ مِنْ فَضْلِكَ»[2] يعني: ای الله! مقداد په خپل فضل باندې غني کړې (او د بله پلوه يې موړ کړې). نو مقداد ؓ وويلې چې: دغه چې ده هغه خبره ده چې ما غوښتله (چې ته راته دعاء وکړې). نو د النضر غاړه يې ووهله (سر يې ورېرې کړ).

### يوه عجيبه قيصه

۶ـ يوه ورځې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما سره يوه يهودي لاندې سوال جواب وکړ:

يهودي: ته د کوم قوم څخه يې؟

ابن عباس رضي الله عنهما: زه د قريشو څخه يم.

يهودي: ته د هغه قوم څخه يې چې د قرآن کريم د حقانيت په صورت کښې يې د الله ﷻ څخه د ډېرو باران غوښتنی وه (ذکر شوي آيت ته يې اشاره وکړه) بې شکه چې تاسو ډېر جاهل قوم ياست چې د حقانيت په صورت کښې مو عذاب وغوښت او هدايت مو ونه غوښت چې ای الله! که دا قرآن ستا د پلوه په حقه نازل شوی وي نو موږ ته هدايت وکړې او د ايمان راوړلو توفيق راکړې.

ابن عباس رضي الله عنهما: ته د هغه قوم څخه يې چې په معجزانه توګه الله ﷻ د درياب څخه تېر کړ او فرعون يې پکښې غرق کړ خو د دوی لا (په اصطلاح) د درياب د اوبو څخه پښې نه وې وچې شوې چې د موسی عليه السلام څخه يې د يوه بوت (باطل معبود) تاکل وغوښتل او موسی عليه السلام ورته خطاب وکړ چې: ﴿ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴾ [الأعراف:١٣٨] يعني: يقيناً چې تاسو يو قوم ياست چې جهل کوئ (ډېر جاهل قوم ياست).

يهودي سر ټيټ کړ او خجالت شو[3].

---

(١) تفسير الطبري ج۶ ص٢٣٢

(٢) تفسير المحرر الوجيز ج٨ ص٥١

(٣) تفسير القرطبي ج٧ ص٣٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## استغفار د الله ﷻ د عذاب مخه نیسي

۷ـ په دې کښې ټول مفسرين کرام متفق دي چې استغفار د الله ﷻ د عذاب مانع دی او په هغو خلکو باندې عذاب نه ورنازلېږي چې ښښنه غواړي. په همدې مضمون باندې لاندې حديثونه په واضحه توګه دلالت کوي:

الف: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «الْعَبْدُ آمِنٌ مِنْ عَذَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا اسْتَغْفَرَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ»[۱] يعنې: بنده د الله ﷻ د عذاب څخه په امن کښې دی ترڅو چې د الله ﷻ څخه ښښنه غواړي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَنْزَلَ اللهُ عَلَيَّ أَمَانَيْنِ لأُمَّتِي ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ فَإِذَا مَضَيْتُ تَرَكْتُ فِيهِمِ الإِسْتِغْفَارَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»[۲] يعنې: الله ﷻ زما د امت دپاره په ما باندې دخپل عذاب څخه دوه امانه نازل کړي دي چې يو زما موجوديت دی او بل استغفار، نو کله چې زه وفات شم نو په خپل امت کښې به دوهم امان (استغفار) د قيامت د ورځې پورې پرېږدم (بايد چې زما امت ترې استفاده وکړي).

مګر په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د آيت شريف د دې ټکړې ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ متعدد تفسيرونه کړي دی[۳] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

اول: يعنې الله ﷻ د دوی (مشرکانو) تعذيب کوونکی نه دی ځکه چې په دوی کښې داسې کسان شته چې په راتلونکي کښې به په ايمان باندې مشرف او د شرک څخه به توبه تائب شي.

دوهم: يعنې الله ﷻ په دوی باندې ځکه عذاب نه نازلوي چې د دوی په نسل کښې داسې کسان شته چې په راتلونکي کښې به تولد او په ايمان باندې به مشرف شي.

مګر دغه دواړه تفسيرونه مونږ ته هيڅ د منلو وړ نه ښکاري.

دريم: يعنې په دوی باندې ځکه الهي عذاب نه ورښکته کېږي چې دوی د طواف په وخت کښې د "غفرانك" کلمه استعمالوي چې: ای الله! مونږ ته مغفرت وکړې.

مګر دا تفسيرهم مونږ ته بعيد ښکاري ځکه چې د مشرکانو د تعذيب سبب خو د دوی شرک او کفري ويناوې وې چې کفري کارونه يې ورباندې وراضافه کړي وه، لکه د المسجد الحرام څخه د مسلمانانو ايسارول او نور، او دغه سبب خو د "غفرانك" په ويلو باندې د منځه نه وه تللی او نه د هغوی نيت وه چې د شرکياتو څخه مغفرت وغواړي.

څلورم: يعنې د مشرکانو په شاوخوا کښې ځينې مسلمانان اوسېږي چې تر اوسه پورې په هجرت باندې نه دي بريالي شوي او د دوی په منځکښې د الله ﷻ څخه مغفرت غواړي نو د دوی د استغفار په برکت سره په هغو باندې عذاب نه رانازلېږي.

---

[۱] مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۴۸
[۲] جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۹
[۳] زاد المسير ج۳ ص۲۳۸؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۳۰۶

Scanned by CamScanner

مګر دا مضمون که څه هم امکان لري چې واقعیت به ولري خو د تفسیر په حیث یې منل مشکل دي ځکه چې وړاندې-ېېرته ټول بحث په مشرکانو کښې روان دی او ټول ضمیرونه همدوی ته راجع دي نو په ناڅاپي ډول سره د ذکرې شوې جملې ضمیرونه مسلمانانو ته راجع کول د نظم تفکیک او د ملغلرو د امېل د پرې کولو څخه په غیر بل شی نه دی.

پنځم: په زړه پورې تفسیر یې هغه دی کوم چې شیخ المفسرین (ابن جریر الطبري علیه الرحمة) غوره کړی دی[1] هغه دا چې: الله ﷻ په داسې حال کښې د مشرکانو عذابوونکی نه دی چې دوی مغفرت وغواړي او د شرک څخه توبه تائب شي (په ایمان باندې مشرف شي) خو دوی دا کار نه کوي او په شرک (کفر) باندې کلک دي.

نو په دوی باندې د عذاب بل مانع نشته فقط همدا مانع دی چې نبي کریم ﷺ لا د دوی د منځه نه دی وتلی، نو کله چې دا مانع هم پورته شي او نبي کریم ﷺ هجرت وکړي نو بیا د دوی تعذیب یقیني کار دی.

الله ﷻ خپله خبره رښتیا کړه او د هجرت څخه وروسته یې په مشرکانو باندې د بدر په مقام کښې خپل عذاب ورنازل او بیا یې د دوی قوت مات کړ او مکه معظمه لا څه بلکې ټول عربستان یې د مؤمنانو د تسلط لاندې واقع کړ.

## "مُکَاء" او "تَصْدِیَة" څه معنی؟

۷_ ﴿ مُكَآءً ﴾ دې ته وایي چې څوک پخپله خوله کښې ګوتې کېږدي او تیره اواز وکړي[2] چې په پښتو کښې همدغه اواز د شپېلي په نامه یادېږي.

﴿ تَصۡدِیَةً ﴾ د "صَدی" څخه اخستله شوې ده، "صَدی" د هغه اواز نوم دی چې سړي ته خپل اواز د غره د پلوه بېرته منعکس شي[3] او یا "تَصْدِیَة" د لاسونو د پړقولو څخه عبارت ده[4]. دلته همدا مراده ده.

اما په دې خبره کښې چې مشرکانو ذکر شوې دواړه عملونه د څه دپاره اجراء کول، مفسرین کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلی شوي دي:

الف: دا کارونه یې د دې دپاره د اجراء لاندې نیوه ترڅو په نبي کریم ﷺ او صحابه وو کرامو ﷺ باندې لمونځونه ګډوډ کړي او په قرائت کښې ورسره مزاحمت وکړي چې المسجد الحرام ته د لمونځونو دپاره ورنه شي، حتی کله به چې نبي کریم ﷺ لمونځ کاوه دوه کسان به یې ښي طرف ته ودرېده او شپېلي به یې وهلي او دوه نور به یې چپې خوا ته ودرېده او لاسونه به یې پړقول چې په نبي کریم ﷺ باندې لمونځ ګډوډ کړي[5].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۶ ص۲۳۸
(۲) مفردات الراغب ص۴۹۱
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۸
(۴) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۱۸
(۵) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۰: تفسیر البغوي ج۲ ص۲۴۷

Scanned by CamScanner

دا تفسير د ﴿ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ د جملې سره ښه پيوند اخلي چې د مناسبت معنی پکښې پرته ده.

ب: دا کارونه د مشرکانو عبادتي کارونه وه او د اسلام څخه وړاندې هم په دوی کښې رواج وه او بالآخره په طواف او د صفا او مروه په سعي کښې به يې د ثواب په نيت اجراء کول، حتی چې خينو نورې اشخاصو به دومره په قوي اواز باندې شپيلي وهل چې آن د حراء په غره کښې به اوريدل کيده، حال دا چې د حراء غر د صفا د غونډۍ څخه په څلور ميله فاصله کښې پروت دی[1].

دا تفسير د ﴿ صَلَاتُهُمْ ﴾ کلمې سره ښه سمون خوري.

مونږ ته داسې ښکاري چې مشرکانو به ذکر شوي کارونه د دواړو غرضونو د پاره اجراء کړي وي، خينو د عبادت په نيت او خينو په نبي کريم ﷺ او په صحابه وو کرامو ﷺ باندې د لمونځو د ګډوډولو په غرض، ترڅو د المسجد الحرام څخه منعه شي.

نو په دوهم تفسير سره خو په ذکرو شوو دواړو عملونو باندې د ﴿ صَلَاتُهُمْ ﴾ د کلمې اطلاق واضحه دی چې مشرکانو دواړه کارونه د عبادت او ثواب په نيت کول، او په اول تفسير سره پرې د لاندې وجهو د کبله د ﴿ صَلَاتُهُمْ ﴾ اطلاق شوی دی:

اول: مشرکانو ته دغه شنيع عملونه لمونځونه ښکاريده البته د استهزاء او مسخرو په توګه[2].

دوهم: څرنګه چې المسجد الحرام د عبادت او لمانځه دپاره دی او دوی پکښې ذکر شوي شنيع عملونه اجراء کول نو داسې وګڼل شو لکه چې دوی دغو اعمالوته د لمونځونو لقب ورکوي.

د دې نظير داسې دی لکه چې يو ظالم د خپل ځان توصيف وکړي چې زه نيک کارونه کوم، او څوک يې مخاطب کړي چې بې شکه چې ته نيک کارونه کوي خو ستا نيک کارونه د ظلمونو څخه عبارت دي. يا په بل عبارت: که ستا کارونه نيک وي نو ظلم به هم نيک کار وي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُۥ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُۥ فِى جَهَنَّمَ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾ ﴾

[۳۶] يقيناً هغه کسان چې کفر يې اختيار کړی دی خپل مالونه د دې دپاره مصرفوي چې د الله ﷻ د لارې څخه (پرې خلک) منعه کړي.

(۱) المحرر الوجيز ج۸ ص۵۹
(۲) روح المعاني ج۹ ص۲۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ژر دی چې دوی به یې (په همدې غرض) مصرف (او نفقه) کړي (خو مطلب ته به ونه رسیږي) بیا (وروسته) به په دوی باندې حسرت (افسوس) جوړ شي (په دنیا کښې به پرې پښېمانه او شرمنده شي)، او بیا به مغلوب کړی شي او (اما په آخرت کښې) هغه کسان چې کفر یې غوره کړې دی دوزخ ته به ورغونډ کړی شي.

[۳۷] (ځکه به دوی مغلوب کړی شي) ترڅو الله ﷻ (په دنیا کښې) نا پاکه د پاک څخه جدا کړي او ځینې ناپاکه (پلیت) د ځینو نورو دپاسه وګرځوي (واچوي) نو ټول دې یو ډېری کړي نو په دوزخ کښې یې وګرځوي (وغورزوي).

دغه کسان چې دي همدوی زیانکاران دي (چې دنیا او آخرت یې دواړه خراب شوه).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو د هغو اقوالو ذکر شوی وه کومو چې د دوی د کفري عقیدې د کلکوالي څخه نمایندګي کوله او د شکست عوامل یې جوړ شوي وه، په دې ایتونو کښې د مشرکانو د شکست مالي عواملو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! څوک چې په کفر او شرک باندې کلک دي سره د دې چې دوی په خپلو مالونو باندې ډېر بخیلان دي مګر د دې دپاره یې مصرفوي چې د الله ﷻ د لارې څخه خلک واړوي او څوک پرېنږدي چې په اسلام باندې مشرف شي او بالآخره دوی غواړي چې د خپلو مالونو په انفاق باندې د اسلام د وړاندې تګ مخه بنده کړي؛ نو دوی دغه ډول انفاق مخکې هم کړی دی او وروسته به یې هم وکړي خو د همدغه نفقه کړی شوي مال څخه به دوی ته هم حسرت جوړ او پرې به پښېمانه به شي او هم به د دوی د مغلوبیت عامل وګرځي. دا کیفیت به په دوی باندې په دنیا کښې ورشي اما په آخرت کښې خو به ټول کفار په مجموعه توګه دوزخ ته بوتللی شي او هلته به ټول ورغونډ کړی شي او هیڅوک به ترې نجات موندلی نه کړي.

۲ـ ای پیغمبره! الله ﷻ ځکه (د خپل عادت په مطابق) د کافرانو د مالونو څخه دوی ته د مغلوبیت موجبه جوړوي ترڅو د پلیتانو (کافرانو) صف د پاکانو (مؤمنانو) د صف څخه جدا کړي او ګډوډ یې پرېنږدي، لکه چې همدغه عملیه یې یو ځل د بدر په موقع په څرګنده توګه پیاده کړه.

نو کله چې د پاکانو (مؤمنانو) صف جدا شو نو دوی ته به الله ﷻ په دنیا کښې پاکیزه او خوندور ژوند ورکړي، چې شرعي احکام په بې غمۍ سره په ځمکه کښې پیاده کړي او په آخرت کښې به یې جنتونو ته ورداخل کړي چې د دوام په توګه به پکښې اوسېږي.

بالمقابل کله چې د پلیتانو ټولنه جدا شوه نو الله ﷻ به د شا اوخوا نور پلیتان (کافران) هم د هر طرف څخه هلته ورغونډ کړي، د دوی به خیال وي چې دا ټولنه به د نجات موجبه جوړه شي خو دغسې نه ده بلکې کله چې دوی د هرې خوا څخه ورتصفیه شوه او داسې مزدحمه (ګڼه) ټولنه یې

Scanned by CamScanner

تشکیل کړه چې د ډېر ازدحام د کبله یو د بل په څټ باندې پښې ږدي، ته به وایې چې د قحطۍ مولخان دي او تیل یې جوړ کړی دی.

نو په دغه وخت کښې به الله ﷻ په دوی باندې دنیاوي عذاب ورنازل کړي چې اجتماع به یې درې وړې شي او هر فرد به یې د خپل ځان په غم اخته او د هلاکت سره به مخامخ شي.

بیا به یې الله ﷻ د مرګ څخه وروسته د قیامت په ورځ را ژوندي کړي او وړاندېني او وروستني به په مجموعي توګه په جهنم (دوزخ) کښې ورواچوي او د ابدي عذاب سره به مخامخ شي.

نو څرنګه ذکر شوي پلیتان نه په دنیا کښې کامیابي حاصلولی شي او نه په آخرت کښې نه ورته مالونه څه ګټه رسولی شي او نه یې اجتماع د تعذیب مخه نیولی شي نو همدغه خلک همدوی تاوانیان دي او بس.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو دا جمله ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ ﴾ په لاندې دوه وو ډولونو باندې تفسیره کړې ده:

الف: دلته هغه دولس تنه مشران مراد دي کومو چې د بدر د غزا مصارف په غاړو اخستي وه چې هر یوه په نوبت سره ټولو جنګیانو ته خوراک ورکاوه او هر یوه به په خپل هر یو نوبت کښې لس اوښان نحر کول (حلالول) او په خلکو به یې خوړل[1].

ب: کله چې مشرکانو د بدر په غزا کښې فاحشه ماتې وخوړه خو تجارتي قافله یې مکې معظمې ته روغه رمټه ورسېده نو دوی ټولو اتفاق وکړ چې دغه تجارتي مالونه به د خپلو وژلو شوو په انتقام کښې مصرفوو[2] او په مدینې منورې باندې به حمله کوو ترڅو مؤمنان پوپنا کړو او هیڅوک یې ژوندي پرېنږدو.

مونږ ته داسې ښکاري چې مفسرینو کرامو به د ذکرې شوې جملې یو-یو مصداق ښودلی وي او حصر به یې مطلب نه وي، نو په همدې بنیاد په آیت شریف کښې هغه ټول کافران شامل دي کومو چې د اسلام د مخنیوي په غرض خپل مالونه مصرف کړي دي، یا لګیا دي مصرفوي یې او بالآخره یا به یې په راتلونکي کښې مصرف کړي.

## د آیت شریف یو تازه مصداق

۲ـ د ذکرې شوي آیت شریف دپاره زمونږ په زمانه کښې یو غټ تازه مصداق صورت ونیو، ته به وایې چې آیت شریف همدا نن-پرون نازل شوی دی، هغه دا چې روسانو په افغانستان باندې مسلح تېری وکړ او د نهو کالو د اشغال څخه وروسته په حسرت او خجالت سره بېرته وواته.

مونږ په همدې هکله د [البقرة: ۱۱] آیت لاندې ښه ګټور معلومات لیکلي دي مګر د مقام په

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۴۷
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ارتباط سره ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

ځینې منابع وايي چې روسانو د اشغال په دوره کښې اويا زره مليونه امريکائي ډالر مصرف کړه[1]. ترڅو په افغانستان باندې خپله قبضه کلکه او د اسلام په عوض پکښې کمونست الحادي رژيم پياده کړي، خو الله ﷻ په خپل فضل سره ناکام کړه.

نو د روسانو ذکر شوی الحادي مالي لګښت که د اشغال په ټوله موده باندې په تقريبي توګه وويشلې شي نو لاندې صورت غوره کوي، د ښه وضاحت په غرض يې ولولئ:

الف: په نهه کالو اشغال کښې اويا زره مليونه (۷۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) امريکايي ډالر.

ب: په يو اشغالي کال کښې اته زره مليونه (۸،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) امريکايي ډالر.

ج: په يوه اشغالي مياشت کښې پنځه شپېته مليونه (۶۵،۰۰۰،۰۰۰) ډالر.

د: په يوه ورځ کښې يو ويشت مليونه او اوه لکه (۲۱،۷۰۰،۰۰۰) ډالر.

ه: په يو ساعت کښې يو مليون (۱،۰۰۰،۰۰۰) ډالر.

و: په يوه دقيقه کښې شپاړلس زره (۱۶،۰۰۰) ډالر.

نو ذکر شوي مصارف د روسانو هيڅ په درد باندې دوا نه شوه او حسرت يې لا پسې اضافه شو او د مغلوبيت په حال کښې په ژړا وواته. کله چې د دوی عمومي قوماندان د امو د سيند څخه پورېووت نو سترګو ته يې دسمال نيولی وه او په مالي او ځاني تاوانونو باندې يې حسرت کاوه.

والحمدلله علی ذلك.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې د ﴿لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ﴾ په جمله کښې د "ل" متعلق څه شی دی؟

مونږ وايو چې: د دغه "ل" په هکله مفسرين کرام وايي چې:

الف: دا د ﴿يُحْشَرُونَ﴾ په جمله پورې تعلق نيسي.

نو حاصل يې داسې کېږي چې ټول کافران به دوزخ ته ورغونډ کړی شي ترڅو د پاک او ناپاک په باره کښې الله ﷻ ابدي جدائي واقع کړي چې هغوی به په ابدي جنت کښې وي او دوی به په ابدي دوزخ کښې[2].

ب: دا د ﴿يُغْلَبُونَ﴾ په جمله پورې متعلق دی[3].

نو حاصل يې داسې کېږي چې کافران به د اسلام په ضد ډېر مالونه مصرف کړي خو بيا به هم مغلوب شي ترڅو الله ﷻ پاک او ناپاک سره جدا کړي، لکه چې په بدر کښې همداسې وشوه.

مونږ ته همدغه دوهم نظر ښکاري چې په ﴿لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ﴾ [الأنفال: ۸] آيت کښې

---

(۱) بي بي سي (BBC) راډيو ۱۳۶۸/۲/۱ هـ ش
(۲) تفسير الطبري ج۶ ص۲۴۶
(۳) روح المعاني ج۹ ص۲۰۵

Scanned by CamScanner

ورته هم اشاره شوې ده، او هم د سړي ذهن ته په تبادر سره راځي چې دلته به د دواړو فرقو (مؤمنانو او کافرانو) ترمنځ دنیاوي جدا کول مطلب وي نه اخروي جدا کول، والله ﷻ اعلم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: باید اول نظر راجح وګڼلی شي چې لام د خپل متعلق سره اتصال لري او په دوهم نظر کښې خو د دواړو ترمنځ اجنبیه جمله فاصله واقع شوې ده؟

مونږ وایو چې: فاصله جمله ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ ﴾ اجنبیه نه ده بلکې د ﴿ يُغۡلَبُونَ ﴾ د متمماتو څخه ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د کافرانو مغلوبیت به آن دوزخ ته په ورغونډولو باندې تمام شي.

## "رَکْم" څه معنی؟

د ﴿ فَيَرۡكُمَهُۥ ﴾ کلمه د "رَکْم" _لکه "زَحْم"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "رَکْم" دېته وایې چې یو شی د بل شي دپاسه کېښودلی شي ترڅو ترې غټه مجموعه جوړه شي(۱).

چې مونږ ترې په پښتو کښې په "ډېرۍ" سره تعبیرکوو او که بالفرض ذکره شوې عملیه په غنمو کښې صورت ونیسي نو بیا یې د "رشې" په نامه یادوو.

دغه کلمه په دې مقام کښې د تحقیر دپاره استعماله شوې ده، یعنې ته به وایې چې کافران بې روحه کالبتونه دي او الله ﷻ یې یو د بل دپاسه ږدي او بیا یې اور ته وراچوي.

﴿ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۸] (ای پیغمبره!) هغه خلکو ته ووایه چې کفر یې اختیار کړی دی (داسې چې:) که دوی (د کفر څخه) منعه شي (او په اسلام باندې مشرف شي) نو دوی ته به هغه ګناهونه وبښلی شي چې پخوا تېر شوي دي (خو چې حقوق الله پورې مربوطي وي).

اوکه دوی کفر ته (د خپل عادت په مطابق) ادامه ورکړي نو (الله ﷻ به ورباندې عذاب ورنازل کړي ځکه چې) یقیناً د پخوانیو (کافرانو) لاره (همداسې) تېره شوې ده.

[۳۹] او (په همدغه حالت کښې) تاسو د دوی سره ترهغه جنګ (جهاد) وکړئ ترڅو چې فتنه نشت شي (ورکه شي) او ټول دین (انقیاد په عمومي توګه) الله ﷻ ته (مفوض) شي.

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۲۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که دوی (د جنګ په دوران کښې د جنګ او کفر څخه) منعه شوه نو (جنګ ورسره بس کړئ
څکه چې) یقیناً الله ﷻ په هغه څه باندې بینا دې چې دوی يې کوي.

[۴۰] او که دوی (په همدې حالت کښې هم د جنګ او د کفر د منعه کېدلو څخه) مخونه واړول
نو تاسو (جهاد ته ادامه ورکړئ او) پوه شئ چې یقیناً الله ﷻ ستاسو کار ساز (او مددګار) دی،
(الله ﷻ) ډېر ښه کار ساز او ډېر ښه مدد کوونکی دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د کفارو دنیاوي او اخروي عاقبت بیان کړی وه چې مغلوبیت،
حسرت او هم خسران او تاوان دی نو په دې ایتونو کښې دوی ته د نجات لاره ښودلې شوې ده چې
که دوی غواړي چې نجات مونده کړي نو دروازه وربانديې تر اوسه نه ده تړلې شوې.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! یو ځل بیا کفارو ته ووایه او د نجات لاره ورته وښایه چې د دنیاوي او
اخروي مشکلاتو څخه خلاص شي، اوس هم سر وخت دی دوی کولی شي چې د خپلې راتلونکې
بدحالۍ غم وخوري او چاره يې وکړي مګر په هغې طریقې سره کومه چې دوی ته ښودله کېږي، هغه
دا چې مشرکان (کفار) دې د کفر او شرک څخه لاس واخلي او په تا باندې دې ایمان راوړي او پخه
عقیده دې دربانديې وکړي چې ته په حقه پیغمبر يې، که دوی دا کار وکړي نو الله ﷻ د دوی سره په
نیولو کښې سختي نه کوي او په تېرو شوو کفریاتو باندې يې نه نیسي. یا په بل عبارت: پخواني
هغه ټول جنایات ورته ببنلی کېږي کوم چې په حقوق الله پورې تعلق نیسي.

او که دوی په خپل کفر باندې کلک پاتې شي او خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړي نو د دغسې
خلکو په باره کښې خو د الله ﷻ طریقه معلومه ده، لکه چې په وړاندې ایتونو کښې يې ورته اشاره
کړې ده، چې په دنیا او آخرت کښې به د حسرت او تاوان سره مخامخ شي، نو ایا دوی د پخوانیو
کفارو څخه عبرت نه اخلي؟ ایا الله ﷻ هغوی پوپنا نه کړه البته کله يې چې د پیغمبرانو علیهم السلام سره
عداوت ته ادامه ورکړه؟

۲ـ ای پیغمبره! کله چې کفارو د نجات لارې ته اعتناء ونه کړه او په خپلو کفریاتو باندې کلک
پاتې شوه او حتی زور يې لګاوه چې د نورو خلکو د مسلمانېدلو مخه هم ونیسي او په دې باره
کښې يې د خپل عادت په مطابق په مالي لګښتونو باندې هم صرفه نه کوله، نو تاسو د دوی سره
ترهغه وخته پورې وجنګېږئ ترڅو چې د دوی زور مات او فتنه ورکه شي او ترڅو چې انقیاد او غاړه
ایښودل په عمومي توګه د الله ﷻ پورې په عملي توګه هم مختص وګرځي لکه څنګه چې ورپورې
بالاستحقاق اختصاص لري.

نو که کفارو ستاسو سره دجنګ په دوران کښې د کفري جنایتونو څخه لاس واخسته چې په ایمان
باندې مشرف شوه نو بیا يې د جنګ څخه صرف نظر شئ، نور نو الله ﷻ پوهېږي او دوي، الله ﷻ

Scanned by CamScanner

بې په تولو کړو وړو او په ټولو اعمالو او عقائدو باندې بینا دی او هیڅ شی یې ترې پټ نه دی، نو څنګه چې د الله ﷻ د عدل او حکمت غوښتنه وي همغسې معامله به ورسره وکړي.

۳_ ای پیغمبره! مؤمنان مخاطب کړه چې که کفارو د خپلو کفریاتو څخه لاس وانخست نو تاسو پوه شئ چې الله ﷻ ستاسو کار ساز او کومکي دی، بیا به درسره داسې کومک او نصرت وکړي لکه څنګه یې چې د بدر په غزا کښې درته بری په نصیب کړ او مشرکان یې درته په ګونډو کړه، الله ﷻ خو ډېر ښه کار ساز (مددګار) او ډېر ښه کومک کوونکی دی.

## توضیحات

۱_ کله چې کوم کافر په اسلام باندې مشرف شي الله ﷻ یې په پخوانیو هغو جنایتونو باندې نه نیسي کوم چې په حقوق الله پورې تعلق نیسي لکه شراب خوري او نور. د همدې کبله نبي کریم ﷺ په اوږده حدیث کښې عمرو بن العاص رضي الله عنه ته وویلې (کله چې نوی په اسلام باندې مشرف شو او د خپلو ګناهونو ذکر یې وکړ) چې: «يَا عَمْرُو بَايِعْ فَإِنَّ الإِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهُ»[۱] یعني: ای عمرو! بیعت وکړه ځکه چې یقینًا اسلام هغه (ګناهونه) پرې کوي (د منځه وړي) چې د اسلام څخه وړاندې کړی شوي وي. اما په اسلام راوړلو باندې حقوق العباد څه تغیر نه خوري، نو که د چا په یوه کافر باندې حق وي او هغه په اسلام باندې مشرف شي کولی شي چې خپل حق ترې مطالبه کړي. همدا د ابوحنیفه رحمه الله علیه مذهب دی[۲].

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې د ﴿إِن يَنتَهُواْ﴾ معنی خو دا ده چې: "که چېري کفار د کفر څخه لاس واخلي" نو باید د مقابلې جملې ﴿وَإِن يَعُودُواْ﴾ معنی داسې وشي "او که دوی (کفار) بېرته کفر ته ورتاو شي"؛ حال دا چې د آیت شریف مضمون دا دی چې "که کافران په خپل کفر باندې باقي پاتې شي"؟

مونږ وایو چې:

الف: د ﴿إِن يَنتَهُواْ﴾ معنی دا ده چې: که چرته کفارو د نبي کریم ﷺ د عداوت څخه لاس واخسته[۳]، نو باید چې د ﴿وَإِن يَعُودُواْ﴾ معنی داسې وشي چې: او که دوی بېرته د نبي کریم ﷺ عداوت ته ورتاو شوه.

مونږ ته دا جواب ځکه خوندور نه ښکاري چې کومو کفارو چې د کفر څخه لاس نه وي اخستی هغوی به ضرور د نبي کریم ﷺ د عداوت څخه هم لاس نه وي اخستی، نو د اعتراض مخه ونه نیوله شوه نو د بېرته ورتاوېدلو معنی پکښې صحت نه شي موندلی.

ب: مونږ ته داسې ښکاري چې د ﴿وَإِن يَعُودُواْ﴾ کلمه د "عَود" _لکه "قول"_ څخه نه ده اشتقاقه

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۳۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۴۰۲
(۳) روح المعاني ج۹ ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



شوې چې اعتراض وارد شي بلکې مصدر يې "عادةٌ" دی چې په اصلي تورو کښې د "عَوْدٌ" سره مطابق دی، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې که کفارو (مشرکانو) د کفر څخه لاس وانخستل او د خپل عادت په مطابق يې خپلو کفرياتو ته ادامه وکړه نو هرومرو به په دنيا او آخرت کښې د حسرت او افسوس سره مخامخ شي.

## جهاد ترهغه چې فتنه ورکه شي

۳ـ د همدې آيت شريف ﴿وَقَـٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ﴾ په مضمون باندې يو بل آيت [البقرة:۱۹۳] وړاندې تېر شوي دي او څه چې مونږ ته الله ﷻ رابښودلي وه هلته مو ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې ضرورت نه ګورو، فقط لاندې معلومات ورباندې وراضافه کوو:

الف: په کوم وخت کښې چې مسلمانان د خپلمنځي اختلافاتو د کبله په جنګ وه نو عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته چا دعوت ورکړ چې ته هم په دې جنګونو کښې ګډون وکړه ترڅو چې فتنه ورکه شي او ټول انقياد الله ﷻ پورې منحصر شي.

نوموړي صحابي رضي الله عنه جواب ورکړ چې دا کار خو مونږ د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې کړی دی چې مسلمانان کمزوري وه او د دين په هکله به زورول کيده چې يا به د مشرکانو د پلوه وژل کيده او يا به بنديان کيده «حَتَّى كَثُرَ الإِسْلامُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ»(۱) يعني: آن تر دې چې مسلمانان ډېر او قوي شوه نو فتنه د منځه لاړه (د کافرانو قوت مات شو او مسلمانان يې نه شوه زورولی).

ب: نوموړي صحابي رضي الله عنه په جواب کښې زياته کړه چې مونږ خو د کفارو سره جنګونه وکړه ترڅو چې فتنه ورکه شوه او ټول دين (انقياد) د الله ﷻ دپاره شو «وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا حَتَّى تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِغَيْرِ اللهِ»(۲) او تاسو اراده لرئ چې جنګونه وکړئ ترڅو چې (بيا) فتنه موجوده شي او دين (انقياد) د غيرالله دپاره شي (دښمن مسلط شي او اختيار په لاس کښې واخلي).

سبحان الله! نن ورځ(۳) د افغانستان جنګونه په عين شکل روان دي چې په څوارلس کلن جهاد سره کمونستان د اقتدار څخه ولوېده او فتنه ختمه شوه، مګر اوس خطر شته چې بيا هغوی ته اقتدار لاس ته ورشي او يا اقلاً په اقتدار کښې شريک شي او په ورو ورو بيا فتنه سر راپوته کړي، **فانا لله وإنا اليه راجعون.**

**نهمه سپاره د الله ﷻ په توفيق ختمه شوه ـ والحمدلله ـ او د الله ﷻ څخه نور توفيق هم غواړو**

**اللَّهُمَّ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ.**

**۱۳۷۴/۱۱/۲۲ هـ ش**

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۰
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۴۸؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۰۸
(۳) ۱۳۷۴/۱۱/۲۲ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾﴾

[۴۱] او (ای مؤمنانو!) تاسو پوه شئ چې یقینًا هغه څه چې تاسو (د کفارو څخه) غنیمت کړي دي نو (الهي فیصله پکښې دا ده چې) بې شکه پنځمه برخه یې خاص الله ﷻ دپاره او خاص د پیغمبر ﷺ دپاره او خاص د قرابت د خاوند او د یتیمانو او د مسکینانو او د لارې د بچي (مسافر) دپاره ده (متباقي یې ستاسو دي).

(تاسو په همدې باندې عمل وکړئ) که تاسو یاست چې په الله ﷻ باندې مو ایمان راوړی وي او په هغه څه باندې (هم) چې مونږ په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې د فرقان په ورځ نازل کړی دی په کومه ورځ چې دوه ډلې (مسلمان او کافران پکښې د جنګ دپاره) ملاقي شوي (یعنې د بدر د غزا په ورځ). او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی (تاسو یې هلته د کامل قدرت مثالونه په سترګو ولیده).

## ارتباط

په دې سورت (الأنفال) کښې که څه هم د ارتباطاتو په اعتبار سره تر دې ځایه پورې مختلف موضوعات شرحه شوي دي مګر محوري موضوع پکښې دا ده چې د بدر غازیان په دلایلو باندې قانع او په غنیمتي مالونو کښې د جګړو څخه صرف نظر شي، نو کله چې دغه مطلب په ډېره احسنه توګه تر سره شو او غازیان قانع شوه نو په ذکر شوي ایت شریف کښې داسې حکم نازل شو چې د قیامت د ورځې پورې د غازیانو غنیمتي جګړې فیصله کوي او اختلاف یې د منځه وړي.

## سوال جواب

۱ـ که څوک وایي چې د ذکر شوي طرز البیان څخه څرګندېږي چې د بدر غنیمت لومړنی غنیمت دی چې خمس (پنځمه برخه) ترې ویستلی شوی دی او متباقي څلور برخې په غازیانو باندې ویشلې شوي دي، حال دا چې تاسو د [البقرة:۲۱۷] ایت لاندې لیکلي دي چې کوم غنیمت چې په اسلام کښې د خمس د ویستلو څخه وروسته ویشلی شوی دی هغه د عبدالله بن جحش ﷺ د غزا غنیمت دی کوم چې د بدر د غزا څخه دوه میاشتې وړاندې مجاهدینو ته لاس ته ورغلی وه؟

مونږ وایو چې:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې د ذکر شوې وړې غزا غنیمت دوه میاشتې د ویشلو څخه تال وه ترڅو چې همدغه ایت شریف نازل شو ـ چې اوس د بحث لاندې دی ـ نو بیا د بدري غنیمت څخه

ورانديږ د همدغه غنيمت په وېشلو باندې پيل وشو[1].

مګر مونږ ته دا جواب محض يو احتمال ښکاري او زړه ته مو نه لوېږي.

ب: مونږ ته داسې ښکاري چې د وړې غزا غنيمت به د نبي کريم ﷺ په هدايت باندې وېشلي شوی وی او په همدې اعتبار سره لومړنی تقسيم شوی ګڼلی کېږي، او د بدر غنيمت په دې اعتبار سره لومړنی تقسيم شوی ګڼو چې عين هدايت په ايت شريف سره ثابت شوی دی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وايي چې که داسې وي نو د بدر غازيانو به بې د جګړې څخه د وړې غزا په کړنلاره باندې تلل کړي وی او جګړې به هيڅ صورت نه وی نيولی؟

مونږ وايو چې: د بدر غازيانو څکه د وړې غزا حکم په زغرده عملي نه کړ چې هلته د غازيانو ترمنځ اختلاف نه وه، او بدري غازيان خو په دريوو ګروپونو باندې ويشلي شوي وه لکه چې د [الأنفال: ۱] ايت شان نزول ورباندې صراحت کړی دی.

## د مطلب خلاصه

يعنې: ای مؤمنانو! (غازيانو) کله چې تاسو قانع شوئ چې غنيمتي مالونه د الله ﷻ حق دی او تاسو پکښې د جګړو او ناندريو حق نه لرئ نو اوس په هغه حکم باندې پوه شئ چې الله ﷻ په دې باره کښې فيصله کړی دی او عمل پرې وکړئ، هغه دا چې:

۱_ ټول غنيمتي مالونه پنځه برخې کړئ او ښه پوره دقت وکړئ چې هيڅ شی بې برخه کولو پاتې نه شي.

۲_ په دغو پنځو برخو کښې څلور برخې ستاسو دپاره الله ﷻ عنايت کړې دي چې د نبي کريم ﷺ د هداياتو په مطابق به يې په خپلو منځو کښې تقسيم کړئ.

۳_ اما پاتې پنځمه برخه د الله ﷻ برخه ده چې د هيچا په ملکيت کښې داخله نه ده او د نبي کريم ﷺ په شمول د لاندې کسانو دپاره د الله ﷻ د پلوه ځانګړې شوې ده، او يا په بل عبارت: دغه پنځمه برخه بيا د دوهم ځل دپاره په لاندې پنځو حصو وېشله کېږي:

الف: په يوه حصه باندې به يې نبي کريم ﷺ خپل د کور اړتياوې پوره کوي.

ب: بله حصه د نبي کريم ﷺ د اقاربو دپاره خاصه کړی شوې ده، البته هغه اقارب او خپلوان چې د نبي کريم ﷺ سره يې د کفر او اسلام په دواړو حالاتو کښې نصرت کړی دی.

ج: بله حصه بايد يتيمانو ته ورکړی شي، چې دوی پرې خپل ضروريات تکميل کړي، خصوصاً هغه يتيمان چې پلرونه يې په همدغې او يا په بله غزا کښې د شهادت لوړ مقام ته رسېدلي وي.

د: بله حصه د مسکينانو ده ترڅو دوی هم بې برخې پاتې نه شي.

---

[1] ...، ج۱۳ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸. بالآخره پنځمه حصه مسافرو او بې وطنه خلکو ته ځانګړې شوې ده چې خپلو وطنونو (ټاټوبو) ته پرې ورسېږي.

۴_ نو ای مؤمنانو! د غنیمتي مالونو په هکله د الله ﷻ د نازل کړی شوي حکم عملي اطاعت وکړئ که تاسو رښتیا په هغه شي باندې ایمان راوړی وي کوم چې مونږ په خپل مخلص بنده (محمد ﷺ) باندې د فرقان په ورځ نازل کړی دی (په هغه ورځ چې د بدر په موقع دوه ډلې "مسلمانان او کافران" د جنګ دپاره سره مخامخې شوې). د هغه شي نوم اخستلو ته څه ضرورت نشته هغه خو تاسو ته ښه معلوم او تاسو په خپلو سترګو باندې لیدلی دی چې په معجزانه توګه مو نصرت درکړ او قوي دښمنان مو درته په ګونډو کړه.

او دا ځکه چې الله ﷻ په هرڅه باندې د قدرت څښتن دی، په ډېرو ځایونو کښې وړې صابرې ډلې ته په لوی بې دینه لښکر باندې غلبه ورکوي.

۵_ نو ای مؤمنانو! تاسو ذکر شوی بې ساری نعمت مه هېروئ او په غنیمتي مالونو کښې د الله ﷻ درنازل شوی حکم په عمل کښې پیاده کړئ او د زړه د کومې ورباندې خوښ او راضي شئ، الله ﷻ په هر څه باندې قادر دی نو په راتلونکي کښې به نور غنیمتونه هم درباندې عنایت کړي.

## توضیحات

۱_ په یاد ولرئ چې د ﴿ أَنَّمَا ﴾ کلمه په دې مقام کښې د دوه وو تورو "ان، ما" څخه مرکبه ده، نو په کار وه چې نظر عربي لیک دود ته بیل-بیل لیکلي شوي وی مګر څرنګه چې د قرآن کریم په رسم الخط کښې د عثماني لیکنې مراعات ضرور دی، چې د دریم خلیفه (عثمان ﷺ) څخه راپاتې دی، نو په ټول مصاحفو کښې ګډ لیکلی کېږي او همدغه ډول لیکنه مونږ ته په تواتر سره رارسېدلې ده.

څرنګه چې د "ما" توری مبهم دی او تفسیر یې په "مِنْ شَيْءٍ" سره شوی دی نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په غنیمتي مالونو کښې هیڅ شی هم بې ویشه مه پرېږدئ که څه هم یو تار او یا یوه ستنه وي. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په لاندې حدیثونو کښې اشاره کړې ده:

الف: عمرو بن عبسه ﷺ وایي چې نبي کریم ﷺ مونږ ته په داسې حال کښې د جمعې لمونځ راکړ چې د غنیمت یو اوښ یې د سُترې په شکل په وړاندې چو وه، نو کله چې د لمانځه څخه فارغ شو او سلام یې وګرځاوه نو د ذکر شوي اوښ د اړخ څخه یې یو ویښته په مبارکو ګوتو کښې ونیو او بیا یې وفرمایل چې: «وَلا يَحِلُّ لِي مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلاَّ الْخُمُسُ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ»[1] یعنې: ما ته ستاسو د غنیمتونو څخه د دغه ویښته په مثل شی هم حلال نه دی مګر خمس (چې الله ﷻ راته ټاکلی دی) او خمس هم په تاسو کښې رد کړی شوی دی (ستاسو په یتیمانو او نورو باندې یې توزیع کوم).

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمَخِيطَ

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَإِنَّ الْغُلُولَ يَكُونُ عَلَى اهلِهِ عَارًا وَشَنَارًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] يعني: اى خلكو! د غنيمت تار او ستن (د ربش دپاره) ورکړئ (او خيانت مه کوئ) ځکه چې خيانت د قيامت په ورځ په خپل خاوند باندې شرم او عيب جوړيږي (خائنونه مه شرموئ).

## "غنيمة" څه معنى؟

۲ـ د ﴿ غَنِمْتُم ﴾ کلمه د "غنيمة" ځخه اشتقاقه شوې ده، غنيمت د هغو مالونو نوم دی چې د مشرکانو (کافرانو) څخه په نظامي طاقت سره واخستل شي[۲] لکه په دې زمانه کښې توپونه، ټانګونه او نورې دول-دول وسلې، نو د کفارو هغه مالونه کوم چې بې د نظامي طاقت ځخه ترلاسه شي لکه جزيه، خراج او داسې نور، نو هغه د "فئ" په نامه باندې يادېږي[۳] چې د توزيع حکم يې په [الحشر:۷] ايت کښې نازل شوی دی بايد هملته وکتل شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې د غنيمتي مالونو فقط د پنځمې برخې د توزيع حکم ذکر دی، چې فلاني او فلاني ته دې ورکړی شي؛ نو پوښتنه دا ده چې متباقي څلور برخې بايد څوک واخلي؟

مونږ وايو چې د ﴿ غَنِمْتُم ﴾ جمله په لاندې مطالبو باندې دلالت کوي:

الف: متباقي څلور برخې د مجاهدينو دي ځکه چې همدوی ته د غنيمت کولو نسبت شوی دی.

ب: غنيمت بايد ټولو مجاهدينو ته ورکړی شي، که څه هم په تعرضي ګروپ کښې وي يا په دفاع کښې ناست مجاهدين وي او يا هغه چې د جنګ د ميدان ځخه يې د غنيمت مالونه راغونډ کړي وي. نو په دې باندې هغه لانجه هواره شوه کومه چې د [الأنفال:۱] ايت لاندې مونږ ذکره کړې ده.

ج: نو هغه کومکي مجاهدين هم (چې غازيانو ته وروررسيږي او هغوی لا د غنيمت مالونه دار الاسلام ته نه وي نقل کړي او نه يې په خپلو منځو کښې وېشلي وي) برخوال ګڼل کېږي[۴] ځکه چې من وجه دوی هم غنيمت کوونکي دي چې په داسې حال کښې هلته وررسېدلي دي چې غنيمت لا په خطر کښې دی او د خطر څخه په بچ کولو کښې يې دوی هم ګډون وکړ او دارالاسلام ته يې رانقل کړ.

د: ټول مجاهدين په غنيمت کښې په مساوي توګه د برخو درلودونکي دي. مثلاً قومندان او عادي مجاهد او هم خوان اوسپين ږيری اوبالآخره روغ او مريض ټول سره يو برابر دي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث ولولئ:

سعد بن ابي وقاص ﷺ (چې په جنګ کښې زيات زړور وه او د غشو په ويشتلو کښې يې زيات

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۱۳۶
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۴۴۶
(۳) تفسير القرطبي ج۸ ص۲
(۴) اعلاء السنن ج۱۲ ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مهارت درلود) خیال کاوه چې زه به په نورو صحابه وو کرامو باندې څه بهتري لرم، نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «إِنَّمَا يَنْصُرُ اللهُ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِضَعِيفِهَا بِدَعْوَتِهِمْ وَصَلَاتِهِمْ وَإِخْلَاصِهِمْ»[۱] یعني: یقیناً الله ﷻ دغه امت ته د همدې امت د کمزورو او ضعیفانو په سبب سره نصرت ورکوي، د دوی د دعاګانو د کبله او د دوی د لمونځونو د کبله او (بالآخره) د دوی د اخلاص د کبله.

## اهل التشیع څه وایي؟

۴- اهل التشیع وایي چې د "غنیمة" کلمه په لغت کښې هغې ګټې ته ویل کېږي چې یو کس او یا یوه ډله یې په خپل کوښښ او زیار ویستلو سره ترلاسه کړي برابره خبره ده چې د غزا په صورت کښې وي او یا د بل کسب او کار په صورت کښې، (چې همدا یې لغوي معنی ده)[۲].

نو د دوی په نزد په هره ګټه کښې پنځمه برخه د هغه چا دپاره ده چې د هغه دپاره په غنیمت کښې پنځمه برخه ټاکلې شوې ده او پاتې څلور برخې د مال ګټونکي او یا ګټونکو ته پاتې کېږي او بس[۳].

مونږ وایو چې که څه هم د "غنیمة" د کلمې اطلاق په مطلقه ګټه باندې شوی دی مګر د دې مقام په اعتبار سره چې وړاندې او بېرته ټول بحث د غزا په هکله چلیږي، په کار دي چې دلته صرف جنګي ګټې مرادې وي او بس.

## سوال جواب

۵- که څوک وایي چې: په نصوصو کښې خو مفهوم ته اعتبار وي او د وقائعو خصوص ورباندې څه اثر نه اچوي نو بهتره دا ده چې د غنیمة کلمه په خپل عموم سره پرېښودله شي او یوازې جنګي ګټو پورې خانګړې نه شي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د "غنیمة" کلمه د لاندې موانعو د کبله په عموم نه ده پرېښودله شوې او د اهل التشیع څخه په غیر د نورو علماوو په اتفاق سره په جنګي ګټو پورې اختصاص ورکړی شوی دی:

الف: لکه څنګه چې په اوله توضیح کښې واضحه شوه چې په دې مقام کښې د ﴿ مِّن شَيْءٍ ﴾ په کلمې باندې د "ما" ابهام پورته شوی دی او د یوه تار یا د یوه ویښته ګټې ته هم شامل دی نو معلومه شوه چې دلته مطلقه ګټه مراده نه ده، که نه نو په کار ده چې په هر مزدور باندې په یوه پیسه مزدورۍ کښې هم خمس واجب شي حال دا چې اهل التشیع به یې هم په وجوب قول ونه کړي.

ب: په دې تقدیر ټول شرعي مقادیر او نصابونه د منځه ځي. او یا په بل عبارت: هغه ټول احادیث غیر معمول ګرځي په کومو کښې چې شرعي نصابونه ښودلي شوي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۶۴

(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱

(۳) تفسیر نمونه ج۷ ص۱۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ»(۱) یعنې: پنځو وقیو (دوه سوه درهمو) څخه په کمو درهمو کښې صدقه (زکات) نشته.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ»(۲) یعنې د اوښانو په هغې مجموعه کښې زکات نشته چې د پنځو اوښانو څخه کمه وي.

ج: بل مانع یې مونږ ته دا ښکاري چې په راتلونکي [۶۹] ایت کښې د ﴿ غَنِمْتُمْ ﴾ کلمه بیرته بیا ذکره شوې ده مګر هلته اهل التشیع په عمومیت سره نه ده تفسیره کړې او صرف جهادي غنائمو پورې یې اختصاص ورکړی دی(۳)، نو دوی ته په کار دي چې دلته یې هم عامه ونه ګڼي او په مسلمانانو باندې د الله ﷻ خفیف حکم ثقیل ونه ګرځوي او د «يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا»(۴) په حدیث باندې عمل وکړي، چې په خلکو باندې اساني کوئ او سختي ورباندې مه کوئ.

## په خمس کښې تسدیس نشته

۵ـ صحابه وو کرامو ﷺ او تابعینو علیهم الرحمة په دې باندې اجماع کړې ده چې د غنیمت په خمس کښې تسدیس (شپږ برخې کول) نشته، خو ابو العالیه علیه الرحمة وروسته د همدې اجماع څخه اختلاف کړی دی او په خمس کښې په شپږمه برخه باندې قائل شوی دی، مګر وروستنی اختلاف په اجماع باندې څه اثر نه غورزوي بلکې هغه اختلاف د اجماع د انعقاد مانع ګرځي چې د انعقاد په وخت کښې موجود وي(۵).

ابو العالیه علیه الرحمة وایي چې په خمس کښې یوه حصه د الله ﷻ ده چې باید د کعبې شریفې په لګښتونو کښې مصرفه شي نو په کار دي چې خمس په شپږو برخو ویشلی شي.

## سوال جواب

۶ـ ؟: څوک وایي چې: د ایت شریف ظاهر خو د ابو العالیه علیه الرحمة تائید کوي چې ﴿ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ ﴾ الآية؟

مونږ وایو چې: د ﴿ لِلَّهِ ﴾ مبارکه کلمه د دې دپاره نه ده نازله شوې چې په خمس کښې یوه برخه د الله ﷻ دپاره اختصاص شوې ده ځکه چې ټوله دنیا د الله ﷻ ملکیت دی، بلکې د ﴿ لِلَّهِ ﴾ د مبارکې کلمې په نزول کښې مفسرینو کرامو ډېر حکمتونه لیکلي دي(۶) مګر کوم حکمت چې الله ﷻ مونږ ته په زړه کښې را واچاوه هغه په لاندې ډول دی:

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۳۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۶
(۳) تفسیر نمونه (لاهل التشیع) ج۷ ص۲۴۲
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۲
(۵) اعلاء السنن ج۱۲ ص۲۱۱
(۶) روح المعاني ج۱۰ ص۳، التفسیر الکبیر ج۵ ص۱۶۶؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايي چې: «إِنَّ هَذِهِ الصَّدَقَاتِ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لا تحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ»[۱] يعني: يقيناً دغه خيراتونه (فرض وي او که نفلي) بې شکه د خلکو خيري دي (چې گناهونه پرې بېنلي کېږي) او يقيناً دا محمد ﷺ او د محمد ﷺ ټبر ته حلال نه دي.

نو د دې دپاره چې څوک په غنيمتي مالونو باندې هم د اوساخو (خيرو) گومان ونه کړي او بيا په نبي كريم ﷺ باندې اعتراض ونه کړي چې د يو پلوه په خپل ځان او خپل ټبر باندې صدقات حراموي او د بله پلوه په غنيمتي مالونو کښې برخه اخلي، غنيمتي مالونه خو بل شی نه دی مگر د صدقاتو غوندې د خلکو خيري دي.

نو الله ﷻ د هر چا څخه وړاندې دخمس نسبت خپل اقدس ذات ته وکړ چې: ﴿ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ ﴾ ترڅو خلک په غوږ باندې ووهي چې غنيمتونه د صدقاتو په شان د خلکو خيري نه دي چې گناهونه ورباندې بېنلی شوي وي. يا په بل عبارت: چې مسلمانان ورباندې د گناهونو څخه وينځلي شوي وي. بلکې دا هغه مالونه دي چې د کلمة الله (اسلام) د اعلاء د کبله د کفارو څخه په زور اخستلی شوي دي.

## د "لِذِي الْقُرْبَى" څخه څوک مراد دي؟

۷ـ د ﴿ وَلِذِي ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ کلمه په ايت شريف کښې مطلقه ذکره ده خو د خيبر د غزا په موقع نبي كريم ﷺ په بني هاشم او بني المطلب سره تفسيره کړه، چې دغو دوارو قبيلو ته يې د ذکرې شوې غزا په خمس کښې برخې ورکړې او نور خپلوان يې پرېښودل. بني هاشم خو د نبي كريم ﷺ خپل قوم وه او بني المطلب ورسره په څلورم پلار (عبد مناف) کښې گډېږي او دا ځکه چې محمد ﷺ د عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف، مبارک زوی دی. عبدمناف لاندې پنځه زامن درلوده:

۱ـ هاشم ۲ـمطلب ۳ـعبد شمس (دغه درېواړه سکني ورونه وه) ۴ـنوفل (چې دا يې ناسکه وه)[۲] ۵ـ ابو عمرو، د دغه پنځم زوی او لاده يې نه ده پاتې شوې[۳].

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: د دې څه وجه وه چې نبي كريم ﷺ د خپلو تربرونو (د عبدمناف د اولادې څخه صرف بني هاشم او بني مطلب خاص وگرځول؟

مونږ وايو چې: همدغه پوښتنه د خيبر د غزا په موقع جبير بن مطعم ﷺ (چې د نوفل د اولادې څخه وه) او عثمان بن عفان ﷺ (چې د عبدشمس د اولادې څخه وه) د نبي كريم ﷺ په حضور کښې مطرح کړه چې: ای د الله رسوله! مونږ او بني هاشم او هم بني مطلب خو ستا په خپلوی کښې يو

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۳۴۵
(۲) عمدة القاري للعيني ج۱۵ ص۶۴
(۳) تفسير القاسمي ج۸ ص۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برابر یاستو، چې ټول درسره په څلورم نیکه (عبد مناف) کښې ګډېږو، نو څه وجه ده چې مونږ ته دې د خمس څخه څه برخه رانه کړه او هغوی ته دې ورکړه؟ نو نبي کریم ﷺ ورته په جواب کښې وفرمایل چې: «إِنَّمَا بَنُو الْمُطَّلِبِ وَبَنُو هَاشِمٍ شَيْءٌ وَاحِدٌ»[1] یقینًا بني المطلب او بني هاشم خو یو شی دي یعنې دغو دواړو قبیلو هم په جاهلیت او هم په اسلام کښې یو تریله سره کومک کړی دی او یو تریله سره نه دي جدا شوي.

څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ هغې قیصې ته اشاره کړې وي کومه چې په دواړو قبیلو باندې د قریشو د پلوه تېره شوې وه. هغه دا چې کله چې قریشو ولیده چې اسلام ورځ په ورځ مخ په وړاندې روان دي او په قبایلو کښې یې روزمره پیروان زیاتېږي نو دوی ټولو د بني هاشم او بني مطلب په خلاف یوه پرېکړه وکړه چې نه به څوک ورسره ازدواجي علاقه ساتي او نه به ورباندې څوک څه شی خرڅوي او نه به یې ترې اخلي (په اصطلاح نه به ورسره څوک مړی کوي او نه ژوندی). په همدې هکله یې کاغذ ولیکه او ټولو لاسلیک کړ او بیا یې د زیات تاکید دپاره ذکر شوي کاغذ د کعبې شریفې په داخل کښې زوړند کړ[2].

نو تر دربوو کالو پورې ذکرو شوو دواړو قبیلو مشکلات وګالل، که څه هم ټول په اسلام باندې نه وو مشرف شوي مګر بني نوفل او بني عبدشمس د دغو محرومیتونو څخه بچ پاتې وه او لا د قریشو سره یې په ذکره شوې تعهدنامه کښې اشتراک درلود.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې: د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د خمس (پنځمې برخې) ویشل په څه ډول صورت نیسي؟

مونږ وایو چې: د ذي القربی برخې هم په حقیقت کښې په نبي کریم ﷺ پورې ارتباط درلود، د همدې کبله به پکښې نبي کریم ﷺ ازادانه تصرف کاوه چې څېنو ته به یې برخه ورکوله او څېنو ته به یې نه ورکوله[3].

نو کله چې نبي کریم ﷺ وفات شو ذکر شوي دواړه برخې (سهم النبي او سهم ذي القربی) ساقطې شوې او د خمس ویشل په متباقي دریوو ډلو کښې انحصار وموند، په همدې باندې څلور واړو راشده خلفاوو ﷺ عمل کړی دی او په همدې باندې اجماع منعقده شوې ده، څېنو علماوو کرامو په همدې موضوع کښې ښه اوږد تحقیقي بحث کړی دی[4] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هغه دې مراجعه وکړي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۴۴
(۲) سیرت ابن هشام ج۱ ص۳۷۲
(۳) شرح معاني الآثار ج۲ ص۱۳۱
(۴) اعلاء السنن ج۱۲ ص۲۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه مسئله

۱۰ـ پاتې درې ډلې (یتیمان، مسکینان، مسافرین) د خمس په نسبت مصارف ګڼل کیږي لکه څنګه چې فقیران د زکاتونو دپاره مصارف دي، نو د اسلامي حکومت مشر دا مکلفیت نه لري چې هرې ډلې ته او یا د هرې ډلې هر فرد ته دې په خمس کښې څه برخه ورکړي که نه نو ګناهګار به وي، بلکې په ده باندې واجبه ده چې د ذکرو شوو درېواړو ډلو څخه یې بهرته ونه باسي اما په داخل د دوی کښې اختیار لري چې چاته یې ورکوي او که څوک پرېږدي[۱] مګر فقط همدا یوه خبره باید د همیشه دپاره په نظر کښې وساتي چې که په دغو ډلو کښې داسې څوک موندل شي چې د ذوالقربی تعریف هم ورباندې صادق وي نو هغه ته باید د لومړیتوب حق ورکړي[۲].

## فرقان کومه ورځ وه او څه پکښې نازل شوي وه؟

۱۱ـ مونږ د [الأنفال:۲۹] ایت لاندې د فرقان معنی لیکلې وه چې د هغه شي څخه عبارت ده چې حق او باطل یو تربله جدا کوي، خو په دې مقام کښې د فرقان لقب د بدر د غزا ته ورکړی شوی دی، ځکه چې د بدر په غزا باندې بالکل واضحه شوه چې اسلام حق دین دی او د اسلام د دین څخه په غیر نور ټول ادیان باطل دي. همدې مضمون ته په ﴿ لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَىَّ عَنۢ بَيِّنَةٍ ﴾ [الأنفال:۴۲] کښې اشاره شوې ده، یعنې د بدر د غزا په موقع ځکه حق او باطل یو تربله جدا شو ترڅو هغه څوک د حجت د اقامه کولو څخه وروسته مړ شي چې مړ کیږي او هغه څوک د حجت د اقامه کولو څخه وروسته ژوند وکړي چې ژوند کوي.

اما د هغه شي په باره کښې مفسرینو کرامو ډېر تفسیرونه کړي دي چې په دغې ورځ کښې نازل شوی وه، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې وایي چې د ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ څخه د الانفال سورت مراد دی چې په ﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَنفَالِ ﴾ باندې پیل شوی دی[۳].

ب: ځینې وایي چې ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ د ملائکو څخه عبارت دی[۴] چې په دغې ورځ کښې الله ﷻ د مجاهدینو د کومک دپاره رالېږلې کړې وې.

ج: ځینو مفسرینو کرامو متعدد واقعات ذکر کړي دي چې ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ د همدغو څخه عبارت دی[۵]، که څوک فرصت لري نو همهلته دې وګوري.

د: زمونږ په فکر د ﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ څخه هغه څه مراد دي کومو ته چې الله ﷻ د الانفال سورت

---

(۱) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۷ ص۱۲۵
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۳
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۲۵۱
(۴) تفسير ابي السعود ج۴ ص۲۳
(۵) تفسير المظهري ج۴ ص۹۳

Scanned by CamScanner

تقريبًا د پیل څخه آن تر [۱۴] ایت پورې اشارې کړې دي. یا په بل عبارت: هغه څه مطلب دی چې د جنګ د ډګر په شا اوخوا کښې واقع شوی وه او الله ﷻ د ښه قناعت دپاره د نهه دلایلو په شکل کښې یو ځل د مجاهدینو توجه وروارړوله. نو څرنګه چې هلته ورښودلي شوي وه نو دلته ورباندې صراحت ونه کړی شو.

برسبره په دې، د ﴿وَمَآ أَنزَلۡنَا﴾ کلمه هغو معجزانه شیانو ته هم شامله ده چې په راتلونکو درېوو ایتونو کښې یې ذکر راروان دي او یو ځل بیا د مجاهدینو توجه وراړولی شوې ده.

## د عربیت پورې اړونده مسئله

۱۲ـ د ﴿خُمُسَهُۥ﴾ کلمه د "أَنَّ" دپاره اسم دی او د ﴿لِلَّهِ﴾ کلمه یې د معطوفاتو په شمول خبر واقع شوې ده، نو ځینې مفسرین کرام وایي چې "أَنَّ" د اسم او خبر سره د مفرد په اعتبار مبتدا ده او خبر یې مقدر دی چې په واجب یا لازم باندې ترې تعبیر کوو[۱].

مګر مونږ ته بهتره ښکارې چې مبتدا به مقدره وي او کوم شي ته چې هغوی د مبتدا لقب ورکوي همغه به یې خبر وي نو تصویر به یې داسې شي چې "فالحکم أنّ لله خمسه و للرسول" یعني ای مجاهدینو! کوم شی چې تاسو غنیمت کړ ی دی او تاسو یې د حکم په انتظار کښې یاست نو په دې کښې شرعي حکم دا دی چې یقینًا پنځمه برخه یې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ او هم د نورو ذکرو شوو کسانو ده او متباقي څلور برخې تاسو ته درکړی شوی دي.

﴿إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ
تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا لِّيَهۡلِكَ مَنۡ
هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ
فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَۚ
إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ
فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤٤﴾﴾

[۴۲] (ای مؤمنانو!) هغه وخت (درېه یاد کړئ) چې تاسو (مدینې منورې ته) په نږدې غاړه کښې وئ او دوی (مشرکان ترې) په لرې غاړه کښې وه او کاروان ستاسو (دواړو ډلو څخه) لاندې (د دریاب په غاړه باندې) وه (نو تاسو ته به تول حالت درېه زړه شي).

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او که چېرې تاسو يو تربله (د جنګ) وعده کړې وی نو ضرور به مو په (مقدره) وعده کښې اختلاف کړی وی (او پوره به ورته نه وی حاضر شوي) مګر (بدون د سابقه وعدې څخه تاسو دواړه جانبه د جنګ میدان ته) د دې دپاره (حاضر کړی شوئ) ترڅو الله ﷻ هغه کار فیصله (انجام) کړي کوم کار چې (د ده ﷻ په نزد) کړی شوی وه. ترڅو هغه څوک مړ شي چې مړ کېږي د واضحه دلیل څخه (وروسته) او هغه څوک ژوند وکړي چې ژوند کوي د واضحه حجت څخه (وروسته).

او یقیناً الله ﷻ ضرور اورېدونکی (او) پوه دی (ستاسو ټول شبهات ورته څرګند دي).

[۴۳] (ای مؤمنانو!) هغه وخت هم (درېه یاد کړئ!) چې الله ﷻ تاته (ای پیغمبره!) ستا په خوب کښې دوی (مشرکان) لږ درولیده کړه او که چېرې الله ﷻ تاته ډېر درښودلي وی (او تا خپل خوب حکایت کړی وی) نو ضرور به تاسو (ای مؤمنانو!) بې زړه (او کمزوري) شوي وی او ضرور به تاسو یو تربله (د جهاد) په کار کښې جګړې کړي وی، مګر الله ﷻ ترې روغ پاتې کړئ (او پکښې اخته نه شوئ). یقیناً الله ﷻ د سینو (زړونو) په حالاتو باندې پوه دی.

[۴۴] او (ای مؤمنانو!) هغه وخت هم (درېه یاد کړئ) چې الله ﷻ تاسو ته دوی (مشرکان) هغه وخت ستاسو په سترګو کښې لږ دروښودل کله چې تاسو د دوی (مشرکانو) سره (د جنګ په میدان کښې) ملاقي شوئ (نو جرئت مو زیات شو).

او الله ﷻ تاسو د دوی په سترګو کښې لږ ښکاره کړئ (البته هغه وخت چې دوی لا د جنګ میدان ته نه وه رسېدلي).

(دا ټول) د دې دپاره چې الله ﷻ هغه کار فیصله (انجام) کړي کوم کار چې (د الله ﷻ په نزد) کړی شوی وه. او خاص الله ﷻ ته ټول کارونه ورګرځول کېږي (د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي).

## ارتباط

په وړاندې ایت کښې د بدر د غازیانو توجه د ﴿ وَمَآ أَنزَلۡنَا ﴾ په کلمې سره په اجمالي توګه څه معجزانه کارونو ته وراړولی شوي وه، په دې ایتونو کښې د دغه اجمال څه تفصیل نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! څرنګه چې الله ﷻ ستاسو د غنیمتي لانجي د پرې کولو دپاره خپله فیصله درنازله کړه نو تاسو ته په کار دي چې په عمل کښې یې پیاده کړئ او د ښه اطمنان دپاره لاندې خوارق او انعامات درېه زړه کړئ او په نظر کښې یې ونیسئ:

۱ـ تاسو خو هغه وخت درېه یاد کړئ چې تاسو مدیني منورې ته په نژدې څنډه کښې موقعیت درلود چې ستاسو اصلي مسکن وه او په اسانۍ سره مو کولی شو چې بېرته ورستانه شئ او په جنګ کښې واقع نه شئ، نو که دا کار مو کړی وی د غنیمت څخه به بې برخې پاتې شوي وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه ـبالمقابل ـ مشرکان د مدینې منورې څخه لرې او خپل ټاټوبي (مکې معظمې) ته نژدې وه، دوی هم په اسانۍ سره کولی شو چې په جنګ کښې لتاړ نه شي او بېرته وتښتي. که بالفرض دا کار هغوی کړی وی نو نه به جنګ واقع شوی وی او نه به تاسو ته غنیمتي مالونه لاس ته درغلي وی.

لنډه دا چې د دواړو ډلو د بېرته ستنېدلو مخې خلاصې وې او یوه ډله د بلې ډلې مانعه نه شوه واقع کېدله چې جنګ ته مجبوره شوې وې، خو د دې سره-سره الله ﷻ یوې ډلې ته هم د بېرته تاوېدلو جرئت ورنه کړ.

۲ـ په دې باندې علاوه، کوم شی چې د دواړو ډلو د حرکت اصلي منشا وه (قافله) هغې هم نجات موندلی وه چې خپله لاره یې بدله کړې وه او د دواړو ډلو څخه په ښکته لاره باندې د خطر د خاې څخه بچه شوې وه.

نو ستاسو د بېرته تاوېدلو سبب موجود وه چې: مونږ خو د قافلې د غنیمت کولو دپاره راوتلي وو نو چې قافله د لاسه ووتله او په مطلب بریالي نه شوو نو باید بېرته ستانه شو.

همدارنګه د مشرکانو د بېرته ګرځېدلو وجه هم متحققه وه چې: زمونږ د قافلې نجات مطلب وه او هغه لاس ته راغی نو اوس دلته ټالېدل او یا جنګ کول څه په کار دی.

خو د دې سره-سره یو ډله هم بېرته ستنه نه شوه، که هره یوه ډله ستنه شوې وی نو (ای مؤمنانو!) تاسو ته به غنیمتي مالونه لاس ته نه وی درغلي.

۳ـ برسېره په دې، ستاسو یوې ډلې هم د بلې سره څه داسې وعده نه وه کړې چې د بدر په موقع به راغونډېږو. او جنګ به کوو. خو الله ﷻ په خپل فضل سره دواړو جانبو ته داسې اسباب برابر کړه چې هره یوه ډله په خپله-خپله خوښه د جنګ میدان ته په خغاسته ورغله او هلته حاضره شوه.

که بالفرض الله ﷻ ستاسو دپاره د کورونو څخه د راوتلو اسباب نه وی برابر کړي او تاسو د وعدې په بنیاد د بدر موقعیت ته حرکت کړی وی نو یوې ډلې به هم هلته پوره حاضري نه وې ورکړې او هم به یوه ډله هم په ټاکلي وخت کښې بې تخلفه نه وې پاتې شوې.

هغوی به څکه په تخلف کښې واقع شوي وي چې ستاسو ښه قوي رعبورباندې پروت وه او تاسو به څکه تخلف کړی وی چې تاسو کمزوري وئ او د جنګ تیاری مو نه درلود، خو الله ﷻ بدون د سابق میعاد څخه تاسو یو تربله سره مخامخ کړئ ترڅو هغه کار انجام ته ورسوي کوم چې د ده ﷻ په نزد کړی شوی او فیصله شوی وه، هغه دا چې تاسو په معجزانه توګه غالب او هغوی مغلوب شي او ټولې دنیا ته د اسلام حقانیت د لمر په څېر څرګند شي.

ترڅو په راتلونکي کښې حق د باطل څخه په ډاګه جدا شي او هرچا ته خبره واضحه شي، بیا نو که څوک مړ کېږي هم په داسې حال کښې به مړ کېږي چې په حجت سره به یې حق او باطل پېژندلی وي، او څوک چې ژوندي پاتې وي په هغه باندې به هم د واضحه حجت د کبله په همدې مورد کښې څه خفا او اشتباه نه وی او نه به د قیامت په ورځ څوک اعتذار وراندې کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً الله ﷻ اورېدونکی دی، هغه ټول اشتباهات اوري چې تر اوسه پورې خلکو د اسلام د حقانیت په مورد کښې ورباندې تلفظ کاوه، او هم پوه دی په هغو ټولو اشتباهاتو باندې عالم دی کوم چې د خلکو په زړونو کښې دي او لا تر اوسه يې په هغو باندې تلفظ نه دی کړی.

۴ـ ای پیغمبره! مؤمنانو مجاهدینو ته هغه وخت هم وریه زړه کړه په کوم وخت کښې چې الله ﷻ تاته په خوب کښې مشرکلن لږ درولیده کړه او تا بیا خپل خوب دوی ته حکایت کړ، نو د دوی روحیه قوي شوه او مورال يې لوړ شو.

او که الله ﷻ تا ته په خوب کښې مشرکان ډېر درښودلي وی او یا يې په همغه عدد باندې درښودلي وي کوم چې د هغوی واقعي عدد وه او تا خپل خوب مؤمنانو ته تېر کړی وی، نو هرومرو به دوی زړونه بایللي وی.

نو ای مؤمنانو غازیانو! په دغه صورت کښې به ضرور ستاسو روحیه کمزورې شوې وی، د بې زړه توب سره به مخامخ شوي وی او بالآخره د جنګ په باره کښې به یو تربله په جګړه او ناندریو اخته شوي وی او مورال به مو په اختلاف سره نور هم پسې کمزوری شوی وی.

مګر الله ﷻ په تاسو باندې فضل وکړ او د جګړو او ناندریو څخه يې په امن کښې او روغ رمټ وساتلې؛ او دا کار څکه کېدونکی وه چې الله ﷻ د زړونو په ټولو حالاتو باندې عالم دی او ستاسو د زړونو ټول کړه وړه ورته معلوم او څرګند دي.

۵ـ ای مؤمنانو! تاسو هغه وخت هم دریه زړه کړئ چې الله ﷻ تاسو ته مشرکان په سترګو کښې لږ درښکاره کړه لکه څنګه يې چې نبي کريم ﷺ ته په خوب کښې لږ ورلیده کړي وه. نو ستاسو جرئت ډېر زیات شو او د جنګ حوصله مو ډیره پیاوړي شوه چې د نبي کريم ﷺ په خوب کښې لیدنه او ستاسو په ویښه باندې لیدنه دواړه سره مطابق شوي. البته دا په هغه وخت کښې چې تاسو د جنګ په میدان کښې د مشرکانو سره مخامخ شوئ.

بالمقابل، الله ﷻ تاسو د مشرکانو په سترګو کښې لږ وښودلئ؛ البته په هغه وخت کښې چې دوی لا د جنګ میدان ته نه وه داخل شوي، ترڅو دوی جنګ ته زړه نا زړه نه شي او بېرته مخ په شا د جنګ د میدان څخه ونه تښتي. نو که دا کار الله ﷻ نه وی کړی نو دوی به بېرته تښتېدلي وی او جنګ به نه وی واقع شوي او بالآخره تاسو به د غنیمتونو څخه محروم پاتې شوي وی.

دا کارونه څکه الله ﷻ وکړه ترڅو هغه څه انجام ته ورسېږي او په عمل کښې پیاده شي کوم چې د الله ﷻ په نزد باندې کړی شوي او فیصله کړې شوې وه، چې هغه د مؤمنانو نصرت او د مشرکانو ماتې وه. څکه چې ټول کارونه د الله ﷻ په اراده باندې څرخېږي او ټول شیان د ده ﷻ په واک او اختیار کښې دي، نو د لږو ډېر ښکاره کول او د ډېرو لږ لیده کول الله ﷻ ته هیڅ مشکلات نه لري.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ خو د مجاهدینو د قناعت دپاره ورانديې ډېر دلایل نازل کړي وه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د هغو په تعقیب باندې یې د توزیع حکم نازل کړ، نو پوښتنه دا ده چې په دې کښې څه حکمت دی چې د توزیع د حکم څخه وروسته یې څه نور دلایل هم نازل کړه، ایا پخواني دلایل د قناعت دپاره کافي نه وه؟

مونږ وایو چې: وړاندې دلایل (چې په [۱۴] ایت باندې یې اختتام موندلی دی) د قناعت ورکولو دپاره وه چې د توزیع حکم ورباندې مرتب شو او ﴿ وَٱعۡلَمُوٓا ﴾ الأية نازل شو. اما دا دلایل چې د توزیع د حکم په تعقیب نازل شوي دي د اطمنان ورکولو دپاره دی او اطمنان (ډاډینه) خو د قناعت څخه جدا شی دی، لکه چې د ابراهیم ﷺ په قیصه کښې د [البقرة: ۶۰]ایت لاندې پوره شرحه شوې ده.

## یادونه

۲ـ مونږ خو د دې جملې ﴿ لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖ ﴾ د معنی حاصل داسې اخستی دی چې: ترڅو ټولو خلکو ته د اسلام حقانیت او د کفر بطلان په دلایلو سره په اثبات ورسېږي، نو د دې څخه وروسته که د چا د مرګ نېټه پوره شي نو هغه به په داسې حال کښې مړ شي چې خبره به ورته واضحه وي، نو که په اسلام باندې وفات شي د الله ﷻ په نزد به یې درجات په نصیب شي او که نه نو د الله ﷻ د غضب سره به مخامخ شي او د اعتذار دروازه به ورباندې بالکل تړلې شوې وي. همدارنګه څوک چې ژوندي پاتې شي او د خپل عمر تکمیل ته ادامه ورکوي نو هغه ته به هم خبره واضحه وي نور نو د هغه خوښه چې کفر اختیاروي او که د اسلام روښنانه لاره د خپل ځان دپاره غوره کوي.

مګر ځینو مفسرینو کرامو د هلاکت څخه کفر اخستی دی او د حیات څخه یې اسلام مراد کړی دی[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي: ترڅو چې څوک کفر غوره کوي چې په واضحه توګه یې غوره کړي چې د قیامت په ورځ یې د اعتذار مخه بنده شي او څوک چې په اسلام باندې مشرف وي او یا مشرف شي چې اسلام یې په زړه کښې ځای ونیسي او په ډاډه زړه ورباندې عمل وکړي.

خو دا تفسیر د هغه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې د بدلیت په توګه دواړه مراد وي.

خو په دغه تفسیر باندې باید د ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ د جملې معنی داسې وکړې شي چې: او یقینًا الله ﷻ هم کفري خبرې او هم اسلامي ویناوې اوري او همدارنګه په کفري عقائدو او هم په اسلامي عقیدې باندې پوه دی.

او دا ځکه لکه څنګه چې کامل اسلام د قول، عمل او بالآخره د تصدیق څخه عبارت دی همدارنګه کفر هم د کفري اقوالو، کفري اعمالو او بالآخره د کفري عقائدو څخه عبارت دی، د هرچا عقیده چې کفري عقیده وي نو ضرور د هغه په اقوالو او اعمالو کښې کفر د ورایه ښکاري، مثلاً د اسلام توهین کوي او بوت ته سجده کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## په خوب کښې لږ ښکاره شوه

۳_ که څه هم مونږ په روایاتو کښې مونده نه کړه چې نبي کریم ﷺ ته به په خوب کښې مشرکان ښکاره شوي وي، خو الله ﷻ ترې په ﴿قَلِيلًا﴾ سره تعبير وکړ.
مګر ظاهره دا ده چې نبي کریم ﷺ ته به د مشرکانو عدد په خوب کښې همغومره ورلیده شوی وي چې صحابه وو کرامو ؓ ته په ويښه باندې ورليده شوی وه، چې عبدالله بن مسعود ؓ حکايت کوي چې: ما يوه سړي ته _چې زما په څنګ کښې يې موقعيت درلود_ وويلې: ايا دوی (مشرکان) به اويا کسان وي؟ هغه جواب راکړ چې: نه، زما په خيال سل کسان به وي. بيا دې نه وروسته مونږ د مشرکانو څخه يو نفر اسير کړ چې د هغه څخه مو پوښتنه وکړه نو هغه جواب راکړ چې: "كُنَّا أَلْفًا"[۱] مونږ يو زر کسان وو.

## سوال جواب

که څوک وايي چې: تاسو د [النساء:۱۶۳] ايت لاندې ليکلي دي چې د پيغمبر ﷺ خوب هم وحې ده چې د واقع څخه پکښې هيڅکله مخالفت نه واقع کېږي، نو د وړاندېنې روايت په مطابق که نبي کريم ﷺ ته د مشرکانو شمېر (چې تقريبًا يو زر کسان وه) سل تنه ورليده شوي وي نو ايا دا د واقعيت څخه مخالفت نه دی؟

مونږ وايو چې:
الف: نبي کريم ﷺ ته په خوب کښې د مشرکانو صرف هغه عدد ښودلی شوی وه کوم چې د الله ﷻ د علم مطابق په کفر باندې مړه کېدونکي وه، او واقعيت همدا وه چې د ذکرو شوو مشرکانو څخه لږ خلک په کفر باندې مړه شوه او اکثريت يې په ايمان باندې مشرف وګرځېده[۲].
مګر دا جواب مونږ ته غير متبادر ښکاري ځکه چې په هغه وخت کښې خو ټولو يوه جبهه تشکيله کړې وه او ټول مشرکان وه.
ب: ځينو مفسرينو کرامو د ذکر شوي سوال د کبله بالکل لرې تاويل ته لاس اچولی دی چې د ﴿فِي مَنَامِكَ﴾ څخه "فِيْ عَيْنِكَ" مطلب دی[۳]، يعني: نبي کريم ﷺ ته په خوب کښې د مشرکانو عدد لږ نه وه ورښودل شوی بلکې په ويښه باندې ورته د دوی عدد لږ ښودلی شوی نه وه ورڅرګند شوی چې اعتراض وارد شي لکه څنګه چې ټولو صحابه کرامو ؓ ته مشرکان د خپل اصلي عدد څخه لږ ښکاره شوي وه.
ج: د نبي کريم ﷺ خوب خو د مشرکانو کيفيت تمثيلاوه چې سبا به د کمزورو (لږو خلکو) غونډې د ماتې سره مخامخ شي، لکه چې همداسې وشوه او هيڅ تخلف پکښې واقع نه شو. اما

[۱] الدر المنثور ج۴ ص۷۴
[۲] نشرالمرجان ص۳۲۶
[۳] تفسير الكشاف ج۲ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صحابه وو کرامو ﷺ د نبي کریم ﷺ خوب په ظاهره باندې تعبیر کړ او د خپل تعبیر په مطابق هم ورته مشرکان لږ ښکاره شوه، نو کله چې د دوی د خپلو سترګو لیدنه د نبي کریم ﷺ د خوب سره مطابقه شوه چې د دواړو د عدد د لږوالي څخه یې نمایندګي کوله نو جرئت یې بالکل اوج ته ورسېده او مورال یې پیاوړی شو.

د: دا هم څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ ته به د مشرکانو عدد ځکه لږ ښودلی شوی وي چې الله ﷻ به د مؤمنانو د عدد سره د پرښتو عدد هم ضمیمه کړی وي. یا په بل عبارت: د مشرکانو تعداد که څه هم د مجاهدینو د تعداد په نسبت زیات وه مګر د پرښتو د عدد په اعتبار سره خو خبره بالعکس وه.

## مجاهدین ورته لږ ښکاره شوه

۴ـ کله چې مشرکان د مجاهدینو څخه په لرې مسافه کښې واقع وه نو الله ﷻ ورته د مجاهدینو عدد ډېر لږ ورولید کړ، حتی ابو جهل وویلې: "إِنَّمَا مُحَمَّدٌ وَأَصْحَابُهُ أَكَلَةُ جُزُورٍ فَلا تَقْتُلُوهُمْ وَارْبُطُوهُمْ بِالْحِبَالِ"[۱] یقینًا محمد (ﷺ) او د ده ملګري د یوې حلالې شوې اوښې خوړونکي دي (یعني د سلو کسانو څخه زیات نه دي) نو مه یې وژنئ بلکې په پړو باندې یې وتړئ.

په عربانو کښې هغه وخت مشهوره وه چې د یوه اوښ غوښه سل (۱۰۰) تنو مېلمنو ته کفایت کوي نو یو اوښ د سلو تنو خوراک دی.

## د هغه ځای کتل ضرور دی

۵ـ د همدې مقام په ارتباط د [آل عمران:۱۳] ایت لاندې د الله ﷻ په فضل ډېر خوندور بحث تېر شوی دی چې د دې ایتونو سره څنګ په څنګ یې کتل ضرور دي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په ذکرو شوو ایتونو کښې ﴿ لِيَقْضِيَ ٱللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولاً ﴾ جمله په عین کلماتو سره دوه کرته نازله شوې ده، ایا دا تکرار نه دی؟

مونږ وایو چې: د قرآن کریم یوه کلمه هم بې حکمته نه ده، خو په کومو ځایونو کښې چې مونږ په حکمت باندې پوه نه شو او بې حکمته تکرار راته ښکاره شي نو هغه زمونږ قصور دی او بس.

په دې مقام کښې هم ذکره شوې جمله په اول ځل د دې دپاره دلیل واقع شوې ده چې الله ﷻ مشرکان او مؤمنان بې د سابق میعاد څخه د بدر په موقع یو تربله سره ملاقي کړه ځکه چې دا کار د ده ﷻ په نزد فیصله شوی او کړی شوی وه، او دوهم ځل د دې دپاره دلیل ګرځولې شوې ده چې الله ﷻ هره یوه ډله د بلې په سترګو کښې د اصلي عدد څخه لږه ولیده کړه او همدا کار د مؤمنانو د نصرت او د مشرکانو د ماتې سبب جوړ شو، ځکه چې دا کار د الله ﷻ په نزد فیصله شوی او کړی شوی وه.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُواْ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ
تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَٱصْبِرُوٓاْ
إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ
أَعْمَٰلَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلْيَوْمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ ۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ
ٱلْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّنكُمْ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّيٓ أَخَافُ
ٱللَّهَ ۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤٨﴾ ﴾

[۴۵] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو د (کافري) ډلې سره (د جنګ دپاره) مخامخ شئ نو کلک (ثابت قدمه) اوسئ او الله ﷻ زښت ډېر یادوئ، شاید چې تاسو کامیابي (فلاح) حاصله کړئ.

[۴۶] او د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ اطاعت کوئ او (په خپلو منځو کښې) یو تربله جګړې مه کوئ چې (په دې صورت کښې) به کمزوري (او بې زړه) شئ او قوت به مو لاړ شي، او (بالآخره) صبر کوئ (ځکه چې) یقیناً الله ﷻ د صبر کوونکو ملګری دی.

[۴۷] او (ای مؤمنانو!) تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ (مه جوړېږئ) چې د خپلو کورونو څخه د ناشکرۍ (د حق د پښو لاندې کولو) او د خلکو د ریاکارۍ دپاره راوتلي وه، او (غوښتل یې چې نور) د الله ﷻ د لارې څخه (یا) منعه کړي (او یا یې ترې بېرته کفر ته واړوي).
او الله ﷻ په هغو شیانو باندې (په علم او قدرت سره) احاطه کوونکی دی چې دوی یې کوي.

[۴۸] او (ای پیغمبره!) هغه وخت (وریاد کړه) چې دوی ته شیطان (ابلیس) خپل عملونه ښائسته کړه (چې ډېر ښه کار مو پیل کړی دی) او (ورته) ویې ویلې چې نن ورځ د ټولو خلکو څخه تاسو ته (په تاسو باندې) هیڅ غلبه کوونکی نشته او یقیناً زه (هم) ستاسو ګاونډي (مدافع او کومکي) یم.
نو کله چې دواړو ډلو (غازیانو او مشرکانو) سره ولیده (او جنګ پیل شو) نو شیطان په خپلو پوندو باندې (په زغرده) بېرته ستون شو (وتښتېد) او ویې ویلې چې بې شکه زه ستاسو څخه (ای مشرکانو!) بېزار یم یقیناً زه هغه څه ګورم (د الله ﷻ د نصرت ملائک) چې تاسو یې نه ګورئ، بې شکه زه د الله ﷻ څخه ډارېږم، او الله ﷻ (خو) د سخت عذاب ورکولو خاوند دی.

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې د بدر په غزا کښې الله ﷻ مؤمنانو ته فتحه ورکړه او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشرکان یې د شکست سره مخامخ کړه. په دې ایتونو کښې د فتحې او شکست اسباب ښودلې شوي دي چې باید د همیشه دپاره په یاد وساتلی شي. نو حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! الله ﷻ تاسو ته د بدر په میدان کښې نصرت درکړ او ستاسو قوي دښمن یې د شکست سره مخامخ کړ، خو تاسو د فتحې اسباب درلوده او د هغوی شکست هم د څه اسبابو په بنیاد ولاړ وه، نو تاسو ته په کار دي چې د قیامت د ورځې پورې د فتحې اسباب حاصل کړئ او د شکست د اسبابو څخه ځانونه په ځنګ وساتئ، تفصیل یې دا دی:

### د فتحې اسباب:

۱ـ ای مؤمنانو! د بدر په میدان کښې د مجاهدینو د فتحې د اسبابو څخه یو دا وه چې دوی ثابت قدمه وه، نو تاسو هم چې کله د دښمن سره مخامخ کیدلئ نو ثابت قدمه اوسئ او د میدان څخه تېښته مه کوئ.

۲ـ هغوی الله ﷻ ډېر یاداوه نو تاسو هم په دغسې خطري وخت کښې الله ﷻ ډېر یادوئ ترڅو مو زړونه ډاډه او مورال مو پورته شي او بالآخره په دښمن باندې بریالي شئ.

۳ـ هغوی د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ اطاعت کاوه نو تاسو هم د الله ﷻ احکام د پښو مه لاندې کوئ او د خپل بولندوی (قومندان) او د جنګ د مشر د امر منته کوئ.

۴ـ هغوی په خپلو منحو کښې جګړې او بې اتفاقي نه کوله، نو تاسو هم د خپلمنځي اختلاف څخه ځانونه بچ وساتئ، که نه نو بې زړه او کمزوري به شئ، مورال به مو ښکته ټیټ شي، قوت او زور به مو د منځه لاړ شي او بالآخره دښمن به درباندې زړور او ستاسو رعب به یې د زړونو څخه بهر شي.

۵ـ هغوی صبر کاوه او مشکلات یې ګالل نو تاسو هم صبر کوئ او د مشکلاتو د ګاللو څخه خپلې اوږې مه خالي کوئ او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ د صبر کوونکو ملګری دی.

### د شکست اسباب:

۱ـ ای مؤمنانو! د بدر د غزا په موقع د مشرکانو د ماتې (برسېره په کفر باندې) څه عوامل درلوده چې یو عامل یې دا وه چې هغوی د خپله کوره د حق د پښو لاندې کولو دپاره وتلي وه، د الله ﷻ د نعمتونو شکریه یې ونه کړه او خپل مالونه یې د اسلام د مخنیوي په لاره کښې مصرف کړه. نو تاسو داسې مه کېږئ او د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ.

۲ـ هغوی ریا کاري کوله چې خلک درباندې آفرین ووایي او شاباسی درکړي، نو تاسو د ریاکارۍ څخه ځانونه وساتئ او صرف د الله ﷻ رضا د خپلو ټولو کارونو محور (چورلیز) جوړه کړئ.

۳ـ هغوی د الله د لارې څخه خلک اړول او د همدې دپاره یې هلې ځلې کولې، نو تاسو د الله ﷻ لارې ته خلک دعوت کړئ او په اخلاص سره په همدې ارتباط زیار وباسئ، لکه څنګه چې الله ﷻ د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


هغوی په ټولو کارونو او ټولو کړو وړو باندې په علم او قدرت سره احاطه کړې ده همدارنګه ستاسو د ټولو اعمالو څخه یې هم علم او قدرت راچاپېر دی.

۴_ هغوی ته شیطان بد اعمال ښایسته کړي وه او په همدې باندې یې ورته امر کاوه او هم یې دوی ته دروغجنې وعدې ورکولې او دوی ورباندې باور کاوه او خبره یې منله. نو تاسو داسې مه کېږئ، مه د شیطان وسوسو ته التفات کوئ، مه یې په دروغجنو وعدو باندې غولېږئ او بالآخره مه بې د بدو اعمالو په ښایسته کولو باندې تېروځئ.

۵_ هغوی ته شیطان دروغجن بشارتونه ورکول چې تاسو نن ورځ په ټولو خلکو باندې زورور یاست او هیڅوک مو مخې ته نه شي ودرېدلی، نو تاسو د شیطان په دروغجنو بشارتونو باندې اعتماد مه کوئ.

ای مؤمنانو! کله چې مشرکان د جنګ میدان ته نه وه رسېدلي او د غازیانو په ټولګي باندې یې سترګې نه وې لګېدلې نو شیطان دوی ته بشارت ورکاوه چې نن ورځ په تاسو باندې هیڅوک غلبه نه شي موندلی او همدا تاسو د غلبې خاوندان یاست، او هم یې په همدغه حال کښې د دوی سره خپل ملاتړ اعلان کړ چې زه په ټول قوت سره ستاسو کومکي یم.

خو کله چې د مشرکانو سترګې په مجاهدینو باندې ونښتې او میدان ته ورسېد او بالآخره دوی د مجاهدینو د حملې لاندې راغله چې د بېرته تېښتېدلو احتمال یې د منځه لاړ، نو په دغه وخت کښې شیطان خپل ورکړ شوی بشارت هېر کړ او د وعدو دروغ یې څرګند شو چې په ډېره عجله سره بېرته وتښتېد او غږ یې وکړ چې: ای مشرکانو! زه ستاسو څخه خپله بېزاري اعلانوم (زه ستاسو ملګری نه یم) زه هغه څه ګورم کوم چې تاسو یې نه ګورئ، تاسو ته شکست هغه دی راروان دی او سات ګړی ته به د الله ﷻ په غضب باندې ککړ شئ او زه خو یقیناً د الله ﷻ څخه ډارېږم چې ستاسو په ملګرتیا سره په ما باندې د پخوانۍ غضب د پاسه بل غضب او لعنت نازل نه کړي او الله ﷻ خو سخت عذاب ورکونکی دی.

## توضیحات

۱_ نبي کریم ﷺ ذکر شوي ایتونه په یوه حدیث کښې ډېر ښه تفسیر کړي دي چې: «أَيُّهَا النَّاسُ لا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ» یعني: ای خلکو! تاسو د دښمن سره د مخامخ کېدلو آرزو (د تکبر او ریاکارۍ د کبله) مه کوئ او د الله ﷻ څخه عافیت وغواړئ خو کله چې ورسره مخامخ شوئ نو بیا صبر وکړئ (او عملاً خپله مېړانه ښکاره کړئ) او پوه شئ چې جنت د تورو د سورو څخه لاندې دی (هغه څوک به ورداخلېږي چې ونه تښتي او جهاد وکړي). بیا نو نبي کریم ﷺ دغه سوالونه وکړه چې: «اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ»[1] ای الله! چې د کتاب نازلوونکی یې او د ورېځو

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


چلوونکي يې او هم (د خندق په غزا کښې) حزبونو ته د ماتې ورکوونکې يې، دوى (كفارو) ته ماتې ورکړې او مونږ ته په دوى باندې نصرت راکړې (او برى مو په نصيب کړې).

## فَشَل څه معنى؟

۲_ د ﴿ فَتَفْشَلُوا ﴾ کلمه د "فَشَل" _لکه "قَتَل"_ څخه اخستله شوې ده. "فَشَل" هغې کمزورۍ ته ويل کېږي چې بې زړه توب ورسره ملګرى وي[١] نو د معنى حاصل داسې کېږي چې: د يو پلوه به کمزوري شئ او دښمن به درباندې جرئت مونده کړي او د بله پلوه به بې زړه شئ او په دښمن باندې به مو د حملې کولو توان ختم شي.

سبحان الله! همدغه حالت نن ورځ[٢] مونږ په افغانستان کښې په سترګو ګورو.

## ريح څه معنى؟

۳_ د "رِيح" معنى خو واضحه ده چې متحركې هوا ته ويل کېږي[٣]، او مونږ ترې په پښتو کښې په "باد" سره تعبير کوو. مګر په دې مقام کښې يې علماوو کرامو په لاندې دوه ډولو باندې تفسير کړى دى:

الف: ځينې وايي چې د ﴿ رِيحُكُمْ ﴾ څخه حقيقي معنى مراده ده[٤]. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې تاسو خپلمنځي اختلاف مه کوئ چې د نصرت باد به درباندې وانه لوزي او نصرت به مو د لاسه لاړ شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: النعمان بن مقرن ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي چې زه د نبي كريم ﷺ سره (غزاګانو ته) حاضر شوى يم نو د ده ﷺ عادت دا وه چې کله به يې د سهار په مهال جنګ ونه کړ نو انتظار به يې کاوه «حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَهُبَّ الرِّيَاحُ وَيَنْزِلَ النَّصْرُ»[٥] ترڅو به چې لمر زوال وکړ او بادونه به چېلان شوه او (د الله ﷻ) نصرت به رانښکته شو.

دوهم: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ»[٦] يعني: ماته (د خندق په غزا کښې) په ښکيني باد سره نصرت راکړى شوى دى او عاديان په پاسني باد سره هلاک کړى شوي دي. دغه باد ته په پښتو کښې "برو باد" وايي.

"دَبُور" د هغه باد نوم دى چې د غرب د پلوه چلېږي او د هغه چا په مخ باندې لګېږي کوم چې په افغانستان کښې کعبې شريفې ته مخامخ ولاړ وي. او په مقابل کښې يې د "صَبَا" باد دى چې د

(١) مفردات الراغب ص٢٩٤
(٢) ١٣٧٤/١٢/٥ هـ ش
(٣) تفسير المراغي ج١٠ ص١٠
(٤) روح المعاني ج١٠ ص١٤
(٥) جامع الترمذي ج١ ص٢٩٠
(٦) صحيح البخاري ج١ ص١٤١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


قبول: په نوم باندې هم يادېږي، دا د هغه باد لقب دی چې بالعکس د شرق د پلوه چلېږي او د هغه ځا په ښا باندې لګېږي کوم چې په افغانستان کښې قبلې ته مخامخ ولاړ وي، او هم د کعبې شریفې په دروازه باندې مخامخ لګېږي.

ب: ځينې نور وايي چې دلته د ريح کلمه د قوت څخه کنايه ده[1] عرب وايي چې: "هَبَّتْ رِيحُ فُلَانٍ إِذَا أَقْبَلَ أَمْرُهُ عَلَى مَا يُرِيدُ"[2] د فلاني باد والوت، کله چې د ده کاروبار په هغه ډول باندې وچلېږي چې د ده زړه يې غواړي (او قوت مونده کړي). نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې اختلاف مه کوئ چې قوت به مو لاړ شي او کارونه به مو ويجاړ شي (په زړه پوري به نه وي).

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي: لکه چې وړاندې تېر شوه چې باد د متحرکې هوا څخه عبارت دی او هوا خو نرم شی دی او د قوت سره يې هيڅ تناسب نشته؟

مونږ وايو چې: په اجسامو کښې د متحرکې هوا څخه باقوته بل هيڅ شی نشته، د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: د ځمکې ډېرې لويې بېړۍ په هوا باندې چلېږي.

دوهم: فضائي توغندي او ډېرې لويې الوتکې په هوا باندې الوزي.

درېم: ډېر لوی انفلاقات او چاودنې صرف په متحرکې هوا باندې تعميرونه ورانوي او ښارونه په بل مخ اړوي، او داسې نور.

ذکر شوی مضمون په لاندې دوه وو احاديثو کښې ډېر ښه واضحه شوی دی:

الف: د يوه حديث مضمون دا دی چې ځمکه د خپل اولنې پيدا ښت په وخت کښې په اضطراري حرکت باندې اخته وه چې د بنيادمانو د سکونت قابله نه وه، خو الله ﷻ ورباندې غرونه نصب کړه چې ځای په ځای يې ودروله.

پرښتو دغه کار ته تعجب وکړ او د الله ﷻ حضور ته يې لاندې پوښتنې وړاندې کړې او جوابونه يې واورېدل:

پرښتې: ای ربه! ايا ستا په مخلوق کښې د غرونو څخه زيات قوي شی شته (چې د ځمکې اضطراري حرکت يې ودراوه)؟

الله ﷻ: هو، اوسپنه ډېره قوي ده (چې غرونه ورباندې سوري کېږي).

پرښتې: ای ربه! أيا د اوسپنې څخه زيات قوي مخلوق هم شته؟

الله ﷻ: هو، د اوسپنې څخه اور ډېر قوي دی (چې اوسپنه ذوب کوي).

پرښتې: ای ربه! ايا د اور څخه هم زيات قوي شی ستا په مخلوقاتو کښې شته؟

---

(۱) تفسير المنار ج۱۰ ص۲۵

(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۲۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ: هو، باد د هر قوي دی (چې د هر درانه اجسام اوچتوي).

پرښتې: ای ربه! ایا د باد څخه هم د هر قوي شی شته؟

الله ﷻ: «نَعَمْ ابْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا مِنْ شِمَالِهِ»[1] یعنې: هو، داسې بنیادم تر ټولو قوي دی کوم چې په خپل ښی لاس سره صدقه ورکړي حال دا چې د چپ لاس څخه یې پټه کړي. یا په بل عبارت: د کامل اخلاص صدقه د باد څخه هم د هره قوي ده چې د الله ﷻ د غضب مخه نیسي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ»[2] یعنې: یقینًا هرومرو (په اخلاص سره) صدقه ورکول (د) رب العزت ﷻ د غضب (اور) مړ کوي او د بد مرګ مخه نیسي (د بې عزتی د مرګ څخه سړی بچ کوي).

## تبصره

۵_ مونږ ته دا بهتره ښکاري چې د "ریح" څخه ما یطلق علیه الریح (هر هغه شی چې د "ریح" اطلاق پرې کېږي) واخستلی شي چې ذکرو شوو دواړو تفسیرونو ته شامل شي، ځکه چې په بې اتفاقه قوم باندې نه د نصرت باد چلېږي او نه یې قوت پاتې کېږي او بالآخره نه یې کارونه په زړه پوری انجام مونده کوي.

## "بَطَرًا" څه معنی؟

۶_ د ﴿ بَطَرًا ﴾ کلمه د هغه چا د صفت نوم دی چې څوک د نعمتونو حق پوره نه کړي او په غیر مناسبو ځایونو کښې تري کار واخلي[3] او یا په بل عبارت: "بَطَر" د ناشکری څخه عبارت دی.

د مشرکانو ناشکري او ریاکاري دا وه چې کله قافله د خطر څخه بچ شوه نو د قافلې مشر قریشي لښکر ته خبر ورکړ چې قافله په خیر سره تېره شوه نو تاسو بېرته ستانه شئ. مګر ابو جهل د نورو په نمایندګئ جواب ورکړ چې: "وَاللهِ لَا نَرْجِعُ حَتَّى نرد بَدْرًا فَنُقِيمَ عَلَيْهِ ثَلَاثًا وَنَنْحَرُ الْجزر..."[4] یعنې په الله ﷻ باندې مې دې سوګند وي چې مونږ به تر هغه بېرته ستانه نه شو ترڅو چې د بدر موقع ته ورشو او هلته درې ورځې دیره شو، اوښان نحر (حلال) کړو، او خلکو ته خوراکونه ورکړو، ډمې ښځې (کڃنی) وګډوو، خپله مېرانه ټولو عربو ته واوروو او هلته شراب وڅښکو. مګر د الله ﷻ فضل وه د کبر (بطر) کاسه یې نسکوره شوه، بدر ته لاړه او هلته یې وژل شوي د همېشه دپاره دېره شوه، اوښان یې غنیمت وګرځیده، خلکو ته یې خاورې هم ورنه کړې، د ډمو ښځو په عوض وریاندې خپلو ښځو ویرونه وکړه، او د شرابو په عوض یې د مرګ جامونه نوش جان کړه او بالآخره په ټول عربستان کښې یې د شکست او ماتې اوازه خوره شوه.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۴
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۱۴۴
(۳) مفردات الراغب ص۴۸
(۴) تفسیر الطبري ج۶ ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شيطان وتښتېدل

۷ـ ځينو مفسرينو کرامو دا ايت شريف ﴿ وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ وَقَالَ ﴾ الآية په وسوسه اچولو باندې حمل کړی دی او د ﴿ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ﴾ جمله يې د وسوسې په ناکامۍ باندې تفسيره کړې ده نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د بدر په موقع شيطان مشرکانو ته دروغجنې وعدې په اذهانو کښې ورواچولې خو په نتيجه کښې د ناکامۍ سره مخامخې شوې[۱]. خو جمهور مفسرين کرام ذکر شوی ايت شريف په متبادره معنی باندې تفسيروي[۲] او حاصل يې داسې اخلي چې:

کله چې قريشي لښکر د مکې معظمې څخه د قافلې د خلاصون په غرض وخوځېدل نو دوی ته دا تشويش پېښ شو چې هسې نه مونږ د قافلې د خلاصون دپاره لاړ شو او په کورونو باندې مو بني کنانه حمله وکړي (نو د غوږ د ګټلو په عوض به سر وبايلو، او د بارانه به تښتو د ناوې لاندې به مو شپه شي)، نو په کار دی چې د قافلې د خلاصون څخه صرف نظر شو او د بني کنانه وو څخه د خپل ناتوبي د بچ ساتلو غم وخورو، دوی زمونږ پاخه دښمنان دي.

په دغه وخت کښې شيطان د نومورې قبيلې د يوه سپين ږيري مشر (سراقه بن مالک) په څېره ورغی او دوی ته يې ډاډ ورکړ چې تاسو بالکل په ډاډه زړه د قافلې د خلاصون هلې ځلې وکړئ او د بني کنانه وو دفاع زه په غاړه اخلم او دا دی زه درسره ملګری يم. نو د قريشي لښکر سره يې خپل خان ضميمه کړ او د جنګ ميدان ته په داسې حالت کښې ورسېد چې د الحارث بن هشام سره يې لاس ترلاسه نيولی وه.

خو کله يې چې قريشي لښکر د جنګ ميدان ته ورداخل کړ او پرښتې يې ولېدې چې د اسمانه راښکته کېدلې نو د خپل ملګري (الحارث بن هشام) څخه يې خپل لاس ټک واهه او مخ ببرته يې منډه واخستله خو ملګري ورباندې غږ وکړ: "إلى أين، أتخذلنا في هذه الحالة"[۳] چرته درومې، ايا مونږ په دغه حالت کښې پرېږدې؟ او زياته يې کړه: "أفرارا من غير قتال"[۴] ايا بې د جنګ څخه وتښتېدې؟

نو الحارث لاس ور واچاوه چې راايسار يې کړي مګر هغه په سينه کښې وواهه او خان يې ترې خلاص کړ او بالآخره د تېښتې په حال کښې يې وويل چې زه هغه څه ګورم چې تاسو يې نه ګورئ او زه د الله ﷻ څخه ډارېږم.

### سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: ايا شيطان د انسان په شکل په نورو غزاګانو کښې هم د کفارو په کومک او د مجاهدينو په ضرر ګډون کولی شي؟

---

(۱) تفسير المراغي ج۱۰ ص۱۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۲۶
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۱۵
(۴) تفسير البغوي ج۲ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: هو، دا کار د الله ﷻ په ارادې پورې تړلی دی خو مجاهدینو ته به هیڅ ضرر ونه شي رسولی، لکه چې د بدر غازیانو ته یې څه ضرر ونه شو رسولی او فقط همدومره یې وکړی شو چې خپل ځان یې خلاص کړ.

په دې باندې علاوه، د بدر غزا د نورو غزاګانو په څېر نه وه، په هغې کښې پرښتو په معجزانه توګه اشتراک کړی وه نو الله ﷻ اراده وکړه چې شیطان هم پکښې اشتراک وکړي ترڅو د یو پلوه د ده دروغیني وعدې خلکو ته ښکاره شي چې په ډېره سخته موقع کښې یې خپلو وعدو ته شا کړه او دوستان یې د اور په لمبو کښې پرېښودل، او د بله پلوه الله ﷻ د ده د اشتراک څخه د اسلام د حقانیت ډېره لویه معجزه جوړه کړه، هغه دا چې:

## د ابلیس څخه معجزه جوړه شوه

۹ـ کله چې د قرشي لښکر متباقي کسان د ماتې څخه وروسته مکې معظمې ته ورسېده نو هلته اوازه خوره شوه چې د ماتې اصلي عامل سراقه بن مالک وه چې د جنګ د میدان څخه وتښتېد او په خلکو کښې یې ماتې ګډه کړه، همدا اوازه سراقه ته ورسېده نو هغه مکې معظمې ته ورغی او هغوی یې مخاطب کړه چې: "وَاللهِ مَا عَلِمْتُ بِشَيْءٍ مِنْ أَمْرِكُمْ حَتَّى بَلَغَتْنِي هَزِيْمَتُكُمْ وَلا رَأَيْتُكُمْ وَلا كُنْتُ مَعَكُمْ."[۱] په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې ستاسو د کار څخه زه په هیڅ شي باندې تر هغه نه یم پوه شوی ترڅو چې ماته ستاسو د ماتې خبر ورسېد، (زما دې سوګند وي چې) نه مې (د دې څخه وړاندې) تاسو لیدلي یاست او نه زه ستاسو سره هلته جنګ ته تللی وم.

نو ټول هک پک شوه مګر هغه کسان چې په اسلام باندې مشرف وګرځېده نو هغوی بیا پوه شوه چې یقینًا شیطان مونږ ته د سراقه په څېره باندې ښکاره شوی وه[۲] لکه څنګه چې الله ﷻ ورته په ذکر شوي ایت شریف کښې اشاره کړې ده.

## ایا شیطان رښتیا ډار شوی وه؟

۱۰ـ ځینې مفسرین کرام وایي[۳] چې : شیطان دا جمله: ﴿ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ ﴾ په دروغو باندې ویلې وه، چې زه د الله ﷻ د ډاره بېرته تښتم، لکه چې عین جمله نوموړی هغه چاته هم وایي کوم چې د ده خبره ومني او کافر شي، الله ﷻ د ده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [الحشر: ۱۶] یعنې: شیطان انسان ته امر کوي چې کافر شه، خو کله چې کافر شي نو بیا ورته وایي چې زه ستا څخه بېزار یم (کار دې خپل دی) زه د رب العالمین څخه ډارېږم، (زه ستا غوندې نه یم چې د رب العالمین څخه نه ډارېږې) الله ﷻ خو د سخت عذاب د ورکولو خاوند دی.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۸ ص۸۶
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۳۳۴
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

مګر ځينې نور مفسرين کرام وايي چې شيطان د بدر په موقع حقيقتاً د الله ﷻ څخه ودار شو چې چرته ماهم د مشرکانو په لښکر کښې د هلاک سره مخامخ نه کړي او عذاب راباندې نازل نه کړي ځکه چې الله ﷻ خو شديد العقاب دی، د همدې کبله يې الله ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه چې: "اللهمّ اسألكَ نظرَتَكَ إيّايَ"(۱) ای الله! زه ستا څخه هغه مهلت غواړم چې تا ماته راکړی دی چې تر قيامته به ژوندی يم.

څه لرې نه ده چې د ابليس ذهن ته ورغلې وي چې د قيامت د ورځې پورې مهلت راکول چرته مشروط نه وي، او هسې نه چې شرط موجود شوی وي او ما هلاک کړي، والله ﷻ اعلم.

﴿إِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَـٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾﴾

[۴۹] (ای پيغمبره!) هغه وخت (ورياد کړه) چې منافقانو او هغو کسانو به ويلې چې د دوی په زړونو کښې مرض (شرک، شبهه، نفاق) وه (داسې چې) دغه (کمزورې ډله) خپل دين تېر ويستلي دي (په لوی لاس ځانونه د بېامار خولې ته وراچوي).

(دوی غولېدلي نه دي بلکې متوکلين دي) او هرڅوک چې په الله ﷻ باندې توکل وکړي نو (همدا يې بس دی ځکه چې) يقيناً الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د جني شيطان ذکر وه چې مشرکانو ته يې جرئت ورکاوه او په دې ايت کښې د انسي شيطانانو ذکر دی چې د بدر د غازيانو پورې به يې پروپاګند کاوه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای پيغمبره! د بدر غازيانو ته هغه وخت هم وريه ياد کړه چې د مدينې منورې منافقانو به د دوی پسې پروپاګند کاوه او د مکې معظمې کمزورو او ضعيف العقيده مسلمانانو (چې اسلام يې لا په زړونو کښې ځای نه وه نيولی) ورسره د خبرې لکۍ تاووله چې مسلمانان په لوی لاس خپل ځانونه وژني د قريشي قوي لښکر سره مقابلې ته چمتو شوه، يا په بل عبارت: دوی د پيلانو سره ډغرې وهي، په دوی باندې بل باعث نشته بې د دې چې خپل دين (اسلام) تېر ويستلي دي، د دوی خيال دی چې د همدغې کمزورۍ او ناتوانۍ په حال کښې به هم الله ﷻ نصرت ورکړي او قوي دښمن به ورته په ګونډو کړي.

۲ـ ای پيغمبره! د غسې نه ده لکه چې منافقان او ملګري يې خيال کوي مؤمنان (غازيان) دين غولولي نه دي بلکې دين تقويه کړي دي او په الله ﷻ باندې يې د دوی اعتماد قوي کړی دی، دوی

---

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوهېږي چې د نصرت ورکوونکی صرف الله ﷻ دی او دوی په همده ﷻ باندې توکل کړی دی.
او هرڅوک چې په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي نو الله ﷻ یې بس دی، بل هیڅا ته یې اړتیا نشته او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی، او هم د حکمت څښتن دی نو په ځینو ځایونو کښې د نصرت تابدل د ناتوانۍ نښه نه ده بلکې د حکمت غوښتنه ده.

## توضیحات

۱_ مونږ د [البقرة:۸،۹] ایتونو لاندې د منافق په باره کښې ښه تفصیلي بیان لیکلی دی _والحمد لله_ بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې محترم لوستونکي د ذکر شوو ایتونو تفسیر یو ځل هلته مطالعه کړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د ﴿وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ د موصول څخه څوک مراد دي؟

مونږ وایو چې: علماء کرام په دې مراد کښې په لاندې ګروپونو باندې ویشلي شوي دي:

الف: ځیني وایي چې دلته د ﴿مَّرَضٌ﴾ د کلمې څخه شرک مطلب دی[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ذکره شوې خبره په غازیانو پسې منافقانو او مشرکانو کړې وه.

ب: ځیني وایي چې د ﴿مَّرَضٌ﴾ کلمه د نفاق څخه عبارت ده[۲] لکه څنګه چې الله ﷻ د منافقانو په حالت کښې فرمایلي دي چې ﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ [البقرة: ۱۰] یعنې: د دوی (منافقانو) په زړونو کښې مرض (نفاق) دی. نو په دې تقدیر ذکر شوی موصول دَ ﴿ٱلْمُنَٰفِقُونَ﴾ دپاره عطف التفسیر واقع کېږي.

ج: ځینو د ﴿مَّرَضٌ﴾ کلمه په شک او شبهې سره تفسیره کړې ده[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د بدر د غازیانو په باره کښې ذکره شوې خبره دوه طائفو کړې وه چې یوه ډله د مدینې منورې منافقان وه او بله ډله هغه ضعیف العقیده ځوانان وه چې په مکه معظمه کښې یې خپلو ځانونو ته د مسلمانانو لقب ورکړی وه او خپلو پلرونو او دوستانو هجرت ته نه پرېښودل چې مدینې منورې ته ورغلي وي او د ایمان کمزوري یې په قوت باندې بدله شوې وي. دوی په مکه معظمه کښې آن د بدر د غزا پورې ایسار وه.

دوی چې کله د جنګ په میدان کښې د غازیانو کمزوري او د قریشي لښکر قوت ته وکتل نو

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۷۵؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۵۰
(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۲۷
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۱۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکر شوې خبره یې د خولو څخه ووتله چې غازیان خپل دین (اسلام) لیونیان کړي دي او په لوی لاس خپل ځانونه د هلاکت په کنده کښې اچوي، ته به وایې چې دوی په ایمان راوړلو باندې پښېمانه وه او مرتد شوي وه.

مونږ ته داسې بریښي چې په ایت شریف کښې ذکره شوې خبره به درېواړو ډلو (مشرکانو، منافقانو، په نامه مسلمانانو) کړې وي او علماوو کرامو به یې یو-یو مثال لیکلی وي او حصر به یې مطلب نه وي، والله ﷻ اعلم.

﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۙ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ
وَذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ۝٥٠ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ
لِّلْعَبِيدِ ۝٥١ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ ۙ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ
بِذُنُوبِهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ۝٥٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً
أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ۙ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝٥٣ كَدَأْبِ ءَالِ
فِرْعَوْنَ ۙ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ فَأَهْلَكْنَٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ
فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ۝٥٤﴾

[۵۰] او (ای پیغمبره!) که تا چرته هغه وخت لیدلی وی چې پرښتې د هغو کسانو ارواګانې اخلي کومو چې کفر اختیار کړی دی (په داسې حال کښې چې) د دوی مخونو او شاګانو ته وهل ورکوي او (ورته وایي چې) د سوزېدلو عذاب (سوزونکی عذاب) وڅکئ (نو ډېر حیرانونکی حالت به دې لیدلی وی).

[۵۱] دا (عذاب) د هغه شي په سبب باندې (وڅکئ) چې ستاسو لاسونو وړاندې کړي دي او (په دې سبب چې) یقیناً الله ﷻ په بندګانو باندې هیڅ تېری کوونکی نه دی.

[۵۲] (د دغو کفارو عادت) د فرعون د ټبر د عادت په شان او د هغو کسانو (د عادت په شان دی) چې د دوی څخه وړاندې (تېر شوي) دي، (هغه دا چې) دوی د الله ﷻ په ایتونو (دلایلو) باندې کافر شوي وه (او انکار یې ترې کړی وه) نو الله ﷻ دوی په خپلو ګناهونو سره ونیوه. یقیناً الله ﷻ قوتناک (زورور) دی (او) د سخت عذاب ورکوونکی دی.

[۵۳] دغه (عذاب) د دې کبله (ورکړی شو) چې یقیناً الله ﷻ تر هغه د داسې نعمت تغیرونکی (بېرته اخستونکی) نه دی چې هغه یې په یو قوم باندې انعام کړی وي ترڅو چې هغوی هغه حالت ته تغیر ورکړي کوم چې (د نعمت ورکولو په وخت کښې) د دوی د ځانونو (او زړونو) پورې (تعلق) لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (هم د دې کبله چې) یقیناً الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی (قولي یا فعلي شکرگزاري یا ناشکري ورته ښه څرگنده ده).

[۵۴] (د دغو کفارو عادت) د فرعون د تېر د عادت په شان او د هغو کسانو (د عادت) په شان دی چې د دوی څخه وړاندې (تېر شوي) دي.

(هغه دا چې) دوی د خپل رب ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړ (او ناشکري یې وکړه) نو دوی مو د خپلو گناهو په سبب باندې هلاک کړه او (هم) د فرعون تبر مو (د ده په شمول) غرق کړه. او (دا څکه چې دوی) ټول (په خپلو ځانونو او په نورو خلکو باندې) ظلم کوونکي وه.

## ارتباط

د وړاندېني ایت مضمون دا وه چې د بدر غازیان خپل دین غولولي نه دي (لکه چې منافقان او نور خیال کوي) بلکې په الله ﷻ باندې یې توکل او اعتماد وربښلی دی، د دې ایتونو مضمون دا دی چې منافقان او نور په عین غولونې کښې واقع دي خو درک یې نه شي کولی، چې لږ څه وخت وروسته به ورباندې پوه شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! کوم عیب چې منافقان او نور کافران یې په مجاهدینو باندې لگوي چې دوی خپل دین لیونیان کړي دي او په لوی لاس خپل ځانونه وژني همدغه عیب په خپله په دوی کښې شته خو افسوس چې دوی ورته یا متوجه نه دي او یا یې ورباندې خپل ځانونه گول اچولي دي. دوی خپل کفري دین په دنیا او آخرت کښې د هلاکت سره مخامخ کړی دی، چې تفصیل یې دا دی:

۱_ د آخرت خسران او هلاکت خو یې ډېر لوی او ډېر سخت دی چې لړه یې د ځنکدن څخه پیل کېږي، نو که تا د منافقانو او نورو کافرانو هغه حالت لیدلی وی چې د ځنکدن په حالت کښې ملائک د دوی ارواگانې په داسې حال کښې قبض کوي چې په مخونو او شاگانو باندې یې وهي او ورته وایي چې دغه سوزوونکی عذاب وڅکئ، دا د هغه عذابونو نمونه ده کوم چې ستاسو دپاره وړاندې تیار کړی شوی دی. نو ډېر حیرانونکی حالت به دې لیدلی وی، داسې حالت چې سمدستي ستا په خیال کښې نه ځایېږي.

او په دې باندې علاوه، په همدغه حالت کښې به د دوی د تخجیل دپاره ورته وایي چې دا عذابونه ستاسو د خپله لاسه دي چې کفر مو اختیار کړی وه او خپل ځانونه مو په لوی لاس د هلاکت کندې ته وراچولي وه، که نه نو الله ﷻ په خپلو بندگانو باندې هیڅ ډول سره تېری او ظلم نه کوي، نو که تاسو کفر نه وی کړی الله ﷻ به د دغو عذابونو سره نه وی مخامخ کړي.

۲_ اما دنیاوي عذابونه یې ستاسو په خیال کښې درتلای شي چې ډېرې نمونې او مثالونه یې په وړاندې زمانو کښې تېر شوي دي، مثلاً:

ای پیغمبره! د دغو کافرانو خوی (خاصیت) د فرعونیانو غوندې دی او د هغو کافرانو خوی ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته دي چې د فرعونیانو څخه وړاندې تېر شوي دي، لکه ثمودیان او عادیان او داسې نور، هغه دا چې د الله ﷻ په ایتونو باندې کافر او ترې منکر شوه نو الله ﷻ د جنایاتو په سبب باندې په عذابونو سره ونیوه خو د نجات هیڅ لاره ورته مونده نه شوه. ځکه چې الله ﷻ په هرچا باندې زورور او هم د سخت عذاب خاوند دی.

الله ﷻ ځکه په دوی باندې خپل عذاب ورنازل کړ چې دوی د الهي عذاب د قانون لاندې واقع شوي وه او د دې لیاقت یې درلود چې خپل د عافیت او مهلت نعمت ترې بېرته واخلي.

د الله ﷻ قانون دا دی چې د هیڅ قوم څخه ورکړې شوی نعمت بېرته نه اخلي او تغیر نه ورکوي ترڅو چې هغوی د خپلو ځانونو حالت ته تغیر ورکړي او د نعمتونو ناشکري وکړي او بالآخره خپل ځانونه داسې حالت ته ورسوي چې د نعمتونو د بقا جوګه نه وي او د نعمتونو د ادامې استعداد د لاسه ورکړي.

برابره خبره ده چې خپل حالت ته قولي تغیر ورکړي چې کفري وېناوې وکړي او یا د فعلي او عملي تغیر درلودونکي جوړ شي چې کفري عملونه وکړي او د اسلام د مخنیوي هلې ځلې وکړي، دا ځکه چې الله ﷻ هم اورېدونکی دی هره وینا اوري او پوه دی په زړونو او اعمالو باندې عالم دی.

۳_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې د دغو کافرانو خوی خاصیت د فرعونیانو او نورو پخوانیو کافرانو ته د الله ﷻ د ایتونو څخه په انکار کښې ورته دي، همدارنګه د دوی خوی خاصیت د هغوی څخه د خپلو حالاتو په تغیر کولو کښې څه کم نه دی، دوی هم د هغوی غوندې د خپل رب ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړ او همدغه تکذیب ته یې تر هغه ادامه ورکړه ترڅو چې خپل حالات یې تغیر کړه او فطري استعداد یې د لاسه ورکړ، نو مونږ ترې خپل د عافیت او مهلت نعمت واخست او هره یوه ډله مو په مناسب عذاب باندې اخته کړه، آن تر دې چې فرعونیان مو په دریاب کښې غرق او پاچاهي مو ورباندې ورچپه کړه. او دا ځکه چې دوی ټول ظالمان وه او د ظالمانو سره همدغسې جزاوې مناسبې دي.

لنډه دا چې که د دې زمانې کافران ذکر شوو عادتونو ته ادامه ورکړي چې د یو پلوه د الله ﷻ د نعمتونو څخه انکار وکړي او د بله پلوه د خپلو ځانونو حالاتو ته تغیر ورکړي چې په کفر باندې ښه کلک شي او د اسلام د مخنیوي هلې ځلې نورې هم ګړندۍ کړي نو څه لرې نه ده چې الله ﷻ هم د دوی څخه خپل د عافیت نعمت واخلي او عذاب ورباندې ورنازل کړي.

## توضیحات

۱_ د "لَوْ" توری چې په مضارع باندې داخل شي نو ماضي ته یې اړوي، لکه څنګه چې د "إِنْ" توری په ماضي باندې داخل شي نو مضارع ترې جوړوي[1] د همدې کبله مونږ د ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ ﴾ د جملې معنی په "او که تا چرته لیدلي وی" سره وکړه.

---

[1] روح المعاني ج۱۰ ص۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ که څه هم ځينو مفسرينو کرامو جائزه ګڼلې ده چې په ﴿ تَرَىٰٓ ﴾ کښې هرهغه څوک مخاطب وي چې د خطاب صلاحيت لري، مګر مونږ ته د شيخ المفسرين (العلامه الطبري عليه الرحمة) توجيه غوره ښکاري(۱) چې ذکر شوی خطاب نبي کريم ﷺ ته متوجه دی ترڅو د تعذيب په عظمت باندې دلالت وکړي، يعنې د کافرانو د ځنکدن عذاب دومره درونډ دی حتی چې د الله ﷻ پيغمبر ﷺ به هم د حيرت سره مخامخ کړي پاتې خو لا نور خلک.

۳_ ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې په دې مقام د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ څخه هغه کافران مراد دي کوم چې د بدر په مقام کښې وژلی شوي او څا ترې ډکه کړی شوې وه، مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې په عموم سره پرېښودلی شي ترڅو ټولو کافرانو ته شامل شي چې يو مثال يې د بدر وژلی شوي مشرکان دي، ځکه چې د ځنکدن وهل او ټکول په ټولو کافرانو باندې ورتلونکي دي.

۴_ مونږ د [آل عمران:۱۲۸] ايت د "ظلام" په کلمه کښې څه تحقيق کړی دی چې د دې مقام په ارتباط سره يې کتل بې ګټې نه دي.

## نه بدلېدونکی قانون

۵_ الله ﷻ په دې جمله ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمۡ ﴾ کښې خپل يوه نه بدلېدونکي عمومي قانون ته اشاره کړې ده چې همدغه قانون د قيامت د ورځې پورې د بندګانو سره د اجراء لاندې دی او په ټولو بندګانو باندې تطبيقېږي، برابره خبره ده چې هغوی مسلمانان وي او يا کفار، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې:

الله ﷻ ته دا مناسبه نه ده او نه د دې کار کوونکی دی چې د يوه قوم څخه ورکړی شوی نعمت بېرته واخلي او تغير ورکړي (که څه هم ډېر ورکوی نعمت وي) ترڅو چې دوی خپل هغه حالت ته تغير ورکړي کوم حالت چې دوی د نعمت د ورکړې په حالت کښې درلود(۲).

د همدغه قانون د اجراء کولو مراعات په پخوانيو قومونو کښې هم شوی دی او په وروستنيو قومونو کښې به هم هيڅکله د مراعات څخه ونه لوېږي.

د ښه وضاحت دپاره د پخوانيو قومونو لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: الله ﷻ فرعون او د ده ټبر ته په کفري حالت کښې دولت او حکومت ورکړی وه او هم يې د امنيت خاوندان ګرځولي وه مګر کله چې الله ﷻ دوی ته موسی ﷺ ورواستاوه او واضحه معجزات يې وروړه نو فرعونيانو خپل کفري حالت ته د شدت او سختۍ په لور تغير ورکړ چې د الله ﷻ په معجزاتو باندې يې د جادو نوم کېښود او موسی ﷺ ته يې د جادوګر لقب ورکړ، نو الله ﷻ ترې خپل نعمت واخست او د قلزم په بحيره کښې يې غرق کړل، که بالفرض هغوی خپل کفري حالت ته

(۱) تفسير الطبري ج۶ ص۲۲
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په اسلامي حالت باندې تغیر ورکړی وي او په اسلام باندې مشرف شوي وی نو الله ﷻ به هرومرو خپل ورکړی شوی نعمت لا وربراخه کړی او د ﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾ [إبراهيم: ۷] قانون به پرې تطبیق کړی وی. یعنې: ای بندګانو! که تاسو د پخوانیو نعمتونو شکریه وکړئ نو هرومرو او خامخا به زه په تاسو باندې خپل نعمتونه درزیات کړم.

ب: عادیانو او ثمودیانو ته هم الله ﷻ په کفري حالتونو کښې پراخه نعمتونه او خوشالۍ ورکړې وې خو هغوی هم د پیغمبرانو علیهم السلام په ورتګ سره خپل کفري حالتونه د قوت په لور تغیر کړه او په روزمره معجزاتو باندې یې کفر غوره کړ نو الله ﷻ هم ورکړی شوي نعمتونه تغیر او ټول یې پوپنا کړه.

ج: قریشو هم په مکه معظمه کښې په شرکي حالت کښې ښه د خوشالۍ ژوند تېراوه او ټولو عربو ورته په درنه سترګه کتل، خو کله چې نبي کریم ﷺ مبعوث شو دوی خپل شرکي حالت مخ په قوت باندې تغیر کړ حتی چې د نبي کریم ﷺ د وژلو نیت یې وکړ، نو الله ﷻ د دوی څخه په اوله مرحله کښې لوی نعمت واخست او رحمة للعالمین پیغمبر ﷺ مدیني منورې ته هجرت وکړ او په دوهمه مرحله کښې یې د توهین سره مخامخ کړه او مکه معظمه یې مسلمانانو ته فتحه کړه.

د: روسانو ته هم الله ﷻ په الحادي حالت کښې ښه پراخه دولت او حکومت ورکړی وه خو دوی خپل الحادي حالت ته مخ په شدت تغیر ورکړ او غوښتل یې چې د افغانستان په خاوره کښې کمونیزم ته وده ورکړي نو الله ﷻ د دوی پراخه دولت درې ورې کړ او ټوټه-ټوټه شوه، والحمد لله.

## په یاد ولرئ!

۶ـ په دې مقام کښې باید محترم لوستونکي لاندې دوه خبرې په یاد ولري:

الف: د [الرعد: ۱۱] ایت لاندې د همدې موضوع په ارتباط ـ ان شاء الله ﷻـ څه تحقیق راروان دی، چې د ښه وضاحت دپاره یې لوستل ډېر ضرور دي.

ب: الله ﷻ د شاکرانو څخه خپل نعمت نه اخلي بلکې په شکر کولو سره لا زیادت هم ورکوي، نو د نعمت د بېرته اخستلو دپاره یې ناشکري شرط کړې ده مګر د نعمت د ورکړې دپاره یې شکر ګزاري نه ده شرط کړې ـ والحمد لله ـ که نه نو د ځمکې په مخ به څوک ژوندی نه وی پاتې شوی [النحل: ۶۱].

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ په ذکرو شوو ایتونو کښې دا کلمات ﴿ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ ﴾ دوه کرته نازل کړي دي نو په تکراري نزول کښې یې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو خو ذکر شوي سوال ته متعدد جوابونه لیکلي دي چې دوهم کرت نزول یې د تاکید یا تفصیل دپاره دی او داسې نور[1].

---

(۱) تفسیر الخازن ج۲ ص۵۹؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۲۵۶؛ التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مؤمن ته چې کوم جواب په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې: ایتونه او معجزات د یو پلوه د وحدانیت او رسالت دلایل دي او د بله پلوه د الله ﷻ نعمتونه دي.

نو په لومړي ایت کښې لومړنی لحاظ په نظر کښې نیولی شوی دی، د همدې کبله د مشابهت د وجهې څخه په ﴿ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ سره تعبیر کړی شوی دی چې د انکار معنی پکښې د ورایه ښکاري. او په دوهم ایت کښې دوهم لحاظ ته کتلی شوي دي، د همدې کبله د مشابهت وجهې ته په ﴿ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ ﴾ سره اشاره شوې ده چې د ناشکرۍ معنی پکښې په ډاګه څرګندېږي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! ته خپله حوصله مه خرابوه تاته هغه څه درېښېږي کوم چې پخوانیو پیغمبرانو ته ورپېښ شوي وه، نو لکه څنګه چې پخوانیو کافرانو نه دلایلو ته غوږ ایښود او نه یې د نعمتونو شکریه کوله نو الله ﷻ وربانديې خپل عذاب ورنازل کړ، همدارنګه ستا د زمانې کافران هم په عین عادت باندې روان دي، که لاس ترې وانخلي نو د سخت عذاب د نزول څخه دې وډار شي.

﴿ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٥﴾ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِى كُلِّ مَرَّةٍ وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾ فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِى ٱلْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَٱنۢبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْ ۚ إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

**[۵۵]** یقینًا په ځمکه باندې د خوځېدونکو (حرکت کوونکو) ډېر بد خوځېدونکي د الله ﷻ په نزد هغه کسان دي چې کفر یې اختیار کړی دی (او په زړونو باندې یې مهر لګېدلی دی) نو دوی ایمان نه راوړي.

**[۵۶]** (دوی) هغه کسان (هم دي) چې تا ورسره (څو خله) معاهده کړې وه بیا دوی په هرځل خپله معاهده ماتوي (نقض کوي) حال دا چې دوی (د عهد ماتونې څخه) پرهېز نه کوي (او د الله ﷻ څخه نه ډارېږي).

**[۵۷]** نو که ته (ای پیغمبره!) دوی په جنګ کښې مونده کړې (او جنګ دې ورسره ونښلي) نو د دوی (د سختې سزا) په سبب هغه کفار ورته (او تار په تار یې کړه) چې د دوی څخه وروسته پاتې دي (او یا وروسته راتلونکي دي) شاید چې دوی (د سختې سزا څخه) عبرت واخلي (او د ډاره د هغوی په مثل عمل ته لاس وانچوي او خپل عهدونه مات نه کړي).

**[۵۸]** او که ته (ای پیغمبره!) د یوه (معاهد) قوم څخه (په معاهده کښې) د خیانت څخه وډار شوې (په دلایلو باندې پوه شوې چې خیانت ته یې نیت دی)، نو دوی ته (خپل عهد) په داسې حال

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې ورواچوه (فسخه کړه) چې (دواړه جانبه پرې) یو برابر (پوه) یاست (یعنې په فسخه باندې یې خبر کړه او خیانت ورسره مه کوه).
یقینًا الله ﷻ خیانت کوونکي نه خوښوي (او هم یې د خیانت کارانو معاهده خوښه نه ده).
[۵۹] او هغه کسان دي چې کفر یې اختیار کړی دی (او خیانت کوي په خپلو خانونو باندې) ګومان نه کوي چې دوی به (د الله ﷻ د ارادې څخه) سبقت وکړي (وبه تښتي او خانونو ته به نجات ورکړي او دا ځکه چې) یقینًا دوی (الله ﷻ) نه شي عاجز کولی (چې د دوی اراده د الله ﷻ د ارادې مخه ونیسي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونوکښې د دې زمانې دکفارو عادتونه د پخوانیو کفارو د عادتونو سره تشبیه کړی شوي وه، چې هغوی په خپلو وختونو کښې د دلایلو څخه انکار وکړ او ناشکرۍ ته یې ادامه ورکړه او دوی په خپله زمانه کښې په همدغه کارونو باندې اخته دي.
په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو او وروستنیو کفارو یوه مشترک عادت ته اشاره شوې ده چې دوی ټول د ځارویو غوندې دي او یوه ډله هم نه په خپلو عهدونو باندې ودرېدلې ده او نه به ودرېږي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! څرنګه چې وړاندېني او وروستني ټول کفار په دې کښې یو برابر دي چې د الله ﷻ د ایتونو او دلایلو څخه انکار کوي او د نعمتونو شکریه یې نه کوي، ته به وایې چې دوی نه عقل لري او نه د سالمو حواسو خاوندان دي، نو دوی ټول د الله ﷻ په نزد د ځارویو غوندې دي او لا په ځارویو کښې ډېر بدتر ځاروي او په ځمکه باندې خوزیدونکي بد ساکښان دي.
دوی تر هغه په ایمان باندې نه شي مشرف کېدلی ترڅو چې خپل همدغه حالت ته تغیر ورکړي او د عقل اوحواسو څخه کار واخلي.
ځکه چې په همدغه حالت کښې دوی هیڅکله په خپل عهد باندې نه ودرېږي او ایمان خو بل شی نه دی مګر د الله ﷻ په وحدانیت او د پیغمبر په رسالت باندې عهد کول دي.
۲ـ ای پیغمبره! د کفارو د جملې څخه هغه کسان هم دي چې تا ورسره څو کرته عهدونه کړي دي بیا دوی په هر ځل باندې خپل عهد مات کړی دی او د عهد ماتول د دوی عادت جوړ شوی دی چې په راتلونکي کښې ترې هم نه لاس اخلي او نه ترې پرهیز کوي، نو ته د دوی سره لاندې چال چلند وکړه:
الف: که عهد یې مات کړ او جنګ یې پیل کړ او یا یې د خپل عهد په خلاف په پیل شوي جنګ کښې ګډون وکړ نو دوی ته داسې سخته جزا ورکړه چې نور کافران هم ترې وډار شي او د عهد ماتولو څخه خانونه وساتي. یا په بل عبارت: دوی د داسې شدید اور لاندې ونیسه چې د دوی راتلونکي کفار هم ورباندې تار په تار شي او په آینده کښې هغوی دغه کار ته زړه ښه نه کړي او عبرت ترې واخلي او بالآخره ستا په مقابل کښې ډلې ټپلې جوړې نه کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هو! كه د معاهدينو څخه كوم قوم عملاً په عهد ماتولو كښې قدم نه وي ايښى مگر نه په قرائنو اوعلاماتو باندې پوه شوې چې دوى د عهد ماتولو نيت لري او په عهد كښې خيانت كوي، نو هغوى ته په علني توگه غوټه شوې معاهده مسترده كړه ترڅو تاسو او هغوى په مساويانه توگه خبر شئ چې معاهده ختمه شوه.

پام كوئ چې د معاهدې د علني ختمولو څخه وړاندې په هيڅ ډول سره خلاف ورزي ونه كړئ، ځكه چې دا خيانت دى او الله ﷻ خيانت كوونكي ـكه څه هم د كفارو سره خيانت وي ـ نه خوښوي نو د خيانت جواب په خيانت سره مه وركوئ.

۳_ اى پيغمبره! كه داسې پېښ شوه چې په معاهدينو باندې تاسو يقين نه درلود چې دوى د عهد ماتولو نيت لري مگر اشتباه مو درلوده، نو په دغه صورت كښې تاسو خپل عهد ساتنې ته ادامه وركړئ او په احتمال باندې يقين د منځه مه وړئ، په الله ﷻ باندې كلك توكل وكړئ او د عهد ختمولو ته اقدام مه كوئ ځكه چې: هرومرو كفار دې دا گومان قدرې هم نه كوي چې دوى به ستاسو څخه سبقت وكړي او د پرمختگ مخه به مو ونيسي او يا د الله ﷻ څخه وتښتي. يقيناً الله ﷻ ستاسو ملگرى دى او كفار نه شي كولى چې الله ﷻ كمزورى او عاجز كړي او وراندې زورور شي.

## توضيحات

۱_ لكه څنگه چې د موسى عليه السلام سره فرعونيان په عهد باندې نه وه ودرېدلي، چې بيان يې د [الأعراف:۱۳۳] لاندې تېر شوى دى ـوالحمد لله_، همدارنگه د نبي كريم ﷺ سره هم د خپل وخت كفارو په خپلو عهدونو باندې څه وفا نه ده كړې، چې په ﴿ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ﴾ الآية- كښې ورته اشاره شوې ده.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ د مديني منورې د اهل الكتابو سره معاهده كړې وه چې يو به د بل په ضد او خلاف باندې كار نه كوو. خو د بدر په غزا كښې بني قريظه وو خپل عهد مات كړ او د مشركانو سره يې د وسلې كومك وكړ مگر بهانه يې دا وه چې زمونږ څخه خپل عهد هير وه مونږ خطا شوو.

بيا نبي كريم ﷺ د دوى سره دوهم ځل ذكره شوې معاهده تجديد كړه او د ذكر شوي جنايت څخه ورتېر شو خو هغوى بيا په خپل لوظ ونه ودرېده او مشر يې (كعب بن اشرف) د مكې معظمې د مشركانو سره په قسم باندې تړون وكړ چې د مسلمانانو په خلاف به گډې هلې ځلې كوو. په نتيجه كښې په مشركانو كښې جرئت پيدا شو او د مختلفو قبائلو څخه يې يو ډېر لوى لښكر جوړ كړ او مدينه منوره يې د محاصرې لاندې ونيوه او مسلمانانو په دفاعي حالت كښې د خندق په كنودلو پيل وكړ[1] چې دغې غزا ته د خندق د غزا نوم ايښودلى شوى دى او د احزابو غزا هم ورته ويل كېږي.

---

(۱) تفسير المراغي ج۱۰ ص۲۰؛ اللباب في علوم الكتاب ج۹ ص۵۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تشرید څه ته وايي؟

٢_ د "شرد" کلمه د تشرید څخه اشتقاقه شوې ده، تشرید رټلو او تار په تار کولو ته وايي[١] نو د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! عهد ماتوونکو ته د جنګ په میدان کښې داسې سخته سزا ورکړه چې وروسته پاتې کافران او یا وروسته راتلونکي کافران ورباندې تار په تار کړي او داسې بې وزلې چې ستا په مقابل کښې (د رعب د کبله) په هیڅ ډول اجتماع او غونډه جوړه نه کړی شي.

## د خوف کلمه د علم معنی هم ورکوي

٣_ مونږ د [البقرة:١٨٢] ایت لاندې لیکلي دي چې خَوف کلمه-کله د علم په معنی باندې هم استعمالېږي، په دې مقام کښې د ﴿ تَخَافَنَّ ﴾ کلمه د هغه خوف څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د علم معنی ورکوي[٢] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! که چرته په دلایلو سره ته پوه شوې چې معاهدین د عهد د ماتولو او خیانت کولو نیت لري نو د خیانت څخه وړاندې د هغوی سره خپل عهد په علني توګه فسخه کړه، مګر غدر او خیانت ورسره مه کوه او دا ځکه چې فسخه جائزه ده مګر خیانت جواز نه لري.

ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ عَهْدًا وَلَا يَشُدَّنَّهُ حَتَّى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ»[٣] یعني: هر څوک چې د ده او د یو قوم ترمنځ عهد وي نو نه دې (همدغه) عهد پرانیزي او نه دې کلکوي (تغیر دې نه ورکوي) ترڅو چې یا یې (ټاکلې شوې) موده تېره شي او یا یې همدوی (همدغه قوم) ته په مساویانه علم باندې بېرته ور واچوي (او فسخه یې کړي).

﴿ وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ
وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي
سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (٦٠) وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ
عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (٦١) وَإِن يُرِيدُوا أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ اللَّهُ
هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ (٦٢) وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي
الْأَرْضِ جَمِيعًا مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٦٣) ﴾

---

(١) تفسیر القاسمي ج٨ ص٨١
(٢) تفسیر ابي السعود ج٤ ص٣١
(٣) جامع الترمذي ج١ ص٢٨٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


[۶۰] او (ای مؤمنانو!) تاسو د دوی (کفارو د مقابلې) دپاره هغه شیان تیار کړئ چې ستاسو وسه کېږي، چې (هغه) د هر ډول قوت څخه او د ساتلو شوو اسونو څخه عبارت دي.
(ترڅو) د الله ﷻ دښمنان او خپل دښمنان پرې وډار کړئ (چې تاسو یې پېژنئ) او (هم پرې) د دوی څخه په غیر نور (دښمنان وډار کړئ) چې تاسو یې نه پېژنئ (او علم پرې نه لرئ) الله ﷻ یې پېژني (علم پرې لري).
او هغه څه چې تاسو د الله ﷻ په لاره کښې مصرف کړئ هر شی چې وي (لږ وي او که ډېر وي) نو پوره (اجرونه) به (یې) تاسو ته درکړی شي حال دا چې په تاسو باندې به تېری ونه کړی شي.
[۶۱] او که چرته دوی (کفار) سولې ته مائل شوه نو ته هم (ای پیغمبره!) سولې ته مائل شه او په الله ﷻ باندې توکل وکړه، یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی (د دوی قولي او عملي چلونه ترې نه شي پټېدلی).
[۶۲] او که چرته دوی (په سولې سره) غواړي چې تا ته دوکه درکړي نو (هیڅ غم مه کوه ځکه چې) یقیناً الله ﷻ ستا بس دی، الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ته یې په خپل نصرت او هم په مؤمنانو سره تائید (قوي) کړی یې.
[۶۳] او هم یې د دوی (مؤمنانو) په زړونو کښې (یو تربله) الفت (مینه) اچولی دی (داسې مینه) که (بالفرض) تا هغه څه ټول مصرف کړي وی چې په ځمکه کښې دي هم د دوی په زړونو کښې به دې الفت (او مینه) نه وی اچولی مگر الله ﷻ (په خپل کامل قدرت سره) د دوی په منځو کښې (بدون د مصرفه) واچوله. یقیناً الله ﷻ د کلکې ارادې خاند (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته په مستقیمه توګه او ټولو مؤمنانو ته د اشارې په توګه توصیه کړې وه چې عهد ماتوونکو کافرانو ته د جنګ په میدان کښې داسې سخته سزا ورکړئ چې متباقي کافران هم ترې عبرت واخلي او ستاسو مقابلې ته زړه ښه نه کړي.
په دې ایتونو کښې توصیه شوې ده چې باید تاسو د همېشه دپاره د ذکرې شوې سزا د ورکولو توان ولرئ چې د حاجت په وخت کښې ترې کار واخلئ.
۲_ هلته د خیانت څخه مؤمنان منعه کړی شوي وه او دلته ورته امر شوی دی چې جهادي سامان تهیه کړئ، دا کار خیانت نه دی.
۳_ بالآخره هلته نبي کریم ﷺ ته د کفارو سره د جنګ حکم ښودلی شوی وه او دلته ورته د سولې حکم بیان شوی دی.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای مؤمنانو! څرنګه چې په کفارو باندې دا اعتماد نشته چې دوی به په خپلو عهدونو باندې ودرېږي او په خیانت سره به د جنګ میدان ته ور ونه دانګي نو په تاسو باندې لازمه ده چې

Scanned by CamScanner

لاندې نکات په نظر کښې ولرئ:

۱ـ د کفارو د حملو د دفاع دپاره او د جهاد د ادامې په غرض هر ډول عصري جنګي وسائل عموماً او جنګي آسونه خصوصاً تهیه کړئ چې د ضرورت په وخت کښې یې په کار واچوئ (که نه نو په جنګ کښې آسونه نه تیارېږي).

۲ـ ای مؤمنانو! یقیناً الله ﷻ خیانت کاران نه خوښوي مګر د احتمالي تعرضاتو د مخنیوي په غرض او د اسلام د مخې څخه د خنډونو د لرې کولو په غرض خپل ځانونه چمتو کول علاوه په دې چې خیانت نه دی لاندې ګټې هم درلودلی شي:

الف: عین د جنګ په وخت کښې جنګي تجهیزات مشکل دي نو باید تاسو د وړاندې څخه جنګي تیاری ولرئ او د جنګ وخت ته یې ټال نه کړئ.

ب: که تاسو په جنګي وسائلو باندې مجهز اوسئ نو د الله ﷻ دښمنان او ستاسو دښمنان به ټول درڅخه په ډار وي، نه به عهد ماتولو ته زړه ښه کړي او نه به پکښې په تاسو باندې د حملې کولو جرئت پیدا شي.

په دې باندې علاوه، د موجوده دښمنانو څخه پرته هغه دښمنان به هم ستاسو څخه په ډار کښې ولوېږي کوم چې تاسو پرې علم نه لرئ او یوازې الله ﷻ ته معلوم دي.

۳ـ څرنګه چې جهادي تجهیزات بې د مالي انفاق څخه په ښه توګه صورت نه شي نیولی. نو تاسو ته په کار دي چې د خپلو مالونو څه برخه په همدې هکله په کار واچوئ.

خو دا په یاد ولرئ چې په دې باره کښې که تاسو هرڅومره وړوکی یا غټ انفاق وکړئ نو پوره اجرونه به یې درکړی شي اوڅه تېری به درباندې ونه کړی شي.

۴ـ ای پیغمبره! که بالفرض محاربو (جنګي) کفارو سولې ته میلان ښکاره کړ او غوښتل یې چې ستا سره روغه وکړي او د معاهدې تړون درسره لاسلیک کړي نو ته هم سولې ته میلان وکړه او وړاندیز یې ومنه، البته په هغه صورت کښې چې دا کار تاته مصلحت ښکاره شي.

هو! که د همدغو سوله کوونکو کفارو په سوله کښې چل او فریب مطلب وي هم د سولې تړون ته اقدام وکړه او په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړه، ځکه چې همدغه الله ﷻ د معاهده کوونکو د ټولو ویناګانو اورېدونکی دی او د زړونو په ټولو کیفیاتو باندې یې پوه دی.

نو په همدې بنیاد که د هغوی په سوله کښې دوکه او غولول مطلب وي نو الله ﷻ ستا دپاره کافي دی چې د دوکې مخه یې ونیسي او د چل ول هلې ځلې به یې بې نتیجې وګرځوي.

۵ـ یا په بل عبارت: الله ﷻ به ستا سره غیبي کومک وکړي، داسې نصرت او کومک به درکړي لکه څنګه یې چې د دې څخه وړاندې په خپل غیبي قوت سره تائید کړی یې او د اسمانه یې درته پرښتې راښکته کړي دي، او د مخلصو مؤمنانو یوه ډله یې ستا په څنګ کښې ودرولې ده چې د دوی د جملې څخه هغه مؤمنانو هم دي د کومو په زړونو کښې چې د ډېرو کلونو را په دېخوا کینه او عداوت موجود وه او یوه ډله د بلې ډلې وینو ته ناسته وه، خو الله ﷻ د دواړو ډلو (اوس او خزرج)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د زړونو څخه کینه او دښمني وویستله بلکې په مینه او محبت باندې یې بدله کړه چې ټولو ستا کومک ته لاس یو کړ او په ټول قوت سره ستا په څنګ کښې ودرېده.

۶ـ ای پیغمبره! د مؤمنانو په زړونو کښې مینه او محبت دومره لوی نعمت او بې ساری جهادي قوت دی که بالفرض تا غوښتلی چې دغه قوت په قیمت باندې راونیسې او د مؤمنانو په زړونو کښې یې توزیع کړې نو دا کار به دې په هغه صورت کښې هم نه وی کړی چې د ځمکې ټوله شتمني دېورباندې مصرفه کړې وی.

یا په بل عبارت: د مؤمنانو په زړونو کښې د مینې او محبت اچول د هیچا د وسې څخه پوره نه وه او هم یې د قیمت وسه او توان دهیچا سره نه وه مګر الله ﷻ مفت د دوی په زړونو کښې واچاوه او ستا د کومک دپاره یې یو موټی کړه.

۷ـ نو ای پیغمبره! په راتلونکي کښې هم الله ﷻ ستا مرستندوی دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی او په هرڅه باندې غالب دی، خو د دې سره ـ سره د حکمت غوښتن هم دی دنیاوي کارونه یې په اسبابو باندې بنا کړي دي ترڅو د امتحان او ازمېښت مطلب فوت نه شي.

## توضیحات

۱ـ د بدر په غزا کښې الله ﷻ مؤمنانو ته په معجزانه توګه فتحه ورکړه نو د همدغې غزا د بیان په ضمن کښې الله ﷻ توصیه وکړه چې د جهادي وسائلو څخه غفلت مه کوئ او د تل دپاره معجزانه فتحې ته مه په تمه کېږئ، ځکه که الله ﷻ تاسو ته په هره مقابله کښې د اعجاز په ډول فتحه درکړي نو معنی به یې دا وي چې کفار به په ایمان راوړلو باندې مجبور کړی شي، حال دا چې دغه کار د یوه پلوه د الله ﷻ د حکمت څخه مخالف دی چې د امتحان او ازمېښت لمن ټولوي او د بله پلوه د زور ایمان د ده ﷻ په نزد باندې منظور نه دی، که نه نو الله ﷻ ته خو د ټولو کافرانو جبري مسلمانول، څه مشکل کار نه دی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ وَأَعِدُّوا ﴾ کښې ټول مؤمنان مخاطب کړی شوه حال دا چې وړاندې او ببرته اوامر ﴿ فَشَرِّدْ ﴾، ﴿ فَانْبِذْ ﴾، ﴿ فَاجْنَحْ ﴾ او داسې نور ټول یوازې نبي کریم ﷺ ته متوجه دي؟

مونږ وایو چې: په کومو اوامرو باندې چې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی په هغو باندې ټول مؤمنان هم په ضمني توګه مخاطب دي خو الله ﷻ د ﴿ وَأَعِدُّوا ﴾ خطاب ټولو مؤمنانو ته د لاندې وجوهو د کبله مستقیمًا متوجه کړ:

الف: ترڅو د جهادې وسائلو زیات اهمیت ته ټول مؤمنان ښه پوره توجه وکړي او په سرسري نظر ورته ونه ګوري.

ب: ترڅو د هغو بهانو مخه بنده شي کومې چې تنبل او لټ مسلمانان یې د خپلو ځانونو د خلاصون

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په فرض نه راشي چې مونږ د جهادي وسائلو په تهيه كولو باندې مكلفيت نه لرو چې پخپله يې اختراع كړو، مونږ ته په كار دي چې د كفارو د اختراعګانو څخه استفاده وكړو او په كار باندې يې واچوو.

لنډه دا چې لكه څنګه چې په اسلامي جامعه باندې د هر ډول وسلې د استعمال زده كړه كفايي فرض ده همدارنګه په دوی باندې د وخت د مروجو وسلو د استعمال زده كړه او د پرمخ تللو وسلو اختراع كول هم كفايي فرض دي چې په ترک باندې يې ټوله اسلامي جامعه ګناهګاره جوړېږي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه حديثونه ولولئ:

اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَيُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ الثَّلَاثَةَ الْجَنَّةَ صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ وَالرَّامِيَ بِهِ وَالْمُمِدَّ بِهِ»[1] يعنې: يقيناً الله ﷻ په يوه غشي باندې درې كسان جنت ته داخلوي: يو جوړونكی چې په جوړولو كښې يې د خير نيت وي او د الله ﷻ څخه ورباندې اجر غواړي، دوهم ويشتونكی چې د كافرانو په طرف باندې يې ګوزاروي او درېم امداد وركوونكي (چې يا يې خام مواد تهيه كوي، يا په فابريكه كښې څه خدمت كوي، يا يې په خريدارۍ كښې څه امداد كوي، يا يې مجاهدينو ته په ورانتقالولو او رسولو كښې برخه واخلي او بالآخره يا يې په هدف باندې په اصابت كښې څه كومک وكړي).

دوهم: «كَانَتْ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَوْسٌ عَرَبِيَّةٌ فَرَأَى رَجُلاً بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ فَقَالَ مَا هَذِهِ أَلْقِهَا وَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ وَأَشْبَاهِهَا وَرِمَاحِ الْقَنَا فَإِنَّهُمَا يَزِيدُ اللهُ لَكُمْ بِهِمَا فِي الدِّينِ وَيُمَكِّنُ لَكُمْ فِي الْبِلَادِ»[2] يعنې: يوه ورځ د نبي كريم ﷺ په لاس كښې داسې لېنده وه چې عربو جوړه كړې وه، او يو سړي يې وليد چې په لاس كښې يې داسې لېنده وه چې فارسيانو جوړه كړې وه (دوی په دغه وخت كښې كفار وه) نو نبي كريم ﷺ ذكر شوی سړی مخاطب كړ چې دغه څه شی دی (چې تا په لاس كښې نيولی دی چې كفارو جوړه كړې ده)؟ دغه لېنده وغورزوه!.

بيا يې د خپل لاس لېندې ته اشاره وكړه او ويې فرمايل چې په تاسو باندې د دغې لېندې او د دې د امثالو (چې تاسو په خپله جوړه كړې وي) استعمالول لازم دي، همدارنګه په تاسو باندې واجبه ده چې "رِمَاحِ الْقَنَا" داسې غشي استعمال كړئ چې د دُرمو په شان مجوف (ګېډه ور) وي[3]. (امكان لري چې دغه ډول غشي به هم خارجي واردات نه وه).

دا ځكه چې په دغو دواړو ډولو (لېندو او غشو) باندې به الله ﷻ ستاسو په دين كښې زيادت راولي (او ډېر خلک به په ايمان باندې مشرف كړي) او په ښارونو كښې به پرې الله ﷻ درته اقتدار په نصيب كړي (چې ډېر ښارونه به درته فتحه كړي).

او كه بالفرض تاسو هغې وسلې ته سترګې په لار ياست كومه چې ستاسو دښمنانو جوړه كړې دې نو نه به ستاسو په دين كښې زيادت تحقق ومومي او نه به ښارونه فتحه كړی شئ.

---

(١) سنن ابن ماجه ص٢٠٢

(٢) سنن ابن ماجه ص٢٠٢

(٣) لسان العرب ج١٥ ص٢٠٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۳_ که بالفرض مسلمانان د جهادي وسائلو په لاس ته راوړلو کښې د کفارو صنعت ته سترګې په لار وي نو هیڅ کله به جهاد مخ په وړاندې لاړ نه شي او دا ځکه چې:

الف: اول خو کفار په مسلمانانو باندې وسله نه خرڅوي چې خپل ځانونه په لوی لاس په خطر کښې واچوي.

ب: او که خرڅه یې کړي نو هغه وسله به پرې خرڅه کړي کومه چې د مود څخه لوېدلې وي او د تازه اختراع شوو وسلو په نسبت فقط د یوې سرې اوسپنې حیثیت ولري او بس.

د همدې کبله د کفارو غټې دولتونه نورو دولتونو ته نن ورځ[1] اجازه نه ورکوي چې د اتوم بم جوړ کړي او د هغوی سره د وسلې په سیالۍ کښې یو برابر شي، په کوم دولت باندې یې چې د اتوم بم د جوړولو اشتباه پیدا شي نو سمدستي په هغه باندې اقتصادي بندیز لګوي ترڅو د ذکرې شوې اختراع څخه توبه ګار شي.

نو د همدې کبله (چې مسلمانان پخپله اختراعګانې نه شي کولی او د کفارو اختراعګانو ته په تمه ناست دي) د څه وخت څخه را په دېخوا ډېر مفتوحه ښارونه د اسلامي قلمرو څخه وتلي دي او خینې د وتلو په حال کښې دي. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## قوة څه معنی؟

۴_ علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ قُوَّةٍ ﴾ دپاره ډېرې معناوې کړې دي[2] خو کومه معنی چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) څخه روایت شوې ده هغه دا ده چې د "قوة" کلمه په دې مقام کښې د وسلې د ټولو انواعو څخه عبارت ده[3]، برابره خبره ده چې تر نن ورځې پورې اختراع شوې وي او یا به وروسته اختراع شي. نو په دې تقدیر د ﴿ قُوَّةٍ ﴾ په کلمه کښې د یوې چړې څخه نیولې آن تر اتوم بم پورې ټول وسائل شامل ګڼل کېږي او مسلمانان د کفایي فرض په توګه مکلفیت لري چې اختراع یې کړي او د جهاد دپاره یې اماده کړي[4].

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: نبي کریم ﷺ یوه ورځې د ﴿ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٍ ﴾ ایت شریف په ممبر باندې قرائت کړ او بیا یې درې کرته وفرمایل: «ألا وَإنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ»[5] یعني: خبردارا او یقینًا (په ایت شریف کښې) د ﴿ قُوَّةٍ ﴾ کلمه د غشو ویشتلو څخه عبارت ده؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا

---

(۱) ۱۳۷۴/۱۲/۱۵ هـ ش
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۶۲؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۵۵
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۲۴
(۴) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۳۲
(۵) سنن ابن ماجه ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ذکر شوې کلمه د غشو څخه په غیر نورو وسلو ته شاملېدلی شي؟
مونږ وایو چې: څرنګه د ایت شریف د نزول په وخت کښې ډېره مهمه وسله غشی وه نو نبي کریم ﷺ د ﴿قُوَّةٍ﴾ د کلمې څخه داسې تعبیر وکړ ته به وایې چې دا کلمه په غشو ویشتلو کښې حصره ده، حال دا چې حصر یې مطلب نه وه، که بالفرض د نبي کریم ﷺ حصر مطلب وی نو د توري په باره کښې به یې نه وی فرمایلي چې: «وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ»[1] یعنې: او پوه شئ چې یقینًا جنت د تورو د سورو لاندې دی. بلکې فرمایلي به یې وی چې جنت د غشو د سوري لاندې دی.
د ذکر شوي تعبیر نظیر د نبي کریم ﷺ دا حدیث دی چې فرمایلې یې دي: «الْحَجُّ عَرَفَاتٌ، الْحَجُّ عَرَفَاتٌ، الْحَجُّ عَرَفَاتٌ»[2] حج د عرفات څخه عبارت دی، حج د عرفات څخه عبارت دی، حج د عرفات څخه عبارت دی. یعنې په حج کښې ډېر مهم رکن په عرفات باندې درېدل دي، هسې نه چې حج نور ارکان نه لري.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: که د ﴿قُوَّةٍ﴾ څخه ټول جهادي وسائل مطلب وی نو د ﴿وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ﴾ جمله به نه وی نازله شوې ځکه چې آسونه هم نور څه نه دي فقط جهادي وسائل دي؟
مونږ وایو چې: په جهادي آسانو باندې ځکه صراحت وکړی شو ترڅو مونږ پوه شو چې دا په نورو جهادي وسائلو باندې بهتري لري.
د دې نظیر دا دی چې الله ﷻ په ﴿نَخْلٌ﴾ او ﴿رُمَّانٌ﴾ باندې صراحت کړی دی سره د دې چې دواړه په ﴿فَٰكِهَةٌ﴾ کښې شامل دي، لکه چې فرمایي: ﴿فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ﴾ [الرحمن:۶۸] یعنې: په دواړو جنتونو کښې میوجات دي او (هم پکښې) کجورې او انار دي.

## په یاد ولرئ

۷ـ په یاد ولرئ چې د ذکر شوي بیان څخه دا نتیجه په لاس راځي چې په جهادي وسائلو کښې لاندې دوه وسائل ډېر اهمیت لري:
الف: هغه وسائل چې په هغو باندې ویشتل کېږي لکه غشي، مرمۍ او بالآخره په نني عصر کښې ډول-ډول بمونه، چې په ذکر شوي حدیث شریف کښې ورته اشاره شوې ده.
ب: جهادي اسونه چې ایت شریف ورته اشاره کوي.

## د جهادي آسونو فضائل

۸ـ د جهادي آسونو په فضائلو کښې زښت ډېر احادیث روایت شوي دي چې ځینو مفسرینو

---
(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کرامو(۱) راغونډ کړي دي مونږ فقط د لاندې یوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»(۲) یعنې: جهادي آسونه چې دي د قیامت د ورځې پورې یې په اوچولو کښې خیر (اجرونه او غنیمتونه) ګنډه کړي شوي دي.

یا په بل عبارت: نور جهادي وسائل د ختمېدلو احتمال لري چې یا یې کار خانې ختمې شي، یا یې چلوونکي او یا خام مواد د منځه لاړ ښي مګر جهادي آسونه د دغه خطر څخه بچ دي.

په نني عصر کښې که څه هم جهادي وسائل په ډېرو شکلونو سره منځته راغلي دي مګر د دې سره-سره آسونو خپل اهمیت د لاسه نه دی ورکړی، چې د افغانستان په جهاد کښې یې (برسېره په اوښانو او قچرو باندې) ښه پوره برخه واخستله.

## په جهادي وسائلو باندې څوک ډارولی کېږي؟

۹_ مفسرین کرامو د دې جملې ﴿ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ﴾ په مصداق کښې ډېر قولونه کړي دي چې تقریبًا پنځو اقوالو ته رسیږي(۳) مګر دا قول راجح ګڼل شوی چې دلته منافقان مطلب دي(۴)، لکه چې همدغه ته ورته عبارت الله ﷻ د منافقانو په هکله په بل ځای کښې نازل کړی دی چې: ﴿ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ﴾ [التوبة:۱۰۱] یعنې: او د مدینې منورې د اوسېدونکو څخه (ځینې خلک) په نفاق باندې عادت شوي دي چې ته یې نه پېژنې، مونږ یې پېژنو.

نو د معنی حاصل به یې دلته داسې راوځېژي چې: ای مؤمنانو! جهادي وسائل تهیه کړئ ترڅو ښکاره دښمنانو څخه په غیر نور پټ دښمنان (منافقان) هم وډار کړئ چې تاسو پرې علم نه لرئ الله ﷻ پرې علم لري (تاسو یې نه پېژنئ خو الله ﷻ یې پېژني).

اما مونږ ته دا بهتره برېښي چې ذکره شوې جمله په عموم سره پرېښودله شي ترڅو د قیامت د ورځې پورې ټولو اسلام دښمنه ټولنو ته شامله شي منافقان وي او که ډاګیزه کافران، سمدستي موجودې وي او که وروسته به موجودېږي.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَٱجْنَحْ لَهَا ﴾ کښې مؤنث ضمیر "سَلْم" ته راجع دی حال دا چې "سَلْم" مذکر دی، ایا دا صحت لري؟

مونږ وایو چې:

---

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۸۹

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۹۹

(۳) زاد المسیر ج۳ ص۲۵۵؛ تفسیر الطبري ج۱۰ ص۳۲

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځرنګه چې د "سَلْم" ضد یعنې "حَرْب" مؤنث سماعي دی او مؤنث ضمیر ورته راجع کېږي نو "سَلْم" هم په خپل ضد باندې حمل کړی شو ترڅو دواړه ضدین په یوه طریقه سره استعمال شي[۱].

ب: ځرنګه چې "سَلْم" د معاهدې څخه عبارت دی چې دوه جانبو پورې تعلق نیسي او په مسالمة سره ترې تعبیر کېږي نو همدغې معنی ته په نظر سره ورته مؤنث ضمیر راجع کړی شو[۲].

## ایا د کفارو سره سوله جواز لري؟

۱۱_ ځرنګه چې د کفارو سره سوله کول د جهاد د توقف څخه پرته بل شی نه دی او جهاد ته توقف ورکول جواز نه لري، مګر د ضرورت او اضطرار په حالت کښې چې مسلمانان کمزوري وي او د مقاومت توان ورسره نه وي نو په همدغه حالت کښې د کفارو سره سوله کول جواز لري ترڅو د یو پلوه د دوی د ضرر مخنیوی وکړی شي او د بله پلوه د جهاد د ضروریاتو د پوره کولو دپاره وخت مونده کړی شي[۳]. په همدې ارتباط _انشاء الله ﷻ_ د [محمد:۳۵] ایت لاندې څه نور وضاحت هم راروان دی.

## د ېره لویه جهادي وسله کومه یوه ده؟

۱۲_ د ﴿ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې په دنیا کښې د ېر لوی نعمت او په جهاد کښې د ېره لویه وسله د مجاهدینو ترمنځ مینه او محبت دی او بس، که بالفرض د ټولې دنیا شته او ثروت په یوه پله کښې او د صحابه وو کرامو ﷺ مینه او محبت په بله پله کښې اچولی شوي وی نو دغه پله به په هغې پلې باندې درنه.شوې وی.

امکان لري چې کفار هر ډول وسله ولري مګر ذکره شوې وسله نه شي درلودلی، د ښه وضاحت دپاره لاندې ایتونه ولولئ:

الف: ﴿ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ [المائدة: ۶۴] یعنې: او مونږ د دوی (اهل الکتابو) تر منځ د قیامت د ورځې پورې دښمني او کینه واچوله.

ب: ﴿ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ﴾ [الحشر:۱۴] یعنې: ته په دوی (کفارو) باندې ګومان کوې چې دوی متفق دي حال دا چې زړونه یې تار په تار دي (یو د بل وینو ته ناست دي).

اما مؤمنان ذکره شوې وسله درلودلی شي خو په دې شرط چې په اسلام باندې منګولې ښخې کړي. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾ [مریم:۹۶] یعنې: یقینًا هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه کوي ژر دی چې مهربان الله ﷻ به دوی ته (یو تر بله) محبت (مینه) وګرځوي (ورکړي).

لنډه دا چې په هره زمانه کښې د مجاهدینو اتفاق او محبت د ېره لویه او عظیم الشانه وسله ده

---

(۱) روح المعاني ج ۱۰ ص۲۷
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۶۹
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۷۰؛ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۷ ص۱۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ نه لرو د خو افسوس چې دغه وسله نن ورځ[1] چې د ټولې دنیا څخه یې قیمت زیات دی، همدې کبله د ډول-ډول مشکلاتو سره مخامخ یاستو. یا مُنزل الکتاب ویا هازِم الأحزاب انزل علینا النعمة العظیمة.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن
مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾ ٱلۡـَٰٔنَ
خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ
مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۶۴] ای پیغمبره! الله ﷻ ستا (هم) بس دی او د هغه کسانو هم (بس دی) چې ستا پېروي کوي چې د مؤمنانو څخه عبارت دی.

[۶۵] ای پیغمبره! مؤمنانو ته په جنګ باندې رغبت ورکړه (تېز یې کړه او ورته ووایه چې) که چرته ستاسو څخه شل تنه صبر کوونکي وي نو دوی به په دوه سوه تنو (دښمنانو) باندې غالب شي (نو مقاومت ورباندې فرض دی).

او که چرته ستاسو څخه سل تنه (صبر کوونکي) وي نو دوی به د هغو کسانو څخه په زرو تنو باندې غلبه مونده کړي چې دوی کفر غوره کړی دی (نو مقاومت دې وکړي) او دا ځکه چې دوی داسې قوم دی چې پخه پوهه نه لري.

[۶۶] اوس الله ﷻ ستاسو څخه (ذکر شوی حکم) تخفیف کړ او الله ﷻ پوه دی چې یقینًا په تاسو کښې کمزورتیا شته، نو که چرته ستاسو څخه سل تنه صبر کوونکي وي نو دوی به په دوه سوو تنو (دښمنانو) باندې غلبه مونده کړي (نو ورسره دې وجنګېږي).

او که ستاسو څخه یو زر تنه (صبر کوونکي) وي نو دوی به د الله ﷻ په امر په دوه زره تنو (کافرانو) باندې غالب شي (نو مقاومت دې وکړي) او الله ﷻ د صبر کوونکو سره دی.

## ارتباطونه

۱ــ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ خاص پیغمبر ﷺ دپاره خاص د مشرکانو د دوکې د مخنیوي ذمواري کړې وه، په دې ایتونو کښې یې پیغمبر ﷺ ته د مؤمنانو په شمول په ټولو امورو کښې ذمواري اعلان کړې ده.

---

(۱) ۱۳۷۴/۱۲/۲۰ هـ ش

۲ـ دلته د جهاد دپاره د مؤمنانو اماده کول بیان شوي وه چې الله ﷻ د دوی په زړونو کښې بې پاري محبت اچولی دی او دلته نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې دوی په کار باندې وآچوي او جهاد کولو ته یې وهڅوي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! لکه څنګه چې الله ﷻ د دې دپاره کافي دی چې ستا څخه د مشرکانو د دوکه کولو مخنیوی وکړي همدارنګه په ټولو امورو کښې الله ﷻ ستا دپاره بلکې د ټولو مؤمنانو دپاره کافي او بس دی، نو لکه څنګه چې ته مکلف یې چې په الله ﷻ باندې توکل وکړي همدارنګه ټول مؤمنان مکلفیت لري چې په الله ﷻ باندې قوي اعتماد وکړي او د خپلو ټولو اړتیاوو پوره کول خاص د همده ﷻ څخه وغواړي.

۲ـ ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ د مؤمنانو په زړونو کښې یو ترپله کلک محبت اچولی دی او په ډېره قوي وسله باندې یې مجهز کړی دی نو دوی په کار واچوه او د جهاد فضایل ورته بیان کړه چې رغبت یې زیات شي او ښه په اخلاص سره د کفارو سره غزا وکړي.

۳ـ نو ای پیغمبره! مؤمنانو ته د الله ﷻ د جانبه هدایت ورکړه چې ای مؤمنانو! که ستاسو څخه شل تنه صبر کوونکي مجاهدین وي نو دوی به په دوه سوه تنه کافران باندې غالب شي او که ستاسو سل تنه وي نو په زرو تنو کافرانو باندې به غلبه مونده کړي.

یا په بل عبارت: په تاسو باندې واجبه ده چې یو تن مو د لسو تنو کافرانو او لس تنه مو د سلو تنو کافرانو او بالآخره سل تنه مو د زرو تنو کافرانو او زر تنه مو د یو لک تنو کفارو په مقابله کښې مقاومت وکړي او ونه تښتي.

ځکه چې یقیناً هغوی زیرکي او قوي پوهه نه لري، صرف دنیا یې په نظر کښې نیولې ده او د هر یوه سره یوازې د خپل ځان غم دی (یو د بل سره مینه محبت نه لري او یو د بل په غم باندې ستاسو غوندې نه غمژن کېږي).

۴ـ ای مؤمنانو! اوس نو چې یو کال تېر شو او الله ﷻ ته لکه څنګه چې په ازل کښې ستاسو کمزوري او ناتواني معلومه وه همدارنګه ورته د همدغه یوه کال په اوږدو کښې هم څرګنده شوه، حتی تاسو هم په خپله کمزورۍ باندې پوه شوئ چې د تخفیف غوښتنه مو وکړه او د سوال لاسونه مو پورته کړه، نو الله ﷻ فضل وکړ او ذکر شوی حکم یې درته تخفیف کړ.

نو که ستاسو څخه سل تنه صبر کوونکي مجاهدین وي نو په دوه سوه تنه کافرانو باندې به غالب شي او که ستاسو څخه یو زر تنه وي نو د الله ﷻ په امر به په دوه زره تنو باندې غلبه مونده کړي. خو په یاد ولرئ چې الله ﷻ خاص د صابرانو ملګری دی.

یا په بل عبارت: په تاسو باندې اوس واجبه شوه چې ستاسو یو تن د دوه تنو کافرانو او لس تنه مو د شل تنو کافرانو او بالآخره سل تنه مو د دوه سوه تنو او زر تنه مو د دوه زره تنو کافرانو په مقابل کښې مقاومت وکړي او ونه تښتي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څه هم ځینو علماوو کرامو د ﴿ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ ﴾ کلام د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ په مبارکه کلمه باندې عطف ګڼلی دی نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای پیغمبره! الله ﷻ او مؤمنان دې بس دي[۱].

مګر بهتره دا ده چې د معنی حاصل یې داسې واخستل شي چې: ای پیغمبره! ستا او ستا د پیروانو (مؤمنانو) یوازې الله ﷻ بس دی چې د دنیا او آخرت کارونه مو درجوړ کړي[۲].

نو ذکره شوې معنی د ایت شریف څخه په لاندې طریقو سره تر لاسه کېږي[۳]:

الف: چې په ﴿ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ ﴾ کښې د "و" توری په معنی د "مَعَ" سره شي. یعني الله ﷻ دې د پیروانو سره-سره بس دی.

ب: چې ذکر شوی د "و" توری د ﴿ حَسْبُكَ ﴾ په کاف باندې عطف شي". یعني الله ﷻ ستا او ستا د پیروانو بس دی.

په دې صورت کښې بې د تاکید څخه په ضمیر متصل باندې عطف واقع شوی دی، که څه هم دا ډول عطف بصریان جائز نه ګڼي مګر د کوفیانو نحویانو په نزد جائز دی[۴].

ج: چې ﴿ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ ﴾ مبتدا شي او د "كَذلِكَ" کلمات ورته خبر مقدر کړی شي. یعني ای پیغمبره! ستا الله ﷻ بس دی او ستا د پیروانو هم همدارنګه الله ﷻ بس دی.

### تحریض څه معنی؟

۲_ د ﴿ حَرِّضِ ﴾ کلمه د تحریض څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د [النساء:۸۴] ایت لاندې بنه پوره تحلیله کړې ده چې معنی یې تېزول، هڅول او رغبت ورکول راووځي، بیا تحلیل ته یې اړتیا نه ګورو خو فقط د ترغیب یو حدیث ورباندې اضافه کوو.

هغه دا چې کله مؤمنان (غازیان) د بدر په مقام کښې د مشرکانو سره مخامخ شوه نو نبي کریم ﷺ ورته خطاب وکړ چې: «قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ»[۵] داسې یوه جنت ته ورپورته شئ چې پلنوالی یې د اسمانونو او ځمکو غوندې دی (اوطول یې یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس).

### لفظًا اخبار او معنًا انشاء

۳_ دغه جمله ﴿ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَـٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ﴾ که څه هم لفظًا اخبار ده مګر معنا انشاء (امر) ده یعني: "فَلْيُقَاتِلُوْا حَتَّى يَغْلِبُوا"[۶].

---

(۱) المحرر الوجیز ج۸ص۱۰۶
(۲) اضواء البیان ج۲ ص۳۷۲
(۳) تفسیر القاسمي ج۸ ص۹۰
(۴) روح المعاني ج۱۰ ص۳۰
(۵) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۹
(۶) روح المعاني ج۱۰ ص۳۱؛ تفسیر الطبري ج۱۰ ص۴۱

Scanned by CamScanner

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي: که چېرته ستاسو څخه شل تنه صبر کوونکي مجاهدین وي نو دوی دې وجنګېږي ترڅو چې په دوه سوه تنه کافرانو باندې غالب شي[1].

او اخباریه جمله خو په قرآن کریم کښې کله-کله د انشائیه جملې معنی ورکوي، لکه چې په [البقرة:۲۲۸] ایت کښې د ﴿ وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ ﴾ جمله د "وَالْمُطَلَّقَاتُ تَرَبَّصْنَ" په معنی سره ده، یعنې طلاقې کړې شوې ښځې دې د بل مېړه نکاح کولو ته درې حیضه انتظار وباسي.

مونږ د لاندې وجوهو د کبله په دې مقام کښې د انشائیه جملې معنی غوره کړه:

الف: وروسته الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ ﴾ یعنې: اوس الله ﷻ ستاسو څخه ذکر شوی ثقیل حکم تخفیف کړ. نو که بالفرض ذکره شوې جمله معنًا هم اخبار وي نو تخفیف به هیڅ معنی نه درلوده، څکه چې اخبارات خو د واقعاتو بیان وي چې د تخفیف او یا د تغیر قابل نه وي، لکه چې څه شرحه یې د [البقرة:۱۰۶] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ب: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو: «شَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ حِينَ فُرِضَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ فَجَاءَ التَّخْفِيفُ»[2] یعنې: دا (حکم) په مسلمانانو باندې سخت شو، چې په دوی باندې فرض کړی شو چې یو تن مجاهد دې د لسو تنو کافرانو څخه نه تېښتي (او مقاومت دې ورسره وکړي) نو تخفیف راغی.

که بالفرض ذکره شوې جمله معنًا انشاء نه وي نو نه به په مسلمانانو باندې درنه تمامه شوې وی او نه به پېکښې څه تخفیف واقع شوی وی.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې صریحًا انشائیه جمله (امر) نازل نه کړی شو چې "فَلْيُقَاتِلُوْا" نو دوی دې وجنګېږي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ذکره شوې جمله معنًا انشائیه جمله ده مګر نظر ظاهري عبارت ته ترې بشارت هم معلومېږي، ته به وایې چې الله ﷻ مونږ ته زېری او وعده راکوي که ستاسو شل تنه په ثبات او استقامت سره وجنګېږي نو په دوه سوو کافرانو باندې به غلبه ومومي.

نو که ذکر شوی مضمون په صریحو عبارتونو "فَلْيُقَاتِلُوْا" باندې نازل شوی وی نو بشارت به فوت شوی وی.

## یادونه

۵_ لکه څنګه چې ذکره شوې اخباریه جمله د انشائیه جملې معنی ورکوي همدارنګه په دې مقام کښې لاندې متباقي درې جملې هم اخباریه جملې دي خو د انشائیه جملو معناوې ورکوي:

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۹۲
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۰؛ سنن ابي داود ج۱ ص۳۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لومړی: ﴿ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا ﴾: "فَلْيُقَاتِلُوا حَتّٰى يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا" يعنې که ستاسو سل کسان وي نو ترهغه دې وجنګیږي ترڅو چې په زرو تنو کافرانو باندې غلبه ومومي.

دوهمه: ﴿ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ﴾: "فَلْيُقَاتِلُوا حَتّٰى يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ" يعنې که ستاسو سل تنه صبر کوونکي مجاهدین وي نو ترهغه دې وجنګېږي ترڅو چې په دوه سوه تنو کافرانو باندې غالب شي.

دریمه: ﴿ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفَيْنِ ﴾: "فَلْيُقَاتِلُوا حَتّٰى يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللهِ" یعنې او که ستاسو یو زر تنه صابران مجاهدین وي نو تر هغه دې وجنګېږي ترڅو چې د الله ﷻ په نصرت په دوه زره تنو کافرانو غلبه موندونکي جوړ شي.

## تخفیف څه معنی؟

۶ـ په ﴿ خَفَّفَ ٱللَّهُ ﴾ کښې د ﴿ خَفَّفَ ﴾ کلمه د تخفیف څخه اشتقاقه شوې ده چې اصلي مصدر (مجرد) يې "خِفَّةٌ" دی، "خِفَّةٌ" د سپکوالي معنی ورکوي چې د اعتباراتو په لحاظ سره په لاندې شیانو کښې استعمالېږي[1]:

الف: د ارزښت په لحاظ سره، لکه چې افغانۍ د دینار په نسبت سره سپکه ده.

ب: د حرکت په لحاظ سره، لکه چې خفيف د هغه آس لقب دی چې په تېزه زغلي، په مقابل کښې بطيء (سست) هغه آس ته ويل کېږي چې تېزه منډه نه شي وهلی.

ج: د وقار په لحاظ سره، هغه سړي ته د خفيف (سپک سړي) لقب ورکول کېږي چې ناسته ولاړه او کړه وړه يې د بې عزتۍ څخه نمايندګي کوي او بالمقابل هغه چا ته دروند سړی وايي چې خپله ژبه او اندامونه په خپل کنترول کښې ساتلی شي او سپورې، ستغې خبرې نه کوي.

د: د وزن په لحاظ سره، لکه چې د تلې يوه پله د بلې څخه سپکه وي.

هـ: د کولو په لحاظ سره، چې کول يې نسبت بل شي ته اسان وي.

په دې مقام کښې همدغه پنځمه معنی مراده ده نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې:

ای مؤمنانو: په تاسو باندې واجبه ده چې ستاسو شل تنه دې د دوه سوه تنو کافرانو په مقابل کښې وجنګېږي، مګر اوس درباندې الله ﷻ ذکر شوی حکم تخفيف کړ او د سختۍ څخه يې د اسانۍ په لور راښکته کړ نو په تاسو باندې واجبه ده چې ستاسو سل تنه دې د دوه سوو تنو کافرانو په مقابل کښې وجنګېږي.

## سوالونه او جوابونه

۷ـ په دې مقام کښې سړي ته لاندې سوالونه ذهن ته ورځي:

الف: که څوک وايي په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ثقيل حکم مثالونه په ورو عددونو

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېنې وښودل یعنې شل په مقابل د دوه وو سوو کېنې او سل په مقابل د یو زر تنو کېنې، مګر د خفیف حکم دپاره یې غټ عددونه په مثالونو کېنې نازل کړي یعنې سل په مقابل د دوه وو سوو کېنې او یو زر د دوه وو زرو په مقابل کېنې.

مونږ وایو: دا د دې کبله چې د ثقیل حکم د نزول په وخت کېنې د مجاهدینو عدد لږ وه نو د دوی د تمثیل دپاره واړه عددونه خوښ کړی شوه او د خفیف حکم د نزول په وخت کېنې د مجاهدینو شمار ډېر وه نو د تمثیل دپاره یې غټ عددونه غوره کړی شوه[۱]، دواړه حکمونه په یو وخت کېنې نه دي نازل شوي لکه چې ـانشاء الله ﷻـ وروسته راځي.

په دې باندې علاوه ځینې علماء کرام وایي چې د ثقیل حکم مثالونه د حال په مطابق رانازل شوي دي ځکه چې په هغه وخت کېنې به د جهادي ګروپونو شمېره غالبًا د شلو تنو څخه نه کمېده او د سلو تنو څخه به نه زیاتېده[۲].

اما څرنګه چې خفیف حکم د قیامت د ورځې پورې په خپل حال باقي دی نو ځکه د لویو عددونو په شکل کېنې وښودل شو ترڅو مونږ ته بشارت راکړي چې د مجاهدینو تعداد مخ په زیاتېدلو دی.

ب: که څوک وایي چې په دې کېنې څه حکمت دی چې الله ﷻ د یوه حکم دپاره دوه دوه مثالونه نازل کړه، حال دا چې موضوع په یوه مثال باندې هم پوره واضحه جوړېدله؟

مونږ وایو: دا د دې دپاره ـوالله ﷻ أعلمـ چې مونږ ته څرګنده کړي چې په نازل شوي حکم باندې عدد څه اثر نه شي غورزولی، په اول حکم کېنې په یوه کس باندې فرض ده چې د لس چندو کافرانو سره مقاومت وکړي او په لسو باندې د سلو تنو او بالآخره په سلو باندې د زرو تنو او په زرو تنو باندې د یو لک مقابله ضرور ده او داسې نور.

همدارنګه په تخفیف شوي حکم کېنې په یوه کس مجاهد باندې د دوه تنو او په یو لکو باندې د دوه وو لکو مقابله حتمي ده او داسې نور.

نو که بالفرض په یو-یو عدد باندې اکتفاء شوې وی نو د چا خیال ته به ورغلي وی چې همدا حکم به په همدغه عدد پورې مختص وي، حال دا چې دا خیال غلط وه.

ج: که څوک وایي چې د جمهورو علماوو په نزد ذکر شوی ثقیل حکم په ذکر شوي خفیف حکم باندې منسوخ شوی دی[۳] او په منسوخ حکم باندې خو عمل کول جواز نه لري نو باید چې هغه مجاهد ګناهګار وګڼل شي کوم چې د دوه وو تنو څخه د اضافه کافرانو په مقابل کېنې مقاومت وکړي، او که په همدغه حال کېنې شهید شي نو باید چې شهید ونه ګڼل شي بلکې په تهلکه کېنې د خپل ځان اچوونکی وبلل شي.

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۳۵۱
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۳۱۶
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۷۱؛ روح المعاني ج۱۰ ص۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه زښت ډېر مثالونه شته چې سلفو صالحینو په ثقیل حکم باندې لا څه چې بلکې په اثقل حکم باندې عمل کړی دی، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: د "موته" په غزا کښې د مؤمنانو (مجاهدینو) تعداد درې زره (۳۰۰۰) تنه وه او د کافرانو شمار دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) تنه وه[۱] او الحمد لله بری د مسلمانانو په نصیب شو.

دوهم: د "یرموک" په غزا کښې د مجاهدینو تعداد څلیرشت زرو (۲۴۰۰۰) تنو ته رسېده حال دا چې د دښمن تعداد د دوه وو لکو (۲۰۰۰۰۰) تنو په شاوخوا کښې وه، عجیبه لا دا ده چې په همدغې غزا کښې مجاهدینو د دښمنانو څخه اویا زره (۷۰۰۰۰) تنه وژلي وه[۲] چې یوازې وژل شوي د غازیانو تقریباً درې چنده جوړېده.

د تاریخ په اوږدو کښې دغسې نور ډېر مثالونه شته دي؛ نو پوښتنه دا ده چې په ذکرو شوو دواړو حکمونو باندې د ناسخ او منسوخ اطلاق صحت لري؟

مونږ وایو چې:

اول: ځینو علماء کرامو د ذکر شوي سوال قوت ته کتلي دي او ویلي یې دي چې په ایت شریف کښې بالکل تشریعي حکم نشته او نسخه په تشریعي حکم کښې صورت نیسي، بلکې ایت شریف د مؤمنانو هغه ثبات او استقامت بیانوي کوم چې الله ﷻ دوی ته ورپېزو کړی دی[۳].

دوهم: ابو مسلم الاصفهاني وایي چې په دې مقام کښې الله ﷻ د نصرت وعده په صبر سره مشروطه کړې ده بلکې دلته فقط صبر فرض ګرځولی شوی دی او په صبر کښې خلک مختلف دي. د پخوانیو صبر قوي وه نو یوه تن د لسو تنو مقابله کولی شوه او د وروستنیو صبر کمزوری دی نو یو تن ایله د دوه وو تنو مقابله کوي[۴]، لنډه دا چې نسخه دلته نشته.

درېم: دا خو یقیني ده چې په ذکره شوې موضوع کښې الله ﷻ اول ثقیل حکم نازل کړې وه او بیا یې په خفیف حکم باندې تغیر ورکړ، نو که بالفرض دغه تغیر موقت وي لکه چې مسافر ته د روژې د نه نیولو اجازه ورکړه شوې وه، نو ثقیل حکم ته به د عزیمت او خفیف حکم ته به د رخصت لقبونه ورکړی شوي وی.

اما کله چې خفیف حکم د مسافر د روژې په شان موقت نه بلکې دائمي دی نو اکثره علماء کرامو ورباندې د ناسخ او منسوخ اطلاق کړی دی او دائمي تخفیف یې د نسخې په نامه یاد کړی دی[۵].

که څه هم په حقیقت کښې دواړه حکمونه ناسخ او منسوخ نه دي بلکې عزیمت او رخصت دی، نو زمونږ په نظر ذکر شوی تغیر چې څوک د نسخې په نامه یادوي او څوک ورته د تخفیف لقب ږدي

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۳۱۶
(۲) تفسیر المنار ج۱۰ ص۷۹
(۳) في ظلال القرآن ج۳ ص۱۵۵۰
(۴) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۹۴
(۵) تفسیر القرطبي ج۸ ص۴۵؛ المحرر الوجیز ج۸ ص۱۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا محض لفظي نزاع ده که یوه ډله بلې ته خپل مطلب شرحه کړي نو یوه به بلې ته تسلیمه شي او نزاع به د منځه لاړه شي.

د: که څوک وایي چې مناسبه ده چې په ذکر شوی تغیر باندې د نسخې اطلاق صحت ونه لري او دا ځکه چې په نسخه کښې د ناسخ حکم تاخیر شرط دی، حال دا چې په دې مقام کښې دواړه حکمونه یو ترېله سره اتصال لري؟

مونږ وایو چې: دا هله چې ناسخ او منسوخ په حقیقي معنی سره وي او دلته خو عزیمت او رخصت ته مجازاً ذکر شوي لقبونه ورکړی شوي دي، لکه چې لږ وړاندې ورته اشاره وشوه.

په دې باندې علاوه، په دې مقام کښې خفیف حکم په نزول کښې د ثقیل حکم څخه ډېر وروسته نازل شوی دی[1] مګر په تلاوت کښې ورسره اتصال لري او بس، او په تلاوت کښې خو ناسخ حکم د منسوخ حکم څخه کله وړاندې هم لوستل کېږي لکه چې د کونډو ښځو د عدت په باره کښې د [البقرة: ۲۴۰] ایت په [البقرة: ۲۳۴] ایت باندې منسوخ شوی دی چې په تلاوت کښې ترې وړاندې دی. چې په همدې تفسیر کښې یې اوږد بحث تېر شوی دی، والحمدلله.

ه: که څوک وایي چې د ﴿ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ﴾ جملې څخه ظاهراً څرګندېږي چې الله ﷻ د انسانانو په ضعف باندې د ایت شریف د نزول په وخت کښې پوه شو، حال دا چې دا معنی خو غلطه ده؟

مونږ وایو چې: د دغسې پوښتنې جواب د [البقرة: ۱۴۳] ایت لاندې تېر شوی دی هیله ده چې هلته وکتل شي، خو په دې مقام کښې ورباندې دومره وراضافه کوو چې الله ﷻ په ټولو اشیاوو باندې کامل ازلي او ابدي علم لري خو د اشیاوو د موجودیت څخه وړاندې د علم معنی دا ده چې شی به په دغه او هغه کیفیت باندې موجود شي، او د موجودیت څخه وروسته پرې په دې معنی عالم دی چې دا شی په دغه او هغه کیفیت باندې موجود دی[2].

یا په بل عبارت: د الله ﷻ په علم کښې تغیر نه واقع کېږي بلکې د علم تعلقات یې تجدد موندلی شي او دا د علم د کمال سره منافات نه لري.

و: که څوک وایي چې په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ ضَعْفًا ﴾ کلمه څه معنی؟

مونږ وایو چې: دلته د ضعف څخه په دین کښې ضعف مطلب نه دی[3] بلکې په هغو شیانو کښې ضعف مراد دی کوم چې په جنګ کښې څه اثر لري، لکه بدني ضعف، د استقامت ضعف، د بصیرت ضعف، د صبر ضعف او بالآخره د توکل علی الله ضعف او داسې نور[4].

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۳۲؛ البحر المحیط ج۵ ص۳۵۰

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱۹۶

(۳) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۳۴

(۴) روح المعاني ج۱۰ ص۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ذکر شوي بحث نتيجه

۸_ د ذکرو شوو ټولو سوالونو او جوابونو نتيجه عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په ډېرو لنډو او واضحو کلماتو کښې بيانه کړې ده چې: «مَن فَرَّ عَنْ ثَلاثةٍ لَمْ يَفِرَّ وَمَنْ فَرَّ عَنِ اثْنَيْنِ فَقَدْ فَرَّ»[۱]، هرڅوک چې د درېوو نفرو کفارو څخه وتښتي نو هغه نه دی تښتېدلی (د وعيد لاندې نه واقع کېږي) او هرڅوک چې د دوه وو نفرو کفارو څخه وتښتي نو يقيناً هغه وتښتېد (او په ګناه کښې واقع شو).

ته به وايې چې الله ﷻ ټول مؤمنان مخاطب کړي دي چې: ای مؤمنانو! تر اوسه پورې الله ﷻ په تاسو باندې د کفارو په مقابل کښې سخت او درووند حکم فرض کړی وه ځکه چې تاسو د نبي کريم ﷺ د انډيوالی د برکته مشکلات ګاللی شوه او صبر او استقامت مو ښه قوي وه.

اما د دې څخه وروسته ستاسو جامعه مخ په پراختيا ده او د نبي کريم ﷺ مبارک عمر مخ په ختمېدلو دی او وحې قطعه کيدونکې ده، نو جنګي کوم صفات چې تاسو لرئ هغه په راتلونکو ټول مؤمنانو کښې ستاسو په اندازه په کامله توګه کمال ته نه شي رسېدلی او ذکر شوی ثقيل حکم د قيامت د ورځې پورې د دوام وړ نه دی نو ځکه الله ﷻ په تاسو باندې خپل لطف او مهرباني وکړه او ثقيل حکم يې په خفيف حکم سره تغير کړ ترڅو د قيامت د ورځې پورې ټول مسلمانان يې د باره ووتلی شي. هغه دا چې ستاسو په يوه کس باندې فرض ده چې د دوه وو تنو په مقابل کښې مقاومت وکړي او خپل ځان په ګناه کښې واقع نه کړي، اما که ستاسو کوم يو يا کومه يوه ډله په عزيمت باندې عمل وکړي او د ثقيل حکم متحمل شي نو هغه ته يا هغوی ته دې اجرونه او ثوابونه او بالآخره شهادت يا شهادتونه مبارک وي.

### يوه مسئله

۹_ که مؤمنان غير مسلح وي او کفار مسلح وي همدارنګه چې مؤمنان د کفارو سره په وسله (سلاح) کښې سيالي ونه کړی شي چې د هغوی سلاح په دوی باندې قوي وي نو څه باک نشته چې مؤمنان وتښتي او خپلو ځانونو ته نجات ورکړي[۲].

﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَّوْلَا كِتَـٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوا۟ مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾ ﴾

---

(۱) اعلاء السنن ج۱۲ ص۶۳
(۲) اعلاء السنن ج۱۲ ص۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو


[۶۷] پیغمبر ته ترهغه مناسبه نه ده چې ده لره بندیان وي (بندیان ولري) ترڅو چې په ځمکه کښې قوت حاصل کړي، (ای مؤمنانو!) تاسو (نبي کریم ﷺ ته د بندیانو په نیولو سره) د دنیا (زرتلونکی) مال غواړئ او الله ﷻ (ستاسو دپاره) د آخرت اراده لري (چې طلب یې کړئ) او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۶۸] که چېرته د الله ﷻ وړاندېنۍ فیصله نه وی (چې په دغې غزا کښې به تاسو ته د اعجاز په توګه کامیابي درکوي) نو تاسو ته به په هغه شي کښې چې تاسو اخستی دی (فدیه أو غنیمت) لوی عذاب دررسېدلی وی.

[۶۹] نو تاسو د هغو (مالونو) څخه چې تاسو (د فدیو په شمول) په غنیمت نیولي دي په داسې حال کښې خورئ چې (تاسو ته) حلال (او) پاکېزه دي. او د الله ﷻ څخه وډار شئ، یقیناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط

وړاندې ایتونه په ﴿ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ باندې ختم شوي وه او پکښې مؤمنانو ته توصیه شوې وه چې په جهاد کښې ښه قوي صبر وکړئ چې باید ستاسو صبر په کافرانو باندې دپاسه وي، په دې ایتونو کښې د هغې بې صبرۍ په هکله لارښوونه شوې ده کومه چې د مؤمنانو (غازیانو) څخه د بندیانو څخه د فدیو د اخستلو په باره کښې واقع شوې وه.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په اړوند ډېر متعدد روایات په کتابونو کښې شته[۱] خو مونږ دلته یوازې دصحیح مسلم د روایت د مهمو ټکو په لیکلو باندې اکتفاء کوو چې:

۱ـ د بدر د غزا په نتیجه کښې اویا نفره مشرکان ووژل شوه او اویا نفره بندیان اسیران کړی شو.

۲ـ نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ سره مشوره وکړه چې د بندیانو سره په څه ډول معامله وکړو؟

۳ـ ابو بکر الصدیق ﷺ مشوره ورکړه چې: ای د الله رسوله! زما مشوره دا ده چې دوی ازاد کړو او د هر یوه څخه فدیه واخلو. په فدیو باندې به جهادي وسائل تهیه کړو او امید شته دی چې د همدغو اسیرانو څخه خیني په ایمان باندې مشرف شي او د غازیانو ټولګی ورباندې قوي شي.

۴ـ عمر الفاروق ﷺ وویلې: ای د الله رسوله! دغه بندیان د کفر امامان دي، د یوه پلوه یې د اسلام د تخریب دپاره ډېرې هلې ځلې کړي دي باید د خپلو کړو وړو جزا وګوري او د بله پلوه د دوی ازادول د کفري قوت روغ پرېښودل دي، زما مشوره دا ده چې دا ټول ووژنو ترڅو د کفر زور ختم کړو او په ټولو کفارو باندې د اسلام رعب کېنوو، چې په راتلونکې کښې یوه ډله هم د اسلامي جامعې د تخریب خیال په خپلو مغزو کښې ونه ګرځوي.

---

[۱] لسباب النزول للواحدي ص ۱۶۰

Scanned by CamScanner

۵_ په نتیجه کښې نبي کریم ﷺ د ابو بکر الصدیق ؓ مشوره ومنله او بلکې د غازیانو د اکثریت همدغه مشوره خوښه شوه، مګر د الله ﷻ خوښه نه شوه نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[1] چې خلاصه یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای مؤمنانو! هیڅ پیغمبر ته مناسبه نه وه او خصوصاً آخر الزمان پیغمبر ته (چې افضل الانبیاء دی) مناسبه نه ده چې هغه دې بندیان ولري او په بندیانو باندې دې فدیه واخلي. حال دا چې تاسو خپل پیغمبر ته د فدیه اخستلو مشوره ورکړه او ستاسو اکثریت په همدې کړنلاره باندې خوښ وه.

۲_ تاسو ته په کار وه چې اسیران مو یا د نیولو څخه مخکښې وژلي وی او یا مو د نیولو څخه وروسته ټولو په یوه خوله د وژلو مشوره ورکړې وی ترڅو ستاسو رعب په ټولو کافرانو باندې ناست وی او په راتلونکي کښې مو هیچا مقابلې ته زړه نه وی ښه کړی.

۳_ سمدستې تاسو مال ته دومره اړتیا نه لرئ لکه څومره چې قوت ته اړ یاست ځکه چې تاسو نن ورځ کمزوري یاست او دښمن مو قوي دی، که تاسو د دښمنانو مشران وژلي وی (چې ستاسو په لاس کښې اسیران وه) نو دښمن به مو کمزوری شوی وی او د دې خبرې احتمالات وه چې ډېر خلک په ایمان باندې مشرف شوي وی.

۴_ ای مؤمنانو! تاسو خو ذکر شوی کار د دنیا د راغونډولو دپاره وکړ او د دنیا ناچیزه متاع مو ترلاسه کړه او همدا کار درته مصلحت ښکاره شو، مګر مصلحت دا نه وه چې تاسو اټکل کړی وه، مصلحت دا وه چې ټول مو وژلي وی او د اسلام پرمختګ او قوت مو په نظر کښې نیولی وی چې الله ﷻ ستاسو څخه همدغه کار غواړي.

۵_ ای مؤمنانو! الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، بې د ذکر شوې پلان څخه یې هم اسلام ته ترقي ورکوله شوه هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی، مګر د دې سره-سره د حکمت څښتن هم دی چې دنیاوي چارې یې په اسبابو باندې روانې کړې دي.

۶_ ای مؤمنانو! که د الله ﷻ د جانبه پخوانی لیکلې شوې او فیصله کړی شوې خبره نه وی نو ضرور به تاسو ته د فدیو په اخستلو کښې لوی عذاب رسیدلی وی.

۷_ ای مؤمنانو! ذکر شوی بیان د دې دپاره نه دی چې په تاسو باندې د فدیو مالونه او یا د فدیو په شمول د غنیمت مالونه حرام کړی شوي دي بلکې صرف د دې دپاره دی چې تاسو په خپله خطائی باندې پوه شئ او په راتلونکي کښې په دغسې موضوعاتو کښې په سر سري نظر تیر نه شئ، ترڅو به په تاسو کښې پیغمبره ﷺ ژوندی وي او وحې به جاري وي او بالآخره موقع په موقع به تاسو ته خطاوي درښايي؟

۸_ نو د فدیو په شمول د غنیمت مالونه چې تاسو نیولي دي تاسو ته حلال دي. هغه ډېر پاکیزه

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مالونه دي چې د جهاد په برکت لاس ته درغلي دي او د صدقاتو غوندې ګناهونه پرې نه دي رژېدلي نو په ډاډه زړه سره يې خورئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ، په آينده کښې دقيق فکر کوئ او د عقلونو څخه کار اخلئ.

يقيناً الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی، د يو پلوه به تقصيرات (نيمګړتياوې) دروښښي او د بله پلوه به د لازياتو نېکيو توفيق درکړي.

## توضيحات

۱_ د ﴿ يُثۡخِنَ ﴾ کلمه د اثخان څخه اخستله شوې ده او په هر شي کښې اثخان د قوت او کلکوالي څخه عبارت دی(۱). نو په دې مقام کښې يې معنی داسې راوځي چې: پيغمبر ته ترهغې اسيران نيول مناسب نه دي ترڅو چې په ځمکه کښې ښه د قوت او د شدت ښښتن جوړ شي او د منطقې اوسېدونکي ترې په ډار کښې شي.

او دا کار هله کېدلی شو چې تاسو مشرکان نه وی اسيران کړي بلکې د اسيرولو په عوض مو وژلي وی. کله چې تاسو د اسيرولو سهوه وکړه او نبي کريم ﷺ مو د اسيرانو خاوند جوړ کړ نو بيا به مو مشوره ورکړې وي چې فديه يې ورباندې نه وی اخستې او ټول يې وژلي وی مګر دا کار هم تاسو ونه کړ او وجه يې دا وه چې تاسو دنيا غوښتله، حال دا چې د دنياوي مالونو د ښښتن کېدلو څخه د قوت ښښتن کېدل بهتر او غوره دي، په مالونو باندې اسلام دومره پرمختګ نه شي کولای لکه څومره چې په قوت سره پرمخ ځي او ترقي کوي.

## يوه پوښتنه او هغې جواب

۲_ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې صحابه کرامو ؓ ته الله ﷻ په عتاب اميزه لهجه باندې خطاب کړی دی چې: ﴿ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا ﴾ تاسو دنياوي متاع غواړئ؛ نو پوښتنه دا ده چې د دغه عتاب څه وجه وه؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د ذکر شوي عتاب لاندې دوه وجهې ښودلې دي(۲):

الف: يوه وجه يې هغه ده کومې ته چې د ايتونو د شان نزول په بيان کښې لږ څه وړاندې اشاره شوې ده چې صحابه وو کرامو ؓ نبي کريم ﷺ ته د اسيرانو څخه د فديو اخستلو مشوره ورکړه حال دا چې دوی ته د هجرت په اول کال باندې امر شوی وه چې: ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ فَإِمَّا مَنَّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً ﴾ [محمد: ۴] يعنې: نو کله چې تاسو د هغو کسانو سره (د جنګ په ميدان کښې) ملاقي شوئ چې کفر يې اختيار کړی دی نو (ووهئ دوی) د ورمېږنو وهل، آن ترهغه وخته پورې چې په دوی کښې مو (وژل) قوي کړه (او ښه ورباندې غالب

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۷۷
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوئ) نو کلک یې کړئ ترل (اسیران یې کړئ) نو بیا (به وړباندې) یا (احسان وکړئ) احسان کول او یا (به ترې فدیه واخلئ) فدیه اخستل.

لنډه دا چې د عتاب وجه دا وه چې صحابه کرامو ﷺ د کافرانو اثخان ونه کړ، شاید چې مجاهدینو به ګومان کړی وي چې د اویا نفرو مشرکانو وژل او د اویا نفرو اسیران کرځول به د اثخان د تکمیل دپاره کفایت کوي، حال دا چې د اثخان دوه صورتونه د دوی څخه فوت شوه. هغه دادي:

اول: یو دا چې د جنګ په میدان کښې یې مشرکان نور هم وژلي وی او په ترلو او اسیرولو باندې نه وی مشغول شوي. یا په بل عبارت: د جنګ په میدان کښې دوی په اسیرولو باندې مشغول شوه او ډېرو مشرکانو په تښتېدلو سره نجات مونده کړ، که نه نو نور به هم وژلی شوي او اسیر کړی شوي وی.

دوهم: بل دا چې دوی نبي کریم ﷺ ته د فدیو اخستلو مشوره ورکړه په کار دا وه چې د اثخان مشوره یې ورکړې وی ترڅو ټول اسیران وژلی شوي وی.

ب: بله د عتاب وجه دا وه چې صحابه کرامو ﷺ ته ترهغه وخته پورې د غنیمت مالونه نه وه حلال کړی شوي خو د دې سره-سره دوی د غنیمت په راغونډولو او رانیولو باندې پیل وکړ او په دې باندې علاوه د اسیرانو فدیې یې هم سره ووېشلې چې د غنیمتې مالونو یوه برخه یې تشکیله کړې وه.

## تبصره

۳_ مونږ ته داسې ښکاري چې د عتاب دوهمه وجه هم په حقیقت کښې اولنۍ وجې ته ورا ورېږي او دا څکه چې د [الأنفال:۴۱] ایت لاندې تېر شو چې د غنیمت تحلیل صحابه وو کرامو ﷺ ته د دې څخه وړاندې صورت نیولی وه نو د غنیمت په رانیولو باندې دوی ته عتاب څکه متوجه شو چې دوی اثخان نه وه کړی، که نه نو د غنیمت رانیول به د عتاب باعث نه وی جوړ شوی.

## کتاب من الله د څه شي څخه عبارت دی؟

۴_ په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ په معنی کښې متعدد تفسیرونه کړي دي[۱] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مګر مونږ ته په زړه پوری تفسیر دا دی چې: که د الله ﷻ د پلوه دا خبره نه وی فیصله شوې چې په بدر کښې به هرومرو غازیانو ته فتحه ورکوم او په معجزانه توګه به دوی په مشرکانو باندې غلبه موندونکي جوړوم، نو ضرور به تاسو ته لوی عذاب دررسېدلی وه څکه چې تاسو د جنګ د قوانینو څخه سرغړونه وکړه چې جنګ لا ختم شوی نه وه او تاسو د اسیرانو په نیولو باندې پیل وکړ.

نو که بالفرض مشرکانو ته الله جرئت ورکړی وی او په داسې حال کښې په تاسو باندې بېرته را تاوو شوي وی چې تاسو د اسیرانو په ترلو او د غنیمتي مالونو په راغونډولو بوخت وئ او د مرګوني

[۱] التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۲۰۲؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۵۹؛ روح المعاني ج۱۰ ص۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برید لاندې یې نیولي وي نو په دې صورت کښې به د ښه قوي شکست سره مخامخ شوي وي او څه شی مو چې په لاس کښې درلودلی (لکه اسیران او غنیمتونه) هغه به مو ټول بایللي وي.

خو د الله ﷺ د فیصلې مطابق مشرکان بېرته راستانه نه شوه او تاسو د عذاب څخه روغ پاتې شوئ، مګر پام کوئ چې په راتلونکي کښې د دې جنګي خطاګانو مرتکب نه شئ.

## د ذکر شوي عذاب یو نظیر

۵ـ څرنګه چې د احد په غزا کښې مجاهدین د اټخان څخه وړاندې او د جنګ د ختم څخه مخکښې (بې وخته) د غنیمت په راغونډولو باندې مشغول شوه او د کنډو مورچه یې خالي پرېښودله نو مات شوي کافران وړباندې بېرته ورتاو شوه چې د یو پلوه راغونډ کړی شوي غنیمتونه د مجاهدینو د لاسه وواته او د بل پلوه اویا نفره شهیدان شوه حتی چې نبي کریم ﷺ هم پکښې روغ پاتې نه شو او مبارک غاښ یې پکښې شهید شو.

د احد په غزا کښې څکه ذکر شوي تعذیب صورت ونیوه چې الله ﷺ د خپله څانه سره نه وه فیصله کړې چې مجاهدینو ته به په معجزانه توګه فتحه ورکوي بلکې دلته یې فیصله دا وه چې د جنګې قوانینو په مطابق فتحه صورت نیسي، نو ترڅو پورې چې د جنګې قوانینو مراعات کیده فتحه هم مخ په وړاندې روانه وه خو کله چې قوانین د پښو لاندې شوه او د اوامرو په خلاف مورچه خالي کړی شوه نو فتحه په ماتې بدله شوه.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: د وړاندې بیاناتو څخه څرګنده شوه چې د بدر په غزا کښې صحابه کرام ﷺ په اجتهاد کښې خطا شوي وه چې په عدم اټخان باندې یې د اټخان ګومان کړی وه نو د عذاب د نزول په خطر باندې مخاطب کړی شوه، حال دا چې په اجتهادي خطا باندې خو د عذاب د نزول خطر نشته، نبي کریم ﷺ فرمایي: «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ»[1] یعني: کله چې یو حکم کوونکی د حکم کولو اراده وکړي نو کوښښ وکړي نو (حق ته) ورسېږي نو ده ته دوه اجره دي، او کله چې د حکم اراده وکړي نو کوښښ وکړي خو بیا خطا شي نو ده ته یو اجر دی.

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د دنیاوي عذاب نزول مطلب دی، لکه چې د احد په غزا کښې د کنډو د مورچې ځینې صحابه کرام ﷺ په اجتهاد کښې خطا او د ماتې د عذاب سره مخامخ شوه، اما په حدیث شریف کښې اخروي اجرونه مراد دي چې د دنیاوي عذاب سره څه منافات نه لري.

## ډېره باریکه اشاره

۷ـ که څه هم د عتاب ټوله مخه صحابه وو کرامو ﷺ ته متوجه ده ـ لکه چې وړاندې شرحه شوه ـ

---

[1] صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر نبي کریم ﷺ ته هم په ډېره باریکه توګه څه نوی عتاب معلومېږي، او دا څکه چې:
الف: په وړاندې او وروسته ایتونو کښې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ او دلته مخاطب نه کړی شو بلکې د نکرې په توګه ترې په "لِنَبِيٍّ" سره تعبیر وکړی شو، لکه څنګه چې په ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ [عبس: ۱] کښې ورته غائب ضمیر راجع کړی شوی دی.
ب: د ایت د مضمون څخه څرګندېږي چې صحابه وو کرامو ؓ اسیران د نبي کریم ﷺ د پاره نیولي دي چې د ټولو مجاهدینو قائد او ــ په اصطلاح ــ قومندان وه. نو داسې ګڼل شوی دی لکه چې پخپله نبي کریم ﷺ نیولي وي.
ج: بهتره دا وه چې نبي کریم ﷺ صحابه کرام ؓ د اسیرانو د نیولو څخه منعه کړي وی او په اثخان باندې یې ورته امر کړی وي[۱] لکه څنګه یې چې د احد په غزا کښې د کنډو د مورچې مجاهدینو ته امر وکړ چې په هیڅ صورت کښې به تاسو د مورچې څخه نه راښکته کېږئ[۲] مګر د بدر په غزا کښې یې د خلاف الاولی (نه بهتر) په توګه هغوی ته په اثخان باندې امر ونه کړ البته کله چې په نتیجه کښې هغوی څینې مشرکان د بندیانو په ډول د نبي کریم ﷺ حضورته وروستل.
د همدې کبله کله چې ذکر شوي ایتونه نازل شوه نو نبي کریم ﷺ او ابو بکر الصدیق ؓ وژړل او تواضعًا یې وویلې: «لَقَدْ عُرِضَ عَلَيَّ عَذَابُكُمْ أَدْنَى مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ»[۳] یعنې: یقینًا ماته ستاسو عذاب د دغې ونې څخه نژدې را وړاندې کړی شو (یوې نژدې ونې ته یې اشاره وکړه).

## د فدیې اندازه

۸ــ د بدر د اسیرانو سره د فدیو د اخستلو په هکله د هغوی اقتصاد په نظر کښې نیولی شوی وه نو ډېره لویه فدیه څلور زره درهمو ته رسېده او د ټولو څخه وړه فدیه یو زر درهمه وه، او د چا چې بالکل د فدیه ورکولو توان نه وه نو هغه بې د فدیې څخه خوشې کړی شو[۴].

## د جنګي بندیانو سره باید څه وکړی شي

۹ــ که څه هم په دې باره کښې (چې باید د جنګي بندیانو سره اسلامي حکومت څه وکړي) د فقهي کتابونو[۵] بنه اوږده بحثونه کړي دي او د مجتهدینو مذاهب یې په استدلالي توګه پکښې شرحه کړي دي نو که څوک د اوږد بحث د لوستلو حوصله لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ به دې مقام کښې صرف په لاندې څو مسائلو باندې اکتفاء کوو[۶]:

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۴۶؛ المحرر الوجیز ج۸ ص۱۱۱
(۲) تفسیر البغوي ج۱ ص۳۵۷
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۴
(۴) سیرت ابن هشام ج۲ ص۳۰۶
(۵) الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۴۶۹؛ اعلاء السنن ج۱۲ ص۹۵؛ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۷ ص۱۱۸
(۶) تفسیر المظهري ج۴ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د اسلامي حکومت مشر ته په اجماع سره جائزه ده چې جنګي بنديان ووژني لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ بني قريظه وژلي وه.

ب: دا هم اجماعي خبره ده چې غلامان يې وګرځوي.

ج: مګر په لاندې احکامو کښې اختلاف دی:

اول: احناف عليهم الرحمة وايي چې بې عوضه (مفت) خوشې کول يې جواز نه لري چې بېرته دارالحرب ته لاړ شي.

دوهم: د دوی غير مشهور اجتهاد دا دی چې په فديه اخستلو سره خوشې کول يې جائز دي.

دريم: د دوی ظاهر الرواية دا دی چې په مسلمانانو بنديانو باندې يې تبادله کول هم جائز دي.

څلورم: احناف عليهم الرحمة د اسلامي حکومت مشر ته دا حق هم ورکوي چې جنګي بنديان اهل الذمه وګرځوي او جزيه ورباندې وتړي، لکه څنګه چې عمر الفاروق ﷺ اهل العراق او اهل الشام اهل الذمه ګرځولي وه.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٧٠ وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝٧١﴾

[۷۰] ای پيغمبره! هغو کسانو ته ووايه کوم چې ستاسو په لاسونو کښې (بنديان) دي چې د اسيرانو څخه عبارت دي (داسې چې:) که چرته الله ﷻ ستاسو په زړونو کښې په خير (ايمان) باندې پوه شي (که تاسو رښتيا ايمان لرئ) نو تاسو ته به د هغو مالونو څخه بهتر مال درکړي چې ستاسو څخه په (فديو کښې) اخستلی شوي دی، او (په دې باندې علاوه) مغفرت به هم درته وکړي او (دا څکه چې) الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[۷۱] او (ای پيغمبره!) که چرته دوی (اسيران) ستا سره د خيانت اراده لري (او په دروغو وعدې کوي او په دروغو د ايمان دعوې کوي) نو يقينًا دوی خو د الله ﷻ سره پخوا هم خيانت کړی وه (د شرک مرتکب شوي وه) نو (څه ګټه يې ورته ورسوله؟ بلکې) الله ﷻ (تا ته) په دوی باندې قدرت درکړ (چې ستاسو سره بنديان پراته دي نو دوهم ځل به هم الله ﷻ تاسو ته په دوی باندې قدرت درکړي) او (دا څکه چې) الله ﷻ پوه دی (د دوی زړونه ورته معلوم دي او هم) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط او شان نزول

په دې ايتونو کښې د بنديانو موضوع تعقيب شوې ده او د هغې خبرې جواب پکښې نازل شوی دی کومه چې عباس ﷺ او د ده ملګرو کوله، هغه دا چې: «نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللهِ لَنَنْصَحَنَّ لَكَ عَلٰى قَوْمِنَا»[۱]

---

(۱) المحرر الوجيز ج۸ ص۱۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني: ای پیغمبره! مونږ شاهدي وایو چې ته په حقه پیغمبر یې او مونږ په تا باندې ایمان راوړی دی او هرومرو به مونږ ستا دپاره په خپل قوم کښې ستا په ګټه کار وکړو، البته کله چې بېرته ورستانه شو (هیله ده چې فدیه راته معافه کړئ). نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه، چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ــ ای پیغمبره! د خپل لاس لاندې د بدر بندیانو ته په جواب کښې ووایه چې که تاسو رښتیا ایمان راوړی وي او مسلمانان شوي یاست هم مونږ تاسو ته د فدیو څخه نه شو تېرېدلی، که ستاسو ایمان واقعیت لري (الله ﷻ په زړونو باندې عالم دی) نو الله ﷻ به تاسو ته په دنیا کښې عوضونه درکړي او په دې باندې برسېره، ګناهونه به هم درته وبښي ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

۲ــ او که دوی په دروغو باندې د ایمان مدعیان وي او غواړي چې په همدې پلمه ستا سره خیانت وکړي او ستا په ضد خپل قوم راوپاروي او بالآخره بېرته کفر ته وګرځي، لکه څنګه یې چې پخوا ستا په ضد کار کاوه او کفر یې اختیار کړی وه نو دا ځل به بیا الله ﷻ تا ته په هغوی باندې نصرت درکړي او ستا د قدرت لاندې به یې اسیران کړي لکه څنګه چې في الحال الله ﷻ ستا د قدرت لاندې واقع کړي دي، ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې او د لوی حکمت څښتن دی.

## توضیحات

۱ــ مونږ د [الأنفال:۳۶] ایت لاندې لیکلي دي د مشرکانو د لښکر مصارف (لګښتونه) دولسو تنو مشرانو په غاړه اخستي وه چې هر یوه به په خپل نوبت کښې لس اوښان نحر کول او حلالول. دلته وړباندې ور اضافه کوو چې په دغو دولسو مشرانو کښې یو مشر عباس (د نبي کریم ﷺ تره) هم وه (چې په هغه وخت کښې لا د "رضي الله عنه" لایق نه وه ګرځېدلی).

نوموړي د خپل نوبت د تېرولو دپاره شل اوقیه سره زر د ځانه سره درلوده، خو ده ته لا نوبت نه وه رسېدلی چې قریشي لښکر مات شو او ذکر شوی مبلغ یې په جیب کښې پاتې او د مجاهدینو دپاره غنیمت جوړ شو، نوموړي نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې: یا رسول الله! همدغه مبلغ زما په فدیه کښې مجراء کړه. نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ: «أَمَّا شَيْءٌ خَرَجْتَ تَسْتَعِيْنَ بِهِ عَلَيْنَا فَلَا»[1] یعني: کوم شی چې تا زمونږ په ضد (زمونږ د دښمنانو) د کومک دپاره راوړی وه او اوس مونږ ته الله ﷻ د ولجې په توګه راکړ نو هغه به هیڅکله په فدیه کښې مجرا نه کړم.

## د عباس ﷺ عجیبه قیصه

۲ــ په ټولو بندیانو کښې د عباس ﷺ فدیه ډېره درنه وه ځکه چې نوموړی بډای سړی وه او نبي کریم ﷺ وړباندې امر وکړ چې په خپلې فدیې باندې علاوه د لاندې کسانو فدیې هم خلاصې کړه[2].

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۶۲
(۲) تفسیر روح المعاني ج۱۰ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: عقیل بن ابي طالب چې د ده ورارہ کیده.
دوهم: نوفل بن الحارث چې دا يې هم وراره وه.
دریم: عتبه بن عمرو چې د ده حلیف وه.
د هغې کیله نوموړي د نبي کریم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ[۱]:
عباس ﷺ: یا رسول الله! زه مسلمان وم او قریشو په زور باندې ستا مقابلې ته راوستلی وم.
نبي کریم ﷺ: ستا په ایمان باندې الله ﷻ ښه پوهېږي اما ظاهري حال خو دې هغه دی چې زمونږ د دښمنانو سره ملګری وې نو ضرور فدیه ورکړه.
عباس ﷺ: هغه مبلغ په فدیه کښې مجرا کړه کوم چې زما سره غازیانو نیولی دی.
نبي کریم ﷺ: هغه خو مونږ ته الله ﷻ د غنیمت په توګه راکړی دی په فدیه کښې نه شي مجرا کېدلی.
عباس ﷺ: زه خو نور مال نه لرم، ته غواړې چې په قریشو کښې سوال وکړم او خلکو ته لاس ونیسم[۲].
نبي کریم ﷺ: ستا هغه مال څه شو چې د مکې معظمې څخه د راوتلو په وخت کښې دې خپلې مېرمنې (ام الفضل) ته ورکړ او ورته دې وویل چې که زه په دغه سفر کښې د څه خطر سره مخامخ شوم دا مال (مبلغ) زما د درېوو زامنو (قثم، فضل، عبدالله) ترمنځ ووېشه، فلاني ته دومره ورکړه او فلاني ته دومره او دومره.
عباس ﷺ: ته چا خبر کړې؟ ذکر شوی مبلغ خو ما هغې ته په توره شپه کښې ورکړی وه چې زما او د هغې څخه په غیر هیڅوک هلته موجود نه وه.
نبي کریم ﷺ: زه الله ﷻ خبر کړم.
عباس ﷺ: د اوسه پورې مې ستا په رسالت کښې څه شک درلود خو اوس مې یقین دی چې ته په حقه پیغمبر يې او ستا په رسالت کښې هیڅ شک نه لرم[۳].

## الله ﷻ خپله وعده رښتیا کړه

۳ـ څرنګه چې الله ﷻ د بدر د اسیرانو سره ضمني وعده کړې وه چې که په تاسو کښې څه خیر وي نو الله ﷻ به په دنیا کښې د فدیو عوضونه درکړي او په آخرت کښې به مو د الله ﷻ مغفرت او بښنه په نصیب شي.
نو الله ﷻ خپله وعده په دنیا کښې رښتیا کړه او عباس ﷺ ته يې ډېر عوضونه ورکړه، البته کله چې د بحرین څخه هغه مبالغ (مالونه) نبي کریم ﷺ ته ورغله په کومو باندې يې چې د اهل البحرین

[۱] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۵۵
[۲] التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۲۰۴
[۳] تفسیر ابي السعود ج۴ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره مصالحه کړې وه. د ښه وضاحت دپاره یو ځل بیا د نبي کریم او د ده د تره (عباس ﷺ) د محاورې (خبرو اترو) مضمون ولولئ:

عباس ﷺ: ای د الله رسوله! ماته د دې مال څخه څه راکړه چې زه په فدیه ورکولو کښې زښت ډېر تاواني شوی یم.

نبي کریم ﷺ: «خُذْ!» واخله څومره چې اخستی شي.

نو عباس ﷺ ترې خپل څادر ډک کړ او غوښتل یې چې په شا یې کړي مګر وسه یې ونه شوه ځکه چې د پیسو پنډ ډېر دروند وه نو غږ یې وکړ چې: ای د الله رسوله! چاته امر وکړه چې دا پنډ راپورته کړي.

نبي کریم ﷺ: دا کار نه کوم.

عباس ﷺ: ته یې پخپله راپورته کړه.

نبي کریم ﷺ: دا هم نه کوم.

عباس ﷺ د پیسو د پنډ څخه څه کم کړه خو بیا یې هم زور ونه رسېد چې خپلې شاته یې ورپورته کړي، نو ذکر شوې وړاندیز یې بیا تکرار کړ چې: یا رسول الله! چا ته امر وکړه چې دا پنډ راپورته کړي.

نبي کریم ﷺ: چا ته امر نه کوم.

عباس ﷺ: نو ته یې پخپله راپورته کړه.

نبي کریم ﷺ: دا هم نه کوم.

عباس ﷺ بیا ذکر شوی د پیسو پنډ لږ څه نور هم سپک کړ آن تر دې چې ایله په ایله یې خپلې اوږې ته ورپورته کړ او د کور په لور وخوځېد.

«فَمَا زَالَ يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ حَتَّى خَفِيَ عَلَيْنَا عَجَبًا مِنْ حِرْصِهِ»[۱] نو نبي کریم ﷺ ورپسې تر هغه کتل ترڅو چې زمونږ څخه پنا شو او دا ځکه چې د عباس ﷺ حرص په تعجب کښې واچاوه.

عباس ﷺ: «هَذَا خَيْرٌ مِمَّا أُخِذَ مِنِّي وَأَرْجُوا الْمَغْفِرَةَ»[۲] دا (د پیسو پنډ) د هغه مال څخه ډېر بهتر دی چې زما څخه په (فدیه کښې) اخستلی شوی وه (دنیاوي وعده خو راته الله ﷻ رښتیا کړه) او زه د مغفرت (د وعدې د رښتیا کولو) هم امید لرم (چې په آخرت کښې به یې راته رښتیا کړي).

## یادونه

په دې مقام کښې د سیرت کتابونو[۳] د زینب بنت رسول الله ﷺ په هکله ډېره په زړه پورې قیصه لیکلې ده چې د هغې مېړه (ابو العاص) هم د بدر په بندیانو کښې شامل وه هغې د خپل مېړه د خلاصون دپاره د سرو زرو هغه هار هم مدینې منورې ته وراستولی وه کوم چې ورته د واده په وخت کښې خپلې مور (خدیجة الکبری رضي الله عنها) ورکړی وه، که څوک فرصت لري نو هملته دې ولولي:

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۴۸
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۳۵۶
(۳) سیرت ابن هشام ج۲ ص۲۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ
وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمْ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن
شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمِۭ بَيْنَكُمْ
وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ إِلَّا
تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٞ فِي ٱلْأَرْضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴿٧٣﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ
وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغْفِرَةٞ
وَرِزْقٞ كَرِيمٞ ﴿٧٤﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعْدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمْۚ
وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمُۢ ﴿٧٥﴾﴾

[۷۲] یقینًا هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یي کړی دی او (بالآخره) د الله ﷻ په لاره کښې یې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړی دی، او (هم) هغه کسان چې (هغوی ته) پناځای یې ورکړی دی او نصرت یې (ورسره) کړی دی، دغه (دواړه ډلې) ځینې د ځینو نورو دپاره (په وراثت او نصرت کښې) ولیان دي.

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې (تر اوسه پورې) نه دی کړی تاسو ته د هغوی د ولیتوب څخه هیڅ شی نشته (نه درسره د وراثت اشتراک لري او نه درباندې د نصرت حق لري) ترڅو چې دوی هجرت وکړي.

(هو) او که دوی ستاسو څخه په دین کښې نصرت وغوښت نو په تاسو باندې (د دوی) نصرت لازم دی. مګر په داسې قوم باندې (نه) چې ستاسو او د هغوی په منځکښې معاهده وي. او الله ﷻ په هغه څه باندې بینا دی چې تاسو یې کوئ.

[۷۳] او هغه کسان چې کفر یې اختیار کړی دی (دوی په خپلو منځو کښې) ځینې د ځینو نورو دپاره (په وراثت او نصرت کښې) ولیان دي (او ټول کفار یو ملت دی).

(ای مؤمنانو!) که (بالفرض) تاسو (ذکر شوی) کار (تناصر في الدين او د کفارو څخه تباعد) ونه کړئ نو په ځمکه کښې به فتنه (د مؤمنانو مرتد کول) او لوی فساد (د کفارو غلبه) تحقق ومومي.

[۷۴] او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله ﷻ په لاره کښې یې جهاد کړی دی او هم هغه کسان چې (دوی ته) یې پناځای ورکړی دی او نصرت یې (ورسره) کړی دی، دغه (دواړه ډلې) همدوی په حقه (واقعًا) مؤمنان دي، دوی لره (د الله ﷻ په نزد) مغفرت او د کرامت څخه ډکه روزي ده.

Scanned by CamScanner

[۷۵] او هغه کسان چې (د ذکر شوو ایتونو د نزول څخه) وروسته یې ایمان راوړی دی او هجرت یې کړی دی او (هم) ستاسو سره یې (ستاسو په نصرت) جهاد کړی دی نو دغه ډله ستاسو څخه دی (نصرت یې درباندې واجب دی).

او د خپلوۍ خاوندان (چې دي) د دوی ځینې ځینو نورو ته (د اسلامي اخوت د خاوندانو څخه د نن څخه وروسته) د الله ﷻ په حکم کښې ډېر نژدې دي. یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (د هر حکم مناسب وخت پېژني).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې هغو اسیرانو ته منفي جواب ورکړی شوی وه کومو چې د فدیو د ورکولو څخه په دې بهانه معافي غوښتله چې مونږ مسلمانان وو خو جنګ ته په زور راوستلي شوي وو.

نو څه لري نه ده چې د ځینوغازیانو په زړونو کښې د فدیو د عفوه کولو بهتري تېره شوې وي چې دوی خو زمونږ ورونه دي باید چې معاف یې کړو او کومک ورسره وکړو.

نو الله ﷻ په دې ایتونو کښې مسلمانان په څلورو ګروپونو باندې ووېشل او د نصرت او عدم نصرت ګروپونه یې تعین کړه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! که څه هم تاسو ټول یو تربله دیني ورونه یاست مګر د دنیاوي معاملاتو په اعتبار سره تاسو په لاندې څلورو ګروپونو باندې وېشلی کېږئ:

الف: یوه ډله خو هغه مؤمنانو دي چې د مکې معظمې څخه یې مدینې منورې ته په اولنیو وختونو کښې هجرت کړی دی او هلته یې په سر او مال سره جهاد ته ادامه ورکړې ده.

ب: بله هغه ډله ده کومې چې ذکرو شوو ړومبنیو مهاجرینو ته په خپل وطن (مدینه منوره) کښې په ډېر اخلاص سره ځای ورکړی دی او برسېره پر دې د دوی هر ډول نصرت او کومک ته یې په هره ساحه کښې ملاوې تړلې دي.

نو د ذکرو شوو دواړو ډلو یو تربله د نصرت حکم دا دی چې دوی یو په بل باندې د نصرت او کومک حق لري او د کومو دوه کسانو ترمنځ چې نبي کریم ﷺ د اخوت (ورورولۍ) عقد قائم کړی دی هغوی یو تربله سره میراث هم وړلی شي.

ج: بله ډله هغه مؤمنانو دي چې په ایمان باندې مشرف شوي وي مګر هجرت یې نه وي په نصیب شوی او د کفارو په وطن (دارالحرب) کښې اوسېږي.

نو د دوی په باره کښې تاسو د هغه پورې د نصرت او کومک مسؤلیت نه لرئ او د توارث سلسله مو ورسره نه شي برقرارېدلی ترڅو چې هغوی هجرت وکړي او ستاسو اجتماع غته کړي.

نو که دغه درېمه ډله ستاسو څخه مالي نصرت او دنیاوي کومک وغواړي په تاسو باندې څه وجوب نشته چې غوښتنې ته یې مثبت جواب ورکړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! دیني نصرت په تاسو باندې واجب دی، کله چې دوی یې غوښتونکي شي چې مونږ د کفارو له لاس څخه ازاد کړئ مونږ د کمزورو مسلمانانو په شکل ژوند کوو او خپل اسلامي شعایر نه شو په ځای کولی، نو په دغه صورت کښې یې تاسو ښه په مېړانه باندې نصرت وکړئ او د نجات لارې چارې یې ولټوئ که څه هم ستاسو هلې ځلې جنګ ته منجرې شي او په جنګ کښې مو واقع کړي.

۲_ مګر په دې صورت کښې همدا یوه استثناء په نظر کښې ونیسئ چې که ذکر شوي مسلمانان د داسې خلکو د لاس لاندې وه چې د هغوی سره تاسو د سولې معاهده لاسلیک کړې وه، نو بیا تاسو مسؤلیت نه لرئ چې د دوی د نجات دپاره توري ته لاس کړئ او دا ځکه چې دا کار ستاسو د معاهدې څخه سرغړونه او تخلف دی او تاسو ته اسلام د دې کار اجازه نه درکوي چې یا په پټه کښې تخلف وکړئ او یا په ښکاره، ځکه چې الله ﷻ ستاسو په اعمالو او کړو وړو باندې بینا دی او هیڅ شی مو ترې پټ نه دی.

۳_ ای مؤمنانو! په تاسو باندې ځکه د ذکرې شوې استثناء څخه په غیر دیني نصرت واجب دی چې کفري ټول طاقتونه یو تربله په کفر کښې کومکیان دي او ستاسو په مقابل کښې یې متحده جبهه تشکیله کړې ده نو تاسو ته هم په کار دي چې د هغوی په مقابل کښې متحده دیني جبهه تشکیله کړئ او تر وسې-وسې د خپل دین څخه دفاع وکړئ.

۴_ ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو د دیني نصرت څخه لاس واخلئ او کمزورو مسلمانانو ته د کافرانو څخه نجات ورنه کړئ او بالآخره په خپلو منځو کښې اتفاق او اتحاد ونه ساتئ نو د یو پلوه به په ځمکه کښې فتنې موجودې شي او د هر مسلمانان به د دین څخه په زور واړولی شي او د بل پوله به لوی فساد تحقق ومومي او په دې ټولو باندې د پاسه جهاد به ځای په ځای ودرېږي او یا به بالکل د منځه لاړ شي.

او هم به تاسو هغه ثوابونه او اجرونه مونده نه کړئ کوم چې الله ﷻ د دین خدمتګارانو ته ټاکلي دي او په لاندې یوه مثال کښې تاسو ته واضحه کېږي:

هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او د الله ﷻ د دین د نصرت دپاره یې هجرت کړی دی او هم یې د الله د کلمې د اعلاء دپاره جهاد کړی دی، او همدارنګه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او مهاجرینو ته یې پناځای ورکړی دی او هم یې د الله ﷻ د دین سره نصرت او کومک کړی دی.

ذکر شوې دواړه ډلې همدوی د الله ﷻ په نزد په حقه مؤمنان دي چې په خپلو اعمالو کښې یې د ایمان مظاهره کړې ده، نو خاص همدوی ته د الله ﷻ د پلوه د ګناهونو مغفرت او د کرامت څخه ډکه روزي ټاکلې شوې ده.

۵_ ای مؤمنانو! ستاسو څلورم ګروپ هغه مسلمانان دي کومو چې وروسته ایمان راوړی دی خو د کفارو په منځکښې نه دي پاتې شوي او هجرت یې کړی دی. یا په بل عبارت: ستاسو اجتماع یې غنه کړې ده او ستاسو په انډیوالۍ سره یې جهاد هم کړی دی.

نو د دغه ګروپ حکم دا دی چې دوی هم ستاسو د جملې څخه ګڼل کېږي او نصرت او کومک یې په تاسو باندې لازم دی، تاسو ته په کار دي چې په حقیر نظر ورته ونه ګورئ.

۶ـ ای مؤمنانو! د نن ورځې پورې د خينو حکمتونو په بنياد ستاسو د اولنيو دوارو ګروپونو ترمنځ په نصرت باندې علاوه د توارث حق هم وه خو د نن څخه وروسته د الله ﷻ حکم دا دی چې يوازې په توارث کښې نسبي خپلولي د اسلامي مواخات (ورورولۍ) څخه بهتره ده، هغه حکم موقت وه او دا حکم دائمي دي. الله ﷻ د هر يوه وخت سره مناسب تشريع نازلوي خکه چې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

## توضيحات

۱ـ په ذکرو شوو څلورو ګروپونو باندې هغه مؤمنان وېشلي شوي دي کوم چې د نبي کريم ﷺ په مبارکه زمانه کښې وه[1].

## "وَلاية" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ أَوْلِيَآءُ ﴾ کلمه د هغه "ولاية" څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې په دوهم ايت شريف ﴿ مِّن وَلَـٰيَتِهِم ﴾ کښې په صراحت سره ذکر دی.

د "وَلاية" اصلي معنی خو نژديکت دی[2] مګر په دې مقام کښې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په شمول ټولو علماوو کرامو په هغه نژدېکت سره تفسير کړی دی کوم چې د وراثت سبب جوړېږي[3]، لکه چې مونږ د [النساء:۳۳] ايت لاندې ليکلي دي چې د هجرت په اولو وختونو کښې اسلامي ورورولي هم د ميراث د اسبابو څخه ګڼله کېده کومه چې نبي کريم ﷺ د يوه مهاجر او يوه انصاري په منځکښې قائمه کړې وه او په ذکر شوي ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

## تبصره

۳ـ خو مونږ ته داسې ښکاري چې د "وَلاية" څخه به په دې مقام کښې هغه نژدېکت مراد وي، په کوم باندې چې د وراثت او نصرت دواړو اثر مرتبېږي، نو په دې تقدير ذکر شوی "وَلاية" يوازې د مؤمنانو په لومړنيو دواړو ګروپونو پورې اختصاص پيدا کوي، نه هغې ډلې ته شاملېږي چې ايمان يې راوړی وي خو هجرت يې نه وي کړی او نه هغې ته شمول موندلی شي چې وروسته په ايمان او هجرت دواړو باندې مشرف شي.

د همدې مضمون زيات وضاحت په راتلونکي يوولسمه، دولسمه او ديارلسمه توضيح کښې راروان دی، ان شاء الله ﷻ.

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۵ ص۲۰۸

(۲) مفردات الراغب ص۵۷۰

(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۳۷؛ التفسير الكبير ج۱۵ ص۲۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مسلمان د کافر څخه میراث نه شي وړلی

۴_ څرنګه په دې مقام کښې د کافرانو په هکله هم بالمثل عبارت نازل شوی دی چې ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ﴾ نو مسلمان د کافر څخه میراث نه شي وړی او کافر د مسلمان دپاره وارث نه شي جوړېدلی، لکه چې نبي کریم ﷺ وړاندې صراحت کړی دی چې: «لا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ»[۱] مسلمان د کافر نه وارث کېږي او کافر د مسلمان نه وارث کېږي.

## په عهد باندې وفا کول د اسلام یو لوی رکن دی

۵_ په اسلام کښې په عهد باندې وفا کول د ډېرو مهمو احکامو څخه دی او ټول مسلمانان مکلف دي چې د دښمنانو سره هم په خپل عهد باندې ودرېږي او خیانت پکښې ونه کړي. په دنیا کښې بل مسلک نه دی تېر شوی او نه به تېر شي چې د عهد په ساتنه باندې یې دومره زور اچولی داسې لکه څومره زور چې اسلام وړاندې اچولی دی، بلکې د عهد ساتنه د اسلام د خواصو څخه ده. وي دهمدې کبله په ذکر شوي ایت کښې مسلمانانو ته توصیه شوې ده چې د خپلو اسلامي وروڼو سره هم په دین کښې نصرت مه کوئ البته کله چې نصرت ستاسو د عهد ماتونې ته منجر کېږي او د خپلو معاهدینو کافرانو سره په جنګ باندې اخته کېږئ.

د حدیبیه د صلحې په موادو کښې دا هم وه چې که د مشرکانو څخه کوم کس مسلمان شو او مؤمنانو ته ورغی هغه کس به هغوی ته بېرته ورګرځولی کېږي. نو نبي کریم ﷺ ته ابو جندل په داسې حال کښې ورغی چې مشرکانو زولنې وراچولې وې نو بېرته یې مشرکانو ته د خپل عهد مطابق وسپاره[۲] او د نجات دپاره یې ورسره نصرت ونه کړ چې عهد یې مات نه شي.

## د عربیت یو تحلیل

۶_ که څه هم د ﴿ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ ﴾ د بارز ضمیر مرجع په څرګنده توګه ذکره نه ده مګر د وړاندېنیو ایتونو د مضمون څخه معلومېږي، نو که صراحت وړاندې وکړی شي نو داسې عبارت به ترې جوړ شي چې: "إِلَّا تَفْعَلُوا مَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ مِنَ التَّنَاصُرِ بَيْنَكُمْ وَالتَّبَاعُدِ مِنَ الْكُفَّارِ" که تاسو هغه څه ونه کړئ چې وړاندې مو تاسې ته پرې امر کړی دی چې په خپلو منځو کښې یو تربله نصرت وکړئ او د کفارو څخه خپله رابطه قطعه کړئ، نو فتنه او فساد به پیل شي.

## صحابه کرام ﷺ ټول عادلان دي

۷_ د دې ایت شریف: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ ﴾ الآية- په مطابق زمونږ (اهل السنة والجماعة) عقیده دا ده چې ټول صحابه کرام ﷺ عادلان او ټول په حقه مؤمنان دي. د همدې مضمون د تائید په باره کښې زښت ډېر احادیث هم روایت شوي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) سنن ابن ماجه ص ۱۹۶
(۲) صحيح البخاري ج ۱ ص ۳۷۲

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لا تَسُبُّوا أحَدًا مِنْ أصْحَابِي فَإنَّ أحَدَكُمْ لَوْ أنْفَقَ مِثْلَ أحُدٍ ذَهَبًا مَا أدْرَكَ مُدَّ أحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ»[۱] يعني: زما د صحابه کرامو ﷺ څخه يو کس ته هم کنځل مه کوئ ځکه که ستاسو يو تن د اُحد د غره په اندازه سره زر نفقه کړي هم د دوی پاوکي ته به ونه رسيږي او نه نيم پاوکي ته.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي أوْ رَأى مَنْ رَآنِي»[۲] يعني: داسې مسلمان به اور مسه نه کړي چې زه يې ليدلی يم (چې صحابي وي) او يا يې هغه څوک ليدلی وي چې زه يې ليدلی يم (چې تابعي وي).

## اهل التشيع څه وايي؟

۸ـ اهل التشيع وايي چې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته (گروه از صحابه از مسير واقعي اسلام منحرف شدند)[۳] د صحابه کرامو يو ټولګي د اسلام د واقعي تګلاري (خط السير) څخه کاږه شوه.

دوی د خپلې ادعا دپاره د صحابه وو کرامو ﷺ اختلافات دليل نيسي او هم خپلو ځانونو ته حق ورکوي چې څو پېړۍ وروسته هم د هغوی په منځکښې حکميت وکړي، چې څوک په حقه وبولي او چاته د ملامتې ګوته ونيسي.

اما زمونږ عقيده دا ده چې نه مونږ ته د حکميت حق را کړی شوی دی او نه پکښې پړ او وړ لټوو بلکې ټولو ته په فضيلت باندې قائل يو او لکه ځنګه چې زمونږ لاسونه الله ﷻ د هغوی د وينو څخه پاک ساتلي دي (چې وروسته يې پيدا کړي يو) همدارنګه مونږ د الله ﷻ څخه غواړو چې زمونږ ژبې هم د هغوی په غيبت باندې ککړې نه کړي.

## اُولي هجرت تر څه وخته پورې وه؟

۹ـ د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې مسنونه هجرت د مکې معظمې په فتحې باندې پای ته ورسېد چې د کفارو زور مات او په ټول عربستان کښې د اسلام بيرغ پورته شو نو ځکه نبي کريم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ باندې وفرمايل چې: «لا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»[۴] يعني: نن ورځ (د مکې معظمې څخه) هجرت قطعه شو مګر جهاد او نيت باقي دی نو کله چې ستاسو څخه جهاد ته تلل وغوښتل شي نو جهاد ته لاړ شئ؛

مګر د هغې زمانې هجرت په لاندې دوه وو برخو باندې وېشلی شوی دی[۵]:

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۵
(۳) تفسير نمونه تاليف اهل التشيع ج۷ ص۲۶۴
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۲۶۵
(۵) تفسير البغوي ج۲ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: لومړی هجرت چې د نبي کریم ﷺ د هجرت څخه پیل کېږي او د حدیبې د سولې پورې امتداد مومي، برابره خبره ده چې یوازې مدینې منورې ته وي او که حبشې ته هم وي او بالآخره یا دواړو ته وي چې د دواړو هجرتونو خاوند ته د ذو الهجرتین لقب ورکول شوی دی.
ب: دوهم هجرت چې د حدیبې د صلحې څخه پیل کېږي او د مکې معظمې په فتحه باندې اختتام پیدا کوي.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ ﴾ الآية- کښې د ﴿ مِنۢ بَعۡدُ ﴾ محذوف مضاف الیه د څه شي څخه عبارت دی؟
مونږ وایو چې مفسرینو کرامو د ذکر شوي محذوف څخه لاندې تعبیرونه کړي دي:
الف: "مِنْ بَعْدِ نُزُولِ هَذِهِ الْآيَةِ"[۱] یعنې هغه مؤمنان چې د همدغه ایت څخه وروسته په ایمان او هجرت باندې مشرف شوي دي.
ب: "مِنْ بَعْدِ وَقْعَةِ بَدْرٍ"[۲] یعنې هغه مؤمنان چې د بدر د غزا څخه وروسته یې ایمان راوړی دی او هم یې وروسته هجرت کړی دی.
ج: "مِنْ بَعْدِ الْهِجْرَةِ الْأُولى"[۳] یعنې هغه مؤمنان چې د لومړني هجرت د اختتام څخه وروسته په ذکرو شوو دواړه شرافتونو باندې فائزان شوي دي.

## تبصره

۱۱_ په دې مقام کښې مونږ ته په ذهن کښې بهتره بریښېدله چې د محذوف مضاف الیه څخه په "مِنْ بَعْدِ إِرْشَادِ الْمُوَاخَاةِ الْإِسْلَامِيَّةِ" سره تعبیر وکړو، خو د تفاسیرو په کتلو کښې مو د شیخ المفسرین العلامه ابن جریر الطبري علیه الرحمة په توجیه باندې سترګې ولګېدې چې ورانديې ورته د لسمې توضیح د "الف" په فقره کښې اشاره شوې ده.
د دغې توجیه څخه عین هغه معنی لاس ته راغله کومه چې مونږ په ذهن کښې نیولې وه _فالحمد لله ﷻ على حسن الموافقة_ څکه چې ذکر شوی "إرشاد المواخاة الإسلامية" په همدغه ایت کښې نازل شوی وه او نبي کریم ﷺ په عمل کښې پیاده کړی وه.
نو حاصل یې داسې راوخي چې: ای مؤمنانو! نن ورځ (د ایتونو د نزول وخت) په تاسو باندې یو تریله نصرت لازم دی او د هغې ورورولۍ په اساس یو د بل وارثان ګرځېدلي یاست کومه ورورولي چې ستاسو ترمنځه نبي کریم ﷺ قائمه کړې ده.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۵۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۱۱
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما د نن ځخه وروسته ذکره شوې ورورولي (المواخاة الإسلامية) د وراثت سبب نه شي جوړېدلی نو که څوک ایمان راوړي او هجرت ونه کړي په تاسو باندې لازمه ده چې مشروط نصرت ورسره وکړئ چې خپل عهد د پښو لاندې نه کړئ، او که په ایمان باندې علاوه هجرت هم وکړي نو د هغه سره باید مطلق نصرت وکړئ ځکه چې دغه مؤمنانو ستاسو د جملې ځخه ګرځي او داسې نه شي کېدلی چې هغوی عهد کړی دی او تاسو نه دی کړی، بلکې په ذکر شوې صورت کښې ستاسو عهد د هغوی عهد جوړېږي.

لنډه دا چې اسلامي ورورولي یوازې د لومړنیو دواړو ګروپونو ترمنځ د میراث سبب ګرځېدلی وه او بس[1].

## یادونه

۱۲ـ که څوک غواړي چې د ذکر شوي اخوت (ورورولی) څو مثالونه ولولي (چې فلانی د فلاني ورور ګرځولی شوی وه او فلاني د فلاني) نو ځینو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[2] چې پوره معلومات یې پکښې لیکلي دي، وجزاهم الله خیرا.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې: ذکره شوې ورورولي (المواخاة الإسلامية) ترڅه وخته پورې د وراثت سبب ګڼله کېده؟

مونږ وایو: ترهغه وخته پورې ترڅو چې د ایت شریف دا ټکړه نازله شوه چې: ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ یعني: او خپلوان ځینې د ځینو نورو دپاره د الله ﷻ په حکم کښې (د میراث ورلو په هکله د اسلامي ورونو ځخه) بهتر دي.

یا په بل عبارت: آن د مکې معظمې د فتحې پورې ذکره شوې ورورولي د میراث سبب ګڼله کېده او د فتحې څخه وروسته ذکره شوې ټکړه نازله شوه او نوموړی سبب منسوخ وګرځېد[3].

مونږ د [الأنفال:۶۶] ایت لاندې لیکلي دي چې ناسخ حکم د منسوخ سره په تلاوت کښې اتصال موندلی شي مګر په نزول کښې باید ضرور موخر وي. په دې مقام کښې همدغه صورت متحقق دی چې تلاوتي اتصال لري مګر په نزول کښې د ناسخ او منسوخ ترمنځ څو کاله فاصله وه.

د "الأنفال" د سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

۱۳۷۵/۱/۶ هـ ش نېټه

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۳۹
(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۰۴
(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

# التوبة (۹)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

مخکې له دې چې مونږ د دې سورت په تفسیر باندې پیل وکړو لازمه ګڼو چې د الله ﷻ په فضل د محترمو لوستونکو توجه لاندې څو نکاتو ته راواړوو ترڅو په مطالبو باندې په ښه پوهېدلو کښې ورسره لاس وکړي:

۱ـ په ټولو سورتونو کښې بوازې همدا سورت دی چې ډېر نومونه لري حتی چې نومونه یې د "الْفَاتِحَة" د سورت څخه هم زیات دي، د "الْفَاتِحَة" د سورت نومونه ځینو مفسرینو کرامو یوولس ښودلي دي[1]، مګر د دې سورت د نومونو شمېره آن څوارلسو ته رسېږي[2] خو دا سورت په لاندې دوه وو نومونو باندې ډېر شهرت لري:

الف: د "بَرَاءَة" سورت چې په همدغې کلمه باندې سورت پیل شوی دی.

ب: د "التَّوْبَة" سورت چې د "تَوبَة" مشتقات ﴿ فَإِن تُبْتُمْ، فَإِن تَابُواْ، ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ ﴾ او داسې نور په دې سورت کښې ډېر نازل شوي دي.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ایتونه یې یو سلو نهه ویشت (۱۲۹) دي.

ب: د کلماتو شمېر یې څلور زره اته اویا (۴۰۷۸) دي، او د حروفو شمېر یې لس زره څلور سوه اته اتیا (۱۰۴۸۸) دي[3].

۳ـ دا سورت بالاتفاق مدني سورت دی[4] مګر په وروستنیو دوه وو ایتونو کښې یې څه اختلاف شته چې د ځینو علماوو کرامو په نزد دواړه ایتونه د مکي ایتونو څخه دي[5].

## د نزول وخت

۴ـ دا سورت د هجرت د نهم کال په اوږدو کښې په لاندې تفصیل سره نازل شوی دی[6].

د اول ایت څخه نیولې آن تر اته ویشتم [۲۸] ایت د آخره پورې د ذکر شوي کال په اواخرو کښې نازل شوی دی او د اسلامي حکومت علاقات یې د مشرکانو سره ښه مشرح بیان کړي دي.

اما د ذکرو شوو ایتونو څخه په غیر نور ایتونه یې د نزول په اعتبار سره په لاندې دریوو مرحلو کښې نازل شوي دي:

الف: ځینې ایتونه یې د تبوک د غزا څخه وړاندې (د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته) نازل

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱ ص۱۱۱
(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۲۰
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۰ ص۳
(۴) روح المعاني ج۱۰ ص۴۰
(۵) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۲۰
(۶) في ظلال القرآن ج۳ ص۱۵۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


شوي دي او د اهل الکتابو حالات يې بيان کړي دي، ته به وايې چې اشارهٔ مجاهدين د تبوک غزا ته وي چې د اهل الکتابو سره واقع کېدونکې وه.

ب: يو شمېر ايتونو يې د تبوک غزا دپاره د تياري نيولو او هم د همدغې غزا په اوږدو کښې نزول موندلی دی.

ج: خينې ايتونه يې هغه وخت نازل شوي دي کله چې مجاهدين د ذکرې شوي غزا څخه بريالي بېرته راستانه شوه، دغو ايتونو د هغو خلکو حالات څرګند کړي دي کوم چې د غزا څخه پاتې شوي وه او دروغو او يا رښتياوو عذرونه يې وړاندې کول.

## په اجمالي توګه د دې سورت محتويات

۵ـ هيڅوک د قرآن کريم د سورتونو محتويات په تحديد سره نه شي ښودلی څکه چې درياب په کوزه کښې نه بندېږي، د همدې کبله مونږ د دې سورت د محتوياتو دپاره لاندې څو مثالونه د نمونې په توګه ليکو:

الف: د مشرکانو سره د معاهداتو حالات، چې ترڅه وخته پورې بايد دوام وکړي.

ب: د اهل الکتابو حالات او عقائد، چې د مشرکانو د عقائدو سره متشابه عقائد لري.

ج: د جهاد فرضيت، د جهاد اسباب او بالآخره جهاد ته د تللو ترغيب او د جهاد څخه د پاتې کېدلو ترهيب.

د: د منافقانو حالات او د دوی د اسرارو څخه پرده پورته کول.

## د "الأنفال" او "التوبة" دواړو سورتونو ارتباط

۶ـ څرنګه چې د ذکرو شوو دواړو سورتونو مضامين يو تربله سره دومره قوي اړيکې لري چې خينو علماوو کرامو په دواړو سورتونو باندې د يوه سورت ګومان کړی دی[۱]، لکه چې لږ وروسته به ـ ان شاء الله ﷻ ـ واضحه شي، مګر مونږ يې د لاندې ارتباطاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: په دواړو سورتونو کښې د جهاد پورې مربوط بحثونه نازل شوي دي.

ب: په دواړو کښې د الله ﷻ د نصرت او کومک لارو چارو ته اشاره شوې ده.

ج: په دواړو کښې د کفارو سره په معاهداتو باندې رڼا اچولې شوې ده.

د: په دواړو کښې د منافقانو د منحوسو څېرو څخه پردې پورته کړی شوې دي.

هـ: بالآخره په دواړو کښې په جهادي انفاق او جهاد ته د خپلو خانونو په چمتو کولو باندې زور اچولی شوی دی، او داسې نور.

## د "بسم الله الرحمن الرحيم" د عدم کتابت وجوه

۷ـ د قرآن کريم ټول سورتونه په "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ" سره پيل شوي دي، يوازې دغه سورت

(۱) روح المعاني ج ۱۰ ص ۴۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


(التوبة) په ذکره شوې جمله باندې نه دی پیل شوی. نو علماوو کرامو ورته زښتې ډېرې وجهې لیکلې دي(۱) لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د علي رضي الله عنه څخه چا په همدې باره کښې پوښتنه وکړه نو هغه جواب ورکړ چې د "بِسْمِ اللهِ" جمله خو امان دی او دا سورت (التوبة) د جنګ اعلان دی(۲) نو د همغې جملې مضمون د دې سورت د مضمون سره قوي تناسب نه درلود نو ځکه ورسره ونه لیکله شوه.

ب: د عربو عادت وه چې کله به یې د جاهلیت په زمانه کښې خپل عهد ماتاوه نو مقابل طرف ته به یې په داسې مکتوب باندې خبر ورکاوه چې د "بِسْمِ اللهِ" جمله به یې پکښې نه وه لیکلې نو کله چې الله ﷻ اراده وکړه چې ټولو معاهدینو ته د عهدونو د تحدید او یا د نقض اعلان وکړي او ذکر شوی سورت رانازل کړي نو ذکره شوې جمله یې پکښې نازله نه کړه(۳).

ج: کله چې صحابه کرام رضي الله عنهم د عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې مختلف شوه د ځینو نظر دا وه چې دغه سورت (التوبة) او "الأنفال" یو سورت دی او ځینې نور په دې نظر وه چې دا دواړه هر یو بیل بیل سورت دی.

نو مصحف لیکونکو د دواړو ډلو مراعات وکړ چې د دواړو سورتونو ترمنځ یې بیاض (سپین ځای) پرېښود چې ترڅو د سورتونو تعدد ته اشاره وکړه شي، او د "بِسْمِ اللهِ" جمله یې د دواړو ترمنځ ونه لیکله ترڅو د سورتونو یووالي ته اشاره وکړه شي(۴).

د: مګر ډېره اعتمادي او غوره وجه یې هغه ده کومه چې د لاندې حدیث څخه څرګندېږي:

د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې د دغو دواړو سورتونو ترمنځ مو په څه دلیل د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِیمِ" جمله نه ده لیکلې؟ هغه جواب ورکړ چې: کله به په نبي کریم ﷺ باندې یو سورت او یا یو ایت نازل شو د وحې لیکونکو ته به یې د هغه د ایښودلو ځای وربه ګوته کړ چې دا سورت د فلانې سورت ترڅنګ کېږدئ او دا ایت په فلانې سورت کښې د فلانې ایت ترڅنګ کېږدئ، نو څرنګه چې د ذکرو شوو دواړو سورتونو په باره کښې مونږ ته د نبي کریم ﷺ څخه څه هدایت په ثبوت ونه رسید حال دا چې د دواړو سورتونو مضامین سره یو تربله متشابه وه «فَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ قَرَنْتُ بَيْنَهُمَا وَلَمْ أَكْتُبْ بَيْنَهُمَا سَطْرَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ»(۵) نو د همدې کبله ما دواړه سورتونه پیوسته کړه او د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِیمِ" کرښه مې د دواړو ترمنځ ونه لیکله.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۲۱۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۲۱
(۳) تفسیر القرطبي ج۸ ص۶۱
(۴) تفسیر الخازن ج۳ ص۷۸
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۹؛ سنن ابي داود ج۱ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه څلورمه وجه غوره ګڼلې شوې ده[۱]، او زیاتو مفسرینو کرامو وربانديې اعتماد کړی دی[۲].

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته هدایت ونه کړ ترڅو د ذکر شوي سورت (التوبة) په اول سر کښې یې هم د نورو سورتونو غوندې د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ" مبارکه جمله صحابه وو کرامو ؓ ته ښودلې وی او سکوت یې وربانديې نه وی کړی؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو[۳] یې حکمت دا ذکر کړی دی چې د حدیبیه په صلحه کښې مشرکانو د سولې د خط په پیل کښې د "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ" د لیکلو څخه انکار وکړ، ته به وایې چې د الله ﷻ د بې اندازې رحمت څخه انکار کوي او خپل ځانونه ترې په لوی لاس محرومومي، نو الله ﷻ د هغوی سره د عهدونو په نقض یا تحدید کښې بالمثل معامله وکړه او د همدغه اعلان په اول سر کښې یې هغه جمله نازله نه کړه د کومې څخه چې هغوی انکار کړی وه او خپل ځانونه یې ترې محروم کړي وه.

که بالفرض د مشرکانو په زړونو کښې څه نرمښت وی او په هغه وخت کښې یې ترې انکار نه وی کړی نو په دې وخت کښې به الله ﷻ په دوی باندې هومره شدت نه وی کړی څومره چې وربانديې په همدغه سورت کښې نازل شوی دی، والله ﷻ اعلم.

﴿بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ① فَسِيحُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ
أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخْزِى ٱلْكَٰفِرِينَ ② وَأَذَٰنٌ مِّنَ
ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِىٓءٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُۥ ۚ فَإِن
تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ③ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْـًٔا وَلَمْ
يُظَٰهِرُوا۟ عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوٓا۟ إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ④﴾

[۱] (دا سورت) د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د پلوه د مشرکانو د جملې څخه هغو کسانو ته پرېکون دی چې تاسو ورسره معاهده کړې وه (او هغوی په خپله معاهده باندې ونه دریده).

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۴۱؛ اضواء البیان ج۲ ص۳۸۲
(۲) تفسیر المنار ج۱۰ ص۱۴۶
(۳) زاد المسیر ص۳ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲] نو (ای مؤمنانو! دوی ته ووایاست چې) په ځمکه کښې څلور میاشتې وګرځئ (راوګرځئ تاسو ته ازادي ده) او پوه شئ چې یقینًا تاسو الله ﷻ لره عاجز کوونکي نه یاست (چې د ارادې مخه یې بنده کړئ).

او (په دې باندې هم پوه شئ) چې الله ﷻ د کافرانو رسوا کوونکی (شرموونکی) دی.

[۳] او (دا سورت) د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د پلوه د لوی حج په ورځ ټولو خلکو ته اعلان دی چې یقینًا الله ﷻ د مشرکانو څخه بیزارېدونکی دی او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ هم (بېزارېدونکی دی).

نو (ای مشرکانو!) که تاسو (د شرک څخه) توبه وکړئ نو دا درته ډېره ګټوره ده. او که تاسو (د توبې څخه) مخونه واړوئ نو پوه شئ چې یقینًا تاسو د الله ﷻ عاجز ګرځوونکي نه یاست (چې د ارادې مخه یې ونیسئ).

او (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته په دردناک عذاب باندې زېرى (خبر) ورکړه چې کفر یې غوره کړی دی (او ورباندې کلک دي).

[۴] مګر (دا سورت) د مشرکانو څخه هغو کسانو ته (د بېزارۍ اعلان نه دی) چې تاسو ورسره معاهده کړې وي بیا دوی ستاسو سره (په معاهده کښې) هیڅ ډول نقصان نه وي کړی او ستاسو په خلاف باندې یې د هیچا سره کومک نه وي کړی.

نو (د دوی په باره کې هدایت دا دی چې) دوی ته خپله معاهده تر خپلې (ټاکلې) مودې پورې پوره کړئ. یقینًا الله ﷻ متقیان (پرهیزګاران) خوښوي.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ کله چې نبي کریم ﷺ د مجاهدینو په شمول د تبوک غزا ته روان شو نو کفارو خیال وکړ چې دوی به بېرته ژوندي راستانه نه شي ځکه چې د یو پلوه د ډېرې ګرمۍ موسم دی او دوی پوره تجهیزات نه لري او د بله پلوه هغه نصارا کوم چې دوی یې مقابلې ته ورروان دي پوره پیاوړي او مجهز دي، نو د همدې کبله معاهدو مشرکانو د خپلو عهدونو څخه سرغړونې پیل کړې او منافقانو په پروپاګندونو باندې لاس پورې کړ چې دغه دي مجاهدین د ماتې سره مخامخ شوه او هغه دي دومره ووژل او دومره زخمیان شوه او داسې نور.

خو چې کله الله ﷻ خپل دوستان د تبوک د غزا څخه روغ رمټ او په بریالیتوب سره بېرته راستانه کړه نو منافقان په خپلو چټیاتو باندې پښېمانه شوه او عهد ماتوونکي مشرکان د خپلو عهدونو د تجدید او ترمیم په تکل کښې واقع شوه. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د دوی آرزوګانې یې د خاورو سره برابرې کړې[۱].

۲ـ اما د ذکر شوو ایتونو د ارتباط وجه دا په نظر راځي چې د "انفال" په وروستنیو ایتونو کښې زور اچولی شوی وه چې باید ټول مؤمنان متفق او متحد اوسي او د کفارو سره اړیکې پرې کړي،

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که نه نو په څمکه کښې به لوی فساد جوړ شي. عین همدغه مضمون په ذکرو شوو ایتونو کښې تائید شوی دی چې باید مؤمنان معاهدو مشرکانو ته په څرګنده توګه عهدونه ورواچوي او علائق ورسره پرې کړي. نو حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! څرنګه چې تاسو د الله ﷻ په فضل سره د تبوک څخه بریالي راستانه شوئ او مشرکان غواړي چې د عهدونو په باره کښې په خپلو کړو وړو باندې پردې واچوي چې یا خپل عهدونه ستاسو سره تجدید کړي او یا اقلاً ستاسو څخه عفوه وغواړي چې عهدونه یې برقرار پاتې شي، نو تاسو د دوی سره لاندې چال چلند وکړئ:

۱ــ دا سورت د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ د پلوه ټولو معاهدو مشرکانو ته د عهدونو د تجدید یا ترمیم څخه بېزاري ده چې د نن څخه وروسته مؤمنان نه د مشرکانو سره نوې معاهده کوي او نه به د پخوانیو عهدماتونې څخه سترګې پټې کړي چې عهدونه په خپل حال پاتې شي.

۲ــ ای مؤمنانو! تاسو ټول معاهد مشرکان مخاطب کړئ چې:

الف: د نن څخه هغې خوا ته ستاسو دپاره څلور میاشتې مهلت.دی چې په ټوله دنیا کښې وګرځئ راوګرځئ او د خپلو ځانونو دپاره پناځایونه ولټوئ او خپلو ځانونو ته کومکیان مونده کړئ او بالآخره یا د اسلام حاکمیت ومنئ او د خپلو شرکیاتو څخه لاس په سر شئ.

ای مشرکانو! تاسو ته ځکه ذکرې شوې څلور میاشتې مهلت درکړی شو ترڅو تاسو د ښه فکر او سوچ کولو دپاره ښه کافي وخت ولرئ او په راتلونکي کښې په مؤمنانو باندې اعتراض ونه کړئ چې مونږ ته یې د تفکر وخت رانه کړ او په ناځاپي توګه یې ونیولو.

ب: خو ای مشرکانو! تاسو په دې باندې پوه شئ چې ستاسو د کبر کاسه نوره ډکه شوې ده او د رسوایۍ وخت مو را رسېدلی دی، تقریباً دوه ویشت کاله الله ﷻ تاسو ته فرصت درکړ چې د کفریاتو څخه لاس واخلئ او په اسلام باندې مشرف شئ خو په دغې اوږده موده کښې هم ستاسو عقل سر ته درنغی، نور نو الله ﷻ تاسو ته اراده کړې ده چې د رسوایۍ سره مو مخامخ کړي.

خو دا په یاد ولرئ چې که تاسو په ځمکه کښې د هرڅومره کومکیانو تالاش وکړئ هم د شرمندګۍ سره به هرومرو لاس او ګرېوان کېږئ چې د الله ﷻ د ارادې مخه نه تاسو نیولی شئ او نه بل څوک (ستاسو کومکیان).

۳ــ ای مؤمنانو! دا سورت د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د پلوه اعلان دی نو تاسو دغه اعلان د لوي حج په ورځ ټولو خلکو ته ورسوئ، برابره خبره چې ستاسو سره سابقه معاهده ولري او که نه. اعلان دا دی (یو ځل یې بیا واورئ!) چې: یقیناً الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ د مشرکانو د معاهدو او مصالحو څخه بېزار دی، د نن څخه وروسته دې زمونږ څخه څوک د معاهدو کولو او یا د تجدیدولو تمه نه کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای مؤمنانو! د حج په موسم باندې ټولو خلکو ته د ذکر شوي اعلان په ضمن کښې یوه د خیر مشوره هم ورکړئ هغه دا چې: ای کفارو! که تاسو د خپلو کفریاتو څخه توبه تائب شئ او په اسلام باندې مشرف شئ نو دا کار درته ډېر غوره او واره دار دی، او که تاسو د اسلام څخه مخونه تاو کړئ او خپلې پخوانۍ کړنلارې ته ادامه ورکړئ نو په دې پوه شئ چې تاسو به هرومرو پوښنا کېږئ او دا څکه چې تاسو په هیڅ وجهې سره د الله ﷻ د ارادې مخه نه شئ نیولی او الله ﷻ ستاسو د شرمولو اراده کړې ده او په دنیا کښې مو رسوا کوي.

۵_ ای پیغمبره! ټولو کافرانو ته خبر ورکړه چې د دوی رسوایي په دنیا کښې نه ختمېږي او د دردناک عذاب رسوایي یې د قیامت په ورځ مخې تهورروانه ده، نو که دوی ایمان راوړي نو د دنیا او آخرت د دواړو د شرمندګۍ څخه به نجات ومومي.

۶_ ای مؤمنانو! د ذکر شوي اعلان څخه هغه معاهد مشرکان وتلي دي کومو چې ستاسو سره تر معینې نېټې پورې عهد کړی دی او بیا یې ستاسو سره نه په خپلو عهدونو کښې په یو ډول سره خلل واقع کړی دی او نه یې ستاسو په ضد باندې د چا سره کومک کړی دی، د دغو ډول معاهدینو په باره کښې الهي فرمان دا دی چې تر خپلې معینې نېټې پورې ورسره په عهد ودرېږئ اما کله چې نېټې اختتام ومونډ نو د دوهم ځل دپاره مه د هغوی سره د عهد تجدید کوئ او مه ورسره د مودې تجدید.

## توضیحات

۱_ د ﴿ بَرَآءَةٌ ﴾ کلمه په اصل کښې د هغه شي څخه خپل ځان خلاص ګڼل دي د کوم سره چې سړی پیوستون نه خوښوي[۱]. نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مشرکانو! کومه علاقه او امان چې زمونږ او ستاسو ترمنځ د عهد په ذریعه متحقق شوی وه د نن څخه وروسته نه هغه علاقه (پیوستون) پاتې دی او نه د مالونو او سرونو امان[۲].

اما په عملي شکل سره به ذکر شوی ﴿ بَرَآءَةٌ ﴾ د څلورو میاشتو څخه وروسته صورت ونیسي ترڅو تاسو ورسره په ناخبرۍ سره مخامخ نه شئ.

## سیاحة څه معنی؟

۲_ د ﴿ فَسِيحُوا ﴾ کلمه د "سِيَاحَة" څخه اخستله شوې ده، "سِيَاحَة" په څمکه کښې هغه مزل او ګرځېدلو راګرځېدلو ته وایي کوم چې د طبیعت په مقتضی وي او د هیڅ یو طرف څخه ورباندې څه فشار او سختي نه وي ته به وایې چې اوبه په خپله طبعه په اسانۍ سره بهېږي[۳].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مشرکانو! د څلورو میاشتو په موده

(۱) مفردات الراغب ص۳۸
(۲) تفسیر تبصیر الرحمن ج۱ ص۲۹۲
(۳) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې په خپله خوښنه په ازادۍ سره په ځمکه کښې وګرځئ راوګرځئ چې په تاسو باندې به زمونږ د طرفه هيڅ قيد او شرط نه وي، اما د ذکرې شوې مودې د پوره کېدلو ځخه وروسته تاسو ته دغه ازادي نه پاتې کېږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: ذکر شوي ايتونه خو د نهم کال د شوال په مياشت کښې نازل شوی دی[۱] نو پوښتنه دا ده چې ايا د څلورو مياشتو موده د شوال څخه پيل شوی وه؟

مونږ وايو چې: څلورو مياشتو د ذوالحجې د (۱۰) څخه پيل او د ربيع الثاني په (۱۰) باندې يې اختتام وموند[۲]. يا په بل عبارت: دلته د نزول وخت ته اعتبار نشته بلکې د اعلان وخت د اعتبار وړ دی.

## اذان څه معنی؟

۴_ د اذان کلمه مصدر ده چې د ايذان (اعلان) معنی ورکوي، لکه څنګه چې د عَطاءً کلمه مصدر ده او د إعطاء (ورکړې) په معنی سره ده.

## يادونه

۵_ څرنګه چې د ذکرو شوو ايتونو په نزول کښې دوه مهم مطلبونه د نظر لاندې نيولی شوي وه، يو دا چې بايد مؤمنان د مشرکانو (کافرانو) سره پرېکون وکړي او بل دا چې همدغه پرېکون متعاهدو مشرکانو ته لاڅه بلکې ټولو خلکو (کافرانو) ته اعلان کړي او هغوی ورباندې خبر کړي.

اول مطلب تـه الله ﷻ پـه لومړنيو دوه وو ايتونو کښې اشاره وکړه او په دوهم مطلب باندې يې په دريم ايت ﴿ وَأَذَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ الآية- کښې صراحت وکړه چې د ﴿ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ ﴾ ورځ يې د عملي صورت دپاره ټاکلې شوې وه.

## "الْحَجِّ الْأَكْبَرِ" ورځ کومه ورځ ده؟

۶_ مفسرينو کرامو د ﴿ يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ ﴾ په تشخيص کښې ډېر اوږد بحث کړی دی چې په عمده توګه په لاندې دريوو وجوهو کښې خلاصه کېږي:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې ذکره شوې ورځ د عرفې د ورځې څخه عبارت ده[۳] چې حاجيان په عرفات باندې ولاړ وي.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! د دې ايتونو مضمون ټولو خلکو ته د ذوالحجې په نهمه نېټه اعلان کړئ کله چې دوی په عرفات باندې ولاړ وي.

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۲۶۶

(۲) تفسير الطبري ج۱۰ ص۶۶؛ تفسير الخازن ج۳ ص۷۹

(۳) تفسير القرطبي ج۸ ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې قول د تائيد دپاره ځينو مفسرينو کرامو دېر دلايل راغونډ کړي دي[۱] يو دليل يې دا حديث دی چې نبي کريم ﷺ درې ځله عرفات ته د حج لقب ورکړی دی چې: «الْحَجُّ عَرَفَاتٌ، الْحَجُّ عَرَفَاتٌ، الْحَجُّ عَرَفَاتٌ»[۲] يعنې: عرفات د حج دومره مهم رکن دی ته به وايې چې ټول حج د عرفات څخه عبارت دی. نو معلومه شوه د عرفات ورځ د لوی حج ورځ ده.

ب: اکثرو علماوو کرامو ذکره شوې ورځ د لوی اختر ورځ ښودلې ده[۳] چې ای مؤمنانو په دغې ورځ کښې ټولو خلکو ته ذکر شوی مضمون اعلان کړئ.

د همدې قول دپاره ډېر دلايل شته لاندې يو مثال يې ولولئ:

«أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ يَوْمَ النَّحْرِ بَيْنَ الْجَمَرَاتِ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي حَجَّ فَقَالَ أَيُّ يَوْمٍ هَذَا قَالُوا يَوْمُ النَّحْرِ قَالَ هَذَا يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ»[۴] يعنې: نبي کريم ﷺ د لوی اختر په ورځ (يَوْمُ النَّحْرِ) د جمراتو ترمنځ د خپل حج د "حَجَّةُ الْوَدَاعِ" په موقع ودرېد او پوښتنه يې وکړه چې دا کومه ورځ ده؟ صحابه وو کرامو ﷺ جواب ورکړ چې دا يَوْمَ النَّحْرِ (د قربانيو ورځ) ده. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دا د لوی حج ورځ ده.

ذکر شوی لقب ورته ځکه ورکړی شوی دی چې تقريبًا د حج ټول مناسک په همدغې ورځ کښې انجامېږي، د ښه وضاحت دپاره د لاندې مناسکو نومونه اخلو:

اول: په عرفات باندې ودرېدل د حج مهم رکن دی مګر د اختر د شپې د سهاره پورې صحت لري، ته به وايې چې دغه رکن هم د اختر په ورځ انجامېدلی شي چې د اختر شپه خو د همدغې ورځې شپه ده.

دوهم: د جمراتو ويشتل په همدغې ورځ کښې د جمرة العقبه په ويشتلو باندې پيل کېږي.

دريم: حاجی قارن او حاجي متمتع په همدغې ورځ حلالې کوي او خاروي ذبحه کوي.

څلورم: د سرونو خرېيل او يا بياتي کول په همدغې ورځ کښې صورت نيسي چې د احرامه سړی خلاصېږي او ګنډلې جامې اغوستلی شي.

پنځم: طواف الزيارة په همدغې ورځ کښې انجامېږي چې محرم بالکل د احرام څخه اوځي.

ج: ځينې علماء کرام وايي چې په دې مقام کښې د ﴿يَوْمَ﴾ څخه متعارفه ورځ مطلب نه ده بلکې د حج د مناسکو اوږد وخت ترې مراد دی چې د مناسکو د پيل څخه پيل کېږي او د مناسکو په اختتام سره انجام مومي، او دغه ډول استعمال په عربي کلام کښې شايع دی لکه چې وايي: "كُنْتُ بِالأَمْسِ شَابًا وَالْيَوْمَ قَدْ صِرْتُ شَيْخًا"[۵] يعنې پرون ځوان وم او يقينًا نن ورځ بوډا وګرځېدم.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۳۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۶
(۳) تفسير ابي السعود ج۴ ص۴۲
(۴) سنن ابي داود ج۱ ص۲۶۸
(۵) التفسير الکبير ج۱۱ ص۱۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٧_ كه څوك وايي چې: د ذكر شوي قول په بنياد د ﴿يَوْمَ ٱلْحَجِّ﴾ په نزول سره مطلب پوره كېږي نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ٱلْأَكْبَرِ﴾ د كلمې په نزول كښې څه حكمت دی، ځكه چې حجونه خو نظر مناسكو ته ټول يو برابر دي، اصغر او اكبر پكښې نشته؟

مونږ وايو چې:

الف: د ځينو علماوو كرامو نظر دا دي چې[1] ذكر شوي حج ته (چې امارت يې د ابو بكر الصديق ﷺ په غاړه وه) ځكه د "أَكْبَر" لقب وركول شوی دی چې په دغه حج كښې عرفات د جمعې په ورځ وه لكه څنګه چې د حجة الوداع د عرفات ورځ هم د جمعې ورځ وه[2] نو په دې تقدير بايد د قيامت د ورځې پورې هغه هر يوه حج ته د "أَكْبَر" لقب وركړى شي كوم چې عرفات يې د جمعې په ورځ وي او د نبي كريم ﷺ د حج (حجة الوداع) سره موافق وي.

دا وجه كمزورې ده ځكه چې سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځې چې صحابه وو كرامو ﷺ د ايت شريف د نزول په وخت كښې ﴿ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ﴾ پېژاند، حال دا چې د ذكرو شوو دواړو حجونو توافق خو يو كال وروسته د حجة الوداع په موقع څرګند شو او د ايت شريف د نزول په وخت كښې ورباندې څوك پوه نه وه.

ب: نو د نوموړو اصلي وجه دا ده چې: «وَإِنَّمَا قِيلَ الْأَكْبَرُ مِنْ أَجْلِ قَوْلِ النَّاسِ الْحَجُّ الْأَصْغَرُ»[3] يعني: حج ته ځكه د اكبر لقب وركړى شوى دى چې د ايت شريف د نزول په وخت كښې خلكو عمرې ته د "الْحَجُّ الْأَصْغَرُ" (كوچنى حج) لقب وركاوه. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: د ذكرو شوو ايتونو مضامين خلكو ته د عمرې په موقع نه، بلكې د حج په موقع اعلان كړئ چې خلك بنه ډېر وي او ګڼه ګوڼه ښه زياته وي ترڅو هيڅوك ناخبره پاتې نه شي.

## تبصره

٨_ ځينو مفسرينو كرامو په دې باندې زيات زور اچولی دی چې ﴿يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ﴾ د "يَوْمَ النَّحْرِ" څخه عبارت ده، او دوهم قول ته يې صواب ويلى دى[4]. خو مونږ ته دريم قول په زړه پورى ښكاري چې د ﴿يَوْمَ﴾ څخه متعارفه ورځ مطلب نه ده بلكې د حج د مناسكو ټول وخت ترې مراد دى ځكه چې صحابه وو كرامو ﷺ لكه څنګه چې ذكر شوى اعلان په "يَوْمَ النَّحْرِ" كښې كړى وه[5] او ښيمه

(١) تفسير الخازن ج٣ ص٨٣
(٢) اسباب النزول للواحدي ص١٢٦
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٤٥١
(٤) تفسير الطبري ج١٠ ص٧٤
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص٦٧١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په خېمه ګرځېدلي وه همدارنګه يې د عرفات په ورځ هم په همدغه اعلان باندې خلکو ته اطلاع ورکړې وه[۱]. که بالفرض مشخصه ورځ مراده وی نو ضرور به دوی د عرفات په ورځ ساکت پاتې شوي وی، حتی په ځينو رواياتو کښې شته چې ذکر شوی اعلان علي ﷜ د ذوالحجې په اتمه نېټه (د حج څخه وړاندې) په مکه معظمه کښې هم کړی وه[۲].

## د حج امير څوک وه؟

۹ـ د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته د نبي کريم ﷺ په ژوند کښې د حجت الوداع څخه په غير مسلمانانو دوه حجونه کړي دي چې تفصيل يې لاندې لوستلی شي:

الف: نبي کريم ﷺ د هجرت په اتم کال د روژې په مياشت کښې مکه معظمه فتحه کړه او بيا د حنين او اوطاس په غزاګانو باندې مشغول شو خو کله چې د غنيمتي مالونو د وېش څخه فارغ شو نو د جعرانې څخه يې د ذوالقعدې په مياشتې کښې د عمرې احرام وتاړه او چې کله د عمرې څخه فارغ شو نو مدينې منورې ته يې تشريف وېوړ او د مکې معظمې د انتظام دپاره يې عتاب بن اسيد ﷜ د والي په حيث مقرر کړ او د ورځې يو درهم معاش يې ورته وټاکه[۳].

نو په دغه (اتم) کال کښې د حاجيانو امير همدغه ذکر شوی صحابي وه چې د اسلامي حج اولنی امير ګڼلی کېږي، په دغه کال کښې اطرافي مشرکانو هم د خپل دود او دستور په مطابق حج وکړ.

ب: د هجرت په نهم کال نبي کريم ﷺ د روژې په مياشت کښې د تبوک د غزا څخه فاتحانه راستون شو نو اراده يې وکړه چې پخپله حج ته تشريف يوسي، مګر بيا دا فکر ورغی چې سږکال به هم د تېر کال په شان مشرکان حج ته راشي او د مشرکانه دستور په مطابق به په برېنډه توګه طواف کوي نو ښه دا ده چې سږ کال حج ته لاړ نشم او صحابه کرام ﷺ ولېږم ترڅو مشرکانو ته خبر ورکړي چې بل کال ته به هيڅوک د حج په دوران کښې په برېنډه توګه طواف نه کوي.

نو په همدې بنياد يې صحابه وو کرامو ﷺ ته د حج اجازه ورکړه او ابو بکر الصديق ﷜ يې ورته د امير په حيث وټاکه[۴].

بيا د ابو بکر الصديق ﷜ د سفر څخه وروسته ذکر شوي ايتونه او څو نور ايتونه نازل شوه چې د رواياتو په اختلاف سره شمېر يې اته ويشت ايتونو ته رسېده[۵] نبي کريم ﷺ ته وويل شوه چې کاشکې دغه تازه نازل شوي ايتونه دې ابو بکر ﷜ ته استولي وی ترڅو د حج په مواقعو کښې يې خلکو ته اعلان کړي[۶] خو نبي کريم ﷺ علي ﷜ ته وظيفه ورکړه چې د حاجيانو قافله تعقيب کړي او

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۳۲؛ تفسير الخازن ج۳ ص۸۰
(۲) سنن النسائي ج۲ ص۴۲
(۳) سيرت ابن هشام ج۴ ص۱۴۸
(۴) المحرر الوجيز ج۸ ص۱۳۰
(۵) احکام القران للجصاص ج۳ ص۷۹
(۶) زاد المسير ج۳ ص۲۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکې معظمې ته لاړ شي او د حاجیانو په ګروپ کښې شامل شي ترڅو په وخت سره ټول خلک د ذکرو شوو ایتونو په مضمون خبر کړي.

نبي کریم ﷺ د علي ؓ د استولو وجه داسې بیانه کړه چې: «لا یُؤَدِّي عَنِّي إِلَّا أَنَا أَوْ رَجُلٌ مِنِّي»(۱) یعني: څرنګه چې ما پخپله د مشرکانو سره عهدونه کړي دي نو په کار دي چې د عهد ماتونې اعلان یا زه پخپله وکړم او یا یې هغه څوک وکړي کوم چې زما د اهل څخه شمېرل کېږي، که نه نو متعهد عرب به د بل چا په خوله باندې اعتماد ونه کړي (لکه چې همدا ډول عادت په دوی کښې جاري دي)، او پوره څرګنده ده چې ابو بکر الصدیق ؓ زما د اهل څخه نه دی (زما د تره زوی نه دی) نو د علي ؓ استول ضرور دي ځکه چې دا زما د اهل څخه دی (زما د تره زوی دی).

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د ابو بکر الصدیق ؓ د استولو په وخت کښې ذکر شوي ایتونه نازل شوي وه او نبي کریم ﷺ نوموړي ته وظیفه ورکړه چې د حج په مواقعو کښې یې خلکو ته اعلان کړي، خو وروسته یې ذکره شوې وظیفه د هغه څخه واخستله او علي ؓ یې پرې مکلف کړ(۲)؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه دواړه ډوله روایات یو تربله تطبیق ته اړتیا نه لري؟

مونږ وایو چې: یوه ورځې د علي ؓ څخه پوښتنه وشوه چې ته د حج په موقع په کومو کومو شیانو باندې استولی شوی وې؟ نو ده ؓ جواب ورکړ چې: «بُعِثْتُ بِأَرْبَعٍ» الحدیث(۳) یعني: زه په لاندې څلورو شیانو باندې استولی شوی وم:

الف: هیڅوک به بربنډ طواف نه کوي (لکه چې د مشرکانو عادت وه).

ب: هرچا چې د نبي کریم ﷺ سره معاهده کړې وي (او په معاهده کښې د کوم خیانت نه وي مرتکب شوی) نو د ده معاهده د خپلې ټاکلې شوې نېټې پورې دوام لري، اما چا چې بالکل معاهده نه وي کړي (او یا یې معاهده کړې وي خو په معاهده کښې د څه نقصان او خیانت مرتکب شوی وي) نو د دغو دواړو ډلو سره تر څلورو میاشتو معاهده ده، چې د دغې نېټې څخه وروسته به یا په اسلام باندې مشرف کېږي او یا به ورسره جهاد پیل کېږي.

ج: خبردار! جنت ته نه داخلېږي مګر هغه څوک چې مؤمن وي.

د: د سږ کال څخه په غیر به (د حج په موقع) مشرکان او مسلمانان نه جمعه کېږي. یا په بل عبارت: په راتلونکي کښې مشرکان حج ته نه شي راتلای.

نو زمونږ په نزد د دواړو روایتونو تطبیق دا دی _والله ﷻ اعلم_ چې: د ذکرو شوو څلورو موادو څخه به صرف دوه مواد (څوک به بربنډ طواف نه کوي، جنت ته فقط مؤمن داخلېږي) ابو بکر

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰؛ سنن الکبری للنسائي ج۵ ص۱۲۹؛ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۶۴
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۴۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۳۳
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الصدیق ﷺ ته ورکړی شوي وه، او متباقي دوه مواد به (د معاهدې تفصیل، بل کال ته مشرک حج ته نه شي راتلای) د علي ﷺ په لاس وروسته وراستولی شوي وي، چې په لاره کښې به ځلور واړه مواد په اجتماعي توګه همده ﷺ ته ورسپارلي شوي وي.

نو کومو راویانو چې د ابو بکر الصدیق ﷺ دوه موادو ته کتلي دي نو هغوی نظر ورکړی دی چې د اعلان مواد همده ﷺ ته ورکړی شوي وه او په لاره کښې ترې علي ﷺ تسلیم کړه. او چا چې د علي ﷺ دوه موادو ته کتلي دي نو هغوی روایت کړی دی چې همده ﷺ ته د نبي کریم ﷺ د پلوه مستقیماً ورکړی شوي وه.

## اهل التشیع څه وایي؟

۱۱_ اهل التشیع وایي چې ابو بکر الصدیق ﷺ د امارت څخه عزل شوی دی او د حجاجو امارت علي ﷺ ته سپارلی شوی دی، نو معنی یې دا ده چې د نبي کریم ﷺ وفات څخه وروسته هم ابو بکر الصدیق ﷺ د خلافت مستحق نه وه بلکې خلافت د علي ﷺ استحقاق وه، په غاصبانه توګه د ده د لاسه ویستلی شوی دی. یاپه بل عبارت: "پیامبر با این کار برتر بودن مقام علي ﷺ را از همه صحابه کرام ﷺ مشخص ساخته است"[۱] یعنې: د دې کار څخه څرګندېږي چې نبي کریم ﷺ نوموړی د ټولو صحابه وو کرامو ﷺ څخه په درجه کښې لوړ ګرځولی دی.

مونږ أهل السنة و الجماعة وایو چې: ابو بکر الصدیق ﷺ د وظائفو څخه صرف د اعلان موضوع علي ﷺ ته سپارلې شوې وه او د هغه په امارت کښې نور هیڅ تغیر نه وه واقع شوی بلکې په خپله علي ﷺ د ده د امارت لاندې وه. د ښه وضاحت په غرض لاندې نکاتو ته توجه وکړئ:

الف: کله چې علي ﷺ د نبي کریم ﷺ په اوښه (العَضْبَاء) باندې سور قافلې ته ور ورسید نو ابو بکر الصدیق ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې: «أَمِيرٌ أَوْ مَأْمُورٌ؟» یعنې د امیر په حیث راغلې او که د مامور په حیث؟ علي ﷺ جواب ورکړ چې «بَلْ مَأْمُورٌ»[۲] بلکې د مامور په صفت راغلم (ستا امارت په خپل حال قائم دی).

ب: په اول ملاقات کښې ابو بکر الصدیق ﷺ د علي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: «أَمِيرٌ أَمْ رَسُولٌ» یعنې: ته د امیر په حیث راغلې (چې د قافلې امارت ستا په غاړه دی) او که د استولي شوي په صفت (چې د کومې خاصې موضوع دپاره را استولی شوی یې)؟ هغه وویلې: «لَا بَلْ رَسُولٌ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ بِبَرَاءَةَ أَقْرَؤُهَا عَلَى النَّاسِ فِي مَوَاقِفِ الْحَجِّ»[۳] نه بلکې زه فقط استولی شوی یم نبي کریم ﷺ د سورت براءة سره را استولی یم ترڅو د حج په مواقفو کښې یې په خلکو باندې قرائت کړم.

---

(۱) تفسیر نمونه ج۷ ص۲۸۰
(۲) سیرت ابن هشام ج۴ ص۲۰۳؛ تفسیر الطبري ج۱۰ ص۶۵
(۳) سنن النسائي ج۲ ص۴۲

Scanned by CamScanner

عجیبه خبره دا ده چې علي ﷺ په خپله اقرار کوي زه د امیر په حیث نه وم استولی شوی چې ابو بکر الصدیق ﷺ مې د امارت څخه عزل کړی وی، مګر اهل التشیع وایي چې دغسې نه وه، ته به وایې چې علي ﷺ مخاطب کوي چې ته دروغ وایې.

ج: ابو هریره ﷺ وایي چې: «بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِي تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي مُؤَذِّنِينَ يَوْمَ النَّحْرِ نُؤَذِّنُ بِمِنًى أَنْ لا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ»[1] یعنې: زه هم ابو بکر ﷺ د دغه حج په موقع د لوی اختر په ورځ د اعلان کوونکو په ډله کښې ولیږلم، مونږ به په منا کښې اعلان کاوه چې د سږ کال څخه په غیر هیڅ مشرک حج نه شي کولی.

نو که بالفرض ابو بکر ﷺ د حج د امارت څخه عزل شوی وی نو ابو هریره ﷺ به یې په اعلان کوونکو کښې نه ټاکلی بلکې دا کار به علي ﷺ کړی وی.

د: د علي ﷺ څخه روایت دی چې کله ابو بکر الصدیق ﷺ د عرفې په ورځ خپله خطبه ختم کړه (او خلکو ته یې مناسک وروښودل) نو ما ته یې مخ راواړه او امر یې راته وکړ چې: «قُمْ يَا عَلِيُّ فَأَدِّ رِسَالَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[2] ای علي! پورته شه او د پیغمبر ﷺ پیغام خلکو ته ابلاغ کړه.

په دې مقام کښې که څوک زیات اوږد بحث غواړي نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[3] همدارنګه ځینو مفسرینو کرامو[4] د عهد د ماتونې د جواز صورتونه ښه مفصل لیکلي دي چې مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه.

﴿ فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾ وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ﴿٦﴾ ﴾

[۵] نو کله چې (ذکر شوي څلور) حرامې میاشتې تېرې شوې نو په هرځای کښې مو چې مشرکان مونده کړه ویې وژنئ او ویې نیسئ (بندیان یې کړئ). او (بالآخره) محاصره یې کړئ او په هرځای (مورچه) کښې ورته کښېنئ.

نو که توبه یې (د شرک څخه) وکړه او لمونځونه یې ودرول او زکاتونه یې ورکړه نو لار یې (بیا) پرېږدئ. یقیناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۳
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۳۴؛ المحرر الوجیز ج۸ ص۱۳۱
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۴۵؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۸۲
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۷۷؛ التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۲۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] او که د مشرکانو څخه کوم یو نفر ستا څخه پنا (امان) وغواړي نو امان ورکړه ترڅو د الله ﷻ کلام (قرآن کریم) وواري، بیا یې د خپل امن ځای (ټاټوبي) ته ورسوه (او د ده سره د هر ډول خیانت او ټګۍ مخه ونیسه). دا (امان) ځکه (ورکړه چې) یقیناً دوی ناپوهه قوم دی (ترڅو دوی د قرآن کریم او ستا د احادیثو په اوریدلو سره پوه شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه حکم بیان شوی دی کوم چې د څلورو میاشتو د تېرېدلو څخه وروسته باید په مشرکانو باندې تطبیق شي چې لنډیز یې داسې راوځي:

ای مؤمنانو! کله چې د اعلان څخه وروسته څلور میاشتې تېرې شوې او د امان موده ختمه شوه نو د مشرکانو سره په لاندې ډول معامله وکړئ:

۱_ دوی ووژنئ هرچرته چې ورباندې ستاسو لاس بر شي او هر چرته چې تاسو مونده کړه، که څه هم د حرم شریف په داخل کښې لاس ته درشي.

۲_ همدارنګه د مشرکانو په بندي کولو باندې هم دریغ مه کوئ.

۳_ دوی په خپلو قلاګانو او نورو ځایونو کښې محاصره کړئ.

۴_ په دې ټولو باندې دپاسه په هره مورچه او په هر څارنځای کښې ورته کښېنئ او کمین ورته ونیسئ بلکې د تګ راتګ ټولې لارې ورباندې وتړئ.

۵_ که مشرکان د شرک (کفر) څخه توبه تائب شوه او د اسلام احکام یې په خپلو ځانونو باندې په څرګنده توګه عملي کړه چې لمونځونه یې ودرول او زکاتونه یې ورکړه نو بیا د دوی څخه ذکر شوي ټول قیودات لرې کړئ او لارې یې پرانیزئ.

۶_ په دغه وخت کښې دوی ته پخواني کفریات په زړونو کښې مه ساتئ، چې په فلاني وخت کښې دې دا کار کړی وه او په فلاني وخت کښې دا، بلکې په دغه وخت کښې د پخوانیو ټولو ګناهونو څخه ورتېر شئ ځکه چې الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی نو تاسو هم د ښښنې او مهربانۍ څخه کار واخلئ.

۷_ هو! که کوم یو مشرک غواړي چې د اسلام په حقائقو باندې ځان ښه پوه کړئ او ستا څخه پناه وغواړي ترڅو ستا څنګ ته درشي او پوښتنې وکړي، نو ای پیغمبره! هغه ته پناه ورکړه چې د الله ﷻ کلام (قرآن کریم) ستا د مبارکې خولې څخه واوري او ستا د ناستې ولاړې د انوارو څخه مستفید شي نو هغه ته پناه ورکړه او بیا یې خپل ټاټوبي (د امن ځای) ته په امن سره ورسوه چې په تګ راتګ کښې ورته هیڅ ضرر ونه رسولی شي.

د څلورو میاشتو په مودې باندې دپاسه ځکه دوی ته د پوښتنې کولو موقع هم ورعنایت کړی شوه چې مشرکان ناپوهه او جاهل قوم دی، پوه کول یې په کار دي چې په اخلاص سره په ایمان باندې مشرف شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ علماء كرام په دې مقام كښې د ﴿ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ ﴾ كلمات په لاندې دوه ډوله باندې تفسيروي:

الف: ځينې وايې چې دلته هغه څلور محترمې مياشتې مرادې دي چې آن د ابراهيم ﷺ څخه په عربو كښې محترمې ګڼلې كېدلې او بحث يې په [التوبة: ۳۶] ايت كښې راروان دی، د دغو څلورو مياشتو نومونه دادي: رجب، ذو القعده، ذو الحجه، محرم[۱].

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي: چې كله محترمې مياشتې تېرې شوې نو مشركان ووژنئ، يا په بل عبارت: كله چې د ذوالحجې شل ورځې او د محرم ديرش ورځې (ټوله مياشت) تېرې شوې (چې ټولې پنځوس ورځې كېږي) نو د مشركانو سره ذكره شوې معامله پيل كړئ دا ځكه چې د محترمو مياشتو څخه خو دوه مياشتې (رجب، ذوالقعده) او د (ذو الحجې) لس ورځې تېرې شوې دې ځكه چې ذكر شوې اعلان د ذو الحجې په لسم باندې په كلكه سره صورت نيولى وه او ډېر زور ورباندې اچولى شوی وه. مونږ ته د لاندې وجوهو د كبله دا تفسير كمزوری ښكاري:

اول: دا تفسير د قرآن كريم د سياق څخه مخالف دی چې د سورت د اول سر څخه بحث په دې كښې راروان دی چې مشركانو ته څلور مياشتې ازادي وركړئ او بيا پرې د محاصرې كړه را تنګه كړئ؛ حال دا چې د ذكرو شوو څلورو مياشتو ازادي خو آن د ابرهيم ﷺ څخه را پاتې وه.

دوهم: دا تفسير د ذكر شوي دوهم ايت سره مناقض ښكاري چې هلته د څلورو مياشتو د ازادۍ وعده وركړې شوې ده او دلته فقط پنځوسو ورځو ته راښكته كړی شوه.

ب: نور علماء كرام وايي چې د ﴿ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ ﴾ څخه هغه څلور مياشتې مرادې دي كومو ته چې په ﴿ فَسِيحُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ ﴾ كښې اشاره شوې ده، دغه څلور مياشتې د ذوالحجې د لسم څخه پيل كېږي او د ربيع الثاني په لسم باندې ختمېږي[۲].

يعنې: محرم، صفر، ربيع الاول، درې مياشتې مكملې دي او څلورمه مياشت د ذو الحجې د شلو ورځو او د ربيع الثاني د لسو ورځو څخه تشكيله شوې ده.

دا تفسير ځكه بهتر ښكاري چې بحث په همدې كښې روان دی او په ﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ﴾ كښې د "ف" توری هم ورباندې دلالت كوي چې د تفريع دپاره دی.

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: كله د ازادۍ ذكرې شوې څلور مياشتې پوره شوې نو بيا د مشركانو سره داسې-داسې كړنلاره عملي كړئ.

### سوال جواب

۲ـ كه څوك وايي چې: كه دلته د ﴿ ٱلْأَشْهُرُ ﴾ څخه هغه "اشهر" مراد وي كومو ته چې لږ وړاندې

---

(۱) تفسير القاسمي ج۸ ص۱۳۲
(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۳۳۶؛ روح المعاني ج۱۰ ص۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په ﴿ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ ﴾ کښې اشاره شوې ده نو په کار وه چې په ضمیر سره ذکرې شوې وی ځکه چې د عربیت د قوانینو مطابق هر شی دوهم کرت په ضمیر سره ذکر کېږي نو معلومه شوه چې اولنی تفسیر غوره دی؟

مونږ وایو چې: دلته ځکه په دوهم کرت په ضمیر سره ذکر نه شو ترڅو د ﴿ ٱلْأَشْهُرُ ﴾ هغه صفت دلته په صراحت سره ذکر شي کوم ته چې په وړاندېنې ذکر کښې ضمني اشاره شوې وه، هغه دا چې په دغو څلورو میاشتو کښې په تاسو باندې د مشرکانو وژل حرام دي او د سږ کال دپاره دغه څلور میاشتې داسې محترمې دي لکه څنګه چې مشهورې څلور میاشتې محترمې دي.

نو که بالفرض دا ځل په ضمیر سره نازل شوې وی نو ضرور به د ﴿ ٱلْحُرُمُ ﴾ صفت هم نه وی نازل شوی او په ضمني مذکور باندې به صراحت نه وی شوی ځکه چې ضمائر خو موصوف نه واقع کېږي، او د عربیت د قوانینو څخه خو د دغسې نکاتو د کبله مخالفت کول څه بده خبره نه ده، بلکې د حال مقتضی او غوښتنه ده[۱].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې مشرکان د قتل څخه په دریو شرطونو (د شرک څخه توبه کول، د لمانځه ودرول، د زکات ورکول) باندې نجات مومي؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا هغه څوک وژلی کېږي چې ذکر شوي درېواړه شرطونه پوره نه کړي، مثلاً مسلمان شي خو لمونځ ونه کړي او یا زکات ورنه کړي؟

مونږ وایو چې:

الف: دلته د ﴿ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ څخه عمل مطلب نه دی، دلته ترې په لمانځه او زکات بلکې په ټولو احکامو باندې د فرضیت عقیده مراده ده، او پوره څرګنده ده چې د شرک څخه توبه کول په هغه وخت کښې شرعاً معتبر دي چې په فرضي احکامو باندې عقیده ورسره ملګرې وي.

د همدې کبله د هغه چا وژل هیڅوک جائز نه بولي چې د شرک څخه توبه تائب شي او په شرعي احکامو باندې عقیده او باور وکړي خو د فرضي لمانځه وخت نوي وررسېدلی چې لمونځ وکړي او په مال باندې یې د کال دوران نه وي تېر شوی چې زکات ورکړي[۲].

ب: که د ﴿ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ دواړه جملې په خپله متبادره معنی باندې واخلو هم څه اشکال نشته. او دا ځکه چې د څلورو میاشتو د پوره کېدلو څخه وروسته الله ﷻ د مشرکانو دپاره څلور جزاوې (وژل، بندي کول، محاصره کول، د څارنې لاندې نیول) ټاکلي دي خو کله چې د

---

(۱) مختصر المعاني ص۶۸
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


شرک څخه توبه تائب شي نو د وژلو څخه بچ کېږي، اما که د توبې څخه وروسته شریعت عملي نه کړي اسلامي حاکم کولی شي چې د متباقي جزاګانو څخه کومه یوه ورباندې تطبیق کړي.

د همدې کېله الله ﷻ د ذکرې شوې شرطیه جملې دپاره د "فَلاَ تَقْتُلُوهُمْ" جمله جزا نازله نه کړه بلکې د ﴿ فَخَلُواْ سَبِيلَهُمْ ﴾ جمله یې ورته جزا واقع کړه، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې:

که مشرکانو د شرک څخه توبه وکړه نو د وژلو څخه یې صرف نظر شئ، مګر لاره یې په مکمله توګه د ترهغه مه خالي کوئ چې ترڅو د اسلام شرائع په خپلو ځانونو باندې عملي کړي، او عملاً په اسلام کښې ننوزي.

هو! که څوک د متباقي جزاګانو تطبیق ته غاړه کښېنږدي او د اسلامي حکومت په مقابل کښې جبهه جوړه کړي نو بیا ورسره مسلح جهاد فرض دی، لکه چې ابو بکر الصدیق ؓ د زکات د مانعینو په مقابل کښې په ذکر شوي اساس جهاد پیل کړی وه چې لږ څه زیاته څېړنه یې د [النساء: ۶۰] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمدلله ﷻ.

ذکر شوی ایت شریف نبي کریم ﷺ څومره ښه تفسیر کړی دی چې: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ»(۱). یعنې: ماته امر شوی دی چې ترهغه د خلکو سره وجنګېږم ترڅو دوی شهادت ورکړي چې په حقه معبود د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نشته او یقینًا محمد ﷺ د الله ﷻ استولی شوی دی.

او ترڅو دوی لمونځونه ودروي او زکاتونه ورکړي، نو کله چې دوی ذکر شوي کارونه وکړه نو زما د جنګ څخه یې خپلې وینې او خپل مالونه وساتل، مګر د اسلام په حق سره چې یا بل څوک ووژني او یا د چا مال تلف کړي، نور حساب کتاب یې په الله ﷻ باندې دی په زړونو باندې یې همدی ﷻ ښه پوهېږي او بس.

## په اسلام کښې د مستامن حفاظت فرض ده

۴ـ نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف ډېر ښه تفسیر کړی، دی لاندې یې ولولئ:

الف: «مَنْ أَمَّنَ رَجُلاً عَلَى نَفْسِهِ فَقَتَلَهُ أُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»(۲) یعنې: هرڅوک چې چاته د ده په ځان باندې امان ورکړي نو بیا یې ووژني هغه ته به د قیامت په ورځ د ټګی بیرغ ورکړی شي.

ب: «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِغَدْرَتِهِ»(۳) یعنې: د هر ټګمار دپاره د قیامت په ورځ د ده د ټګی په اندازه بیرغ دی (چې په کوناتې باندې به یې ربېږي).

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۲۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ
عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ
٧ كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ
وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨ ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن
سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ١٠ ﴾

[۷] (ای مؤمنانو!) د الله ﷻ په نزد او د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ په نزد به مشرکانو لره (ستاسو سره) معاهده څنګه (ادامه) وکړي (حال دا چې دوی په معاهده کښې رښتیني نه دي)، مګر هغه کسان چې تاسو ورسره المسجد الحرام ته په نژدې ځای کښې معاهده کړې ده (او دوی وربانديې تر اوسه پورې ولاړ دي).

نو ترڅو پورې چې دوی (په خپل عهد باندې) ستاسو دپاره ولاړ وي نو تاسو هم د دوی دپاره (پرې) ودرېږئ (د عهد ماتوني اعلان ورته مه متوجه کوئ او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ متقیان (پرهېزګاران) خوښوي.

[۸] (ای مؤمنانو!) څنګه (به ستاسو او د دوی ترمنځ معاهده ادامه وکړي چې) که (بالفرض) د دوی په تاسو باندې لاس بر شي نو ستاسو په هکله به نه د قرابت لحاظ وساتي او نه د عهد (او نه د بل شي).

دوی تاسو لره (فقط) په خپلو خولو (غوړمالو خبرو) خوشالوي او د دوی زړونه (ستاسو د معاهدې څخه) منعه کوي (د دوی معاهدې په چل باندې ولاړې دي)، او (دا ځکه چې) د دوی اکثریت فاسقان دي (او د انسانیت د چوکاټ څخه وتلي دي).

[۹] دوی د الله ﷻ په ایتونو باندې ناچیزه پیسې اخلي (د خپلو خواهشاتو پیروي کوي) نو د الله ﷻ د لارې څخه (خپله هم) اوړي (او نور خلک هم ترې اړوي).

یقیناً هغه شی ډېر ناکاره دی چې دوی یې په دوامداره توګه کوي (چې د الله ﷻ د ایتونو څخه اوښتل او اړول دي).

[۱۰] دوی د هر مؤمن په هکله نه د قرابت لحاظ ساتي او نه د عهد او دغه (مشرکان) همدوی د حد څخه تېرونکي دي.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د هغه سوال جواب پیل کېږي کوم چې د وړاندېنیو ایتونو څخه سړي ته ذهن

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه ورځې هغه دا چې: ايا دا خبره به بهتره نه وه چې مؤمنانو په خپلو عهدونو باندې وفا کړې وی او د مشرکانو د عهدونو څخه يې برائت نوی اعلان کړی؟. دجواب حاصل يې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو بايد د منافقانو او معاندينو د تشويشونو دتاثير لاندې واقع نه شئ. البته کله چې تاسو ټولو مشرکانو ته د عهدونو څخه بېزاري اعلان کړه او ځلور مياشتې مو د تفکر دپاره وخت ورکړ. د دوی اعتراضات دا دي چې تاسو ولې په خپلو عهدونو باندې وفا ونه کړه، د وخت څخه وړاندې مو د عهد ماتونې اعلان وکړ، ايا بې لوظي ښه کار دی؟

۲ـ ای مؤمنانو! په عوض د دې چې تاسو اعتراض کوونکو ته جواب ورکړئ د هرڅه څخه وړاندې د خپلو ځانونو سره ښه تفکر وکړئ چې په ذکر شوي اعلان کښې د ملامتی ګوته بايد تاسو ته ونيوه شي او که هغوی ته؟ د همدغه اعلان باعث تاسو ياست او که هغوی؟ نو په دې باره کښې تاسو لاندې نکاتو ته متوجه شئ:

۳ـ ای مؤمنانو! د يوې ډلې څخه په غير د نورو مشرکانو سره به د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ د معاهدې باقي پاتې کېدل څنګه امکان ولري چې دوی په هر ځل معاهدې کښې خپله معاهده د پښو لاندې کوي او هيڅ ډول په خپلو معاهدو باندې نه ودرېږي.

د المسجد الحرام په شاوخوا (حديبيه) کښې تړل شوې معاهده چا ماته کړه؟ ايا د ماتولو څخه وړاندې يې تاسو ته خبر درکړی وه؟ .

عجيبه دا ده چې خپل ځانونه د خيانت په تورګه په عهد ماتونې باندې نه ملامته کوي او تاسو ته د عهد په ختمولو باندې د ملامتی ګوته نيسي، که بالفرض هغوی بدعهدی نه وی کړې نو تاسو به عهدونو ته خاتمه نه وی ورکړې.

لنډه دا چې کومه پړه چې معاندين په تاسو باندې در تپي هغه په حقيقت کښې په خپله په هغوی باندې پرته ده.

۴ـ ای مؤمنانو! د همدې کبله تاسو ته توصيه کېږي چې د هغې ډلې مشرکانو سره په خپلې تاکلې معاهده باندې وفا وکړئ کومو چې ستاسو سره د المسجد الحرام په شاوخوا کښې معاهده کړې وه او بيا په خپله ژمنه باندې کلک ودريده، نو ترڅو چې دوی همدغسې کلک وي نو تاسو هم ورسره په معاهدو کلک اوسئ ځکه چې الله ﷻ پرهيزګاران خوښوي، که بالفرض تاسو د دغې ډلې کافرانو سره خيانت وکړئ (چې ستاسو سره يې هيڅ خيانت نه دی کړی) نو دا به ستاسو پرهېزګارۍ ته زيان ورسوي.

۵ـ ای مؤمنانو! هسې نه چې عهد ماتوونکو مشرکانو پخوانۍ بدعهدی وکړې او نورې به نه کوي، بلکې دوی په راتلونکې کښې هم د بدعهديو څخه لاس نه اخلي، نو دوی سره به ستاسو معاهدې څنګه ادامه مونده کړی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د راتلونکو حالاتو څو مثالونه يې ولولئ:

الف: عهد ماتونکي مشرکان تاسو ته بې اندازې غُصې نیولي دي که بالفرض په تاسو باندې يې لاس بر شي او وسه يې درباندې وشي نو دومره بې عزتي به درواړوي چې په دنیا کښې به يې نظیر نه لیدلی شوی وي او نه به ولید شي، دوی به په دغه وخت کښې نه د قرابت (قوم ولی) مراعات وکړي او نه به د خپلو عهدونو او ژمنو ساتل په نظر کښې ونسي، په دغه وخت کښې به تاسو خیال ونه کړئ چې دوی هغه خلک دي کومو چې زمونږ عهدونو ته انجام ورکول خیانت ګڼه او په مونږ يې اعتراض کاوه.

ب: ای مؤمنانو! دوی ستاسو سره د زړه د کومې معاهدې نه کوي بلکې د معاهدې کولو په وخت کښې هم د دوی نیت تاسو ته صاف نه دی، دوی غواړي چې محض د خولو په غوړو خبرو باندې تاسو خوشاله او راضي کړي. اما د دوی زړونه ستاسو سره معاهدې نه قبلوي او دا ځکه چې د دوی اکثریت فاسقان دي او فاسقان همدغسې خوی لري.

ج: ای مؤمنانو! ذکر شوي خلک به ولې فاسقان نه وي چې د الله ﷻ د ایتونو په بدل کښې يې ډېرې ناچیزه پیسې اخستي دي، دوی ته الله ﷻ قرآن کریم ورواستاوه چې دنیا او آخرت ورباندې دواړه وګټي مګر دوی هغه ضائع کړ (ایمان يې ورباندې رانهووړ) او په فاني دنیا باندې کلک شوه نو د همدې کبله هم پخپله د الله ﷻ د لارې څخه واووښتل او هم يې ترې نور خلک واړول، واقعاً چې دوی ډېر بدکار وکړ.

د: ای مؤمنانو! مشرکانو ته په بل هیڅ شي غُصه نه ورځي او بل هیڅ شي نه دي په غُصه کړي بې د دې څخه چې تاسو په ایمان باندې مشرف شوي یاست نو په حقیقت کښې د دوی ایمان بد ایسي د همدې کبله یوازې په تاسو کښې نه بلکې د جمله مؤمن په باره کښې نه د خپلولۍ (قومیت) مراعات کوي او نه د عهد او معاهدې.

لنډه دا چې دغه ذکر شوي مشرکان (چې تاسو د دوی د عهدونو څخه برائت او بیزاري اعلانه کړه) تجاوز کوونکي خلک دي او همدا يې عادت دی، نو دوی سره همداسې په کار دي کوم چې تاسو ورسره وکړه.

## توضیحات

۱ـ دلته د ﴿عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ﴾ څخه د حدیبیې مقام مراد دی، په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ د مکې معظمې د قریشو سره او هم د څلورو عربي قبائلو (بني خزیمه، بني مدلج، بني ضمره، بني الدیل) سره معاهدې کړې وې[1].

قریشو خپله معاهده هغه وخت ماته کړه کله چې دوی د بني بکرو سره د بني خزاعه وو په خلاف د وسلې او جنګیالیو په ورکړه سره کومک وکړ او دا ځکه چې بني خزاعه د نبي کریم ﷺ حلیفان وو،

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص ۲۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په معاهدو کښې دا تکی هم شامل وه چې یو طرف به هم د بل طرف د حلیفانو په خلاف د چا سره کومک او مرسته نه کوي.

ذکرو شوو معاهدو د هجرت په شپږم کال باندې صورت نیولی وه او قریشو خپله معاهده د هجرت په اتم کال باندې ختمه کړه چې په دغه وخت کښې ذکر شوي ایتونه نه وه نازل شوي.

دا ایتونه د هجرت په نهم کال کښې نازل شوي دي که څه هم قریش په خپل عهد ماتونې باندې پښېمانه شوه او د وخت مشر (ابو سفیان) یې مدینې منورې ته د عهد د تجدید دپاره واستاوه مګر نبي کریم ﷺ ورسره عهد تجدید نه کړ[1].

او د خپلو حلیفانو (بني خزاعه وو) په مرسته یې د مکې معظمې د قریشو سره جهاد پیل کړ چې په نتیجه کښې د همدغه اتم کال د روژې په میاشت کښې مکه معظمه فتحه شو[2].

اما د متباقي څلورو قبائلو څخه یوازې بني ضمره او بني مدلج په خپلو عهدونو باندې قائم پاتې شوه او متباقي قبیلې لکه بني الدیل د خپلو عهدونو څخه واووښتې.

نو په همدغه ایت شریف کښې -چې سمدستي د بحث لاندې دی- ذکرو شوو قبائلو ته اشاره ده، نو چا چې عهد مات کړی وه هغوی ته په ﴿ كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ ﴾ کښې اشاره ده او څوک چې په عهد باندې ولاړ پاتې وه د هغوی په باره کښې د ﴿ فَمَا ٱسْتَقَـٰمُواْ لَكُمْ فَٱسْتَقِيمُواْ لَهُمْ ﴾ توصیه وشوه، د دغو دواړو قبیلو د معاهدو نهه میاشتې پاتې وې چې نبي کریم ﷺ یې معاهدې تر نهو میاشتو اوږدې کړې[3].

## "إلاً، ذِمَّة" څه معنی؟

۲ـ د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د ﴿ إِلاًّ ﴾ کلمه د قرابت څخه عبارت ده او د ﴿ ذِمَّةً ﴾ کلمه د عهد معنی ورکوي[4] خو ځینې علماء کرام وایي[5] چې ﴿ إِلاًّ ﴾ پنځه معناوې لري لکه الله ﷻ، قرابت، ګاونډ، عهد، سوګند. او "ذِمَّة" په درېوو معناوو کښې استعمالېږي، لکه عهد، آمان، سوګند.

زمونږ په نزد د ﴿ إِلاًّ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د هغه څرګند حالت څخه عبارت ده چې هر منصف سړی یې احترام واجب ګڼي او هیڅوک ترې انکار نه شي کولی لکه قرابت او سوګند، ځکه چې دغه کلمه په اصل کښې د شغلې او ځلېدلو په معنی سره ده[6].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۸ ص۶۶
(۲) سیرت ابن هشام ج۴ ص۱۴۸
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۴۹، تفسیر الطبري ج۱۰ ص۸۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۳۸
(۵) زاد المسیر ج۳ ص۳۷۳. لسان العرب ج۱۱ ص۲۵، ج۱۲ ص۲۲۱
(۶) مفردات الراغب ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د ﴿ ذِمَّةً ﴾ کلمه د هغه حالت څخه عبارت ده چې د هغه حالت په ضائع کولو باندې سړي ته ملامته او بدنامي راجع کېږي ځکه چې دا د "ذمام" څخه اخستله شوې ده او ذمام بدۍ او ملامتۍ ته ویل کېږي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای مؤمنانو! که په تاسو باندې د مشرکانو وسه ورسېږي نو دوی به د هیڅ شي احترام ونه کړي، نه به درباندې د قرابت او عهدونو په خاطر صرفه وکړي او نه د سوګندونو او ګواندیتوب په خاطر، په دغه وخت کښې به نه خپلې بدنامۍ ته وګوري او نه ملامتۍ او ګوت نیونې ته، نو د دغسې خلکو سره ستاسو د عهدونو باقي پاتې کېدل څه ارزښت لري؟

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دغو ایتونو کښې ذکر شوې دواړه کلمې دوه ځله نازلې شوې دي؟

مونږ وایو چې ـ والله ﷻ اعلم ـ: د ﴿ لَا يَرْقُبُواْ فِيكُمْ إِلاًّ وَلَا ذِمَّةً ﴾ په نزول کښې مطلب دا دی چې مسلمانانو ته قناعت ورکړي چې ستاسو او د دغو مشرکانو ترمنځ د عهدونو ادامه امکان نه لري، او د ﴿ لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلاًّ وَلَا ذِمَّةً ﴾ په نزول کښې د همدغه مطلب وجهې ته اشاره شوې ده چې ستاسو په باره کښې مشرکان ځکه په هیڅ شي باندې دیل نه دي چې تاسو مؤمنانو یاست او هغوی ته ایمان لوی جنایت ښکاري.

## یادونه

که څوک غواړي چې د مشرکانو هغه ظلمونه او نادودي ولولي کومې چې د تاریخ په اوږدو کښې د دوی د پلوه په مؤمنانو باندې اجراء شوي دي نو څینو اوږدو تفاسیرو[2] ته دې مراجعه وکړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ﴿ ٱشْتَرَوْاْ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلاً ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې د ﴿ ٱشْتَرَوْاْ ﴾ ضمیر اهل الکتابو ته راجع دی ځکه چې همدوی د الله ﷻ د ایتونو په تحریف باندې پیسې اخستې، لکه چې فرمایي ﴿ وَلَا تَشْتَرُواْ بِـَٔايَـٰتِي ثَمَنًا قَلِيلاً ﴾ [البقرة:۴۱] او زما په ایتونو باندې ناچیزه پیسې مه اخلئ. حال دا چې دغه ډول معنی په دې مقام کښې زړه ته نه لوېږي ځکه چې بحث په مشرکانو کښې روان دی؟

مونږ وایو چې: ټول کافران په دې معنی د الله ﷻ په ایتونو باندې د ناچیزه پیسو اخستونکي ګڼل کېږي چې دوی فاني دنیا اوناچیزه پیسې غوره کړې او د الله ﷻ ایتونو ته یې شا کړه چې دوی

(۱) مفردات الراغب ص۱۸۳
(۲) في ظلال القرآن ج۳ ص۱۶۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه نبي کريم ﷺ راوړي وه او د دوی په امکان کښې وه چې عقيده او عمل يې ورباندې وکړي، په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده[۱].

په دې باندې علاوه ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې ابو سفيان (چې په هغه وخت کښې د رضي الله عنه· لايق نه وه ګرځېدلی) اعرابو ته ډوډۍ (ميلمستيا) وکړه او په دې باندې يې راضي کړه چې د نبي کريم ﷺ سره خپل عهدونه مات کړي[۲].

نو په دې تقدير به ﴿ ثَمَنًا قَلِيلاً ﴾ د همدغې ډوډۍ (ميلمستيا) څخه عبارت وي. مګر مونږ ته لومړنۍ معنی په زړه پورې ښکاري.

﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ ۗ وَنُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١١﴾ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيْمَٰنَهُم مِّنۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُواْ فِى دِينِكُمْ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَٰنَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾ أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوٓاْ أَيْمَٰنَهُمْ وَهَمُّواْ بِإِخْرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ أَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾ ﴾

[۱۱] نو که دوی (د شرک څخه) توبه وکړه او لمونځونه يې ودرول او زکاتونه يې ورکړه (د شريعت د تعميل التزام يې وکړ) نو (په دغه صورت کښې دوی) په دين (اسلام) کښې ستاسو ورونه دي، او مونږ خپل ايتونه (ارشادات) ناپوهه قوم ته بيا-بيا واضحه کوو (شايد چې پوه شي).

[۱۲] او که دوی د خپلو عهدونو څخه وروسته خپل سوګندونه مات کړه (ماتولو ته يې ادامه ورکړه) او ستاسو په دين کښې يې عيبونه واچول (په خپل کفر باندې کلک شوه) نو تاسو (د دوی) د کفر د مشرانو سره وسلوال جهاد پيل کړئ (ځکه چې) دوی لره (په واقع کښې) هيڅ عهد (سوګند) نشته (فقط په خوله باندې د عهد او سوګند نومونه اخلي. د دې دپاره ورسره جهاد وکړئ) شايد چې دوی (د خپلې کړنلارې څخه) منعه شي (او په ايمان مشرف شي).

[۱۳] (ای مؤمنانو!) ايا تاسو د داسې قوم سره وسلوال جهاد نه کوئ چې دوی خپل عهدونه مات کړي دي او دوی د الله ﷻ پيغمبر ته (د خپل تاټوبي څخه) د ويستلو قصد کړی وه، حال دا چې همدوی اول ځل په تاسو باندې جنګ پيل کړی وه؟

ايا تاسو د دوی څخه ډارېږئ؟ نو الله ﷻ ښه مستحق دی چې تاسو ترې وډار شئ که تاسو (رښتياني) مؤمنان ياست (نو دا کار وکړئ).

---

[۱] في ظلال القرآن ج۳ ص۱۶۰۶

[۲] تفسير البغوي ج۲ ص۲۷۱

Scanned by CamScanner

## ارتباط

کله چې په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه اعتراض جواب شو کوم چې د عهدونو د برائت د اعلان څخه د چا په ذهن کښې تاوېده راتاوېده، نو په دې ایتونو کښې د خبرو مخ بېرته اصل مضمون ته ورواړولی شو چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! کله چې څلور میاشتې تېرې شوې البته هغه څلور میاشتې چې تاسو پکښې تولو مشرکانو ته ازادي ورکړې ده چې د خپلو ځانونو په هکله ښه پوره سوچ وکړي نو بیا په مشرکانو باندې د هیڅ شي دریغ مه کوئ ځکه چې تاسو ورته اعلان کړی دی او خپل دریغ مو ورته په ډاګه کړی دی، هیڅوک درباندې اعتراض نه شي کولی چې مشرکان مو په غافلانه توګه ونیول او د حملې لاندې مو واقع کړه.

نو که مشرکان د شرک څخه توبه تائب شوه او د لمانځه او زکات التزام یې وکړه نو په دې باندې علاوه چې لارې یې خوشې کړئ په دغه وخت کښې دوی ستاسو دیني ورونه ګرځي نو د ورونو په نظر ورته وګورئ، نه د دښمنانو په نظر، او پخوانۍ بدې خاطرې به یې تولې د زړونو څخه وباسۍ او کینه او عداوت به ورسره ختموئ.

۲ـ ای پیغمبره! وګوره مونږ خپل ایتونه او احکام په څومره واضحه توګه د ناپوهه قوم دپاره بیانوو خو د دې سره-سره دوی د اعتراض څخه لاس نه اخلي.

هو! که ذکرو شوو مشرکانو د څلورو میاشتو څخه وروسته خپل سوګندونه مات کړه او د عهد کولو څخه وروسته یې خپل د عهدماتونې ته ادامه ورکړه او ستاسو په دین باندې یې د عیب ګوتې کېښودې چې ستاسو د ناقص دین دپاره مونږ خپل کامل دین (شرکي دین) نه پرېږدو، نو تاسو پوه شئ چې دوی په دغه وخت کښې د کفر مشران ګڼل کېږي په تاسو باندې د دغو کفري مشرانو سره وسلوال جهاد فرض دی ترڅو د کفر مشران د منځه بوزئ او د کفر بنیاد وباسئ.

۳ـ ای مؤمنانو! تاسو ځکه دا کار وکړئ چې دوی لره په واقع کښې هیڅ عهد او سوګند پاتې نه دی چې د یو پلوه یې پخپله تول عهدونه مات کړي دي او د بله پلوه تاسو هم د هغوی د عهدونو بې اعتباري اعلانه کړې ده نو د جنګ څخه په غیر بله لاره پاتې نه ده، تاسو ورسره په ښه قوت جنګ وکړئ شاید چې دوی د شرکیاتو او کفریاتو څخه لاس واخلي.

۴ـ ای مؤمنانو! ایا تاسو به د داسې قوم سره هم وسلوال جهاد نه کوئ چې هغوی لاندې خاصیتونه لري:

الف: یو خاصیت یې دا دی چې خپل عهدونه یې ستاسو د اعلان څخه لا وړاندې د پښو لاندې کړي وه او د اعلان د مودې د پوره کېدلو څخه وروسته یې هم ادامه ورکړه.

ب: بل خاصیت یې دا دی چې په همدغو مشرکانو کښې داسې مشرکان تېر شوي دي چې د الله ﷻ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبر ﷺ ته یې قصد کړی وه چې د خپل د ټاټوبي څخه یې په دائمي توګه وباسي، مګر دا بېله خبره ده چې الله ﷻ په هغه باندې فضل وکړ او خپل ټاټوبی (مکه معظمه) یې ورته فتحه کړ.

نو که بالفرض موجوده مشرکان د پخوانیو مشرکانو په څېر د قوت خاوندان وي او په مکه معظمه باندې یې تسلط درلودی نو دوی به هم د پیغمبر ﷺ په ویستلو باندې دریغ نه وی کړی.

په دې باندې علاوه، موجوده مشرکان د پخوانیو مشرکانو په کړنلاره باندې راضي دي چې د پیغمبر ﷺ ویستل یې ډېر ښه کار کړی دی او آفرین ورباندې وایي.

ج: دریم خاصیت یې دا دی چې په هره زمانه او هر وخت کښې جنګ همدوی پیل کړی دی، د بعثت په اولو وختو کښې وهل او زوروول او هم وژل او شړل د همدوی د پلوه شروع شوي دي، د بدر وادي ته همدوی د جنګ دپاره درغلي وه، که نه نو قافله خو د حملې څخه بچ شوې وه په کار وه چې دوی هم بېرته ستانه شوي وی او د بدر وادي ته نه وی ورغلي.

د احد او د خندق په غزاګانو کښې همدوی په تاسو باندې لښکر کشي کړې وه او بالآخره د عهدونو ماتولو هم د همدوی د پلوه صورت نیولی دی او داسې نور.

۵_ نو ای مؤمنانو! چې تاسو د دغو خاصیتونو سره-سره په مشرکانو باندې جنګ نه پیل کوئ نو دا پوښتنه پیدا کېږي چې ایا تاسو د مشرکانو څخه ډارېږئ؟

که بالفرض د جنګ د پیل کولو مانع ډار وي نو ډېره ښه دا ده چې د الله ﷻ څخه وډار شئ چې د ډار مستحق دی او هر شی د ده ﷻ په قبضه کښې دی، د خپلو ځانونو سره دا خطر ولرئ که د مشرکانو سره هغه جنګ پیل نه کړئ کوم چې په تاسو باندې فرض ګرځېدلی دی چې الله ﷻ به مو د خپل غضب سره مخامخ کړي.

۶_ ای مؤمنانو! که تاسو واقعي مؤمنان یاست نو په ذکر شوي مضمون باندې د زړونو د کومې باور وکړئ. یا په بل عبارت: خپل باور کولو ته د زړه د کومې ادامه ورکړئ.

## توضیحات

۱_ د ایت شریف دغه جمله ﴿ فَإِن تَابُوا۟ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ وړاندې په [التوبة:۵] ایت کښې هم تېره شوې ده، نو کوم تحقیق چې پکښې هلته شوی وه په کار دی چې عین تحقیق دلته هم د نظره ونه غورزولی شي.

ذکره شوې شرطیه جمله یوازې په جزائیه جمله کښې فرق لري چې هلته ﴿ فَخَلُّوا۟ سَبِيلَهُمْ ﴾ نازله شوې وه او دلته د ﴿ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ ﴾ نازله شوې ده، چې مشرکانو ته په دې مقام کښې د ایمان د راوړلو ترغیب د هغه مقام څخه زیات دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! د څلورو میاشتو د تېرېدلو څخه وروسته د مشرکانو سره ذکر شوي څلور کارونه (وژل، بندي کول، محاصره کول، د څارنې لاندې نیول) وکړئ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر که توبه تائب شوه او د لمانځه او زکات التزام يې وکړ نو بيا علاوه په دې چې لاره يې خوشې کړئ ستاسو ديني ورونه هم ګرځي، کوم حقوق چې تاسو لرئ عين حقوق هغوی هم درلودلی شي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د وړاندې څخه په هغو مشرکانو کښې بحث راروان دی چې عهدونه يې مات کړي وه حال دا چې د ﴿ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَـٰنَهُم ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې دلته هغه مشرکان مطلب دي چې هغوی عهدونه تازه مات کړي وي.

په دې باندې علاوه، په عين ايت کښې دا جمله ﴿ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَـٰنَ لَهُمۡ ﴾ هم نازله شوې ده چې مشرکان بالکل عهد نه لري؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا مات شوی عهد بيا د دوهم ځل دپاره ماتېدی شي؟ اياهغه چاته (چې بالکل عهد ونه لري) د دې خبرې نسبت صحت لري چې دوی خپل عهد تازه مات کړ؟

مونږ وايو چې: دلته د ﴿ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَـٰنَهُم ﴾ معنی دا ده چې د خپل عهد ماتوالي ته ادامه ورکړي. د دې نظير دا دی چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ ﴾ [النساء:۱۳۶] يعني: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل ايمان ته ادامه ورکړئ.

په دې باندې علاوه د ﴿ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَـٰنَ لَهُمۡ ﴾ معنی دا ده چې دوی په حقيقت کښې عهد نه لري، د دوی عهد فقط په خولو باندې دی او زړونو ته يې نه دی ننوتلی شوی، لکه چې ﴿ يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ ﴾ [التوبة:۸] نژدې جمله ورباندې دلالت کوي.

## «أَئِمَّةُ الْكُفْرِ» څوک دي؟

۳ـ په دې مقام کښې مفسرين کرام ټول متفق دي چې د ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ د کلمې څخه د کفر مشران مراد دي، اما په دې کښې اختلاف لري چې د ايت شريف د نزول په وخت کښې د ذکر شوې کلمې څخه د کافرانو کومه يوه ډله مطلب ده نو:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ د اهل الذمه وو څخه عبارت دي او د عهد څخه د ذميتوب عهد مراد دی[۱]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: که اهل الذمه وو خپل د ذميتوب عهد مات کړ نو جهاد ورسره پيل کړئ.

ب: ځينې وايي چې د ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ لقب مرتدانو ته ورکړی شوی وه او د عهد څخه په اسلام باندې د مشرف کېدلو عهد مطلب دی[۲]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: که د اسلام څخه څوک مرتد شوه جهاد ورسره وکړئ.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۸۵

(۲) حاشيه الشيخ زاده علی تفسير البيضاوي ج۲ ص۳۲۳

Scanned by CamScanner

مګر دغه دواړه تفسیرونه چندان د منلو وړ نه دي ځکه چې ټول بحث په مشرکانو کښې راروان دی، او په دغسې تفسیرونو سره د قرآن کریم د مضامینو لړۍ پرې کېږي.

ج: د ځینو نظر دا دی چې د کفر د مشرۍ لقب په هغه وخت کښې قریشو ته ورکړې شوی وه، او د عهد څخه د حدیبیه د مقام عهد مطلب دی[۱].

دا تفسیر هم چندان زړه ته نه لوېږي ځکه چې دا ایتونه د هجرت په نهم کال باندې نازل شوي دي[۲] او د قریشي مشرانو جرړه د هجرت په اتم کال باندې وتلې وه البته کله چې مکه معظمه فتحه شوه. نو امکان لري چې د قریشو په ذکر سره به د ایت شریف تفسیر مطلب نه وي بلکې محض یوه مصداق ته به یې اشاره شوې وي او په مصداق کښې خو ضرور نه ده چې هرومرو دې د ایت د نزول څخه وروسته واقع شي، ځکه چې سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې حتی د شان نزول اطلاق هم کاوه[۳].

د: د ځینو علماوو کرامو[۴] په نظر ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ د هغو مشرکانو څخه عبارت دی په کومو کښې چې د سورت د پیل څخه بحث راروان دی او کومو چې عهدونه کړي وه خو عملاً یې مات کړي وه او بالآخره کوم چې د مکې معظمې په چارچاپېره (په ټول حجاز کښې) اوسېدل او کومو ته چې د حج په موقع د علي ﷺ په خوله د عهدونو د ختم اعلان اورولی شوی وه، او هم څلور میاشتې ازادي ورکړه شوی وه.

## سوال جواب

۴ـ زمونږ په نزد همدغه څلورم تفسیر غوره ښکاري مګر په دې تفسیر باندې لاندې یو اعتراض د سړي ذهن ته ورځي، هغه دا چې:

الله ﷻ د ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ سره د قتال په وجوهو کښې دا هم فرمایلي دي چې دوی نبي کریم ﷺ هجرت ته مجبور کړی دی او په جنګ باندې لومړی پیل همدوی کړی دی ﴿ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾؛ نو پوښتنه دا ده چې دغه دواړه کارونه خو قریشو کړي وه نو په کار دي چې ﴿ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ ﴾ څخه همدوی مراد کړی شي.

مونږ وایو چې: د دغو وجوهو په ذکر کښې ـ والله ﷻ اعلم ـ دا مطلب نه دی چې دا کارونه شخصاً همدوی کړي وه بلکې مطلب دا دی چې په مشرکانو کښې دغسې خلک هم تېر شوي دي چې دا-دا کارونه یې کړي دي او موجوده مشرکان د هغوی په قدم باندې روان دي او د هغوی په تګلاره باندې آفرین وایي، که بالفرض دوی د هغوی په ځای وی نو دوی به هم پرې دریغ نه وی کړی.

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۸۹
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۲۶۶
(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۴) المحرر الوجیز ج۸ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې ډول اطلاق يو نظير د [البقرة: ۷۲_۹۱] ايتونو لاندې ښه پوره څرګند شوي دي چې د يهودانو پيغمبر وژنه هغو يهودانو ته منسوبه شوې ده کومو چې د نبي کريم ﷺ په حيات کښې ژوند کاوه او مستقيمًا يې پيغمبران عليهم‌السلام نه وو وژلي.

## په ياد ولرئ!

۵_ په ياد ولرئ چې مونږ ځلورم تفسير په دې معنی نه دی غوره کړی چې همغوي پورې اختصاص ورکوو بلکې په دې معنی مونږ ته غوره ښکاري چې په عبارة النص سره ترې همغوی مراد دي، اما د مفهوم د عموم په اعتبار سره او د اشارة النص په لحاظ سره خو د قيامت د ورځې پورې ټولو هغو کفارو ته شامل دی کوم چې عهدونه ماتوي او د اسلام په دين باندې طعن او لعن وايي، العياذ بالله.

نو په هره زمانه کښې په اسلامي حکومتونو باندې فرض ده چې د دغسې کافرانو سره وسلوال جهاد پيل کړي او د مارانو په شان يې سرونه وټکوي.

﴿ قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۴] (ای مؤمنانو!) د مشرکانو سره جنګ وکړئ ترڅو الله ﷻ دوی ته ستاسو په لاس باندې عذاب ورکړي او (ستاسو په لاس باندې) يې رسوا کړي او (ترڅو) الله ﷻ تاسو ته په دوی باندې نصرت درکړي او (ترڅو) الله ﷻ د مؤمن قوم زړونو ته شفا ورکړي (زړونه يې پرې يخ شي).

[۱۵] او (ترڅو) الله ﷻ د مؤمنانو د زړونو غُصه لرې (سړه) کړي.

او الله ﷻ په هغه چا باندې په رحمت سره رجوع کوي چې اراده يې ورته وشي (او د توبې توفيق ورکوي نو څه لرې نه ده چې دوی ته هم د توبې توفيق ورکړي)، او الله ﷻ پوه (دی او هم) د حکمت څښتن دی.

[۱۶] (ای مؤمنانو!) ايا تاسو ګومان کوئ چې (په خپل حال به) پرېښودلی شئ، حال دا چې الله ﷻ به ستاسو د جملې څخه هغه کسان نه وي معلوم کړي چې (د الله ﷻ په لاره کښې) جهاد کوي او نه يې د الله ﷻ او نه د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ او (بالآخره) نه يې د مؤمنانو څخه په غير (کوم کافر) راز دار (دوست) نيولی وي (دا ډول معلومات په جهاد سره صورت نيسي).

او الله ﷻ په هغه څه باندې خبر دار دی چې تاسو يې کوئ.

Scanned by CamScanner

## ارتباط

په وړاندېنيو ایتونو کښې مؤمنانو ته د مشرکانو سره په وسلوال جهاد باندې امر کړی شوی وه او د جهاد څخه ترغیبات او ترهیبات بیان کړی شوي وه، په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی او د جهاد څخه نور مرغبات او مرهبات بیان شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! الله ﷻ په دې باندې قادر دی چې په مشرکانو باندې کومه اسماني بلا (آفت) نازله کړي او په سات ګړه کښې یې بنیاد وباسي او پوپنا یې کړي، مګر دا ډول معامله نه تاسو ته په ګټه تمامېږي او نه کافرانو ته، بلکې دا ډول هلاکول د حکمت څخه خالي دي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې تفصیل ته متوجه شئ:

۱ـ ای مؤمنانو! د کفارو سره جنګ وکړئ ترڅو الله ﷻ په اسماني آفت باندې نه بلکې ستاسو په لاس باندې دوی تعذیب کړي، چې تاسو د جهاد تکالیف وګالئ او د اجرونو خاوندان شئ او یا لا د شهادت په لوړه درجه باندې بریالي شئ.

۲ـ د دې دپاره چې الله ﷻ هغوی په دنیا کښې شرمنده کړي او د خجالت سره مخامخ شي، که الله ﷻ ستاسو په لاس باندې دا کار انجام نه کړي نو دوی به په کامله توګه د رسوایئ او خړ سترګی سره مخامخ نه شي.

۳ـ د دې دپاره چې الله ﷻ تاسو ته په دوی باندې فتحه درکړي او دا سر لوړي هم ستاسو په برخه شي، که نه نو د فتحې د لوی نعمت څخه به تاسو محروم پاتې شئ.

۴ـ ترڅو په مشرکانو باندې د مؤمنانو زړه په عمومي توګه او د هغه مؤمنانو چې د دوی د لاسه یې عذابونه او مصیبتونه ګاللي دي په خاصه توګه یخ شي او د زړه تناکې یې پرې وچوي او بالآخره د دوی د زړونو پرهرونه پرې روغ او دارو درمل شي.

۵ـ ترڅو د مؤمنانو د زړونو غُصېورباندې سړې شي او زړونه یېورباندې یخ شي.

۶ـ بالآخره په مشرکانو کښې د داسې خلکو د مونده کېدلو احتمال هم شته چې په ایمان باندې مشرف او د کفریاتو څخه توبه تائب شي، نو که بالفرض الله ﷻ دوی په اسماني تعذیب باندې د یوه لحظه کښې پوپنا شي.

منځه یوسي نو بیا به یوه ته هم د توبه ویستلو موقع په لاس ورنه شي او د عادیانو په شان به ټول په

۷ـ ای مؤمنانو! تاسو په دې باندې پوه شئ چې الله ﷻ په هر شي باندې پوهېږي، د هرچا ګټه او تاوان ورته معلوم دی او برسبره په دې د حکمت څښتن هم دی چې په هرکار کښې یې بې شماره حکمتونه مرموز دي.

۸ـ ای مؤمنانو! په دې ټولو باندې علاوه، ایا تاسو خیال کوئ چې تاسو به په خپل حال باندې پرېښودلی شئ حال دا چې د امتحان لاندې به نه وئ واقع کړی شوي ترڅو الله ﷻ ستاسو څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې کسان (یوه ډله د بلې څخه) جدا کړي:
الف: ترڅو الله ﷻ هغه کسان معلوم کړي چې د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کوي او تکالیف او مشقات ګالي او هغه کسان هم جدا کړي چې په همدغې لاره کښې سستي او تنبلي کوي.
ب: ترڅو الله ﷻ هغه ډله هم معلومه کړي چې نه د الله ﷻ او نه د ده ﷺ د پیغمبر ﷺ او بالآخره نه د مؤمنانو څخه په غیر بل خاص ملګري او راز دار نیسي او هغه ډله هم چې هغه په همدغسې مرض باندې اخته وي (د کفارو څخه خاص-خاص انډیوالان لري).
۹_ ای مؤمنانو! الله ﷻ ته ستاسو ټول کړه وړه په ډاګه دي او په ټولو اعمالو باندې مو خبردار دی او ستاسو هیڅ یو شی ترې پټ نه دی.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَلِيجَةً ﴾ کلمه اصلاً د ولوج څخه اخستې شوې ده. ولوج د دخول (ننوتلو) معنی ورکوي. او ﴿ وَلِيجَةً ﴾ د هغه چا نوم دی چې سړی ورباندې پوره اعتماد وکړي خو د ده د اهل څخه نه وي[۱].
په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راخېژي چې ترهغه به الله ﷻ مؤمنان په خپل حال باندې پرېښودي ترڅو معلومه کړي چې فلانی مؤمن د کافرانو څخه پټ انډیوال (او راز دار) نیسي او فلانی یې نه نیسي ترڅو په همدغه معیار باندې ورته جزا او سزا وټاکي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د هرچا اخلاص او کم اخلاصي خو الله ﷻ ته آن په ازل کښې معلومه ده نو په امتحان باندې په څرګندولو کښې څه حکمت دی؟
مونږ وایو: په امتحان باندې څرګندونه د دې دپاره نه ده چې الله ﷻ خپل ځان ته نوي معلومات حاصلول غواړي . پ اعتراض وارد شي، بلکې دا د دې دپاره ده چې بندګانو ته هم (هر چاته) د خپلو نېکو کارونو او یا د بدو کارونو معیار او اندازه څرګنده شي.
که بالفرض الله ﷻ په خپل علم باندې اکتفاء کړې وی او انسانان یې د امتحان لاندې نه وی واقع کړي نو ضرور به د اجرونو خاوندانو نور زیات اجرونه غوښتي او د سزاګانو خاوندانو به د سزا په ونډه باندې قناعت نه کولی.

## یادونه

۳_ که څوک غواړي چې د ﴿ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمْ ﴾ په هکله او د الله ﷻ د ازلي او ابدي علم په باره کښې نور معلومات ترلاسه کړي نو د [البقرة:۱۴۳] ایت شریف توضیحاتو ته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَىٰ أَنفُسِهِم بِالْكُفْرِ ۚ أُولَٰئِكَ
حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ
بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ ۖ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ
أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿١٨﴾﴾

[۱۷] مشرکانو ته لايقه نه ده چې د الله ﷻ جوماتونه (خصوصًا المسجد الحرام) په داسې حال کښې اباد کړي چې (دوی) په خپلو ځانونو باندې په کفر سره شهادت ورکوونکي (اقرار کوونکي) دي. همدغه کسان (چې دي) عملونه يې (د الله ﷻ په نزد) باطل دی او په اور کښې به دوی همیشه وي.

[۱۸] يقينًا د الله ﷻ جوماتونه (خصوصًا المسجد الحرام) هغه څوک اباد وي چې په الله ﷻ او په ورستنی ورځ باندې يې (په رښتيانيو معناوو کښې) ایمان راوړی وي او (د پيغمبر ﷺ د هداياتو مطابق) لمونځ دروي او زکات ورکوي او (بالآخره) نه ډارېږي مګر د الله ﷻ څخه، نو امید دی (امید دې وکړي) چې دغه کسان به د لارې موندونکو څخه وګرځي (او څوک چې دغه صفات نه لري نو هغوی د جوماتونو د آبادولو لياقت نه لري).

## ارتباطونه

۱ـ کوم ځلور فقيرئيز اعلان چې د احاديثو کتابونو[۱] روایت کړی دی او مونږ د [التوبة:۳] ایت لاندې مشرح ذکر کړی دی د همدغه اعلان يوه فقره ـ چې عهدونو پورې يې تعلق درلود ـ په وړاندېنيو ایتونو کښې وڅېړله شوه او متباقي درې فقرې يې په دغو ایتونو کښې د بحث لاندې اچولې شوې دي، متباقي فقرې دا دي:

الف: هيڅوک به بربنډ طواف نه کوي (دا ډول عبادت ممنوع دی).

ب: په راتلونکي کښې به مشرک سړی حج ته نه راځي.

ج: جنت ته نه داخلېږي مګر مؤمن، مشرکانو ته د همېشه دپاره اور تاکلی شوی دی.

۲ـ په دې ایتونو کښې هغه اعتراض جواب شوی دی کوم چې د وړاندېنيو ایتونو څخه د معاندينو ذهن ته ورتله. هغه دا چې مشرکانو خو د کعبې شريفې ترميم کاوه او په عبادت سره يې آباده ساتله نو په کار دی چې دوی د حج څخه نه وی منعه کړی شوي، د جواب حاصل داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پيغمبره! که بالفرض مشرکان په تاسو باندې اعتراض وکړي چې د المسجد الحرام زيارت کوونکي ولې د زيارت څخه منعه کوئ؟ حال دا چې هغوی خو نور څه نه کوي فقط په خپلو عبادتونو

---

[۱] جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې د المسجد الحرام معنوي تعمیر کوي، او تر نن ورځې پورې یې د المسجد الحرام بلکې د کعبې شریفې کوټه وخت په وخت تعمېره کړې ده، ایا د دغسې خلکو منعه کول جائز کار دی؟

په دې باندې علاوه، کوم اعتراض به چې تاسو په مکیانو باندې کاوه (چې مؤمنان د المسجد الحرام څخه منعه کوي) عین همغه اعتراض نن په تاسو باندې وارد دی چې عبادت کوونکي او طواف کوونکي مو د آینده دپاره د حرم شریف څخه منعه کړه او په لاشعوري توګه مو د کعبې شریفې د بنیاد ویستلو اساس کېښود.

۲ـ نو تاسو دوی ته جواب ورکړئ چې تر اوسه پورې چې مشرکانو د کعبې شریفې او حرم شریف په واکدارۍ باندې قبضه لګولې وه دا یوه ناجائزه قبضه وه، او دا ځکه چې:

مشرکانو هیڅ حق نه درلود او نه په راتلونکي کښې حق لري چې د المسجد الحرام د شاوخوا ظاهري یا معنوي تعمیر وکړي، دوی خو د یو پلوه په خپلو ځانونو باندې د کفر او شرک شاهدي وایي چې بوت ته سجدې کوي او حتی په تلبیه کښې د الله ﷻ سره په شریک درولو باندې صراحت کوي، او د بله پلوه خپل ځانونه تعمیر کوونکي او متولیان ګڼي.

که بالفرض دوی رښتیا متولیان وي نو نه به یې شرکیاتو ته لاس اچولی وی او نه به یې په ځانونو باندې د کفر شهادت ورکړی وی، ځکه چې د کعبې شریفې د بنیاد ډېره خو د الله ﷻ په توحید باندې ایښودلې شوې ده.

۳ـ لنډه دا چې معنوي تعمیر د دوی دپلوه صورت نه شي نیولی ځکه چې عبادت یې عبادت نه دی بلکې کفر دی او ظاهري تعمیر یې تر اوسه پورې په ناحقه د قبضې لاندې راوستلی وه.

هو! کوم نیک کارونه چې دوی تر سره کړي دي لکه حجاجوته اوبه ورکول، هغو هم مقبولیت د لاسه ورکړی دی چې بې ایمانه نېک عمل د الله ﷻ په نزد څه ارزښت نه لري، دغسې بې روحه نېک اعمال د الله ﷻ په نزد ضائع دي او خاوندان یې په اور کښې همېشه اوسېدونکي دي.

۴ـ ای پیغمبره! یقینًا د الله ﷻ د جوماتونو عمومًا او د حرم شریف خصوصًا تعمیر کوونکي هغه کسان کېدلی شي کوم چې په درستو معناوو کښې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځ باندې عقیده لري او هم لمونځونه دروي او زکاتونه ورکوي او بالآخره د الله ﷻ څخه په غیر د بل چا څخه نه ډارېږي. دوی پوخ ایمان لري چې د بوتانو د لاسه هیڅ پوره نه دي او هرڅه د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي، نو دغسې خلک همدوی امیدوار دي چې د هدایت موندونکې ډلې څخه وګرځي او وخت په وخت حقه لاره وروښودله شي او پوره توفیق ورکړی شي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د کعبې شریفې شاوخوا او چارچاپېره خو ټول یو جومات دی نو په څه منظور ترې په جمعي ﴿ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ سره تعبیر وکړی شو؟

مونږ وایو چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دغه جومات د ټولو جوماتونو امام دی[۱] نو څرنګه چې په دغه جومات کښې مشرکان د واکدارۍ حق نه لري، واکداري پکښې يوازې د مؤمنانو حق دی همدانګه د دنيا په ټولو جوماتو کښې واکداري په مؤمنانو پورې مختصه ده او بايد همدوی يې تعمير او ترميم وکړي.

ب: د ذکر شوي جومات څلور واړه طرفونه (هر يو) بيل-بيل جومات دی[۲] ځکه چې کعبه شريفه يې په منځکښې موقعيت لري او د هر طرف د قبلې جهت جدا-جدا دی، ته به وايې چې دغه جومات څلور جوماتونه دي، اما د ذکر شوي جومات څخه په غير د نورو جوماتونو ټولو طرفونه جوماتونه دي خو د قبلې جهت يې متحد دی نو په يوه جومات باندې د متعددو جوماتونو اطلاق نه کېږي.

ج: په دې ټولو باندې علاوه، دا هم څه لرې نه ده چې د ﴿ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ څخه يوازې المسجد الحرام مراد نه وي بلکې د دنيا ټول جوماتونه مطلب وي[۳]. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې: د ټولو جوماتونو د ابادۍ او واکدارۍ استحقاق په مؤمنانو پورې اختصاص لري نو د المسجد الحرام واکداري او ابادي خو په اوله درجه کښې د همدوی استحقاق دی.

په دې تقدير باندې د ﴿ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه په خپلې حقيقي (جمعې) معنى باندې اخستله کېږي.

## ايا په خپلو ځانونو باندې د کفر شاهدي؟

۲_ مفسرين کرام دغه کلمات: ﴿ شَـٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِ ﴾ په لاندې ډولونو سره تفسير کړي دي:

الف: که څه هم مشرکانو خپلو ځانونو ته د کافر لقب نه ورکاوه مګر د دوی عادت وه چې کله به يې د کعبې شريفې څخه د طواف هره يوه دوره تمامه کړه نو هغو بوتانو ته به يې سجدې کولې کوم چې دوی همه لته نصب کړي وه[۴].

او يا په بل عبارت: که دوی په خپلو ځانونو باندې قولاً د کفر شهادت نه ورکاوه نو عملاً خو هر يوه په خپل ځان شاهدي ورکوله.

ب: کله به چې د هر يوه مشرک څخه پوښتنه وشوه چې ته څوک يې؟ نو هغه به جواب ورکړ چې زه مشرک يم[۵]. دا د دوی په کفر باندې شاهدي وه خو دوی ته شرک کفر نه ښکارېده. همدارنګه که د يهودي يا نصراني څخه پوښتنه وشي نو هغه په خپل ځان باندې د کفر شاهدي ورکوي چې زه يهودي او يا زه نصراني يم، خو دغه مسلک ورته کفر نه ښکاري.

مونږ ته په خپلو ځانونو باندې په کفر باندې قولي شاهدي دا هم برېښي چې دوی به په تلبيه کښې

(۱) تفسير القرطبي ج۸ ص۸۹
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۵۰
(۳) تفسير المظهري ج۴ ص۱۴۶
(۴) تفسير القرطبي ج۸ ص۸۹، تفسير البغوي ج۲ ص۲۷۴
(۵) تفسير البغوي ج۲ ص۲۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ویلې چې: "لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ إِلاَّ شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ"[۱] یعنې ای ربه! زه په طاعت باندې تاته ولاړ یم ته شریک نه لرې مګر داسې شریک لرې چې هغه ستا شریک دی، ته د هغه مالک یې او د هغه شي هم مالک یې چې د هغه په ملکیت کښې دی.

## عمره او عمارة څه معنی؟

۳_ په ﴿ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ يَعْمُرُ ﴾ کلمه د اشتقاق په اعتبار سره لاندې درې احتماله لري[۲]:

الف: یا د "عُمْرَةٌ" څخه اخستله شوې ده چې د زیارت معنی ورکوي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د الله ﷻ د جوماتونو زیارت کول او هلته ورتلل د مؤمنانو کار دی، نه د مشرکانو او کافرانو.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ»[۳] یعنې: هرڅوک چې د سبا د پلوه جومات ته لاړ شي او یا د ببګاه د طرفه، الله ﷻ به ده ته د جنت مېلمستیا تیاره کړي هر سبا او هر ببګا.

ب: یا د "عمارةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د ابادولو معنی ورکوي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د جوماتونو ابادول (برابره خبره ده چې ظاهري آبادول وي او که معنوي) په مؤمنانو پورې اختصاص لري.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ بَنَى اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ»[۴] یعنې: هرڅوک چې (د الله ﷻ دپاره) جومات جوړ کړي نو الله ﷻ به ورته په جنت کښې بالمثل ابادي جوړه کړي.

ج: یا یې د هغه "عمارةٌ" څخه اشتقاق موندلی دی چې د "إقامةٌ" (اوسېدلو) معنی ورکوي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د جوماتونو په شاوخوا کښې خاص مؤمنان د استوګنې استحقاق لري چې د جومات مربوطه منطقه ورباندې اباده وي او جوماتونه په خدمت سره تازه او نظیف (پاک) ساتي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا رَأَيْتُمْ الرَّجُلَ يَعْتَادُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بِالإِيمَانِ»[۵] یعنې: کله چې تاسو یو سړی ولید چې د جومات سره عادت وه (د جومات د خدمت دپاره هلته ته او راته) نو تاسو هغه ته په ایمان سره شهادت ورکړئ (چې دا مؤمن دی)، بیا نو نبي کریم ﷺ د استدلال دپاره ذکر شوې ایت شریف ولوست.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۳۷۶
(۲) مفردات الراغب ص۳۶۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۹۱
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۲۰۱
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: الله ﷻ د مؤمن په صفاتو کښې دا صفت هم ذکر کړی دی چې ﴿ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ یعنې مؤمن نه ډارېږي مګر د الله ﷻ څخه. نو پوښتنه دا ده چې مؤمن لا څه بلکې پیغمبران هم کله-کله د غیرالله څخه ډار شوي دي، الله ﷻ د موسی ﷺ څخه حکایت کوي چې: ﴿ يَـٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ ﴾ [النمل: ۱۰] یعنې کله چې د موسی ﷺ د همسا څخه ښامار (اژدها) جوړه شوه نو موسی ﷺ ودار شو، الله ﷻ ورته ارشاد وکړ چې مه ډارېږه.

مونږ وایو چې:

الف: مؤمنان د بوتانو او باطلو معبودانو څخه نه ډارېږي او نه ورته تمه کوي[۱] او مشرکان د خپلو بوتانو څخه هم ډارېږي او هم ورته تمه کوي چې په سخته ورځ کښې به يې په ښه باندې ورشي.

ب: دلته د مؤمنانو څخه د تعظیم او عبادت ډار نفي شوی دی، که نه نو انسان خو د دنیاوي خطراتو څخه ډارېږي[۲].

ج: په دې مقام کښې اختیاري ډار مطلب دی چې د الله ﷻ رضا په خپله رضا باندې وړاندې کړي او د الله ﷻ د حقوقو حفاظت وکړي[۳] او غیر اختیاري (طبعي ډار) مطلب نه دی چې اعتراض وارد شي.

﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ ٱلْحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ كَمَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَجَـٰهَدَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ لَا يَسْتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهَاجَرُوا۟ وَجَـٰهَدُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَٰنٍ وَجَنَّـٰتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾ ﴾

[۱۹] ایا تاسو (ای مشرکانو!) د حاجیانو د خړوبولو او د المسجد الحرام د آبادولو (کسان) د هغو (کسانو) په شان ګرځولي دي چې هغوی په الله ﷻ او وروستنۍ ورځ باندې (په درستو معناوو کښې) ایمان راوړی دی او د الله ﷻ په لاره کښې يې جهاد کړی دی.

دوی (دواړه ډلې) د الله ﷻ په نزد برابرې نه دي، او الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۸ ص۹۰
(۲) المحرر الوجیز ج۸ ص۱۴۸
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۵۵

Scanned by CamScanner

[۲۰] (برسېره په دې چې برابرې نه دي) هغه کسان چې ايمان يې راوړى دى او هجرت يې کړى دى او (بالآخره) د الله ﷻ په لاره کښې يې په خپلو ځانونو او خپلو مالونو سره جهاد کړى دى (همدوى چې دي) د الله ﷻ په نزد ښه لوى دي د درجې د حيثه، او همدوى کامياباني دي.

[۲۱] دوى (مؤمنانو) ته به د دوى رب ﷻ د خپله جانبه په دوى رحمت او لوى رضوان (رضامندى) او (هم) په داسې جنتونو باندې زيرى ورکړي چې په دې (جنتونو) کښې دائمي نعمتونه دي.

[۲۲] په داسې حال کښې چې جنتيان به په دې (جنتونو) کښې همېشه وي، همېشه. يقيناً الله ﷻ (چې دى) د همده ﷻ په نزد لوى اجر دى (چې دوى ته يې هغه هم پټ ساتلى دى).

## ارتباط او شان نزول

۱_ په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو موضوع تعقيب شوې ده چې د مشرکانو عبادت د الله ﷻ په نزد منظور نه دى او نېک اعمال يې ټول ضائع دي.

۲_ اما په شان نزول کښې يې زښت ډېر روايتونه ليکلي شوي دي چې تقريباً لسو يا زياتو ته رسېږي[۱] مګر دغه ټول روايتونه په عمده توګه په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلي کېږي چې مونږ يې د يوه-يوه مثال په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د يو ګروپ روايتونو څخه معلومېږي چې په ﴿ أَجَعَلْتُمْ ﴾ کښې مؤمنان مخاطب دي او الله ﷻ د همدوى د مباحثې څخه حکايت کړى دى. د ښه وضاحت دپاره لاندې يو مثال ولولئ:

د يوه اوږده حديث مضمون دى چې يوه ورځې څو تنو صحابه وو کرامو ﷺ سره يو تربله داسې بحث وکړ چې:

يوه سړي وويلې چې ماته د اسلام راوړلو څخه وروسته د حاجيانو څړوبول او دوى ته اوبه ورکول لوى عبادت ښکاري.

دوهم سړي وويلې چې زما په نظر د اسلام څخه وروسته د المسجد الحرام ابادول او خدمت کول لوى عبادت دى.

درېم سړي نظر ورکړ چې زما په نزد د هغو ټولو عبادتونو څخه (چې تاسو دواړو ورته اشاره وکړه) د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کول ډېر لوى عبادت دى.

څلورم: په دغه وخت کښې عمر الفارق ﷺ درېواړه غلي کړه چې د نبي کريم ﷺ د ممبر ترڅنګه شور ماشور مه جوړوئ!، د همدې موضوع به زه د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړم چې ستاسو د کوم يوه خبره درسته ده. نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه[۲] او د جهاد فضيلت يې د ټولو څخه لوړ وباله.

ب: د بل ګروپ روايتونو څخه څرګندېږي چې په ايت شريف کښې د مشرکانو مباحثې ته اشاره ده او په ﴿ أَجَعَلْتُمْ ﴾ کښې همدوى ته خطاب متوجه دى، لاندې يو روايت ولولئ:

(۱) تفسير القرطبي ج۸ ص۹۲. زاد المسير ج۳ ص۲۷۸. الدر المنثور ج۴ ص۱۴۵

(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې د بدر غزا ختمه شوه او اويا نفره د مجاهدينو په لاس کښې بنديان پاتې شوه نو ځينې صحابه کرامو ﷺ د بدر بنديانو ته د عباس ﷺ په شمول پيغور ورکړ چې تاسو مشرکان ياست. نو عباس ﷺ جواب ورکړ چې: «أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنَّا نَعْمُرُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ وَنَفُكُّ الْعَانِيَ وَنَحْجُبُ الْبَيْتَ وَنَسْقِي الْحَاجَّ» خبر دار! قسم دی چې مونږ مسجد حرام اباد ساتلی دی او بنديان مو خوشې کړي دي او بالآخره د بيت الله چېړاسيتوب مو کړی دی او حاجيان مو په اوبو باندې خړوب کړي دي (نو مونږ ستاسو څخه په څه شي کښې کم ياستو؟). الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه[1].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ــ که څوک وايي چې: د بدر غزا خو د هجرت په دوهم کال باندې تېره شوې ده حال دا چې ذکر شوي ايتونه د هجرت په نهم کال باندې نازل شوي دي، ايا ذکر شوی شان نزول صحت درلودلی شي؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو د ايتونو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[2] او په مصداقاتو کښې دا ضرور نه ده چې د ايت شريف د نزول په زمانه کښې دې تحقق ومومي، نو د هجرت دوهم کال د شان نزول جوړېدلو مانع نه ګرځي.

## تبصره

۴ــ مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې ذکر شوي ايتونه به د مشرکانو په هکله نازل شوي وي چې وړاندې ببرته بحث تېول په همدوی کښې روان دی.

هو! که د مفهوم په اعتبار سره ترې د مؤمنانو د مباحثې جواب فهم شي هم څه ممانعت پکښې نه ګورو. يا په بل عبارت: ذکر شوي ايتونه د مشرکانو په مباحثو باندې په عبارة النص سره دلالت کوي او د مؤمنانو مباحث ترې په إشارة النص سره څرګندېږي.

## سوال جواب

۵ــ که څوک وايي چې: ايا دا خبره امکان لري چې يو ايت د کفارو په باره کښې نازل شوی وي او د همغه ايت څخه د مؤمنانو دپاره حکم راوويستلی شي؟

مونږ وايو چې: هو! په دغه ډول استنباط کښې هيڅ ممانعت نشته، د ښه وضاحت دپاره لاندې يو مثال ولولئ:

يقيناً دا ايت شريف د کفارو په هکله نازل شوی دی چې ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا ﴾ [الأحقاف: ۲۰] يعنې کفارو ته به د قيامت په ورځ باندې وويلی شي چې تاسو په خپل حقير ژوند کښې لذيذ او خواږه شيان تېر کړي او مزې چړچې مو ورباندې کړې دي، نو نن ورځ تاسو ته د سپکوونکي عذاب څخه په غير بل شی نشته.

(۱) تفسير الطبري ج۱۰ ص۹۶ ؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۶۴
(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۲۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو یوه ورځ عمر الفاروق ﷺ د ښکلو څه شي وغوښت نو شات ګډې اوبه ورته وروړی شوې، نوموړي هغه ونه ښکلې چې دا د "طیبات" څخه دي او زه ډاریږم چې مونږ ته د خپلو نېکیو پوره بدله په دنیا کښې را کړی شي[1] او په آخرت کښې راته وویلی شي چې تاسو خپل خواږه او لذیذ شیان په دنیا کښې خوړلي دي، دلته درته څه پاتې نه دي.

عمر الفاروق ﷺ د ذکر شوي ایت شریف څخه په یوه بل مجلس کښې هم بالمثل استنباط کړی وه چې په هغه مجلس کښې نور صحابه کرام ﷺ هم ناست وه خو هیچا یې ذکر شوی استنباط رد نه کړ[2] ته به وایې چې دوی ټولو سکوتي اتفاق وکړ او ذکره شوې کړنلاره یې جائزه وبلله.

## سوال جواب

٦_ که څوک وایي چې: د ﴿ أَعْظَمُ دَرَجَةً ﴾ د کلماتو څخه څرګندیږي چې لومړني ګروپ روایتونه راجح دي څکه چې د ﴿ أَعْظَمُ ﴾ کلمه اسم تفضیل دی، نو که شان نزول یې د مشرکانو سره وتړلی شي نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې مشرکان هم د الله ﷻ په نزد څه درجه لري خو د مؤمنانو درجه ترې لویه ده.

مونږ وایو چې: اسم تفضیل کله-کله د اصل فعل په معنی باندې هم استعمالیږي، لکه چې وایي: "فُلَانٌ أَسْمَعُ مِنَ الْجِدَارِ" فلانی سړی د دیوال څخه ښه اوریدونکی دی. یعني فلانی خبره اوري او دیوال یې نه اوري. په دې مقام کښې همدغه استعمال د نظر لاندې دی، والله ﷻ اعلم.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای مؤمنانو! تاسو مشرکان مخاطب کړئ چې: ایا تاسو هغه کسان چې حاجیانو ته اوبه ورکوي او یا یې د زمزم په اوبو باندې خړوبوي خو ایمان نه لري، د هغو کسانو غوندې ګڼئ چې په درستو معناوو کښې یې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې باندې ایمان راوړی وي او د الله ﷻ په لار کښې یې جهاد کړی وي؟

دغه دواړه ډلې د الله ﷻ په نزد باندې برابرې نه دي، او الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي د همدې کبله تاسو مشرکان د ذکرو شوو دواړو ډلو په فرق باندې نه پوهیږئ چې خپل ځانونه د کفري حالت سره-سره د مؤمنانو او خصوصًا د مجاهدینو سره برابر بولئ، دغسې نه ده.

۲_ ای مؤمنانو! برسېره په دې چې ذکر شوي دواړه ډلې سره برابرې نه دي بلکې مؤمنان په کفارو باندې ډېر زیات فضیلت لري، لږ شرحه یې دا ده:

الف: چا چې ایمان راوړی دی، هجرت یې کړی دی او بالآخره د الله ﷻ په لاره کښې یې جهاد کړی دی دوی د الله ﷻ په نزد د ډېرو لویو لویو درجو خاوندان دي، او همدوی کامیاب او بریالي

---

(۱) مشکاة المصابیح بحوالة رزین ج۲ ص۴۴۹
(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي. بالمقابل کفار نه کومه درجه لري او نه څه کامیابي درلودلی شي، چې د همېشه دپاره به په دوزخ کښې اوسېږي.

ب: د ذکرې شوې لويې درجې لړ تفصيل دا دی چې: الله ﷻ به دوی ته د خپل جانبه (مفت) په رحمت سره زېری ورکړي او خپله رضامندي به ورتبريکه کړي او هم به داسې جنتونه ورکړي چې په دائمي نعمتونو باندې به ډک وي.

ج: دوی به په دغه جنت کښې همېشه وي او همدا به يې ابدي کور شي.

د: په دې باندې علاوه، د الله ﷻ په نزد داسې لوی اجرونه شته چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او بالآخره نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي، دغه اجرونه به هم ورعنايت کړي.

## توضيحات

۱ـ "السِّقَايَة" او "الْعِمَارَة" دواړه مصدرونه دي[۱] چې د څروبولو او ابادولو معناوې ورکوي، خو د "اهل" کلمه ورسره مراده ده، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې ايا تاسو د څروبولو او ابادولو خاوندان د مؤمنانو غوندې بولئ؟.

## الحاج څه معنی؟

۲ـ که څه هم د ﴿ الْحَاجِّ ﴾ کلمه د اسم فاعل مفرده صيغه ده مګر په دې مقام کښې ترې يا جنس مطلب دی او يا اسم جمعه ده ترڅو ټولو حاجيانو ته شامله شي.

د ايت شريف د نزول په وخت کښې حاجيانو ته د زمزم اوبه او يا هغه اوبه ورکولی کېدې چې مميز او يا کجوري به پکښې خوشتې شوې وې.

رښتيا چې دا کار د ډېر لوی اجر کار وه مګر څرنګه چې مشرکانو ايمان نه درلود نو د دوی دغه نېک کار هم د نورو نېکو کارونو غوندې د الله ﷻ په نزد ضايع او بې ارزښته وه.

## د زمزم اوبه

۳ـ د زمزم اوبه د هغه اوبو نوم دی چې آن د اسماعيل ﷺ د وخته د کعبې شريفې ترڅنګ الله ﷻ راخوټولي دي، دغه ډېرې برکتناکې اوبه دي چې په فضائلو کښې يې زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو[۲] راغونډ کړي دي. خو مونږ د يوه حديث په ذکر باندې اکتفاء کوو چې نبي کريم ﷺ فرمايي: «مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ»[۳] يعنې: د زمزم اوبه د هغه څه دپاره دي د کوم دپاره چې وڅښلې شي. نو که څوک يې د صحت دپاره وڅښي الله ﷻ به صحت ورکړي او که څوک يې د بل کوم حاجت دپاره وڅښکي همغه حاجت به يې الله ﷻ پوره کړي، او داسې نور.

---

(۱) تفسير الكشاف ج۲ ص۲۵۶
(۲) الدر المنثور ج۴ ص۱۴۷
(۳) سنن ابن ماجه ص۲۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّواْ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَـٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَـٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَـٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ ﴾

**[۲۳]** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو خپل پلرونه او خپل ورونه دوستان مه نیسئ (په دې شرط) چې دوی کفر په ایمان باندې غوره کړی وي. او هرڅوک چې ستاسو د جملې څخه دوی په دوستۍ سره ونیسي نو همدغوی ظالمان دی (لکه څنګه چې هغوی ظالمان دي).

**[۲۴]** (ای پیغمبره! مؤمنانو ته) ووایه چې که چرته ستاسو پلرونه او ستاسو ځامن او (هم) ستاسو ورونه او ستاسو مېرمنې او (هم) ستاسو نژدې خپلوان او داسې مالونه چې تاسو په کسب سره ګټلي وي او (هم) داسې تجارت چې تاسو یې د نه چلښت (د ځای په ځای ودرېدلو) څخه ډارېږئ او (بالآخره) داسې سکونت ځایونه چې تاسو یې خوښوئ (ذکر شوي شیان) تاسو ته د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ او هم د ده ﷻ په لاره کښې د جهاد څخه زیات محبوب (ګران) وي (او د جهاد مخه مو نیسي) نو ترهغه انتظار وکړئ چې ترڅو الله ﷻ خپل امر (فیصله کړی شوې سزا تاسو ته) راولي (او عذاب درباندې نازل کړي).

او الله ﷻ فاسق قوم ته هدایت نه کوي (او د توفیق څخه یې محروموي، لنډه دا چې په ذکر شوي صورت کښې به تاسو فاسقان یاست).

## ارتباط او شان نزول

۱ــ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د مهاجرینو، مجاهدینو او د الله ﷻ په لاره کښې د خپل مال د انفاق کوونکو درجات بیان کړه او په دې ایتونو کښې هغه څه واضحه شوي دي کوم چې د ذکرو شوو درجاتو د مونډلو موانع جوړېږي او سړي نه پرېږدي چې ورباندې بریالی او کامیاب شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه هلته الله ﷻ د ټولو مشرکانو څخه برائت اعلان کړ نو څه لرې نه ده چې په ځینو خلکو باندې د مشرکانو سره د علاقاتو پرېکول په کُلي توګه درانه تمام شوی وي ځکه چې په هغه وخت کښې د ځینو مؤمنانو اقارب په ایمان باندې نه وه مشرف شوي، نو په دې ایتونو کښې ذکر شوي خلک پوه کړی شوه.

## یادونه

۲ــ که څه هم مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو دپاره د شان نزول متعدد روایتونه ذکر کړي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي[1] مګر زمونږ په نزد ذکر شوي ټول روایتونه مصداقات جوړېدلی شي خو په مصطلحه معنی باندې شان نزولونه نه شي جوړېدلی، ځکه چې هلته هغه واقعات بیان شوي دي کومو چې د مکې معظمې د فتحې ځخه وړاندې تحقق موندلی وه او ذکر شوي ایتونه خو په نهم کال (د مکې د فتحې ځخه یو کال وروسته) نازل شوي دي، د همدې کبله مونږ دلته رانقل نه کړه نو که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! خپل اقارب (خپلوان) حتی خپل پلرونه او هم وروڼه په دوستۍ سره مه نیسئ که هغوی کفر ته په ایمان باندې ترجیح ورکوله (کفر یې خوښاوه او ایمان یې بد ایسېده). که بالفرض ستاسو د جملې ځخه هرڅوک ذکره شوې دوستي ټینګه کړي چې د جهاد او د شریعت د تعمیل په لاره کښې یې خنډ واقع شي نو یقیناً چې همدغه خلک ظالمان دي او دا ځکه چې د ظالمانو سره یې پیوستون غوره کړی دی او پوره واضحه ده چې د ظالمانو ملګري خو ظالمان وي.

۲ـ ای پیغمبره! د دې دپاره چې ذکر شوی ارشاد د مؤمنانو په زړونو کښې ځای ونیسي نو ته دوی مخاطب کړه او په تفصیل سره ورته ووایه چې:

ای مؤمنانو! د قیامت په ورځ زه ستاسو د مغفرت ذمه واري نه شم کولی او نه ستاسو ځخه په دنیا کښې د الله ﷻ د عذاب مخه بل پلو ته اړولی شم، زه تاسو ته فقط هغه لاره دریه ګوته کوم کومه چې تاسو ته د الله ﷻ د عذاب ځخه په دنیا او آخرت کښې نجات درکوي، د همدې کبله تاسوته وایم چې:

ای زما امتیانو! که بالفرض لاندې شیان تاسو ته د الله ﷻ او د ده د پیغمبر ﷺ ځخه او بالآخره د الله ﷻ په لاره کښې د جهاد ځخه محبوب وي، چې د جهاد مانع مو واقع کېږي او د کفارو سره مو د تعلقاتو د پرې کولو مخه نیسي، نو د الله ﷻ امر ته منتظر شئ چې د څه سزا لاندې به مو واقع کړي، هغه شیان دا دي:

الف: که تاسو ته پلرونه ګران وي او د جهاد مانع مو ګرځي چې هغوی په ایمان نه وي مشرف شوي.

ب: که تاسو ته زامن ګران وي او نه شئ کولی چې د هغوی په مقابل کښې توري ته لاس کړئ البته په هغه صورت کښې چې هغوی کافران وي.

ج: همدارنګه که ستاسو د جهاد دپاره کافران وروڼه مانع واقع کېږي.

د: که تاسو ته ستاسو مېرمنې د جهاد خنډ واقع شي چې وړاندېز درته وکړي چې مونږ دلته بې سرپرسته مه پرېږدئ او جهاد ته مه وړاندې کېږئ.

هـ: که ستاسو ټبر (ترېرونه) درته ګران وي چې د دوی سره د کفر په صورت کښې توري ته لاس نه شئ اوږدولی او یا د دوی سره د تعلقاتو پرېکړه نه شئ کولی.

---

[1] زاد المسیر ج۳ ص۲۸۰؛ اسباب النزول ص۱۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ز: یا که تاسو ته خپل مالونه محبوب وي چې په مشقت سره مو ګټلي وي او د جهاد د کبله نه شئ کولی چې حفاظت او ساتنه یې وکړئ.
ح: یا که تاسو سمدستي په تجارت باندې بوخت یاست او ډارېږئ که په جهاد باندې مشغول شئ نو یا به مو تجارت په ټپه ودرېږي او یا به لا بالکل د منځه لاړ شي.
ط: او بالآخره که تاسو ته خپل ارام ځایونه (ماڼۍ) او بنګلې د جهاد موانع جوړ شي او زړونه مو نه راپورته کېږي چې دغسې د خوښې ځایونه پرېږدئ او په جهاد کښې خپل ځانونه نا ارامه کړئ او بې خوبۍ او د شپې او ورځې منډې رامنډې خوښې کړئ.
۳ـ ای مؤمنانو! که تاسو ته ذکر شوي شیان د جهاد موانع جوړ شي نو دا به ضرور ستاسو دپاره د فاسق کېدلو اسباب وګرځي او الله ﷻ خو فاسق قوم ته هدایت نه کوي نو تاسو به هم د الله ﷻ د توفیق څخه بې برخې پاتې شئ او څه لرې نه ده چې ذکر شوي شیان مو یو هم په ګټه تمام نه شي، او یا درباندې دښمن مسلط کړي چې اقارب مو ووژني او مالونه او مساکن مو د هغوی لاس ته ورشي.

## توضیحات

۱ـ داسې معلومېږي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې په هغه وخت کښې به ذکر شوي اته شیان (امکان لري چې) د ځینو مؤمنانو دپاره موانع جوړېده، چاته یو شی او چاته بل، خو الله ﷻ دوی ته توفیق ورکړ چې یو شی هم ورته د جهاد په مخنیوي کښې موثر واقع نه شو او په ډېر اخلاص سره یې ټولې دنیا ته اسلام ورساوه.
اما په ذکرو شوو شیانو کښې حصر مطلب نه دی، هر شی چې د کوم مؤمن دپاره د جهاد مانع جوړ شي او د کفارو خپلوانو څخه د تعلقاتو د پرېکون مخه ونیسي نو هغه ته به د همغه شي څخه بلا جوړه شي، العیاذ بالله.

## عَشِیرَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ عَشِيرَتُكُمْ ﴾ کښې د "عَشِیرَة" کلمه د "عِشرة" څخه اخستله شوې ده چې د صحبت معنی ورکوي[۱] او یا د "عشرة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د لسو په معنی ده[۲].
په هر تقدیر، دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د نژدې خپلوانو څخه عبارت ده چې د سرې ګوزاره او راکړه ورکړه د همغوی سره جاري وي او د همغوی کثرت او ډېروالی ورته کمال ښکاري لکه څنګه چې د لسو عدد کامل عدد دی.

## دلته کوم محبت مراد دی؟

۳ـ د ﴿ أَحَبَّ ﴾ کلمه د محبت څخه اخستله شوې ده مګر کوم محبت چې د ایمان علامه او

(۱) روح المعاني ج ۱۰ ص ۷۱
(۲) مفردات الراغب ص ۳۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


معيار ښودلی شوی دی هغه اختياري محبت دی، په طبعي محبت باندې څوک نه نيولی کېږي[۱] د اختياري محبت صورت داسې جوړېږي چې د ذکرو شوو اتو شيانو څخه د کوم يوه په محبت کښې شريعت د پښو لاندې کېږي، نو د ايمان علامه دا ده چې سړی د هغو محبت د پښو لاندې کړي او د شريعت حکم عملي کړي.

همدغه محبت ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»[۲] يعني: په هغه اقدس ذات مې دې سوگند وي چې زما ځان د هغه په لاس کښې دی چې ترهغه به يو ستاسو کامل ايماندار نه شي ترڅو چې زه هغه ته د پلار او اولاد او (بالآخره) د ټولو خلکو څخه محبوب وگرځم.

مگر کوم کافر چې محارب نه وي د هغه سره د مالي کومک څه ممانعت نشته، د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها وايي چې: ماته خپله مور په داسې حال کښې راغله چې مشرکه (کافره) وه، نو ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ای پيغمبره! ايا زه د خپلې مور سره په همدغه حالت کښې صِلَةُ الرَّحِم (کومک) وکړم؟ نو هغه راته وفرمايل چې: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ»[۳] هو! د خپلې مور سره صِلَةُ الرَّحِم يعني مالي کومک وکړه.

ب: عمر الفاروق رضي الله عنه هغه وربښمينه حله (چپن يا کپړه) دخپل رضاعي مشرک ورور دپاره مکې معظمې ته واستوله کومه چې ورته نبي کريم ﷺ ښښلې وه او ورته ويلي يې وه چې د دې دپاره مې ذکره شوې حله نه ده درکړې چې ته يې پخپله واغوندې، بلکې د دې دپاره چې يا يې خرڅه کړې او يا يې بل چا ته ورواغوندې[۴].

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِى مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾﴾

---

(۱) تفسير روح المعاني ج۱۰ ص۷۱
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۷، صحيح مسلم ج۱ ص۴۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۳۵۷
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۳۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] بې شکه الله ﷻ ستاسو سره په ډېرو ځایونو (او ډېرو وختونو) کښې نصرت کړی دی، او د حنین (د غزا) په ورځ هم، کله چې تاسو خپل کثرت (ډېروالي) په تعجب کښې اچولي وئ. نو (دغه) کثرت ستاسو څخه (د شکست) هیڅ شی دفعه نه کړ او په تاسو باندې ځمکه د پراخوالي سره-سره تنګه شوه (چې د پټېدلو ځای مو پکښې نه شو موندلی) بیا (په همدغه وخت کښې) تاسو (مشرکانو ته) په داسې حال کښې شاګانې ورواړولې چې بېرته ځغلېدونکي وئ.

[۲۶] بیا الله ﷻ خپله ډاډینه په خپل پیغمبر ﷺ او په مؤمنانو (تاسو) باندې نازله کړه او هم يې (د اسمانه) داسې لښکرې راښکته کړې چې تاسو نه لیدلې (او مشرکانو لیدلې).

او (هم) الله ﷻ هغو کسانو ته (ستاسو په لاس باندې) عذاب ورکړ چې هغوی کفر غوره کړی وه او همدغه د کافرانو (سره مناسبه) جزا ده.

[۲۷] بیا الله ﷻ د همدغه (حالت) څخه وروسته په هغو کسانو باندې په رحمت سره رجوع وکړه چې د ده ﷻ ورته اراده وشوه (نیولي شوي کسان په ایمان مشرف شوه) او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو موانعو ذکر وه چې مجاهدین د جهاد څخه منعه کوي او په دې ایتونو کښې هغه شي ته اشاره شوې ده چې د مجاهدینو څخه د الله ﷻ د نصرت او کومک مخه نیسي او د کامیابۍ په لاره کښې يې خنډ واقع کېږي.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای مؤمنانو! کله چې تاسو هغه شیان وپېژاندل چې ستاسو دپاره د جهاد په لاره کښې خنډ واقع کېږي نو هغه څېزونه هم وپېژنئ چې د الله د نصرت او کومک مخه نیسي ترڅو ترې تاسو ځانونه وساتئ، هغه دا چې تاسو د همېشه دپاره خپل احتیاجات د الله ﷻ څخه وغواړئ او پوه شئ چې که د الله ﷻ اراده نه وي نو هیڅ شی ستاسو په درد نه خوري، نه د مجاهدینو کثرت تاسو ته ګټه رسولی شي او نه د وسلې پرېماني او ډېرښت. د ښه وضاحت دپاره لاندې نکاتو ته متوجه شئ:

الف: تاسو ته معلومه ده چې الله ﷻ ستاسو سره په ځومره ډېرو ځایونو کښې نصرت کړی دی چې نه به مو ډېر مجاهدین درلوده او نه به مو کافي سلاح په لاس کښې وه. که بالفرض ستاسو نصرت د مجاهدینو د کثرت او د وسلې په پرېمانۍ پورې تړلی وی نو په هغو ځایونو کښې به تاسو هیڅکله نوی کامیاب شوي، تاسو خو د بدر غزا درېه زړه کړئ.

ب: بالمقابل، د حنین غزا هم د مقایسې په توګه په نظر کښې ونیسئ چې تاسو څومره ډېر مجاهدین درلوده حتی چې شماره مو دولس زره تنو ته رسېده، تاسو په خپل کثرت باندې ډېر خوښ شوئ او د ځینو کسانو په اذهانو کښې ګرځېده چې نن ورځ به مونږ ضرور کامیابېږو. مګر کله چې جنګ تود شو نو تاسو ته د مجاهدینو کثرت هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او پراخه ځمکه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دربانديٍ د دښمن د لاسه تنګه شوه چې بيا د ډېرې وارخطايۍ په حالت کښې ېېرته په شا شوئ، حال دا چې خپل پيغمبر ﷺ مو د جنګ په ميدان کښې پرېښود.

ج: بيا الله ﷻ په تاسو باندې سکينه او ډاډينه درنازله کړه او وارخطايي مو د منځه لاړه او دا ځکه چې په تاسو کښې د الله ﷻ پيغمبر موجود وه او تاسو په الله ﷻ باندې پخه عقيده درلوده.

د: دا د يو پلوه، او د بله پلوه الله ﷻ ستاسو د کومک او نصرت دپاره د پرښتو لښکرې درنازلې کړې چې تاسو په سترګو باندې نه شوی ليدلی، مګر ستاسو دښمنانو هغوی په خپلو سترګو باندې وليدې چې ښه قوي رعب (ډار) يې ورباندې کښيناوه، د همدې کبله د جنګ صحنه بدله شوه، ستاسو دښمنان د وارخطايۍ سره مخامخ شوه او پراخه ځمکه په هغوی باندې تنګه شوه او بالآخره هغوی ميدان پرېښود او تېښتې ته مجبور شوه، چې همداسې جزا د کافرانو سره مناسبه وه.

هـ: بالآخره الله ﷻ ستاسو د دښمنانو د جملې څخه هغه چاته د توبې توفيق ورکړه چې هغه ته يې د توفيق د ورکولو اراده وشوه چې په ايمان باندې مشرف شوه، نو الله ﷻ د پخوانيو جناياتو څخه ورتېر شو ځکه چې الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی، حتی چې په پای کښې تاسو هم په هغوی باندې د مغفرت او مرحمت څخه کار واخست او ټول بنديان مو بې د فديو احستلو څخه ورخوشې کړه.

۲ـ ای مؤمنانو! اوس نو که تاسو ښه سوچ وکړئ او ذکر شوې غزا د پيل څخه تر پای پورې په نظر کښې ونيسئ نو ضرور به قانع شئ چې که ستاسو سره د الله ﷻ کومک او نصرت نه وی نو ډېرښت به تاسو ته هيڅ ګټه نه وی رسولې، تاسو ته په کار دي چې د قيامت د ورځې پورې د ذکرې شوې غزا څخه عبرت واخلئ او په هروخت او هر ځای کښې په الله ﷻ باندې اعتماد (او اتکاء) قوي کړئ.

## توضيحات

۱ـ حُنين د طائف او مکې معظمې تر منځ د يوه ځای نوم دی چې هلته د مکې معظمې د فتحې څخه څو ورځې وروسته مجاهدينو د کفارو سره سخته مقابله کړې وه دغې مقابلې ته د هوازن غزا هم وايي چې د کفارو اکثريت همدغې قبيلې تشکيل کړی وه.

ذکره شوې غزا د سيرت کتابونو[1] او هم د تفسير ځينو کتابونو[2] ښه مفصله ليکلې ده دلته رانقلول يې راته چندان ګټور نه ښکاري، نو د همدې کبله د لاندې نکاتو په ذکر باندې يې اکتفاء کوو چې د مقام سره ارتباط لري.

### د حنين په غزا کښې د دواړو طرفونو تعداد

۲ـ په دغې غزا کښې د نبي کريم ﷺ سره لس زره (۱۰۰۰۰) تنه هغه مجاهدين وه دکومو په لاس چې څو ورځې وړاندې الله ﷻ مکه معظمه فتحه کړه[3].

(۱) سيرت ابن هشام ج۴ ص۶۵
(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۹۸؛ تفسير المظهري ج۴ ص۶۹
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دوه زره (۲۰۰۰) تنه ورسره هغه کسان وه کوم چې د مکې معظمې د فتحې په ورځ باندې اسیران ونیول شوه[۱] او بیا نبي کریم ﷺ ټولو ته ازادي ورکړه او د طلقاء (خوشې کړی شوو) نوم یې ورباندې کېښود، نو د مجاهدینو ټول تعداد دولس زره (۱۲۰۰۰) تنو ته ورسید. د دې ورځې څخه وړاندې په بله یوه غزا کښې هم په ذکر شوي تعداد سره کله مجاهدین نه وه راغونډ شوي د همدې کبله الله ﷻ ځینو مجاهدینو د زړونو حالات د ﴿ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ ﴾ په کلماتو باندې تعبیر کړه، یعنې هغه وخت چې تاسو خپل کثرت ته ډېر خوشاله وئ، اما د کفارو تعداد فقط څلورو زرو (۴۰۰۰) تنو ته رسیده[۲].

## د سلاح کمبود

۳ـ څرنګه چې په ذکره شوې غزا کښې مجاهدین ډېر زیات وه او ټول مسلح نه وه، نو نبي کریم ﷺ صفوان بن امیه مخاطب کړ چې: ای صفوانه! ایا تا سره څه سلاح (وسله) شته؟ صفوان وویلې چې په زور یې راڅخه اخلې او که په سوال یې را څخه غواړې؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لاَ بَلْ عَارِيَةً» په زور یې درڅخه نه اخلم بلکې (د تضمین سره-سره) د عاریت په توګه یې راکړه.

نو ذکر شوي صفوان د دېرشو او څلوېښتو ترمنځ زغرې نبي کریم ﷺ ته ورکړې، نو کله چې د حنین غزا پای ته ورسېده او مشرکانو ماتې وخوړه نو نبي کریم ﷺ د صفوان زغرې راغونډې کړې ترڅو یې په هغه باندې بېرته وسپاري، خو د راغونډولو په وخت کښې ټولې پوره نه شوې او څو زغرو کمبود وکړ، نو نبي کریم ﷺ نوموړي ته وویلې چې ستا خو څو زغرې ورکې شوې دي نو ایا د تضمین مطابق د هغو قیمت درکړو؟

نوموړي وویلې چې: ای د الله رسوله! زه د زغرو قیمت نه غواړم «لِأَنَّ فِي قَلْبِي الْيَوْمَ مَا لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ»[۳] ځکه چې زما په زړه کښې داسې کیفیت شته چې د زغرو د درکولو په وخت کښې نه وه، یعنې زما په زړه کښې څه رڼا او روښنایي پیدا شوې ده.

## صفوان څوک وه؟

۴ـ مونږ غواړو چې د ځینو کتابونو[۴] په حواله د صفوان په هکله لاندې معلومات محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو، ترڅو د نوموړي د سلاح (وسلې) د ورکړې خبرې ښه واضحه شي:

الف: صفوان بن امیه بن خلف د مکې معظمې د قریشو څخه دی، پلار یې د بدر د غزا په اویا نفرو وژل شوو مشرکانو کښې شامل دی.

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۳۹۳
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۹۸
(۳) سنن ابي داوُد ج۲ ص۱۴۵
(۴) الإصابة في تميز الصحابة ج۲ ص۱۸۷؛ الاستیعاب في معرفة الأصحاب ج۲ ص۱۸۴

Scanned by CamScanner

ب: کله چې مکه معظمه فتحه شوه نو نوموړی وتښتېد خو نبي کریم ﷺ ورته غیبانه امان ورکړ، او د دې دپاره چې نوموړي په امان باندې باور وکړي خپل څادر یا لنګ یې ور واستاوه.
ج: خو کله چې نوموړی د نبي کریم ﷺ حضور ته حاضر شو په لوړ اواز سره یې د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې زه په تاباندې ترهغه ایمان نه راوړم ترڅو چې ماته اجازه راکړې چې دوه میاشتې ستا ترڅنګ و وسېږم چې ستا په رسالت کښې ښه فکر وکړم.
د: نبي کریم ﷺ نوموړي ته اجازه ورکړه چې زما سره آن د څلورو میاشتو پورې استوګنه کولی شي. نو د همدې کبله نوموړي د حنین او طائف په غزاګانو کښې د شرک په حالت کښې ګډون وکړ او نبي کریم ﷺ ته یې د عاریه په توګه څه زغرې ورکړې.
هـ: خو کله چې د حنین د غزا غنیمتونه تقسیم شوه او نوموړي ته پکښې نبي کریم ﷺ برخه ورکړه نو په اسلام باندې مشرف شو او د "رضي الله عنه" مستحق وګرځېد.
و: بالآخره نوموړی په دوه څلوېښت (٤٢) هجري قمري کال په مکه معظمه کښې وفات شو، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## دېروالي په تعجب کښې واچول

٥ـ مونږ د [البقرة:٧٢] ایت لاندې لیکلي دي چې په یوه قوم کښې د ځینو اشخاصو وینا یا فعل کله-کله ټول قوم ته نسبتېږي. په دې مقام کښې همدغه ډول استعمال په نظر کښې نیولی شوی دی ځکه چې د حنین د غزا څخه وړاندې هیڅکله د مجاهدینو تعداد دولس زره (١٢٠٠٠) تنو ته نه وه پورته شوی نو ځکه د کوم یوه صحابي د خولې څخه دا خبره ووتله چې: «لَنْ نُغْلَبَ الْيَوْمَ مِنْ قِلَّةٍ»[١] هیڅکله به نن ورځ مونږ (د مجاهدینو) د کمبود د کبله مغلوب نه کړی شو. یعنې مونږ نن ورځ غالب یاستو او دښمن مو مغلوب دی.
مګر الله ﷻ ذکر شوې وینا ټولو مجاهدینو ته نسبت کړه چې هغه وخت در په زړه کړئ چې تاسو خپل کثرت (ډېروالي) په تعجب کښې واچولئ او داسې-داسې وینا مو وکړه.
همدارنګه په ﴿ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴾ کښې د میدان څخه تښتېدل ټولو صحابه وو ﷺ ته نسبت کړی شو حال دا چې ټول خو نه وه تښتېدلي (چې شرحه یې إن شاء الله ﷻ راروانه ده).

## سوال جواب

٦ـ که څوک وایي چې د ذکر شوې وینا د کولو وجه څه شی وه؟
مونږ وایو چې: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ»[٢] یعنې: دولس زره مجاهدین به هیڅکله د مجاهدینو د کمبود د کبله مغلوب نه کړی شي

(١) البحر المحیط ج٥ ص٣٩٢
(٢) سنن ابي داوٗد ج١ ص٣٥١؛ سنن ابن ماجه ص٢٠٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



البته که د همدغه تعداد سره-سره مغلوب ګرځي نو وجه به یې کمبود نه وي بلکې هلته به بله وجه وي چې د الله ﷻ د نصرت مخه یې نیولې وي.

نو څه لرې نه ده چې د همدغه حدیث شریف ظاهري کلماتو ته یوه صحابي کتلي وي چې مونږ خو نن ورځ دولس زرو تنو ته ورسیدو نو د مغلوبیت څخه به بچ پاتې شو.

نو په دې تقدیر همدغه ایت شریف د ذکر شوي حدیث شریف مراد ښه په ډاګه کړی دی چې: ای مؤمنانو! د حنین په غزا کښې ستاسو مغلوبیت د قلت (کمښت) د کبله نه وه، بلکې د دې کبله وه چې خپل کثرت په تعجب کښې واچولئ، تاسو ته په کار وه چې په خپل کثرت باندې نه وئ متکي شوي.

## ځمکه تنګه شوه

۷ـ د همدغې غزا په شرحه کښې الله ﷻ د ﴿ وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ﴾ جمله هم نازله کړې ده، یعنې: ای مؤمنانو! په تاسو باندې پراخه ځمکه تنګه شوه.

ځینې علماء کرام وایي چې: ذکره شوي جمله د حزن (خفګان) څخه کنایه ده[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې تاسو د مشرکانو د پلوه د غشو د باران سره مخامخ شوئ چې تاسو دپاره غټ غم او خفګان جوړ شو حتی چې په نتیجه کښې مو ماتې وخوړه.

خو مونږ ته داسې بریښي چې د ځمکې تنګوالی به د شکست څخه کنایه وي. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای مؤمنانو! تاسو ته هغه کثرت څه ګټه ونه شوه رسولی کوم چې تاسوورباندې غره وئ، او د داسې فاحش شکست سره مخامخ شوئ چې په پراخه ځمکه کښې مو د پټېدلو ځای نه شو موندلی. (په اصطلاح ټوله ځمکه درباندې تنور وګرځیده).

## د ماتې باعث څه شی وه؟

۸ـ د حنین په غزا کښې مجاهدینو داسې فاحشه ماتې وخوړه چې د رِوایاتو د اختلاف په اساس د نبي کریم ﷺ سره صرف لس کسان پاتې وه چې تر آخره پورې د جنګ په میدان کښې کلک ولاړ وه[۲].

د دغو لسو کسانو د جملې څخه یوه زنانه هم وه چې د اُم سُلیم رضي الله عنها په نامه یادېدله[۳]، په هر تقدیر د ذکر شوې ماتې دپاره لاندې عوامل په نظر راځي:

الف: د ماتې یوه عامل ته خو په ایت شریف کښې اشاره شوې ده چې ﴿ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ ﴾ هغه وخت چې تاسو خپل کثرت په تعجب کښې واچولئ (او په تاسو کښې په الله ﷻ باندې د ځینو کسانو توکل کمزوري شو).

ب: البراء ﷺ ـچې په همدې غزا کښې شامل وهـ د ماتې وجه داسې بیانوي چې مونږ خکه

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۰۹
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۷۴
(۳) البحر المحیط ج۵ ص۳۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شکست وخوړ چې ځینې بې وسلې خلک د دښمن د سختو غشو سره مخامخ شوه او په نتیجه کښې یې په ټولو مجاهدینو کښې شکست ګډ کړ[۱].

ج. اُم سُلیم رضي الله عنها په ذکره شوې غزا کښې شامله وه چې نیزه ورسره وه او نبي کریم ﷺ ته یې عرض وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا زه هغه کسان ووژنم چې تازه مسلمانان شوي دي، همدوی ستا په لښکر کښې ماتې ګډه کړه نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «يَا أُمَّ سُلَيْمٍ! إِنَّ اللهَ ﷻ قَدْ كَفَانَا وَأَحْسَنَ»[۲] یعنې: ای اُم سُلیم! د هغوی «الطُّلَقَاء» د وژلو څخه صرف نظره شه ځکه چې الله ﷻ مونږ ته د کفارو چاره وکړه (شکست یې ورکړ) او هم یې مونږ ته ښه پرېمانه غنیمتونه راپېرزو کړه، نو د شکست ګډوونکو وژل څه په کار نه دي.

د: بالآخره ځینې علماء کرام وایي چې: د غزا په پیل کښې مشرکانو ماتې وخوړه خو مجاهدینو هغوی تعقیب نه کړه او په غنیمت باندې مشغول شوه، لکه څنګه چې د احد په غزا کښې د غنیمت په راغونډولو باندې مشغول شوي وه نو خبره سرچپه شوه او په ماتې باندې مجاهدین اخته شو[۳].

## دلدل وپېژنئ

۹ـ په دغې غزا کښې نبي کریم ﷺ په داسې قچرې باندې سور وه چې دلدل نومېده او رنګ یې سپین وه خو توروالی ورسره ګډ وه[۴] چې په پښتو کښې ورته "ایرو رنګه" او یا "چوپړ" ویل کېږي.
او په عربي کښې همدغه رنګه حیوان د "شهباء" په نامه یادېږي[۵].

## مجاهدین بریالي شوه

۱۰ـ کله چې جنګ ښه شدید شو او مشرکانو وغوښتل چې د نبي کریم ﷺ څنګ راچاپېر شي نو نبي کریم ﷺ د خپلې قچرې څخه ښکته شو او د ځمکې څخه یې یو موټی خاورې راپورته کړې او د مشرکانو مخونو ته یې ور وشیندلې او داسې ښېرا یې ورته وکړه چې: «شَاهَتِ الْوُجُوْه»[۶] یعنې د دغو مشرکانو په مخونو باندې دې بدي او آفت نازل شي. نو الله ﷻ د مشرکانو د هر یوه نفر سترګو ته د ذکرو شوو خاورو بخرکي ور ورسول او ټول یې د سترګو په موږلو باندې اخته کړه په عین حال کښې د یوه پلوه نبي کریم ﷺ خپل تره (عباس رضي الله عنه) ته امر وکړ چې صحابه وو کرامو رضي الله عنهم ته د بېرته راستنېدلو دپاره په لوړ اواز سره بلنه ورکړي[۷] چې الله ﷻ دغه اواز د ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم غوږونو ته ورساوه او سمدستي بېرته را ستانه شوه او د نبي کریم ﷺ شاوخوا ودرېدل، او د بله پلوه الله ﷻ د

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۰
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۷۰
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۷۸، صحیح البخاري ج۲ ص۶۱۷
(۴) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۵۶
(۵) لسان العرب ج۱ ص۵۰۸
(۶) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۱
(۷) صحیح مسلم ج۲ ص۱۰۰

Scanned by CamScanner

کومک او نصرت ملائک را نازل کړه، نو په نتیجه کښې مشرکانو ماتې وخوړه او مجاهدین بریالي شوه چې ښه پرېمانه غنیمتونه لاس ته ورغله او ښه ډېر اسیران یې ونیول.

## نبي کریم ﷺ د رضعې خور سره ملاقي شو

۱۱_ د بندیانو (اسیرانو) په جمله کښې یوه زنانه هم ونیوله شوه چې "الشَّيْمَاء" نومېده، کله چې د نبي کریم ﷺ حضور ته ور وستله شوه نو هغې دعوه وکړه چې: یا رسول الله! زه خو ستا رضعي خور یم او د بي بي حلیمې شوده ما او تا دواړو خوړلي دي.

نبي کریم ﷺ وویلې چې: «مَا عَلَامَةُ ذٰلِكَ»[1] یعنې: د همدې خبرې ثبوت څه شی دی چې مونږ پرې باور وکړو.

نومورې زنانه جواب ورکړ: زما د خبرې نښه (ثبوت) دا دی چې یوه ورځې تا زما په شا باندې خوله لګولې وه چې نښه یې تر نن ورځې پورې باقي ده.

نبي کریم ﷺ چې ذکره شوې نښه او جوړ شوی پرهر وکوت نو یقین یې راغی چې دا یقیني زما رضعي خور ده، نو سمدستې پورته شو او څادر یې ورته وغوړاوه او نومورې زنانه یې ورباندې احترامانه کښېنوله.

د څه اختلاط څخه وروسته یې د څه مالي امداد سره-سره رخصت کړه او خپل وطن ته په ډېرې خوشالۍ سره ستنه شوه.

## اسیران ازاد کړی شول

۱۲_ په ﴿ ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ﴾ کښې د بندیانو خوشې کولو ته اشاره ده، هغه دا چې کله نبي کریم ﷺ د حنین د غزا بندیان او غنیمتي مالونه په مجاهدینو باندې ووېشل نو د دې څخه وروسته د هوازن د قبیلې یوه جرګه ورغله او وار په وار یې تقریرونه وکړه، حتی چې د جرګې یوه نفر وویلې چې: ای د الله رسوله! په دغو اسیرانو کښې ستا رضعي ترورګانې او نورې خپلوانې هم شاملې دي نو هیله ده چې بندیان را ازاد کړې او نیول شوي مالونه بېرته راکړې، مونږ په تا باندې ایمان راوړی دی او په اسلام باندې مشرف شوي یاستو.

نبي کریم ﷺ جرګې ته اختیار وکړ چې یا مالونه بېرته واخلئ او یا به اسیران درته ازاد کړی شي اما دواړه مطلبونه نه شي کېدلی، خو جرګې د بندیانو ازادي خوښه کړه[2].

څرنګه چې اسیران او مالونه ټول توزیع شوي وه نو نبي کریم ﷺ د ماز‌پښین د لمانځه څخه وروسته اعلان وکړ چې کوم شی چې زما او زما د تربرونو په لاس کښې دی نو هغه د دغې جرګې شو.

نو د څو معدودو اشخاصو څخه په غیر انصارو او مهاجرینو ټولو خپلې برخې د نبي کریم ﷺ په اختیار کښې واچولې، خو نبي کریم ﷺ اعلان وکړ چې هرڅوک چې خپل اسیر په خپله خوښه نه ازادوي

(۱) سیرت ابن هشام ج۴ ص۹۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هغه دې هم ازاد کړي نو په آينده کښې به زه ورته عوض ورکړم، او ويې فرمايل: «فَرُدُّوا إِلَى النَّاسِ أَبْنَاءَهُمْ وَنِسَاءَهُمْ»[1] نو خلکو (جرګې) ته د دوی زامن او ښځې بېرته ورمستردې کړئ او ازادې يې کړئ! نو ټول اسيران ازاد کړی شوه او په ايمان باندې مشرف شوه.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٢٨﴾﴾

[۲۸] ای هغو کسانو چې ايمان يې را وړی دی! يقيناً مشرکان پليت دي (باطني خبث لري) نو د خپل دغه کال (نهم کال) څخه وروسته دې المسجد الحرام (حرم شريف) ته نه نژدې کېږي (دوی پرېږدي چې ورنژدې قدرې شي).

او که چېرې تاسو (د دوی د منعه کولو په صورت کښې) د فقر څخه ډارېږئ (چې تجارتي مالونه به بند شي) نو ډېر ژر دی چې الله ﷻ به تاسو د خپل فضل (حلالو مالونو) څخه (له بله طرفه) غنيان وګرځوي که اراده يې وشي. يقيناً الله ﷻ د علم خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباطونه

۱ـ مونږ د [التوبة:۳] ايت لاندې ليکلي دي چې په هغه څلور فقره ايز اعلان کښې کوم چې علي ﷺ د نهم کال د حج په موسم کښې د خلکو غوږونو ته ورساوه، يوه ماده دا هم وه چې په راتلونکي کښې به مشرکان د مکې معظمې حرم ته نه داخلېږي.

په دې ايت کښې د هغې اشکال جواب ته اشاره شوې ده کوم چې د ذکرې شوې مادې په ارتباط سره د چا ذهن ته ورتله، هغه دا چې که مشرکان د مکې معظمې د حرم شريف څخه بند کړی شي نو د تجارتي مالونو مخه به هم د حرم شريف څخه ونيوله شي او د مسلمانانو اقتصاد به کمزوری جوړ شي او بالآخره د فقر سره به مخامخ شي.

۲ـ په وړاندې ايتونو کښې د جهاد هغه موانع بيان شوي وه کوم چې د مجاهدينو په ذواتو پورې يې اړه درلوده، لکه د خپلوانو د مالونو محبت او داسې نور، په دې باندې علاوه هلته هغو موانعو ته هم اشاره شوې وه کوم چې د الله ﷻ د نصرت د موندلومخه نيسي، لکه د الله ﷻ څخه په غير په بل شي باندې اعتماد کول او داسې نور.

په دغه ايت کښې د هغو موانعو يو مثال ښودلی شوی دی کوم چې د مجاهدينو د ذواتو څخه دباندې وي او بلکې مشرکانو (کفارو) پورې اړه لري.

[1] سيرت ابن هشام ج۴ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ هلته په جهاد کښې په الله ﷻ باندې د توکل د کمزورۍ نتیجه ښودلې شوې وه او دلته په اقتصاد کښې د کمزورې توکل حالت بیان شوی دی.

۴_ بالآخره په دې ایت کښې د مالونو د محبت او د الله ﷻ محبت د موازنې دپاره یو مثال ښودلی شوی دی، چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! د جهادي ارشاداتو په ضمن کښې لاندې دوه ارشادات هم د زړه په غوږونو واورئ او د قیامت د ورځې پورې پرې عمل وکړئ:

۱_ مشرکان پلیت دي او باطني خبث لري او هم دوی ستاسو سره ډېره قوي کینه لري او هیڅکله ستاسو په هکله د شیطانت او ورانکارۍ څخه لاس نه اخلي.

نو په تاسو باندې جهاد لازم دی ترڅو دوی په راتلونکي کښې المسجد الحرام او بلکې حرم شریف ته ورنژدې هم نه شي پاتې خو لا هلته ورداخلېدل، همدغه سړني داخلېدل باید د دوی وروستني داخلېدل وي او باید چې تر ابده پورې بیا تکرار نه شي.

۲_ ای مؤمنانو! که بالفرض ستاسو په ذهن کښې دا اشکال خطور وکړي چې په مشرکانو باندې د بندیز لګولو په صورت کښې به ستاسو اقتصاد کمزوری شي او د تجارتي مالونو مخه به بنده شي نو تاسو پوه شئ چې هرڅه د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي او د ارزاقو کونجیګانې د همده ﷻ پورې اختصاص لري.

د مشرکانو تجارتي مالونه د الله ﷻ په اراده ستاسو د اقتصاد د پیاوړي کېدلو سبب جوړېده، کله چې تاسو په شریعت باندې کلک ولاړ یاست نو الله ﷻ به تاسو ته د رزق او اقتصاد بله دروازه پرانیزي او د بلې لارې به مو په ګېډه ماړه کړي البته په هغه صورت کښې چې د الله ﷻ اراده وشي.

که بالفرض تاسو د اقتصادیاتو د پیاوړي کولو په غرض د الله ﷻ فرضي احکام د پښو لاندې کړئ نو معنی به یې دا وي چې تاسو خپل دین په ګېډه باندې خورئ.

یا په بل عبارت: د اسلام دین ستاسو د اقتصادي ضروریاتو د پوره کولو څخه عاجز دی او تاسو ته کور، کالي، ډوډۍ نه شي درکولئ. حال دا چې د اسلام دین ستاسو د دنیا او آخرت دواړو متکفل دی او بس.

۳_ ای مؤمنانو! الله ﷻ په هر شي باندې عالم دی ستاسو ضروریات ورته ټول معلوم دي او هم الله ﷻ د حکمت څښتن دی چې ټول کارونه او شرائع یې د حکمتونو څخه ډک دي، څه لرې نه ده چې د مشرکانو په تجارتي مالونو باندې د بندیز په صورت کښې به یې تاسو ته د رزق بله دروازه په نظر کښې نیولې وي او هغه به ستاسو دپاره د دې دروازې څخه بهتره او د عزت څخه ډکه وي، لنډه دا چې الله ﷻ پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ نَجَسٌ ﴾ کلمه په مفرد، مثنی، جمع او بالآخره هم په مذکر او مؤنث ټولو حالاتو کښې په یو ډول لوستله کیږي[۱].

د همدې کېله په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴾ دپاره خبر واقع شوې ده، اما ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې په لاندې معناوو باندې تفسیره شوې ده[۲]:

الف: مشرکان بلکې ټول کفار نجس الابدان (پلیت) دي، لکه څنګه چې سپي او نور مردار خاروي پلیت دي.

ب: مشرکانو ته ځکه ذکر شوی لقب ورکړې شوی دی چې دوی د جنابت څخه خالي نه وي او کوم چې شرعي طهارت (پاکي) ده هغه په دوی کښې نشته.

ج: مشرکان او نور کفار ځکه نجس ګڼل شوي دي چې باید د دوی څخه مؤمنان خپل ځانونه داسې په ځنګ وساتي لکه څنګه چې سړی خپل ځان د نجاست څخه په ځنګ ساتي، یا په بل عبارت: دلته د نجاست څخه باطني او عقیدوي نجاست مطلب دی چې دوی نه درسته عقیده لري او نه دمسلمانانو دپاره نیک نیت.

### ایا جوماتونو ته د کفارو ننوتل جواز لري؟

۲ـ جوماتونو ته د مشرکانو (کفارو) د ننوتلو جواز او عدم جواز د ﴿ نَجَسٌ ﴾ د کلمې د تفسیر پورې په لاندې ډول ارتباط نیسي:

الف: المالکیه علیهم الرحمة اولنی دواړه معناوې په نظر کښې نیسي او وایي چې هیڅ کافر ته جواز نه لري چې المسجد الحرام بلکې حرم شریف او یا بل کوم جومات ته داخل شي، ځکه لکه څنګه چې مشرکان نجس دي همدارنګه ټول کافران پلیت دي او لکه څنګه چې المسجد الحرام او حرم شریف محترم دي همدارنګه ټول جوماتونه محترم دي[۳].

ب: الشوافع علیهم الرحمة هم د ﴿ نَجَسٌ ﴾ د کلمې لومړنی دواړه معناوې په نظر کښې نیسي او فیصله کوي چې ټول کافران نجس او پلیت دي نو المسجد الحرام ته لکه څنګه چې د مشرکانو ننوتل جائز نه دي همدارنګه یهودان او نصارا بلکې ټول کافران د ننوتلو حق نه لري، او که مسلمانان اجازه ورکړي نو دوی ورباندې ګناهګاریږي، اما نورو جوماتونو ته د کفارو داخلېدل ممنوع نه دي[۴]، ځکه چې په ایت شریف کښې په المسجد الحرام باندې صراحت کړی شوی دی، او د دوی په نزد په

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۸۱، لسان العرب ج۶ ص۲۲۶
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۲۸۳
(۳) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۰۴
(۴) تفسیر المظهري ج۴ ص۱۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه شي باندې د صراحت کولو معنی دا ده چې د مسکوت عنه شي څخه ذکر شوي حکم منفي ګرځي، نو د المسجد الحرام د ممنوعیت حکم په نورو جوماتونو کښې د عدم ممنوعیت په حکم باندې دلالت کوي، یعنې نورو جوماتونو ته مشرکان پرېږدئ چې ورنژدې شي.

په دې باندې علاوه، اباحت په اشیاوو کښې اصل دی او په شریعت کښې داسې دلیل موجودیت نه لري چې دغه اصل یې د نورو جوماتونو په هکله د منځه وړی وي[1] لکه څنګه چې د المسجد الحرام په باره کښې همدغه اصل په ایت شریف کښې د منځه وړلی شوی دی البته د مشرکانو په هکله.

ج: احناف علیهم الرحمة د ﴿ نَجَسٌ ﴾ کلمه په درېمه معنی سره اخلي چې همدغه معنی اکثرو فقهاوو کرامو غوره کړې ده[2] نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای مؤمنانو! د سږني کال څخه په غیر مشرکان د المسجد الحرام شاوخوا ته نژدې هم مه پرېږدئ چې دوی حج یا عمرې (عبادت) ته ورشي، ځکه چې دوی باطني خبث لري، یعنې کافران دي او د کافرانو عبادت د الله ﷻ په نزد باندې مردود دی.

همدا مضمون لږ څه وړاندې الله ﷻ داسې منعکس کړی دی چې: ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ ﴾ [التوبة:۱۷] یعنې د دغو مشرکانو نېک اعمال د الله ﷻ په نزد باندې ضائع دي.

نو د احنافو علیهم الرحمة په نزد مؤمنانو ته جائزه ده چې اهل الذمه کافرانو ته اجازه ورکړي چې المسجد الحرام یا د دنیا بل جومات ته ننوزي[3].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په نصوصو کښې خو د مفهوم عموم د اعتبار وړ دی نو په کار وه چې اهل الذمه کافران هم د المسجد الحرام او یا د نورو جوماتونو څخه منعه کړی شوي وی ځکه د مشرکانو په مفهوم کښې ټول کافران شامل دي او د المسجد الحرام مفهوم د دنیا ټولو جوماتونو ته شامل دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُشْرِكُونَ ﴾ په مفهوم کښې د عهد خارجي الف او لام په اعتبار سره لاندې خاصیتونه د نظره نه دي غورزولي شوي:

الف: هغوی خپل ځانونه د المسجد الحرام متولیان ګڼل، چا ته به یې چې خوښه وه هغه ته به یې د ورداخلېدلو اجازه ورکوله او ځینې نور به یې د ورداخلېدلو څخه منعه کول، لکه څنګه یې چې د حدیبیه په مقام کښې د صحابه وو کرامو ﷺ د ورتګ مخه ونیوله، همدې خاصیت ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓ ﴾ [الأنفال:۳۴] یعنې:

---

(۱) الفقه الاسلامي وادلته ج۳ ص۵۸۳
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۷۶
(۳) احکام القران للجصاص ج۳ ص۸۸؛ الفقه الاسلامي وادلته ج۳ ص۵۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دوی (مشرکان) د المسجد الحرام څخه (خلک) منعه کوي حال دا چې دوی د المسجد الحرام متولیان (واکداران) نه دي (دا کار د مؤمنانو متقیانو سره مناسب دی).

ب: هغوی خپل ځانونه د مسجد حرام معماران ګڼل، الله ﷻ فرمایي: ﴿ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا۟ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة:۱۷] یعني: مشرکانو ته دا مناسبه نه ده چې دوی د الله ﷻ د جوماتونو عموماً او د المسجد الحرام) خصوصاً ابادي وکړي (دا د متقیانو کار دی).

ج: هغوی ته خپل شرکي اعمال (شرکي حج او شرکي عمره) عبادت ښکارېده او ګومان یې کاوه چې د دوی همدغه عبادت د الله ﷻ په نزد باندې مقبول دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿ أُو۟لَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ وَفِى ٱلنَّارِ هُمْ خَـٰلِدُونَ ﴾ [التوبة:۱۷] یعني: دغه مشرکان (چې دي) عملونه یې (د الله ﷻ په نزد) ضائع دي او همدوی به په اور کښې همېشه وي.

او پوره واضحه ده چې ذکر شوي درېواړه خاصیتونه په اهل الذمه کافرانو باندې نه شي صادقېدلی، ځکه چې دوی نه د جوماتونو د واکدارۍ دعوه کوي، نه خپل ځانونه د جوماتونو معماران ګڼي او بالآخره نه په جوماتونو کښې خپلو عملونو ته د عبادت لقب ورکوي، نو څرګنده شوه چې په ایت شریف کښې ذکر شوی مفهوم په اهل الذمه وو باندې نه صادقېږي.

هو! که کوم یو اهل الذمه د ذکرو شوو درېوو خاصیتونو مدعي شي نو په مسلمانانو باندې لازمه ده چې نه المسجد الحرام ته د ورننوتلو اجازه ورکړي او نه یې بل جومات ته د ورننوتلو مخه خوشې کړي، د همدې کبله نبي کریم ﷺ د کفارو هغې جرګې ته په خپل جومات کښې خیمه وهلې وه کومه جرګه چې د ثقیف د قبیلې، څخه د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته مدینې منورې ته ورغلې وه[۱].

او د همدې کبله نبي کریم ﷺ ثمامه بن اُثال د څه وخته پورې تړلی پرېښود کله چې د مجاهدینو یوه ټولګي نیولی وه او د جومات د یوې ستنې پورې یې تړلی وه[۲]، که نه نو سمدستې به یې خوشې کړی وی او یا به یې په بل ځای کښې بندي ساتلی وی.

## عَيْلَةً څه معنی؟

۳ـ د ﴿ عَيْلَةً ﴾ کلمه د فقر څخه عبارت ده چې په همدې معنی باندې په یوه اوږده حدیث شریف کښې استعماله شوې ده، د حدیث څه لنډ مضمون لاندې لوستلی شئ:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یوه سړي د عیله (فقر) څخه شکایت وکړ او بل ورته د لارې شکوونکو (قطاع الطریق) څخه شاکي شو. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې نژدې وخت کښې داسې امنیت راتلونکی دی چې د مکې معظمې څخه به پرته د بدرقې (بدرګې) قافله یوه خوا او بله خوا درومي خو د لارې شکولو خطر به ورسره نه وي. او هر چې عیله (فقر) دی «فَإِنَّ السَّاعَةَ لا تَقُومُ حَتَّى يَطُوفَ أَحَدُكُمْ

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۲۶: مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۶
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِصَدَقَتِهِ لا يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا مِنْهُ»(۱) نو قيامت به تر هغه قائم نه شي ترڅو چې ستاسو يو کس به خپله صدقه (زکات د فقيرانو پسې) ګرځوي خو هغه څوک به نه شي موندلی چې د ده څخه يې قبول کړي.

## الله ﷻ خپله وعده رښتيا کړه

۴_ الله ﷻ چې صحابه کرامو ؓ ته د اقتصادي منابعو کومه وعده ورکړې وه هغه يې وربوره کړه، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ د عربو ډېرو قبائلو ته توفيق ورکړ او په اسلام باندې يې مشرف کړه، د همدې جملې څخه د يمن، نجد او هم د صنعاء او نورو قبائلو خلک ګڼل کېږي چې مکې معظمې ته د حج او عمرې په سفرونو کښې يې د تجارتي مالونو انتقالات ژوندي وساتل.

ب: الله ﷻ د جهاد لمن پراخه کړه چې د يو پلوه د غنيمتونو لړۍ روانه پاتې شوه او د بله پلوه په اهل الکتابو باندې د جزيو اېښودلو لړۍ پيل شوه.

ج: بالآخره الله ﷻ وخت په وخت ورښتونه وکړه او د ځمکې حاصلات يې ورته اضافه کړه، او داسې نور.

## يادونه

۵_ ځينو علماوو کرامو د همدغه ايت _چې بحث پکښې روان دی_ د ﴿إِن شَآءَ﴾ جملې په نزول کښې څه فوائد ليکلي دي(۲)، همدارنګه ځينو نورو علماوو کرامو د رزق اسباب شمېرلي دي او شپږ‌و ته يې رسولي دي(۳).

مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه که څوک فرصت لري هيله ده چې هملته يې وګوري.

## د ايت شريف لوی ارشاد

۶_ د څوارلس کاله جهاد څخه وروسته اوس د دې خبرې وخت رارسېدلی دی چې په افغانستان کښې سوچه إسلامي حکومت جوړ شي، داسې اسلامي حکومت.قائم شي چې ټوله کفري دنيا ترې په ډار کښې ده چې که دلته اسلامي حکومت قائم شي نو لکه څنګه يې چې د روسيانو پراخه حکومت په ګونډو کړ همدارنګه به په دنياکښې ټول کفري دولتونه نسکور کړي او د کفرياتو جرړې به يې وباسي.

نو د همدې کبله نن ورځ(۴) کفري دولتونه د افغانستان په مجاهدينو کښې لاس وهنه کوي او نه غواړي چې په اتفاق او وروروليٍ سره د سوچه مجاهدينو حکومت په پښو باندې ودرېږي.

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۰
(۲) حاشيه الشيخ زاده علي تفسير البيضاوي ج۲ ص۳۲۸
(۳) تفسير القرطبي ج۸ ص۱۰۸
(۴) ۱۳۷۵۱۴۱۵ ه‍ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی زیات زور لګوي چې د مجاهدینو قاتلانو (کمونستان) ته هم په حکومت کښې برخه ورکړی شي او د سوچه اسلامي حکومت په ځای مختلط حکومت جوړ کړی شي، افسوس چې په همدغه مطلب کښې د دوی سره غرب مشربه مسلمانان هم همکاري کوي او ډول ته یې ګډیږي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه غربیان او د دوی همکاران غواړي چې په مجاهدینو باندې اقتصادي بندیزونه ولګوي او په خپلو مرستو باندې داسې شرطونه کېږدي چې د سوچه اسلامي حکومت سره منافات لري، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: غربیان او د دوی همکاران وایي چې مونږ به هله د افغانستان په بیا ابادولو کښې برخه اخلو چې زنانه وو ته په رسمي دوائرو کښې د کار موقع ورکړی شي، چې په بې شرمانه توګه دوی داسې کار وکړي لکه څنګه چې په کفري دولتونو کښې په کارونو باندې بوختې دي.

ب: باید د زنانه وو په لباس باندې اسلامي بندیز ونه شي لګولی او دوی ته اجازه ورکړی شي چې د غربي لباس څخه استفاده وکړي.

ج: د زنانه وو تعلیم او تربیه باید د نارینه وو څخه جدا نه کړی شي، په اصطلاح دوی حق لري چې د خلط ملط تعلیم څخه استفاده وکړي.

د: د اسلامي حدودو تطبیق د بشري حقوقو د پښو لاندې کول دي، غربیان د غله لاس پرې کول او د فحشکارانو رجم (سنګسارول) وحشت ګڼي.

لنډه دا چې ذکر شوی ایت شریف مجاهدینو ته ارشاد کوي چې په خپل اسلامي دریځ باندې کلک ودریږي اود کفري دولتونو د بندیزونو هیڅ پروا ونه کړي، لکه څنګه چې الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ اقتصادیات د بلې لارې څخه قوي کړه امید دی چې همدارنګه په دوی باندې هم د اقتصادیاتو دروازې د بله پلوه راپرانیزي او اړتیاوې یې پوره کړي. او هم دوی ته په کار دي چې د دښمنانو په لمسون باندې تیر نه وځي او په اتفاق او ورورګلۍ سره یو د بل څخه جار شي او بالآخره باید جنګونو او ناندریو ته خاتمه ورکړي، اللهم وفقهم.

﴿قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٣٠﴾ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣١﴾ يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن
يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ
لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

[۲۹] (ای مؤمنانو!) د هغو کسانو سره جنګ (جهاد) وکړئ چې نه په الله ﷻ باندې (په ربښتیا سره) ایمان راوړي او نه په وروستنۍ ورځې باندې او (هم) نه هغه شی حرام ګڼي چې الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ حرام کړی دی، او نه حق دین (اسلام) ته غاړې ږدي.

(دا خلک څوک دي؟ دا) د هغو خلکو څخه عبارت دي چې دوی ته کتاب (تورات او انجیل) ورکړی شوی دی.

(تر هغه د دغو خلکو سره جنګ وکړئ) ترڅو چې دوی (تاسو ته) د غلبې د کبله په داسې حال کښې جزیه درکړي چې دوی د ذلت خاوندان وي.

[۳۰] او (علاوه په دې) یهود وايي چې عُزیر د الله ﷻ زوی دی او نصارا وايي چې مسیح (عیسی عليه السلام) د الله ﷻ زوی دی.

دا د دوی وینا (او عقیده ده فقط) په خولو سره (چې هیڅ دلیل او برهان نه لري).

د دوی (اهل الکتابو وینا) د هغو کسانو د وینا (خبرو) سره مشابهت لري چې هغوی د دوی څخه وړاندې کفر اختیار کړی دی (او پرښتو ته یې د بنات الله لقب ورکړی دی چې مشرکان دي).

په دوی (اهل الکتابو) باندې دې د الله ﷻ لعنت وي چې څنګه (د حقې لارې څخه) اړول کېږي.

[۳۱] دوی خپل علماء او خپل راهبان د الله ﷻ څخه په غیر په معبودانو سره نیولي دي، او هم یې مسیح (عیسی عليه السلام) د مریمې زوی (په معبودیت سره نیولی دی) حال دا چې دوی (اهل الکتابو) ته امر نه وه کړی شوی مګر د دې دپاره چې دوی د یوه معبود عبادت وکړي.

(داسې یو معبود) چې نشته د عبادت لایق (او مستحق) مګر همدی ﷻ دی (او بس).

ده ﷻ ته د هغه څه څخه پاکي ده چې دوی یې ورسره شریکوي.

[۳۲] دوی (اهل الکتاب) اراده لري چې د الله ﷻ (د اسلام) رڼا په خپلو خولو باندې مړه کړي او الله ﷻ (په کلکه) امتناع کوي مګر دا چې خپله (د اسلام) رڼا پوره کړي (او ټوله دنیا پرې روښانه کړي) اګر که کافران (دا کار) نه خوښوي.

[۳۳] دا (الله ﷻ) هغه اقدس ذات دی چې خپل پیغمبر ﷺ یې د هدایت (قرآن کریم) او د حق دین (اسلام) سره د دې دپاره (دنیا ته) استولی دی ترڅو د ده ﷺ دین (اسلام) په هر دین باندې غالب وګرځوي، اګر که مشرکان (دا کار) نه خوښوي.

## ارتباطونه

۱ــ تر دې خایه هغه بحث را روان وه چې د مشرکانو پر ضد جهاد پورې یې اړه درلوده او د دې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځای ځخه وروسته هغه بحث پیل شوی دی کوم چې د اهل الکتابو پرضد جهاد پورې ارتباط نیسي.

۲ـ په وړاندې نژدې ایت شریف کښې الله ﷻ مؤمنانو ته وعده ورکړې وه چې د مکې معظمې ځخه د مشرکانو په بندولو باندې ستاسو اقتصاد نه کمزوری کېږي الله ﷻ به تاسو ته د اقتصاد قوي کېدلو نورې لارې پرانیزي، په دې ایتونو کښې د نورو لارو پرانستلو ته اشاره شوې ده چې په اهل الکتابو باندې د جزیو ایښودل دي او ذ همدوی او د نړۍ د نورو کافرانو ځخه د جهاد په نتیجه کښې غنیمتونه را ټولول دي. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! کله چې تاسو نن ورځ د مشرکانو د جهاد ځخه اوزګار شوئ او د جزیرة العرب قبائل ځینې په اسلام باندې مشرف شوه او ځینې نور نژدې دي چې ډلې-ډلې د الله ﷻ په دین (اسلام) کښې داخل شي، نو تاسو ته په کار دي چې د جهاد سلسله توده وساتۍ او دا ځل د اهل الکتابو بلکې د دنیا نورو کفارو ته هم د جهاد مخه ورتاوه کړئ ترڅو د یوه طرفه د کفر مخنیوی او د اسلام پرمختګ په چالاکۍ سره په دنیا کښې خور شي او د بله طرفه ستاسو اقتصادیات په غنیمتونو او جزیو باندې تقویه شي.

۲ـ نو ای مؤمنانو! تاسو د هغو خلکو سره جهاد وکړئ چې هغوی لاندې خاصیتونه لري:

الف: هغوی دعوه کوي چې مونږ په الله ﷻ باندې عقیده لرو خو څنګه چې مناسبه عقیده ده چې د شرک ځخه خالي وي هغه عقیده نه لري (لږ وروسته به واضحه شي).

ب: همدارنګه دوی په وروستنۍ ورځې هم منحرفه عقیده لري چې فقط خپل ځانونه ورته جنتیان ښکاري او په نورو ټولو خلکو باندې د دوزخیانو ګومان کوي.

ج: هغوی هغه شی حرام نه ګڼي کوم شی چې الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ حرام کړی وي بلکې هغوی د خپلو پاپانو او د خپلو (په نامه) ملایانو خولو ته ګوري. یا په بل عبارت: د تشریع حق یې غیرالله ته ورکړی دی. په دې باندې علاوه د خپلو ځانونو ځخه په غیر د نورو خلکو مالونه حلال ګڼي.

د: لنډه دا چې دوی حق دین نه اختیاروي، نه د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام په شریعت باندې تلل غوره کوي او نه د آخر الزمان پیغمبر ﷺ حق دین ته غاړې ږدي.

۳ـ ای مؤمنانو! تاسو پوهېږئ چې د ذکر شوو خاصیتونو خاوندان ځوک دي؟

هغه کسان دي چې هغوی ته کتاب (تورات او انجیل) ورکړی شوی وه خو هغوی خپل کتاب د پښو لاندې کړ او د هغه په غوښتنه یې عمل ونه کړ.

نو څرنګه چې ذکر شوي خاصیتونه هر یو د جهاد موجب دي نو تاسو د اهل الکتابو سره تر هغه وجنګېږئ چې ترڅو تاسو ته په خپل لاس د ذلت په حال کښې جزیه درکړي او د ورکړې استمرار یې په ځانونو باندې قبول کړي، او یا ذکر شوي خاصیتونه پرېږدي او ستاسو غونډې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ شریعت ته غاړې کېږدي او په اسلام باندې مشرف شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای مؤمنانو! که څه هم اهل الکتاب مدعیان دي چې دوی موحدین دي او الله ﷻ واحد لا شریک ګڼي مګر د دوی دغه دعوه څکه دروغ ده چې:

الف: په یهودو کښې داسې خلک هم شته چې عُزیر ﷺ ته د ابن الله (د الله د زوی) لقب ورکوي.

ب: او نصارا خو مسیح (عیسی ﷺ) ته ابن الله (د الله زوی) وایي.

ج: نو دا خبره چې مونږ موحدین یاستو محض د خولې خبره ده او هیڅ واقعیت نه لري او نه پرې کوم دلیل او برهان شته.

د: د اهل الکتابو ذکره شوې شرکي خبره د هغو خلکو د خبرې سره مشابهت لري کوم چې د دوی څخه لا وړاندې کافران شوي وه او پرښتو ته یې د بنات الله لقب ورکړی وه چې د مشرکانو څخه عبارت دي. نو لکه څنګه چې په تاسو باندې د هغوی سره جهاد فرض وه همدارنګه د دوی (اهل الکتابو) سره هم جهاد ستاسو فریضه ده.

هـ: الله ﷻ په دوی (اهل الکتابو) باندې خپل لعنت نازل کړی او د خپل رحمت څخه یې لرې کړي دي نو که بالفرض د دوی دعوې واقعیت درلودی نو الله ﷻ به د خپل رحمت څخه نه وی لرې کړي.

و: د اهل الکتابو کفري عقیده بالکل څرګنده ده حتی چې د هیچا څخه پټه او پنا نه ده خو دوی د دې څرګندې عقیدې سره-سره د توحید دعوه کوي.

عجیبه ده دوی کوم پلو ته اړولی کېږي؟ چې د خپلې عقیدې بطلان ته یې پام نه دی.

ز: برسېره په دې، یهودان خپلو علماوو ته د معبودانو په نظر ګوري او د تشریع حق یې همدوی ته ورکړی دی.

ح: او نصارا خپلو راهبانو او هم مسیح بن مریم ﷺ ته د الله ﷻ څخه په غیر د معبودانو لقب ورکوي. حال دا چې ټول اهل الکتاب (نصارا او یهود) په بل شي باندې نه وه مامور کړی شوي مګر په دې خبره باندې چې یوازې او یوازې د الله ﷻ واحد لا شریک عبادت وکړي او بس. او دا څکه چې په حقه باندې معبود بل څوک نشته مګر همدی ﷻ دی او بس.

همده ﷻ لره د هغه څخه پاکي ده چې اهل الکتاب یې ورسره په عبادت کښې شریکوي.

۵_ ای مؤمنانو! اهل الکتاب غواړي چې د توحید هغه ډیوه به د خولو په پوکې سره مړه کړي کومه چې الله ﷻ روښانه کړې ده او اراده یې کړې ده چې پلوشې یې ټولې دنیا ته ورسوي.

د اهل الکتابو د خولو پوکې دا دي چې کله د آخر الزمان پیغمبر ﷺ په هغو علاماتو باندې ساکت پاتې کېږي کوم چې د دوی په کتابونو کښې موجودیت لري او کله لا هغو ته تغیر ورکوي ترڅو په خلکو باندې خلط واقع کړي او هیڅوک ونه شي کړی چې د رښتینې پیغمبر عقیده ورباندې وکړي.

مګر اهل الکتاب په دې مطلب کښې څکه نه شي بریالي کیدلی چې الله ﷻ په دې باره کښې بله خبره نه مني مګر دا چې په خپله روښانه کړی شوې ډیوې باندې به ټوله نړۍ روښانه کړي، او دا کار ضرور کیدونکی دی که څه هم کفار یې نه خوښوي او په روښانه پاتې کېدلو باندې یې خپه دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶ـ ځکه چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل پیغمبر (محمد ﷺ) یې د هدایت (قرآن کریم) او حق دین (توحید) سره د دې دپاره لېږلی دی چې د دنیا په ټولو ادیانو باندې یې غالب کړي او د همدغه حق دین څخه په غیر نور ټول ادیان د منځه یوسي، نو دا کار ضرور کېدونکی دی او هېڅوک یې مخه نه شي نیولی که څه هم مشرکان یې نه خوښوي او ورباندې خپه دي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د دې سورت (التوبة) په سریزه کښې لیکلي دي چې د دې سورت د اته ویشتو ایتونو څخه په غیر (چې د نهم کال په آواخرو کښې نازل شوي دي) د متباقي ایتونو نزول یې د تبوک د غزا څخه وړاندې پیل شوی دی، او په درې ګروپونو باندې ویشلي شوي دي.

نو اولنی ګروپ ایتونه د ذکرو شوو ایتونو څخه پیل شوي دي چې د اهل الکتابو د عقایدو پوره څېړنه پکښې شوې ده، ترڅو د چا ذهن ته ورنه شي چې اهل الکتاب خو د توحید مدّعیان دي ایا د دوی سره جهاد کول جائز دی؟

## دین الحق د کوم دین څخه عبارت دی؟

۲ـ مفسرین کرام[1] د ﴿ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلْحَقِّ ﴾ په جمله کښې "دین الحق" د هغه دین څخه عبارت ګڼي کوم چې په موسی ﷺ او په عیسی ﷺ باندې نازل شوی وه. نو د معنی حاصل یې داسې راووځي چې: اهل الکتاب د هغه دین پیروي هم نه کوي کوم چې د دوی په پیغمبرانو باندې نازل شوی وه، که بالفرض دوی دخپل دین پیروي کړې وی نو ضرور به په اسلام باندې معتقد شوي وی ځکه چې د دوی په دین کښې خو د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د حقانیت ثبوت شته دی.

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې دلته به د ﴿ دِينَ ٱلْحَقِّ ﴾ کلمه د اسلام څخه عبارت وي لکه څنګه چې همدغه کلمه په ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ ﴾ کښې د اسلام څخه عبارت ده. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: د اهل الکتابو سره به جهاد ولې نه فرض کېږي چې دوی د اسلام حق دین نه قبلوي.

## جزیه څه معنی؟

۳ـ ﴿ ٱلْجِزْيَةَ ﴾ کلمه د "جزی، یجزي" څخه مصدر ده، چې د "فِعْلَة" په وزن ده او د جزا نوعیت بیانوي. یعنې جزیه د هغه نوعه مال څخه عبارت ده چې د اهل الذمه وو څخه د هغوی د نه وژلو په بدله اخستل کېږي[2].

که څه هم د ایت شریف ظاهري مضمون داسې راووځي چې تاسو د اهل الکتابو سره تر هغه وخته

---

[1] تفسیر المراغي ج۴ ص۹۴

[2] لسان العرب ج۱۴ ص۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پورې جنګ ته ادامه ورکړئ ترڅو چې جزیه درکړي، مګر مطلب دا دی چې ترڅو د جزیې درکول قبول کړي او په غاړې باندې یې واخلي، او بالآخره یا په اسلام باندې مشرف شي.
همدارنګه هغه ذمي د جزیې د اخستلو څخه معافېږي کوم چې د ذمیتوب په حال کښې اسلام راوړي او دا ځکه چې په مسلمان باندې جزیه نشته[۱].

## د یوه نفر د جزیې اندازه

۴_ جزیه نه د جنس په اعتبار سره منحصره ده چې فلانی مال په جزیه کښې قبلېږي او فلانی نه قبلېږي، او د نه د قدر په اعتبار سره انحصار لري چې د فلاني قدر څخه دې زیاته نه وي او یا دې د فلانی اندازې څخه کمه نه وي، نو د همدې کبله پکښې علماء کرام د نظر اختلاف لري.
د احنافو علیهم الرحمة په نزد باید په لاندې درېوو ګروپونو باندې ووېشله شي[۲]:
الف: په غنیانو اهل الذمه باندې د کال في نفر اته ځلوېښت (۴۸) درهمه دي او یا هغه مبلغ یا جنس دی چې د ذکر شوي مبلغ سره مساوي ارزښت ولري.
ب: د متوسط الحال ذمي څخه باید څلېرویشت (۲۴) درهمه یا د دې مساوي بل جنس یا مبلغ واخستلی شي.
ج: بالآخره باید د فقیر کاسب څخه دولس (۱۲) درهمه او یا د دې معادل مبلغ یا جنس واخستلی شي.

## کوم اهل الذمه د جزیې څخه معاف دي؟

۵_ لکه څنګه چې وړاندې د جزیې په تعریف کښې ذکره شوه چې جزیه د قتل (وژلو) بدله ده نو په کار دي چې د هغه چا څخه جزیه وانخستله شي د کومو چې وژل جائز نه وي. په همدې مضمون باندې ذکر شوی ایت شریف دلالت کوي ځکه چې د جزیې قبول د جنګ انتهاء (پای) تاکلې شوې ده، چې فرمایي ﴿ حَتَّىٰ يُعْطُوا۟ ٱلْجِزْيَةَ ﴾ یعنې جنګ ته ترهغه ادامه ورکړئ ترڅو چې جزیه قبوله کړي. نو د همدې کبله هغه کسان د جزیې د ورکړې څخه معاف دي کوم چې په جنګ کښې اشتراک نه کوي[۳]، لکه ړوند، مفلوج، شل، شوټ، بوډا، زنانه، ماشومان، لیونیان او بالآخره راهبان چې خلکو سره اختلاط نه کوي او د جنګ د لارې ښودانه نه کوي.

## اهل الذمه کفارو ډولونه

۶_ ټول کفار د ذمي جوړېدلو او نه جوړېدلو په اعتبار سره په لاندې درېوو ګروپونو باندې وېشلی کېږي[۴]:

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۰۲
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۹۶
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۲۸۶، احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۹۶
(۴) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۳۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یو ګروپ اهل الکتاب (یهود او نصارا) دي چې په ایت شریف کښې د دوی په ذمیان جوړېدلو باندې صراحت شوی دی.

ب: بل د مجوسیانو ګروپ دی چې دوی هم ذمي جوړېږي څکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «سُنُّوا بِهِمْ سُنَّةَ اهل الْكِتَابِ»[۱] یعنې یوه ورځې عمر الفاروق ﷺ وویلې چې زه نه پوهېږم چې د مجوسیانو سره څنګه وکړم؟ نو عبد الرحمن بن عوف ﷺ جواب ورکړ چې: زه په شهادت سره وایم چې ما د نبي کریم ﷺ څخه اورېدلي دي چې د دوی سره د اهل الکتابو په طریقه باندې لاړ شئ.

ج: بل هغه ګروپ کفار دي چې د ذکرو شوو دواړو ګروپونو څخه په غیر وي، لکه بوت پرستان، هندوان او داسې نور، دغه ګروپ هم ذمي جوړېږي خو یوه استثناء لري، هغه دا چې عربي مشرکان ذمي نه شي جوړېدلی، دوی به یا په اسلام باندې مشرف کېږي او یا به وژل کېږي، څکه چې:

اول: الله ﷻ د دوی په باره کښې امر کړی دی چې: ﴿فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ فَٱقْتُلُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ﴾ [التوبة:۵] نو کله چې حرامې کړی شوې میاشتې تېرې شوې نو مشرکان ووژنئ هر چېرته ته مو چې مونده کړه.

دوهم: نبي کریم ﷺ د همدوی په منځکښې مبعوث شوی او قرآن کریم د همدوی په ژبه باندې نازل شوی دی نو معجزات د دوی دپاره د بل هر قوم څخه زیات دي، نو په کار دي چې د دوی سره هغه معامله اجراء کړی شي کومه چې د مرتدانو سره اجراء کېږي هغه دا چې یا باید مسلمانان شي او یا ووژل شي[۲].

درېیم: ذکر شوي ایتونه (چې جزیه پرې تشریع شوې ده) په داسې وخت کښې نازل شوی دی چې په جزیرة العرب کښې مشرکان پاتې نه وه. او ټول ډلې-ډلې په اسلام کښې داخل شوه. نو د دوی څخه جزیه نه اخستل د دې کبله نه دي چې اخستل ترې جواز نه لري بلکې د دې کبله دي چې په دغه وخت کښې هلته مشرکانو موجودیت نه درلود او د جهاد مخه د تبوک طرف ته واړوله شوه، چرته چې اهل الکتاب اوسېدل. که بالفرض دلته مشرکانو موجودیت درلودی نو د جهاد مخه به هغې خوا ته نه وی اوښتې[۳].

## ید څه معنی؟

۷_ د ﴿حَتَّىٰ يُعْطُوا۟ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ﴾ په جمله کښې د ﴿يَدٍ﴾ دپاره علماوو کرامو[۴] کڼ شمېر تفسیرونه کړي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: دلته د ﴿يَدٍ﴾ توری په معنی د انقیاد او اطاعت سره دی، یعنې ترهغه د اهل الکتابو سره

---

(۱) موطا الإمام مالک ج۲ ص۱۹۲
(۲) تفسیر المظهري ج۴ ص۱۸۳
(۳) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۶۹
(۴) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۶۶، احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وجنګېږئ ترڅو تاسو ته د انقیاد او اطاعت په حال کښې جزیه درکړي.

ب: د ﴿ يَدٍ ﴾ توری د نقد معنی ورکوي، یعنې ترڅو چې جزیه لاس په لاس درکړي (نسيا کارې ورسره مه کوئ).

ج: د ﴿ يَدٍ ﴾ توری د حقیقي معنی دپاره دی، یعنې ترڅو چې تاسو ته جزیه په خپل لاس درکړي، نو هغه جزیه مه قبلوئ کومه چې تاسو ته د بل چا په لاس درواستوله شي، باید چې هر جزیه درکوونکی پخپله درشي او جزیه درکړي.

د: د ﴿ يَدٍ ﴾ توری د قوت او غلبې څخه عبارت دی، یعنې ترهغه چې ستاسو د غلبې او قوت د کبله جزیه درکړي.

هـ: دا توری د نعمت معنی ورکوي، یعنې ترڅو چې د هغه احسان او نعمت د کبله جزیه درکړي کوم چې تاسو په دوی باندې کړی دی او د وژلو څخه یې صرف نظر شوی یاست.

و: دا توری د غنا په معنی سره دی، یعنې ترڅو چې د غنا د کبله تاسو ته جزیه درکړي نو تاسو ته په کار دي چې د فقیرانو څخه جزیه وانخلئ.

ز: دا توری دجماعت معنی ورکوي، یعنې ترڅو چې تاسو ته په مجموعي توګه جزیه درکړي چې ټولو جنګیالیو ته شامله وي نو په کار دي چې د ځینو جنګیالیو په جزیه باندې جنګ ته خاتمه ورنه کړئ.

## تبصره

۸ـ مونږ ته داسې ښکاري چې د ذکرو شوو معناګانو تر منځ هیڅ منافات نشته نو که بالفرض د ﴿ يَدٍ ﴾ توري څخه "ما يطلق عليه اليد" واخستل شي ترڅو ټولو معناګانو ته شامل شي نو هیڅ باک یې نشته، لکه چې همداسې شامل تفسیر ځینو علماوو کرامو خوښ کړی دی[۱].

## د صاغرون د کلمې معنی

۹ـ د ﴿ صَٰغِرُونَ ﴾ کلمه د "صِغر" ـلکه "قِرَد"ـ څخه اخستله شوې ده، "صِغر" د "كِبَر" په مقابل کښې استعمالیږي، دغه دواړه مصدرونه (صِغر، كِبَر) په لاندې اعتباراتو سره یو د بل تضاد واقع کېږي[۲]:

الف: د زمانې په اعتبار سره، چې مونږ یې د کشر او مشر په نومونو یادوو.

ب: د جوثې (بدن) په اعتبار سره، چې مونږ ورته وړوکی او غټ وایو.

ج: د رتبې او درجې په اعتبار سره، څه لرې نه ده چې د حقیر او عزیز په نومونو باندې یې یاد کړو. په دې مقام کښې همدغه دریمه معنی مراده ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: باید تاسو ته په داسې حال کښې جزیه درکړي چې په خپل حقارت (ذلت) او ستاسو په عزت باندې راضي وي.

---

(۱) الجواهر للطنطاوي ج۵ ص۲۰۱

(۲) مفردات الراغب ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه دا خبره چې هغه ذلت او حقارت د څه شي څخه عبارت دی کوم چې ذمیانو ته په کار دي چې د جزیې د ورکولو په وخت کښې یې متحمل شي؟

نو د دغه ذلت څخه علماوو کرامو په متعددو الفاظو سره تعبیرونه کړي دي[۱] مګر کوم شی چې مونږ ته غوره ښکاري او د اسلام د روحیاتو سره موافق دی هغه دا دی چې: د جزیې ورکول په داسې حال کښې چې د مسلمانانو په برلاسی باندې قانع وي او په همدې کیفیت باندې راضي وي. ځکه چې دا لوی حقارت او ذلت دی، ته به وایې چې الله ﷻ مؤمنانو ته توصیه کوي چې د اهل الکتابو سره جنګ ته ترهغه ادامه ورکړئ چې جزیه درکړي او د دناءة (حقارت) التزام وکړي.

## یادونه

۱۰ـ د اهل الذمه وو په هکله که څوک ښه اوږد بحث غواړي نو هیله ده چې ځینو فقهي کتابونو[۲] ته مراجعه وکړي.

## عُزیر څوک وه؟

۱۱ـ د عُزیر په باره کښې اختلاف دی چې نوموړی پیغمبر وه او که صالح سړی، خو د اکثریت نظر دا دی چې نوموړی پیغمبر نه وه[۳].

پاتې شوه دا خبره چې ځینو یهودانو او . یا یهودیت د زماني څخه په ځینو اوقاتو کښې ټولو یهودانو نوموړي ته د ابن الله لقب په څه وجه ورکړی وه؟

اکثرو مفسرینو کرامو د دغه لقب د ورکولو وجه دا ښودلې ده چې نوموړي ته الله ﷻ په خارق العاده توګه تورات په داسې وخت کښې ورحفظ کړ چې د ټولو خلکو څخه هېر شوی وه او حتی د تورات نسخې د دښمنانو د لاسه په جنګونو کښې تالا ترغه شوې وې او یا لا هغوی د ځانه سره وړې وې، نو کله چې د وخت یهودانو په ذکر شوي خارق العاده تحفیظ باندې یقین راغی نو نوموړي (عزیر) ته یې د ابن الله لقب ورکړ، العیاذ بالله.

مفسرینو کرامو ذکره شوې د تحفیظ قیصه ډېره اوږده او په مختلفو عبارتونو باندې لیکلې ده[۴].

زمونږ په فکر په دې مقام کښې په همدې خبره باندې یقین په کار دی چې یهودانو ذکر شوی کار کړی دی او نوموړي ته یې د ابن الله لقب ورکړی دی، اما دې ته اړتیا نه ګورو چې د لقب ورکولو دپاره یې په داسې قیصه باندې اعتماد وکړو چې د هغې په صحت او عدم صحت باندې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نه پوهېږي، د دغسې لقب ورکولو دپاره خو د یهودانو هغه فاسد مزاج کفایت کوي د کوم په سبب یې چې خوسي ته د یوې رمباړې د کبله د إله (معبود) لقب ورکړ.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۲۸۶
(۲) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۷ ص۱۱۰
(۳) روح المعاني ج۱۰ ص۸۲
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۸۴، تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۴۸، المحرر الوجیز ج۸ ص۱۶۳، تفسیر ابي السعود ج۴ ص۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر تقدیر، د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې هم په ذکره شوې عقیده باندې ځینو یهودانو موجودیت درلود، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځ د یهودانو یوې ډلې کسیزې ډلې نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: مونږ به څنګه ستا پیروي وکړو حال دا چې تا زمونږ قبله ترکه کړه او هم ته عقیده نه لرې چې عزیر ابن الله دی؟ نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړه چې: ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ ...﴾ تر آخره پورې[1].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه نصاراوو عیسی علیه السلام ته د دې کبله د ابن الله لقب ورکړی وه چې د یو پلوه د هغه ولادت په خارق العاده توګه منځته راغلی وه او د بله پلوه په خپل ژوند کښې د ډېرو خارق العاده کارونو مصدر ګرځېدلی وه چې پوره بیان یې د "آلِ عِمْرَان" د سورت په اوائلو کښې تېر شوی دی.

## د "مُضَاهَأَة" د کلمې معنی

۱۲_ د ﴿ يُضَٰهِـُٔونَ ﴾ کلمه د "مُضَاهَأَة" _لکه "مُضَارَبَة"_ څخه اخستله شوې ده چې د مشاکلة او مشابهة معنی ورکوي[2].

اما مستتر ضمیر یې _د ځینو علماوو کرامو په نزد_ نصاراوو ته راجع دی او د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبْلُ ﴾ څخه یهودان مراد دي، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د نصاراوو عقیده (چې عیسی علیه السلام ته د ابن الله لقب ورکوي) د یهودو د عقیدې سره مشابهت لري[3] چې د دوی څخه وړاندې یې عُزیر علیه الرحمة ته همدغه لقب ورکړی وه او د دوی څخه لا وړاندې کافران شوي وه.

مونږ ته بهتره ښکاري چې مستتر ضمیر به اهل الکتابو (یهودو او نصاراوو) ته راجع وي چې دواړو ډلې د بحث لاندې دي، او د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبْلُ ﴾ څخه به د همدوی څخه په غیر نور ټول کافران عمومًا او عربي مشرکان خصوصًا مطلب وي چې په: ﴿ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ﴾ [البقرة:۱۱۳] کښې ترې په ﴿ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ سره تعبیر کړی شوی دی، نو د دغو دواړو ایتونو مشترک مضمون داسې راځېږي چې: اهل الکتاب او نور کافران (لکه مشرکان) په عقیده او هم په وینا کښې یو تر بله مشابهت لري، نه د هغوی خبره په کوم برهان باندې ولاړه ده او نه د دوی خبره څه دلیل لري، نو لکه څنګه چې دوی عیسی علیه السلام او عُزیر علیه الرحمة هر یوه ته د ابن الله لقب ورکوي همدارنګه د دوی څخه وړاندې مشرکانو ملائکو ته د بنات الله لقب ورکړی وه.

نو ای مؤمنانو! اهل الکتاب په نورو کافرانو (مشرکانو) باندې کوم فضیلت نه لري نو په تاسو باندې لکه چې د هغوی سره جهاد فرض وه همدارنګه د دوی سره هم جهاد کول ستاسو فریضه ده.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۱۱
(۲) مفردات الراغب ص۳۰۸
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قَاتَلَهُمُ اللهُ څه معنی؟

۱۳_ د ﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ کلمه د "مقاتلةٌ" څخه اخستلې شوې ده چې د يوې خوا څخه په قصدي قتل (جنګ) او د بلې خوا څخه په ضمني قتل (جنګ) باندې دلالت کوي او پوره واضحه ده چې هرڅوک چې د داسې کارونو مرتکب جوړېږي کوم چې د الله ﷻ سره د جنګ کولو معنی ورکوي نو هغه مغلوب او مقهور وي[۱] د همدې کبله عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ تفسير په "لَعَنَهُمُ اللهُ" سره کړی دی[۲]، يعنې په ذکرو شوو اهل الکتابو باندې دې د الله ﷻ لعنت وي او د ده ﷻ د رحمت څخه دې لرې وي.

### د ربوبيت معنی

۱۴_ د ﴿ أَرْبَابًا ﴾ کلمه د "رَبٌّ" جمعه ده، "رَبٌّ" اصلاً مصدر دی چې د "تَرْبِيَةٌ" معنی ورکوي مګر په استعمال کښې ترې تربيه ورکوونکی مراد ېږي[۳]،

په دې مقام کښې الله ﷻ مونږ ته خبر راکړ چې اهل الکتاب خپل علماء او خپل راهبان (عبادت کوونکي) د اربابانو په صفت پېژني او خپل تربيه کوونکي يې ګڼي. او يا په بل عبارت: دوی ته د معبودانو لقب ورکوي او خپل کار سازان يې بولي.

### سوال جواب

که څوک وايي چې: ايا اهل الکتابو د خپلو علماوو او راهبانو عبادت کاوه؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې هو، دوی ورته سجدې کولې[۴].

ب: څه لرې نه ده چې ځينو اهل الکتابو به هغوی ته سجدې هم کړې وي خو د هر بهترهغه جواب دی کوم چې نبي کريم ﷺ عدي بن حاتم ﷺ ته ورکړی وه، کله چې هغه په اسلام باندې مشرف او د نصرانيت څخه بېزار شو او د نبي کريم ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه چې: يا رسول الله! مونږ خو د خپلو علماوو او مشائخو عبادت نه دی کړی حال دا چې الله ﷻ زمونږ څخه همدغه حالت حکايت کوي چې: ﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ الآية؟. هغه جواب دا دی چې: دوی هغوی ته د تحليل او تحريم (تشريع) حق ورکړی وه حال دا چې تشريع د الله ﷻ اختصاصي صفت دی.

د همدې جواب پوره شرحه د [البقرة:۶۴] ايت لاندې تېره شوې ده، او پوره کلمات يې د احاديثو کتابونو[۵] ليکلي دي.

(۱) مفردات الراغب ص۴۰۸
(۲) تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۱۳، تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۴۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۸۸
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۰۴
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "إِبَاء" معنى زده کړئ!

۱۵_ د ﴿ وَيَأْبَى ٱللَّهُ ﴾ کلمه د "إِبَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، د یوه شي څخه په شدت (سختی) سره امتناع کول د "إِبَاء" معنی ورکوي، نو د هرې إباء سره امتناع لازمه ده او د هرې امتناع سره إباء ضرور نه ده[1]. په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې را څرګنده چې: که اهل الکتاب بلکې ټول کفار هرڅومره زیار وباسي او ډېر زیات مبالغ هم مصرف کړي ترڅو د اسلام د پرمختګ مخه بنده کړي نو الله ﷻ به د دوی مطلب ته د پوره کولو اراده هیڅکله ونه کړي بلکې د الله ﷻ په نزد باندې دا خبره فیصله ده چې ضرور به په خپله اراده د اسلام دین ته په ټولو ادیانو باندې برلاسي ورکوي او په ټولو باندې به یې غالب جوړوي او بالآخره د کفارو ناخوښي به د ده ﷻ په اراده باندې هیڅ اثر ونه شي غورزولی. همدغه موضوع یوه شاعر په لاندې شعر کښې څومره ښه تمثیله کړې ده:

چراغي را که ایزد بر فرو زد :: کسش پف کند ریشش بسوزد

یعنې هغه ډیوه چې الله ﷻ یې بله کړي هرڅوک یې چې پو کړي ږیره به یې وسوزي (رسوا به شي).

### یادونه

۱۶_ د ﴿ لِيُظْهِرَهُ ﴾ په جمله کښې د بارز ضمیر په مرجع کښې لاندې دوه احتماله ممکن دي[2]:

الف: چې ذکر شوی ضمیر د ﴿ رَسُولَهُ ﴾ کلمې ته راجع شي، نو حاصل به یې داسې راوخیژي چې الله ﷻ خپل پیغمبر د هدایت او حق (اسلام) سره د دې دپاره دنیا ته استولی دی چې د ټولو ادیانو په خاوندانو باندې یې غالب کړي.

ب: چې د ﴿ وَدِينِ ٱلْحَقِّ ﴾ کلمې ته راجع شي نو حاصل به یې داسې شي چې د دې دپاره یې رالېږلی دی چې حق دین په ټولو ادیانو باندې غالب کړي.

ذکر شوې دواړه احتماله که څه هم یو تربله لفظي تفاوت لري مګر په مآل کښې دواړه متحد دي او دا ځکه چې د نبي کریم ﷺ غلبه او یا د ده د پیروانو غلبه عین د ده ﷺ د دین غلبه ده، همدارنګه په نورو ادیانو باندې د ده ﷺ د دین غلبه عین د نبي کریم ﷺ او د ده ﷺ د پیروانو غلبه ده.

اما چا چې په اول احتمال کښې د ﴿ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِ ﴾ څخه اسلامي شریعت اخستی دی او داسې معنی یې ترې راویستلې ده چې: ترڅو نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ د اسلام ټول احکام ورزده کړي او دین یې کامل وګرځوي[3].

نو که څه هم ذکره شوې معنی په خپل ذات کښې صحت لري مګر په دې مقام کښې یې د تفسیر په صفت قبلول مشکل کار دی او دا ځکه چې د کلام د سیاق او سباق (وړاندې او بېرته) سره هیڅ تناسب نه لري.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۸۶
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۲۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ماثور تفسیر

۱۷_ د ذکر شوي ایت شریف مضمون په ډیرو احادیثو کښې منعکس شوی دی، لاندې دوه حدیثونو د مثال په توګه ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّهُ سَيُفْتَحُ لَكُمْ مَشَارِقُ الأَرْضِ وَمَغَارِبُهَا وَإِنَّ عُمَّالَهَا فِي النَّارِ إِلاَّ مَنْ اتَّقَى اللهَ وَأَدَّى الأَمَانَةَ»[1] یعنې: یقیناً شان دا دی چې ژر دی چې تاسو ته به د ځمکې مشرقونه او مغربونه (ټوله ځمکه) فتحه کړی شي او یقیناً عمل کوونکي یې (آمران یې) په اور کښې دي مګر هغه څوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي او امانت ورکړي (خیانت ونه کړي).

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايي چې: «إِنَّ اللهَ زَوَى لِي الأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا»[2] یعنې: یقیناً الله ﷻ ماته ټوله ځمکه را غونډه کړه نو ما یې مشرقونه او مغربونه ولیده، او یقیناً زما امت چې دی ژر دی چې واکداري به یې هغه ځایونو ته ورسیږي چې ماته تري الله ﷻ راغونډه کړې وه (چې د ټولې ځمکې څخه کنایه ده).

### یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۸_ که څوک وايي: په روانه زمانه کښې د ټولو ادیانو په نسبت حتی د اسلام په نسبت د عیسویت پیروان زیات دي، نو ایا سړي ته دا پوښتنه نه پیدا کیږي چې نظر د پاسني ایت شریف مضمون ته په کار وه چې د نورو ادیانو پیروان بالکل د منځه تللي وی او یا اقلاً د اسلام پیروان د بل هر دین په پیروانو باندې زیات وی ترڅو د ﴿ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ ﴾ د جملې مضمون تحقق موندلی وی؟

مونږ وایو چې:

الف: د حق دین (اسلام) ظهور او غلبه د دې څخه عبارت نه ده چې پیروان یې زیات او نفوس یې ډیر شي بلکې د اسلام غلبه دا ده چې واکداري او انقیاد د مسلمانانو پورې انحصار ولري، برابره خبره ده چې نفوس یې ډیر وي او که لږ.

ب: لکه څنګه چې د وړاندې او ورپسې ایتونو د سیاق څخه څرګندیږي د اسلام د غلبې وعده الله ﷻ په اطلاق سره نه ده کړې بلکې په جهاد او اتفاق باندې مشروطه ده، لکه چې فرمايي: ﴿ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾ [الأنفال:۳۹] یعنې: ای مؤمنانو! تاسو په اتفاق سره د کفارو په مقابل کښې ترهغه وجنګیږئ ترڅو فتنه پاتې نه شي (ورکه شي) او ټول انقیاد الله ﷻ ته ورو ګرځي. په دغه ایت کښې ټول مؤمنان بالاتفاق مخاطب کړی شوي دي.

په دې باندې علاوه، نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايي چې: «وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ»[3] او د اسلام د بوکان لوړوالی (د اسلام قوت) چې دی جهاد دی.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۴
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۹۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۹، سنن ابن ماجه ص۲۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ترڅه وخت پورې چې مسلمانان متفق وه او جهاد به په درز کښې روان وه د دین واکداري هم مخ په زیاتېدو وه، چې د جزیرة العرب مشرکان په اسلام کښې په ډلنیزه توګه داخل شوه او اهل الکتابو د جزیو ورکولو ته غاړې کېښودې او هم د اسلامي حکومت په قلمرو کښې روزمره شرقًا او غربًا پراخي راتله او اقتدار یې زیاتیده.

اما کله چې عثمان ﷺ (دریم خلیفه) شهید شو او په مسلمانانو کښې د بې اتفاقۍ ډېره کېښودله شوه نو د یوه پلوه جهاد د سقوط په طرف روان شو او د بله پلوه د یوه اسلامي حکومت په ځای اسلامي حکومتونو په ډېرېدلو پیل وکړ آن تر دې چې نن ورځ په دنیا کښې متعدد حکومتونه موجود دي چې هر یو خپل ځان ځانګړی اسلامي حکومت ګڼي او هر یو خپل ځان ته د استقلال مدعي دی، مګر په حقیقت کښې دوی ټول مکلف دي چې په اتفاق سره یو اسلامي حکومت تشکیل کړي او د کفري دولتونو د احتیاج څخه ځانونه خلاص کړي.

نو کله چې ذکر شوی واحد اسلامي حکومت جوړ شي سمدستي به د اسلام د دین غلبه په سترګو باندې ولیده شي لکه چې همدغه کار د عیسی ﷺ د نزول او امام المهدي په وخت کښې کېدونکی دی.

نبي کریم ﷺ فرمایي: «لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدَّهْرِ إِلَّا يَوْمٌ لَبَعَثَ اللهُ رَجُلًا مِنْ اهل بَيْتِي يَمْلَؤُهَا عَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا»[1] یعني: که (بالفرض) د زمانې څخه پاتې نه شي مګر یوه ورځ (نو دغه ورځ به الله ﷻ اوږده کړي ترڅو په دغه ورځ کښې) الله ﷻ زما د اهل البیت څخه یو سړی راپورته کړي چې ځمکه به په عدل باندې ډکه کړي لکه څنګه چې (د ده څخه وړاندې) د ظلم د حیثه ډکه وه.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[۳۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! یقینًا د (یهودي) علماوو او (نصراني) راهبانو (عابدانو) څخه ډېر کسان د خلکو مالونه هرومرو په باطله (ناجائزه) لاره باندې خوري او (هم) د الله ﷻ د لارې څخه دوی (نور خلک) اړوي.

او هغه کسان چې دوی سره زر او سپین زر خزانه کوي او د الله ﷻ په لاره کښې یې نه مصرفوي نو (ای پیغمبره!) دوی ته په دردناک عذاب باندې زیری (اطلاع) ورکړه.

---

(۱) سنن ابی داوٗد ج۲ ص۲۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۵] (درد ناک عذاب) په داسې ورځ کښې چې په کنوزو (خزانو) باندې د دوزخ په اور کښې گرموالی وکړی شي (ښه گرم اور ورباندې بل کړي شي) نو د دوی (خزانه کوونکو) تندي او د دوی اړخونه او (هم) د دوی شاګانې پرې وداغلې شي.
(او په همدغه حال کښې دوی مخاطب کړی شي چې) دا (خزانې) هغه شی دی کوم چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره راغونډاوه، نو د هغه شي (عذاب) وڅکئ کوم چې (په دنیا کښې تاسو) وئ چې به مو راغونډاوه (چې هغه د خزانو څخه عبارت دی).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونوکښې الله ﷻ مونږ ته د یهودانو او نصاراوو حالات بیان کړه چې دوی خپل علماء او عابدان د معبودانو په صفت سره نیولي وه او هغوی هم همدغه لقب تصدیقاوه چې هو! مونږ ستاسو معبودان یاستو، ترڅو دوی وکړی شي چې د اسلام ډیوه مړه کړي. په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغه تصدیق وجې ته اشاره شوې ده چې دوی ځکه دا کار کاوه او د بله پلوه د محمدي امت علماوو او عابدانو ته ارشاد شوی ‌دی چې تاسو باید د هغوی په قدم باندې لاړ نه شئ چې په لاشعوري توګه به د الله ﷻ په غضب باندې ککړ شئ. نو حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! د یهودانو او نصاراوو دیني مشرانو چې خپلو ځانونو ته ذکره شوې کړنلاره غوره کړې وه د هغې اصلي وجه دا وه چې دوی د خلکو مالونو ته په ناحقه باندې د خوړلو چل جوړ کړی وه، د دوی خیال وه که خلکو ته د اسلام حقانیت بیان کړي او د نبي کریم ﷺ په حقانیت باندې اعتراف وکړي نو د مالونو د خوړلو چل به یې افشا او خلک به په اسلام باندې مشرف شي، نو ځکه یې پښنو ته تیرې وراچولې او اسلام یې ورته باطل دین معرفي کاوه.
۲ـ نو ای مؤمنانو! تاسو ته په کار دي چې د یو پلوه خپل ځانونه د اهل الکتابو د دیني مشرانو په شان خلکو ته معبودان معرفي نه کړئ او په باطلو بهانو او چلونو سره د هغوی مالونه ونه خورئ، او د بل پلوه خپل نقدیات (سره او سپین زر) د الله ﷻ په لاره کښې مصرف کړئ او خزانې ترې جوړې نه کړئ چې د الله ﷻ حقونه مو په غاړو باندې پاتې شي. او دا ځکه چې:
هرڅوک چې خپل سره زر او سپین زر راغونډوي او د الله ﷻ په لاره کښې یې نه مصرفوي نو مونږ خپل پیغمبر ﷺ ته امر کوو چې هغوی ته په دردناک عذاب باندې زیری (خبر) ورکړي.
البته چې دغه دردناک عذاب به په داسې ورځ کښې صورت ونیسي چې په ذکرو شوو خزانو او کنزونو باندې به په دوزخ کښې ښه اور بل کړی شي چې ښه گرم شي نو بیا به پرې د نوموړو بډایانو خلکو لاندې اندامونه وداغولی شي:
الف: اوچولي (تندي) به یې پرې د هرڅه څخه وړاندې داغول کېږي چې په دنیا کښې به یې فقیرانو ته په تروه تندې کتل ترڅو د څه خیر خیرات غوښتنه ونه کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د دوی ارخونه به هم بې داغه پرې نښودلی شي چې د فقیرانو څخه به یې کله یوې ډډې ته او کله بلې ډډې ته څنګ کاوه.

ج: د دوی شاګانې به هم په داغلو کښې شریکې وې چې د فقیرانو څخه به یې خان په څنګاوه نو شا به یې ور اړوله او مجلس به یې ورته پرېښوده او یا به د هغه ځای څخه بهرته ستنېد چرته به چې د فقیرانو اجتماع وه او د ده سره به خطره پیدا شوه چې څه به را څخه وغواړي.

ذکرو شوو بدایو او شتمنو خلکو ته به په عین وخت کښې د تخجیل دپاره دا خبره هم وکړی شي چې دا د داغلو سامان هغه شیان دي کوم چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره راغونډ کړي وه، نو د همدغو (په خپلو لاسونو باندې د ګټلو شوو شیانو) مزه وڅکئ او نوش جان یې کړئ، دا خو تاسو ته په دنیا کښې ډېر محبوب او ګران وه حتی چې د خپلو ایمانونو څخه ورباندې تېر شوي وئ.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د اهل الکتابو ټول دیني مشران په ناجائزه طریقه باندې د خلکو په مالونو باندې متهم نه کړه بلکې دغه کار یې د اکثریت کړنلاره وګڼله ترڅو حقایق پټ نه کړی شي او په بې ګناهو خلکو باندې اتهام پورې نه کړی شي، اسلام د حقائقو دین دی.

## د اهل الکتابو د مالونو د خوراک باطلې طریقې

۲ـ د دې دپاره چې اسلامي دیني مشران ترې ځانونه په څنګ وساتي مونږ د باطلو طریقو د مثال په توګه څو نومونه اخلو[۱]:

الف: په اهل الکتابو کښې رشوت ډېر عمومیت درلود چې د حق د پټولو او د باطل د څرګندولو په هکله به اخستل کېده.

ب: په هغوی کښې سود خوری زیات رواج درلود، چې په خپلو قومیانو باندې به یې د جواز حکم نه ورکاوه مګر په عمل کښې یې جائز ګاڼه، اما په غیر قومیانو باندې یې د سود په جواز باندې فتوی او حکم هم ورکاوه.

ج: د معابدو د ترمیم په نامه به یې پیسې راغونډولې او بیا به یې پخپله خوړلې.

د: د ګناهونو د مغفرت پیسې د هغوی لویه سرمایه وه، دیني مشرانو به د "سر الإعتراف" یعنې د پټ اقرار په نامه د عوامو څخه د ګناهونو ښه پوره معلومات واخستل، چې دا مې کړي دي او دا مې ویلي دي، بیا به یې (د هغوی په اصطلاح) د ګناهونو د حجم په اندازه ترې فدیه واخستله او ګناهونه به یې ورته وبښل.

ه: هغوی کولی شو چې په جنت کښې په چا باندې څه ځمکه خرڅه کړي او یا د دوزخ څخه ژغورنلیک ورکړي. ته به وایې چې جنت ته داخلېدل او د دوزخ څخه نجات موندل د همدوی په واک کښې دي او بس.

(۱) تفسر المراغی ج۱۰ ص۱۰۸؛ التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: هغوی به د پاچایانو او یا غنیانو د غوښتنې په اساس د پیسو په بدل کښې په حلال شي باندې د حرام حکم کاوه، او یا بالمقابل حرام شی به یې حلال ګرځاوه.

ز: هغوی د خپلو کتابونو په تحریف او یا فاسد تاویل باندې هم پیسې اخستې، او هم د حق د بیانولو څخه چپ پاتې کېدل د هغوی دپاره د پیسو اخستلو یو اهم مدرک وه.

ح: بالآخره هغوی د نورو خلکو مالونه د خپلو ځانونو دپاره حلال ګڼل کوم خلک چې د هغوی څخه په دین یا قومیت کښې جدا وه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په ﴿ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ ﴾ الآية- سره څوک مراد دي؟ یا په بل عبارت: په درد ناک عذاب باندې څوک تهدید شوي دي، اهل الکتاب که مسلمانان؟

مونږ وایو چې: د علماوو کرامو په نزد ذکر شوی تهدید لاندې درې احتماله لري:

الف: دا تهدید د اهل الکتابو د دیني مشرانو اکثریت ته متوجه دی[1]، نو په دې صورت به ﴿ وَٱلَّذِينَ ﴾ په هغه ضمیر باندې عطف شي کوم چې د ﴿ لَيَأۡكُلُونَ ﴾ په جمله کښې مستتر دی او د اهل الکتابو د دیني مشرانو اکثریت ته راجع دی. نو د معنی حاصل به داسې راوخېژي چې: ای مؤمنانو! د اهل الکتابو د دیني مشرانو اکثریت د خلکو مالونه په ناجائزه طریقه باندې خوري او همدغه اکثریت ثروتونه (پیسې) هم خزانه کوي او جمعه کوي، نو تاسو پام کوئ چې د دغه اکثریت کړنلاره خپله نه کړی.

مګر ذکر شوی عطف بدون تاکید څخه ټول نحویان خوندور نه ګڼي.

ب: دا تهدید اهل الکتابو او مسلمانانو (دواړو) ډلو ته متوجه دی[2] نو په دې تقدیر به د ﴿ وَٱلَّذِينَ ﴾ دپاره معطوف علیه مقدر کړی شي، نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: دغه د اهل الکتابو د دیني مشرانو اکثریت او هغه کسان چې (د مسلمانانو څخه) د پیسو خزانې جوړوي او د الله ﷻ په لاره کښې یې نه مصرفوي دوی ټولو ته په دردناک عذاب باندې زیری ورکړه.

دا صورت خلاف الاصل دی چې په تقدیر باندې ولاړ دی خو د لومړني صورت په شان ډېر غیر متبادر هم نه دی نو ځکه اکثرو علماوو کرامو خوښ کړی دی.

مګر زمونږ په نزد په ﴿ وَٱلَّذِينَ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره نه بلکې د استیناف دپاره دی او ذکر شوی وعید یوازې مسلمانانو ته متوجه دی. نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: ای مؤمنانو! د اهل الکتابو د دیني مشرانو خوی عادت خو ستاسو سره هیڅ نه ښایي چې د خلکو مالونه به په ناجائزه طریقه باندې وخورئ او د الله ﷻ د لارې څخه به د خلکو مخه بنده کړئ، مګر تاسو ته یو بل خطر متوجه دی چې د درد ناک عذاب سبب جوړېږي هغه دا چې:

(۱) المحرر الوجیز ج۱ ص۱۷۰
(۲) تفسیر المظهري ج۴ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په ستاسو کښې داسې ډله جوړه شي چې د سرو او سپينو زرو راغونډول کوي او د الله ﷻ په لاره کښې يې نه مصرفوي نو الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته امر کوي چې دغسې خلکو ته په دردناک عذاب باندې اطلاع ورکړي.

مونږ ځکه ذکر شوی درېيم صورت غوره کړ چې د ﴿ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي او دا ځکه چې د في سبيل الله په عدم انفاق باندې د ملامتي. ګوته نيول د مسلمانانو سره ښه مناسب دي چې په الله ﷻ باندې پخه عقيده لري، اما اهل الكتاب که بالفرض خپل مالونه د الله ﷻ په لاره کښې انفاق کړي هم د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی چې د قبول مخه يې کفري عقايدو نيولې ده.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: که بالفرض درېيم صورت غوره وی نو په کار وه چې ذکر شوی وعيد په هغه مقام کښې شرحه شوی وی چرته چې د مسلمانانو بحث روان وي، په دې مقام کښې خو وړاندې او ورپسې ټول موضوعات په کفارو (مشرکانو او اهل الكتابو) پورې تعلق نيسي؟

مونږ وايو: په دې مقام کښې ځکه ذکر شوی وعيد کېښودلی شو _والله ﷻ اعلم_ چې ترڅو مسلمانان په غوږ باندې ووهلی شي چې د اهل الکتابو د ديني مشرانو خوی (عادت) خپل نه کړي. او يا په بل عبارت: چې په عمل کښې د هغوی غوندې جوړ نه شي چې د عقيدې د سوالي سره سره په نا جائزو طريقو باندې د خلکو مالونه وخوري.

همدې موضوع ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا فِي جُحْرِ ضَبٍّ لَاتَّبَعْتُمُوهُمْ» يعنې: ضرور به تاسو د هغو خلکو د طريقو پيروي وکړئ کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي لوېشت په لوېشت او ګز په ګز، آن تر دې که بالفرض هغوی د سمسارې په سوري کښې ننوتلي وي نو تاسو به هم هلته ورننوزئ. مونږ ووېلې چې: «يَا رَسُولَ اللهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى» ای د الله رسوله! د وړاندې تېرو شوو خلکو څخه ستا مطلب يهود او نصارا دي؟ هغه ﷺ وفرمايل چې: «فَمَنْ»[1] يعنې: نو څوک مې مطلب دی چې همدغه دوه طائفې مې مطلب نه دي؟.

## ځينې مفسرين کرام په افسوس سره وايي

۵_ ځينې مفسرين کرام په ډېر افسوس سره ليکي[2] چې نن ورځ داسې خلک شته چې خلکو ته خپل ځان دومره متقي، ديندار او بالآخره دومره ښه سړی او غير حارص معرفي کوي ته به وايې چې بالکل ګېډه نه لري او د پرښتو په شان يې ټول ژوند په ذکر او فکر سره دی حال دا چې په حقيقت

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۹
(۲) التفسير الكبير ج۱۶ ص۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د هغه څخه لوی داړه مار او لوی ټګ په ټوله دنیا کښې نه موندلی کېږي. ذکره شوې ټوله تکلفي دینداري فقط او فقط د دې دپاره څرګندوي چې د خلکو مالونه په چل او فریب سره وخوري، د دوی او د اهل الکتابو د دیني مشرانو صرف دومره فرق دی چې هغوی کافران وه او دوی مسلمانان دي، اما په عملي کړنلاره کښې د دواړو ډلو هیڅ تفاوت نشته.

## نن ورځ څه حال دی؟

د ذکر شوي مفسر زمانه نبي کریم ﷺ ته لږ څه نژدې وه نو ټګان به پکښې ډېر زیات نه وه اما نن ورځ ذکر شوي ټګماران زښت ډېر دي، د دوی موجودیت مونږ ته د نبي کریم ﷺ یو حدیث را په زړه کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنْ اللِّينِ أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ يَقُولُ اللهُ ﷻ أَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ مِنْهُمْ حَيْرَانًا»[۱] یعني: په آخره زمانه کښې به (چې د قیامت ورځ نژدې شي) داسې سړي دنیا ته را بهر شي چې په چل سره به په دین باندې دنیا غواړي (د دین څخه به یې د دنیا دپاره دام جوړ کړی وي).

د خلکو (د غولونې) دپاره به د مېږو پوستکي اغوندي (د جلبولو په غرض به ډېره نرمه او پسته وضعه کوي چې خلک ورباندې ورمات شي) ژبې به یې د شکرو څخه خوږې وي، او زړونه به یې (په بې رحمۍ کښې) د لیوانو زړونه وي.

الله ﷻ (دوی ته) وايي: ایا په ما سره تاسو غولېږئ (چې سزا به درنه کړم)؟ او یا په ما باندې تاسو جرئت کوئ؟ زه په خپل اقدس ذات باندې سوګند کوم چې هرومرو به په دغو خلکو باندې (چې د همدوی څخه عبارت دي) داسې عذاب ورپورته کړم چې هوښیار سړی به هم د دوی (د حالت) څخه متحیر جوړ شي (چې هیڅوک به یې د خلاصون په چاره نه پوهېږي).

## دوه عجیبې قیصې

۶ـ د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه عجیبې قیصې ولولئ چې زمونږ په وړاندې تېرې شوې دي او خیالي قیصې نه دي:

الف: یوه ورځې (د جهاد په اوږدو کښې) یوه لوی مجاهد ته یوه سړي سپین کاغذ ورکړ چې هیڅ شی ورباندې نه وه لیکلی شوي او ورته یې وویلې چې دا کاغذ د اور تاو ته ونیسه ترڅو تا ته په دې کاغذ کښې هغه شی څرګند شي چې پیریان یې ستا څخه غوښتنه کوي.

نوموړي مجاهد چې ذکر شوی سپین کاغذ د اور تاو ته ورنژدې کړ نو په کاغذ کښې په کراره کراره په لاندې مضمون باندې لیکنه راڅرګنده شوه چې:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د سلام څخه وروسته مونږ تاته توصیه کوو چې فلاني (دیني مشر) ته هغه څه ورکړه کوم چې ستا څخه یې غوښتنه کوي، او که نه نو بیا ګیله مه کوه چې هرڅه درپېښ شوه هغه به درپېښ شوي وي، ذکر شوی (دیني مشر) زمونږ د پیریانو پیر دی چې د ده په خپګان باندې مونږ ټول پیریان خپه کېږو. والسلام، د پیریانو له پلوه.

ذکر شوی لوی مجاهد په دسیسه باندې پوه شو چې نوموړی لیک پخپله د تګمار په قلم باندې لیکلی شوی وه او پیریانو ته یې د چل او غولونې بلکې د ډارونې دپاره نسبت کړی وه.

دسیسه څکه کشفه شوه چې په مجلس کښې یو هوښیار سړی ناست وه او ویې ویلې چې دا کار خو هرڅوک کولی شي چې په خپل لاس د لیمو یا د پیازو په اوبو باندې خط ولیکي او وچ یې کړي نو هیڅ نه ښکارېږي، البته کله چې د اور تاو ته ورنژدې کړی شي نو بیا خپله څېره راښکاره کوي.

نو د همدې کبله لوی مجاهد د پیریانو دروغین لیک ته هیڅ اعتناء ونه کړه.

ب: یوه ورځې په یوه مجلس کښې د یوه هوښیار سړي او د یوه تګمار د ترمنځ په لاندې ډول سره سوال جواب صورت ونیوه:

تګمار: په هرچا باندې چې جادو شوی وي زه یې راویستلی شم او عین د جادو تعویذونه (هر چرته چې دفن کړی شوي وي) په لاس راوړلی شم، نو سمدستي به جادو کړی شوی روغ رمټ شي.

هوښیار سړی: ته نو په څه پوهېږې چې په دغه سړي باندې جادو کړی شوی دی او په دغه نه دی کړی شوی؟

تګمار: زما سره کتاب دی او په هغه کښې د هر جادو ټول معلومات لیکلي شوي دي چې په فلاني باندې جادو کړی شوی دی او فلانی نور مریض دی، او هم پکښې دا خبره واضحه کړی شوې ده چې د جادو (کوډو) تعویذونه په فلاني ځای کښې دفن کړی شوي دي.

هوښیار سړی: که د جادو (کوډو) تعویذونه په لرې سیمه کښې دفن کړی شوي وي نو هغه به په دغه مجلس کې ... څنګه حاضر کړی شي؟

تګمار: زما سره ښاپیریان دي چې دا کار راته هغوی ترسره کوي.

هوښیار سړی: ایا ذکر شوی کتاب قلمي دی چې د پیریانو د پلوه پکښې د هر چا د کوډو (جادو) معلومات ثبتېږي؟

تګمار: دغه کتاب چاپي دی چې تقریباً پنځوس کاله کېږي چې طبعه شوی دی.

هوښیار سړی: نو ایا په دغه کتاب کښې د هغه جادو (کوډو) معلومات درج کړی شوي دي کوم چې د کتاب د طبعې څخه وروسته واقع شوي دي؟ که داسې وي نو تا ته په کار ده چې د لوح محفوظ دعوه وکړې چې د قیامت د ورځې پورې ټول معلومات پکښې درج دي او هیڅ شی ترې بهر پاتې نه دی.

تګمار هک پک (چپ) پاتې شو او مجلس اختتام ومونډ، مګر د نوموړي تګمار کار اوس هم روان دی او روزمره د عوامو (ناپوهانو) څخه پیسې اخلي او د دروغو تعویذونه په لاس کښې ورکوي چې په تا باندې جادو (کوډې) شوي دي او زما ښاپیریانو درته راوړي. افسوس چې عوام خلک ورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دومره هم نه وايي او يا نه شي ويلی چې تا ته ښاپېريان د بانګونو څخه سره او سپين زر ولې نه راوړي؟ او يا درته د معدنونو څخه ياقوت او زمروت ولې نه شي را حاضرولی؟

## يادونه

٧ـ مونږ د [البقرة:١٠٢] لاندې ليکلي دي چې د أهل السنت و الجماعت په نزد جادو واقعيت لري او دا مو هم ليکلي دي چې د جادو مخه بندولو ته نشره وايي چې په دې باره کښې ايت کرسي او معوذتين ډېر موثر دي.

په دې مقام کښې مونږ د کوډو (تعويذونو) راويستلو ته د ملامتۍ ګوته نيولې ده چې دا کار علم غيب پورې اړه لري او علم غيب د الله ﷻ خاصه ده، د اصل جادو څخه مو انکار مطلب نه دی.

## د "کَنْز" او "کَيّ" معناوې

٨ـ د ﴿ يَكۡنِزُونَ ﴾ کلمه د "کَنْز" څخه اخستله شوې ده، "کَنْز" هغو شيانو ته ويل کېږي کوم چې راغونډ کړی شي او ځينې د ځينو نورو دپاسه واچولی شي[١] لکه څنګه چې يوه کڅوړه ترې ډکه کړی شي. او ځينې لا وايي چې "کَنْز" هغه مال ته ويلی شي کوم چې په خاورو کښې دفن کړی شي او وساتلی شي[٢] بلکې په همدغې معنی باندې په عرف کښې زيات استعمالېږي[٣].

د "کَنْز" د تعريفونو څخه څرګندېږي چې دا د هغه مال نوم دی کوم چې د سرې د حاجت څخه اضافه وي، په کڅوړه يا صندوق کښې يې ساتي او يا يې د عدم احتياج د کبله په ځمکه کښې دفن کړي.

اما د ﴿ فَتُكۡوَىٰ ﴾ کلمه د "کَيّ" څخه اشتقاقه شوې ده، د "کَيّ" معنی خو پوره واضحه ده چې: "إِحْرَاقُ الْجِلْدِ بِحَدِيْدَةٍ أَوْ نَحْوِهَا"[٤] په اوسپنه او يا په بل دغسې شي باندې د پوستکې سوزول دي، چې په پښتو کښې د داغلو په نامه يادېږي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي: چې هرڅوک د حاجت څخه اضافه مالونه (سره زر او سپين زر) راغونډوي نو هغه به د قيامت په ورځ په خپلو مالونو (سرو زرو او سپينو زرو) باندې وداغلی شي.

## ايا د حاجت څخه اضافه حلال مال راغونډول جائز نه دي؟

٩ـ د ابو ذر الغفاري ؓ نظر دا دی چې د خپلو ضروورياتو د پوره کولو څخه وروسته په کار دي چې نور مالونه سرې خيرات کړي، که څه هم په مشروعه لاره باندې يې ګټلي وي، او دا څکه چې:

الف: په ذکر شوي مطلب باندې يو دليل همدغه ايت شريف دی، چې سمدستې پکښې بحث روان دی.

---

(١) التفسير الكبير ج١٦ ص٤٤
(٢) لسان العرب ج٥ ص٤٠١
(٣) البحر المحيط ج٥ ص٤٠٩
(٤) لسان العرب ج١٥ ص٢٣٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوموړی صحابي ﷺ وايي چې: زه په شام کښې وم او د معاويه ﷺ سره مې په ذکر شوي ايت کښې اختلاف النظر پيدا شو، نو عثمان ﷺ (درېم خليفه) د معاويه ﷺ په وړانديز مرکز (مدينې منورې) ته وغوښتلم او بالآخره په مدينه منوره کښې هم د ذکر شوي نظر د کبله په تنگ شوم او د خلکو ازدحام راباندې زيات شو.

نو ما د همدغه ازدحام د کبله خليفه ته شکايت وکړ نو هغه راته وويلې چې: «إِنْ شِئْتَ تَنَحَّيْتَ فَكُنْتَ قَرِيبًا»[۱] يعنې: که ستا خوښه وي نو د مدينې منورې څخه به په څنگ شې او په نژدې شاوخوا کښې به استوگنه اختيار کړې (نو ډېره به ښه وي).

نو دغه دی چې زه اوس په دې مقام (ربذه) کښې اوسېږم (مگر د مرگ د ورځې پورې به په خپل نظر باندې ولاړ يم چې بې ضرورته مال ساتل جائز نه دي).

## يادونه

۱۰ـ "رَبْذَة" د مدينې منورې د مربوطو قريو څخه يوه قريه ده چې په درې ميله فاصله باندې د مرکز څخه مکې معظمې طرف ته موقعيت لري چې د ابو ذر ﷺ مرحوم قبر هم هملته واقع دی[۲].

## عجب امتحان او عجيبه کاميابي

۱۱ـ يوه ورځې معاويه ﷺ د چا په لاس يو زر ديناره ابو ذر ﷺ ته ورواستول ترڅو معلوم کړي چې نوموړی خپل نظر په خپل ځان باندې تطبيقوي او که څنگه، مگر نوموړي صحابي ذکر شوی مبلغ په همدغې ورځ کښې په فقيرانو باندې توزيع کړ.

بيگا ته ذکر شوی قاصد بيا ورغی او ورته يې وويلې چې ذکر شوی مبلغ خو ستا دپاره ماته نه وه راکړی شوی خو په خطا کښې ما تا ته درکړ، مهرباني وکړه درکړی شوی مبلغ (يو زر ديناره) ماته بېرته راکړه.

نوموړي صحابي ﷺ جواب ورکړ چې: راکړی شوې مبلغ خو ما همدا نن ورځ په فقيرانو باندې توزيع کړ چې فعلاً زما سره د هغه څخه هيڅ شی پاتې نه دی، مگر ذکر شوی مبلغ په ما باندې قرض شو کله چې زه د مال خاوند شوم نو ستا مبلغ به بېرته درکړم[۳].

"ب: په ذکر شوي مطلب باندې د ابوذر ﷺ دوهم دليل دا دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ تَرَكَ دِينَارًا فَهُوَ كَيَّةٌ»[۴] هرڅوک چې (مړ شي) او يو دينار پرېږدي نو دا (د ده دپاره) داغول دي، يعنې ذکر شوی يو دينار هم د ﴿ فَتُكْوَىٰ بِهَا ﴾ په مفهوم کښې شامل دی.

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۹، تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۲۲
(۲) لسان العرب ج۳ ص۴۹۲
(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۵۲
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جمهور صحابه کرام ﷺ څه وايي؟

۱۲ـ جمهور صحابه کرام ﷺ د ابو ذر ﷺ څخه په نظر کښې مخالف دي، دوی وايي چې ذکر شوی وعید هغه چا ته متوجه دی چې مالونه راغونډ کړي خو حقوق يې په غاړه باندې پاتې شي، لکه زکات، کفارات، دَين، د عيال نفقه، د حج مصارف او داسې نور.

د جمهورو نظر د ډېرو ايتونو او احاديثو څخه څرګندېږي. او يا په بل عبارت: همدغه ايت شريف په نورو ډېرو نصوصو کښې تفسير شوی دی، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً ﴾ [التوبة:۱۰۳] يعنې: ای پيغمبره! د مسلمانانو د مالونو څخه صدقه (زکات او خيرات) واخله ترڅو دوی ظاهرًا او باطنًا پاک او تزکيه کړې.

نو که بالفرض د ټول مال خيراتول فرض وی نو الله ﷻ به خپل پيغمبر ته امر کړی وی چې د مسلمانانو څخه د هغوی ټول مالونه واخله.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «ما مِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ إِلَّا أُحْمِيَ عَلَيْهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُجْعَلُ صَفَائِحَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبَاهُ وَجَبِينُهُ»[۱] يعنې: هيڅ يو کس د کنز (خزانې) خاوند نه دی چې د خپلې خزانې زکات ورنه کړيَ مګر (خپل) کنز به (ده ته) د دوزخ په اور کښې ګرم کړی شي او (پلنې) تختې به (ورته ترې) جوړې کړی شي نو اړخونه او تندې به يې پرې وداغل شي.

په دغه حديث کښې د «لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ» جمله په مطلب باندې بالکل صراحت کوي.

ج: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) وايي چې کله ذکر شوی ايت شريف نازل شو نو صحابه کرام ﷺ ډېر وارخطا شوه (ځکه چې دوی ته ترې هغه مفهوم اذهانو ته ورغی کوم چې ابو ذر ﷺ ته ترې ورغلی وه)، نو عمر الفاروق ﷺ دوی مخاطب کړه چې تاسو مه وارخطا کېږئ زه به (ان شاء الله) ستاسو تشويش پورته کړم. سمدستي نبي کريم ﷺ ته ورحاضر شو او د ذکر شوي ايت د تفسير غوښتنه يې ترې وکړه چې دا خو په صحابه وو کرامو ﷺ باندې ډېر درونډ تمام شوی دی.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّ اللهَ لَمْ يَفْرِضْ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيثَ لِتَكُونَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ فَكَبَّرَ عُمَرُ»[۲] يعنې: يقينًا الله ﷻ زکات، د بل شي دپاره نه دی فرض کړی مګر د دې دپاره چې ستاسو متباقي مالونه پاکيزه کړي او بې شکه الله ﷻ د ميراث برخې د دې کبله فرضې کړې دي چې ترڅو دغه برخې د هغو کسانو دپاره وګرځي چې هغوی ستاسو څخه وروسته پاتې کېږي (که نه نو مواريثو ته به اړتيا نه وی). نو عمر الفاروق ﷺ د خوشالۍ دپاره د "الله اکبر" اواز پورته کړ.

ته به وايې چې ټولو صحابه کرامو ﷺ په همدغه تفسير باندې اجماع وکړه[۳].

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۳۱۹
(۲) سنن ابي داؤد ج۱ ص۲۳۴
(۳) تفسير المظهري ج۴ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ»[۱] يعني: دَ پنځو اواقو «دوه سوه روپو» څخه په لږو کښې زکات نشته.

همدارنګه نبي كريم ﷺ د مالونو دپاره نصابونه ټاکلي دي نو که بالفرض د ټول مال خيراتول فرض وی نو د نصابونو ټاکل به بې معنی وی.

## جمهور د ابو ذر ﷺ څه جواب وايي؟

۱۳_ ابو ذر ﷺ په خپل ژوند کښې په خپل نظر باندې دومره کلک وه چې د چا جواب ته یې غوږ نه اینښوده، د همدې کبله یوه ورځې کعب الاحبار ﷺ د ده په جواب کښې څه وويلې نو سمدستې یې وریاندې حمله وکړه خو هغه ترې د عثمان ﷺ (درہم خلیفه) شاته غلی شو، هملته یې ورباندې د همسا ګوزار وکړ او زړه یې ورباندې یخ کړ، ځینې لا وايي چې کعب الاحبار ﷺ ترې بچ شو او د همسا وهل په درہم خلیفه باندې واقع شو[۲]. خو د ده ﷺ د وفات څخه وروسته او یا د ده ﷺ په غیاب کښې د هغه د جواب په هکله ویل شوي دي چې:

الف: د ﴿وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ په جمله کښې د نورو نصوصو په استناء د "مِنْ" توری مراد دی، نو تقدير یې داسې کېږي چې: "وَلَا يُنفِقُونَ مِنْهَا فِي سَبِيلِ اللهِ" يعنې هغو مالدارانو ته وعید متوجه دي چې د خپلو مالونو څه برخه (زکات) د الله ﷻ په لاره کښې نه نفقه کوي.

ب: کوم حدیث شریف چې د ابو ذر ﷺ نظر تقویه کوي، چې په (۳۳۶) مخ کښې ورته د "ب" په فقره کښې اشاره شوې ده، د هغه جواب دا دی چې ذکر شوی حديث د هغه وخت حديث دی چې په هغه وخت کښې مواساة فرض وه او هم په هغه وخت کښې لا د زکات په باره کښې نصابونه نه وه ټاکلی شوي او نه هلته څوک د نصاب خاوند وه، نو وروسته چې الله ﷻ په صحابه وو کرامو ﷺ باندې پراخي ورنازله کړه نو پخوانی شدید حکم منسوخ شو[۳].

او د ابو ذر ﷺ عادت وه چې کله به یې د نبي كريم ﷺ څخه سخت حکم واورېده نو که بیا به پکښې نبي کريم ﷺ اساني راوستله هم نوموړي ﷺ ورته غوږ نه اینښوده «فَيَتَعَلَّقُ أَبُو ذَرٍّ بِالْأَمْرِ الشَّدِيدِ»[۴] او په همغه سخت حکم پورې به نښته، رضي الله عنه.

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وايي چې وړاندې دوه شیان ﴿ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ﴾ ذکر دي حال دا چې په ﴿وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ جمله کښې ورته د مفرد ضمیر راجع کړی شوی دی، د دې څه وجه ده؟

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۹
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۸۷
(۳) تفسیر القاسمي ج۸ ص۱۹۹
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې:
الف: ځينې مفسرين كرام وايي چې ذكر شوى ضمير ﴿ وَٱلْفِضَّةَ ﴾ ته راجع دى چې نژدې دى او د ﴿ ٱلذَّهَبَ ﴾ دپاره بالمثل ضمير مقدر دى نو تقدير يې داسې كېږي چې: "وَلا يُنفِقُونَ الذَّهَبَ أيْضًا فِي سَبِيلِ اللهِ" يعنې نه سپين زر د الله ﷻ په لاره كښې نفقه كوي او نه په دې لاره كښې د سرو زرو مصرف كوي[1].

مونږ ته دا جواب په دې مقام كښې چندان په زړه پورې نه ښكاري ځكه چې د يو پلوه د يوې مكملې جملې حذف ته اړتيا پېښېږي او د بله پلوه په راتلونكو دوه ضميرونو ﴿ عَلَيْهَا ، بِهَا ﴾ كښې هم ضرور ده چې د بالمثل دوه وو جملو د تقدير مرتكب شو، نو په كار ده چې:
ب: ذكر شوى ضمير د "الأمْوَالَ" كلمې ته راجع شي كومه چې وړاندې حكمًا ذكره ده، ځكه چې بحث په اموالو كښې راروان دى، لكه څنګه چې د ﴿ وَلِأَبَوَيْهِ ﴾ [النساء:١١] ضمير هغه ميت ته راجع دى كوم چې حكمًا ذكر دى چې بحث په تركه كښې جريان لري.
ج: او يا ذكر شوى ضمير "الْكُنُوز" ته راجع دى كوم چې د ﴿ يَكْنِزُونَ ﴾ په جمله كښې تقديرًا ذكر دى، لكه څنګه چې د ﴿ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ [المائدة:٨] ضمير هغه عدل ته راجع دى په كوم باندې چې د ﴿ ٱعْدِلُواْ ﴾ جمله دلالت كوي.

## سوال جواب

١٥ـ كه څوك وايي چې د دې جملې ﴿ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ﴾ د كلماتو مطابق د معنى حاصل داسې راوځي چې: د خزانو خاوندانو ته په داسې ورځ كښې دردناك عذاب دى چې د خزانو په سبب د دوزخ په اور كښې تودوالى (ګرموالى) وكړى شي او بيا پرې دوى وداغل شي.
حال دا چې دا خو مطلوبه معنى نه ده، مطلوبه معنى دا ده چې خزانې به د دوزخ په اورباندې ګرمې كړى شي او بيا به پرې دوى وداغل شي.
مونږ وايو چې: ذكره شوې جمله د خزانو د ډېر ګرموالي څخه كنايه ده، دا ځكه كله چې د خزانو په سبب د دوزخ په اور كښې ګرموالى زيات شي (چې ذاتي ګرم دى) نو الله ﷻ پوهېږي چې پخپله خزانې به په كومه اندازه كښې ګرمې وي؟!
يعنې: دغه دوزخي اور به د خاشاكو په عوض په خزانو باندې ښه تېز كړى شي او داسې لمبې به ورباندې وكړي لكه څنګه چې په خاشاكو باندې اور تېزېږي او لمبې ورباندې وهي، بيا به په هغو ګرمو خزانو باندې د راغونډوونكو مخونه او اړخونه او هم شاګانې وداغلى شي.

[1] تفسير الطبري ج١٠ ص١٢٢

Scanned by CamScanner

## یوه پوښتنه او هغې جواب

۱۶_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د داغلو دپاره مخونه او اړخونه او هم شاګانې تخصیص کړی شوې؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د تخصیص دپاره زښتې ډېرې وجې بیانې کړې دي[1] مګر کومې وجې چې غوره ښکاري ښکندېږي یوه هغه ده چې د "مطلب خلاصه" د عنوان لاندې ورته اشاره شوې ده او بله هغه ده کومې ته چې ابو ذر ﷺ اشاره کړې ده چې: «بَشِّرِ الْكَانِزِينَ بِكَيٍّ فِي الْجِبَاهِ، وَكَيٍّ فِي الْجُنُوبِ، وَكَيٍّ فِي الظُّهُورِ، حَتَّى يَلْتَقِيَ الْحَرَّ فِي أَجْوَافِهِمْ»[2] یعنې: د بدن ذکر شوې برخې د ټول بدن څخه کنایه دي چې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مخاطبه! د خزانو غونډوونکو ته خبر ورکړه چې د تندیو (مخونو) د طرفه به هم وداغل شي او د دواړو اړخو د طرفه به هم داغونه ورکړی شي او بالآخره د شاګانو د طرفه به هم بې داغه پرېښنبودل شي (د هر طرفه به ورته داغل متوجه وي) آن تر دې چې د ټولو داغلو حرارتونه به د هغوی په ګېډو (د بدنونو په داخل کښې) یو تربله سره اتصال ومومي او یو به د بل سره ونښلي.

﴿ إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ مِنْهَآ أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا۟ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمْ ۚ وَقَٰتِلُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةً ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾ إِنَّمَا ٱلنَّسِىٓءُ زِيَادَةٌ فِى ٱلْكُفْرِ ۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُحِلُّونَهُۥ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوا۟ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّوا۟ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ ۚ زُيِّنَ لَهُمْ سُوٓءُ أَعْمَٰلِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾ ﴾

[۳۶] یقینًا د میاشتو شمېره د الله ﷻ په نزد (فقط) دولس میاشتې ده، (همدا شماره) د الله ﷻ په کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثبت) ده. (په همدې شماره باندې په) داسې ورځ کښې (عمل پیل شوی دی) چې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې پیدا کړې دي.

د دغو (دولسو میاشتو) څخه څلور (میاشتې) محترمې دي، دغه برابر (درست) دین دی (د دې څخه په غیر انحرافي دین دی).

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۴۸؛ روح المعاني ج۱۰ ص۸۸
(۲) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۲۳؛ صحیح مسلم ج۱ ص۳۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (ای مؤمنانو!) تاسو په دغو (دولسو یا دغو محترمو) میاشتو کښې په خپلو ځانونو باندې ظلم مه کوئ (چې یا پکښې جنایت وکړئ او یا پکښې تاخیر واقع کړئ).

او (تاسو) په داسې حال کښې د ټولو مشرکانو سره جنګ وکړئ چې متفق او متحد اوسئ، لکه څنګه چې هغوی تاسو ټولو سره د اتفاق په حالت کښې جنګ کوي.

او تاسو پوه شئ چې یقینًا الله (په نصرت او کومک سره) د متقیانو سره دی.

[۳۷] بې شکه (د محترمو میاشتو) تاخیر (وروسته کول) په کفر کښې زیادت دی (کفر پرې قوي کېږي) چې په دې باندې هغه کسان ګمراه کولی شي کومو چې کفر غوره کړی دی.

(د تاخیر صورت یې دا دی چې) یو کال تاخیر حلال ګڼي (د احترام څخه یې صرف نظر کوي) او بل کال یې حرام بولي (میاشتې په خپل حال پرېږدي).

(دا) د دې دپاره چې د هغه عدد سره (صرف) په شماره کښې توافق ترلاسه کړي کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی (او تشخیص یې د پښو لاندې کړی).

نو (په همدې پلمه) هغه څه حلالوي کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی (چې هغه هم څلور میاشتې دي او هم د څلورو میاشتو تشخیص دی).

دوی ته خپل بد عمل ښائسته کړی شوی دی او الله ﷻ کافر قوم ته هدایت نه کوي (چې د ښېرته را تاوېدلو توفیق مونده کړي).

## ارتباطونه

۱ـ مونږ د [التوبة:۲۹] ایت شریف په لومړي توضیح کښې لیکلي دي چې د دې ځای څخه د اهل الکتابو سره د جهاد د پیل کولو دپاره د هغوی حالات څکه د بحث لاندې نیولی شوي دي ترڅو د چا ذهن ته ورنه شي چې دوی خو د اسماني کتاب خاوندان دي او د توحید دعوه کوي ایا د دوی سره جهاد کول ښه کار دی؟

نو د وړاندېنیو ایتونو په څېړنه کښې په ثبوت ورسېده چې د اهل الکتابو کړه وړه مشرکانو ته ورته دي چې هغوی ملائکو ته بنات الله وایي او دوی عیسی ﷺ او عُزیر رحمه الله ته د ابناء الله لقب ورکوي. په دې ایتونو کښې په ثبوت باندې رسولی کېږي چې بالمقابل د مشرکانو کړه وړه اهل الکتابو ته ورته دي چې هغوی خپل علماء او راهبان په معبودانو سره نیولي دي او د تشریع حق یې ورکړی دی او دوی خپل قومي مشرانو ته په همدې نظر ګوري او د تشریع حق ورکوي، د همدې کبله د میاشتو په تغیر او تبدیل کښې د دوی تعیناتو ته لبیک وایي.

۲ـ په دې ایتونو کښې د هغه اعتراض جواب ته اشاره شوې ده کوم چې د تبوک غزا د عام نفیر په ارتباط سره د دښمنانو ذهن ته ورته، هغه دا چې د تبوک غزا ته مسلمانانو د نهم کال د رجب په میاشت کښې حرکت وکړ حال دا چې دغه میاشت د هغو څلورو میاشتو څخه وه چرته چې د جنګ کول په ټولو عربو کښې حرام ګڼل کېده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څه لري نه وه چې ځینو دښمنانو د همدغه وخت په حرکت باندې د عیب ګوته لګولې دي چې مسلمانان د محترمو میاشتو احترام نه کوي حال دا چې خپل ځانونه په ابراهیمي ملت باندې بولي
د جواب حاصل دا دی چې: د هغه ناجائز تصرف د کبله چې مشرکان یې مرتکب، شوي وه سرګنې رجب په حقیقت کښې د جمادي الآخره میاشت ده او محترمه میاشت نه ده (د رجب میاشت وروسته راروانه ده).

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! تاسو لاندې نکاتو ته توجه وکړئ ترڅو تاسو ته د مشرکانو او اهل الکتابو تشابه ښه په اثبات ورسېږي:

۱ـ په یقیني صورت سره د الله ﷻ په نزد د میاشتو شمېر دولس دی، همدغه شمېره یې په لوح محفوظ کښې لیکلې ده او د هغې ورځې څخه چې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې پیدا کړي دي د همدغه عدد په اعتبار سره د کائناتو په کتاب کښې د زمانې تېرېدل جریان لري.

نو تاسو ته پوره جوته شوه چې د میاشتو په شمېره کښې د مشرکانو تصرف چې دیارلسو ته یې رسولې دی، یو غیر مشروع تصرف دی.

۲ـ په دې باندې علاوه، الله ﷻ په دغو دولسو میاشتو کښې څلور میاشتې (رجب، ذوالقعده، ذوالحجه، محرم) محترمې ګرځولې دي او په احترام کښې یې همدغه څلور میاشتې مشخصې کړې دي چې هیڅوک پکښې د تصرف حق نه لري، خو د دې سره سره مشرکان د خپلو قومي او دیني مشرانو په ذریعه په ذکرو شوو میاشتو کښې سوء تصرف کوي چې د میاشتو تشخیص یې د منځه وړی دی او په کال کښې صرف څلورو میاشتو ته په احترام قائل دي. د همدې کبله کله صفرې ته په احترام قول وکړي او کله ربیع الاول او کله بلې میاشتې ته.

۳ـ نو ای مؤمنانو! که تاسو د اهل الکتابو جهاد ته سږ کال (د هجرت نهم کال) د رجب په میاشتې حرکت وکړئ نو هیڅ باک یې نشته، ځکه د مشرکانو د سوء تصرف د کبله سږنی رجب په واقع کښې او د الله ﷻ په نزد د رجب میاشت نه ده بلکې د جمادي الآخر میاشت ده چې د محترمو میاشتو څخه وتلې ده.

۴ـ ای مؤمنانو! درست او برابر دین دغه دی چې تاسو ته واضحه شو، نو تاسو په ټولو میاشتو کښې په خپلو ځانونو باندې ظلم مه کوئ چې د جنایاتو مرتکب شئ، اما په دغو څلورو میاشتو کښې بالکل د خپلو ځانونو ظلم ته ورنژدې کېږئ قدرې هم مه، ځکه چې په دغو میاشتو کښې د جنایت سزا د نورو میاشتو په نسبت درنه ده.

۵ـ نو څرنګه چې د اهل الکتابو او مشرکانو کړه وړه یو تربله متشابه دي او هم ستاسو په مقابل کښې په اتفاق سره جنګېږي نو تاسو هم د مشرکانو او د هغو کسانو په مقابل کښې چې د مشرکانو سره تشابه لري په اتفاق سره وجنګېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ خو د دې سره-سره په جنګونو کښې تقوی او دینداري د لاسه مه ورکوئ چې یا زنانه او ماشومان ووژنئ او یا د بل غیر شرعي کار مرتکب شئ، ځکه چې الله ﷻ د متقیانو ملګری دی او په دغه صورت کښې به بیا تاسو متقیان نه یاست.

۷_ ای مؤمنانو! کوم تاخیر او تغیر چې مشرکانو د میاشتو په باره کښې په کار باندې اچولی دی هغه په حقیقت کښې دکفرې عقیدې ځخه منشا نیولې ده چې خپلو مشرانو ته د تشریع په حق باندې قائل شوي دي.

نو د همدې کبله دا کار د دوی د کفر دپاسه بل کفر دی چې په خپله باندې یې هم پرې کفر قوي کېږي او د نورو کافرانو کفري عقیده پرې هم قوت پیدا کوي او ګمراهي یې پرې زیاتېږي.

۸_ په میاشتو کښې د تاخیر او تبدیل صورت داسې دی چې کله د مشرکانو غرض د حرامې میاشتې په تاخیر پورې تعلق ونیسي نو په هغه کال کښې تاخیر جائز ګڼي او احترام یې بلې میاشتې ته ورانتقالوي، او که نه نو په خپل حال باندې یې پرېږدي او بلې ته یې نه انتقالوي.

۹_ لنډه دا چې مشرکان د حرامو میاشتو په هکله په کال کښې صرف عدد (ځلور) پوره کوي ترڅو دهغه عدد سره موافق شي کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی، اما کوم تشخیص چې الله ﷻ محترمو میاشتو ته ورکړی دی هغه د منځه وړي او هیڅ مراعات یې نه کوي.

۱۰_ دغه کار مشرکانو ته ښائسته کړی شوی دی او دوی ورباندې ویاړې چې هم (د دوی په خیال) د الله ﷻ حکم په ځای کړی شو چې ځلور میاشتې محترمې وګڼلی شوې او هم زمونږ غرض ترسره شو او جنګ کولو ته د جواز لاره مونده شوه.

۱۱_ مشرکانو په ذکر شوي طرز العمل سره د الله ﷻ هغه حکم د پښنو لاندې کړ کوم چې د میاشتو په تشخیص کښې نازل شوی وه، مګر دوی پرې نه پوهېږي او یا پرې ځانونه نه پوه کوي ځکه چې الله ﷻ کافر قوم ته هدایت نه کوي او توفیق نه ورکوي، که نه نو په ذکر شوي صورت حال کښې خو د الله ﷻ حکم د پښنو لاندې کول پوره واضحه دي.

## توضیحات

۱_ مونږ د قمري میاشتو نومونه او ترتیب د [البقرة:۱۹۴] ایت لاندې د یوې مقدمې په شکل کښې لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې مطالب ور اضافه کوو:

الف: که څه هم په دې خبره کښې څه اختلاف شته چې قمري کال په کومه میاشت باندې پیل کېږي، مګر د عمر الفاروق ﷺ په خلافت کښې صحابه کرام ﷺ متفق شوه چې د کال شروع باید د محرم ځخه وګڼله شي چې د اسلام ځخه وړاندې هم د عربو په نزد په همدغې میاشت باندې د کال پیل ګڼل کېده[۱].

---

[۱] روح المعاني ج۰ ۱۰ ص۰ ۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څوک غواړي چې د قمري میاشتو د نومونو مناسبات او اشتقاقات د نظره تېر کړي نو ځینو تفاسیرو(۱) ته دې مراجعه وکړي چې ښه پوره شرحه یې ورکړې ده.

## یو کال دولس میاشتې دي

۲_ که څه هم یو کال د دولسو میاشتو د مجموعې څخه عبارت دی مګر د جاهلیت په زمانه کښې به عربو کله-کله یو کال د دیارلسو میاشتو د مجموعې څخه په لاندې ډول عبارت ګاڼه:

د حج په موسم به د دوی دیني مشر (القلمس) او یا د ده د اولادې څخه یو کس اعلان وکړ چې سږ کال د محرم د میاشتې احترام د صفر میاشتې ته وروسته کړی شو نو په هغې کښې جنګ او غارت ګیري جائزه ده او په دې کښې جواز نه لري.

دغه کال به د همدغه محرم څخه پیل کېده کوم چې په حقیقت کښې صفر وه، یا په بل عبارت: په دغه کال به د محرم دوه میاشتې جوړې شوې یوه اصلي محرم او بله فرعي محرم چې په واقع کښې د صفر میاشت وه. نو په دغه کال به د ربیع الاول نوم په صفر باندې کېښود شو او د ربیع الاول نوم به ربیع الثاني ته ورانتقال شو، تر آخره پورې چې په نتیجه کښې به کال د یارلس میاشتې شو(۲).

نو ځکه الله ﷻ لطف وکړ چې: ﴿ إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرًا ﴾ یقینًا د الله ﷻ په نزد د میاشتو شمېر دولس میاشتې دي (دیارلس نه دي لکه څنګه چې جاهلانو اختراع کړي دي).

## کتاب الله څه معنی؟

۳_ په دې مقام کښې علماء کرامو ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ دپاره لاندې تفسیرونه غوره کړي دي:

الف: ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ د کائناتو د نظام څخه عبارت دی(۳) یعنې د الله ﷻ په نزد د کائناتو په نظام کښې د میاشتو شمېر په کال کښې دولس میاشتې تاکلې شوې دي.

ب: ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ د قرآن کریم معنی ورکوي(۴) یعنې په محمدي شریعت کښې یو کال دولس میاشتې دي چې شرعي احکام په همدې معیار باندې فرض کړی شوي دي، لکه روژه، حج او داسې نور.

ج: ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ د لوح محفوظ په معنی دی(۵) یعنې الله ﷻ په لوح محفوظ کښې یو کال د دولسو میاشتو په معیار باندې لیکلی دی.

زمونږ په نزد ذکرې شوې معناوې سره یو تر بله څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې درې واړه مرادې وي او د ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ څخه "ما یطلق علیه کتاب الله" اخستلی شوی وي. نو حاصل به یې

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۰۴
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۴۱۳، المحرر الوجیز ج۸ ص۱۷۵
(۳) تفسیر المراغي ج۱۰ ص۱۱۴
(۴) تفسیر المنار ج۱۰ ص۴۱۲
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې شي چې: یو کال دولس میاشتې دی، هم د کائناتو په نظام کښې او هم په محمدي ﷺ شریعت کښې او بالآخره هم په لوح محفوظ کښې.

## د قمري او شمسي کلونو ترمنځ فرق

۴_ که څه هم په ﴿ إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ ﴾ کښې قمري کال ته اشاره ده او جاهلانو به د همدغه کال په میاشتو کښې سوء تصرف کاوه، مګر د دې سره-سره (چې د دې موضوع اصلي مرجع د ریاضي کتابونه دي) مونږ غواړو چې دلته يې په لنډه توګه شرحه کړو[1] هغه دا چې:

د لمر حرکت په دوه ډوله دی، یو عارضي حرکت دی چې د اسمان د حرکت له امله په څلېرشتو (۲۴) ساتونو کښې تکمیلېږي چې شپه او ورځ تمثیلوي، او بل يې اصلي حرکت دی چې خپله دوره په درې سوه او پنځه شپېتو (۳۶۵) ورځو او شپږو ساتونو کښې پوره کوي.

همدارنګه الله ﷻ د لمر ذکره شوې دوره په دولسو برخو باندې وېشلې ده چې هرې برخې ته يې برج ویل کېږي، د دغه کال د ټولو برجونو نومونه دا دي: حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدي، دلو، حوت.

نو د لمر په هر یو برج کښې په دېرشو ورځو باندې دپاسه څه سر باري شته، د همدې کبله ذکر شوي برجونه ځیني دېرش، ځیني یو دېرش او ځیني دوه دېرش ورځې هم محاسبه کېږي، لنډه دا چې مجموعه کال درې سوه او پنځه شپېته (۳۶۵) ورځې او شپږ ساته جوړېږي.

اما قمري (سپوږمیز) کال د دې څخه عبارت دی چې میاشت خپلې دولس دورې پوره کړي د میاشتې یوه دوره څه د پاسه نهه ویشت نیمو ورځو کښې پوره کېږي نو په مجموعي توګه یو قمري کال درې سوه او څلور پنځوس (۳۵۴) ورځو او شپږو ساتونو ته رسېږي.

نو د ذکرې شوې محاسبې په نظر کښې نیولو سره قمري کال د شمسي کال څخه یوولس ورځې کم دي، نو د همدغه کمبود د کبله په درې دیرشو (۳۳) کلونو کښې قمري کلونه په شمسي کلونو باندې یو کال اضافه کېږي.

نو که بالفرض د میاشتې دولس دورې هم د شمسي کال درې سوه او پنځه شپیتو (۳۶۵) ورځو او شپږو ساتونو ته رسېدی نو بیا به دواړو کلونو هیڅ تفاوت نه درلودی.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په شرعي احکامو کښې قمري کال ته اعتبار ورکړی شوی دی او شمسي کال د نظره غورزولی شوی دی؟

مونږ وایو چې: په دې کښې ډېر حکمتونه دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: څرنګه چې قمري کال د میاشتو د مجموعې څخه عبارت دي او د میاشتو په پیل او پای

---

[1] احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۰۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې هرڅوک پوهېږي دقیقې محاسبې ته اړتیا نه لري، بالمقابل شمسي کال د برجونو مجموعې ته ویل کېږي او د برجونو په پیل او پای باندې د خواصو څخه په غیر عوام خلک نه پوهېږي، نو د ټولو خلکو د مراعات دپاره شرعي احکام په قمري کال پورې تړلی شوي دي.

ب: ترڅو د دنیا د ټولو نقاطو خلک په تخفیف او تشدید کښې یو برابر شي، د مثال په ډول کله به یې روژه د ژمي په لنډو او سړو ورځو کښې پیل کېږي او کله د اوړي اوږدو او ګرمو ورځو ته انتقال مومي. او دا ځکه چې په قمري کال کښې هره یوه میاشت په درې دېرش (۳۳) کالو کښې د شمسي کال په دولسو واړو برجونو باندې دوره وهي. یا په بل عبارت: که بالفرض سږ کال د سنبلې په برج کښې روژه پیل شي نو درې دیرش (۳۳) کاله وروسته به د دوهم ځل دپاره په همدغه برج کښې پیل کېږي.

که بالفرض روژه د میاشتو څخه یوه میاشت نه وی فرض شوې بلکې د برجونو څخه د یوه برج روژه فرض شوې وی، نو د نړۍ په ځینو خلکو باندې به همېشه په لنډو او یخو ورځو کښې ورتلای او په ځینو نورو باندې به په دوامداره توګه په اوږدو او ګرمو ورځو کښې فرض کېدی، ځکه چې شمسي کال د وطنونو په اعتبار سره بدلون نه قبلوي.

ج: ترڅو د امتحان او ازمېښت دپاره زمینه ښه پراخه شي ځکه چې روزمره د لمونځونو او روژو وختونه تفاوت پیدا کوي او لمونځ کوونکي او روژتیان د امتحان سره مخامخ کېږي چې د وختونو کمبود او زیادت ته غاړې ږدي او که نه؟

که بالفرض شریعت شمسي کال معتبر کړی وی نو ضرور به یې روژې او لمونځونه د ساتونو په معیارونو سره ټاکلي وی او هیڅ تفاوت به پکښې تحقق نه موندلی او روزمره به لمونځ کوونکي او روژتیان د نوي نوي امتحان سره مخامخ نه وی.

## ایا د محترمو میاشتو احترام منسوخ دی؟

۶ـ مفسرینو کرامو[1] د دې جملې ﴿ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡ ﴾ دپاره لاندې دوه تفسیرونه کړي دي:

الف: د ﴿ فِيهِن ﴾ ضمیر ټولو میاشتو ته راجع دی، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د محترمو میاشتو په شمول په ټولو میاشتو کښې په خپلو ځانونو باندې ظلم مه کوئ، او په محترمو میاشتو کښې خو ډېر احتیاط وکړئ ځکه چې په دغو میاشتو کښې لکه څنګه چې عبادت د نورو میاشتو په نسبت اجر او ثواب زیات لري همدارنګه پکښې د ظلم کولو ګناهونه هم درانه دي او غټ خطر پکښې شته.

ب: ذکر شوی ضمیر یوازې محترمو میاشتو ته راجع دی، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په دغو محترمو میاشتو کښې په خپلو ځانونو باندې ظلم مه کوئ چې یا پکښې جنګ پیل

[1] ـ سر ج۳ ص۲۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړئ او یا یې په احترام کښې انتقالات پیل کړئ لکه څنګه به چې د جاهلیت په زمانه کښې عربانو (مشرکانو) دغه کار کاوه.

پاتې شوه دا خبره چې ایا دغه حکم د قیامت د ورځې پورې باقي دی او که نسخه شوی دی؟ نو په دې کښې که څوک علاوه په هغو معلوماتو باندې چې د [البقرة:۲۱۷] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تیر شوي دي نور معلومات غواړي نو لطفًا دې څینو اوږدو تفاسیرو ته مراجعه وکړي[۱].

## "کَافَّةً" څه معنی؟

۷ـ د ﴿ كَآفَّةً ﴾ کلمه د "کَفَ" ـ لکه "شَدّ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "کَفّ" ورغوي ته وایي چې د ټولو خواوو څخه راغونډه دی[۲] نو د همدې کبله یې مونږ په لاندې دواړو جملو کښې په "ټول" سره معنی کوو:

دواړه جملې دا دي: ﴿ وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةً ﴾.

نو که ذکره شوې کلمه په هره یوه جمله کښې د فاعل څخه حال وګڼله شي نو معنی یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو د مشرکانو سره په اجتماعي توګه او په اتفاق سره جنګ وکړئ او د تفرق او تشتت څخه ځانونه بچ وساتئ، لکه څنګه چې هغوی ستاسو د جنګ دپاره متحد او متفق دي.

او که د مفعول دپاره حال شي نو معنی یې داسې راځېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو ټول د ټولو مشرکانو سره وجنګېږئ، مه په دوی باندې صرفه کوئ او مه د دوی په سیالانو او همردیفانو باندې چې د اهل الکتابو څخه عبارت دي[۳].

زمونږ په نزد د ﴿ كَآفَّةً ﴾ کلمه په دواړو جملو کښې د فاعل او مفعول دواړو څخه حال واقع شوې ده، نو په دې تقدیر ذکرې شوې دواړه معناوې په یو ځل مرادیږي او په عربیت کښې داسې شواهد شته چې یوه کلمه د فاعل او مفعول څخه د اشتراک په توګه حال واقع شي[۴].

## نسیئ څه معنی؟

۸ـ د ﴿ ٱلنَّسِيٓءُ ﴾ کلمه د "نَسَأَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اخستله شوې ده چې په معنی د تاخیر سره ده، که څه هم ذکره شوې کلمه اسم دی مګر په دې مقام کښې د مصدر (تاخیر) معنی ورکوي[۵]، نو حاصل یې داسې راځېژي چې یقینًا د محترمو میاشتو په تاخیر (د خپله ځایه په وروسته کولو) سره د کافرانو کفر لا پسې قوي کېږي او کلکېږي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۱۱
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۱۱۹
(۳) في ظلال القرآن ج۳ ص۱۶۵۱
(۴) شرح ملا جامي ص۱۲۶
(۵) لسان العرب ج۱ ص۱۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د محترمو میاشتو د تاخیر صورتونه

۹_ مفسرینو کرامو د ذکر شوي تاخیر دپاره مختلف صورتونه ذکر کړي دي، لاندې څو شکلونه يې ولولئ:

الف: یو خو هغه شکل وه کوم چې په اوله توضیح کښې ذکر دی.

ب: بل شکل يې دا وه چې د محرم میاشت به يې حلاله وګڼله او د دې په عوض به د صفر میاشت ته په احترام باندې قائل شوه[1].

ج: بل شکل يې دا هم وه چې په یوه کال کښې به يې د محرم میاشت حلاله کړه خو په عوض کښې به يې د دوهم کال د صفر میاشت هم په محترمو میاشتو کښې شامله کړه. نو په اول کال به محترمې میاشتې درې او په دوهم کال کښې به پنځه وګڼلې شوې، نو په دواړو کلونو کښې به يې د محترمو میاشتو عدد (شمېر) په اتو (۸) باندې ودراوه[2].

د: ځینې لا وايي چې دغو جاهلانو به په قمري کال کښې هر درې کاله وروسته یوه میاشت زیاتوله ترڅو د همېشه دپاره د حج موسم (چې تجارتي موسم دی) په یو وخت باندې راشي، البته کوم وخت چې ورته دوی انتخاب کړی وه. نو په دې تقدیر به دوی په یوه میاشت کښې درې کاله حج کاوه بیا به يې بله میاشت بیا د دریوو کالو حج دپاره وټاکله[3].

مګر عام مفسرین کرام په دغه څلورم شکل باندې قائل نه دي، ځکه چې هغو جاهلانو دومره مهارت نه درلود چې د شمسي کال او د قمري کال تفاوت يې ویستلی وی. د همدې کبله دوی هره میاشت د دوه وو حجونو دپاره انتخابه کړې وه چې دوه کاله به يې په یوه میاشت کښې حج کاوه او په څلېرشتو کالو کښې به د دولس میاشتو د حج نوبت پوره کېده[4] او په اوړي، ژمي، مني، پسرلي کښې به يې تحقق مونده.

لنډه دا چې د هغو جُهالو د لاس وهنې د کبله د قمري کال دولس میاشتې یوه هم یا په خپل حال پاتې نه وه او یا سړي یقین نه شو کولی چې دا به په خپل حال باندې پاتې وي او بدله شوې به نه وي. مګر کله چې نبي کریم ﷺ د هجرت په لسم کال باندې اعلان وکړ چې سږنی کال په هغه حالت باندې ولاړ دی په کوم باندې چې الله ﷻ په اول خلقت کښې پیدا کړی وه[5] نو شک او شبهه د منځه لاړه او د میاشتو نظام په خپل ځای باندې ودرېده، والحمد لله.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلْتُمْ إِلَى ٱلْأَرْضِ

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۵۷
(۲) في ظلال القرآن ج۳ ص۱۶۵۳
(۳) تفهیم القرآن ج۲ ص۲۷۵
(۴) الجواهر للطنطاوي ج۵ ص۱۰۸
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ
﴿٣٨﴾ إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ
سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ
وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا وَجَٰهِدُواْ
بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ﴾

[٣٨] ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو لره څه دي چې تاسو باندې څه باعث دی) کله چې تاسو ته وویلی شي چې د الله ﷻ په لاره کښې ووځئ (حرکت وکړئ) نو تاسو ځمکې ته درانه (مائل) شئ؟ ایا تاسو په نږدې (حقیر) ژوند باندې د آخرت څخه راضي یاست؟

(که داسې وي) نو د نږدې (حقیر) ژوند څخه ګټه پورته کول (استفاده کول) د آخرت (د نعمتونو) په هکله نه دي مګر ډېر لږ (چې هوښیار سړی پرې نه راضي کېږي).

[٣٩] که تاسو (د الله ﷻ په لاره کښې) ونه وځئ (حرکت ونه کړئ) نو الله ﷻ به مو په دردناک عذاب سره معذب کړي. او (هم) ستاسو څخه په غیر په بل قوم باندې به (تاسو) بدل (عوض) کړي، او تاسو به (په نه حرکت سره) د الله ﷻ (دین) ته هیڅ ضرر ونه شئ رسولی. او الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

[٤٠] که تاسو د ده (پیغمبر ﷺ) سره نصرت (کومک) ونه کړئ نو (الله ﷻ به ورسره کومک وکړي) الله ﷻ خو لا په هغه وخت کښې ورسره کومک (او نصرت) کړی دی کله چې ده لره هغو کسانو چې کفر يې غوره کړی وه په داسې حال کښې (د خپله کوره) وویست چې دویم د دوه وو وه (فقط یو ملګری ورسره وه)، کله چې دوی دواړه (د کمزورۍ د کبله) په غار کښې (پټ) وه، کله چې پیغمبر ﷺ خپل ملګري ته وویلې چې خپه کېږه مه! یقیناً الله ﷻ زمونږ سره دی (البته څه وخت چې د ده ملګری د مشرکانو د نژدېوالي څخه ډېر غمژن شو).

نو (الله ﷻ د مشرکانو څخه په امن کښې وساته او) خپله ډاډینه (اطمنان) يې ورباندې ورنازل کړ او (هم) الله ﷻ د ده ﷺ تائید په داسې لښکرو (ملکو) سره وکړ چې تاسو هغه نه لیدلې (نه شوی لیدلې). او الله ﷻ د هغو کسانو خبره ښکته وګرځوله (ناکامه کړه) چې کفر يې اختیار کړی وه، او د الله ﷻ خبره (په هر وخت کښې) همدا لوړه (کامیابه) ده (او بس).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

[۴۱] (ای مؤمنانو!) په داسې حال کښې (غزا ته) لاړ شئ (بهر شئ) چې تاسو سپک یاست (موانع ونه لرئ) او چې دارنه یاست (چې موانع ولرئ). (بلکې په هرحال کښې) د الله ﷻ په لاره کښې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو (سرونو) جهاد وکړئ.

دا (کار) ستاسو دپاره ډېر بهتر دی که تاسو یاست چې پوهېږئ.

## ارتباط

د وړاندې [۲۹] ایت څخه راپه دېخوا چې کوم مطلب ته اشارې شوې دي په همغه مطلب باندې په دې ایتونو کښې صراحت وکړی شو، هغه دا چې په زغرده د اهل الکتابو سره د مقابلې دپاره حرکت وکړئ او سستي او تنبلي مه کوئ. نو د معنی حاصل یې داسې راځېژي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! څرنګه چې تاسو ته په وړاندې ایتونو کښې په اثبات ورسوله شوه چې اهل الکتاب د منحرفې عقیدې خاوندان دي او د مشرکانو سره په دې کښې شباهت لري چې الله ﷻ ته په ولدیت باندې قائل دي، همدارنګه مشرکان هم اهل الکتابو ته ورته عقیده لري چې خپلو دیني مشرانو ته د الوهیت په اختصاصي صفاتو باندې قول کوي او په محترمو میاشتو کښې د تغیر او تبدیل حق ورکوي، نو څکه ستاسو مخه لاندې ارشاداتو ته رااړوو:

۲ـ ای مؤمنانو! تاسو څه دلیل لرئ کله چې تاسو ته د نفیر عام اواز وکړی شي چې هلي د تبوک په طرف د نصاراوو سره د جهاد په خاطر حرکت وکړئ. تاسو په حرکت کښې سستي کوئ او ځمکې (کیناستلو) ته میلان کوئ؟

د دغې سستۍ خو بله هیڅ وجه نه شي کېدلی بې د دې چې تاسو دنیا ته په آخرت باندې ترجیح ورکوئ. ایا تاسو یقینًا د ابدي ژوند څخه په دغه خسیس او نژدې ژوند باندې راضي یاست او دا ژوند مو د هغه ژوند څخه خوښ دی؟

که داسې وي نو دا کار ستاسو دپاره هیڅ مناسب نه دی څکه چې دا ژوند د هغه ژوند په نسبت ډېر لږ او ناچیزه شی دی چې هوښیار سړي ته د دغه ناچیزه ژوند غوره کول مناسب نه دي.

۳ـ ای مؤمنانو! دا د الله ﷻ فضل او احسان دی چې تاسو ته یې د جهاد کولو شرف درپه برخه کړ، د دغه احسان شکریه وکړئ او په جلتۍ سره حرکت وکړئ.

که بالفرض تاسو تنبلي خوښه کړئ نو الله ﷻ به په تاسو باندې دردناک عذاب درنازل او ستاسو په عوض به د جهاد دپاره نور خلک پیدا کړي چې هغوی به په جهاد کښې لټي او تنبلي نه کوي، نو تاسو پوه شئ چې تاسو په خپله تنبلۍ سره د الله ﷻ دین ته څه ضرر نه شئ رسولی او نه الله ﷻ تاسو ته احتیاج دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ په هرڅه باندې قادر دی چې بدون د مجاهدینو هم خپل دین ته غلبه ورکولی شي او ستاسو څخه په غیر نور مجاهدین هم ورته پیدا کولی شي.

۴_ ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو د خپل پیغمبر ﷺ سره په جهاد کښې کومک ونه کړئ نو الله ﷻ په ورسره داسې غیبي کومک وکړي لکه څنګه یې چې په هغه وخت کښې ورسره غیبي کومک کړی وه کله چې کفارو د خپل ټاټوبي څخه د یوه ملګري سره وویست، او د ډېرې کمزورۍ د کبله ترې په غار کښې پټ شو او هلته یې پنا واخستله.

د دغه غار خولې ته کفار دومره نژدې ورغله چې پیغمبر ﷺ ته خپل ملګري (ابو بکر الصدیق ﷺ) په غمژنه لهجه خطاب وکړ چې: ای د الله رسوله! دغه دي کفار راورسېده او مونږ یې ګېر کړو.

مګر پیغمبر ﷺ خپلې ملګري ته ډاډ ورکړ چې خپه کېږه مه. یقیناً الله ﷻ په کومک او نصرت سره زمونږ ملګری دی مونږ ته هیڅوک څه ضرر نه شي رسولی.

نو الله ﷻ په همغه کمزوري حالت کښې هغوی ته نجات ورکړ او برسېره پر نجات خپله ډاډینه او ارامي یې په خپل پیغمبر ﷺ باندې هم ورنازله کړه، د همدې کبله یې خپل ملګري ته په ډېر اطمناني حالت کښې جواب ورکړ چې: مه خپه کېږه! الله ﷻ زمونږ ملګری دی. د همدغه جواب په برکت د ده ملګری هم ډاډه او مطمئن شو.

۵_ همدارنګه الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته وخت په وخت د پرښتو په لښکرو باندې هم تائید او قوت ورکړی دی لکه د بدر او حنین په غزاګانو کښې او بالآخره ذکر شوي غار ته د ننوتلو په حالت کښې، البته داسې لښکرې چې تاسو هغوی په عادي حالت کښې نه شئ لیدلی.

همدارنګه په هر ځای کښې الله ﷻ د کفارو خبره او فیصله د خاورو سره برابره کړې ده او د کامیابۍ پړاو ته یې نه ده پرېښې چې ورسېږي، د همدې کبله په دغه حالت کښې کفار بریالي نه شوه چې خپله فیصله عملي کړي او نبي کریم ﷺ په شهادت باندې ورسوي.

بالمقابل د الله ﷻ خبره او فیصله د همېشه دپاره برلاسې ده او د همېشه دپاره د عمل جامه اغوندي، البته په مختلفو شکلونو او رنګارنګ ډولونو سره. ځکه چې الله ﷻ هم د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی او هم د حکمت څښتن دی چې د خپل پیغمبر ﷺ نصرت او کومک کله په یوه څېره کښې تر سره کوي او کله په بله بڼه کښې ترڅو خلک پوه شي چې الله ﷻ هرڅه کولی شي.

۶_ نو ای مؤمنانو! کله چې تاسو پوه شوئ چې نه الله ﷻ تاسو ته احتیاج دی او نه د دین قوت ستاسو په جهاد پورې توقف لري بلکې جهاد کول ستاسو سرلوړي ده او په تاسو باندې د الله ﷻ احسان دی چې په همدې لاره کښې مو په کار باندې ګماري. نو بې همتي مه کوئ او په هر حالت کښې د الله ﷻ د رضا دپاره په سر او مال سره جهاد ته حرکت وکړئ او د خپل پیغمبر ﷺ دعوت قبول کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ څه لري نه ده چې جهاد ته وتل به په چا باندې درانه او په چا باندې به سپک وي. یا په بل عبارت: څوک به زاړه او څوک به ځوانان وي، څوک به غنیان او څوک به فقیران وي، څوک به ناجوړ او څوک به جوړ وي، او همدارنګه به تاسو مختلف حالات ولرئ خو تاسو ته په کار ده چې په هیڅ یوه حالت کښې هم د نفیر عام څخه بېرته پاتې نه شئ او سستي او تنبلي ونه کړئ، دا کار (چې په نره جهاد وکړي) تاسو ته ډېر مفید او ګټور دی که تاسو د فهم او پوهې لږ څه برخه ولرئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿ اَثَّاقَلْتُمْ ﴾ کلمه د "ثِقْل" څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام کښې "ثِقْل" د دې څخه عبارت دی چې سړی ځمکې (کیناستلو) ته مائل وي او زړه یې غواړي چې جهاد ته لاړ نه شي او په کور کښې کښني.

که څه هم په ذکره شوې کلمه کښې ټول مؤمنان مخاطب کړی شوي دي مګر مطلب پکښې ځینې خاص خلک دي چې هغوی د تبوک غزا ته په تللو کښې سستي کوله، لکه منافقان.

نو په ذکر شوي ایت کښې منافقان په غوږ باندې وهلی شوي دي چې د منافقت څخه لاس واخلئ او په جهاد کښې بنه په نره ګډون وکړئ او هم د سوچه مؤمنانو پښو ته ډېرې مه ور اچوئ او د جهاد څخه یې مه راایساروئ، همدارنګه مؤمنان پوه کړی شوي دي چې د منافقانو خبرو او شیطانت ته التفات مه کوئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د تبوک غزا ته د تللو دپاره الله ﷻ په ډېر صراحت او په ډېرو تاکیداتو سره امر صادر کړ؟

مونږ وایو چې: چې دغه غزا په ډېرو سختو شرائطو کښې واقع کېدونکې وه چې ځینو مفسرینو کرامو په لاندې ټکو کښې را خلص کړې ده[1]:

الف: نورې غزا د مکې معظمې د فتحې او هم د حنین او طائف دغزاګانو څخه لږ وروسته واقع کېدونکې وه، په اصطلاح د مجاهدینو لا ستوماني نه وه وتلې چې د تبوک د غزا دپاره ورباندې د ځانونو د چمتو کولو امر صادر شو.

ب: دغه وخت سخته ګرمي وه، یا په بل عبارت: د تودوښې جوش او د اورې زړه وه.

ج: په دغه وخت کښې د مجاهدینو سره د خوراک او څښاک مواد لږ وه او دجنګ دپاره یې چندان تیاری نه شو درلودی.

د: په دغه وخت کښې خرما ګانې (کجورې) تازه رسېدلې وې او د هر چا زړه غوښتل چې خپل میوجات بنه په دقت او مزې سره راغونډ کړي.

(۱) تفسر المراغي ج۱۰ ص۱۱۹؛ التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: دا د يو پلوه، او د بله پلوه کوم ځای ته چې خط السير تاکلی شوی وه هغه ته ډېر اوږد سفر وه چې د مدينې منورې څخه څوارلس منزله او يا شپږ سوه دوه نوي کيلو متره (۶۹۲Km) د دمشق (اوسنۍ سوريې) په لور واقع دی چې تبوک نومېږي.

و: په دې باندې علاوه، کوم دښمن (چې مسلمانان جنګ ته ور روان وه) ډېر قوي وه چې څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) مجهز کسان يې جنګ ته تيار کړي وه.

## د تبوک د غزا سبب

۳ـ د تبوک غزا د دې کبله پيل شوه چې نبي کريم ﷺ ته خبر ورسېد چې روميانو څلوېښت زره لښکر مجهز کړی دی او غواړي چې په مدينه منوره باندې يرغل وکړي. نو نبي کريم ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ ته په صراحت سره د هغوی د مقابلې دپاره د ځانونو د چمتو کولو امر ورکړ، چې په نتيجه کښې د روم او شاماتو په طرف روان او په تبوک نومې مقام کښې مېشت شوه.

دا د دې دپاره چې د دښمن سره په سرحد کښې مقابله وکړي او موقع ورنه کړي چې مدينې منورې ته ورداخل شي[۱].

## د دنيا او آخرت تناسب

۴ـ د دنيا او آخرت تناسب نبي کريم ﷺ په ډېره ښه توګه بيان کړی دی چې فرمايي: «مَا مَثَلُ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلَّا مَثَلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ»[۲] د دنيا مثال د آخرت په هکله نه دی مګر د هغه شي مثال دی چې ستاسو يو کس په درياب کښې خپله ګوته وګرځوي (ښکته کړي) نوهغه لوندوالی وګوري کوم چې د ده د ګوتې سره راګرځي (راپور ته کېږي). يعنې لکه کوم نسبت چې لمده ګوته د درياب سره لري همدغه نسبت ټوله دنيا د آخرت سره درلودلی شي.

## غار څه معنی؟

۵ـ په ﴿ فِي ٱلْغَارِ ﴾ کښې د "غَار" کلمه د "غَوْر" څخه اخستله شوې ده، "غَوْر" په ځمکه کښې ژور ځای ته ويل کېږي[۳]، اما په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْغَارِ ﴾ څخه هغه سوری (سمڅ) مطلب دی کوم چې په "جبل ثور" (د ثور په غره) کښې موقعيت لري.

دغه غر د مکې معظمې په ښې طرف کښې واقع دی چې پياده سړی په يوه سات کښې ورسيږي، په دغه غار کښې نبي کريم ﷺ او ابو بکر الصديق ﷺ درې شپې غلي (پټ) وه البته کله چې دوی د هجرت کولو اراده وکړه نو په شپه کښې د کوره ووته او په ذکر شوي غار کښې يې پنا واخسته[۴].

---

(۱) تفسير المنار ج۱۰ ص۴۲۱
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۰۲
(۳) مفردات الراغب ص۳۷۹
(۴) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د نبي كريم ﷺ د هجرت قيصه

۶_ كه څوک غواړي چې د نبي كريم ﷺ د هجرت په قيصه باندې تكى په تكى پوه شي او د اول ځخه يې تر آخره پورې په ذهن كښې كښېنوي چې عبرتونه ترې واخلي نو څينو اوږدو تفاسيرو ته دې مراجعه وكړي⁽¹⁾ مونږ صرف د لاندې څو نكاتو په ذكر باندې اكتفاء كوو چې په دې مقام باندې د پوهېدلو دپاره راته ضرور ښكاري:

الف: مشركانو په دار الندوه كښې د رايو په اتفاق تصويب وكړ چې د هر يو قوم ځخه دې يو-يو زلمى را ټول شي او په مجموعي توګه دې په يو ځل په نبي كريم ﷺ باندې د تورو ګذارونه وكړي ترڅو يې د وژلو مسؤليت په ټولو اقوامو باندې توزيع شي، نو د نبي كريم ﷺ كور د محاصرې لاندې ونيولى شو ترڅو د سهار په وخت كښې ذكره شوې نقشه عملي كړى شي، چې په پوره بيان يې د [الأنفال: ۳۰] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ.

ب: نبي كريم ﷺ د همدغې محاصرې په شپه علي ﷺ ته هدايت وركړ چې د ده ﷺ په بستر باندې ويده شي ترڅو د يو پلوه محاصره كوونكي خيال وكړي چې نبي كريم ﷺ لا ويده دى او د بله پلوه سبا ته هغه امانتونه خاوندانو ته ور وسپاري كوم چې د نبي كريم ﷺ په كور كښې د خلكو د پلوه اېښودلي شوي وه.

ج: نبي كريم ﷺ په همدغې شپه كښې د كوره رابېرون شو خو محاصره كوونكي ورباندې الله ﷻ رانده كړه _چې د يوه كس نظر هم پرې واقع نه شو_ او د ابو بكر الصديق ﷺ په شمول يې د ثور د غره په يوه غار كښې پنا واخستله.

د: ذكر شوى غار الله ﷻ داسې جوړ كړى دى چې خوله يې ډېره تنګه ده چې په سينه باندې په ورښويېدلو سره سړى ورننوتلى شي مګر په داخل كښې څه ارتوالى او لوړوالى لري چې د كيناستلو ګنجائش پكښې شته دى، د غار د داخل ځخه د هغه چا پښې ځرګندېږي كوم چې د غار په خوله كښې ولاړ وي مګر د بهر ځخه د غار داخل تر هغه پورې چا ته نه ځرګندېږي ترڅو چې د غار خولې ته خپل سر ټيټ كړي.

هـ: كله چې د محاصرې شپه سبا شوه او مشركان پوه شوه چې نبي كريم ﷺ د شپې د كوره وتلى دى نو په تعقيب او پلټنه باندې يې پيل وكړ، آن تر دې چې د غار خولې ته ور ورسېده او په اول ځل ابو بكر الصديق ﷺ ته د هغوى پښې ښكاره شوې.

و: ابو بكر الصديق ﷺ وارخطا شو او وېې ويلې چې: يا رسول الله! دغه دي مشركان راورسيده كه د دوى كوم يو نفر قدم پورته كړي (د قدم په ځاى خپل سر ټيټ كړي) او داخل ته را وګوري نو ضرور به مونږ وګوري. نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا»⁽²⁾ په داسې دوه

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۲۹۳؛ تفسير الخازن ج۳ ص۱۲۵
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کسانو باندې ستا څه ګومان دی چې الله ﷻ يې دريم دی. يعنې زما او ستا الله ﷻ کومکې او مددګار دی مونږ ته مشرکان څه ضرر نه شي رسولی مه خپه کېږه او مه وارخطا کېږه.

ز: تر درې ورځو پورې دوی دواړو په همدغه غار کښې وخت تېر کړ او بیا د مدینې منورې په لور روان شوه او الله ﷻ هلته په خیر ورسول، والحمد لله.

## صاحب یعنې څوک؟

۷_ ټول امت متفق دی چې په ﴿ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ ﴾ کښې د صاحب څخه ابو بکر الصدیق ؓ مطلب دی، نو د بل هر یوه صحابي د صحبت څخه که څوک انکار وکړي نه کافر کېږي مګر دروغژن او مبتدع ګڼل کېږي، اما که څوک دابو بکر الصدیق ؓ د صحبت څخه منکر شي نو هغه په حقیقت کښې د قرآن کریم د ذکر شوي ایت څخه انکار کوي نو سمدستي کفر ته اوځي[1]. العیاذ بالله.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ کښې خو د ﴿ أَيَّدَهُ ﴾ بارز ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع دی، حال دا چې د لاندې دوه وجو د کبله په کار ده چې د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمیر ابو بکر الصدیق ؓ ﴿ لِصَٰحِبِهِ ﴾ ته راجع شي:

الف: یو دا چې سکینې (ډاډینې) ته خو همدغه ملګری احتیاج وه، ځکه یې نبي کریم ﷺ ته خپله وارخطایي څرګنده کړه چې: ای د الله رسوله! مشرکان د غه دي راورسېده _لکه چې په لږ وړاندې تېر شو_ والحمد لله ﷻ.

ب: د ﴿ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ په جمله کښې د "ف" توری هم همدغه غوښتنه کوي چې د ﴿ لَا تَحْزَنْ ﴾ په جمله باندې د تفریع دپاره ده.

نو پوښتنه دا ده: که همدغسې وګڼل شي نو په ضمائرو کښې تفکیک لازمېږي او دا کار خو د عربیت په قواعدو کښې خوندور نه دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره څو متعدد جوابونه کړي دي[2] مګر کوم جواب چې مونږ ته په زړه پورې ښکاري هغه په لاندې ډول دی:

اول: په ایتونو کښې وړاندې-ببرته بحث د نبي کریم ﷺ په حالاتو کښې روان دی نو په کار دي چې د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمیر هم همده ﷺ ته راجع شي.

دوهم: سکینه (ډاډینه) خو د الله ﷻ نعمت او فضل دی چې د بل هرچا څخه یې زیات مستحق نبي کریم ﷺ دی.

دریم: په ﴿ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ کښې د "ف" توری په وړاندېنۍ جملې ﴿ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ ﴾ باندې د تفریع

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۹۳؛ تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۱۴۶

(۲) تفسیر المنار ج۱۰ ص۴۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره دی او په منځکښې نورې تولې جملې د کمزورۍ بیان دی، یعنې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ لا په هغه وخت کښې بې نصرته پرېښنبود چې د کمزورۍ د کبله یې په غار کښې پنا اخستې وه او د یوه ملګري څخه په غیر نور ملګري هم ورسره نه وه او په دې باندې علاوه یو ملګرى یې هم وارخطا وو چې دغه دې کفار راباندې راغله.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وايي چې په دې تقدیر خو د ابو بکر الصدیق ﷺ د تسکین او ډاډینې ذکر بالکل د منځه اوځي؟

مونږ وایو: د ابو بکر الصدیق ﷺ د تسکین ذکر د لاندې اشارو څخه څرګندېږي:

الف: د ابو بکر صدیق ﷺ دپاره د ﴿ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ﴾ دواړه جملې د تسکین او ډاډینې معنی ورکوي.

ب: کله چې الله ﷻ په خپل پیغمبر ﷺ باندې تسکین ورنازل کړ نو سړي ته په ډېر تبادر سره ذهن ته ورځي چې د همدغه تسکین (ډاډینې) څخه به ابو بکر الصدیق ﷺ هم پوره استفاده کړې وي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَا يَعْدَمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ تَشْتَرِيَهُ وَإِمَّا تَجِدُ رِيحَهُ»[۱] یعنې: د مشکو خاوند به دې خالي پرېنږدي یا به ترې مشک په بیه واخلې او خپل دماغ به پرې خوشبویه کړې او یا به (په همدغه مجلس کښې په مفته توګه) د مشکو خوش بویي مونده کړې.

نو چې کله د عادي نېکانو مجلس او انډیوالي د ګټو څخه خالي نه ده نو د هغه چا انډیوالي به څنګه بې ګټې وګڼله شي چې هغه ته الله ﷻ د "رَحْمَةٌ لِّلْعَالِمِينَ" لقب ورکړی.

د صحابه وو کرامو ﷺ ډېر لوی فضیلت د نبي کریم ﷺ صحبت دی، د همدې کبله هغوی په بل یوه لقب باندې هم نه یادېږي (لکه عالم، شیخ، مجاهد او داسې نور) بلکې د "الصُّحَابِي" کلمه د هغوی د هر یوه دپاره غوره کړی شوې ده چې دا کلمه یې په لوی فضیلت باندې دلالت کوي.

## اهل التشیع څه وايي؟

۱۰_ مفسرینو کرامو[۲] د ذکر شوي ایت شریف څخه د ابو بکر الصدیق ﷺ په فضائلو کښې زښتې ډېرې وجې استنباطې کړې دي که څوک تولې وجې راغونډې کړي او د اهل التشیع هغو شبهاتو ته جوابونه هم ذکر کړي کومې چې دوی یې د فضائلو په وجوهو باندې واردوي نو لوی کتاب به ترې جوړ شي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۸۲
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۱۰۰؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۱۴۹؛ تفسیر المنار ج۱۰ ص۴۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ د همدې کبله محترمو لوستونکو ته توصیه کوو چې هملته يې وګورې مونږ د دې کتاب د روحياتو په مطابق په لاندې څو نکاتو باندې اکتفاء کوو چې الله ﷻ راته په زړه کښې راواچولې:

الف: مونږ (أهل السنة والجماعة) په دې عقيده ياستو چې ابو بکر الصديق ﷺ په صحابه کرامو ﷺ کښې لومړی درجه سړی دی، د همدې کبله د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته همده ﷺ د خلافت استحقاق درلود، او علي ﷺ ته د څلورم سړي په درجه باندې قائل ياستو. مګر اهل التشيع په صحابه کرامو ﷺ کښې اوله درجه سړی علي ﷺ ګڼي.

دغه ايت شريف ـ چې اوس د بحث لاندې دی ـ په ډېرو صريحو کلماتو کښې زمونږ د عقيدې تائيد کوي چې الله ﷻ د ﴿ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ لقب ابو بکر الصديق ﷺ ته ورکړي. نو کله چې نوموړی په نبي کريم ﷺ پسې دوهم سړی شو نو معلومه ده چې په صحابه کرامو ﷺ کښې اول سړی دی.

ب: زمونږ په خيال اهل التشيع به د بل هيڅ دليل په رد کولو کښې دومره واهيات او بې معنی خبرې نه وي کړي لکه څومره واهيات او بې معنی خبرې يې چې په دې مقام کښې کړي دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

اهل التشيع وايي چې نبي کريم ﷺ ابو بکر الصديق ﷺ څکه د خپل ملګري په حيث د هجرت په سفر کښې انتخاب کړی وه ترڅو د ده د شر څخه ځان بچ وساتي او د جاسوسۍ مخه يې ونيسي[1] نو که د خپله ځانه سره يې نه وی روان کړی نو ضرور به يې نبي کريم ﷺ د مشرکانو په لاس ورکړی وی چې هلئ منډه کړئ په فلاني غار کښې غلی دی (شهيد يې کړئ).

دوی وايي چې: علي ﷺ څکه نبي کريم ﷺ د خپلې بسترې دپاره انتخاب کړ ترڅو ټول مسلمانان په غوږ باندې ووهي چې زما د وفات څخه وروسته همدغه صحابي ﷺ زما ځای ناستی (خليفه) دی لکه څنګه چې زما بستر نن ورځ همده ﷺ ته ورتبريک کړی شو.

مونږ (أهل السنة والجماعة) وايو چې: که بالفرض نبي کريم ﷺ د خپل هجرت په سفر کښې بالعکس کار کړی وی نو بيا به اهل التشيع څه ويل؟ بيا به يې دا خبره کولی چې:

ابو بکر الصديق ﷺ يې څکه په خپل بستر باندې پرېښود ترڅو د ده د شر څخه خپل ځان خلاص کړي چې مشرکان يې په دې خيال ووژني چې دا نبي کريم ﷺ دی، او علي ﷺ يې څکه د ملګري په حيث انتخاب کړی وه چې اعتماد يې ورباندې درلود بلکې دا انتخاب د الله ﷻ په هدايت سره تر سره شوی وه، نو لکه څنګه چې الله ﷻ علي ﷺ ته په اسلامي نړۍ کښې د دوهم سړي لقب ورکړی دی نو په ټولو مسلمانانو باندې واجبه وه چې د نبي کريم ﷺ د فات څخه وروسته يې د اول سړي په صفت پېژندلی وی او د خليفه په حيث يې منلی وی خو افسوس چې د وخت مسلمانانو خپله فريضه ونه پېژندله او د خليفه لقب يې ابو بکر الصديق ﷺ ته ورکړ.

لنډه دا چې په اهل التشيع باندې تعصب سترګې پټې کړي دي او په چا باندې چې تعصب سترګې

[1] التفسير الكبير ج۱۶ ص۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پټې کړې هغه بیا هیڅ دلیل ته غوږ نه ږدي او په صریحو نصوصو کښې تاویلات کوي، نو ښه دا ده چې د دغسې خلکو سره په ناندریو باندې وخت ضائع نه کړی شي.

## د خِفَافًا او ثِقَالًا معناوې

۱۱ـ که څه هم مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ذکرو شوو دواړو کلمو زښت ډېر تفسیرونه کړي دي ـچې تقریباً شپاړسو ته ته رسېږي ـ لکه جوړ یاست یا ناجوړه، مجرد یاست یا عیال دار، فقیران یاست یا غنیان او داسې نور[1].

مګر په دقت سره د ټولو معناوو حاصل داسې راځېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو مکلف یاست چې د ژوند په هره یوه حالت کښې جهاد وکړئ او یو حالت هم ستاسو دپاره د جهاد مانع جوړ نه شي.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: کله په هر حال کښې جهاد فرض شو نو په کار دي چې په ګوډو او ړندو باندې هم جهاد فرض وګرځي؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو لیکلي دي چې دا ایت شریف منسوخ دی[2] دا ځکه چې الله ﷻ په همدې سورت کښې فرمایلي دي چې: ﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا۟ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ [التوبة:۹۱] یعنې: نه په کمزورو (بوډاګانو) باندې څه باک شته (چې جهاد ته لاړ نه شي) او نه په مریضانو باندې او (هم) نه په هغو کسانو باندې چې هغوی دومره مال نه لري چې د لارې خرڅ یې کړي، خو په دې شرط ورباندې باک نشته چې خاص الله ﷻ ته او خاص د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ته خیر غواړي.

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې په نسخه باندې یې قول ونه کړو ځکه چې جهاد زښت ډېر ډولونه لري، که نور هیڅ نه وي نو باید چې د مسلمانانو خیر غوښتونکي خو باید هرڅوک جوړ شي لکه چې د همدغه ایت شریف څخه څرګندېږي ﴿ إِذَا نَصَحُوا۟ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾.

شاید د همدغه (تعمیم) دپاره به الله ﷻ د ﴿ ٱنفِرُوا۟ خِفَافًا وَثِقَالًا ﴾ جمله د ﴿ وَجَٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ په جمله باندې تعقیب کړې وي ترڅو د جهاد یو ډول هم د ایت شریف څخه بهر پاتې نه شي.

## د جهاد ډولونه

۱۳ـ ځینو علماوو کرامو جهاد په ډېرو ډولو باندې وېشلی دی[3]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: جهاد په مال سره چې د جهاد د لوازمو په تهیه کولو کښې مصرف شي.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۴۰۰، البحر المحیط ج۵ ص۴۲۳
(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۵۰
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: جهاد په مال سره چې مجاهد يې د خپل ځان دپاره د جهاد په لاره کښې مصرف کړي.
ج: جهاد په نفس سره چې مباشرةً په جهاد کښې برخه واخلي.
د: جهاد په نفس سره چې د جهاد احکام مجاهدينو ته بيان کړي.
هـ: جهاد په نفس سره چې خلک جهاد ته ترغيب کړي او د نه جهاد څخه يې ودار کړي.
و: جهاد په نفس سره چې د کفارو د پټو اسرارو کشف وکړي او يا د هغوی د سوقياتو معلومات مجاهدينو ته ورکړي.
ز: چې مجاهدينو ته د سلاګانو تعليم وکړي او يا يې صنعت ورزده کړي.
ح: چې د جنګ په نقشه کښې د مجاهدينو سره کومک وکړي او يا ورته د ځمکو خريطه (نقشه) جوړه کړي.
ط: بلکې هر يو کار چې د جهاد په ګټه وي د هغه کار کول جهاد بالنفس دی.

## يوه مسئله

۱۴- په کوم وخت کښې چې مسلح جهاد فرض عين نه وي ګرځېدلی او د فرض کفايي په حال کښې وي -چې بيان يې د [البقرة:۲۱۶] ايت لاندې تېر شوی دی- نو د مسلح جهاد څخه د علم زده کړه بهتره ده او که فرض عين وګرځي نو مسلح جهاد ضروري دی[۱].

د دې نظير دا دی چې مثلاً د لمانځه د وخت په اوږدو کښې (چې لمونځ لا نه قضا کېږي) د لمانځه څخه په علم بانديې مشغولتيا غوره ده مګر د وخت په آخر کښې چې لمونځ قضا کېږي په طالب باندې فرض ده چې د علم د اشتغال څخه صرف نظر شي او فرضي لمونځ وکړي.

﴿ لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾ ﴾

[۴۲] (ای پيغمبره!) که چرته هغه شی کوم ته چې دوی وربلل کېږي نژدې (اسان) غنيمت وي او متوسط سفر وي نو هرومرو به دوی (منافقانو) ستا متابعت کړی وي (غزا ته به درسره وتلي وي).

مګر په دوی باندې (د غزا) ځنډه (ځای) لرې شوې ده (دوی ته ډېر لرې برېښي) او ژر دی چې دوی به تاسو ته په الله ﷻ باندې سوګندونه وکړي (او وبه وايي چې) که مونږ (غزا ته د تللو) وسه درلودی نو مونږ به ضرور ستاسو سره وروتلي وی (افسوس چې مونږ معذرتونه لرو نو ځکه درسره ونه وتلو او يا ځکه د ببرته پاتې کېدلو اجازه غواړو).

[۱] احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) دوی خپل ځانونه هلاکوي (چې د منافقت سره دروغ هم ضمیمه کوي) او الله ﷻ پوهېږي چې یقینًا دوی دروغژنان دي (په الله ﷻ خو څوک چل ول نه شي کولی).

## ارتباط

که څه هم په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د منافقانو په شمول ټول مؤمنان مخاطب کړي وه چې جهاد ته لاړ شئ؛ که نه نو د دردناک عذاب انتظار وباسئ؛ خو مطلب پکښې منافقان وه ځکه چې همدوی په جهاد کښې تنبلي کوله. په دې ایتونو کښې په همدغه مطلب باندې صراحت وکړی شو او د منافقانو د حالاتو بیان پیل شو، نو د دې ایت څخه نیولی آن د سورت ـتقریبًاـ د پای پورې د منافقانو حالات او کړنه او هم د دوی ډولونه او کفري ویناګانې شرحه شوې دي.

په دې باندې علاوه د هغو کسانو حالاتو ته هم اشاره شوې ده کوم چې د تبوک غزا ته نه وو تللي او په مدینه منوره کښې پاتې شوي وه چې ځینو په دروغو سوګندونه او اعتذارونه وړاندې کړه او ځنیو رښتیا خبرې وکړې.

بالآخره د هغو خلکو حالات هم مطرح شوي دي چا چې په دروغو او یا په رښتیاوو خپل ځانونه په معذورانو کښې شمېرل او په مدینه منوره کښې د پاتې کېدلو اجازې یې غوښتې او داسې نور.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! د ذکرو شوو تهدیداتو سره‌ـسره چې منافقان جهاد ته د وتلو امر د پښو لاندې کوي او ستا د پېروي، څخه غاړې غړوي د دې کار نورې وجې نه شي کېدلی بې د دې چې:

الف: په دغې غزا کښې ورته غنیمت لاس ته ورتلل اسان نه ښکاري.

ب: او کومه څنډه چې تا د جهاد دپاره ټاکلې ده هغه ورته ډېره لرې برېښي نو که بالفرض تا د جهاد دپاره کومه نژدې څنډه په ګوته کړې وی ـچې د یوې خوا هلته تګ راتګ اسان وی او د بلې خوا هلته دښمن کمزوری وی او د غنیمت رانیول اسان بریښېدلی ـ نو ضرور به دوی ستا پیروي کړې وی، مګر په دوی باندې هم سفر اوږد شوی دی او هم یې د غنیمت امید نشته.

۲ـ ای پیغمبره! منافقان به په همدې سکوت کښې پاتې نه شي، ډېر ژر دی چې ستاسو حضور ته به درشي او دروغین معذرتونه به درته وړاندې کړي (البته کله چې تاسو د غزا څخه بېرته را ستانه شئ). او دا هم نژدې ده چې ستاسو حضور ته عرض وکړي چې یا رسول الله مونږ وسه نه لرو چې د کوره بهر لاړ شو، که بالفرض مونږ وسه او توان درلودی نو ضرور به ستاسو سره مونږ هم جهاد ته وتلي وی خو افسوس چې په مونږ کښې وسه نشته مونږ ته اجازه راکړه. منافقان په دغو وړاندیزونو سره نور څه نه کوي مګر خپل ځانونه د هلاکت کندې ته ورغورزوي چې د منافقت سره دروغین وړاندیزونه هم ضمیمه کوي او د خپل جنایت پېټی درنه وي.

۳ـ ای پیغمبره! که دوی د خپلې ناتوانۍ دپاره هرڅومره د دروغو سوګندونه وکړي او خپل

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنایت لا پسې دروند کړي هم باور پرې مه کوه، ځکه الله ﷻ پوهیږي چې یقینًا دوی دروغژنان دي (جهاد ته د تللو وسه لري او دروغ وایي).

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې په ﴿ لَوۡ كَانَ عَرَضٗا ﴾ کښې د ﴿ كَانَ ﴾ د کلمې ضمیر څه شي ته راجع دی؟ مونږ وایو چې: داضمیر هغه شي ته راجع دی کوم ته چې دوی دعوت کړی شوي وه چې په "اَلَّذِي دُعُوا إِلَيْهِ" سره ترې تعبیر صورت نیولی شي او وړاندینی کلام ورباندې دلالت کوي، نو حاصل یې هاغسې راوځي کوم ته چې په ترجمه او خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده.

۲_ د ﴿ ٱلشُّقَّةُ ﴾ کلمه د "شَق" _لکه "مَد"_ څخه اخستله شوې ده، "شَق" د یو شي توټې کولو ته وایي مګر په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د هغه وطن څخه عبارت ده کوم چې هلته ور ورسېدل ګران وه[1].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په منافقانو باندې هغه وطن ته رسېدل ډېر ګران (سخت) دي کوم چې د جهاد دپاره ټاکلی شوی دی چې د تبوک څخه عبارت دی. چې د یو پلوه د مدینې منورې څخه شپږ سوه او دوه نوي کیلو متره (٦٩٢Km) لرې واقع دی او د بله پلوه د ناغېړۍ او سستۍ د کبله دوی ته لا نور لرې برېښي، ته به وایې چې د دوی په نظر یو زر درې سوه او څلور اتیا کیلو متره (۱۳۸۴Km) (دوه چنده) لرې دی.

۳_عامو علماوو کرامو[2] د دې جملې ﴿ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ ﴾ د تفسیر حاصل داسې اخستی دی چې: منافقان به ډېر ژر د غزا څخه ستاسو د بېرته راستنېدلو په وخت کښې تاسو ته په سوګندونو سره ووایي چې که مونږ غزا ته د وتلو وسه درلودی نو مونږ به ستاسو سره وتلي وی خو افسوس چې مونږ ډېر معذرتونه درلوده.

خو مونږ ته دا هم ذهن ته راځي چې دا به د اجازې د غوښتلو د وخت حکایت وي. یعنې: ژر دی چې تاسو ته به ذکرشوي سوګندونه د اجازې غوښتلو په وخت کښې وکړي ترڅو جهاد ته د نه وتلو اذن ترلاسه کړي.

دوهم تفسیر د راتلونکو ایتونو سره ښه پیوند اخلي چې د اذن په باره کښې نازل شوي دي.

هو! په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو سره ایت شریف د معجزاتو څخه ګڼل کېږي چې هم نبي کریم ﷺ ته دوی د اجازې غوښتلو دپاره په سوګندونو سره دروغژنې بهانې وړاندې کړې _لکه چې راتلونکی متصل ایت ترې حکایت کوي_ او هم یې د غزا څخه د بېرته راستنېدلو په موقع دروغینو سوګندونو ته لاس واچاوه، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ ﴾ [التوبة:۹٦] یعنې منافقان تاسو ته خپل دروغین معذرتونه په سوګندونو سره وړاندې کوي ترڅو تاسو ترې راضي شئ.

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۱
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۱۰۷، البحر المیحط ج۵ ص۴۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعْلَمَ
ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ أَن يُجَٰهِدُواْ
بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ
بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۴۳] (ای پیغمبره!) الله ﷻ تا ته عفوه وکړه (چې منافقانو ته دې اجازه ورکړه) دوی ته دې ولې اجازه ورکوله؟ (تا به دوی ته اجازه نه ورکولی) ترڅو چې تا ته هغه کسان پوره څرګند شوي وی چې (د معذرت په وړاندې کولو کښې) رښتیا وایي او (ترڅو چې) تا دروغ ویونکي هم پېژاندلي وی (چې د اجازې د نه ورکولو په صورت کښې به هم په کور ناست وی).

[۴۴] (نن ورځ د تبوک په غزا کښې) ستا څخه هغه کسان اجازه نه غواړي چې په الله ﷻ او وروستنۍ ورځ باندې (پخه) عقیده لري (د دې څخه) چې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو باندې (د الله ﷻ په لاره کښې) جهاد وکړي.

او (دا ځکه چې) الله ﷻ په متقیانو باندې عالم دی (چې داسې کار نه کوي).

[۴۵] یقینًا ستا څخه هغه کسان (د کور کېناستلو او جهاد نه کولو) اجازه غواړي چې په الله ﷻ او وروستنۍ ورځې باندې (واقعًا) ایمان نه راوړي، او زړونه یې (ترې) په شک کښې پراته دي، نو دوی په خپل شک (او اشتباه) کښې سر ګردانه تاوېږي او راتاوېږي (چې دوتلو توفیق نه شي موندلی).

## د مطلب خلاصه

۱ــ یعنې: ای پیغمبره! الله ﷻ تا ته عفوه وکړه چې خلاف الاولی کار دې وکړ، هغه دا چې کله تا ته منافقان د اجازې غوښتلو دپاره درغلل تا ورته دستي اجازه ورکړه.

حال دا چې د دوی اجازه غوښتل په رښتینو عذرو باندې ولاړ نه وه، بلکې د دې دپاره یې اجازه غوښتله ترڅو یو سند ترلاسه کړي چې مونږ د غزا څخه په اذن باندې پاتې شوي یاستو.

نو په دغه حالت کښې بهتره خبره دا وه چې تا ورته اجازه نه وی ورکړې ترڅو د دوی د دروغو څخه پرده پورته شوې وی او تا ته ــبلکې ټولو مؤمنانو تهــ هغه کسان څرګند شوي وی چې هغوی رښتیا وایي او تا دروغژنان هم پېژاندلي وی چې د دروغو معذرتونو وړاندې کوي.

ځکه چې د اجازې د نه ورکولو په صورت کښې به رښتیني کسان درسره وتلي وی او دروغژنان به بیا هم درڅخه پاتې شوي وی او ټولو خلکو ته به یې حال واضحه شوې وی چې په کور کېناستل یې، ستا په اجازې پورې موقوف نه وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای پیغمبره! د اجازې د غوښتلو محض وړاندیز کول د دې خبرې علامه ده چې دوی مخلص نه دي، ځکه څوک چې په واقعي توګه په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځ باندې عقیده لري هغوی تا ته د اجازې غوښتلو وړاندیز نه کوي ترڅو د الله ﷻ په لاره کښې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره د جهاد څخه خپلې اوږې سپکې کړي. او دا ځکه چې الله ﷻ ته متقیان ښه معلوم دي چې دغه کار ته اقدام نه کوي. دغه کار ته هغه څوک اقدام کوي چې په عقیده کښې یې خاموالی وي او په الله ﷻ او هم په وروستنۍ ورځ باندې پخه عقیده نه لري، بلکې زړونه یې پکښې شک کوي او په منافقت باندې مشتمل وي.

نو د همدې کبله دوی په خپل شک او اشتباه کښې سر بداله تاویږي راتاویږي او د وتلو لاره ترې نه شي موندلی.

## توضحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ ﴾ د جملې څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د نبي کریم ﷺ څخه دا ګناه واقع شوې وه چې منافقانو ته یې د کور کېناستلو اجازه ورکړه او قطعي امر یې ورباندې ونه کړ چې ضرور به په غزا کښې اشتراک کوئ؟

مونږ وایو چې:

الف: اجازه ورکول خو په هغه وخت ګناه ګڼله کېده که بالفرض نبي کریم ﷺ ته د اجازې ورکولو اذن نه وی شوې حال دا چې دا اذن ورته شوی وه، الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَإِذَا ٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ ﴾ [النور: ۶۲] یعنې: نو کله چې دوی (مؤمنان) د خپلو ځینو حالاتو دپاره ستا څخه اذن وغواړي نو د دوی د جملې څخه دې چې هرچا ته خوښه شي هغه ته اجازه ورکړه.

دا جواب مونږ ته کمزوری ښکاري ځکه ذکر شوی ایت د مخلصو مؤمنانو په هکله د هجرت په څلورم کال د خندق د غزا په موقع نازل شوی دی، او دا ایت ـچې اوس پکښې بحث روان دیـ د هجرت په نهم کال د تبوک په غزا کښې د منافقانو په هکله نازله شوی دی، نو د دواړو ایتونو کیفیات بالکل جدا دي نو په کار ده چې یو په بل حمل نه کړی شي.

ب: دا اعتراض خو به په هغه وخت کښې صحت درلودی چې ﴿ عَفَا ﴾ د "غفر" سره په معنی کښې مترادف وی خو دغسې نه ده، څوک چې د ترادف خیال کوي هغوی غلط شوي دي او د عربو د کلام استعمالات ورته معلوم نه دي[۱].

بلکې عفوه په دې مقام کښې د پرېښودلو معنی ورکوي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «إِنِّي قَدْ عَفَوْتُ لَكُمْ عَنْ صَدَقَةِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ»[۲] یعنې: یقینًا ما تاسوته عفوه وکړه د اسونو او غلامانو د زکات څخه (درباندې مې واجب نه کړه او درته مې پرېښود).

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۲۴، تفسیر الخازن ج۳ ص۱۳۳

(۲) سنن ابن ماجه ص۱۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ﴿ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ ﴾ کښې استفهام د انکار په معنی سره دی او انکار د ګناه څخه نمايندګي کوي، خو په دې مقام کښې د ګناه څخه نمايندګي نه کوي ځکه چې استفهام د ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ ﴾ د جملې څخه وروسته دی او پوره واضحه ده چې د عفوې څخه وروسته انکار او ملامته کول څه معنی نه لري.

دا جواب هم مونږ ته کمزوری ښکاري ځکه چې عفوه خو د ترک (عدم نيونې) معنی ورکوي مګر په هغه مقام کښې چرته چې د نيونې (مواخذې) استعداد موجود دی لکه د آسونو او غلامانو زکات، نبي کريم ﷺ په مونږ باندې نه دی لازم کړی مګر د لازم ګرځولو استعداد خو پکښې شته دی. د همدې کبله ځينې علماء د نورو احاديثو په استناد په آسونو او غلامانو کښې هم زکات ورکول واجب بولي.

ج: د ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د ګناه څخه نمايندګي نه کوي بلکې دغسې جمله کله-کله د خبرو د پيل کولو دپاره هم استعمالېږي په کوم وخت کښې چې د مخاطب تعظيم مطلب وي، لکه چې وايي: "عَفَا اللهُ عَنْكَ مَا فَعَلْتَ فِيْ أَمْرِيْ"[1] الله ﷻ دې درته عفوه وکړي زما په کار کښې دې څه وکړه.

مونږ ته دا جواب هم -په دې مقام کښې- په زړه پورې نه برېښي ځکه چې ذکره شوې جمله د تعظيم دپاره -زمونږ په خيال- په هغه ځای کښې استعمالېږي چرته چې د متکلم څخه د مخاطب رتبه پورته وي او يا پورته وګڼله شي، او پوره واضحه ده چې دا معنی په دې ايت کښې صحت نه لري.

د: مونږ ته هغه جواب ښه پوره غوره ښکاري کوم چې د [البقرة:۳۷] ايت لاندې مشرح بيان شوی دی -والحمد لله- هغه دا چې دلته د ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ ﴾ څخه څرګندېږي چې نبي کريم ﷺ د خلاف الاولی (نه بهتر) کار مرتکب شوی وه، بهتر کار دا وه چې اجازه يې ورته نه وی کړې ترڅو دوی د خپل منافقت څخه پخپله پرده پورته کړې وی چې د اجازې د نه ورکولو سره-سره به په کور کښې پاتې شوي وی.

د دې ډول خلاف الاولی (نه بهتر) کار کولو يو مثال د نبي کريم ﷺ په هکله د بدر د اسيرانو په باره کښې د [الأنفال:۶۷] ايت لاندې تېر شوی دی او بل مثال يې د [التحريم:۱] ايت لاندې د ببيانو په باره کښې او درېم مثال يې د عبدالله بن ام مکتوم ﷺ په باره کښې د [عبس:۱] ايت لاندې راروان دی -ان شاء الله- چې ټول څلور مثالونه جوړېږي اما پنځم مثال يې نشته او يا به مونږ ته معلوم نه وي.

## يوه پوښتنه او هغې جواب

۲- که څوک وايي چې په دې مقام کښې الله ﷻ اجازه غوښتل د کفر علامه وګڼله چې: ﴿ إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ﴾ يعني يقيناً ستا څخه هغه څوک اجازه غواړي

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځ باندې ایمان نه لري. نو پوښتنه دا ده: کوم اعمال چې د عقیدې څخه نمایندګي کوي (لکه بوت ته سجده کول او یا زینار تړل) د هغو د جملې څخه خو اجازه غوښتل نه دي؟

مونږ وایو چې: دلته د اذن غوښتونکو څخه هغه کسان مطلب دي د کومو په باره کښې چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴾ [التوبة: ۴۲] یعنې: ژر دی چې تاسو ته به په دروغو سوګندونه وکړي چې مونږ د معذرتونو خاوندان یاستو او غزا ته د تللو توان نه لرو، مګر الله ﷻ پوهېږي چې یقیناً دوی دروغژنان دي. او پوره واضحه ده چې ذکر شوي کسان خو د منافقانو څخه پرته بل څوک نه وه، نو د همدې کبله د دوی اذن غوښتل د کفر علامه وګڼله شوه.

یا په بل عبارت: الله ﷻ لا د وړاندې څخه خپل پیغمبر ﷺ ته خبر ورکړی وه چې هرچا چې ستا څخه د دروغو په معذرتونو سره اجازه وغوښتله نو پوه شه چې هغوی عقیدوي منافقان دي او په زړونو کښې یې د ایمان بخرکی هم نشته.

همدغه جواب د مجاهد علیه الرحمة په تفسیر باندې ډېر ښه واضحه کېږي چې: "نَاسٌ قَالُوا اسْتَأْذِنُوا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنْ أَذِنَ لَكُمْ فَاقْعُدُوا وَإِنْ لَمْ يأذن لَكُمْ فَاقْعُدُوا"[1] یعنې: په هغه وخت داسې خلک وه چې هغوی په خپلو خاصو مجالسو کښې ویل چې د نبي کریم ﷺ څخه (د کور کښناستلو) اجازه وغواړئ نو که اذن (اجازه) یې درته درکړه هم په کور باندې کښنئ او که اجازه یې درنه کړه هم په کور باندې کښنئ او جهاد ته لاړ نه شئ.

لنډه دا چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې د کور کښناستلو اجازه هغو خلکو غوښتله کوم چې عقیدوي منافقان وه[2] او الله ﷻ یې باطله عقیده مسلمانانو ته ورڅرګنده کړه. اما نن ورځ که څوک د غزا څخه د نه تللو په خاطر دروغین معذرتونه وړاندې کړي او اجازه وغواړي نو مونږ ورباندې د عملي منافق اطلاق کولی شو او بس، ځکه چې باطن یې یوازې یو الله ﷻ ته معلوم دی او وحي قطعه شوې ده، پیغمبر ﷺ وفات شوی دی که نه نو امکان یې درلود چې د زړونو حالات یې راته الله ﷻ څرګند کړي وی.

﴿ وَلَوْ أَرَادُوا۟ ٱلْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً وَلَـٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَـٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوا۟ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا۟ خِلَـٰلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ ٱلْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّـٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ لَقَدِ ٱبْتَغَوُا۟ ٱلْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا۟ لَكَ ٱلْأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَهُمْ كَـٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾

---

[1] تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۴۲
[2] البحر المحیط ج۵ ص۴۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۶] او که منافقانو (غزا ته) د وتلو اراده درلودی نو د وتلو دپاره به یې څه تیار کړي وی لې (د سفر) تیاری، مګر (اصلي وجه دا ده چې) الله ﷻ د دوی (منافقانو غزا ته) پورته کېدل نه خوښول نو الله ﷻ ترې رابند (را ایسار) کړه (او توفیق یې ورنه کړ). او دوی ته (په تکویني توګه او یا د اجازې موندلو په توګه) وویل شوه چې تاسو هم (د کور) کیناستونکو سره (په کور کښې) کینئ (لکه زنانه او ماشومان).

[۴۷] که چیرته دوی په تاسو کښې (غزا ته) وتلي وی نو تاسو ته به یې نه وی زیات کړی مګر فساد او ضرور به یې ستاسو په منځکښې (چوغلګري او دوه مخي) په داسې حال کښې تېزه کړې وی چې ستاسو دپاره به یې فتنه (ګډوډي) لټولی.

او (د ګډوډۍ احتمال ځکه موجوده وه چې) په تاسو کښې د دوی دپاره د خبرو منونکي (اورېدونکي) کسان شته، او الله ﷻ په ظالمانو باندې پوه دی (ټول ورته معلوم دي).

[۴۸] یقینًا د نن څخه وړاندې هم منافقانو (ستاسو دپاره وخت په وخت) فتنه (ګډوډي) لټولې ده او هم یې ستا دپاره (د چل او غولنې) کارونه اړولي-رااړولي دي (چې کوم چل به موثر واقع شي) آن تر دې چې حق راغی (دوی مخه ونه شوه نیولی) او د الله ﷻ کار (اسلام) په داسې حال کښې غلبه وموندله چې دوی (پرې) ناخوښه وه.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د یو پلوه هغه مضمون په دلایلو باندې اثبات شوی دی کوم ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه، هغه دا چې منافقانو د اجازې د نه موندلو په صورت کښې هم غزا ته د تللو اراده نه درلوده.

او د بله پلوه د هغه کاشکې (افسوس) مخه نیوله شوې ده کومه چې د وړاندېنیو ایتونو د مضمون څخه چاته ذهن ته ورتله، هغه دا چې کاشکې نبي کریم ﷺ هغوی ته (د کور کېناستلو) اجازه نه وی ورکړې نو دوی به هم جهاد ته وتلي وی، که نور څه نه وی د مسلمانانو جمعیت خو به وربانډې غټ شوی وی، چې حاصل یې په لاندې ډول راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو د دې دپاره چې د وړاندېنیو ایتونو په مضمون باندې تاسو ښه مطمئن شي او هم د دې دپاره چې د کاشکې-کاشکې تصور مو د زړونو څخه ووځي لاندې ارشاداتو ته توجه وکړئ:

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو دا خیال مه کوئ چې که بالفرض نبي کریم ﷺ منافقانو ته اجازه نه وی ورکړې نو دوی به ستاسو سره جهاد ته وتلي وی، او دا ځکه که دوی جهاد ته د تللو اراده درلودی نو د اذن غوښتنې څخه وړاندې خو به یې ورته څه تیاری نیولی وی او څه د لارې خوړې خو به یې تهیه کړې وی چې د اجازې نه موندلو په صورت کښې یې ترې کار اخستی وی.

دوی خو د اجازې غوښتلو څخه وړاندې داسې بې غمه ناست وه تا به ویل چې د غوښتلو څخه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخکښې يې اجازه ترلاسه کړې ده. نو معلومه شوه چې د اجازې د نه ورکولو په صورت کښې هم دوی د غزا نيت نه درلود.

۲_ ای مؤمنانو! غزا ته د منافقانو د نه تللو اصلي وجه دا نه ده چې نبي کريم ﷺ دوی ته دکور کيناستلو اذن ورکړ مګر اصلي وجه يې دا ده چې الله ﷻ نه غوښتل چې دوی د غزا شرف ترلاسه کړي او د خير په کار کښې يې استعمال کړي، نو د همدې کبله الله ﷻ دوی ته توفيق ورنه کړ او په کور باندې يې کښنول، ته به وايې چې دوی ته ويل شوي وي چې: ای منافقانو! د ګوډو او ړندو او هم د زنانه وو او ماشومانو سره په کورونو کښې کښنئ، په نارينتوب او مېړانه کښې ستاسو برخه نشته.

۳_ ای مؤمنانو! په دې باندې افسوس مه کوئ چې منافقان په کور کښناستل که نه نو ستاسو جمعيت به يې غټ کړی وی او څه ګټه به يې درته رسولې وی، او دا ځکه چې:

الف: که بالفرض منافقان ستاسو په جمعيت کښې غزا ته وتلي وی نو ضرور به يې په تاسو کښې فساد اچولی وی او د فساد څخه په غير به يې نوره ګټه تاسو ته نه وی رسولې، ستاسو سره به يې ټګي بړګي کولی او بې زړه توب به يې ستاسو په جمعيت کښې خوروله.

ب: دوی به په ډېره چالاکۍ سره ستاسو خپلمنځي حالات خراب کړي وی او د دوه مخۍ څخه به يې کار اخستی وی، ترڅو په تاسو کښې فتنه راپورته کړي او د مرزانو په شان مو په جنګ باندې واچوي او دوی مو سيل وکړي.

ج: ای مؤمنانو! که ستاسو خيال ته درځي چې غزا ته په وتلو کښې يې دا ګټه وه چې د غازيانو جرئت او مېړانه به يې په خپلو سترګو باندې لېدلې وی او هم به يې هغه نصرت او کومک د نظره تېر شوی وی کوم چې د جنګ په ميدان کښې د الله ﷻ د پلوه د غازيانو سره صورت نيسي.

نو ذکره شوې ګټه د نه وتلو په صورت کښې هم حاصلېږي او دا ځکه چې ستاسو په جمعيت کښې په موجوده حال کښې د منافقانو جاسوسان شته او ستاسو حالات هغوی ته ټکي په ټکي رسوي چې ستاسو هيڅ حالت د هغوی څخه پټ نه پاتې کېږي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه ستاسو په جمعيت کښې ځينې ساده لوحې خلک شته چې د هغوی خبرې ته غوږ ږدي او خبرې يې مني، نو دا خطر وه چې همدغه خلک يې ستاسو په ضرر باندې استعمال کړي وی او _په اصطلاح_ تاسو ته يې په لستوڼي کښې ماران روزلي وی.

که تاسو د منافقانو جاسوسان او پيروان په خپل جمعيت کښې نه پېژنئ الله ﷻ خو يې پېژني ځکه چې الله ﷻ په ټولو ظالمانو باندې عالم دی.

۴_ ای پيغمبره! ذکر شوي منافقان خو تاته په تجربه باندې هم معلوم دي چې ستا او ستاسو په هکله د هيڅ فتنې څخه سر نه غړوي، د نن څخه وړاندې يې څو کرته تاته کوهي کنودي دي او ستا د دين د مخنيوي دپاره يې زښتې ډېرې حيلې او چلونه اړولي را ړولي دي او دهمدې غرض دپاره يې په افکارو او سوچونو کښې پوره دقت کړی دی، دا د دوی مستمر عادت دی او په يوه وخت کښې يې هم ورباندې دريغ نه دی کړی آن تردې چې الله ﷻ حق راووست او باطل يې د خاورو لاندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړ او بالآخره د الله ﷻ کار (د دين غلبه) څرګند شو او دوی ورباندې ناخوښه او مرور شوه.

همدارنګه به الله ﷻ په دغې غزا (د تبوک په غزا) کښې هم مسلمانانو ته بري ورکړي او د منافقانو د ناخوښۍ سره سره به فاتحانه بېرته را ستانه شي.

## توضيحات

۱ــ که څه هم د هر اسلامي حکومت د فرض کفايي په توګه فريضه ده چې د غزا دپاره تياري ونيسي او د جهاد لوازم لکه سلاګانې او نور شيان تهيه کړي مګر د ايت شريف د نزول په وخت کښې ـچې نبي کريم ﷺ عام نفير اعلان کړی وه ــ د هر مسلمان فريضه وه چې د غزا دپاره يې تياري نيولې وی، د همدې کبله دلته غزا ته خپل ځان نه چمتو کول د منافقت علامه وبلله شوه.

## ثبط څه معنی؟

۲ــ ﴿ فَثَبَّطَهُمْ ﴾ کلمه اصلاً د "ثَبط" ــ لکه "حَبْس" ــ څخه اشتقاقه شوې ده چې د بندولو او مشغولولو معنی ورکوي[۱]. نو حاصل يې داسې کېږي چې: الله ﷻ منافقان جهاد ته د تياري نيولو څخه په خپلو ځانونو باندې مشغول کړه او د غزا توفيق يې د منافقت د کبله ورنه کړ.

## سوال جواب

۳ــ که څوک وايي چې: د ﴿ قِيلَ ﴾ د کلمې دپاره قائل څوک وه چې منافقانو ته يې امر وکړ چې په کور کښې د معذورو خلکو سره کېنئ؟

مونږ وايو چې:

الف: الله ﷻ په تکويني توګه دوی په کور باندې کېنول نو د ﴿ قِيلَ ﴾ د معنی حاصل داسې کېږي چې د الله ﷻ د پلوه د دوی په باره کښې فيصله وشوه چې جهاد ته دې نه ځي او په کور دې کېني، نو په دې تقدير د کره شوې جمله د ﴿ فَثَبَّطَهُمْ ﴾ دجملې دپاره عطف تفسير واقع کېږي.

ب: يعني نبي کريم ﷺ دوی ته اذن ورکړ چې په کور باندې کېنئ، نو ته به وايې چې دوی ته ويل شوي دي چې د معذورو خلکو سره کېنئ.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د اجازې اخستلو څخه وروسته دوی ته د مسلمانانو د پلوه ويل شوي وي چې اوس نو د زنانه او ماشومانو سره کېنئ.

د: دا هم احتمال لري چې دوی په خپلو منځو کښې يو تربله خوشالي څرګنده کړې وي چې اوس نو بې غمه کېنئ چې د اجازې بهانه مو ترلاسه کړه.

## د خَبَال معنی

۴ــ په ايت شريف کښې د ﴿ خَبَالاً ﴾ کلمه د هغه فساد څخه عبارت ده چې په ژوندي شي کښې

---

(۱) مفردات الراغب ص۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اضطراب (وارخطايي) پیدا کوي او په عقل او فکر باندې یې اثر غورزوي[۱].

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې که بالفرض منافقان ستاسو سره جهاد ته لاړ شي نو فقط سر درد به درته زیات کړي چې د جهاد د اموراتو څخه به مو فکر بلې خوا ته اړوي او بالآخره په عبثیاتو باندې به مو مصروف کړي.

## ایضاع څه ته وایي؟

۵ـ د ﴿ وَلَأَوْضَعُوا ﴾ کلمه د ایضاع څخه اخستله شوې ده، ایضاع د سورلۍ تېزولو ته ویل کېږي[۲] خو په دې مقام کښې يې مفسرینو کرامو[۳] د معنی حاصل داسې اخستی دی چې: که منافقان ستاسو سره غزا ته تللي وی نو ستاسو په منځکښې به يې چغلګري (دوه مخي) په تېزۍ سره خوره کړې وی تا به ویل چې چغلګري یو تېز اس دی او منافق ورباندې سور دی، نو ویده فتنه به يې راویښه کړې وی (یو به يې د بل څخه زړه بدی کړی وی) او په جنګ به يې اخته کړي وی.

## د سَمَّاعُونَ دکلمې دوه تفسیرونه

٦ـ د ﴿ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ ﴾ د جملې دپاره مفسرینو کرامو لاندې دوه تفسیرونه کړي دي:

الف: د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې په دې مقام کښې د ﴿ سَمَّاعُونَ ﴾ کلمه د جواسیس په معنی ده[۴]. نو حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! په تاسو کښې د منافقانو دپاره جاسوسان شته چې ستاسو ټول حالات هغوی ته ورانتقالوي او هغوی ته ستاسو په ټولو جهادي مېړانو او د جنګ په میدان کښې د الله ﷻ په نصرتونو باندې اطلاع ورکوي، چې حسرت او افسوس يې لا پسې زیات شي.

ب: جمهورو علماوو ذکره شوې کلمه د ښه قبلوونکو په معنی اخستې ده[۵]. نو حاصل يې داسې راوځي چې که بالفرض منافقان ستاسو سره غزا ته تللي وی نو هلته به يې ستاسو ترمنځ دوه مخي او چغلګري کولی حال دا چې دا کار ډېر خطرناک وه ځکه چې په تاسو کښې داسې خلک شته (چې مسلمانان دي خو یا د ناپوهۍ د کبله او یا د دې کبله چې تازه مسلمانان شوي دي او منافقان يې لا پوره نه دي پېژندلي) د هغوی خبرې ته غوږ ږدي او باور ورباندې کوي، نو د فتنو راپورته کول ورته اسان وه.

زمونږ په نزد دوهم تفسیر غوره برېښي چې د وړاندېنۍ جملې ﴿ وَلَأَوْضَعُوا ﴾ سره ډېر ښه پیوند اخلي لکه چې شرحه شو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۴۳
(۲) لسان العرب ج۸ ص۳۹۸
(۳) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۲۹
(۴) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۴۶
(۵) البحر المحیط ج۵ ص۴۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د منافقانو پخوانۍ فتنې

۷_ الله ﷻ د ﴿ لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ ﴾ په جمله کښې د نبي کريم ﷺ د تسلۍ دپاره د منافقانو څو پخوانيو واقعاتو ته اشاره کړې ده چې د ځينو نومونه دا دي:

الف: عبد الله بن اُبَيّ ابن سلول (رئيس المنافقين) هم په هغو کسانو کښې شامل وه کومو کسانو چې نبي کريم ﷺ ته د دروغو معذرت وړاندې کړی وه چې اجازه راکړه[1].

نوموړی د درې سوه نفرو سره د احد غزا ته روان شوی وه خو د لارې څخه بېرته راستون شو او نژدې وه چې په مجاهدينو کښې يې شکست ګډ کړی وی خو الله ﷻ فضل وکړ او د شکست مخه يې ونبوله، چې پوره بيان يې د [آل عمران:۱۲۲] ايت لاندې تېر شوی دی.

ب: منافقانو د خندق په غزا کښې هم د مجاهدينو د تيت پرک کولو دپاره د هرې دسيسې په کار باندې اچولي وي الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ﴾ [الأحزاب:۱۲] يعني: مونږ ته الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر (د نصرت) وعده نه ده راکړې مګر د تېر ويستلو دپاره.

ج: همدوی د بني المصطلق په غزا کښې خپلو مربوطينو ته ويلي وه چې د نبي کريم ﷺ په ملګرو باندې نفقه بنده کړي: ﴿ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْ ﴾ [المنافقون:۷] ترڅو دوی خواره واره شي او اجتماع يې درې وړې شي.

## د کارونو اړول را ړول

۸_ عامو مفسرينو کرامو[2] د ﴿ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ ﴾ د جملې تفسير داسې کړی دی چې: ای پيغمبره! منافقانو وخت په وخت چلونه او حيلې اړولې راړولې دي او فکرونه يې پکښې کړي دي ترڅو ستا د دين د منځه وړلو دپاره مؤثر حيله مونده کړي او ښه پوخ فکر وکړي، خو د الله ﷻ په فضل سره په مطلب باندې نه دي کامياب شوي.

نو په دې تقدير امور د حيلو او افکارو څخه عبارت دی او تقليب يې د سنجولو او د دقت کولو معنی ورکوي.

﴿ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ ٱئۡذَن لِّي وَلَا تَفۡتِنِّيٓۚ أَلَا فِي ٱلۡفِتۡنَةِ سَقَطُواْۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾

[۴۹] او د دوی (منافقانو) څخه ځيني هغه څوک دی چې (ای پيغمبره! تا ته) وايي چې (د کور

---

(۱) تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۴۴
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۷۲؛ المحرر الوجيز ج۸ ص۱۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېناستلو) اجازه راته راکړه، او په (رومیانو ښځو باندې) په فتنه کښې مې مه اچوه (زه د هغوی ځخه خپل ځان نه شم اداره کولی).

خبردار! دوی (په منافقت او اجازه غوښتلو سره) په فتنه (عذاب کښې) اچولی شوي دي (خو سمدستې نه پوهېږي)، او یقیناً دوزخ (د ذکرو شوو کسانو په شمول) په کافرانو باندې احاطه کوونکی دی (یو به هم ترې بچ نه شي).

## ارتباط او شان نزول

په دغه ایت کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د منافقانو د اجازې غوښتلو یومثال ښودلی شوی دی چې په ډېره بې شرمه بهانه سره یې د نبي کریم ﷺ حضور ته د اجازه غوښتلو وړاندیز کړی دی، هغه دا چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ جد بن قیس نومي منافق د تبوک غزا ته دعوت کړ خو جد ابن قیس په ډېره بې حیا لهجه سره وویلې چې: ای د الله رسوله! ما خو ټول خلک پېژني چې زنانه مې ډېرې خوښېږي او د رومیانو زنانه ډېرې ښایسته دي نو که زه هلته لاړ شم او هغوی وګورم نو صبر به ونه کړی شم او په لویه فتنهٔ کښې به واقع شم، نو ای د الله رسوله! په فتنه کښې مې مه اچوه او ماته ستا څخه د پاتې کېدلو اجازه راکړه او څه مالي کومک به درسره وکړم. نو نبي کریم ﷺ ترې مخ واړاوه او ویې فرمایل چې: «قَدْ أَذِنْتُ لَكَ»[1] اجازه مې درته وکړه. نو ذکر شوی ایت شریف همدغې موضوع ته اشاره کوي چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د منافقانو څخه ځینې هغه بې شرمه خلک دي چې تاته په ډېره بې حیا لهجه باندې وایي چې: ای پیغمبره ماته د کور کېناستلو اجازه راکړه او غزا ته په بېولو باندې مې په فتنه کښې مه اچوه چې هلته به په کومه رومي زنانه باندې واقع شم.

خبردار! په فتنه کښې خو لا سمدستې پراته دي چې غزا ته بهاني جوړوي او په ډېره بې شرمانه توګه د کور کېناستلو اجازه غواړي، ایا د دې څخه لویه فتنه شته چې څوک خپل ځان په منافقت او دروغینو بهانو سره د دوزخ مستحق جوړ کړي؟

بې شکه چې دوزخ د کافرانو څخه چار چاپېره احاطه کوونکی دی چې بالکل به د تېښتې لاره مونده نه کړي.

﴿ إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۖ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ۝ قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا ۚ

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۶۶؛ تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحْدَى ٱلْحُسْنَيَيْنِ ۖ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِۦٓ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

[۵۰] (ای پیغمبره!) که تاته کومه ښېګڼه در ورسېږي نو دوی (منافقان) خپه کوي (زړونه يې پرې بدېږي) او که تاته څه مصيبت ورسېږي نو دوی وايي چې: مونږ (د) خپل کار (انتظام) لا د پخوا څخه نيولی وه (نو ځکه ورسره غزا ته لاړ نه شوو).

او (هم پرې دوی په مجالسو کښې خوښي ښکاره کوي او) بېرته (کورونو ته) په داسې حال کښې ستنيږي چې دوی خوشالي کوونکي وي.

[۵۱] (ای پیغمبره! ته ورته) ووايه چې هيڅکله به مونږ ته ونه رسيږي مګر هغه چې الله ﷻ راته ليکلي (مقرر کړي) وي، همدا (الله ﷻ) زمونږ کار ساز (دوست) دی، او خاص په الله ﷻ باندې دې نو (د قيامت د ورځې پورې تړول) مؤمنان توکل (او اعتماد) وکړي.

[۵۲] (ای پیغمبره! ته منافقانو ته) ووايه چې: ايا تاسو زمونږ په هکله انتظار کوئ (بلکې انتظار نه کوئ) مګر د دوو نېکيو (شهادت او غنيمت) څخه د يوې نېکۍ (چې هر يوه مونږ ته خوشالي ده) او مونږ ستاسو په باره کښې انتظار وباسو چې (يا) الله ﷻ د خپله پلوه (بدون زمونږ د وساطت څخه تاسو ته عذاب در ورسوي (او په کوم اسماني آفت باندې مو اخته کړي) او يا زمونږ په لاسونو باندې (تاسو معذب کړي چې مونږ درباندې مسلط کړي).

نو تاسو (مونږ ته) انتظار وباسئ! يقيناً مونږ تاسو ته انتظار ويستونکي ياستو (ګورو به چې په نتيجه کښې تاسو برلاسي کېږئ او که مونږ).

## ارتباط

په وړاندېني ايت کښې د منافقانو هغه حال ته اشاره شوې ده کوم چې هغوی په ژبه باندې ښکاره کاوه، په دې ايتونو کښې يې هغه حال ته اشاره شوې ده کوم چې هغوی په زړونو کښې ساتلی وه نو حاصل يې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د منافقانو د زړونو د حالاتو څخه لاندې څو نکات په مؤمنانو باندې قرائت کړه:

۱ـ کله چې تا ته او يا ستا پيروانو ته څه خوښي او خوشالي ورسيږي چې يا غنيمت لاس ته ورشي او يا فاتحانه بېرته کورته راستانه شئ، نو دا کار دوی ډېر خپه کوي، او د ډېر حسرت څخه خپلې ګوتې چيچي.

او که څه مصيبت درته ورسيږي چې يا د هزيمت (ماتې) سره مخامخ شئ او يا کوم مجاهد زخمي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا شهید شي، نو منافقان د یو پلوه په دې خوشالېږي چې تاسو په مصیبت باندې اخته شوئ، او د بله پلوه د خپلو خانونو په نجات باندې خوښي ښکاري کوي او وایي چې مونږ د خپلو خانونو د نجات بندوبس لا پخوا کړی وه چې غزا ته ورسره لاړ نه شوو، که نه نو مونږ ته به هم د ذکر شوي مصیبت څه اثار رارسیدلي وی.

منافقان ذکره شوې خبره په خپلو مجالسو کښې په خندا سره بدرګه کوي او بیا د مجالسو څخه په ډېره خوښۍ او خوشالۍ سره کورونو ته ورتاوېږي.

۲_ ای پیغمبره! منافقانو ته په جواب کښې ووایه چې:

الف: مونږ ته هیڅکله څه مصیبت نه رسیږي مګر هغه چې د الله ﷻ په علم او په لوح محفوظ کښې راته ټاکلی شوی وي او د نجات لاره ترې نه وي، نو که بالفرض د تبوک په غزا کښې مونږ ته څه مصیبت ورسیږي نو هغه به هم د همدغې قبیلې څخه وي.

ب: الله ﷻ زمونږ کار ساز او د ټولو اموراتو متولي دی نو که مونږ ته د الله ﷻ د پلوه څخه مصیبت رسیږي هم په هغه کښې زمونږ ګټه ده او مونږ ورباندې راضي یاستو.

ج: دا یوازې د تبوک د غازیانو کار نه دی چې صرف په الله ﷻ باندې توکل وکړي او د الله ﷻ د پلوه په هر مصیبت باندې راضي شي بلکې دا د قیامت د ورځې پورې د ټولو مؤمنانو فریضه ده چې په الهي قضا باندې دې رضا شي او خاص په همده ﷻ باندې دې اعتماد او توکل وکړي.

۳_ ای پیغمبره! په ذکر شوي جواب باندې علاوه منافقانو ته دا هم ووایه چې:

الف: کوم شی چې تاسو زمونږ په باره کښې مصیبت ګڼئ او کله چې مونږ ته ورسېږي تاسو ورباندې خوښي او خوشالي ښکاره کوئ هغه هم مونږ ته مصیبت نه برېښي بلکې د دوه وو ښائسته څیزونو څخه یو ښائسته او په زړه پوری شی دی.

نو په همدې بنیاد په حقیقت کښې تاسو مونږ ته د لاندې دوه وو خوشالیو څخه د یوې خوشالۍ په انتظار یاست.

اول: یوه خوشالي د غنیمت او نصرت ده چې تاسو ته هم خوشالي برېښي.

دوهم: بله خوشالي د شهادت او مغفرت څخه عبارت ده چې تاسو ته مصیبت ښکارېږي او مونږ ته په رارسېدلو باندې پرې خوشالېږئ مګر حقیقت دا دی چې دا هم زمونږ دپاره خوشالي ده او باید چې تاسو ورباندې خپه شئ.

ب: اما مونږ هم ستاسو په باره کښې د دوه وو شیانو انتظار لرو چې یو شی خو به الله ﷻ په تاسو باندې ضرور واقع کړي هغه دا دي:

اول: یا به الله ﷻ په تاسو باندې د خپله نزده کوم اسماني آفت نازل کړي او د مصیبت سره به مو مخامخ کړي او د خپل غضب نښه به مو وګرځوي.

دوهم: او یا به الله ﷻ زمونږ په لاس باندې تاسو ته عذاب درکړي چې زمونږ زړونه به هم درباندې ساړه شي او په مونږ باندې به ستاسو سره جهاد فرض وګرځوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکرو شوو دواړو کارونو څخه به ضرور الله ﷻ تاسو د یو کار سره په دنیا کښې مخامخ کړي اما د آخرت عذاب خو ستاسو په مخکې دی چې هیڅکله به ترې نجات مونده نه کړی شئ.

## توضیحات

۱_ که څه هم د ټولو کفارو د مؤمنانو په هکله دا عادت دی چې په مصیبت یې خوشالیږي او په خوشالۍ یې خپه کېږي _لکه چې شرحه یې د [آل عمران: ۱۲۰] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ_ مګر د ځینو مفسرینو نظر دا دی چې په دغو ایتونو کښې هغه مصیبت او هغه خوشالي مطلب ده چې د تبوک په غازیانو پورې یې ارتباط درلود[۱].

## اَلْحُسْنَيَيْنِ څه معنی؟

۲_ د ﴿ٱلْحُسْنَيَيْنِ﴾ کلمه د اسم تفضیل مونث مثنی ده چې مفرد یې د "اَلْحُسْنٰی" کلمه ده. دا کلمه د "حُسْن" _لکه "قُلْك"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "حُسْن" د ښائست او تازګۍ څخه عبارت دی چې د هرچا زړه ورته رغبت کوي، مګر د رغبت په اعتباراتو سره لاندې ډولونه لري[۲]:

الف: چې عقل یې خوښوي.

ب: چې سترګو ته ښه برېښي او نظر جلبوي.

ج: چې هوی او هوس او د انسان نفس ته ښه څرګندېږي.

نو د الله ﷻ په لاره کښې شهادت او زخمونه خوړل که څه هم انسان ته د نفسي خواهشاتو په اعتبار سره ښه نه ښکاري مګر د عقل په اعتبار سره (چې د الله ﷻ رضا پرې حاصلېږي) د خوښۍ لوی-لوی منابع دي، نو ځکه منافقانو ته مصائب ښکارېږي او مؤمنانو ته محاسن برېښي.

## د مؤمنانو د جواب لنډ مطلب

۳_ الله ﷻ په دې مقام کښې مؤمنانو ته د منافقانو په مقابل کښې د جواب توصیه وکړه چې په لاندې دوه ټکو کښې خلاصه کېږي:

الف: څه چې مونږ ته په تقدیر کښې لیکلي وي هغه ضرور واقع کېدونکي دي څوک یې مخه نه شي نیولی، نو مونږ پرې نه خپه کېږو.

ب: کوم شی چې تاسو زمونږ دپاره مصیبت ګڼئ (لکه شهادت یا جراحت) هغه هم زمونږ دپاره مصیبت نه دی بلکې زمونږ د ګناهونو د مغفرت سبب جوړېږي چې زمونږ هر یو کار د ده ﷻ د رضا دپاره دي.

ذکر شوی داسې جواب دی چې باید د قیامت د ورځې پورې پرې په هره زمانه کښې د کفارو او حاسدانو په مقابل کښې منګولې خښې کړی شي او زړونه ورباندې د تشویشاتو او وسوسو څخه بچ کړی شي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۵۰

(۲) مفردات الراغب ص۱۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿قُلْ أَنفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ ۖ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿٥٣﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ ﴿٥٤﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿٥٥﴾﴾

[۵۳] (ای پیغمبره! منافقانو ته) ووایه چې: (که تاسو) په داسې حال کښې (خپل مال) نفقه کړئ چې خوښ یاست او یا په داسې حال کښې چې ناخوښ یاست (په یوه صورت کښې به هم) ستاسو څخه قبول نه کړی شي، ځکه چې یقیناً تاسو فاسق قوم یاست (او الله ﷻ خو د متقیانو نفقات قبلوي).

[۵۴] او دوی (منافقان د دې څخه بل شي) نه دي منعه کړي چې (د مالونو) نفقات یې قبول کړی شي مګر دې خبرې چې یقیناً دوی په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې کفر اختیار کړی دی، او لمانځه ته نه ورځي مګر په داسې حال کښې چې دوی سستي کوونکي وي، او دوی (خپل مالونه) نه خرڅ کوي مګر په داسې حال کښې چې دوی (ورباندې) ناخوښه وي.

[۵۵] نو د دوی مالونه او د دوی اولادونه دې تا په تعجب کښې وانه چوي (او دا ځکه چې:) بې شکه الله ﷻ اراده کړې ده چې په همدغو باندې یې په نړۍ (حقیر) ژوند کښې معذب کړي او په داسې حال کښې یې ساګانې وخېژي چې دوی کافران وي.

## ارتباط

مونږ د [التوبة:۴۹] ایت شریف په شان نزول کښې لیکلي دي چې جد بن قیس نومې منافق نبي کریم ﷺ ته ویلي وه چې د تبوک د غزا څخه مې معاف کړه او څه مالي کومک به درسره وکړم. نو په دې ایتونو کښې د نوموړي د مالي کومک رد نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! تاخو د جد بن قیس نومي منافق مالي کومک قبول نه کړ ـ چې دېر ښه کار دې وکړ ـ خو د زیات وضاحت دپاره لاندې هدایات هم قرائت کړه:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې منافقان پوه کړه چې الله ﷻ ستاسو مالي کومک نه قبلوي که څه هم تاسو بالفرض خپل مال په خپله رضا نفقه کړئ پاتې لا هغه صورت چې ستاسو مالي کومک د مجبوریت د کبله وي چې دا مال واخله خو ماته د کور کېناستلو اجازه راکړه.

د عدم قبول وجه یې دا ده چې تاسو فاسق قوم یاست او الله ﷻ خو د فاسقانو انفاق نه قبلوي بلکې د متقیانو انفاق قبلوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ یا په بل عبارت: د منافقانو د نفقاتو د عدم قبول بله هیڅ وجه نشته بې د دې چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې یې کفر اختیارکړی دی او عقیده ورباندې نه لري.

د کفر (عقیدوي نفاق) عمده علامات دا دي:

الف: چې په لمانځه کښې نه دي مګر سست او تنبل، چې د خلکو په وړاندې یې ادا کوي او د خلکو د غیاب په وخت کښې ترې صرف نظر کوي.

ب: د دوی مالي انفاق د زړه څخه او په رضا باندې صورت نه نیسي بلکې کله چې دوی څه مال نفقه کوي دوی پرې ناخوښه او نا رضا وي خو د مجبوریت د کبله ورته اقدام کوي، لکه څنګه چې نوموړې جد بن قیس تا ته د مالي انفاق وړاندیز کړی دی.

٣_ نو ای پیغمبره! د منافقانو مالونه او د دوی اولادونه دې تا په تعجب کښې وانه اچوي چې د منافقت سره‌سره دواړه ښه پریمانه لري. څکه چې د منافقانو مالونه او اولادونه دوی ته د دې کبله نه دي ورکړی شوي چې دوی د الله ﷻ په نزد معزز او محترم دي، بلکې د لاندې دوه مطلبونو دپاره ورکړی شوي دي:

الف: یو دا چې همدا دواړه د دوی دپاره په دنیا کښې دوه بلاګانې جوړې شي او وخت په وخت د همدغو دواړو د امله د عذاب او کړاو سره مخامخ شي.

ب: دوهم دا چې همدغه دواړه د دوی دپاره د امتحان او ازمېښت دوه بندرونه دي چې دوی په دواړو کښې ناکام شي او په داسې حال کښې یې ساګانې د کالبونو څخه وخېژي چې دوی په خپل رب ﷻ باندې کافر وي او د دائمي عذاب لیاقت ولري.

## توضیحات

١_ که څوک وایي: په دې کښې څه حکمت دی چې ﴿ أَنفِقُواْ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ﴾ په جمله کښې الله ﷻ منافقانو ته امر وکړ چې د الله ﷻ په لاره کښې مالونه مصرف کړئ، او په ﴿ لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ ﴾ په جمله کښې یې همدوی ته خبر ورکړ چې ستاسو نفقات به هیڅکله قبول نه کړی شي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ أَنفِقُواْ ﴾ جمله که څه هم امر دی او انشائیه جمله ده مګر په معنی کښې خبر دی او خبریه جمله ده[1] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای منافقانو! که تاسو خپل مالونه په خوښه مصرف کړئ او یا په ناخوښه، یو ډول به هم د قبول درجې ته ونه رسېږي.

## تقبل څه معنی؟

٢_ د﴿ لَّن يُتَقَبَّلَ ﴾ جمله د "تقبل" _لکه "تکرم"_ څخه اخستله شوې ده، تقبل دې ته ویل کېږي چې یو شی په داسې توګه ومنل شي چې د اجر او ثواب غوښتونکی وي[2].

---

(١) تفسیر الکشاف ج٢ ص٢٧٩

(٢) مفردات الراغب ص٤٠۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که الله ﷻ ته یې نسبت وکړی شي نو معنی یې داسې کېږي چې الله ﷻ په همغه باندې ثواب ورکوي، او که بنده ته یې نسبت وکړی شي نو معنی دا چې بنده ته مناسبه ده چې بدله یې ورکړي او یا پرې اقلاً آفرین ووایي او شکریه یې وکړي.

په دې مقام کښې د ﴿ لَّن يُتَقَبَّلَ ﴾ جمله مجهوله ده نو معنی یې داسې راځېږي چې د منافقانو په انفاق باندې الله ﷻ اجر او ثواب نه ورکوي او نبي کریم ﷺ ورباندې نه آفرین وایي او نه یې شکریه کوي بلکې خپل خاوند ته یې ببرته مسترده وي، لکه څنګه یې چې د جد بن قیس د مال څخه اعراض وکړ[1] (او په اصطلاح د هغه په مخ باندې یې بېرته وروویشت).

## په یاد ولرئ!

۳ــ په یاد ولرئ چې عقیدوي منافقانو بلکې د ټولو کفارو د اعمالو د عدم قبول وجه فقط همدا ده چې د دوی عقیده باطله ده او ترڅو یې چې عقیده سمه نه شي او هم په اعمالو کښې یې اخلاص موجود نه شي هغه به د الله ﷻ په نزد باندې د قبول درجې ته ونه رسېږي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي: ﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ﴾ [الزمر:۳] خبردار! خاص الله ﷻ لره (مقبول) سوچه غاړه ایښودل دي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «إِنَّ اللهَ لا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ»[2] یقیناً الله ﷻ د عمل څخه نه قبلوي مګر هغه چې سوچه وي او د الله ﷻ رضا ورباندې غوښتلې شوې وي.

## سوال جواب

۴ــ که څوک وایي چې: د منافق په پاره کښې خو د هغه عقیدوي انحراف کفایت کوي چې اعمال او انفاق یې قبول ونه ګرځي نو په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې په لمانځه کښې سستي او په انفاق کښې ناخوښي هم د عدم قبول د وجهې سره ضمیمه کړی شوه؟

مونږ وایو چې: دلته یوازې د عدم قبول وجوه بیانول مطلب نه دي بلکې د دې سره-سره د منافقت علامات ښودل هم په مطلب کښې شامل دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د منافق انفاق خو د ده د عقیدوي انحراف د کبله نه قبلېږي اما تاسو منافق د لمانځه په سستۍ او د انفاق په ناخوښۍ باندې پېژاندلی شئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ــ که څوک وایي چې: مالونه او اولادونه خو په دنیا کښې د خوشالۍ اسباب دي حال دا چې په دې مقام کښې الله ﷻ د منافقانو دپاره په دنیا کښې د تعذیب اسباب وګڼل؟

---

[1] تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۴۹
[2] سنن النسائي ج۲ ص۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو: كه څوك غواړي چې په دې باره كښې اوږد بحث د نظره تېر كړي نو هيله ده چې څينو اوږدو تفاسيرو[۱] ته مراجعه وكړي چې ډېر ښه مزناك بحث يې پكښې كړى دى، خو مونږ فقط د لاندې وجوهو په ذكر باندې اكتفاء كوو:

الف: د مالونو راغونډول او لاس ته راوړل يو غم دى او حفاظت او ساتنه يې بل غم دى نو هغه څوك چې په آخرت باندې عقيده لري او د آخرت توښه پرې حاصله كړي نو هغه دنياوي غمونه ټول د ښنو لاندې كړه او لويه خوشالي يې ورباندې ترلاسه كړه. ته به وايې چې په دې باره كښې هيڅكله د غم سره نه دي مخامخ شوى، اما هغه څوك چې په آخرت عقيده نه لري نو په دنيا كښې خو به د مالونو او اولادونو څه ناڅه ګټه او فائده واخلي مګر په آخرت كښې به ورته همدغه شيان د الله ﷻ د عذاب اسباب جوړ شي چې په دنيا كښې يې همدغه د ايمان نه راوړلو موجبات جوړ شوي وه (نو په اصطلاح د غم پاسه به ورته بل غم جوړ شي).

ب: د اكثره منافقانو دپاره خپل اولادونه د دې كبله هم د غم او تعذيب اسباب جوړ شوه چې اولادونه يې په ايمان باندې مشرف شوه او د نبي كريم ﷺ (چې منافقانو خپل دښمن ګڼلو) پيروي يې اختياره كړه، حال دا چې پخپله هغوى په منافقت باندې پاتې وه.

د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

اول: ابو عامر الراهب مشهور منافق وه، په آخره كښې يې د خپل نفاق څخه پرده پورته كړه او په علني عداوت باندې يې پيل وكړ، مګر د ده زوى حنظله ﷺ مشهور صحابي وه[۲] چې د احد په غزا كښې شهيد شو او پرښتو ورته غسل وركړ او د "غسيل الملائكه" لقب يې وګاټه.

دوهم: همدارنګه عبد الله بن أبي بن سلول ډېر غټ منافق وه چې د "رئيس المنافقين" لقب وركړل شوى دى، مګر د ده زوى چې هغه هم عبد الله ﷺ نومېده ډېر جليل القدر صحابي وه[۳].

بلكې سړي ته ذهن ته ورځي چې د مدينې منورې منافقان د نبي كريم ﷺ په زمانه كښې اكثره بوډاګان او ډېر عمري خلك وه اما د دوى په اولادونو كښې زيات په اسلام باندې مشرف شوي وه، والله ﷻ اعلم.

﴿ وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً أَوْ مَغَارَاتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾ ﴾

[۵۶] او (اى مؤمنانو!) منافقان (تاسو ته) په الله ﷻ سره سوګندونه كوي چې يقينًا دوى ضرور ستاسو څخه دي، حال دا چې دوى ستاسو څخه نه دي، مګر دوى يو قوم دى چې (ستاسو څخه) داريږي (لو د ډار د كبله خپل ځانونه ستاسو څخه معرفي كوي).

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۶ ص۹۳، تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۱
(۲) الإصابة في تميز الصحابة ج۴ ص۱۴۶
(۳) التفسير الكبير ج۱۶ ص۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۷] که چرته (بالفرض) دوی (د خپلو ځانونو دپاره) کوم پنا ځای مونده کړي، او یا (په غرونو کښې) غارونه او (بالآخره) یا (په ځمکه کښې) کومه سوړه (مونده کړي چې ورننوتل ورته ډېر په سختۍ سره ممکن وي) نو ضرور به دوی (منافقان) هغې خوا ته په داسې حال کښې ورتاو شي چې دوی به زغلېږي (او خپلو سوګندونو ته به یې هیڅ پام نه وي).

## ارتباط

څرنګه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د منافقانو علامات وښودل شوه چې دوی جهاد ته نه اوځي او د کور کېناستلو اجازې غواړي او هم په لمانځه کښې سست دي او د الله ﷻ په لاره کښې په ناخوښۍ سره مالونه نفقه کوي، نو څه لرې نه ده چې منافقان د خپل منافقت په افشاء کېدلو باندې ډار شوي وي او په سوګندونو باندې یې پیل کړی وي نو په دې ایتونو کښې همدغه حالت بیان شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای مؤمنانو! د منافقانو بله نښه دا ده چې په الله ﷻ باندې تاسو ته سوګندونه کوي چې دوی د کافرانو د ډلې څخه نه دي بلکې دوی ستاسو د ډلې څخه دي او ستاسو غوندې ایمان دوی هم راوړی دی. مګر خبره داسې نه ده، منافقان ستاسو غوندې عقیده نه لري او ستاسو د جملې څخه نه دي بلکې دوی ستاسو څخه په ډار کښې دي ځکه یې تاسو پورې ځانونه نښلولي دي او ادعاء کوي چې مونږ ستاسو د جملې څخه یاستو.

۲ـ که بالفرض منافقان چرته د خپلو ځانونو دپاره کوم پناه ځای مونده کړي چې ستاسو د مقابلې ذمه واري ورته وکړي او یا چرته په غرونو کښې غارونه او په ځمکه کښې کومه سوړه ومومي چې شپه یې پکښې تېره شي او ستاسو د ډار څخه پکښې په امن شي، نو ضرور به ډېر په چالاکۍ (سرعت) سره هلته ورودانګي او بیا به نه خپل ځانونه ستاسو د جملې څخه وګڼي او نه به په دې باره کښې سوګندونه وکړي.

## توضیحات

۱ـ علماوو کرامو[۱] د ﴿ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَـٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلࣰا ﴾ درېواړو کلماتو دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي، مونږ یې په لاندې یو-یو تفسیر باندې اکتفاء کوو:

الف: د ﴿ مَلۡجَـًٔا ﴾ کلمه د هغه ځای څخه عبارت ده په کوم کښې چې انسان خپل ځان پټولی شي، برابره خبره ده چې په غره کښې وي او که په سمه کښې، او هم برابره خبره ده چې قلا وي او که بل شی.

ب: د ﴿ مَغَـٰرَٰتٍ ﴾ کلمه د "مَغَارَة" جمعه ده چې د "غَوْر" څخه اشتقاقه شوې ده چې په ځمکه کښې د ژور والي معنی ورکوي، خو دلته ترې هغه غارونه (سمڅې) مطلب دي کومې چې په غرونو کښې

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۴۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي او سړي پکښې خپل ځان د دښمن څخه بچ کولی شي.

ج: د ﴿ مُدَّخَلًا ﴾ کلمه په اصل کښې "مُتَدَخَلًا" وه چې د تفعل د باب څخه ده او په معنی کښې یې تکلف پروت دی، خو دلته ترې هغه سوړه مطلب ده کومه چې په هواره ځمکه کښې وي او انسان پکښې په ډېر تکلیف او مشقت سره ورننوتلی شي او پنا پکښې اخستلی شي.

ذکرې شوې درېواړه کلمې (هره یوه) په دې مقام کښې د داسې یوې اجتماع څخه کنایه ده چې د منافقانو حمایه وکړي او د کفر د څرګندولو په صورت کښې یې د مسلمانانو د حملو څخه بچ کړي.

## یَجْمَحُونَ څه معنی؟

۲ـ د ﴿ يَجْمَحُونَ ﴾ کلمه د هغه مصدر څخه اشتقاقه شوې ده د کوم څخه چې د "جُمُوح" کلمې اشتقاق موندلی دی، جموح هغه تېز اس ته ویل کېږي چې د حملې په وخت کښې په قیزه باندې هم نه شي اداره کېدلی. نو دلته یې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: که منافقان د خپلو خانونو دپاره کومه اعتمادي موقع مونده کړي نو لکه قیزه چې جموح اس نه شي راایسارولی همدارنګه به دوی هم خپل سوګندونه راایسار نه شي کړی او هلته به په ډېره تېزۍ سره ور وزغلي.

﴿ وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَـٰتِ فَإِنْ أُعْطُوا۟ مِنْهَا رَضُوا۟ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا۟ مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا۟ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ سَيُؤْتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴿٥٩﴾ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَـٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱلْعَـٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَٱلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَٱلْغَـٰرِمِينَ وَفِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾ ﴾

[۵۸] او د دوی (منافقانو) څخه ځینې هغه (کسان) دي کوم چې په تا باندې (د) صدقاتو (په وېشلو) کښې عیب پورې کوي (دا عیب لګول یې د شخصي غرض د کبله دي ځکه چې) نو که د صدقاتو څخه (څه شی) ورکړی شي خوشالېږي (او وایي چې ډېر په انصاف وېشل یې وکړه).

او که ورنه کړی شي نو ناځاپه دوی په غُصه کېږي (او وایي چې په وېش کښې یې بې عدالتي وکړه چې ماته یې را نه کړ).

[۵۹] او که دوی یقیناً په هغه څه باندې راضي شوي وی کوم چې دوی ته الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ورکړي وي (لږ وي او که ډېر) او ویلي یې وی چې الله ﷻ زمونږ بس دی، ژر دی چې الله ﷻ به د خپل فضل څخه (څه) را کړي او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ به هم (مونږ ته د څه راکړې څخه پرېنږدي). یقیناً مونږ خاص الله ﷻ ته رغبت (امید) کوونکي یاستو (نو دا کار به ورته ډېر ښه په ګټه تمام شوی وی).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۰] بې شکه زکاتونه د فقیرانو دپاره خاص کړی شوي دي او د مسکینانو دپاره هم، او په زکاتونو باندې د عمل کوونکو دپاره هم، او د مؤلفة القلوب دپاره هم (چې زکات سره د دوی په زړونو کښې الفت او مینه اچول مطلب وي).

او هم (د دې دپاره خاص کړی شوی دی چې) په غلامانو (ازادولو) کښې (مصرف شي) او هم په قرضدارانو کښې (مصرف شي) او هم د الله ﷻ په لاره کښې (مصرف شي) او (بالآخره) د لارې په بچي (مسافر) کښې (مصرف شي).

(زکات فرض کړی شوی دی) د الله ﷻ د جانبه فرض کېدل.

او الله ﷻ پوه (او هم) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د منافقانو یوه بل خاصیت ته اشاره شوې ده چې د دوی د کامل حرص څخه نمایندګي کوي، آن تردې چې د الله ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې هم د غیر عادل په تهمت لګولو باندې ډیل نه دي ترځو د اعتراض ځای مونده کړي او د حربې په توګه ترې کار واخلي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د اتهام په ارتباط لاندې ارشادات ولوله:

۱ـ منافقان په دنیاوي مالونو باندې دومره حرصناک دي چې په تاباندې هم د غیر عادل نوم ږدي البته کله چې ستا د پلوه دوی ته څه ورنه کړی شي. حال دا چې ته خو الله ﷻ د دې دپاره استولی یې چې په ځمکه کښې عدل جاري کړې او بې عدلي او ظلم د منځه یوسې، نو په تاباندې د ذکر شوي (غیر عادل) تهمت لګولو معنی دا ده چې بالکل په دنیا کښې عادل نشته.

۲ـ ای پیغمبره! منافقان ذکر شوی تهمت په تاباندې د دې کبله لګوي چې تا په کوم وېش کښې مستحق خلک پرېښي دي او په غیرو مستحقو باندې دې مالونه وېشلي دي. بلکې دا تهمت فقط او فقط د هغوی د حرص څخه منشأ نیسي، ځکه که دوی ته څه ورکړی شي نو دوی په دغه وخت کښې ډېر خوشالېږي او وایي چې ډېر په عدالت سره وېش وکړی شو، او که ورنه کړی شي بیا نو په غصه کېږي او په تا باندې د بې عدالتۍ تور لګوي، ته به وایې چې د دوی څخه په غیر نور هیڅوک مستحق نشته.

۳ـ ای پیغمبره! که دوی په هغه څه باندې راضي شوي وی کوم چې دوی ته الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ورکړي دي او د حرص د ماتولو او د خپلو زړونو د ډاډه کولو دپاره دوی ویلي وی چې:

الف: الله ﷻ زمونږ بس دی چې را څخه راضي وي، مال خو عارضي شی دی نن به وي او سبا به نه وي.

ب: که دا ځل مونږ ته څه رانه کړی شوه هیڅ باک یې نشته امید دی چې په آینده کښې الله ﷻ په مونږ باندې د خپل فضل باران وکړي او نبي کریم ﷺ په بل وېش کښې څه راکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مونږ الله ﷻ ته رغبت کوونکي او میلان کوونکي یاستو چې دائمي کارساز او دائمي مهربان دی.

نو که منافقانو ذکرې شوې جملې ویلې وی نو دا به ورته ډېرې بهترې وی لکه چې د همدغو کلماتو سره متشابه کلمات سوچه مؤمنانو د حنین د غنیمتونو په وېش کښې ویلي وه.

۴_ ای پیغمبره! په هره موقع باندې چې تا وېش کړی دی او یا په راتلونکي کښې وېش کوې هغه د الله ﷻ په هدایت او لارښوونه باندې ولاړ دی، نو په تا باندې اعتراض په حقیقت کښې په الله ﷻ باندې اعتراض دی، او دا کار د منافق او یا کافر څخه بل څوک نه کوي.

۵_ نو ای پیغمبره! د دې دپاره چې د قیامت د ورځې پورې د اعتراض لمن ټوله او د معترضینو خولې چوپې شي د زکات د مصارفو په هکله خپل امت ته معلومات ورکړه چې د زکات مستحق صرف لاندې ډلې دي، د دوی څخه بېرون بل چاته باید ورنه کړی شي که څه هم حرصناک خلک ورته تمه ولري:

الف: یوه ډله هغه خلک دي کوم چې هیڅ شی نه لري، ته به وایې چې د ډېرې ناداری، څخه یې د ملا هډوکي (ستون فقرات) ښکاریږي.

ب: بله ډله مسکینان دي چې د ناداری، د کبله ځای په ځای ناست وي او چرته حرکت نه شي کولی چې نه د حرکت سامان ولري اونه د لارې خرڅه.

ج: بله ډله هغه کسان دي کوم چې د اسلامي حکومت د پلوه د زکات په راغونډولو باندې ګمارل شوي وي. دوی ته باید د همدغه زکات د جملې څخه د نورو دولتي مامورینو په اندازه معاشات ورکړی شي.

د: هغه مؤمنان چې ایمان یې کمزوری وي او اسلامي حاکم پوه شي چې د دوی ایمان د مال په ورکړه باندې قوي کېږي نو جائزه ده چې د زکات د اموالو څخه دوی ته هم څه برخه ورکړي ترڅو د دوی د ایمان کمزوري ختمه شي.

ه: دا هم روا ده چې د زکات مالونه هغه غلام یا وینځې ته ورکړی شي چې هغه د خپل مولی سره د کتابت عقد کړی وي خو نه شي کولی چې د عقد په مطابق خپل مولی ته څه ورکړي، او خپل ځان ازاد کړي.

و: قرضداران هم د زکات د اموالو د اخستلو استحقاق لري.

ز: همدارنګه هغه ټول کسان د زکات د ورکړې مستحق دي چې د الله ﷻ په لاره کښې مصروف وي، لکه: دیني طالبان، د جهاد غازیان او داسې نور.

ح: هغه مسافرین هم په زکات کښې برخه لري کوم چې په خپل وطن کښې د ښه مال او ثروت (پانګې) خاوندان وي خو د سفر د کبله یې د خپله ماله لاس ختلی وي او د احتیاج او اړتیا سره مخامخ شوي وي.

ذکرې شوې ډلې د الله ﷻ د پلوه ټاکلې شوې دي او په مسلمانانو باندې فرض دي چې د دوی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برخې په عمل کښې په اخلاص سره پیاده کړي.

پاتې شوه دا خبره چې د کومې وجې د کبله د زکات مالونو په ذکرو شوو اتو ډلو کښې انحصار ومونډ. نو د دې لنډ جواب دا دی چې دا انحصار الله ﷻ فرض کړی دی او الله ﷻ پوه دی او هم د حکمت څښتن دی.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ يَلْمِزُكَ ﴾ کلمه د "لَمْز" څخه اشتقاقه شوې ده، "لَمْز" دې ته ویل کېږي چې څوک د چا د عیب پلټنه کوي[۱] لکه چې منافقانو به په نبي کریم ﷺ باندې د مالونو په وېش کښې د بې عدالتۍ عیب لګاوه.

## صدقات څه معنی؟

۲ـ د "صدَقَات" کلمه د "صدقة" جمعه ده، په شریعت کښې هر نېک کار یا نیکې خبرې ته صدقه وایي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ»[۲] یعني: هر یو نېک شی صدقه ده. خو اکثره په هغه مال کښې د صدقې کلمه استعمالېږي چې څوک یې د خپل مال څخه د ثواب په نیت وباسي[۳] اما څرنګه چې منافقانو په نبي کریم ﷺ باندې په وېش کښې بهتان لګولی دی نو معلومه شوه چې په دې مقام کښې د ﴿ ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ د کلمې څخه هغه خیراتي مالونه مطلب دي کوم به چې نبي کریم ﷺ وېشل، برابره خبره ده چې فرضي به وه لکه زکات او یا به نفلي وه لکه د ولجې (غنیمت) او یا هغه مالونه چې د کفارو څخه به د سولې یا جزیې په توګه اخستل کېده.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: منافقانو په نبي کریم ﷺ باندې د کوم ډول مال په وېش کښې تور لګولی وه؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې مختلف احادیث روایت شوي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ابي سعید رضي الله عنه په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې یوه ورځې علي رضي الله عنه نبي کریم ﷺ ته څه لږه اندازه سره زر ورواستول چې نبي کریم ﷺ د څلورو نفرو (مؤلفة القلوب) ترمنځ ووېشل، نو یوه سړي ورته وویلې چې: "اتَّقِ اللهَ يَا مُحَمَّدُ!" ای محمده! د الله ﷻ څخه وډار شه (عدل وکړه). نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَنْ يُطِيعُ اللهَ إِذَا عَصَيْتُ»[۴] یعنې: چې زه د الله ﷻ څخه عصیان وکړم نو څوک به یې اطاعت وکړي؟

ب: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې نبي کریم ﷺ د حنین د غزا غنیمتي مالونه وېشل، په

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۴
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۳۲۴
(۳) مفردات الراغب ص۲۸۶
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همغې موقع يوه سړي وويل چې: «وَاللهِ إِنَّ هَذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا عُدِلَ فِيهَا»[۱] قسم دی چې دا داسې وېش دی چې عدل پکښې نه دی شوی.

ج: د يوه بل اورېد حديث مضمون دی چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وېش کاوه چې د بني تميمو څخه ورته يوه سړي (چې ذو الحويصرة نومېده) وويل چې: ای د الله رسوله! عدل وکړه. نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې «وَيْلَكَ مَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ»[۲] تا ته دې حسرت وي چې زه عدل ونه کړم نو څوک به عدل وکړي. په دې حديث کښې د ويشلي شوي مال تعين نشته چې څه شی به وه.

د: داسې روايت هم شته چې نبي کريم ﷺ ته څه صدقه ور وړلی شوه چې سم د لاسه يې هلته او دلته تقسيمه کړه خو د انصارو څخه يوه سړي وويلې چې: «مَا هَذَا بِالْعَدْلِ»[۳] دا عدل نه دی نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو.

زمونږ په فکر ذکر شوي روايات سره يو تربله څه منافات نه لري څه لرې نه ده چې متعدد واقعات تېر شوي وي او په ايت شريف کښې ټولو ته اشاره وي.

## يادونه

۴_ نبي کريم ﷺ د ايت شريف دا ټکړه ﴿ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْاْ مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴾ څومره ښه تفسيره کړې ده چې: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ»[۴] يعني: د دينار بنده دې هلاک شي او د درهم بنده (دې هلاک شي) او د څادر بنده (دې هلاک شي) چې که څه ورکړی شي راضي کېږي او که څه ورنه کړی شي په غُصه کېږي (او وېش کوونکی د غير عادل په نامه يادوي).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: کله په لومړني ايت شريف کښې د ﴿ ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ کلمه عامه شوه چې نفلي صدقاتو ته هم شامله وګڼله شوه نو په کار دي چې په دريم ايت کښې هم د ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ ﴾ کلمه عامه وګڼله شي، نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې هر ډول خيرات (نفلي وي او که فرضي) په ذکرو شوو اتو ډولو خلکو کښې منحصر دي. حال دا چې دا خو مطلوبه معنی نه ده ځکه چې نفلي خيرات ورکول خو غني ته لا څه چې کافر ته هم جواز لري؟

مونږ وايو چې: که الله ﷻ د ايت په آخر کښې د ﴿ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ کلمات نه وی نازل کړي نو احتمال وه چې په ذکرو شوو اتو ډلو کښې د ټولو خيراتونو حصر معلوم شوی وی خو الله ﷻ په

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۳۳۹
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۹۱۰
(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۶۳
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۴۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب باندې صراحت وکړ چې په اتو ډلو کښې صرف فرضي خيراتونه يعنې زکاتونه حصر کړې شوي دي. ځکه چې د ﴿ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ کلمات د هغه مضمون دپاره تاکيد واقع شوی دی کوم چې د ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ ﴾ څخه معلوميده، يعنې: يقينًا صدقات د فقيرانو او نورو ډلو دپاره فرض کړی شوي دي چې دا فرض کېدل د الله ﷻ د جانبه دي[۱] د همدې کبله ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې دلته په اجماع سره د صدقاتو څخه زکاتونه مراد دي[۲].

## د فقير او مسکين ترمنځ فرق

۶ـ ټول علماء کرام متفق دي چې فقير او مسکين هر يو د هغه چا څخه عبارت دي چې احتياج وي او دې ته اړ وي چې څوک څه شی ورکړي. خو په دې کښې اختلاف دی چې فقير زيات محتاج دی د مسکين څخه او که بالعکس مسکين ډېر محتاج دی، علماوو کرامو د دواړو په تعريفونو کښې نهه قوله نقل کړي دي[۳] او ځينو مفسرينو کرامو[۴] پکښې ډېره شرحه ورکړې ده که څوک د اوږد بحث شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

زمونږ په نزد فقير د مسکين څخه بد حالی برېښي، د همدې کبله الله ﷻ د زکات د مصارفو بيان په همدوی باندې پيل کړی دی چې ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ ﴾ الأية.

نو څرنګه چې د زکات تشريع په احتياج باندې ولاړه ده او فقيران د اتو واړو مصارفو په سر کښې ذکر شوه نو معلومه شوه چې دوی په احتياج کښې اصل دي.

## د عاملينو څخه څوک مراد دي؟

۷ـ د ﴿ وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا ﴾ څخه هغه څوک مطلب دي کوم چې د اسلامي حکومت د پلوه د زکات په راغونډولو او قبض کولو او هم په وزن کولو يا پيمانه کولو او هم په ليکلو او ساتلو او بالآخره په توزيع کولو او وېشلو باندې ټاکل شوي وي.

اسلامي حکومت کولی شي چې د نورو مامورينو او عاملينو غوندې دوی ته هم د زکات د اموالو څخه مياشتنۍ معاشات او سفريه کرايه ورکړي.

## په فرض کفايي عبادت اجرت اخستل جائز دي

۸ـ ځينې علماوو کرامو د ﴿ وَٱلْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا ﴾ د کلماتو څخه استنباط کړی دی چې د فرض کفايي عبادت په اجراء کولو باندې اجرت اخستل جائز دي، نو په امامت باندې اجرت اخستل هم څه ممانعت نه لري ځکه چې دا هم د فروضو کفايي وو څخه دي[۵].

---

(۱) تفسير الکشاف ج۲ ص۲۸۳
(۲) تفسير القاسمي ج۸ ص۲۴۳
(۳) زاد المسير ج۳ ص۳۰۹؛ تفسير القرطبي ج۸ ص۱۶۸
(۴) التفسير الکبير ج۱۶ ص۱۰۷
(۵) تفسير القرطبي ج۸ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مُؤَلَّفَةُ الْقُلُوب څوک وه؟

۹_ "مُؤَلَّفَة الْقُلُوب" د داسې خلکو نوم دی کوم چې د مال په ورکړه سره د هغوی په زړونو کښې څه د مینې او الفت پیدا کول مطلب وي.

دغه ډول خلک د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې لاندې دوه ډلې وه:

الف: یوه ډله یې کفار وه، چې ځینو ته به نبي کریم ﷺ په خپل وخت کښې د لاندې مطالبو دپاره د خمس الخمس او یا د جزیو د مالونو څخه څه ورکول[۱]:

اول: ترڅو د دوی څخه د نورو کفارو په مقابل کښې د مخنیوي کار واخستل شي چې مسلمانانو ته څه ضرر ونه رسوي.

دوهم: ترڅو د دوی زړونه اسلام ته مایل او په اسلام باندې مشرف شي او یا د دوی د قوم څخه ځینې خلک په اسلام مشرف شي.

دریم: ترڅو د دوی د ضرر څخه مسلمانان بچ پاتې شي.

څلورم: ترڅو د هغو جدید الاسلامه خلکو ایمان قوي شي چې د دوی د قوم څخه به په اسلام مشرف شوي وه. ځکه چې د یو قوم د مشر په تالف (مینه) باندې عوام خلک هم تالف پیدا کوي.

او همدارنګه ځینې کافران د مالي احسان په مقابل کښې بې اثره نه پاتې کېږي.

ب: بله ډله یې مسلمانان وه، چې ځینو مسلمانانو ته به نبي کریم ﷺ څه مال ورکاوه ترڅو لاندې مطالب حاصل شي[۲]:

اول: ترڅو د کمزورو عقایدو مسلمانانو عقاید پرې قوي شي او کمزورې یې د منځه لاړه شي او هم د دې دپاره چې د دوی کمزوري نورو ته سرایت ونه کړي.

دوهم: ترڅو د دوی د قوم څخه نور خلک اسلام ته دعوت کړي او په اسلام باندې یې مشرف کړي.

## اما په دې مقام کښې

۱۰_ اما په دې مقام کښې د ﴿ وَٱلْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ ﴾ څخه دوهم ډول (یعنې مسلمانان) مطلب دي ځکه چې کفارو ته د زکات ورکول جواز نه لري، لکه چې نبي کریم ﷺ معاذ بن جبل ؓ ته توصیه کړې وه چې کله اهل الکتاب په اسلام باندې مشرف شوه نو بیا هغوی ته خبر ورکړه چې: «أَنَّ اللهَ قَدْ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلى فُقَرَائِهِمْ»[۳] یقینًا الله ﷻ په دوی باندې زکات فرض کړی دی چې د دوی د غنیانو څخه به اخستل کېږي او د همدوی په فقراوو باندې به ورتاوول کېږي (په همدوی باندې به توزیع کېږي).

(۱) احکام القرآن ج۳ ص۱۲۳؛ تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۴۰

(۲) زاد المسیر ج۳ ص۳۱۰

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنگه نبي کريم ﷺ هم د کافرو مؤلفة القلوب ډلې ته د زکاتي مالونو څخه څه نه دي ورکړي[۱] بلکې دا کار به یې د خمس الخمس او نورو مالونو څخه پوره کاوه، لکه چې وړاندې تېر شوه.

## ایا اوس هم "مؤلفة القلوب" شته؟

۱۱ـ په دې کښې اختلاف دی[۲] چې ایا اوس هم داسې خلکو ته د زکات ورکول جواز لري کوم چې په عقیده کښې کمزوري وي او یا ورته دا تمه وي چې د خپل قوم څخه نور خلک اسلام ته دعوت کړي چې هغوی هم د ده غونډې په اسلام باندې مشرف شي؟

علماء کرام عمومًا (د احنافو علیهم الرحمة په شمول) وايي چې د مؤلفة القلوب ډله د صحابه کرامو ﷺ په اجماع باندې د ابو بکر الصديق ﷺ په خلافت کښې ساقطه شوې ده[۳] چې ځينو علماوو کرامو په همدې باره کښې ښه اوږده قيصه لیکلې ده[۴] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې ولولي.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وايي چې اجماع خو د افکارو د مجموعې څخه په غير بل شي نه دی، نو پوښتنه دا ده چې: ایا په اجماع باندې د منصوصي حکم نسخه جواز لري؟ ایا د نبي کريم ﷺ په وفات سره د نسخې دروازه نه ده بنده شوې او دين کمال ته نه دی رسېدلی؟

مونږ وايو چې[۵]:

الف: اجماع هم قطعي دليل دی لکه څنګه چې کتاب الله قطعي دليل دی، نو که اجماع ناسخه وګنو هيڅ باک یې نشته.

ب: اجماع خو بې د استناد څخه انعقاد نه مومي نو چرته چې اجماع صورت نيسي هلته به ضرور مقدر يا ملفوظ نص موجود وي، خو کله چې همدغه مقدر يا ملفوظ نص په اجماع باندې قوي شي نو د کتاب الله ناسخ واقع کېدلی شي.

مګر مونږ ته ذکر شوي دواړه جوابونه د قبول وړ نه دي ځکه چې صحیح مذهب دا دی چې اجماع په هر صورت کښې ناسخه نه شي واقع کېدلی حال دا چې په اول ځواب کښې اجماع کلاً ناسخه ګڼله شوې ده او په دوهم جواب کښې اجماع ته په نسخه کښې مداخله ورکوله شوې ده.

ج: د مؤلفة القلوب سقوط په نسخه باندې نه دی ثابت شوی بلکې کومه معنی چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې د هغوی په ثبوت کښې د نظر لاندې نیولی شوې وه همغه معنی د صحابه وو کرامو ﷺ

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۴
(۲) تفسير القرطبي ج۸ ص۱۸۱؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۶۵
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۴
(۴) بدائع الصنايع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۴۵
(۵) روح المعاني ج۱۰ ص۱۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په زمانه کښې د هغوی په سقوط کښې تر لاسه کېږي. یا په بل عبارت: هلته یې په ثبوت کښې د اسلام اعزاز وه او دلته یې په سقوط کښې د اسلام اعزاز دی چې هغوی ته احتیاج نه دی.

د دغه جواب نظیر کتې مټې د تیمم په باره کښې د اوبو او د خاورو دی، ځکه په خاورو باندې چې کومه معنی (طهارت) ـ د اوبو د عدم موجودیت په وخت کښې ـ حاصلېدله هغه معنی (طهارت) د اوبو په موجودیت کښې پخپله په اوبو حاصلېږي او تیمم سقوط کوي.

دا جواب هم ښه دی خو چندان متبادر نه دی، څه دقت غواړي.

د: مونږ ته دا بهتره ښکاري چې مؤلفة القلوب د دې کبله ساقط شوی دی چې د ثبوت وجهې یې سقوط کړې دی هغه دا چې په هغه وخت کښې د دوی ثبوت ته حاجت وه او وروسته دغه حاجت د منځه لاړ نو کله چې د هغوی د ثبوت وجهه ساقطه شوه نو د هغوی د ثبوت حکم هم ساقط شو.

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وایي چې: هر حکم که څه هم په لومړني ثبوت کښې وجهې ته ضرورت ولري مګر په بقاء کښې وجهې ته ضرورت نه لري. د ښه وضاحت دپاره د عمر الفاروق ﷺ د کلام حاصل ولولئ:

یوه ورځې عمر الفاروق ﷺ د حج په موقع وویلې چې: نن ورځ زمونږ د رمل (پهلوانی) سره څه دي ځکه چې په لومړنیو دربوو ګرد ښونو کښې خو مونږ د دې کبله پهلواني کوله ترڅو مشرکان پوه شي چې مونږ د مدینې منورې آب او هوا نه یاستو کمزوري کړي، خو ـالحمد اللهـ د مشرکانو جرړه خو الله ﷻ وویستله نو پهلوانی ته څه ضرورت دی؟ اما د دې سره-سره «شَيْءٌ صَنَعَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَلَا نُحِبُّ أَنْ نَتْرُكَهُ»[1] دا یو شی دی چې نبي کریم ﷺ کړی دی نو مونږ دا نه خوښوو چې ترک یې کړو (او لاس ترې واخلو)؛ نو په کار دې چې د مؤلفة القلوب د سقوط د وجې سره د زکات د مصارفو د قطاره ونه غورزولی شي؟

مونږ وایو چې: د مؤلفة القلوب د ثبوت وجه د رمل د ثبوت د وجې څخه لاندې فرقونه لري:

الف: مؤلفة القلوب ته زکات ورکول د معاملاتو څخه دي او په طواف کښې رمل کول د مناسکو څخه دي. د مناسکو په هکله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «خُذُوا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي أَنْ لَا أَحُجَّ بَعْدَ حَجَّتِي هَذِهِ»[2] یعنې: زما څخه د حج مناسک زده کړئ ځکه چې نه پوهېږم شاید چې زه د همدغه حج څخه وروسته بل حج ونه کړم.

د همدې کبله عمر الفاروق ﷺ د ټولو صحابه وو کرامو ﷺ څخه وړاندې مؤلفة القلوب ته د مال د ورکړې څخه منعه وکړه او بیا نورو تائید کړه[3] حال دا چې په رمل باندې همدی ﷺ د هرچا څخه کلک وه لکه چې لږ وړاندې تېر شو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۱۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۵۹
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې باندې علاوه، رمل خو نبي کریم ﷺ د مشرکانو د تهدید دپاره کړی وه (چې مونږ نه یاستو کمزوري شوي) مګر دروند ورباندې نه وه تمام شوی او ورته زړه تنګی نه وه، نو د مناسکو څخه وګڼل شو.

اما مؤلفة القلوب ته د مال ورکړه په نبي کریم ﷺ باندې ډېره درنه تمامېدله او سړی پوهېده چې ورباندې خوشاله نه دی او په مناسب وخت کښې به سقوط ورکړي.

د همدې کبله یوه ورځې نبي کریم ﷺ خپل اعتذار داسې وړاندې کړ چې: «إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ»[۱] یعنې: یقیناً زه یوه سړي ته (څه) ورکوم حال دا چې د ده څخه راته بل څوک محبوب وی د دې ډاره چې په اور کښې به پرمخ وغورزولی شي.

## د "فِي الرِّقَابِ" څخه څوک مراد دي؟

۱۴_ که څه هم د ﴿وَفِي ٱلرِّقَابِ﴾ کلمه لاندې دوه تفسیرونه درلودلی شي:

الف: چې د سړي د زکات په مال باندې غلام خریداري کړي او بیا یې ازاد کړي.

ب: چې هغه غلام ته د زکات مال ورکړي کوم چې خپل مولی مکاتب ګرځولي وي چې دومره مال راکړه نو ته دې ازاد یې، خو د هغه وسه نه کېږي چې خپل ځان ازاد کړي او تاکلی مبلغ ورکړي.

مګر علماء کرام _د احنافو علیهم الرحمة په شمول_ دلته دوهم تفسیر خوښوي[۲].

## غارمین څه معنی؟

۱۵_ د ﴿وَٱلْغَٰرِمِينَ﴾ کلمه د غارم جمعه ده، د غارم کلمه په معنی د غریم سره ده، غریم هغه چاته ویل کېږي چې یا په ده باندې بل څوک دَین (قرض) لري او یا دی په بل چا باندې دَین لري[۳] خو دلته اولنی معنی مطلب ده چې په مدیون (پور وړي) سره ترې تعبیر کوو.

پور وړي ته په هغه وخت کښې د زکات ورکړه جواز لري چې دومره مال ونه لري چې خپل دَین پرې خلاص کړي او د کور د ګذارې دپاره ورسره څه پاتې شي[۴].

## في سبیل الله یعنې څوک؟

۱۶_ مفسرینو کرامو د ﴿فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ د کلمې دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي لکه[۵]:

الف: څوک چې د غازیانو د ډلې څخه د فقیرۍ د کبله پاتې شي او دومره څه نه لري چې خپل ځان پرې جهاد ته مجهز کړي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۳۳۸
(۲) بدائع الصانع في ترتیب الشرائع ج۲ ص۴۵
(۳) مفردات الراغب ص۳۷۲
(۴) روح المعاني ج۱۰ ص۱۲۳
(۵) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څوک چې د ديني علومو په زده کړه مصروف وي او خپل احتياجات د همدغه مصروفيت د کبله نه شي پوره کولی.

ج: د حجاجو د ډلې څخه چې څوک د فقر کبله پاتې شي.

د: بلکې هرڅوک چې د الله ﷻ په طاعت کښې او د خير په کارونو کښې مشغول وي او احتياج ولري هغوی ټول په ذکره شوې کلمه کښې شامل دي[۱].

خو مونږ ته داسې برېښي چې د حاجيانو څخه به هغه حاجي په ذکره شوې کلمه کښې شامل وي چې د حج د فرضيت څخه وروسته محتاج شي او د فرضيت د اداء کولو توان ورسره نه وي.

اما په چا باندې چې حج فرض نه وي نو اکثره علماء وايي چې هغه په ﴿ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ کښې شامل نه دی[۲] ځکه چې محتاج نه دی او د زکات په ټولو مصارفو کښې احتياج ضرور دی، لکه چې وړاندې په اومه توضيح کښې د نبي کريم ﷺ په حديث سره په ثبوت رسيدلی دی.

## سوال جواب

۱۷_ که څوک وايي: که د زکات د مصارفو په ټولو ډولونو کښې احتياج ضرور وي نو په کار دي چې د زکات راغونډوونکو ته ورنه کړی شي او هم بايد چې مؤلفة القلوب ته نه وی ورکړی شوی، ځکه چې په دغو دواړو ډلو کښې غنيان وه او شته؟

مونږ وايو چې: دغه دواړه ډلې هم په احتياج سره زکات اخلي، که په دوی کښې احتياج نه وی نو اسلامي حاکم خو په دغسې موارِدو کښې احتياج دی[۳].

يا په بل عبارت: په دغو دواړو صورتونو کښې د زکات قبض کوونکي په حقيقت کښې اسلامي حاکم دی، او ده ته د احتياج په اساس د ورکړې جواز شته.

د همدې کبله د مال خاوندان حق نه لري چې د زکات عاملينو ته په خپل لاس (د اسلامي حاکم د اجازې څخه پرته) زکات ورکړي، اما فقيرانو او نورو ته يې پخپله هم ورکولی شي ځکه چې د هغوی احتياج ذاتي دی.

لنډه دا چې د زکات د ورکړې شوې اته واړه ډلې که څه هم د استحقاق په وجوهو کښې مختلفې دي مګر په احتياج کښې ټولې متفقې دي[۴] چې څوک يو ډول محتاج دی او څوک بل ډول اړتيا لري.

## ابن السّبيل څوک دی؟

۱۸_ که څه هم د ﴿ ٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ (د لارې بچي) په باره کښې مونږ د مطلب په خلاصه کښې

(۱) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۴۵
(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۴
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۲۸
(۴) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوره وضاحت کړی دی، مګر د استنباط په توګه ځینو مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه لاندې کسانو ته هم شامله ګڼلې ده[۱]:

الف: د هرچا د لاس څخه چې خپل مـال وتلې وي ـ مثلاً چا ترې غصب کړی وي ـ هغوی ټول د ﴿ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ په مفهوم کښې شامل دي که څه هم په خپل وطن کښې وي او مسافر نه وي.

ب: کوم تاجر چې په خلکو باندې قرضونه ولري خو د اخستلو وسه یې نه کېږي هغه هم ابن السبیل دی.

ج: هغه چاته هم د زکات اخستل جائز دي چې په مفلس سړي باندې یې قرض وي، او یا یې د ظلم د وجهې نه ورکوي او زبردستي کوي.

د: که یوه ښځه په خپل مېړه باندې دمهر پیسې ولري خو د غوښتلو سره-سره هغه پرې ګېډه اچولې وي هغې ته هم زکات اخستل جائز دي چې فقیره وي.

زمونږ په نزد هغه فقیر سړی هم زکات اخستلی شي چې مدیون (قرضدار) یې ورک وي او درک یې معلوم نه وي او یا یې وطن ته د راستنېدلو امید نه وي، او نه نوموړی هلته خپل ځان وررسولی شي.

## یوه ضروري مسئله

۱۹ــ که څه هم ذکر شوی ایت شریف د زکات د مصارفو په هکله نازل شوی دی مګر د مفهوم په اعتبار سره ټولو فرضي خیراتونو او یا واجبي خیراتونو ته شامل دی[۲] نو څوک چې په ذکرو شوو ډلو کښې شامل نه وي هغه ته جائزه نه ده چې لاندې خیراتونه واخلي:

الف: د ځمکې عشرونه ورته جواز نه لري.

ب: د کفارو خیراتونه (لکه د یمین کفاره، د قتل خطا کفاره، د ظهار کفاره) ورباندې حرام دي.

ج: د نذرونو اخستل ورباندې حرام دي.

د: د صدقة الفطر قبض کول ورته ناروا کار دی.

څکه چې د یو پلوه په ﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ ﴾ کښې د ﴿ إِنَّمَا ﴾ کلمه د حصر دپاره ده او د بله پلوه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د حصر معنی په ډېرو واضحه کلماتو کښې څرګنده کړې ده. د حدیث مضمون دا دی چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ یو سړی مخاطب کړ (البته کله چې هغه د زکاتي مالونو په باره کښې سوال کاوه) چې: الله ﷻ د زکاتي مالونو په وېشلو کښې د هیچا په فیصله باندې نه دي خوښ حتی چې ماته یې هم د وېش حق نه دی راکړی، بلکې زکاتي مالونه یې په اتو ډلو باندې وېشلي دي، نو که ته د دغو اتو ډلو څخه په کومه یوه کښې شامل یې نو «أَعْطَيْتُكَ حَقَّكَ»[۳] خپل حق به درکړم، او که نه نو په ما باندې د بې عدالتۍ تهمت مه لګوه.

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۱۲۴

(۲) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۴۷

(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د زکات د تشریع حکمتونه

۲۰_ ذکر شوي د زکات د تشریع ایت شریف الله ﷻ په ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ باندې ختم کړی دی ترڅو د هغو ټولو سوالونو دپاره جواب شي چې د چا په ذهن کښې ګرځي-راګرځي. که څوک غواړي چې د زکات د تشریع په حکمتونو باندې خپل ځان پوه کړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي، مونږ دلته فقط همدومره لیکو چې د زکات د قبض دپاره اصلاً اسلامي حکومت تاکلی شوی دی د همدې کبله په ایت شریف کښې د ﴿ وَٱلْعَـٰمِلِينَ عَلَيْهَا ﴾ کلمات هم نازل شوي دي. د اسلامي حکومت وظیفه ده چې په خپل لاس یې په ذکرو شوو ډلو باندې توزیع کړي.

نن ورځ چې حکومت دا کار پرینبی دی نو دا د اسلام قصور نه بلکې د حکومتونو قصور دی.

لنډه دا چې د کمونستانو هغه سوال ته دلته هیڅ ځای نشته چې په زکات باندې فقیران د بډایانو غلامان جوړېږي. او دا ځکه چې په اسلامي قانون کښې باید د زکات مالونه د بډایانو په لاس باندې توزیع نه شي بلکې دا کار باید اسلامي حکومتونه وکړي.

﴿ وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ ۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَـٰلِدًا فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْخِزْىُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾ ﴾

[۶۱] او د دوی (منافقانو) څخه (ځینې) هغه کسان دي چې نبي ﷺ ته (وړوکی د خولې) ضرر رسوي او وایي چې دی (نبي کریم ﷺ) غوږ دی (په ډېره اسانی سره خبره مني او ډېر ژر غولېږي).
(ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه جواب ورکړه او ورته) ووایه چې: (دی ﷺ خو غوږ دی مګر) ستاسو دپاره د خیر غوږ دی (ستاسو پکښې خیر دی، یا د خیر خبره اسانه مني نه د شر خبره).
(او هم ورته ووایه چې نبي کریم ﷺ) په الله ﷻ باندې پخه عقیده لري او د مؤمنانو دپاره (د ایمان د کبله د دوی په خبرو باندې) باور کوي (دا کار خو د سادګۍ کار نه دی).
او (هم نبي کریم ﷺ) ستاسو د جملې څخه د هغو کسانو دپاره رحمت دی کومو چې ایمان راوړی دی (په طیبه کلمه باندې تلفظ کوي دوی ته فرصت ورکوي چې خپل ایمان خالص وګرځوي).
او هغه کسان چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته (وړوکی د خولې) ضرر رسوي نو دوی ته (د الله ﷻ په نزد) درد ناک عذاب (ټاکل شوی) دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۲] منافقان په الله ﷻ باندې تاسو ته سوګندونه کوي ترڅو تاسو خوشاله (راضي) کړي.
حال دا چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ زیات مستحق دی چې دوی یې راضي (خوشاله) کړي،
که دوی (رښتیانی) ایمان درلودونکي وی (نو یقین به پرې وکړي).

[۶۳] ایا دوی (منافقان) نه پوهېږي چې یقیناً شان دا دی هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د
پیغمبر ﷺ په مقابل طرف کښې ودرېږي (او دښمني ورسره وکړي) نو بې شکه ده لره د دوزخ اور په
داسې حال کښې (تاکلی شوی) دی چې دی به پکښې همېشه وي.
دا (په دوزخ کښې د دوام په توګه داخلېدل) لویه رسوایي ده.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د منافقانو د دې خاصیت بیان وه چې د نبي کریم ﷺ په افعالو باندې یې اعتراض کاوه چې عادل نه دی او په دې ایتونو کښې دا خاصیت بیانېږي چې د نبي کریم ﷺ په اخلاقو باندې عیب لګوي چې ټول غوږ دی، په خبرو کښې تحقیق نه کوي.

۲ـ اما د شان نزول په باره کښې یې متعدد واقعات روایت شوي دي[۱] چې مونږ یې فقط لاندې خلاصه لیکو او بس:

یوه ورځې د منافقانو یوه غټه ډله ناسته وه او په نبي کریم ﷺ پسې یې پروپاګند کاوه او یو بل ته بې اطمنان ورکاوه چې بې غمه خپل مجلس ته ادامه ورکړئ که بالفرض نبي کریم ﷺ خبر هم شي څه پروا نشته ځکه چې هغه په خبرو کښې تحقیق نه کوي او ډېر ژر د سړي خبره مني، نو قناعت به ورکړو او سوګندونه به ورته وکړو.

د همدوی د مجلس ترڅنګ یو مسلمان هلک ناست وه چې "عامر" نومېده چې ددوی په نظر چندان شی نه ښکارېده، او دا ګومان یې وه چې دا ماشوم په څه پوهېږي؟!.

منافقانو خپل مجلس په دې پیل کړ چې قسم دی که هغه ویناوې حقې وي کومې چې نبي کریم ﷺ یې کوي نو مونږ دې د خرو څخه هم بدتر یو، یعنې دی دروغ وایي.

په همدې منځکښې ورباندې نوموړي ماشوم غږ وکړ چې قسم دی چې د نبي کریم ﷺ ویناوې رښتیا دي او تاسو د خرو څخه بدتر یاست. او بیا یې نبي کریم ﷺ ته د منافقانو خبرې ټکي په ټکي ورورسولې.

نبي کریم ﷺ هغوی راوغوښتل او مخاطب یې کړه چې دا ولې؟. هغوی قسم وکړ چې ماشوم دروغ وایي او مونږ ستا په باره کښې څه بد نه دي ویلي.

خو بالمقابل ماشوم (عامر) د دوی خبره رد کړه او ویې ویل چې زه رښتیا وایم او دوی دروغژن دي. الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د ماشوم خبره یې تصدیق کړه[۲].

---
[۱] زاد المسیر ج۳ ص۳۱۲؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۳۰۶
[۲] اسباب النزول للواحدی ص۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د مطلب خلاصه

یعني: اې پیغمبره! د منافقانو یوه ډله هغه ده کومه چې تا خپه کوي او ستا په عالي اخلاقو باندې د عیب نوم ږدي او وایي چې هغه ټول غوږ دی او غولول یې ډېر اسان دي او هم په خبرو کښې تحقیق نه کوي او نه په تحقیق باندې پوهېږي.

اې پیغمبره! د منافقانو د ذکرې شوې عیبژنې خبرې په رد کښې زما د طرفه داسې ووایه چې:

۱ـ اې منافقانو! دغسې نه ده چې نبي کریم ﷺ د ناداني د کبله غوږ دی، بلکې د دې کبله غوږ دی چې تاسو رسوا نه شئ او تاسو په خپل مجلس کښې خجالت نه کړي، که نه نو هغه ته خو ستاسو عادتونه ښه معلوم دي او خصوصاً د دغې غزا (تبوک د غزا) په پیل سره خو تاسو خپل خانونه هرچا ته ورو پېژاندل. یا په بل عبارت: نبي کریم ﷺ د خیر دپاره غوږ دی چې ډېر ښه یې قبلوي او د شر دپاره غوږ نه دی او ستاسو خبرې د خیر خبرې نه دي بلکې د شر خبرې دي، نو د نبي کریم ﷺ سکوت د قبول معنی نه ورکوي.

۲ـ پیغمبر ﷺ خو په الله ﷻ باندې پخه عقیده لري او پوره مطمئن دي چې تاسو ورته د خولې د ضرر څخه په غیر بل څه ضرر نه شئ رسولی نو ځکه ستاسو سوګندونه په سکوت سره اوري، خو تاسو ورباندې ګومان کوئ چې زمونږ سوګندونو ته تسلیم شو.

۳ـ په دې باندې علاوه، که نبي کریم ﷺ غوږ دی نو د هغو کسانو د خبرو دپاره غوږ دی چې هغوی په الله ﷻ باندې پخه عقیده لري او ستاسو غوندې د تظاهر مسلمانان نه دي. یا په بل عبارت: که بالفرض نبي کریم ﷺ غوږ دی نو د عامر ﷺ (ماشوم) د خبرو دپاره هم غوږ دی، د هغه (ماشوم) د خبرو دپاره به ولې غوږ نه وي چې الله ﷻ یې خبره تصدیق کړه چې رښتیا وایي.

۴ـ اې منافقانو! نبي کریم ﷺ خو د ټولو مخلوقاتو دپاره او خصوصاً ستاسو دپاره د الله ﷻ رحمت دی، ستاسو څخه ظاهري ایمان قبلوي، د مؤمنانو په ډله کښې مو شمېري او بالآخره تاسو ته فرصت درکوي چې د خپلو عقائدو څخه شکونه او شبهې وباسي او سوچه مؤمنانو شئ.

که بالفرض نبي کریم ﷺ ستاسو دپاره رحمت نه وی نو تاسو به یې د لا وړاندې څخه د علني کفارو په ډله کښې شمېرلي وی او د جنګ اعلان به یې درسره کړی وی.

که تاسو د نبي کریم ﷺ په عوض د یوه دنیاوي مشر سره دغسې چال چلند کړې وی لکه څنګه یې چې د ده ﷺ سره کوئ نو بیا به تاسو ته څرګنده شوې وی چې بې شکه نبي کریم ﷺ زمونږ دپاره رحمت دی.

۵ـ اې منافقانو! تاسو پوه شئ چې ستاسو د رسوایۍ وخت رارسېدلی دی، که څه هم نبي کریم ﷺ ستاسو پروپاګند په اغماض (سترګو پټولو) سره تېروي مګر الله ﷻ د هغه چا دپاره (چې د ده ﷺ پیغمبر ﷺ ته د حقارت نظر کوي او په افعالو او اخلاقو باندې یې د عیب ګوتې ږدي) دردناک عذاب ټاکلی دی چې ډېر ژر به یې ورباندې ورنازل کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د منافقانو سوګندونه

۶_ ای مؤمنانو! د منافقانو په عقیده نبي کریم ﷺ په خبرو باندې په اسانۍ سره تېروزي او سوګندونو ته اړتیا نه لري، نو د هغوی سوګندونه اصلاً د دې دپاره دي چې تاسو راضي کړي او قناعت درکړي چې مونږ په نبي کریم ﷺ پسې پروپاګند نه دی کړی او دا ماشوم دروغ وايي. نو که بالفرض منافقان تاسو راضي کړي او په سوګندونو باندې مو تېر باسي نو الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ خو نه شي تېرویستلی او په دې صورت کښې به ستاسو خوشالي دوی ته څه په درد وخوري.

نو دوی ته په کار ده چې ستاسو په عوض یې الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ د خپلو ځانونو څخه راضي کړی وی او د منافقت څخه توبه تائب شوي وی، نو که دوی رښتیني مؤمنانو وی نو دغه کار ورته بهتر وه. او دا ځکه چې الله هغه چاته د دوزخ اور د دوام په توګه ټاکلی دی څوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبره ﷺ سره دښمني کوي او په مقابل طرف کښې ورته ودریږي.

دا غټه رسوايي ده چې د قیامت په ورځ د منافقانو سره پیوسته کېدونکې ده، نو منافقانو ته په کار دي چې د همدغې غټې رسوایي څخه ځانونه بچ کړي، نه دا چې فقط د دنیا د رسوایۍ څخه د نجات دپاره سوګندونه وکړي خو د آخرت د رسوایۍ او خجالت غم ورسره نه وي.

## توضیحات

۱_ که څوک وايي: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ په جمله کښې د "ل" په عوض "ب" نازله نه شوه او "وَيُؤْمِنُ بِالْمُؤْمِنِينَ" قرائت نه شو؟

مونږ وایو چې: د ﴿ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ﴾ څخه ایمان بالله مراد دی، نو حاصل یې داسې کېږي چې: نبي کریم ﷺ خو په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او د مؤمنانو د ډلې څخه په اعلی درجه یو مؤمن دی او د مؤمن خاصیت دا دی چې په مجالسو کښې څوک نه خپه کوي، نو دروغینه خبره سمدستي د ویونکي په مخ باندې نه ورولي. ته به وايې چې دا به غولېدلی وي حال دا چې هغه د کرامت د امله سکوت غوره کوي. همدا مضمون نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې څومره ښه واضحه کړی دی چې: «الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ»[۱] یعني: مؤمن د کرامت د کبله غولېدلی ښکاري (چې په مجلس کښې په چا باندې خبره نه ورسپېنوي) او فاجر سړی فساد جوړونکی او لجاجت کوونکی دی.

او د ﴿ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ څخه د خبرو (وینااوو) تصدیق مراد دی، نو حاصل یې داسې کېږي چې: نبي کریم ﷺ د مؤمنانو په خبرو باندې (د دوی د ایمان د کبله) باور کوي، څوک چې طیبه کلمه وایي په هغه باندې پیغمبر ﷺ بدګوماني نه کوي چې دروغ به وايي ځکه چې دروغ خو د ایمان زوال دی. نو کله چې تاسو ای منافقانو! کلمه وایاست تاسو ته په کار دي چې غلطه خبره ونه کړئ. په تاسو باندې هم نبي کریم ﷺ بدګوماني نه کوي او د خپلو پیروانو څخه مو نه وباسي ترڅو چې تاسو د

---

(۱) سنن ابی داود ج۲ ص۳۰۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایمان په ضد قدم پورته نه کړئ او د نبي کریم ﷺ د ملګرتیا څخه خپل ځانونه په لوی لاس ونه باسئ.
کوم مشر چې په خپلو پیروانو باندې ذکره شوې عقیده لري هغه ته باید آفرین او تحسین ورکړی شي، نه دا چې هغه د مسخرو په توګه د غوږ په لقب یاد کړی شي.

لنډه دا چې کله په دواړو جملو کښې بیل-بیل مضمون نغښتی وه نو دواړه جملې په یوه شکل هم نازلې نه کړی شوې، والله ﷻ اعلم.

دا هغه څه وه چې مونږ ته ذهن ته راغله، علماوو کرامو پکښې نور څه لیکلي دي[1].

## د عربیت یوه قاعده

۲ـ که څه هم د عربیت د قوانینو په اقتضاء باید چې د ﴿ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ ﴾ په جمله کښې د مثنی ضمیر نازل شوی دی ترڅو تریې "أَنْ يُرْضُوهُمَا" جوړ شوی وی مګر دغسې نازل نه کړی شو چې مونږ (ټول مؤمنان) په غوږ ووهل شو چې د الله ﷻ رضا او د نبي کریم ﷺ رضا یو تربله سره تلازم لري، نو د الله ﷻ رضا د پیغمبر ﷺ رضا ده او د پیغمبر ﷺ راضي کول د الله ﷻ راضي کول دي.
لکه چې همدې تلازم ته الله ﷻ په اطاعت کښې هم اشاره کړې ده چې: ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴾ [النساء: ۸۰] یعني: هرڅوک چې د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړي نو یقیناً هغه د الله ﷻ اطاعت هم وکړ.
څه چې مونږ وړاندې ولیکل دا راته غوره ښکاري، که نه نو علماوو کرامو خو د ذکرې شوې قاعدې د حفاظت دپاره څو متعدد تاویلونه کړي دي[2] خو مونږ ته په زړه پورې ښکاره نه شوه نو ځکه مو پرې غتیه ډېره کېښوده، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿ يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾

[۶۴] منافقان (د دې څخه) ډارېږي چې په دوی (مؤمنانو) باندې (د الله ﷻ له پلوه) داسې سورت نازل کړی شي چې په هغه شي سره یې خبر کړي کوم چې دوی (منافقانو) په خپلو زړونو کښې (پټ کړی) دی (چې د ملنډو او منافقت څخه عبارت دی).
(نو ای پیغمبره! منافقانو ته) ووایه چې: تاسو خپلو ملنډو (او منافقت) ته ادامه ورکړئ، (خو) یقیناً الله ﷻ د هغه شي بهر راویستونکی (ښکاره کوونکی) دی د کوم (د ښکاره کېدلو) څخه چې تاسو ډارېږئ.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ مونږ د ﴿ عَلَيۡهِمۡ ، تُنَبِّئُهُم ﴾ ضمیرونه مسلمانانو ته راجع کړه او د ﴿ قُلُوبِهِمۡ ﴾ ضمیر مو منافقانو ته راجع وباله، که څه هم د ضمیرونو تفکیک صورت نیسي خو دلته یې باک نشته ځکه

(۱) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۶۹، تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۴۹
(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۵۰، حاشیه الشیخ زاده علي تفسیر البیضاوي ج۲ ص۳۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مطلب واضحه دی او د ضمیرونو تفکیک یا انتشار ورباندې څه اثر نه شي غورزولی. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: منافقان د دې څخه ډارېږي چې الله ﷻ د دوی د زړونو پټ رازونه مسلمانانو ته افشاء کړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: منافقان خو عقیدةً کافران وه او د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې یې ایمان نه درلود، نو پوښتنه دا ده چې دوی د کومې وجهې د کبله د سورت د نزول څخه په ډار کښې لوېدلي وه حال دا چې دوئ یې په رسالت باندې معتقد نه وه؟

مونږ وایو چې:

الف: دوی دا خبره (چې مونږ ډارېږو) په خپلو منځو کښې د مسخرو په توګه کوله[۱] د همدې کبله په ایت شریف کښې د ﴿ قُلِ ٱسْتَهْزِءُوٓا۟ ﴾ کلمات هم نازل شوي دي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! تاسو خو د ایتونو د نزول څخه د تمسخر په توګه خانونه ډاروئ، خو دا ټوقه به مو ټقاله شي او الله ﷻ په رښتیانی توګه د ایتونو نازلوونکی دی.

ب: که څه هم دوی د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې عقیده نه درلوده مګر په تجربې سره ورته معلومه شوې وه چې الله ﷻ هغه ته د دوی د زړونو حالات وخت په وخت بیان کړي دي[۲]. دوی ډارېدل چې دا ځل یې ورته بیا بیان نه کړي چې دا ډېر خطري وخت دی.

ج: مګر مونږ ته په جواب کښې بهتره برېښي چې د هغه وخت اکثره منافقان اهل الکتاب وه او د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې باور درلود او په خپلو کتابونو کښې یې ورته ښه پوره تثبیت وه چې په حقه پیغمبر دی، یاپه بل عبارت: دوی ته د نبي کریم ﷺ پیغمبري داسې ثابته وه لکه څنګه چې ورته د خپلو خامنو زوی توب ثابت وه مګر عناد نیولي وه او په ایمان باندې مشرف نه شوه، لکه څنګه چې د فرعون او د ده د پیروانو څخه الله ﷻ حکایت کوي چې: ﴿ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ﴾ [النمل:۱۴] یعنې: فرعونیانو د موسی ؑ په معجزاتو باندې انکار غوره کړ حال دا چې په معجزاتو باندې یې د دوی نفسونو (زړونو) باور کاوه.

## منافقان د څه شي په افشا کېدلو ډارېدل؟

۳_ ځینو مفسرینو کرامو هغه شی (چې منافقان یې د افشاء کېدلو څخه ډارېدل) د ځینو خاصو واقعاتو او خاصو خبرو څخه عبارت ګڼلی دی[۳]. خو مونږ وایو چې د منافقانو مفسدانه حرکات (کړه وړه) او مفسدانه مجالس او خبرې اترې دومره لږې نه وې چې څوک یې د حصر د لاندې راولي او ټکی په ټکی یې په ګوته کړي، نو بهتره دا ده چې ذکر شوی شی د منافقت څخه عبارت وګڼل

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۵۲
(۲) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۷۱
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۳۱۴؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي چې ټولو عيبژنو كارونو او عيبژنو ويناوو ته شامل شي. نو د معنى حاصل به يې داسې چې منافقان د خپل منافقت په افشاء باندې ډارېږي مګر الله ﷻ د دوی د منافقت افشاء کوونکی دی.

## الله ﷻ خپله خبره رښتيا كړه

۴_ كه څه هم ځينو مفسرينو كرامو ليكلي دي چې الله ﷻ څه ايتونه نازل كړه چې د اويا (۷۰) نفرو منافقانو نومونه پكښې ښودلي شوي وه[1] خو د دې كبله بېرته نسخه شوه چې د دوی اولادونو ته پيغور جوړ نه شي څكه چې اكثره په ايمان باندې مشرف شوي وه.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې الله ﷻ خپله خبره رښتيا كړه او داسې واقعات يې را مخې ته كړه چې منافقانو خپل منافقت پټ نه شو كړی لكه همدغه د تبوک غزا، او هم يې داسې ايتونه نازل كړه چې د دوی د زړونو كيفيات يې څرګند كړه لكه راتلونكی ايت شريف.

په دې باندې علاوه الله ﷻ د منافقانو په خبرو كښې او د دوی په كړو وړو كښې داسې نښې او اثار كېښودل چې هر چا په اسانۍ سره تشخيص كولی شو چې دا منافق دی. الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ﴾ [محمد: ۳۰] يعنې: ای پيغمبره! ته به ضرور په علاماتو سره منافقان وپېژنې او ضرور هرومرو به دوی د خبرو په اړولو را ړولو كښې هم وپېژنې؛

﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا۟ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَٰنِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَآئِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾

**[۶۵]** او (ای پيغمبره!) كه ته چېرې د دوی (منافقانو) څخه پوښتنه وكړې (چې ولې مونږ پسې پروپاګند كوئ) نو ضرور هرومرو به دوی ووايي چې يقينًا مونږ ګپ لګاوه او ساتيرې مو كوله.

(نو ته ورته) ووايه چې ايا تاسو په الله ﷻ او د ده ﷻ په ايتونو او (بالآخره) د ده ﷻ په پيغمبر پورې ياست چې ټوكې كوئ (په بل شي باندې لاره نه لنده‌يده).

**[۶۶]** (ای پيغمبره! دوی ته زمونږ د پلوه ووايه چې) اعتذار مه وړاندې كوئ (اعتذار مو نه قبلېږي) څكه چې يقينًا تاسو د خپل ايمان څخه وروسته (بېرته) كفر ته اووښتي ياست!

(نو) كه مونږ ستاسو د جملې څخه يوې ډلې ته عفوه وكړو (او د توبې توفيق وركړو) نو بله ډله به مو معذبه كړو څكه چې بې شكه دوی مجرمان (جنايتكاران) دي.

## ارتباط او شان نزول

۱_ په دې ايت شريف كښې د وړاندېني ايت شريف يو مصداق ښودلی شوی او هغه شی را په ډاګه كړی شوی دی د كوم د افشاء كېدلو څخه چې منافقان په ډار كښې وه.

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۷؛ تفسير القرطبي ج۱ ص۱۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ اما د شان نزول په باره کښې يې متعدد واقعات روايت شوي دي چې تقريباً شپږو ته رسېږي[۱] مګر مونږ د لاندې يوې واقعې په ذکر باندې اکتفاء کوو چې د ايتونو سره ډېره نژدې مربوطه ښکاري:

نبي کريم ﷺ په غزا کښې په لاره باندې روان وه حال دا چې د ده ﷺ څخه وړاندې درې کسانو مزل کاوه چې دوه کسانو په قرآن مجيد او نبي کريم ﷺ باندې مسخرې کولې او درېم نفر ورته خندل. د دوی مسخرې داسې وې:

الف: محمد ﷺ ګومان کوي چې په روميانو به غالب شي مګر دا ډېره لرې خبره ده (امکان نه لري).

ب: محمد ﷺ مونږ ته يقين راکوي چې په ده باندې د هغو کسانو په باره کښې د قرآن کريم ايتونه نازل شوي کوم چې زمونږ ملګري په مدينه منوره کښې پاتې دي، حال دا چې دا يې خپل کلام دی خو د قرآن نوم يې ورباندې اېښی دی.

الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ د ذکر شوو کسانو په مباحثه باندې خبر کړ چې هغه درې کسان داسې-داسې خبرې کوي. نبي کريم ﷺ ذکره شوې درې کسيزه ډله را ايساره کړه او مخاطبه يې کړه چې تاسو داسې-داسې خبرې وکړې (دا مو ښه کار نه دی کړی).

هغوی جواب ورکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ د لارې د لنډولو دپاره ګپ لګاوه او څه سات مو تېراوه (زمونږ استهزاء او مسخرې مطلب نه وې) او په لاره کښې خو ټول کاروانيان اختلاط کوي چې لاره لنډه کړي. نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه[۲].

## د مطلب خلاصه

۱_ يعنې: ای پيغمبره! منافقان په تا او په قرآن کريم باندې مسخرې او خندنې کوي خو که ته همدوی د استنطاق لاندې ونيسې چې دا ولې؟ نو ضرور او هرومرو به درته په جواب کښې ووايي چې مونږ خو ګپ لګاوه او ساتېری مو مطلب وه ترڅو را باندې لاره لنډه شي.

۲_ ای پيغمبره! منافقانو ته ووايه (البته چې کله يې په ذکره شوې بهانه باندې اعتذار وړاندې کړ) چې: ای منافقانو! ايا تاسو په الله ﷻ او د ده ﷻ په ايتونو (قرآن کريم) او بالآخره د ده ﷻ په پيغمبر باندې استهزاء (خندنې) کوئ؟ ايا نور څه نه وه چې تاسو ورباندې لاره لنډه کړې وی؟ ايا هغه څوک چې کلمه طيبه وايي هغه ته په بل مؤمن باندې مسخرې کول جواز لري؟

۳_ ای منافقانو! ستاسو دغه اعتذار د ګناه څخه بدتر دی او هيڅکله تاسو ته نجات نه شي درکولی بلکې ستاسو جنايت په ذکر شوي اعتذار باندې لا پسې درنېږي.

لنډه دا چې تاسو د ايمان څخه وروسته ـ چې تاسو يې دعوه کوئ ـ بېرته کفر ته اووښتي ياست او ظاهري ايمان مو د اعتباره لوېدلی دی.

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۶۷؛ زاد المسير ج۳ ص۳۱۵
(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۳۰۸؛ الدر المنثور ج۴ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ ای پیغمبره! زمونږ د پلوه دوی ته ووایه چې تاسو ټول د تعذیب لیاقت لرئ نو که مونږ ستاسو ځینو کسانو ته عفوه وکړو او د توبه تائب جوړېدلو توفیق ورکړو او د عذاب څخه نجات ورکړو نو دا به وکړو که زمونږ اراده وشي، اما دا په یقین سره ووارئ چې مونږ به ضرور ستاسو څخه یوه ډله په عذاب باندې اخته کړو او د کوم شي څخه چې تښتېدله په هماغه کښې به یې وغورزوو.

ځکه چې دوی پاخه مجرمان دي او جرم (جنایت) یې عادت ګرځېدلی دی، حتی چې د توبه تائب جوړېدلو استعداد یې بالکل د منځه وړی دی.

## توضیحات

۱ـ مونږ د [النساء: ۱۴۰] ایت لاندې د "خَوْض" په باره کښې ـچې د ﴿ نَخُوضُ ﴾ کلمه ترې اشتقاقه شوې دهـ څه لغوي تحقیق کړی دی، دلته وړباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: د "خَوْض" کلمه اصلاً په اوبو کښې غوټه وهلو او په اوبو کښې حرکت کولو ته وضعه شوې ده، نو څرنګه چې په اوبو کښې غوټه وهل غیر منظم وي نو په همدې مناسبت سره په باطلو ویناګانو او په باطلو کارونو کښې استعمالېږي.

ب: په همدې معنی باندې نبي کریم ﷺ هم استعماله کړې ده چې: «إِنَّ رِجَالاً يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] یعني: یقینًا داسې سړي چې د الله ﷻ په مالونو (بیت المال) کښې په ناحقه غوټې وهي (ناجائز تصرف کوي) نو دوی ته د قیامت په ورځ اور دی.

ج: مګر مونږ یې په دې مقام کښې په ګپ لګولو سره معنی کوو چې د ﴿ نَلْعَبُ ﴾ د کلمې سره ښه سمون خوري. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ ګپ لګاوه او ساتیري مو کوله او استهزاء خندنی مو مطلب نه وه.

## په شرعي امورو کښې ټوکه کول کفر دی

۲ـ که څه هم د شرعي امورو نه عملي کول ګناه ده مګر احترام او عزت یې د ایمان یوه برخه ده، د همدې کبله مونږ ته ایت شریف لاندې ارشادات کوي:

الف: د شرعي کارونو او یا د شرعي شیانو سپکاوی کفر دی.

ب: همدارنګه دلته ټوکې او خندنی هم د کفر معنی ورکوي.

ج: که څه هم د چا په زړه کښې د سپکاوي نیت نه وی مګر د سپکاوي خبره وکړي هم پرې مرتد کېږي[۲] ـالعیاذ باللهـ د همدې وجهې څخه د منافقانو اعتذار قبول نه شو کله چې دوی وویلې چې زمونږ د سپکاوي نیت نه وه بلکې فقط ساتېري مو کوله او لاره مو لنډوله.

د: په ذکرو شوو ارشاداتو کښې فرض او واجب او یا سنت او مستحب هیڅ فرق نه لري، نو که

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۳۹
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالفرض څوک د ډېرې پورې په دې حیث خندنې وکړي چې پرېښودل یې سنت او یا واجب دي هم کفر ته پرې رسېږي.

## چاته عفوه وکړی شوه؟

۳ـ علماء کرام وایي چې د هغو درې کسانو دجملې څخه د کومو په باره کښې چې ذکر شوي اېتونه نازل شوه یوه کس ته الله ﷻ د توبې توفیق ورکړ او په اخلاص سره توبه تائب شو او ویې ویلې چې: ای الله! ماته ستا په لاره کښې داسې شهادت را په برخه کړه چې نه څوک وایي چې ما غسل ورکړ او ما کفن ورکړ او هم نه څوک وویلی شي چې ما دفن کړ او ما خاورو ته وسپاره!

نو الله ﷻ د نوموړي سوال قبول کړ چې د الیمامه په جنګ کښې شهید شو مګر لاش (کالبوت) یې د ټولو خلکو څخه الله ﷻ لادرکه کړ او یوازې اوښ یې د مسلمانانو لاس ته ورغی او بس[۱].

نوموړی توبه کوونکی هغه څوک وه چې د ټوکو ټکالو په وخت کښې یې په خپله خوله ټوکې نه وې کړې مګر د ملګرو په ټوکو باندې یې خندلي وه، نوموړي د توبې څخه وروسته د عبد الرحمن په نامه باندې شهرت وموند[۲].

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي: الله ﷻ خو د ذکر شوي توبه کوونکي څخه په ﴿ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ ﴾ کښې په ﴿ طَآئِفَةٗ ﴾ سره تعبیر کړی دی او ﴿ طَآئِفَةٗ ﴾ خو ډلې ته ویل کېږي چې د دوه کسانو څخه خو کم نه وي، حال دا چې د ذکر شوي روایت په بنیاد یوه کس ته عفوه شوې وه؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[۳] څه نور جوابونه کړي دي مګر غوره جواب دا دی چې د شان نزول ډله خو درې کسان وه مګر د همدوی په خوی او خاصیت باندې په منافقانو کښې ډېر کسان موجود وه چې چا به په شرائعو پورې ټوکې کولې او چا به ورته خندل، نو څه لرې نه ده چې نورو ډېرو کسانو ته الله ﷻ د توبې توفیق ورکړی وي او ځینې نور ډېر کسان د الله ﷻ د تعذیب سره مخامخ شوي وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي: هغه تعذیب څه شی دی کوم ته چې الله ﷻ د ﴿ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ ﴾ په جملې سره اشاره کړې ده؟

مونږ وایو چې: د آخرت تعذیب خو بالکل څرګند دی، اما په دنیا کښې په لاندې شکلونو سره د هغوی د تعذیب مثالونه ولولی:

---

(۱) تفسیر الطبري ج ۱۰ ص ۱۷۲

(۲) البحر المحیط ج۵ ص۴۵۴؛ روح المعاني ج ۱۰ ص۱۳۱

(۳) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که څه هم د منافقانو منافقت په مدینه منوره کښې زښته ډېره وده وکړه مګر الله ﷻ د دوی د رسوا کولو اراده نه وه کړې او د مسلمانانو په جمله کښې دوی هم مسلمانان شمېرل کېده نو د دوی يو دنياوي عذاب دا وه چې الله ﷻ د دوی پرده څيرې کړه، لکه چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ يوې غټې جلسې ته په خپله خطابه کښې وويلې چې: «إِنَّ فِيكُمْ مُنَافِقِينَ فَمَنْ سَمَّيْتُ فَلْيَقُمْ» يعنې: يقيناً په تاسو کښې منافقان شته نو ما چې د هرچا نوم واخست هغه دې ودرېږي (پورته شي) بيا يې (په نومونو پيل وکړ) وويل چې: «قُمْ يَا فُلَانُ قُمْ يَا فُلَانُ قُمْ يَا فُلَانُ حَتَّى سَمَّى سِتَّةً وَثَلَاثِينَ رَجُلاً»[1] اې فلانيه! پورته شه، اې فلانيه! پورته شه، حتى چې د شپږ دېرش نفرو نومونه يې واخستل (او د مجلس څخه يې پورته کړه).

ب: د منافقانو څخه د صدقاتو عدم قبول هم يو دنياوي تعذيب دی چې پوره بحث يې د [التوبة: ۵۳] ايت لاندې تېر شوی دی.

ج: د توبې د توفيق څخه محرومېدل ډېر غټ دنياوي عذاب دی چې بحث يې د [التوبة:۷۷] ايت لاندې ـ إن شاء الله ـ راروان دی.

د: همدارنګه د غازيانو د لست څخه د منافقانو نومونه غورزول هم د الله ﷻ د پلوه يو د خجالت کولو عذاب دی چې په [التوبة:۸۳] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

هـ: دا چې الله ﷻ پيغمبر ﷺ ته اجازه ورنه کړه چې په منافقانو باندې يا د جنازې لمونځ وکړي او يا يې په قبر باندې ودرېږي هم عذاب دی، چې د [التوبة: ۸۵] ايت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

و: همدارنګه الله ﷻ دمنافقانو هغه دسيسه شنډه کړه کومه چې دوی د جومات په څېره کښې غوټه کړې وه او غوښتل يې چې د تخريبکارۍ دپاره ترې د مرکز کار واخلي.

د همدې موضوع پوره بحث د [التوبة:۱۰۷] لاندې راروان دی.

﴿ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ
ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْۗ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ
٦٧ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِىَ حَسْبُهُمْۚ
وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ٦٨ كَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنكُمْ قُوَّةً
وَأَكْثَرَ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا فَٱسْتَمْتَعُوا۟ بِخَلَٰقِهِمْ فَٱسْتَمْتَعْتُم بِخَلَٰقِكُمْ كَمَا ٱسْتَمْتَعَ ٱلَّذِينَ

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا
وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾

[۶۷] منافقان نارینه او منافقې زنانه چې دي د دوی ځینې د ځینو نورو څخه دي (په خاصیت کښې یو برابر دي هغه دا چې) دوی (ټول) په ناکاره (بدو) کارونو باندې امر کوي او د نېکو (ښو) کارونو څخه منعه کول کوي، او خپل لاسونه (د في سبیل الله انفاق څخه) را موټي کوي.

دوی الله ﷻ هېر کړی دی (د ده ﷻ اطاعت یې پرېښی دی) نو الله ﷻ دوی هېر کړي (د خپل رحمت څخه پرېښي) دي.

یقینًا منافقان چې دي همدوی فاسقان دي (او منافقانې چې دي همدوی فاسقانې دي).

[۶۸] الله ﷻ منافقانو نارینه وو او منافقانو زنانه وو او (هم ټولو) کفارو ته د دوزخ د اور وعده ورکړې ده په داسې حال کښې چې هلته به دوی همېشه وي.

همدا (دوزخ) دوی ته کافي دی (که بالفرض نور هیڅ عذاب ورباندې نه وي هم).

او (علاوه په دي) الله ﷻ دوی د خپل رحمت څخه لرې کړي دي او دوی ته دائمي عذاب دی.

[۶۹] (ای ذکر شوو کسانو! تاسو ټول) د هغو کسانو غوندې (یاست) چې ستاسو څخه مخکښې تېر شوي دي (بلکې) هغوی ستاسو څخه د قوت د حیثه ډېر کلک وه، او د مالونو او اولادونو د حیثه درڅخه ډېر زیات وه.

نو هغوی (په خپل وخت کښې) د خپلې ټاکلې برخې څخه استفاده وکړه، نو تاسو هم (لګیا یاست په خپل وخت کښې) د خپلې ټاکلې شوې برخې څخه داسې استفاده کوئ لکه څنګه چې هغو کسانو د خپلې برخې استفاده کوله کوم چې ستاسو څخه مخکښې تېر شوي دي، او تاسو هم (په باطلو کښې) ورغوپه شوئ لکه څنګه چې هغوی (په باطلو کښې) ورغوپه شوي وه. (نو لکه څنګه چې هغوی هلاک شوه او دنیا یې د خانونو سره وې نه وړه تاسو به هم هلاک شئ او دنیا به د خانونو سره وې نه وړلی شئ).

(ای پیغمبره!) دغه (ذکر شوي ټول) کسان (وړاندیني او وروستني) چې دي عملونه یې په دنیا او آخرت کښې ضائع دي، او همدغه کسان چې دي همدوی زیان کاران (تاوانیان) دي (او بس).

## ارتباطونه

۱- په وړاندېنیو ایتونو کښې د نارینه وو منافقانو د ذکر په ضمن کښې زنانه وو منافقانو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې په زنانه وو باندې هم صراحت وکړی شو ترڅو څرګنده شي چې زنانه د نارینه وو څخه په منافقت کښې څه کمې نه دي.

۲- هلته د منافقانو څو واقعاتو ته اشاره شوې وه او دلته د ټولو منافقانو (د زنانه وو په شمول) عمومي خاصیتونه ښودل شوي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ بالآخره په دې ایتونو کښې د منافقانو هغه ادعا په دلایلو سره رد کړې شوې ده کومه چې الله ﷻ د دوی خولو څخه په [التوبة: ۵۶] ایت کښې حکایته کړې وه چې یقیناً مونږ ستاسو د جملې څخه یاستو ای مؤمنانو!، نو حاصل یې داسې راخیژي چې:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره او ای مؤمنانو! که څه هم منافقان ادعا کوي چې دوی ستاسو د جملې څخه دي مګر دوی هیڅکله ستاسو د جملې څخه نه شي کېدلی، حتی چې د دوی زنانه ستاسو د زنانه وو څخه په خاصیت او عادت کښې جدا او بېلې دي، نو د ښه پوهېدلو دپاره لاندې نکاتو ته متوجه شئ:

۱_ منافقان سړي او منافقانې ښځې په لاندې خاصیتونو کښې یو بل ته ورته دي:

الف: ټول په منکراتو او غیر شرعي کارونو باندې امر کوي، برسیره پر دې چې پخپله ورباندې اخته دي.

ب: ټول د نېکو کارونو څخه د نورو خلکو مخه نیسي لکه څنګه چې پخپله نېکو کارونو ته نه ورنژدې کېږي او ځانونه ترې ساتي.

ج: ټولو خپل لاسونه موټي کړي دي او د الله ﷻ په لاره کښې د زړه په اخلاص باندې څه نه مصرفوي، د دوی ټول مصارف د فساد د راپورته کولو دپاره دي.

د: دوی ټولو الله ﷻ هېر کړی دی او د ده ﷻ اطاعت یې د پښو لاندې کړی دی نو د همدې کبله الله ﷻ هم دوی د خپل رحمت څخه بې برخې کړي دي (ته به وایې چې بالکل یې هېر کړي دي).

هـ: بالآخره ټول نارینه منافقان فاسقان دي او د شریعت د چوکاټ څخه وتلي دي او ټولې زنانه منافقانې فاسقانې دي او د شریعت څخه بهر په نورو لارو باندې روانې دي.

۲_ نو د دې کبله چې منافقان د زنانه وو په شمول د کفارو په لاره باندې روان دي او خوی خاصیت یې هغوی ته ورته دی الله ﷻ دوی ټولو ته د دوزخ د اور وعده ورکړې ده چې ټول به پکښې همېشه پراته وي او هېڅکله به ترې بهر نه شي.

۳_ که څه هم د دوزخ په اور کښې ښه کافي مادي عذاب شته او ګالل یې څه اسان کار نه دی خصوصاً لا په هغه وخت کښې چې همېشه وي او هیڅکله انقطاع ونه لري، مګر الله ﷻ ذکرو شوو دوزخیانو ته لاندې عذابونه هم ټاکلي دي:

الف: الله ﷻ دوی د خپل رحمت څخه لرې کړي دي چې د شیطانانو سره به د همېش دپاره په دوزخ کښې اندېوالان وي چې دا اندېوالي په روحي تعذیب کښې د دوزخ د اوره کمه نه ده.

ب: لکه څنګه چې دوزخیان په اور کښې همېشه دي او هیڅکله به ترې بېرون نه کړی شي همدارنګه د دوی عذابونه هم دائمي دي چې هیڅکله وربانديې سړښت نه ورځي.

۴_ ای پیغمبره! منافقان د الله ﷻ د پلوه په لاندې ټکو باندې مخاطب کړه:

الف: ای منافقانو! هغه دائمي او نه سړېدونکی عذاب کوم چې پخوانیو کافرانو ته لازم ګرځولی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي وه خکه تاسو ته تاکلي شوي دي چې ستاسو کړه وړه همغوی ته ورته دي، ستاسو عادتونه د همغوی غوندې دي.

ب: که څه هم هغوی ستاسو څخه په قوت کښې کلک وه او مالونه او اولادونه يې ستاسو څخه زيات وه مگر د الله ﷻ د عذاب مخه ترې نه مالونو واړولی شوه او نه يې اولادونه په درد باندې دوا شوه، نو همدارنگه ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه هم تاسو ته د الله ﷻ د عذاب څخه نه په دنيا کښې نجات درکولی شي او نه په آخرت کښې.

ج: هو! هغوی په دنيا کښې ښې مزې (چړچې) تېرې کړې، د دنيا څخه يې خپله ټاکلې شوې برخه واخستله مگر دنيا يې د خپلو ځانونو سره يونوړه او نه د هغوی په هلاکت سره دنيا ورانه شوه.

دا دی نن ورځ تاسو د هغوی غوندې په مزو او چړچو کښې لگيا ياست او د هغوی غوندې د دنيا څخه د خپلې برخې څخه په ټاکلې شوې اندازې سره استفاده کوئ او په باطلو کښې ډوب ياست او غوږې پکښې وهې، مگر په ياد ولرئ چې ستاسو څخه به هم دا دنيا يوه ورځ پاتې شي لکه څنگه چې د هغوی څخه تاسو ته پاتې شوه، نو لکه څنگه چې د هغوی په هلاکت سره دنيا رنگه نه شوه ستاسو په هلاکت سره به هم رنگه نه شي.

۵ـ ای پيغمبره! ذکر شوي ټول کسان ـ وړاندېني دي او که وروستني او هم منافقان دي او که مجاهر کافران او بالآخره نارينه دي او که زنانه ـ د ټولو عملونه په دنيا او آخرت کښې ضائع دي چې په دنيا کښې د دنياوي عذاب څخه نجات نه شي ورکولی او په آخرت کښې يې د اخروي عذاب څخه نه شي بچ کولی.

نو دغه ذکر شوي ټول کسان داسې تاوانيان دي ته به وايې چې د دوی غوندې د تاوان سره بل څوک نه دی مخامخ شوی او نه به مخامخ شي.

## توضيحات

۱ـ داسې معلومېږي چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې منافقانو زنانه وو هم په پروپاگندونو باندې صرفه نه ده کړې او همدارنگه په هره زمانه کښې فاسدانې زنانه د فاسدانو نارينه وو سره اوږه په اوږه روانې وي بلکې کوم فساد چې زنانه کولی شي هومره لا نارينه نه شي کولی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي: په کوم مفهوم باندې چې د ﴿ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴾ جمله دلالت کوي همغه مفهوم د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ﴾ د کلماتو څخه څرگندېږي، نو پوښتنه دا ده چې د ذکرې شوې جملې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د ﴿ مُّقِيمٞ ﴾ کلمه د ﴿ عَذَابٞ ﴾ صفت او د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ﴾ کلمه د دوزخيانو صفت دی. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي: دوزخيان به په عذاب کښې همېشه وي او عذاب به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دوزخیانو پورې دوامداره نښتی وي. یا په بل عبارت: د دوارو ترمنځ به تلازم وي او یو به د بل څخه نه جدا کېږي.

## خلاق څه معنی؟

۳_ د "خَلاق" کلمه اصلاً د "خَلْق" څخه اخستله شوې ده، د "خَلْق" اصلي لغوي معنی تقدیر او اندازه کول دي[۱]، نو د هرچا او هرقوم خلاق د هغه حالت څخه عبارت دی کوم چې الله ﷻ په لوح محفوظ کښې ورته په معین چوکاټ کښې اندازه کړی دی چې دین به یې داسې وي او خوراک او څښاک به یې دا-دا شی وي، او فلاني او فلاني ځایونو کښې به ګرځي را ګرځي او داسې نور.

یا په بل عبارت: د هرچا خلاق د هغه کس ټولو حالاتو او ټولو کړو وړو ته شامل دی[۲] برابره خبره ده چې نېک حالات وي او یا بد حالات[۳].

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي: په ﴿ كَٱلَّذِى خَاضُوٓاْ ﴾ کښې د "الَّذِي" کلمه مفرده ده او په ﴿ خَاضُوٓاْ ﴾ کښې ورته د جمعې ضمیر راجع شوی دی، حال دا چې د ضمیر او د مرجع مطابقت د عربیت په قوانینو کښې ضرور دي؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د همدغه مطابقت د لاس ته راوړلو دپاره ډېر جوابونه کړي دي[۴] مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې د "الَّذِي" کلمه په دې مقام کښې د "مَنْ" او "مَا" غوندې عامه ده، په درېواړو (افراد، مثنی، جمع) حالاتو باندې یې اطلاق کېږي چې دلته یې د جمعیت حالت په نظر کښې نیولی شوی دی نو مطابقت حاصل دی.

﴿ أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَٰهِيمَ وَأَصْحَـٰبِ مَدْيَنَ وَٱلْمُؤْتَفِكَـٰتِ ۚ أَتَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَـٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٧٠﴾ ﴾

[۷۰] (ای پیغمبره!) ایا دوی (ستا د زمانې کفارو) ته د هغو کسانو مهم خبرونه نه دي ورغلي چې د دوی څخه وړاندې (تېر شوي) وه؟

د نوح ﷺ د قوم (خبر) او د عادیانو (خبر) او (هم) د ثمودیانو (خبر) او د ابراهیم ﷺ د قوم (خبر) او (بالآخره) د مدین د ښار د خاوندانو (خبر) او د سرچپه شوو ښارونو (خبر).

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۱۳۴
(۲) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۲۷
(۳) لسان العرب ج۱۰ ص۹۲
(۴) البحر المحیط ج۵ ص۴۵۷؛ روح المعاني ج۱۰ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی (ټولو) ته پيغمبران په معجزاتو سره ورغلي وه (خو دوی د پيغمبرانو تکذيب وکړ او الله ﷻ هلاک کړه) نو نه وه الله ﷻ چې په دوی باندې يې تېری کړی وی مګر دوی وه چې په خپلو ځانونو باندې يې تېری کاوه.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې پخوانيو کافرانو ته اشاره شوې وه او په دې ايت کښې د پخوانيو کافرانو څومثالونه ښودلي شوي دي. نو د معنی حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پيغمبره! د خپل وخت کفارو او منافقانو ته د پخوانيو کفارو څخه د څو قومونو نومونه واخله چې قوت او هلاکت يې دوی ته ډېر ښه معلوم دی خو خپل ځانونه يې ورباندې کاڼه اچولي دي ته به وايې چې دوی ته د هغوی هيڅ خبر نه دی رسېدلی. يا په بل عبارت: ايا دوی د لاندې قومونو په حالاتو باندې خبر نه دي:

الف: ايا دوی ته د نوح ﷺ د قوم حال معلوم نه دی چې څومره اوږده زمانه يې په عيش او عشرت کښې تېره کړه خو بالآخره ټول په طوفان باندې هلاک شوه او الله ﷻ مؤمنانو ته نجات ورکړ؟

ب: ايا دوی په عاديانو باندې علم نه لري چې څومره لوړ- لوړ او قوي خلک وه خو الله ﷻ په تېز (سوزونکي) باد باندې پوپنا کړه؟

ج: ايا دوی ته د ثموديانو (د صالح ﷺ د قوم) معلومات نشته چې په رجفه (زلزله) باندې الله ﷻ هلاک کړه؟

د: ايا دوی د ابراهيم په قوم باندې علم نه لري چې الله ﷻ ترې څمکه پاکه کړه او د دوی په مشر (نمرود) باندې يې ماشی مسلط کړ او د ده عمر ته يې خاتمه ورکړه؟

هـ: ايا دوی د مدين د ښار په اوسيدونکو کښې هيڅ معلومات نه لري چې الله ﷻ ټول په يوه غيبي چيغه (تېز اواز) باندې د منځه يووړه؟

و: بالآخره دوی د هغو سرچپه اړولو شوو ښارونو په باره کښې هم ړانده کاڼه دي چې لوط ﷺ وراستولی شوی وه او په نتيجه کښې الله ﷻ د ده ﷺ د دعوت مربوط ټول ښارونه په بل مخ واړول او د ډبرو باران يې ورباندې وکړ.

۲ـ ای پيغمبره! په کار دي چې د ذکرو شوو قومونو څخه ستا د زمانې خلک عبرت واخلي چې په دوی باندې الله ﷻ کوم اسماني عذاب ورنازل نه کړي لکه څنګه يې چې په هغوی باندې ورنازل کړی وه، هغوی ته هم الله ﷻ په معجزاتو سره پيغمبران وراستولي وه مګر هغوی د پيغمبرانو عليهم السلام څخه انکار وکړ او په لوی لاس يې خپل ځانونه د الله ﷻ په غضب باندې ککړ کړه. يا په بل عبارت: الله ﷻ په هغوی باندې تېری نه وه کړی خو هغوی په خپلو ځانونو باندې په خپله تېری وکړ.

همدارنګه ستا د زمانې کفار هم که خپل انکار ته ادامه ورکړي او په نتيجه کښې د عذاب سره

Scanned by CamScanner

مخامخ شي نو الله ﷻ بـه وربانديې تېرى نـه وي كړى بلكې دوى به په خپلو ځانونو بانديې پخپله تېرى كړى وي.

## توضيحات

۱_ د ذكرو شوو قومونو د هلاكت قيصې د قرآن كريم په نورو ايتونو كښې ځاى په ځاى بيانې شوي دي، هيله ده چې محترم لوستونكي يې په مربوطو ايتونو كښې ولولي.

اما د ابراهيم ﷺ د قوم (نمروديانو) د هلاكت قيصه مونږ د [البقرة:۲۵۸] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق ښه واضحه كړې ده چې يو ځل لوستل يې بې ګټې نه دي.

## "مُؤْتَفِكَات" څه معنى؟

۲_ د ﴿ ٱلْمُؤْتَفِكَٰتِ ﴾ كلمه ـچې د "مُؤْتَفِكَة" جمعه ده_ اصلاً د "إِفْك" څخه اشتقاقه شوې ده، "إِفْك" هغه شي ته ويل كېږي د كوم مخ چې د خپل اصلي طرف څخه بلې خوا ته واړولى شي[1].

په دې مقام كښې ذكره شوې كلمه د هغو ښارونو څخه عبارت ده كومو ته چې لوط ﷺ د پيغمبر په صفت ورغلى وه. دغو ښارونو ته ځكه ذكر شوى لقب وركړى شوى دى چې د هلاكت په وخت كښې الله ﷻ د ځمكې څخه پورته كړل او بېرته يې په ځمكه باندې سرچپه ور وويشتل، الله ﷻ فرمايلي: ﴿ جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا ﴾ [هود:۸۲] يعنې: نو كله چې زمونږ امر (د لوط ﷺ د قوم ښارونو ته) ورغى نو پاسنى خواوې مو د هغوى لاندې وګرځولې (سرچپه مو كړه).

﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾ ﴾

[۷۱] او مؤمنان نارينه او مؤمناني زنانه چې دي د دوى ځينې د ځينو نورو دوستان دي (او په خاصيتونو كښې سره متحد دي چې) دوى (ټول) په نيكو كارونو باندې امر كوي او د بدو كارونو څخه منعه كول كوي، او (هم) دوى لمونځ (لمونځونه) ودروي او زكات (زكاتونه) وركوي او (هم) دوى (ټول) د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر ﷺ اطاعت كوي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه (ډله چې ده) ژر به الله ﷻ په دوی باندې مهرباني وکړي، يقيناً الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۷۲] الله ﷻ مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو ته د داسې جنتونو وعده ورکړې ده چې لاندې ترې (څلور) ويالې بهېږي حال دا چې دوی به پکښې همېشه وي، او (هم يې) په دائمي جنتونو کښې د پاکيزه استوګنځايونو (وعده ورکړې ده چې الله ﷻ به ترې راضي وي).

او د الله ﷻ د پلوه (لږه) رضامندي (هم د نعمتونو څخه) لويه ده. دغه (حال چې دی) همدا لويه کاميابي ده.

## ارتباط

په دې ايتونو کښې د مؤمنانو صفات او خاصيتونه ښودلی شوي دي ترڅو د مقابلې په توګه پوره څرګنده شي چې منافقان د مؤمنانو د جملې څخه نه شي کېدلی چې د هغوی خاصيتونه او عادتونه د دوی د خاصيتونو او عادتونو څخه بالکل مخالف دي.

## د مطلب خلاصه

يعنې: ای پيغمبره! اوس نو د مؤمنانو نارينه وو او مؤمنانو زنانه وو عادتونه او خاصيتونه په خپل امت باندې قرائت کړه ترڅو يې منافقان د مؤمنانو په جامه کښې تېر نه باسي، نو لاندې ارشاداتو ته يې متوجه کړه:

۱_ مؤمنان نارينه او مؤمناني زنانه په لاندې خاصيتونو کښې يو بل ته ورته دي:

الف: دوی ټول برسبره په دې چې په عقائدو کښې متحد دي يو تربله دوستان او کومکيان هم دي او د منافقانو غوندې يې زړونه يو تر بله متفرق او متشتت نه دي.

ب: دوی ټول د زنانه وو په شمول په نېکو او شرعي کارونو باندې امر کوي او پخپله پرې کلک ولاړ دي.

ج: دوی ټول د منکراتو او غير شرعي کارونو او قولونو څخه خلک منعه کوي او پخپله ترې ځانونه بچ ساتي.

د: منافقانو الله ﷻ هېر کړی دی او مؤمنان په دوامداره توګه لمونځونه دروي او خپل رب ﷻ په ياد ساتي، هغوی د رياکارۍ او کسالت (سستۍ) په حال کښې لمونځ کوي او دوی په پوره اخلاص سره خپل لمونځونه د ټولو حقوقو سره په ښه دروي.

ه: مؤمنان زکاتونه ورکوي او د الله ﷻ په لاره کښې يې خپل لاسونه د منافقانو غوندې نه دي موټې کړي.

و: بالآخره، مؤمنان (نارينه او زنانه) د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ اطاعت کوي او د منافقانو غوندې فاسقان (د الله ﷻ د اطاعت څخه وتلي) نه دي.

۲_ الله ﷻ به په مؤمنانو باندې ډېر ژر رحم او مهرباني وکړي او د منافقانو په څېر به يې د رحمت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه لرې نه کړي. څکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی او هم د حکمت څښتن دی چې نېکو کاران بې مکافاته نه پرېږدي.

۳_ د الله ﷻ د رحم او مهربانۍ څه اجمالي بیان دا دی چې د نارینه مؤمنانو او زنانه مؤمناتو دپاره یې لاندې وعدې کړې دي:

اول: دوی ټولو ته الله ﷻ د داسې جنتونو وعده ورکړې ده چې د ونو لاندې به یې د څلورو شیانو (د شاتو، شودو، شرابو، او خوندورو اوبو) ویالې بهېږي.

دوهم: دوی به په دغو جنتونو کښې همېشه وي او هیڅکله به ترې نه اوځي.

دریم: دوی ته په ذکر شوو جنتونو کښې چې د دوامداره اوسېدلو ځای دی پاکیزه او په زړه پورې د اوسېدانې بنګلې او ماڼۍ دي.

څلورم: په دې ټولو باندې علاوه، د مؤمنانو څخه به د زنانه وو په شمول الله ﷻ راضي وي او هیڅکله به ورباندې نه په غضب کېږي او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ رضامندي په ټولو نعمتونو باندې د پاسه ده او د ټولو نعمتونو څخه لویه ده.

۴_ دا ده ډېره لویه کامیابي چې الله ﷻ مؤمنانو ته ټاکلې ده او هغه دی ډېر لوی خسران چې منافقان ورسره مخامخ کېدونکي دي. یا په بل عبارت: د ذکرو شوو نعمتونو څخه محروم کېدل هم یوعذاب دی چې منافقانو ته په نورو عذابونو باندې علاوه ټاکلی شوی دی.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د مؤمنانو د صفاتو په بیان کښې د ﴿ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖ ﴾ د ﴿ أَوۡلِيَآءُ ﴾ کلمه نازله کړه حال دا چې د منافقانو په بیان کښې یې صرف د ﴿ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖ ﴾ کلمات نازل کړي دي؟

مونږ وایو: څرنګه چې مؤمنان یو په بل باندې په رښتیا سره دردېږي او یقینًا یو د بل کومکیان دوستان دي نو الله ﷻ د همدغه مطلب د څرګندونې دپاره د ﴿ أَوۡلِيَآءُ ﴾ کلمه نازله کړه.

اما منافقان هر یو د خپلو اغراضو په غم کښې دی نو ظاهري بڼه یې د دوستانو بریښي مګر قلبًا یو تربله د اخلاص دوستي نه لري، الله ﷻ د دوی حالت مونږ ته ډېر ښه بیان کړی دی چې فرمایي: ﴿ تَحۡسَبُهُمۡ جَمِيعٗا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰ ﴾ [الحشر:۱۴] یعني: ته په منافقانو (او کافرانو) باندې ګومان کوې چې دوی متفق دي حال دا چې زړونه یې تار په تار دي (بې اتفاقه دي).

## عَدۡن څه معنی؟

۲_ د ﴿ عَدۡنٍ ﴾ کلمه په معنی د قرار او دوام سره ده د همدې کبله هغه ځای ته معدن ویل کېږي چرته چې جواهرات (غمیو) قرار نیولی وي[۱].

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې مفسرينو کرامو ذکره شوې کلمه په لاندې دوه ډولونو تفسيره کړې ده:

الف: ﴿ عَدْنٍ ﴾ په خپله لغوي معنی سره دی چې د ﴿ جَنَّٰتِ ﴾ دپاره په معنی کښې صفت دی[١]، نو حاصل يې داسې کېږي چې جنتيانو ته پاکيزه او سپېڅلي استوګنځايونه په داسې جنتونو کښې دي په کومو باندې چې خزان نه ورځي او د دوام په توګه يې تازګي برقراره وي.

ب: ﴿ عَدْنٍ ﴾ کلمه په جنتونو کښې د يوه خاص مقام نوم دی چې سلفو صالحينو د دغه مقام په تشخيص کښې زښت ډېر قولونه کړي دي[٢].

مګر مونږ ته په دې مقام کښې لومړی تفسير بهتر ښکاري، ځکه چې وړاندې الله ﷻ د منافقانو اخروي عذاب په مقيم سره توصيف کړی چې ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴾ [التوبة:٦٨] نو په کار دي چې د مقابلې د تکميل دپاره دلته جنتونه په عدن يعنې عدم تغير او دوامداره تازګۍ باندې موصوف شي، والله ﷻ اعلم.

## د الله ﷻ رضامندي ډېر لوی شی دی

٣ـ په ﴿ رِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ رِضْوَٰنٌ ﴾ د کلمې تنوين د تقليل دپاره دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې د الله ﷻ د پلوه لږه رضامندي هم ډېر لوی شی دی[٣] چې د جنت په ټولو نعمتونو باندې دپاسه ده، پاتې لا ډېره رضامندي چې هيڅ نعمت يې مخې نه دی.

په نورو نعمتونو باندې د الله ﷻ د رضا مندۍ اوچتوالی نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې ډېر ښه واضحه کړی دی چې مونږ يې مضمون وړاندې کوو.

هغه دا چې کله چې جنتيان جنت ته داخل کړی شي نو الله ﷻ به ورسره په لاندې ډول سوال جواب وکړي:

الله ﷻ: ای اهل الجنة! (ای جنتيانو!).

جنتيان: «لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ» يعنې: ای زمونږ ربه! اطاعت ته تيار ياستو چې ټولې خوشالۍ ستا په واک او اختيار کښې دي.

الله ﷻ: ايا تاسو (په نعمتونو باندې) راضي ياست؟

جنتيان: مونږ به په هغه څه باندې ولې نه راضي کېږو چې په خپل مخلوق کښې دې زمونږ څخه په غير هيچا ته نه دی ورکړي.

الله ﷻ: ايا د دې نعمتونو څخه بل بهتر نعمت در نه کړم؟

جنتيان: ای زمونږ ربه! د دې نعمتونو څخه به څه شی بهتر وي (چې ته يې مونږ ته راکړې)؟!

---

(١) تفسير الخازن ج٣ ص١٥٧

(٢) البحر المحيط ج٥ ص٠ ٤٦

(٣) روح المعاني ج١٠ ص١٣٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ: «أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا»[۱] خپله رضا به درباندي درپرانيزم نو د دې څخه وروسته درباندې د همېشه دپاره نه په قهر کېږم.

## يادونه

۴ـ په دې مقام کښې هم ځينو مفسرينو کرامو د جنت مربوط احاديث راغونډ کړي دي[۲] ـ الله ﷻ دې ورته اجر ورکړي ـ که څوک فرصت لري او هلته مراجعه وکړي نو ډېر به ښه وي.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَـٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾ ﴾

[۷۳] ای پیغمبره! د کفارو سره جهاد وکړه او د منافقانو سره هم (جهاد پرینږدي) او په دوی باندې ښېګوالی وکړه (د نرمۍ څخه د دوی په باره کښې کار مه اخله).
او د دوی (ټولو) استوګنځای دوزخ دی، او د بېرته ورستنېدلو ډېر بد ځای دی (دا دوزخ).

## ارتباط

د ډېر وړاندې ځای څخه د ايتونو بحث په منافقانو کښې را روان دی مګر د منافقانو د ښه پېژاندلو دپاره د مؤمنانو څه حالات هم بيان شوه ترڅو منافقان ښه وپېژاندل شي. خلک وايي چې "تعرف الأشياء بأضدادها" شيان د خپلو اضدادو په پېژاندلو سره پېژاندل کېږي.
نو څرنګه چې دغه مطلب پوره شو نو اوس دا دی د ايتونو مخه بېرته د منافقانو بحث ته وروااوښته، نو حاصل يې داسې راخيژي چې:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! د دې دپاره چې امت درپسې اقتداء وکړي، د کفارو او هم د منافقانو سره مجاهده وکړه او د هرې ډلې سره موافق چال چلند وکړه او په دوی باندې لږ څه سختي وکړه او د نرمښت څخه ورسره کار مه اخله، هغه وخت تېر شو چې ته يوازې د څرګندو کفارو په جهاد باندې مکلف وې، نن ورځ د منافقانو سره هم جهاد ضرور دی البته هغه ډول جهاد چې حال يې غوښتنه وکړي. يا په بل عبارت: زياتي د منافقانو په منافقت باندې پردې مه اچوه او د جناياتو څخه يې اغماض مه کوه.

۲ـ ای پیغمبره! که څه هم منافقان او نور کفار په دنياوي چال چلند او يا د جهاد په نوعيت کښې سره فرق لري مګر په اخروي حالت او عذاب کښې ټول دوزخيان دي او د ټولو استوګنځای دوزخ دی چې د بېرته ورتللو ډېر بد او ناکاره ځای دی.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۹؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۸
(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۳۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څه هم په ایت شریف کښې خطاب نبي کریم ﷺ ته متوجه دی مګر ټول امت په غوږ وهلی شوی دی چې باید دوی ټول هم د کفارو سره جهاد وکړي او هم د منافقانو سره.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د کفارو سره خو نبي کریم ﷺ هم وسلوال جهاد کړی دی او امت هم په وسلوال جهاد باندې مکلف دی، اما پوښتنه دا ده چې د منافقانو سره نبي کریم ﷺ په څه ډول جهاد کړی وه چې اسلامي امت هم په همغه ډول جهاد باندې خپل مکلفیت وپېژني؟

مونږ وایو چې: د جهاد لغوي معنی خو دا ده چې څوک خپله وسه د دښمن په مخنیوي کښې تمامه کړي[1] برابره خبره ده چې په توره سره وي او که په ژبه او یا په بل شي. په همدې عمومیت باندې ذکره شوې کلمه استعماله شوې هم ده، لاندې نصوص ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ»[2] یعنې: یقیناً مؤمن سړی په خپلې تورې سره جهاد کوي او په خپله ژبه هم (جهاد کوي).

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ»[3] یعنې: تکړه مجاهد هغه دی څوک چې د خپل ځان سره جهاد وکړي او د غیر شرعي خواهشاتو (غوښتنو) مخه یې ونیسي.

لنډه دا چې نبي کریم ﷺ د خپل وخت د منافقانو سره وسلوال جهاد نه وو کړی بلکې د دوی سره د جهاد ډولونه هغه دي کوم چې الله ﷻ د دنیاوي عذاب په نامه باندې یاد کړي دي او مونږ یې څو مثالونه د [التوبة:۶۶] ایت لاندې ښودلي دي چې ټول د منافقانو په رسوا او شرمنده کولو کښې را خلاصه کېږي. یا په بل عبارت: نبي کریم ﷺ د خپل وخت د منافقانو سره په ژبې او په هغو کارونو سره جهاد کړی وه چې د هغوی شرمندګي به پکښې نغښتې وه.

د همدې کبله عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما د ذکر شوي ایت شریف تفسیر داسې کړی دی چې: «جَاهِدِ الْكُفَّارَ بِالسَّيْفِ وَالْمُنَافِقِينَ بِاللِّسَانِ»[4] یعنې: ای پیغمبره! د کفارو سره په توره جهاد وکړه او منافقانو سره په ژبه جهاد اجراء کړه.

نو محمدي امت هم مکلفیت لري چې د هغو ټولو خلکو سره چې د منافقت علامات پکښې ځرګند وي په ژبه باندې جهاد وکړي چې د منکراتو څخه یې منعه کړي او په نېکو کارونو باندې ورته امر وکړي او هم یې اعتراضاتو ته جواب ورکړي او شبهات یې پورته کړي او داسې نور.

البته دا تر هغه وخته پورې چې هغوی بالکل ځرګند کفر نه وي اختیار کړی او د مسلمانۍ دعوه

---

(۱) مفردات الراغب ص۹۹

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص ۳۵۰

(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۹۱

(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکي وي، او که بواح (څرګند) کفر ته یې لاس واچاوه نو بیا خو د دوی او د نورو کا فرانو څه فرق نشته.

په ذکر شوي مضمون باندې د ﴿ وَٱغۡلُظۡ ﴾ جمله هم دلالت کوي چې د ﴿ جَٰهِدِ ﴾ په تعقیب نازله شوې ده، ته به وایې چې دا د هغې تفسیر دی. یعنې: ای پیغمبره! د منافقانو سره د نن څخه وروسته د پخوا غوندې نرمه وضعه مه کوه او په دوی باندې د زیګوالي څخه کار واخله.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د منافقانو سره په جهاد باندې ډېر وروسته امر وکړی شو حال دا چې د مجاهرو (څرګندو) کفارو څخه خو د دوی خطر زیات دی؟

مونږ وایو چې:

الف: د منافقانو سره په جهاد کښې یا د دوی په رسوا کولو کښې دا خطره وه چې دوی پخپله توري ته لاس کړي او د څرګندو کفارو په ګټه د داخل څخه جنګ پیل کړي، حال دا چې که داسې شوي وی نو مؤمنان به په داخلي جنګونو مصروف شوي وی چې نه به یې د مدینې منورې څخه دباندې د نورو کفارو سره د جنګ فرصت موندلی وی او نه به عربي جزیره د مشرکانو څخه پاکه شوې وی.

په دې باندې علاوه، که په داخل کښې د منافقانو سره د همدوی د پلوه جنګ پیل شوی وی نو ضرور به ځینې منافقان وژل کېده، حال دا چې دا وژنه به اسلام ته د کم رغبتۍ سبب جوړه شوې وی او ګومان به شوی وی چې په اسلام کښې د خلکو وینه خوندي نه ده او هغه خلک هم وژل کېږي چې اسلام یې قبول کړی دی. په همدې مطلب باندې لاندې حدیث شریف ډېر ښه دلالت کوي:

یوه ورځې په یوه غزا کښې د منافقانو مشر (عبد الله بن أُبی ابن سلول) د کفر خبره وکړه چې که مدینې منورې ته ورسیږو نو معزز خلک به ذلیل خلک د وطنه وشړي، یعنې: مونږ به نبي کریم ﷺ او د ده ﷺ ملګري د مدینې منورې څخه وباسو.

نو کله چې ذکره شوې کفري خبره نبي کریم ﷺ ته ورسېده نو عمر الفاروق ﷺ ودرېد او ویې ویلې چې: ای د الله رسوله! ماپرېږده چې د دغه منافق سر په توره باندې پرې کړم.

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ: «دَعْهُ لا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ»[1] یعنې: نوموړی پرېږده (مه یې وژنه) ترڅو په خلکو کښې اوازه خوره نه شي چې محمد ﷺ خپل ملګري وژني. دښمنان به ترې د مسلمانېدلو څخه د مخنیوي کار واخلي او وایي به چې: ای خلکو! په اسلام کښې مه داخلېږئ که نه نو بله ورځ به درباندې د منافق نوم کېښودل شي او وبه وژلی شئ.

اما کله چې عربي جزیره د مؤمنانو په قبضه کښې ورغله او د کفارو زور مات شو نو ذکره شوې خطره ورکه شوه چې منافقان به بغاوت وکړي او د داخل څخه به جنګ پیل کړي او بالآخره مؤمنان به د یوې لومې په عوض په دوه وو لومو کښې ونښلي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ترڅو پورې چې په جزيرة العرب (عربي نړۍ) کښې اسلامي انقلاب نه وه کامياب شوی نو منافقت يا پټه دښمني يوازې څو کسانو ته پاتې وه چې ښه پوره قوي جبهه يې نه درلوده او په دښمنۍ کښې يو وستوي وه.

اما کله چې اسلامي انقلاب کامياب شو نو ډېرو مجاهرو (ښکاره) کفارو هم خپله تګلاره بدله کړه او منافقت ته يې لاس واچاوه او بالآخره اسلامي حکومت ته يې خپل ځانونه د لستوڼي ماران جوړ کړه.

نو که بالفرض په دغه وخت کښې هم د منافقانو په هکله د جهاد يا رسوا کولو توصيه نه وی شوې نو د دې خطر وه چې دوی ساده لوحي مسلمانان د ځانونو سره مله کړي وی او د اسلامي حکومت سرچپه کولو دپاره يې قوي جبهه تشکيله کړې وی.

خو د دوی سره د جهاد يا رسوا کولو په اعلان باندې د يو پلوه د قوي جبهې د جوړولو خطره د منځه لاړه او د بله پلوه د ساده لوحو مسلمانانو د تېر ويستلو چانس د لاسه ووت.

## د ايت شريف ارشاد

۴ـ ذکر شوی ايت شريف ټولو مؤمنانو ته د قيامت د ورځې پورې ارشاد کوي چې کله وسلوال جهاد د مجاهرو (ښکاره) کفارو سره کامياب شي نو په کار دي چې تاسو د منافقانو په جهاد باندې په ښه پوره جديت سره پيل وکړئ، ترڅو ستاسو په داخل کښې د اسلامي حکومت د ړنګولو هڅه ونه کړي او ساده لوحي مسلمانان او يا فاسق مسلمانان د ځانونو سره ملګري نه کړي.

د منافقانو سره جهاد دا دی چې هغوی رسوا کړئ، چې عام او خاص يې وپېژني ترڅو د هغوی په ظاهري ښه باندې څوک ونه غولېږي او په لستوڼي کښې درته د مارانو جاله جوړه نه کړي.

مونږ چې د ذکر شوي ايت شريف مضمون ته وګورو او د افغانستان په موجوده حالاتو باندې يې تطبيق کړو نو داسې راته برېښي چې دغه ايت شريف د افغانستان د اسلامي انقلاب د کاميابۍ په اولنيو وختونو[1] کښې نازل شوی دی، ځکه چې مونږ د انقلاب دکاميابۍ څخه وروسته وليده چې کمونستانو خپل ځانونه مسلمانان معرفي کړه او د منافقت په لباس کښې يې د اسلام د تخريب دپاره کارونه پيل کړه او بالآخره د پټو غونډو په جوړولو باندې يې لاس پورې کړ.

که څه هم د دوی سره په ځينو ځايونو کښې مقاومت وکړی شو لکه چې د ننګرهار په ولايت کښې کمونستانو د مظلومانو په نامه يو تنظيم ترتيب کړ چې په نتيجه کښې ورباندې د ننګرهار مخلصو مجاهدينو عمليات وکړه او د هغوی تنظيم يې تار په تار کړ.

خو افسوس چې مجاهدين په خپلو منځو کښې اتفاق او اتحاد نه لري او کمونستان د دوی د اختلاف څخه ګټه پورته کوي، نو اوس هم په افغانستان کښې کمونستي تنظيمونه په سري توګه او يا حتی په علني توګه جريان لري. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

---

(۱) ۱۳۷۱/۲/۵ هـ ش نېټه

﴿ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرًا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٧٤﴾ ﴾

[۷۴] (ای پیغمبره!) دوی (منافقان تاسو ته) په الله ﷻ سره سوګند کوي چې دوی (هغه خبره) نه ده ویلې (نه ده کړې کومه چې تاته رسېدلې ده). حال دا چې یقیناً دوی د کفر خبره کړې ده او د مسلمانېدلو څخه وروسته (پرې ببرته) کافران شوي دي. او (په دې باندې علاوه) دوی هغه شي ته هم (ستاسو په ضرر) قصد کړی وه چې دوی مونده نه کړ (ورباندې کامیاب نه شوه).

او د دوی بد نه ایسي (بل شي نه دي په غُصه کړي) مګر (دې خبرې) چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ په خپل فضل (حلال مال) سره دوی غنیان کړه (او په ګټه یې ماړه کړه).

نو که دوی توبه وباسي نو دا به ورته بهتره وي (اوس هم سر وخت دی)، او که دوی (د توبې څخه) بېرته تاو شي نو الله ﷻ به دوی په دنیا او آخرت کښې په دردناک عذاب باندې معذب کړي. او (بیا) به دوی ته په ځمکه کښې نه دوست وي او نه کومکي (چې د عذاب څخه نجات ورکړي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د منافقانو یوې کفري خبرې ته اشاره شوې ده چې په خاصو مجالسو کښې یې ورباندې تلفظ کړی وه خو بیا پرې انکاري شوه او خپل انکار یې په سوګندونو باندې تائیداوه، او هم پکښې د یوه ناکاره ارادې (سوء قصد) ذکر دی چې منافقان پرې کامیاب نه شوه. چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د منافقانو په باره کښې په خپل امت باندې لاندې هدایات هم ولوله چې د قیامت د ورځې پورې ترې عبرت واخلي:

۱ـ ستاسو په هکله منافقان په خپلو خاصو مجالسو کښې د کفر خبرې کوي خو چې تاسو یې کله د استنطاق لاندې ونیسئ؛ چې دا ولې؟ نو دستي په الله ﷻ سره سوګندونه وکړي چې مونږ دغه کفري وینا نه ده کړې حال دا چې دوی دروغ وایي، کفري وینا یې کړې ده او خپل ځانونه یې ورباندې کفر ته ویستلي دي.

د منافقانو دا یوه کفري خبره نه ده چې اوس پرې انکاري دي بلکې دوی روزمره تازه په تازه خپل ځانونه کفر ته وباسي، نو کفر ته وتل یې یو جنایت دی او په دروغو باندې سوګندونه یې بل جنایت دی.

۲ـ منافقان ستاسو په باره کښې په هیڅ جنایت باندې صرفه نه کوي او غوارې چې تاسو ته لوی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضرر دوررسوي خو الله ﷻ تاسو د دوی د لوی ضرر څخه ساتي، نو دوی تاسو ته فقط د خولې جزئي ضرر رسولی شي او بس.

د همدې کبله الله ﷻ د دوی هغه سوء قصد (بد نیت) ناکام کړ په کوم کښې یې چې ستاسو دپاره د لوی ضرر رسولو پلان سنجولی وه، چې یا پیغمبره ﷺ شهید کړي او یا په همدې سویه بل ناکاره کار وکړي.

۳ـ منافقانو ته په کار وه چې ستاسو په ښېګڼه او خیر رسولو کښې یې زیار ویستلی وي او دا ځکه چې دوی خو همدا ستاسو په سبب د مال او ثروت خاوندان شوه او د فقر څخه یې نجات موند، نو باید چې ستاسو شکریه یې کړې وی او که نه نو اقلا باید ستاسو د ضرر رسولو هڅه خو یې بالکل نه وی کړې.

لنډه دا چې منافقان تاسو ته په بل شي باندې په غُصه نه دي فقط په همدې خبرې باندې درته غُصې نیولي دي چې الله ﷻ او د ده پیغمبر ﷺ په خپل فضل سره دوی غنیان او بډایان کړه او د فقر څخه یې خلاص کړه. یا په بل عبارت: په تاسو کښې (د منافقانو په خیال) بل عیب نشته فقط همدا مو عیب دی چې دوی مو په ګېډه ماړه کړه او د فقر څخه مو خلاص کړه.

۴ـ اوس هم د توبې دروازه ښېرته ده، که منافقان د کفري ویناګانو او کفري کارونو څخه توبه تائب شي نو دا به د دوی په ګټه تمامه شي او په دنیا او آخرت کښې به د عذابونو څخه نجات مونده کړي. که نه نو په دنیا او آخرت کښې به د دردناک عذاب سره مخامخ شي او بیا به په ځمکه کښې داسې څوک مونده نه کړي چې د الهي عذاب څخه یې یا په دوستۍ او یا په زور او قوت سره خلاص کړي. حال دا چې نن ورځ د دوی د نجات چاره ډېره اسانه ده، هغه دا چې توبه وباسي او بیا ورباندې کلک ودرېږي.

## توضیحات

۱ـ علماوو کرامو د منافقانو د کفري خبرې په تعین کښې لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: ځینې منافقان د نبي کریم ﷺ سره د تبوک غزا ته هم وتلي وه، نو کله به چې دوی د مجاهدینو څخه جدا شوه نو په خپلو خاصو مجالسو کښې به یې نبي کریم ﷺ او صحابه کرام ﷺ په بدو نومونو سره یادول، پوچې خبرې به یې وربېسې کولې او بالآخره په اسلام باندې به یې د باطل دین نوم ایښوده.

بله ورځ نبي کریم ﷺ د هغوی د خاصو مجالسو څخه خبر شو نو دوی یې مخاطب کړه چې: «يَا أَهْلَ النِّفَاقِ مَا هَذَا الَّذِيْ بَلَغَنِيْ عَنْكُمْ»[1] ای منافقانو! دا څه خبرې دي چې ستاسو څخه ماته رارسېدلي دي؟ نو هغو دستي ټپ منکر شوه چې مونږ دا ویناوې نه دي کړي.

ب: یوه ورځې د الجلاس بن سوید په نوم یوه منافق د نبي کریم ﷺ په غیاب کښې وویلې چې که دا (محمد ﷺ) ربښتیا وایي نو مونږ به د خرو څخه بدتر یاستو، یعنې دی دروغژن دی.

---

[1] اسباب النزول للواحدي ص ۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ده سره په عین وخت کښې عمیر بن سعد ﷺ هم موجود وه چې د نوموړي منافق پرکتی (د مېرمنې زوی) وه. د منافق دا خیال وه چې عمیر ﷺ به د خپلولۍ د کبله زما خبره نبي کریم ﷺ ته ونه رسوي، خو عمیر ﷺ خپلولۍ ته شا کړه او د منافق په کفري خبره باندې یې نبي کریم ﷺ ته اطلاع ورکړه.

کله چې الجلاس خبر شو چې نبي کریم ﷺ ته یې خبره رسېدلې ده نو د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغی او په سوګندونو سره یې رسېدلې شوې خبره دروغ وبلله او ویې ویل چې عمیر په ما باندې دروغ تړلي دي. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او د عمیر ﷺ د خبرې تصدیق یې وکړ[۱].

وایي چې نوموړی الجلاس په اخلاص سره توبه تائب شو او د منافقت څخه یې لاس واخست[۲].

ج: ځیني علماء کرام وایي چې کفري خبره د هغې خبرې څخه عبارت ده کومه چې په یوه غزا کښې عبدالله بن أُبي بن سلول (رئیس المنافقین) کړې وه چې که مونږ مدینې منورې ته بېرته ستانه شوو نو عزتمند خلک به بې عزته خلک وباسي، یعنې مونږ به مسلمانان د مدینې منورې څخه وباسو. خو کله چې نبي کریم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ نو سوګند یې وکړ چې دا خبره مانه ده کړې چا راباندې دروغ جوړ کړي دي[۳].

نوموړی څکه په غُصه شوی وه چې یوه مهاجر د یوه انصاري سره جګړه پېښه شوه او نوموړي د انصاري پلوي وکړه او جنګ یې تازه کړه، حتی نژدې وه چې د همدغه منافق په ذریعه انصار او مهاجر سره دوه پړقه شي او لوی جنګ جوړ شي؛ خو نبي کریم ﷺ دواړه جانبه قرار کړه او توصیه یې ورته وکړه چې: «دَعُوهَا فَإِنَّهَا خَبِيثَةٌ»[۴] یعنې: جاهلیت پرېږدئ څکه چې دا ناپاکه (بوین) خاصیت دی.

د: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ یو شین سترګی سړی مخاطب کړ چې: «عَلامَ تَشْتُمُنِي أَنْتَ وَأَصْحَابُكَ»[۵] یعنې: ماته په څه دلیل ته او ستا ملګري کنځلې کوئ؟ نو شین سترګی سړی لاړ او خپل ملګري یې راوستل او په سوګندونو سره یې وویل چې مونږ تاته سپکې خبرې او کنځلې نه دي کړي. نو الله ﷻ د دوی د سوګندونو تکذیب نازل کړ.

## تبنصره

۲_ مونږ ته دا بهتره ښکاري چې د منافقانو د ذکر شوو خبرو څخه په یوه خبره باندې هم د ایت شریف مفهوم محصور ونه ګرځوو او په عموم سره یې پرېږدو ترڅو ذکرو شوو ټولو کفري خبرو ته شامل شي او حتی هغوی نورو کفري خبرو ته هم شامل شي چې مفسرینو کرامو نه دي ذکر کړې، او دا څکه چې د منافقانو کفري خبرو څه محدودیت او محصوره اندازه نه درلوده.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۷۱
(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۱۱
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۱۶۰، المحرر الوجیز ج۸ ص۲۳۴
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۹
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## منافقان په کوم قصد کښې ناکام شوه؟

۳_ مفسرینو کرامو د دې جملې ﴿ وَهَمُّواْ بِمَا لَمْ يَنَالُواْ ﴾ په تفسیر کښې هم ډېر واقعات لیکلي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: کله چې الجلاس بن سوید منافق هغه کفري خبره وکړه کومه چې په اوله توضیح کښې ذکره ده او پوه شو چې عمیر بن سعد ﷺ دغه خبره نبي کریم ﷺ ته رسولې ده نو قصد یې وکړ چې هغه شهید کړي خو کامیاب نه شوه او شهید یې نه شو کړی[1].

ب: همدارنګه د منافقانو مشر (عبدالله بن أبی) چې کوم پلان طرحه کړی وه چې مدینې منورې ته په رسېدلو سره سم به صحابه کرام ﷺ د مدینې منورې څخه وباسي. هغه خنثی شو او د ناکامۍ سره مخامخ شو[2].

ج: منافقانو قصد کړی وه چې خپل مشر (عبد الله بن أبی) ته د مشر په حیث تاج ور په سر کړي او د نبي کریم ﷺ په مقابل کښې یو قوي تنظیم جوړ کړي، خو دا ارمان یې د خپلو ځانونو سره خاورو ته یوو وړ او ناکام شوه[3].

د: د یوه اوږده حدیث شریف مضمون دی[4] چې د تبوک د غزا څخه د بېرته راستنېدلو په لاره کښې څو متعددو کسانو (منافقانو) اوربوزونه تړلي وه (مخونه یې پټ کړي وه) او غوښتل یې چې نبي کریم ﷺ شهید کړي، خو _لله الحمد_ دسیسه یې شنډه شوه او د ناکامۍ سره مخامخ شوه.

زمونږ په فکر دلته هم حصر مطلب نه دی څه لرې نه ده چې منافقانو به په بد نیت ډېر پلانونه طرحه کړي وي چې په ځینو باندې به مسلمانان خبر شوي وي او ځینې به پټ پاتې وي او بالآخره ځینې به تفاسیرو لیکلي وي او ځینې به نه وي لیکلي شوي خو الله ﷻ ټول ناکام کړي دي او د ټولو ناکامۍ ته یې په ذکر شوي ایت کښې اشاره کړې ده.

## الله ﷻ منافقان په ګېډه ماړه کړه

۳_ علماء کرامو د دې جملې ﴿ أَغْنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ دپاره لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: ځینې علماء کرام وايي[5] چې ذکره شوې جمله دې ته اشاره ده چې د منافقانو د مشر (عبدالله بن أبی) او یا د الجلاس یو غلام چا وژلي وه او دوی د کمزورۍ د کبله نه شو کولی چې د قاتل څخه یې دیت واخلي. خو نبي کریم ﷺ ورته د مقتول غلام دیت واخست چې دولس زره درهمه وه، او د غلام مولی یې په ګېډه باندې موړ کړ.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۷۲
(۲) تفسیر الطبري ج۱۰ ص۱۸۷
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۳۱۹
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۰۷
(۵) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته داسې برېښي چې دغه قیصه به د مثال په توګه ذکره شوې وي او حصر به مطلب نه وي ځکه چې په ﴿ أَغْنَنٰهُمُ ٱللَّهُ ﴾ کښې خو د "هُمْ" ضمیر د جمعې دی چې ټولو منافقانو ته راجع دی، نه یوه کس ته.

ب: د مدینې منورې عام خلک -چې منافقان هم پکښې شامل وه- د نبي کریم ﷺ د ورتګ څخه وړاندې په ډېره تنګسه کښې واقع وه او ګذاره یې ډېره لنډه او تنګه وه، دوی د کمزورۍ د کبله نه شو کولی چې د غزا په آسونو باندې سواره شي اوغنیمتونه راغونډ کړي. اما هلته د نبي کریم ﷺ په هجرت سره په دوی کښې د غزا توان پیدا شو او د استقلال خاوندان شوه چې اسلامي بېرغ په ټوله عربي جزیره کښې ورپېده او د غنیمتونو بهیر ورباندې ورمات شو.

ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره وکړه -البته کله یې چې انصار مخاطب کړه- چې: «يَا مَعْشَرَ الأَنْصَارِ أَلَمْ أَجِدْكُمْ ضُلاَّلًا فَهَدَاكُمُ اللهُ بِي وَكُنْتُمْ مُتَفَرِّقِينَ فَأَلَّفَكُمُ اللهُ بِي وَعَالَةً فَأَغْنَاكُمُ اللهُ بِي»[1] یعنې: ای د انصارو ټولیه! ایا تاسو ما ګمراهان نه وئ موندلي چې الله ﷻ درته په ما باندې هدایت وکړ، او تاسو ټوټه-ټوټه (بې اتفاقه) وئ نو الله ﷻ زما په سبب ستاسو په منځکښې الفت (محبت) واچاوه، او (بالآخره) تاسو فقیران وئ نو الله ﷻ زما په سبب تاسو غنیان وګرځولئ؟

زمونږ په فکر دا هم څه لرې نه ده چې ذکره شوې جمله د منافقانو د هغې خبرې رد ته اشاره وي کومه چې الله ﷻ مونږ ته د دوی د خولو څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا۟ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا۟ ﴾ [المنافقون:۷] یعنې: منافقان هغه خلک دي کوم چې یو تربله وایي چې په هغه چا باندې خپل مال مه مصرف کوئ چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ په شاوخوا راټول دي ترڅو دوی ترې خواره واره او تار په تار شي.

د رد حاصل یې داسې راوځي چې: مؤمنان ستاسو مال ته احتیاج نه دي، تاسو خو په خپله ګېډه وږي وئ خو د نبي کریم ﷺ په برکت سره په ګېډه ماړه او په جامه باندې پټ شوئ، مګر تاسو ناشکره خلک یاست.

﴿ وَمِنْهُم مَّنْ عَـٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُوا۟ بِهِۦ وَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِى قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ بِمَآ أَخْلَفُوا۟ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّـٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾ ﴾

[۷۵] او د منافقانو څخه ځینې هغه کسان دي چې د الله ﷻ سره یې (په کلکه) عهد کړی وه

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(داسې چې) که الله ﷻ مونږ ته د خپل فضل څخه (څه مال) راکړي (چې مونږ ورباندې غنيان وګرځو) نو هرومرو خامخا به مونږ صدقات (زکاتونه) ورکړو او هرومرو خامخا به مونږ د صالحانو څخه جوړ شو (خيراتونه به هم وکړو).

[۷۶] نو کله چې الله ﷻ دوی ته د خپل فضل څخه (هغه څه) ورکړه (چې دوی يې غوښتنه کوله) نو دوی پرې بخل وکړ (زکاتونه يې ورنه کړه) او (د خپل عهد څخه) بېرته تاو شوه، حال دا چې دوی (د همېشه دپاره د حق څخه) مخ اړوونکي خلک دي.

[۷۷] نو الله ﷻ (د دوی د کړنلارې نتيجه) د دوی په زړونو کښې منافقت وګرځاوه (چې) د داسې ورځې پورې (به ادامه ولري) چې دوی د الله ﷻ سره ملاقي شي (مړه شي).

(دا) ځکه چې دوی د الله ﷻ سره په هغه شي کښې بد عهدي وکړه چې دوی ورسره وعده کړې وه (او خپل عهد يې د پښو لاندې کړ) او (دا) ځکه چې دوی وه چې دروغ يې ويلې (په دروغو يې وعده کړې وه).

[۷۸] ايا دوی نه پوهېده چې يقينًا الله ﷻ د دوی په پټو حالاتو پوهېږي او د دوی په رازونو باندې هم (پوهېږي) او يقينًا الله ﷻ په ټولو غيبو باندې ښه پوهېدونکی دی.

## ارتباط او شان نزول

په وړاندې ايت کښې د منافقانو په حالاتو کښې د دې خبرې ذکر هم شوی وه چې الله ﷻ دوی غنيان کړه او د دوی فقيري ته يې خاتمه ورکړه مګر دوی په شکرانه کښې د الله ﷻ اطاعت ونه کړ بلکې بالعکس يې د مؤمنانو پسې د سپکو سپړودو دپاره پايځې راپورته کړې.

په دې ايتونو کښې يو مثال ښودلی شوی دی چې په ذکر شوی مضمون باندې پوره رڼا اچوي.

اما د شان نزول په باره کښې يې څو متعدد واقعات روايت شوي دي[۱] چې يو تربله سره هيڅ منافات نه لري نو که د ايت شريف دپاره ټول شان نزولونه وګڼلی شي هم څه باک يې نشته. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

۱ـ د منافقانو څخه څو غټو-غټو منافقانو هغه خبره کړې وه کومې ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده چې که مونږ الله غنيان کړو نو خيراتونه به کوو او هيڅ مالي حقوق به په خپلو غاړو باندې پرېنږدو[۲].

۲ـ د انصارو څخه يو سړی يوې ډلې ته ورغی او د هغوی په وړاندې يې اقرار وکړ چې که ماته الله ﷻ مال راکړ نو زه به يې ټول حقوق په خاې کړم او هيڅ نقصان به پکښې واقع نه کړم. مګر په نتيجه کښې په هغه مصيبت باندې اخته شو کوم ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده[۳].

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۳۲۱
(۲) تفسير القرطبي ج۸ ص۲۱۰
(۳) تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ اکثرو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ثعلبه بن حاطب الانصاري اوږده قیصه د شان نزول په حیث ښودلې ده[۱] حتی چې ځینو لا ورته د صحت لقب ورکړی دی[۲]، د ذکرې شوې قیصې لاندې څو مهم ټکي ولولئ:

الف: د انصارو څخه یو سړی (چې ثعلبه بن حاطب نومېده) ډېر متقي او پرهېزګار سړی وه، حتی چې د "حمامة المسجد" (د جومات کوتره) لقب یې ګټلی وه.

ب: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په حضور مشرف شو او ویې ویل چې: ای د الله رسوله! زما دپاره الله ﷻ ته سوال وکړه چې ماته ښه ډېر مال راکړي. که څه هم نبي کریم ﷺ ورته ډېر نصائح وکړه چې ډېر مال مه غواړه، قناعت بهتر شی دی هسې نه چې حقوق یې پوره نه شې کړی او د ناشکرۍ د کبله د لوی مصیبت سره مخامخ شې.

ج: نوموړی په خپله خبره باندې ډېر کلک وه او نصائحو ورباندې څه اثر ونه غورزاوه، نو نبي کریم ﷺ د الله ﷻ په دربار کښې د سوال لاسونه پورته کړه او سوال یې وکړ چې: ای ربه! نوموړي ته ښه ډېر مال ورکړه.

د: الله ﷻ د خپل پیغمبر سوال قبول کړ او نوموړي ته یې ښه ډېر مال ورکړه آن تر دې چې د جومات کوتره د خپل مال د حفاظت دپاره دباندې والوته، چې په اولو وختونو کښې به صرف پنځه وخته لمونځونوته حاضرېده او د اشراق نوافل ترې پاتې شوه.

ه: د وخت په تېرېدلو سره به صرف د جمعې لمانځه ته حاضرېده او نور وخت به یې په بیدیا کښې د خپلو مالونو په ساتنه کښې مصرفاوه.

و: بالآخره د جمعې لمونځونه هم ترې پاتې شوه او د جومات کوترې بالکل خپله علاقه د جومات سره پرې کړه او د جومات جاله یې ورانه شوه.

ز: کله چې نبي کریم ﷺ د زکات د راغونډولو په غرض یو ټولګی ورواستاوه او د نوموړي د مالونو ورغالي ته ورغله او غوښتنه یې ترې وکړه چې د خپل مال حقوق ورکړه او خپل عهد باندې وفا وکړه.

ح: ذکر شوي تازه غني شوي ثعلبه د زکات د ورکړې څخه انکار وکړ او ویې ویل چې دا خو نور څه نه دي فقط د جزیې مثال لري چې د ذمیانو څخه اخستله کېږي، زه خو څه ذمي نه یم.

ط: نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونو نازل کړه او د نوموړي وعده خلافي یې په ډاګه کړه.

ی: د همدغو ایتونو څخه د نوموړي ځینو خپلوانو هغه (ثعلبه) خبر کړ چې ستا په باره کښې خو د قرآن کریم څو ایتونه نازل شوه.

یا: نوموړی نبي کریم ﷺ ته په ژړا باندې ورغی او داسې یې وویلې: ای د الله رسوله! زما څخه جنایت شوی دی ماته عفوه وکړه او دغه دی زما د مالونو زکات هم قبول کړه.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۳۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۷۳؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۷۲
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۱۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یب: نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې الله ﷻ زه د ستا د مالونو په باره کښې منعه کړی يم چې زکات دې قبول کړم، ته پوهېږې او مال دې.

یج: نوموړي د خپل مال زکات د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته ابو بکر الصديق ته ؓ او بيا عمر الفاروق ؓ ته او بالآخره بيا عثمان ذي النورين ؓ ته وړاندې کړ، مګر يوه هم قبول نه کړ او جواب يې ورکړ چې مونږ به هغه زکات څنګه قبول کړو کوم چې نبي کريم ﷺ نه دی قبول کړی.

ید: نوموړی د عثمان ذي النورين ؓ په خلافت کښې مړ شو او خبره يې ختمه شوه.

## سوال جواب

که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ د نوموړي د زکات د قبول څخه منعه کړ؟ ايا دا ډول کار اوس اسلامي حاکم ته جواز لري چې د چا د زکات د قبلولو څخه ډډه وکړي؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی عدم قبول په وحې باندې ولاړ وه او څرنګه چې اوس وحې قطعه ده نو په کار دي چې اسلامي حاکم د چا د زکات د قبول څخه ډډه ونه کړي.

پاتې شوه دا خبره چې د څه حکمت په بنياد الله ﷻ خپل پيغمبر ته ذکر شوی فرمان رانازل کړ؟، نو شايد چې هلته به يې لاندې اسباب درلوده، والله ﷻ اعلم:

اول: الله ﷻ ته د هغه زړه معلوم وه چې د زکات وړاندې کول يې د رياکارۍ په منظور وه او کومه شبهه چې د هغه په زړه کښې ناسته وه هغه يې د مرګ د ورځې پورې د زړه څخه ونه وتله، هغه دا چې زکات خو جزيې ته ورته دی. حال دا چې نن ورځ د زړونو حال زمونږ څخه پټ دی وحې قطعه ده.

دوهم: په هغه وخت کښې د زکات عدم قبول يو ډول توهين (سپکاوی) وه چې د خجالت سبب ګڼل کېده. يا په بل عبارت: دا يو ډول عذاب وه چې الله ﷻ نوموړي ثعلبه ته ورکړ. اما نن ورځ خو د زکات عدم قبول نه چاته سپکاوی ښکاري او نه د تعذيب بڼه لري.

دريم: ترڅو د منافقانو هغه خبره رد کړی شي کومه به چې دوی په خپلو خاصو مجالسو کښې کوله چې مسلمانان مونږ ته احتياج دي که مونږ ورباندې څه مال مصرف نه کړو نو د نبي کريم ﷺ د شاوخوا څخه به تار په تار شي. چې پوره بيان يې د [المنافقون:۷] ايت لاندې راروان دی، ان شاء الله ﷻ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وايي چې: ثعلبه بن حاطب الانصاري خو د بدر د غازيانو څخه وه حال دا چې د دوی په باره کښې نبي کريم ﷺ په قدسي حديث کښې فرمايي چې الله ﷻ د بدر غازيان مخاطب کړه چې: «اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ أَوْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ»[1] يعنې: څه مو چې خوښه وي عمل وکړئ نو يقيناً تاسو ته جنت واجب دی. او يا (د راوي شک دی) نو يقيناً تاسو ته مې مغفرت کړی دی.

---

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۵۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې ایا نوموړی ثعلبه د منافقت په حال باندې مړ شو چې د دوزخ په ټیټه طبقه کښې به یې ځای وي؟

موږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د همدغه سوال د کبله ذکره شوې قیصه غلطه ګڼلې ده[۱]، مګر زموږ د تحقیق په بنیاد ذکره شوې قیصه غلطه نه ده خو ثعلبه هغه ثعلبه نه دی کوم چې د بدر د غازیانو څخه وه[۲]، ځکه چې د بدر غازي خو د احد په غزا کښې شهید شوی دی او د قیصې خاوند آن د عثمان ذي النورین ﷜ د خلافته پورې ژوندی وه[۳].

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د منافقانو د جملې څخه د یوې بلې ډلې حالات امت ته ولوله چې:

۱_ د منافقانو څخه ځینې داسې خلک هم شته چې د الله ﷻ سره په خپله خوله داسې عهد کوي چې که الله ﷻ موږ ته د خپل فضل څخه مال راکړي او موږ د فقر څخه د مړښت رتبې ته پورته کړي نو هرومرو به موږ هم زکاتونه ورکړو او بخل به ونه کړو او هم به هرومرو د نېکانو څخه جوړ شو چې په هیڅ خیرات او مالي انفاق باندې به صرفه ونه کړو.

۲_ نو کله چې همغه شی الله ﷻ د خپل فضل څخه ورکړ کوم چې دوی په زاریو باندې غوښت، نو دستي یې پرې بخل اختیار کړ او د فرضي زکات څخه یې انکار ته لاس واچاوه او بالآخره د جمله خیراتونو څخه په شا لاړه او د خپل عهد د پوره کولو څخه یې مخونه واړول.

۳_ نو په نتیجه کښې الله ﷻ د دوی په زړونو کښې د نفاق داسې ونه شنه کړه چې د مرګ د ورځې پورې به دوام وکړي او د منافقت په حال کښې به مړه شي، او دا ځکه چې دوی د یو پلوه هغه عهد مات کړ او وفا یې ورباندې ونه کړه کوم چې دوی الله ﷻ ته ورکړی وه، او د بله پلوه د بل چا سره نه بلکې د الله ﷻ سره د دروغو مرتکب شوی دی چې د عهد د غوټه کولو په وخت کښې یې لا نیت نه وه چې یا زکاتونه ورکړي او یا به د صالحانو د ډلې څخه خپل ځانونه شمېر کړي.

۴_ ای پیغمبره! دروغ د هرچا سره بد دي چې څوک یې مرتکب شي مګر د الله ﷻ سره په دروغو وعده کول ډېر بد دي نو د همدې کبله ذکر شوو منافقانو ته دا عتاب هم متوجه کېږي چې ایا دوی نه پوهېده چې یقیناً الله ﷻ په پټو حالاتو باندې پوه دی چې د چا په زړه کښې څه شی ګرځي راګرځي او په پټو مجالسو باندې هم پوهېږي چې څو کسان په خاصو مجالسو کښې څه خاصې مشورې وکړي او څه خاصې پرېکړې وکړي.

بلکې الله ﷻ په ټولو غیبو باندې (په هر ډول چې وي) ډېر ښه پوه دی او د ده ﷻ د پوهې څخه هیڅ شی نه شي په ځنګ کېدلی چې د الله ﷻ علم څخه بچ شي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۸ ص۲۱۰
(۲) الإصابة في تمیز الصحابة ج۱ ص۱۹۸
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د دې ایت شریف څخه ځینو علماوو کرامو دا حکم هم راویستلی دی چې هرڅوک چې په خپل ځان باندې څه شی نذر کړی ـاو په هغه کښې ثواب او اجر وي ـ چې که دا کار وشو نو زه به څه خیرات وکړم او یا به څه عبادت وکړم نو په هغه باندې لازمه ده چې په خپل نذر باندې وفا وکړي[۱].

ځینې لا وایي چې د دغسې نذر دپاره دا ضرور نه ده چې تلفظ وربانديې وکړي بلکې به زړه کښې نیول هم د نذر معنی ورکوي[۲].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا ﴾ کښې مستتر ضمیر الله ﷻ ته راجع دی او بارز ضمیر هغو منافقانو ته راجع دی په کومو کښې چې بحث روان دی. نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: الله ﷻ د ذکرو شوو منافقانو عاقبت (او نتیجه) نفاق جوړ کړ چې د بخل او بد عهدۍ په نتیجه کښې منافقان وګرځولی شوه حال دا چې دوی خو لا د عهد په وخت کښې منافقان وه.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د موجود نفاق موجودول عقل مني؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې جملې معنی دا نه ده چې په دوی کښې نوی منافقت راپیدا شو، بلکې مطلب يې دا دی چې منافقت يې دوامدار وګرځېد او د توبې توفیق يې مونده نه کړ.

په همدغه مطلب باندې لاندې دوه جملې په ډېره ښه توګه دلالت کوي:

الف: ﴿ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ ﴾ یعنې: د ذکرو شوو منافقانو منافقت د مرګ د وخته پورې دوامدار شو.

ب: ﴿ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ﴾ یعنې: دوی ته ځکه دغه جزا ورکړی شوه چې دوی د معاهدې په وخت کښې هم د دروغو مرتکب شوي وه او په دروغو باندې يې د الله ﷻ سره د صدقاتو معاهده کړې وه. یا په بل عبارت: دوی لا د عهد په وخت کښې منافقان وه.

﴿ ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ ﴾

[۷۹] (منافقان) هغه کسان (دي) چې د مؤمنانو د جملې څخه په خیرات کوونکو باندې په خیراتونو کښې عیب لګوي (چې دوی ریاکاران دي) او (هم د مؤمنانو د جملې څخه) په هغو کسانو (پسې هم د خیراتونو په هکله عیبژنې خبرې کوي) چې هغوی نه مونده کوي مګر طاقت خپل (لږ مال چې په مشقت سره يې حاصل کړی وي).

نو د دوی (دواړو ډلو) څخه سخریه (خندنی) کوي، الله ﷻ په دغو (منافقانو) باندې مسخرې کوي (د مسخرو جزا ورکوي) او دوی ته (د قیامت په ورځ) درد ناک عذاب دی.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۴۳
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۱۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

د وړاندې ایتونو مضمون دا وه چې منافقان پخپله بخیلان دي او په دې ایتونو کښې واضحه شوې ده چې دوی د نورو څخه هم غواړي چې د دوی غوندې بخیلان او شومان جوړ شي، د همدې کبله په سخیانو پورې ملنډې وهي چې د سخا څخه لاس واخلي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! منافقان هغه خلک دي چې پخپله خو په دوامدار ډول شومتیا کوي خو په عین حال کښې غواړي چې نور خلک هم د خپلو ځانونو غوندې شومان جوړ کړي ترڅو د شومانو ډله غټه شي او دوی ته د ملامتیـ ګوته ونه نیوه شي، د همدې کبله د مؤمنانو په لاندې ډلو پورې هم عیبونه تړي او هم ورپورې مسخرې کوي:

١ـ هغو مؤمنانو ته د ریاکارانو لقب ورکوي کوم چې په کثرت سره خپل مالونه خیرات کړي او د غازیانو څخه ډېر غازیان د غزا دپاره مجهز (تیار) کړي.

٢ـ همدارنګه د هغو مؤمنانو خیراتونو ته هم د عیب ګوته نیسي کوم چې بې وسې وي او ډېر مال نه لري چې پریمانه خیراتونه ورکړي او د غازیانو په تجهیز کښې غټه ونډه واخلي، بلکې کوم لږ مال یې چې د وسې کېږي او په مشقت سره یې ګټلی وي همغه د غازیانو په تجهیز کښې مصرفوي.

لنډه دا چې دواړو ډلو پورې مسخرې کوي، اوله ډله د غټو ریاکارانو او سادګانو په نومونو ستایي او دوهمې ډلې ته د وړو ریاکارانو لقب ورکوي چې دوی د دغه ناچیزه شي په خیراتولو سره غواړي چې خپل ځانونه د سخیانو په ډله کښې حساب کړي.

کله چې منافقان نه لوی سخیان بې ملنډو پرېږدي او نه ترې واړه سخیان بې ملنډو پاتې کېږي نو په حقیقت کښې د دوی مطلب دا دی چې هیڅوک خیرات ونه کړي او ټول خلک د دوی غوندې شومتیا غوره کړي ترڅو د تبوک د غزا غازیان مجهز نه کړی شي.

مګر الله ﷻ به منافقانو ته په دنیا کښې د ملنډو جزا ورکړي چې دوی به شرمنده پاتې شي او غازیان به مجهز شي او بالآخره هیڅ مؤمن به د دوی د ملنډو او تاثیر لاندې رانه شي.

اما په آخرت کښې خو د دوی دپاره الله ﷻ دردناک عذاب ټاکلی دی چې هېڅکله به ترې نجات مونده نه کړي.

## توضیحات

١ـ څرنګه چې د ایت شریف په اعراب کښې لږ څه خفا شته دی حتی چې ځینې خلک پکښې خطا شوي دي. نو مونږ محترمو لوستونکو ته هغه قواعد یو ځل په صراحت سره په ګوته کوو د کومو د تطبیق په منظور سره چې مونږ ذکر شوی ایت شریف تفسیر کړی دی، هغه دا چې[1]:

---

(١) تفسیر أبي السعود ج٣ ص٨۶؛ روح المعاني ج١٠ ص١٤٧

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



الف: د ﴿ ٱلَّذِينَ يَلْمِزُونَ ﴾ کلمات مو د مقدرې مبتدا خبر ګڼلی دی نو تقدير يې داسې کېږي چې: "هُمُ الَّذِينَ يَلْمِزُونَ".

ب: د ﴿ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ کلماتو ته مو په ﴿ يَلْمِزُونَ ﴾ په جملې پورې تعلق ورکړی دی.

ج: د ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ ﴾ کلمات مو د ﴿ ٱلْمُطَّوِّعِينَ ﴾ په کلمه باندې عطف ګڼلي دي.
ځکه چې په عربي کلام کښې کله-کله خاص په عام باندې عطف کېږي لکه چې په دغه ايت شريف ﴿ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾ [البقرة: ۹۸] کښې د ملائکو د ذکر څخه وروسته جبرائيل ﷺ او ميکائيل ﷺ د عطف په توګه ذکر شوي دي.

د: د ﴿ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ ﴾ جملې ته مو د دواړو ډلو پورې تعلق ورکړی دی چې دوی (منافقان) په اوله ډله باندې د غټو رياکارانو نوم ږدي او دوهمې ډلې ته د يو پلوه د وړو رياکارانو لقب ورکوي او د بله پلوه يې د دې متل مصداق ګڼي چې: "فلانی په پچه وخوت او کشمير يې وليد" يعنې دغه ډله غواړي چې په ډېر لږ خيرات سره ځانونه په سخيانو کښې وشمېري.

## تطوع څه معنی؟

۲_ د ﴿ ٱلْمُطَّوِّعِينَ ﴾ کلمه د "تطوع" څخه اشتقاقه شوې ده، "تطوع" خو په اصل کښې په تکلف سره اطاعت کولو ته وايي مګر په عرف کښې په هغو کارونو کښې استعمالېږي کوم چې په سړي باندې لازم نه وي، لکه نفلي لمونځونه او داسې نور[۱].

نو نظر ذکر شوي مفهوم ته د ﴿ ٱلْمُطَّوِّعِينَ ﴾ کلمه ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ ﴾ ته هم شامله ده چا چې د ډېر خيرات وسه (توان) نه درلود، چې دوی هم نفلي خيرات کوونکي دي. مګر د اهتمام د کبله د عطف په توګه ذکر شوه.

## جُهد څه معنی؟

۳_ د ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ ﴾ په جمله کښې د "جُهْد" کلمه په معنی د طاقت سره ده[۲]. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: منافقان په هغو مؤمنانو باندې هم د عيب ګوتې ږدي کوم چې په طاقت سره د تحصيل شوي مال څخه په غير نور څه نه لري، ترڅو چې په لاس مزدوري ونه کړي څه شی نه شي موندلی.

## لوی خيرات او وړوکی خيرات

۴_ د ايت شريف مضمون عام دی چې منافقان په هره زمانه کښې په غټو سخيانو او هم په وړو سخيانو پورې ملنډې وهي، چې مفسرينو کرامو[۳] يې په دې مقام کښې ډېر مثالونه ليکلي دي، که

---
(۱) مفردات الراغب ص۳۱۸
(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۱۶۶
(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څوک غواړي چې د هر مثالونه يې د نظره تېر کړي نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ صرف په لاندې احاديثو باندې اکتفاء کوو:

الف: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې کله د صدقاتو ايتونه نازل شوه نو مونږ به د جواليتوب مزدوري کوله (ترڅو څه وګټو او د الله ﷻ په لاره کښې يې خيرات کړو).

يوه سړي (عبد الرحمن بن عوف ﷺ) بنه ډېر مال خيرات کړ نو منافقانو وويلې چې دا رياکار دی، او يو بل سړی (ابوعقيل الانصاري) راغی چې يوه پيمانه "کجورې" يې خيرات کړې نو منافقانو وويلې چې يقيناً الله ﷻ د دغه سړي د يوې پيمانې څخه بې پروا دی. نو ذکر شوی ايت شريف ﴿ ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ ﴾ الآية نازل شو[۱].

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د ذکر شوي ايت شريف په تفسير کښې وايي چې عبدالرحمن بن عوف ﷺ څلوېښت آوقيه سره زر نبي کريم ﷺ ته (د خيرات په توګه) ورووړه او د انصارو څخه يوه سړي د خوراکي شيانو څخه صرف يوه پيمانه ورووړه. نو ځينو منافقينو وويلې چې عبدالرحمن ﷺ دا خيرات فقط د رياکارۍ په غرض وکړ، او د هغه بل سړي په باره کښې يې وويلې چې الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ د دغې يوې پيمانې د خيرات څخه بې پروا دي[۲] (په يوه پيمانه باندې به څه درد دوا شي).

ج: مونږ د يوه اوږده حديث مضمون په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

د حديث راوي وايي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «مَنْ يَتَصَدَّقُ بِصَدَقَةٍ أَشْهَدُ لَهُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» يعنې: هرڅوک چې څه صدقه (خيرات) وکړي نو زه به ورته د قيامت په ورځ په همغه خيرات باندې شاهدي ووايم.

نو په همدې وخت کښې يو سړی راغی چې ما نه د هغه څخه ډېر تور سړی او نه ډېر بد قواره سړی چرته ليدلی وه، او د نبي کريم ﷺ حضور ته يې د خيرات دپاره داسې اوښه راکشوله چې د هغې اوښې څخه مې ښايسته اوښه چرته نه وه ليدلې.

نو نبي کريم ﷺ ته يې عرض وکړ چې «دُونَكَ هَذِهِ النَّاقَةَ» ای د الله ﷻ پيغمبره! دا اوښه (د خيرات په توګه) دراخله.

په دغه وخت کښې د يوه منافق د خولې څخه دا خبره ووتله چې ايا داسې بد قواره سړی داسې ښايسته اوښه خيراتوي؟ په الله ﷻ باندې مې دې سوګند وي چې د دغه سړي څخه دا اوښه بهتره ده.

همدا خبره نبي کريم ﷺ واورېده نو منافق يې مخاطب کړ چې: «كَذَبْتَ بَلْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ وَمِنْهَا»[۳] يعنې: دروغ دې وويلې بلکې دغه بد قواره سړی ستا څخه بهتر دی او د همدغې اوښې څخه هم غوره دی. همدا وينا يې ورته درې کرته تکراره کړه.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۰
(۲) تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۹۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۳۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾ ﴾

[۸۰] (ای پیغمبره!) دوی (منافقانو) ته مغفرت وغواړه او یایې ورته مه غواړه (تاته اختیار دی مګر) که ته دوی ته اویا کرته مغفرت وغواړې (او لا د دې څخه اضافه) نو هم الله ﷻ به ورته مغفرت ونه کړي.

دا څکه چې یقیناً دوی په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر باندې کفر اختیار کړی دی او الله ﷻ منافق قوم ته (چې د شریعت د چوکاټ څخه وتلی وي) هدایت نه کوي (نو دوی د توبې توفیق هم نه شي موندلی).

## شان نزول او ارتباط

په دې مقام کښې د شان نزول او ارتباط دپاره ځینو مفسرینو کرامو لاندې دوه وجهې لیکلې دي[۱]:

۱ـ د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغو منافقانـ کومو ته چې په وړاندې ایت شریف کښې اشاره شوې ده د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې دوی ته د الله ﷻ څخه ببښنه وغواړي، یعني په صدقاتو کښې په مؤمنانو باندې مسخره کوونکو منافقانو د مغفرت غوښتنه وکړه. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

۲ـ کله چې د منافقانو مشر (عبدالله بن أبی) مریض شو نو د ده زوی (چې هغه هم عبدالله نومېده او ډېر مخلص مسلمان وه) نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې: یا رسول الله! زما پلارته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړه. نو نبي کریم ﷺ ورته مغفرت وغوښت خو ذکر شوی ایت شریف نازل شو.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! د منافقانو جنایاتو څه دومره نه دي چې الله ﷻ ورته مغفرت وکړي بلکې د دوی د جنایاتو د ببنلو معنی دا ده چې الله ﷻ ورته د کفر مغفرت وکړي، نو په همدې بنیاد ستا خوښه چې دوی ته د مغفرت غوښتنه کوې او که نه، مګر الله ﷻ دوی ته حتی ستا په سوال باندې هم مغفرت نه کوي، نو که بالفرض ته د منافقانو په باره کښې الله ﷻ ته اویا څله د سوال لاسونه پورته کړې هم الله ﷻ دوی ته مغفرت نه کوي او د عقیدوې نفاق څخه نه ورتېرېږي. هو! دا بېله خبره ده چې دوی د منافقت څخه توبه تائب شي او په صحیحو معناوو کښې په ایمان باندې مشرف شي.

او دا څکه چې د کومو منافقانو په هکله چې ته د سوال لاسونه اوچتوې هغوی اوس هم په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې کفر غوره کړی دی او الله ﷻ خو فاسق قوم ته هدایت نه کوي چې د توبې توفیق هم نه ورکوي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۰ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ دغه دوه جملې ﴿ ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾ په لاندې دوه وو احتمالونو سره تفسير کېدلی شي[1]:

الف: يو دا چې که څه هم دواړه انشائيه جملې دي مګر په معنی کښې هره يوه خبريه شي، لکه چې يو مثال يې په [التوبة:۵۳] ايت کښې تېر شوی دی، نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: ای پيغمبره! که ته منافقانو ته مغفرت وغواړې او که يې نه غواړې الله ﷻ دوی ته مغفرت نه کوي.

ب: بل دا چې دواړه جملې په انشائيت باندې پاتې شي او د "أَوْ" توری د تخيير دپاره شي، نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: منافقانو ته مغفرت وغواړه او يا يې ورته مه غواړه (ته اختيار لرې) خو الله ﷻ ورته هيڅکله مغفرت نه کوي.

مګر نبي کريم ﷺ همدغه دوهم تفسير غوره کړی دی چې وضاحت يې د [التوبة:۸۴] ايت لاندې راروان دی، ان شاء الله ﷻ.

## د سَبْعِينَ عدد استعمال

۲_ په عربي محاوراتو کښې د "سَبْعِينَ" کلمه د تکثير دپاره استعمالېږي نو په دې مقام کښې د ﴿ سَبْعِينَ مَرَّةً ﴾ څخه غير متناهي عدد مطلب دی چې د معنی حاصل يې داسې کېږي: ای پيغمبره! که ته د منافقانو د مغفرت په باره کښې په هرڅومره زياته اندازه سوالونه وکړې هم الله ﷻ به ورته مغفرت ونه کړي.

## سوال جواب

که څوک وايي چې: د [التوبة:۸۴] ايت څخه اشارةً معلومېږي چې نبي کريم ﷺ د منافقانو په ذکر شوي مشر باندې د جنازې لمونځ اداء کړ البته کله چې هغه مړ شو، حال دا چې د جنازې لمونځ خو د مغفرت د غوښتلو څخه په غير بل شی نه دی؟

مونږ وايو چې: د همدغه ايت شريف څخه ـ چې بحث پکښې روان دی ـ لاندې دوه حکمونه څرګندېږي:

الف: يو دا چې نبي کريم ﷺ ته اختيار ورکړی شوی دی چې مغفرت ورته غواړي او که نه، خو نبي کريم ﷺ د مغفرت د غوښتلو څنډه غوره کړه.

ب: بل دا چې د الله ﷻ په نزد باندې فيصله ده، لکه څنګه چې کفر نه بښي همدارنګه عقيدوي نفاق هم نه بښي.

لنډه دا چې د جنازې لمونځ او مغفرت غوښتل د ايت شريف د مفهوم څخه مخالف کار نه دی.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَرِحَ ٱلْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ
وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِى ٱلْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُواْ
يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾ فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلًا وَلْيَبْكُواْ كَثِيرًا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَإِن
رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُواْ مَعِىَ أَبَدًا وَلَن
تُقَٰتِلُواْ مَعِىَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُم بِٱلْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَٱقْعُدُواْ مَعَ ٱلْخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾ ﴾

[۸۱] وروسته کړی شوي کسان د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ په خلاف په خپلو کورو کېناستلو باندې خوشاله شوه، او دوی خوښه نه کړه چې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو (سرونو) باندې د الله ﷻ په لاره کښې جهاد وکړي. او (هم) دوی (نورو ته) وویلې چې (جهاد ته) په ګرمۍ کښې بهر مه اوځئ.

(ته ورته) ووایه (ای پیغمبره!) چې د دوزخ اور د ګرمۍ د حیثه ډېر سخت دی (چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره وګاټه) که دوی چرته وی چې دقیقه پوهه (او ذکاوت) یې درلودی (نو دغسې خبرې به یې نه وی کړې).

[۸۲] نو دوی دې لږ وخت وخاندې او ډېر وخت دې وژاړي، د هغه عمل د کبله کوم چې دوی لګیا دي کوي یې.

[۸۳] نو (ای پیغمبره!) که چرته الله ﷻ (د تبوک د غزا څخه) تا د دوی (منافقانو) یوې ډلې ته بېرته (روغ رمټ) ورستون کړې نو ستا څخه یې (جهاد ته) د (بیا) وتلو دپاره اجازه وغوښتله (چې دا ځل مونږ هم درسره بوځه)، نو (ته ورته په جواب کښې) ؤوایه چې: (د دې څخه وروسته) به هیڅکله د همېشه دپاره زما سره تاسو (جهاد ته) ونه اوځئ (او نه به اجازه درکړم).

او (هم) هیڅکله به تاسو زما په ملګرتیا د دښمن سره جنګ ونه کړئ (ستاسو نومونه د غازیانو د لست څخه لرې شوه).

(او دا ځکه چې) یقینًا تاسو په اول ځل (د تبوک په غزا کښې) په (کور) کېناستلو باندې خوشاله (او خوښ) وئ، نو (د نن څخه وروسته) د بېرته پاتې کېدونکو (معذورانو) سره (د همېشه دپاره په کورونو کښې) کېنئ.

## ارتباط

وړاندې ایت شریف په دې تمام شوی وه چې الله ﷻ فاسق قوم ته هدایت نه کوي او په دې ایتونو کښې د عدم هدایت وجهې ته اشاره شوې ده نو د معنی حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د منافقانو (فاسقانو) په هکله لاندې وصایا په ذهن کښې ونیسه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ دغه فاسقان د لاندې وجوهو د کبله د هدایت لیاقت نه لري:

الف: دوی په دې خبره باندې خوشاله دي چې د نبي کریم ﷺ په خلاف په کور کښې ناست پاتې شوي دي او جهاد ته نه دي وتلي. نو که بالفرض دوی په خپل دغه کار باندې خپه وی نو احتمال وه چې د توبې توفیق یې په نصیب شوی وی.

ب: دوی دا خوښه نه کړه چې د الله ﷻ په لاره کښې په سر او مال سره جهاد وکړي که د دوی په زړونو کښې دا ناخوښي نه وی نو بیا یې هم د توبې چانس درلودلی شو.

ج: منافقان لکه څنګه چې د عام نفیر مخالفت کوي او جهاد ته نه اوځي همدارنګه د نورو خلکو پښو ته هم کاڼي ور اچوي چې جهاد ته ونه اوځي.

دوی په دې هکله خلکو ته دا وجهه وړاندې کوي چې ډېره سخته ګرمي ده او په داسې ګرمۍ کښې جهاد ته د کوره وتل د خپل ځان د هلاکت معنی ورکوي.

۲ـ ای پیغمبره! منافقانو ته په جواب کښې ووایه چې:

الف: د دوزخ اور ډېر ګرم دی، تاسو ته په کار دي چې د هغه څخه خپل ځان او نورو دوستانو ته په جهاد سره نجات ورکړئ. عجیبه ده چې د دنیاوي ګرمۍ څخه خلک بچ کوئ او د دوزخ په ګرمۍ کښې یې سرچپه ورګوزاروئ نو که دوی د څه پوهې او ذکاوت څخه کار واخلي نو په خپله سادګۍ باندې به اعتراف وکړي.

ب: منافقان خو په کور کښناستلو باندې خوشاله دي (خاندي) او د سر او مال په جهاد باندې خپه کېږي (ژاړي) حال دا چې خبره بالکل سرچپه ده، د کور کښناستل د ژړا کار دی او په سر او مال باندې جهاد کول د خوشالۍ خبره ده.

نو کله چې دوی په خپل ذکر شوي حالت باندې کلک دي او د پوهې او ذکاوت څخه کار نه اخلي نو لږ وخت (په دنیا کښې) دې وخاندي او په آخرت کښې دې زښت ډېر وژاړي او دا ځکه چې همدا یې د خپل کسب نتیجه ده.

۳ـ ای پیغمبره! څه لرې نه ده چې په دنیا کښې هم د منافقانو خندا په ژړا بدله شي. البته دا هله چې الله ﷻ تا د خپلو غازیانو ملګرو سره مدینې منورې ته روغ رمټ ورتاو کړي او د هغوی څخه چې څوک ستاسو د ورتاوېدلو پورې ژوندي پاتې دي ستاسو د خوشالۍ حالت وګوري.

په دغه وخت کښې به دوی په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه شي او د کور په کښناستلو باندې به خپه شي، چې افسوس چې مونږ هم جهاد ته تللي وی.

د ډېر حسرت د کبله به د جهاد د اعلان څخه وړاندې تاته وړاندیز وکړي چې: یا رسول الله! په بل جهاد کښې مونږ هېر نه کړې، مونږ هم درسره بوزه چې د نننۍ افسوس سره دوهم ځل بیا مخامخ نه شو.

لنډه دا چې نن ورځ د کور کښناستلو اجازه غواړي خو په هغې ورځ کښې به جهاد ته د تللو په اجازه باندې ټینګار کوي، نن جهاد ته په تللو ژاړي او خپه کېږي، سباته به په نه تللو ژاړي.

۴ـ نو ای پیغمبره! کله چې منافقانو درته ذکر شوی وړاندیز وکړ نو هغوی مخاطب کړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای منافقانو! د همېشه دپاره ستاسو نوم د مجاهدینو د لست څخه غورزولی شوی دی او هیڅکله به تاسو ته اجازه درنه کړم چې زما سره جهاد ته په تللو باندې افتخار حاصل کړي.

ب: او هیڅکله به تاسو زما په انډیوالی کښې دکوم دښمن سره جنګ ونه کړئ او دا نېک نامي به خانو ته حاصله نه کړئ.

څکه چې تاسو د جهاد د لومړني اعلان (نفیر عام) څخه مخالفت کړی وه او د کور په کښناستلو باندې خوشاله او خندېدونکي وئ، نو نن ورخ د ګوډو او رندو (معیوبانو) سره کښېنئ او وژاړئ.

## توضیحات

۱ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ٱلۡمُخَلَّفُونَ ﴾ کلمه خو د اسم مفعول صیغه ده چې معنی یې په وروسته کړی شوو باندې کېږي، نو پوښتنه دا ده چې د جهاد څخه د منافقانو وروسته کول په واقع کښې چا یا څه شي ته منسوب دي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو په دې باره کښې څه متعدد صورتونه جائز ګڼلي دي[۱]، زمونږ په نزد د دوی ببرته پاتې کېدل باید الله ﷻ ته نسبت کړی شي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ ﴾ [التوبة:۴۶] یعني: مګر الله ﷻ د دوی (منافقانو) جهاد ته پورته کېدل نه غوښتل.

## خلاف څه معنی؟

۲ـ د ﴿ فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ خِلَٰفَ ﴾ کلمه لاندې دوه تفسیرونه درلودلی شي[۲]:

الف: چې د ﴿ خِلَٰفَ ﴾ کلمه د "خلف" د کلمې معنی ورکړي، نو معنی یې داسې کېږي چې منافقان د نبي کریم ﷺ څخه وروسته دخپلو کورونو په کښناستلو باندې خوشاله شوه.

ب: چې د ﴿ خِلَٰفَ ﴾ کلمه د "مخالفة" په معنی شي، نو حاصل یې داسې کېږي چې دوی د خپلو کورونو په کښناستلو باندې په داسې حال کښې خوشاله شوه چې د نبي کریم ﷺ څخه مخالفت کوونکي دي.

## د دوزخ اور ډېر ګرم دی

۳ـ نبي کریم ﷺ د دوزخ د اور په ګرموالي کښې فرمایلي دي چې: «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ»[۳] یعني: ای انسانانو! ستاسو دنیاوي اور د دزوخ د اور څخه اویایمه برخه دی. نو د دوزخ اور په دنیاوي اور باندې نهه شپېته چنده زیات ګرم دی، او څه لرې نه ده چې د «سَبْعِينَ» په

[۱] روح المعاني ج۱۰ ص۱۵۰
[۲] تفسیر ابي السعود ج۴ ص۸۸
[۳] صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمه کښې د عدد تحدید مطلب نه وي ـلکه چې د [التوبة:۸] ایت لاندې تېر شو، والحمد لله ﷻ ـ نو په دې صورت کښې خو به یې د چندونو د زیادت اندازه صرف الله ﷻ ته معلومه وي او بس.

## لږ خندل او ډېر ژړل

۴ـ دغه دواړه جملې ﴿ فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلاً وَلْيَبْكُواْ كَثِيرًا ﴾ لاندې درې ډوله معناوې درلودلی شي. چې یوه د بلې څخه ښه ده:

الف: څرنګه چې د منافقانو څخه جهاد ته په نه وتلو باندې ډېر لوی اجر فوت شو نو د دوی سره مناسب دي چې لږ وخت وخاندي او ډېر وخت وژاړي که بالفرض دوی د خپلې کړنلارې په عواقبو باندې پوه وی نو ژړا به یې د خندا څخه ډېره وی. د ذکر شوي تفسیر نظیر لاندې حدیث شریف دی:

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا»[1] په الله ﷻ مې دې سوګند وي (ای زما امته!) چې (بالفرض) که تاسو په هغه شي پوهېدلی چې زهورباندې پوهېږم نو تاسو به لږ خندلي وی او ډېر به مو ژړلي وی. یعنې: نظر راتلونکو مشکلاتو ته باید ستاسو غمخوري ډېره وي.

ب: منافقان دې په دنیا کښې لږ خوشالی تېرې کړي چې دنیا ناچیزه شی دی اما په آخرت کښې به د ډېروغمونو او ژړاګانو سره مخامخ شي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «يُرْسَلُ الْبُكَاءُ عَلَى اهل النَّارِ فَيَبْكُونَ حَتَّى يَنْقَطِعَ الدُّمُوعُ ثُمَّ يَبْكُونَ الدَّمَ حَتَّى يَصِيرَ فِي وُجُوهِهِمْ كَهَيْئَةِ الأُخْدُودِ لَوْ أُرْسِلَتْ فِيهَا السُّفُنُ لَجَرَتْ»[2]
یعنې: د الله ﷻ د پلوه به په اهل النار (دوزخیانو) باندې (د عذاب په ډول) ژړا ور واستولی شي نو ترهغه به وژاړي چې اوښکې به یې وچې شي بیا به په وینو باندې وژاړي، آن تر دې چې په مخونو باندې به یې اوږدې کندې جوړې شي، که (بالفرض) بېړۍ پکښې خوشې کړی شي نو پکښې روانې به شي (وبه چلېږي).

ج: منافقان دې څو ورځې وخاندي او خوشالي دې وکړي خو څرنګه چې مجاهدین د تبوک د غزا څخه بېرته روغ رمټ را ستانه شي نو بیا به ډېر وژاړي او ډېر ارمانونه به وکړي.

په همدې مضمون باندې ذکر شوی درېم ایت شریف دلالت کوي چې: ای پیغمبره! کله چې ته د منافقانو یوې ډلې ته بېرته ورستون شوې نو تاته یې سوالونه وکړه چې: ای د الله رسوله! هیله ده مونږ د بلې غزا څخه هېر نه کړې او هیله ده چې د ځانه سره مو بوځې.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ﴿ إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ ﴾ په عوض د

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"إليهم" كلمه نازله نه كړه ترڅو هغو ټولو منافقانو ته شامله شوې وى كومو ته چې د ﴿ فَرِحَ ٱلْمُخَلَّفُونَ ﴾ په جمله كښې اشاره شوې ده.

مونږ وايو چې: دا د دې دپاره ـ والله ﷻ اعلم ـ چې الله ﷻ ته معلومه وه چې ځينې منافقان به د نبي كريم ﷺ د ببرته ورتګ څخه وړاندې وفات شي، او د ذكر شوي وړاندېز فرصت به مونده نه كړي. نو كه د "إليهم" كلمه نازله شوې وى نو معنى به يې دا وي چې ستا د ببرته ورتګ پورې به ټول ژوندي وي او ټول به درته ذكر شوى وړاندېز وكړي، حال دا چې واقعيت داسې نه وه.

## د دې ايت ارشاد

۶ـ د ذكر شوي [۸۳] ايت ارشاد دى چې: اى مجاهدينو! تاسو د كفارو د جهاد څخه وروسته د منافقينو سره جهاد پيل كړئ (دوى د خپلو صفونو څخه وشړئ او مړى او ژوندى ورسره پرېكړئ)، كه نه نو ستاسو په صفونو كښې به د فساد اور بل كړي (مشران به مو شهيدان كړي) او د مجاهدينو نېک شهرت به دخاورو سره برابر كړي.

﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾ وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَأَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾ ﴾

[۸۴] او (اى پيغمبره! د نن ورځې څخه وروسته) د منافقانو د جملې څخه په يوه كس باندې هم (د جنازې) لمونځ د همېشه دپاره مه اداء كوه، او مه يې په قبر باندې درېږه.

(ځكه چې) يقيناً دوى په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبر ﷺ باندې كفر اختيار كړى دى او دوى په داسې حال كښې مړه شوه چې دوى فاسقان دي (نفاق يې د اندازې وتلى دى).

[۸۵] او د دوى (منافقانو) مالونه او د دوى اولادونه دې تا په تعجب كښې وانچوي (ځكه چې) يقيناً الله ﷻ اراده كړې ده چې په همدغو باندې يې په دنيا كښې معذب كړي او په داسې حال كښې يې ارواګانې ووځي (قبضې كړئ شي) چې دوى كافران وي (يعنې چې ژوند يې په كفر باندې ختم شي).

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو كښې د منافقينو د مشر (عبدالله بن أُبى) د زوى هغه وړانديز مطرح شوى وه كوم چې د پلار د ناروغۍ په حالت كښې يې كړى وه چې: اى د الله رسوله! زما پلار ته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړه. او په دې ايتونو كښې هغه وړانديز جواب شوى دى كوم چې د پلار د مرګ څخه وروسته يې وړاندې كړى وه چې: اى د الله رسوله! زما په پلار باندې د جنازې لمونځ ادا كړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول

۱_ کله چې د منافقینو مشر مړ شو نو د هغه زوی _چې هغه هم عبدالله نومېده_ نبي کریم ﷺ ته ورغی او داسې غوښتنه يې ترې وکړه چې: ای د الله رسوله! زما په پلار باندې د جنازې لمونځ وکړه او هم خپل مبارک کمیس راکړه چې د کفن په حیث پکښې د هغه مړی را تاو کړم.

نبي کریم ﷺ هم خپل کمیس ورکړ او هم يې نیت وکړ چې په نوموړي باندې د جنازې لمونځ اداء کړي، مګر په عین حال کښې عمر الفاروق ﷜ نبي کریم ﷺ د جامې څخه راکش کړ او عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! په دغه منافق باندې د جنازې لمونځ مه کوه! چې په فلاني وخت کښې يې داسې ویلي وه او په فلاني وخت کښې هاغسې کړي وه، حال دا چې ته خو الله ﷻ منعه کړی یې چې منافقانو ته مغفرت وغواړې (د جنازې لمونځ خو د مغفرت څخه په غیر بل شی نه دی).

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللهُ»[1] یعنې: یقیناً زه خو الله ﷻ د منافقانو د مغفرت څخه منعه کړی نه یم بلکې اختیار يې راکړی دی (چې استغفار ورته وغواړه او یا يې ورته مه غواړه خو ما د استغفار څنډه خوښه کړې ده)، نو الله ﷻ په دوی باندې د جنازې د لمانځه ممنوعیت نازل کړ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: عمر الفاروق ﷜ د څه څخه معلومه کړه چې الله ﷻ پیغمبر ﷺ د منافقانو د مغفرت څخه منعه کړی دی؟

مونږ وایو چې: عمر الفاروق ﷜ د ﴿ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴾ د جملې څخه اشارةً معلومه کړه چې نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ د منافقانو دپاره د مغفرت غوښتلو اجازه نه ده ورکړې. او دا خکه کله چې الله ﷻ اطلاع ورکړه چې د منافقانو دپاره ستا د مغفرت غوښتل څه فائده نه کوي، نو معنی يې دا شوه چې مغفرت ورته مه غواړه او بې فائدې سوال مه کوه، لکه چې همداسې وشو او الله ﷻ په صراحت سره ورته توصیه وکړه چې بیا په منافقانو باندې د جنازې لمونځ اداء نه کړې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي: که ذکرې شوې جملې د مغفرت په نه غوښتلو اشارةً دلالت کولی نو په کار وه چې د عمر الفاروق ﷜ څخه وړاندې ترې نبي کریم ﷺ ذکر شوی حکم فهم کړی وی، د نصوصو په اشارو باندې خو د ده ﷺ څخه بل څوک ښه نه پوهېده؟

مونږ وایو چې: په کومه اشاره باندې چې عمر الفاروق ﷜ پوه شوی وه په هغې باندې خو نبي کریم ﷺ هم پوه وه، مګر د مغفرت په غوښتلو کښې د عدم قبول سره-سره څه نورې ګټې او فایدې

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۴؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم نغښتې وي چې هغو ته يوازې د نبي كريم فراست رسېدلی وه او د نوموړي جليل القدر صحابي. د ذكاوت څخه پټې پاتې وي، هغه دا چې:

الف: د جنازې په لمانځه باندې كه ذكر شوي منافق ته څه ګټه ونه رسېده نو د هغه زوی خو ـچې د نبي كريم ﷺ مخلص ملګری وه ـ ورباندې خوشاله شو او هم د هغه تشويش مخه ونيوه شوه كوم چې دمنافقانو د پلوه نوموړي ته متوجه وه، چې بايد نبي كريم ﷺ ستا په لحاظ ستا په پلار باندې د جنازې لمونځ اداء كړي وی او ستا څخه يې د پيغور مخه اړولې وی.

ب: د جنازې په لمانځه باندې د نبي كريم ﷺ عالي اخلاق ټولو معاندينو ته ښه په ثبوت ورسېده، او دا څكه چې نوموړي منافق په خپل ژوند كښې داسې تخريبات كړي وه چې هغه د هيچا څخه پټ نه وه، د همدې كبله د جنازې د لمانځه په اثر د نوموړي د قوميانو څخه ډېر خلك په مخلصانه ايمان باندې مشرف شوه[1].

ج: نبي كريم ﷺ په مؤمنانو باندې رؤف، رحيم (ډېر مهربان او زړه سوزوونكی) وه. بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې: «مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بَيْنَ أَمْرَيْنِ أَحَدُهُمَا أَيْسَرُ مِنَ الْآخَرِ إِلَّا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا»[2] يعنې: هيڅكله نبي كريم ﷺ ته د دوه وو شيانو په منځكښې اختيار نه وه وركړی شوی چې يو به د بل څخه اسان وه مګر نبي كريم ﷺ به اسان شی خوښاوه، ترڅو به چې په هغه كښې ګناه نه وه.

نو څرنګه چې نبي كريم ﷺ په استغفار او عدم استغفار كښې مختار كړی شو نو د استغفار څنډه يې خوښه كړه او دا څكه چې ګټه دې څنډه كښې عقوبت اسان دی چې په عدم قبول كښې څرګندېږي، او په بله څنډه كښې عدم استغفار يو عقوبت دی او عدم قبول يې دوهم عقوبت.

## سوال جواب

۴ـ كه څوک وايي چې: الله ﷻ خو د منافقانو د عدم مغفرت دليل ذكر كړی دی چې: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ [التوبة: ۸۰] يعنې: څكه ورته الله ﷻ مغفرت نه كوي چې دوی په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبر ﷺ باندې كفر اختيار كړی دی. حال دا دی چې د كفارو په باره كښې يې فرمايلي دي چې: ﴿مَا كَانَ لِلنَّبِىِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوٓا۟ أُو۟لِى قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ﴾ [التوبة:۱۱۳] يعنې: نه پيغمبر ﷺ ته او نه هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړی دی دا مناسبه ده چې مشركانو ته مغفرت وغواړي اګر كه د قرابت خاوندان يې وي، د هغه څخه وروسته چې دوی ته څرګنده شي چې يقيناً دوی د اور انډيوالان (دوزخيان) دي.

نو پوښتنه دا ده چې د همدغه [التوبة:۱۱۳] ايت په استناد باندې بايد نبي كريم ﷺ په ذكر شوي كافر (منافق) باندې د جنازې لمونځ نه وی اداء كړی؟

مونږ وايو چې:

---

(۱) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۴۷

(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۲۵۶: سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دغه ایت شریف خو د هغو کافرانو په باره کښې نازل شوی دی چې ظاهراً او باطنًا کافر وه او په خوله باندې یې د اسلام دعوه نه کوله، اما ذکر شوی منافق (چې نبي کریم ﷺ وربانديې د جنازې لمونځ وکړ) خو ظاهراً د اسلام دعوه کوله او کلمه طیبه یې ویله[۱].

ب: که د [التوبة:۱۱۳] ایت شریف د دې ایت څخه ـچې بحث پکښې روان دیـ په نزول کښې هم وروسته وي لکه څنګه چې په ترتیب کښې وروسته دی نو نه سوال شته او نه جواب ته حاجت لېده کېږي. او که بالفرض هغه د دې څخه په نزول کښې وړاندې وي نو جواب دا دی چې ذکر شوی سوال به په هغه وخت کښې په ځای وی چې د [التوبة:۸۰] ایت شریف بالکل نه وی نازل شوی او نبي کریم ﷺ ته په استغفار او عدم استغفار کښې اختیار نه وی ورکړی شوی، نو کله چې اختیار ورکول هم د الله ﷻ د جانبه دي نو سوال سقوط کوي او جواب ته یې اړتیا نه پاتې کېږي.

## د مطلب خلاصه

۱ــ یعني: ای پیغمبره! که څه هم الله ﷻ تا ته د منافقانو د استغفار او عدم استغفار په هکله اختیار درکړی وه او تا د استغفار خوا خوښه کړه نو د هغوی په مشر باندې دې لمونځ اداء کړ او په قبره باندې یې ودرېدې، مګر اوس الله ﷻ قطعي حکم درکوي چې د نن څخه وروسته به د همېشه دپاره نه یوه منافق ته مغفرت غواړې، نه به وربانديې د جنازې لمونځ کوې او بالآخره نه به یې په قبره باندې درېږې او نه به یې دفن ته حاضرېږې، ځکه چې دوی په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې کافران دي او په داسې حال کښې مړه شوي دي چې په کفر کښې یې د حده تجاوز کړی وه او فاسقان وه.

۲ــ ای پیغمبره! که څه هم الله ﷻ دوی ته د کفر سره-سره مالونه او اولادونه ښه پرېمانه ورکړي دي خو ته ورته تعجب مه کوه، ځکه چې ذکر شوي شیان په حقیقت کښې د انعامونو په توګه نه دي ورکړی شوي بلکې د استدراج په ډول ورکړی شوي دي او یقینًا الله ﷻ یې په ورکړه کښې دا اراده لري چې په دنیا کښې یې ورته د عذاب یو غټ سبب جوړ کړي او بالآخره د کفر په حالت کښې مړه شي.

## توضیحات

۱ــ که څوک وایې چې: په قبر باندې ودرېدل د څه شي دپاره وه چې نبي کریم ﷺ ترې په ﴿ وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ﴾ په جمله باندې منعه کړی شوی دی؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو خو د ذکرې شوې جملې دپاره متعدد تفسیرونه کړي دي[۲] مګر کوم تفسیر چې مونږ ته غوره ښکاري هغه دا دی چې د دعاء کولو دپاره د هېڅ منافق په قبره باندې مه درېږه. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

---

(۱) حواشي صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۴

(۲) تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۸۳؛ تفسیر المنار ج۱۰ ص۵۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ صَلّٰى عَلٰى جِنَازَةٍ فَلَهُ قِيرَاطٌ وَمَنْ انْتَظَرَ حَتّٰى يُفْرَغَ مِنْهَا فَلَهُ قِيرَاطَانِ» هرڅوک چې په جنازه باندې لمونځ اداء کړي نو ده لره (عندالله) يو قيراط (اجر) دی، او څوک چې ترهغه انتظار وباسي چې ترڅو ترې فراغت حاصل شي نو ده لره (عندالله) دوه قيراطه (اجر) دي، صحابه کرامو ﷺ وويلې چې: «وَمَا الْقِيرَاطَانِ» ای د الله رسوله! قيراطان څه شی دي؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «مِثْلُ الْجَبَلَيْنِ»[۱] (قيراطان) د دوه وو غرونو په مثل (اجرونه) دي.

ب: عثمان (ذي النورين) ﷺ وايي چې د نبي کريم ﷺ عادت وه چې کله به د مړي د دفن څخه فراغت حاصل شو نو هلته به ودرېده او توصيه به يې کوله (صحابه وو کرامو ته) چې: «اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ وَاسْأَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ»[۲] يعني: خپل ورور ته د مغفرت غوښتنه وکړئ او هم ورته (د الله ﷻ څخه) ثبات (نه ښويېدل) وغواړئ ځکه چې يقيناً د نوموړي څخه دستي (سات ګړی ته) پوښتنه کېږي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ خو د منافقينو د مشر سره ـ د مرګ څخه وروستهـ دري کارونه کړي وه: يو د جنازې لمونځ اداء کول او دويم په قبره باندې درېدل او درېم د خپل کميس ورکول، چې د نوموړي دپاره ترې ـ د تبرک په منظورـ د کفن کار واخستل شو، نو پوښتنه دا ده چې په دې کښې څه حکمت دی چې ايت شريف د اولنيو دواړو کارونو په ممنوعيت باندې صراحت وکړ او د درېم شي څخه ساکت پاتې شو؟

مونږ وايو چې: لومړني دواړه کارونه خو شرعي حکمونه وه نو الله ﷻ ترې خپل پيغمبر ﷺ منعه کړ ترڅو د قيامت د ورځې پورې نه څوک په کافر باندې د جنازې لمونځ اداء کړي او نه يې په قبره باندې ودرېږي.

اما د کميس ورکړه ـبرسېره پر دې چې د سخاوت څخه يې نمايندګي کوله او د نبي کريم ﷺ دا عادت نه وه چې سوالګر بې ورکړې پرېږدي ـ يوه دنياوي معامله وه چې مفسرينو کرامو پکښې زښتې ډېرې وجهې ليکلې دي[۳].

مګر ډېره ښه وجه يې هغه ده کومې ته چې جابر بن عبد الله ﷺ اشاره کړې ده چې: «وَكَانَ كَسَا عَبَّاسًا قَمِيصًا»[۴] يعني: نبي کريم ﷺ ځکه خپل کميس ورکړ چې نوموړي منافق د نبي کريم ﷺ تره (عباس ﷺ) ته خپل کميس ورکړی وه چې دواړه لوړ قدي سړي وه، او بل کميس وربانديې لندون کاوه.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۱۰
(۲) سنن ابي داوُد ج۲ ص۱۰۳
(۳) التفسير الکبير ج۱۶ ص۱۵۳، تفسير الکشاف ج۲ ص۲۹۹
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



البته دغې ورکړې په هغه وخت کښې صورت نیولی وه چې عباس ﷺ د بدر د اسیرانو په جمله کښې اسیر شوی وه او کمیس ته یې اړتیا درلوده.

لنډه دا چې د کمیس ورکړه د عوض ورکرخولو او شکریې په توګه وه نه د یوه شرعي حکم په توګه، حتی چې صراحت ته یې اړتیا درلودلې وی.

## یادونې

۳ـ مونږ لاندې ټکو ته محترم لوستونکي د لنډون په غرض متوجه کوو:

الف: په ذکرو شوو دواړو ایتونو کښې یو ایت داسې دی چې د وړاندې [التوبة:۵۵] ایت سره په مضمون کښې موافق دی، زمونږ چې څومره تفسیر ته اراده وه هغه مو همدلته د الله ﷻ په توفیق تمامه کړې ده، نو بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

ب: اما د دواړو ایتونو د ځینو کلماتو په تفاوت کښې ځینو مفسرینو کرامو ښه خوندور او اوږد بحث لیکلی دی[1] نو هیله ده چې یو ځل د نظره تیر کړی شي.

ج: قرآن کریم د تقاریرو (خطابو) مجموعه ده او په خطابه کښې عادت دا دی چې په مطالبو باندې صراحت کیږي که څه هم د تیرې شوې خطابې سره تکرار وي. او د کتاب په شان په مطالبو کښې حواله نه ورکوله کیږي چې په فلاني باب او فلاني مخ کښې یې وګورئ.

په همدې ارتباط د [البقرة:۱۲۲] ایت لاندې څه معلومات شته چې بیا کتل یې بې فائدې نه دي.

د: بالآخره که څوک غواړي چې هغه ټول احادیث د نظره تیر کړي او په تطبیق باندې یې هم خپل سر خلاص کړي کوم چې د منافقینو د ذکر شوي مشر په هکله روایت شوي دي، نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[2] چې ټول یې راغونډ کړي دي او تطبیق یې پکښې کړی دی، الله ﷻ دې ورته اجر ورکړي.

﴿ وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ
وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ
فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾ لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ
وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٍ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٨٩﴾ ﴾

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۱۵۴؛ روح المعاني ج۱۰ ص۱۵۵؛ تفسیر القاسمي ج۸ ص۲۸۷
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۶] او کله چې (د قرآن کریم) کوم سورت (یا کوم ایت) نازل کړی شي چې (ای مؤمنانو!) په الله ﷻ باندې ایمان راوړئ (خپل ایمان ته ادامه ورکړئ) او د الله ﷻ د پیغمبر په معیت (ملګرتیا) جهاد وکړئ، نو (ای پیغمبره! په دغه وخت کښې) د منافقانو څخه د توان (مال او ثروت) خاوندان ستا څخه (د کورکېناستلو) اجازه غواړي او وایي چې (ای د الله رسوله!) مونږ پرېږده چې د (کور) کېناستونکو سره شو (د همدوی سره کېنو).

[۸۷] دوی (په دغه وخت کښې دا) خوښوي چې د زنانه وو سره شي (د دوی سره په کور کېني) او دا څکه چې د دوی په زړونو باندې مهر وهلی شوی دی نو دوی (په دقیقه پوهه باندې) نه پوهېږي.

[۸۸] مګر (بالمقابل په عین وخت کښې) پیغمبر ﷺ او هغه کسان چې د ده ﷺ سره یې (مخلصانه) ایمان راوړی دی په خپلو مالونو او خپلو خانو (سرونو) سره جهاد کوي، او همدغه کسان چې دي د همدوی دپاره نېکۍ (خوشالۍ) دي او همدوی نجات موندونکي دي.

[۸۹] الله ﷻ د همدوی دپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې لاندې ترې (څلور) ویالې بهیږي، حال دا چې دوی به پکښې همېشه وي. دغه ده لویه کامیابي (چې زوال نه لري).

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د هغه مضمون وجه بیانه شوې ده کوم ته چې په وړاندې ایتونو کښې اشاره شوې وه چې په زړونو باندې د مهر لګېدل دي، او د بل پلوه د مؤمنانو دنیاوي او اخروي حالات د منافقانو سره د مقایسې په توګه بیان شوي دي.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! په خپل امت باندې لاندې مطالب د ترغیب او ترهیب په منظور قرائت کړه:

۱ـ کله چې په تاباندې د قرآن کریم کوم سورت نازل شي او په هغه کښې ارشاد شوی وي چې خپل ایمان ته ادامه ورکړئ او د خپل پیغمبر په ملګرتیا جهاد ته ملاوې وتړئ او بې همتي مه کوئ (خپل پیغمبر ﷺ یوازې مه پرېږدئ)، نو د منافقانو څخه د طاقت (وسې) خاوندان ستا څخه په کور باندې د کېناستلو اجازه غواړي او ستا ملګرتیا ته شا کوي، او بالآخره دوی په صراحت سره وایي چې مونږ پرېږده چې د کور کېناستونکو د ډلې څخه وګرځو او جهاد ته لاړ نه شو، یا په بل عبارت: مونږ پرېږده او جهاد ته مو مه کشوه.

۲ـ لنډه دا چې منافقان د اجازې په غوښتلو سره برسېره په دې چې د خپل پیغمبر ﷺ پیروي پرېږدي د نارینه وو په ملګرتیا خوشاله نه دي او د زنانه وو ملګرتیا خوښوي، چې د همدوی سره په کورونو کښې کېني.

۳ـ د ذکر شوو خاصیتونو اصلي وجه دا ده چې د دوی په زړونو باندې مهر لګېدلی دی د نېکو کارونو څخه یې نفرت راغلی او هم ذکاوت او دقیقه پوهه نه لري چې په څه کښې ګټه ده او په څه کښې یې تاوان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ بالمقابل پیغمبر ﷺ (پخپله ته) او نور مؤمنان _چې د ده ﷺ رښتیاني ملګري دي_ کله چې جهادي فرمان نازل شي سمدستي ورته خپل ځانونه چمتو کوي او د الله ﷻ په لاره کښې په خپل سر او مال سره جهاد کوي او په همدې کار باندې خوښ او خوشالیږي.

۵_ نو اوس د مقایسې په توګه هرڅوک پوهیږي چې همدوی د ښېګڼو مستحق دي او بس، د همدې کبله د الله ﷻ د پلوه د خیر او خوشالۍ شیان فقط همدغو ته ټاکلي شوي دي او فقط همدغه ډله نجات موندونکې ډله ده.

۶_ د خوشالۍ شیان یې دا دي چې الله ﷻ دوی ته داسې جنتونه تیار کړي دي چې لاندې ترې ویالې بهیږي او دوی به پکښې همېشه وي، واقعًا چې دا ډېره لویه کامیابي ده چې څوک د دوزخ څخه نجات مونده کړي او جنت ته داخل شي.

## توضیحات

۱_ مونږ د [النساء:۲۵] ایت لاندې لیکلي دي چې د "طَوْل" کلمه د غنا او د مال د پراخۍ څخه عبارت ده، نو د ﴿ أُوْلُواْ ٱلطَّوْلِ ﴾ د معنی حاصل داسې راخېژي: چې کله د جهاد عام نفیر اعلان شي نو د منافقانو څخه د مال او ثروت خاوندان د کور د کېناستلو اجازه غواړي چې د کور د کېناستلو دپاره هیڅ بهانه نه لري، که بالفرض فقیرانو اجازه غوښتې نو بهانه خو به یې جوړه وي چې مونږ د تجهیزاتو (تیاري) توان نه لرو.

بالمقابل څوک چې مخلص مؤمنان دي د دوی د مال خاوندان خپل مالونه برسېره په خپلو تجهیزاتو د نورو مجاهدینو په تجهیزولو کښې هم نفقه کوي او فقیران یې په سرو سترګو ژاړي او عرض کوي چې: ای د الله رسوله! مونږ خو د فقیرۍ د کبله د جهادي کاروان څخه پاتې شوو، زمونږ چاره وکړه.

## خَوَالِف څه معنی؟

۲_ د ﴿ ٱلْخَوَالِفِ ﴾ کلمه د "خَالِفَة" جمعه ده، د خیمې د تیرانو څه وروستنی تیر د "خَالِفَة" په نامه یادیږي، اما په استعمال کښې ذکره شوې کلمه د زنانه وو څخه کنایه ګڼله کېږي[1] نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: منافقان د توان سره-سره د زنانه وو سره په کور پاتې کېدل خوښوي.

که څه هم په کور کښې ماشومان، ګوډ، ړانده او مریضان هم پاتې وي مګر څه لري نه ده چې د زنانه وو ذکر به ځکه تخصیص موندلی وي چې دغه لقب په منافقانو باندې هم ښه نه لګېده مګر د جهاد د کبله یې قبول کړی وه.

د همدې کبله دوی د اجازې غوښتلو په وخت کښې د ﴿ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ﴾ جمله استعماله کړه او "ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْخَوَالِف" جمله یې استعماله نه کړه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَجَآءَ ٱلْمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾ ﴾

[۹۰] او (پیغمبر ﷺ ته په دروغو یا په رښتیا وو) معذرت وړاندې کوونکې د باندچیانو څخه د دې دپاره ورغلل چې دوی ته اجازه ورکړی شي. او (د همدوی څخه) هغه کسان (د اجازې غوښتلو څخه هم) کېناستل چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ته یې دروغ ویلي وه (چې مونږ ایمان راوړی دی).

نو ژر دی چې د همدوی د جملې څخه به هغو کسانو ته دردناک عذاب ورسیږي چې کفر یې اختیار کړی دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مرکزي منافقانو د حالاتو ذکر وه او دلته د اطرافي او یا باندچیانو منافقانو څه حالاتوته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ د ایت شریف د نزول په وخت کښې لکه څنګه چې په مرکز (مدینه منوره) کښې د ایمان په لحاظ سره مختلفو خلکو موجودیت درلود همدارنګه په باندچیانو (اعرابو) کښې هم دېرې ډلې موجودې وې چې څه لنډ تفصیل یې لاندې لوستلی شئ!:

الف: سوچه (مخلص) مسلمانان چې جهاد ته په خپل سر او مال باندې تیار وه.

ب: داسې کسان چې رښتیاني معذور وه او د رښتیانيِّ اعذارو د کبله یې د نبي کریم ﷺ څخه په کور باندې د کېناستلو اجازه غوښتله.

ج: داسې کسان چې په دروغینو بهانو سره یې جهاد ته د نه تللو پېشنهادونه وړاندې کول.

د: داسې کسان چې بې غمه په خپلو کورونو کښې ناست وه او په خپل منافقت کښې دومره کلک وه چې د دروغو یا رښتیاوو د بهانو د وړاندې کولو دپاره هم د نبي کریم ﷺ حضور ته نه ورتله، چې د الله ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې یې هېڅ چرت خراب نه وه او نه یې ورته څه التفات کاوه.

## مُعَذِّرُون څوک وه؟

۲ـ د ﴿ ٱلْمُعَذِّرُونَ ﴾ د کلمې په تحلیل کښې مفسرین کرام لاندې دوه نظره لري:

الف: دغه کلمه د "تَعْذِیر" ـ لکه "تَکْرِیم" ـ څخه اخستله شوې ده، "تَعْذِیر" دې ته وایي چې څوک په یوه کار کښې قصور وکړي خو خلکو ته داسې څرګندوي چې قصور یې نه دی کړی او خپله وسه یې تُوله تمامه کړې ده[۱].

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې تفسیر باندې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې نبي کریم ﷺ ته د بانډچیانو څخه د اجازې غوښتلو دپاره داسې کسان ورغله چې خپلو دروغینو بهانو ته یې د رښتیانیو بهانو بڼه ورکړې وه چې مونږ رښتیاني معذوران یاستو، خو خبره هغسې نه وه.

ب: د "مُعَذِّرُوْن" کلمه په اصل کښې "مُعْتَذِرُوْن" وه او د "اِعْتِذَار" څخه جوړه شوې ده چې د "ت" توری د "ذ" په توري تبدیل شوی او بیا یې ادغام موندلی دی.

"اِعْتِذَار" دې ته وایي چې څوک عذر (معذرت) وړاندې کړي، برابره خبره ده چې په دروغو وي او یا په رښتیاوو[1]. د هغو بانډچیانو شماره دوه اتیا (۸۲) نفرو ته رسېدله[2] کومو چې په دروغو او یا رښتیاوو باندې معذرت وړاندې کاوه.

مونږ ته دوهم نظر غوره ښکاري ځکه چې عام دی، دواړو ډلو (صادقانو او دروغژنانو) ته شاملېږي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ځینې بانډچیان نبي کریم ﷺ ته د اجازې غوښتلو دپاره ورغله چې چا د دروغو بهانې وړاندې کړې او چا رښتیاني معذرتونه تقدیم کړه، مګر د بانډچیانو څخه ځینې داسې خلک وه چې د ډېر تکبر او کلانکارۍ د کبله د دروغینو بهانو وړاندې کولو ته هم حاضر نه شوه. نو همدغو خلکو او د دوی امثالو ته به (چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ته دروغ وایي چې مونږ ایمان راوړی دی) دالله ﷻ دپلوه دردناک عذاب ورسېږي.

﴿لَّيْسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ
حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا۟ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ مَا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ
(۹۱) وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا۟
وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا۟ مَا يُنفِقُونَ (۹۲) إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ
يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ
لَا يَعْلَمُونَ (۹۳)﴾

[۹۱] په کمزورو کسانو (بوډاګان) باندې (هیڅ ګناه) نشته (چې غزا ته لاړ نه شي) او نه په مریضانو باندې او نه په هغو کسانو باندې څه ګناه شته چې دوی هغه څه نه مونده کوي چې (په جهادي سفر کښې یې) نفقه کړي (او د څوري کار ترې واخلي).

(۱) لسان العرب ج۴ ص۵۴۶
(۲) حواشي صحیح البخاري ج۲ ص۶۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په دې شرط چې دوی الله ﷻ لره او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ لره د خیر غوښتنه کوي (او دا ځکه چې) په نېکوکارانو باندې (د ملامتیې) هیڅ لاره نشته. او الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

[۹۲] او نه په هغو کسانو باندې (څه ګناه شته) چې کله تاته درغله ترڅو دوی (په څارویو باندې) سواره کړې (څاروي ورکړې): تا (ورته) وویلې چې زه خو هغه څه (څاروي) نه مومم چې تاسو پرې سواره کړم (تاسو ته یې درکړم).

نو دوی (ستا څخه) په داسې حال کښې بېرته ستانه شوه چې د خپګان د کبله یې د سترګو اوښکې بهولې (او ژړل یې) چې دوی هغه څه مونده نه کړه چې (په جهادي سفر کښې یې) نفقه کړي (او یا ورباندې سواره شي).

[۹۳] یقیناً (د ملامتیې) لاره په هغو کسانو باندې (جوړه) ده چې دوی ستا څخه په داسې حال کښې (د کور د کېناستلو) اجازه غواړي چې دوی غنیان دي (د جهادي سفر مصارف په اوږو باندې اخستلی شي).

دوی خوښېږي چې د بېرته پاتې کېدونکو زنانه وو سره (په کورونو کښې) وي. او الله ﷻ د دوی په زړونو باندې مهر وهلی دی نو دوی نه پوهېږي (چې کور کېناستل یې په ګټه وي او که په تاوان).

## ارتباط

دغه ایتونه په حقیقت کښې وړاندېنی ایت شریف تفسیروي، هلته دوه ډوله معذرتونو ته اشاره شوې وه چې یو ډول د دروغو معذرت (بهانه) وه او بل د رښتیاوو معذرت وه. دلته هم لومړی مقبول (رښتیاني) معذرتونه تشخیص شوي دي او په آخر کښې غیر مقبول (دروغین) معذرت ته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د دې دپاره چې خلک معذرتونه ښه وپېژني ــ چې کوم یو د الله ﷻ په نزد مقبول دی او کوم یو غیر مقبول دی ــ لاندې ارشادات ورباندې قرائت کړه:

۱ ــ څوک چې کمزوي وي لکه بوډاګان په هغوی باندې څه ګناه نشته چې جهاد ته لاړ نه شي.

۲ ــ د مریضانو معذرت هم د الله ﷻ په نزد مقبول دی.

۳ ــ همدارنګه کوډ، ړانده، شل او شوټ کسان ټول د مریضانو د جملې څخه ګڼل کېږي.

۴ ــ څوک چې د لارې خرڅه او څوری نه مومي هغوی هم معذوران دي.

لنډه دا چې په ذکرو شوو کسانو باندې د غزا څخه په پاتې کېدلو باندې هیڅ ګناه نشته خو په دې شرط چې د الله ﷻ د دین او د پیغمبر ﷺ بلکې د ټولو مؤمنانو خیر غواړي او قلباً د همدوی سره وي چې غازیانو ته دعاګانې کوي او د همدوی د بریالیتوب په غرض یې لاسونه پورته کړي وي. او هم د غازیانو په کور کهول باندې تر وسې ــ وسې پاملرنه کوي.

کله چې واقعي معذوران ذکر شوی شرط پوره کړي نو په دې صورت کښې دوی د نېکوکارانو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځخه شمېرل کېږي او په نېکوکارانو باندې خو د ملامته کولو هېڅ لاره نشته.

۵_ هو! که معذوران د خپل معذرت په تشخیص کښې خطا شي (چې د معذرت سره-سره یې غزا ته تلل ممکن وي او دوی پرې د غیر ممکن گومان وکړي) نو الله ﷻ بښونکی او مهربان دی، امید شته چې په دغې اجتهادي خطاګانو باندې یې ونه نیسي.

۶_ ای پیغمبره! اوس نو د وضاحت دپاره دنېکوکارانو یو مثال ولوله، هغه دا چې:

نېکوکاران هغه کسان دي چې د غزا د خرڅې دنشتوالي د کبله ستا په حضور کښې ودرېږي او عرض کوي چې: ای د الله رسوله! مونږ خو ځاروي نه لرو چې غزا ته وربانديې لاړ شو نو هېله ده مونږ ته د سورلۍ دپاره ځاروي راکړې.

نو کله چې ته د هغوی په جواب کښې ووایې چې ماسره خو د سورلۍ دپاره ځاروي نشته چې تاسو ته یې درکړم، نو دوی ستا د حضور ځخه په داسې حال کښې ستنېږي چې د سترګو ځخه یې د خپګان د کبله اوښکې بهېږي او په دې خبره باندې په سرو سترګو ژاړي چې دوی د سورلۍ دپاره ځاروي مونده نه کړه.

نو په دغسې مخلصینو او نېکوکارانو باندې به د ملامتې تور ځنګه ولګولی شي؟

۷_ د ملامتولو لاره په هغو کسانو باندې جوړه ده (هر هوښیار سړی پرې پوهېږي) چې:

الف: اجازه غوښتل یې په واقعي معذرت باندې ولاړ نه وي بلکې دغنا او توان سره-سره ستا ځخه اجازه غواړي چې ماته د کورکېناستلو اجازه راکړه؛

ب: دوی راضي او خوشاله وي چې د نارینه وو (غازیانو) د ډلې ځخه پاتې شي او د زنانه وو سره په کور کېني، او بالآخره کله چې ته ورته اجازه ورکړې نو په پاتې کېدلو باندې خاندي او خوښېږي، مګر فقط په یادښت باندې یې نه خوښېږي چې ورته وویل شي چې تاسو خو د نارینه وو د قطاره ووتلۍ او د زنانه وو په قطار کښې ودرېدلئ.

۸_ الله ﷻ د دوی په زړونو باندې مهر وهلی دی، د همدې کبله نه پوهېږي چې دوی خو په همغه شي کښې لوېدلي دي کوم شی چې د دوی خوښ نه دی، هغه دا چې تاسو خو د زنانه وو په قطار کښې ودرېدئ (دوی خپل خیر او شر نه شي سنجولی).

## توضیحات

۱_ د ﴿ٱلضُّعَفَآءِ﴾ کلمه د "ضِعِیف" جمعه ده، "ضَعِیف" هغه چاته ویل کېږي چې بوډا (زوړ) وي او یا په اصل خلقت کښې معیوب زېږېدلی وي[۱] او د ضعف (کمزوری) ځخه د خلاصون امید یې نه وي.

۲_ د ﴿ٱلۡمَرۡضَىٰ﴾ کلمه د مریض جمعه ده، په دې مقام کښې د مریض ځخه هغه څوک مطلب دی چې مرض یې غزا ته د تللو مخه نیسي مګر امید وي چې شفا مونده کړي او مخه یې خلاصه شي[۲].

---

(۱) البحر المحیط ج۵ ص۴۸۲
(۲) تفسیر المراغي ج۱۰ ص۱۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## واقعي معذوران په ثواب کښې شريک دي

۳_ څوک چې واقعي معذور وي خو د خپل معذرت سره-سره جهاد ته لاړ شي نو په اصطلاح داسې ګڼل کېږي لکه چې په شودو باندې غوړي واچولی شي، او که جهاد لاړ نه شي هم الله ﷻ ورته د غازيانو اجر ورکوي. او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ په يوه غزا کښې وه او ويې فرمايل چې: «إِنَّ أَقْوَامًا بِالْمَدِينَةِ خَلْفَنَا مَا سَلَكْنَا شِعْبًا وَلَا وَادِيًا إِلَّا وَهُمْ مَعَنَا فِيهِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ»[1] يعنې: يقيناً په مدينه منوره کښې داسې قومونه زمونږ څخه وروسته پاتې دي چې مونږ په هيڅ کنده کښې نه داخلېږو او نه په کومه ژوره کښې ورننوزو مګر زمونږ سره پکښې هغوی (په اجر او ثواب کښې شريک) دي (او هغوی هغه خلک دي چې) معذرتونو ايسار کړي دي.

## غمژن او ژړېدونکي څوک وه؟

۴_ مفسرينو کرامو د دې ايت شريف ﴿ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ ﴾ الآية- دپاره متعدد مصداقات ښودلي دي[2] يا په بل عبارت: کوم کسان چې نبي کريم ﷺ ته ورغلي وه (ترڅو دوی هم د تبوک د غازيانو په لست کښې ونيولی شي او د سورلۍ دپاره څه څاروي ورکړی شي خو کله چې دوی ته منفي جواب ورکړئ شو نو دوی په سرو سترګو ژړل او بېرته ستانه شوه) د دغو کسانو په تعداد او په نومونو کښې زښت ډېر څه ليکلي شوي دي، زمونږ په فکر څه لرې نه ده چې د ايت شريف دپاره ليکلي شوي ټول صورتونه مصداقات وګڼل شي.

مګر اکثره مفسرينو کرامو يې بنو مقرن (د مقرن زامن) مصداق ګڼلي دي[3] چې اوه کسان وه او اوه واړه د نبي کريم ﷺ په صحابه وو کرامو ﷺ کښې شامل وه، او همدا وياړ يوازې او يوازې همدوی ته حاصل وه، د دوی څخه په غير نور څوک داسې نه وه چې اوه ورونه وي او ټولو ته د نبي کريم ﷺ د ملګرتيا افتخار حاصل وی، دوی د اعرابو (بانډچيانو) څخه وه[4].

که څه هم علماوو کرامو[5] د ذکر شوي ايت شريف دپاره د ابو موسی الاشعري ﷺ او د ده د ملګرو قيصه مصداق ښودلې ده مګر مونږ ته دا نظر محض اشتباه ښکاري او دا ځکه چې دا قيصه په داسې وخت کښې واقع شوې وه چې نبي کريم ﷺ صدقات توزيع کول، حال دا چې ايت شريف خو د تبوک د غزا په تجهيزاتو کښې نازل شوی دی.

د ښه وضاحت دپاره د همدغې قيصې لاندې ټکي ولولئ:

الف: ابو موسی الاشعري ﷺ او د ده څو ملګري نبي کريم ﷺ ته په داسې حال کښې ورغله چې

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۹۸
(۲) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۵۲؛ تفسير البغوي ج۲ ص۳۱۹؛ زاد المسير ج۳ ص۳۲۹
(۳) البحر المحيط ج۵ ص۴۸۳
(۴) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۵۹
(۵) تفسير القرطبي ج۸ ص۲۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ څه صدقات توزيع كول، او وړانديز يې وكړ چې يا رسول الله! مونږ ته څو څاروي راكړه.

ب: دوى ذكر شوى وړانديز په داسې وخت كښې وكړ چې نبي كريم ﷺ په بل شي باندې په غُصه وه، نو په سوګند سره يې دوى ته جواب وركړ چې تاسو ته به څاروي درنه كړم.

ج: لږ وخت وروسته نبي كريم ﷺ ته څه غنيمتي اوښان وروستلى شوه نو غږ يې وكړ چې: «أَيْنَ الْأَشْعَرِيُّونَ» يعنې ابو موسى الاشعري او د ده ملګري څه شوه، چرته لاړه؟.

د: كله چې دوى حاضر شوه نو پنځه اوښې يې وركړې چې سپين-سپين بوكانونه يې درلوده.

هـ: ذكر شوي صحابه كرام ﷺ نبي كريم ﷺ ته بېرته ورستانه شوه او ويې ويلې چې: اى د الله رسوله! تا خو سوګند ياد كړى وه چې مونږ ته به څه را نه كړې، ستا لكه چې خپل سوګند هېر شوى دى، كه داسې وي نو مونږ به په راكړي شوي اوښانو كښې څه خير ونه ګورو.

و: نبي كريم ﷺ جواب وزكړ چې دا كار د الله ﷻ په هدايت باندې شوى دى او زه چې كله سوګند وكړم او بيا په مقابل طرف كښې خير وګورم نو د خپل سوګند څخه تېرېږم او د خير څنډه غوره كوم او بالآخره د خپل سوګند څخه په كفاره باندې ځان خلاصوم[۱].

## سوال جواب

۵ـ كه څوك وايي چې ذكر شوي ژړېدونكي خلك بيا د تبوك غزا ته لاړه او كه پاتې شوه؟

مونږ وايو چې: ظاهره دا ده چې جهاد ته لاړ نه شوه او د معذرت له كبله پاتې شوه[۲]. مګر الله ﷻ به ورته اجرونه او ثوابونه وركړي وي، لكه چې په دربمه توضيح كښې وړاندې تېر شوه.

د الله ﷻ په فضل لسمه سپاره په ۱۳۷۵/۶/۲۹ هـ ش نېټه باندې ختمه شوه، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۲۹
(۲) روح المعاني ج۱۰ ص۱۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡۚ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ قَدۡ نَبَّأَنَا
ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ
وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٤﴾ سَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ إِذَا ٱنقَلَبۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ
لِتُعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ إِنَّهُمۡ رِجۡسٞۖ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡۖ فَإِن تَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرۡضَىٰ
عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾ ﴾

**[۹۴]** (منافقان به) تاسو ته معذرتونه در وړاندې کړي (البته) کله چې تاسو دوی ته بېرته ورتاو شئ، ته (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې معذرتونه مه راوړاندې کوئ (ستاسو معذرتونه مردود دي) هېڅکله به مونږ تاسو ته عقیده ونه کړو (ځکه چې): یقینًا الله ﷻ ستاسو په ځینو خبرونو باندې مونږ خبردار کړي یاستو (ستاسو په دروغینو بهانو باندې نه غولېږو).

او (که تاسو د صداقت مدعیان یاست نو) ژر دی چې الله ﷻ به ستاسو عملونه وګوري او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ (به هم تاسو د عمل په میدان کښې معاینه کړي) بیا به (د قیامت په ورځ) د پټو او ښکاره وو پوهېدونکی (الله ﷻ) ته ورتاو کړی شئ نو په هغه څه باندې به مو خبر کړي (جزا به درکړي) چې تاسو یاست چې (په استمرار سره یې) کوئ.

**[۹۵]** ژر دی چې په الله ﷻ باندې به تاسو ته سوګندونه وکړي (چې زمونږ معذرتونه واقعیت لري البته) کله چې تاسو دوی ته بېرته وروګرځئ (دا) د دې دپاره چې تاسو د دوی (د ملامتی) څخه مخونه واړوئ (او په خبرو یې باور وکړئ) نو تاسو د دوی څخه مخونه واړوئ (بحثونه ورسره مه کوئ). یقینًا دوی (قلبًا) پلیت دي او د اوسېدلو ځای یې ځکه دوزخ دی چې دا د هغه کړو وړو جزا ده کوم چې دوی دي چې په دنیا کښې یې (په استمرار سره) کوي.

**[۹۶]** دوی (منافقان) ستاسو دپاره سوګندونه خوري ترڅو تاسو د دوی څخه راضي (خوشاله) شئ. نو که (بالفرض) تاسو د دوی څخه راضي هم شئ نو یقینًا الله ﷻ د فاسق قوم څخه نه راضي کېږي (نو ستاسو رضامندي به دوی ته څه ګټه ورسوي؟).

## ارتباط

د وړاندې نژدې ایت شریف مضمون دا وه چې د ملامتی ګوته هغو خلکو ته نیوه کېږي کوم چې د توان سره-سره د کور کېناستلو اجازه غواړي. او په دې ایتونو کښې په هغوی باندې د پرې اچولو طریقه ښودلې شوې ده چې باید دا ورته وویلی شي او داسې ورسره وکړی شي. نو حاصل یې دا دی:



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! کله چې الله ﷻ تاسو په خیر سره بېرته مدینې منورې ته روغ رمټ ستانه کړئ نو تاسو ته په کار دي چې په دروغو باندې د اجازه غوښتونکو سره لاندې چال چلند وکړئ:

۱ـ نن خو دوی په کور باندې د کېناستلو اجازې غواړي او د دروغو بهانې درته وړاندې کوي، خو کله چې تاسو د غزا څخه بېرته ورستانه شئ نو په دغه وخت کښې به یو ځل بیا ستاسو حضور ته درشي او وایي به چې زمونږ پخوانیو معذرتونو حقیقت درلود او په واقعیت باندې ولاړ وه، نو یا رسول الله! لکه چې هلته دې راته اجازه راکړه، نو هېله ده چې نن هم په مونږ باندې پړه وانه اچوئ او د ملامتیٔ ګوته راته ونه نیسئ:

ای پیغمبره! دوی ته په جواب کښې ووایه چې په دغو دروغینو معذرتونو باندې وخت مه ضائع کوئ او دا څکه چې:

الف: ستاسو په دغو معذرتونو (بهانو) باندې مونږ هېڅکله باور نه کوو، مونږ ته الله ﷻ ستاسو حالات ښه پوره بیان کړي دي او مونږ یې خبر کړي یاستو چې تاسو دروغ وایاست.

ب: نو تاسو ته په کار دي چې د وخت (فرصت) څخه استفاده وکړئ، توبه وباسئ او خپل ایمانونه سوچه کړئ.

لنډه دا چې په ژبه (خوله) باندې خپل ځانونه مه سپینوئ بلکې په عملي میدان کښې خپل ایمان او ښه سرېتوب په اثبات ورسوئ.

ج: که بالفرض تاسو خلک وغولولی شئ نو الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ خو نه شئ غولولی، که د نورو سره دروغ وچلېږي نو د الله ﷻ سره خو دروغ نه چلېږي او څه ارزښت نه لري.

د: الله ﷻ خو په پټو او ښکاره وو باندې په یو شان پوهېږي، لکه څنګه چې ورته ستاسو ظاهري حال معلوم دی همدارنګه ستاسو په زړونو او پټو رازونو باندې هم پوه دی، چې د قیامت په ورځ به تاسو په خپلو ټولو کړو وړو باندې خبر کړي چې دا مو ویلي دي او دا مو کړي دي.

۲ـ ای مؤمنانو! کله چې تاسو بېرته ورستانه شئ دوی به ډېر ژر تاسو ته خپل معذرتونه په شوګندونو سره تائید کړي چې مونږ رښتیاني معذورین وو. دا ټولې هلې ځلې به د دې دپاره کوي چې تاسو د دوی د ملامته کولو څخه ډډه وکړئ او دوی ته د ملامتیٔ ګوته ونه نیسئ: د دوی سره د دې خبرې غم نشته چې الله ﷻ به په دوی باندې ملامته او پړه واچوي که داسې وی نو معذرت ته اړتیا نه وه، دوی به په اخلاص سره توبه تائب شوي وی.

نو تاسو د دوی څخه مخونه واړوئ او ناندرۍ ورسره مه وهئ، دوی عقیدةً ناپاکه خلک دي د دغو ناپاکانو سره په بحث او مباحثه باندې خپل قیمتي وختونه مه ضائع کوئ. دوی په همدغې ناپاکۍ باندې خوښ دي، د دوی په زړونو باندې مهر لګېدلی دی، که تاسو هرڅومره هلې ځلې وکړئ دوی د منافقت څخه لاس نه اخلي او د اصلاح استعداد یې د لاسه ورکړی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې منافقان په خپلو دروغينومعذرتونو باندې نجات نه شي موندلی نو د خپلې بد عملۍ د کبله د دوی د اوسېدلو ځای دوزخ دی او دا یې د خپل کسب سزا ده.

٣ـ ای مؤمنانو! د منافقانو يوازې دا آرزو نه ده چې تاسو يې د ملامته کولو څخه ډډه وکړئ بلکې برسېره پر دې، تمه لري چې تاسو ترې خوشاله او راضي هم شئ او د زړونو علاقه ورسره ښه قوي کړئ. مگر دوی په دې نه پوهېږي چې تاسو د هغه چا څخه نه راضي کېږئ د کومو څخه چې الله ﷻ ناراضي وي. ځکه چې ستاسو خو دوستي او دښمني دواړه د الله ﷻ دپاره دي.

او که بالفرض تاسو ترې راضي شئ هم نو په دغه صورت کښې به ستاسو رضامندي هغوی ته څه گټه ورسوي؟ او په کوم درد باندې به یې دوا شي؟.

که هغوی تمه لري چې ستاسو په راضي گرځولو سره به ترې الله ﷻ هم راضي شي نو دا تمه دې نه کوي او دا ځکه چې الله ﷻ د فاسق قوم څخه نه راضي کېږي ترڅو چې د فسق څخه لاس واخلي او په اخلاص سره توبه تائب شي.

يا په بل عبارت: منافقانو د خپل نجات لاره خطا کړې ده چې ستاسو رضامندي غواړي او توبه نه وباسئ او يا اصلا دوی محض وخت تېروي او د نجات غم ورسره نشته.

## توضيحات

١ـ د نبي کريم ﷺ عادت وه چې کله به د سفر څخه بېرته راستون شو نو د هرڅه څخه وړاندې به يې په جومات کښې دوه رکعته لمونځ کاوه بيا به هلته کښناسته ترڅو ورته خلک هرکلي ووايي او په حضور يې مشرف شي.

د همدې عادت په بنياد کله چې نبي کريم ﷺ د تبوک د غزا څخه راستون شو او د خلکو دپاره کښناست نو لکه څنگه چې الله ﷻ د بېرته راستنېدلو څخه وړاندې خبر ورکړی وه همغسې به د جهاد څخه پاتې شوي کسان د نبي کريم ﷺ حضور ته ډلې-ډلې ورتلل او خپل معذرتونه به يې وړاندې کول[١].

## غيب او شهادة څه معنی؟

٢ـ که څه هم د "غَيْب" او "شَهَادَة" دواړه کلمو د تفسير په باره کښې د الله ﷻ په توفيق مونږ د [الأنعام:۵٩] ايت لاندې پوره څېړنه کړې ده چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه گورو مگر په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو په لاندې ډول تفسيرې کړې دي[٢]:

الف: د "غَيْب" څخه هغه ځيزونه مراد دي کوم چې د بندگانو څخه غائب وي او يا يې ورته علم نه رسېږي او بالآخره يا لا بالکل موجود شوي نه وي.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص۶٣۴

(٢) تفسير القاسمي ج٨ ص٢٩۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: او د "شَهَادَة" کلمه د هغو شیانو څخه عبارت ده کوم چې د بندګانو علم ورته رسېږي او یا هغه چې موجود شوي وي.

لنډه دا چې د الله ﷻ څخه هېڅ شی نه شي غائب کېدلی کوم عملونه چې منافقان کوي هغه ورته ټول معلوم دي، برابره خبره ده چې سمدستي پرې لګیا وي او یا یې په راتلونکي کښې مرتکب کېږي.

﴿ٱلْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلَّا يَعْلَمُوا۟ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ

وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ ٱلْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَ

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ ٱلْأَعْرَابِ مَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ

ٱلْءَاخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِ أَلَآ إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ سَيُدْخِلُهُمُ

ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٩﴾﴾

[۹۷] اعراب (بانډچیان) چې دي د کفر او نفاق د حیثه (د مرکزي منافقانو څخه) سخت (کلک) دي او (هم دوی د هغوی څخه) زیات لیاقت لري چې په هغو حدود (شرائعو) باندې پوه نه شي کوم چې الله ﷻ په خپل پیغمبر باندې نازل کړی دی.

او الله ﷻ د پوهې خاوند دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

[۹۸] او د بانډچیانو څخه ځینې هغه خلک دي چې هغه څه تاوان ګڼي کوم چې (په خپل خیال د الله ﷻ په لاره کښې) یې نفقه کوي. او (په دې باندې علاوه) ستاسو په هکله مصیبتونو ته انتظار کوي (چې درباندې درنازل شي).

بد مصیبتونه په همدوی باندې (نازلېدونکي) دي (خو دوی پرې نه پوهېږي).

او الله ﷻ (د دوی د ټولو اقوالو) اورېدونکی دی (او په زړونو باندې یې) پوه دی.

[۹۹] او د بانډچیانو څخه ځینې هغه کسان دي چې په الله ﷻ او وروستني ورځ باندې (په ربښتیانې توګه) ایمان راوړي (عقیدې پرې کوي) او (هم) هغه (نفقات) د الله ﷻ په نزد د نژدېکت سببونه ګڼي کوم چې (د ده ﷻ په لاره کښې) نفقه کوي. او (هم یې) د نبي کریم ﷺ د دعاګانو (ذرائع) ګڼي او زړونه یې ورباندې ډاډینه پیدا کوي).

خبردار! دا (نفقات) د دوی دپاره (واقعًا الله ﷻ ته د) نژدېکت (سببونه) دي (او د نبي کریم ﷺ د دعاګانو ذرائع دي).

ژر دی چې الله ﷻ به دوی په خپل رحمت (جنت) کښې داخل کړي. یقینًا الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ او مؤمنانو ته توصیه کړې وه چې د بېرته ستنېدلو په وخت کښې د منافقانو دروغین معذرتونه مه قبلوئ.
په دې ایتونو کښې د بانډچیانو په هکله توصیه شوې ده چې په دوی کښې دوه ډوله خلک دي ځینې منافقان دي چې په منافقت کښې د مرکزي منافقانو څخه کلک او قوي دي. او ځینې پکښې ښه مخلص مسلمانان هم شته نو تاسو ته په کار دي چې هرچاته خپل حق ورکړئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د اعرابو (بانډچیانو) په هکله لاندې ارشادات په خپل امت باندې قرائت کړه:
۱ـ بانډچیان په لاندې صفاتو کښې د مرکزي خلکو څخه زیات دي:
الف: د بانډچیانو کفار د مرکزي کفارو څخه په کفر کښې سخت او کلک دي.
ب: د دوی منافقان د مرکزي منافقانو څخه په منافقت کښې قوي او پیاوړي دي.
ج: په دوی کښې د هغوی په نسبت بې عملي او جهل (ناپوهي) ډېره ده. نو دوی د دې خبرې ښه لیاقت لري چې په ما انزل الله (په احکامو او حدودو) باندې د ناپوهانو لقب ورکړی شي.
۲ـ الله ﷻ د کامل علم خاوند دی نو ټول خلک ډېر ښه پېژني او د هرچا د کړو وړو معیار ورته ډېر ښه څرګند دی. نو ځکه د خپل حکمت په غوښتنه نه د چا په ثواب او اجر کښې کمبود واقع کوي او نه د چا په سزا کښې د متعین حد څخه وړاندېوالی کوي.
۳ـ د بانډچیانو څخه ځینې هغه خلک دي چې لاندې خاصیتونه لري:
الف: د الله ﷻ په لاره کښې ورته د خپل مال نفقه کول تاوان ښکاري او باور نه لري چې الله ﷻ به عوضونه ورکړي.
ب: دوی منتظر دي چې کله به په تاسو (مسلمانانو) باندې مصیبتونه راچاپېرېږي چې یو نفر هم ورڅخه ژوندی پاتې نه شي.
مګر دوی نه پوهېږي چې په مصیبت باندې د اخته کېدلو دپاره همدوی جوګه دي او په نن سبا کښې به په همدوی باندې آفتونه احاطه وکړي. ځکه چې الله ﷻ د دوی د ټولو ویناګانو اورېدونکی دی. او هم الله ﷻ د دوی په زړونو باندې پوه دی چې د زړونو عداوت یې د هغه څخه ډېر لوی دی کوم چې دوی وړباندې تلفظ کوي.
لنډه دا چې ای مؤمنانو! لکه چې وړاندې تاسو ته توصیه شوې وه چې منافقان به تاسو ته په سوګندونو سره خپل دروغین معذرتونه وړاندې کړي ترڅو تاسو خوشاله کړي خو پام کوئ چې د دوی په غوړمالو خبرو باندې باور ونه کړئ، همدارنګه تاسو ته د بانډچیانو منافقانو په هکله توصیه کېږي چې نه یې په دروغینو سوګندونو باندې باور وکړئ او نه یې دروغینو معذرتونو ته غوږ کېږدئ. دا ځکه چې د دوی منافقت د مرکزي منافقانو څخه قوي دی او جهالت یې ترې زیات دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ مګر په یاد ولرئ! چې په اعرابو (بانډچیانو) کښې ځینې داسې خلک هم شته چې لاندې صفات لري:

الف: په ربښتینې توګه الله ﷻ او په وروستۍ ورځې (قیامت) بلکې په ټولو شرائعو باندې پخې عقیدې لري او باور پرې کوي.

ب: دوی د الله ﷻ په لاره کښې د خپل څه مال نفقه کول تاوان نه ګڼي بلکې دا ورته د الله ﷻ په نزد د نژدېکت او اجر اسباب او هم د نبي کریم ﷺ د دعاګانو موجبات برېښي. دوی تمه لري چې د خپلو مالونو په انفاق باندې به د یو پلوه د الله ﷻ په نزد د لویو اجرونو استحقاق مونده کړي او د بله پلوه به پرې د نبي کریم ﷺ خوشالي ترلاسه کړي او د ده ﷺ په دعاګانو باندې به یې زړونه تسکین ومومي.

۵_ ای پیغمبره! د دغو بانډچیانو تمه او امید بالکل په ځای دی نو دوی ته د خیر دعاګانې وکړه چې په زړونو کښې یې اطمنان او ډاډینه ځای ونیسي او هم ټول مؤمنان مخاطب کړه چې خبردار! یقینًا د الله ﷻ په لاره کښې د مالونو انفاق د دوی دپاره الله ﷻ ته د نژدېکت ذریعه ده. هغه دا چې:

الف: الله ﷻ به دوی په خپل رحمت (جنت) کښې داخل کړي او د دوزخ د اوره به نجات ورکړي.

ب: الله ﷻ به د تقصیراتو (ګناهونو) څخه ورتېر شي، ځکه چې الله ﷻ ببنونکی دی.

ج: او بالآخره الله ﷻ به په دنیا کښې د لا زیاتو نېکیو توفیق ورکړي او په آخرت کښې به د استحقاقه اضافه اجرونه ورکړي ځکه چې الله ﷻ مهربان دی.

## توضیحات

۱_ د "أعْرَاب" کلمه جمعه ده او د "أعاریب" په کلمه باندې د دوهم ځل دپاره هم جمعه کېږي مګر مفرد نه لري خو د نسبتي "يّ" په پیوستون سره په مفرد باندې دلالت کوي[۱] نو یوه سړي ته د "أعْرَابي" کلمه استعمالېږي. د دې ډول استعمال لاندې څو نظائر ولولئ:

الف: د "یَهُود" کلمه جمعه ده خو د یو نفر دپاره "یَهُودِيّ" استعمالېږي.

ب: د "عَرَب" کلمه د یوه خاص قوم نوم دی خو د یوه نفر دپاره ورپورې نسبتي مشدده "يّ" پیوستون مومي او "عَرَبِيّ" ویل کېږي.

"أعْرَاب" د هغو عربانو څخه عبارت دی چې د ښارونو څخه دباندې په بېدیاګانو کښې اوسېږي او د خپلو څارویو په څرولو باندې بوخت دي، چې مونږ ترې په بانډچیانو باندې تعبیر کوو.

## د أجْدَر د کلمې تحلیل

۲_ د ﴿أجْدَر﴾ کلمه د اسم تفضیل صیغه ده او د "جَدْر" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "جَدْرُ الْحَائِطْ" د دېوال تهداب (بنیاد) ته ویل کېږي[۲]. نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې:

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۵۸۶، التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۱۶۵
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندچيان د بل هرچا څخه زيات لياقت لري چې په بنيادي توګه په حدود الله (شرعي علومو) باندې پوه نه شي. ته به وايې چې د دوی او د علومو ترمنځ ښه قوي ديوال وهلی شوی دی.

نبي کريم ﷺ د اعرابو خاصيت ډېر ښه شرحه کړی دی او فرمايلي يې دي چې: «مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا وَمَنْ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتَتَنَ»[۱] هرڅوک چې په بېديا کښې اوسېږي هغه سخت خويه کېږي، او هرڅوک چې ښکار پسې ګرځي (ښکارزن وي) هغه غافل کېږي او (بالآخره) هرڅوک چې د قدرت خاوند (پاچا) ته ورځي (ورنژدې کېږي) هغه په فتنه کښې واقع شو.

## يادونه

۳ـ څرنګه چې د اعرابيت سره سخت خويه توب نښتی دی نو الله ﷻ د اعرابو څخه يو پيغمبر هم نه دی استولی[۲] دا خکه چې د پيغمبر سره نرمي او زړه سوی ضرور دي، او دا په دوی کښې کمبود دی. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ چې:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يوه اعرابي وويلې چې تاسو خپل ماشومان مچي کوئ، خو قسم دی چې مونږ خپل ماشومان نه مچي کوو، نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې: «مَا أَمْلِكُ أَنْ اللهُ نَزَعَ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ»[۳] يعنې: زه واک نه لرم (چې ستا په زړه کښې نرمي واچوم) يقيناً الله ﷻ ستا د زړه څخه رحمت (او زړه سوی) ويستلي دي.

## يوه عجيبه قيصه

۴ـ يوه ورځې زيد بن صوحان عليه الرحمة خپلو شاګردانو ته احاديث بيانول، حال دا چې د نوموړي يو لاس په کوم جنګ کښې قطعه شوی وه، نو په عين وخت کښې يې يو اعرابي ترڅنګ کېناست او لاندې سوال جواب يې ورسره وکړ[۴]:

اعرابي: ستا خبرې مې ډېرې خوښې شوې خو پرې کړی شوی لاس دې په شک کښې واچولم (چې دا به په غلا کښې قطعه شوی وي).

زيد عليه الرحمة: زما لاس دې ولې په شک کښې اچوي؟ په غلا کښې خو ښی لاس قطعه کېږي او زما خو کيڼ لاس قطعه دی.

اعرابي: قسم دی چې زه نه پوهېږم چې د غلا په حد کښې ښی لاس قطعه کېږي او که چپ لاس.

زيد عليه الرحمة ذکر شوي ايت ته اشاره وکړه او جواب يې ورکړ چې الله ﷻ رښتيا ويلي دي چې باندچيان په حدود الله باندې په بې علمۍ کښې ښه لياقت لري.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۶۴
(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۳۸۳
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۸۷؛ مسند احمد حنبل ج۹ ص۳۱۷
(۴) تفسير الطبري ج۱۱ ص۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مَغْرَم څه معنی؟

۵ـ د ﴿ مَغْرَمًا ﴾ کلمه د "غُرْم" ـلکه "قُفل" ـ څخه اخستله شوې ده، "غُرْم" هغه تاوان ته ویل کېږي چې بدون د جنایت او بدون د خیانته د چا په مال کښې واقع شي[۱]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: منافقان هغه مال بې موجبه تاوان ګڼي کوم چې دوی يې د الله ﷻ په لاره کښې نفقه کړي نو د ثواب (اجر) امید ورته نه لري.

## "دَوَائِر" څه معنی؟

۶ـ د ﴿ ٱلدَّوَآئِرَ ﴾ کلمه د "دَائِرَة" جمعه ده چې مونږ د [المائدة: ۵۲] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه پوره تحلیله کړې ده چې د کنایې په توګه دآفت او مصیبت په معنی باندې استعمالېږي، بیا لېکلو ته يې اړتیا نه ګورو؛ نو د همدې کبله مونږ د ﴿ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ﴾ معنی په بد مصیبت سره کوو.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: د ﴿ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ﴾ جمله خو د الله ﷻ د پلوه د ښېرا په ځای استعماله شوې ده نو پوښتنه دا ده چې ښېرا خو دې ته وایي چې څوک د بل چا څخه څه آفت وغوارې چې په فلاني باندې يې ورنازل کړه حال دا چې دا ډول غوښتنه خو د الله ﷻ د عالي شان سره مناسبه نه ده؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ د جانبه په یوه شي سره د دعاء او یا د ښېرا معنی دا ده چې همغه شي د الله ﷻ په نزد واجب الوقوع وي[۲]. نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو! ذکر شوي منافقان خو ستاسو په هکله د مصیبتونو د نازلېدلو په انتظار دي حال دا چې بد مصیبتونه په همدوی باندې ورنازلېدونکي دي، مګر دوی ورباندې شعور نه لري.

## یادونه

۸ـ څرنګه چې په ﴿ مَا يُنفِقُ ﴾ کښې د "مَا" توری د نفقاتو څخه عبارت دی نو په ﴿ أَلَآ إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ﴾ کښې ورته مؤنث ضمیر راجع کړی شو او دا ځکه چې اهل العربیه جمعې ته کله-کله د مؤنث مفرد په نظر ګوري. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ذکر شوي بانډچیان مؤمنان چې خپلو صدقاتو (نفقاتو) ته په کومه عقیده باندې ګوري همغه عقیده يې بالکل په ځای ده چې د هر یوه دپاره د هغه نفقات الله ﷻ ته د نژدېکت اسباب دی چې د نبي کریم ﷺ په دعاګانو باندې لا پسې قوت مونده کوي او کلکېږي.

﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحْسَٰنٍ رَّضِىَ

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۲

(۲) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ
ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾

[۱۰۰] او سبقت کوونکي لومړني کسان چې د مهاجرینو او انصارو څخه عبارت دي او (هم) هغه کسان چې د دوی (مهاجرینو او انصارو) په اخلاص (ښه نیت) سره پېروي کوي، د دوی (درېواړو ډلو) څخه الله ﷻ راضي دی او دوی به هم د الله ﷻ څخه راضي شي (او راضي دي).

او (هم) الله ﷻ دوی (ټولو) ته داسې جنتونه تیار کړي دي چې لاندې ترې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، دوی به هلته تل ترتله همېشه وي، همېشه. دغه ده ډېره لویه کامیابي (او بریالیتوب).

## ارتباط

په وړاندې نژدې ایت شریف کښې الله ﷻ فرمایلي وه چې په اعرابو کښې مؤمنان (سوچه مخلصین) هم شته دي. په دې ایت کښې یې سوچه مخلصین مؤمنان په صراحت سره ښودلي دي چې هغه دي او دغه دي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! الله ﷻ خو وړاندې وعده وکړه چې بانډچیان سوچه مؤمنان به په خپل رحمت کښې داخل کړي نو اوس خپل امت ته خبر ورکړه چې الله ﷻ د مؤمنانو لاندې ډلو سره هم په خپل رحمت کښې د داخلولو وعده ورکړې ده:

۱ـ وړاندېني لومړني مهاجرین چې د هرڅا څخه وړاندې یې د الله ﷻ د رضا دپاره خپل کورونه پرېښودل او هجرت یې وکړ.

۲ـ وړاندېني لومړني انصار چې په ډېر اخلاص سره یې مهاجرینو ورونو ته ځای ورکړ او دې ته چمتو شوه چې په خپلو شخصي مالونو کښې برخې ورکړي، او خپلې زراعتي ځمکې ورسره وویشي. مګر دا بېله خبره وه چې مهاجرینو دا کار قبول نه کړ.

۳ـ د ذکرو شوو دواړو ډلو څخه وروسته آن د قیامته پورې نور مؤمنان هم په وعده کښې شامل دي خو په دې شرط چې د ذکرو شوو دواړو ډلو په اخلاص او نېکه طریقه سره پېروي وکړي. لکه څنګه چې هغوی د الله ﷻ په لاره کښې خپل کورونه پرېښي وه دوی هم همدې کار ته تیار وي او یا یې په عمل کښې پیاده کړي او هجرت وکړي.

لکه څنګه چې هغوی د مهاجرینو ورونو په اخلاص او نېکه طریقه سره خدمت کړی وه دوی هم همدې کار ته چمتو وي او پایي په عمل کښې پیاده هم کړي.

لنډه دا چې دربمه هغه ډله ده چې په خپل وار او وخت سره د پخوانیو مهاجرینو او انصارو پیروي کوي، د مهاجریت په وخت کښې هجرت کوي او د انصاریت په موقع نصرت او کومک څخه کار اخلي، برابره خبره ده چې دغه ډله بانډچیان دي او که غیر بانډچیان.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکرو شوو درېوارو ډلو په رحمت کښې داخلول د لاندې ټکو څخه عبارت دي:

الف: الله ﷻ د دوی څخه راضي دی او په آخرت کښې به خپله رضامندي عملا ورڅرګنده کړي.

ب: دوی درېواړه ډلې د الله ﷻ څخه راضي دي. په دنيا کښې د الله ﷻ په مقدراتو باندې رضامندي ښکاره کوي چې په مصيبتونو باندې صبر کوي او په نعمتونو باندې شکر اداء کوي، او په آخرت کښې خو به د الله ﷻ په بې شماره نعمتونو باندې خوشاله شي. هغه دا چې:

ج: الله ﷻ دوی ته داسې جنتونه تيار کړي دي چې د ونو لاندې يې څلور ډوله ويالي بهېږي.

د: دوی به په دغو نعمتونو او جنتونو کښې همېشه وي همېشه.

ای پيغمبره! دغه ده ډېره لويه کاميابي، نو په کار دي چې ټول خلک ورپسې هڅه وکړي.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې کومه معنی چې د ﴿ وَٱلسَّـٰبِقُونَ ﴾ د کلمې څخه فهمېږي په همغې معنی باندې د ﴿ ٱلْأَوَّلُونَ ﴾ کلمه هم دلالت کوي. نو پوښتنه دا ده چې د هغې په تعقيب باندې د دې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې ـوالله ﷻ اعلمـ: په دې مقام کښې د مهاجرينو او انصارو په دوه وو صفتونو باندې توصيفول مطلب دي.

يو دا چې دوی ټول په هجرت او نصرت کښې د نورو مؤمنانو دپاره امامان او اساس اېښودونکي دي. په دې معنی باندې ﴿ وَٱلسَّـٰبِقُونَ ﴾ کلمه دلالت کوي چې په مقابل کښې يې "التَّابِعُوْن" کلمه استعمالېږي، يعنې دوی پيشوايان او نور يې پيروان دي.

بله دا چې دوی ټول په هجرت او نصرت کښې اول نمره ګان او د لوړې درجې خاوندان دي. په دې معنی باندې د ﴿ ٱلْأَوَّلُونَ ﴾ کلمه لاربښوونه کوي چې په مقابل کښې يې د "الثَّانِيُون" کلمه استعمال مومي، يعنې دوی اول نمره ګان دي او نور يې دوهم نمرګان دي.

نو که بالفرض د ﴿ ٱلْأَوَّلُونَ ﴾ کلمه نه وی نازله شوې نو د مهاجرينو او انصارو دوهم صفت به پټ پاتې شوی وي.

## امامان او مقتديان څوک-څوک دي؟

۲ـ په دې کښې ټول علماء کرام متفق دي چې په مؤمنانو (د نبي کريم ﷺ په پيروانو) کښې هغه کسان امامان دي چاته چې په ﴿ وَٱلسَّـٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴾ سره اشاره شوې ده، او هغه کسان پکښې مقتديان دي د چا څخه چې په ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم ﴾ سره تعبير شوی دی.

مګر په دې کښې مختلف دي چې هغه لقب کومو مؤمنانو ته ورکړی شوی دی، او دا لقب کومو ته ورکول کېږي چې ټول اقوال پکښې تقريبًا شپږو ته رسېږي[1].

(۱) زاد المسير ج۳ ص۳۳۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر په عمده توګه دغه اقوال په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلی کېږي، مونږ هر یو ګروپ په یو-یو مثال سره واضحه کوو:

الف: ځینې علماء کرام په ﴿ مِنَ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د تبعیض دپاره اخلي[1]. نود مهاجرینو څخه هغو کسانو ته ذکر شوی لقب ورکوي څوک چې د ټولو څخه وړاندې په اسلام باندې مشرف شوي دي چې نومونه یې دا دي:

۱ـ په زنانه وو کښې: خدیجة الکبری رضي الله عنها. ۲ـ په نارینه وو کښې: ابو بکر الصدیق ﷺ.
۳ـ په ماشومانو کښې: علي ﷺ. ۴ـ په غلامانو کښې: زید بن حارثه ﷺ.

د دوی څخه وروسته د ابو بکر الصدیق ﷺ په دعوت سره لاندې کسان په اسلام باندې مشرف شوه:

۵ـ عثمان بن عفان ﷺ. ۶ـ الزبیر بن العوام ﷺ. ۷ـ عبد الرحمن بن عوف ﷺ. ۸ـ سعد بن ابي وقاص ﷺ. ۹ـ طلحه بن عبید الله ﷺ.

او د انصارو څخه هغه کسان امامان دي چا چې په بیعت العقبه کښې اشتراک کړی دی چې په اول بیعت کښې شپږ کسان وه او په دوهم بیعت کښې اویا (۷۰) نفره وه.

ب: ذکر شوی د "مِنْ" توری د بیان دپاره دي[2]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د نبي کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ. یا په بل عبارت: د نبي کریم ﷺ د مبارکې زمانې ټول مهاجرین او ټول انصار امامان دي او د دوی څخه وروسته د قیامت د ورځې پورې چې څوک د هغوی په کړنلاره باندې قدم ږدي او پوچ پاش وریورې نه وایي هغوی ټول یې مقتدیان دي. او په ایت شریف کښې د الله ﷻ د رضایت او د جنتونو په ورکړه کښې امامان او مقتدیان ټول شامل دي. والحمد لله والشکر علی ذلك.

## تبصره

۳ـ مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره ښکاري، دا ځکه چې:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «خَيْرُ أُمَّتِي الْقَرْنُ الَّذِي بُعِثْتُ فِيهِمْ»[3] یعنې: زما په امت کښې د هغې زمانې (مؤمنان) بهتر دي چې زه پکښې مبعوث شوی یم، یعنې زما صحابه کرام ﷺ.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنْفَقَ أَحَدُكُمْ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلا نَصِيفَهُ»[4] یعنې: ای خلکو! زما صحابه وو کرامو ﷺ ته کنځلې مه کوئ ځکه چې زما دې په هغه اقدس ذات ﷻ باندې قسم وي چې زما ځان د هغه په لاس (واک) کښې دی

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۲۲
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۱۷۱؛ تفسیر القاسمي ج۸ ص۳۰۲
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۸۴
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۲۲۵؛ سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۸۴؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې که (بالفرض) ستاسو یو نفر د احد د غره په اندازه سره زر د الله ﷻ په لاره کښې نفقه کړي هم نه به د هغوی د یو نفر پاوکي ته ورسېږي او نه نیم پاوکي ته.

## اهل التشیع څه وایي؟

۴ـ اهل التشیع وایي چې ډېر صحابه کرام ﷺ په ذکره شوې درجه باندې پاتې نه وه او د دوی په عقیده د حقې لارې څخه منحرف شوي وه[۱]، العیاذ بالله.

مونږ أهل السنة والجماعة وایو چې صحابه کرامو ﷺ ته ذکره شوې درجه په صریح قرآن سره ثابته شوې ده او د کومو صحابه وو کرامو ﷺ څخه چې اهل التشیع ذکره شوې درجه سلبوي دهغوی په هکله څه شرعي دلایل او نصوص په لاس کښې نه لري بلکې خپله خبره صرف په عقلي دلایلو او عقلي تاویلاتو باندې بنا کوي، او هم د صحابه وو کرامو ﷺ خپلمنځي اختلافات په نظر کښې نیسي. دوی ته په کار وه چې لاندې نکاتو ته یې خپله توجه ور اړولې وی:

الف: دوی ته د صحابه وو کرامو ﷺ په باره کښې سکوت بهتر وه چې غلې پاتې شوي وی او دوی پسې یې چتیات نه وی ویلي ځکه چې په سکوت کښې هیڅ خطره نشته. زمونږ یقین دی چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ د چا څخه پوښتنه ونه کړي چې صحابه کرام ﷺ دې غیبانه ولې نه دي محاکمه کړي؟

ب: د الله ﷻ رحمت ډېر زیات دی حتی چې کله-کله لا ګناهونه برسېره په مغفرت په نېکیو باندې هم بدلوي. څوک خبر دی چې د صحابه کرامو ﷺ په هکله په همدې طرز العمل اجراءات وکړي.

ج: صحابه وو کرامو ﷺ ته کنځل کول برسېره په دې چې اخلاقي او غیر انساني جرم دی د لاندې د نصوصو څخه مخالفت هم دی:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا»[۲] یعني: تاسو مړو مسلمانانو ته کنځل مه کوئ ځکه چې یقیناً دوی هغه شي ته رسیدلي دي کوم چې دوی وړاندې لېږلی وه (ښه وه او که بد وه نو په کنځلو کښې څه فائده ده؟).

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ»[۳] یعني: تاسو د خپلو مړو (مسلمانانو) محاسن (نیک کارونه) یاد کړئ او د هغوی بدیو (بدو کارونو د ذکر) څخه ډډه وکړئ.

﴿ وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ۖ مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾ ﴾

---

(۱) تفسیر نمونه ج۸ ص۱۰۶

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۱۸۷

(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٠١] او (ای مؤمنانو!) د هغو خلکو څخه چې ستاسو (د مدينې منورې) په چاپېريال کښې دي، چې د بانډچيانو څخه عبارت دي، ځينې منافقان دي.

او د مدينې منورې د اهل (خلکو) څخه (هم داسې کسان) شته چې په منافقت باندې (ښه پوره) روږدي دي (پکښې ماهران دي. حتى چې) ته يې (هم) نه پېژنې (خو) مونږ ته معلوم دي. (مونږ به يې دروپېژنو او د افشاء کولو هدايت به درکړو نو) ژر دی چې (په دنيا کښې) به يې په متعددو وارونو سره معذب کړو بيا به (په آخرت کښې) لوی عذاب (دوزخ) ته ورتاو کړی شي.

## ارتباط

څرنګه چې د وړاندې ځای څخه په منافقانو کښې بحث راروان دی خو [١٠٠] ايت په عارضي توګه د مخلصو مؤمنانو په ډله باندې رڼا واچوله، اوس نو په دې ايت شريف کښې د کلام مخ بېرته اصلي موضوع ته وراړولی شوی دی او د منافقانو ډلې د مقايسې په توګه د بحث لاندې نيولې شوې دي چې خلاصه يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو که څه هم ستاسو په چاپيريال (بانډو) کښې منافقان شته دي چې په منافقت او کفر کښې ډېر کلک او قوي دی، مګر تاسو ته ډېر نژدې په مدينه منوره (مرکز) کښې داسې منافقان موجوديت لري چې په مهارت کښې ډېر قوي او کلک دي او په خپل منافقت باندې داسې پرده اچولی شي حتیٰ چې ته هم (ای پيغمبره!) دوی نه شي پېژاندلی، سره د دې چې ته د لوی فراست او ذکاوت خاوند يې، نو نور مؤمنان به يې څنګه وپېژني.

اما مونږ يې پېژنو (زمونږ څخه خپل منافقت نه شي پټولی) نو ژر دی چې په دنيا کښې به يې په متعددو عذابونو باندې معذب کړو، آن تر دې چې د دوی د همدغه دقيق منافقت څخه به پرده پورته کړو او د منافقت سره-سره به يې رسوا او افشاء کړو. بيا به نو د آخرت په لوی عذاب باندې مبتلا کړی شي او د دوزخ د اور په تيټه پايه کښې به وغورزولی شي.

## توضيحات

١ـ د ﴿ مَرَدُوا ﴾ کلمه د هغه مصدر څخه اشتقاقه شوې ده د کوم څخه چې د "مريد" کلمې اشتقاق مونډلی دی، چې پوره تحليل يې د [النساء:١١٧] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله.

خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو ذکره شوې کلمه په "تمهروا" سره تفسيره کړې ده[١].

يعنې: په مرکزي منافقانو کښې داسې منافقان شته چې د کفر (عقيدوي نفاق) په پټولو کښې ډېر زيات مهارت لري چې په اسانۍ سره پرې ته هم (ای پيغمبره!) نه شې پوهېدلی نور مؤمنان خو

(١) تفسير الکشاف ج٢ ص٣٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لا پرېږده. مګر دوی نه شي کولی چې خپل نفاق د الله ﷻ څخه پټ کړی شي. نو ژر دی چې الله ﷻ به يې تا ته در وپېژني او د دوی دپاره به ترې عذاب جوړ شي.

## مَرَّتَيْنِ څه معنی؟

٢ـ په دې کښې ټول مفسرين کرام متفق دي چې د ﴿ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴾ څخه د آخرت عذاب مراد دی، اما په هغه عذاب کښې کوم ته چې د ﴿ مَّرَّتَيْنِ ﴾ په کلمې سره اشاره شوې ده دوی زښت ډېر قولونه کړي دي چې تقريبًا د لسو قولونو څخه اضافه دي[١].

مګر کوم تفسير چې مونږ ته غوره ښکاري هغه دا دی چې د عربيت د قواعدو په اساس د مثنی کلمه کله-کله د تکرير او تکثير دپاره استعمالېږي[٢]، نو په دې مقام کښې د ﴿ مَّرَّتَيْنِ ﴾ کلمه د مرات معنی ورکوي[٣]. نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې دغه با مهارته منافقان به مونږ په دنيا کښې په متعددو عذابونو باندې معذب کړو او مهارت به ورته هېڅ ګټه ونه شي رسولی.

الله ﷻ خپله خبره رښتيا کړه او خپل پيغمبر ﷺ ته يې په [التوبة:٧٣] ايت کښې د منافقانو سره په جهاد او سختۍ سره امر وکړ البته په هغه جهاد سره کوم چې د همدوی سره مناسب وه چې څو صورتونه يې مونږ د [التوبة:٦٦] ايت لاندې ښودلي دي، والحمد لله ﷻ.

## صاحب السر د کوم صحابي ﷺ لقب دی؟

٣ـ د ذکر شوي ايت شريف مطلب دا دی چې نبي کريم ﷺ د ځينو ډېرو ماهرو منافقانو په منافقت باندې نه پوهېده خو نور يې په علاماتو او په نبوي فراست سره پېژانده لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ﴾ [محمد:٣٠] يعني: او ضرور به دوی (منافقان) د خبرو په اړولو را اړولو کښې وپېژني.

او څه لرې نه ده چې ځينې به ورته په وحې باندې معلوم شوي وي. د پېژاندلو شوو منافقانو د جملې څخه يې د دولسو (١٢) کسانو نومونه حذيفه ﷺ ته هم ښودلي وه[٤].

نو ځکه همدغه صحابي ﷺ د «صَاحِبُ سِرِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» لقب ګټلی وه[٥]، يعنې هغه څوک چې د پيغمبر ﷺ د راز خاوند دی.

﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُوا۟ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا۟ عَمَلًا صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ

(١) زاد المسير ج٣ ص٣٣٤؛ التفسير الكبير ج١٦ ص١٧٣؛ تفسير البغوي ج٢ ص٣٢٣
(٢) شرح ملا جامي ص١٠١
(٣) لسان العرب ج٥ ص١٦٦
(٤) المحرر الوجيز ج٨ ص٢٦٢
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص٩٢٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَأْخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ ٱعْمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾ ﴾

[۱۰۲] او (د غزا څخه د بېرته پاتې شوو کسانو څخه) نور (داسې کسان) دي چې په خپلو گناهونو باندې يې اعتراف کړی دی (نو) د صالح عمل (توبې او اعتراف) سره يې بل بد عمل (بېرته پاتې کېدل) گډ کړی دی.

الله ﷻ ته امید دی (دوی دې امید وکړي چې) په دوی باندې به په رحمت سره رجوع وکړي (توبه به يې قبوله کړي). یقیناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[۱۰۳] (ای پیغمبره!) د دوی (توبه کوونکو) د مالونو څخه څه خیرات واخله (قبول کړه) چې (په همدې خیرات) سره يې (د گناه څخه) پاک کړې او په همدې سره يې تزکیه کړې (د بېرته پاتې کېدلو رټه ترې محوه کړې) او (هم) په دوی باندې درود (ورنازل) کړه (او د خیر دعاگانې ورته وکړه).

بې شکه ستا دعاء (د خیر غوښتنه) د دوی دپاره (د زړونو) ډاډینه (او ارامي) ده.

او الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی (هرڅه اوري او په هرڅه پوهېږي).

[۱۰۴] ایا دوی (توبه کوونکي) نه پوهېده چې یقیناً الله ﷻ همدې ﷻ د خپلو بندگانو څخه توبه قبلوي او (همدی ﷻ ترې) صدقات (خیراتونه) اخلي (قبلوي او اجر ورکوي). او بې شکه الله ﷻ (یوازې) همدی ﷻ توبه قبلوونکی (او) مهربان دی (بلکې پوهېده څکه توبه تائب شوه).

[۱۰۵] او (ای پیغمبره! دوی ته) ووایه چې: (اوس خو مو توبه قبوله شوه نو) عمل وکړئ نو په آینده کښې به الله ﷻ ستاسو عمل وگوري (چې د اوسني اقرار سره مطابق دی او که نه)، او (هم به) د ده ﷻ پیغمبر ﷺ او مؤمنان (ستاسو کړه وړه وگوري).

او ژر دی چې تاسو به (په آخرت کښې) په پټو او ښکاره وو باندې پوهېدونکي الله ﷻ ته ورتاو کړی شئ نو په هغه څه باندې به مو خبر کړي چې تاسو یاست چې کوئ يې.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې د تبوک د غزا څخه د هغو پاتې شوو کسانو بحث وه کوم چې په خپلو پاتې کېدلو باندې خوشاله وه او د منافقت د کبله غزا ته نه وه تللي.

په دې ایتونو کښې هغو پاتې شوو کسانو ته اشاره ده کوم چې په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه وه او غزا ته د نه تللو وجهه يې صرف کسالت (سستي) وه، نه منافقت او په ایمان کښې شک او رد.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول

١ـ د تبوک د غزا څخه ټول پاتې شوي کسان منافقان نه وه بلکې په دوی کښې د رواياتو په اختلاف سره لس کسان هغه سوچه مسلمانان هم شامل وه کوم چې د کسالت او سستۍ د کبله په "نن ځم او سبا ځم" کښې پاتې شوي وه[1].

نو کله چې د نبي کريم ﷺ او د نورو غازيانو د بېرته راستنېدلو اوازه مدينې منورې ته را ورسېدله نو د ذکرو شوو لسو کسانو څخه اوو کسانو خپل ځانونه د جومات د ستنو پورې وتړل او سوګندونه يې ياد کړه چې ترهغه پورې به مونږ تړلي ياستو ترڅو چې زمونږ توبه قبوله شي.

د متباقي دريوو کسانو حال ته په [التوبة:١٠٦] ايت کښې اشاره شوې ده او [التوبة:١١٨] ايت يې د توبې د قبول په باره کښې نازل شوی دی.

کله چې په دغو اوو تړل شوو کسانو باندې د نبي کريم ﷺ مبارکې سترګې ولګېدې نو پوښتنه يې وکړه چې دا څوک دي؟

جواب ورکړی شو چې: دا هغه کسان دي کوم چې د غزا څخه پاتې شوي وه. دوی سوګند ياد کړی دی چې ترهغه به تړلي وي چې ترڅو يې تاسو پرانيزئ.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «وَأَنَا أُقْسِمُ بِاللهِ لَا أُطْلِقُهُمْ وَلا أَعْذِرُهُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ اللهُ هُوَ الَّذِيْ يُطْلِقُهُمْ»[2] يعنې: زما دې هم په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زه به يې نه پرانيزم او نه به يې معذرت قبول کړم ترڅو چې الله ﷻ هغه څوک شي چې دوی پرانيزي (د دوی د پرانستلو ارشاد وکړي). نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه او نبي کريم ﷺ په خپل مبارک لاس باندې ټول تړلي کسان پرانستل.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي که څه هم د تړلو شوو کسانو په عدد کښې اختلاف شته دی چې دوی اوه نفره کم او يا زيات وه مګر ټول روايتونه متفق دي چې ابو لبابه ؓ په دوی کښې شامل وه[3]، نو پوښتنه دا ده چې ابو لبابه ؓ خو خپل ځان د بني قريظه وو په غزا کښې تړلی وه چې د تبوک د غزا څخه څو کاله وړاندې تېره شوې وه، لکه چې د [الأنفال:٢٧] ايت لاندې يې مفصله قيصه ليکلې شوې ده، والحمد لله ﷻ.

مونږ وايو چې: ابو لبابه ؓ خپل ځان دوه کرته تړلی وه[4] يو ځل د بني قريظه وو په غزا کښې (چې تنها وه او نور ملګري يې نه درلوده)، او دوهم ځل په ذکره شوې غزا کښې چې څو ملګري يې هم درلوده.

---

(١) المحرر الوجيز ج٨ ص٢٦٤
(٢) تفسير الطبري ج١١ ص١٣؛ اسباب النزول للواحدي ص١٧٤
(٣) روح المعاني ج١١ ص١٢؛ تفسير الطبري ج١١ ص١٦
(٤) تفسير المظهري ج٤ ص٢٩١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعني: اې پيغمبره! د تبوک د غزا څخه پاتې شوي کسان خو ټول منافقان نه دي بلکې په دوی کښې ځيني سوچه مسلمانان هم شته چې د يو پلوه د ګناه مرتکب شوي دي چې د جهاد څخه پاتې شوي دي، مګر د بله پلوه دوی په خپلو ګناهونو باندې اعتراف کوي او د الله ﷻ په حضور کښې ندامت او پښېماني وړاندې کوي. نو د دوی په باره کښې لاندې هدايات قرائت کړه:

١ـ دوی دې د توبې اميد وکړي چې الله ﷻ به د دوی توبه قبوله کړي او په رحمت سره به ورباندې رجوع وکړي، دا ځکه چې الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی.

٢ـ اې پيغمبره! د ذکرو شوو تائبانو د مالونو څخه خيرات هم واخله او قبول يې کړه ترڅو ترې په جهادي امورو کښې کار واخلې دوی خو منافقان نه دي چې په ناخوښۍ باندې انفاق کوي بلکې دوی په ډېر اخلاص سره د خپلو توبو د تکميل په غرض دخپلو مالونو څه برخه خيراتوي.

٣ـ اې پيغمبره! ذکر شوي کسان د صدقاتو په قبول سره د ګناهونو څخه ښه پاک کړه ځکه چې صدقات خو نېکۍ دي او په نېکيو سره خو ګناهونه محوه کېږي.

۴ـ همدارنګه د دوی زړونه په صدقاتو سره تزکيه کړه چې حرص يې مات شي او بيا داسې کار ونه کړي او بالآخره د صدقاتو په قبول سره د دوی څخه د دښمنانو د پېغور مخه ونيسه چې تاسو منافقان ياست، او دا ځکه چې الله ﷻ خو تاته اجازه نه درکوي چې د منافقانو صدقات قبول کړې، نو د صدقاتو په قبول سره به ټولو ته څرګنده شي چې دوی منافقان نه وه بلکې ګناهګاران وه.

۵ـ په دې باندې علاوه، د صدقاتو د تسليمولو په وخت کښې دوی ته د خير دعاګانې هم وکړه ترڅو دوی مطمئن شي چې الله ﷻ را څخه راضي دی او نبي کريم ﷺ را څخه خوشاله دی.

۶ـ اې پيغمبره! الله ﷻ تاته د نوموړو کسانو په باره کښې ځکه ذکر شوي هدايات درنازل کړه چې:

الف: ايا دوی نه پوهېده چې يوازې الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه توبې قبلوي؟ بلکې دوی پوهېده او پخه عقيده يې درلوده چې توبه قبلوونکی يوازې الله ﷻ دی، نو مونږ هم د دوی سره د دوی عقيدې مطابق عمل وکړ او توبه مو ترې قبوله کړه.

ب: ايا دوی نه پوهېده چې د صدقاتو قبول يوازې د الله ﷻ کار دی؟ بلکې پوهېده، نو ځکه مو تاته هدايت وکړ چې صدقات يې قبول کړه او دعاء ورته وکړه.

ج: ايا دوی نه پوهېده چې يقيناً توبه قبلوونکی او مهربان فقط او فقط الله ﷻ دی او بس؟ بلکې په دې باندې يې پخه عقيده درلوده، نو د همدې کبله مو په دوی باندې د توبې د قبول څخه علاوه نوره مهرباني هم وکړه او د نورو نېکيو توفيق مو هم ورپيرزو کړ.

٧ـ اې پيغمبره! ذکر شوو توبه کوونکو ته ووايه چې د هغې ګناه څخه خو الله ﷻ درتېر شو د کومې د کبله چې تاسو خپل ځانونه د جوماتونو په ستنو پورې تړلي وه، اما په راتلونکي کښې به الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبره وګوري چې تاسو په څه ډول عمل کوئ او د ټولو مؤمنانو څخه به هم ستاسو عملونه پټ پاتې نه شي ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که نېک عملونه وکړئ نو الله ﷻ به ستاسو درجې لوړې کړي او نبي کريم ﷺ به درته د برکت او خير دعاګانې وکړي او بالآخره مؤمنان به ستاسو پيروي وکړي او ستاسو په قدم باندې به قدم کېږدي. دا هم د نېکو کارونو څخه يو نېک کار دی چې سړی د نورو مؤمنانو دپاره په نېکيو کښې مقتدی او امام جوړ شي.

ب: که بد عملونه وکړئ نو نه به مو درجې لوړې شي، نه به مو د نبي کريم ﷺ د دعاء وياړ په برخه شي او بالآخره نه به مو په نېکو کارونو کښې د مؤمنانو امامت په برخه شي.

ج: په دې ټولو باندې علاوه تاسو به ډېر ژر د قيامت په ورځ د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شئ چې پټ او ښکاره ورته ټول څرګند دي. نو د خپلو اعمالو په جزا يا سزا باندې به مو خبر کړي چې دا دې نېک کړی دی او دا دې بد کړی دی.

## توضيحات

١ـ د ﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُواْ عَمَلاً صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا ﴾ جمله په وړاندېنۍ ﴿ وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ﴾ الآية- په جمله باندې عطفه ده. نو د معنى حاصل يې داسې راوځي چې: ستاسو د چاپېريال او هم د مدينې منورې څخه ځينې نور کسان دي چې د يو پلوه ګناهګار دي چې غزا ته نه دي تللي او د بل پلوه په خپلو ګناهونو (پاتې کېدلو) باندې پښېمانه او نادمين دي.

نو د مقام په اعتبار سره د بد عمل څخه د غزا څخه پاتې کېدل مراد دي او د نېک عمل څخه په همدغې ګناه باندې ندامت او پښېماني مطلبه ده[١].

٢ـ که څه هم ايت شريف د مصداق په اعتبار سره هغو اوو کسانو ته متوجه دی کوم چې په شان نزول کښې ذکر دي، مګر د مفهوم په لحاظ سره پکښې د قيامت د ورځې پورې ټول مؤمنان ګناهګاران شامل دي.

د همدې کبله ذکر شوی ايت شريف د هغو ايتونو څخه ګڼل کېږي کوم چې ګناهګارانو مؤمنانو ته د مغفرت وعده ورکوي[٢]، اللّهم اجعلنا منهم.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې خو د مغفرت وعده نه ده ذکره شوې بلکې د ﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ﴾ په کلماتو سره محض د توبې د قبول تمه ذکره ده او بس. دا څکه چې د "عَسَىٰ" کلمه د رجا (تمې) معنى ورکوي؟

مونږ وايو چې:

الف: د ﴿ عَسَىٰ ﴾ کلمه د الله ﷻ په هکله د تمې دپاره نه بلکې د يقيني وعدې په معنى استعمال

---

(١) روح المعاني ج١١ ص١٣

(٢) المحرر الوجيز ج٨ ص٢٦٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مومي[١]. د الله ﷻ د عظیم شان سره دا مناسبه نه ده چې چاته تمه ورکړي او بیا یې ورته پوره نه کړي.

ب: د پیغمبرانو علیهم السلام خوبونه هم د الله ﷻ د پلوه د وحې د ډولونو څخه یو ډول دی، او د نبي کریم ﷺ د یوه اوږده خوب د یوې برخې مضمون دا دی چې:

نبي کریم ﷺ فرمایي چې: ما په خوب کښې یوه ډله سړي ولیده چې د بدنونو څه برخې یې ډېرې ښایسته وې او څه برخې یې ډېرې بدرنګه او بدڅېره وې، دوی ته په یوه داسې ویالې کښې د غسل کولو توصیه وکړی شوه چې تکه سپینه بهېدله.

دوی چې د غسل څخه وروسته بېرته راستانه شوه بدرنګي یې ورکه شوې وه او د بدنونو ټولې برخې یې ډېرې ښائسته جوړې شوې وې. ما پوښتنه وکړه چې: دا څوک دي؟ نو په جواب کښې را ته وویل شو چې: «فَإِنَّهُمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا فَتَجَاوَزَ اللهُ عَنْهُمْ»[٢] یعنې: یقینًا دوی هغه خلک دي چې نېک عمل او بد عمل یې (دواړه) سره ګډ کړي وه نو الله ﷻ د دوی (د ګناهونو) څخه ورتېر شو او مغفرت یې ورته وکړ.

ج: لکه څنګه چې په شان نزول کښې تېر شوه چې نبي کریم ﷺ سوګند یاد کړی وه چې زه به تړل شوي کسان ترهغه نه پرانیزم ترڅو یې چې الله ﷻ پرانیزي (ماته امر وکړي)، نو کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ تړل شوي کسان په خپل مبارک لاس باندې پرانیستل[٣]. نو معلومه شوه چې نبي کریم ﷺ هم د ذکر شوي ایت شریف څخه د مغفرت (د توبې د قبول) معنی اخستې وه.

د: په دې ټولو باندې علاوه، پخپله د ایتونو څخه څرګندېږي چې تړلو شوو کسانو ته الله ﷻ مغفرت کړی وه او توبه یې ترې قبوله کړې وه. دا ځکه چې الله ﷻ منافقان مخاطب کړي دي چې: ﴿ لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴾ [التوبة: ۵۳] یعنې: ستاسو نفقات (صدقات) ځکه د قبول درجې ته نه رسولی کېږي چې یقینًا تاسو فاسق قوم یاست.

الله ﷻ خو د متقیانو صدقات قبلوي، لکه چې فرمایي: ﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ [المائدة: ۲۷] یعنې: بې شکه الله ﷻ د متقیانو څخه (صدقات) قبلوي.

حال دا چې په دې مقام کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته امر کړی دی چې د دوی صدقات قبول کړه: ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً ﴾.

نو د ذکرو شوو درېواړو ایتونو څخه ثابتېږي چې تړل شوو کسانو ته الله ﷻ مغفرت کړی وه.

## دلته فرضي صدقه مطلب ده او که نفلي؟

۴ـ د ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً ﴾ په جمله کښې علماء کرام د ﴿ صَدَقَةً ﴾ د کلمې په تفسیر کښې په لاندې ډول اختلاف لري:

---

(١) تفسیر القاسمي ج۸ ص۳۱۱
(٢) صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۴: مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۵۱
(٣) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځینې وايي چې دلته فرضي صدقه (زکات) مطلب ده[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې اخستی دی چې: ای پیغمبره! د مؤمنانو د مالونو څخه څه برخه په زکات کښې واخله.

مګر په دې تفسیر سره ذکره شوې جمله د مقام په اعتبار د وړاندې بېرته څخه بالکل شکېږي ځکه چې بحث خو په ترلو شوو اوو کسانو کښې روان دی.

ب: د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو د زکات څخه هغه زکات مراد کړی دی کوم چې په ترلو شوو اوو کسانو باندې واجب شوی وه خو لا تادیه کړی یې نه وه[۲]، نو د معنی حاصل یې داسې اخلي چې: ای پیغمبره! د ترلو شوو کسانو توبه قبوله شوه نو د دوی څخه فرضي زکات هم واخله.

مګر دا تفسیر بالکل متبادر نه دی.

ج: ځینې وايي چې دلته د ﴿ صَدَقَةً ﴾ څخه په نفلي صدقه کښې هغه خاصه صدقه مطلبه ده د کومې چې ترلو شوو کسانو وړاندیز کړی وه. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي ولولئ:

مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت شریف په شان نزول کښې لاندې سوال جواب هم لیکلی دی:

اول: کله چې ذکر شوي اوه کسان نبي کریم ﷺ د ستنو څخه پرانیستل نو دوی عرض وکړ چې: یا رسول الله! مونږ. خپلو مالونو د تبوک څخه پاتې کړي وو، نو دغه دې زمونږ مالونه د الله ﷻ په لاره کښې خیرات کړه او مونږ ته ښښنه وغواړه چې توبه مو ښه سپېڅلې توبه جوړه شي.

دوهم: نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې ماته خو ستاسو د مالونو په باره کښې الله ﷻ څه امر نه دی کړی د همدې کبله ستاسو مالونه زه نه شم خیراتولی. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ[۳] او د مالونو د څه برخې په اخستلو باندې مکلف کړی شو. نو نبي کریم ﷺ د دوی د مالونو څخه څه برخه واخستله او خیراته یې کړه[۴] بلکې د دوی د مالونو څخه یې دریمه برخه خیراته کړه او نور یې ورته پرېښودل[۵].

## تبصره

۵ـ مونږ ته داسې ښکاري ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د ﴿ صَدَقَةً ﴾ څخه به مطلقه صدقه مراده وي، لکه چې مفهوم یې په همدې عموم باندې دلالت کوي، نو په دې تقدیر نفلي او فرضي دواړو ته شاملېږي او د علماء کرامو اختلاف هم د منځه وځي او د ایتونو پیوستون هم په ځای پاتې کېږي.

## صلوٰة څه معنی؟

٦ـ په ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ کښې د "صلِّ" کلمه اصلا د "صَلِّی" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۴۸
(۲) التفسیر الکبیر ج۱٦ ص۱۷۷
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۱۷۵
(۴) تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۷
(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، په "صَلّي" کښې د علم اللغة کتابونو ډېر اوږد بحث کړی دی او متعددې معناوې يې ورته ذکرې کړې دي[۱] نو که څوک د اوږده بحث حوصله لري همغته دې مراجعه وکړي.

مونږ په دې مقام کښې صرف په لاندې ټکو باندې اکتفاء کوو[۲]:

د "صَلّيٰ" توری د اور بللو دپاره وضعه شوی دی، لکه چې وايي: "صَلَيْتُ الشَّاةَ" يعنې: پسه مې په اور باندې وريت کړی وه.

نو کله چې ذکر شوی توری د تفعيل د باب لاندې واقع شي نو کله-کله يې په معنی کښې ازاله اضافه کېږي، لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

اول: "صَلَّى فُلان" فلاني لمونځ وکړ، يعنې په دغه عبادت سره يې د دوزخ اور ازاله کړ او خپل ځان يې ترې بچ وساته.

دوهم: "صَلَّى فُلان" فلاني د خير دعاء وکړه، يعنې په دغې دعاء سره يې د خپل ځان يا د بل چا دپاره د دنياوي اور (مشکلاتو) څخه او يا د اخروي اور (دوزخ) څخه د بچ کېدلو غوښتنه وکړه.

د ذکر شوي استعمال نظير دا جمله ده چې: "جَلَّدْتُ الْبَعِيرَ" د اوښ څخه مې څل لرې کړی دی.

په دې مقام کښې د ﴿ صَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ څخه دوهمه معنی مراده ده، يعنې: ای پيغمبره! کله چې ته د مؤمنانو څخه صدقات واخلې (تسليم کړې) نو دوی ته د خير دعاء وکړه ترڅو دوی ډاډه او مطمئن شي.

## هېر مو نه شي!

۷ـ نو هېر مو نه شي چې د "علیٰ" توری که د "صلاة" دپاره صله واقع شي لکه په ﴿ صَلِّ عَلَيْهِمْ ﴾ کښې چې واقع شوی دی نو د خير دعاء ترې مرادېږي، اما که همدغه توری د "دعاء" دپاره متعلق (صله) واقع شي نو د شر غوښتنه (ښېرا) ترې مطلبېږي، نو د "دعی عليه" معنی دا ده چې په هغه باندې يې د آفت د راښکته کولو غوښتنه وکړه.

## يادونه

۸ـ د نبي کريم ﷺ په دعاء باندې خکه مؤمنان خوشالېده او د زړونو اطمنان يې پرې حاصلېده چې دوی پوهېده چې د دغو مبارکو دعاګانو اثرات آن تر لمسيو او کړوسيو پورې رسېږي، د دې مقام د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

الف:: يوه ورځ نبي کريم ﷺ ته ابو اوفی (عبد الله) ﷺ څه صدقه ورووړه نو نبي کريم ﷺ ورته دعاء وکړه چې: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى»[۳] يعنې: ای الله! د ابو آوفی په اولاده باندې خپل رحمت نازل کړې او مغفرت ورته وکړې.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۴٦۴
(۲) مفردات الراغب ص۲۹۳
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یوه ورځې د انس بن مالک ﷺ مور (ام سلیم رضي الله عنها) نبي کریم ﷺ ته ورغله او عرض یې وکړ چې: یا رسول الله! خپل خادم (انس ﷺ) ته دعاء وکړه. نبي کریم دعاء وکړه چې: «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ»[۱] یعنې: ای الله! د انس مال او اولاد ډېر کړې او په هغه شي کښې ورته برکت واچوې کوم شی چې تا ورکړی دی.

په ذکر شوي حدیث باندې ځینو حواشیوو لیکلي دي چې:

اول: انس ﷺ په بصره کښې یو باغ درلود چې په کال کښې به یې دوه ځله میوجات ورکول.

دوهم: نوموړي ته الله ﷻ یو سلو شل (۱۲۰) تنه زامن ورکړي وه.

دریم: کله به چې نوموړي د کعبې شریفې ځخه طواف کاوه نو د خپلې اولادې ځخه به یې د اویا (۷۰) کسانو ځخه اضافه په شاوخوا کښې په طواف باندې مشغول وه.

څلورم: الله ﷻ ورته اوږد عمر ورکړ، حتی چې په یوه روایت سره نوموړی د یو سلو دیرشو (۱۳۰) کالو په عمر وفات شو، إنا لله وإنا الیه راجعون.

## صلاة (درود) باید په چا باندې وویل شي؟

۹ـ په دې باره کښې ـچې باید صلاة (درود) په چا باندې واستولی شيـ ځینو مفسرینو کرامو[۲] ډېر ښه معلومات را غونډ کړي دي چې مونږ یې لنډیز محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: صلاة (درود) او سلام د دواړو کلمو اجتماع د پیغمبرانو او ملائکو علیهم السلام خاصه ده، نو زکات راغونډوونکي باید زکات ورکوونکو ته د "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" په کلماتو باندې دعاء ونه کړي. دا ځکه چې:

اول: د "صلاة" په کلمه کښې تعظیم ډېر زیات دی او الله ﷻ ته په ډېر نژدیوالي باندې دلالت کوي چې د معصومانو ځخه پرته بل چا ته مناسبت نه لري او د بل چا حق نه شي ګرځېدلی.

دوهم: په سلفو صالحینو کښې ذکرې شوې دواړه کلمې د پیغمبرانو او ملائکو علیهم السلام ځخه په غیر بل چا ته نه دي استعمالې شوې، نو ځوک یې چې استعمالوي هغوی بدعتیان دي، لکه څنګه چې د "عَزَّ وَجَلَّ" دواړه کلمې الله ﷻ پورې اختصاص لري (که څه هم نبي کریم ﷺ هم عزیز دی او هم جلیل دی مګر داسې ویل نه دي جائز چې "مُحَمَّد عَزَّ وَجَلَّ") همدارنګه د "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" کلمې هم د پیغمبرانو او ملائکو ځخه پورې اختصاص لري، بل چا ته یې استعمال ګناه ده او د تحریمي مکروهاتو ځخه شمېرل کېږي.

ب: د نورو مؤمنانو د نومونو سره باید د "رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، غَفَرَ اللهُ لَهُ، عَفَى اللهُ عَنْهُ، رَحِمَهُ اللهُ" او یا داسې نور کلمات استعمال شي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۳۸

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۵۱۶؛ روح المعاني ج۱۱ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هو! په نورو مؤمنانو باندې که بالتبع صلوة (درود) او سلام واستول شي نو څه باک یې نشته، نو داسې ویلی شو چې: "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلِّمْ" مګر داسې نه شو ویلی چې: "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ مُحَمَّدٍ وَسَلِّمْ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ وَسَلِّمْ".

د: همدارنګه یوازې د صلاة (درود) کلمه چې د سلام کلمه ورسره ضمیمه نه وي هم په پیغمبرانو او په ملائکو پورې اختصاص لري او بل چا ته یې قصدي استعمال ښه نه دی.

که څه هم لږ وړاندې تېر شو چې نبي کریم ﷺ یوه صحابي (عبد الله) ته په "صلوة" سره دعاء کړې وه چې: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى» ای الله! د ابي اوفی په اولاده باندې خپل رحمت (درود) نازل کړې؛ مګر څرنګه د صلاة (درود) د کلمې استعمال د نبي کریم ﷺ حق دی او سړی کولی شي د خپل حق څخه د بل چا دپاره ورتېر شي، خو بل څوک نه شي کولی چې پردی حق چاته ورکړي، نو مونږ هم نه شو کولی چې د "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى فُلَانٍ" کلمات استعمال کړو.

په دې باندې علاوه، په داسې مواردو کښې چې د عرف په لحاظ په شارع پورې اختصاص لري لکه همدغه مورد، سړي ته په کار نه دي چې خپل ځان په شارع باندې قیاس کړي بلکې ورته په کار دي چې په صریحه اجازه عمل وکړي، او صریحه اجازه دلته موجودیت نه لري[1]

هـ: همدارنګه یوازې د سلام کلمه هم د پیغمبرانو او ملائکو څخه په غیر د بل چا د نوم سره د تعظیم دپاره مکروه ده، لکه چې روافض د ځینو امامانو دپاره د "رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ" په عوض د "عَلَيْهِ السَّلَام" کلمه استعمالوي.

و: اما په مسلمان ورور باندې سلام اچول، یا غائب مسلمان ته سلام استول او بالآخره یا د مسلمانانو هدیره مخاطبه کول چې: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ»، نو دا خو مسنونې طریقې دي او د ذکر شوي بحث لاندې نه راځي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

١٠ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ د کلمې څخه معلومېږي چې مؤمنانو یو تربله په اعمالو باندې خبرېږي چې فلاني دا کار وکړ او فلاني دا؛ حال دا چې په ټولو اعمالو باندې خو مونږ یو تربله نه پوهېږو او نه بې یو تربله ګورو؟

مونږ وایو چې: د اعمالو لیدل لاندې دوه احتماله لري او دواړه په ځای دي:

الف: چې د قیامت په ورځ د اعمالو لیدل اراده کړی شي، نو په دې تقدیر پوښتنه نه پیدا کېږي، ځکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَوْمَ تُبْلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴾ [الطارق:٩] یعنې الله ﷻ د انسان په ښېرته ژوند کولو باندې قادر دی، البته په داسې ورځې کښې چې پټ شیان پکښې ټول څرګندولی شي.

---

(١) روح المعاني ج٢٢ ص٨٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې دنیاوي لیدل مراد شي، نو شاید چې د اعمالو څخه به هغه اعمال مطلب وي په کومو کښې چې بحث راروان دی، هغه دا چې مونږ په خپلو کړو باندې پښېمانه یاستو او په راتلونکې کښې به د یوې غزا څخه هم پاتې نه شو.

په دې باندې علاوه، الله ﷻ چې کله د یوه عمل د څرګندولو اراده وکړي نو هغه په دنیا کښې هم ټولو خلکو ته څرګندوي او ټول پرې خبروي، همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ يَعْمَلُ فِي صَخْرَةٍ صَمَّاءَ لَيْسَ لَهَا بَابٌ وَلا كُوَّةٌ لَخَرَجَ عَمَلُهُ لِلنَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ»[۱] یعني: که بالفرض ستاسو یو کس یقینًا په داسې ښویه (کلکه) ډبره کښې عمل وکړي هم چې نه دروازه لري او نه کړکۍ (درویځه) نو ضرور به یې عمل خلکو ته را بهر شي (راووځي) هرڅه عمل چې وي.

﴿ وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ﴾

[۱۰۶] او (د تبوک د غزا څخه د پاتې شوو کسانو د جملې څخه) څه نور داسې کسان دي چې د الله ﷻ امر ته وروسته کړی شوي دي (سمدستي یې توبه نه ده قبوله شوې، او په راتلونکې کښې به) یا الله ﷻ دوی معذب کړي او یا به پرې په رحمت سره رجوع وکړي (توبه به یې قبوله کړي)، او الله ﷻ (هم) پوه دی (او هم) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط

په دې ایت کښې د هغو لسو کسانو څخه د متباقي درې کسانو حال ته اشاره شوې ده کوم چې مونږ د وړاندېنیو ایتونو په شان نزول کښې لږ څه تفصیلوار لیکلي دي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د هغو لسو کسانو د جملې څخه چې د تبوک د غزا څخه پرته د شرعي عذر د کبله پاتې شوي وه د دریوو کسانو په باره کښې د الله ﷻ موقته فیصله دا ده چې د دریواړو سره ناسته پاسته پرې کړئ ترڅو د دوی دپاره ټوله دنیا بندیخانه جوړه شي. یا په بل عبارت: د نهایي فیصلې پورې درېواړه بندیان کړئ، داسې بندیخانه چې په دنیا کښې ساری نه لري.

د دوی نهایي فیصله به د دوه وو حالونو څخه خالي نه وي. یا به الله ﷻ تعذیب ورکړي او یا به ورته عفوه وکړي او توبه به یې قبوله کړي.

الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي او د ډېر لوی حکمت څښتن دی هر یو حال چې ورسره مناسب وي او د حکمت غوښتنه وي په هغه حال باندې به نهایي فیصله صادره کړي.

## توضیحات

۱ـ په ذکر شوي ایت شریف کښې مرارة بن الربیع ﷺ، کعب بن مالک ﷺ او هلال بن أمیة ﷺ ته

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشاره شوې ده[١]. د دوی درېواړو د مفصلو حالاتو ذکر د [التوبة:١١٨] ايت لاندې ـان شاء اللهـ راروان دی.

## ارجاء څه معنی؟

٢ـ د ﴿ مُرۡجَوۡنَ ﴾ کلمه د "ارۡجَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تاخير معنی وکوي[٢]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د تبوک د غزا څخه درې کسان د توبې د قبول څخه سمدستي وروسته کړی شوي دي او په راتلونکي کښې به یې حالت څرګند شي.

## د غزا څخه د پاتې شوو کسانو ګروپونه

٣ـ ځینې مفسرين کرام ليکي چې د هغو کسانو شمير کوم چې د تبوک د غزا څخه په کورونو کښې پرته د شرعي عذرونو څخه پاتې شوي وه درې اتيا (٨٣) کسانو ته رسېده[٣]، چې په لاندې درېوو ګروپونو باندې وېشلی شوي دي.

الف: يوه غټه ډله پکښې منافقان وه چې ځينې نبي کريم ﷺ ته د دروغينو معذرتونو دپاره ورغله، او ځينو لا بالکل معذرتونه هم وړاندې نه کړه.

ب: اوه کسان پکښې داسې مؤمنان وه چې د منافقت د کبله د جهاد څخه نه وه پاتې شوي بلکې په نن او سبا کښې ترې د تللو وخت تېر شوی وه. دغو اوو کسانو خپل ځانونه د جومات د ستنو پورې تړلی وه، لکه چې وړاندې تېر شو.

ج: درې کسه نور هم رښتياني مؤمنان وه خو نه یې د منافقانو په څير دروغين معذرتونه وړاندې کړه او نه یې خپل ځانونه په ستنو پورې وتړل بلکې په واضحه الفاظو کښې یې خپله ملامتي ومنله. دغو درېواړو ته په تير شوي ايت شريف کښې اشاره شوې ده او لږ څه وروسته یې د توبې په قبول باندې صراحت شوی دی.

﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٠٧ لَا تَقُمۡ فِيهِ أَبَدٗاۚ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ١٠٨ أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا

---

(١) تفسير ابن کثير ج٢ ص٣٨٧
(٢) تفسير البغوي ج٢ ص٣٢٥
(٣) تفسير المنار ج١١ ص٣٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جُرُفٍ هَارٍ فَٱنۡهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ
بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾ ﴾

[۱۰۷] او (د منافقانو د جملې څخه) هغه کسان هم دي کومو چې (د قباء جومات جمې ته) د ضرر رسولو په غرض او د کفر (تقویه) کولو په غرض او (بالآخره) د مؤمنانو ترمنځ د تفرقه (جدايي) اچولو په غرض او د هغه چا د پاره چې لا د پخوا څخه يې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ سره په جنګ وه د کمين ګاه (د پټېدلو ځاى د جوړولو) په غرض جومات جوړ کړى دى.

او ضرور هرومرو به (تاته) سوګندونه وکړي چې مونږ (د جومات په جوړولو کښې) نيت نه درلود مګر نيک نيت.

او الله ﷻ شهادت ورکوي چې يقينًا دوى خامخا دورغژنان دي (چې مونږ نېک نيت درلود).

[۱۰۸] (اى پيغمبره!) ته هيڅکله په دې (جومات) کښې (د افتتاح دپاره په لمانځه) مه درېږه.

خامخا داسې جومات چې د (ابادولو) د اولې ورځې څخه يې بنياد په تقوى (د الله ﷻ څخه په ډار) باندې اينښودلى شوى دى ډېر ښه (غوره) دى چې ته پکښې (په لمانځه باندې) ودرېږې.

(د دې جومات) په (اهاليو) کښې داسې رجال (سړي) دي چې دوى (د خپلو ځانونو) ښه پاکول خوښوي (مراعات يې ساتي).

او الله ﷻ (د خپلو ځانونو) ښه پاکوونکي (کسان) محبوب ګڼي (اجرونه او ثوابونه ورکوي).

[۱۰۹] ايا نو هغه څوک چې د خپلې ابادۍ بنياد يې د الله ﷻ څخه په ډار او (د الله ﷻ) په رضامندۍ باندې اينښى وي بهتر دى (چې اندېوالي يې وکړى شي) يا هغه څوک چې د خپلې ابادۍ بنياد يې ورستي نړېدونکې کندې په غاړه اينښى وي نو په (نړېدلو او غورزېدلو سره) دا (جوړونکي هم) د دوزخ په اور کښې وغورزوي (واچوي).

او الله ﷻ ظالم قوم ته هدايت نه کوي (چې ذکر شوي تمثيل څخه ګټه پورته کړي).

[۱۱۰] د دوى (منافقانو) هغه ابادي به د همېشه دپاره د دوى په زړونو کښې د شک (او منافقت) سبب وي مګر دا چې زړونه يې ټوټې ټوټې شي (او مړه شي).

او الله ﷻ پوه دى (او هم) د حکمت څښتن دى.

## ارتباط

په وړاندېني ايت کښې الله ﷻ فرمايلي وه چې: ﴿ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِۖ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ ﴾ [التوبة: ۱۰۱] يعنې د مرکزي منافقانو څخه ځينې په منافقت باندې بالکل روږدي شوي دي چې زيات مهارت پکښې لري حتى چې پيغمبر ﷺ يې هم نه شي پېژاندلى که الله ﷻ يې ورته معرفي نه کړي. بيا د دې دپاره چې ("تُعْرَفُ الأَشْيَاءُ بِأَضْدَادِهَا" څيزونه په خپلو اضدادو سره ښه پېژاندل کېږي) الله ﷻ د رښتيانيو مؤمنانو حال بيان کړ چې ځينو خپل ځانونه د جومات د ستنو پورې وتړل او ځينو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عجيبه او بې نظيره بنديخانه قبوله کړه مګر نه يې دورغ وويلې او نه يې منافقت وکړ. حال دا چې دغه دواړه يې د لاسه پوره وه.

په دې ايتونو د ذکرو شوو ماهرو منافقانو د منافقت يوه نمونه ښودلې شوې ده چې منافقت ته يې د عبادت لباس اغوستی وه او په اصطلاح فساد خانه يې د جومات په نوم باندې نومولې وه حتی چې نبي کريم ﷺ هم ونه پېژانده چې دا فساد خانه ده.

که بالفرض الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته په همدغې دسيسې باندې اطلاع نه وی ورکړې نو هغوی ته به خپل مهارت ډېره ښه نتيجه ورکړې وی او خپل منافقت به يې په نبي کريم ﷺ باندې په لاشعوري توګه په رسمياتو کښې داخل کړی وی، لکه چې شان نزول ورته اشاره کوي.

## شان نزول

ځينو مفسرينو کرامو د ذکرو شوو ايتونو دپاره ښه مفصل شان نزول ليکلی دی[۱] چې مونږ يې د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو او بس:

۱ـ د خزرج د قبيلې يو سړی ـ چې ابو عامر نومېده ـ د جاهليت په زمانه کښې د شرک څخه نصرانيت ته اووښتی وه او په نصرانيت کښې يې د ډېر عبادت د کبله د "الرَّاهِب" لقب ګټلی وه.

نوموړی د هغه جليل القدر صحابي (حنظله ﷺ) پلار وه کوم چې د احد په غزا کښې شهيد شو او پرښتو غسل ورکړ چې په "غَسِيل المَلَائِكَة" لقب شهرت لري[۲].

۲ـ کله چې نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ نو نوموړي ابو عامر ته يې د اسلام دعوت ورکړ مګر هغه دعوت رد کړ او په غُصه مکې معظمې ته وتښتېد او هلته يې د مشرکانو سره لاس يو کړ، او بالآخره د احد غزا دپاره يې تحريک وچلاوه.

۳ـ نو کله چې مکه معظمه فتحه شوه او د حنين او طائف په غزاګانو کښې هم مشرکانو ماتې وخوړه نو ابو عامر په جزيرة العرب کښې په تنګ شو او روم ته لاړ ترڅو هلته د نبي کريم ﷺ په عداوت کښې تحريک وچلوي او هرقل جنګ ته تحريک کړي.

۴ـ ابو عامر د روم څخه د خپل قوم (خزرج) منافقانو ته ـ چې دولس تنه وه ـ امر وکړ چې د مسجد قباء ترڅنګ د جومات په نامه او د جومات په شکل يوه ابادي جوړه کړئ چې د پټو مجالسو او ټولنو دپاره ترې کار واخلو. په نن سبا کښې زه د يو زورور لښکر سره درروان يم ترڅو د مسلمانانو بيخ وباسو.

۵ـ دولس (۱۲) تنو منافقانو د هغه منافقانه امر عملي کړ او د جومات په نامه باندې يې يوه ابادي جوړه کړه.

۶ـ کله چې په دغې ابادۍ کښې کار ختم شو نو دوی نبي کريم ﷺ ته ورغله او ويې ويلې چې:

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۳۸۷: تفسير القاسمي ج۸ ص۳۲۳

(۲) تفسير القرطبي ج۸ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا رسول الله! مونږ د لاندې وجوهو د کبله یو جومات جوړ کړی دی چې:

الف: په ګرمو ورځو کښې ټول مسلمانان د قباء جومات ته نه شي تللی او د اکثرو څخه د جمعې د لمانځه فضایل فوتېږي.

ب: په باراني شپو او ورځو کښې خو ټول بوډاګان او معذور خلک د جمې څخه محرومېږي او د رسېدلو توان نه لري.

۷ـ نو مونږ د مسلمانانو د ښېګڼو دپاره جومات جوړ کړی دی هیله ده چې تاسو یې په خپل مبارک لمانځه سره (په اصطلاح) افتتاح کړئ او لمونځ پکښې پیل کړئ.

۸ـ نبي کریم ﷺ وعده ورکړه چې کله زه د تبوک د غزا څخه راستون شم نو ان شاء الله جومات به درته افتتاح کړم، اوس فرصت نه لرم، د سفر په تجهیزاتو باندې بوخت یم.

۹ـ کله چې نبي کریم ﷺ د تبوک د غزا څخه راستون شو او د "ذي اوان" مقام ته راورسېد (چې د مدینې منورې څخه په یو ساته فاصله کښې پروت دی) نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونو نازل کړه او د منافقانو ډېره ماهرانه دسیسه یې شنډه کړه.

۱۰ـ نبي کریم ﷺ څینو صحابه وو کرامو ﷺ ته وظیفه ورکړه چې د هرڅه څخه وړاندې ذکره شوې د جومات په نامه ابادي ړنګه کړي او د خاورو سره یې برابره کړي.

صحابه کرام ﷺ ورغله او اور یې ور واچاوه او د ایرو ډیرۍ یې ترې جوړه کړه او جوړونکي یې خواره واره شوه[۱]. او همدارنګه نبي کریم ﷺ امر وکړ چې هلته دې مرداري او ناپاکي واچولی شي او د یوه ډېران حیثیت دې ولري[۲].

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د صادقو مؤمنانو د حالاتو څخه وروسته اوس د ماهرو منافقانو د منافقت یو مثال ولوله او مقایسه وکړه چې هغوی په خپل ایمان کښې څومره مضبوط دي او دوی په منافقت کښې څومره مهارت لري او څومره پرې کلک دي، مثال دا دی:

۱ـ د ماهرو منافقانو څخه هغه کسان هم دي کومو چې د لاندې اغراضو دپاره جومات جوړ کړی دی:

الف: د دې دپاره چې مسجد قباء ته پرې ضرر ورسوي او د هغه جمه کنډوه کړي.

ب: د دې دپاره چې خپل کفري مسلک ښه قوي او د پرمختګ په لور یې سوق کړي.

ج: چې په مسجد قباء کښې لمونځ کوونکي مؤمنان تجزیه کړي او ترمنځ یې جدایي واچوي.

د: بالآخره د هغه چا دپاره د غلي کېدلو (او پټېدلو) مرکز جوړ کړي کوم چې لا د پخوا څخه د الله ﷻ او پیغمبر ﷺ په جنګ باندې مصروف وه او د اسلام د تخریب دپاره یې کار کاوه.

(۱) تفسیر القرطبي ج۸ ص۲۵۳
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۷۹، تفسیر البغوي ج۲ ص۳۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه څوک دی؟ هغه ابو عامر الراهب د الله ﷻ دښمن دی.

۲ـ ای پيغمبره! ذکر شوي منافقان به تاته ضرور په دروغو سوګندونه وکړي چې مونږ د جومات په آبادولو کښې غير شرعي اغراض نه درلوده. زمونږ غرض همدا وه چې بوډاګان او کمزوري خلک په ډېرو ګرمو وختونو کښې او هم په باراني شپو کښې بې جمې پاتې نه شي.

۳ـ خو الله ﷻ شهادت ورکوي چې د دوی سوګندونه په دورغو دي او حقيقت دا دی چې دوی د جومات په جوړولو کښې فاسد اغراض درلوده.

۴ـ نو ای پيغمبره! د منافقانو په ذکر شوي جومات کښې هيڅکله مه ودرېږه او مه پکښې د افتتاح دپاره لمونځ کوه، او دا ځکه چې:

الف: کوم جومات چې بنياد يې د اولې ورځې څخه په تقوی او ديندارۍ باندې اېښودلی شوی دی، په هغه کښې ستا ودرېدل ډېر ښه دي د هغه جومات څخه چې بنياد يې په بې دينۍ او منافقت باندې اېښودل شوی دی.

په دې چل سره غواړي چې په لا شعوري ډول باندې ته (ای پيغمبره!) هغوی ته د منافقت او فساد اجولو اجازه ورکړې.

ب: د کوم جومات چې د بنياد ډېره يې په تقوی باندې اېښودله شوې ده د هغه په اهاليوو (لمونځ کوونکو) کښې داسې رجال (سړي) شته چې ظاهري او باطني طهارت او پاکي يې ډېره خوښه ده، د منافقانو غوندې باطني خبث (نفاق) ته په زړونو کښې ځای نه ورکوي او هم د لوټو د استنجاء څخه وروسته خپل ځانونه په اوبو سره هم پاکوي.

نو کله چې الله ﷻ پاکان خوښوي نو ته هم پاکان خوښ کړه او د خوشالولو دپاره يې کار وکړه.

ج: ای پيغمبره! اوس نو لاندې پوښتنه خپل امت ته وړاندې کړه ترڅو موضوع واضحه شي، دا ځکه چې هر هوښيار سړی په دې بلندې پوهېږي چې په ذکرو شوو دواړو جوماتونو (مسجد ضرار، مسجد تقوی) کښې کوم غوره دی او کوم بهتر دی چې سړی پکښې لمونځ وکړي؛ پوښتنه دا ده:

اول: ايا نو د هغه چا ابادي بهتره ده چې د خپلې ابادۍ لومړنۍ ډېره يې په دې نيت اېښې وي چې الله ﷻ ترې راضي شي او په متقيانو کښې وشمېرل شي.

او په دې باندې علاوه د خپلې ابادۍ بنياد يې په يوه داسې قوي ځای کښې اېښی وي چې د قيامت د ورځې پورې د نړېدلو او راغورځېدلو د خطره بچ وي.

دوهم: او يا د هغه چا ابادي غوره ده چې هغه د يو پلوه د خپلې ابادۍ د بنياد ډېره د کاواکې (نړېدونکې) کندې په غاړه اېښې وي چې سات په سات او ګړۍ په ګړۍ د چپه کېدلو د خطر سره مخامخه وي، او د بله پلوه يې د خپلې ابادۍ د بنياد په اېښودلو کښې نه تقوی او دينداري مطلب وي او نه پکښې د الله ﷻ رضامندي غواړي. بلکې په همدې غرض يې خپله ابادي جوړه کړې وي چې کفري مقاصد پکښې ترسره کړي او د الله ﷻ غضب تر لاسه کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې نومورې کاواکه ابادي سرچپه ونړېږي نو خپل خاوند هم د څانه سره چپه کوي او د دوزخ اور ته يې رسوي، دا ځکه چې الله ﷻ ظالم قوم ته هدايت نه کوي، چې خپل استعدادونه يې د متکررو جنايتونو د کبله د خاورو سره برابر کړي وي او خپل خير او شر نه شي سنجولی.

د ذکرې شوې پوښتنې په جوابولو کښې چې هيڅوک دوهم ډول ابادي نه خوښوي نو تاته هم په کار دي (ای پيغمبره!) چې د تقوی جومات پرېنږدي او د ضرار په جومات کښې په لمانځه باندې ونه درېږې.

همدارنګه تاته مناسبه ده چې د هغه جومات د اهاليوو څخه خپلې اړيکې وشکوې او د دې جومات د اهاليوو سره خپل ارتباطات قوي او کلک کړې.

۵_ ذکر شوی د فساد جومات ځکه د خپلو جوړونکو دپاره په دوزخ کښې د غورزېدلو سبب جوړ شو چې د هغه ړنګول د دوی په زړونو کښې کفر او منافقت دومره قوي اوکلک کړ چې د زړونو څخه به يې په هيڅ صورت کښې بهرون نه شي مګر هله چې زړونه يې ټوټې-ټوټې او پرچې-پرچې شي، يعنې د مرګ د وخته پورې به د منافقت څخه لاس وانخلي او په همدې حالت باندې به مړه شي او د دوزخ په ټيټه پايه کښې به واچولی شي.

الله ﷻ ته هرڅه ډېر ښه معلوم دي او د حکمت په غوښتنه د هرچا سره مناسب چال چلند کوي.

## توضيحات

۱_ که څه هم د مسجد ضرار د رد دپاره فقط همدې جملې ﴿ لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ﴾ کفايت کاوه، يعنې چې منافقان دروغ وايي پام کوه چې افتتاحيه لمونځ پکښې ونه کړې؛ مګر الله ﷻ په ډېرو تاکيداتو سره ذکر شوی حکم ځکه نازل کړ چې:

الف: ترڅو منافقان مايوسه شي او په بيا-بيا مراجعې سره نبي کريم ﷺ ته تکليف ورنه کړي.

ب: ترڅو د قيامت د ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته موضوع واضحه کړی شي او منافقان ونه شي کړی چې ځينې ساده لوحي مسلمانان په دې خبره تېرباسي چې د جومات ړنګول ښه کار نه دی شوی.

## د دې ايتونو ارشاد

۲_ ذکر شوي ايتونه ټولو مسلمانانو ته توصيه او ارشاد کوي چې په هره زمانه کښې د منافقانو او د دين د دښمنانو دسائسو ته زياته پاملرنه وکړي ترڅو د مذهب په جامه کښې لا مذهبي او د جومات په نامه شيطان خانه او بالآخره د عبادت په نامهورباندې کفر قبول نه کړي.

مسلمانان بايد ويښ او بيدار وي او په دقت سره د دښمنانو کره وړه وڅاري. بايد د کفري دولتونو کومکونو ته په سرسري نظر ونه ګوري. د هغوی کومکونه په غير شرعي غرض باندې ولاړ دي.

د همدې کبله بېګاه شپه کفري دولتونو اعلان وکړ چې په افغانستان کښې د خپلو غرضي کومکونو هغه متعددې مؤسسې وتړي کومې چې په وړاندېنيو حکومتونو کښې د کومکونو په کارونو باندې بوختې وې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا ولې؟ دا ځکه چې څو ورځې وړاندې[۱] د استاذ رباني حکومت سقوط وکړ چې زنانه پکښې په ازادۍ سره دفترونو ته تلې راتلې او د ستر (حجاب) مراعات پکښې عملي َبڼه نه وه اختیاره کړې.

اما کله چې د طالبانو حکومت په نارینه وو او زنانه وو باندې شرعي احکام تطبیق کړه او زنانه وو ته یې اجازه ورنه کړه چې په دفترونو کښې مخ لوڅې کار وکړي او په مرستندویه موسسو کښې د کفارو ترڅنګ کیني نو همدا نن[۲] د بي بي سي (BBC) کفري رادیو اعلان وکړ چې که د طالبانو حکومت ښځو ته هغه ازادي ورنه کړي کومه چې کفري دولتونه ورته ازادي وایي نو بین الملل به ورباندې خپل کومکونه قطعه کړي (مرستندویه موئسسې به وتړي) او هم به یې حکومت په رسمیت باندې ونه پېژني.

د پورتني مثال څخه هرڅوک پوهېږي چې د کفري دولتونو په شاتو کښې زهر دي او عداوتونو ته یې د دوستۍ جامې وراغوستي دي. نو الله ﷻ دې د طالبانو حکومت موفق کړي چې شریعت په خلکو باندې تطبیق کړي او د کفري دولتونو په تهدیداتو باندې پروا ونه کړي.

## د تقوی جومات د کوم جومات نوم دی؟

۳ـ د دې جملې ﴿ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ﴾ په تفسیر کښې علماء کرام په لاندې ګروپونو باندې ویشلي شوي دي:

الف: د ذکر شوي جومات څخه د قباء هغه جومات مراد دی د کوم د قبلې طرف چې نبي کریم ﷺ ته جبرائیل ؑ ښودلی وه[۳]، او د بنیاد ډبره یې په هغې ورځې کښې کېښودله شوه چې کله نبي کریم ﷺ د مکې معظمې څخه مدینې منورې ته ورسېد.

دا د یو پلوه او د بله پلوه نبي کریم ﷺ د قباء په جومات کښې څلور ورځې (دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه، پنجشنبه) لمونځ وکړ او د جمعې په ورځ د مدینې منورې د مرکز په لور روان شو چرته چې اوس مبارکه روضه اباده ده[۴]. دا جومات ځکه مراد دی چې:

اول: د ایتونو وړاندې او بېرته جملې همدا غوښتنه کوي چې بحث په مسجد ضرار کښې راروان دی کوم چې د مسجد قباء په مقابل کښې جوړ شوی وه.

دوهم: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءٍ رَاكِبًا وَمَاشِيًا فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ»[۵] یعنې: نبي کریم ﷺ به د قباء جومات ته کله سور او کله پیاده ورته، او هلته به یې دوه رکعته لمونځ اداء کاوه.

دریم: نبي کریم ﷺ د ابو هریره ؓ په روایت باندې فرمایلي دي چې: «نَزَلَتْ فِي اهل قُبَاءَ ﴿ فِيهِ

---

(۱) ۱۳۷۵/۷/۵ هـ ش د جمعې د شپې تقریباً یوولس بجې
(۲) ۱۳۷۵/۷/۱۶ هـ ش
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۳۸۹
(۴) البحر المحیط ج۵ ص۵۰۴
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۴۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴾»[۱] يعنې دغه ايت شريف چې اوس د بحث لاندې دی د قباء د خلکو په باره کښې نازل شوی دی چې هغوی به برسېره د ډېرو په استنجاء په اوبو باندې هم استنجاء کوله.

ب: د ذکر شوي جومات څخه هغه جومات مطلب دی د کوم د بنياد ډېره چې نبي کريم ﷺ اېښې ده[۲] او په نبوي جومات باندې شهرت لري او د روضې مبارکې ترڅنګ واقع دی. دا ځکه چې:

اول: د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې دوه سړي په جګړه شوه يوه دعوه کوله چې د ﴿ لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ څخه د قباء جومات مراد دی او بله مدعي وه چې د همدې جومات څخه نبوي جومات مطلب دی. دواړه د نبي کريم ﷺ حضور ته د فيصلې دپاره ورغله نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «هُوَ مَسْجِدِيْ هذَا»[۳] يعنې: دا زما دغه جومات (مسجد نبوي) دی.

دوهم: ابو سعيد الخدري ﷺ وايي چې ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! د دوه وو جوماتونو (د قباء جومات او نبوي جومات) څخه کوم يو هغه جومات دی چې په تقوی باندې يې بنياد اېښودلی شوی دی؟ نبي کريم ﷺ د ځمکې څخه يو موټی شګې را پورته کړې او ببرته يې په همدې ځمکه باندې ورويشتلې او بيا يې وفرمايل چې: «هُوَ هذَا مَسْجِدُ الْمَدِيْنَةِ»[۴] يعنې: دا همدغه د مدينې منورې جومات دی.

### تبصره

۴ــ څرنګه چې په ذکرو شوو دواړو جانبو کښې ډېر احاديث روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو را غونډه کړي دي[۵]، نو علماوو کرامو پکښې لاندې دوه لارې غوره کړي دي:

الف: ځينو د دواړو جانبو په احاديثو کښې قوت او ضعف لټولی دی او بالآخره يې دې ته ترجيح ورکړې ده چې په ايت شريف کښې نبوي جومات مراد دی[۶].

ب: ځينو د ﴿ لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ څخه عامه معنی اخستې ده چې په دواړو جوماتونو باندې صدق مونډلی شي[۷].

نو د معنی حاصل به داسې راوځي چې: د ضرار په جومات کښې د ودرېدلو څخه په هغه جومات کښې درېدل غوره دي د کوم بنياد چې په تقوی او په پاخه ايمان باندې اېښودلی شوی، لکه د قباء جومات او يا لکه د نبي کريم ﷺ جومات (نبوي جومات) او يا داسې نور جوماتونه.

(۱) سنن ابن ماجه ص ۳۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۱
(۲) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۷۵
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۱
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۹؛ صحيح مسلم ج۱ ص۴۴۷
(۵) تفسير ابن كثير ج۲ ص۳۸۹
(۶) روح المعاني ج۱۱ ص۲۱
(۷) تفسير القاسمي ج۸ ص۳۲۶؛ التفسير الكبير ج۱۶ ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "شَفَا جُرُفٍ هَارٍ" معناوې

۵_ په دې کلماتو ﴿ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ ﴾ کښې درې لغات جمعه شوي دي چې معناوې يې دا دي:

الف: "شِفَا" د شين په زير سره د مرض څخه روغېدلو ته ويل کېږي، او د شين په زور سره د يوه شي څنډې ته وضعه شوې ده مګر د کنايې په توګه د قرب (نژدېکت) معنی ورکوي[١].

ب: ﴿ جُرُفٍ ﴾ _لکه "شُغُل"_ د يوې کندې هغې برخې ته ويلی شي چې د اوبو په ډېرو بهېدلو سره کاواکه شوې او ورسته شوې وي[٢].

ج: د ﴿ هَارٍ ﴾ کلمه د "هَارَ الْبِنَاءُ" څخه اخستله شوې ده يعنې ابادي لوېدلې وه، چې په اصل کښې "هَاوِرٌ" وه او د قلب او هم د "قَاضٍ" غوندې د اعلال په ذريعه ترې "هَارٍ" جوړه شوه، لکه د "شَائِكٌ" کلمه چې په اصل کښې "شَاوِكٌ" وه او بيا ترې "شَائِكٌ" جوړه شوې ده[٣].

نو د معنی حاصل يې داسې را خېژي چې: د منافقانو ذکر شوی جومات چې بنياد يې په منافقت او فساد باندې اېښودلی شوی دی د هغې ابادۍ مثال لري د کومې چې بنياد يې د ورستې او کاواکې کندې په غاړه اېښودل شوی وي او په ادنی حرکت سره راچپه او درې ورې شي او هم خپل خاوند په دنياوي حسرت او عذاب باندې علاوه، د اخروي عذاب سره هم مخامخ کړي او د دوزخ اور ته يې ورګوزار کړي.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ ۚ يُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ وَٱلْقُرْءَانِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ ۚ فَٱسْتَبْشِرُوا۟ بِبَيْعِكُمُ ٱلَّذِى بَايَعْتُم بِهِۦ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١١١﴾ ٱلتَّـٰٓئِبُونَ ٱلْعَـٰبِدُونَ ٱلْحَـٰمِدُونَ ٱلسَّـٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّـٰجِدُونَ ٱلْـَٔامِرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَٱلْحَـٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ ﴾

[١١١] يقينًا الله ﷻ د مؤمنانو څخه د دوی ځانونه او د دوی مالونه په دې عوض پيرودلي (اخستي) دي چې بې شکه دوی لره (د الله ﷻ په ورانډې) جنت دی.

---

(١) مفردات الرغب ص٢٧١
(٢) تفسير الکشاف ج٢ ص٣١٢
(٣) لسان العرب ج۵ ص٢٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(د پېرودلو صورت يې دا دی چې) دوی د الله ﷻ په لاره کښې جنګېږي نو (کفار) وژني او دوی (هم کله د هغوی د پلوه) وژل کېږي.

(الله ﷻ) په خپل اقدس ځان باندې (هم) په تورات کښې او (هم) په انجيل کښې او (بالآخره هم) په قرآن کريم کښې (وعده کړې ده) حقه (ثابته) وعده او (په دې باندې علاوه) هغه څوک دی چې په خپل عهد (وعدې) باندې د الله ﷻ څخه ښه وفا کوونکی وي؟ (هيڅوک نشته).

نو (ای پيغمبره! مؤمنان مخاطب کړه چې) په خپلې هغې بيې باندې خوشاله اوسئ په کومې باندې چې تاسو (د الله ﷻ سره) د پلورلو او پيرودلو معامله کړې ده.

او د غه (ورکړه راکړه چې ده) همدا ډېره لويه کاميابي ده (چې ستاسو په برخه شوه).

[۱۱۲] (مؤمنان چې دي) دوی (د کفر او ګناهونو څخه) توبه کوونکي دي، (يوازې د الله ﷻ) عبادت کوونکي دي، (د الله ﷻ) حمد ويونکي، روژه نيوونکي، رکوع کوونکي (او) سجده کوونکي (لمونځ کوونکي) دي، په نېکو (شرعي) کارونو باندې امر کوونکی دی او د (غير شرعي) بدو کارونو څخه منعه کوونکي دي او (بالآخره) د الله ﷻ د حدودو (شرعي چوکاټونو) ساتونکي دي.

او (په آخر کښې ای پيغمبره!) مؤمنانو ته زيری ورکړه (چې الله ﷻ به دوی ته هم جنتونه ورکړي).

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنيو ايتونو کښې د هغو خلکو حالات بيان شوي وه کوم چې د جهاد څخه يا د منافقت او يا د کسالت (سستی) د کبله پاتې شوي وه. په دې ايتونو کښې د مجاهدينو فضائل بيانيږي او هم د کاملو مؤمنانو څه امتيازي خاصيتونو ته اشاره شوې ده.

۲_ په وړاندېنيو نژدې ايتونو کښې د منافقانو د نفقاتو رد شوی وه چې د اسلام د تخريب دپاره يې د جومات په نوم ولګول مګر په دنيا او آخرت کښې ورته د زيات حسرت اسباب جوړ شوه. او دلته د مؤمنانو د نفقاتو مقبوليت بيان شوی دی.

۳_ هلته د هغو سادګانو بحث تېر شو چې په منافقت کښې يې مهارت درلود او غوښتل يې چې خپل منافقت د جومات او عبادت ځای په څيره څرګند کړي. دلته د هغو ماهرانو او هوښيارانو ذکر دی چې خپل ځانونه او خپل مالونه په الله ﷻ باندې خرڅوي.

## شان نزول

۱_ کله چې انصارو په مکه معظمه کښې د غونډۍ ترڅنګ په توره شپه کښې (د قريشو څخه په پټه) د نبي کريم ﷺ سره بيعت وکړ نو عبد الله بن رواحه ﷺ وويلې چې: ای د الله رسوله! کوم شرطونه چې ته په مونږ باندې ږدې نو هغه واضحه کړه.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: زه د خپل رب ﷻ دپاره درباندې دا شرط لګوم چې د همده ﷻ عبادت به کوئ او هيڅ شی به ورسره نه شريکوئ، او د خپل ځان دپاره درباندې دا شرط ږدم چې زما څخه به داسې دفاع کوئ لکه څنګه چې د خپلو ځانونو څخه دفاع کوئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو انصارو ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! کله چې مونږ ذکر شوي دواړه شرطونه په ځای کړو نو مونږ ته به څه شی راکړی شي.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «الجنة» تاسو ته به الله ﷻ په عوض او بدله کښې جنت درکړي.

انصارو وويلې چې: «رَبِحَ الْبَيْعُ لا نُقِيْلُ وَلا نَسْتَقِيْلُ»[1] يعني: ګټوره بيعه (بيه) ده، نه يې مونږ اقاله (فسخه) کوو او نه يې اقاله (فسخه) غواړو. نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: ذکر شوي بيعت خو د هجرت څخه وړاندې صورت نيولی وه چې بالآخره همدا بيعت د هجرت سبب جوړ شو او دا ايتونه خو د هجرت په نهم کال باندې نازل شوي دي، نو ايا هغه واقعه د دې ايتونو شان نزول کېدلی شي؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[2] او په مصداق کښې د زماني يووالی څه ضرور نه دی. د همدې کبله ځينو مفسرينو کرامو د ذکرو شوو ايتونو دپاره متعدد شان نزولونه (مصداقات) ښودلي دي[3] که څوک فرصت لري نو هلته دې وګوري.

## د مطلب خلاصه

يعني: ای پيغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د مجاهدينو او جهاد فضائل قرائت کړه او هم ورته د سوچه مؤمنانو خاصيتونه واضحه کړه. هغه دا چې:

۱ـ دا يقيني خبره ده چې الله ﷻ د مؤمنانو څخه هغه نفسونه او هغه مالونه چې همده ﷻ ورکړي دي بېرته په بيه باندې اخلي او په بدل کښې يې جنت ورکوي. دا ځکه چې دوی د الله ﷻ په لاره کښې جنګېږي چې د الله ﷻ دښمنان وژني او پخپله باندې هم کله-کله وژل کېږي. دوی د مرګ څخه نه ډارېږي. دوی د غزا څخه د پاتې کېدلو په غرض د منافقانو په څېر دروغيني بهانې نه جوړوي. دوی هوښيار دي او پوهېږي چې نه نفسونه باقي پاتې کېږي او نه مالونه دوام پيدا کولی شي مګر هله چې په الله ﷻ باندې ويلورل شي.

په ذکره شوې بيه باندې صرف ماهران او د عقل خاوندان عقيده کوي، دا ځکه چې دا نسيا بيه ده او د ثمنو (قيمت) په منځکښې يې مرګ حائل دی. د همدې کبله ذکر شوې بيې ته صرف هغه کسان زړه ښه کوي چې په لاندې اسنادو باندې عقيدې ولري:

الف: ذکرو شوو مجاهدينو ته الله ﷻ په خپلو ټولو اسماني کتابو کښې په حقه وعده ورکړې ده، لکه تورات او انجيل او بالآخره قرآن کريم. نو چا چې په دغو کسانو باندې ايمان راوړی دی هغه به يې د وعدو په رښتياتوب باندې هم باور لري.

ب: په دې باندې علاوه ذکره شوې وعده د بل چا د پلوه نه بلکې د الله ﷻ د پلوه ورکوله کېږي،

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۷۹

(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

(۳) تفسير المنار ج۱۱ ص۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا نو د الله ﷻ څخه هم بل څوک په خپل عهد (وعدې) باندې کلک شته؟
۲_ نو ای پیغمبره! د الله ﷻ دپلوه ذکر شوي تاجران مخاطب کړه چې: ای د الله ﷻ د لارې تاجرانو! په هغې بیه باندې بشارت (زیری) قبول کړئ او خوشاله شئ په کومه چې تاسو په الله ﷻ باندې خپل ځانونه او مالونه خرڅ کړي دي. ځکه چې دا ډېره لویه کامیابي ده چې څوک فاني متاع په باقي ثمنو (قیمت) باندې وپلوري.
۳_ ای پیغمبره! د مؤمنانو څه نور صفات هم قرائت کړه چې یوازې همدوی پورې اختصاص لري او په منافقانو کښې تحقق نه شي موندلی.
یعني: برسېره پر دې چې مؤمنان خپل مالونه او سرونه په الله ﷻ باندې خرڅوي د لاندې غوره صفاتو درلودونکي هم دي:
الف: مؤمنان توبه کوونکي دي چې په دوامداره توګه د کفر او شرک څخه ځانونه ساتي. او که د ګناه مرتکب شي نو دستي توبه وباسئ او حتی کله-کله خپل ځانونه د جومات په ستنو پورې هم تړي.
ب: دوی په دائمي توګه د خپل رب ﷻ عبادت کوي او هیڅ شی پکښې ورسره نه شریکوي.
ج: دوی د الله ﷻ ثنا ویونکي او ستایونکي دي. د ده ﷻ څخه پرته د هیڅ شي داسې ستاینه نه کوي چې د الوهیت سره مناسبه وي.
د: دوی صرف د الله ﷻ د رضا دپاره روژه نیوونکي دي چې په خپلو بشري خواهشاتو باندې قدم ږدي او د خپل رب ﷻ د اوامرو منونکي کوي.
هـ، و: مؤمنان په دوامداره توګه لمونځونه کوي کله چې خپل رب ﷻ ته په رکوع وي او کله ورته په سجده پراته وي، چې همدا لمونځ ورسره په الهي اطاعت کښې مرسته کوي.
ز: مؤمنان یوازې او یوازې د خپلو ځانونو غم نخوري چې الله ﷻ ته یې ورنژدې کړي بلکې د نورو په غم باندې هم غمژن وي چې په دوامداره توګه ورته په نیکیو باندې امر کوي او د خیر کارونو ته یې دعوت کوي چې خپل ځانونه او خپل مالونه په الله ﷻ باندې د جنت په بدل کښې خرڅ کړئ او ابدي کورونه جوړ کړئ.
ح: همدارنګه دوی د نورو خلکو لاس نیوونکي وي ترڅو د کفریاتو او ګناهونو څخه اجتناب وکړي او شرعي منکرات (نا اشنا) کارونه پرېږدي.
ط: په دې ټولو باندې دپاسه د شرعي حدودو حفاظت کوي او ضائع کېدلو ته یې نه خوشې کوي. نو که پخپله آمران وي په خپل لاس باندې حدود الله اجراء کوي او که نه نو د هغه چا سره همکاري کوي کوم چې د حدودو د اجراء کولو مسئولیت په غاړه لري، او د اولو الامرو د جملې څخه وي.
په دې باندې علاوه، د خپل ژوند ټول کارونه د شریعت په چوکاټ کښې ترسره کوي او د شرعي مقرراتو څخه تجاوز نه کوي.
۴_ ای پیغمبره! د ذکرو شوو صفاتو خاوندانو (مؤمنانو) ته زیری او بشارت ورکړه چې الله ﷻ د دوی څخه راضي دی او ډېر ژر دی چې الله ﷻ به دوی هم د خپله ځانه راضي کړي او جنتونه به ورکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ الله ﷻ په ايت شريف کښې د ذکرې شوې اشتراء صورت په دې جمله ﴿ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ کښې بيان کړی دی. يعنې په الله ﷻ باندې د خپل سر او مال د خرڅولو صورت دا دی چې سړی د الله ﷻ په لاره کښې د کفارو سره جنګ وکړي، نو د ده دپاره الله ﷻ د جنت وعده ورکړې ده که څه هم ژوندی پاتې شي او شهيد نه شي.

هو! که څوک برسېره په جنګ کولو باندې شهيد هم شي نو د هغه درجې خو لا نورې هم لوړېږي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِهِ كُلُّ دَرَجَتَيْنِ مَا بَيْنَهُمَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ»[۱] يعنې: يقيناً په جنت کښې سل درجې دي چې الله ﷻ په خپله لاره کښې د مجاهدينو دپاره تياری کړی دی د هرو دوه وو درجو ترمنځ دومره فاصله ده لکه څومره چې د ځمکې او اسمان ترمنځ فاصله ده.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَمَاتَ أَوْ قُتِلَ فَهُوَ شَهِيدٌ أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ أَوْ بَعِيرُهُ أَوْ لَدَغَتْهُ هَامَّةٌ أَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَوْ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللهُ فَإِنَّهُ شَهِيدٌ وَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ»[۲] يعنې: هرڅوک چې د خپله کوره د الله ﷻ په لاره کښې جدا شي نو مړ شي يا ووژلی شي نو هغه شهيد دی، (مثلاً) يا يې خپل آس يا خپل اوښ څټ مات کړي يا يې زهر لرونکې حشره وچيچي يا په خپله بستره باندې مړ شي يا په هر ډول مرګ سره چې د الله ﷻ اراده شوې وي مړ شي نو يقيناً هغه (په ټولو صورتونو کښې) شهيد دی او يقينا هغه ته جنت دی.

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ»[۳] يعنې: او پوه شئ چې يقيناً جنت د (جهادي) تورو د سورو لاندې دي (که څوک ژوندی پاتې شي او که شهيد شي).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: ايا هغه نهه صفات کومو ته چې الله ﷻ په ﴿ ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ﴾ الاية- کښې اشاره کړې ده ټول د جنت په ورکړه کښې شرط دي او که نه محض د بهترۍ دپاره ذکر شوي دي؟

مونږ وايو چې: ظاهره دا ده چې دا (ايت شريف) بېله جمله ده، چې محض د مؤمنانو فضائل يې واضحه کړي دي او په هغې تجارتي بيه کښې د اشتراط په توګه نه دي نازل شوي په کومه کښې چې الله ﷻ مقاتل في سبيل الله (د الله ﷻ په لار کښې جنګ کوونکي) ته د جنت وعده ورکړې ده[۴].

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۴
(۲) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۳۳۸
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۳۹۵
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۰۳۰ المحرر الوجيز ج۸ ص۲۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سياحة څه معنی؟

۳ـ د ﴿ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ﴾ کلمه د "سَيْح" څخه اشتقاقه شوې ده. "سَيْح" هغو ځرګندو اوبو ته ويل کېږي چې د ځمکې په مخ باندې بهېږي[١]. خو په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ﴾ په کلمه کښې څو متعددې معناوې کړې دي لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د ﴿ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د مجاهدينو معنی ورکوي. لکه چې يوه ورځې يوه سړي د نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې: ای د الله رسوله! ماته د سياحت (په بيديا کښې د اوسېدلو) اجازه راکړه. نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ ﷻ»[٢] يعنې: يقينًا زما د امت سياحت د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کول دي.

ب: عام مفسرين کرام د ذکرې شوې کلمې څخه روژه داران مرادوي، چې په روژې سره سړی د خپلو مشروعو مالونو څخه نه څه خوړلی شي او نه څه څښلی شي، ته به وايې چې د خپل وطن څخه يې سياحت کړی دی او هيڅ شی يې په لاس کښې نشته[٣].

ج: او ځينې يې د شرعي علومو په طالبانو باندې تفسيروي[۴].

د: بالآخره ځينې علماء کرام وايي چې دلته ترې مهاجرين او يا د شرعي عبرت اخستلو دپاره سياحين مطلب دي[۵].

### تبصره

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوې ټولې معناوې سره يو تربله څه منافات نه لري، په کار دي چې د نومورې کلمې څخه ما يطلق عليه السائحون واخستل شي ترڅو ټولو معناوو ته شامله شي.

﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٣﴾ وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ﴿١١٤﴾ ﴾

[١١٣] پيغمبر ﷺ او هغو کسانو ته چې ايمان يې را وړی دی مناسب (جائز) نه دي چې مشرکانو ته (د الله ﷻ څخه) مغفرت وغواړي اګر که دوی (مشرکان) د قرابت (خپلوۍ) خاوندان وي.

(البته) د هغه څخه وروسته چې (په وحې يا مرګ باندې) ورته ځرګنده شي چې يقينًا دوی د دوزخ ملګري (دوزخيان) دي.

---

(١) لسان العرب ج٢ ص۴۹۲
(٢) سنن ابي داوُد ج١ ص۳۳٦
(٣) التفسير الكبير ج١٦ ص٢٠٣
(۴) الجواهر للطنطاوي ج۵ ص١٦٨
(۵) تفسير القاسمي ج٨ ص٣٣۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۱۴] او د خپل پلار (ازر) دپاره د ابراهیم ﷺ د مغفرت غوښتل (د بلې هیڅ وجهې د کبله) نه وه مګر د یوې وعدې د کبله چې ابراهیم ﷺ (د عدم معلوماتو په وخت کښې) هغه (خپل پلار) ته ورکړې وه (چې زه به ډېر ژر ستا دپاره د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړم).

نو کله چې ابراهیم ﷺ ته واضحه شوه (او معلومات ورته ورکړی شوه) چې بې شکه د ده پلار د الله ﷻ دپاره دښمن دئ نو د خپل پلار څخه بېزار شو.

یقینًا ابراهیم ﷺ چې وه بالکل مهربان (زړه سوونکی او) د حلم (زغم) خاوند وه.

## ارتباطونه

۱_ د دې سورت (التوبة) یو نوم "بَرَاءَة" دی چې د بېزارۍ معنی ورکوي، نو څرنګه چې د سورت د اول سر څخه مونږ ته الله ﷻ توصیه وکړه چې د ژوندیو مشرکانو څخه خپله بېزاري اعلان کړو او هم په همدې سورت کښې یې مونږ ته امر وکړه چې د منافقانو سره جهاد وکړو البته هغه جهاد چې د همدوی سره مناسبت لري، لکه چې د [التوبة:۶۶] ایت لاندې شرحه شوی دی، همدارنګه مونږ ته ارشاد وشو چې په مړو منافقانو باندې د جنازې لمونځ ونه کړو یعنې د الله ﷻ څخه ورته بښنه ونه غواړو.

په دې ایتونو کښې توصیه شوې ده چې لکه څنګه چې تاسو د ژوندیو مشرکانو څخه خپله بېزاري اعلانه کړه همدارنګه د دوی د مړو څخه هم خپله بېزاري اعلانه کړئ او بښنه ورته مه غواړئ.

لنډه دا چې لکه څنګه چې تاسو د منافقانو په باره کښې د مړو او ژوندیو څخه بېزار یاست همدارنګه د مشرکانو په هکله هم د مړو او ژوندیو څخه بېزار شئ.

۲_ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د کاملو مؤمنانو نهه صفات بیان کړي وه او دلته یې لسم صفت واضحه کړی دی، هغه دا چې د کاملو مؤمنانو یو صفت دا هم دی چې مشرکانو ته بښنه نه غواړي.

## شان نزولونه

د ذکرو شوو ایتونو دپاره علماوو کرامو متعدد شان نزولونه لیکلي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

۱_ اکثره مفسرین کرام وایي چې ذکر شوې ایتونه د ابو طالب په هکله نازل شوي دي، حتی چې ځینو لا همدا شان نزول صحیح ګڼلی دی[۱]، هغه دا چې:

کله چې ابو طالب ته مرګ حاضر شو (د مرګ علامات پکښې ولیده شوه) نو نبي کریم ﷺ هغه مخاطب کړ چې: ای عم! (ای کاکا) دغه کلمه طیبه (لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ) ووایه چې زه ستا په باره کښې د الله ﷻ په وړاندې حجت وړاندې کړی شم (ستا دپاره شفاعت وکړم).

په دغه مجلس کښې ابو جهل او ابن ابي امیه هم ناست وه. دوی دواړو ابو طالب ته ننګ ور واچاوه چې ایا د خپل پلار (عبد المطلب) د دین څخه ډډه کوې؟.

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: «لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ»[١] زه به ترهغه پورې تاته بښنه غواړم ترڅو چې ستا څخه منعه نه کړی شم. «فَنَزَلَتْ» نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: ابو طالب خو په مکه معظمه کښې وفات شوی دی او دا سورت خو مدني دی؟!

مونږ وايو چې:

الف: که څه هم دا سورت مدني دی مګر څه لرې نه ده چې ذکر شوي ايتونه د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوي وي[٢].

ب: په «فَنَزَلَتْ» کښې د "ف" توری د اتصال دپاره دی چې انفصال ورسره منافي دی، البته هغه انفصال نه په کوم باندې چې ذکر شوي ايتونه دلالت کوي. نو څه لرې نه ده چې د ايتونو د نزول د وخته پورې به نبي کريم ﷺ خپل تره ابو طالب ته په مسلسله توګه بښنه غوښتې وي خو د ايتونو په نزول سره به د استغفار څخه جدا او منفصل شوی وي[٣].

۳ـ ځينې وايي چې دا د نبي کريم ﷺ د والدې په هکله نازل شوی دی[۴] چې:

ابو هريره ؓ وايي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ د خپلې والدې (مور) قبر ته ورغی نو پخپله باندې يې وژړل او د شاوخوا صحابه کرام ؓ يې هم وژړول او بيا يې وفرمايل چې: «اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا فَلَمْ يَأْذَنْ لِي وَاسْتَأْذَنْتُ رَبِّي فِي أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِي فَزُورُوا الْقُبُورَ فَإِنَّهَا تُذَكِّرُكُمُ الْمَوْتَ»[۵] يعنې ما د خپل رب ﷻ څخه اجازه وغوښتله چې خپلې والدې ته بښنه وغواړم نو اجازه يې رانه کړه، او د خپل رب ﷻ څخه مې په دې کښې اذن وغوښت چې د قبره زيارت يې وکړم نو اذن يې راکړ، نو (ای مؤمنانو!) د قبرونو زيارتونه وکړئ! ځکه چې دا تاسو ته مرګ درپه زړه کوي.

۴ـ ځينې وايي چې ذکر شوي ايتونه په لاندې قيصه کښې نازل شوي دي:

علي ؓ وايي چې يوه ورځې يوه سړي خپلو مشرکانو والدينو (مور او پلار) ته بښنه غوښتله، ما مخاطب کړ چې: ايا څوک کولی شي چې خپلو والدينو ته بښنه وغواړي حال دا چې دواړه مشرکان وي؟! نو نوموړي سړي وويلې چې: ايا ابراهيم ؑ خپل مشرک پلار ته بښنه نه وه غوښتې؟

نو ما دا خبره د نبي کريم ﷺ په حضور کښې ياده کړه، «فَنَزَلَتْ»[۶] نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه.

۵ـ ځينو صحابه وو کرامو ؓ وويلې چې ابراهيم ؑ خپل مشرک پلار ته مغفرت غوښتی دی او

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٧٥
(٢) روح المعاني ج٣٣ ص١١
(٣) تفسير الخازن ج٣ ص٢٠٣
(۴) المحرر الوجيز ج٨ ص٢٨٩
(۵) سنن ابن ماجه ص١١٣
(۶) جامع الترمذي ج ص١۴١؛ مسند احمد بن حنبل ج١ ص١١٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا دی نبي کریم ﷺ هم خپلی تره (ابو طالب) ته مغفرت غواړي، نو مونږ ته هم څه مانع نشته چې خپلو پلرونو او خپلو اقاربو ته مغفرت وغواړو، «فَاسْتَغْفَرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى نَزَلَ»[١] نو دوی مشرکانو ته د مغفرت په غوښتلو باندې پیل وکړ نو الله ﷻ ذکر شوی حکم نازل کړ.

## تبصره

۶_ مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي روایات سره یو تربله څه منافات نه لري، نو څه لرې نه ده چې په ایتونو کښې د ټولو جواب نازل شوی وي. او په دې باندې علاوه سلفو صالحینو خو په مصداقاتو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[٢] نو که څوک ووایي چې ذکر شوي ټول روایات د ایتونو دپاره مصداقات دي هم ښه خبره ده.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه د مشرکانو په اړوند خپل امت ته لاندې ارشادات قرائت کړه:

١_ نه پیغمبر ته (تاته) او نه مؤمنانو ته دا مناسبه ده چې د مشرکانو دپاره د الله ﷻ څخه د شرک مغفرت وغواړي، که څه هم مشرکان یې خپلوان او اقارب وي. بلکې دوی ته په کار دي چې لکه څنګه یې چې د ژوندیو مشرکانو څخه خپله بېزاري اعلانه کړې ده چې معاهدې ورسره نه کوي او د څلورو میاشتو څخه وروسته ورسره د حرب او جنګ اعلان دی، همدارنګه باید د مړو مشرکانو سره هم خپلې علاقې او ارتباطات پرې کړي او مغفرت ورته ونه غواړي.

مګر ذکره شوې توصیه یو شرط لري هغه دا چې کله پیغمبر ﷺ او مؤمنانو ته څرګنده شي چې دوی دوزخیان دي او په شرک باندې مړه شوي دي.

نو که دا موضوع نه وه سپینه شوې نو د مغفرت غوښتل ورته جواز لري.

٢_ هو! که څوک وایي چې ابراهیم ﷺ خو پیغمبر وه حال دا چې خپل مشرک پلار ته یې د الله ﷻ څخه مغفرت غوښتی وه. ایا د عدم استغفار حکم یوازې مونږ پورې اختصاص لري، او که څنګه؟

نو د دې جواب دا دی چې ابراهیم ﷺ خپل مشرک پلار ته د یوې وعدې په اثر مغفرت غوښتی وه، چې خپل پلار ته یې وعده ورکړې وه چې زه به تا ته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړم، البته په داسې وخت کښې چې د خپل پلار په باره کښې ورته معلومات نه وه ورکړی شوي.

نو کله چې ابراهیم ﷺ خپله وعده پوره کړه او هم ورته جوته شوه چې پلار یې د شرک په حال باندې مړ کېدونکی دی او د الله ﷻ پوخ دښمن دی نو دستې ترې بېزار شو.

نو څرنګه چې ابراهیم ﷺ د یو پلوه ډېر زړه سواندی وه او د بله پلوه د کلک او قوي حلم (استقامت) خاوند وه، تاسو ته په کار دي چې په همغه پسې اقتداء وکړئ او څرګند حالو مشرکانو ته د الله ﷻ څخه مغفرت ونه غواړئ.

---

(١) اسباب النزول للواحدي ص١٧٨

(٢) تفسير القاسمي ج١ ص٢٧؛ تفسير المنار ج٩ ص٦۴٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ په ياد ولرئ چې په ايت شريف کښې مونږ منعه کړی شوي ياستو چې د مشرک يا کافر دپاره د شرک (کفر) د مغفرت غوښتنه وکړو چې: ای الله! د شرک او کفر څخه ورتېر شي. اما د دې څخه نه ياستو منعه کړی شوي چې ووايو: ای الله! په فلاني کافر باندې د نورو کافرانو په نسبت لږ عذاب ورنازل کړې. دا څکه چې:

الله ﷻ په [النساء:۴۸] ايت کښې فيصله نازله کړې ده چې کفر او شرک نه ښښي نو د ښښنې غوښتنه ترې عبث کار دی، او په [النساء:۴۸] ايت کښې يې واضحه کړې ده چې د منافقانو عذاب به د مجاهرو کافرانو په نسبت زيات وي. يعنې کفار د دوزخ په عذاب کښې يو برابر نه دي نو يوه کافر ته د عذاب د کمولو غوښتنه عبث نه ده.

د همدې کبله نبي کريم ﷺ د خپل تره (ابي طالب) په باره کښې فرمايلي دي چې: «لَعَلَّهُ تَنْفَعُهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُجْعَلُ فِي ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ يَبْلُغُ كَعْبَيْهِ تَغْلِي مِنْهُ أُمُّ دِمَاغِهِ»[۱] يعنې شايد چې د قيامت په ورځ زما شفاعت نوموړي ته ګټه ورسوي او د اور څخه په داسې نري اور کښې وګرځولی (واچولی) شي چې (ايله) ښنګرو ته يې رسېږي (خو) د همدې کبله به يې اصل دماغ (ماغزه) خوټېږي.

## يادونه

۲_ د ذکر شوي حديث او نورو احاديثو په استناد مونږ (أهل السنة والجماعة) وايو چې ابو طالب (د نبي کريم ﷺ تره) د کفر په حال باندې مړ شوی دی[۲].

مګر اهل التشيع ترې منکر دي، د دوی عقيده دا ده چې نوموړی په ايمان باندې مشرف شوی وه او د ايمان په حال وفات شوی دی[۳]، والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: سړی به په څه باندې پوه شي چې دا کافر دوزخي دی استغفار ورته په کار نه دی او دا دوزخي نه دی د استغفار باک يې نشته؟

مونږ وايو چې: دا موضوع په لاندې طريقو باندې سړي ته جوته ګرځي[۴]:

الف: يوه د وحې طريقه ده چې الله ﷻ به خپل پيغمبر ﷺ ته وحې وکړه چې د فلاني کافر په زړه باندې مهر لګېدلی دی نو ايمان نه راوړي او د کفر په حال باندې مړ کېږي. دا طريقه د نبي کريم ﷺ په زماني پورې خاصه وه.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۷۱
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۳۳
(۳) تفسير نمونه ج۵ ص۱۹۳
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بله طریقه يې دا ده چې کوم یو کافر د کفر په حال باندې مړ شي نو خبره واضحه کېږي چې دا دوزخي دی. اما د مرګ څخه وړاندې سرې د یوه کافر په دوزخیتوب باندې هم یقین نه شي کولی.

نو د همدې کبله مونږ ته جواز نشته چې په کفر باندې مړه شوي کافر دپاره مغفرت وغواړو، چې ای الله! فلاني مړه شوي کافر ته کفر وبښې. اما د ژوندي کافر دپاره د مغفرت غوښتنه جواز لري. دا ځکه چې د ژوندي کافر دپاره د مغفرت د غوښتنې معنی دا ده چې: ای الله! فلاني کافر ته توفیق ورکړې چې په ایمان باندې مشرف شي او د کفر (ستا د عداوت) څخه بېزار شي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې اثر ولولئ:

یوه ورځې ابو هریره ﷺ وویلې چې: الله ﷻ دې په هغه چا باندې رحم وکړي چې ما او زما مور ته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي. چا ورته وویلې چې پلار دې ولې یاد نه کړ؟

ابو هریره ﷺ جواب وکړ: «إِنَّ أَبِيْ مَاتَ كَافِرًا»[1] ځکه چې پلار مې د کفر په حال مړ شوی دی او د مغفرت غوښتلو دروازه يې په حق کښې تړلې شوې ده. او مور مې ژوندۍ ده د مغفرت دروازه يې په حق کښې نه ده تړلې شوې، ګوندې الله ﷻ توفیق ورکړي او په ایمان باندې مشرفه شي.

## ابراهیم ﷺ په خپلې وعدې وفاء وکړه

۴_ الله ﷻ د ابراهیم ﷺ څخه د ده ﷺ د پلار د استغفار په هکله لاندې دوه حالتونه حکایت کړي دي او لاندې دوه ایتونه يې نازل کړي دي:

الف: ﴿ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيٓ ﴾ [مریم:۴۷] یعنې ابراهیم ﷺ خپل پلار ته وعده وکړه چې زه به ستا دپاره د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړم.

ب: ﴿ وَٱغْفِرْ لِأَبِيٓ ﴾ [الشعراء:۸۶] یعنې ای زما ربه! زما پلار ته مغفرت وکړې.

نو د دواړو ایتونو مضمون داسې را ښېږي چې ابراهیم ﷺ د خپل مشرک پلار دپاره د مغفرت د غوښتلو وعده کړې وه او په خپله وعده باندې يې وفاء وکړه، نو تاسو د دغه جلیل القدر پیغمبر د مغفرت غوښتنه د خپلو خانونو دپاره دلیل مه ګرځوئ چې د خپلو مشرکانو اقاربو دپاره د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړئ.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې په دې مقام کښې سړي ته لاندې دوه پوښتنې ذهن ته ورځي:

الف: یوه دا چې که بالفرض مونږ یوه مشرک خپلوان ته د مغفرت د غوښتلو وعده ورکړو نو ایا مونږ ته جائزه ده چې په خپلې وعدې باندې د ابراهیم ﷺ په څېر وفا وکړو او هغه ته مغفرت وغواړو؟

ب: کله چې د مشرک دپاره د مغفرت غوښتل ګناه ده نو په کار دي چې د مغفرت د غوښتلو وعده ورکول هم ګناه وګڼله شي، نو په کار وه چې ابراهیم ﷺ خپل مشرک پلار ته وعده هم نه وی ورکړې؟

[1] المحرر الوجیز ج۸ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې:
اول: ځينې مفسرين كرام(۱) په ﴿ وَعَدَ ﴾ كښې مستتر ضمير د ابرهيم ﷺ پلار ته راجع ګڼي او د ﴿ إِيَّاهُ ﴾ ضمير پخپله ابرهيم ﷺ ته راجع بولي. نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې:
ابراهيم ﷺ ځکه خپل مشرک پلار ته مغفرت غوښتى وه چې هغه د ايمان د راوړلو وعده ورکړې وه چې زه به ايمان راوړم. نو ابراهيم ﷺ الله ﷻ ته سوال وکړ چې: اى الله! زما پلار (ازر) ته توفيق ورکړې چې په ايمان باندې مشرف شي او پخواني کفريات ورته معاف شي.
مګر مونږ ته دا جواب کمزورى ښکاري ځکه چې د يو پلوه ذکر شوې وعده محض يو احتمال دى، په نصوصو کښې ثبوت نه لري، او د بله پلوه د سړي عقل ته نه لوېږي چې هغه چا به د ايمان د راوړلو وعده ورکړې وي د کوم د خولې څخه چې الله ﷻ حکايت کوي چې: ﴿ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ﴾ [مريم:۴۶] يعنې ابراهيم ﷺ ته خپل پلار (ازر) خطاب وکړ چې که د خپلې غوښتنې (اسلامي دعوت) څخه لاس وانخلې نو ضرور هرو مرو به دې په کاڼو باندې ووژنم (سنګسار به دې کړم).
دوهم: ځينې لا وايي چې د ابراهيم ﷺ ټوله ماجرا به د قيامت په ورځ باندې تحقق ومومي(۲) چې ځينو مفسرينو كرامو پکښې ډېر اوږد بحث کړى دى(۳).
نو د معنى حاصل يې داسې راوځي چې: تاسو د ابراهيم ﷺ په مغفرت غوښتنه باندې استدلال مه نيسئ چې هغه به دا کار په قيامت کښې وکړي او په خپله وعده باندې به وفاء وکړي. اما تاسو ته خو په دنيا کښې توصيه کېږي چې په دنيا کښې د مشرک دپاره مغفرت مه غواړئ.
مګر مونږ ته دا جواب د قبول وړ نه دى، ځکه چې الله ﷻ همدا موضوع په بل ايت کښې داسې نازله کړې ده چې ﴿ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ ﴾ [الممتحنة:۴] يعنې اى مؤمنانو! تاسو ته د ابراهيم ﷺ په کړو وړو کښې ښکه اقتداء ده چې تاسو هم د هغه غوندې چال جلند وکړئ مګر په دغې يوه وينا کښې يې پيروي مه کوئ چې هغه خپل پلار ته ويلي وه چې ضرور او خامخا به زه ستاسو دپاره د الله ﷻ څخه په دنيا کښې مغفرت وغواړم.
که بالفرض ذکرې شوې ټولې ماجرى د آخرت پورې تعلق درلودى نو د اقتداء او عدم اقتداء خبره به بالکل نه وى مطرحه شوې، ځکه چې اقتداء خو په دنيا کښې تحقق موندلى شي او بس.
درېم: اصلي جواب دا دى چې ابراهيم ﷺ خپل پلار ته وعده هم د ځرګندېدلو څخه وړاندې ورکړې وه او په خپله وعده باندې يې هم د ځرګندېدلو څخه وړاندې وفاء وکړه، که بالفرض وړاندې ورته معلومات شوى وى نو نه به يې وعده ورکړې وى او نه به يې په خپله وعده باندې په غير شرعي ډول باندې وفاء کړې وى.
لنډه دا چې د ابراهيم ﷺ د مغفرت غوښتل فقط په عدم معلوماتو باندې ولاړ وه او د وعدې

(۱) التفسير الكبير ج۱۶ ص۲۱۰
(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۳۳۲
(۳) روح المعاني ج۱۱ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکولو پکښې څه اثر نه درلود. نو د ﴿ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ ﴾ کلمې يوازې او يوازې د واقع د بيان دپاره نازلې شوې دي او بس.

د همدې کبله الله ﷻ د ابراهيم د بېزارۍ په بيان کښې فقط په عدم معلوماتو باندې اکتفاء وکړه چې: ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ﴾، او د وعدې ذکر ته يې هيڅ اشاره ونه کړه.

## ابراهيم عليه السلام ته په څه باندې معلومات وشو؟

۶_ ابراهيم عليه السلام ته په لاندې دوه طريقو باندې څرګنده شوه چې پلار يې د الله ﷻ دښمن دی[١]:

الف: يوه دا چې پلار يې د مرګ د ورځې پورې په کفر باندې کلک وه او د کفر په حال باندې مړ شو.

ب: بله دا چې الله ﷻ به ورته وحې کړې وي چې نوموړی ايمان نه راوړي او په کفر باندې مړ کېږي.

همدا دوهمه طريقه د دې جملې سره ښه مناسبه ده چې ﴿ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ ﴾ يعنې کله چې ده ته څرګنده شوه چې نوموړی د الله ﷻ دښمن دی نو ترې بېزار شو، دا ځکه چې عداوت د ژوندیو سره سمون خوري[٢].

## أَوَّاهٌ څه معنی؟

٧_ که څه هم علماوو کرامو د ﴿ لَأَوَّٰهٌ ﴾ د کلمې دپاره ډېرې معناوې کړې دي چې تقريباً پنځلسو ته رسېږي[٣] مګر مونږ ته د دې مقام په اعتبار سره بهتره ښکاري چې دلته يې معنی "مهربان" ده[٤] نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې ابراهيم عليه السلام د دې سره سره چې ډېر زړه سوونکی او مهربان وه مګر کله چې ورته معلومات حاصل شو چې پلار يې په دائمي توګه د الله ﷻ دښمن دی نو خپله بېزاري يې ترې اعلانه کړه، نو تاسو ته هم په کار دي چې د ابراهيم عليه السلام اتباع وکړئ او مشرکانو اقاربو ته د الله ﷻ څخه مغفرت ونه غواړئ.

﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰهُمْ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾ ﴾

[١١٥] او الله ﷻ داسې نه دی چې يو قوم د هغه څخه وروسته ګمراه کړي (د ګمراهانو په شان معامله ورسره وکړي) چې دوی ته هدايت وکړي (او يا د هدايت اسباب ورکړي)، ترڅو چې دوی ته هغه (احکام) واضحه کړي چې (بايد) دوی ترې تقوی وکړي (او د ښو لاندې يې نه کړي).

---

(١) التفسير الكبير ج١٦ ص٢١١

(٢) تفسير ابي السعود ج٤ ص١٠٧

(٣) تفسير القرطبي ج٨ ص٢٧٥؛ لسان العرب ج١٣ ص٣٧٣

(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٦٧٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (جنايت او عدم جنايت ورته ښه معلوم دی).

[١١۶] يقيناً الله ﷻ چې دی خاص ده ﷻ لره د اسمانونو او ځمکو واکداري ده، چې ژوندي کول کوي او (هم) مړه کول کوي (ژوند او مرګ د همده ﷻ په اختيار کښې دی او بس).

او تاسو ته (ای انسانانو) د الله ﷻ څخه په غير نه هيڅ دوست شته او نه هيڅ مددګار.

## ارتباط او مطلب خلاصه

دا ايتونه د وړاندېنيو ايتونو سره په لاندې دوه طريقو باندې ارتباط درلودلی شي:

١ــ يوه دا چې په دې ايتونو باندې د وړاندېنيو ايتونو مضمون بشپړ شوی دی[١]. نو د معنی حاصل يې داسې را څېرژي چې:

الله ﷻ په کفارو باندې څکه دومره زيات په غضب دی حتی چې مؤمنانو ته يې د دوی په باره کښې د مغفرت غوښتلو اجازه هم ورنه کړه چې الله ﷻ دوی ته د هدايت او لار موندلو وسائل ښه پرېمانه وراستولي او ورکړې وه، لکه:

الف: وخت په وخت يې خپل پيغمبران عليهم السلام وراستولي وه چې دوی ته ښودانه وکړي.

ب: کتابونه يې ورنازل کړي وه چې شريعتونه ورته واضحه کړي.

ج: عقلونه يې ورکړي وه چې خپل خير او شر ورباندې وپېژني.

د: او بالآخره په ټوله دنيا کښې، حتی د دوی په خپلو نفسونو کښې يې د خپل قدرت دلايل ورڅرګند کړي وه چې عبرت ترې واخلي او د الله ﷻ په وحدانيت باندې عقيده وکړي.

مګر د هدايت د اسبابو څخه دوی هيڅ کار وانخست او د جناياتو څخه يې اجتناب ونه کړ.

او الله ﷻ خو په هرڅه باندې پوه دي، په دې باندې پوهېږي چې کفار د همدغه شديد عذاب او سخت غضب لياقت لري.

٢ــ بله دا چې په دې ايتونو کښې د صحابه وو کرامو ﷺ هغه اشتباه پورته شوې ده کومه چې دوی ته د وړاندېنيو ايتونو څخه ذهن ته ورتله[٢]، هغه دا چې: ايا مونږ به د مشرکانو دپاره په هغې مغفرت غوښتنه باندې نيولی کېږو کومه چې مونږ د ذکر شوي ارشاد د نزول څخه وړاندې کړي وه؟ ايا زمونږ هغه مسلمانان وروڼه به مشرکانو ته په مغفرت غوښتلو باندې معذبېږي کوم چې د ذکر شوي ارشاد د نزول څخه وړاندې وفات شوي دي او د توبې فرصت يې د لاسه ورکړي دي؟

نو په دې تقدير يې د معنی حاصل داسې راوځي چې:

الله ﷻ داسې نه دی چې يو قوم ته هدايت وکړي او په ايمان باندې يې مشرف کړي او بيا يې د ګمراهانو په قطار کښې ودروي او د عذاب مستحق يې وبولي، ترڅو چې دوی ته خپل شريعت بيان کړي چې دا کوئ او دا مه کوئ.

---

(١) البحر المحيط ج۵ ص۵١۶؛ تفسير القاسمي ج٨ ص٣۴٣

(٢) روح المعاني ج١١ ص٣٩؛ تفسير البغوي ج٢ ص٣٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که د دغه بیان څخه وروسته په شرعي احکامو باندې عمل ونه کړي نو بیا یې د ګمراهانو په ډله کښې شمېري.

هو! الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی او ګمراهان هم ښه پوره پېژني چې دا د مغفرت لیاقت لري او دا یې نه لري. برسېره په دې د الله ﷻ قدرت هم کامل دی ځکه چې وغوارې همغسې کولی شي. دا ځکه چې د اسمانونو او ځمکو واکداري په همده ﷻ پورې اختصاص لري او هم ژوندي کول او مړه کول د همده ﷻ په قدرت کښې دي.

لنډه دا چې ای انسانانو! تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست شته چې د اجازې څخه په غیر مو په شفاعت خلاص کړي، او نه مددګار لرئ چې د الله ﷻ د نیونې څخه مو په زور او قوت سره بچ کړي. نو تاسو ته په کار دي چې یوازې او یوازې په همده ﷻ باندې خپلې عقیدې کلکې کړئ او په هدایاتو پورې یې کلک ونښلئ.

﴿لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُوا۟ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓا۟ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾﴾

[۱۱۷] یقینًا الله ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې په رحمت سره رجوع وکړه (درجې یې وته لوړې کړې) او په هغو مهاجرینو او انصارو باندې یې هم (په رحمت سره رجوع وکړه) کومو چې په سخت سات (وخت) کښې د ده ﷺ اتباع (پیروي) وکړه (او توفیق یې ورکړ).

(نو خپلې اتباع ته یې) د هغه څخه وروسته (هم ادامه ورکړه) چې نژدې وه چې د دوی څخه د یوې ډلې زړونه (د اتباع څخه) کاږه شوي وی. بیا هم الله ﷻ په دوی باندې په رحمت سره رجوع وکړه (او زړونه یې د اتباع څخه کاږه نه شوه).

یقینًا الله ﷻ په دوی باندې نرمي کوونکی (او) مهربان دی.

[۱۱۸] او په هغو درې کسانو باندې هم (الله ﷻ په رحمت سره رجوع وکړه) کوم چې (د توبې د حیثه) وروسته کړی شوې وه (نو د مشکلاتو د زغم توان او توفیق یې ورکړ).

آن تردې چې په دوی باندې ځمکه د پراخۍ سره-سره تنګه شوې وه، او (هم) په دوی باندې خپل خانونه تنګ شوي وه (خپلو ځانونو پورې په تنګ وه) او یقین یې درلود چې د الله ﷻ څخه په غیر بل هیڅ د پنا نیولو ځای نشته مګر همده ﷻ ته. بیا الله ﷻ په دوی باندې په رحمت سره رجوع وکړه (او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ددوی توبه يې د دې پاره قبوله کړه) چې دوی په دوامداره توګه الله ﷻ ته توبه تائب جوړ شي.
يقيناً الله ﷻ همدی ﷻ توبه قبلوونکی (او) مهربان دی.
[۱۱۹] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی د الله ﷻ څخه وډار شئ او د صادقانو سره (ملګري) شئ (خپل خانونه د همدې ډلې غړي جوړ کړئ).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې تاسو د الله ﷻ څخه پرته نه دوست لرئ او نه مددګار.
په دې ایتونو کښې د الله ﷻ د دوستۍ او نصرت څو بېلګې ښودلې شوي دي.
۲ـ هلته د مشرکانو څخه د دائمي بېزارۍ مسئله مطرحه شوې وه او دلته د درې نفرو ګناهکارانو موقتي بېزارۍ ته اشاره شوې ده، چې صرف پنځوس (۵۰) ورځې یې دوام وکړ.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای مؤمنانو! د الله ﷻ د دوستۍ او نصرت لاندې څو مثالونه ولولئ چې تازه ستاسو د وړاندې تېر شوي دي، هغه دا چې:
۱ـ الله ﷻ په خپل پیغمبر باندې په رحمت سره رجوع وکړه او درجې یې ورته د دې کبله لوړې کړې چې د ډېرې تنګسۍ په حالت کښې یې د غزا اعلان وکړ او پخپله یې هم پکښې اشتراک وکړ.
۲ـ الله ﷻ په مهاجرینو او انصارو باندې هم خپله پراخه رحمت ورنازل کړ، چې په هجرت او انصاریت باندې علاوه د دې توفیق یې هم ورکړ چې په همدغه سخت وخت او سخت حالت کښې یې د خپل پیغمبر ﷺ اتباع او پیروي وکړه او د تبوک د سختې غزا په لور روان شوه. که د الله ﷻ فضل او مهرباني نه وی نو دوی به هم د منافقانو غوندې څه دروغژنې پلمې وړاندې کړې وی او غزا ته به نه وی وتلي.
۳ـ په دې باندې علاوه، د سفر په اوږدو کښې هم الله ﷻ په ذکرو شوو دواړو ډلو باندې د رحمت باران ووراوه او حوصلې یې ورته قوي کړې، که نه نو په دوی کښې د یوې ډلې زړونه نژدې وه چې د خپل پیغمبر ﷺ د اتباع څخه منحرف شوي وی او د لارې د منځ څخه بېرته ستانه شوي وی؛ دا ځکه چې په دغه سفر کښې د هر حیثه سختي ډېره زیاته وه، خو الله ﷻ ورباندې په رحمت سره رجوع وکړه او د همدغه سخت سفر د ادامې توان یې ورکړ.
يقيناً الله ﷻ په دوی باندې ډېر نرمي کوونکی او ډېر مهربان دی.
۴ـ خصوصاً الله ﷻ په هغو درې نفرو باندې هم خپل رحم نازل کړ او د دوی توبه یې قبوله کړه د کومو چې د توبې قبول وروسته کړی شوی وه.
۵ـ دغو درې نفرو ته یې د عزلت (یوازېتوب) او انزوا د زغملو توان ورکړ چې ټولو خلکو (خپلو او پردیو) ورسره د ناستې پاستې او را کړې ورکړې څخه د پنځوسو ورځو په اوږدو کښې متارکه وکړه.
په دغې موده کښې دوی د لوی مشکل سره مخامخ شوه او پراخه ځمکه ورباندې ورتنګه شوه،

Scanned by CamScanner

تا به ویل چې دوی په ډېره کوچنۍ بندیخانه کښې ایسار دي. که د الله ﷻ توفیق د دوی سره نه وی نو دوی به د ذکر شوي مشکل تحمل نه وی کړی، ضرور به یې یا په زړونو کښې څه شک او شبهه پیدا شوې وی او یا به یې د دین دښمنانو ته پنا وړې وی او کفري دولت ته به تللي وی.

مګر د الله ﷻ په مهربانۍ سره نه د دوی په عقیدو کښې څه انحراف صورت ونیوه او نه یې په کړو وړو کښې څه غیر شرعي حرکت ولید شو. بلکې د دوی باور او پخه عقیده وه چې د الله ﷻ څخه د تښتېدلو بل ځای نشته بې د همده ﷻ څخه.

نو الله ﷻ په دوی باندې د بې مثاله بندیخانې د توان د ورکولو څخه وروسته بیا په رحمت رجوع وکړه او د تخلف د ګناه څخه ورتېر شو (توبه یې ورته قبوله کړه).

او دا څکه چې یوازې او یوازې الله ﷻ توبه قبلوونکی او مهربان دی؛ نه بل څوک توبه قبلولی شي او نه بل څوک دغسې بې ساري مهرباني کولی شي.

۶_ ای مؤمنانو! الله ﷻ کولی شو چې د ذکرو شوو درې کسانو توبې یې په اول وخت کښې قبولې کړې وې او تر پنځوسو ورځو پورې یې نه وې ټال کړې، خو دا کار یې د دې کبله ونه کړ چې:

الف: ترڅو د یو پلوه ستاسو درجې لوړې شي چې په همدغې اوږدې موده کښې مو د هغوی سره په صداقت متارکه وکړه او په پټه او ښکاره مو د خپل پیغمبر ﷺ توصیه عملي کړه. که نه نو تاسو خو کولی شو چې پټ ارتباط مو ورسره نه وی پرې کړی.

ب: ترڅو د دغو درې کسانو درجې اوچتې کړی شي چې د تبوک د غازیانو غوندې څه ناڅه مشکلات وګالي او اجرونه وګټي.

ج: بالآخره ترڅو تاسو پوه شئ چې په صداقت کښې خلاصون او نجات دی که څه هم څو ورځې وروسته وي. نو تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د همېشه دپاره د صادقانو په ټولګي کښې خپل ځانونه شمېر کړئ.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې کله د توبې نسبت الله ﷻ ته وشي نو هلته د توبې قبول مطلب وي[1] نو په همدې بنیاد د ﴿ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ﴾ معنی داسې راځېږي چې الله ﷻ د پیغمبر ﷺ توبه قبوله کړه. حال دا چې پیغمبر ﷺ خو د ګناه څخه معصوم وه؟

مونږ وایو چې:

الف: د نبي کریم ﷺ په هکله د خلاف الاولی (نه بهتر) کار څخه داسې تعبیر شوی دی لکه چې د نورو خلکو د ګناه څخه تعبیر کېږي، د دې شرحه د [البقرة:۳۷]ایت لاندې تېره شوې ده. اما په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ خلاف الاولی کار دا وه چې منافقانو ته یې د تبوک د غزا څخه د پاتې کېدلو اجازه ورکړې وه، لکه چې [التوبة:۴۳] ایت ورته اشاره کړې ده.

---

[1] مفردات الراغب ص۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځينې علماء کرام وايي[۱] چې کله الله ﷻ ته د توبې نسبت وکړی شي نو معنی یې داسې کېږي چې: الله ﷻ متوب علیه (هغه څوک چې په هغه باندې توبه واقع شوې وي) د یوه حالت څخه وړپورته بهتر حالت ته لوړ کړ. نو په همدې بنیاد د ﴿ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ﴾ معنی داسې راځېږي چې الله ﷻ د خپل پيغمبر ﷺ درجې لوړې کړي او د مشقاتو ګاللو اجرونه یې ورکړه.

اما مهاجرينو او انصارو ته یې بهتر حالت ته ترقي ورکړه چې ګناهونه او تقصيرات یې وروبښل.

ج: ځينې وايي چې د توبې په بيان کښې د نبي کريم ﷺ ذکر د صحابه وو کرامو ﷺ د خوشالولو دپاره شوی دی او بالذات مقصود نه دی څو اعتراض وارد شي[۲].

## د سَاعَة او عُسْرَة معناوې

۲ـ مونږ ـ د الله ﷻ په توفیقـ د [الأنعام:۳۱] ایت لاندې لیکلي دي چې د ﴿ سَاعَةِ ﴾ کلمه د زمانې یوې برخې ته وص... شوې ده، او د "عُسْرَة" معنی خو واضحه ده چې سختي ده او په مقابل کښې یې "يُسْر" استعمالېږي چې د اسانۍ معنی ورکوي. نو ﴿ سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ ﴾ کلمه په لاندې دوه دولونو باندې تفسېره شوې ده:

الف: ځينې وايي چې د ﴿ سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ ﴾ څخه د هرې سختۍ وخت مطلب دی[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې صحابه کرامو ﷺ په هر سخت وخت کښې د نبي کريم ﷺ پيروي کړې ده لکه د خندق، حنين او تبوک په غزاګانو او نورو مشکلو وختونو کښې.

ب: ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې صرف د تبوک د غزا د سخت وخت څخه عبارت ده چې د پيل څخه آن تر پايه پورې ټولې اوږدې مودې ته شامله ده[۴].

مونږ وايو: که څه هم لومړنی تفسير عام دی او د عموم په لحاظ سره غوره ښکاري مګر د دې کېله دوهم تفسير بهتر برېښي چې د يو پلوه په همدې غزا کښې بحث روان دی او د بله پلوه د تبوک غزا په "عُسْرَة" سره مشهوره ده، ته به وايې چې دا کلمه د همدې دپاره نوم ګرځېدلې ده.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَلَهُ الْجَنَّةُ»[۵] يعنې هر چا چې عسرة (د تبوک د غزا) لښکر مجهز کړ (لکه عثمان ﷺ) نو ده لره جنت دی.

## د تبوک په غزا کښې مشکلات ډېر وه

۳ـ د تبوک په غزا کښې د لاندې وجوهو د کېله مشکلات زيات وه[۶]:

---

(۱) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۹۲؛ البحر المحیط ج۵ ص۵۱۶

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۶ ص۲۱۴، روح المعاني ج۱۱ ص۳۹

(۳) المحرر الوجیز ج۸ ص۲۹۳

(۴) تفسیر القاسمي ج۸ ص۳۴۶

(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۳۸۹

(۶) تفسیر الطبري ج۱۱ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ډېره سخته ګرمي وه او د اوړي د ګرمۍ جوش وه.
ب: څاروي لږ وه، حتی چې پر یوه اوښ باندې به لس تنه مجاهدین په نوبت سره سوربېدل.
ج: څوري (خوراکي شیان) کمبود وه آن تر دې چې یوه کجوره به دوه تنو مجاهدینو ته ورکول کېدله چې په خپل منځکښې یې نیمه کړي. څه وخت وروسته داسې حال هم ورباندې ورغلی وه چې یوه کجوره هم ختمه شوه.
د: اوبه تر دې اندازې لږې وې چې یوه سړي به قصد وکړ چې خپل اوښ نحر (حلال) کړي او لیرشن یې وزبېښي او بیا یې وڅښې، او داسې نور.

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وایي چې الله ﷻ د درېوو پاتې شوو کسانو په باره کښې دوه ایتونه نازل کړي دي چې یو همدغه دی چې بحث پکښې روان دی او بل د [التوبة:۱۰۶] ایت دی. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په اساس یو د بل په څنګ کښې کېښنبودل شو؟

مونږ وایو: د هغه ایت مضمون دا دی چې د درېواړو توبه وروسته کړی شوې ده، او د دې ایت مضمون دا دی چې توبه یې قبوله شوه. نو که دواړه یو تربله سره متصل ایښودلی شوي وی نو د بندیخانې حالت ته به هیڅ اشاره نه وی شوې او چا به ګومان کړی وی چې دواړه به په یوه زمانه کښې نازل شوي وي، حال دا چې دا د هغه څخه پنځوس ورځې وروسته نازل شوی دی.

## د عجیبې بندیخانې قیصه

۵_ د هغو درې کسانو څخه چې د توبې قبول یې وروسته کړی شوی وه، یو کس (کعب بن مالک ؓ) خپله قیصه په ښه اوږده تفصیل سره بیانه کړې ده چې مونږ یې دلته صرف د لاندې څو مهمو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو[1]:
الف: تبوک غزا ته د تجهیزاتو په وخت کښې زه د بل هر وخت څخه وسي وم، حتی چې د یوه بارګېر (څاروي) په ځای مې دوه څاروي (بارګېر) درلوده.
ب: نبي کریم ﷺ په کنایي توګه نه بلکې په صافو الفاظو کښې غزا ته عام نفیر اعلان کړ او هر څوک په مطلب پوه شو.
ج: زما زړه وه چې په نن سبا کښې به په غازیانو پسې ور ورسېږم او په غزا کښې به اشتراک وکړم، (کاشکې چې اشتراک مې پکښې کړی وی) خو نصیب مې نه وه او پاتې شوم.
د: زه به دې خبرې ډېر خپه کولم چې په مدینه منوره کښې به مې یا زنانه او ماشومان لیده او یا به مې په هغو خلکو باندې سترګې لګېدې چې په منافقت به متهم وه، او یا په معذورانو باندې.
هـ: کله چې د نبي کریم ﷺ د بېرته راستنېدلو وخت را نژدې شو نو په همدې فکر کښې ولوېدلم چې څه بهانه وکړم او خپل ځان ته د نبي کریم ﷺ رضایت حاصل کړم.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۳۴، ۶۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: بالآخره د ډېرو چرتونو څخه وروسته مې دا هوډ وکړ چې د رښتیاوو څخه پرته به بل څه نه وایم.

ز: نبي کريم ﷺ چې مدينې منورې ته راورسېد نو په جومات کښې د دوه رکعته لمانځه څخه وروسته کېناست او د غزا څخه پاتې شوي کسان ډلې-ډلې ورتله او خپل معذرتونه يې وروړاندې کول.

ح: نبي کريم ﷺ به د دوی ظاهري معذرتونه منل او باطن به يې د دوی الله ﷻ ته سپاره.

ط: زه هم د نبي کريم ﷺ په حضور کښې کېناستم او لاندې خبرې مې وکړې:

اول: که نن ورځ زه د کوم دنياوي پاچا په وړاندې ناست وی نو ما به خپل ځان پوره بې ګناه ثابت کړی وي. ځکه چې الله ﷻ ماته ښه قوي منطق راکړی دی.

دوهم: نو يا رسول الله! که زه ستا په حضور کښې دروغجنې بهانې وړاندې کړم نو تا به راضي کړم مګر الله ﷻ به زما په دروغو باندې تا خبر کړي او ېېرته به را څخه خپه شې.

درېم: او که رښتيا ووايم نو سمدستي خو به را څخه خپه شې مګر الله ﷻ ته اميد لرم چې عفوه راته وکړي او ته را څخه ېېرته خوشاله او راضي شې.

څلورم: ای د الله رسوله! ما هيڅ معذرت نه درلود او پرته د معذرته د غزا څخه پاتې شوی يم.

ي: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې دغه سړي رښتيا وويلې، او بيا يې زه مخاطب کړم چې ځه نو د الله ﷻ فيصلې ته منتظر اوسه.

يا: دوستانو ډېر وهڅولم چې نبي کريم ﷺ ته ېېرته ورستون شم او خپلې پخوانۍ خبرې رد کړم او دروغجنې بهانې ورته وړاندې کړم.

يب: خو د ښکه مرغه ما پوښتنه وکړه چې زما غوندې رښتيا بل چا هم ويلي دي او که دا يوازې ما رښتيا وويلې؟

يج: نو چا خبر راکړ چې ستا غوندې رښتيا دوه نورو کسانو هم ويلي دي، چې مراره بن الربيع ؓ او بل هلال بن اميه ؓ دی.

يد: کله چې دغه دوه کسان صالح خلک وه او د بدر د غازيانو څخه وه نو په خپله خبره کلک شوم او نبي کريم ﷺ ته د دروغو دپاره ېېرته ورستون نه شوم.

يه: نبي کريم ﷺ زمونږ درېواړو په هکله ټولو مسلمانانو ته امر وکړ چې هيڅوک به ورسره خبرې اترې او ناسته ولاړه نه کوي.

يو: مسلمانانو همدا فرمان عملي کړ، چې په نتيجه کښې په مونږ باندې پراخه ځمکه زندان وګرځېده.

يز: زه د نورو دواړو ملګرو څخه ځه ځوان او تکړه وم، جومات ته به هم تلم او په بازار کښې به هم ګرځېدم راګرځېدم، مګر هيچا به را سره خبرې نکولې (لکه چې هيڅوک مې نه پېژني).

## په امتحان کښې بل امتحان

يح: يوه ورځې په بازار کښې ګرځېدلم چې د يوه تاجر په لاس د "غسان" د پاچا د پلوه يو ليک

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راکړی شو او داسې يې ليکلي وه چې:

اول: مونږ خبر شوي یاستو چې په تا باندې خپل انډیوال (نبي کريم ﷺ) جفا کړې ده او ټوله ځمکه يې درباندې زندان ګرځولې ده.

دوهم: ته خو په مونږ باندې سپک نه يې، مونږ ته راشه چې خواخوږي درسره وکړو.

یط: ما چې کله ذکر شوی ليک ولوست نو پوه شوم چې دا د الله ﷻ د پلوه په ما باندې يو بل امتحان دی چې ورسره مخ شوم، نو هغه کاغذ مې اور ته ورواچاوه!.

ک: کله چې د پنځوسو ورځو د جملې ځخه څلويښت ورځې تېرې شوې نو د نبي کريم ﷺ د پلوه بل فرمان راورسېد چې د خپلې مېرمنې ځخه هم جدا شم.

کا: ما پوښتنه وکړه چې ايا خپلې مېرمنې ته طلاق ورکړم که څنګه؟

کب: جواب راکړی شو چې طلاق مه ورکوه خو ګډ هم و... مه اوسېږه (جنسي ارتباط ورسره مه نيسه).

کج: نو خپله مېرمنه مې د پلار کورته واستوله چې ترهغه ...راځه چې ترڅو الله ﷻ فيصله وکړي.

کد: پنځوس ورځې پوره شوې، د سهار لمونځ مې وکړ او په خپل کور کښې د بام په سر ناست وم چې يو اواز مې غوږ ته راورسېد چې کعبه! زيری مې درباندې.

که: زه پوه شوم چې توبه مې قبوله شوه، نو خپل رب ﷻ ته په سجده باندې پرېوتلم.

کو: خپلې جامې مې وويستلې او زيري راکوونکي ته مې په زيري کښې ورکړې، ځکه چې ما په عين وخت کښې د جامو ځخه پرته نور څه په لاس کښې نه درلوده.

کز: د بل چا سوالي جامې مې واغوستلې او د نبي کريم ﷺ حضور ته درروان شوم.

کح: په لاره کښې ډلې-ډلې خلک مخې ته راتله او مبارکي ګانې يې راکولې چې د توبې قبول دې مبارک شه....

کط: جومات ته چې ورننوتلم نبي کريم ﷺ ناست وه او صحابه کرام ﷺ ترې راچاپېر وه....

ل: د طلحه بن عبيدالله ﷺ به مې دا کار هېر نه شي چې مخې ته يې رامنډه کړه او دواړه لاسونه يې راکړه، او هم يې راته "مبارک دې شه" کلمات وويل.

لا: بيا مې په نبي کريم ﷺ باندې سلام واچاوه چې مبارک اوچولي يې د خوشالۍ ځخه پرق واهه.

لب: د "وعليکم السلام" ځخه وروسته يې راته وويلې چې د توبې قبول دې مبارک شه! ته چې د مور ځخه زيږېدلی يې داسې ورځ به درباندې نه وي درغلې لکه چې نن درباندې درغلې ده.

لج: ما عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ستا د پلوه که د الله ﷻ د پلوه؟

لد: نبي کريم ﷺ جواب راکړ چې: (زما د پلوه نه بلکې) د الله ﷻ د پلوه.

له: بيا مې عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! زما د توبې د قبول دپاره دا هم يوه برخه وګرځوه چې زما ټول مال د الله ﷻ په لاره کښې صدقه (خيرات) کړه.

لو: نبي کريم ﷺ جواب راکړ چې: څه مال درسره پرېږده چې دا درته ښه دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مې بس ده.
لز: ما وويلې چې ای د الله رسوله! د خيبر د غنيمت برخه مې وساتله همدا
لح: بيا مې د نبي كريم ﷺ په حضور کښې عهد وکړ چې: ماته الله ﷻ په رښتياوو کښې نجات راکړ نو زما دې دا وعده وي چې هيڅکله به دروغ ونه وايم.
لط: الله ﷻ ته اميد لرم چې په همدې عهد باندې مې د مرګ د ورځې پورې کلک وساتي.

## د دوه وو کارونو څخه ډېر داربدلم

لي: زه په خپله پنځوس ورځنی بنديخانه کښې د دوه وو کارونو څخه زښت زيات ډارېدلم، هغه دا چې:
اول: (الله ﷻ دې نه کړي) که نبي كريم ﷺ په همدې حال کښې وفات شي نو د مرګ تر ورځې پورې به راسره څوک خبرې اترې نه کوي او په عمري بند به محکوم شم.
دوهم: که زه مړ شم نو نبي کريم ﷺ به راباندې د جنازې لمونځ اداء نه کړي او د دغه لوی نعمت څخه به محروم شم.

## صادقين يعنې څوک؟

۶ـ علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ٱلصَّـٰدِقِينَ﴾ د کلمې دپاره متعدد تفسيرونه کړي دي چې ټول تقريبًا پنځو شپږو ته رسېږي[۱]، لاندې مثالونه يې ولولئ:
الف: "صادقين" يعنې نبي كريم ﷺ او د ده ﷺ صحابه كرام ﷺ.
ب: ذکر شوي درې کسان چې د پنځوسو ورځو څخه وروسته الله ﷻ د بنديخانې څخه نجات ورکړ. او داسې نور.
مګر بهتره دا ده چې ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي، نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې ای مؤمنانو! د الله ﷻ څخه وډار شئ او د صادقانو انډيوالي مه پرېږدئ، په هرځای او هره زمانه کښې د رښتياوو پلوي وکړئ او په حق باندې کلک ودرېږئ، لکه څنګه چې ذکر شوي درې کسان په حق باندې ودرېده او په قرآن کريم کښې د ﴿ٱلثَّلَٰثَةِ﴾ په کلمې باندې ياد شوه چې د قيامت د ورځې پورې به يې مؤمنان په لمونځونو کښې قرائت کوي.

## رښتيا او دروغ (صدق او کذب)

۷ـ د رښتيا او دروغو په هکله د نبي كريم ﷺ څخه زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې مونږ يې دلته فقط د يو يو مثال په ذکر باندې اکتفاء کوو:
الف: د دې امت د هغو درې کسانو قيصې ته خو په قرآن کريم کښې اشاره شوې ده کومو ته چې الله ﷻ د رښتياوو په سبب نجات ورکړ، مګر د پخوانيو امتونو د هغو درې کسانو قيصه نبي كريم ﷺ

(۱) زاد المسير ج۳ ص۳۴۹؛ روح المعاني ج۱۱ ص۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په يوه اوږده حديث کښې بيانه کړې ده کومو ته چې الله ﷻ په رښتيا ويناوو باندې نجات ورکړی وه. هغه دا چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې درې کسان د باران څخه وتښتېده او په يوه غار کښې يې پنا واخسته، خو په دوی باندې غر ورکښناست او د غار خوله يې تېږه بنده کړه. نو يو ترېله يې سره وويلې چې: «لا يُنْجِيكُمْ إلاَّ الصِّدْقُ فَلْيَدْعُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْكُمْ بِمَا يَعْلَمُ أَنَّهُ قَدْ صَدَقَ فِيهِ»[١] يعنې تاسو ته به نجات درنه کړي مګر رښتيا، نو ستاسو هر سړی دې (الله ﷻ ته) په خپل هغه عمل باندې سوال وکړي کوم چې دی پوهېږي چې په هغه کښې يې صداقت کړی دی (او الله ﷻ ته دې واسطه کړي).

نو دغو درېواړو کسانو هر يوه د خپل خپل صداقت يو-يو عمل الله ﷻ ته واسطه کړ چې د همغه په برکت باندې د غار خوله خلاصه شوه او دوی نجات مونده کړ.

که څوک غواړي چې مفصله قيصه يې ولولي نو هملته دې مراجعه وکړي.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي: «كُلُّ الْكَذِبِ يُكْتَبُ عَلَى ابْنِ آدَمَ إِلَّا ثَلاثَ خِصَالٍ رَجُلٌ كَذَبَ عَلَى امْرَأَتِهِ لِيُرْضِيَهَا أَوْ رَجُلٌ كَذَبَ فِي خَدِيعَةِ حَرْبٍ أَوْ رَجُلٌ كَذَبَ بَيْنَ امْرَأَيْنِ مُسْلِمَيْنِ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمَا»[٢] يعنې هر دروغ په بنيادم باندې ليکل کېږي او د ګناه پېټی ورته ترې جوړېږي، مګر نه د درېوو خاصيتونو خاوندانو ته: يو هغه سړی چې خپلې مېرمنې ته دروغ جوړ کړي ترڅو يې خوشاله کړي. بل هغه سړی چې د جنګ په ترتيبولو کښې دروغ ووايي. درېم هغه څوک چې د دوه وو مسلمانانو سرېو ترمنځ د دې دپاره دروغ جوړ کړي ترڅو دوی دواړه سره روغ جوړ شي او شخړه يې د منځه ووځي.

## اهل التشيع څه وايي؟

٨ـ اهل التشيع وايي چې د ﴿ٱلصَّـٰدِقِينَ﴾ د کلمې څخه د ټولو زمانو معصومان مراد دي چې په هره زمانه کښې يو يو کس موجوديت لري[٣] او ټول د همدوی د مسلک پيروان دي.

نو د معنی حاصل يې داسې اخلي چې ای مؤمنانو! د الله ﷻ څخه وډار شئ او د معصوم لمن ونيسئ او ملګري يې وکړئ.

مونږ (أهل السنة والجماعة) معصوم هغه چاته وايو چې د ګناه کولو صلاحيت لري خو په هيڅ وخت کښې نه د ګناه مرتکب شوی وي او نه مرتکب کېږي. دا مفهوم د پيغمبرانو عليهم السلام څخه پرته په بل هيچا باندې حتی په پرښتو باندې هم صدق نه شي موندلی، ځکه چې په پرښتو کښې د ګناه کولو صلاحيت (استعداد) نشته.

اما اهل التشيع وايي چې کله د يوې زمانې معصوم وفات شي نو د هغه په ځای باندې يو بل کس

(١) صحيح البخاري ج١ ص٤٩٣
(٢) مسند احمد بن حنبل ج١٠ ص٤٣٥
(٣) تفسير نمونه تاليف اهل التشيع ج٨ ص١٨١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د معصوم په صفت ودرېږي او نائب يې جوړېږي، د نيابت څخه وراندې چې معصوم نه وه او گناهونه يې کړي دي څه باک يې نشته مگر د نيابت څخه وروسته د ده څخه څه گناه نه شي صادرېدلی او د ټولو گناهونو څخه معصوم دی. فاعتبروا ياأولي الأبصار.

﴿ مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُواْ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ ﴾

[۱۲۰] نه د مدينې منورې اهل (خلکو) ته مناسبه ده او نه هغه چاته مناسبه (جائزه) ده کوم چې د هغوی په چاپېريال کښې دي چې د باندېچيانو څخه عبارت دي (دا خبره) چې دوی د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ څخه وروسته پاتې شي (جهاد ته لاړ نه شي)، او (همدارنگه دا هم ورته مناسبه او جائزه نه ده) چې د خپلو ځانونو (حفاظت) ته رغبت (ميل) وکړي (په داسې حال کښې چې دوی) د نبي کريم ﷺ د (مبارک) ځان څخه (په حفاظت کښې) تېرېدونکي وي (د هغه خيال ونه ساتي).

دغه (ورته) ځکه (مناسبه او جائزه نه ده) چې يقيناً دوی ته نه تنده رسېږي او نه ستوماني او هم نه د الله ﷻ په لاره کښې لوږه او (همدارنگه) دوی په داسې ځای باندې قدم نه ږدي په کوم ځای باندې چې د قدم ايښودل کفار په غُصه کوي او نه د دښمن (کفارو) څخه څه شی تر لاسه کوي مگر (دغو ټولو صورتونو څخه) په هر يو صورت باندې د دوی دپاره صالح عمل (نيکي) ليکله کېږي. يقيناً الله ﷻ د نيکو کارانو اجر نه ضائع کوي.

[۱۲۱] او (همدارنگه) دوی (د الله ﷻ په لاره کښې) نه وړه نفقه کوي او نه غټه او (نه کومه يوه) بيديا (ډاک) قطعه کوي مگر د دوی دپاره ليکل کېږي (چې اجرونه پرې ورکړی شي).

(دا ټول) د دې دپاره چې الله ﷻ دغو (ذکرو شوو غازيانو) ته د هغو ښائسته عملونو (پوره) جزا ورکړي کوم چې دوی لگيا دي کوي يې.

## ارتباط

۱ـ وراندې ايتونه په دې تمام شوي وه چې د صادقينو ملگري شئ، او په دې ايتونو کښې د صادقينو يو مثال ښودلی شوی دی چې په مخلوقاتو کښې اصدق الصادقين (نبي کريم ﷺ) دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ هلته د جهاد په هکله د ترهیب بیان تېر شو، او دلته په همدې باره کښې د ترغیب بیان راروان دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د جهاد څخه د بېرته پاتې کېدلو د ترهیب د بیان څخه وروسته اوس په خپل امت باندې جهاد ته د تللو لاندې ترغیبات قرائت کړه چې:

۱_ نه د مدینې منورې خلکو ته جائزه ده او نه بانډچیانو ته، چې د مدینې منورې په چارچاپېره کښې اوسېږي، دا خبره چې نبي کریم ﷺ غزا ته لاړ شي او دوی په خپلو کورونو کښې پاتې شي دوی ته په کار دي چې د نبي کریم ﷺ سره سم د سفر مشکلات او هم د غزا سختۍ وګالي.

۲_ همدارنګه ورته دا هم مناسبه او جائزه نه ده چې د خپلو ځانونو ارامي او هوسايي په نظر کښې ونیسي او د نبي کریم ﷺ د مبارک ځان ارامي هېره کړي. او یا په بل عبارت: دوی ته په کار دي چې خپل ځانونه د نبي کریم ﷺ د مبارک ځان څخه قرباني کړي او د خپلې ارامۍ څخه د هغه ﷺ ارامۍ ته زیاته توجه وکړي. او دا ځکه چې:

الف: مسلمانانو ته که د الله ﷻ په لاره کښې تنده ورسېږي هم الله ﷻ اجر ورکوي.

ب: که د هر ډول ستومانيو او مشکلاتو سره مخامخ شي نو د الله ﷻ په لاره کښې بې عوضه نه پاتې کېږي.

ج: همدارنګه په في سبیل الله لوږه باندې هم الله ﷻ اجرونه ورکوي.

د: حتی مسلمانانو ته په هغو ځایونو باندې د قدمونو اېښودلو اجرونه هم شته په کومو باندې چې کفار په غُصه کېږي او خپه کېږي. یا په بل عبارت: غزا ته د حرکت په غرض د اجرونو ورکول د هغه قدم څخه پیل کېږي کوم چې لومړی ځل په ځمکه باندې کېښودلی شي آن تر هغه قدمه پورې په کوم باندې چې د غزا سفر اختتام مونده کړي.

ه: الله ﷻ غازیانو ته د هغو شیانو په لاس ته وروړلو باندې هم صالح عمل لیکي کوم چې دوی یې د خپلو دښمنانو (کفارو) څخه ترلاسه کوي، لکه وسله، مرمۍ او یا نور خوراکي یا پوښاکي شیان.

لنډه دا چې د غنیمتونو په ترلاسه کولو باندې د یوه پلوه غازیانو ته اجرونه ورکولی کېږي او د بله پلوه دوی ته حلال مالونه روزي کېږي. دا ځکه چې الله ﷻ د نیکو کارانو اجرونه نه ضائع کوي.

و: په دې باندې علاوه، د الله ﷻ په لاره کښې نه د غازیانو د لږ مال مصرف بدون د اجر څخه پاتې کېږي او نه یې د ډېر مال، بلکې دواړه ډوله نفقه د الله ﷻ په نزد مقبوله ده او دوی ته په اعمال نامو کښې لیکله کېږي.

ز: همدارنګه د الله ﷻ د لارې غازیان چې د الله ﷻ د رضا دپاره په هره لوړه ژوره او په هره کنده او ډاګ کښې مزل کوي او خپل ځانونه ستومانه کوي هیڅ شی یې بې اجره نه پاتې کېږي، بلکې دا ټول د دې دپاره د دوی په اعمال نامو کښې ثبت کېږي چې الله ﷻ دوی ته د خپلو اعمالو ډېره نېکه بدله او اجرونه ورکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ځرنګه چې د غازيانو هيڅ حرکت او هيڅ کار او کيفيت بې اجره نه دی نو مسلمانانو ته مناسبه نه ده چې د نبي کريم ﷺ څخه پاتې شي او په غازيانو کښې خپل ځانونه شامل نه کړي.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې د ذکر شوو ايتونو څخه ځرګنديږي چې په صحابه وو کرامو ﷺ باندې غزا ته تلل په هغه غزا کښې فرض عين وه په کومه کښې به چې نبي کريم ﷺ پخپله اشتراک درلود. حال دا چې د بدر په غزا کښې نبي کريم ﷺ پخپله اشتراک هم کړی وه خو د دې سره-سره کعب بن مالک ﷺ وايي چې: «وَلَمْ يُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا»[1] يعني او څوک چې د بدر د غزا څخه پاتې شوي وه هغه ته د ملامتی ګوته نه نيوه کېده او د ملامتی لاندې نه راتلل؟

مونږ وايو چې: ذکر شوي ايتونه د تبوک د غزا په نسبت نازل شوي دي چې نبي کريم ﷺ پکښې عام نفير (عمومي امر) اعلان کړی وه. نو دغه غزا په ټولو مسلمانانو باندې فرض عين ګرځېدلې وه برابره خبره ده چې څوک په مرکز کښې اوسېده او يا باندچيان وه.

اما د بدر په غزا کښې نبي کريم ﷺ عام امر نه وه صادر کړی، نو دا غزا فرض عين نه وه بلکې فرض کفائي وه.

## د غزا د عيني فرضيت حالتونه

۲ـ د اسلام د دعوت دپاره جهاد کفائي فرض دی، چې څينې مسلمانان پرې مشغول وي نو د نورو مسلمانانو غاړې خلاصيږي، خو په لاندې حالتونو کښې په هرچا باندې فرض عين ګرځي:

الف: چې د اسلامي حکومت مشر عام نفير اعلان کړي چې ټول غزا ته لاړ شي[2] لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ د تبوک په غزا کښې همداسې اعلان کړی وه.

ب: چې کفار په کومه اسلامي خاوره باندې تعرض وکړي او غواړي چې د خپل تسلط لاندې يې راولي نو په هر مسلمان حتی په زنانه وو باندې هم دفاع کول عيني فرض جوړيږي[3].

## د عربيت يو تحليل

۳ـ په ﴿ وَلَا يَرْغَبُوا ﴾ جمله کښې لاندې دوه ډوله تحليل ممکن دی:

الف: چې دا په ﴿ يَتَخَلَّفُوا ﴾ جمله باندې عطفه وګڼله شي او د "أَنْ" توری ورسره د عطف په اعتبار سره مقدر شي خو د "لا" توری هغه نفي تاکيده کړي په کومه باندې چې په ﴿ مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ﴾ کښې د "ما" توری دلالت کوي. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې مسلمانانو ته نه دا مناسبه ده چې نبي کريم ﷺ غزا ته لاړ شي او دوی په کورونو کښې پاتې شي او نه ورته دا مناسبه

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۳۴
(۲) تفسير المظهري ج۴ ص۳۲۱
(۳) المحرر الوجيز ج۸ ص۲۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده چې خپلو خانونو ته رغبت وکړي چې د مشکلاتو څخه يې وساتي او د نبي کريم ﷺ مبارک ځان ته رغبت ونه کړي او د ساتنې غم يې نه خوري.

ب: چې د ﴿ لَا يَرْغَبُواْ ﴾ جمله نهي وګڼله شي او په هغې نهي باندې عطفه شي ګومه چې د وړاندې کلام څخه څرګندېږي هغه دا چې "لا تخلفوا". نو د معنى حاصل به يې داسې راووځي چې اى مؤمنانو! تاسو مه د نبي کريم ﷺ څخه بېرته پاتې کېږئ او مه خپلو خانونو ته رغبت (ميل) کوئ په داسې حال کښې چې د نبي کريم ﷺ د مبارک ځان څخه مو خپل رغبت (ميل) پرې کړئ او څه التفات ورته ونه کړئ.

که څه هم په دواړو تحليلونو کښې اصلي مطلب اختلاف نه مونده کوي مګر ځينو مفسرينو کرامو [1] لومړني تحليل ته د ظاهر لقب ورکړی دی.

## په لوږه او تنده هم الله ﷻ اجر ورکوي

۴_ لاندې درې حالتونه يو هم د سړي په اختيار کښې نه دی او طبعي حالتونه دي مګر الله ﷻ يې د غازيانو دپاره په خپل فضل سره د اعمالو څخه شمېري او د صالحه اعمالو په دول يې ليکي؛ حالونه دا دي: ﴿ ظَمَأٌ ﴾ يعنې د شديدې تندې حالت، ﴿ نَصَبٌ ﴾ يعنې د ستوماني حالت، ﴿ مَخْمَصَةٌ ﴾ يعنې د لوږې حالت.

## "مَوْطِئًا" څه معنی؟

۵_ د ﴿ مَوْطِئًا ﴾ کلمه د اسم ظرف صيغه ده [2] او د هغه ځای دپاره نوم ده په کوم باندې چې غازې پښې ږدي. نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: الله ﷻ د غازي په هغه هر يوه قدم باندې اجرونه ورکوي چې په داسې ځای باندې يې کېږدي په کوم چې کفار په غُصه کېږي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د هجرت په قدمونو باندې.

ب: په دنيا کښې د جهاد د کاميابۍ په خاطر په سياسي فعاليت باندې او په مملکتونو کښې په ګرځېدلو باندې.

ج: د جهادي وسائلو د موندلو دپاره د هلو ځلو په قدمونو باندې.

د: په دار حرب او يا دار الاسلام کښې د جهاد دپاره په تللو يا راتللو باندې.

## د نَيل د کلمې معنی

۶_ د ﴿ لَا يَنَالُونَ ﴾ د کلمې دپاره د ﴿ نَّيْلًا ﴾ توری په اصل کښې مصدر دی او لغوي معنی يې رانيول (راخستل) دي. مګر په دې مقام کښې ترې هغه شيان مطلب دي کوم چې د دښمن څخه

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۴۶

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راونیول شي او د توري په زور باندې ترې تر لاسه کړی شي[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ د غازیانو دپاره هغه ټول اجناس چې دوی د دښمن څخه ونیسي؛ لکه څمکه، وسله، مهمات، خوراک، څښاک او داسې نور، د صالحه اعمالو په شکل لیکي که څه هم ذکر شوي شیان اعمال نه دي بلکې اجناس دي.

د دې نظیر په احادیثو کښې ښه واضحه شوی دی چې الله ﷻ د غازیانو دپاره د دوی د اسونو لډوګان هم د نېکۍ په تله کښې اچوي. لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللهِ إِيمَانًا بِاللهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۲] یعني هرڅوک چې د الله ﷻ په لاره کښې د دې کبله اس ایساروي (ساتي) چې په الله ﷻ باندې (پخه) عقیده لري او د ده ﷻ په وعده باندې (پوخ) یقین لري، نو د هغه (اس) مړښت (واښه) او خړوبېدل (اوبه) او هم لډوان او متیازي (دا ټول) به د قیامت په ورځ د ده (د اس ساتونکي) د نیکو اعمالو په تله کښې اچولی کېږي.

ذکر شوي شیان که څه هم د غازي افعال نه دي مګر الله ﷻ یې په خپل فضل سره د ده په اعمالو کښې شمیري.

﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾﴾

[۱۲۲] او مؤمنان داسې نه دي (داسې دې نه شي) چې د ټولو (غزا ته) ووځي (او هیڅوک پاتې نه شي). نو (دوی) ولې داسې نه کوي (داسې دې وکړي) چې د مؤمنانو د هرې یوې فرقې (لویې ډلې) څخه وړه ډله (غزا ته) د دې دپاره لاړه شي چې (هلته) په دین کښې (دقیقه) پوهه حاصله کړي (معجزات او عجائب وګوري) او د دې دپاره چې خپل (کافر) قوم (د الله ﷻ د عذابه) وډار کړي (البته) کله چې دوی ته (د غزا څخه بېرته) ورستانه شي. شاید چې دوی وډار شي (او د کفر څخه توبه تائب شي).

## ارتباطونه

۱ــ په وړاندې ایتونو کښې د مؤمنانو یوه غیر مناسب عمل ته اشاره شوې وه چې نبي کریم ﷺ غزا ته لاړ شي او دوی پرته د شرعي معذرت څخه په کورونو کښې پاتې وي. په دې ایت شریف کښې بل غیر مناسب عمل ته اشاره کېږي چې نبي کریم ﷺ په مدینه منوره کښې یوازې پرېږدي او دوی ټول غزا ته لاړ شي.

۲ــ هلته د هغې غزا بحث وه کومه چې د نبي کریم ﷺ په عام نفیر سره عیني فرض ګرځېدلې وه

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۳۱

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۴۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دلته د هغې غزا بحث دی چې د کفائي فرض په درجه کښې پاتې وه.

٣ـ بالآخره په دغه ايت شريف کښې د وړاندېنيو ايتونو مضمون بشپړ شوی دی هغه دا چې د کفارو سره جهاد لکه څنګه چې په توره باندې فرض دی همدارنګه په حجت او برهان سره په تثبيت باندې هم فرض دې مګر په کفائي توګه؛ که ځينو مؤمنانو دا کار وکړ نو د نورو غاړې پرې خلاصېږي.

## شان نزول

د ذکر شوي ايت شريف په شان نزول کښې علماوو کرامو زښت ډېر روايات ليکلي دي[١] خو مونږ په دغه يوه روايت باندې اکتفاء کوو چې:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې کله الله ﷻ د هغو کسانو په هکله د دې سورت ډېر ايتونه نازل کړه کوم چې د تبوک د غزا څخه د منافقت يا کسالت د کبله پاتې شوي وه، نو بيا به چې نبي کريم ﷺ د غزا اعلان کاوه نو هيڅوک به نه پاتې کېده او ټول به روان شوه ترڅو د بېرته پاتې کېدلو د ملامتيـ لاندې را نه شي. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[٢] چې د مطلب خلاصه يې داسې راوخي:

## د مطلب خلاصه

لکه څنګه چې مؤمنانو ته مناسبه او جائزه نه ده چې نبي کريم ﷺ په خپله غزا ته لاړ شي او د عام نفير اعلان وکړي او دوی په کورونو کښې پاتې شي او د خپلو ځانونو د هوسايـ غم ورسره وي او بس، همدارنګه دوی ته دا هم مناسبه نه ده چې نبي کريم ﷺ غزا ته نه وي تللی او د عام نفير اعلان يې نه وي کړی او دوی ټول غزا ته لاړ شي او نبي کريم ﷺ په مدينه منوره کښې يوازې پرېږدي.

په دغه صورت کښې مؤمنان داسې ولې نه کوي، بلکې داسې دې وکړي چې دوی دې خپله اجتماع په لاندې دوه ډلو باندې ووېشي:

١ـ د هرې لويې فرقې او لوی قوم څخه دې يوه کوچنيـ ډله غزا ته لاړه شي او هلته دې د الله ﷻ د کامل علم او کامل قدرت ننداره په خپلو سترګو باندې وکړي چې په لږ تعداد کښې مؤمنان په لوی تعداد کفارو باندې برلاسي کوي او په معجزانه توګه ورباندې غلبه ورکوي.

نو چې کله کوچنيـ ډله د غزا څخه بېرته راستنه شي او په قومونو باندې ووېشله شي؛ يا په بل عبارت: چې د دغې کوچنيـ ډلې هر يو کس خپل قوم ته ورستون شي، نو هر يو به د خپل قوم کفار الله ﷻ ته دعوت کړي او په سترګو لېدلي معجزات به ورته بيان کړي چې الله ﷻ دا دين هرو مرو د دنيا په ټولو اديانو باندې برلاسی کوي نو ښه دا ده چې تاسو د کفر څخه لاس واخلئ او په ايمان باندې مشرف شئ. نو شايد چې هغوی دعوت قبول کړي او د الله ﷻ څخه وډار شي او بالآخره په اسلام باندې مشرف شي. که داسې وشي نو دوی به لاندې دوه ګټې کړې وي:

---

(١) زاد المسير ج٣ ص٣٥١؛ المحرر الوجيز ج٨ ص٢٩٩

(٢) تفسير البغوي ج٢ ص٣٣٩، اسباب النزول للواحدي ص١٧٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د يو طرف څخه به په غزا سره د دعوت مخه خلاصه کړي.

ب: او د بله پلوه به د دعوت اجرونه هم ترلاسه کړي.

۲_ د هرې لويې فرقې متباقي خلک دې د نبي کريم ﷺ په شاوخوا کښې اوسېږي او همدې ته دې منتظر وي چې نبي کريم ﷺ ورته د وظائفو تقسيم وکړي چې څوک بلې غزا ته تشريف يوسي او څوک د ځينو قومونو په دعوت او تعليم باندې مصروف شي.

نو که مؤمنان ذکره شوې طريقه اختياره کړي نو د يو پلوه به دوی ټولو کارونو ته رسيدګي وکړی شي او د بله پلوه به دښمنان ونه توانېږي چې دوی ته مشکلات ايجاد کړي.

## توضيحات

۱_ مونږ د ذکر شوي ايت شريف په ترجمه او تفسير کښې لاندې نکات د نظر لاندې نيولي دي:

الف: د ايت شريف په شان نزول کښې مونږ هغه روايت خوښ کړه کوم چې په جهاد پورې مربوط دي، لکه چې وړاندې ورته اشاره شوې ده، دا ځکه چې وړاندې او بېرته ايتونه ټول په جهاد پورې مربوط دي.

مګر ځينو مفسرينو کرامو ورته په شان نزول کښې نور روايتونه ليکلي دي چې د وړاندې او بېرته سره هيڅ تعلق نه شي مونده کولی، ته به وايې چې د ملغلرو امېل شکوي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: په ځينو قبائلو باندې قحطي (وچکالي) ورنازله شوه نو هغوی ټول په مدينه منوره باندې ورتوی شوه چې مونږ مسلمانان ياستو او هجرت مو وکړ، حال دا چې هغوی په خپله دعوه کښې دروغژن وه، نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو[۱]. يعنې: مؤمنانو ته دا مناسبه نه ده چې دوی ټول خپل خپل وطنونه پرېږدي او "نفير إلى الرسول" وکړي، ټول نبي کريم ﷺ ته ورټول شي.

دوهم: نبي کريم ﷺ ځينې صحابه کرام ﷺ په قبائلو کښې توزيع کړي وه ترڅو هلته خلکو ته د شريعت تعليم وکړي، خو خلکو ورته وويلې چې تاسو د نبي کريم ﷺ د څنګ څخه جدا شوي ياست او فضيلت درڅخه فوت شوی دی. نو دوی هغه قبيلې پرېښودلې کومې ته چې وراستولی شوي وه او ټولو مدينې منورې ته مخه کړه. نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو[۲].

يعنې: مؤمنان داسې نه کوي چې ټول د نبي کريم ﷺ څخه را تاو شي بلکې د دوی خاصيت دا دی چې د ديني علومو د زده کړې دپاره وځي او بيا خپل خپل ټاکلي قوم ته ورستنېږي او د شريعت ابلاغ کوي.

ب: مونږ په ﴿ لِّيَتَفَقَّهُواْ ﴾ کلمه کښې مستتر ضمير د هغې ﴿ طَآئِفَة ﴾ کلمې ته راجع اخستی دی کومه چې نژدې ذکره ده، او هغه مضمون مو ترې را ويستلي دي کوم مو چې د (د مطلب خلاصه) د عنوان لاندې ليکلی دی. خو ځينو علماوو کرامو ذکر شوی ضمير د هغې ﴿ طَآئِفَة ﴾ کلمې ته راجع

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۳۵۱
(۲) تفسير ابن کثير ج۲ ص۴۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخستی دی کومه چې د مقام څخه معلومېږي[١] يعني د غزا څخه پاتې شوي طائفه (ډله).
نو د معنی حاصل يې داسې راوباسي چې مؤمنان ولې داسې نه کوي بلکې داسې دې وکړي چې د هرې لويې قبيلې څخه دې يو وړوکی ټولګی غزا ته لاړ شي او متباقي قبيله دې د نبي کريم ﷺ سره پاتې شي ترڅو په دين کښې معلومات زده کړي.
مونږ ځکه دا طريقه خوښه نه کړه چې:
اول: د ﴿ لِّيَتَفَقَّهُواْ ﴾ کلمه اصلاً د "فِقهٌ" څخه اشتقاقه شوې ده، "فِقهٌ" په لغت کښې دې ته وايي چې د ليدلي شوي شي علم د نالیدلي شي علم ته وسيله وګرځولی شي[٢].
دا معنی خو د غزا کوونکې ډلې سره مناسبه ده چې په جهاد کښې ليدلي شوي عجائب او خوارق د الله ﷻ د پېژاندلو دپاره وسيله وګرځوي، که بالفرض ذکره شوې کلمه د هغې "فِقهٌ" څخه اشتقاقه شوې وي کومه چې د شرعي احکامو نوم دی نو د هغې په عوض به "لِيَتَعَلَّمُوْا" کلمه نازله شوې وی چې د پاتې شوو خلکو د حال سره مناسبه وه.
دوهم: ترڅو پورې چې روغه معنی ورکوي نو په عربيت کښې دا ښه کار نه دی چې مذکوره مرجع پرېښودله شي او ضمير داسې مرجع ته راجع وګڼل شي کومه چې مذکوره نه وي خو د مقام څخه معلومېږي.
ج: مونږ د ﴿ قَوۡمَهُمۡ ﴾ د کلمې څخه د هرې غزا کوونکې ډلې هغه قوم اخستی دی کوم چې لا په اسلام باندې نه وي مشرف شوي، لکه چې وړاندې مو ښه شرحه ورکړې ده.
مګر خينو علماوو کرامو ترې مؤمنان اخستي دي او د معنی حاصل يې په لاندې دوه ډولونو باندې را ويستلي دي:
اول: ترڅو غازيان پاتې شوي مؤمنان د غزا د خوارقو څخه خبر کړي او د الله ﷻ د عذابه څخه يې وډار کړي.
دوهم: ترڅو پاتې شوي مؤمنان غازيانو ته زده کړې شوي او تازه نازل شوي شرعي احکام شرحه کړي او د الله ﷻ څخه يې وډار کړي چې عمل پرې وکړي او د پښو لاندې يې نه کړي.
مونږ د لاندې وجوهو د کبله د ﴿ قَوۡمَهُمۡ ﴾ څخه د مؤمنانو ډله وانخستله:
اول: د ﴿ لِيُنذِرُواْ ﴾ د کلمې سره ښه مناسبت نه لري، ځکه چې دوی خو د الله ﷻ څخه ډار شوي وه چې ايمان يې راوړی وه او په دغه ډار کښې خو ټولو مؤمنانو مساويانه اشتراک درلود.
دوهم: په دې باندې علاوه، مؤمنې ډلې خو (هره يوه چې وي) کوم غير شرعي کار نه وه کړی چې تهديد آمېزه کلمې ورته استعمال شوې وی.
دريم: که بالفرض د ﴿ قَوۡمَهُمۡ ﴾ څخه مؤمنان قوميان مطلب وی نو ضرور به د ﴿ لِيُنذِرُواْ ﴾ په

---

(١) التفسير الكبير ج١٦ ص٢٢٥
(٢) مفردات الراغب ص٣٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عوض "ليتعلموا" او د ﴿ قَوْمَهُمْ ﴾ په عوض "إِخْوَانُهُمْ" نازل شوي وی، همدارنګه په د ﴿ يَحْذَرُونَ ﴾ په عوض "يَفْقَهُوْنَ" نازل شوی وی. نو د معنی حاصل به يې داسې راوتلی وی چې: ترڅو خپلو ورونو ته هغه شرعي احکام ورزده کړي کوم چې د دوی په غياب کښې په نبي کريم ﷺ باندې نازل شوي وي، شايد چې دوی ترې نور استنباطات هم وکړي او په دقيقه توګه پرې پوه شي.

## تبصره

٢ـ مونږ چې په کوم ډول باندې ايت شريف تفسير کړی دی هغه يې مونږ ته د عبارة النص معنی ښکاري، اما مونږ سره هيڅ مانع نشته چې ايت شريف د اشارة النص او يا د مفهوم د عموم په اعتبار سره هغو تفاسيرو ته هم شامل شي کوم چې علماوو کرامو ذکر کړي دي او وړاندې وليکل شوه.
که څوک غواړي چې د ايت شريف د اشاري معناوو په پوره تفصيل باندې پوه شي نو ځينو اوږدو تفاسيرو ته دې د لاندې نکاتو په هکله مراجعه وکړي:

الف: د احاديثو په رڼا کښې د علم فضائل[١].

ب: د عيني فرض او کفائي فرض تعريفونه او مثالونه او هم د عيني فرضي علم اندازه[٢].

ج: کوم علم چې ډېر مبارک دی او ډېرو خلکو ته يې ګټه رسېږي هغه علم دی چې سړي ته د علمي سفرونو په ذريعه لاس ته ورشي[٣].

د: په ذکر شوي ايت شريف کښې د مختلفو تفسيرونو شرحه او بيان[٤].

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾ ﴾

[١٢٣] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو!) تاسو د کفارو څخه د هغې ډلې سره (لومړی) جنګ وکړئ (غزا پيل کړئ) چې تاسو ته نژدې دي (موقعيت لري)، او دوی (کفار) دې په تاسو کښې کلکوالی مونده کړي (تاسو کلکوالی ولرئ چې هغوی يې مونده کړي). او پوه شئ چې يقينًا الله ﷻ د متقيانو سره (کومکي) دی (نو د تقوی مراعات وساتئ).

## ارتباطونه

١ـ په دې ايت شريف کښې په هغه مطلب باندې صراحت شوی دی کوم ته چې په وړاندې ايت شريف کښې اشاره شوې وه. هغه دا چې غزا کول اصلا کفائي فرض دي خو په ځينو خاصو مواردو کښې عيني فرض ګرځي، چې پوره څېړنه يې د [التوبة: ١٢٠] ايت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

---

(١) تفسير الخازن ج٣ ص٢٢٠، تفسير القرطبي ج٨ ص٢٩٥
(٢) تفسير البغوي ج٢ ص٣٤٠: احکام القرآن للجصاص ج٣ ص١٦١
(٣) التفسير الکبير ج١٦ ص٢٢٧
(٤) تفسير الطبري ج١١ ص٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ هلته د غازیانو په ارتباط هدایت نازل شوی وه چې جمعًا غزا ته لاړ نه شي او دلته د کفارو په هکله توصیه شوې ده چې په ټولو باندې په یو خل غزا مه پیل کوئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! لکه څنګه چې الله ﷻ تاسو ته توصیه وکړه چې ترڅو پورې په تاسو باندې غزا کول فرض عین نه وي ګرځېدلي نو د ځرمې ټول غزا ته مه ووځئ، همدارنګه درته دا ارشادات هم کوي چې:

۱_ په ټولو کفارو باندې په یو خل غزا مه پیل کوئ بلکې په هغو کفارو باندې شروع وکړئ کوم چې د دعوت مخه نیسي او تاسو ته په نژدې وطن کښې موقعیت ولري.

که بالفرض تاسو دغه طریقه په نظر کښې ونه نیسئ او د لرې وطن په کفارو باندې غزا پیل کړئ نو له یوه پلوه دا خطر شته چې نژدې کفار مو لاره قطعه کړي او په محاصره کښې واقع شئ او له بله پلوه مو د اکمالاتو مخه بندېږي. او پوره واضحه ده چې د اکمالاتو څخه په غیر جهاد وړاندې نه شي تللی.

۲_ تاسو په خپلو خانونو کښې همت او عزم پیاوړی کړئ او هم تونديي او زېږوالی مه هېروئ، بلکې نرمي او ترحم خپلو ورونو (مؤمنانو) ته وساتئ: نو کله چې په تاسو کښې کفار کلکوالی او سختي مونده کړي نو دستي د مقاومت توان د لاسه ورکوي.

۳_ په دې باندې علاوه تاسو د الله ﷻ څخه وېرار شئ او د شرعي حدودو څخه حتی د کفارو په مقابله کښې هم تجاوز مه کوئ، چې یا غیر جنګي زنانه او بوډاګا ووژنئ او یا ماشومان پای مال کړئ.

دا ځکه چې الله ﷻ د متقیانو سره کومکي دی، که بالفرض تاسو غیر شرعي کارونه وکړئ نو الله ﷻ به درڅخه مدد او کومک واخلي چې بیا به د کفارو د مقابلې توان ونه لرئ او تاسو به متقیان نه یاست.

## توضیحات

۱_ د ایت شریف څخه بالاشاره دا خبره هم سړي ته ذهن ته ورځي چې د هرچا څخه وړاندې جهاد په هغو:.. مسلمانانو باندې فرض دی کوم چې د کفري وطن سره نژدې استوګنه لري، او بیا په هغو باندې چې دوی ته نژدې وي او بیا په هغو چې دوی ته نژدې وي، آن تر آخره پورې.

دا ترتیب بله معنی نه ورکوي بې د دې څخه چې جهاد کفائي فرض دی او کله-کله عیني فرض ګرځي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې د ﴿ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ په جمله کښې خو کفارو ته امر شوی دی چې په مسلمانانو کښې دې غلظت (کلکوالی) مونده کړي، حال دا چې که هغوی د امر پروا ګیر وی نو ایمان به یې راوړی وی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه امر په حقيقت کښې مؤمنانو ته متوجه دی، چې تاسو په خپلو ځانونو کښې کلکوالي ته تحقق ورکړئ او کفارو ته يې ورڅرګند کړئ ترڅو هغوی هم يقين وکړي چې دا ربښتياني کلکوالی دی. هسې نه چې تاسو ته خپل ځانونه کلک ښکاري مګر کفارو ته کلک څرګند نشئ او هغوی پرې قناعت ونه لري.

لنډه دا چې بايد ستاسو کلکوالی د هغوی په پرتله زيات وي ترڅو د هغوی پرې يقين او باور راشي.

﴿ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾ أَوَلَا يَرَوۡنَ أَنَّهُمۡ يُفۡتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٖ مَّرَّةً أَوۡ مَرَّتَيۡنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ هَلۡ يَرَىٰكُم مِّنۡ أَحَدٖ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿١٢٧﴾ ﴾

[۱۲۴] او هرکله چې (د الله ﷻ د پلوه) يو سورت (يا يو ايت) نازل کړی شي نو د دوی (منافقانو) څخه ځيني هغه کسان دي چې (يو بل ته) وايي: ستاسو کوم يوه ته دغه (سورت يا ايت) د ايمان د حيثه زيات کړ (په څه کښې يې اثر وکړ؟ بلکې په هيڅ کښې يې هم اثر نه دی کړی).

نو (ای پيغمبره د دوی خبره رد کړه، داسې چې) هغه کسان (چې دي) کومو چې ايمان راوړی دی دوی ته نازل شوی سورت (يا نازل شوی ايت) د ايمان د حيثه په داسې حال کښې زيات کړ (ايمانونه يې پرې قوي او تازه شوه) چې دوی ورته خوشالېږي (او د ثواب موندلو تمه يې اضافه کېږي).

[۱۲۵] او هر چې هغه کسان دي د کومو په زړونو کښې چې مرض (منافقت او کفر) دی نو دوی ته (نازل شوی) سورت (يا ايت) د دوی د پليتۍ سره نوره پليتي هم ورزياته کړه (چې کفر او منافقت يې لا قوي او کلک شو) او په داسې حال به مړه شي چې دوی به کافران وي.

[۱۲۶] او ايا دوی (منافقان) نه ګوري چې يقيناً دوی په هر کال کښې (اقلاً) يو ځل يا دوه ځلې په فتنه کښې اچول کېږي (د منافقت څخه يې پرده پورته کېږي) بيا هم دوی (د منافقت څخه) توبه نه وباسي او نه دوی پند (نصيحت) قبلوي.

[۱۲۷]او هرکله چې يو سورت (يا ايت) نازل کړی شي نو منافقان ځنې ځينو نورو ته وګوري (چې د تنبتبدلو لاره مونده کړي او هم يو بل ته وايي چې) ايا کوم يو مو (د مسلمانانو څخه) ګوري؟ (چې مجلس پرېږدو).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا (نو چې د نه لېدلو څخه مطمئن شي د مجلس څخه) تاوېږي (او شا وراړوي).
الله ﷻ د دوی زړونه (د ایمان راوړلو څخه) تاو کړي دي (مهر یې ورباندې وهلی دی او دا) ځکه چې یقینًا دوی داسې قوم دئ چې (دقیق) ذکاوت نه لري (او پوهه نه لري).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې مؤمنانو ته د جهاد په باره کښې څو متعدد هدایات نازل شوي وه چې دا کوئ او دا مه کوئ. په دې ایتونو کښې د منافقانو هغه حالات نازل شوي دي کوم چې دوی ته د ایتونو د نزول په وخت کښې ورپېښېږي. ته به وایې چې مؤمنانو ته توصیه شوې ده چې د ایتونو د نزول په وخت کښې باید تاسو د منافقانو غوندې جوړ نشئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای مؤمنانو پام کوئ چې تاسو د ایتونو د نزول په وخت کښې د منافقانو په حالاتو باندې اخته نشئ او هم د هغوی په دسیسو باندې ونه غولېږئ. د هغوی حالات دا دي:

۱_ کله چې د قرآن کریم کوم یو سورت نازل شي نو منافقان یو تربله وایي چې دغه سورت یا دغه ایت ستاسو د کوم یوه په ایمان کښې زیادت راووست او د کوم یوه ایمان یې قوي کړ؟.

بیا نو په خپلو منځو کښې یو بل ته جواب ورکوي چې د یوه کس په ایمان کښې یې هم قوت نه دی ایجاد کړی نو معلومه شوه چې دا د الله ﷻ د پلوه نه دي نازل شوي که نه نو اقلاً د یوه کس په زړه کښې خو به یې څه اثر اچولی وي.

نو ای پیغمبره! منافقان په ذکره شوې شبهه کښې دوه مطلبه لري: یو دا چې خپل وجدان ته پرې قناعت ورکړي او د منافقت د غوره کولو دپاره خپل ځان ته څه د ختو پوزه جوړه کړي، بل دا چې ځینو تازه مسلمانانو ته اشتباه ورواچوي او بېرته یې مرتد کړي.

نو تاته په کار دي چې منافقانو ته داسې جواب ورکړې چې: ای منافقانو! د قرآن کریم هر سورت او هر یو ایت د الله ﷻ د پلوه په رښتیاني توګه نازل شوی دی او په انسانانو کښې بې اثره نه پاتې کېږي، بلکې اثر یې په دغو دوه ډولونو سره صورت نیسي:

الف: څوک چې رښتیاني مؤمنان دي د دوی په زړونو باندې مثبت اثر کوي، نو د یوه پلوه یې پرې ایمان قوي کېږي او کیفي زیادت مومي او د بله پلوه پرې خوشالېږي او د الله ﷻ شکریه کوي چې خپل رحمت یې راباندې نازل کړ، او بالآخره نازل شوی حکم په عمل کښې پیاده کوي چې په آخرت کښې اجرونه مونده کړي او الله ﷻ ترې راضي شي.

ب: څوک چې منافق او کافر وي په هغوی باندې منفي اثر اچوي چې په زړونو کښې یې ناپاکي (کفر او منافقت) نبه قوي کېږي، نو د همدې کبله هغوی په خپلو پخوانیو کفریاتو باندې نور کفریات هم زیاتوي چې دا د الله ﷻ د پلوه نه دي نازل شوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۰ بالآخره هغوی خپلو کفري معتقداتو ته د مرګ د ورځې پورې ادامه ورکوي ترڅو د کفر او منافقت په حالت باندې مړه او د دائمي خپګان او خجالت سره مخامخ شي.

۳_ ای پیغمبره! منافقان عجیبه خلک دي چې د خپلو زړونو په کیفیت باندې هم نه پوهېږي چې د ایتونو او سورتونو په نزول سره څومره قوي کېږي او څومره کلکېږي، خو د دې سره سره یو بل ته وايي چې د سورت یا ایت نزول زمونږ په زړونو کښې هیڅ اثر نه دی کړی.

که بالفرض د دوی په زړونو باندې یې اثر نه وي غورزولی نو ضرور به دوی د منافقت او کفریاتو څخه اجتناب کړی وي. دا څکه چې:

ایا ته نه ګورې چې دوی په هر کال کښې یو ځل یا دوه ځله د خجالت سره مخامخ کېږي او په معجزانه توګه یې د زړونو اسرار فاش کېږي مګر دوی د کفري عقیدې د کلکوالي د کبله نه توبه وباسي او نه نصیحت قبلوي.

که بالفرض د دوی په زړونو باندې د قرآن کریم د ایتونو نزول منفي اثر نه کولی نو د ایمان د راوړلو دپاره یې همدې معجزې کفایت کاوه چې د دوی د اسرارو څخه یې پرده پورته کړه، ایا د الله ﷻ څخه په غیر څوک د زړونو په اسرارو باندې پوهېږي؟

۴_ پاتې شوه دا خبره چې د منافقانو په زړونو باندې د قرآن کریم ایتونه او سورتونه ولې مثبت اثر نه کوي لکه چې د مؤمنانو په زړونو باندې یې کوي؟ نو د دې جواب دا دی چې:

منافقان د قرآن کریم ایتونو ته په دقیق نظر نه ګوري او د مؤمنانو په شان یې د زړه په غوږونو باندې نه اوري. د همدې کبله کله چې په یوه اجتماع کښې د قرآن کریم کوم سورت نازلېږي چې دوی پکښې ناست وي نو یو بل ته د سترګو لاندې ګوري او پسېږي چې: ایا د وتلو چاره شته؟ که مونږ همدغسې غلې ووځو نو څوک به مو وګوري او که څنګه؟.

نو کله چې دوی په پټه باندې د وتلو دپاره نرې وت مونده کړي نو دستي د سورت د نزول د اجتماع څخه پورته کېږي او تښتي.

نو که بالفرض د دغسې اجتماعګانو څخه نه تښتېدلی او د قرآن کریم په ارشاداتو کښې یې د مؤمنانو په شان په دقت سره فکر کولی نو د دوی په زړونو کښې به یې هم مثبت اثر اچولی وي او په ایمان باندې به په رښتیانیو معناوو کښې مشرف شوي وی.

خو په دوی باندې دې حسرت وي چې د دغسې مبارکو اجتماعګانو څخه ډډه کوي او ترې بهرته تاوېږي. نو الله ﷻ هم د دوی زړونه هغه طرف ته ورتاووي کوم طرف چې دوی خوښوي او کوم طرف ته چې دوی زور کوي.

دوی څکه ذکرې شوې اجتماعګانې پرېږدي چې دوی داسې قوم دی چې دقیقه پوهه نه لري، خپل ځانونه یې رانده او کانه اچولي دي او د لیدلو شوو معجزاتو څخه د ایمان بالغیب استفاده نه شي کولی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ په دې سورت کښې اکثرو ايتونو د منافقانو حالات شرحه کړي دي، مګر دا وروستني ايتونه دي چې د همدغې موضوع په شرحه کښې نازل شوي دي.

٢ـ د ذکرو شوو ايتونو مضمون سعدي شيرازي علیه الرحمة په خپل يوه شعر کښې ډېر ښه تمثيل کړی دی چې:

باران که در لطافت طبعش خلاف نيست :: در باغ لاله رويدو در شوره بوم خس

يعنې: په نظر سره ټولو خاورو ته د باران طبعه نرمه او ملايمه ده او په دې کښې هيڅ اختلاف نشته، مګر په نظر سره باران ته د ټولو خاورو طبعه يو برابر نه ده د همدې کبله په باران سره په باغ کښې ګل لاله زرغونېږي او په ښورچنه ځمکه کښې پرې بوم خس (درب) شنه کېږي.

همدارنګه د قرآن کريم ايتونه د مؤمنانو ايمان زياتوي او د منافقانو په زړونو کښې منافقت ته وده ورکوي.

### فتنة څه معنی؟

٣ـ د ﴿ يُفْتَنُونَ ﴾ کلمه د "فِتْنَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې مفسرينو کرامو ورته په دې مقام کښې زښت ډېر تفسيرونه کړي دي چې آن تقريبًا اتو تفسيرونو ته رسيږي[1]. مګر مونږ ته هغه تفسير غوره برېښي کوم چې د ايتونو د وړاندې ېېرته مضامينو څخه ځرګندېږي، هغه دا چې دلته د "فتنة" څخه د منافقانو رسوا کول مطلب دي چې د يو پلوه د منافقانو دپاره عذاب او تخجيل دی او د بله پلوه د دوی دپاره د معجزو کار ورکوي.

### مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ څه معنی؟

۴ـ مونږ په دې مقام کښې د ﴿ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ﴾ څخه هغه معنی اخلو کومه مو چې په [التوبة: ١٠١] ايت کښې د مرتين د کلمې څخه اخستې ده، هغه دا چې په دوه وو کښې حصر مطلب نه دی بلکې تکثير او ډېروالی ترې مطلب دی.

نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې:

ايا منافقان نه ګوري چې هر کال اقلا يو ځل يا دوه ځله، بلکې د دې څخه اضافه، دوی په فتنه کښې اچولی کېږي او منافقت يې رسوا کېږي، خو دوی په يو ځل کښې هم توبه نه وباسي چې د بل ځل د رسوايي څخه ځانونه بچ کړي.

دا دی نن په دغو ايتونو سره ـ چې بحث پکښې روان دی ـ يو ځل بيا د دوی د منافقت څخه پرده پورته شوه او د زړونو رازونه يې رااويستلی شوه خو دوی په همغه پخواني جهالت باندې کلک دي او د منافقت څخه لاس نه اخلي.

---

(١) زاد المسير ج٣ ص٣٥٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم
بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ
تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾ ﴾

[۱۲۸] یقینًا تاسو ته درغلی دی داسې یو پیغمبر چې د ستاسو د خپلو نفسونو (جنس) څخه دی (او) په ده ﷺ باندې ستاسو مشقت (سختي) دروند دی (او هم) ستاسو (په هدایت) باندې حرصناک دی (او) په مؤمنانو (تاسو) باندې زړه سوونکی (او) مهربان دی.

[۱۲۹] نو (ای پیغمبره!) که (بالفرض) دوی (مؤمنانو) ستا (د اتباع) څخه مخونه واړول نو ته (ورته) ووایه چې زما (یوازې) الله ﷻ بس (کافي) دی، (په حقه باندې) معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، په همده ﷻ باندې ما توکل کړی دی او هـدی ﷻ د لوی عرش (عرش العظیم) خاوند دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې مؤمنانو ته توصیه شوې وه چې په هر حال کښې د نبي کریم ﷺ پیروي وکړئ، د کفارو سره جهاد ته ادامه ورکړئ او بالآخره د منافقانو د عادتونو څخه خانونه بچ وساتئ.

په دې ایتونو کښې د یو پلوه مؤمنان ترغیب شوي دي چې په ذکره شوې توصیه باندې په جدي توګه عمل وکړي او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې که بالفرض مؤمنان ستا پیروي ونه کړي نو د الله ﷻ کومک او نصرت درته کفایت کوي، نو په همده ﷻ باندې توکل ته دوام ورکړه.

## د مطلب خلاصه

د ذکرو شوو ایتونو د مطلب خلاصه په دوه برخو وېشله کېږي، چې په یوه برخه کښې یې مؤمنان مخاطب کړی شوي دي او په بله برخه کښې نبي کریم ﷺ ته خطاب متوجه دي.

### لومړۍ برخه:

یعنې: ای مؤمنانو تاسو ته په هیڅ صورت کښې مناسبه او جائزه نه ده چې د خپل پیغمبر ﷺ پیروي او اتباع ونه کړئ، ځکه چې تاسو ته داسې پیغمبر ﷺ درغلی دی چې دغه صفات لري:

۱ـ دا پیغمبر ﷺ ستاسو د خپل جنس (انسانانو) څخه دی. که بالفرض تاسو ته داسې پیغمبر درغلی وی چې یا د ملکو د جنس څخه وی او یا پېرې وی نو دغسې استفاده به مو ترې نه شوی کولی لکه چې نن ورځ یې چې ترې کولی شئ. چې عادات او خاصیتونه مو سره جدا-جدا نه دي او په بشري صفاتو کښې سره متحد یاست.

۲ـ په نوموړي پیغمبر ﷺ باندې هغه کار ډېر دروند تمامېږي کوم چې تاسو په مشقت کښې اچوي او ستاسو د خپګان باعث جوړېږي، بلکې د ده ﷺ د همېشه دپاره دا هڅه وي چې تاسو ته اسان احکام دروړي. که بالفرض ستاسو د هوسایۍ خیال یې نه ساتلی نو ستاسو به د عدم اتباع

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(پيروي) دپاره بهانه جوړه شوې وي.

۳_ ستاسو په هدايت باندې ډېر زيات حارص دى څو تاسو د دوزخ د اوره بچ شئ او جنت ته داخل شئ. يا په بل عبارت: ستاسو په هدايت باندې ډېر زيات خوشالېږي او په ضلالت باندې مو ډېر زيات خپه کېږي.

۴_ بالآخره په مؤمنانو يعنې په تاسو باندې د ايمان د کبله پوره زړه سوونکى او مهربان دى. يا په بل عبارت: په تاسو باندې د پيغمبر ﷺ زړه سوى او مهرباني د ستاسو د شخصيت او يا ستاسو د نسب د کبله نه ده بلکې يوازې او يوازې د ايمان د کبله ده چې تاسو مؤمنان ياست.

**دوهمه برخه:**

يعنې: اى پيغمبره! که بالفرض د ذکرو شوو صفاتو سره سره ستا د پيروۍ او اتباع څخه مؤمنان غاړې وغړوي او ورته شا کړي نو بيا دوى په لاندې جملو باندې مخاطب کړه چې:

الف: ما ته الله ﷻ کافي دى چې ټول کارونه راته جوړ کړي او اسلام ته ستاسو څخه په غير ترقي ورکړي.

ب: د الله ﷻ څخه په غير هيڅ حقاني معبود نشته، يوازې د همده ﷻ عابدان به په ځمکه کښې غلبه مونده کوي او د باطلو معبودانو عبادت کوونکي به ضرور د منځه ځي.

ج: په همدغه الله ﷻ باندې ما توکل او اعتماد کړى دى چې د عرش عظيم خاوند دى او هيڅوک يې د مقابلې توان نه لري.

## توضيحات

۱_ د ﴿ مَا عَنِتُّمْ ﴾ په جمله کښې د "ما" توری د مصدريت دپاره دی[۱] او ﴿ عَنِتُّمْ ﴾ د "عَنَت" څخه اشتقاقه شوې ده، "عَنَت" _لکه "شَرَف"_ د هغه کار څخه عبارت دی چې سړی پکښې د تلف يعنې د هلاکت څخه ډارېږي[۲]. نو د معنى حاصل يې داسې راوځي چې په نبي کريم ﷺ باندې هغه کار ډېر دروند او سخت تمامېږي په کوم کښې چې په تاسو باندې د هلاکت او تلف کېدلو خطره وي او تاسو پکښې د داسې مشقت سره مخامخ کېدونکي ياست چې تحمل يې درته سخت وي.

هو! دا ښېله خبره ده چې الله ﷻ کله کله تاسو په مشکلاتو کښې راګېروي ترڅو ستاسو درجې لوړې شي، لکه څنګه يې چې د تبوک په غزا کښې د مشکلاتو سره مخامخ کړئ.

د دې مقام د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

الف: عائشه (ام المؤمنين رضی الله عنها) وايي چې: «مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بَيْنَ أَمْرَيْنِ احَدُهُمَا أَيْسَرُ مِنَ الآخَرِ إِلَّا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا»[۳] يعنې هيڅکله نبي کريم ﷺ ته د داسې دوه وو شيانو په

---

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۳۶۰

(۲) مفردات الراغب ص۳۶۲

(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۲۵۶؛ سنن ابي داوُد ج۲ ص۳۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منځکښې اختيار نه دى ورکړى شوى چې يو به يې د بل څخه اسان وه مګر ده ﷺ به د دواړو شيانو څخه اسان شى غوره کاوه ترڅو به چې په هغه کښې ګناه نه وه.

ب: کله چې نبي کريم ﷺ ابو موسى ﷛ او معاذ ﷛ يمن ته د حاکمانو په توګه استول نو دواړه يې مخاطب کړه چې: «يَسِّرَا وَلا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلا تُنَفِّرَا»[1] يعنې تاسو دواړه (په خلکو) اساني کوئ او سختي مه کوئ او (هم خلک) خوشاله ساتئ او په نفرت کښې يې مه اچوئ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې د وړاندېنيو جملو په تناسب په کار وه چې د ﴿ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ په عوض "بِكُمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ" نازل شوى وى، نو په دې کښې څه حکمت دى چې دغسې نازل نه کړى شو؟

مونږ وايو چې: دا د دې دپاره ـوالله ﷻ اعلمـ څو خلکو ته واضحه کړى شي چې د نبي کريم ﷺ زړه سوى د ايمان د کبله دي نه د قوميت او کوم شخصيت د کبله. که بالفرض ﴿ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کلمه نه وى نازل شوې نو دغه مطلب به پټ پاتې وى ځکه چې ضمير په ايمان باندې دلالت نه کوي.

## د وروستني ايت شريف ځينې خواص

۳ـ که څوک غواړي چې د ﴿ حَسْبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ په ځينو خواصو باندې خپل ځان پوه کړي نو ځينو اوږدو کتابونو[2] ته دې مراجعه وکړي چې برسېره پر خواصو باندې يې يوه عجيبه قيصه هم په همدې باره کښې ليکلې ده.

## د تبوک د غزا عجائب او معجزات

۴ـ د دې سورت اکثره ايتونه د تبوک د غزا په متعلقاتو کښې نازل شوي دي چې د دغې غزا تقريبًا د پيل څخه ترختمه پورې يې دوه مياشتې وخت نيولى وه[3].

ځينو علماوو کرامو[4] د نبي کريم ﷺ هغه احاديث او هغه معجزات کوم چې د دغو دوه مياشتو په اوږدو کښې روايت شوي او يا متحقق شوي وه راغونډ کړي دي، که څوک فرصت لري او په عربي ژبه پوهېږي نو همل‌ته دې مراجعه وکړي، مونږ د اوږد والي د غمه دلته رانقل نه کړه.

دا سورت (التَّوْبَة) د الله ﷻ په کومک او توفيق ختم شو
۱۳۷۵/۸/۶ هـ ش

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۲۲
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۵۳
(۳) تفسير ابي السود ج۴ ص۸۴
(۴) تفسير المظهري ج۴ ص۳۲۸

Scanned by CamScanner

# یونس (۱۰)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱_ د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه روايت دی چې دا سورت په مکه معظمه کښې نازل شوی دی[۱] نو د جمهورو علماوو کرامو په نزد دا سورت مکي سورت دی[۲] مګر په درې ايتونو کښې يې څه اختلاف شته چې د [يونس:۹۴] ايت څخه پيل کېږي، دغه درې ايتونه ځينو علماوو کرامو مدني ګڼلي دي[۳].

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۴]:

الف: ټول ايتونه يې يو سلو نهه (۱۰۹) دي.

ب: د کلماتو شمېر يې يو زر اته سوه دوه ديرش (۱۸۳۲) دي.

ج: د حرفونو شمېر يې اوه زره پنځه سوه اوه شپېته (۷۵۶۷) دي.

## د دې سورت نوم

۳_ په دغه سورت باندې د "يُونُس" نوم ايښودلی شوی دی چې د [۹۸] ايت څخه اخستلی شوی دی. يعنې هغه سورت چې په هغه کښې د يونس ﷺ قيصې ته څه اشاره شوې ده، او دا پکښې مطلب نه دی چې ټول بحثونه يې د يونس ﷺ د حالاتو په بيانولو باندې څرخېږي.

## د دې سورت محوري بحثونه

۴_ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې بالذات په عقيدوي بحثونو پورې تماس نيسي او همدغه يې محوري بحثونه دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د الله ﷻ د توحيد دلايل او د شرکياتو جرړې ويستل.

ب: د پيغمبر ﷺ د نبوت اثبات او په همدې مورد کښې د معاندينو اعتراضاتو ته جواب ورکول.

ج: د قيامت د ورځې اثبات او د همدې ورځې د راتللو ضرورت او په همدې ارتباط د معاندينو د شبهاتو پورته کول.

د: نور داسې احکام چې د دين د عقيدوي او اصلي مقاصدو پورې ارتباط لري.

## د "التَّوْبَة" او "يُونُس" دوه سورتونو تناسب

۵_ دغه دواړه سورتونه يو په مدينه منوره کښې نازل شوی دی او بل په مکه معظمه کښې، خو د دواړو سورتونو ترمنځ د نوک او د اورۍ ارتباط ليدلی کېږي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۳۳۹

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۵۸

(۳) تفسير القرطبي ج۸ ص۳۰۴

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۰ ص۲۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هلته د مشرکانو څخه بېزاري اعلانه شوې ده، او دلته د هغوی اعتراضات جواب کړی شوي دي.

ب: هلته د هغوی سره په توره د جهاد توصیه شوې ده او دلته د ژبې د جهاد بیان نازل شوی دی.

ج: هلته د منافقانو خاصیتونه ښودلی شوي دي چې په قرآن کریم باندې به یې خندنی کولې [التوبة:۶۵] او دلته د مشرکانو په خاصیتونو کښې دا هم ښودلې شوې ده چې قرآن کریم ته د جادو لقب ورکوي. یا په بل عبارت: کومې سپکې سپورې خبرې به چې مشرکانو کولې همغو خبرو ته ورته خبرې منافقانو هم کړې دي.

د: بالآخره هغه سورت د ﴿ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ په کلماتو باندې تمام شوی دی او د دې سورت په دریم ایت کښې د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ جمله نازله شوې ده.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓر تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ۝١ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ مُّبِينٌ ۝٢ ﴾

د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

دا (راتلونکي ایتونه) د حکمت څخه د ډک کتاب (قرآن کریم) ایتونه دي.

[۲] ایا خلکو ته دا عجیبه ده (عجیبه ښکاري) چې مونږ د همدوی د جملې څخه یوه (کامل) سړي ته (داسې) وحې وکړه چې (ټول) خلک (د الله ﷻ د عذابه) وډار کړه او هغو کسانو ته زیری ورکړه (کوم) چې (په تا باندې) ایمان راوړي، (داسې زیری) چې یقیناً د دوی دپاره د دوی د رب ﷻ (پالونکي) په نزد رښتیانی لوړ مراتب دي.

(د ذکر شوي تعجب د کبله) کافران وایي چې بې شکه دا (نوموړی سړی) ښکاره جادوګر دی.

## شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله نبي کریم ﷺ په نبوت باندې سرلوړی شو نو مشرکانو ترې انکار وکړ چې: «اَللهُ أَعْظَمُ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ رَسُوْلُهٗ بَشَرًا مِثْلَ مُحَمَّدٍ» فَأَنْزَلَ اللهُ [۱] یعنې د الله ﷻ شان د دې څخه لوړ دی چې د ده ﷻ لېږلی شوی دې د محمد (ﷺ) غوندې یو بشر (انسان) وي (چې پلار یې لا په وړوکتوب کښې وفات شوی دی). نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۷۹؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۳۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

دا ایتونه د هغو ایتونو سره په کومو باندې چې وړاندېنی سورت (التوبة) تمام شوی دی ډېر قوي ارتباط لري، لاندې وضاحتونه ولولئ:

۱_ هلته د منافقانو په عادتونو کښې دا هم شمېرل شوې وه چې کله د قرآن کریم کوم سورت نازل شي نو دوی ورپورې ملنډې وهي او خپل خانونه ترې په څنګوي.

دلته د یو پلوه په هغوی باندې رد نازل شوی دی چې د قرآن کریم هر یو سورت د حکمتناک کتاب یوه برخه ده، ملنډې وهل ورپورې بې عقلي ده، او د بله پلوه د مشرکانو د ملنډو یو مثال ښودل شوی دی چې د قرآن کریم ته د جادو او راوړونکي ته یې د جادوګر لقب ورکوي.

۳_ هلته د پیغمبر ﷺ په صفاتو کښې د ﴿ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ ﴾ کلمه نازله شوې وه او دلته همدغه کلمه تفسیره شوې ده چې مراد ترې یوازې عرب یا یوازې قریش نه دي بلکې مراد ترې ټول انسانان دي. نو ځکه دلته دا جمله نازله شوه چې: ﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ ﴾. نو حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

د قرآن کریم د نورو سورتونو غوندې دا سورت _چې د الله ﷻ په نامه سره پیل شو_ هم د هغو حروفو څخه جوړ دی د کومو څخه چې د خلکو کلمات او کلامونه جوړ دي. د دې سورت "الف، ل، ر" د هغوی د "الف، ل، ر" څخه هیڅ فرق نه لري خو د دې سره‌سره په دې سورت کښې چې کوم د حکمت څخه ډک مضامین ځای په ځای شوي دي د هغو یو بڅری هم د خلکو په خبرو کښې نه لیده کېږي.

خلکو ته په کار وه چې د همدغه بې ساري اعجاز څخه یې استفاده کړې وی او ایمان یې ورباندې راوړی وی، مګر دوی برسېره په دې چې ایمان پرې نه راوړي انکار ترې کوي او دا خبره ورته عجیبه او نا ممکنه برېښي چې مونږ د همدوی د جملې څخه یوه سړي ته داسې وحې وکړه چې:

۱_ د الله ﷻ د عذابه خلک وډار کړه چې د غفلت د خوبه راببدار شي او د الله ﷻ په وحدانیت قایل شي.

۲_ او هغو خلکو ته کوم چې په تا باندې ایمان راوړی زیری ورکړه چې: دوی ته د الله ﷻ په نزد لوړې درجې او ربښتیانی مرتبې تیارې کړی شوي دي او د دوی ورتګ ته انتظار باسي.

یا په بل عبارت: ایا دا څه د تعجب خبره ده چې مهربان الله ﷻ د خپل ربوبیت او مهربانی د کبله خپلو بندګانو ته د یوه بنده په لاس د ښو او بدو د پېژاندلو دپاره یو قوي او ربښتیانی قانون ورنازل کړي. څو د هغه په رڼا کښې د دنیا او آخرت سعادت حاصل کړي؟

دا هیڅ د تعجب خبره نه ده خو ناشکره انسانان د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري کوي او په ذکر شوي وراستولي شوي بنده باندې د جادو ګر نوم ږدي، چې دا ډېر څرګند جادوګر دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د قرآن کریم په القابو کښې یو لقب حکیم دی. دا لقب د لاندې وجهو د کبله ورکړی شوی دی:
الف: چې د حکمت خاوند دی[۱]. لکه څنګه چې په عربي ژبه کښې هغه چاته "تامر" وایي کوم چې د خرماوو (کجورو) خاوند وي.
ب: چې دا هغه اقدس ذات ﷻ نازل کړی دی چې هر یو کار یې د حکمت څخه ډک دی. د دې نظیر په عربي ژبه کښې دا دی چې د ډېر عابد سړي په هکله دوی وایي چې: "لَيْلُهُ قَائِمٌ وَنَهَارُهُ صَائِمٌ"[۲]
یعني د هغه شپه ولاړه ده او ورځ یې روژه ده.
نو دلته یې د معنی حاصل یې داسې راوځي چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې رالېږلی شوی کتاب یې حکیم دی. یعني الله ﷻ حکیم (د حکمت خاوند) دی.
ج: چې دا محکم (ثابت) کتاب دی[۳] الله ﷻ بل کتاب نه نازلوي چې دا پرې د خپله ځایه وښوروي او منسوخ یې کړي، لکه څنګه یې چې پخواني کتابونه په دې کتاب باندې منسوخ ګرځولي دي.

## تعجب څه ته وایي؟

۲ـ تعجب د هغه حالت څخه عبارت دی کوم چې سړي ته د نا اشنا شي په لیدلو سره وردمخه کېږي[۴]. د قرآن کریم څخه د وخت مشرکان د لاندې وجوهو د کبله په تعجب کښې ولوېده[۵]:
الف: دا عجیبه کار دی چې الله ﷻ خپل رالېږلی شوی بنده انسان وګرځوي، که الله ﷻ د خلکو د هدایت دپاره څوک رالېږلی نو هغه به ضرور پرښته وي.
ب: که بالفرض خپل استازی یې د انسانانو څخه رالېږلی نو هغه به ضرور په قوم کښې یو غټ سړی وي. ایا د محمد ﷺ څخه په غیر ـ چې د ابو طالب په غېږ کښې د یتیم په توګه غټ شوی دی ـ بل څوک نه وه چې په ذکره شوې وظیفه باندې یې ټاکلی وي.

### تبصره

۳ـ زمونږ په نزد په دې مقام کښې چې د کفارو د تعجب کومې وجهې ته اشاره شوې ده هغه به دا وي چې انسانانو ته خو الله ﷻ عقل ورکړی دی چې خپل خیر او شر پرې سنجولی شي نو عجیبه ده چې د عقل دپاسه ورته پیغام رسوونکی هم رالېږي چې دا کوئ او دا مه کوئ.
مونږ څکه په دې مقام کښې د تعجب دپاره ذکره شوې وجهه غوره کړه چې راتلونکی متصل ایـ شریف ورباندې دلالت کوي، چې هلته به ـ ان شاء الله ﷻ ـ واضحه شي، چې بدون د شریعته تنها په

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۵۹؛ لسان العرب ج۱۲ ص۱۴۰
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۹؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۸۹
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۴؛ لسان العرب ج۱۲ ص۱۴۱
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۳۴
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عقل سره د دنیا او آخرت مشکلات نه شي حل کېدلی نو هم پیغمبر ته ضرورت دی او هم اسماني کتاب ته اړتیا ده.

اما د مشرکانو د تعجب دا وجهه چې ولې پرښته نازله نه شوه، په [الأنعام:۸] ایت شریف کښې جوابه شوې ده. او د تعجب دا وجهه چې الله ﷻ دا پیغام ولې د یوه قومي مشر په لاس را ونه لېږه په ﴿ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ﴾ [الزخرف:۳۲] کښې جوابه شوي ده. یعنې ای پیغمبره! ایا د الله ﷻ د رحمت وېشل د دوی په لاس دي چې دا دې پیغمبر شي او دا دې نه شي.

## "قَدَمَ صِدْقٍ" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ قَدَمَ صِدْقٍ ﴾ کښې اصلاً موصوف خپل صفت ته مضاف شوی دی[۱] چې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د الله ﷻ په نزد مؤمنانو ته رښتیني او صادق قدم ساتلی شوی دی.

په عربي ژبه کښې دا عادت شته چې د مدحې او توصیف دپاره د صدق کلمه استعمالوي لکه "مُدْخَلَ صِدْقٍ، مُخْرَجَ صِدْقٍ" یعنې نیک ننوتل او نیک وتل.

پاتې شوه دا خبره چې "قَدَم" څه شی دی؟ نو په دې کښې مفسرینو کرامو زښتې ډېرې معناوې کړې دي چې تقریبًا اوو معناوو ته رسېږي[۲] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: صالح او نېک عملونه چې وړاندې یې استولي وي[۳].

ب "قَدَم" خو اصلا د مخصوص اندام څخه عبارت دی، چې په پښتو کښې ورته پښه وايو، خو څرنګه چې وړاندې تلل او د نورو څخه مخکې کېدل په پښو پورې ارتباط لري، چې سړی ګړندی لاړ شي، نو په کنایې توګه په وړاندوالې کښې استعمالېږي[۴].

د دې نظیر دا دی چې په جاسوس باندې په کنایې ډول سره د "عین" اطلاق کېږي دا ځکه چې د جاسوسۍ دپاره د سترګو څخه ډېر کار اخستل کېږي.

ج: ځینې علماء کرام وايي چې د ﴿ قَدَمَ صِدْقٍ ﴾ څخه د نبي کریم ﷺ شفاعت مراد دی[۵]، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أَنَا فَرَطُكُمْ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ»[۶] زه ستاسو په وړاندې ستاسو دپاره د ضروریاتو پوره کوونکی یم یعنې زه ستاسو شفاعتګر یم. "فرط" د کلمې معنی د [الأنعام:۴۸] ایت لاندې ښه مشرحه لیکلې شوې ده، والحمد لله ﷻ.

د: خو زمونږ په نزد د ﴿ قَدَمَ صِدْقٍ ﴾ ډېره ښه په زړه پورې معنی هغه ده کومه چې د لاندې حدیث شریف څخه څرګندېږي:

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۶۲
(۲) زاد المسير ج۴ ص۵
(۳) المحرر الوجيز ج۹ ص۵؛ تفسير الطبري ج۱۱ ص۸۲
(۴) تفسير القاسمي ج۹ ص۶
(۵) تفسير الخازن ج۳ ص۲۲۶
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «نَحْنُ الآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا»[1] يعني مونږ (په دنيا کښې) وروسته ياستو خو د قيامت په ورځ وړاندې (اول نمرګان) يوو، په غير د دې څخه چې دوی (يهود او نصاراوو) ته زمونږ څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! او ته مؤمنانو ته زيري ورکړه چې: د دوی دپاره د پروردګار ﷻ په نزد لوړې او ښتنې مرتبې او درجې دي چې نور خلک هغو ته نه شي رسېدلی، که څه هم دوی په پخوانيو کتابو باندې ايمانونه راوړي وي او په خپل وخت کښې مؤمنان وي.

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾﴾

[۳] يقيناً ستاسو رب ﷻ چې دی هغه الله ﷻ دی چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړې دي بيا يې په (لوی) عرش باندې (د خپل شان سره مناسب) استقرار نيولی دی (او د ټولو علوياتو او سلفياتو اداره يې په خپله قبضه کښې اخستې ده چې لږ تفصيل يې دا دی):

(روزمره) د (هر) کار تدبير (پخپله) کوي (د چا څخه مشوره نه غواړي او نه يې مشورې ته اړتيا شته).

(برسېره په دې، د کارونو په تدبير کښې ده ﷻ ته) هيڅ شفاعتګر نشته مګر د ده ﷻ د اجازې څخه وروسته. دا الله ﷻ ستاسو رب ﷻ دی نو د همده ﷻ عبادت وکړئ. نو ايا تاسو (د ذکر شوي بيان څخه) عبرت نه اخلئ؟ (بايد چې عبرت ترې واخلئ).

[۴] خاص الله ﷻ ته ستاسو ټولو بېرته ورستنېدل دي (الله ﷻ وعده کړې ده) د الله ﷻ حقه (ښتيا) وعده.

يقيناً الله ﷻ اول خل پيدا کول کوي بيا يې اعاده کوي (دوهم خل پيدا کول د دې دپاره کوي) څو هغو کسانو ته په انصاف سره (نېکه) جزا ورکړي چا چې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي.

او هغه کسان چې کفر يې اختيار کړی وي نو دوی لره د ګرمو اوبو څښل او دردناک عذاب د دې کبله دی چې دوی (په دنيا کښې) وه چې کفر يې غوره کاوه (او سمه عقيده يې نه درلوده).

[1] صحيح البخاري ج۱ ص۱۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په دې ايتونو کښې د هغه تعجب د رد وجوهو ته اشاره شوې ده په کوم کښې چې مشرکان د دې کبله واقع شوي وه چې د الله ﷻ د پلوه د انسانانو د هدايت دپاره انسان پيغمبر راغلى دى.

## د مطلب خلاصه

يعنې اى پيغمبره! د الله ﷻ د پلوه هغه تعجب کوونکي انسانان لاندې ټکو ته متوجه کړه کوم چې ستا د رسالت څخه په تعجب کښې لويدلي دي او تا باندې د جادوګر نوم ږدي:

۱ـ اى د رسالت څخه منکرو انسانانو! يقينًا ستاسو پالونکى او تربيه کوونکى بلکې د نشت څخه پيدا کوونکى هغه الله ﷻ دى چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړي دي.

يا په بل عبارت: ستاسو پيدا کوونکى د ټولې دنيا پيدا کوونکى دى چې په خپل اختيار سره يې د پيدا کولو دپاره فقط شپږ ورځې ټاکلې وې، که نه نو ټوله دنيا يې په يوه آن کښې هم پيدا کولى شوه، خو د همغو حکمتونو په بنياد يې ذکر شوي عدد ته تخصيص ورکړ د کومو په تفصيل باندې چې پخپله د بر بنه پوهېږي.

۲ـ د پيدا کولو څخه وروسته يې ټوله دنيا بې ادارې پرېښنبودله بلکې په عرش العظيم باندې يې هغسې استواء وکړه کومه چې د همده ﷻ د شان سره مناسبه ده.

يا په بل عبارت: د دنيا ټول روزمره کارونه يې هم په خپله اراده کښې وساتل، داسې يې ونه کړه او نه ورسره مناسب وه چې مخلوقات يې فقط پيدا کړي وى او د روزمره کارونو اداره يې په خپل قدرت کښې نه وى اخستې. که بالفرض داسې يې کړي وى نو بيا به ستاسو دپاره د شرک کولو څه بهانه جوړه شوې وى چې هغه کار فلانې بوت وکړ او دغه کار فلانى بوت کوي.

لنډه دا چې الله ﷻ لکه څنګه چې د دنيا په پيدا کولو کښې واحد لا شريک دى همدارنګه په روزمره کارونو کښې هم ورسره هيڅوک او هيڅ شى اشتراک نه لري. نو د همدې کبله په عبادت کښې هم ورسره شريک نشته.

۳ـ الله ﷻ (ستاسو رب) لکه څنګه چې په عالمي تدبير او تخليق کښې چاته برخه نه ده ورکړې همدارنګه يې په شفاعت کښې هم څوک برخوال نه دى ګرځولى چې د الله ﷻ په نزد شفاعت وکړي او د يو شي د موجوديت سبب جوړ شي. هو! که الله ﷻ چاته د شفاعت کولو اجازه ورکړي نو هغه بېله خبره ده.

۴ـ اى انسانانو! ستاسو رب دغه الله ﷻ دى، ايا اوس مو وپېژانده؟ که پېژاندلى مو وي نو خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ، پيغمبر يې ومنئ او د جادوګر نوم وربانديې مه ږدئ.

۵ـ ايا تاسو نو د ذکر شوي مضمون څخه عبرت نه اخلئ؟ ايا دا خبره به هوښيار سړى ومني چې الله ﷻ دې په اسمانونو او ځمکو کښې يو بې مثاله نظام قائم کړى وي خو د انسانانو د ژوند دپاره

Scanned by CamScanner

دي ده ﷻ نه پیغمبر رالیږلی وي او نه دې ده ﷻ د دوی دپاره د یو منظم کتاب د رالیږلو تدبیر نیولی وي؟!.

لنډه دا چې د پیغمبر رالیږل د تعجب خبره نه ده بلکې د تعجب خبره به دا وی چې که بالفرض الله ﷻ د انسانانو د هدایت دپاره نه کتاب رالیږلی وی او نه یې د پیغمبرانو سلسله جاري کړې وی.

۶_ ای انسانانو! لکه څنګه چې الله ﷻ تاسو پیدا کړي یاست ستاسو عقلونه هم د الله ﷻ مخلوق دي، تاسو خپل عقلونه دومره نه پیژنئ لکه څومره یې چې الله ﷻ پیژني. الله ﷻ ته معلومه ده چې د شریعت د لاس نیوي څخه په غیر عقل پوره کار نه شي ورکولی او خپلې دنیاوي چارې نه شي سنبالولی.

۷_ په دې باندې علاوه، الله ﷻ خو دنیا عبثه نه ده پیدا کړې بلکې د دې دنیا په تعقیب یې بله دنیا هم ټاکلې ده چې هلته به تاسو ټول د الله ﷻ په حضور کښې ودرول کېږئ. دا کار ضرور راتلونکی دی او کومه کوز او پاس خبره پکښې نشته.

که بالفرض تاسو ته بیا ژوندي کېدل نه کیدونکي ښکاري نو په خپل لومړني پیدایښت کښې سوچ وکړئ، چا چې هغه کار کړی دی همغه اقدس ذات ﷻ دا کار هم کولی شي او په حقه باندې یې د کولو وعده کړې ده.

دغه ورځ برسېره پر دې چې الله ﷻ یې د راتللو وعده کړې ده د هوښیار سړي عقل یې هم ضروري بولي ترڅو هلته د دنیا ټول کړه وړه تصفیه شي او ښکه یا بده نتیجه پرې مرتبه شي. که بالفرض د دنیا په تعقیب بلې دنیا د حساباتو د تصفیه کولو دپاره موجودیت نه درلودی نو د اسمانونو او ځمکو پیدا کول به د عبثیاتو څخه په غیر بل شی نه وی.

دا ورځ ضرور ده ترڅو مؤمنانو صالحانو ته یا انصافه ښکه جزا ورکړه شي او هغه کسان چې کفر یې اختیار کړی دی د کفر له امله د ګرمو اوبو او د دردناک عذاب په ورکولو باندې اخته کړی شي.

اوس نو پو ښتنه دا ده چې ایا عقل د هغې بلې دنیا د خوبنی او ناخوبنی لارې چارې د شریعت د لاس نیوي څخه پرته درک کولی شي؟ (عقل یې د درک څخه عاجز دی) نو معلومه شوه چې هم اسماني کتاب ته ضرورت شته او هم د پیغمبرانو را استول ضرور دي.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق سره د [الأعراف:۵۴] ایت لاندې دغه کلمات ﴿ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ ښې پوره شرحه کړې دي، چې بیا لیکل یې دکتاب د اوږدولو څخه په غیر څه ګټه نه لري، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## تدبیر څه معنی؟

۲_ په ﴿ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ﴾ کښې ﴿ يُدَبِّرُ ﴾ کلمه د "تَدْبِیر" څخه اخستله شوې ده، "تَدْبِیر" خو اصلاً

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دیته ويل كېږي چې څوک د يوه شي په عواقبو او نتائجو كښې،سنجش وكړي او په داسې طريقه باندې يې جوړ كړي چې ښه نتيجه وركړي او څه خلل پكښې پېښ نه شي[1].

نو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې كېږي چې: الله ﷻ لكه څنګه چې اسمانونه او ځمكې په شپږو ورځو كښې په پوره دقت سره پيدا كړې دي او كوم كيفيتونه او شكلونه چې پكښې ضرور او مناسب وه هغه يې پكښې ټول د نظر لاندې نيولي دي، همدارنګه روزمره كارونه هم په ډېر دقت او د ټاكلې شوي خط السير په مطابق ترسره كوي، نه يې چاته د پيدا كولو اختيار وركړى دى او نه د چا څخه مشوره غواړي، حتى هيڅوک بدون د قبلي اجازې څخه په شفاعت باندې هم خوله نه شي ښوروللی.

نو ايا دا د تعجب خبره ده چې د خپل ټاكلي تدبير او تقدير په مقتضى يې د انسانانو د هدايت دپاره د همدوى د جملې څخه ځينې انسانان د نبوت په لوړ منصب باندې سرلوړي كړي وى؟.

## د دوهمې دنيا د ثبوت عقلي دلايل

۳ـ ځينو مفسرينو كرامو[2] د دوهمې دنيا (د آخرت) د ثبوت او ضرورت دپاره زښت ډېر مثالونه او زښت ډېر عقلي دلايل ليكلي دي، كه څوک وخت لري او نظر پرې واچوي نو بې ګټې به پاتې نه شي مونږ د اوږدوالي د كبله دلته رانقل نه كړه.

﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ إِنَّ فِى ٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴿٦﴾ ﴾

[۵] دا (الله ﷻ) هغه اقدس ذات دى چې لمر يې روڼ (پرقيدونكى) ګرځولى (جوړ كړى) دى او سپوږمۍ يې روښانه (جوړه كړې) ده او (بالآخره) د هر يوه دپاره يې منزلونه د دې دپاره په اندازه كړي دي چې تاسو د كلونو په شمېره او (هم) په حساباتو باندې پوه شئ.

الله ﷻ دغه (ټول شيان) نه دي پيدا كړي مګر په حقه سره (چې د حكمتونو څخه ډک دي او عبث نه دي). الله ﷻ (خپل) ايتونه (دلايل) د داسې قوم دپاره تفصيلوار بيانوي چې هغوى پوهېږي (د خپلې پوهې څخه كار اخلي او كائناتو ته په سرسري نظر نه ګوري).

[۶] يقينًا د شپې او ورځې په بدلون (رابدلون) كښې او (په) هغه شي كښې چې الله ﷻ په اسمانونو او ځمكو كښې پيدا كړي دي (لكه ستوري او معدنونه) د داسې قوم دپاره چې پرهېزګاري كوي (د خپل ځان د نجات غم ورسره وي) ضرور لوى دلايل (پټ) دي (هرڅوک چې د خپل ځان د

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۶۵
(۲) التفسير الكبير ج۱۷ ص۱۶_۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نجات په غم کښې نه وي او هم يې خپل استعداد د خاورو سره برابر کړی وي نو هغوی ترې استفاده نه شي کولی).

## ارتباطونه

۱ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تائید شوی دی چې د پیغمبرانو علیهم السلام استول څه د تعجب خبره نه ده لکه څنګه چې په دنیا کښې د لمر او سپوږمۍ پیدا کول څه تعجبي کار نه دی.

۲ـ هلته الله ﷻ د ﴿يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ﴾ جمله نازله کړې وه او دلته د الهي تدبیر څه نور مثالونه ښودلی شوي دي. ته به وایې چې دا ایتونه د هغو ایتونو دپاره د تفسیر په توګه نازل شوي دي.

۳ـ د هغو ایتونو څخه د الله ﷻ په وجود او وحدانیت باندې دلایل څرګندېدل او دلته په همدغو مطالبو باندې په څو نورو طریقو سره قاطع دلایل اقامه شوي دي، چې حاصل یې داسې راووځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په مشرکانو باندې (چې د نبوت، کتاب او هم د آخرت څخه منکر دي) لاندې دلایل قرائت کړه:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې لمر ته یې پرقبدونکې رڼا ورکړې ده چې په راختلو سره یې ورځ جوړېږي، او سپوږمۍ یې هم روښانه پیدا کړې ده چې رڼا یې د لمر څخه کمه ده.

که بالفرض لمر او سپوږمۍ یې نه وی پیدا کړې نو ټوله دنیا به تپه (توره تیاره) وی او د سکونت وړ به نه وی. همدارنګه که لمر ته یې د سپوږمۍ په اندازه رڼا ورکړې وی او یا یې د سپوږمۍ رڼا د لمر د رڼا اندازې ته رپورته کړې وی نو هیڅا به شپه او ورځ سره یو تربله نه وی پېژاندلی او د دنیا ډېر مصالح به نه وی اجرآء شوی.

۲ـ په دې باندې علاوه، د هر یوه (لمر او سپوږمۍ) دپاره یې منازل ټاکلي دی او د تګ راتګ دپاره یې ورته تګلاره په اندازه کړې ده، څو تاسو په لاندې مقاصدو باندې پوه شئ:

الف: د کلونو په شمېر باندې پوه شئ او د کال دولس میاشتې او هم د کال څلور فصلونه درته معلوم شي، څو تاسو وکړی شئ چې د هر وخت دپاره خپل ځانونه عیار کړئ.

ب: چې د خپلو حساباتو دقیق سنجش وکړی شئ او د خپلو عباداتو او معاملاتو وختونه درته څرګند شي.

لنډه دا چې د لمر او سپوږمۍ د رڼاګانو په کیفیت او کمیت کښې بې شمېره او بې انتهاء مطالب پټ دي. دا ځکه چې الله ﷻ څو ذکر شوی تفاوت عبث نه دی پیدا کړی بلکې زښت ډېر حکمتونه یې پکښې نغښتي دي، مګر هغه څوک به پرې پوهېږي کوم چې د لمر او سپوږمۍ په حالاتو کښې دقت کوي او د رښتیاني تفکر خاوند وي.

ج: همدارنګه د شپې او ورځې په بدلون رابدلون کښې هم د متقیانو دپاره د الله ﷻ د وحدانیت قوي دلایل شته چې کله په شپه باندې د ورځې خای نیسي او کله ورځ د شپې خای ته انتقالوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حتی په ځینو ځایونو کښې د شپې تیاره جزونه د ورځې سره ضمیمه کوي او ورځ ورباندې اوږدوي او کله بالعکس د روښانه ورځې څه برخې د تیاره شپې برخې جوړوي او شپه پرې اوږدوي.

۳ـ برسېره په دې الله ﷻ په هغو شیانو کښې هم چې په اسمانونو او ځمکو کښې یې پیدا کړي دي زښت ډېر دلایل نغښتي دي. دغه څو مثالونه یې ولولئ:

الف: بې شمېره ستوري چې اسمان یې پرې هم ډولي کړی دی.

ب: کائنات الجو (هغه شیان کوم چې د اسمانونو څخه را لاندې په فضا کښې متحقق کېږي) لکه برېښنا او تندرونه او هم واورې او بارانونه او بالآخره وربخې او بادونه او داسې نور.

ج: دریابونه او معادن، نباتات او حیوانات او بالآخره غرونه او رغونه او داسې نور.

۴ـ نو ای انسانانو! که بالفرض الله ﷻ واحد لا شریک نه وی نو ذکر شوي کارونه به یو هم دغسې منظم نه وی چلېدلي لکه څنګه چې اوس چلېږي.

ښه نو کله چې الله ﷻ ستاسو د مادي ژوند دپاره لمر او سپوږمۍ په بېلو بېلو کیفیتونو باندې پیدا کړي دي او ستاسو مادي احتیاجات یې درپوره کړي دي، نو ایا د ده ﷻ سره به دا مناسبه وی چې ستاسو د دنیا او آخرت د هدایت دپاره یې پیغمبران نه وی درلېږلي او تاسو یې په توره تیاره کښې پرېښي وی؟ نه هیڅکله نه.

خو په یاد ولرئ چې د دغو روښانه دلایلو څخه هغه قوم ګټه پورته کولی شي چې په هغوی کښې د تقوی او پرهیزګارۍ استعداد د منځه نه وي تللی او د راتلونکي غم ورسره وي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ د توحید دلایل او هم د شپې او ورځې د بدلون ډولونه د [البقرة:۱۶۴] ایت لاندې ښه مشرح بیان کړی دی ـوالحمد لله ـ نو بیا شرحه کولو ته یې اړتیا نه ګورو. مګر ځینو مفسرینو کرامو[۱] په دې مقام کښې هم په عقلي توګه ښه پوره تفصیل ورکړی دی.

## د نور او ضیاء معناوې

۲ـ د ﴿ ضِيَآء ﴾ کلمه د "ضَوْء" څخه اشتقاقه شوې ده، علماء کرام د "ضَوْء" او "نُوْر" په هکله په لاندې ډول نسبتونو باندې قائل دي:

الف: ځینې وایي چې "ضَوْء" هغې رڼا ته ویل کېږي کومه چې د یوه شي د ذات څخه سرچینه اخلي او د بل شي څخه نه وي استفاده شوې او "نُوْر" د هغې رڼا نوم دی کومه چې د بل شي څخه استفاده شوې وي. څرنګه چې د لمر رڼا د بل شي څخه نه ده استفاده شوې نو په ضیاء سره ترې تعبیر وکړی شو او د سپوږمۍ رڼا د لمر څخه استفاده کېږي نو ځکه ترې په "نُوْر" سره تعبیر وکړی شو.

مګر ذکره شوې استفاده د حکماوو په نزد تحقق مومي او په شریعت کښې چندان اعتبار نه لري[۲].

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۳۳

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ځینې وایي چې "ضَوْء" هغې رڼا ته ویل کېږي چې سوچه وي او کمال ته رسېدلې وي اما "نُوْر" د هغې رڼا نوم دی چې نواقص ولري(۱) نو د کومې رڼا سره چې لږ څه تیاره ملګرې وي، لکه د ماښام د وخت رڼا، په هغې باندې د "نُوْر" اطلاق کېږي خو "ضَوْء" ورته نه شي ویلی.

مګر دا قول هم چندان مزه ناک نه دی او دا ځکه که داسې وي نو په کار وه چې د ورځې په رڼا باندې، چې کامله رڼا ده د "نُوْر" اطلاق جائز ونه ګڼلی شي حال دا چې داسې نه ده.

ج: نو بهتره دا ده چې د (ضَوْء، نُوْر) دواړو کلمو ترمنځ عموم خصوص مطلق شي چې د "نُوْر" اطلاق په هره یوه رڼا باندې کېږي برابره خبره ده چې کامله رڼا وي او که خچنه، اما "ضَوْء" هغې رڼا ته ویل کېږي چې کامله وي او نواقص ونه لري(۲).

نو څرنګه چې د لمر حجم د ځمکې څخه (۱۶۴) کرته غټ دی(۳) او رڼا یې ښه پوره تېزه ده نو دلته د ﴿ ضِيَآء ﴾ کلمه استعماله شوه چې د "ضَوْء" څخه اخستله شوې ده. اما سپوږمۍ نه په حجم کښې لمر ته رسېدلی شي او نه ورسره په روښانتیا کښې سیالي کولی شي نو ځکه د دې د رڼا څخه په "نُوْر" سره تعبیر وکړی شو. او دا ځکه چې په جزئیاتو باندې د عام اطلاق کېږي، لکه چې په انسان باندې د حیوان تحمیل صحت لري چې ووایې "الإِنْسَانُ حَيْوَانٌ" یعنې انسان حیوان دی.

## یادونه

۳ــ که څوک غواړي چې د شمسي کال او د قمري کال د ورځو اندازې او نور مربوط مسائل ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(۴) چې ښه پوره تفصیل یې ورکړی دی.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَٱطْمَأَنُّواْ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنْ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ۝٧ أُوْلَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ۝٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهْدِيهِمْ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمْ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٩ دَعْوَىٰهُمْ فِيهَا سُبْحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ وَءَاخِرُ دَعْوَىٰهُمْ أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝١٠ ﴾

[۷] یقینًا هغه کسان چې زمونږ سره د ملاقات (بیا ژوندي کېدلو) څخه نه دارېږي او په نژدې (خسیس) ژوند باندې راضي (خوشاله) وي او (هم) په همدې باندې مطمئن وي (چې بل ژوند نشته)

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۲۹
(۲) مفردات الراغب ص۵۰۳
(۳) البحر المحیط ج۶ ص۱۴
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۶۸، ۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (بالآخره) هغه کسان چې دوی زمونږ د ایتونو څخه غفلت کوونکي وي.

[۸] دغه (ټول چې دي) د دوی استوګنځای د هغه څه (کفر) په سبب اور دی چې دوی دي چې کسب کوي یې.

[۹] (او بالمقابل) یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي نو د دوی رب ﷻ به دوی ته د خپلو ایمانونو په سبب باندې (د جنت لاره) وښایي. (داسې جنت چې) د دوی څخه لاندې (د دوی په وړاندې) به (ځلور) ویالې بهېږي، د نعمتونو په جنتونو کښې به (د دوی استوګنه) وي.

[۱۰] په جنت کښې د دوی (جنتیانو) وینا دا (جمله) ده چې: ای الله! تاته (د ټولو نواقصو څخه) پاکي ده. او (هم) په جنت کښې د دوی (یو بل ته) تحفه د "سَلام" کلمه ده (چې په تاسو باندې دې سلام وي) او (بالاخره) د دوی وروستنۍ وینا (چې خپل مجالس به پرې ختموي) دا (جمله) ده چې: "أنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" (یعني یقیناً شان دا دی چې ټولې ستاینې الله ﷻ لره مختصې دي چې د ټولو عالمونو رب دی).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د خپل وحدانیت، د نبي کریم ﷺ د رسالت او بالآخره د قیامت د ورځې د حقانیت او ضرورت دلایل اقامه کړه نو په دې ایتونو کښې یې د خلکو عکس العمل او د عکس العمل نتائج په ډاګه کړي دي چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د دلایلو د اقامه کولو څخه وروسته اوس د خلکو غبرګون قرائت کړه چې د دلایلو په مقابل کښې په لاندې دوه ګروپونو وېشلي شوي دي:

۱ـ یقیناً په خلکو کښې داسې خلک شته چې د عقل څخه کار نه اخلي او د دلایلو په مقابل کښې د لاندې صفاتو درلودونکی جوړېږي:

الف: دوی په خپلو کفریاتو او شرکیاتو باندې کلک دي چې نه ورسره د آخرت غم شته او نه ترې ډارېږي او بالآخره نه د دې تمه ورکول قبلوي چې د الله ﷻ سره به ملاقي شي.

ب: دوی په دنیا باندې خوشاله دي او په دې باندې راضي دي چې د آخرت په عوض هم د فاني دنیا څخه استفاده وکړي، حتی د بلې دنیا په موجودیت باندې عقیده نه لري.

ج: دوی په دنیاوي ژوند باندې مطمئن دي چې فقط همدغه ژوند دی، د مرګ څخه وروسته نه بله دنیا شته او نه نعمتونه موجودیت لري. په دغې مفکوره باندې دومره کلک دي چې په خپل خط السیر کښې ورته اقلا شک قدرې هم نه لوېږي او په ډاډه زړونو یې په دنیا منګولې خښې کړې دي.

د: نو د همدې کبله د حقائقو دلایلو ته هیڅ التفات نه کوي او دومره ترې غافل دي چې ته به وایې چې دلایل به په دوی باندې بالکل نه وي قرائت شوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ نو ای پیغمبره! د ذکر شوي طرز العمل نتیجه دا ده چې: نوموړی ګروپ دوزخیان دي، دوزخ یې خپلو ځانونو ته پخپله ګټلی دی چې دلایل یې د پښو لاندې کړي دي.

٣_ بالمقابل په خلکو کښې داسې خلک هم شته چې په ذکرو شوو څلور ګونو صفاتو کښې د ذکر شوي ګروپ په خلاف دي، چې د شرکیاتو څخه ځانونه ساتي او د دنیا څخه د متاع البلاغ (آخرت ته د رسېدلو ذریعه) کار اخلي او هم یې په دنیا باندې زړونه نه دي تړلي او دلایلو ته په سر سري نظر نه ګوري. لنډه دا چې د ایمان سره یې نېک اعمال هم ملګري کړي دي.

نو دغه ګروپ ته الله ﷻ د لاندې نعمتونو وعدې ورکوي:

الف: یو دا چې دوی ته به الله ﷻ د ایمان په سبب هدایت او لارښوونه وکړي؛ چې په دنیا کښې به توفیق ورکړي او د ګمراهیو څخه به یې په امن کښې وساتي او په آخرت کښې به د همدغه ایمان په برکت د جنت لاره وروښایي، خپل جنتي کورته به داسې برابر ورځي ته به وایې چې یو ځل یې پخوا لیدلی وه.

ب: په دغه جنت کښې په نورو نعمتونو باندې دپاسه به دا نعمت هم دوی ته حاصل وي چې دوی به په تختونو باندې ناست وي او په وړاندې به یې څلور ډوله ویالې (لښتې) بهېږي.

ج: په دې باندې علاوه، د جنتیانو ټول مجالس به د الله ﷻ په یادو او تسبیحاتو او تحمیداتو باندې مشتمل وي. نو د وېناګانو دغه بېلګې یې ولولئ:

اول: دوی به په جنت کښې په انفرادي حالاتو کښې د خپل رب ﷻ په تسبیحاتو باندې مشغول وي او همدا جمله به یې په خولو وي چې: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ" یعنې ای زمونږ ربه! ای زمونږ الله او زمونږ معبوده! یوازې او همدا تاته د هر عیب او هر نقصان څخه پاکي ده، ستا په وعدو کښې خلف نشته او ته به په وعدو کښې بې وفایي نه کوې.

دوهم: بیا چې کله جنتیان یو د بل سره ملاقي کېږي نو یو به بل ته د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" او "وَعَلَيْكُمُ السَّلَام" جملې د تحفو په توګه تبادله کوي او د دنیا شرعي دستور به هلته بیا بیا تازه کوي.

دریم: د جنتیانو په مجالسو کښې به سپکې سپورې خبرې نه وي او هم به پوچې او چټې خبرې خولو ته نه ورځي او بالآخره د دوی ټول مجالس به د مینې او محبت څخه نمایندګي کوي او یو به د بل څخه جارېږي.

څلورم: د دوی د مجالسو اختتام به هم په بې معنی او عبثو خبرو باندې نه وي بلکې دوی به خپل مجالس په دې جمله باندې ختموي چې: "الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" یعنې ټولې ستاینې د الله ﷻ سره ښایي او همده ﷻ پورې مختصې دي چې د ټولو عالمونو پالونکی او تربیه کوونکی دی.

## توضیحات

١_ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ﴾ جمله کښې د ﴿ لَا يَرْجُونَ ﴾ کلمه د "رجاء" څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخستله شوې ده. "رجاء" دې ته ویل کېږي چې سړی د یوه داسې شي په حصول باندې ګومان وکړي چې په هغه کښې خوشالي وي(۱)، چې مونږ ترې په پښتو کښې په "امید" سره تعبیر کوو.

څرنګه چې د ګومان سره د دې خبرې خوف (ډار) ملګری وي چې ذکر شوی د خوشالۍ شی فوت شي او خوشالي لاس ته ور نه شي، نو د هرې رجاء سره خوف لازم دی. د همدې کبله د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه د ذکرې شوې جملې په تفسیر کښې روایت شوی دی چې: «لا يَخَافُوْنَ الْبَعْثَ»(۲) یعنې هغه خلک چې الله ﷻ سره د ملاقات (د قیامت د ورځې) څخه نه ډارېږي او ځانونه ورته نه چمتو کوي.

## ایمان د هدایت سبب دی

۲ـ مفسرینو کرامو د دې جملې ﴿ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡ ﴾ داسې تفسیر کړی دی چې الله ﷻ (د دوی رب ﷻ) به جنتیانو ته د ایمان په سبب د اوسېدانې ځایونه (جنتونه) وروښایي.

مګر مونږ ته څه لرې نه ښکاري چې هدایت (لارښوونه) عامه واخستله شي، برابره خبره ده چې په آخرت کښې وي چې هرڅوک به د خپلې اوسېدانې ځای ته داسې برابر ورځي لکه چې پخوا یې یو ځل لیدلي وي. او یا په دنیا کښې وي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَا ﴾ [العنکبوت:۶۹] یعنې او هغه کسان چې زمونږ په لاره کښې زیار وباسي (د ایمان په مقتضی عمل کوي) نو ضرور به مونږ دوی ته (د خپل دین) لارې وروښایو او توفیق به ورکړو.

## د جنتیانو لاندې ویالې بهېږي

۳ـ که څه هم د ﴿ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ ﴾ ضمیر جنتیانو ته راجع دی او د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د جنتیانو لاندې ویالې (لښتې) بهېږي، مګر مطلب پکښې دا دی چې د جنتیانو په وړاندې به څلور ویالې جاري وي چې د یو پلوه به یې شاوخوا تازه او ډولې کړي وي او د بله پلوه به د همدوی د تصرف لاندې وي. د ذکرې شوې جملې نظیر هغه جمله ده کومه چې الله ﷻ د فرعون د خولې څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ يَٰقَوۡمِ أَلَيۡسَ لِي مُلۡكُ مِصۡرَ وَهَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ تَجۡرِي مِن تَحۡتِيٓ ﴾ [الزخرف:۵۱] یعنې ای زما قومه! ایا د مصر پاچاهي زما نه ده؟ او ایا دغه ویالې زما نه دي چې زما څخه لاندې بهېږي (زما پرې تصرف جاري دی او زما ماڼۍ او زما د ناستې ځای یې ښائسته کړی دی)؟.

## تحیه څه معنی؟

۴ـ د "تَحِيَّةٌ" د کلمې تحلیل او تحقیق د [النساء:۸۶] ایت لاندې ښه مشرح تېر شوی دی ـ والحمد لله ـ بیا لیکلو ته یې ضرورت نه وینو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۹۵

(۲) زاد المسیر ج۴ ص۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵ـ كه څوك وايي چې په ﴿ دَعْوَىٰهُمْ ﴾ كښې د "دَعْوىٰ" كلمه خو حق غوښتلو ته ويل كېږي البته د هغه چا څخه چې د حق څخه انكار كوي. نو پوښتنه دا ده چې دلته خو ذكره شوې معنى صحت نه لري نو صحيح معنى يې كومه يوه ده؟

مونږ وايو چې: علماوو كرامو د ذكرې شوې كلمې په هغې معنى كښې ډېر وجوه ذكر كړي دي كومه چې په دې مقام كښې مراده ده چې تقريبًا اتو وجهو ته رسېږي[1]، لاندې څو مثالونه يې لوستلى شئ:

الف: ذكر شوې كلمه په دې مقام كښې د سوال معنى وركوي[2]. نو د ﴿ سُبْحَـٰنَكَ ٱللَّهُمَّ ﴾ او هم ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ جملې كه څه هم په صراحت سره سوالونه نه دي نو ضمني سوالونه خو دي. ځكه چې ټول بندګان الله ﷻ ته احتياج دي او د محتاج سړي د توصيفاتو څخه د سوالونو خوږه ورمه پورته كېږي.

ب: دغه كلمه د قول په معنى سره ده[3]، نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: د جنتيانو ويناګانې په تسبيحاتو او تنزيهاتو باندې پيل كېږي او په تحميداتو باندې اختتام مومي.

ج: دغه كلمه دلته د عبادت معنى وركوي[4]، نو حاصل يې داسې كېږي چې: د جنتيانو د عبادت يوه ببلګه دا ده چې په ﴿ سُبْحَـٰنَكَ ٱللَّهُمَّ ﴾ سره خپلې خبرې پيل كوي او په ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ باندې يې ختموي. البته چې د جنتيانو عبادت تكليفي عبادت نه دى بلكې د ملكو (پرښتو) غوندې تلذذي عبادت دى[5].

مونږ ته داسې برېښي چې د "دَعْوىٰ" څخه به "ما يطلق عليه الدعوىٰ" مرادوي. نو كومې معناوې چې علماوو كرامو د مثال په توګه ذكرې كړې دي هغه به پكښې ټولې شاملې وي، والله ﷻ اعلم.

## د ايتونو ارشاد

۶ـ د ايت شريف څخه د اشارې په توګه څرګندېږي چې بايد مونږ د هر كار او هر مجلس پيل د الله ﷻ په نامه باندې وكړو او حتى د "بسم الله الرحمن الرحيم" كلمات قرائت كړو، او په پاى كښې د ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ جمله ولولو، او كه په هغو درېوو ايتونو باندې يې ختم كړو په كومو باندې چې "الصّافّات" سورت ختم شوى نو دا به ډېره بهتره وي[6].

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۷ ص۴۳
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۲۵۷؛ مفردات الراغب ص۱۷۲
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۳۴۴
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۷۵
(۵) البحر المحيط ج۶ ص۱۹
(۶) تفسير القرطبي ج۸ ص۳۱۲، ج۱۵ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَوْ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسْتِعْجَالَهُم بِٱلْخَيْرِ لَقُضِىَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا
يَرْجُونَ لِقَآءَنَا فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١﴾ وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ
أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ
زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ ﴾

[۱۱] او که چېرته الله ﷻ خلکو (مشرکانو) ته شر (بدي) رسولی (البته کله چې دوی د بدۍ په غوښتنه باندې داسې جلتي وکړي) لکه چې دوی د خیر (خوشالیو) په غوښتلو باندې جلتي کوي، نو ضرور به دوی ته د خپل (مرګ او هلاکت) نېټه فیصله کړی شوې وی (او هلاک شوي به وی، خو الله ﷻ داسې نه کوي).

نو (د همدې کبله) مونږ هغه کسان په خپلو سرکشیو کښې پرېږدو چې زمونږ د ملاقات (قیامت د ورځې) څخه نه ډارېږي چې (ترڅو) پکښې سرګردانه وګرځي راوګرځي (او د نجات لاره مونده نه کړي).

[۱۲] او کله چې انسان ته څه ضرر (زحمت) ورسېږي نو مونږ (ورته په دوامداره توګه) بلي (او سوالونه راته کوي) په داسې حال کښې چې په خپل اړخ (باندې پروت) وي یا ناست وي او (بالآخره) یا ولاړ وي.

نو کله چې مونږ ترې (رسېدلی) ضرر لرې کړو (او نجات ورکړو) سمدستي داسې تېرېږي (خپله وضعه داسې اړوي) لکه چې مونږ ته يې د داسې يو ضرر د لرې کولو سوال نه وي کړی چې ده ته رسېدلی وه (پخوانی حال هېروي). دغه ډول مسرفانو (د شرعي حدودو څخه تېریدونکو) ته هغه (بې ثباتي او ناشکري) ښائسته کړی شوې ده چې دي دوی چې کوي يې.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته اشاره شوې وه چې د دلایلو څخه يوازې مؤمنان استفاده کوي اما کفارو د دلایلو د اورېدلو څخه وروسته هم خپل کفري خط السیر ته ادامه ورکړه او د دنیا خسیس ژوند پورې ونښتله. په دې ایتونو کښې د یوه پلوه د مشرکانو لجاجت او عناد ته اشاره شوې ده، چې په نه منلو باندې علاوه دوی د نبي کریم ﷺ د حقانیت په صورت کښې خپلو ځانونو ته د الله ﷻ څخه د عذاب نازلولو غوښتنه کوي، او د بله پلوه په عین غوښتنه کښې د دوی د پلمو څخه پرده پورته کړی شوې ده او دروغینه پلمه او بهانه يې په ډاګه کړی شوې ده چې شرحه يې راروانه ده.

۲_ دلته د هغې اشتباه جواب ورکړی شوی دی کومه چې د وړاندېنیو ایتونو څخه سړي ته ذهن ته ورتله. هغه دا چې کاشکې الله ﷻ ذکر شوي عنادیان کفار ټول هلاک کړي وی لکه چې دوی د خپلو ځانونو د هلاکت غوښتنه هم کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! عنادیان انسانان د الله ﷻ د قطعي دلایلو په مقابل کښې وجدانًا خپل ځانونه ملامته ګڼي مګر د زیات تعنت او لجاجت د کبله د عوام فریبۍ په موخه دا باطله فرضیه وړاندې کوي چې: که دا دلایل په واقعیت باندې ولاړ وي او څه چې وړباندې اثباتېږي هغه حقیقت لري نو په مونږ باندې دې الله ﷻ سمدستي عذاب نازل کړي او په اسماني کاڼو باندې دې مونږ رجم کړي. دوی په خپلې همدغې غوښتنې باندې دومره زور اچوي لکه څومره زور چې د خیر او خوشالۍ په غوښتنه باندې اچوي.

کله چې د دوی غوښتنه منظوره نه کړی شي او د دلایلو د واقعیت سره-سره د اسمانه پرې د کاڼو باران ونه ورېږي، نو عوامو ته وایي چې د کاڼو د نه ورېدلو وجه دا ده چې ذکر شوي دلایل په واقعیت باندې ولاړ نه دي که نه نو د کاڼو ورېدل ولې ټال شوه.

۲_ ای پیغمبره! مشرکان پوه کړه چې د عذاب د نه نازلېدلو وجهه دا نه ده چې دلایل واقعیت نه لري، بلکې وجهه یې دا ده چې الله ﷻ د عذاب په راښکته کولو باندې د لاندې حکمتونو په بنیاد تعجیل او تادي نه کوي:

الف: ترڅو خلکو ته ښه کافي فرصت ورکړی شي او د قیامت په ورځ اعتذار وړاندې نه کړی شي چې مونږ ته کافي وخت نه وه راکړی شوی چې د دلایلو په واقعیت کښې مو فکر کړی وی.

ب: ترڅو د دوی د نسل څخه ځینې نور خلک او نور زوزات وزېږېږي او هغوی د حقایقو په رڼا کښې د الله ﷻ په ارشاداتو باندې عقیده او عمل وکړي.

که دا وجې نه وی نو د عنادیانو کفارو د غوښتنې سره سم به په هغوی باندې عذاب نازل شوی وی او د ژوند وخت به یې ختم شوی وی.

د همدې کبله مونږ عنادیان کافران (چې دلایل د پښو لاندې کوي او د عقل څخه کار نه اخلي) پرېږدو چې په سرکشیو کښې سرګردانه وګرځي او د نجات لاره مونده نه کړي.

## د انسان بې ثباتي او ناشکري

۳_ دا د یو پلوه، او د بل پلوه انسان ښه پوره بې ثباته (بې صبره) او ناشکره دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: کله چې مونږ پر یوه انسان او خصوصًا پر هغه انسان کوم چې وړاندې فرضیه وړاندې کوي (چې که دا دلایل په حقیقت باندې ولاړ وي نو مونږ دې الله ﷻ په ګانو باندې هلاک کړي) څه عذاب ورنازل کړو او څه زحمت ورته ورسېږي نو په ډېرې بې صبرۍ او ډېرې وارخطایۍ سره مونږ ته سوالونه کوي او په هرحال کښې یې د سوال لاسونه پورته کړي وي، که ملاست وي او یا ناست وي او بالآخره یا ولاړ وي او یا په لاره باندې د حرکت په حال کښې وي، چې: ای ربّه! د دغه عذاب څخه نجات راکړې او د دغه زحمت څخه مې خلاص کړې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دغه وخت کښې به څوک ګومان ونه کړي چې دا به همغه سړی وي چې لږ وړاندې يې د الله څخه د خپل ځان دپاره د کانړو د باران غوښتنه کوله او په غوښتنه کښې يې دومره تادي کوله تابه ويل چې دا لکه چې خير او خوشالي غواړي.

ب: خو کله چې مونږ د ذکر شوي بې صبره او بې ثباته انسان د اوږو څخه د عذاب پېټی ښکته کړو او نجات ورکړو نو په مجرد نجات سره دومره ناشکري اختياروي او په غفلت کښې دومره ګړندی حرکت کوي ته به وايې چې دا هغه انسان نه دی کوم چې په ټولو حالاتو کښې يې د سوال لاسونه پورته کړي وه چې: ای ربه! نجات راکړې. ته به وايې دغه انسان ته په ټول عمر کښې نه څه زحمت او څه عذاب رسېدلی دی او نه ورته الله ﷻ نجات ورکړی دی.

۴ــ ای پيغمبره! دغه بې ثباتي او دغه ناشکري ډېر بد حالات دي، په کار دي چې په کرکه ورته وکتلی شي، مګر د حد څخه تجاوز کوونکو انسانانو ته ښائسته ښکاربږي چې نفس او شيطان ورباندې سترګې پټې کړې دي، نو دوی ګومان کوي چې مونږ په ډېره ښه لاره باندې روان ياستو.

## توضيحات

۱ــ د انسانانو ښېګنې او خوشالۍ ډېرې خوښې دي د همدې کبله د همېشه دپاره هڅه کوي چې خپلو ځانونو ته هوسايي ترلاسه کړي او په همدې باره کښې الله ﷻ ته سوالونه هم کوي چې: ای ربه! دا خوشالي راکړې او هغه خوشالي مې په برخه کړې. مګر په ځينو وختونو کښې د ځينو وجوهو د کبله د خپلو ځانونو دپاره شر او غمونه هم غواړي او بالآخره کله کله لا په ځانونو باندې انتحار هم اجراء کوي. هغه وجوهات دا دي:

الف: چې غُصه ورباندې غلبه وکړي او د عقل مخه يې بنده کړي.

ب: چې د جهل د تسلط لاندې واقع شي او اعصاب يې کار ورنه کړي او يا د خپل هلاکت او غمژن کېدلو اسباب ونه پېژني.

ج: چې سخت عناد نيولی وي، تردې چې خپل ځان وژنه يا غمژن کېدل ورته اسان ښکاره شي.

د: چې په خپل مقابل طرف باندې خندنی کوي او غواړي چې هغه توهين کړي.

هـ: بالآخره چې مطلب يې دا وي چې په خپل مقابل طرف باندې غلبه ومومي او هغه کمزوري جوړ کړي او خلکو ته يې دروغژن وروپېژني.

د قرآن کريم د نزول په وخت مشرکانو د عناد، استهزاء (خندنيو) او بالآخره د نبي کريم ﷺ د تعجيزولو او کمزوري کولو په غرض د عذاب نازلېدل غوښتل، البته کله چې دوی د قرآني ايتونو او قوي دلايلو په مقابل کښې د نمرود غوندې متحير پاتې شوه.

همدغه حالت الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الأنفال:۳۲] يعني ای الله که چېرې دغـه (قرآن کريم) ستا د پلوه همدغه حق وي نو په مونږ باندې د اسمان څخه کاڼي را ووروه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا مونږ ته دردناک عذاب راوله (رانازل کړه).

همدارنګه الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې ده چې مشرکانو ته د ذکر شوې غوښتنې په جواب کښې ووایه چې: ﴿ لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ﴾ [الأنعام:۵۸] یعنې که چرته زما په نزد (زما په لاس کښې) هغه شی (عذاب) وی چې تاسو پرې تادي کوئ (او په جلتۍ سره یې غواړئ) نو زما او ستاسو ترمنځ به کار فیصله شوی وی (هو یا نه به مې درته ویلي وی، خو زما په لاس کښې څه شی نشته).

## سوال جواب

۲ــ که څوک وایي چې په ﴿ ٱسْتِعْجَالَهُم بِٱلْخَيْرِ ﴾ کښې د "استعجال" کلمه په څه شي باندې منصوبه ګرځېدلې ده؟

مونږ وایو چې:

الف: ذکره شوې کلمه د ﴿ يُعَجِّلُ ﴾ دپاره (من غیر الباب) مفعول مطلقه ده، بلکې "استعجال" د تعجیل معنی ورکوي[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: که بالفرض الله ﷻ د خلکو دپاره په شر کښې دومره تعجیل کولی څومره چې دوی ته د خیر په ورکړه کښې تعجیل کوي نو ټول به یې هلاک کړي وی خو د خپل فضل د کبله دغسې نه کوي څکه چې رحمت یې په غضب باندې وړاندې دی[۲].

مګر دا جواب ځینو علماوو کرامو تکلفي ګڼلی دی[۳] البته چې د تکلف وجوه به یې دا وي چې:

اول: "اسْتِعْجَال" د "عجلت" د غوښتنې معنی ورکوي چې د بندګانو صفت دی، او په تعجیل کښې د عجلت کول دي چې د الله ﷻ صفت دی، نو بې ضرورته د یوې کلمې ځخه د بلې کلمې معنی اخستل چندان ښه کار نه دی.

دوهم: متبادره دا ده چې په ﴿ ٱسْتِعْجَالَهُم ﴾ کښې مصدر خپل فاعل ته مضاف شوی دی. حال دا چې په ذکر شوي جواب کښې مصدر خپل مفعول ته مضاف ګڼل کېږي.

ب: نو بهتر جواب دا دی چې ذکره شوې کلمه په مقدر فعل باندې منصوبه شوې ده چې تقدیر یې داسې کېږي: "وَلَوْ يُعَجِّلُ اللهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ إِذَا اسْتَعْجَلُوْا بِهِ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ"[۴] یعنې: که بالفرض الله ﷻ د خلکو دپاره په شر کښې تعجیل کولی کله چې دوی د همدغه شر په غوښتنه کښې دومره عجله (تادي) وغواړي ته به وایې چې د خپلو ځانونو دپاره د خیر او خوشالۍ غوښتونکي دي، نو دوی به یې ټول هلاک کړي وی او یو به یې هم ژوندی نه وی پرېښی، خو الله ﷻ د ځینو حکمتونو په بنیاد دغسې کار نه کوي.

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۳۳۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۲۷
(۳) تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۲
(۴) البحر المحیط ج۶ ص۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې د ذکر شوي ایت شریف مضمون دا دی چې الله ﷻ په کفارو باندې د عذاب په ورنازلولو کښې عجله او تونديي نه کوي. اما د عذاب څخه خو دوی هیڅکله نجات نه شي موندلی، ضرور به ورسره یوه ورځ مخامخ کېږي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْۚ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوٓاْ إِثْمًاۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ [آل عمران:۱۷۸] یعنې: او هغه کسان دې هیڅکله ګومان نه کوي چې کفر يې اختيار کړی دی (دا ګومان) چې یقیناً دوی ته زمونږ مهلت ورکول د دوی نفسونو ته بهتر دی، (خبره داسې ده چې) یقیناً مونږ دوی ته د دې دپاره مهلت ورکوو چې دوی د ګناه د حیثه زیات شي، او دوی لره سپکوونکی عذاب دی.

## د ایتونو اشاري ارشادات

۴ـ ذکر شوي ایتونه په عبارة النص سره د کفارو او مشرکانو د حالاتو پورې ارتباط نیسي، خو زمونږ (مسلمانانو) دپاره تري په اشارة النص سره لاندې ارشادات هم سړي ته ذهن ته ورځي:

الف: داسې معلومېږي چې الله ﷻ لکه څنګه چې د سړي د خیر سوالونه قبلوي همدارنګه کله کله د شر غوښتنه هم بې قبوله نه پرېږدي. نو هرچا ته په کار دي چې د غضب او غُصې په وخت کښې خپل ځان اداره کړي او خپل ځان یا هغه چا او هغه شي ته د شر غوښتنه ونه کړي کوم چې د زړه د کومې يې ورباندې د شر پېرزوینه نه وي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ په ډېر اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءً فَيَسْتَجِيبُ لَكُمْ»[۱] یعنې ای مؤمنانو! تاسو خپلو ځانونو ته او خپلو اولادونو ته او هم خپلو مالونو ته ښېراوې مه کوئ او شر ورته مه غواړئ، له دې ډاره چې چرته د الله ﷻ څخه ستاسو سوال د داسې سات سره موافق نه شي په کوم کښې چې د الله ﷻ څخه څه وغوښتل شي هغه ورکوي (سوال پکښې قبلوي) نو الله ﷻ به ستاسو سوال قبول کړي او ښېراوې به مو منظورې کړي حال دا چې بیا به پرې خپه او خواشیني یاست.

ب: الله ﷻ د انسان د بې ثباتۍ مثال دا ښودلی دی چې د زحمت او مشکلاتو په وخت کښې ډېرې زارۍ او ډېرې خوشامندې کوي، خو کله چې د مشکلاتو څخه نجات مونده کړي نو بیا الله ﷻ هېر کړي او پخوانۍ خوشامندې يې د یاده ووځي.

نو مونږ ته په کار دي چې د خوښۍ او خوشالۍ په حال کښې هم خپل رب ﷻ هېر نه کړو او خپل ځانونه په بې ثباته انسانانو کښې ورشامل نه کړو څو مو د مشکلاتو په وخت کښې زارۍ ځمکې ته ونه غورزولې شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالْكُرَبِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الرَّخَاءِ»[۱] یعني هرڅوک چې دې ته خوشالېږي چې الله ﷻ ورته د سختیو او غمونو په وخت کښې دعاوې قبولې کړې نو د پراخۍ (او خوشالۍ) په وخت کښې دې (ډېرې) دعاوې کوي.

﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ مِن قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ مِنۢ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۳] او بې شکه مونږ ستاسو څخه وړاندې د (ډېرو) زمانو (خلک) هلاک کړي دي (البته) کله چې هغوی ظلمونه وکړه (او په کفریاتو باندې به کلک شوه او مونږ به یې د هلاکت اراده وکړه)، او هغوی ته هم ځپل پیغمبران په دلایلو (او معجزاتو) سره راغلي وه خو دوی نه وه چې ایمان راوړي. مونږ همدغه شان مجرمانو خلکو ته جزا ورکوو (چې اراده مو وشي).

[۱۴] بیا مونږ د هغوی (د هلاکت) څخه وروسته (دا دی) تاسو په ځمکه کښې د هغوی خلیفګان (او نائبان) وګرځولئ (جوړ کړئ) څو وګورو چې تاسو څنګه عمل کوئ (د هغوی په لاره تلل کوئ او که د پیغمبر ﷺ لاره اختیاروئ).

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د مشرکانو هغه تمه غوڅه شوې ده د کومې چې د وړاندېنیو ایتونو څخه د پیدا کېدلو امکان وه، هغه دا چې کله الله ﷻ په مونږ باندې د عذاب په راښکته کولو کښې عجله نه کوي نو امکان شته چې بالکل مو معاف کړي. تفصیل یې دا دی چې:

## د مطلب خلاصه

۱ ـ یعني: ای مشرکانو! تاسو دا تمه مه کوئ چې تاسو به د آخره پورې همدغسې روغ رمټ پاتې شئ او په هېڅ عذاب باندې به اخته نه کړی شئ. دا ځکه چې مونږ ستاسو څخه وړاندې هم ډېر قومونه او ښارونه تباه کړي دي چې کله به یې ظلمونو د حده تجاوز وکړ.

هغوي ته مو هم وخت په وخت پیغمبران علیهم‌السلام وراستولي وه نو نه یې ورباندې ایمان راوړ او نه دې ته چمتو وه چې ایمان پرې راوړي.

په راتلونکي کښې هم مونږ مجرمانو خلکو ته جزا ورکوو، البته کله مو چې اراده وشي، نو تاسو ته په کار دي چې د کفریاتو څخه لاس واخلئ څو د پخوانیو کفارو په برخلیک باندې اخته نه شئ.

۲ ـ ای مشرکانو! لکه څنګه چې د هغوی په پوښا کولو باندې دنیا ورانه نه شوه بلکې د هغوی په عوض مو په تاسو باندې دنیا اباده کړه او تاسو مو د هغوی خلیفګان جوړ کړئ، څو وګورو چې تاسو څه کوئ او څه نه کوئ، همدارنګه ستاسو په له منځه وړلو باندې هم دنیا نه ورانېږي؛ مونږ دا

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قدرت لرو چې ستاسو په عوض يې په نورو قومونو باندې اباده کړو. نو تاسو د پخوانيو د برخليک څخه عبرت واخلئ او خپل ځانونه په لوی لاس د هلاکت کندې ته مه ورغورزوئ.

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ ۙ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ
أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآيِٕ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۖ
إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ
وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ
مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾ ﴾

[۱۵] او کله چې په دوی (مشرکانو) باندې زمونږ واضحه ايتونه (دلايل) ولوستلی شي نو هغه کسان وايي کوم چې زمونږ د ملاقات (د قيامت) څخه نه ډارېږي (داسې) چې د دغه قرآن څخه په غير بل قرآن راوړه او يا همدا (په ځينو ځايونو کښې) تبديل کړه.

ته (ورته) ووايه (ای پيغمبره!) چې ماته دا خبره نشته (زما په توان کښې نه ده) چې زه يې د خپل ځان دپلوه تبديل کړم (پاتې خو لا عوض کول)، زه پيروي نه کړم مګر د هغه شي چې ماته (د الله ﷻ د پلوه) وحې کړی شي (او هم) زه که (بالفرض) د خپل رب ﷻ څخه نافرماني وکړم نو د لويې ورځې (قيامت) د عذابه ډارېږم.

[۱۶] (بيا ورته) ووايه چې: که چرته د الله ﷻ اراده شوې وی (چې زه دې په تاسو باندې څه قرائت نه کړم) نو نه به ما په تاسو باندې څه لوستي وی او نه به پرې الله ﷻ تاسو خبر کړي وی (په هغه څه کوم چې زه يې په تاسو باندې لولوم). نو بې شکه ما خو د دې (قرآن د نزول) څخه وړاندې په تاسو کښې د ډېر عمر (ځلوېښت کاله) استوګنه کړې ده.

ايا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ (ايا ما سره د دروغژن لقب مناسبت لري؟)

[۱۷] نو څوک به د هغه چا څخه لوی ظالم وي چې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي او يا د الله ﷻ ايتونو ته د دروغو نسبت وکړي؟. يقيناً شان دا دی چې مجرمان فلاح (کاميابي) نه شي موندلی.

## شان نزول او ارتباطونه

۱ــ په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو د عقايدو د رد او د اسلامي عقيدې د اثبات په هکله بنه پاخه دلايل بيان شوي دي، په دې ايتونو کښې د مشرکانو هغه خبره رد شوې ده کومه چې دوی نبي کريم ﷺ ته د وړانديز او يا د مسخرو په توګه وړاندې کړې وه. هغه دا چې:

۲ــ مونږ به په تا باندې هله ايمان راوړو چې ته د دغو دوه وو شرطونو څخه يو شرط پوره کړې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یا دا قرآن په بل قرآن باندې عوض کړه چې په هغه کښې زمونږ د بوتانو سپکاوی نه وي او زمونږ د پلارنیو عقایدو سره تضاد او ضدیت ونه لري.

ب: یا اقلا د همدې قرآن په هغو ایتونو کښې تجدید النظر وکړه کوم چې زمونږ د عقایدو رد کوي. نو که ته دغو دواړو کارونو څخه هر یو کار وکړې مونږ به درباندې ایمان راوړو او په اصطلاح پراخ بنسټه حکومت به جوړ کړو چې ټولو اقشارو ته د منلو وړ وي او هم به پکښې ټول اقشار (اطراف) ګډون وکړی شي(۱). نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! کله چې ستا د پلوه په مشرکانو باندې زمونږ دلایل ولوستلی شي، چې په واقعیت باندې ولاړ دي او هیڅ شک او شبهه پکښې نشته، نو کوم خلک چې د قیامت د ورځې څخه نه ډارېږي او په صافو الفاظو کښې ترې انکار کوي هغوی د ایمان د نه راوړلو دپاره نورې بهانې تراشي، څو په خپلو باطلو عقایدو باندې پردې واچوي او خپله ملامتي پټه وساتي. د هغوی بهانې دا دي چې:

۱ ـ ای هغه څوکه چې خپل ځان ته د پیغمبر لقب ورکوې او مدعي یې چې د قرآن په نوم کتاب دې هم د خانه سره راوړی دی! مونږ به په تاباندې هغه وخت عقیده او باور وکړو چې ته د لاندې دوه وو کارونو څخه یو کار وکړې:

الف: یا دا قرآن بالکل عوض کړه او بل قرآن راوړه، چې په هغه کښې نه زمونږ د بوتانو سپکاوی وي او نه په داسې احکامو باندې مشتمل وي چې زمونږ د عقایدو او اعمالو سره څه ضدیت ولري.

ب: که دا کار نه کوې نو اقلا دا خو وکړه چې د دې قرآن په ځینو ایتونو کښې تجدید النظر وکړه، نو هغه ایتونه ترې محوه کړه د کومو په اورېدلو باندې چې مونږ خپه کېږو. آخر مونږ خو هم د دې وطن مخور خلک یاستو او حق لرو چې په دغسې اجتماعي موضوعاتو کښې مداخله وکړو.

مونږ څکه په ذکرو شوو وړاندېزونو باندې ټکلک یاستو چې د یو پلوه دواړه کارونه ستا د وسې څخه پوره دي او ته توان لرې چې یو پکښې انتخاب کړې، ځکه چې ستا په لاس کښې قرآن هم الله ﷻ نه دی نازل کړی بلکې تا د خپله خانه جوړ کړی دی. نو اوس خبره ومنه او د دغو کارونو څخه د یوه کار په کولو باندې اقدام وکړه.

مونږ تاته اطمنان درکوو چې مونږ په تا باندې کوم اعتراض نه لرو او نه مو ته بد ایسي بلکې ستا د قرآن سره مخالف یاستو او په هیڅ صورت باندې یې په موجوده کیفیت سره نه شو منلی او غاړې ورته نه شو ایښودلی.

۲ ـ نو ای پیغمبره! د مشرکانو د ذکر شوي بهانې د رد دپاره لاندې ټکي په نظر کښې ونیسه:

الف: مشرکانو ته ووایه چې د قرآن کریم عوض کول خو زما په وسه کښې نه وه او نه دی، خو په دې باندې علاوه زما دا وسه هم نشته چې اقلا په کوم یوه ایت کښې بدلون رابدلون راولم، نه مې دا

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۲۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۱۰



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وسه شته او نه را سره دا کار مناسب دی چې د خپله ځانه پرته د الله ﷻ د هدایت او ارشاد څخه زه په ذېره وړه کلمه کښې تغير واقع کړم.

ب: زما تګلاره دا ده چې زه فقط او فقط د وحې پیروي کوم څه چې د الله ﷻ د پلوه ماته وحې کېږي همغه خلکو ته رسوم. د قرآن کريم موجوده ايتونه هم ما د ځانه نه دي جوړ کړي، لکه چې تاسو خيال کوئ، او نه يې جوړول زما په توان کښې وه. ستاسو د دروغو څخه يو دروغ دا هم دي چې قرآن کريم الهي کلام نه دی او ما ته يې د جوړولو نسبت کوئ.

ج: (بالفرض المحال) که د قرآن کريم د ايتونو تبديلي زما په توان کښې وی هم ما به پرته د الله ﷻ د اجازې څخه دا کار نه وی کړی، او دا ځکه چې زه خو د خپل رب ﷻ د عصيان په صورت کښې د لويې ورځې د عذاب څخه ډارېږم، ستاسو غوندې خو د قيامت د ورځې څخه منکر نه يم.

د: دا هم ورته ووايه چې: د موجوده قرآن جوړول خو لا څه چې زه يې د تلاوت توان هم نه لرم؛ که د الله ﷻ اراده شوې وی چې زه دې په تاسو باندې څه ونه لولم ما به درباندې هيڅ نه وی لوستي، همدارنګه که د الله ﷻ اراده شوې وی چې زما په ذريعه تاسو په قرآن کريم باندې خبر نه کړي نو بالکل به يې پرې نه وی خبر کړي.

نو زه چې په تاسو باندې د قرآن کريم تلاوت کوم او په مضامينو باندې يې تاسو خبروم دا زما مکلفيت دی او ماته وظيفه راکړه شوې ده چې دا کار وکړم، زه د دې کار څخه لاس نه شم اخستلی برابره خبره ده چې تاسو پرې خپه کېږئ او که خوشالېږئ.

هـ: ای مشرکانو! ما خو په تاسو کښې څلوېښت کاله عمر تېر کړ او ستاسو په وړاندې وړوکی راغټ شوم او هم زما کړه وړه خو تاسو ته ښه معلوم دي، زما هيڅ کيفيت ستاسو څخه پټ نه دی، نو:

اول: ايا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې ماته د قرآن کريم د تبديلۍ وړانديز کوئ؟!

دهم: ايا ما په څلوېښت کلنی عمر کښې په کوم انسان باندې دروغ تړلي دي چې (العياذ بالله) اوس په الله ﷻ باندې دروغ وتړم؟

درېم: ايا ما چرته د چا سره خيانت کړی دی چې اوس د الله ﷻ په ايتونو کښې خيانت وکړم؟

څلورم: ايا ما په څلوېښت کلنۍ عمر کښې معجزانه کلام جوړولی شو چې اوس کوم يو ايت د ځانه جوړ کړم؟

پنځم: ايا ما په دغه عمر کښې د چا څخه زده کړه کړې ده چې په تاسو باندې تفوق حاصل کړم؟

شپږم: ايا ما په ځوانۍ کښې چرته د مشرولۍ هڅه کړې ده چې اوس په تاسو باندې د پاچاهۍ خيال ولرم؟

لنډه دا چې د ذکرو شوو پوښتنو او د دغسې نورو پوښتنو جوابونه ټول منفي دي، نو دا د هوښيار سړي کار نه دی چې په ما باندې د دروغو تور ولګوي.

۳ـ نو ای پيغمبره! په آخر کښې د ذکر شوي وړانديز کوونکي يعني مشرکان مخاطب کړه او پوښتنه ترې وکړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ايا د هغه چا څخه بل غټ ظالم شته چي په بندګانو باندې نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي چې ووايي ماته وحي شوې ده، حال دا چې وحې ورته نه وي شوې؟ همدارنګه ايا د هغه چا څخه بل غټ ظالم شته چې د الله ﷻ ايتونو ته (چې په حقه نازل شوي دي) د دروغو نسبت وکړي چې دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی؟

نو که زه د نبوت په دعوه کښې (بالفرض) دروغژن يم نو زه به ډېر غټ ظالم يم، او که تاسو د الله ﷻ ايتونو ته د دروغو نسبت کوئ نو تاسو به غټ ظالمان ياست. مګر کله چې دلايلو ته وګورو نو ما په دروغو باندې د نبوت دعوه نه ده کړې او تاسو پرته د کوم دليل څخه د الله ﷻ ايتونه دروغژن ګڼئ، نو معلومه شوه چې تاسو ډېر غټ-غټ ظالمان ياست. تاسو ته په کار دي چې د دغه عظيم ظلم څخه خپل خانونه خلاص کړئ او په ايمان باندې مشرف شئ. دا خکه چې يقيناً ظالمان او مجرمان فلاح نه شي موندلی، د ناکامۍ سره مخ کېدونکي دي.

## توضیحات

۱ـ ځينو مفسرينو کرامو د دې جملې ﴿ ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَـٰذَآ ﴾ په تفسير کښې لاندې دوه صورتونه ښودلې دي چې:

الف: دا قرآن بالکل د منځه يوسه او په عوض يې بل قرآن راوړه چې په نظم او ترتيب کښې د دې قرآن څخه جدا وي.

ب: دا قرآن په خپل خاى پرېږده خو يو بل قرآن هم راوړه چې نظم او ترتيب يې د دې قرآن څخه بېل وي، نو ته به د دوه وو قرآنونو درلودونکی جوړ شې.

مونږ ته لومړنی صورت د ايتونو څخه په تبادر سره ذهن ته راځي نو خکه مو په همغه باندې اکتفاء وکړه او د همغه په بنياد مو د مطلب خلاصه شرحه کړې ده.

اما د دې جملې ﴿ أَوْ بَدِّلْهُ ﴾ په تفسير کښې لاندې صورتونه ټول شامل ګڼل کېږي:

اول: په کوم ايت کښې چې وعده ورکړه شوې ده هغه په وعيد بدله کړه او بالعکس د وعيد په عوض وعده خاى په خاى کړه.

دوهم: حلال د حرامو په خاى ودروه او حرامو ته د حلالو لقب ورکړه.

درېم: په کومو ايتونو کښې چې د بوتانو سپکاوى او ناتواني ذکره وي په هغو ټولو کښې د بوتانو درنښت او د شفاعت کولو توان ثبت کړه.

څلورم: د مرګ څخه وروسته د بيا ژوندي کولو او د قيامت د قيام ايتونه خو په بشپړه توګه د منځه يوسه. او داسې نور.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د مشرکانو د دوهم وړانديز د رد

Scanned by CamScanner

جواب نازل کړ چې: ای پیغمبره! داسې-داسې ورته ووایه. او د لومړي وړاندیز د رد په هکله یې هیڅ نازل نه کړه؟

مونږ وایو چې: لومړنی وړاندیز بالکل ظاهر البطلان وه. ځکه په کوم شي باندې چې ټول مخلوقات عموماً قدرت نه لري او مشرکان هم په خپله ناتوانۍ باندې اعتراف کوي د هغه شي غوښتل د یوه امي سړي څخه بالکل جنون ته ورته ښکاري، نو جوابولو ته یې څه حاجت نه پاتې کېده.

په دې باندې علاوه، د دوهم وړاندیز رد څخه د لومړني وړاندیز د رد وجوه د ورایه ښکاري. دا ځکه چې څوک چې د یوه ایت د تبدیلۍ څخه عاجز وي، چې په یوه حکم باندې مشتمل وي، نو د ټول قرآن د عوض کولو وسه خو به یکښې بالکل نه وي، چې په بې شمېره احکامو باندې اشتمال لري.

یا په بل عبارت: څوک چې اسان شی نه شي کولی نو د سخت شي د کولو خو د سره سوال نه پیدا کېږي.

## دښمنان پرې اعتراض نه شي کولی

۳ـ د نبي کریم ﷺ د زمانې کافران دې خبرې ته ډېر خوشالېده چې په نبي کریم ﷺ کښې څه د اعتراض ځای او د ګوتې ایښودلو ټکی مونده کړي او د ایمان د. نه راوړلو دپاره یې پلمه ونیسي چې: ته ښه سړی نه یې تا خو پلانکی او بستانکی کار کړی دی.

مګر د آخره پورې دوی په خپل دغه شوم مطلب کښې کامیاب نه شوه او د ګوتې ایښودلو ټکی یې پکښې مونده نه کړ. لاندې دوه مثالونه یې ولولئ:

الف: کله چې د قریشو کفارو یوه ډله د تجارانو په حیث شام ته لاړه چې ابو سفیان یې مشر وه (په دغه وخت کښې لا د "رضي الله عنه" مستحق نه وه ګرځېدلی)، نو هلته د هرقل (پاچا) د پلوه هغوی په لاندې شکل سره د استنطاق لاندې ونیول شوه:

اول: ابو سفیان یې د ټولو په وړاندې ودراوه.

دوهم: او نور ټول ملګري یې ورپسې متصل صفونه‌صفونه جوړ کړه.

درېم: بیا یې د ده (ابو سفیان) ملګرو ته توصیه وکړه چې زه خو ستاسو د مشر څخه د نبي کریم ﷺ په هکله معلومات اخلم، خو ستاسو دا فرض ده که ماته یې په دروغو جواب راکړ نو تاسو سمدستي د هغه جواب رد کړئ چې دغسې نه ده لکه چې ته یې وایې.

څلورم: بیا یې د ابو سفیان څخه زښتې ډېرې پوښتنې وکړې. یوه پوښتنه پکښې دا وه چې: «فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ»[1] یعنې: نو ایا تاسو هغه څوک چې د نبوت مدعي دی په دروغو سره متهم کړی دی؟، ایا د دغې دعوی څخه وړاندې یې کله د دروغو خبره کړې وه.

ابو سفیان جواب وایي چې: «قُلْتُ لَا» یعنې ما جواب ورکړه چې نه.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض قریشو د نبي کریم ﷺ څخه په څلوېښت کلن عمر کښې د دروغو یوه خبره چرته اورېدلې وی نو ضرور به یې هغه ځرګنده کړې وی چې په فلاني وخت کښې یې فلانۍ خبره دروغژنه کړې وه. نو د مجبورۍ د وجهې څخه یې اعتراف وکړ چې مونږ ترې کله هم دروغ نه دي اورېدلي.

ب: عبد الله بن سلام وایي (په دغه وخت کښې د "رضي الله عنه" لایق نه وه جوړ شوی) کله چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته تشریف راووړ نو ډلې-ډلې خلک ورتلل نو زه هم په ورتلونکو خلکو کښې شامل شوم او په حضور باندې یې مشرف شوم ترڅو ښه فکر پکښې وکړم چې دا څنګه سړی دی: «فَلَمَّا اسْتَبَنْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ»[1] یعنې: نو کله مې چې د نبي کریم ﷺ په مبارک مخ کښې ښه دقت وکړ (ښه ورته خیر شوم) نو پوه شوم چې یقیناً د ده مخ د دروغژن سړي مخ نه دی.

## د ایت شریف تازه مصداق

۴ـ څرنګه چې قرآن کریم د ټولو مسلمانانو لاربښوونکی کتاب دی نو د قیامت د ورځې پورې داسې حوادث نه موندل کېږي چې په قرآن کښې یې د وجوهو څخه په یوه وجهه جواب موجود نه وي. د همدې کبله دا کتاب په آخر الزمان پیغمبر ﷺ باندې نازل شوی دی چې د الله ﷻ د پلوه نه بل کتاب نازلېږي او نه بل پیغمبر را استولی کېږي.

همدا اوس په دنیا کښې ډېر تود بحث روان دی او غربي دنیا د طالبانو د حکومت څخه غواړي چې په خپل دریغ کښې په څه نرمښت باندې قایل شي. همدا نن[2] مې د بي بي سي (BBC) کفري رادیو څخه واورېدل چې بین الملل د طالبانو د حکومت څخه تکراراً وغوښتل چې:

الف: مختلط حکومت جوړ کړئ او پخوانیو کمونستانو ته په برخه باندې قایل شئ.

ب: زنانه وو ته ازادي ورکړئ چې په بازارونو کښې لوڅ مخونه وګرځي راوګرځي.

ج: او هم اجازه ورکړئ چې په رسمي دفترونو کښې د نارینه وو سره بې پردې کاروبار وکړي.

د: او هم دا ومنئ چې زنانه په مکاتبو کښې مخلوطه (ګډه وډه) زده کړه وکړي.

هـ: د غله لاس مه پرېکوئ او د حدودو په اجراء باندې غټه ډېره کېږدئ.

ای اسلامي حکومته! که تاسو دغه او دغسې نور هغه کارونه ونه کړئ چې مونږ یې درته په ګوته کوو، مونږ تاسو ته د یوه مستقل حکومت په صفت نه شو قائل کېدلی، په اصطلاح تاسو به په رسمیت ونه پېژنو.

نو د ذکرو شوو غوښتنو معنی دا ده چې د هغو ایتونو او هغو احادیثو څخه صرف نظر وکړئ کوم چې د زنانه وو په حجاب او د حدودو په هکله نازل شوي دي او پا روایت شوي دي، او په عوض کښې یې د غربي دولتونو قوانینو ته ځای ورکړئ.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۹۴

(۲) ۱۳۷۵/۸/۱۸ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ د الله ﷻ څخه د طالبانو اسلامي حکومت ته توفيق غواړو چې په خپل دريځ باندې کلک پاتې شي لکه څنګه چې تر اوسه پورې ورباندې کلک ولاړ دي، او هم دوی ته توصيه کوو چې نبي کريم ﷺ پسې نبکه اقتداء وکړي او غربيانو ته هغه جواب ورکړي کوم چې نبي کريم ﷺ د وخت مشرکانو ته ورکړی وه، چې په ذکرو شوو ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾ وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾﴾

[۱۸] او دوی (مشرکان) د الله ﷻ څخه پرته د هغو شيانو عبادت کوي کوم چې دوی ته نه ضرر رسولی شي (که عبادت يې ونه کړي) او نه ورته ګټه رسولی شي (که عبادت يې وکړي)، او دوی وايي چې دغه (بوتان معبودان) د الله ﷻ په نزد شفاعتګر دي (که بالفرض د قيامت ورځ قائمه شي).

نو ته (ورته) ووايه (ای پيغمبره! چې): ايا تاسو (بل چاته نه بلکې) الله ﷻ ته په هغه شي باندې خبر ورکوئ کوم چې الله ﷻ ورباندې نه په اسمانونو کښې علم لري او نه په ځمکو کښې؟! (يا په بل عبارت: ايا تاسو د الله ﷻ څخه زيات با خبره ياست؟!).

همده ﷻ ته (د دغسې جتياتو څخه) پاکي ده او د هغو شيانو څخه پورته دي چې مشرکان يې ورسره (په عبادت کښې) شريکوي.

[۱۹] او خلک نه وه مګر يوه ډله وه (چې ټول موحدين وه) نو (بيا يې) اختلاف وکړ (ځينې ترې جدا شوه او کفري مسلکونه يې اختيار کړه لکه بوت پرستي او نور).

او که ستا د رب ﷻ د پلوه فيصله شوې خبره نه وی (چې دنيا به د قيامت د ورځې پورې د امتحان دپاره اباده وي) نو د دوی (خلکو) تر منځ به په هغه شي کښې فيصله کړی شوې وی په کوم کښې چې دوی اختلاف کوي (او کفار به هلاک کړی شوي وی).

## ارتباط

په دې ايتونو کښې د کفارو لاندې دوه وو اشتباهګانو ته جوابونه ورکړی شوي دي:

۱ـ يوه دا چې مونږ د بوتانو عبادت د دې کبله کوو چې دوی عند الله زمونږ شفاعتګر دي، نو په مونږ باندې لازمه ده چې په احترام ورته قايل شو او عبادت يې وکړو.

۲ـ بله دا چې بوت پرستي د پخوانيو پېړيو څخه راپاتې ده، په انسانانو باندې داسې وخت نه دی تېر شوی چې هلته به بوت پرستي موجوديت نه درلود، نو معلومه شوه چې دا ناجائز کار نه دی.

نو د جوابونو خلاصه يې داسې راوخي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مشرکان خو د الله ﷻ څخه په غیر د هغو شیانو عبادت کوي چې د عبادت د نه کولو په صورت کښې ورته ضرر نه شي رسولی او د عبادت کولو په صورت کښې ورته د ګټې او فایدې رسولو توان نه لري. خو د دغه کار دپاره بهانې او پلمې جوړوي. دغه دوه بهانې یې ولوله او بیا یې جوابې کړه:

۱_ مشرکان وایي چې: مونږ خو د بوتانو عبادت کوو او د الله ﷻ سره یې په عبادت کښې شریکوو ځکه چې دوی زمونږ شفاعتګر دي، دوی به د الله ﷻ په حضور کښې ودریږي او زمونږ د ګناهونو مغفرت به وغواړي، دوی په مونږ حق لري.

نو ته دوی ته په جواب کښې ووایه چې:

الف: بوتان ستاسو شفاعتګر نه دي. د دوی په توان کښې نشته چې تاسو ته د الله ﷻ څخه د مغفرت غوښتنه وکړي.

ب: د الله ﷻ په نزد د شفاعت کولو ضروري شرط دا دی چې الله ﷻ ورته اجازه ورکړي چې شفاعت کوه. او د بوتانو په هکله خو د الله ﷻ فیصله دا ده چې دوی ته به هیڅکله د شفاعت کولو اجازه ورنه کړی شي. نو په همدې اساس الله ﷻ لکه ځنګه چې د مخلوقاتو په پیدا کولو کښې شرک نه لري همدارنګه په عبادت کښې هم واحد او لا شریک دی.

ج: ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ذکر شوی مضمون ورته په بل عبارت اداء کړه چې: ای مشرکانو! الله ﷻ خو په صراحت سره وایي چې زه شریک نه لرم او هم په صراحت وایي چې بوتان ستاسو شفاعت نه شي کولی او نه ورته د شفاعت کولو اجازه ورکوم. نو تاسو په کوم دلیل په خپل دریغ باندې کلک یاست؟

ایا تاسو په هغه شي باندې الله ﷻ ته خبر ورکوئ چې الله ﷻ ته نه په ځمکو کښې د هغه شي د موجودیت معلومات شته او نه په اسمانونو کښې؟! ایا ستاسو علم د الله ﷻ څخه زیات دی؟! که بالفرض المحال الله ﷻ شریکان درلودی نو پخپله به یې تاسو ته خبر درکړی وی چې فلانی او بستانکی زما شریک دي. د الله ﷻ د علم څخه هیڅ شی بهر نه شي وتلی.

الله ﷻ خو تاسو ته اعلان کوي چې دی ﷻ د شریکانو څخه پاک دی او د هغو ټولو خیالاتو او تصوراتو څخه لوړ او پورته دی چې د چا په ذهن او خیال کښې ګرځي راګرځي.

۲_ ای پیغمبره! د مشرکانو دوهمې اشتباه ته په لاندې ټکو کښې جواب ورکړه:

الف: د انسانانو په ژوند کښې بوت پرستي عارضي شی دی، اصلا ټولو انسانانو د الله ﷻ په وحدانیت باندې بالاتفاق عقیده درلوده، دوی په عالم الذر کښې هم په یوه عقیده وه او په همدغه فطرت باندې الله ﷻ هر یو په خپل وخت کښې پیدا کړی دی، د ټولو سره همدغه استعداد په اول خلقت کښې موجودیت لري. او بالآخره د آدم ﷺ په زمانه کښې او د ده څخه په وروسته زمانو کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم تر ډېره وخته پورې ټول خلک بالاتفاق موحدين وه.

ب: بيا وروسته د دوی اتفاق خراب شو او بې اتفاقي ته يې لاس واچاوه، چې ځينې د توحيد په عقيده کلک پاتې شوه او ځوک د دغې عقيدې څخه منحرف شوه چې بيا ځوک په يوه لاره روان شو او چا بله لاره غوره کړه، چا د يوه بوت عبادت ته سر ټيټ کړ او ځوک بل بوت ته په سجده پرېووت.

لنډه دا چې بوت پرستي د اختلاف څخه پيدا شوې ده، که اختلاف صورت نه وی موندلی نو ټول خلک به په يوه عقيده موحدين وی او هيچا به د خپل رب ﷻ سره شريک نه وی درولی.

ج: الله ﷻ کولی شو چې ټول خلک يې په يوه لار (توحيد) باندې سوق کړي وی. خو دا کار الله ﷻ له دې کبله ونه کړ چې په دې صورت کښې د امتحان او ازمېښت لمن ټولېده، حال دا چې دنيا خو د امتحان ځای دی.

د: همدارنګه الله ﷻ دا هم کولی شو چې بې لارې خلک يې ټول هلاک کړي وی او په کومه موضوع کښې چې خلکو يو تربله اختلاف درلود هغه يې په دنيا کښې فيصله کړې وی. خو دغسې کار هم ستا رب ﷻ ونه کړ ځکه چې د ده ﷻ سره فيصله خبره ده چې د ټولو موضوعاتو کامله فيصله به د قيامت په ورځ کېږي او د هغه پورې به کله په يوه ډله باندې دنيا اباده وي او کله په بله.

## توضيحات

۱ـ که ځوک وايي چې مشرکان خو د مرګ څخه وروسته د بيا را ژوندي کېدلو څخه منکر وه، لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾ [النحل:۳۸] يعنې دوی په سوګند سره وايي چې: الله ﷻ به هغه ځوک بيا راژوندي نه کړي کوم چې مړ شي.

نو پوښتنه دا ده چې د بوتانو څخه د شفاعت تمه درلودل څه معنی لري؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو[1] ذکر شوی شفاعت د دنياوي شفاعت څخه عبارت اخستی دی، چې د بوتانو په شفاعت سره به مونږ په دنيا کښې د مشکلاتو څخه وژغورلی شو. مګر اکثره علماء وايي چې مشرکان د خپلو بوتانو شفاعت ته په آخرت کښې په تمه وه او د دوی خيال وو چې اول خو د مرګ څخه وروسته بيا را ژوندي کېدل محال کار دی او که بالفرض بيا راژوندي هم شو نو د بوتانو شفاعت زمونږ دپاره کفايت کوي.

## ايا تاسو د الله ﷻ څخه ښه پوهېږئ؟

۲ـ څرنګه چې د الله ﷻ علم او پوهه کامله ده چې هيڅ شی ترې وتلی نه دی او نه ترې وتلی شي چې موجوديت ولري او الله ﷻ پرې عالم نه وي، نو په دې جمله: ﴿ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ کښې مشرکانو ته د تهديد په توګه ويلی شوي دي چې: ايا ستاسو علم د الله ﷻ د علم څخه اوچت دی چې هغه ﷻ ته خپل شريک نه معلوم دی او نه په واقع کښې موجوديت

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لري مګر تاسو ورته یو شریک لا څه بلکې ډېر شریکان ثابتوئ، ایا نو تاسو د الله ﷻ څخه بنه پوهېږئ؟!.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په ﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ ﴾ کښې ﴿ كَلِمَةٌ ﴾ د څه شي څخه عبارت ده؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې مفسرینو کرامو متعدد تفسیرونه کړي دي[1] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په دې مقام کښې ﴿ كَلِمَةٌ ﴾ د الله ﷻ د هغه حکم څخه عبارت ده کوم چې الله ﷻ په ازل کښې فیصله کړې دی. هغه دا چې د خلکو ترمنځ د اختلافي مسائلو فیصله به په قیامت کښې کېږي چې څوک به جنت ته استول کېږي او څوک به په دوزخ کښې وراوچولی کېږي.

ب: دا ﴿ كَلِمَةٌ ﴾ د قیامت د وخت څخه عبارت ده، چې الله ﷻ ورته د خپله خانه سره کوم وخت ټاکلی دی چې دومره موده وروسته به قیام کوي.

ج: دا په دې مقام کښې د دې څخه عبارت ده چې د محمدي امت بیخ به د نورو قومونو غوندې په یو خل نه وباسي او نه به يې پوپنا کوي.

مونږ ته بهتره برېښي چې په ذکرو شوو تفسیرونو کښې یوه ته هم تخصیص ورنه کړی شي، دا ځکه چې څه منافات سره نه لري او د بدلیت په لحاظ د هر یوه اراده کول صحت لري. نو کېدلی شي چې د متعددو وجوهو د کبله د مشرکانو د هلاکولو کار ټال شوی وي، والله ﷻ اعلم.

## یادونه

۴ـ مونږ د الله ﷻ په بې انتهاء فضل او توفیق سره د [البقرة:۲۱۳] ایت لاندې د اختلاف د ماهیت او ډولونو په باره کښې او هم په دې هکله چې اختلاف د کوم ځای څخه پیل شوی دی څه لیکلې دي، او څه نور مربوط مسائل مو بنه شرحه کړي دي چې بیا لیکنه يې د وخت د ضیاع څخه په غیر بله معنی نه لري. هیله ده چې هملته یو خل مراجعه وکړی شي.

﴿ وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَقُلْ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِيٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ ﴾

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۸ ص۳۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰] او دوی (مشرکان) وايي چې ولې په ده (نبي کريم ﷺ) باندې د خپل رب ﷻ د پلوه (فرمايشي) معجزه نه نازلېږي. نو ته (ورته) ووايه (ای پيغمبره!) چې يقيناً (په هر) غيب (باندې پوهېدل) الله ﷻ پورې اختصاص لري (نو د عدم نزول په وجهه يې همدې ﷻ پوهېږي او بس) نو تاسو هم انتظار وکړئ يقيناً زه هم ستاسو سره د انتظار کوونکو څخه يم.

[۲۱] او کله چې مونږ خلکو ته د هغه څخه وروسته رحمت (خوشالي) وروڅکوو چې زحمت (سختي) ورته رسېدلی وي نو ناڅاپه (سمدستې) دوی لره زمونږ په ايتونو کښې بد تدبير وي (د خپلې بدې کړنلارې دپاره بله بهانه نيسي).

ورته ووايه (ای پيغمبره چې) الله ﷻ د تدبير د حيثه ډېر تېز (توند) دی (هيڅوک د ده ﷻ د تدبير مخه نه شي نيولی)، يقيناً زمونږ لېږلي شوي (پرښتې) هغه څه ليکي چې تاسو يې تدبير کوئ.

## ارتباط

په دې ايتونو کښې د مشرکانو يوې بلې اشتباه ته جواب ورکړی شوی دی او د ايمان د نه راوړلو د يوې بلې بهانې مخه يې نيولې شوې ده چې د نبي کريم ﷺ په رسالت پورې ارتباط نيسي. نو حاصل يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! مشرکان د ايمان د نه راوړلو دپاره بله بهانه دا نيسي چې په ده (يعنې په تا) باندې ولې هغه معجزه نه نازلېږي کومه چې مونږ غواړو او يا کومه چې مونږ ايمان راوړلو ته مجبور کړي.

۱ـ نو ته ورته په جواب کښې ووايه چې د ذکر شوې فرمايشي معجزې نه نازلول د غيبو څخه يو غيب دی چې د الله ﷻ څخه پرته پرې هيڅوک نه پوهېږي. نو تاسو هم انتظار باسئ او زه به هم درسره منتظر يم.

يا په بل عبارت: زما په اختيار کښې لکه څنګه چې د معجزاتو نازلول نشته همدارنګه د نزول او عدم نزول په وجوهو باندې پوهېدل هم زما کار نه دی، زه تاسو ته فقط هغه څه وايم چې ماته وحې کړی شي. نو تاسو ته په کار دي چې په دغسې موضوعاتو کښې زما څخه پوښتنه ونه کړئ.

دا چې تاسو ته واوروليی شو دا زما شخصي حال دی، اما د وحې په اعتبار سره (د الله ﷻ د پلوه) تاسو ته وايم چې د فرمايشي معجزاتو د عدم نزول وجه فقط همدا ده چې په تاسو باندې الله ﷻ رحم کړی دی او د هلاکت څخه يې بچ کړي ياست. څکه چې الله ﷻ پوهېږي چې د فرمايشي معجزې د نزول سره سره به تاسو ايمان را نه وړئ او د لجاجت څخه به کار واخلئ نو بيا به ستاسو دپاره د هلاک څخه د نجات هيڅ لاره نه وي او هيڅ فرصت به درنه کړی شي.

۲ـ ای مشرکانو! په دغه وخت کښې هم تاسو څکه ايمان نه راوړئ چې تاسو د انسانانو د جملې څخه داسې انسانان ياست چې اذهان مو لا تر اوسه تصفيه شوي نه دي، او د کومو انسانانو اذهان چې په اسلام باندې تصفيه شوي نه وي د هغوی خاصيت دا دی:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې دوی ته زمونږ د پلوه د مشکلاتو څخه نجات ورکړی شي او سختي یې په اسانۍ بدله شي نو سمدستي زمونږ د دلایلو د رد دپاره بل تدبیر سنجوي او په بله بهانه باندې یې د پښو لاندې کوي.

۳ـ نو ای پیغمبره! مشرکانو ته ووایه چې که بالفرض د الله ﷻ د پلوه کومه معجزه چې تاسو غواړئ کټ مټ همغه معجزه دربانديې نازله کړی شي او ستاسو هغه مشکلات حل کړی شي کومو ته چې تاسو د مشکلاتو لقب ورکوئ او بهانه یې نیسئ چې مونږ د ایمان په راوړلو کښې بل مشکل نه لرو بې د دې څخه چې فرمایشي معجزات نشته. په دغه صورت کښې هم تاسو ایمان نه راوړئ او په خپل عهد باندې نه درېږئ. که داسې وشي نو تاسو به ضرور پوهنا کېږئ او دا څکه چې د هرچا څخه د الله ﷻ تدبیر وړاندې دی او هیڅوک یې مخه نه شي نیولی او نه ترې څوک تښتېدلی شي.

۴ـ ای پیغمبره! زمونږ علم پوره کامل دی، وړاندې او ببرته راته ښه معلوم دی او په دې باندې هم پوهېږو چې دوی فرمایشي معجزات د ایمان راوړلو په غرض نه غواړي. بلکې صرف لجاجت او عناد دی چې دوی یې دغې غوښتنې ته هڅولي دي. او کومې پرښتې چې مونږ د دوی په کړو وړو باندې ټاکلې دي هغوی روزمره د دوی مفسدانه تدابیر او لجاجتونه لیکي چې د بدو پایلو سره به یې ضرور مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته زښتې ډېرې معجزې ورکړي دي چې ډېره لویه معجزه یې همدا قرآن کریم دی چې تر قیامته به باقي وي او د هرې زمانې د هر ډول خلکو د ایمان دپاره کافي دی، خو د دې سره-سره د قرآن کریم د نزول په وخت کښې به مشرکانو نبي کریم ﷺ ته د معجزاتو فرمایش ورکاوه. خو کله به چې د دوی فرمایش پوره نه شو بیا به یې اعتراض کاوه چې زمونږ د فرمایش د نه پوره کېدلو وجه څه ده؟

۲ـ الله ﷻ د مشرکانو د ذکر شوي اعتراض په هکله نبي کریم ﷺ ته دا جمله نازله کړه چې ﴿ إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ ﴾، چې مفسرینو کرامو یې لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: تاسو خو داسې معجزه غواړئ چې ایمان راوړلو ته مو مجبور کړي[1] حال دا چې معجزه خو د دې دپاره ورکوله کېږي چې خلک فکر وکړي او ایمان راوړي، نه دا چې مجبور یې کړي او ایمان راوړي. دا ډول معجزات خو الله ﷻ یوه پیغمبر ته هم نه دي ورکړي، څکه چې د مجبوریت ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

پاتې شوه دا خبره چې ماته به یې راکړي او که نه؟ دا نو د غیبو څخه ده الله ﷻ پوهېږي او کار یې.

ب: ستاسو غوښتنه د تعنت او عناد څخه سرچینه اخلي او د دغسې غوښتنې نتیجه هلاکت وي، نو الله ﷻ پوهېږي چې ستاسو د هلاکت اراده به یې کړي وي او که نه[2].

---

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۳

(۲) البحر المحیط ج۶ ص۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: کومه معجزه چې تاسو غواړئ هغه د غیبو څخه ده او په غیبو باندې پوهېدل د الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو زه نه پوهېږم چې هغه به نازله کړي او که نه[۱].

د: ای مشرکانو! ستاسو په خیال موجوده معجزات د ایمان راوړلو دپاره کفایت نه کوي او خیر په دې کښې ګڼئ چې فرمایشي معجزه نازله شي، حال دا چې همدغه (چې خیر په فرمایشي معجزه کښې دی) د غیبو څخه ده او په غیبو باندې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نه پوهېږي[۲].

## مکر څه معنی؟

۳_ مونږ د [آل عمران:۵۴] ایت لاندې د مکر معنی لیکلې ده چې دا د هغه تدبیر څخه عبارت ده کوم چې د بل چا د ناکامولو دپاره په کار اچولی شوی وي.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې کله مونږ د خلکو بد حالت په ښه حالت باندې بدل کړو، مثلا د قحطی (وچکالی) په عوضورباندې بارانونه وکړو او وطن یې اباد کړو، نو بیا زمونږ احساناتو ته داسې لباس وراغوندي ته به وایې چې مونږورباندې بالکل احسان نه دی کړی او د بلې کومې خوا څخه ترې بدحالي لرې کړی شوې ده.

د ښه وضاحت دپاره لاندې قدسي حدیث ولولئ:

نبي کریم ﷺ د الله ﷻ څخه د هغې شپې په سبا کښې حکایت وکړ په کومه کښې چې باران شوی وه چې: «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ»[۳] یعنې زما د بندګانو څخه ځینې (په ما باندې) مومن وګرځېدل او ځینې (راباندې) کافر (جوړ شوه). نو هرهغه څوک چې وایي چې په مونږ باندې د الله ﷻ په فضل او د ده ﷻ په رحمت سره باران وکړی شو نو دا کس په ما باندې مؤمن دی او په ستوري باندې کافر دی، او هرڅوک چې ووایي چې په مونږ باندې د هغه او دغه ستوري په ختلو (یا پرېوتلو) باندې باران وکړی شو (او همدا پکښې موثر وه) نو دغه کس په ما باندې کافر شو او په ستوري باندې مؤمن شو (چې زما د رحمت څخه یې د ستورې په بهانه باندې انکار وکړ).

﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ

(۱) تفسیر البیضاوي في هذا المقام.
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۹۳
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَنجَىٰهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُم مَّتَـٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٣﴾

[۲۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو په بیدیا (وچه) او دریاب (لمده) کښې (په سورلی یا په پیاده او د لامبو په ډول) روانوي (بلکې ستاسو ټول حالات د الله ﷻ په قبضه کښې دي) آن تردې چې تاسو په بېړیو کښې یاست او بېړۍ د خپلو سورلیو سره (چې ښې درنې وي) د سپېڅلي باد په سبب جاري شي (روانې شي) او (هم سورلۍ) په همدې (سپېڅلي) باد (په چلښت) سره خوشاله شي نو (ناڅاپه سپېڅلی باد ودرېږي او) بېړیو ته تېز (توند) باد ورسېږي او (هم) سورلیو ته د هرخای (هرې خوا) څخه (مهلکې) څپې ورشي (متوجه شي) او (هم) دوی ګومان وکړي (پوه شي) چې یقیناً په دوی باندې (د مصیبت د پلوه) احاطه وکړی شوه (راګیر شوه. او هم د سورلیو خوشالي په غم بدله شوه نو) الله ﷻ په داسې حال کښې بلي (زارۍ ورته کوي) چې خاص همده ﷻ ته د خپل دین سوچه ګرخوونکي وي (او د شرک څخه توبه ګار وي. په دې باندې علاوه) الله ﷻ ته وعدې ورکوي چې ای ربه!) چې که ته مونږ ته د دغو مشکلاتو څخه نجات راکړې نو هرومرو (او) ضرور به مونږ د شکر ګوزارانو د ډلې څخه وګرځو (او په راتلونکي کښې به ستا سره شریک ونه دروو).

[۲۳] نو کله چې الله ﷻ دوی ته نجات ورکړي نو ناڅاپه (سمدستي) دوی په ځمکه کښې بدون د حق څخه (چې په خپله هم ورته ناحق ښکاري) بغاوت کوي.

(نو ته ورته زمونږ دپلوه ووایه چې) ای خلکو! یقیناً ستاسو بغاوت ستاسو په خپلو ځانونو باندې دی (ضرر یې همدا تاسو ته متوجه دی. ځکه چې تاسو د بغاوت څخه ګټه اخلئ) د خسیس (او نژدې) ژوند ګټه. بیا نو خاص مونږ ته ستاسو بېرته راستنېدل دي نو په هغه څه باندې به مو خبر کړو چې تاسو یاست چې کوئ یې.

## ارتباطونه

۱_ دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو مضمون په یوه مثال کښې واضحه کوي ته به وایې چې دا د هغو دپاره تفسیر واقع شوی دی. هغه دا چې کله د انسان د بېړۍ مشکلات حل شي نو دستي په خپل پخواني بغاوت باندې بېرته پیل کوي.

۲_ په دې باندې علاوه په دې ایتونو کښې د بوتانو ناتواني د یوه مثال په ضمن کښې ښودلې شوې ده، کومې ته چې د [یونس:۱۸] ایت کښې اشاره شوې وه.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای پیغمبره! د دې دپاره چې خلکو ته خپله بې ثباتي او د بوتانو ناتواني ښه پوره جوته شي نو دوی د الله ﷻ د پلوه د هغې بېړۍ مثال ته متوجه کړه کومه چې په دریاب کښې په نورمال

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حال باندې روانه وي او بیا طوفاني شي مګر د څه وخت څخه وروسته بېرته خپل نورمال حالت ته وروګرځي. د دې مثال مهم ټکي دا دي:

الف: ای انسانانو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په وچه او لمده دواړو کښې تاسو ته توفیق درکوي چې تګ راتګ پکښې وکړئ او اهدافو ته د رسېدلو لارې چارې مونډې کړئ، که د الله ﷻ کومک او نصرت نه وی نو نه به تاسو په بیابانو (بیدیاګانو) کښې تلل راتلل کړي وی، نه په دریابونو کښې او بالآخره نه به مو په هوا کښې پروازونه کړي وی. ایا بوتان ذکر شوی توفیق درکولی شي؟

ب: ستاسو ټول حالات د الله ﷻ په قبضه کښې دي او د همده ﷻ په کومک سره تحقق مومي، آن تردې چې تاسو په بېړیو کښې ناسته پاسته کوئ او هلته تر ډېرو وختونو پورې هم استوګنه کوئ. که د الله ﷻ نصرت نه وی نو بېړۍ به د اوبو په سر نه وی ګرځېدلې راګرځېدلې.

۳_ ای هغه څوکه چې عقل لرې! ته د انسانانو لاندې حالاتو ته ښه په ځیر سره وګوره چې څومره عجیبه دي:

الف: ترڅو پورې چې بېړۍ په دریاب کښې په نورمال حالت باندې روانه وي او باد هم په همغه طرف باندې چلېږي کوم طرف ته چې د سورلیو اهداف موقعیت لري، نو ته پوهېږې چې په بېړۍ کښې سواره کسان به څومره خوشاله وي او په څومره غیر مشروعو ډولونو سره به خپلې خوشالۍ څرګندوي، چې څوک به ناڅي، څوک به سندرې وایي، څوک به په کړس کړس باندې خاندي، چا به د سرود سامان په تخرګ کښې نیولی وي، ځینې به د شرابو په څښکلو باندې مشغول وي او ځینې به په فحاشۍ باندې مبتلا وي.

لنډه دا چې په ذکر شوي حالت کښې یوه ته هم الله ﷻ نه ورپه یادېږي ته به وایې چې د بېړیو چلېدل او د ب' موافقت ورته بوتانو تهیه کړی دی.

ب: مګر کله چې په عین حال کښې باد خپل ذکر شوی حالت پرېږدي او طوفاني بڼه غوره کړي او بېړۍ هم په اضطراري حرکت باندې مبتلا شي او د هرې خوا څخه د بېړۍ لوري ته د دریاب مهلکې څپې حرکت کوي، ته به وایې چې بېړۍ د اوبو د غرونو په منځکښې راګېره شوه او دغه دی غرقه شوه او هغه دی غرقېږي.

ج: په بېړیو کښې د ناستو کسانو ذکر شوی حالت په دې باندې مشتمل وي چې یوازې الله ﷻ ته زارۍ کوي او لاس یې پورته کړی وي چې: ای الله! ای زمونږ ربه! مونږ ته نجات راکړه، مونږ د بوتانو څخه بېزار یاستو، مونږ معتقد یو چې ته واحد او لا شریک یې، ای ربه! لکه څنګه چې همدا تا مونږ ته دریاب مسخر کړی دی نو همدا ستا څخه سوال کوو چې مونږ له دې طوفانه بچ کړه او نجات راکړه، ای ربه! که دا کار دې وکړ او مونږ دې د دغو مهلکو څپو څخه ژوندي وویستلو نو ضرور به مونږ ستا شکر ګذاران بندګان جوړ شو او هیڅکله به ستا سره شریک ونه دروو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نو کله چې الله ﷻ د دوی سوال قبول کړي او نجات ورکړي او بالآخره وچې ځمکې ته روغ رمټ ور پوربوزي او هلته پلې شي نو سمدستي خپل هغه حالت هېر کړي په کوم باندې چې لږ سات وړاندې په دریاب کښې مبتلا وه، چې د سوال لاسونه یې پورته کړي وه او هم یې وعدې ورکولې چې په راتلونکي کښې به د بوتانو نوم په خوله نه اخلي او سوچه موحدین به جوړ شي. دوی دغه هېر کړي او په خپلو پخوانیو شرکیاتو او ناحقه تصرفاتو باندې بیا د سره پیل وکړي، لکه د دې ځخه وړاندې چې ورباندې نه کوم بد حالت ورغلی وي او نه یې چرته الله ﷻ ته د عقیدوي اخلاص وعدې ورکړې وي.

ای هوښیاره! ته پوهېږې چې په اسلام باندې غیر مهذب خلک څومره بې ثباته او څومره بې صبره دي، او هم د دوی باطل معبودان څومره ناتوانه او څومره بې وسې دي حتی د عابدانو تمه هم ترې شکېږي او په ناتوانی باندې یې اعتراف کوي، مګر د دې سره-سره د خوشالی په وخت کښې یې د عبادت ځخه لاس نه اخلي.

۴ـ نو ای پیغمبره! د ذکر شوي مثال د قرائت ځخه وروسته زمونږ د پلوه خلک مخاطب کړه چې:

اول: ای خلکو! ستاسو بغاوت او په ځمکه کښې فساد کول همدا ستاسو په ضرر تمامېږي. تاسو هیڅکله د الله ﷻ دین ته ضرر نه شئ رسولی او د ترقی مخه یې نه شئ نیولی. نو په خپلو خانونو باندې رحم وکړئ او د دوزخ کندې ته یې مه ورګوزاروئ.

دوهم: دا دنیا دائمي کور نه دی، دا حقیر او نژدې ژوند د څو ورځو ځخه اضافه دوام نه لري او د محدود وخت ځخه زیات ترې څوک استفاده نه شي کولی.

دریم: بیا به نو تاسو بېرته مونږ ته راستانه شئ او مونږ به تاسو ته د خپلو کړو وړو خبر درکړو چې دا مو کړي دي او دا مو ویلي دي. که تاسو خپل کړه وړه هېر کړئ، هېر به یې کړئ، مګر زمونږ ځخه نه هېرېږي.

## توضیحات

۱ـ په ځمکه باندې حرکت د پیاده مزل او د څارویو د سورلیو ځخه عبارت دی خو په موجوده وخت کښې د موټرو، اورګاډو او نورو وسائلو په ذریعه حرکت کولو ته هم شاملېږي.

په دریابونو او یا سیندونو کښې حرکت کول کله په لامبو سره وي، کله په داسې بېړیو سره وي چې په طبعي باد باندې چلېږي او کله په هغو بېړیو باندې صورت نیسي کومې چې د ماشین په ذریعه حرکت کوي.

اما د الوتکو او هوایي جهازونو حرکت ته د ﴿ حَتَّىٰ ﴾ په توري سره اشاره شوې ده. یعني الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته په بیدیاګانو او دریابونو کښې حرکت درکوي او هم مو په هغه نورو شیانو کښې د یو ځای ځخه بل ځای ته انتقالوي کوم چې تاسو یې لا تر اوسه نه پېژنئ، آن تر دې چې تاسو ته کله په دریاب کښې داسې داسې حالات درپېښېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د عربيت يو تحليل

۲ـ د ﴿ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ ﴾ جمله د نورو معطوفاتو سره شرطيه جمله ده او د ﴿ بِهَا ﴾ ضمير په ﴿ بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ ﴾ كښې د ﴿ بِرِيحٍ ﴾ كلمې ته راجع دى. همدارنګه د ﴿ جَآءَتْهَا رِيحٌ ﴾ جمله د نورو معطوفاتو سره جزائيه جمله ده او ضمير پكښې ﴿ ٱلْفُلْكِ ﴾ ته راجع دى، چې په دې مقام كښې ترې يوه بېړۍ نه بلكې ډېرې بېړۍ مرادې دي. اما په ﴿ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ ﴾ جمله باندې د بدل اشتمال په توګه جزائيه جمله مشتمله ده[۱].

نو د معنى حاصل يې هغسې راوځي كوم چې موږ د "د مطلب خلاصه" عنوان لاندې راويستلى دى.

## سوال جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: ﴿ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې مشركان په درياب كښې ايمان راوړي او د نجات څخه وروسته بېرته مرتد كېږي. نو پوښتنه دا ده چې كه دوى نجات مونده نه كړي او په درياب كښې غرق شي نو دوى ته جنتيان ويلى شو؟

موږ وايو چې: ذكر شوى حال اضطراري حال دى او په اضطراري حال كښې ايمان راوړل د الله ﷻ په نزد مقبول نه دى، د همدې كبله يې د فرعون ايمان قبول نه كړ. لكه چې پوره شرحه يې په [يونس: ۹۱] ايت كښې ـ ان شاء الله ـ راروانه ده.

هو! كه څوک همدغه اضطراري ايمان ته د نجات څخه وروسته هم ادامه وركړي نو بيا د الله ﷻ په نزد مقبول ايمان ګڼل كېږي. د همدې جملې څخه د عكرمه بن ابو جهل ايمان دى چې د مكې معظمې د فتحې په ورځ وتښتېد او په بېړۍ كښې ورته همغه قيصه پېښه شوه كومې ته چې په ايت شريف كښې اشاره شوې ده.

دغه قيصه موږ د [الأنعام: ۴۰] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق ښه مشرحه ليكلې ده خو په دې مقام كښې هم ځينو مفسرينو كرامو ذكره كړې ده[۲].

﴿ إِنَّمَا مَثَلُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِٱلْأَمْسِ

---

(۱) تفسير الكشاف ج۲ ص۳۳۸

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱللَّهُ يَدْعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٥﴾ ﴾

[۲۴] یقیناً صفت د نژدې (او خسیس) ژوند چې دی د داسې اوبو په شان دی چې مونږ یې له اسمانه (د پاسه) رابښکته کړو (باران وکړو) نو د همدې اوبو په سبب سره د ځمکې نباتات (اول زرغون او بیا) یو تربله سره (د ډېر ګڼوالي د کبله) ګډ وډ شي (چې د یوه بوټي ځانګې په بل کښې ننوځي. دا نباتات) د هغه بوټو څخه عبارت دي چې خلک او (هم) څاروي یې خوري. (او ذکر شوي نباتات ښه پوره وده وکړي) آن تردې چې ځمکه ترې خپل ډول (او سنګار) واخلي او ښه (پرې) ښائسته شي او (بالآخره) د ځمکې خاوندان (اوسېدونکي) خیال وکړي چې یقیناً دوی پرې قدرت درلودونکي دي (چې حاصلات ترې راغونډ کړي وخت یې پوره دی).

(خو په عین وخت کښې) زمونږ (تکویني) امر د شپې یا د ورځې ورشي (ورته متوجه شي) نو دا (ځمکه) لو کړی شوې وګرځوي لکه چې دا (ځمکه) پرون (په نژدې وخت کښې په نباتاتو باندې) مشتمله نه وي پاتې شوي (او کوم بوټي پکښې څه اوږد وخت نه وي تېر کړی).

مونږ خپل ایتونه (او دلایل) د داسې قوم دپاره چې تفکر کوي په دغه ډول سره واضحه بیانوو.

[۲۵] او الله ﷻ دار السلام (جنت) ته (خلک) وربلي او چاته یې چې اراده وشي برابرې لارې ته یې هدایت کوي (په سمه لاره باندې د تللو توفیق ورکوي).

## ارتباط

په وړاندې وروستني ایت شریف کښې الله ﷻ دنیاوي ژوند ژر تېرېدونکی وګڼلو او د ناچیز او حقیر شي لقب یې ورکړ. په دې ایتونو کښې د یو پلوه همدغه مضمون د یو داسې مثال په ضمن کښې بیان کړی شوی دی کوم چې په سترګو لیده کېږي او د هېڅ څخه پټ نه دی او د بله پلوه د مقابلې د کبله په جنت باندې د "دار السلام" لقب اېښودلی شوی دی، چې زوال ورباندې نه واقع کېږي او د خزان څخه مامون دی. ترڅو خلک د مقایسې په توګه فکر وکړي چې د کوم یوه کور د حصول دپاره هڅې په کار دي. د دې دنیا دپاره که د هغې دنیا.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! خلکو ته د دنیا او د آخرت حالات په لاندې نکاتو کښې څرګند کړه:

۱ ــ دنیاوي ژوند ژر فاني کېدونکی دی او ډېره لږه استفاده ترې کېږي او کله لا ورته د سره د استفادې وخت نه رسېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې محسوس مثال قرائت کړه:

الف: خالي ډاګ ځمکه پرته وي چې نه پکښې کوم بوټی لیده کېږي او نه پکښې د تازګۍ نښې نښانې چاته په نظر ورځي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: كله چې مونږ په همدغه خړ پړ ډاګ باندې د غيبو (د اسمان له طرفه) اوبه ورنازلې كړو او باران پرې وورو نو حركت پكښې پيدا شي او د نباتاتو نرې-نرې تيغونه بهر ته په راوتلو باندې پيل وكړي.

ج: همدغه تيغونه د اوبو په ذريعه وده ومومي او نباتات ترې جوړ شي چې په نتيجه كښې دومره ګڼ شي چې د يوه بوټي څانګې په بل بوټي كښې ورننوځي او د ځمكې مخ پټ كړي او د خړپړ ډاګ څخه ترو تازه باغ جوړ شي.

د: د ذكر شوو ګل او ګلزار څخه خلك هم مستقيمه استفاده كوي چې پخپله يې خوري او خپلو څانونو ته ترې پوښاكونه جوړوي، او هم يې غير مستقيم د استفادې لاندې نيسي چې د دوى څاروي او ژوندي مالونه ترې د وښو او دانو په دود استفاده كوي.

هـ: ځمكه دومره تازه او ښايسته شي چې د ځمكو او باغونو د خاوندانو څخه پخواني حال بالكل هېر شي چې دا به په يو وخت كښې خړه پړه او ګردجنه ځمكه وه. همدارنګه د دوى په زړونو كښې د باغونو راتلونكي حالت هم هيڅ خطور نه كوي چې دا باغونه او نباتات به يا خزان شي او يا به په كوم آفت باندې له منځه لاړ شي. بلكې د دوى خيال وي چې دا به همېشه وي او هر وخت كښې به دوى ترې استفاده كولى شي.

و: په همدغه وخت كښې زمونږ د پلوه كوم آفت ورنازل شي او ذكر شوي باغونه او نباتات تاله ترغه كړي. حال دا چې خاوندان يې ورته په غړولو سترګو ګوري او د آفت څخه يې نه شي بچ كولى بلكې د آفت د مخنيوي څخه د ورځې هم داسې عاجز وي لكه څنګه چې ترې د شپې عاجز وي او د غفلت په خوب ويده وي.

ز: بالآخره په ذكر شوي آفت سره همدغه ځمكه خړه پړه او وچه كانګړه جوړه شي، ته به وايې چې دا همغه پرونۍ ځمكه ده چې هيڅ بوټي پكښې زرغون نه وه او بادونه وربادندې الوته.

۲ـ اى پيغمبره! مونږ خپل هدايات او ارشادات په دغسې ذكر شوي انداز كښې بيانوو څو د خلكو پرې سرونه خلاص شي او زړونو ته يې ولوېږي. خو دا د چا دپاره؟ دا د هغه قوم دپاره چې سوچ كوي او د دقت څخه كار اخلي او بالآخره موضوعاتو ته په سر سري نظر نه ګوري.

۳ـ بالمقابل اى پيغمبره! خلكو ته ورسوه چې الله ﷻ تاسو جنت ته دعوت كوي چې په نومونو كښې يې يو نوم دار السلام دى. هلته نه آفت شته او نه خزان، او هم به هلته تاسو همېشه ياست او هم به ستاسو كور (جنت) همېشه وي. يا په بل عبارت: الله ﷻ د دار السلام دپاره بلل كوي او چاته يې چې اراده وشي هغه لاره هم ورعنايت كوي كومه چې دار السلام ته روغه ورغلې ده. هغه لاره همدغه قرآن دى او بس، چا چې نن ورځ ورته بله لاره ولټوله نو هغه به هيڅكله مطلب ته ونه رسېږي.

## توضيحات

۱ـ الله ﷻ د دنيا فانيتوب دلته د نباتاتو په مثال كښې ښودلى دى خو په حقيقت كښې د دنيا په هر شي باندې داسې وخت تېر شوى دى چې هغه به موجود نه وه او د چا په خيال كښې به نه تېرېده

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو بيا داسې وخت هم ورباندې راغلی دی چې هغه موجود شي او تاکلی عمر يې بنه په غور او پش کښې تېر کړی او بالآخره ورباندې داسې وخت هم ورځي چې بالکل موجوديت نه لري، لکه چې هغه هرګز وجود نه وی درلودلی.

زه (سلطان عزيز عفرالله عنه) دا دی نن[۱] لګيا يم د الله ﷻ په توفيق تفسير ليکم، خو داسې وخت راتلونکی دی چې دا تفسير او ليکنه به وي او زه به نه يم، خو زه په همغه وخت کښې هم د لوستونکو څخه دا غوښتنه کوم چې زما دپاره د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي او ورته لاس په دعاء شي.

همدا موضوع يوه پښتون شاعر (عبدالرحمن عليه الرحمة) ښومره ښه تمثيله کړې ده چې[۲]:

پيغمبر غونډې صاحب د دنيا تېر شو :: دا دنيا يې ورانه نه شوه په هجران
که غلبل کړم د تمامې دنيا خاورې :: بيا به نه مومم دارا او شاجهان
بوی د نام و د نښان يې پاتې نه شو :: چې دعوی يې کړه د نام او د نښان
که دروغ وايم ته ورشه نظر وکړه :: د پلار او د نيکه په ګورستان
چې مدام به يې په قربان قربان بلل :: اوس دې غږ درباندې وکا چې قربان
د رحمان و سوزان شعر ته حيران يم :: چې يې اور بل شوی نه دی په ديوان

## د تشبيه وجوه

۲ـ مفسرينو کرامو[۳] په دې مقام کښې د تشبيه دپاره پنځه وجې په ګوته کړي دي خو په حقيقت کښې پنځه واړه په فانيتوب او په لږه استفاده کښې خلاصه کېږي. په هر تقدير دلته مرکبه تشبيه ده چې د مفرداتو تطبيق ته اړتيا نه لري.

که څوک غواړي چې مرکبه تشبيه په دې مقام کښې ښه پوره وڅېړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۴]. خو مونږ يې د مضمون خلاصه وړاندې ليکلې ده، والحمد لله ﷻ.

## غنی څه معنی؟

۳ـ په ﴿ كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ ﴾ کښې د ﴿ تَغۡنَ ﴾ کلمه د هغې غنی څخه اخستله شوې ده کومه چې د اوږده سکونت معنی ورکوي[۵].

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل يې داسې راځي: چې کله مونږ په ذکره شوې ترو تازه ځمکه باندې آفت نازل کړو نو هغه د نباتاتو څخه لو کړی شوې او صافه کړی شوې وګرځوو، ته به وايې چې پرون يعنې په نژدې وخت کښې دلته کوم نبات څه اوږد وخت نه دی تېر کړی بلکې بالکل پکښې کوم بوټی نه دی زرغون شوی.

---

(۱) ۱۳۷۵/۸/۲۴ هـ ش
(۲) د عبد الرحمن مومند ديوان ص۱۱۴
(۳) التفسير الكبير ج۱۷ ص۷۳
(۴) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۱۰
(۵) مفردات الراغب ص۳۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جنت ته په څه منظور د دار السلام نوم اېښودلی شوی دی؟

۴_ مونږ _لله الحمد_ هغه وجوه د [الأنعام: ۱۲۷] ایت لاندې لیکلي دي د کومو د کبله چې جنت ته د "دارالسلام" لقب ورکړی شوی دی، چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾﴾

[۲۶] (د الله ﷻ په نزد) خاص د هغو کسانو دپاره چې نېکي یې کړې وي ډېر ښه حالت او (عظیم الشان) زیادة (د الله ﷻ دیدار) هم دی، او (هم) د دوی مخونه به نه توروالی پټ کړي او نه ذلت. دغه کسان چې دي دجنت ملګري دي، دوی به پکښې همېشه وي.

[۲۷] او هغه کسان چې بدکارونه یې (د کفر په شمول) کړي وي نو (د دوی په باره کښې الهي قانون دا دی چې) د یوې بدۍ جزا دهمغې بدۍ یو مثل دی (او بس)، او (هم) ذلت (او خواري) به دوی پټ کړي. دوی ته به د الله ﷻ څخه پرته هیڅ پناه ورکوونکی نه وي. (په دوی باندې به دومره شرمندګي ورنازله کړی شي چې) مخونه به یې د تکې تورې شپې په تیارو ټوټو باندې پټ کړی شوی غوندې وي. همدغه کسان د اور ملګري دي چې دوی به پکښې همېشه وي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د دنیا او د آخرت حالات د مقایسې په توګه بیان شوې وه په دې ایتونو کښې د نېکانو (چې آخرت خوښوي) او د بدانو (چې دنیا خوښوي) حالات د موازنې په توګه بیان شوي دي.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! اوس نو خلکو ته د نیکانو او بدانو (دواړو ډلو) حالات په لاندې ټکو کښې بیان کړه څو جنت ته په ترغیب کښې او د دوزخ څخه په ترهیب کښې ښه ګټور واقع شي.

۱_ د نېکانو دپاره (چې په فاني دنیا باندې یې زړه نه وي تړلی او صرف د دې غرض دپاره ترې استفاده کوي چې آخرت پرې وګټي) لاندې کیفیات ساتلی شوي دي:

الف: دوی ته به داسې ښائسته او ښه حالات وي چې د لیدلو پورې اړه لري، په دې دنیا کښې یې څوک د پوره تصور لاندې نه شي راوستلی. دا ځکه چې هغه نه سترګو لیدلي دي، نه غوږونو اورېدلي دي او بالآخره نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: الله ﷻ به دوی ته خپل دیدار هم ورکړي، چې دا په ټولو نعمتونو باندې د پاسه دی او هیڅ یو نعمت ورسره سیالي نه شي کولی.

ج: د نېکانو مخونه به تک سپین (روښانه) ځلېږي او پړق به وهي، چې د خوشالۍ او اعزاز نښې به پکښې د ورایه برېښي.

د: دغه ډله خلک به د جنت انډیوالان وي چې همېشه به پکښې اوسېږي، نه به د دوی څخه جنت فاني کېږي او نه به ورسره دوی انډیوالي شکوي چې ترې بهر ووځي او یا ترې وویستلی شي.

۲ـ او ـبالمقابلـ هغه کسان چې دنیا یې اصلي او نهایي هدف ګرځولی وي او د آخرت غم ورسره نه وي، په لاندې کیفیاتو سره به ککړ کړی شي:

الف: دوی ته به د خپلو ګناهونو او خپلو بدیو په اندازه جزاوې ورکړی شي او هیڅکله به الله ﷻ په دوی باندې تېری ونه کړي چې په جزاګانو کښې یې زیادت وکړي.

ب: دوی به د ډېر ذلت او خجالت سره مخامخ وي، دنیاوي غرور او تکبر به پکښې هیڅ نه لیده کېږي.

ج: دوی به د الله ﷻ د عذابونو څخه نه کوم ناصر او کومکي موندلی شي او نه به دوی ته څه د پنا اخستلو ځای وي.

د: مخونه به یې د ډېر خپګان او شرمندګۍ څخه داسې تک تور ګرځېدلي وي لکه په مخونو باندې یې د تکې تورې شپې تیارې ورخورې وي او څو قاته ورباندې پرتې وي.

هـ: په ټولو باندې دپاسه به دوی د اور دائمي انډیوالان وي، نه به ترې د دوزخ اور مړ کېږي او نه به ترې دوی بهر وتلی شي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ زِيَادَةٌ ﴾ کلمه په ډېرو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۱] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ زِيَادَةٌ ﴾ کلمه په جنت کښې د یوې ماڼۍ څخه عبارت ده چې د ملغلرو څخه جوړه ده او څلور دروازې لري.

ب: ﴿ زِيَادَةٌ ﴾ یعنې د الله ﷻ د پلوه رضامندي او هم د ګناهونو مغفرت.

ج: ﴿ زِيَادَةٌ ﴾ یعنې د نېکیو چندونه، چې اقلاً د لسو چندو پورې اضافه کېږي.

د: مګر کوم تفسیر چې جمهورو علماوو کرامو خوښ کړی دی او د ډېرو صحابه وو کرامو او تابعینو څخه راپاتې دی[۲] او بالآخره د نبي کریم ﷺ په مرفوع حدیث شریف باندې هم ثابت دی

[۱] زاد المسیر ج۴ ص۲۲
[۲] روح المعاني ج۱۱ ص۱۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه د دې عبارت څخه دی چې الله ﷻ به په جنت کښې جنتيانو ته خپل ديدار ورکړي، (اللهم اجعلنا من هؤلاء).

حديث شريف هغه دی کوم چې صهيب ﷺ د ذکر شوي ايت شريف په تفسير کښې روايت کړی دی چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل: «إِذَا دَخَلَ اهل الْجَنَّةِ نَادَى مُنَادٍ أَنَّ لَكُمْ عِنْدَ اللهِ مَوْعِدًا وَيُرِيْدُ أَنْ يُنْجِزَكُمُوْهُ قَالُوا أَلَمْ يُبَيِّضْ وُجُوهَنَا وَيُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ وَيُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ قَالَ فَيَكْشِفُ الْحِجَابُ قَالَ فَوَاللهِ مَا أَعْطَاهُمْ شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَيْهِ»[١] يعني کله چې جنتيان (جنت ته) داخل شي نو يو اواز کوونکی به (ورته داسې) اواز وکړي چې ای جنتيانو! د الله ﷻ په نزد ستاسو دپاره يوه وعده (پاتې) ده (چې تر اوسه پورې لانه ده درکړه شوې) او الله ﷻ اراده کړې ده چې هغه درپوره کړي.

جنتيان به (د خپلو ځانونو سره) وايي چې (دا به نو څه وعده وي؟ کوم شی دی چې الله ﷻ مونږ ته نه دی راکړی) ايا زمونږ مخونه يې تک سپين نه دي ګرځولي؟ ايا مونږ ته يې د اور څخه نجات نه دی راکړی؟ ايا مونږ يې جنت ته نه ياستو داخل کړي؟

(خو) الله ﷻ به (په عين وخت کښې) نوراني پرده ببرته کړي (او جنتيان به يې په ديدار باندې مشرف شي).

نبي کريم ﷺ په سوګند سره وفرمايل چې قسم دی چې الله ﷻ به دوی ته (د نعمتونو څخه) هيڅ داسې شی نه وي ورکړی چې هغه به دوی ته الله ﷻ ته د نظر کولو څخه محبوب وي (نو دا د ټولو نعمتونو څخه لوی نعمت دی).

## تبصره

٢ـ کوم ايت شريف چې نبي کريم ﷺ تفسير کړی وي په هغه کښې د بل تفسير کول چندان ښه خبره نه ده، خو په دې مقام کښې متباقي تفسيرونه د ماثور تفسير سره څه ضديت او منافات نه لري. نو د همدې کبله ځينو مفسرينو کرامو[٢] په ايت شريف کښې ذکره شوې د ﴿ زِيَادَةٌ ﴾ کلمه په عامه معنی اخستې ده چې ټولو تفسيرونو ته شامليږي او مونږ ته همدغه عموميت بهتر ښکاري.

## "قَتَرٌ" څه معنی؟

٣ـ علماء کرامو د ﴿ قَتَرٌ ﴾ د کلمې دپاره ډېرې معناوې کړي دي: لکه توروالی، د دوزخ لوږی، ګرد او شرمندګي[٣]، مونږ ته داسې بريښي چې هغوی به يوه يوه معنی د مثال په توګه ذکره کړې وي او حصر به يې مطلب نه وي، دا ځکه چې د دوزخيانو په مخونو کښې ذکرې شوې ټولې معناوې تحقق مومي نو يو تربله سره څه منافات نه لري.

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٨٢ او١٤٢؛ مسند احمد حنبل ج٦ ص٥٠٤ ـ ج٩ ص٢٤٠
(٢) تفسير الطبري ج٧ ص١٠٨
(٣) زاد المسير ج٤ ص٢٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ
وَقَالَ شُرَكَاؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾ فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ
عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ ﴿٢٩﴾ هُنَالِكَ تَبْلُو كُلُّ نَفْسٍ مَّا أَسْلَفَتْ وَرُدُّوا إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ
الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٣٠﴾﴾

[۲۸] او هغه ورځ (یاده کړه) چې ټول مشرکان مونږ (د ځمکې څخه را پورته او) راغونډ کړو (او) بیا هغو کسانو ته چې شرک یې اختیار کړی دی (داسې) ووایو چې: په خپلو ځایونو باندې تاسو او ستاسو شریکان (ودرېږي چې ستاسو څخه استنطاق صورت نیسي).

نو مونږ به د دوی (عابدانو او معبودانو د) منځ (علائق) وشکوو (پرې کړو)، او شریکان به یې (ورته) ووایي (خطاب وکړي چې: ای معبودانو!) تاسو خو (په دنیا کښې) نه وئ چې مونږ ته مو عبادت کړی وي (بلکې تاسو خو د خپلو خواهشاتو عبادت کړی دی).

[۲۹] نو الله ﷻ د شاهد په حیث زمونږ او ستاسو ترمنځ کفایت کوي (بلکې) یقیناً مونږ ستاسو د عبادت څخه (په دنیا کښې) ناخبره وو (فقط همدا اوس تاسو پرې خبر کړو).

[۳۰] په دغه ځای (د محشر په میدان) کښې به هرڅوک هغه څه تجربه کړي کوم چې دوی وړاندې استولي وه (چې مطلوبه نتیجه ورکوي او که څنګه). او الله ﷻ خپل (حقیقي) مالک (تصرف کوونکي) ته به (دوی ټول) ورتاو کړی شي او د دوی څخه به هغه څه ورک شي کوم چې دوی (په دنیا کښې) وه چې دروغ یې جوړول (هرڅه به په ډاګه شي).

## ارتباط

په وړاندېني نژدې ایت کښې الله ﷻ د ټولو کفارو د اخروي حالاتو څخه څه حالات بیان کړه، په دې ایتونو کښې دکفارو د یوې خاصې ډلې (چې د الله ﷻ سره یې په عبادت کښې بوتان ودرولي وي) څه حالات بیان شوي دي چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! خپل امت ته دې د مشرکانو څو خاص حالات بیان کړه، چې بوتان به یې د عبادت څخه انکار وکړي او هیڅ په درد به یې دوا نه شي، چې:

۱- په کومه ورځ باندې چې مونږ ټول مشران را غونډ کړو او یو هم بهر پرېنږدو، بلکې د وړاندېنیو او وروستنیو څخه یو صف جوړ کړو، نو د دوی بوتان او باطل معبودان به هم د دوی ترڅنګ ودروو.

۲- بیا به ټول مخاطب کړو چې په ځای تاسو هم ودرېږئ او ستاسو باطل معبودان دي هم د خپل ځای څخه نه ښورېږي تر څو تاسو په هغه دروغو باندې ښه تخجیل کړی شئ کوم چې تاسو په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دنیا کښې د هغو مرتکب شوي وي چې دوی زمونږ شفاعتګر دي.

۳_ بیا به د دوی ترمنځ پرده لرې کړی شي، نو مشرکان به خپل معبودان په هغې اصلي څېره کښې وګوري کومه چې دوی درلوده، چې نه یې شفاعت کولی شو، نه د عبادت پرواګیر وه او بالآخره نه د عابدانو د عبادت څخه خبر وه.

۴_ نو باطل معبودان به په څرګندو الفاظو کښې د مشرکانو د عبادت څخه انکار وکړي چې: ای مشرکانو! تاسو خو په دنیا کښې زمونږ عبادت نه دی کړی بلکې تاسو خو د خپلو خواهشاتو او نفسیاتو عبادت کاوه او د همغو پیروي مو کوله، نو تاسو زمونږ څخه د شفاعت تمه مه کوئ.

زمونږ او ستاسو ترمنځ الله ﷻ شاهد دی او د همده ﷻ شهادت کفایت کوي چې مونږ هیڅکله تاسو ته د خپل عبادت بلنه نه وه درکړې او نه مو تاسو ته د شفاعت کولو تمه درکړې وه.

برسېره په دې چې مونږ تاسو ته د خپل عبادت امر نه وه کړی، مونږ بې شکه ستاسو د عبادت څخه په دنیا کښې غافل او ناخبره وو، مونږ همدا اوس پوه شو چې تاسو زمونږ دپاره د عبادت مدعیان یاست.

۵_ په دغې ورځ کښې به یوازې مشرکانو ته د خپلې کړنلارې بطلان او غلطي څرګنده نه شي بلکې هرچا ته به د خپلو دنیاوي کړو وړو څخه پرده پورته کړی شي او هرڅوک به خپل هغه اعمال امتحان کړي کوم چې دوی د خپلو ځانونو څخه وړاندې استولی وي. چې ایا هغه نتیجه پرې ترتب موندلی شي د کومې په تمه باندې چې دوی په دنیا کښې ترسره کول او که نه؟ یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به مؤمنانو ته او هم کفارو ته د خپلو خپلو عقایدو حقانیت او بطلان ښه په ډاګه شي.

۶_ دا خکه چې ټول مخلوقات به خپل حقیقي مالک ته بیولي شوي وي او د همده ﷻ په حضور کښې به ولاړ وي، نه به څوک دروغ ویلی شي او نه به دروغ چاته څه ګټه او فایده رسولی شي، بلکې د ټولو دروغژنانو دروغینې وېناګانې او دروغین کارونه به خاتمه ومومي او بالکل به د قبول د میدان څخه ورک شي، چې هیڅوک به پرې خوله نه شي ښورولی.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې د دې جملې ﴿ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ﴾ څخه څرګندېږي چې د قیامت په ورځ به بوت پرستان او بوتان په یوه ځای کښې راغونډ کړی شي، لکه چې په همدغه مضمون باندې د دواړو جانبو ترمنځ مباحثه هم دلالت کوي، حال دا چې په همدغه ایت شریف کښې الله ﷻ د ﴿ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ﴾ جمله هم نازله کړې ده چې د جداوالي او تفریق معنی ورکوي. نو پوښتنه دا ده چې ایا د ذکرو شوو دوادو جملو ترمنځ تضاد نشته؟

مونږ وایو چې: د "زَيَّلْنَا" جمله خو د "تَزْيِيل" څخه اشتقاقه شوې ده او رښتیا چې "تَزْيِيل" د تفریق معنی ورکوي[۱] مګر په دې مقام کښې د ابدانو تفریق (یو د بل څخه شکول) مطلب نه دي بلکې د

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۳۱٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغو علانقو شکول مراد دي د کومو د امله چې په دنيا کښې عبادت صورت نيولی وه[۱]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: که څه هم عابدان او معبودان به په يوه ځای کښې راغونډ کړی شوي وي خو د دوی ترمنځ به نه دنياوي مينه او محبت وي او نه به هغه علاقه (پيوند) موجوديت ولري د کوم د امله يې چې دوی عبادت کاوه.

د همدې مطلب څخه الله ﷻ حکايت کوي چې: ﴿ وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ ٱلۡأَسۡبَابُ ﴾ [البقرة:۱۶۶] يعنې هغه وخت ياد کړه چې معبودان د عابدانو څخه بېزار شي او الهي عذاب هم وګوري او (بالآخره) د پيوستون اسباب يې ټول وشکېږي.

## يادونه

مونږ د [البقرة:۱۶۶] ايت لاندې ليکلي دي چې د بوت پرستانو هغه معبودان به په خپلو ژبو باندې خپله بېزاري اعلانه کړي کومو چې په دنيا کښې عقل درلود، لکه ملائک او نور، او هغو بوتانو ته به الله ﷻ نطقيه قوه ورکړي او خپله بېزاري به اعلانه کړي کومو چې عقل نه درلود او جمادات وه. او يا به د حال په ژبه د خپلو عابدانو څخه بېزاره شي.

## بلاء څه معنی؟

۲_ د ﴿ تَبۡلُواْ ﴾ کلمه د "بَلاء" څخه اخستله شوې ده، "بَلاء" د امتحان او تجربې معنی ورکوي[۲]. څرنګه چې الله ﷻ خپل بندګان کله په نعمتونو باندې امتحانوي او کله يې د مشکلاتو سره په مخامخ کولو باندې د امتحان لاندې نيسي نو په قرآن کريم کښې ذکره شوې کلمه د نعمت او محنت دواړو په معناوو کښې استعماله شوې ده.

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راوخي چې په دغه ځای (د حشر په ميدان) کښې به هرڅوک خپل هغه کړه وړه تجربه کړي کوم چې دوی په دنيا کښې د خپلو ځانونو څخه وړاندې استولي وه، چې ايا هغه نتائج ورکوي د کومو په تمه باندې چې دوی ترسره کړي وه او که نه.

نو د مؤمنانو تجربه به کامیابه وخېژي او مطلب ته به پرې ورسېږي خو بالمقابل د کفارو او خصوصاً د مشرکانو تجربه به د ناکامۍ سره مخامخه شي بلکې بده نتيجه به ورکړي.

﴿ قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ﴿٣٢﴾

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۵۰
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٣﴾ قُلۡ هَلۡ مِن
شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣٤﴾
قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ
أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٥﴾ وَمَا يَتَّبِعُ
أَكۡثَرُهُمۡ إِلَّا ظَنًّاۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

[۳۱] (اى پيغمبره! مشركانو ته) ووايه چې: تاسو ته د اسمان او ځمكې د پلوه څوک روزي دركوي؟ يا څوک دى چې (ستاسو) د غوږونو او سترګو مالک دى؟ (چې هم يې پيدا كړي دي او هم يې د آفتونو څخه ساتي)؟ او څوک دى چې ژوندى د مړي څخه راوباسي او مړى (بې روحه) د ژوندي (شي) څخه راوباسي؟ او (بالآخره) څوک دى چې د (روزمره) كارونو تدبير كوي (او د ادارې لاندې يې نيسي)؟.

نو ژر دي چې دوى به (د هرې يوې پوښتنې په جواب كښې) ووايي چې: الله ﷻ دى.
نو ته ورته ووايه چې: ايا نو تاسو (د الله ﷻ څخه) نه ډارېږئ؟.

[۳۲] (دا هم ورته ووايه چې) نو دغه الله ﷻ ستاسو حق رب (او حقيقي پالونكى) دى، نو هغه شى كوم دى چې د حق څخه وروسته وي (هغه شى نه دى) مګر بې لارې (او ګمراهي) ده. نو (د حق څخه) كومې خوا ته ګرځولى كېږئ؟.

[۳۳] دغه شان (په دغه ډول سره) ستا د رب ﷻ خبره (حكم) په هغو كسانو باندې ثبوت مومي چې فسق يې غوره كړى دى (دا حكم چې) يقيناً دوى ايمان نه راوړي (په زړونو باندې يې مهر لګېدلى دى).

[۳۴] (بيا ورته) ووايه چې: ايا ستاسو د شريكانو څخه (داسې) څوک شته چې په اول ځل يې خلق (مخلوق) پيدا كړى وي (او) بيا يې (د عدم څخه) بېرته (وجود ته) راوګرځوي (بيا يې ژوندي كړي)؟.
(كله چې دوى سكوت وكړ نو) ته (ورته) ووايه چې الله ﷻ په اول ځل مخلوق پيدا كړى دى بيا يې (د عدم څخه وروسته) بېرته ګرځوي (را ژوندى كوي). نو (د حق څخه) كوم لور ته اړولى كېږئ؟.

[۳۵] (بيا ورته) ووايه چې: ايا ستاسو د شريكانو څخه (داسې) څوک شته چې حق ته لارښوونه وكړي؟.

(نو د هغوى د سكوت څخه وروسته ورته) ووايه چې: (يوازې) الله ﷻ حق (دين) ته لارښوونه كوي (او بس).

(بيا ورته ووايه چې:) ايا نو هغه څوک مستحق (لايق) دى چې پيروي يې وكړى شي كوم چې حق

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(دین) ته لارښودانه کوي (او پخپله هم د سمې سیدې لارې خاوند وي)، او که هغه څوک (د پیروۍ لیاقت لري) چې (بل چا ته خو هدایت نه شي کولی خو پخپله هم) حقه لاره نه شي درلودلی مګر هله چې لارښودانه ورته وکړی شي (چې د غسې کوه او دغسې مه کوه)؟.
نو څه دي تاسو لره (چې د بوتانو په عبادت کلک یاست، دا) څنګه (غیر معقوله) فیصله (او حکم) کوئ.

[۳۶] (ای پیغمبره!) د دوی (مشرکانو) اکثریت (د بل شي) پیروي نه کوي مګر د ګومان (تابع دی، څه برهان او دلیل نه لري). یقیناً هر یو ګومان (خصوصاً باطل ګومان) د حق (یقین) څخه د (لږ شي بې پروایي هم نه شي راوستلی (څه شی پرې د عقایدو په هکله نه شي ثابتېدلی).
بې شکه الله ﷻ په هغه څه باندې پوه دی کوم چې دوی (مشرکان) یې کوي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د باطلو معبودانو هغې ناتوانۍ ته اشاره شوې وه کومه به چې په قیامت کښې څرګنده شي، چې نه به خپلو عابدانو ته څه شفاعت کولی شي او نه به د دوزخ څخه نجات ورکړی شي. په دې ایتونو کښې یې هغه دنیاوي ناتوانۍ بیانې شوي دي د کومو څخه چې مشرکان هم سترګې نه شي پټولی.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! مشرکانو ته لاندې څو متعددې پوښتنې متوجه کړه چې د هرې یوې په جواب کښې د دوی د شرکي مسلک بطلان نغښتی دی او د هر جواب څخه په دوی باندې یو حجت قائمېږي. چې تفصیل یې په لاندې دریوو ګروپونو کښې خلاصه کېږي:

### لومړی ګروپ:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې ترې دا پوښتنه وکړه چې: ای مشرکانو! هغه څوک دی چې تاسو ته د روزي درکولو دپاره د اسمان څخه باران نازلوي او د ځمکې څخه نباتات رازرغونوي. ایا دا کار الله ﷻ کوي او که ستاسو باطل معبودان؟
نو دوی به ضرور جواب درکړي چې دا د الله ﷻ کار دی. نو ته ورته الزاماً ووایه چې: ایا تاسو اوس هم د شرک څخه خانونه نه بچ کوئ؟ ایا دا د انصاف خبره ده چې خوراک او څښاک الله ﷻ درکوي او عبادت د غیرالله کوئ؟
۲ـ بله دا چې هغه څوک دی چې ستاسو غوږونه او ستاسو سترګې د هغه په قدرت کښې دي، چې هم یې دغه دواړه د نشت څخه ستاسو د ګټو دپاره پیدا کړي دي او هم یې د آفاتو څخه د مقدر وخته پورې ساتي؟ ایا دا د الله ﷻ په اختیاراتو کښې دي او که ستاسو د باطلو معبودانو د ولکې لاندې دي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دوی به ضرور اقرار وکړي چې دا هم د الله ﷻ کار دی. نو ته ورته د الزام په توګه ووایه چې: ایا ستاسو سره دا خطر نشته چې الله ﷻ درڅخه هم سترګې واخلي او هم مو په غوږونو باندې کاڼه کړي، ترڅو د شرک څخه لاس واخلئ؟

۳_ دا هم راته ووایاست چې هغه څوک دی چې مړی د ژوندي څخه وباسي او د ژوندي څخه مړی (بې روحه شی) بهر ته را وباسي؟ ایا دا کار د الله ﷻ څخه پرته څوک کولی شي؟.

نو دوی به دلته هم اقرار وکړي چې دا کار د الله ﷻ څخه په غیر زمونږ د معبودانو د لاسه پوره نه دی. نو ته ورته ووایه چې: ایا تاسو د ذکر شوي اقرار سره سره خپلو شرکیاتو ته ادامه ورکوئ؟!.

۴_ بالآخره په دنیا کښې د ټولو روزمره کارونو تدبیر او اداره د چا په ولکه کښې ده؟ د الله ﷻ او که ستاسو د باطلو معبودانو؟.

په دې پوښتنه کښې هم بل جواب نه شي درکولی بې د دې څخه چې ووایي په دنیا کښې ټول روزمره کارونه د الله ﷻ په اختیار کښې دي حتی چې طوفاني بېړۍ ته هم الله ﷻ نجات ورکولی شي او زمونږ معبودان د نجات ورکولو څخه عاجز دي.

نو ته ورته بیا الزامًا ووایه چې: ایا اوس هم تاسو په خپل شرک باندې کلک یاست حال دا چې تاسو پوهېږئ چې په سخته ورځ کښې مو په درد نه خوري؟.

۵_ ای پیغمبره! بالآخره مشرکان مخاطب کړه چې دغه الله ﷻ (چې ذکر شوي صفات لري) ستاسو په حقه باندې رب او پالونکی دی، نو تاسو ته په کار دي چې یوازې د همده ﷻ عبادت وکړئ او هیڅ شی ورسره شریک ونه ګڼئ: که نه نو د حق څخه هغې خوا خو د ګمراهۍ او ضلالت څخه په غیر بل شی نشته نو تاسو کوم طرف ته اړولی کېږئ؟ ایا تاسو دومره هم نه پوهېږئ چې حق تعدد نه قبلوي؟ نو کله چې د الله ﷻ ربوبیت حق دی نو پوره واضحه ده چې د ده ﷻ څخه په غیر د نورو شیانو ربوبیت باطل دی.

۶_ ای پیغمبره! د دغسې قوي حجتونو سره سره مشرکان خپل خط السیر نه بدلوي، دا ځکه چې د دوی په زړونو باندې مهر لګېدلی دی او ستا د رب ﷻ حکم په دغو فاسقانو باندې صدق موندلی دی، چې دوی ایمان نه راوړي او د شرکیاتو څخه لاس نه اخلي که څه هم په حجتونو باندې ملزم کړی شي. نو د الله ﷻ په نزد باندې فیصله ده چې دوی اهل النار دي او ټول به پکښې ورواچولی شي.

دوهم ګروپ:

۷_ ای پیغمبره! د مشرکانو څخه بله دا پوښتنه وکړه چې ایا ستاسو د باطلو معبودانو څخه هغه څوک شته چې اول خل پیدا کول کولی شي؟ ایا د دوی څخه کوم یوه چرته په یوه مچ یا ماشي کښې روح اچولی دی؟ ایا د نشت څخه یې چرته کوم شي ته وجود ورکړی دی؟.

۸_ او هم ورته ووایه چې: ایا ستاسو د معبودانو څخه کوم یو داسې شته چې معدوم شوي شي ته د دوهم خل دپاره وجود ورکړي لکه چې بالکل ورباندې عدم نه وي ورغلی؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د دغو دوارو پوښتنو په جوابونو کښې هم مشرکان بل جواب نه لري بې د دې چې اعتراف وکړي چې زمونږ د معبودانو دغه یوکار هم د لاسه پوره نه دی. خو څه لرې نه ده چې د خجالت د کبله خپل سرونه ټیټ کړي او سکوت اختیار کړي.

نو کله چې دوی ساکت پاتې شوه نو ته ورته ښه په جرئت سره ووایه چې: الله ﷻ دغه دواړه کارونه کوي او کولی شي، چې هم یې اول ټول مخلوقات پیدا کړي دي او هم یې د معدومولو څخه وروسته بیا موجودوي او پخوانی اخستل شوی وجود بېرته ورکوي.

نو چې دا کار هم ستاسو معبودان نه شي کولی او یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري نو انصافاً ووایاست چې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک یا بل شی د عبادت لیاقت لري. نو تاسو کوم طرف ته تاوولی کېږئ چې په واضحه خبره باندې مو خپل ځانونه رانده کاڼه اچولي دي.

## دریم ګروپ:

۹_ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې: ایا ستاسو په معبودانو او شریکانو کښې داسې څوک شته چې په تاسو کښې هغه ځاته سمه سیده لاره وربه ګوته کړي چا چې په بیدیا او بیابان کښې لاره ورکه کړې وي او سرګردان ګرځي؟.

۱۰_ او هم په دوی کښې داسې څوک شته چې معنوي لاره ښودلی شي، چې دا حقه لاره ده او دا باطله؟ ایا تاسو ته خپلو بوتانو څه توصیه او هدایت کړی دی چې مونږ د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریک کړئ؟.

نو د دغو دوارو پوښتنو جواب هم منفي دی، او د دې کبله چې د مشرکانو سره د ثبوت دپاره هیڅ دلیل نشته نو دلته به هم دوی چپ پاتې شي او د خجالت د وجهې څخه به په ژبه باندې هیڅ ونه شي ویلی. خو څه لرې نه ده چې د سرونو په ښورولو سره جواب درکړي چې: زمونږ په بوتانو کښې د هدایت توان نشته.

نو ته ورته جواب ورکړه چې: په ذکرو شوو دوارو مواقعو کښې الله ﷻ هدایت کوونکی دی، چې هم په بیابانونو او دریابونو کښې لارښودانه کوي او هم یې د حق دین د ښودانې دپاره لاره هواره کړې ده؛ چې یو لک څلیرشت زره ـزیات یا کمـ پیغمبران علیهم السلام یې را استولي دي او وخت په وخت یې د هدایت کتابونه هم نازل کړي دي او په دې ټولو باندې د پاسه یې انسان ته حواس ورکړي دي او عقل یې وربېرزو کړی دی او هم یې هیڅ پیغمبر د معجزو د ورکړې څخه خالي نه دی پرېښی.

۱۱_ ای پیغمبره! بیا همدوی ته پوښتنه راجع کړه چې: ای مشرکانو! اوس نو تاسو په انصاف سره ووایاست چې: ایا د هغه چا پیروي بهتره او لایقه ده کوم چې حقې او سمې سیدې لارې ته هدایت او بلل کوي، او که د هغه چا چې په خپله هم سمه لاره نه شي موندلی او هدایت کوونکي ته اړوي پاتې خو لا دا چې بل چا ته لارښوونه وکړي؟، هو که همده ته لارښوونه وکړی شي او وظیفه ورکړی شي چې د دغې او هغې لارې ته خلک وبله نو هغه بیا ببله خبره ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې پوښتنې په جواب کښې به هم دوی ساکت پاتې شي او دا ځکه چې په جوابولو کښې يې په خپلو ځانونو باندې د ملامتیې اشاره نغښتې ده. نو کله چې دوی ساکت او چپ پاتې شوه نو ته ورته ووایه چې: ایا نو تاسو څنګه حکم کوئ او څه فیصله کوئ چې تاسو ملامت یاست او که نه؟.

۱۲ـ ای پیغمبره! حقیقت دا دی چې د مشرکانو سره د خپل شرکي مسلک د اثبات دپاره هیڅ برهان او دلیل نشته، بلکې اکثریت د ګومانونو پیروي کوي او اقلیت يې د همدغو په تقلید باندې کلک دی. او دا خو پوره څرګنده خبره ده چې په ګومان باندې د حق د پېژاندلو په باره کښې هیڅ نه کېږي او څوک پرې اصلي مطلوب ته نه شي رسېدلی او په نیمایي لاره کښې يې پرېږدي.

دا وه د مشرکانو د غیر معقولو کارونو څو مثالونه چې وړاندې بیان شوه. یقیناً الله ﷻ د دوی په کارونو باندې ښه پوه دی چې په ړانده تقلید باندې يې بناء کړي دي او هیڅ حجت او برهان يې په لاس کښې نشته.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په فضل سره د [آل عمران:۲۷] ایت لاندې د مړي او ژوندي د تخارج دپاره څو متعدد مثالونه لیکلي دي چې بیا لیکنې ته يې اړتیا نه ګورو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې په ذکرو شوو ایتونو کښې خو هغه پوښتنې مطرحې شوي دي د کومو په ثبوت باندې چې مشرکان هم معترف وه او په "هو" سره يې جوابولې، نو په کار وه چې په دوهم ګروپ کښې په ﴿ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ﴾ په جمله باندې اکتفاء شوې وی او د ﴿ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ جمله ورسره نه وی نازله شوې، ځکه چې په اعاده (بیا ژوندي کولو) باندې خو هغوی اعتراف نه کاوه؟.

مونږ وایو چې: په پیدا کولو باندې اعتراف کول او د اعادې (بیا ژوندي کولو) څخه منکر کېدل داسې مثال بري لکه څوک چې د لمر سترګه په ګوته پټوي، چې بطلان يې هرچا ته څرګند دی[1] نو مشرکان داسې وګڼل شوه لکه چې دوی په اعاده (بیا ژوندي کولو) باندې هم معترف وي، نو ځکه دوی ته ذکره شوې پوښتنه راجع کړی شوه.

## هدایت د څه شي څخه عبارت دی؟

۳ـ الله ﷻ د خلکو د هدایت او لارښوونې دپاره لاندې اسباب پیدا کړي دي:

الف: الله ﷻ د انسان په فطرة او خلقت کښې د خپل رب ﷻ د پېژاندلو غریزه (خاصیت) اغږلی دی او د دې دپاره يې مستعد پیدا کړی دی چې د حق او باطل ترمنځ فرق وکړی شي.

ب: بیا يې عقل ورکړی دی چې د همده په ذریعه ذکر شوی استعداد په کار واچوي او استفاده ترې وکړي.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۳۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په دې باندې علاوه یې انسان ته پنځه حواس هم ورکړي دي چې په نظر او فکر کښې ورسره لاس وکړي.

د: د هدایت دپاره یې یولک او څلیرشت زره ـزیات یا کمـ پیغمبران علیهم‌السلام هم وراستولي دي او کتابونه یې هم ورکړي دي ترڅو د حقائقو په کشف کښې د عقل لاس نیوی وکړي او د کندو او کمرونو څخه یې بچ کړي.

نو په حقیقت کښې دا پوښتنه: ﴿ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِيٓ إِلَى ٱلْحَقِّ ﴾ د لاندې پوښتنو څخه عبارت ده:

ایا ستاسو شریکان یوه انسان ته د الله ﷻ د پېژاندنې استعداد ورکولی شي؟.

ایا د کوم یوه وسه کېږي چې چا ته عقل ورکړي؟.

ایا د کوم یوه په وسه کښې شته چې پنځه حواس او یا کوم یو حس ورکړي؟.

ایا د پیغمبرانو علیهم‌السلام په را استولو او د کتابونو په نازلولو کښې کوم یو څه مداخله کولی شي؟

پوره واضحه ده چې په ذکرو شوو ټولو پوښتنو کښې جواب منفي دی. نو اوس دا پوښتنه مطرحه کېږي چې ایا د هغه چا پیروي معقوله ده چې د ذکرو شوو هدایتونو څخه په یوه هدایت باندې هم توان نه لري بلکې پخپله د خپل ځان هدایت ته احتیاج وي چې هدایت ورته وکړی شي؟.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې مشرکانو خو د جماداتو (بې روحه شیانو) عبادت کاوه، نو پوښتنه دا ده چې جمادات خو هدایت ته اړتیا نه لري، د هدایت اړتیا خو د علم په خاوندانو پورې اختصاص لري؟

مونږ وایو چې:

الف: بوتان په دې معنی هدایت ته اړتیا لري چې د یو ځای څخه بل ځای ته نقل کړی شي[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ایا هغه شی د پیروۍ لیاقت لري چې د خپله ځایه حرکت نه شي کولی مګر هله چې څوک حرکت ورکړي؟

ب: ذکر شوی احتیاج په "بالفرض" باندې ولاړ دی[۲]. یعنې بالفرض که الله ﷻ ستاسو بوتان حیوانات او د علم خاوندان وګرځوي نو په دغه صورت کښې به هم د خپلو ځانونو دپاره هدایت ته اړ وي.

ج: مشرکانو خو لکه څنګه چې د جماداتو عبادت کاوه همدارنګه یې په خپلو معبودانو کښې ملائک، عیسی علیه‌السلام او عزیر علیه‌السلام هم شامل کړي وه، نو ذکر شوی احتیاج ورته د همدغو معبودانو په اعتبار سره (چې د علم خاوندان دي) نسبت شوی دی[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې:

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۱۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۱
(۳) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اى مشركانو! ستاسو په باطلو معبودانو كښې هغه معبودان هم هدايت ته اړ او احتياج دي كوم چې د علم خاوندان دي او په نورو باندې شرف لري.

## د يوې كلمې صرفي تحليل

۵_ په ﴿ لَا يَهِدِّيَ ﴾ كښې د "يَهِدِّيَ" كلمه په اصل كښې "يهتدي" وه، "ت" په "د" باندې بدله شوه او بيا يې په اصلي "د" كښې ادغام ومونډ، او هم د "هـ" توزي ته د ساكنينو د پيوستون د كبله زېر (حركت) وركړى شو، نو "يَهِدِّيَ" ترې جوړه شوه.

## سوال جواب

٦_ كه څوک وايي چې د ﴿ وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې په مشركانو كښې ځينې داسې كسان هم وه چې هغوى د ګومان پيروي نه كوله بلكې په خپله شركي عقيده كښې يې څه قاطع برهان درلود، حال دا چې برهان خو د يوه سره هم موجوديت نه درلود؟

مونږ وايو چې:

الف: د ﴿ أَكْثَرُ ﴾ كلمه كله-كله د "جميع" په معنى باندې استعمالېږي لكه څنګه چې كله كله د "أقل" كلمه د عدم معنى وركوي[۱]. نو دلته همدغه استعمال په نظر كښې نيول شوى دى نو معنى يې داسې كېږي چې ټول مشركان د ګومان پيروي كوي او د يوه سره هم د خپلو شركياتو د ثبوت دپاره كوم برهان نشته.

ب: مشركانو كه څه هم برهان نه درلود او د ګومان پيروي يې كوله، چې بوتان به مو شفاعت وكړي، مګر اقليت يې بوتان ردول او د ګومان تابع هم نه وه[۲] بلكې ټول شركيات يې په ړانده تقليد باندې بناء كړي وه.

ج: د اكثريت څخه رئيسان او مشران مراد دي اما عوام خو هغوى پسې په پټو ستركو روان وه[۳] چې نه يې ګومان پېژاند او نه په يقين باندې پوهيده.

په هر تقدير، د مضمون حاصل يې داسې راوځي چې مشركان د خپلو باطلو عقايدو د اثبات دپاره څه دليل نه لري. دوى صرف په ګومان او ړانده تقليد پسې ځغلي، حال دا چې د ګومان او تقليد څخه د يقين په پلټنه كښې څه نه جوړېږي او سړى پرې حق ته نه شي رسېدلى.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ كه څوک وايي چې فقهي علوم او اجتهادي مسائل خو ټول په ګومان باندې ولاړ دي او زمونږ مشكلات ورباندې ټول حل شوي دي؟

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۱٦
(۲) البحر المحيط ج٦ ص۵٦
(۳) تفسير القرطبي ج۸ ص۳۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو: لکه چې وړاندې او ښېرته بحثونه په عقائدو پورې ارتباط لري نو په دې مقام کښې مطلب دا دی چې د عقائدو په هکله د ګومان څخه څه نه جوړېږي[1]. د همدې کبله مجتهدينو عليهم الرحمة په عقائدو کښې اجتهاد نه دی کړی بلکې د اجتهاد څخه يې فقط په هغو مسائلو کښې کار اخستی دی کوم چې په عمل پورې تعلق نيسي، نه په هغو کښې چې د عقيدې سره ارتباط لري.

﴿ وَمَا كَانَ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَـٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِمَا لَمْ يُحِيطُوا۟ بِعِلْمِهِۦ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۷] او دا قرآن کريم داسې نه دی چې بدون د الله ﷻ څخه دې په دروغو باندې جوړ کړی شوی وي مګر (دا) د هغو (کتابونو) تصديق (مصدق) دی کوم چې د ده څخه وړاندې (نازل شوي) وه، او (هم دا) د شرعي احکامو تفصيل دی، په دې قرآن کريم کښې هيڅ شک (شبهه) نشته، (دا) د ټولو عالمونو د رب ﷻ د پلوه (نازل شوی) دی.

[۳۸] ايا دوی (مشرکان) وايي چې نبي کريم ﷺ دا په دروغو جوړ کړی دی؟ ته (ورته په رد کښې) ووايه چې: نو تاسو يو (وړوکی) سورت د قرآن کريم (د سورتونو) په مثل راوړئ (جوړ کړئ) او (جوړولو ته يې) هغه څوک در وبلئ کوم چې بدون د الله ﷻ څخه ستاسو د توان لاندې وي (او د درېللو وسه مو کېږي)، که چرته تاسو (په خپله ذکره شوي وينا کښې) رښتني ياست (نو دا کار وکړئ).

[۳۹] (دوی دا کار نه شي کولی او څه دليل نه شي موندلی) بلکې دزی هغه شي (قرآن کريم) ته د دروغو نسبت کوي د کوم شي په علومو باندې چې دوی احاطه نه ده کړې (او دقيق فکر يې پکښې نه دی کړی) او هم د کوم شي (د مضامينو) مصداقات چې لا دوی ته نه دي ورغلي (او خارجي تحقق يې نه دی موندلی).

(ای پيغمبره! لکه څنګه چې ستا د زمانې خلک ستا تکذيب کوي) همدغه ډول هغو کسانو هم (د خپل وخت پيغمبرانو عليهم السلام ته) تکذيب (د دروغو نسبت) کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي. نو ته ګوره چې د ظالمانو عاقبت څنګه شو (همدارنګه د دوی عاقبت هم دراواخله، نو صبر کوه او حوصله مه خرابوه).

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۱۶



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته اشاره شوې وه چې حق ته یوازې الله ﷻ هدایت کوي او بس. په دې ایتونو کښې د الهي هدایت یوه مثال ته اشاره کېږي چې په نبي کریم ﷺ باندې یې قرآن کریم نازل کړی دی.

۲ـ همدارنګه هلته دا حکم ذکر وه چې مشرکان د ګومان پیروي کوي او دلته د یو پلوه همدغې ګوماني پیروۍ ته مثال ښودلی شوی دی چې دوی په قرآن کریم باندې اشتباه کوي چې د الله ﷻ کتاب نه دی، او د بله پلوه همدغه اشتباه او ګومان رد شوی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! اوس نو د قرآن کریم په حقانیت کښې او په همدې اړه د اشتباه په پورته کولو کښې په خلکو باندې لاندې ټکات قرائت کړه:

۱ـ د مخلوقاتو د هدایت او د حقې (سمې سیدې) لارې د ښوداني دپاره الله ﷻ دا قرآن کریم نازل کړی دی چې لاندې صفات لري:

الف: دا قرآن د الله ﷻ ربنتیانی کتاب دی او په حقه یې نازل کړی دی، دا مناسبه نه ده چې د دروغژن کتاب او په الله ﷻ باندې د دروغ تړل شوی کتاب نوم ورباندې کېښودلی شي.

ب: دا کتاب (قرآن کریم) د هغو ټولو کتابونو تصدیق کوي کوم چې د ده څخه په وړاندې وختونو کښې پیغمبرانو علیهم السلام ته د خلکو د هدایت دپاره ورکړی شوي وه. یا په بل عبارت: دا کتاب هم د پخوانیو اسماني کتابونو غوندې یو کتاب دی. که بالفرض پخواني امثال یې نه درلودی نو د تکذیب دپاره به یې مشرکانو ته څه بهانه په لاس ورغلې وی.

ج: دا قرآن کریم د پخوانیو کتابونو تفصیل دی، د تورات او انجیل او هم د زبور کوائف پکښې پوره بیان شوي دي، حال دا چې نبي کریم ﷺ نه پخواني کتابونه لوستلي دي، نه په لوست باندې پوهېږي او بالآخره نه یې په تېرو شوو څلوېښتو کلونو کښې د چا شاګردي کړې ده.

برسېره پر دې قرآن کریم کښې هغه ټول احکام او شرائع نغښتل شوي دي کومو ته چې د قیامت د ورځې پورې مخلوقات ضرورت لري.

نو ایا یو امي سړی هم داسې کتاب جوړولی شي چې د پخوانیو احوالات پکښې په واقعي توګه ثبت وي او د وروستنیو ضروریات پکښې پوره کړی شوي وي؟

د: د دې قرآن ذکر شوی کیفیت پخپله شاهدي وایي چې په دې کښې د شک او شبهې ځای نشته او هم دا یقیني ده چې دا د رب العالمین ﷻ د پلوه نازل شوی دی.

۲ـ ای پیغمبره! ایا مشرکان د ذکرو شوو دلایلو سره سره په قرآن کریم کښې اشتباه کوي او په داسې حال کښې چې تاته اشاره کوي وایي چې دا یې د خانه جوړ کړی دی او په الله ﷻ باندې یې په دروغو ورتپلی دی ترڅو یې په خلکو باندې ومني او خپلو دروغو ته وزن ورکړي؟!

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای پیغمبره! دوی ته په جواب کښې ووایه چې که بالفرض ما یوازې په یوه سر باندې دا ټول قرآن کریم ـالعیاذ باللهـ د ځانه جوړ کړی وی نو تاسو ټول سره راټول شئ او څومره مو چې توان رسېږي فصحاء او بلغاء را وبلئ او په اجتماعي توګه د دې قرآن کریم د یوه واړه سورت غوندې یو سورت جوړ کړئ.

که تاسو دغه کار وکړ نو تاسو به په دغې خبره کښې رښتني یاست چې ما دا قرآن کریم د ځانه جوړ کړی دی او په دروغو باندې مې په الله ﷻ باندې ورتپلی دی. او که تاسو ټول د یوه وړوکي سورت د جوړولو توان نه لرئ نو په ما باندې په تنهايي صورت سره ولې دا ګومان کوئ چې ما به ټول قرآن کریم د ځانه جوړ کړی وي؟ ایا دا معقوله ده چې یو انسان دی په ټولو انسانانو باندې د حده وتلی ذکر شوی تفوق (برتري) ولري؟ د انسانانو ترمنځ خو دومره ژیات تفاوت معقول نه دی.

الله ﷻ د ټولو حیواناتو په انواعو کښې یوې نوعې ته هم دا امتیاز نه دی ورکړی چې یو فرد یې په نورو ټولو افرادو باندې د ځمکې او اسمان په اندازه تفوق (برتري) ولري.

۳ـ ای پیغمبره! د ذکر شوي قاطع برهان سره سره چې مشرکان د قرآن کریم په هکله خپل دریغ ته بدلون نه ورکوي او د دروغین کلام لقب ورباندې ږدي، د دې اصلي وجهې دا دي چې:

الف: دوی د قرآن کریم په تکذیب سره په حقیقت کښې د هغه شي تکذیب کوي د کوم شي په علومو باندې چې دوی احاطه نه ده کړې او د عناد او تکبر د کبله یې پکښې تدبر او فکر (سوچ) نه دی کړی. که دوی د عناد او تعنت (زیل) څخه صرف نظر شي او په دقت سره په دغه معجزانه کلام کښې څه دقیق فکر وکړي نو دستي به یې پرې سرونه خلاص شي او په ایمان باندې به مشرف شي.

ب: بله وجه یې دا ده چې تر اوسه پورې دوی ته د قرآن کریم د حقائقو مصداقات نه دي ورغلي او کومو مضامینو ته یې چې اشاره کړې ده هغو لا تر اوسه پورې تحقق نه دی موندلی.

کله چې د قرآن کریم حقائق رالوڅ شي او د قیامت ورځ قائمه شي او بالآخره د پټو رازونو څخه پرده پورته شي نو ټول مشرکان او ټول کفار به په یوه خوله تصدیق او باور وکړي چې یقینًا (بې شکه) دا قرآن کریم د الله ﷻ کتاب دی. مګر هلته به په ایمان راوړلو سره هیڅوک مؤمن نه ګڼلی کېږي او دا ځکه چې د الله ﷻ په نزد هغه ایمان د قبلولو وړ دی کوم چې بالغیب وي، او د قیامت په ورځ ایمان راوړل خو ایمان بالمشاهده دي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه تر اوسه پورې لا دوی د هغه عذاب سره نه دي مخامخ شوي په کوم باندې چې قرآن کریم دوی ډاروي. خو کله چې د دغسې عذاب د حملې لاندې واقع شي بیا به ایمان راوړي او د قرآن کریم په حقانیت باندې به عقیده وکړي، لکه څنګه چې فرعون په دغسې حالت کښې په موسی ؑ باندې د ایمان راوړلو غږ پورته کړ. مګر دا به د اضطرار حالت وي او د الله ﷻ په نزد اضطراري ایمان هم مقبول نه دی بلکې اختیاري ایمان د قبول وړ دی.

۴ـ نو ای پیغمبره! خپله حوصله مه خرابوه او په دې مه غمژن کېږه چې مشرکانو په قاطع دلایلو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې پټنې کېښودلې او په قرآن کريم باندې يې د حقانيت عقيده ونه کړه او هم يې په تا باندې ايمان رانه وور.

څکه مه غمژن کېږه چې ته په دغه حالت کښې يوازې نه يې، ستا څخه وړاندې ډېرو مشرکانو او کفارو خپلو پیغمبرانو علیهم السلام او اسماني کتابونو ته د دروغو نسبت کړی وه، نو هغوی هم خپلې حوصلې نه وې خرابې کړې او د صبر څخه يې کار اخستی وه.

نو ته وګوره چې د هغو مفسدانو او ظالمانو انجام څنګه شو، همدارنګه ستا د زمانې د حاسدانو او ظالمانو انجام هم درواخله.

لنډه دا چې لکه هغوی چې د اسلام د ترقۍ مخه ونه شوه نيولی همدارنګه دوی هم د اسلام په پرمختګ کښې خنډ نه شي واقع کېدلی.

## توضيحات

۱ـ دا خبره چې قرآن کريم د پخوانيو کتابونو مصدق (تصديق کوونکی) دی د [البقرة:۸۹] ايت لاندې په درې وجوهو کښې ـد الله ﷻ په توفيق ـ بيانه شوې ده، بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## تفصيل الکتاب څه معنی؟

۲ـ د قرآن کريم په القابو کښې يو لقب تفصيل الکتاب دی، چې په لاندې معناوو باندې تفسير کېدلی شي:

الف: دا قرآن کريم د پخوانيو کتابونو په دې معنی باندې تفصيل دی[1] چې د يو پلوه يې د هغو عقيدوي مضامين يو ځل بيا خلکو ته واضحه کړه، حال دا چې په تحريف سره ګډ وډ شوي وه، او د بله پلوه يې د هغو کيفيتونه هو بهو څرګند کړه حال دا چې نبي کريم ﷺ نه ليک او لوست درلود او نه يې د چا شاګردي کړې وه. ته به وايې چې نبي کريم ﷺ د پخوانيو هر يوه کتاب د نازلېدلو په وخت کښې هملته موجود وه.

ب: په دې قرآن کښې د انسانانو ضروريات او شرعي احکام ټول بيان شوي دي[2] او لږ قصور هم پکښې نشته. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ تِبْيَـٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ﴾ [النحل:۸۹] يعنې مونږ په تا باندې قرآن کريم په داسې حال کښې درنازل کړ چې د هر شي بيانوونکی دی. نو لکه پخوانيو کتابونو چې د انسانانو ضروريات پوره کړي وه دغه کتاب هم په خپل وخت کښې تکميل کړه.

## د قرآن کريم چلنج

۳ـ قرآن کريم د خپل حقانيت په هکله د قيامت د ورځې پورې ټولو مخلوقاتو ته چلنج ورکوي او

(۱) تفسير القرطبي ج۸ ص۳۴۴

(۲) البحر المحيط ج۶ ص۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه څوک خپلې مقابلې ته راغواړي کوم چې د ده په حقانيت کښې شک او تردد کوي او په زړه کښې يې څه خيرې موجودې وي.

په دې اړوند د [البقرة: ۲۲] ايت لاندې ښه اوږد بحث تېر شوى دى او هم هلته د قرآن کريم د اعجاز وجوه بيان شوي دي ــوالحمد لله ــ چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو. يوازې لاندې سوال جواب ورباندې په دې مقام کښې وراضافه کوو.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: ايا د قرآن کريم د نزول په وخت کښې چا د مقابلې او سيالۍ تظاهر کړى وه؟

مونږ وايو: ممکن ډېرو خلکو (کفارو) خپله وسه تمامه کړې وي خو هرچا چې د قرآن کريم د مقابلې په ترځ کښې څه ويلي دي په هغه کښې پخپله شرمېدلي دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې عجيبه قيصه ولولئ:

مُسيلمه د نبي کريم ﷺ د زمانې يو سړى وه چې د پيغمبرۍ دعوه يې کړې وه د همدې کبله يې د الکذاب (غټ دروغژن) لقب ګټلى وه. يوه ورځې د ده سره خپل د جاهليت د زمانې انډيوال عمرو بن العاص لاندې سوال جواب وکړ:

مسيلمه الکذاب: ستاسو په انډيوال (پيغمبر ﷺ) باندې په دې وختونو کښې څه شى نازل شوى دى؟

عمرو بن العاص: د هغه د ملګرو څخه مې يو لنډکى معنى دار سورت اورېدلى دى چې ورباندې نازل شوى دى.

مسيلمه الکذاب: هغه څنګه او کوم سورت دى؟

عمرو بن العاص: دا سورت دى چې: ﴿ وَٱلۡعَصۡرِ ۝ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ...﴾ تر آخره پورې.

مسيلمه الکذاب د لږ فکر څخه وروسته وويلې چې: دا ډول سورت خو په ما باندې هم نازل شو.

عمرو بن العاص: هغه څنګه سورت دى، ته يې ولولوه.

مسيلمه الکذاب: يا وبر، يا وبر، إنما أنت أذنان وصدر، وسائرك حفر نقر.

اى وبره! اى وبره! (دا د پيشو په اندازه د يوه حيوان نوم دى[۱]) يقيناً ته خو دوه غوږونه او يوه سينه يې، او باقي بدن دې ناچيزه (حقير او نقير) دى.

اى عمروه! ودې ليده چې د (قرآن کريم) مې څنګه مقابله وکړه.

عمرو بن العاص: "وَاللهِ إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ لَكَذَّابٌ"[۲] قسم دى چې زه پوهېږم چې يقيناً ته ډېر غټ دروغژن يې.

---

(۱) غياث اللغات ص۷۵۹

(۲) تفسير القاسمي ج۹ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څوک غواړي چې د مسیلمه الکذاب د دروغژن کلام څو نور مثالونه ولولي چې دا د الله ﷻ کلام دی او په ما باندې نازلېږي، نو څېنو اوږدو کتابو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## په قرآن کریم کښې يې فکر نه دی کړی

۵ـ څېنو مفسرينو کرامو[۲] د دې جملې ﴿ بَلْ كَذَّبُواْ بِمَا لَمْ يُحِيطُواْ بِعِلْمِهِ ﴾ متعدد تفسيرونه کړي دي چې تقريباً پنځو ته رسېږي، خو کوم تفسير چې مونږ ته ښه برېښي هغه دا دی چې:
مشرکان د قرآن کريم د تکذيب په هکله څه برهان او دليل نه لري بلکې دوی هغه حقيقت ته د دروغو نسبت کوي چې په هغه باندې يې د علم د حيثه احاطه نه ده کړې (فکر او تدبر يې پکښې نه دی کړی). که دوی په دقت سره فکر وکړي او د انصاف څخه کار واخلي نو ضرور به په قرآن کريم باندې د حقاني کتاب فيصله وکړي چې په يقيني توګه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی.
همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴾ [النساء:۸۲] يعنې ايا نو دوی په قرآن کريم کښې غور نه کوي (چې حقانيت يې ورته څرګند شي)؟ او (دا څکه چې) که دا قرآن کريم د الله ﷻ څخه په غير د بل چا کلام وي نو ضرور به پکښې دوی زښت ډېر اختلاف موندلی وي (حال دا چې دوی پکښې لږ اختلاف هم نه شي موندلی).

## تاويل څه معنی؟

۶ـ مونږ ـلله الحمدـ د [آل عمران:۷] ايت لاندې د "تاويل" د کلمې دپاره څه معناوې ليکلي دي، مګر دغه کلمه په دې مقام کښې علماو کرامو په لاندې معناوو باندې تفسيره کړې ده:
الف: چې مشرکانو ته لا تر اوسه پورې د قرآن کريم هغه وضعي او عقلي معناوې نه دي ورغلې کومې چې د عالي شانو علومو څخه نمايندګي کوي[۳] دا څکه چې دوی پکښې تدبر او پوخ فکر نه دی کړی.
په دې تفسير سره دا جمله د وړاندېنۍ جملې دپاره تفسير او تاکيد واقع کېږي، چې مشرکانو په قرآن کريم باندې علمي احاطه نه ده کړې نو څکه دوی ته د دقيقو معناوو معلومات نشته.
ب: چې دوی ته لا تر اوسه پورې هغه شيان نه دي څرګند شوي او نه يې تحقق موندلی دی د کومو واقع کېدلو ته چې قرآن کريم اشاره کړې ده[۴]، لکه په دنيا کښې په عناديانو کفارو باندې د عذاب نزول يا لکه د قيامت د ورځې قيام او داسې نور.
مونږ ته دوهم تفسير په زړه پورې ښکاري، چې په دې کښې تاسيس دی او د تاکيد څخه تاسيس بهتر دی.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۴۱۰
(۲) التفسير الکبير ج۱۷ ص۹۷
(۳) روح المعاني ج۱۱ ص۱۲۰
(۴) تفسير القاسمي ج۹ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾ وَإِن
كَذَّبُوكَ فَقُل لِّى عَمَلِى وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ
﴿٤١﴾ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُم
مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ
ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۰] او د دوی (مشرکانو) څخه ځیني هغه څوک دي چې په قرآن کریم باندې به (په راتلونکي کښې) ایمان راوړي او ځیني هغه څوک دي چې ایمان به پرې (په راتلونکي کښې هم) رانه وړي (او خپلو کفریاتو ته به ادامه ورکړي).

او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ په مفسدانو باندې ډېر ښه پوهېږي (موافقه سزا به ورکړي).

[۴۱] او که تا ته یې (په آینده کښې هم) د دروغو نسبت وکړ نو ته (ورته) ووایه چې: زما دپاره زما خپل عمل دی او ستاسو دپاره ستاسو خپل عمل دی (زما په کړو وړو تاسو نه نیوه کېږئ او ستاسو په جنایاتو زه نه نیوه کېږم)، تاسو د هغه شي څخه بېزار یاست کوم چې زه یې کوم او زه د هغه شي څخه بېزار یم کوم چې تاسو یې کوئ (او مرتکب کېږئ یې).

[۴۲] او ځیني د دوی (عنادي کفارو) څخه هغه څوک دي کوم چې تا ته (فقط ظاهري) غوږ ږدي (او بس) ایا نو ته کڼو ته څه اورولی شي اګر چې دوی د عقل څخه کار نه اخلي؟.

[۴۳] او د دوی څخه ځیني هغه څوک دي چې تا ته (یوازې په ظاهري سترګو) ګوري (نه د زړه په سترګو) ایا نو ته ړوندو ته هدایت کولی شي اګر چې دوی (د زړونو) په سترګو نه ګوري (بصیرت نه لري).

[۴۴] یقیناً الله ﷻ په خلکو باندې (که څه هم کفار وي) د هیڅ شي ظلم (تېری) نه کوي مګر اکثره خلک په خپلو ځانونو باندې ظلم (تېری) کوي (چې د هدایت د وسائلو څخه استفاده نه کوي).

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو څخه په وروستني ایت شریف کښې الله ﷻ د مشرکانو د ایمان د نه راوړلو یوه وجهه دا ښودلې وه چې دوی په قرآن کریم کښې تدبر او فکر نه کوي بلکې په سر سري نظر ورته ګوري. په دې ایتونو کښې د یو پلوه په همدغه مطلب باندې یوه په زړه پورې تبصره نازله شوې ده او دقیق نظر او هم د سرسري نظر نتائج پکښې بیان شوي دي، او د بل پلوه پکښې د سرسري نظر وجوهو ته اشاره شوې ده چې په لوی لاس د هلاکت په کنده کښې د غورزېدلو سبب جوړېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! اوس د دقیق نظر او د سرسري نظر په باب په خپل امت باندې لاندې معلومات قرائت کړه:

۱ـ په راتلونکي کښې به ځینې مشرکان د خپل شرک څخه لاس واخلي او په قرآن کریم باندې به ایمان راوړي، البته چې دا به هغه خلک وي کوم چې د قرآن کریم په مضامینو او په کلماتو کښې په دقیق نظر سره فکر وکړي، نو ډېر ژر دی چې شبهات به یې رفعه شي او د قرآن کریم په حقانیت به یې سرونه خلاص شي.

مګر څوک چې د قرآن کریم په هکله خپل سر سري نظر ته دوام ورکړي او یا د عناد او تعصب څخه ښکته نه شي نو هغوی به خپلې شرکي عقیدې ته ادامه ورکړي او کوښښ به وکړي چې خپلې فاسدې عقیدې ته نور خلک هم ور وبولي او د فساد اورته لمن ووهي. مګر دوی چې هرڅومره هلې ځلې وکړي د اسلام د ترقۍ مخنیوی به ونه کړی شي، ځکه چې ستا رب ﷻ په مفسدانو باندې ښه عالم دی، د ده ﷻ څخه نجات نه شي موندلی، نو ډېر ژر به یې په هغه اور کښې لوخړه کړي کوم چې دوی په خپلو لاسونو باندې بل کړی دی.

۲ـ نو د همدې کبله ذکرو شوو عنادیانو ته یو ځل بیا ووایه (البته کله چې هغوی ستا تکذیب ته ادامه ورکړه) چې:

الف: ای مشرکانو! د هرچا عمل د خپلې لارې مل دی. ما خو تاسو ته هغه شي په بشپړه توګه دررساوه د کوم شي په رسونه باندې چې زه مکلف کړی شوی وم، نو زه د الله ﷻ څخه اجرونه او ثوابونه غواړم. بالمقابل تاسو د خپلو کړو وړو مسؤلین یاست چې تکذیب او شرکیاتو ته ادامه ورکوئ.

ب: ای مشرکانو! زما کړنلاره خو تاسو ته فاسده ښکاري، نو که بالفرض المحال فاسده هم وي نو تاسو ته یې څه ضرر نشته، تاسو خو زما د عمل څخه بري الذمه یاست. خو بالمقابل په دې باندې هم پوه شئ چې تاسو د خپلې فاسدې کړنلارې په ادامې سره فقط او فقط خپل ځانونه د هلاکت کندې ته اچوئ. زه خو ستاسو د شرکیاتو څخه بري الذمه یم، ما خو په تاسو باندې خپله غاړه خلاصه کړې ده او د الله ﷻ ارشادات مې در رسولي دي.

۳ـ ای پیغمبره! ته ځکه مشرکانو او کفارو ته د هغوی د کفریاتو څخه د خپل ځان عدم مواخذه (عدم نیونه) اعلانه کړه چې د هغوی د کفریاتو په هکله په تا کښې څه قصور نشته. نو ایا ته دا کارونه کولی شې؟:

الف: د عنادي کفارو څخه خو ځینې هغه خلک دي کوم چې تا ته فقط ظاهري غوږ ږدي او په سرسري توګه ستا ارشادات اوري مګر تدبر او فکر پکښې نه کوي، نو ایا ته هغه چا ته څه وراورولی شې او په زړه کښې یې ورته کېنولی شې کوم چې د یو پلوه په غوږو باندې کوڼ وي او په دې باندې علاوه عقل هم و نه لري او لیوني وي؟!



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض څوک په غوږونو باندې کوڼ وي خو عقل لري، د دغسې کس پوه کول لږ څه اسان دي، مگر کله چې د کوڼوالي سره بې عقلي هم ملگرې شي نو د دغسې ساده بوده په نه پوه کولو باندې تاته هيڅکله ملامتي نه متوجه کېږي.

ب: همدارنگه په دوی کښې ځينې هغه کسان دي چې صرف د سر په سترگو تاته گوري او تا صرف د يوه عادي سړي په شکل پېژني، مگر د زړه په سترگو درته نه گوري. نو ايا ته هغه چا ته هدايت کولی شې کوم چې بصيرت (د زړه سترگې) و نه لري؟ ايا نو ته د دغسې ظاهري او باطنې ړانده په گمراهۍ نيول کېږې؟

همدارنگه د هغه چا پوه کول چندان مشکل نه دی چې ظاهري سترگې نه لري مگر باطني (د زړه سترگې) لري، اما څوک چې په دواړو ډولو سترگو باندې ړوند وي نو د هغه په پوه کولو باندې هيڅوک مکلف نه دی.

۴_ ای پيغمبره! يقيناً الله ﷻ نه په خلکو ظلم او تېری کړی دی او نه يې ورباندې کوي، چې د هدايت اسباب يې نه وي ورکړي او يا يې په راتلونکي کښې ورنه کړي. بلکې دا د خلکو کار دی چې په خپلو ځانونو باندې پخپله ظلم کوي او د الله ﷻ ورکړی شوي وسائل په صحيحو معناوو کښې په کار نه اچوي چې مطلب ته پرې ورسېږي او په الهي ارشاداتو باندې خپل ځانونه ړانده کاڼه وانچوي.

## توضيحات

۱_ ځينو علماوو کرامو[۱] د دې جملو ﴿ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ﴾ تفسيرونه داسې کړي دي چې: د قرآن کريم په نسبت باندې مشرکان په لاندې دوه گروپونو وېشل شوي دي:

الف: ځينې هغه دي چې په زړه کښې په قرآن کريم باندې عقيده لري، چې دا حقاني کتاب دی، مگر د عناد د کبله همدغه عقيده نه څرگندوي او خپلو شرکياتو ته ادامه ورکوي.

د دوی مثال داسې دی لکه فرعون چې د موسی ﷺ په نبوت باندې قلباً قانع وه، لکه چې د [النمل:۱۴] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، مگر د عناد د کبله يې قلبي عقيده څرگنده نه کړه.

ب: ځينې نور هغه مشرکان دي چې ظاهراً او باطناً په قرآن کريم باندې معتقد نه دي.

مگر مونږ ته دا بهتره برېښي چې: په ذکرو شوو دواړو جملو کښې به الله ﷻ خپل پيغمبر ته خبر ورکړی وي چې خپه کېږه مه او حوصله مه خرابه وه، د همدغو مشرکانو څخه به ځينې په آينده کښې په ايمان باندې مشرف شي، البته کله چې دقيق فکر وکړي، او ځينې نور به د کفر په درياب کښې غرق پاتې شي[۲].

---

(۱) تفسير المظهري ج۵ ص۲۹
(۲) البحر المحيط ج۶ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې مشرکانو خو هم عقلونه درلودل او هم سترګې خو د دې سره-سره الله ﷻ تري په ذکرو شوو ايتونو کښې په ﴿ لَا يَعْقِلُونَ ، لَا يُبْصِرُونَ ﴾ باندې تعبير وکړ، نو په دې کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو: چې کله څوک د هغه شي څخه کار وانخلي د کوم شي چې درلودونکي وي نو داسې ګڼل کېږي لکه چې د سره د هغه شي خاوند نه وي. نو په همدې اساس کله چې مشرکانو د پېژاندلو د وسائلو څخه د قرآن کريم په پېژاندلو کښې کار وانخست نو داسې وګڼل شو لکه چې دوی بالکل د دغو وسائلو درلودونکي نه وي. د همدې کبله:

الف: الله ﷻ کفار د څارويو غوندې ګڼلي دي چې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴾ [الأعراف:۱۷۹] يعنې دغه (کفار) د څارويو غوندې دي (چې عقل نه لري) بلکې دوی ترې زيات بې لارې دي (تردې چې د حواسو څخه هم کار نه اخلي).

ب: همدارنګه يې فرمايلي دي چې: ﴿ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴾ [الحج:۴۶] يعنې يقينًا قيصه دا ده چې (د کفارو) سترګې ړندې نه دي مګر هغه زړونه (يې) ړانده دي کوم چې (د دوی) په سينو کښې دي.

﴿ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿٤٥﴾ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤٦﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولٞۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمۡ قُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٤٧﴾ ﴾

[۴۵] او هغه ورځ (ياده کړه) چې (د مرګ څخه وروسته) الله ﷻ دوی (کفار) په داسې حال غونډ کړي لکه چې دوی (په دنيا کښې) مدار نه وي کړی مګر د ورځې (دومره) سات (ګړۍ) چې دوی پکښې (فقط) خپل تعارف (پېژاندل را پېژاندل) کړي وي (او بس).

يقينًا هغه کسان تاوانيان (زيانمن) دي کومو چې لقاء الله (د قيامت ورځې) ته د دروغو نسبت کړی وي او چې نه وو دوی لاره موندونکي.

[۴۶] او که مونږ (ای پيغمبره!) د هغه (عذاب) څينې برخې تاته درولېدې کړو کوم چې مونږ ورسره وعده کړې ده (چې ستا په ژوند کښې ورباندې عذاب ورنازل کړو) او يا تا وفات کړو (د دوی عذاب په خپلو سترګو ونه ګورې) نو (په دواړو صورتونو کښې) د دوی بېرته را تاوېدل خاص

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته دي (زمونږ څخه نه شي بچ کېدلی)، بيا (علاوه په دې) الله ﷻ په هغو کارونو باندې حاضر (خبردار) دی کوم چې دوی يې کوي.

[۴۷] او د هر امت دپاره لېږلی شوی (پيغمبر) وه (چې په خپل وخت کښې يې ورته شريعت ابلاغ کړی دی)، نو کله به چې دوی ته خپل پيغمبر (لېږلی شوی) ورغی (او هغوی به قبول نه کړ) نو د دوی ترمنځ به په انصاف سره فيصله وکړی شوه (نو ستا او ستا د امت ترمنځ به هم په انصاف سره فيصله وکړی شي) حال دا چې په دوی باندې به ظلم (تېری) ونه کړی شي.

## ارتباط

په وړاندې [۳۹] ايت شريف کښې الله ﷻ د مشرکانو د ايمان د نه راوړلو په وجوهو کښې يوه وجهه دا هم ښودلې وه چې دوی ته لا تر اوسه د قرآن کريم مصداقات نه دي څرګند شوي، چې نه ورباندې کوم دنياوي عذاب ورنازل شوی دی او نه د قيامت ورځ قائمه شوې ده.

د يوې تبصرې څخه وروسته په دې ايتونو کښې د قيامت د ورځې د قيام او د دنياوي عذاب د ځينو حالاتو بيان ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! اوس د قيامت د ورځې د قيام او د دنياوي عذاب په باب لاندې نکات ولوله:

۱ـ کله چې الله ﷻ کفار د قبرونو څخه راپورته کړي او د قيامت ورځ قائمه شي نو دوی ته به خپل ځانونه داسې ښکاره شي چې په دنيا کښې يې د ورځې د يوې ګړۍ څخه اضافه وخت نه وی تېر کړی بلکې د دوی ټول عمر داسې مثال درلود لکه چې فقط خپلمنځي تعارف يې پکښې کړی وي او بس. يا په بل عبارت: د قيامت د ورځې د دهشت او هيبت څخه به دوی ته دنياوي ټول عمر دومره لږ ښکاره شي چې فقط تعارف پکښې ځايېده او بل پکښې يو کار هم تحقق نه شو موندلی.

حال دا چې في الحال دوی ته دنياوي ژوند دومره اوږد برېښي لکه چې بالکل به د دوی ژوند خاتمه مونده نه کړي، د همدې کبله په هيڅ صورت د خپلو خواهشاتو څخه نه تېرېږي.

نو دا يقيني خبره ده چې هغه کسان په ډېر لوی تاوان کښې واقع دی کوم چې د قيامت د ورځې څخه انکار کوي او بيا را ژوندي کېدل دروغ ګڼي. او بالکل په غلطه لار باندې روان دي، چې په ډېر لږ ژوند باندې يې دائمي ژوند خراب او فاسد کړ.

۲ـ ای پيغمبره! دنياوي عذاب هم مونږ په دغو مشرکانو باندې ضرور ورنازلوو، که دوی د کفر څخه لاس وانخلي نو د عذاب څخه نجات نه شي موندلی. او هرو مرو به د لاندې دوه وو صورتونو څخه په يوه صورت کښې متحقق شي:

الف: يا به ته ژوندي يې او په خپلو سترګو به د موعود عذاب څه برخې وګورې.

ب: يا به تا خپل ځان ته قبض کړو (ته به وفات شې) او په دوی باندې به دنياوي عذاب ورنازل کړو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر حال مشرکان (کفار) زمونږ څخه خانونه نه شي خلاصولی بلکې وروستنی راتګ یې همدا مونږ ته دی، د تېښتې لارې ورباندې تړلې شوې دي او نه تنبتېدلی شي.

په دې باندې علاوه، کوم کارونه چې دوی لګیا دي کوي یې په هغو ټولو باندې الله ﷻ خبردار دی او یو کار هم د الله ﷻ څخه نه غائب دی او نه غائبېدلی شي.

۳_ ای پیغمبره! مونږ په هیڅ یوې ډلې باندې په دنیا کښې عذاب نه دی ورنازل کړی مګر هله چې هغوی ته مو پیغمبر ورلېږلی دی ترڅو زمونږ ارشادات هغوی ته ورسوي.

نو کله به چې هغوی ته پیغمبر ورغی او هغوی به په خپلو کفریاتو باندې همداسې کلک شوه لکه څنګه چې ستا د زمانې ځینې مشرکان پرې کلک دي، نو بیا به د هغوی او د وخت د پیغمبر په منځکښې په انصاف سره فیصله وکړی شوه او عذاب به ورباندې ورنازل کړی شو، حال دا چې په دوی باندې به ظلم نه وو کړی شوی او هم به یې د اعتذار مخه بنده شوې وه.

نو همدارنګه ستا د زمانې د کفارو حال هم در واخله، چې ستاسو او د دوی ترمنځ به انصافي فیصله وکړی شي تاسو ته به نجات درکړی شي او هغوی به په عذاب باندې اخته شي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوٓا۟ ﴾ کښې د "أنْ" توری د "أنَّ" مثقل څخه تخفیف کړی شوی دی چې اسم یې مقدر دی. نو تقدیر یې داسې کېږي چې: "كَأَنَّهُمْ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنَ النَّهَارِ"[1] یعنې دوی به په داسې حال کښې حشر کړی شي چې حالت به یې هغو خلکو ته ورته وي چې د ورځې د یوې ګړۍ څخه اضافه وخت یې په دنیا کښې نه وي تېر کړی.

پاتې شوه دا خبره چې دوی ته به د څه شي له امله خپل پخوانی دنیاوي عمر ډېر کوچنی ښکاره شي نو د دې دپاره خو ځینو مفسرینو کرامو ډېرې وجې لیکلې دي[2] مګر مونږ ته لاندې وجوه ذهن ته راځي:

الف: دوی به متیقن وي چې د نن څخه دائمي عمر پیل شو، او پوره واضحه ده چې د دائمي عمر په مقابل کښې دنیاوي عمر هیڅ ارزښت نه لري.

ب: کله چې دوی د قیامت د ورځې مشکلات وګوري نو پخوانی ژوند او پخوانۍ خوشالۍ به ورته داسې وبرېښېږي لکه چې فقط د څو دقیقو د وخت څخه اضافه یې نه وي لیدلې.

## یوه پوښتنه او هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې ځینو علماوو کرامو خو ذکره شوې جمله د قبر (عالم برزخ) په حال باندې تفسیره کړې ده، چې مشرکانو ته به د قیامت په ورځ د قبرونو حالت داسې ښکاره شي لکه د ورځې

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۲۷
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لږ څه وړوکی وخت[۱]. نو پوښتنه دا ده چې تاسو دغه تفسیر ولې خوښ نه کړ؟

مونږ وایو چې: د ایتونو د وړاندې او بېرته څخه څرګندېږي چې په دې مقام کښې د مشرکانو د حشر حالت بیانول مطلب دي، نه د ټولو خلکو حالت چې مؤمنانو ته هم شامل شي. او پوره واضحه ده چې د قبرونو په اعتبار سره خو مشرکان او مؤمنان دواړه په دې کښې یو برابر دي چې د وخت په اندازه یې نه پوهېږي. نو معلومه شوه چې دلته د دنیا حالت مراد دی چې مشرکان (کفار) به د ډېر هیبت د کبله اوتر ګرځېدلي وي او د وخت په اندازه به نه پوهېږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې د دې څه وجه ده چې الله ﷻ د کفارو د خولو څخه د دنیاوي عمر په هکله مختلف اقوال حکایت کړي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: په دې مقام کښې د دنیا ټول عمر فقط یوه ګړی ښودلی شوی دی.

ب: په [طه:۱۰۳، ۱۰۴] ایتونو کښې په لس ورځو یا یوې ورځې تعبیر شوی دی.

ج: په [المؤمنون:۱۱۳] ایت کښې ورته د یوې ورځې یا د ورځې د څه برخې لقب ورکړی شوی دی.

د: په [الروم:۵۵] ایت کښې د کفارو سوګند حکایت شوی دی چې د یوې ګړۍ څخه اضافه وخت یې په دنیا کښې نه دی تېر کړی.

ه: په [النازعات:۴۶] ایت کښې ورباندې د یوه ماښام او یو څاښت نوم ایښودلی شوی دی.

مونږ وایو: کله چې د قیامت په ورځ کفار د سخت دهشت او لوی مشکل سره مخامخ وي نو دوی به د ډېرې وارخطایۍ څخه په دنیاوي عمر باندې کله د یوې ورځې نوم ږدي او کله به ورته د یوې ګړۍ لقب ورکوي او داسې نور.

د همدې کبله کله چې د دوی څخه توبیخًا پوښتنه وکړی شي چې په ځمکه کښې مو څومره وخت تېر کړی دی، نو دوی به په جواب کښې ووایي چې: ﴿ فَسْـَٔلِ ٱلْعَآدِّينَ ﴾ [المؤمنون:۱۱۳] یعنې مونږ ته خو یوه ورځ یا نیمه ورځ برېښي نو باید چې هغو شمېر کوونکو څخه پوښتنه وکړی شي کومو چې زمونږ اعمال او ټول کړه وړه یې ثبت کړي دي او هرڅه ورسره محفوظ دي، چې کرام الکاتبین دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: د ﴿ يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ﴾ جمله په اعراب کښې څه شی واقع شوې ده؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې جملې په اعراب کښې لاندې دوه وجهې صورت موندلی شي[۲]:

الف: یوه دا چې د وړاندېنۍ جملې دپاره تفسیر وګڼلی شي. نو د معنی حاصل به یې داسې راووځي چې کفار به په داسې حال کښې حشر کړی شي چې دوی ته به خپل ځانونه د هغو خلکو

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۵۵

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۱۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غونډې ښکاري کومو چې په دنیا کښې ډېر لږ وخت تېر کړی وي، چې صرف يو تربله يې سره پېژاندلي وي او نور يې هيڅ نه وي کړي. يا په بل عبارت: دوی ته به خپل خانونه د هغو انډيوالانو غونډې څرګند شي چې يو تربله سره تعارف (پېژاندنه) وکړي او نور سره جدا جدا شي.

ب: بله دا چې دا جمله د وړاندېنۍ جملې سره څه اعرابي تعلق ونه لري خو الله ﷻ صرف د حالت د څرګندونې دپاره نازله کړې وي. نو حاصل به يې داسې شي چې:

د قيامت په ورځ به کفار يو تربله پېژني. د همدې کبله به پېروان په مشرانو باندې ملامته وراچوي او مشران به د ملامتې څخه خپل خانونه پاکوي او پيروان به ملامته کوي، لکه چې په [سبأ:۳۱] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، مګر د محشر په ميدان کښې به په کفارو باندې داسې حالت وربېښېږي چې يوه به د بل پېژاندنه هېره کړې وي او هرڅوک به د خپل خان په غم کښې ډوب وي، او داسې حالت به هم ورباندې ورځي چې د خپل څنګ ملګرى به پېژني خو د ډاره به يې ژبون تړلې شوې وي او د تعارف خبرې به ورسره نه شي کولی لکه د دوی دواړو ترمنځ چې هيڅ تعارف نه وي[۱].

## دوه ډوله تفسير

۵ـ علماء کرامو دغه جمله ﴿ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمۡ قُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ ﴾ په لاندې دوه ډولونو باندې تفسيره کړې ده[۲]:

الف: يو تفسير هغه دى کوم ته چې مونږ د مطلب په خلاصه کښې شرحه ورکړې ده، چې الله ﷻ هيڅ قوم بدون د پيغمبر د ورلېږلو څخه نه دى هلاک کړى. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ﴾ [بني اسرائيل:۱۵] يعني او مونږ داسې نه يو چې يو قوم په عذاب باندې هلاک کړو ترڅو چې مونږ هغوی ته پيغمبر ورواستوو.

ب: ځينې علماء کرام وايي چې په ذکره شوې جمله کښې د قيامت د ورځې حال منعکس شوى دى چې د هر قوم سره به د همغه قوم د پيغمبر په حضور کښې حساب کتاب کېږي، ترڅو پيغمبر پرې شاهدي ورکړي چې ما دوی ته د الله ﷻ احکام او ارشادات رسولي وه.

مونږ وايو: که څه هم د بدليت په توګه دواړه تفسيرونه اراده کېدلی شي، چې منافات سره نه لري، مګر د راتلونکي ايت سره اولنی تفسير ډېر ښه پيوند اخلي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: ايا په لومړني تفسير باندې د "فترة" د زمانې اعتراض نه وارد ېږي چې د پيغمبرانو عليهم السلام د لېږلو سلسله سره شوې وه؟

مونږ وايو چې: د هر امت دپاره د پيغمبر ورلېږل دا معنی نه ده چې په هر امت کښې پيغمبر حيات

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۳۵۵

(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۲۵۹؛ تفسير ابي السعود ج۴ ص۱۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي او هيڅ امت د پيغمبر د ژوند څخه نه دی خالي شوی، بلکې مطلب دا دی چې هيڅ امت بې شريعته شوی نه دی[١]. لکه چې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته هم د قيامت د ورځې پورې پيغمبر ﷺ موجود دی يعنې شريعت يې باقي دی. هو! دا بېله خبره ده چې څوک په شريعت باندې عمل کوي او څوک يې د پښو لاندې کوي.

﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓ ۚ ءَآلْـَٰٔنَ وَقَدْ كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾﴾

[٤٨] او دوی (مشرکان) وايي چې دغه (د عذاب) وعده به کله (متحققه) شي که تاسو رښتيا ويونکي ياست (مونږ ته يې وخت وښايست)؟.

[٤٩] (ای پيغمبره!) ته (ورته په جواب کښې) ووايه چې: زه خو لا د خپل ځان دپاره د ضرر (د مخنيوي) او فائدې (د جلبولو) توان نه لرم (نو ستاسو دپاره به څه توان ولرم چې د عذاب وخت درته وټاکم) مګر څه چې د الله ﷻ اراده وي (ښه وي او که بد همغه رارسېږي. نو تاسو هم د الله ﷻ ارادې ته انتظار وباسئ).

(چې د همده ﷻ په نزد) د هر امت دپاره (د عذاب) وخت ټاکلی دی، کله چې دوی ته ټاکلی وخت ورسېږي نو (بيا) نه يوه ګړۍ دوی (د عذاب څخه) وروسته کېږي او نه وړاندې کېږي.

[٥٠] (بيا ورته) ووايه چې: (ای مشرکانو!) ماته خبر راکړئ که د الله ﷻ عذاب تاسو ته د خوب په وخت (شپه کښې) او يا په ورځ کښې درشي (نو هلته به تاسو په خپله غوښتنه پښېمانه نه شئ).

(ای پيغمبره!) د الله ﷻ د عذاب څخه کوم شی دی چې مجرمان يې په جلتۍ سره غواړي؟ (په عذاب کښې يې څه شی خوښ شوی دی چې جلتي پرې کوي؟).

[٥١] بيا چې کله همدا (عذاب) واقع شي ايا ايمان به ورباندې راوړئ؟ (هو ايمان به راوړئ مګر د الله ﷻ په نزد به قبول نه کړی شي، بلکې تاسو ته به ووېلی شي چې) ايا اوس (پرې ايمان راوړئ) حال دا چې (پخوا) تاسو وئ چې (د استهزاء په توګه مو) پرې جلتي کوله.

[٥٢] بيا به (د قيامت په ورځ) هغو کسانو ته ووېلی شي چې (په خپلو ځانونو باندې يې) ظلم کړی وي چې د همېشوالي عذاب (په دوزخ کښې) وڅکئ.

---

[١] التفسير الكبير ج١٧ ص١٠٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا تاسو ته جزا درکولی شي (بلکې نه شي درکولی) مګر د هغه شي په سبب باندې چې وئ تاسو چې کسب کول به مو.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې دا جمله ﴿ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ ﴾ هم شامله وه چې د عذاب د نزول وعده پکښې نغښتې ده. په دې ایتونو کښې د یو پلوه د مشرکانو غوښتنه حکایت شوې ده چې دا وعده به کله رښتیا کېږي او د بله پلوه د همدغې غوښتنې رد ته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! مشرکان خو د تکذیب په غرض وایي چې د عذاب د نزول وعده به کله پوره کېږي، که دا وعده رښتیا وي نو د څه وجهې د کبله ټال شوې ده، هله ژر شه عذاب را باندې نازل کړه چې نور یې ټال نه کړې. نو ته ورته په جواب کښې لاندې نکات قرائت کړه:

۱_ دوی ته ووایه چې: عذاب خو زما په لاس کښې نه دی چې کله زما خوښه شي او یا کله زما خخه وغوښتل شي نو دستي به یې نازل کړم، بلکې زه خو د خپل خان په باره کښې د ضرر د مخنیوي او یا د ګټو د راجلبولو واک او اختیار هم نه لرم مګر څه چې د الله ﷻ اراده وي هماغه را رسېږي. نو کله چې زه د خپل خان په هکله څه واک او اختیار نه لرم نو ستاسو په باره کښې به راته د عذاب د نزول واک د کومه شي.

۲_ د الله ﷻ په نزد د هر شي دپاره نېټه ټاکلې شوې ده او هم د هرکافر ټولګي د هلاکولو دپاره وخت معلوم دی. نو د همدې قانون په مطابق ستا د زمانې د کفارو د عذاب دپاره هم عندالله وخت متعین دی. خو دغه متعین وخت لا تر اوسه نه دی راغلی، کله چې دغه وخت راورسېږي نو بیا به ترې دوی نه وروسته پاتې شي او نه به ترې سبقت وکړي، بلکې په عین وخت کښې به پرې اخته شي او د هرې خوا څخه به ترې را چاپېر شي.

۳_ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: عذاب خو په ټاکلي وخت باندې درروان دی، دېته څه حاجت نشته چې تاسو وربانديې تادي وکړئ. خو دا راته ووایاست چې ایا تاسو د الهي عذاب مخنیوی کولی شئ؟

د عذاب غوښتنه خو به ستاسو سره هله مناسبه وه چې تاسو یې څه د مقابلې توان درلودی او خپلو خانونو ته مو ترې نجات ورکولی شوی. د عذاب د مقابلې په هکله خو ستاسو ناتواني په دومره اندازه کښې ده چې شپه او ورځ مو دواړه یو برابر دي؛ که تاسو د ورځې بوخ او بېدار یاست خو د عذاب د مخنیوي په لحاظ به داسې ګڼل کېږئ لکه چې ویده یاست او هیڅ تیاری مو ورته نه وي نیولی.

ب: بل راته دا ووایاست چې هغه څه شی دی چې مجرمان (یعنې تاسو) د هغه په راتګ باندې تادي کوئ چې ژر دې راشي؟ د هغه قوت او هیبت درته معلوم دی؟ تاسو هغه پېژنئ؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حقیقت دا دی چې تاسو موعود عذاب نه پېژنئ او د هغه هیبت درته معلوم نه دی. که بالفرض درته معلوم وی نو د هغه څخه به مو پنا غوښتې وی، پاتې خو لا دا چې د هغه په راتللو باندې توندي او تعجیل وکړئ.

ج: اوس خو د هغه په نازلېدلو او واقع کېدلو باندې تعجیل کوئ خو بیا چې کله واقع شي نو د ډېرې وارخطايي څخه به د "آمَنَّا" چیغې ووهئ چې مونږ پرې ایمان راوړی دی، لکه څنګه چې فرعون د "آمَنْتُ" چیغې ووهلې، خو په هغه وخت کښې به ستاسو ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه وي لکه څنګه چې د فرعون ایمان مقبول ونه ګرځېد.

د: په دغه وخت کښې به ستاسو د ایمان په رد کښې تاسو ته وویلی شي چې ایا اوس ایمان راوړئ حال دا چې تاسو لږ وړاندې ورته د دروغو نسبت کاوه او هغه مو په چالاکۍ سره غوښت چې هله ژر کوه را باندې را نازل یې کړه.

۴ـ ای پیغمبره! دا خو د کفارو د دنیاوي عذاب کیفیت وه چې بیان شو خو په دنیاوي عذاب باندې علاوه بیا به د قیامت په ورځ کفارو ته (چې په خپلو خانونو باندې یې ظلم کړی دی) وویلی شي چې د دائمي عذاب مزه وڅکئ: یا په بل عبارت: د دوزخ عذاب د دوام په توګه نوش جان کړئ.
ایا نو تاسو ته جزا درکولی شي؟ بلکې تاسو د جزا لاندې نه یاست واقع شوي مګر د هغو جنایتونو د کبله چې تاسو په دنیا کښې د هغو کسب کړی وه او خپلو خانونو ته مو پخپله کړلی وه. نو اوس یې ورېبئ.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې د مشرکانو جواب خو د ﴿ قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا ﴾ په جمله باندې تمام شو، چې د خپل ځان په باره کښې د ضرر او ګټې واک نه لرم نو ستاسو د عذاب په هکله به څه واک ولرم. نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ منقطعه استثناء ده[1] او په نزول کښې یې دې خبرې ته اشاره ده چې الله ﷻ هر یو کار په خپله اراده او اختیار سره کوي، نه د اضطرار په توګه، لکه چې ځینې خلک معتقد دي.

۲ـ د ﴿ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴾ د جملې غوندې یوه جمله په [الأعراف:۳۴] ایت کښې تېره شوې ده. هلته چې کوم سوال جواب کړی شوی دی د هغه کتل په دې مقام کښې بې ګټې نه دي.

## "مَاذَا" څه معنی؟

۳ـ د ﴿ مَاذَا ﴾ کلمه په دې مقام کښې د "أَيُّ شَيْءٍ" معنی ورکوي او په ﴿ مِنۡهُ ﴾ کښې ﴿ عَذَابُهُ ﴾

(۱) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته ضمیر راجع دی[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای مشرکانو! ماته خبر راکړئ چې د الله ﷻ د عذاب څخه مجرمان (یعنې تاسو) کومې برخې (څنډې) ته خوشاله دي؟ ایا د الله ﷻ په عذاب کښې د خوشالۍ او خوښۍ څه شی شته چې په جلتۍ سره یې غواړئ؟

په دې مقام کښې که خوک د عربیت اوږد تحلیل غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲].

﴿ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِى ٱلْأَرْضِ لَٱفْتَدَتْ بِهِۦ ۗ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٥٤﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٥٦﴾ ﴾

[۵۳] او (ای پیغمبره!) کفار ستا څخه پوښتنه کوي چې ایا دا (عذاب الخلد یا قرآن) حق دی (واقعیت لري)؟

ته (ورته په جواب کښې) ووایه چې: هو، په خپل رب ﷻ مې دې قسم وي چې دا هرو مرو حق دی، او (دا هم ورته ووایه چې:) تاسو (د الله ﷻ) عاجز کوونکي نه یاست (چې د ارادې مخه یې بنده کړئ).

[۵۴] او که (بالفرض) د هرنفس دپاره چې ظلم یې کړی وي هغه شیان (ملکیت) وي کوم چې په ځمکه کښې (موجود) دي، نو هرومرو به یې (د عذاب الخلد څخه د خپل ځان د خلاصون په غرض) فدیه کړي وی.

او کفار به (د ډېر هیبت له کبله) خپل ندامت (پښېماني په زړونو کښې) پټ کړي (البته) کله چې (ذکر شوی) عذاب وګوري (او اول خل یې ورباندې سترګې ولګېږي). او (دا څکه چې) د دوی په منځکښې به په انصاف سره فیصله کړه شوې وي حال دا چې په دوی باندې به ظلم نه وي کړی شوی (او نه به پرې وکړی شي).

[۵۵] خبردار! یقیناً خاص الله ﷻ ته هغه څه (ملکیت) دي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي. خبردار! یقیناً د الله ﷻ وعده حقه ده مګر د کفارو اکثریت نه پوهېږي (چې دا حقه ده).

[۵۶] همدا (الله ﷻ) ژوندي کول کوي او (هم) مړه کول کوي او خاص همده ﷻ ته به تاسو بېرته راجع کړی شئ.

---

(۱) المدارک في هذا المقام.

(۲) البحر المحیط ج۶ ص۶۸؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندې نژدې ایت کښې الله ﷻ د کفارو د اخروي عذابونو په بیان کښې دا جمله هم نازله کړې وه چې ﴿ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ ﴾ دائمي عذاب وڅکئ: په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغه عذاب په هکله د هغوی عکس العمل ته اشاره شوې ده او د بله پلوه ذکر شوی عذاب لږ څه نور هم واضحه شوی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! کفار ستا څخه د دائمي عذاب یا د قرآن کریم په باره کښې پوښتنه کوي چې: ایا دا عذاب رښتیا شته او په حقه راتلونکي دي؟ ایا قرآن کریم رښتیا د الله ﷻ کتاب دی؟. نو ته دوی ته لاندې توضیحات ورکړه:

۱_ د هرڅه څخه وړاندې دوی ته په سوګند سره ووایه چې: هو! ذکر شوی عذاب حق دی او قرآن کریم د الله ﷻ رښتیانی کتاب دی، زما دې په خپل رب ﷻ باندې سوګند وي.

۲_ بیا ورته ووایه چې: ای کفارو! ستاسو دپاره د ذکر شوي عذاب څخه د نجات هیڅ وسیله نشته چې تاسو د الله ﷻ څخه خپل ځانونه خلاص کړئ او هغه ﷻ په خپله اراده کښې عاجز او کمزوری کړئ، دا کار هیڅکله نه شئ کولی.

۳_ برسېره پر دې، ذکر شوی عذاب څه عادي عذاب نه دی بلکې داسې مشکل او سخت عذاب دی چې که بالفرض یو ظالم سړی (چې په خپل ځان باندې یې ظلم کړی وی او د کفریاتو مرتکب شوي وي) هغه څه په خپل ملکیت کښې ولري کوم چې په ځمکه کښې موجود دي (لکه د ټولې دنیا سره زر او سپین زر او داسې نور) او ده ته وویلی شي چې دا ټول د فدیې او بدلې په توګه ورکړه! څو د ذکر شوي عذاب څخه نجات ومومې، نو دا ټول به فدیه کړي او خپل ځان به خلاص کړي. مګر افسوس چې د قیامت په ورځ به ظالمان نه څه ملکیت لري او نه به ترې فدیه قبلېږي.

اما نن ورځ د همدغه شدید عذاب څخه هرڅوک په ډېره اسانۍ سره خپل ځان ته نجات ورکولی شي چې فقط همدومره ووایي چې: "لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ" او تصدیق پرې ورکړي.

۴_ نن ورځ خو کفار د ذکر شوي عذاب مخې ته ډېر په جرئت د تکبر سره ور روان دي خو چې کله یې په سترګو وګوري نو د لیدلو سره سم به په خپله دنیاوي کړنلاره باندې پښېمانه شي او په خپلو زړونو کښې به ندامت او پښېماني مونده کړي. بیا به نو د وختونو په اختلاف سره همدغه پښېماني کله څرګندوي او کله به یې په زړونو کښې پټه ساتي.

۵_ د کفارو د سختې پښېمانۍ وجه به هلته دا وي چې دوی به پوهېږي چې فیصله په انصاف سره کړه شوې ده او کوم ظلم اوتېري صورت نه دی نیولی، بلکې دوی پخپله په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی چې په دنیا کښې یې د همدغه عذاب څخه انکار کاوه.

۶_ ای پیغمبره! یوازې کفارو ته نه بلکې ټولو خلکو ته په ډاګه ووایه چې خبردار! اسمانونه او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خمکې صرف د الله ﷻ ملکیت دی او الله ﷻ حق لري چې هر ډول تصرف پکښې وکړي، د ده ﷻ یو ډول تصرف ته هم څوک د ظلم لقب نه شي ورکولی. مګر د دې سره سره الله ﷻ په هیڅ باندې ظلم نه کوي او د استحقاق څخه اضافه جزا نه ورکوي.

ای خلکو! خبردار! دغه د الله ﷻ وعده ده او الله ﷻ د خپلې وعدې څخه هیڅکله تخلف نه کوي مګر اکثره خلک نه پوهېږي، چې یا بوتانو ته په څه تصرف باندې قول کوي او یا د الله ﷻ په وعدو باندې باور نه کوي او دروغېنې ورته برېښي.

۷_ دا هم ورته ووایه چې ستاسو ژوندي کول او مړه کول یوازې د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي. نو د بل هیڅ څخه مه ډارېږئ او مه ورته په عبادت کښې په اشتراک قول کوئ.

په دې باندې علاوه صرف همدغه الله ﷻ ته به تاسو ورتاو کړی شئ او د ټولو کړو وړو محاسبه به درسره وکړي. د الله ﷻ د محاسبې څخه نه خپل خانونه پټولی شئ او نه څوک درته نجات درکولی شي.

## توضیحات

۱_ څرنګه چې خلک د باور کولو په اعتبار سره مختلفې طبقې لري، ځینې په استدلال سره قناعت ته رسېږي او ځینې د کلام په تائید باندې باور کوي، نو په قرآن کریم کښې الله ﷻ د شرعیاتو او عقیدوي احکامو د اثبات دپاره د دواړو لارو څخه کار اخستی دی، چې هم یې قاطع دلایل نازل کړي دي او هم یې دا دی په ذکر شوي ایت شریف کښې خپل پیغمبر ﷺ ته امر کړی دی چې د قرآن د حقانیت او نورو شرائعو د اثبات دپاره په خپل رب ﷻ باندې قسم وکړه.

هو! دا بېله خبره ده چې څوک کلک عناد نیولي وي چې نه دلایلو ته غوږ ږدي او نه په سوګند باندې باور کوي.

د قرآن کریم د نزول په وخت کښې د هغه چا د ایمان د راوړلو دپاره سوګند هم کفایت کاوه څوک به چې عناد نه وه نیولی او تعصب به پرې سترګې نه وې پټې کړې. دا ځکه چې آن د جاهلیت په زمانه کښې په دروغو باندې سوګند ته ډېر په کرکه کتل کېده، حتی چې د دوی په منځکښې دا مقوله مشهوره وه چې: "اَلْاَيْمَانُ الْفَاجِرَةُ تَدَعُ الدِّيَارَ بَلَاقِعَ"[1] یعني په دورغو باندې سوګندونه د ابادو ښارونو څخه ګنډوالې جوړوي او آفتونه پرې نازلېږي.

په هغه وخت کښې به سوګند لا زیات وزن هله مونده کاوه چې د داسې یوه شخصیت څخه به یې صورت ونیوه چې هغه به په امین او رښتینې سړي سره شهرت درلود، لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ په همدې لقب باندې مشهور وه او هیڅ ورباندې د دروغژن سړي ګومان نه کاوه.

د ښه وضاحت دپاره لاندې د یوه حدیث خلاصه مضمون ولولئ:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ په منځکښې ناست وه چې یو سړی راغی او نبي کریم ﷺ ته یې لاندې سوګندونه ورکړه:

(۱) تفسیر المنار ج۱۱ ص۳۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ستا دې په خپل رب باندې سوګند وي چې ته الله ﷻ ټولو خلکو ته د پيغمبر په حيث رالېږلی يې؟. نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «اللَّهُمَّ نَعَمْ» يعنې ای الله! ته شاهد يې چې: هو (تا په رښتيا رالېږلی يم).

ب: ستا دې سوګند وي چې الله ﷻ درته په پنځو لمونځونو باندې امر کړی دی؟. نبي کريم ﷺ همغه ورانديز جواب تکرار کړ چې: «اللَّهُمَّ نَعَمْ».

ج: ستا دې سوګند وي چې تا ته الله ﷻ امر کړی چې په کال کښې دغه يوه مياشت روژه ونيسې؟. نبي کريم ﷺ ذکر شوی جواب بيا ورکړ چې: «اللَّهُمَّ نَعَمْ».

د: ستا دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې تا ته الله ﷻ امر کړی دی چې د غنيانو څخه زکاتونه راټول کړه او په فقيرانو باندې يې ووېشه؟. نبي کريم بيا همدغه کلمه تکرار کړه چې: «اللَّهُمَّ نَعَمْ».

په پای کښې نوموړي سړي خپل ځان معرفي کړ چې: زه «ضِمَام بن ثَعْلَبَة» نومېږم او د خپل قوم د پلوه د نماينده په حيث راغلی يم. او بيا يې وويلې چې: «آمَنْتُ بِمَا جِئْتَ بِهِ»[1] يعنې ما په هغه څه ايمان راوړی دی په کوم باندې چې ته را استولی شوی يې.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې په ﴿وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ﴾ کښې د ﴿أَسَرُّوا﴾ کلمه د "إسرار" څخه اخستله شوې ده او "إسرار" خو د پټولو معنی ورکوي، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې د قيامت په ورځ به کفار خپل ندامت او پښېماني پټه کړي. حال دا چې په بل ځای کښې الله ﷻ د کفارو په حالاتو کښې فرمايي چې: ﴿فَقَالُوا۟ يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا﴾ [الأنعام: ۲۷] يعنې نو کفار به ووايي (ندامت به ښکاره کړي چې): ای کاش چې مونږ بېرته (دنيا ته) تاو کړی شو او د خپل رب ﷻ ايتونو ته د دروغو نسبت ونه کړو.

مونږ په جواب کښې وايو چې:

الف: د "إسرار" کلمه د هغو لغاتو څخه ده کوم چې په دوه وو متضادو معناوو باندې دلالت کوي[2] يعنې کله د پټولو معنی ورکوي او کله د ښکاره کولو په معنی استعمالېږي. دلته همدغه دوهمه معنی مراده ده.

ب: داسې معلومېږي چې د قيامت په ورځ به په کفارو باندې مختلف حالات ورځي، کله به خپل ندامت او پښېماني پټوي او کله به يې ښکاره کوي. نو د دواړو ايتونو ترمنځ څه منافات نشته، په يوه ايت کښې يې يو حال بيان شوی دی او په بل ايت کښې يې بل حال ته اشاره شوې ده.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق پنځم ټوک ختم شو، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۵
(۲) لسان العرب ج۷ ص۳۵۷

Scanned by CamScanner

# د پنځم ټوک
# محتویات



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د موسی علیه السلام څلوېښت ورځې مناجات ............ ۵
دا هم په یاد ولرئ ............ ۵
د موسی علیه السلام مناجات ............ ۸
په دنیا کښې د الله ﷻ دیدار محال دی ............ ۸
د یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۹
سوال جواب ............ ۱۰
د "جلاء" معنی ............ ۱۰
سوال جواب ............ ۱۱
"صعق" څه معنی ............ ۱۱
ایا په "أَلْوَاح" کښې تورات پروت وه ............ ۱۴
د "ألواحو" شمېره او جوړښت ............ ۱۵
د عربیت یو تحلیل ............ ۱۵
احسن احکام کوم دي؟ ............ ۱۵
"دَارُ الْفَاسِقِينَ" د کوم ځای څخه عبارت دی؟ .۱۶
تبصره ............ ۱۷
د بني اسرائیلو خوسکی ............ ۱۸
سوال جواب ............ ۲۰
د عربیت یو تحلیل ............ ۲۰
یادونه ............ ۲۱
سوال جواب ............ ۲۳
غضب او آسف څه فرق لري؟ ............ ۲۳
سوال جواب ............ ۲۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۲۴
عجله څه معنی؟ ............ ۲۴
سوال جواب ............ ۲۵
د ایتونو ارشادات ............ ۲۶
یادونه ............ ۲۷
تبصره ............ ۲۹
سوال جواب ............ ۲۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۰
د موسی علیه السلام غُصه ډېره تېزه وه ............ ۳۰
یو عربي تحلیل ............ ۳۱
د طور غره ته د موسی درې جرګې ............ ۳۴
دلته کومه جرګه مطلب وه؟ ............ ۳۵
تبصره ............ ۳۵
سوال جواب ............ ۳۶
د عربیت یو قانون ............ ۳۶
یادونه ............ ۳۶
په پخوانیو کتابونو کښې د محمد ﷺ علامات ۳۸
سوال جواب ............ ۳۹
د محمد ﷺ په هکله بشارتونه ............ ۳۹
رسول او نبي څه فرق لري؟ ............ ۳۹
یادونه ............ ۴۰
د "إِصْر" او "أَغْلَال" معناوې ............ ۴۰
د موسی علیه السلام د قوم منصفه ډله ............ ۴۴
تبصره ............ ۴۵
یادونه ............ ۴۵
اسباط څه معنی؟ ............ ۴۵
د "بَجَس" د کلمې معنی ............ ۴۶
سوال جواب ............ ۴۹
"قَرْيَة" څه معنی؟ ............ ۴۹
د "سَبْت" معنی ............ ۵۰
"حِيتَان" څه صیغه ده؟ ............ ۵۱
"شُرَّع" څه معنی؟ ............ ۵۱
د "لا تَأْتِيهِمْ" دوه معناوې ............ ۵۲
کبان هم د الله ﷻ اطاعت کوي ............ ۵۲
"نِسيان" څه معنی؟ ............ ۵۳
د حیلو ډولونه ............ ۵۳
ایا اصحاب السبت مرتد شوي وه؟ ............ ۵۴
د محمدي اُمت د شریعت د اسانۍ یو مثال ..۵۴
خلک درې ډلې شوه ............ ۵۴
سوال جواب ............ ۵۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۵۶


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د یهودانو ذلت دائمي دی ........................ ۶۰
د "خَلف" او "خَلَف" فرق ........................ ۶۰
سوال جواب ........................ ۶۱
یادونه ........................ ۶۱
د عالم الذر عهد حقیقي دی ........................ ۶۴
تبصره ........................ ۶۴
همدا غوره تفسیر دی ........................ ۶۵
سوال جواب ........................ ۶۶
د آدم ﷺ مستقیمه اولاده څومره وه؟ ........................ ۶۶
د دغه عهد د اخستلو ځای ........................ ۶۷
د دغه عهد لقب د عالم الذر عهد دی ........................ ۶۷
سوال جواب ........................ ۶۸
یوه مسئله ........................ ۶۹
د دغه ایت مصداق ........................ ۷۲
د بلعم بن باعوراء قیصه ........................ ۷۲
د شباهت وجوه ........................ ۷۳
قصص څه معنی؟ ........................ ۷۴
د ایتونو ارشادات ........................ ۷۴
د هر خلک د دوزخ خاشاک دي ........................ ۷۶
تبصره ........................ ۷۸
د کافرانو ګمراهي زیاته ده ........................ ۷۸
اسماء الحسنی څو دي؟ ........................ ۷۸
سوال جواب ........................ ۷۹
الحاد څه معنی ........................ ۷۹
د الله ﷻ په نومونو کښې الحاد ........................ ۸۰
سوال جواب ........................ ۸۱
تر قیامته څرګنده مجاهده ولله ........................ ۸۴
صاحب څه معنی؟ ........................ ۸۵
د څو لغاتو معناوې ........................ ۸۸
سوال جواب ........................ ۸۹
"حَفَاوَة" څه معنی؟ ........................ ۹۰
تبصره ........................ ۹۱
د دنیا ټول عمر معلوم نه دی ........................ ۹۱
درې حقیقتونه ........................ ۹۱
د وضاحت په خاطر څو مثالونه ........................ ۹۳
سوال جواب ........................ ۹۳
یو تفسیري تحقیق ........................ ۹۶
په لوی لاس خان په اشکال کښې اچول ........................ ۹۸
سوال جواب ........................ ۹۸
حَمل او جمل څه فرق لري؟ ........................ ۹۹
زه د بوتانو څخه نه دارېږم ........................ ۱۰۲
یوه عجیبه قیصه ........................ ۱۰۲
سوال جواب ........................ ۱۰۳
یادونه ........................ ۱۰۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۱۰۴
د دښمنانو څخه د امنیت دعاء ........................ ۱۰۴
یوه داعي ته درې شیان په کار دي ........................ ۱۰۶
"نزغ" څه معنی؟ ........................ ۱۰۶
سوال جواب ........................ ۱۰۶
طائف څه معنی؟ ........................ ۱۰۷
سوال جواب ........................ ۱۰۷
د ایت شریف ارشاد ........................ ۱۰۷
د "اجتباء" معنی ........................ ۱۰۹
استماع او انصات څه فرق لري؟ ........................ ۱۱۰
سوال جواب ........................ ۱۱۰
قرائت خلف الامام څه حکم لري؟ ........................ ۱۱۱
سوال جواب ........................ ۱۱۱
څو ارشادات ........................ ۱۱۳
"الْغُدُوّ" او "الآصَال" څه معنی؟ ........................ ۱۱۵
د تلاوت د سجدې فضیلت ........................ ۱۱۶
د تلاوت د سجدې په هکله معلومات او مسائل ........................ ۱۱۶


## الأنفال (۸)


سریزه ........................ ۱۲۱
په سوال کولو کښې اختلاف دی ........................ ۱۲۴


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تبصره ........................................ ۱۲۶
انفال څه معنی؟ ........................................ ۱۲۶
سوال جواب ........................................ ۱۲۶
د کامل مؤمن صفات ........................................ ۱۲۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................................ ۱۲۹
یادونه ........................................ ۱۳۰
یو تذکر ........................................ ۱۳۰
د کمونستانو عقیده ........................................ ۱۳۰
په دې باره کښې الطنطاوي څه وايي؟ ........................................ ۱۳۱
د بدر د غزا تاریخ ........................................ ۱۳۳
سوال جواب ........................................ ۱۳۴
د کوره د وتلو نبته او سبب ........................................ ۱۳۵
سوال جواب ........................................ ۱۳۷
دوه عجیبه خبرې ........................................ ۱۳۸
"شَوكَة" څه معنی؟ ........................................ ۱۳۹
سوال جواب ........................................ ۱۳۹
د الله ﷻ کلمات یعنې څه؟ ........................................ ۱۳۹
د "غَوث" معنی ........................................ ۱۴۰
یادونه ........................................ ۱۴۱
د بدر غزا او ملائک ........................................ ۱۴۱
"مُردفين" څه معنی؟ ........................................ ۱۴۲
د "تَطهير" معنی ........................................ ۱۴۴
سوال جواب ........................................ ۱۴۴
یادونه ........................................ ۱۴۵
د پرښتو تثبیت ........................................ ۱۴۷
اعناق څه معنی؟ ........................................ ۱۴۷
سوال جواب ........................................ ۱۴۸
بیا هم د بدر غزا او ملائک ........................................ ۱۴۸
سوال جواب ........................................ ۱۴۹
د "زَحف" معنی ........................................ ۱۵۰
په غزا کښې تښتېدل ګناه ده ........................................ ۱۵۱
معجزانه فتحه ........................................ ۱۵۲
یو موټی خاورې او د کفارو سترګې ........................................ ۱۵۲
سوال جواب ........................................ ۱۵۲
"بَلاء" څه معنی؟ ........................................ ۱۵۲
د عربیت یو تحلیل ........................................ ۱۵۴
دلته څوک مخاطب دي؟ ........................................ ۱۵۵
سوال جواب ........................................ ۱۵۶
څلور ډوله معلومات ........................................ ۱۵۸
د قرآن کریم په نسبت د اورېدونکو ډولونو ........................................ ۱۵۹
د نبي کریم ﷺ د بلنې اجابت ........................................ ۱۶۲
حَول څه معنی؟ ........................................ ۱۶۲
دلته د "فِتنَة" معنی ........................................ ۱۶۳
سوال جواب ........................................ ۱۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................................ ۱۶۵
سوال جواب ........................................ ۱۶۶
سوال جواب ........................................ ۱۶۷
د "خِيَانَة" معنی ........................................ ۱۶۸
"فُرقَان" څه معنی؟ ........................................ ۱۶۸
سوال جواب ........................................ ۱۶۹
دار الندوه د کوم ځای نوم دی؟ ........................................ ۱۷۰
د نبي کریم ﷺ د نجات قیصه ........................................ ۱۷۱
د یوه کس خبره نورو ته نسبت کېږي ........................................ ۱۷۵
سوال جواب ........................................ ۱۷۵
النضر بن الحارث ووژل شو ........................................ ۱۷۶
یوه عجیبه قیصه ........................................ ۱۷۶
استغفار د الله ﷻ د عذاب مخه نیسي ........................................ ۱۷۷
د "مُكَاء" او "تَصْدِيَة" معناوې ........................................ ۱۷۸
دوه ډوله تفسیر ........................................ ۱۸۱
د ایت شریف تازه مصداق ........................................ ۱۸۱
سوال جواب ........................................ ۱۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................................ ۱۸۳
"رَكْم" څه معنی؟ ........................................ ۱۸۳
حقوق العباد په ایمان راوړلو نه عفوه کېږي ........................................ ۱۸۵
سوال جواب ........................................ ۱۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جهاد تر څه وخته؟ ........................ ۱۸۶
سوال جواب ........................ ۱۸۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۱۸۸
د "اَنَّمَا" د کلمې تحلیل ........................ ۱۸۹
"غَنِیمَة" څه معنی؟ ........................ ۱۹۰
سوال جواب ........................ ۱۹۰
اهل التشیع څه وایي؟ ........................ ۱۹۱
سوال جواب ........................ ۱۹۱
په خمس کښې تسدیس نشته ........................ ۱۹۲
سوال جواب ........................ ۱۹۲
ذُو القربی څوک دي؟ ........................ ۱۹۳
سوال جواب ........................ ۱۹۳
یوه پوښنه او د هغې جواب ........................ ۱۹۴
یوه مسئله ........................ ۱۹۵
"یَوْمَ الْفُرْقَان" د کومې ورځې نوم دی؟ ........................ ۱۹۵
د عربیت پورې مربوطه مسئله ........................ ۱۹۶
سوال جواب ........................ ۱۹۹
یادونه ........................ ۲۰۰
په خوب کښې لږ ښکاره شوه ........................ ۲۰۱
سوال جواب ........................ ۲۰۱
مجاهدین ورته لږ ښکاره شوه ........................ ۲۰۲
د هغه ځای کتل ضرور دي ........................ ۲۰۲
سوال جواب ........................ ۲۰۲
ماثور تفسیر ........................ ۲۰۲
"فَشَل" څه معنی؟ ........................ ۲۰۶
د "ریح" معنی؟ ........................ ۲۰۶
سوال جواب ........................ ۲۰۷
تبصره ........................ ۲۰۸
"بَطَر" څه معنی؟ ........................ ۲۰۸
شیطان وتښتېد ........................ ۲۰۹
سوال جواب ........................ ۲۰۹
د ابلیس څخه معجزه جوړه شوه ........................ ۲۱۰
ایا شیطان رښتیا دار شوی وه؟ ........................ ۲۱۰
سوال جواب ........................ ۲۱۲
د "لوٰ" د توري معنی ........................ ۲۱۵
نه بدلېدونکی قانون ........................ ۲۱۶
په یاد ولرئ ........................ ۲۱۷
سوال جواب ........................ ۲۱۷
د یهودانو د عهد ماتونې مثالونه ........................ ۲۲۰
تشرید څه معنی؟ ........................ ۲۲۱
د خوف کلمه د علم معنی هم ورکوي ........................ ۲۲۱
همېشه په معجزانه ډول فتحه نه وي ........................ ۲۲۴
سوال جواب ........................ ۲۲۴
تبصره ........................ ۲۲۶
"قُوَّة" څه معنی؟ ........................ ۲۲۶
سوال جواب ........................ ۲۲۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۲۷
په یاد ولرئ ........................ ۲۲۷
د جهادي آسونو فضائل ........................ ۲۲۷
په جهادي وسائلو باندې څوک ډارول کېږي؟ ۲۲۸
سوال جواب ........................ ۲۲۸
ایا د کفارو سره سوله جواز لري؟ ........................ ۲۲۹
ډېره لویه جهادي وسله کومه یوه ده؟ ........................ ۲۲۹
یو تفسیري تحلیل ........................ ۲۳۲
تحریض څه معنی؟ ........................ ۲۳۲
دلته اخبار د انشاء معنی ورکوي ........................ ۲۳۲
سوال جواب ........................ ۲۳۳
یادونه ........................ ۲۳۳
تخفیف څه معنی؟ ........................ ۲۳۴
سوالونه او جوابونه ........................ ۲۳۴
د ذکر شوي بحث نتیجه ........................ ۲۳۸
یوه مسئله ........................ ۲۳۸
د "اثخان" معنی ........................ ۲۴۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تبصره ........................................ ۲۴۲
دلته کتاب الله د څه شي څخه عبارت دی؟ ۲۴۲
د دغه عذاب یو نظیر .................... ۲۴۳
سوال جواب .................................. ۲۴۳
ډېره باریکه اشاره .......................... ۲۴۳
د فدیو اندازه ................................ ۲۴۴
د جنګي بندیانو سره باید څه وکړی شي؟ ..۲۴۴
د عباس رضی الله عنه عجیبه قیصه ............... ۲۴۶
الله ﷻ خپله وعده رښتیا کړه .......... ۲۴۷
یادونه ........................................ ۲۴۸
ولایت څه معنی؟ ............................ ۲۵۲
تبصره ......................................... ۲۵۲
مسلمان د کافر څخه میراث نه شي وړلی ...۲۵۳
په عهد باندې وفا کول یو رکن دی ......... ۲۵۳
د عربیت یو تحلیل .......................... ۲۵۳
صحابه کرام رضی الله عنهم ټول عادلان وه ............ ۲۵۳
اهل التشیع څه وایي؟ ..................... ۲۵۴
"أولی" هجرت تر څه وخته پورې وه؟ ......۲۵۴
سوال جواب .................................. ۲۵۵
تبصره ........................................ ۲۵۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ................ ۲۵۶

## التوبة (۹)

سریزه ......................................... ۲۵۸
په اجمالي توګه د "التَّوْبَة" محتویات ......... ۲۵۸
د "بسم الله الرحمن الرحیم" عدم کتابت ..... ۲۵۹
سوال جواب .................................. ۲۶۱
"بَرَاءَة" څه معنی؟ .............................. ۲۶۴
د "سِيَاحَة" معنی ................................ ۲۶۴
سوال جواب .................................. ۲۶۵
"اذان" څه معنی؟ ............................. ۲۶۵
یادونه ........................................ ۲۶۵
د "الْحَجَّ الأكْبَرَ" ورځ کومه یوه ده؟ .......... ۲۶۵
سوال جواب .................................. ۲۶۷
تبصره ........................................ ۲۶۷
د حج امیر څوک وه؟ ........................ ۲۶۸
سوال جواب .................................. ۲۶۹
اهل التشیع څه وایي؟ ...................... ۲۷۰
دلته کومې څلور محترمې میاشتې
مرادې دي؟ ................................... ۲۷۳
سوال جواب .................................. ۲۷۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............... ۲۷۴
د مستأمن حفاظت فرض دی ................ ۲۷۵
د مسجد حرام په نزد معاهده کومه ده؟ .....۲۷۸
د "إلاً" او "ذِمَّة" معناوې .......................... ۲۷۹
سوال جواب .................................. ۲۸۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ................ ۲۸۰
د ایمان راوړلو په شرط مشرکان د مؤمنانو
ورونه ګرځي ................................... ۲۸۳
سوال جواب .................................. ۲۸۴
د کفر مشران څوک دي؟ ..................... ۲۸۴
سوال جواب .................................. ۲۸۵
په یاد ولرئ .................................... ۲۸۶
"وَلِيجَة" څه معنی؟ ............................ ۲۸۸
سوال جواب .................................. ۲۸۸
المسجد الحرام د ټولو جوماتونو امام دی ..۲۹۱
ایا په خپلو ځانونو باندې د کفر شاهدې؟ ..۲۹۱
عمره او عمارة څه معنی؟ ................... ۲۹۲
سوال جواب .................................. ۲۹۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ................ ۲۹۵
تبصره ........................................ ۲۹۵
سوال جواب .................................. ۲۹۵
سوال جواب .................................. ۲۹۶
نحوي تحلیل ................................. ۲۹۷
الحاج څه معنی ............................... ۲۹۷

Scanned by CamScanner

د زمزم اوبه ............ ۲۹۷
د جهاد موانع ............ ۳۰۰
"عَشِیرَة" څه معنی؟ ............ ۳۰۰
دلته کوم محبت مراد دی؟ ............ ۳۰۰
حُنین د کوم ځای نوم دی؟ ............ ۳۰۳
د حُنین په غزا کښې د غازیانو تعداد ............ ۳۰۳
د سلاح کمبود ............ ۴۰۳
صفوان څوک وه؟ ............ ۳۰۴
دېروالي په تعجب کښې واچول ............ ۳۰۵
سوال جواب ............ ۳۰۵
څمکه ورباندې تنګه شوه ............ ۳۰۶
د ماتې باعث څه شی وه؟ ............ ۳۰۶
دلدل وپېژنئ ............ ۳۰۷
مجاهدین بریالي شوه ............ ۳۰۷
نبي کریم ﷺ رضعي خور سره ملاقي شو ............ ۳۰۸
اسیران ازاد کړی شوه ............ ۳۰۸
د "نَجَس" د کلمې معنی ............ ۳۱۱
ایا جوماتونو ته د مشرکانو ننوتل جواز لري؟ ۳۱۱
سوال جواب ............ ۳۱۲
"عَیْلَة" څه معنی؟ ............ ۳۱۳
الله ﷻ خپله وعده ربښتیا کړه ............ ۳۱۴
یادونه ............ ۳۱۴
د ایت شریف لوی ارشاد ............ ۳۱۴
د ایتونو درې ګروپونه ............ ۳۱۹
"دین الحق" د کوم دین نوم دی؟ ............ ۳۱۹
"جِزْیَة" څه معنی؟ ............ ۳۱۹
د یوه نفر د جزیې اندازه ............ ۳۲۰
کوم اهل الذمه د جزیې څخه معاف دي؟ ............ ۳۲۰
د اهل الذمه کفارو ډولونه ............ ۳۲۰
"یَد" څه معنی؟ ............ ۳۲۱
تبصره ............ ۳۲۲
د "صَاغِرُون" د کلمې معنی ............ ۳۲۲
"عُزَیز" څوک وه؟ ............ ۳۲۳
د "مُضَاهَاة" د کلمې معنی ............ ۳۲۴
"قَاتَلَهُمُ الله" څه معنی؟ ............ ۳۲۵
د ربوبیت معنی ............ ۳۲۵
سوال جواب ............ ۳۲۵
"اباء" څه معنی؟ ............ ۳۲۶
یادونه ............ ۳۲۶
ماثور تفسیر ............ ۳۲۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۲۷
د اهل الکتابو باطلې طریقې ............ ۳۳۰
سوال جواب ............ ۳۳۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۳۲
ځینې مفسرین کرام په افسوس سره وایي ... ۳۳۲
نن ورځ څه حال دی؟ ............ ۳۳۳
دوه عجیبې قیصې ............ ۳۳۳
یادونه ............ ۳۳۵
د "کَنْز" او "کَيّ" معناوې ............ ۳۳۵
د حاجت څخه اضافه مال ............ ۳۳۵
"ربذه" د کوم ځای نوم دی؟ ............ ۳۳۶
عجب امتحان او عجیبه کامیابي ............ ۳۳۶
جمهور صحابه کرام ﷺ څه وایي؟ ............ ۳۳۷
جمهور صحابه ﷺ او د ابو ذر ﷺ جواب ..... ۳۳۸
سوال جواب ............ ۳۳۸
سوال جواب ............ ۳۳۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۴۰
قمري کال شروع ............ ۳۴۳
یو کال دولس میاشتې دي ............ ۳۴۴
کتاب الله څه معنی؟ ............ ۳۴۴
د قمري او شمسي کلونو ترمنځ فرق ............ ۳۴۵
سوال جواب ............ ۳۴۵
ایا د محترمو میاشتو احترام منسوخ دی؟ . ۳۴۶
"کَافَّة" څه معنی؟ ............ ۳۴۷


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




'نسيئ' څه معنى؟ ........................ ۳۴۷
د میاشتو د تاخیر صورتونه .................. ۳۴۸
'ثقل' څه معنى؟ ........................ ۳۵۲
سوال جواب ........................ ۳۵۲
د تبوک د غزا سبب ........................ ۳۵۳
د دنیا او د آخرت تناسب ........................ ۳۵۳
'غار' څه معنى؟ ........................ ۳۵۳
د نبي کریم ﷺ د هجرت قیصه ........................ ۳۵۴
'صاحب' څه معنى؟ ........................ ۳۵۵
سوال جواب ........................ ۳۵۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۵۶
اهل التشیع څه وایي؟ ........................ ۳۵۶
د 'خِفَافًا' او 'ثِقَالًا' معناوې ........................ ۳۵۸
سوال جواب ........................ ۳۵۸
د جهاد ډولونه ........................ ۳۵۸
یوه مسئله ........................ ۳۵۹
سوال جواب ........................ ۳۶۱
'الشُّقَّة' څه معنى؟ ........................ ۳۶۱
عفوه څه معنى؟ ........................ ۳۶۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۶۴
غزا ته تیاری نیول ........................ ۳۶۸
'ثَبط' څه معنى؟ ........................ ۳۶۸
سوال جواب ........................ ۳۶۸
د 'خَبَال' معنى ........................ ۳۶۸
'ایضاع' څه ته وایي؟ ........................ ۳۶۹
دوه تفسیرونه ........................ ۳۶۹
د منافقانو پخواني فتنه ........................ ۳۷۰
د 'الْحُسْنَيَيْنِ' څه معنى؟ ........................ ۳۷۴
د مؤمنانو لنډ جواب ........................ ۳۷۴
دلته انشاء د اخبار په معنی سره ده ........................ ۳۷۶
'تَقبل' څه معنى؟ ........................ ۳۷۶
په یاد ولرئ ........................ ۳۷۷
سوال جواب ........................ ۳۷۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۷۷
د دریوو لغتونو معناوې ........................ ۳۷۹
جُمُوح څه معنى؟ ........................ ۳۸۰
د 'لمز' معنى ........................ ۳۸۳
صدقات څه معنى؟ ........................ ۳۸۳
سوال جواب ........................ ۳۸۳
یادونه ........................ ۳۸۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۳۸۴
د فقیر او مسکین څه فرق دی؟ ........................ ۳۸۵
د عاملینو څخه څوک مطلب دی؟ ........................ ۳۸۵
ایا په فرض کفائي عبادت باندې أجرت جائز دی؟ ........................ ۳۸۵
'مُؤَلَّفَةُ الْقُلُوب' څوک دي؟ ........................ ۳۸۶
اما په دې مقام کښې مسلمانان مطلب دي؟ ۳۸۶
ایا اوس د مُؤَلَّفَةُ الْقُلُوب حکم باقي دی؟ .... ۳۸۷
سوال جواب ........................ ۳۸۷
سوال جواب ........................ ۳۸۸
د 'فِي الرِّقَاب' څخه څوک مراد دي؟ ........................ ۳۸۹
'غَارِمِين' څه معنى؟ ........................ ۳۸۹
في سبیل الله یعنې څوک؟ ........................ ۳۸۹
سوال جواب ........................ ۳۹۰
ابن السبیل څوک دی؟ ........................ ۳۹۰
یوه ضروري مسئله ........................ ۳۹۱
د زکات د تشریع حکمتونه ........................ ۳۹۲
سوال جواب ........................ ۳۹۵
د عربیت یوه قاعده ........................ ۳۹۶
سوال جواب ........................ ۳۹۷
منافقان د افشاکېدلو څخه دارېدل ........................ ۳۹۷
الله ﷻ خپله خبره ربښتیا کړه ........................ ۳۹۸
د 'خَوض' معنى ........................ ۴۰۰
په شرعي أمورو کښې خندنې کفر دی ........................ ۴۰۰


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




چاته عفوه وکړی شوه ........ ۴۰۱
سوال جواب ........ ۴۰۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۰۱
زنانه هم فسادونه کوي ........ ۴۰۵
سوال جواب ........ ۴۰۵
"خلاق" څه معنی؟ ........ ۴۰۶
سوال جواب ........ ۴۰۶
"مُؤْتَفِكَات" څه معنی؟ ........ ۴۰۸
سوال جواب ........ ۴۱۰
"عَدْن" څه معنی؟ ........ ۴۱۰
د الله ﷻ رضامندي لوی نعمت دی ........ ۴۱۱
سوال جواب ........ ۴۱۳
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۱۴
د ایت شریف ارشادات ........ ۴۱۵
د منافقانو کفري خبره ........ ۴۱۸
تبصره ........ ۴۱۸
منافقان په کوم قصد کښې ناکام شوه؟ ........ ۴۱۹
الله ﷻ منافقان په ګېډه ماړه کړه ........ ۴۱۹
د ثعلبه قیصه ........ ۴۲۲
سوال جواب ........ ۴۲۳
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۲۳
يوه مسئله ........ ۴۲۵
سوال جواب ........ ۴۲۵
يو اعرابي تحليل ........ ۴۲۶
"تطوع" څه معنی؟ ........ ۴۲۷
د "جُهد" معنی ........ ۴۲۷
لوی خيرات او وړوکی خيرات ........ ۴۲۷
تفسيري تحليل ........ ۴۳۰
د "سَبْعِينَ" عدد استعمال ........ ۴۳۰
سوال جواب ........ ۴۳۰
سوال جواب ........ ۴۳۳
"خلاف" څه معنی؟ ........ ۴۳۳
د دوزخ اور ډېر ګرم دی ........ ۴۳۳
لږ خندل او ډېر ژړل ........ ۴۳۴
سوال جواب ........ ۴۳۴
د ایت شریف ارشاد ........ ۴۳۵
سوال جواب ........ ۴۳۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۳۶
په قبر باندې درېدل د څه دپاره؟ ........ ۴۳۸
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۳۹
يادونې ........ ۴۴۰
د "طول" د کلمې معنی ........ ۲۴۲
"خوالف" څه معنی؟ ........ ۴۴۲
د "الْمُعَذِّرُون" د کلمې تحليل ........ ۴۴۳
د څو لغاتو معناوې ........ ۴۴۶
معذوران په ثواب کښې شريکان دي ........ ۴۴۷
واقعې معذوران په ثواب کښې شريکان دي ۴۴۷
غمژن او ژړېدونکي څوک وه؟ ........ ۴۴۷
سوال جواب ........ ۴۴۸
د نبي کريم عادت وه ........ ۴۵۱
د "غَيب" او "شَهادة" معناوې ........ ۴۵۱
"أعراب" څه معنی؟ ........ ۴۵۴
د "أجْدَر" د کلمې تحليل ........ ۴۵۵
يادونه ........ ۴۵۵
يوه عجيبه قيصه ........ ۴۵۵
"مَغرَم" څه معنی؟ ........ ۴۵۶
د "دَوَائِر" معنی ........ ۴۵۶
سوال جواب ........ ۴۵۶
يادونه ........ ۴۵۶
سوال جواب ........ ۴۵۸
امامان او مقتديان څوک‌څوک دي؟ ........ ۴۵۸
تبصره ........ ۴۵۹
اهل التشيع څه وايي؟ ........ ۴۶۰
د "مَرَدُوا" معنی ........ ۴۶۱
"مَرَّتَين" څه معنی؟ ........ ۴۶۲


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




صاحب السر د کوم صحابي ﷺ لقب دی؟ ... ۴۶۲
سوال جواب ... ۴۶۴
د نېک عمل او بد عمل ګډولو معنی ... ۴۶۶
سوال جواب ... ۴۶۶
دلته فرضي صدقه مطلب ده او که نفلي؟ ... ۴۶۷
تبصره ... ۴۶۸
"صلوة" څه معنی؟ ... ۴۶۸
هېر مو نه شي ... ۴۶۹
یادونه ... ۴۶۹
صلاة (درود) باید په چا باندې وویلی شي؟ ۴۷۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۴۷۱
"إرجَاء" څه معنی؟ ... ۴۷۳
د غزا څخه د پاتې شوو کسانو ګروپونه ... ۴۷۳
د مسجد په رنګولو تاکید ... ۴۷۸
د دې ایتونو ارشاد ... ۴۷۸
د تقوی جومات د کوم جومات نوم دی؟ ... ۴۷۹
تبصره ... ۴۸۰
د "شَفَا جُرُفٍ هَارٍ" معنی ... ۴۸۱
په الله ﷻ د خپل ځان د خرڅولو صورت ... ۴۸۵
سوال جواب ... ۴۸۵
سیاحت څه معنی؟ ... ۴۸۶
تبصره ... ۴۸۶
سوال جواب ... ۴۸۸
تبصره ... ۴۸۹
کافر ته د مغفرت غوښتل ... ۴۹۰
یادونه ... ۴۹۰
سوال جواب ... ۴۹۰
ابراهیم ﷺ په خپله وعده باندې وفا وکړه ... ۴۹۱
سوال جواب ... ۴۹۱
ابراهیم ﷺ ته په څه معلومات وشو؟ ... ۴۹۳
"أوّاهٌ" څه معنی؟ ... ۴۹۳
سوال جواب ... ۴۹۷
د "سَاعَة" او "عُسْرَة" معناوې ... ۴۹۸
د تبوک په غزا کښې مشکلات ډېر وه ... ۴۹۸
سوال جواب ... ۴۹۹
د عجیبې بندیخانې قیصه ... ۴۹۹
په یو امتحان کښې بل امتحان ... ۵۰۰
د دوه کارونو څخه ډېر ډارېدل ... ۵۰۲
صادقین یعنې څوک؟ ... ۵۰۲
رښتیا او دروغ ... ۵۰۲
اهل التشیع څه وایي؟ ... ۵۰۳
د تبوک غزا فرض عین وه ... ۵۰۶
د غزا د عیني فرضیت حالتونه ... ۵۰۶
د عربیت یو تحلیل ... ۵۰۶
په لوږه او تنده هم الله ﷻ اجر ورکوي ... ۵۰۷
"مَوْطِئًا" څه معنی؟ ... ۵۰۷
د "نَیل" د کلمې معنی ... ۵۰۷
څو نکات ... ۵۱۰
تبصره ... ۵۱۲
د غزا د وړاندې تګ ترتیب ... ۵۱۳
سوال جواب ... ۵۱۳
د قرآن کریم د اثراتو مثال ... ۵۱۷
فتنه څه معنی؟ ... ۵۱۷
د "مَرَّة" او "مَرَّتَین" معنی ... ۵۱۷
نبي کریم ﷺ د امت دپاره اساني خوښوي ... ۵۱۹
سوال جواب ... ۵۲۰
د دغه ایت ځینې خواص ... ۵۲۰
د تبوک د غزا ځینې عجائب او غرائب ... ۵۲۰


## یونس (۱۰)


سریزه ... ۵۲۲
د "حَکِیم" معناوې ... ۵۲۵
تعجب څه ته وایي؟ ... ۵۲۵
تبصره ... ۵۲۵
قَدَمَ صِدْقٍ څه معنی؟ ... ۵۲۶


Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو




"تدبير" څه معنى؟ ...... ۵۲۹
د آخرت د ثبوت عقلي دلايل ...... ۵۳۰
د "نُور" او "ضياء" معناوې ...... ۵۳۲
د "رجاء" معنى ...... ۵۳۵
ايمان د هدايت سبب دى ...... ۵۳۶
د جنتيانو لاندې ويالې بهيږي ...... ۵۳۶
"تَحِيَّة" څه معنى؟ ...... ۵۳۶
سوال جواب ...... ۵۳۷
د ايتونو ارشاد ...... ۵۳۷
انسانان كله-كله د خپلو خانونو دپاره
غمونه غواړي ...... ۵۴۰
سوال جواب ...... ۵۴۱
هېر مو نه شي ...... ۵۴۲
د ايتونو اشاري ارشادات ...... ۵۴۲
د تفسير دوه صورتونه ...... ۵۴۷
سوال جواب ...... ۵۴۷
دښمنان ورباندې اعتراض نه شي كولى ...... ۵۴۸
د ايت شريف تازه مصداق ...... ۵۴۹
سوال جواب ...... ۵۵۲
ايا تاسو د الله ﷻ څخه بنه پوهېږئ؟ ...... ۵۵۲
سوال جواب ...... ۵۵۳
يادونه ...... ۵۵۳
د فرمايشي معجزې عدم نزول ...... ۵۵۵
"مَكر" څه معنى؟ ...... ۵۵۶
په څمكه باندې د حركت ډولونه ...... ۵۵۹
د عربيت يو تحليل ...... ۵۶۰
سوال جواب ...... ۵۶۰
د دنيا د فانيتوب يو مثال ...... ۵۶۲
د تشبيه وجوه ...... ۵۶۳
"غنى" څه معنى؟ ...... ۵۶۳
د "زِيَادَة" د كلمې معناوې ...... ۵۶۵
تبصره ...... ۵۶۶
"قَتَر" څه معنى؟ ...... ۵۶۶
سوال جواب ...... ۵۶۸
يادونه ...... ۵۶۹
"بلاء" څه معنى؟ ...... ۵۶۹
سوال جواب ...... ۵۷۴
هدايت د څه شي څخه عبارت دى؟ ...... ۵۷۴
سوال جواب ...... ۵۷۵
د يوې كلمې صرفي تحليل ...... ۵۷۶
سوال جواب ...... ۵۷۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۷۶
تفصيل الكتاب څه معنى؟ ...... ۵۸۰
د قرآن كريم چلنج ...... ۵۸۰
سوال جواب ...... ۵۸۱
په قرآن كريم كښې يې فكر نه دى كړى ...... ۵۸۲
تاويل څه معنى؟ ...... ۵۸۲
متعدد تفسيرونه ...... ۵۸۵
سوال جواب ...... ۵۸۶
دنياوي ژوند به كفارو ته ډېر لږ ښكاره شي ۵۸۸
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۸۸
سوال جواب ...... ۵۸۹
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۸۹
دوه ډوله تفسير ...... ۵۹۰
سوال جواب ...... ۵۹۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۹۳
"مَاذَا" څه معنى؟ ...... ۵۹۳
په سوګند باندې هم د شرعياتو اثبات
صورت نيسي ...... ۵۹۶
سوال جواب ...... ۵۹۷


Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner